انوار الہلالین

لفوائد قیودات الجلالین

[illegible]

جمالین شرح جلالین

شارح محمد جمال الدین [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

أنوار الهلالين

لفوايد قيودات الجلالين

پښتو ترجمه — جلد اول

جمالين شرح جلالين

شارح: محمد جمال بلندشهری
مدرس د دارالعلوم دیوبند
پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل
فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده، امداد العلوم پېښور، وفاق المدارس

خصوصیات

① لغوی تحقیق، چې ددې لفظ په لغت کښې څه معنی ده.
② صرفي تحقیق مثلاً دا کلمه د څه صیغه ده وغیره
③ نحوی تحقیق مثلاً دا کلمه په ترکیب کښې څه واقع شوې ده.
④ بلاغي تحقیق چې په دې اضافي قید کښې کومه بلاغي نکته ده.
⑤ فقهي تحقیق چې په دې اضافي قید سره کومې مسئلې ته اشاره ده.
⑥ د قراءت تحقیق چې په دې مقام کښې دا قراءت څنګه دي.
⑦ تقدیرات راویستل چې دلته کوم لفظ مقدر پروت دې.
⑧ د تقدیري عبارا تو وجه او سبب بیانول.

خورونکی
فیصل کتب خانه مدینه مارکیټ
محله جنګی پېښور موبائل نمبر: ۰۳۱۵۹۵۹۵۸۱۷

فهرس د مقدمې د اُصول تفسير

شمار	مضمون	صفحه
	مقدمه د انتخاب	۱۱
	د تفسير مفيده مقدمه شاملول	۱۲
	مقدمه د اُصول تفسير	۱۳
	وحي او ددې حقيقت	۱۳
	د وحي ضرورت	۱۳
	دعلم ضرورت	۱۳
	دعلم د تحصيل درې ذرائع	۱۳
	دعلم په ذرائعو کښې ترتيب	۱۳
	د عقل دائره کار	۱۴
	د وحي دائره کار	۱۴
	د علم په ذرائعو کښې د وحي عظمت	۱۴
	د عاقل فعل د حکمت نه خالي نه وي	۱۵
	عدم مشاهده دليل د عدم وجود نه دې	۱۲
	په نبي ﷺ دوحي طريقې	۱۲
	د دې قسم د سختوالي وجه	۱۷
	دحضرت زيد بن ثابت واقعه	۱۷
	تمثيل ملك	۱۷
	دفرښتې په خپل اصلي شکل کښې راتلل	۱۷
	الله تعالى سره خبرې کول	۱۸
	نفث في الروع	۱۸
	د قرآن د نزول تاريخ	۱۸
	دقرآن دنزول دوه طريقې	۱۸
	د حديث نه د دوو طريقو ثبوت	۱۸
	اولنې نزول	۱۹
	د کتاب اتقان ته اشاره	۱۹
	دويم نزول	۱۹
	د ټولو نه اولنې نازليدونکې آيت	۱۹
	د سورت علق ابتدائي اياتونه	۱۹

صفحه	مضمون	شمار
۲۰	د سورت مدثر آیاتونه	
۲۰	مکی او مدنی آیاتونه	
۲۰	① هجرت معیار گرځول	
۲۰	② مکه او مدینه معیار گرځول	
۲۱	د مکی او مدنی آیاتونو خصوصیات	
۲۱	لفظ د ،، کلا ،، معیار گرځول	
۲۱	آیت د سجدې معیار گرځول	
۲۱	د آدم علیه السلام واقعه معیار گرگول	
۲۲	جهاد معیار گرځول	
۲۲	د منافقانو ذکر معیار گرځول	
۲۲	د مکی او مدنی سورتونو پیژندگلو اکثری قاعدې	
۲۲	خطاب معیار گرځول	
۲۲	طوالت او اختصار معیار گرځول	
۲۲	توحید او احکام معیارك گرځول	
۲۲	مخاطبه د کافرانو او اهل کتابو معیارك گرځول	
۲۲	اسلوب بیان معیار گرځول	
۲۲	په مکی او مدنی اسلوب کښې د فرق وجوهات	
۲۳	د قرآن کریم تدریجی نزول	
۲۳	د مشرکانو اعتراض	
۲۳	د تدریجی نزول حکمتونه	
۲۴	شان نزول	
۲۴	د پورتنی آیت شان نزول	
۲۵	د قرآن د حفاظت تاریخ	
۲۵	د رسول ﷺ په زمانه کې د قرآن حفاظت	
۲۶	د قران په حفظ کښې د صحابو شوق	
۲۷	په عهد رسالت کښې د کتابت قرآن اوله مرحله	
۲۷	د قرآن حفاظت د لیکلو په ذریعه	
۲۷	کاتبین وحی	
۲۸	د حضرت عثمان رضی الله عنه طریقه کار	

شمېر	مضمون	صفحه
	قرانی آیاتونه به په څه لیکلی شو؟	۲۸
	د حضرت ابوبکر h ؟؟په عهد کښې جمع قرآن	۲۸
	دويمه مرحله:	۲۸
	په جنګ يمامه کښې د حافظانو شهادت:	۲۹
	د زيد بن ثابت رضي الله عنه د قرآن جمع کولو ته غاړه کیخودل:	۲۹
	دقرآن په تدوين کښې احتياط کول:	۲۹
	صرف حضرت ابوحذيمه رضي الله عنه سره د يو آيت موندلو مطلب:	۳۱
	دحضرت زيد رضي الله عنه دنسخې خصوصيات:	۳۱
	دحضرت عثمان h په زمانه کښې د قرآن پاك جمع دريمه مرحله	۳۲
	په ابتداء کښې دامت د اختلاف ويره نه وه:	۳۲
	په قراءت کښې د جګړو پيدا کيدو ويره:	۳۳
	دحضرت حذيفه بن يمان رضي الله عنه مشوره:	۳۳
	دحضرت عثمان رضي الله عنه احساس:	۳۳
	دتدوين قرآن دپاره خطبه وئيل:	۳۴
	د دولسو صحابو رضي الله عنهم انتخاب:	۳۴
	د تدوين قرآن د زمه وارانو کارنامې:	۳۵
	سورتونو ته ترتيب ورکول:	۳۵
	په يو رسم الخط ليکل:	۳۵
	د اجتماعی تصديق اووه نسخې تيارول:	۳۵
	د قرآن په جمع کښې دصحابو رضي الله عنهم احتياط:	۳۵
	د حضرت خزيمه انصاری سره د آيت موندل:	۳۵
	انفرادی نسخې سوزول:	۳۶
	د تلاوت د آسانتيا اقدامات	۳۷
	څلورمه مرحله:	۳۷
	نقطې:	۳۷
	حرکات:	۳۸
	احزاب يا منزلونه:	۳۸
	اجزاء يا پارې:	۳۸
	اخماس او اعشار:	۳۹

شمار	مضمون	صفحه
	رکوع	۳۹
	رموز اوقاف	۴۰
	دقران کریم طباعت	۴۲
	پنځمه مرحله	۴۲
	علم تفسیر :	۴۲
	د قرآن د تفسیر ماخذ :	۴۳
	① اولنۍ ماخذ په خپله قران کریم د بل آیت په رنړا کښې تفسیر:	۴۳
	② حدیث :	۴۴
	③ دصحابه کرامو ﷺ اقوال :	۴۴
	④ دتابعینو اقوال	۴۵
	⑤ لغت عرب :	۴۵
	⑥ تدبر او استنباط	۴۵
	⑦ اسرائیلی روایات:	۴۶
	د قرآن د تفسیر باره کښې یوه سخته غلط فهمی	۴۷
	دکلام خلاصه :	۴۷
	څو غلط فهمیانې :	۴۸
	① اولنۍ غلط فهمی :	۴۸
	دقرآن د آیاتونو آسان قسم	۴۸
	دقرآن د آیتونو ګران قسم :	۴۸
	دصحابه کرامو ﷺ د قرآن زده کولو حقیقت	۴۸
	دصحابو په طریقه باندې د خپلې مدعا دپاره استدلال	۴۹
	څو مشهور تفسیرونه:	۴۹
	تفسیر ابن جریر:	۵۰
	① تفسیر ابن کثیر:	۵۰
	② تفسیر قرطبی	۵۱
	③ تفسیر کبیر:	۵۱
	④ دتفسیر کبیر باره کښې څو ضروری خبری :	۵۱
	⑤ تفسیر البحر المحیط:	۵۱

شمار	مضمون	صفحه
	⑥احکام القرآن للجصاص رحمه الله	۵۲
	⑦تفسیر الدر المنثور	۵۲
	⑥تفسیر مظهری	۵۲
	⑧روح المعانی	۵۲
	ترجمة الإمامین الهمامین الجلیلین	۵۳
	د جلالین د نصف ثانی مصنف	۵۳
	نوم او نسب	۵۳
	د پیدائش او وفات تاریخ	۵۴
	د علم حصول	۵۴
	ددوی تصانیف	۵۴
	د جلالین د نصف اول مصنف	۵۴
	نوم اونسب	۵۴
	د علم حصول	۵۴
	د یوې غلطۍ ازاله	۵۵
	درس او تدریس او افتاء	۵۵
	علمی خدمات	۵۵
	وفات	۵۲
	تفسیر جلالین	۵۲
	د جلالین مآخذ	۵۲
	د جلالین شروح او حواشی	۵۲
	① جمالین	۵۲
	② قبس النیرین	۵۲
	③ مجمع البحرین ومطلع البدرین	۵۲
	④ کمالین	۵۲
	مقدمة الجلالین	۵۷
	دعلامه سیوطی رحمه الله دخطبې خلاصه	Error! Bookmark not defined.

فهرس د آياتونو

مضمون	شمار
پاره نمبر- ۱ [الٓمٓ]	۵۷
[۱] سورة الفاتحه	۵۹
[۱]اياتونه: ۱ - ۷]	۵۹
[۲]سورة البقرة	۲۴
[اياتونه: ۱ - ۷]	۲۴
دَ سورة وجه تَسميه	۲۵
[اياتونه: ۸ - ۱۰]	۲۹
[اياتونه: ۱۱ - ۱۵]	۷۲
[اياتونه: ۱۲ - ۲۰]	۷۴
[اياتونه: ۲۱ - ۲۴]	۷۸
[اياتونه: ۲۵ - ۲۷]	۸۲
[اياتونه: ۲۸ - ۲۹]	۸۲
[اياتونه: ۳۰ - ۳۴]	۸۹
[اياتونه: ۳۴ - ۳۹]	۹۱
[اياتونه: ۴۰ - ۴۲]	۹۵
[اياتونه: ۴۳ - ۴۲]	۹۷
[اياتونه: ۴۷ - ۵۴]	۹۹
[اياتونه: ۵۵ - ۵۹]	۱۰۲
[اياتونه: ۲۰ - ۲۱]	۱۰۵
[اياتونه: ۲۲ - ۲۲]	۱۰۸
[اياتونه: ۲۷ - ۷۱]	۱۱۱
[اياتونه: ۷۲ - ۷۷]	۱۱۴
[اياتونه: ۷۸ - ۸۲]	۱۱۷
[اياتونه: ۸۳ - ۸۴]	۱۱۹
[اياتونه: ۸۵ - ۸۲]	۱۲۲
[اياتونه: ۸۷ - ۹۰]	۱۲۴
حضرت مريم او دَ هغې نسب	۱۲۲

مضمون	شمار
عيسیٰ عليه السلام دَ بنی اسرائيلو دَ انبياء دَ سلسلې خاتم دي	۱۲۲
[اياتونه: ۹۱ - ۹۲]	۱۲۹
[اياتونه: ۹۷ - ۱۰۱]	۱۳۴
[اياتونه: ۱۰۲ - ۱۰۳]	۱۳۲
[اياتونه: ۱۰۴ - ۱۰۸]	۱۴۱
[اياتونه: ۱۰۹ - ۱۱۲]	۱۴۴
[اياتونه: ۱۱۳ - ۱۱۲]	۱۴۲
[اياتونه: ۱۱۷ - ۱۲۱]	۱۵۰
[اياتونه: ۱۲۲ - ۱۲۲]	۱۵۲
[اياتونه: ۱۲۷ - ۱۲۹]	۱۵۲
[اياتونه: ۱۳۰ - ۱۳۲]	۱۵۸
[اياتونه: ۱۳۷ - ۱۴۱]	۱۲۱
پاره نمبر- ۲ [سيقول]	۱۲۴
[آياتونه: ۱۴۲ - ۱۴۳]	۱۲۴
[اياتونه: ۱۴۴ - ۱۴۷]	۱۲۲
[اياتونه: ۱۴۸ - ۱۵۲]	۱۲۹
[اياتونه: ۱۵۳ - ۱۵۸]	۱۷۲
[اياتونه: ۱۵۹ - ۱۲۳]	۱۷۵
[اياتونه: ۱۲۴ - ۱۲۷]	۱۷۲
[اياتونه: ۱۲۸ - ۱۷۳]	۱۸۰
[اياتونه: ۱۷۴ - ۱۷۲]	۱۸۵
[اياتونه: ۱۷۷ - ۱۷۹]	۱۸۲
[اياتونه: ۱۸۰ - ۱۸۲]	۱۹۳
[اياتونه: ۱۸۳ - ۱۸۲]	۱۹۲
[اياتونه: ۱۸۷ - ۱۸۸]	۲۰۰
[اياتونه: ۱۸۸ - ۱۹۴]	۲۰۴

مضمون	شمار
[اياتونه:۱۹۵ - ۱۹۲]	۲۰۸
[اياتونه:۱۹۷ - ۲۰۳]	۲۱۲
[اياتونه:۲۰۴ - ۲۱۰]	۲۱۷
[اياتونه:۲۱۱ - ۲۱۴]	۲۲۰
[اياتونه:۲۱۵ - ۲۱۲]	۲۲۴
[اياتونه: ۲۲۰ - ۲۲۱]	۲۳۱
[اياتونه:۲۲۲ - ۲۲۵]	۲۳۳
[اياتونه:۲۲۲ - ۲۲۸]	۲۳۲
[اياتونه:۲۲۹ - ۲۳۱]	۲۳۹
[اياتونه:۲۳۲ - ۲۳۵]	۲۴۲
[اياتونه:۲۳۲ - ۲۴۲]	۲۴۲
[اياتونه:۲۴۳ - ۲۴۸]	۲۵۱
[اياتونه:۲۴۹ - ۲۵۲]	۲۵۵
پاره نمبر- ۳ [تِلْكَ الرُّسُلُ]	۲۵۸
[اياتونه:۲۵۳]	۲۵۸
[اياتونه:۲۵۴ - ۲۵۷]	۲۲۰
[اياتونه:۲۵۸ - ۲۲۰]	۲۲۴
[اياتونه:۲۲۱ - ۲۲۲]	۲۷۰
[اياتونه:۲۲۷ - ۲۷۳]	۲۷۴
[اياتونه:۲۷۴ - ۲۸۱]	۲۷۸
[اياتونه:۲۸۲ - ۲۸۳]	۲۸۲
[اياتونه:۲۸۴ - ۲۸۲]	۲۸۵
[۳] سورة آل عمران	۲۸۹
[اياتونه:۱ - ۹]	۲۸۹
[اياتونه: ۱۰ - ۲۰]	۲۹۳
[اياتونه: ۲۱ - ۳۰]	۲۹۸
[اياتونه: ۳۱ - ۴۱]	۳۰۱
[اياتونه: ۴۲ - ۵۴]	۳۰۲
[اياتونه:۵۵ - ۲۳]	۳۱۱
[اياتونه: ۲۴ - ۷۱]	۳۱۵
[اياتونه: ۷۲ - ۸۰]	۳۱۸
[اياتونه: ۸۱ - ۹۱]	۳۲۲
دَصاحب جلالين اختيار کړې شوې ترکيب	۳۲۵
پاره نمبر- ۴ [لَنْ تَنَالُوا]	۳۲۲
[اياتونه: ۹۲ - ۱۰۱]	۳۲۲
دَ مکې ډيرنومونه دي:	۳۳۰
[اياتونه: ۱۰۲ - ۱۰۹]	۳۳۰
[اياتونه: ۱۱۰ - ۱۲۰]	۳۳۳
[اياتونه: ۱۲۱ - ۱۲۹]	۳۳۷
[اياتونه: ۱۳۰ - ۱۴۳]	۳۴۰
[اياتونه: ۱۴۴ - ۱۴۸]	۳۴۴
[اياتونه: ۱۴۹ - ۱۵۵]	۳۴۷
[اياتونه: ۱۵۲ - ۱۷۱]	۳۵۱
[اياتونه: ۱۷۲ - ۱۸۰]	۳۵۲
[اياتونه: ۱۸۱ - ۱۸۹]	۳۲۰
[اياتونه: ۱۹۰ - ۲۰۰]	۳۲۴
[۴] سورة النساء	۳۲۹
[اياتونه: ۱ - ۱۰]	۳۲۹
[اياتونه: ۱۱ - ۱۴]	۳۷۲
[اياتونه: ۱۵ - ۲۲]	۳۸۲
[اياتونه: ۲۳]	۳۸۲
پاره نمبر- ۵ [وَالْمُحْصَنَاتُ]	۳۸۸
[اياتونه: ۲۴ - ۲۵]	۳۸۸
[اياتونه: ۲۲ - ۳۳]	۳۹۱
[اياتونه: ۳۴ - ۴۲]	۳۹۴
[اياتونه: ۴۳ - ۵۰]	۳۹۸
[اياتونه: ۷۱ - ۷۲]	۴۱۰
[اياتونه: ۷۷ - ۸۷]	۴۱۳

مضمون	شمار
[اياتونه ۸۸ - ۹۱]	۴۱۸
[اياتونه ۹۲ - ۹۲]	۴۲۰
[اياتونه ۹۷ - ۱۰۰]	۴۲۵
[اياتونه ۱۰۱ - ۱۰۴]	۴۲۲
[اياتونه: ۱۱۳ - ۱۱۵]	۴۳۱
[اياتونه: ۱۱۵ - ۱۲۲]	۴۳۳
[اياتونه: ۱۲۷ - ۱۳۴]	۴۳۵
[اياتونه: ۱۳۵ - ۱۴۱]	۴۳۹
[اياتونه: ۱۴۲ - ۱۴۷]	۴۴۲
پاره نمبر - ۶ [لَايُحِبُّ اللّٰهُ]	۴۴۴
[اياتونه: ۱۴۸ - ۱۵۲]	۴۴۴
[اياتونه: ۱۵۳ - ۱۲۲]	۴۴۵
[اياتونه: ۱۲۳ - ۱۷۱]	۴۵۰
[اياتونه: ۱۷۲ - ۱۷۲]	۴۵۴
دَ استطراد دَويم تعريف:	۴۵۲
استطراد أحسن:	۴۵۲
استطراد حسن:	۴۵۲
[۵] سورة المائده	۴۵۷
[اياتونه: ۱ - ۲]	۴۵۷
[اياتونه: ۳ - ۵]	۴۵۹
[اياتونه: ۲ - ۱۱]	۴۲۳
[اياتونه: ۱۲ - ۱۹]	۴۲۷
[اياتونه: ۲۰ - ۲۲]	۴۷۱
[اياتونه: ۲۷ - ۳۴]	۴۷۴
[اياتونه: ۳۵ - ۴۳]	۴۷۷
[اياتونه: ۴۴ - ۵۰]	۴۸۱
[اياتونه: ۵۱ - ۵۲]	۴۸۵
[اياتونه: ۵۷ - ۲۲]	۴۸۷
[اياتونه: ۲۷ - ۷۷]	۴۹۲
[اياتونه: ۷۸ - ۸۲]	۴۹۲
پاره نمبر - [۷] [وَإِذَا سَمِعُوا]	۴۹۸
[اياتونه: ۸۳ - ۸۲]	۴۹۸
[اياتونه: ۹۴ - ۱۰۰]	۵۰۳
[اياتونه: ۱۰۱ - ۱۰۷]	۵۰۷
[اياتونه: ۱۰۹ - ۱۱۵]	۵۱۴
[اياتونه: ۱۱۲ - ۱۲۰]	۵۱۸
[۶] سورة الانعام	۵۲۰
[۲] اياتونه: ۱ - ۱۰]	۵۲۰
[اياتونه: ۱۱ - ۲۰]	۵۲۴
[اياتونه: ۲۱ - ۳۰]	۵۲۷
[اياتونه: ۳۱ - ۴۱]	۵۳۰
[اياتونه: ۴۲ - ۵۰]	۵۳۳
[اياتونه: ۵۱ - ۵۵]	۵۳۲
[اياتونه: ۵۲ - ۲۰]	۵۳۸
[اياتونه: ۲۱ - ۷۰]	۵۴۰
[اياتونه: ۷۱ - ۸۲]	۵۴۴
[اياتونه: ۸۳ - ۹۰]	۵۴۷
[اياتونه: ۹۱ - ۹۴]	۵۵۰
[اياتونه: ۹۵ - ۱۰۰]	۵۵۳
[اياتونه: ۱۰۱ - ۱۱۰]	۵۵۲
پاره نمبر [۸] [وَلَوْ أَنَّنَا]	۵۲۱
[اياتونه: ۱۱۱ - ۱۲۱]	۵۲۱
[اياتونه: ۱۲۲ - ۱۲۹]	۵۲۵
[اياتونه: ۱۳۰ - ۱۴۰]	۵۲۹
[اياتونه: ۱۴۱ - ۱۴۴]	۵۷۴
[اياتونه: ۱۴۵ - ۱۵۰]	۵۷۲
[اياتونه: ۱۵۱ - ۱۵۴]	۵۸۰
[اياتونه: ۱۵۵ - ۱۲۵]	۵۸۲

مقدمه د انتخاب

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی عبد الانام والمرسلین وعلی آله وصحبه اجمعین. اما بعد:

څنګه چې تاسو ته معلومه ده قرآن پاک د الله تعالی آخری کتاب دې کوم چې ترقیامته پورې راتلونکی خلقو دپاره د هدایت چینه ده. دا آخری آسمانی کتاب دې ددې وجې د دې د حفاظت ذمه واری الله تعالی په خپله اخستې ده او په هره زمانه کښې د دې امت عالمانو د قرآن پاک په مختلف انداز خدمتونه کړی دی مثلاً

① چا د دې په اعراب باندې د اعراب القرآن په نوم کتابونه لیکلی دی.
② چا د دې په احکامو باندې د ،، احکام القرآن،، په نوم کتابونه لیکلی دی.
③ چا د دې په بلاغی اړخ باندې د بلاغة القرآن په نوم کتابونه لیکلی دی.
④ چا ددې په قراتونو باندې قراءات القرآن په نوم کتابونه لیکلی دی.
⑤ چا ددې په شان نزول کتابونه لیکلی دی. وغیره

غرض دا چې د قرآن پاک په هر اړخ باندې قرآنی خدمات شوی دی من جمله په دغه خدماتو کښې تفسیر جلالین هم دې. دا یو مختصر خو دالله تعالی مراد او مقصد واضح کولو په اعتبار سره یو ناشنا تفسیر دې هم دغه وجه ده چې ددې تفسیر ګڼ شروحات په مختلفو ژبو کښې شوی دی. په دغه شروحاتو کښې په اردو ژبه کښې د ،، جمالین شرح جلالین،، په نوم د هندوستان د یو نامور عالم محمد جمال بلند شهری متوطن میرټهه تصنیف دی دوی د تفسیر جلالین په قیوداتو په آسان انداز اونهج کښې کار کړې دې. چې تقریباً د هریو قید فائده ئې ذکر کړې ده. او زمونږ په مدارسو کښې د دې تفسیر په نصاب کښې د شاملولو غرض هم دا دې چې دې د قرآن پاک محذوفات، تقدیرات، معانی وغیره امورو یو مسلمان په آسان طریقه پوهه شی. د تفسیر جلالین د خادمینو په فهرس کښې ځان شاملولو دپاره مونږ د ،، دار التصنف والتحقیق،، ملګرو دجمالین څخه د هغه امورو انتخاب اوکړو. کوم چې د جلالین په تدریس کښې اولنې حیثیت لری. او خپلو پښتنو عالمانو او طالبانو ورونړو ته ئې وړاندې کوو. د انتخاب طریقه لاندې ده.

① د جلالین د متن اوشرحې په پښتو کښې ترجمه شوې ده.

② په جمالین شرح جلالین کښې د ،، تحقیق وترکیب وتسهیل و تفسیرفوائد ،، په عنوان سره د تفسیرجلالین د اهمو څیزونو حل شوې دې. نوصرف دغه مو پښتو ته ترجمه کړل. ځکه چې ددې اهمیت او ضرورت ډیر زیات وو.

③ باقی په جمالین کښې چې کومې نورې تفسیری خبرې وې نوهغه مو په خپل انتخاب کښې د لاندې خبرو په وجه شامل نکړې.

(الف) اول خو د په تفسیرجلالین کښې په مختصر انداز سره تفسیر موجود دې.

(ب) که بالفرض په یو ځائې د جلالین د تفسیر څخه اضافی خبرې ته ضرورت وی نو په نورو تفسیرونو کښې هغه ضروری خبره کتلې شی مثلاً مونږ چې په پښتو کښې کوم تفسیرونه د

اضافي خصوصياتو سره ترجمې کړي دي هغه د تفسير خيرکثير ترجمه تفسيرابن کثير په نوم ترجمه، چاپ شوې ده دغه شان معارف القرآن د مفتي محمد شفيع صاحب او تفسيرعثماني، هم د فيصل کتب خانه څخه ترجمه شوې اوچاپ شوي دي. دې تفسيرونو ته رجوع کولی شي. او ددې څخه دعربئ تفسيرونه خو بې شميره دي.

(ج) تفسيرجلالين زمونږ د افغانستان او پاکستان د مدارسو په نصاب کښې شامل دې اود پنځلس پارو دپاره صرف يو پيرډ (۴۰ م نته دورانيه) وي. په دې مختصر وخت کښې چې د تفسير جلالين صرف د قيوداتو فوائد بيان شي دا هم غنيمت دې. لاپاتې اضافي تفسيري تشريحات. ددې وجې مو د وخت د بچت په غرض د عام تفسيري خبرو څخه ډډه اوکړه.

په انتخاب کښې شاملې خبرې:

① لغوي تحقيق، چې ددې لفظ په لغت کښې څه معنی ده.

② صرفي تحقيق مثلاً په يوه کلمه کښې تعليل کول چې دا په اصل کښې څنګه وو. او موجود حالت ته څنګه راغلو.

③ نحوي تحقيق مثلاً دلته اضافي قيد سره کومې خبرې ته اشاره ده. يا دا کلمه په ترکيب کښې څه واقع شوې ده.

④ بلاغي تحقيق چې په دې اضافي قيد سره د بلاغت کومې قاعدې ته اشاره ده.

⑤ فقهي تحقيق چې په دې اضافي قيد سره کومې مسئلې ته اشاره ده.

⑥ د قراءت تحقيق چې په دې مقام کښې دا قراءت څنګه دې.

⑦ تقديرات راويستل چې دلته کوم لفظ مقدر پروت دې. او د تقدير وجه بيان شوې ده.

⑧ شان نزول طرف ته اشاره

⑨ حديث طرف ته اشاره کول چې دا خبره په حديث کښې راغلې ده.

⑩ د تخصيص تعميم وغيره نکات بيانول مثلاً چې دلته دا لفظ ولې خاص کړل.

چونکه دا ټولې ډيرې قيمتي خبرې وې ددې وجې مونږ صرف ددې انتخاب اوکړو.

د تفسير مفيده مقدمه شاملول د تفسير څخه بعضې ضروري مباحث وي کوم چې د تفسير د شروع کولو څخه وړاندې مفسرينو په خپلو تفسيرونو کښې ذکر کړي وي. د انوارالهلالين په اول کښې ما د مفتي تقي عثماني مدظله العالي د کتاب،، علوم القرآن،، څخه انتخاب اوکړو. او په انوارالهلالين کښې مې شامله کړه. ځکه چې ما دير پخوا د علوم القرآن ترجمه په پښتو کښې کړې وه هغه راسره په کمپيوټر کښې موجود وه هم هغه مې په انوارالهلالين کښې شامله کړه.

په آخره کښې ستاسو په خدمت کښې درخواست کوم چې ما په خپلو دعاګانو کښې بالخصوص په انفرادي دعاګانو کښې ياد ساتئ چې الله تعالی راته د خپل دين د خدمت دپاره د عافيت ژوند راکړي. او د کومو کتابونو د ليکلو چې مې اراده ده دهغې د تکميل توفيق راکړي.

ستاسو اسلامي ورور شاه فيصل

تاريخ: ۴ دسمبر ۲۰۱۹ء بمطابق ۷ ربيع الثاني

مقدمه د أصول تفسیر

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ الْقُرْاٰنَ الْكَرِيْمَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا وَالصلاة والسلام على من رغب في تعليم القرآن وتعلمه ولم يجعل له حداً،

وحی او ددې حقیقت قرآن کریم چونکه په نبی ﷺ د وحی په ذریعه نازل شوې دې نو ددې وجې د ټولونه اول د وحی په باره کښې څو خبرې پیژندل ضروری دی.

د وحی ضرورت هر مسلمان ته پته ده چې الله ﷻ انسان دې دنیا ته د امتحان دپاره رالیږلې دې. او په ده باندې ئې څه فرائض مقرر کړی دی. اوټول کائنات ئې دده په خدمت کښې لګیا کړی دی. نو دنیاته د راتلونه پس دانسان دپاره دوه کارونه ضروری دی. یو دا چې ددې کائناتو نه کوم چې د ده نه څلور واړه طرفونوته پراته دی. ددې نه صحیح صحیح کار واخلی. دویم دا چې دا کائنات په خپل استعمال کښې راولی. او چې دالله ﷻ د احکامو خیال په کښې اوساتی. اوداسې څه حرکت اونکړی.چې دالله ﷻ درضا خلاف وی.

دعلم ضرورت ددې دواړوکارونو دپاره ده ته د علم ضرورت دې. ځکه چې ترتر څور پورې ده ته دا معلومه نه وی. چې ددې کائناتو حقیقت څه دې؟ددې دفلانی ځیزخواص څه دی؟ددې نه څنګه فائده اخستلې شی. نوترهغه وخته پورې دې د دنیا هیڅ یوځیزدخپلې فائدې دپاره نشی استعمالولې. دغه شان چې تر څور پورې ده ته دا معلومه نه وی. چې دالله ﷻ رضا څه ده؟هغه کوم کارونه خوښوی. ؟ او کوم کارونه نه خوښوی؟ ترهغه وخته پورې د هغه دپاره دالله ﷻ د رضا مطابق اوسیدل ممکن نه دی.

دعلم د تحصیل درې ذرائع نوالله ﷻ دانسان پیدا کولو سره سره درې ځیزونه داسې پیدا کړی دی چې دهغې په ذریعه ده ته دپورتنو خبرو علم کیدیشی. [چې دکائناتو نه به څنګه فائده اخلی. اودالله ﷻ د رضا حصول به څنګه کوی؟ ① یو دانسان حواس یعنی سترګې غوږونه. پوزه، خوله اولاسونه پښې ② دویم عقل ③ او دریم وحی. انسان ته زیاتې خبرې دخپلو حواسو په ذریعه معلومیږی. او ډیرې دعقل په ذریعه اوکومې خبرې چې په دې دواړو ذرائعو باندې نشی معلومې دې. نو د هغې علم د وحی په ذریعه باندې ورکولې شی.

دعلم په ذرائعو کښې ترتیب دعلم په دې دریو ذرائعو کښې ترتیب څه داسې دے چې د هر یو خپل حد اومخصوص دائره کار دې. چې دهغې نه وړاندې کار نه کوی. نو کومځیزونه چې انسان ته دحواسو په ذریعه معلومیږی. دهغې علم صرف دعقل په ذریعه نشی معلومې دې. مثلا اوس ماته مخامخ یوانسان ناست دې. ماته دخپلو سترګو په ذریعه دا معلومه شوه. چې دا انسان دې. هم سترګو ماته دا اوخودلو. چې دده رنګ بادامی دې.

اوتن دا يئ پلن دې. ويخ ته يئ تور دی. شونډې ئې نرئ دی. اومخ ئې کتابی دې. ليکن که هم دا خبرې زه خپل حواس بيکاره کړم. او دعقل په ذريعه معلومول غواړم. مثلا چې سترګې بندې کړم. او دا اوغواړم. چې ددې انسان رنګ اوددہ داندامونو صحيح صحيح جوړخت څنګه دې؟ او دده د سر نه تر پښو پورې صحيح شکل ماته صرف په خپل عقل سره شی معلوم شی. نودا ناممکنه دہ.

د عقل دائره کار: دغه شان چې د کوموخيزونوعلم په عقل سره حاصليدې شی. نو هغه صرف په حواسو نه معلوميږی. مثلا ددغه کس په باره کښې ماته دا هم معلومه دہ. چې دده به خامخا مور هم وی.دغه شان راته هم علم دې. چې دې به چا پيدا کړی وی. اګرچې په هغه وخت کښې نه دهغه مور ماته مخامخ شته. او نه دهغه پيدا کونکې زه وينم. ليکن زما عقل دا ښائی. چې داکس په خپله نشی پيداکيدې. اوس که داعلم دعقل په ځائې دخپلوسترګو په ذريعه حاصلول غواړم.نودا ممکن نه دہ.ځکه چې دهغه دتخليق اوپيدائش منظرزما د سترګو وړاندې نه دې. غرض دا چې ترکومې پورې د حواس خمسه تعلق دې هلته عقل څه راهنمائی نه کوی. اوپه کوم ځائې کښې چې حواس خمسه بې کاره شی. نوهلته کښې عقل کار شروع کړی. ليکن ددې عقل راهنمائی هم غير محدود نه دہ. بلکه دا هم چې يو ځائې ته لاړ شی. اواودريږی.

د وحی دائره کار: او ډيرې خبرې داسې دی چې نه هغه دحواسو په ذريعه حاصليدې شی. اونه دعقل په ذريعه. مثلا ددغه کس په باره کښې خو عقل دا اوخودل. چې دے چا پيدا کړيدې ليکن دا سړې يئ ولې پيدا کړيدې. په ده باندې دالله ﷻ د طرف نه څه فرائض دی؟ دده کوم کار دالله ﷻ خوښ دې. اوکوم کار يې ناخوښه دې. دا سوالونه داسې دی. که عقل او حواس يوځائې شی. نوهم ددې جواب نشی ورکولې. انسان ته ددې سوالاتو دجوابونودپاره چې الله ﷻ کومه ذريعه پيدا کړې دہ. د هغې نوم "وحی " دې.

او ددې طريقه دا وی چه الله تعالی په خپلو بندګانو کښې څوک منتخب کوی او خپل پيغمبر ئې ګرځوی او په هغه باندې خپل کلام نازلوی، هم دې کلام ته ``وحی،، وائی.

د علم په ذرائعو کښې د وحی عظمت ددې نه معلومه شوه. چې وحی د انسان دپاره هغه اوچته ذريعه دعلم دہ. چې ده ته دده د ژوند متعلق د هغه سوالونو جوابونه ورکوی. چې هغه د عقل او حواسو په ذريعه نشی حل کيدې. ليکن دهغې علم حاصلول د ده دپاره ضروری دی. د پورتنی وضاحت نه دا هم معلومه شوه. چې صرف عقل او مشاهده د انسانی رهنمائې دپاره کافی نه دہ. بلکه دده د هدايت دپاره دالله ﷻ وحی يو اهم ضرورت دې. اوچونکه بنيادی طور د وحی ضرورت په هغه ځائې کښې راځی. په کوم ځائې کښې چې عقل کار نه کوی. نوځکه دا ضروری نه دہ. چې دوحی دهرې خبرې ادراک دې په عقل

سره اوشي. لکه څنګه چې د يوځيز رنګک معلومول د عقل کار نه دې بلکه دحواسوکار دې. دغه شان د ډيرو ديني معتقداتو علم حاصلول دعقل په خانې د وحي منصب دې. اودهغې د ادراك دپاره صرف په عقل باندې بهروسه کول تيك نه دى.[1]

او معاذالله هغه ماده پرستو خلقو چې هغوى د سر نه د الله ﷻ د وجود نه منکر دى. هغوى سره خو د وحي په مسئله باندې خبرې کول بالکل فضول دى. ځکه څوك چې دالله ﷻ د وجود نه منکر وى. نو دهغه دپاره ممکن نه دى. چې هغه د وحي په حقيقت په کهولاو زړه سره غور اوکړى. اوپه سراو سترګو دا تسليم کړى. هغه سره خو د تولو نه وړاندې د الله ﷻ په وجود باندې دخبرو کولو ضرورت دې. باقي پاتې شوهغه کسان چې د الله ﷻ د وجود قائل دى. نو دهغوى دپاره دوحي عقلي ضرورت ددې امکان اوددې حقيقي وجود پيژندل څه ګران نه دى.

د عاقل فعل د حکمت نه خالي نه وي: که ته دا يقين ساتې. چې دا کائنات يو قادر مطلق پيدا کړى دى. او هم هغه دا مربوط اومستحکم نظام په خپل حکمت بالغه سره چلوى. اوهم هغه انسان د يوخاص مقصد دپاره دلته راليږلې دې.نوبيا دا څنګه ممکن ده. چې انسان به يې پيدا کړى وى. او داسې به يې په تيارۀ کښې پريخے وى. اوهغه ته به دومره قدرې نه ښائى. چې دې دڅه دپاره دے دنيا ته راغلې دې؟ دلته کښې دده څه ذمه وارئ دى. او دده څه منزل مقصود دې. او دې به څنګه خپل ژوند تيروى. آيا يوکس چې عقل اوحواس ئے کار کوى. داسې کولې شى. چې د څه خاص مقصد دپاره خپل نوکر په سفر باندې اوليږى. او هغه ته نه په سفر د روانيدو په وخت کښې د سفر مقصد اوښائى. او نه بيا روستو په څه ذريعه هغه خبر کړى. چې دې د څه کار دپاره ليږلې شوې دې او دسفر په دوران کښې به دده ذمه وارى څه وى؟ کله چې يو معمولي انسان داسې حرکت نشى کولې. نوبيا د هغه پاك ذات په باره کښې دا تصور څنګه کيديشى. چې دهغه په حکمت بالغه د کائناتو دا تول نظام چليږى. آخر دا څنګه ممکن ده. چې کوم ذات سپوږمئ. نمر آسمان. زمکه. ستورى او د سيارو دا عقل حيرانونکې نظام پيدا کړېدې. هغه به خپلو بندګانو ته د پيغام راليږلو داسې څه انتظام نشى کولې. چې دهغې په ذريعه انسانانو ته دهغوى د ژوند دمقصد په باره کښې هدايات ورکړى. که د الله ﷻ په حکمت بالغه باندې ايمان وى. نوبيا به دا منل هم ضرورى وى. چې هغه خپل بندګان په تيارۀ کښې نه دى پريخى. بلکه د هغوى د لار خودلو دپاره به يې څه باقاعده نظام ضرور جوړ کړې وى.

---

[1] دلته کښې د وحي ضرورت ته ډير اجمالي اشارې اوشوې. په دې موضوع باندې دتفصيلي بحث دپاره " تمهيد ابى شکورسالمي رحمه الله صفحات ۶۸ تا ۷۲ اود مولانا شمس الحق افغاني رحمه الله کتاب "علوم القرآن" صفحات ۳ تا ۱۸ مطبوعه اداره مطبعه فاروقيه بهاولپور کال ۱۳۸۹هجري اوګورئ.

بس د لار خودلو ددې باقاعده نظام نوم وحی او رسالت دی.

عدم مشاهده دليل د عدم وجود نه دې: ددې نه ښکاره ثابته شوه. چې "وحی" صرف دینی اعتقاد نه دې . بلکه یو عقلی ضروت دې. ددې نه انکار په حقیقت کښې د الله ﷻ د حکمت بالغه نه انکار دې.

په نبی ﷺ دوحی طریقې: د وحی او رسالت دا مقدّسه سلسله د دواړو جهانونو په سردار محمد مصطفیٰ ﷺ باندې ختمه شوه، اوس به نه په یو انسان باندی وحی نازلیږی او نه ددې ضرورت شته.

په نبی ﷺ هم په مختلفو طریقو وحی نازله شوې ده. دصحیح بخاری په یو حدیث کښې حضرت عائشه ﵂ فرمائي. چې یوځل حضرت حارث بن هشام [۲] د نبی ﷺ نه تپوس اوکړلۀ. چې په تاسو به وحی څنګه راتله؟ نونبی ﷺ اوفرمائیل: [أحیانا یأتینی مثل صلصلة الجرس وهو أشده علی فیفصم عنی وقد وعیت ما قال وأحیانا یتمثل لی الملك رجلا] [۳] کله خو به ماته د ټلې آو[از اوروليې شو. او د وحی دا صورت زما دپاره د ټولو نه زيات سخت وو. بيا چې کله دا سلسله ختمه شوه. نو چې څه آو[از به وو. هغه به ماته ياد شوې وو. اوکله به فرښته ماته مخامخ د سړی په شکل کښې راتله. [صحیح بخاری ج۱ ص۲]

په دې حدیث کښې نبی کریم ﷺ د وحی آواز لره د ټلې آواز سره تشبیه ورکړې ده.

شیخ حضرت محی الدین ابن عربی ﷫ نه ددې تشبیه کوم مطلب نقل کړېدې. هغه د ذکر شوو ټولوتوجیهاتونه زیات لطیف دې. دهغوی وینا دا ده چې دا تشبیه صرف په دوو اعتبارو سره ورکړې شوې ده. یوخو دآواز تسلسل سره وی. لکه څنګه دټلۍ آواز مسلسل وی. اونه اودریږی.

اودویم په دې اعتبار سره چې ټلۍ مسلسل ټنګیږی. نو اوریدونکی ته عام طور د هغې د آواز طرف متعین کول ګران وی. څکه چې د هغې آواز د هر طرف نه محسوسیږی. اوالله ﷻ چونکه د جهت اومکان نه پاك دې. نو څکه د کلام الهی دا خصوصیت دے چې د هغه آو[از د یوطرف نه نۀ راځی. بلکه د هرطرف نه راځی. ددې کیفیت صحیح ادراك د مشاهدې نه بغیر ممکن نه دې. لیکن دا خبره عامو ذهنونو ته د نږدې راوستلو دپاره ددې تشبیه نبی ﷺ د ټلۍ د آواز سره ورکړې ده. [۴]

---

[۲] حضرت حارث بن هشام ﵁ په اوچتو صحابه کرامو کښې دې. دمکه دفتح په موقعه یې اسلام راوړلې او په کال ۱۵هجری کښې دشام په فتح کولو کښې شهید شوې وو. [القسطلانی:ارشادالساری ۱/ ۵۷ بولاق مصر کال ۱۳۲۳هجری]

[۳] صحیح بخاری ۲/۱، اصح المطابع کراچی

[۴] فیض الباری ۱۹/۱، ۲۰] قاهره کال شي ۱۳۵۷هجری[

د وحی قسم د سختوالی وجه کله چه به په دې طریقه نبی علیه السلام باندې وحی نازلیده نو داپه نبی ﷺ د ټولو نه زیاته سخته وه. ددې سره به په نبی ﷺ زیات بوج پریوتلو.[۵] حضرت عائشه ﵂ د پورتنی حدیث په آخر کښې فرمائی. چې [ولقد رأيته ينزل عليه الوحي في اليوم الشديد البرد فيفصم عنه وإن جبينه ليتفصد عرقا][۶] ما د سخت ژمی په ورځ نبی ﷺ د وحی نازلیدو په وخت کښې لیدلې وو. [چې په داسې یخنئ کښې هم] چې کله به د وحی سلسله ختمه شوه. نو د نبی ﷺ د تندی نه به خولې بهیدلې. په یو بل روایت کښې حضرت عائشه ﵂ فرمائی. چې کله به په نبی ﷺ وحی نازلیدله. نو د نبی ﷺ ساه به بندیدله. او مخ مبارك به یې بدلیدو. او د کهجورې د شاخ پشان به زیړ شو. مخامخ غاښونه به یې د یخنئ نه رچیدل. او په نبی ﷺ به دومره خوله راتله. چې دهغې څاڅکی به د ملغلرو پشان ښځیدل.[۷]

د حضرت زید بن ثابت واقعه دوحی په دې کیفیت کښې به بعضې وخت دومره سخت والی پیدا شو. چې نبی ﷺ به په هغه وخت کښې په کوم څاروی سور وو. نو هغه به د ډیر بوج د وجې کیناستلو. او یوځل نبی ﷺ خپل سر مبارك د حضرت زید بن ثابت ﵁ په پتون باندې ایخودې وو. چې په دې حالت کښې د وحی نزول شروع شو. په دې باندې د حضرت زید ﵁ په پتون دومره بوج پریوتلو. چې ماتیدوته نزدې وو[۸] بعضې وخت به ددې وحی معمولی معمولی آواز نوروهم اوریدلو. حضرت عمر ﵁ فرمائی. چې کله به په نبی ﷺ وحی نازلیدله. نو د نبی ﷺ د مخ مبارك سره به د شاتو د مچو پشان بنګار اوریدې شو.[۹]

تمثیل ملک: دوحی دویم صورت چې په دې حدیث کښې ئې ذکر ذادې وو. چې فرښته به انسانی شکل کښې راتلله. او نبی ﷺ ته به یې پیغام راوړو. په داسې موقع به اکثر حضرت جبرئیل ؑ د مشهور صحابی حضرت دحیة کلبی ﵁ په صورت کښې تشریف راوړلو. البته په بعضې وختونو کښې په نورو صورتونو کښې هم دحضرت جبرئیل ؑ راتلل ثابت دی. بهر حال د وحی په دې صورت کښې به فرښته په انسانی شکل کښې راتلله. او د وحی په دې طریقه کښې به په نبی ﷺ څه سختی نه راتله.

د فرښتې په خپل اصلی شکل کښې راتلل د وحی دریم صورت دا وو. چې حضرت جبرئیل ؑ د

---

[۵] فتح الباری [۱۶/۱] قاهره کال ۱۳۵۷هجری
[۶] صحیح بخاری [۲/۱] حدیث نمبر ۳۰۰
[۷] السیوطی الاتقان [۴۶/۱] قاهره کال ۱۳۶۸ هجری بحواله ابن سعید
[۸] ابن قیم زادالمعاد في هدی خیرالأنام [۱۹/۱، ۱۸] المطبعة المیمنیة مصر.
[۹] ایضاً [۲۱۲/۲۰]

انسانی شکل جوړولو نه بغير په خپل اصلی شکل کښې ښکاره کيدلو. داسې د نبی ﷺ په ټول عمر کښې درې ځله شوی وو. يوځل هغه وخت چې د نبی ﷺ په خپله د جبرئيل ﷺ په خپل اصلی شکل کښې د ليدلو خواهش کړې وو. دويم ځل په معراج کښې او دريم ځل بيخی د نبوت په ابتدائی زمانه کښې په مکه مکرمه کښې په مقام اجياد باندې اولنئ دوه واقعات خو په صحيح سند سره ثابتې شوی دی. خو آخری دريمه واقعه د سند د کمزورئ د وجې مشکوکه ده.[۱۰]

الله تعالی سره خبرې کول دوحی څلورم صورت دا وو. چې نبی ﷺ ته هم الله ﷻ سره براه راست د خبروکولوشرف حاصل شوې وو. دبيدارئ په حالت کښې دا واقعه صرف د معراج په موقعه پيښکه شوې وه. ددې نه علاوه يوځل نبی ﷺ په خوب کښې هم الله ﷻ سره خبرې کړې وې.[۱۱]

نفث فی الروع د وحی پنځمه طريقه دا وه چې حضرت جبرئيل ﷺ به بغير د څه شکل اختيارلو نه د نبی ﷺ په زړه کښې څه خبره واچوله.

دې ته په اصطلاح کښې ``نفث فی الروع،، وائی. [ايضاً]

د قرآن د نزول تاريخ

قرآن کريم په اصل کښې دالله ﷻ کلام دې. څکه د ازل نه په لوح محفوظ کښې موجود دې. دقرآن کريم ارشاددې ﴿بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ ۝ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ﴾ البروج:۲۲، ۲۱) بلکه دا قرآن مجيدې دې. په لوح محفوظ کښې.

دقرآن دنزول دوه طريقې بيا د قرآن کريم نزول دوه ځله شوې دې يوځل دا ټول په دنياوی آسمانی کښې بيت العزت ته نازل شوې وو.

بيتِ عزّت [چه دې ته البيت المعمور هم وائی] د کعبة الله په محاذات کښې په آسمان کښې د فرشتو د عبادت ځائې دې، دا نزول په ليلة القدر کښې شوې وو. بيادويم ځل نبی ﷺ باندې لږ لږ دضرورت مطابق نازليدله. تر دې چې په درويشت کاله کښې ددې تکميل اوشو.

د حديث نه د دوو طريقو ثبوت دقرآن کريم دا دوه صورتونه پخپله دقرآن کريم د اندازبيان نه هم معلوميږی. ددې نه علاوه په نسائی، حاکم، بيهقی ابن ابی شيبه، طبرانی او ابن مردويه ﷺ د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه ګڼر رواياتونه نقل کړی دی. دهغې خلاصه هم دا ده. چې دقرآن کريم اولنې نزول ددنيا آسمان ته شوې وو. اودويم نزول په مزه مزه نبی

[۱۰] د تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباری [۱/، ۱۹، ۱۸]
[۱۱] الإتقان [۴۶/۱]

ﷺ ته شوې وو. [۱۲]

اولنې نزول: دقرآن کریم اولنې نزول حکمت علامه ابوشامه رحمه الله دا بیان کړېدې. چې په دې کښې دقرآن کریم آوچت والي د مقام ته اشاره ده. او دغه مقام نه فرشتو ته دا خبره خودل مقصودوو. چې دادې لله ﷻ آخری کتاب دې. چې دزمکې دخلقو دهدایت دپاره نازلیدو والا دې.

د کتاب اتقان ته اشاره، زرقانی رحمه الله هم دا نکته بیان کړې ده. [۱۳] چې ددې په دوه خله نازلولو کښې دا مقصود وو. چې دا کتاب دشك او شبه نه پاك دې. چې د نبی ﷺ د مبارك زړه نه علاوه دا په نورو دووځایونو کښې هم محفوظ دې. یولوح محفوظ اودویم بیت العزت والله اعلم. بهر حال دالله ﷻ د حکمتونو احاطه څوك کولې شي. هم هغه ته صحیح علم دې. چې ددې به نور څه څه حکمتونه وی. اومونږ ته دهغې په لټولو کښې د پریوتولو ضرورت هم نشته. البته مونږ ته د دومره وضاحت سره خودلې شوی دی. چې دا اولنې نزول په شب قدر کښې شوې وو.

دویم نزول: په دې باندې تقریبا اتفاق دې. چې دقرآن کریم دویم تدریجی نزول هغه وخت شروع شو. کله چې د نبی ﷺ عمر څلویښت کاله شو. ددې نزول شروع هم د صحیح قول مطابق په شب قدر کښې شوې وه. [۱۴] دا هم هغه تاریخ وو. چې روستو په کښې جنګ بدر شوې وو. لیکن دا شپه د رمضان کوم تاریخ وو. په دې باره کښې په قرآن کریم کښې څه یقینی خبره نشی کولې. د بعضې روایاتونه درمضان اوولسمه او د بعضو نه نورلسمه او د بعضو نه اوویشتمه شپه معلومیږی. [۱۵]

د ټولو نه اولنې نازلیدونکې آیت

د سورت علق ابتدائی ایاتونه: صحیح قول دادې چې په نبی ﷺ د ټولو نه اولنی آیتونه چې کوم نازل شوې وو. هغه د سورت علق اولنی آیاتونه دی. په صحیح بخاری کښې حضرت عائشه رضي الله عنها ددې واقعه داسې بیانوی. چې په رسول الله ﷺ د وحی شروع د ریښتینی خوبونو نه شوې وه. ددې نه پس په خلوت کښې نبی ﷺ ته د عبادت کولو شوق پیدا شو. او په هغه دوران کښې به نبی ﷺ څو څو شپې په غار حرا کښې تیرولې. او په عبادت

---

[۱۲] اوګورئ الاتقان ۴۱/۱ النوع السادس عشر]

[۱۳] [مناهل العرفان [۳۹\۱]۔

[۱۴] مشهوره دا ده. چې نبی ﷺ ته نبوت په ربیع الاول کښې ملاو شوې وو. علامه سیوطی رحمه الله ددې محمل دا خودلې دې. چې نبی ﷺ ته په ربیع الاول کښې ریښتینې خوبونه لیدل شروع شوی وو. دا سلسله شپږو میاشتو پورې جاری وه. بیا په رمضان کښې قرآن نازل شو. [الاتقان ۴۲/۱]

[۱۵] تفسیر جامع البیان دې بن جریر طبری ۷/۱، طبع مصر]

کښې به مشغول اوسیدۀ. تر دې چې يوه ورځ هم په هغه غار کښې نبی ﷺ ته دالله ﷻ د طرف نه فرښته راغله. او هغې د ټولو نه اولنئ خبره دا اوکړله. «اقرأ» یعنی اولوله. نبی ﷺ اوفرمائیل:زه لوستونکې نه یم. ددې نه پس رسول الله ﷺ پخپله واقعه بیانوی. چې زما په دې جواب فرښتې زه اونیولم. اوماته يې داسې زورراکړلو. چې ماته سخت تکلیف اورسیدۀ. بیا هغې زه پریخودم. او ماته يې‌اوئیل،، اقرا،، ما جواب ورکړلو. چې زه لوستونکې نه یم. په دې باندې هغې زه په دریم ځل اونیولم. او زور ئې راته راکړلو. بیا ئې اووئیل :اولوله! ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ۝ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝﴾ اولوله دخپل پرودرګارد نوم نه چاچې پیدا کول کړی دی. چاچې انسان د چکه وینې نه پیدا کړېدې. اولوله. اوستا پروردګار د ټولو نه زیات مهربانه دې. الخ.

د سورت مدثر آیاتونه دا په نبی ﷺ باندې نازل شوی د ټولو نه اولنی آیاتونه وو. ددې نه پس‌درې کاله پورې د وحی سلسله بنده وه. دې زمانې ته د "فترت وحی" زمانه وائی. بیادرې کاله پس هغه فرښته چې په غار حراء کښې راغلې وه. نبی ﷺ د آسمان اوزمکې په مینځ کښې اوخودلې شوه. او هغې نبی ﷺ ته د سورت مدثر آیاتونه واورول. دې نه پس د وحی سلسله شروع شوه.

مکی اومدنی آیاتونه

① هجرت معیار ګرځول: تاسو به د قرآن کریم د سورتونو په عنواناتو کښې کتلی وی. چې د بعضې سورت سره مکی او د بعضې سره مدنی لیکلې شوې وی. ددې صحیح مفهوم پیژندل ضروری دی. داکثرو مفسرینو داصطلاح مطابق د "مکی آیت" نه هغه آیت مراد دې. چې د نبی ﷺ دهجرت په غرض مدینې طیبې ته د تلو نه وړاندې نازل شوی وی.

② مکه اومدینه معیار ګرځول: بعضې کسان د مکی نه دا مطلب اخلی. چې په مکه ښار کښې نازل شوی وی. او د مدنی نه دا چې په مدینه ښار کښې نازل شوی وی. لیکن د اکثرو مفسرینو داصطلاح مطابق دا مطلب اخستل ټیک نه دی. ځکه چې څو آیاتونه داسې دی. چې دمکې په ښار کښې نازل شوی نه دی. لیکن چونکه د هجرت نه وړاندې نازل شوی دی. نو ځکه ورته مکی وئیلی شی. په منی، عرفات وغیره او د معراج په سفر کښې نازل شوی آیاتونه داسې دی. تر دې چې د هجرت په سفر کښې چې په لار کښې کوم آیاتونه نازل شوی دی. هغې ته مکی وائی. دغه شان ډیر آیاتونه داسې دی. چې په مدینه ښار کښې نه دی نازل شوی. لیکن هغې ته مدنی وائی. دهجرت نه پس نبی ﷺ ډیر سفرونه کړی وو. چې په هغې کښې نبی ﷺ د مدینې نه په سوونو میله لرې هم تشریف اوړے وو. په دې ټولو مقاماتو کښې نازل شوو آیاتونو ته مدنی وائی. تر دې چې

هغه آیاتونو ته هم مدنی وائی چې د فتح مکې یا غزوه حدیبیې په موقع باندې یا خاص کر په مکه ښار یا ددې په مضافاتو کښې نازل شوی دی. [۱۶] د قرآن آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ _ النساء﴾ مدنی دې. حالانکه دا په مکه مکرمه کښې نازل شوې دې [۱۷] بیا بعضې صورتونه خو داسې دی. چې هغه ټول مکی یا ټول مدنی دی. مثلا سورت مدثر ټول مکی دې. اوسورت آل عمران ټول مدنی دې. او بعضې وخت داسې هم شوی دی. چې ټول سورت خو مکی وی. خو په هغې کښې یو یا څو آیاتونه مدنی وی. مثلا سورت اعراف مکی دې. لیکن په دې کښې ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ نه واخله تر ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ﴾ پورې آیاتونه مدنی دی. دغه شان کله ددې په عکس هم وی. مثلا سورت حج مدنی دې. لیکن په دې کښې څلور آیاتونه ﴿وما . . . . . تمنی﴾ نه تر ﴿عذاب عظیم﴾ پورې مکی دی. ددې نه دا هم ښکاره کیږی. چې د یو سورت مکی یا مدنی کیدل عام طور دهغې د زیاتو آیاتونو په اعتبار سره وی. او اکثریه داسې کیدل. چې دکوم سورت ابتدائی آیاتونه دهجرت نه وړاندې نازل شوی وو. هغه مکی اوګرځولې شوې ګر چې روستو دهغې بعضې آیاتونه دهجرت نه پس نازل شوی وو [۱۸]

دمکی او مدنی آیاتونو خصوصیات

دتفسیر عالمانو د مکی او مدنی سورتونو لټون کړېدې. او ددې بعضې داسې خصوصیات یې بیان کړی دی. چې د هغې نه په اولنی نظر سره دا معلومیږی. چې دا سورت مکی دے که مدنی. په دې سلسله کښې بعضې کلی قاعدے دی. او بعضې اکثری قاعدے دی.

لفظ د، کلا، معیار ګرځول ① هر هغه سورت چې په هغې کښې د "کلا" [هیڅ کله نه] لفظ راغلې وی. هغه مکی وی. دا لفظ په پنځلس سورتونو کښې دری دیرش [۳۳] څله راغلې دې. او دا ټول آیاتونو د قرآن په آخری نیمه حصه کښې دی.

آیت د سجدې معیار ګرځول ②هر هغه سورت چې په هغې کښې آیت د سجدې وی. مکی دې. [دا اصول د احنافو په مسلك دې.

دآدم علیه السلام واقعه معیار ګرځول ③ د سورت بقره نه سوا هر هغه سورت چې په هغې کښې دحضرت آدم علیه السلام او شیطان واقعه راغلې وی. هغه مکی دې.

[۱۶] دتفصیل دپاره اوګورئ البرهان فی علوم القرآن ۱۸۸/۱ النوع التاسع]
[۱۷] مناهل العرفان ۱۸۸/۱]
[۱۸] مناهل العرفان ۱۹۲/۱]

جهاد معيار كمرخول: ⑧ هر هغه سورت چې په هغې كښې د جهاد اجازت يا ددې احكام ذكر شوي وي. مدني دې.

د منافقانو ذكر معيار كمرخول: ⑨ هر هغه سورت چې په هغې كښې د منافقانو ذكر راغلې وي. مدني دې.

دمكي اومدني سورتونو پيژندګلو اكثري قاعدې: اود سورتونو دا لاندنيي خصوصيات عمومي اواكثري دي. يعني كله كله ددې خلاف هم كيږي. ليكن اكثر اوزيات هم داسې دي.

خطاب معيار كمرخول: ① په مكي سورتونوكښې اكثر په ﴿يَاأَيُّهَاالنَّاسُ﴾، ، اے خلقو، ، الفاظو سره خطاب شوي دې اوپه مدني سورتونوكښې كښې د ﴿يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوا﴾ الفاظو سره خطاب شوې دې.

طوالت او اختصار معيار كمرخول: ② مكي آياتونه اوسورتونه اكثر واړه واړه دي. اومدني آياتونه اوسورتونه طوال او مفصل دي. [د طوال اومفصل تفصيل به روستو راشي .

توحيد او احكام معيارك كمرخول: ③ مكي سورتونه زيات تر د توحيد، رسالت اود آخرت اثبات، دحشر اونشر منظر كشي، نبي ﷺ ته دصبر او تسلي تلقين، او د وړاندېنې امتونو په واقعاتو مشتمل دي. اوپه دې كښې احكام اوقوانين ډير كم بيان شوي دي. ددې په خلاف په مدني سورتونو كښې خانداني اوتمدني قوانين، دجهاد او قتال احكام اوحدود او فرائض بيان شوي دي.

مخاطبه د كافرانو او اهل كتابو معيارك كمرخول: ④ په مكي سورتونوكښې زياته مقابله د بت پرستو سره شوې ده. اوپه مدني سورتونوكښې د اهل كتابواومنافقانو سره.

اسلوب بيان معيار كمرخول: ⑤ د مكي سورتونوترتيب اسلوب زيات تر د شكايت دې. اوپه دې كښې استعارات، تشبيهات اومثالونه زيات دي. اوذخيره الفاظ هم ډير زيات دي. ددې په خلاف د مدني سورتونو اسلوب نسبتاً ساده دې.

په مكي اومدني اسلوب كښې دفرق وجوهات: د مكي او مدني سورتونو په انداز بيان كښې دا فرق په اصل كښې دحالاتو، ماحول اومخاطبينو د اختلاف د وجې پيدا شوي دې په مكي ژوند كښې دمسلمانانومقابله چونكه زياته د بت پرستو عربو سره وه. او اسلامي رياست موجود شوي نه وو. څكه په دغه دور كښې زيادت زور د عقائدو په ټيك كولو اود اخلاقو په اصلاح او د بت پرستو مدلل ترديد او قرآن كريم د شان اعجاز په اظهار باندې وركړې شوي دې. ددې په خلاف په مدينه طيبه كښې يواسلامي رياست قائم شوې وو. خلق به ډلې ډلې د اسلامي جنډے لاندې راتلل. په علمي ميدان كښې د بت پرستئ ابطال شوې وو. او ټول نظرياتي جنګ داهل كتابو سره وو. څكه ددې خاتې احكام، قوانين،

حدود اود فرائضو په تعليم باندې زيات توجه ورکړې شوې ده. او ددې مناسب اسلوب يې اختيار کړېدې.

د قرآن کريم تدريجي نزول

په اول کښې راغلي ووچې په نبي ﷺ باندې قرآن کريم په يو ځل نه وو نازل شوې. بلکه لږ لږ تقريباً په ديرويشت کالو کښې نازل شوې وو. بعضې وخت به حضرت جبرئيل امين ﷺ د يو ورکوټي آيت بلکه د آيت ديوے حصے دپاره هم تشريف راوړلو. اوکله به څوڅو آياتونه په يو وخت نازل شو. د قرآن کريم د ټولو نه وړه حصه چې ځان له نازله شوې وه. هغه ﴿غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ: النسآء:٩٥﴾ ده. دا ديو اوږد آيت ټکړه ده. بل طرف ته سورت انعام ټول په يوځل نازل شوې دې[۱۹]

د مشرکانو اعتراض: قرآن کريم په يو ځل نازلولوپه ځائې لږ لږ ولې نازل شوې دې؟دا سوال په خپله د عربومشرکانو د نبي ﷺ نه کړې وو. الله ﷻ ددې سوال جواب په خپله په دې الفاظو کښې ورکړېدې ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا الفرقان:٣٢﴾ او کافرانو اووئيل: چې په تا باندې قرآن ولې په يو ځل نه نازليږي. دغه شان مونږ قرآن پاك تدريجاً نازل کړېدې. چې ستا زړه پرې مطمئين کړو. لومونږ دا په مزه مزه لوستے دې. او دوی به څه خبره تاته نه راوړي. مګر مونږ به تاته حق راوړو. او د هغې به ښه تفسير پيش کوو،،

د تدريجي نزول حکمتونه: امام رازی ﷫ ددې آيت په تفسيرکښې د قرآن کريم په تدريجي نزول کښې چې کوم حکمتونه بيان کړی دی. دلته کښې د هغې خلاصه پيژندل کافي دی. هغوی فرمائي. چې ددې په تدريجي نزول کښې څو حکمتونه دی.

① نبي ﷺ امي وو. ليکل لوستل يې نشو کولې. نو که ټول قرآن په يوځل نازل شوې نه وې. نوددې يادول او ضبط کول به ګران وو. ددې په خلاف حضرت موسی ﷺ ليکونکې اولوستونکې وو. ځکه په هغوی باندې تورات په يو ځل نازل شوې وو.

② که ټول قرآن په يو ځل نازل شوې وو. نو د ټولو احکامو پابندی به فورا شروع شوې وه. نودابه ددې د حکيمانه تدريج نه خلاف وو. د کوم چې په شريعت کښې خيال ساتلی شي.

③ نبي ﷺ به هره ورځ دخپل قوم د طرف نه نوی نوی تکليفونه برداشت کول. د قرآن دنازلولو دپاره د حضرت جبرئيل ﷺ بار بار راتګ به د دغه تکليفونو مقابله کول آسانوله. او د نبي ﷺ د زړه دمضبوطتيا سبب به جوړېده.

---

[۱۹] تفسير ابن کثير ۱۲۲/۲

⑥ د قرآن کریم زیاته حصه د خلقو د سوالونو جواب او مختلفو واقعاتو سره متعلق ده. څکه ددې آیاتونو نزول په هغه وخت کښې مناسب وو. په کوم وخت کښې چې دغه سوالاته شوی وو. یا واقعات پېښ شوی وو. دې سره د مسلمانانو بصیرت هم زیاتیدۀ. او د قرآن کریم غیبی خبرو بیانولو سره ددې حقانیت نور هم ښکاره کیدلو. [۲۰]

شان نزول

دقرآن کریم دوه قسمه آیاتونه دی. یوهغه آیاتونه دی. چې په خپله نازل شوی دی. څه خاص واقعه یا د چا سوال وغیره دهغې د نزول سبب نه وی جوړ شوې. دویم قسم آیاتونه هغه دی. چې دهغې نزول د څه خاص واقعې یا دچا دسوال په جواب کښې شوی وی. هغې ته د دغه آیاتونو پس منظر وئیل پکار دی. دې پس منظر ته د مفسرینو په اصطلاح کښې "سبب نزول" یا "شان نزول" وئیلې شی.

مثلا دسورت بقره آیت دې. ﴿وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ۚ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ ۗ وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا ۚ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ﴾ :: البقرة:۲۲۱﴾ مشرکو ښځو سره ترهغه وخته پورې نکاح مه کوئ. ترڅوچې هغوی ایمان نه وی راوړے. بیشکه یوه مومنه وینځه دمشرکې نه بهتره ده. اګرچې مشرکه ستاسو خوښه وی

دپورتنی آیت شان نزول: دا آیت په یوه خاص واقعه کښې نازل شوې وو. په زمانه د جاهلیت کښې حضرت مرثد بن ابی مرثد غنوی ﷺ دعناق نومې یوې ښځې سره تعلقات وو. د اسلام راوړلو نه پس دے مدینې طیبې ته راغلۀ. اوهغه ښځه په مکه مکرمه کښې پاتې شوه. یو ځل دڅه کاردپاره حضرت مرثد ﷺ مکې ته تشریف یوړلۀ. نوعناق ده ته دګناه دعوت ورکړلو. حضرت مرثد ﷺ ترې صفا انکار اوکړلو. اووې فرمائیل:اسلام زما اوستا په مینځ کښې پرده جوړه شوې ده. لیکن که ته غواړے. نوزه د نبی ﷺ په اجازت سره تا سره نکاح کولې شم. چې مدینې منورے ته یې تشریف راوړلو. نو حضرت مرثد ﷺ د نبی ﷺ نه د نکاح کولواجازت اوغوښتلو. اود خپلې خوښې اظهار یې اوکړلو. په دې باندې دا آیت نازل شو. اودے د مشرکو ښځوسره د نکاح کولونه ممانعت اوکړلو[۲۱] داواقعه دپورتنی آیت سبب نزول یا شان نزول دې.

د قرآن کریم په تفسیر کښې ``شانِ نزول،، دیر اهمیت لری، د ډیرو آیاتونو مفهوم ترهغه وخته پورې په صحیح طریقه پوهه کښې نه راځی چه ترڅو پورې دهغې شانِ نزول معلوم نه شی.

---

[۲۰] تفسیر کبیر دامام رازی ﷺ [۳۳۶/۶] مطبع عامره کال ۱۳۲٤هجری

[۲۱] الواحدی :اسباب النزول صفحه ۳۸، مصطفی البابی مصر کال ۱۳۷۹]

د قرآن د حفاظت تاریخ

د رسول ﷺ په زمانه کې د قرآن حفاظت قران کریم په یوځل پوره په پوره نه دې نازل شوې . بلکه ددې مختلف آیاتونه دضرورت اوحالاتو په مناسبت سره نازلیدل. نوځکه په عهد رسالت کښې دامکنه نه وه. چې هم د شروع نه دا په کتابی شکل کښې اولیکلې شی اومحفوظ کړې شی . ددې نه علاوه الله ﷻ قران کریم ته د نورو آسمانی کتابونو په مقابله کښې دا مرتبه ورکړې وه. چې ددې حفاظت ېې دقلم اوکاغذ نه زیات دحافظانو په سینوسره اوکړو. لکه په صحیح مسلم کښې دی . چې الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته اوفرمائیل [ومنزل علیك كتابالايغسله الماء] یعنی څه په تا باندې یوداسې کتاب نازلونکې یم. چې اوبه یې نشی ونخلې.

مطلب دا دې چې ددنیا دعامو کتابونوحال خودادې . چې هغه ددنیاوی آفتونو په وجه ضائع کیږی . لکه چې تورات انجیل او نورې آسمانی صحیفې هم دغه شان ختمې شوې نه وې. خو قران کریم به په سینو کښې داسې محفوظ کړې شی . چې ددې دضائع کولو په هیڅ خطره باقی پاتې‌نه شی . ([22]) ددې وجې د اسلام په اول کښې د قران کریم دحفاظت دپاره دټولونه زیات زور په حافظه باندې ورکړې شوې وو. په شروع شروع کښې چې به کله وحی نازلیدله. نونبی کریم ﷺ به هغه الفاظ هم هغه وخت بیا بیا اړول راړول. چې ښه ورته یاد شی . دے باندې دا آیت نازل شو ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ﴾ تاسوقران مجید د زریادولو په خیال خپلې ژبې ته حرکت مه ورکوئ. (ځکه) چې ددې (قران)جمع کول او لوستل مونږ په خپله ذمه اخستې دی،،

په دې آیت کښې داخبره واضحه کړې شوه. چې قران کریم د یادساتلو دپاره تاسوته د وحی د نزول په وخت زرزر د الفاظو د لوستلو ضرورت نشته . الله ﷻ به په خپله په تاسوکښې داسې حافظه پیداکړی . چې یوځل د نزول وحی نه پس به تاسو نه دا نه هیریږی . او هم داسې اوشوه. چې یو طرف ته به په نبی کریم ﷺ باندې قرآنی آیاتونه نازل شو. اوبل طرف ته به هغه نبی کریم ﷺ ته یادیدل. دغه شان دسرکاردوعالم ﷺ سینه مبارکه دقران کریم د ټولونه زیاته محفوظه خزانه وه. چې په دې کښې دیوې معمولی غلطئ یا ترمیم او بدلیدو امکان نه وو. بیا به نبی کریم ﷺ د زیات احتیاط په طور باندې هرکال د رمضان په میاشت کښې حضرت جبرئیل ؑ ته قران اورولو. اوپه کوم کال چې د نبی کریم ﷺ وفات اوشو . په دغه کال نبی کریم ﷺ دوه ځله حضرت جبرئیل ؑ سره دور اوکړو. ① بیا نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته د قران کریم صرف

[22]) النشر فی القرآت العشرلابن الجزری ؒ . ص٦ج١

د معانیوتعلیم نه ورکولو. بلکه هغوی ته به یې د هغې الفاظ هم یادول.

د قران په حفظ کښې د صحابو شوق: اوپه خپله صحابه کرامو ﷺ سره د قران کریم د زده کولو او ددې یادولو دومره شوق وو. چې هرسړې به په دې معامله کښې د بل کس نه د وړاندې کیدو په فکرکښې وو، بعضې ښځو دخپلو خاوندانو نه ددې نه سوا دهیڅ مهر مطالبه اونه کړه چه هغه به دې ته د قرآن کریم تعلیم ورکوی، په سوونو صحابه کرامو خپل خانونه د نورو ټولو غمونو نه آزاد کړو اوخپل ژوند ئې ددې کار دپاره وقف کړې وو، هغوی به قرآن کریم صرف یادولو نه بلکه د شپې به ئې په مونځونو کښې تلاوت کولو، حضرت عُباده بن صامت ﷺ فرمائی چه کله به چا هجرت اوکړو اود مکې مکرّمې نه به مدینې طیّبې ته راغې نو نبی کریم ﷺ به هغه په مونږ انصارو کښې چاته حواله کولو، چه هغه ده ته قرآن اوښائی، اوپه مسجد نبوی [ﷺ] کښې د قرآن ښودونکو او زده کونکو د آوازونو دومره شور شو چه رسول الله ﷺ دا تاکید اوفرمائیلو چه خپل آوازونه رو کړئ، چه څه غلطی اونه شی. [مناهل العرفان ج۱ ص۲۳٤]

په لږه موده کښې د صحابه کرامو یو داسې لوئې جماعت تیار شو چه هغوی ته قرآن کریم ټول حفظ وو، په دغه جماعت کښې د خلفائې راشدینو نه علاوه حضرت طلحه، حضرت سعد، حضرت ابن مسعود، حضرت حذیفه بن یمان، حضرت سالم مولی ابی حذیفه، حضرت ابوهریره، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن عباس، حضرت عمرو بن عاص، حضرت عبدالله بن عمرو، حضرت معاویه، حضرت عبدالله بن زبیر، حضرت عبدالله بن السّائب، حضرت عائشه، حضرت حفصه، حضرت امّ سلمه [رضی الله عنهم اجمعین] خاص طور قابل ذکردی.[۲۳]

غرض داچه په ابتداء د اسلام کښې زیات زور د قرآن په حفظ کولو ورکړې شو، او دهغه وخت په حالاتو کښې دا طریقه زیاته محفوظه او قابل اعتماد وه، ځکه چه په هغه زمانه کښې د لیکونکو او لوستونکو تعداد ډیرکم وو، د کتابونو چهاپ کولو دپاره د پریس وغیره ذریعې موجود نه وې، په دې وجه که صرف په لیکلو باندې اعتماد شوې وې نو نه به د قرآن کریم په لویه پیمانه اشاعت شوې وې، او نه به ددې قابل اعتماد حفاظت کیدو، ددې په ځائې الله تعالی د عربو خلقو ته د حافظې داسې قوت ورکړې وو چه یو یو سړې به د زرګونو شعرونو حافظ وو، او معمولی معمولی د باندو اوسیدونکو ته به صرف دخپل خاندان نه بلکه هغوی ته به دخپلو اسونو نسب نامې هم یادې وې، په دې وجه د قرآن کریم په حفاظت کښې ددې قوتِ حافظې نه کار واخستلې شو، او ددې په

[۲۳] د زیاتې تفصیل دپاره اوګورئ ``علوم القرآن،، د احقر مفصّل کتاب.

ذريعه د قرآن كريم آياتونه او سورتونه د عربو گوټ گوټ ته اورسيدل.

په عهدرسالت كښې د كتابت قرآن اوله مرحله

د قرآن حفاظت د ليكلو په ذريعه: دحفاظت قران اصل مدار اگرچې په حافظه باندې وو. خو ددې سره سره نبي كريمﷺ دقران كريم دكتابت هم خاص اهتمام كړې وو. دكتابت طريقه حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه په يوحديث كښې دا بيان كړې ده. چې [كنت اكتب الوحي لرسول الله ﷺ وكان اذانزل عليه الوحي اخذته برحاء شديدة وعرق عرقا مثل الجمان ثم سري عنه. فكنت أدخل عليه بقطعة الكتف اوكسرة فأكتب وهو يملي علي فما أفرغ حتى تكاد رجلي تنكسر من ثقل القران حتى أقول لا أمشي على رجلي أبداً فإذا فرغت قال إقرأ فأقره فإن كان فيه سقط أقامه ثم أخرج به الى الناس.[24]»ما درسول الله ﷺ دپاره د وحي كتابت كولو. چې كله به په نبي كريمﷺ باندې وحي نازليدله. نود نبي كريمﷺ به سخته گرمي كيده. له. اود نبي كريم ﷺ په پاك بدن باندې به دخولوڅاڅكي د غمو په شان رابهيدل. بيا به د نبي كريمﷺ نه دا حالت ختم شو. نوما به د اوږې يو هډوكے[يا دڅه بل څيز ټکړه] راوړلو. په خدمت كښې به حاضرشوم نبي كريمﷺ به املا ونيله اومابه ليكله. تر دې چې زه به دليكلونه فارغ شوم. نو دقران د نقل كولو د بوج نه به ماته داسې محسوسيدله. لكه چې زما پښه ماتيږي. اوگرځيدے پرې نشم. چې كله به زه اوزگار شوم. نو نبي كريمﷺ به فرمائيل.،، واوروه.،، ا نوما به اورولو. كه په دې كښې به څه نقص وو. نو نبي كريمﷺ به دهغې اصلاح كوله. اوبيا به يې دخلقومخې ته راوړلو. دوحي دكتابت كار صرف حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه ته نه وو حواله. بلكه نبي كريمﷺ ډير صحابه رضي الله عنهم د دې كار دپاره مقرركړي وو. چې هغوى به دضرورت مطابق خپل فرائض سرته رسول. دكاتبين وحي تعداد دخلويښتو پورې شماركړې شوې دې.[25]

كاتبين وحي: خو په دوى كښې مشهوردا حضرات دي. حضرت ابوبكر رضي الله عنه، حضرت عمر رضي الله عنه. حضرت عثمان رضي الله عنه، حضرت علي رضي الله عنه، حضرت أبي بن كعب رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن ابي سرح رضي الله عنه، حضرت زبيربن عوام رضي الله عنه، حضرت خالدبن سعيد بن العاص رضي الله عنه، حضرت ابان بن سعيدبن العاص رضي الله عنه، حضرت حنظله ابن الربيع رضي الله عنه، حضرت معقيب بن ابي فاطمه رضي الله عنه. حضرت عبدالله بن ارقم الزهري رضي الله عنه، حضرت شرحبيل بن حسنه رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه، [26] حضرت عامربن فهير رضي الله عنه، حضرت

---

[24] رواه الطبراني رحمه الله في الاسط ورجاله موثقون الآن فيه وجدت في كتاب خالي فهورجاله [مجمع الزوائد نورالدين الهيثمي ص١٥٢. ج١. باب عرض الكتاب بعدإملاله. دارالكتاب العربي. بيروت سن ١٩٦٧ع

[25] علوم القران. صبحي صالح. ترجمه اردوغلام احمدحريري. ص ١٠١. بحواله مستشرق بلنشير وغيره ملک برادران لائلپورسن ١٩٦٨

[26] تر دې ځائې پورې نومونه دفتح الباري. ص١٨. ج٩. نه اخستي شوي دي

عمروبن العاص ﷜، حضرت ثابت بن قيس بن شماس ﷜، حضرت مغيره بن شعبه ﷜، حضرت خالدبن وليد ﷜، حضرت معاويه بن ابى سفيان ﷜، حضرت زيدبن ثابت ﷜. [۲۷]

دحضرت عثمان ﷜ طريقه كار حضرت عثمان ﷜ فرمائي. چې د نبى كريم ﷺ معمول دا وو. چې كله به دقران څه حصه نازله شوه. نونبى كريم ﷺ به كاتب وحى ته دا هدايت كولو. چې دا دے په فلانى سورت كښې د فلانى فلانى آياتونونه پس اوليكلې شى. [۲۸] دا به دنبى كريم ﷺ دهدايت مطابق ليكلى شو.

قرآنى آياتونه به په څه ليكلى شو؟ په هغه زمانه كښې په عربوكښې كاغذ ډيركم وو. ددې وجې به داقرانى آياتونه زيات دكانړو په تختو، دخرمنوپه ټكړو، دكهجورو په ښاخونو، د بانړس په ټكړو، د اونوپه پانړواو د څناورو په هډوكو باندې ليكلى شو. خو كله كله دكاغذ ټكړې هم استعمال شوى دى. [۲۹] دغه شان په عهد رسالت كښې د قران كريم يوه نسخه خوهغه وه. چې هغه نبى كريم ﷺ په خپله نگرانئ كښې ليكلې وه. اگرچې هغه په كتابى شكل كښې نه وه بلكه د متفرقو پانړو په شكل كښې وه. هم دے سره به بعضې صحابه كرامو ﷡ هم دخپل ياد دپاره دقران كريم آياتونه خپل خان سره ليكل اودا سلسله داسلام بالكل د ابتدائى زمانې نه جارى وه. ددې شهادت د دې خبرې نه ملاويږى. چې دحضرت عمر ﷜ خور فاطمه بنت خطاب ﷜ او اوخے حضرت سعيد بن زيد ﷜ د حضرت عمر ﷜ نه وراندې مسلمانان شوى وو.

....

دحضرت ابوبكر ﷜ په عهد كښې جمع قرآن

دويمه مرحله: خو د نبى كريم ﷺ په زمانه كښې چې خومره نسخې ليكلې شوې نه وې. دهغې طريقه دا وه. چې يا خودا په متفرقو خيزونو باندې ليكلې شوې نه وې. څه آياتونه په څرمنو باندې، څه د اونوپه پانړو باندې. څه په هډوكو باندې، پوره مكملے نسخې نه وې د بعضې صحابوٌ سره يو يوسورت ليكلې شوې وو. د چا سره لس يا پنځه سورتونه. اود چاسره صرف يوڅو آياتونه. اود بعضې صحابو ﷡ سره د اياتونوسره څه تفسيرى جملې هم ليكلې شوې نه وې. په دې وجه حضرت ابوبكر ﷜ په خپل عهدخلافت كښې

[۲۷] ددې حضراتونومونو دپاره اوگورئ زادالمعاد لابن قيم ﷫. ص۳۰. ج۱.مطبعه ميمنيه مصر]
[۲۸] فتح البارى. ص ۱۸. ج۸. بحواله مسنداحمد ﷫ ترمزى ﷫. نسائى ﷫ ابوداود، ابن حبان ﷫ وحاكم ﷫ وصححه ابن حبان ﷫ والحاكم ﷫
[۲۹] ايضا. ص۱۱. ج۹. وعمده القارى. ص ۱۷. ج۲۰. اداره الطباعه المنيريه دمشق

دا ضروری اوګنڑله. چې د قران کریم دا خورے ورے حصے یوځائې اومحفوظ کړې شی.
په جنګ یمامه کښې د حافظانو شهادت هغوی چې هٔ ا کارنامه دکومو وجوهاتودکبله په کومه طریقه سرته رسولې وه. دهغې تفصیل حضرت زیدبن ثابت ﷛ داسې فرمائی. چې د جنګ یمامه نه پس حضرت ابوبکر﷛ یوځلې ماته پیغام راولیګه. چې زه ورغلم. نو هلته حضرت عمر﷛ هم موجود وو. حضرت ابوبکر﷛ ماته اوفرمائیل چې عمر﷛ ماته داخبره اوکړه. چې په جنګ یمامه کښې دقران کریم دحافظانو یوه لویه ډله شهیدان شول. اوکه چرې په مختلفو ځائینو باندې دقران کریم داسې حافظان شهیدان کیږی. نو ماسره ویره ده. چې چرته د قران کریم یوه لویه حصه ختمه نه شی. نو زما رائې دا ده. چې تاسو په خپل حکم سره د قران کریم راجمع کولو کارشروع کړئ. نو ما عمر﷛ ته اووئیل. چې کوم کارنبی کریم ﷺ نه دې کړې. هغه مونږ څنګه اوکړو؟ عمر﷛ جواب راکړو. په الله قسم چې داکار ډیر بهتر دې. دے نه پس به عمر﷛ ماته باربار هم دغه شان وئیل: تر دې چې زما زړه هم په دې باندې مطمئن شو. او اوس زما رائې هم هغه ده. کومه چې د عمر﷛ ده. ددې نه پس حضرت ابوبکر﷛ ماته اوفرمائیل چې ته ځوان او پوهه سړې یئ. زمونږ په تا باندې څه بدګمانی نشته. تا به د نبی کریم ﷺ په وړاندې وحی لیکله. نوته دقران کریم آیاتونه ښه اولټوه. اوجمع یې کړه.
د زید بن ثابت ﷛ د قرآن جمع کولو ته غاړه کیخودل: حضرت زیدبن ثابت ﷛ فرمائی. په الله قسم! که چرې دے حضراتو ماته د یَو غر راوړلوحکم کړې وې. نو ما باندې به ددې دومره بوج به نه وو. څومره چې د قران د را جمع کولوو. دې نه پس حضرت ابوبکر﷛ ماته باربار هم دا فرمائیل. [چې قرآن راجمع کړه. تر دې چې الله ﷻ زما سینه هغې رائې ته پرانسته کومه. چې د حضرت ابوبکر﷛ او حضرت عمر﷛ رائې وه. نوما قرآنی آیاتونه لټول شروع کړل. اودکهجورو د ښاخونو، دکانړود تختو، او د خلقو دسینونه مې قران کریم راجمع کړو. [۳۰]
دقرآن په تدوین کښې احتیاط کول: په دې موقع باندې د قران د جمع کولو په سلسله کښې دحضرت زیدبن ثابت ﷛ په طریقه باندې ځان پوهه کول پکاردی. څنګه چې مخکښې تیرشو. چې هغه په خپله حافظ قران وو. هغه په خپل یاد دې شت سره پوره قران کریم لیکلې شو. دې نه علاوه هم په سوونو حافظان په دغه وخت کښې موجود کښې وو. د هغوئ یئ یوجماعت جوړکړې وې. نوهم یئ قران کریم لیکلې شو. دغه شان د قرآن کریم چې کومې مکملې نسخې د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې لیکلې شوې نه وې. حضرت زید ﷛ دهغې نه هم قران کریم رانقل کولې شو. لیکن هغوی د احتیاط دپاره په هغې کښې

[۳۰] صحیح بخاری ﷫ مع فتح الباری. ص ۸ تا ۱۱ ج ۹

صرف په يوه طريقه باندې بسوالے اونکړلو. بلکه ددې تولو ذرايعو نه يئ په يووخت کاروا خستلو. اود هغې وخته پورې به يئ هيڅ آيت په خپلو صحيفو کښې نه ليکلو. ترڅو چې به ورته په طريقه د تواتر سره تحريري او زبانی شهادتونه ملاو نشو. [چې يقينی دا قرآن پاك دې دے نه علاوه نبی کريمﷺ چې دقران کريم کوم اياتونه په خپله نگرانۍ کښې ليکلی وو. هغه د مختلفو صحابوﷺ سره محفوظ وو. حضرت زيدﷺ هغه يوځائې کړل. چې نورے نسخه هم د هغې نه تياره کړې شی. نو دا اعلان يئ عام اوکړلو. چې د چا سره د قران کريم کوم آياتونه ليکلی شوی موجود وی. هغه دې حضرت زيدﷺ ته راوړی [۳۱] اوچې يو سړی به ورته د قران کريم يو آيت راوړلو. نو هغه به لاندينو څلورو طريقو سره ددې تصديق کولو.

① د تولونه مخکښې به يئ خپل ياد دې شت سره د هغې موازنه کوله.

② بيا حضرت عمرﷺ هم حافظ قران وو. اود رواياتونه ثابته ده. چې حضرت ابوبکرﷺ هغوی هم په دې کار کښې د حضرت زيدﷺ سره شامل کړې وو. چې کله به چا يو آيت راوړلو. نو حضرت زيدﷺ اوحضرت عمرﷺ دواړوبه په شريکه وصولولو. [۳۲] د حضرت زيدﷺ نه علاوه حضرت عمرﷺ به هم دخپلے حافظے نه د هغې توثيق کولو.

③ هيڅ ليکلې شوې آيت به ترهغه وخته پورې نشو قبلولے. ترڅو چې به دوو معتبرو گواهانو د دې خبرې گواهي ورنکړله. چې دا آيت د نبی کريمﷺ په مخکښې ليکلې شوې وو. علامه سيوطیؒ فرمائی. چې په ظاهره د اگواهی په دې خبره هم اخستې شوه. چې دا ليکلې شوې آيت د نبی کريمﷺ د وفات په کال نبی کريمﷺ ته پيش شوې وو. اونبی کريمﷺ ددې خبرې تصديق کړې وو. چې دا د هغوی د حروف سبعه مطابق دې په کومه چې قران کريم نازل شوې دې [۳۳] د علامه سيوطیؒ ددې خبرې تائيد په گڼرو رواياتوسره هم کړېدې.

④ دے نه پس به دهغې ليکلی شوی آياتونو هغې مجموعو سره مقابله کولې شوه. چې هغه مختلفو صحابوﷺ تيارےکړې وو. [۳۴] امام ابوشامهؒ فرمائی. ددې طريقه کار مقصددې وو. چې د قران کريم په کتابت کښې د زياتونه زيات احتياط اوکړې شی.

[۳۱] فتح الباری ص۱۱. ج۹. بحواله ابن ابی داود فی کتاب المصاحف]

[۳۲] ايضا بحواله مذکور

[۳۳] الاتقان. ص ۶۰ ج۱

[۳۴] وانما طلب القران متفرقا ليعارض بالمجتمع عندمن بقی ممن جمع القران ليشترک الجميع فی علم ماجمع [البرهان فی علوم القران. ص۲۳۸ج۱]

اوصرف په حافظه باندې د بسوالى په ځاى بعينه د هغې آياتونونه نقل كړې شى. چې د نبى كريمﷺ حضور كښې ليكلى شوى وو. [۳۵]

صرف حضرت ابوخزيمه رضي الله عنه سره د يو آيت موندلو مطلب د حضرت ابوبكر رضي الله عنه په زمانه كښې دجمع قران دا طريقه كارچې په ذهن كښې وى. نو دحضرت زيد رضي الله عنه ددې وينا په مطلب ښه پوهه راتلې شى. چې،، د سورة براءة آخرى آيت ﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ....الخ﴾ ماته صرف د ابوخزيمه سره ملاوشو،، د هغوى نه علاوه د بل چاسره ملاو نشو. ددې مطلب دا هرګز نه دې. چې دا آيت د حضرت ابوخزيمه رضي الله عنه نه سوا بل هيڅ چاته ياد هم نه وو. ياد بل چاسره ليكلې شوې نه وو. او د هغوى نه علاوه بل چاته دا معلومه نه وه. چې دا د قرآن حصه ده. بلكه مطلب دادې. چې كومو خلقو د نبى كريمﷺ ليكلى شوى د قران كريم مختلف آياتونه راوړل. په هغې كښې دا آيت د حضرت خزيمه رضي الله عنه نه بغير بل چا سره ملاو نشو. ګنى دكومې پورې چې ددې آيت د قران د جزئيت تعلق دې. نو دا خبره په تواتر سره ټولوته معلومه وه. اول خوچې كومو په سوونو حافظانو ته قران كريم ياد وو. هغوى ته دا آيت هم ياد وو. دويم چې دقرآنى آياتو كومې مكملې مجموعے مختلفو صحابوﷺ تيار كړې وې. په هغې كښې هم دا آياتونه ليكلى شوى وو. خوحضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه د ډيراحتياط دپاره په پورته ذكر شوى ذرائعو باندې د اكتفا كولو په ځاې متفرق طورد ليكلى شوى آياتونو راجمع كولو ذمه وارى هم اخستې وه. د ددې وجې دوى دا آيت د هغه وخته پورې په دې نوے مجموعه كښې اونه ليكلو. ترڅو چې ورته په دې دريمه طريقه هم هغه نه وو ملاو شوې. د نورو آياتونومعامله خودا وه. چې هغه به حافظانو صحابوﷺ ته ياد وو. اود عهد رسالت په مكملو مجموعو كښې به هم محفوظ وو دے نه علاوه د ځوځوصحابوﷺ سره ځانله ځانله ليكلې شوى هم وو. يو يو آيت به ځوځو صحابوﷺ راوړلو. ددې په عكس د سورة براءة آخرى آيت په سوونو صحابوﷺ ته ياد خو وو. او د كوموحضراتوسره چې دقرآنى اياتو مكملےمجموعے نه وې. هغوى سره ليكلې شوې هم وو. ليكن د نبى كريمﷺ په نګرانۍ كښې بيل ليكلې شوې صرف د حضرت ابوخزيمه رضي الله عنه سره ملاوشو. بل د هيڅ چاسره نه. [۳۶]

دحضرت زيد رضي الله عنه دلسخې خصوصيات حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه په پوره احتياط سره قرآنى آياتونه راجمع كړل. هغه يې د كاغذ په صحيفو باندې په مرتب شكل كښې تحرير كړل[۳۷]

---

[۳۵] الاتقان. ص ۶۰ ج ۱

[۳۶] البرهان فى علوم القران. ص ۲۳۴. ۲۳۵. ج ۱

[۳۷] عن سالم قال جمع ابوبكرالقران فى قراطيس] يو روايت داهم دې چې دانسخه هم دچمړے په ټكرو باندې ليكلې شوې وه خوحافظ ابن حجر رحمه الله ددې ترديد كړېدې [ايضا]

خو هرسوره په خانله صحيفو كښې اوليكلې شو. د ددې وجې دا نسخه په ډيروصحيفو باندې مشتمله وه. په اصطلاح كښې دے نسخې ته،، ام،، وئيلې شى. اوددې خصوصيات دارو

① په دې نسخه كښې قرآنى آياتونه د نبى كريمﷺ دخودلى شوى ترتيب مطابق وو. ليكن سورتونه مرتب نه وو. هرسورت خانله خانله ليكلې شوې وو. [۳۸]

② په دې نسخه كښې اووه واړه حروف جمع وو. [۳۹]

③ دا نسخه په خط حيرى كښې ليكلې شوې وه. [۴۰]

④ په دې كښې صرف هغه آياتونه درج وو. چې د هغې تلاوت منسوخ شوې نه وو.

⑤ ددې ليكلو مقصددې وو. چې يوه مرتبه نسخه د تول امت په اجماعى تصديق سره تياره شى. چې په ضرورت راتلو كښې دے طرف ته رجوع كولې شى.

دحضرت ابوبكرؓ دا ليكلې شوې صحيفې د هغوى په ژوند كښې هغوى سره نه وې. بيا حضرت عمرؓ سره نه وې. دحضرت عمرؓ دشهادت نه پس دهغوى د وصيت مطابق هغه ام المومنين حضرت حفصه ؓ ته منتقل كړې شوې. [۴۱]

بے مروان بن حكم په خپل عهد حكومت كښې د حضرت حفصه ؓ نه دا صحيفې اوغوښتلے. نو هغوى د وركولونه انكار اوكړو. تر دې پورې چې دحضرت حفصه ؓ وفات شوه. نو مروان هغه صحيفې رااوغوښتلے. اوهغه يئ په دې خيال اوسوزولې. چې اوس په دې خبره باندې اجماع منعقد شوې وه. چې د رسم الخط او سورتونو د ترتيب په لحاظ سره دحضرت عثمان ؓ تيار كړې شوى مصاحفو اتباع لازمى ده. اوچې داسې نسخه باقى پاتې نشى. چې ددې د رسم الخط او ترتيب نه خلاف وى. [۴۲]

دحضرت عثمان ؓ په زمانه كښې د قرآن پاك جمع دريمه مرحله

په ابتداء كښې دامت د اختلاد ويره نه وه چې كله حضرت عثمان ؓ خليفه جوړشو. نو اسلام د عربونه خور شوې وو. او د روم اوايران لرې لرې علاقوته رسيدلې وو. دهرې نوے علاقے خلق چې به مسلمانيدل. نوهغوى به داسلام د دغه مجاهدينويا هغه سوداګرو سره قران كريم زده كولو. دچا په وجه چې به ورته داسلام نعمت حاصل شوې وو. وراندې تاسو لوستى دى. چې قران كريم په اووه حروفو نازل شوې وو. اومختلفوصحابه كرامو ؓ

[۳۸] اتقان. ۶۰ ج ۱

[۳۹] مناهل العرفان. ص۲۴۶. ۲۴۷. ج ۱. وتاريخ القران للكروى. ص۲۸]

[۴۰] تاريخ القران ازعبدالصمد صارم. ص ۴۳. مطبوعه لاهور سن ۱۹۶۳ع

[۴۱] فتح البارى. ص۱۳. ۱۲. ج ۹ .

[۴۲] ايضا. ص ۱۶

هغه د نبی کریمﷺ نه د مختلفوقراءتونومطابق زده کړې وو. د ددې وجې هرصحابی ﷜ خپلو شاګردانو ته هم د هغې قراءت مطابق قران خودلو. دکوم مطابق چې به هغه د نبی کریمﷺ نه لوستلې وو. دغه شان دقراءتونو دا اختلاف لرې لرې ملکونو ته اورسیدهٔ. چې ترڅو چې خلق د دې حقیقت نه خبر وو. چې قران کریم په اووه حروفو نازل شوې وو. ترهغه وخته پورې ددې اختلاف په سبب څه خرابی نه پیدا شوې.

په قراءت کښې د جګړو پیدا کیدو ویره: خو چې کله دا اختلاف لرې لرې ملکونو ته اورسیدهٔ. اودا خبره په هغوی کښې پوره مشهوره نشوه. چې قران کریم په اووه حروفو نازل شوې دې نو په دغه وخت کښې په خلقو کښې جګړې پیدا شوې. بعضې خلقو به خپل قراءت ته صحیح اود بل قراءت ته غلط وئیل. په دې جهګړوسره یوطرف ته خوداخطره وه چې خلقه به د قران کریم متواتر قراءتونوته دغلط وئیلو سنګینه غلطئ کښې مبتلاشی. دویم داچې سوا دحضرت زید ﷜ لیکلې شوې یوې نسخې نه چې هغه په مدینه منوره کښې موجوده وه. په پوره عالم اسلام کښې څه داسې معیاری نسخه موجودهٔنه وه. چې هغه دپوره امت دپاره حجت جوړشی. ځکه چې نورې نسخې په انفرادی طورباندې لیکلې شوې نه وې. اوپه هغې کښې اووه واړه حروفه دجمع کولو څه اهتمام نه وو. ددې وجې نه ددې جګړو دهواری څه قابل اعتماد صورت نه وو. چې داسې نسخې په پوره عالم اسلام کښې خورې کړې شی. چې په هغې کښې اووه واړه حروفه جمع وی. او د هغې په کتلوسره دافیصله اوکړې شی. چې کوم یو قراءت صحیح اوکوم غلط دې؟

دحضرت حذیفه بن یمان ﷜ مشوره: حضرت عثمان ﷜ په خپل دورخلافت کښې دغه عظیم الشان کارنامه سرته رسولې وه.ددې کارنامې تفصیل دحدیثو د روایاتو نه دا معلومیږی. چې حضرت حذیفه بن یمان ﷜ آرمینیا او آذربائیجان په محاذ باندې په جهادکښې مشغول وو. هلته هغوی اوکتل. چې په خلقو کښې د قران کریم د قراءتونو په باره کښې جګړې کیدې. مدینې طیبې ته په واپس راتلوسره هغوی نیغ حضرت عثمان ﷜ ته اورسیدل. اوعرض یئ اوکړو،، امیرالمومنین ا مخکښې ددې نه چې دا امت د الله په کتاب کښې د یهود اونصاروٰ په شان اختلاف کښې پریوځی. تاسو ددې علاج اوکړئ. حضرت عثمان ﷜ تپوس اوکړو. خبره څه ده؟ حضرت حذیفه ﷜ په جواب کښې اووئیل. چې زه د آرمینیا په محاذ باندې په جهاد کښې شریک ووم. هلته کښې ما اوکتل چې د شام خلق دابی بن کعب ﷜ قراءت وائی. هغه اهل عراق نه دې اوریدلې. اواهل عراق د عبدالله بن مسعود ﷜ قراءت لولی. دا اهل شام نه دې اوریدلې. ددې په نتیجه کښې یوبل ته کافر وائی.

دحضرت عثمان ﷜ احساس: حضرت عثمان ﷜ په خپله هم ددې خطرې احساس مخکښې نه

محسوس کړې وو. هغوی ته دا اطلاع ملاو شوې وه. چې په خپله مدینه طیبه کښې داسې واقعات راپیښ شوی دی. چې دقران کریم یومعلم خپلو شاګردانو ته د یو قراءت مطابق قراءت اولوستو اوبل معلم دبل قراءت مطابق. دغه شان د مختلفو استاذانو شاګردان به چې کله خپلو کښې ملاویدل. نو په هغوی کښې به اختلاف پیدا کیدو. او خو خله دا اختلاف د استاذانو پورې رسیدلې وو. اوهغوی به هم د یوبل قراءت ته غلط ونیل چې حضرت حذیفه رضی الله عنه هم دے خطرے طرف ته توجه ورکړه. نوحضرت عثمان رضی الله عنه جلیل القدر صحابه رضی الله عنهم راجمع کړل. دوی نه یې مشوره واخستله. او وې فرمائیل چې ماته دا خبر ملاو شوې دې. چې بعضې خلق یو بل ته داسې قسم خبرې کوی چې زما قراءت ستا د قراءت نه بهتر دې. اودا خبره دکفر حد ته رسیدے شی. نوستاسو خلقو په دې باره کښې څه رائې ده؟ صحابو رضی الله عنهم دحضرت عثمان رضی الله عنه نه تپوس اوکړو. چې.. ستاسو څه رائې ده؟ د،، حضرت عثمان رضی الله عنه اوفرمائیل چې،، زما رائې داده. چې مونږ ټول خلق په یو مصحف باندې جمع کړو. چې هیڅ اختلاف او افتراق راپیښ نشی صحابو رضی الله عنهم دا رائې خوښه کړه. اوحضرت عثمان رضی الله عنه تائید یې اوکړلو.

دتدوین قرآن دپاره خطبه ونیل: حضرت عثمان رضی الله عنه خلق راجمع کړل. یوه خطبه یې اوونیله اوپه هغې کښې یې اوفرمایل،، تاسو خلق په مدینه طیبه کښې سره د دے چې ماته نزدے اوسیږئ. د قران کریم د قراءتونو په باره کښې د یو بل تکذیب اود یو بل نه اختلاف کوئ دې نه ظاهره ده. چې کوم خلق مانه لرې دی. هغوی خو به نور هم زیات تکذیب اواختلاف کوی. نو ټول خلق ملاو شئ. او یوه داسې نسخه تیاره کړئ. چې هغه د ټولو دپاره واجب الاقتداء وی. دې غرض دپاره حضرت عثمان رضی الله عنه حضرت حفصے رضی الله عنها ته پیغام اولیګلو. چې تاسوسره [د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د زمانې] کومې صحیفې موجود دی. هغه مونږ ته راولیګه. مونږ به هغه صحیفوته نقل کړو. تاسوته به یې واپس کړو حضرت حفصه رضی الله عنها هغه صحیفې حضرت عثمان رضی الله عنه ته راولیګلے

د دولسو صحابو رضی الله عنهم انتخاب: حضرت عثمان رضی الله عنه د څلورو صحابو رضی الله عنهم یو جماعت جوړ کړه چې په حضرت زید رضی الله عنه، حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه، حضرت سعید بن العاص رضی الله عنه او حضرت عبدالرحمن بن حارث بن هشام رضی الله عنه باندې مشتمل وو. دا جماعت په دې کار باندې مامور شو. چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د صحیفو نه نقل اوکړی. او یو څو داسې صحیفې تیارے کړی. چې په هغې کښې سورتونه هم مرتب وی. په دې څلورو صحابو رضی الله عنهم کښې صرف حضرت زید رضی الله عنه انصاری وو. اوباقی درې واړه حضرات قریشی وو. د ددې وجې حضرت عثمان رضی الله عنه هغوی ته اوفرمائیل،، چې کله ستاسو اود حضرت زید رضی الله عنه د قران په څه حصه کښې اختلاف راشی. [یعنی په دې کښې اختلاف راشی. چې

كوم يو حرف څنګه اوليكلې شي؟] نو دا د قريشو د ژبې مطابق اوليكئ. ځكه چې قران كريم هم د دوی په ژبه كښې نازل شوې دې بنيادی طور دا كار د ذكر شوی څلورو حضرا نو په زمه مقرر كړې شوې. خو بيا يې نورو صحابو ﷺ هم د دوی د مدد دپاره دوی سره شامل كړل.

د تدوين قرآن د زمه وارانو كارنامې: دے حضراتو د قران د كتابت په سلسله كښې دا لاندې كارونه اوكړل.

سورتونوته ترتيب وركول: دحضرت ابوبكر ﷺ په زمانه كښې چې كومه نسخه تياره شوې وه په هغې كښې سورتونه مرتب نه وو. بلكه هر سورت جدا جدا ليكلې شوې وو. دےحضراتو ټول سورتونه په ترتيب سره په يومصحف كښې اوليكل. [۴۳]

په يورسم الخط ليكل: دقران كريم آياتونه يئداسې اوليكل. چې ددې په رسم الخط كښې ټول متواتر قراءتونه راجمع شي. د ددې وجې په دې باندې نه نقطے اولګولې شوې. اونه حركات [زير، زور، پيښ] چې دا د ټولومتواتر قراءتونو مطابق لوستلې شي. مثلاً ﴿ننشزها اوليكلې شو﴾ چې دا ﴿ننشرها﴾ او ﴿ننشزها﴾ دواړه شان لوستلې شي. ځكه چې دا دواړه قراءتونه صحيح دي. [۴۴]

د اجتماعی تصديق اووه نسخې تيارول: ترهغه وخته پورې چې كومه مكمله معياری نسخه د پوره امت په اجتماعی تصديق سره مرتبه شوې وه صرف يوه وه. دےحضراتو ددې مرتب شوی مصحف د يو نه زيات نقلونه تياركړل. عام طور باندې مشهوره دا ده. چې حضرت عثمان ﷺ پنځه مصاحف تياركړی وو. خو د ابوحاتم سجستانی ﷺ ارشاد دې چې ټولې يئ اووه نسخې تيارې كړې وې. چې په دې كښې يوه يوه مكه مكرمه، شام، يمن، بحرين، بصرې، اوكوفې ته اوليګلې شوې. اويوه مدينے طيبے كښې محفوظ كړې شوه. [۴۵]

د قرآن په جمع كښې دصحابو ﷺ احتياط: د ذكرشوی كارونو دپاره دے حضراتو بنيادی طور خو هم دغه صحيفې مخې ته كيخودې نه وې. چې دحضرت ابوبكر ﷺ په زمانې كښې ليكلې شوې نه وې. خو دې سره سره د زيات احتياط دپاره هم هغه طريقه اختياركړلۀ. چې كومه يئ د حضرت ابوبكر ﷺ په زمانه كښې اختياركړې وه. چې د نبی كريم ﷺ په زمانه كښې كوم متفرق تحريرونه د مختلفوصحابو ﷺ سره محفوظ وو. هغه يئ دوباره را اوغوښتل. اود هغې سره يئ د سرنه مقابله اوكړله. دا نوے نسخې يئ تيارے كړې.

د حضرت خزيمه انصاری سره د آيت مولدل: دے څل دسورة احزاب يو آيت ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا

[۴۳] مستدرک حاکم ﷺ. ص۲۲۹. ج۲
[۴۴] مناهل العرفان. ص ۲۵۴. ۲۵۳. ج۱
[۴۵] صحيح بخاری فتح الباری. ص۱۷. ج۹

عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ ﴾ ليكلې شوې صرف دحضرت خزيمه بن ثابت انصارى رضي الله عنه سره ملاوشو وراندې مونږ ليكلي وو. چې ددې مطلب دا نه دې. چې دا آيت بل هيڅ چاته ياد نه وو خكه چې حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه فرمائى. [فقدت آية من الاحزاب حين نسخنا المصحف قد كنت أسمع رسول الله ﷺ يقراءبها، فالتمسناها فوجدناها مع خزيمة بن ثابت الأنصاري رضي الله عنه] د مصحف ليكلو په وخت ماته د سورة احزاب آيت ملاو نشو. كوم چې به ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلو. مونږ دا تلاش شروع كړه. نو هغه دخزيمه بن ثابت انصارى رضي الله عنه سره وو دېنه ښكاره ثابته شوه. چې دا آيت حضرت زيد رضي الله عنه اونورو صحابو رضي الله عنهم ته په څه شان ياد وو. [46] دغه شان ددې مطلب دا هم نه دې چې دا آيت سره په بل خائې كښې ليكلې شوې نه وو. خكه چې دحضرت ابوبكر رضي الله عنه په زمانه كښې كومې صحيفې اوليكلې شوې ظاهره ده. چې دا آيت په هغې كښې موجود وو. هم دغه شان چې د نورو صحابو رضي الله عنهم سره دقران كريم كومې خان له خان له ليكلې شوې نسخې موجود نه وې. په هغې كښې دا آيت هم شامل وو. خو چې دحضرت ابوبكر رضي الله عنه د زمانې په شان دا خل هم هغه تولې متفرق تحريرونه راجمع كړې شوى وو. چې د صحابه كرامو رضي الله عنهم سره ليكلى شوى وو. خكه به حضرت زيد رضي الله عنه وغيره هيڅ يو آيت په هغې مصاحفو كښې ترهغه وخته پورې نه ليكلو. چې ترڅو به په هغه تحريرونو كښې ملاو نشو. خود سورة احزاب دا آيت بغير د خزيمه بن ثابت رضي الله عنه نه بل هيڅ چاسره جدا ليكلې شوې ملاو نشو.

انفرادى نسخې سوزول: د قران كريم دا ګنړے نسخې د تيارولونه پس حضرت عثمان رضي الله عنه هغه تولې انفرادى نسخې اوسوزولې. چې د مختلفو صحابو رضي الله عنهم سره موجود نه وې. چې رسم الخط، منلې شوى قراءتونواو د سورتونو د ترتيب په اعتبارسره تول مصاحف يو شان شى. او په دې كښې هيڅ اختلاف باقى پاتې نشى.

دحضرت عثمان رضي الله عنه دے كارنامے ته پوره امت د استحسان په نظرسره اوكتل. او تولو صحابو رضي الله عنهم په دې كار كښې د دوى تائيد اوحمايت اوكړلو.

صرف عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته په دې معامله كښې لږ خفګان وو، چه دهغې د تفصيل دا موقع نه ده. [47]

حضرت على رضي الله عنه فرمائى. [لاتقولوا فى عثمان رضي الله عنه إلا خيراً فوالله مافعل الذي فعل فى المصاحف إلاعن ملامنا] [48].. د عثمان رضي الله عنه په باره كښې هيڅ يوه خبره د دوى د خير نه

---

[46] صحيح بخارى مع فتح البارى. ص۱۷. ج۹

[47] د زياتى تفصيل دپاره اوګورئ ``علوم القرآن،، د احقر مفصّل كتاب.

[48] فتح البارى. ص۱۵. ج۹. بحواله ابى داودٌ بسند صحيح

بغير مکوئ. څکه چې په الله قسم هغوی چې د مصاحفو په معامله کښې کوم کار اوکړلو. هغه يئ زمونږ د ټولو په موجودګئ کښې[اوپه مشوره سره] اوکړو.

د تلاوت د آسانتيا اقدامات

څلورمه مرحله: دحضرت عثمان رضي الله عنه ذکرشوی کارنامو نه پس دامت په دې باندې اجماع ده. چې قران کريم د رسم عثمانی په خلاف په بله طريقه ليکل جائز نه دی. څکه ددې نه پس ټول مصاحف هم د هغې مطابق اوليکلی شو. اوصحابورضي الله عنهم اوتابعينو رحمهم الله د مصاحف عثمانی نقلونه تيارکړل. او د قران کريم يئ په لويه پيمانه باندې اشاعت اوکړو. خو لاترهغه وخته پورې د قران کريم نسخې د نقطو اود زير زور پيښ نه خالی وے. د ددې وجې عجميانو [چې عرب نه وی] ته به د دې تلاوت ګران وو. نوکله چې اسلام په عجمی ملکونو کښې نورهم زيات خورشو. ددې خبرې ضرورت محسوس شو. چې په دې کښې د نقطو اوحرکاتو اضافه اوکړې شی. چې ټول خلق په آسانتيا سره ددې تلاوت کولې شی. ددې مقصد دپاره مختلف اقدامات اوکړې شو. چې مختصر تاريخ يئ دادې.

نقطې: په عربو کښې په اول کښې په حروفو باندې د نقطو لګولو رواج نه وو. بلکه د ليکونکويه خالی د حروفو په ليکلو اکتفاکو. له. اولوستونکی به ددې طرز دومره بلد وو. چې هغوی ته به د بې نقطو تحريرلوستلوکښې ګرانی نه وه. د سياق وسباق په مدد سره به په مشتبه حروفوکښې امتياز هم په آسانئ سره کيدې شو.

خاص طور سره د قرآن کريم په معامله کښې د څه شك شبهې امکان څکه نه وو چه ددې د حفاظت مدار په کتابت باندې نه وو بلکه په حافظه باندې ووٴ. او حضرت عثمان رضي الله عنه چه کومې نسخې د اسلامی ملکونو مختلفو حصو ته ليږلې وې دهغې سره ئې قاريان هم ليږلی وو، چه دوی ئې هغوی ته اوښائی.

په دې کښې روايات مختلف دی چې د قران کريم په نسخه باندې د ټولونه مخکښې چا نقطې لګولی دی؟ بعض روايات دا وائی. چې دا کارنامه د ټولونه مخکښې ابوالاسود دوولی رحمه الله کړې ده.[۴۹] دبعضې قول دادې چې هغوی دا کار دحضرت علی رضي الله عنه د تلقين لاندې کړې وو.[۵۰] او بعضو وئيلې دی،چې د کوفې ګورنرزياد بن ابی سفيان رحمه الله په هغوی باندې داکارکړې وو[۵۱] يوروايت داهم دی.چې داکارنامه حجاج بن يوسف دحسن بصری رحمه الله، يحی بن يعمر او د نصر بن عاصم ليثی رحمهم الله په ذريعه پوره کړه.[۵۲]

---

[۴۹] البرهان فی علوم القران. ص ۲۵۰. ج۱. والاتقان. ص۱۷۱. ج۲. نوع۷۶]

[۵۰] صبح الاعشی. ص۱۵۵ج۷۳

[۵۱] البرهان. ص۲۵۰. ۲۵۱. نوع ۱٤

[۵۲] تفسيرالقرطبی. ص ۶۳. ج ۱. وتاريخ القران للکردی رحمه الله. ص ۱۸۱

حرکات: د نقطو په شان په شروع کښې په قران کريم باندې حرکات [زير. زبر. پيښ] هم نه وو. او په دې کښې هم د رواياتو ډير اختلاف دې چې د ټولونه مخکښې چا حرکات لګولی دی. د بعضې حضراتو وينا ده. چې داکارد ټولونه مخکښې ابوالاسود دولی رحمه الله کړې وو. بعضې وائی چې دا کار حجاج بن يوسف په يحی بن يعمر رحمه الله اونصر بن عاصم ليثی رحمه الله باندې کړيدې. [۵۳] په دې باره کښې چې ټولو روايات باندې چې نظر واچولې شی نو داسې معلوميږی چې حرکات د ټولونه مخکښې ابوالاسود دولی رحمه الله وضع کړې دی. ليکن دا حرکات داسې نه وو. لکه څنګه چې نن صبا مشهوردی. بلکه د زوَر دپاره په حرف باندې يوه نقطه [-ـَ-] د زير دپاره دحرف لاندې يوه نقطه[-ـِ-] د پيښ دپاره دحرف مخې ته يوه نقطه[-ـ.] اود تنوين دپاره دوه نقطې[-ـً-]يا[-ـٍ-] يا [-ـٌ-] مقرر کړې شوې نه وې. [۵۴] روستو خليل بن احمد رحمه الله د همزې او تشديد علامتونه مقرر کړل. [۵۵] دے نه پس حجاج بن يوسف په يحی بن يعمر، نصر بن عاصم او حسن بصری رحمهم الله باندې په يو وخت کښې په قران کريم باندې د نقطو اوحرکاتو دواړه لګولو حکم اوکړلو. په دې موقع باندې دحرکاتو د اظهار دپاره د نقطو په ځائې د زير زبر پيښ موجوده صورتونه مقرر کړې شو. چې د حروفو ذاتی صورتونو سره ددې التباس راپيښ نه شی. والله سبحانه ﷻ اعلم.

احزاب يا منزلونه: د صحابوﷺ اوتابعينو رحمهم الله معمول وو. چې هغوی به په هره هفته کښې يو قران کريم ختمولو. ددې مقصددپاره هغوی روزانه د تلاوت يومقدار مقررکړې وو. چې ورته ''حزب'' يا،، منزل،، وئيلې شی. دغه شان قران کريم ټول په اووه احزابو باندې تقسيم کړې شوې.

اجزاء يا پارې: نن صبا قران کريم په ديرشو اجزاء باندې تقسيم دې. چې ورته ديرش پارې وئيلې شی. دپارو دا تقسيم د معنٰی په اعتبارسره نه دې بلکه ماشومانوته د لوستلو دپاره د آسانتيا په خيال سره په ديرشو برابروحصو باندې تقسيم شوې دې ځکه چې بعضې وخت بالکل په نيم ګړے خبره باندې پاره ختميږی. په يقين سره دا وئيل ګران دی. چې دا د ديرشو پارو تقسيم چاکړيدې؟ د بعضې حضراتودا خيال دې. چې حضرت عثمان رضی الله عنه مصحفونه رانقل کولوپه وخت دا په ديرشو مختلفو صحيفو کښې ليکلې وو. نو دا تقسيم هم د هغوی د زمانې دې [۵۶] خو د متقدمينو په کتابونوکښې ددې څه

[۵۳] تفسير القرطبی. ص ۶۳ ج ۱

[۵۴] صبح الاعشی. ص ۱۶۰. ج ۳. وتاريخ القران للکردی. ص ۱۸۰

[۵۵] الاتقان. ص ۱۷۱. ج ۲. صبح الاعشی. ص ۱۶۱. ج ۳

[۵۶] تاريخ القران ازمولاناعبدالصمدصارم. ص ۸۱

دلیل احقرته ملاو نشو. البته علامه بدرالدین زرکشی ﷫ لیکلي دي. چې دقران کریم دیرش پارے مشهورے راروانےدي. اود مدارسو په قرآني نسخوکښې ددې رواج دې. [۵۷] په ظاهره داسې معلومیږي چې دا تقسیم د صحابو﷢ د زمانې نه پس د تعلیم دسهولت دپاره شوي دي والله اعلم.

اخماس او اعشار: دقرون أولی په قرآني نسخوکښې د یوبل علامت رواج وو. او هغه دا چې د هر پنځو آیاتونو نه پس به یې[په حاشیه باندې] لفظ د ،، خمس،، اود هر لسو آیاتونو نه پس لفظ د ،،عشر،، یا ،، ع،، لیکلو. اولنی قسم علامتونو ته،، اخماس،، او دویم قسم علامتونو ته،، اعشار،، وئیلی شو. [۵۸] په متقدمینو عالمانوکښې دا اختلاف هم وو. چې بعضې حضراتو به دا علامتونه جائز اوبعضې مکروه ګنړل. [۵۹] په یقیني طور دا وئیل هم ګران دي. چې دا علامتونه د ټولونه مخکښې چا لګولي دي؟یوقول دادې چې ددې موجد حجاج بن یوسف وو.او دویم قول دادې. چې د ټولو نه مخکښې عباسی خلیفه مامون د دې حکم ورکړې وو. [۶۰] خو دا دواړه اقوال څکه ټیك نه معلومیږي. چې په خپله د صحابو﷢ په زمانه کښې د ،،اعشار،،تصور ملاویږي. مسروق ﷫ فرماني چې حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ به په مصحف کښې د ،،اعشار،،نشان لګول مکروه ګنړلو.

رکوع: یوبل علامت چې رواج ئے روستو شوې وو. اوترنن ورځې پورې جاري دې. د رکوع علامت دے او ددې تعین د معنی په لحاظ سره شوې دې یعنی کوم ځائې چې دکلام سلسله ختمه شوه. هلته کښې د رکوع علامت[په حاشیه باندې،، ع،،] جوړکړې شو. د احقر د لټون باوجود په مستنده طریقه دا معلومه نشوه. چې د رکوع شروع چا اوپه کومه زمانه کښې کړې وه؟ د بعضې حضراتوخیال دې. چې ددې رکوعاګانو تعین هم د حضرت عثمان ﷛ د زمانېنه شوې وو. [۶۱] د روایاتونه ددې دعوی دلیل احقرته ملاو نشو. خو دا خبره تقریباً یقیني ده. چې ددې علاماتو مقصد د آیاتونو د داسې درمیانه مقدار تعین دې. چې په یورکعت کښې اولوستلې شي. او دې ته رکوع څکه وائي. چې په مانځه کښې دے ځائې ته په رسیدلو رکوع اوکړې شي. مشائخو قران کریم په پنځه سوه اوڅلویښت رکوع ګانو تقسیم کړېدې. [۶۲] اوپه مصاحفو کښې یې ددې علامتونه

[۵۷] البرهان. ص ۲۵۰. ج۱ومزید اوګورئ. مناهل العرفان. ص۴۰۲. ج۱
[۵۸] مناهل العرفان. ص ۴۰۳. ج۱
[۵۹] الاتقان. ص۱۷۱. ج۲. نوع۷۵
[۶۰] البرهان. ص۲۵۱. ج۱
[۶۱] تاریخ القران ازمولانا عبدالصمد صارم. ص۸۱
[۶۲] په فتاوي عالمګیریه کښې د مشائخ بخارا په حوالې سره د رکوع ګانو شمار ۵۴۰ .....

جوړکړی دی. چې په [تراویحو کښې] دقران کریم ختم په اوویشتمه شپه اوکړیٔ شي.

رموزاوقاف د تلاوت اوتجويد دسهولت دپاره يوبل مفيد كار دا شوې دې چې په مختلفو قرآني جملو باندې داسې اشارې ته ليكلى شوى دى. چې د هغې نه دا معلوميږي. چې دلته كښې وقف كول [ساه اخستل]څنګه دی؟ دے اشارې تو ته،، رموزاوقاف،، وائي. او ددې مقصددې دې. چې يوغيرعربي دان انسان هم چې كله تلاوت كوي. چې په صحيح مقام باندې وقف كولې شي. او په غلط ځائې باندې ساه اخستلو سره په معنى كښې څه تبديلي رانشي. په دې كښې زيات رموز د ټولونه مخكښې علامه ابوعبدالله محمد بن طيفور سجاوندي رحمه الله مقرر كړی دی. [۶۳] د هغې رموزو تفصيل داد ے:

[ط] دا د،، وقف مطلق،، مخفف دې. اود دې مطلب دادې. چې دلته كښې خبره پوره شوې ده.

ددې وجې دلته كښې وقف كول بهتر دی.

[ج] داد ''وقف جائز'' مخفف دې. اوددې مطلب دادې چې دلته كښې وقف كول جائزدی.

[ز] دا د،، وقف مجوز،، مخفف دې. د دې مطلب دادې. چې وقف كول خو ټيك دی. خو غوره دا ده. چې وقف اونه كړی شي.

[ص] داد،، وقف مرخص،، مخفف دې. ددې مطلب دادې. چې دلته خبره پورشوې نه ده. خو جمله اوږده شوې ده. ددې وجې ساه اخستلو دپاره د نورومقاماتوپه ځائې دلته وقف كول پكاردی. [۶۴]

[م] داد،، وقف لازم،،'مخفف دې. د دې مطلب دادې. كه دلته كښې وقف اونه كړی شي. نو د آيت په معنى كښې د فحش غلطۍ امكان دې. نو دلته وقف كول زيات بهتر دی. بعضې حضرات دے ته،، وقف واجب،، هم وائي. خو ددې نه مراد فقهي واجب نه دې. چې په پريخودو كښې به يې ګناه وی. بلكه مقصد صرف دادې. چې په ټولو وقفونو كښې په دې ځائې كښې وقف كول د يرزيات بهتر دې. [۶۵]

......خودلې شوې دې خو چې مونږ په خپله دقران كريم په مروجه نسخوكښې شميراوكړو. نو د ركوع ګانو شمار ۵۵۸ اوختلو. او بعضې حضراتو مونږته په خط كښې اوليكل. چې د هغوی د شميرمطابق دركوع ګانو ټول تعداد ۵۶۷دې. كيدی شي چې دركوع په علامت لګولو كښې په مختلفو نسخوكښې څه اختلاف راغلې وی. والله اعلم از ناشر۱۶. ۱۲. ۹۳ه

[۶۳] النشرفى القراآت العشرلابن الجوزى رحمه الله. ص ۲۲۵. ج۱

[۶۴] د دې ځلوروزموزودپاره اوګوریٔ المنح الفكريه شرح المقدمه الجزريه للملا على قارى. ص ۶۳ مطبوعه ابناء غلام رسول

[۶۵] النشر. ص ۲۳۱. ج۱

[لا] داد،، لا تقف،، مخفف دې. د دې مطلب دا دې چې،، دلته مه اودريږه،، خو ددې منشاء دا نه ده. چې دلته کښې وقف کول ناجائزدي. بلکه په دې کښې ډيرمقامات داسې دی. چې هلته په وقف کولوکښې څه باك نشته دې. اوددې نه روستنۍ لفظ نه شروع کول هم جائزدې. نو د دې صحيح مطلب دادې. که دلته کښې وقف اوکړې شي. نوبهتره دا ده چې دا دوباره واپس اووئيلې شي. د راروان لفظ نه شروع کول ښه خبره نه ده. [66] ددې رموزاتو په باره کښې په يقين سره دا ثابته ده. چې دا د علامه سجاوندی رحمه الله وضع شوی دی. ددې نه علاوه هم بعضې نور رموزات هم په قران کريم کښې موجود دی. مثلاً

[مع] دا د،، معانقه،، مخفف دې. دا علامت هغه ځائې کښې ليکلې شی. کوم ځائې کښې چې په يوايت کښې دوه تفسيرونه ممکن وی. د يو تفسيرمطابق به وقف يوځائې کښې کولې شی. اود بل تفسيرمطابق به په بل ځائې کښې. نو په دې کښې په يو ځائې کښې وقف کولې شی. خو يوځائې د وقف کولونه پس دويم ځائې کښې وقف کول درست نه دی. مثلاً﴿ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْئَهٗ﴾ په دې کښې که په،، التورة،، باندې وقف اوکړی. نو په،، الانجيل،، باندې وقف کول درست نه دی. اوکه چرې په،، الانجيل،، باندې وقف کول وی نوبيه،، التورة،، باندې درست نه دې. اوکه په دواړو ځايونوکښې وقف نه کوی. نو ټيك ده. ددې يو نوم،، مقابله،، هم دې. او ددې د ټولونه رومبی خودنه امام ابوالفضل رازی رحمه الله کړې ده. [67]

[سکته] دا د،، سکته،، علامت دې. ددې مقصد ددې دې. چې دے ځائې کښې اودريدل پکار دی. خوساه بنده نشی. دا عموماً هغه ځائې کښې راوځی. کوم ځائې کښې چې په ملاويدلوسره په معنی کښې د غلطئ ويره وی.

[وقفه] په دې ځائې کښې د،، سکتې،، نه څه قدرې زيات اودريدل پکاردی. خوچې ساه دلته کښې هم بنده نه شی.

[ق] دا د،، قيل عليه الوقف،، مخفف دې. مطلب دادې. چې د بعضې حضراتو په نزد دلته کښې وقف دے. او د بعضو په نزد نشته.

[قف] دا لفظ،، قف،، مخفف دې. ددې معنی ده اودريږه. او دا هغه ځائې کښې راځی. کوم ځائې کښې چې لوستونکی ته داخيال راتلې شی چې دلته کښې وقف کول ټيك نه دې.

[صلے] داد،، الوصل اولی،، مخفف دې. د دې معنی ده چې په،، ملاوهلوسره وئيل بهتر دی،،

---

[66] النشر ۲۳۳

[67] النشر. ص ۲۳۷. ج ۱. او. الاتقان. ص ۸۸ ج ۱

[صل] داد،، قد یوصل،، مخفف دې یعنی دلته کښې بعضې خلق اودریږی. او بعضې په ملاویدلو سره وئیل خوښوی. دا رموزات زیات مشهوردی. خو احقرته دا معلومه نشوه. چې ددې واضع او موجدڅوک دې؟

دقران کریم طباعت

پنځمه مرحله: ترڅو چې پریس [چې‌اپه خانه] ایجاد شوې نه وو. د قران کریم ټولې نسخې په قلم لیکلې شوې. اوپه هردورکښې د داسې کاتبانو یولوئې شمیر موجود پاتې شوې دې چې دکتابتِ قران نه بغیر یې هیڅ مشغله نه وه. د قران کریم حروف د بهترنه بهتر اندازکښې لیکلوډپاره چې مسلمانانوکوم محنتونه کړی دی. اوځنګه چې یې دے عظیم کتاب سره دخپلے کلکے مینے اظهار کړیدې. ددې یولوئې مفصل اوزږه راښکونکې تاریخ دې. چې تصنیف ورله پکاردې. دلته کښې ددې د تفصیل موقع نه ده. بیاچې کله پریس ایجاد شو. نو د ټولونه مخکښې د هیمبرګ په مقام باندې په کال [۱۱۱۳ھ] کښې قران کریم چاپ شو. چې د هغې یوه نسخه تر اوسه پورې په دې رالکتب المصریه کښې موجود ده. دې نه پس ګڼرو مستشرقینو دقران کریم نسخې چاپ کړې. خو په اسلامی دنیاکښې دے ته قبولیت حاصل نشو. دې نه پس په مسلمانانوکښې د ټولونه مخکښې مولائے عثمان دروس ښارپه سینټ پیټرس برګ کښې په کال [۱۷۸۷عیسوی] کښې دقرانِ کریم یوه نسخه چاپ کړله. دغه شان په قازان کښې هم یوه نسخه چاپ شوه. په کال [۱۸۲۸عیسوی] کښې د ایران په تهران نومے ښارکښې قران کریم په کاڼړی باندې چې‌اپ کړې شو. بیا ددې چاپ شوې نسخې په ټوله دنیاکښې عامې شوې. [۶۸]

علم تفسیر: اوس څه ضروری معلومات دعلم تفسیرپه باره کښې پیش خدمت دی، په عربۍ ژبه کښې د،، تفسیر،، لفظی معنی ،، دکهولاؤیدو،، [سپړدو] ده اوپه اصطلاح کښې علم تفسیر هغه علم ته وائی په کوم کښې چې دقرآن کریم معانی بیانیږی، اوددې احکام اوحکمتونه واضحه کیږی [البرهان] په قرآن کریم کښې نبی علیه السلام ته خطاب کولوسره ارشاد دې ـ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ [۱۲ ۱۶ ۴۴]

اومونږ قرآن په تاباندې نازل کړوددې دپاره چې ته خلقوته هغه خبرې واضاحت سره بیان کړې کومې چې دهغوی طرف ته رالیګلې شوی دی،،

نیز دقرآن کریم ارشاد دې ـ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ [۳: ۱۶٤]

---

[۶۸] دطباعت دتاریخ د پاره اوګورئ تاریخ القران للکردی رحمه الله. ص ۱۸۶. او. علوم القران ډاکټرصبحی صالح اردوترجمه ازغلام احمد حریری. ص۱٤۲]

..بیشکه الله تعالی په مسلمانانو باندې لوئې احسان فرمائیلې دې چې دهغوی په مینځ کښې هم دهغوی نه یو رسول رواستولو، کوم چې دهغوی په وړاندې دالله تعالی آیاتونه تلاوت کړی، اوهغوی پاک صاف کړی، اوهغوی د الله دکتاب اودحکمت دخبرو تعلیم ورکړی...''

نونبي علیه السلام په صحابه کراموته ته صرف دقرآن کریم الفاظ نه ښودل، بلکه ددې پوره تفسیریه ئې بیانولو، هم داوجه ده چې صحابه کراموته به په یو یوسورت لوستلو کښې سوسو کاله لګیدل، دکوم تفصیل به چې انشاء الله وړاندې راشي۔

ترکومې پورې چې نبی کریم ﷺ په دنیاکښې تشریف فرماوو هغه وخت پورې دکوم آیت تفسیر معلوم مول څه ګنران نه وو، صحابه کراموته به چې په کوم ځائې کښې څه ګنرانی پیښیدله نوهغوی ته به ئې رجوع کوله اوهغوی نوبه ورته تسلی بخش جواب ملاؤشو، لیکن دهغوی [ﷺ] نه پس ددې خبرې ضرورت وو چې تفسیرلره دیومستقل علم په صورت کښې محفوظ کړې شي چې دامت دپاره دقرآن کریم الفاظوسره سره ددې صحیح معنې هم محفوظه شي، او دملحد اوګمراه خلقودپاره په دې کښې دمعنوی تحریف څه ګنجائش باقی پاتې نشي، نودالله تعالی په فضل اوکرم اودهغه په توفیق سره دې امت دا کارنامه داسې ښائسته اوخوبې سره انجام کړه چې نن مونږداخبره بغیر دځه تردد وائیلې شوچې دالله تعالی ددې آخری کتاب صرف الفاظ محفوظ نه دی بلکه ددې هغه صحیح تفسیراوتشریح هم محفوظه ده کومه چې حضوراکرم ﷺ اودهغوی دجانثار صحابه کرامو په ذریعه مونږ ته رارسیدلې ده۔

دقرآن دتفسیر ماخذ: علم تفسیرلره دې امت څنګه څنګه محفوظ کړې دې؟ په دې لار کښې دوی څنګه څنګه مشقتونه اوچت کړی دی؟ اودا جدوجهد دڅومره مراحلونه تیرشوې دې؟ ددې یو اوږد اوخوندور تاریخ دې دکوم چې داموقع نه ده، [۲۹] لیکن دلته دا مختصرا ښودل دی چې دتفسیرقرآن ماخذ څه څه دی؟ اوپه علم تفسیرباندې کوم بیشماره کتابونه په هرژبه کښې ملاویږی هغوی دقرآن کریم په تشریح دکوموکومو سرچیشمونه استفاده کړې ده، دا سرچیشمې ټولې شپږ [۲] دی

① **اولنې ماخذ په خپله قران کریم د بل آیت په رنړا کښې تفسیر:** د قرآن د تفسیر اولنې ماخذ پخپله قرآن کریم دې یعنې ددې آیاتونه بعضې وخت د یو بل تفسیر کوی. یو ځائې یوه خبره په مبهم انداز کښې بیان شوې وی. او په بل ځائې کښې هغه ابهام لرې کړې شوې وی. مثلاً په سورت فاتحه کښې ارشاد دې چې ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ﴾

[۲۹] ددې دپاره په علوم القرآن باندې داحقر مفصل کتاب ملاحظ کړئ۔

فاتحه) مونږ ته نيغه لار اوښايه. دهغه خلقو لاره چې تا پرې نعمت کړېدې.،، دلته کښې خبره واضحه کړې شوې نه ده. چې په کومو خلقو انعام شوې دې د هغوی نه کوم خلق مراد دی. خو په بل ځائې کښې ارشاد دې ﴿فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ: نساء﴾ داهغه خلق دی. چې په چاالله ﷻ انعام کړېدې. يعنې پيغمبران صديقان شهيدان او نيکان خلق.

نو مفسيرين کرام چې کله دکوم آيت تفسيرکوی نودټولونه ړومبې داګوری چې ددې آيت تفسير په قرآن مجيد بل ځائې کښې موجود دې که نه؟ که چرې موجود وی نودټولونه ړومبې هغه اختيار فرمائی۔

② **حديث** : ,,حديث،، دنبی کريم ﷺ اقوالواو افعالوته وائيلی کيږی، اوځنګه چې مخکښې بيان کړې شوی دی چې الله تعالی دقرآن کريم سره نبی عليه السلام لره ددې دپاره مبعوث اوفرمائيلو چې هغوی ﷺ دخلقوپه مخکښې دقرآن کريم صحيح تشريح ښه په واضحه واضحه بيان کړی، نوهغوی ﷺ په خپل قول اوعمل دواړوسره دا فريضه په ښه طريقه سره سرته اورسوله، اوپه حقيقت کښې دهغوی ټول ژوندمبارک هم دقرآن عملی تفسيردې، ځکه مفسرين کرام ﷺ دقرآن مجيد دپوهيدلودپاره په دويم نمبرباندې دټولونه زيات زورپه حديث باندې ورکړې دې، اوداحاديثوپه رڼړه کښې دکتاب الله معنی ئې متعين کړی دی، البته چونکه په حديث کښې صحيح، ضعيف اوموضوع هرشان روايات موجود دی، ځکه محققه مفسرين ترهغه وخته پورې دچا روايت لره قابل اعتماد نه ګڼړی ترکومې پورې چې هغه دتنقيدروايات په اوصولوباندې نووی برابر، نولهذا چې کوم روايت چرته په نظرباندې راشی دهغې کتلوسره دقرآن کريم کوم تفسيرمتعين کول درست نه دی، ځکه چې هغه روايت ضعيف اودنورو مظبوطورواياتو خلاف هم کيدې شی اوپه حقيقت کښې دا معامله ډيره نازکه ده، اوپه دې کښې قدم ايخودل هم دهغه خلقوکار دې کوموچې خپل ټول عمرونه ددې علومو په حاصلولو کښې تيرکړې دې۔

③ **دصحابه کراموﷺ اقوال** : صحابه کراموﷺ د قرآن کريم تعليم براه راست دنبی عليه السلام نه حاصل کړې وو، ددې نه علاوه دنزول وحی په وخت پخپله موجود وو، هغوی دنزول وحی دپوره احوالوپس منظربذات خدمشاهده کړې وه، نوځکه په فطری توګه باندې دقرآن کريم په تفسيرکښې چې څومره ددې خلقواقوال مستنداوقابل اعتماد کيدې شی، روستو خلقو ته هغه مقام نشی حاصليدې، نولهذا دکومو آيتونو تفسيرچې د قرآن ياحديث نه نه معلوميږی په هغه ټولوکښې نوپه دغه کښې دټولونه زيات اهميت دصحابه کراموﷺ اقوالوته حاصل دې، نودکوم آيت په تفسيرباندې چې دصحابه کرام

اتفاق وی نومفسرین کرام هم هغه اختیاره وی اوددغه خلاف بل یوتفسیرکول جائزنهی، آو! که چرې دکوم آیت په تفسیرکښې دصحابه کرامو رضي الله عنهم اقوال مختلف وی نوبیا روستومفسرین دنورو دلائلو په رنړه کښې دا گوری چې کوم تفسیرته ترجیح ورکړې شی؟ په دې معامله کښې اهم اصول اوقواعد اصول فقه، اصول حدیث اواصول تفسیر مدون دی، دهغې دتفصیل دا موقع نه ده،

④ **دتابعینواقوال:** دصحابه کرامو رضي الله عنهم نه پس دتابعینونمبرراځی، داهغه حضرات دی کومو چې دقرآن تفسیردصحابه کرامو رضي الله عنهم نه زده کړې دې، نوځکه دهغوی اقوال هم په علم تفسیرکښې دلوئ اهیمت جوگه ده، اگرچه په دې معامله کښې دعلماؤ اختلاف دې چې دتابعینواقوال په تفسیرکښې حجت دی که نه؟ [الاتقان ۲ \ ۱۷۹] خوددې د اهمیت نه انکار نشی کیدې ۔

⑤ **لغت عرب:** قرآن کریم چونکه په عربې ژبه کښې نازل شوې دې، ځکه دتفسیرقرآن دپاره په دې ژبه باندې پوره عبور حاصلول ضروری دی، دقرآن کریم ډیرآیتونه داسې دی چې دهغې په پس منظرکښې چونکه څه شان نزول یاڅه فقهی یاکلامی مسئله نه وی، نوځکه په هغې کښې دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم اویا دصحابه کرامواویا دتابیعنواقوال منقول نه وی، نودهغې دتفسیرذریعه صرف لغت عرب وی اوهم دلغت په بنیادباندې دهغې تشریح کیدې شی، ددې نه علاوه که چرې دکوم آیت په تفسیرکښې څه اختلاف وی نوپه مختلف آراء کښې دمحاکمه دپاره هم دعلم لغت نه کار اغستلې کیږی ۔

⑥ **تدبراو استنباط:** دتفسیرآخری ماخذ ,, تدبر اواستنباط ،، دې دقرآن کریم نکات او اسرار یو داسې بحربې کناردې دکوم چې هرو څه حداونهایت نشته دې، نوچې کښې سړی ته الله تعالی په اسلامی علوموکښې بصیرت عطاءکړې وی هغه چې څومره څومره په دې کښې غوراوفکرکوی هغه هومره په کښې نوی نوی اسراراونکات مخې ته راځی، دغه شان مفسرین کرام دخپل خپل تدبرنتائج هم په خپلوتفسیرونوکښې بیانه وی، لیکن دا اسراراو نکات هم په هغه وخت کښې قابل قبول وی کله چې دهغه مذکوره پینځو مآخذوسره متصادم نه وی، لهذا که چرې یو سړې دقرآن په تفسیرکښې یوداسې نکته یا اجتهاد بیان کړی کومه چې دقرآن اوسنت، اجماع، لغت، یا دصحابه کرامو رضي الله عنهم یا دتابعینو رحمهم الله داقوالوخلاف وی یا دبل کوم شرعی اصولوسره ټکراؤ وی نوداسې تفسیریا نکته څه اعتبارنشته دې، بعضې صوفیاء کرامو رحمهم الله په تفسیرکښې داسې قسمه اسرار اونکات بیانول شروع کړی وو، لیکن دامت محقق علماؤهغه قابل اعتبار اونه گنړل، ځکه چې هغه دسنتواودشریعت دبنیادی اصولو خلاف یو شخصی راې ظاهره ده چې څه حیثیت نه لری [اتقان ۲ \ ۱۴۸]

① اسرائیلی روایات اسرائیلیات یا اسرائیلی روایات هغه روایاتو ته وائی. کوم چې د یهودیانو یا عیسایانو نه مونږ ته رارسیدلی دی
په اوله زمانه کښې دمفسرینو عادت ووچې هغوی به دکوم آیت په زمن کښې هرقسمه هغه روایات لیکل کوم چې به هغوی ته په سندسره رسیدلې وو، په دې کښې به ډیرروایات د اسرائیلیاتو څخه هم وو، ځکه دهغې دحقیقت څخه خبریدل هم ضروری دی، دهغې حقیقت دادې چې بعضې صحابه کرامو اوتابیعنو اول داهل کتابومذهب سره تعلق لرولو، بیاچې کله هغوی روستوپه اسلام باندې منورشواودقرآن کریم تعلیم ئې حاصل کړونوهغوی ته قرآن کریم دتیرشوامتونوډیرهغه واقعات په نظر راغلل کوم چې هغوی د خپلوسابقه مذهبونو کتابونو کښې لیدلی وو، هم داتفصیلات داسرائیلیاتو په نوم باندې دتفسیر په کتابونو کښې داخل شوی دی،
مشهور محقق صاحب د تفسیر حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی. چې داسې رویات په درې قسمه دی:
① اولنې هغه قسم اسرائیلیات دی. چې د هغې تصدیق د نورو خارجی دلائلو سره شوی وی. مثلاً د فرعون غرقیدل، دحضرت موسی علیه السلام کوه طور ته تلل وغیره
② دویم قسم هغه اسرائیلیات دی. چې د هغې دروغ د خارجی دلائلو نه ثابت وی. مثلاً دا قصه چې حضرت سلیمان علیه السلام په آخر عمر کښې [معاذالله] په بت پرستئ کښې اخته شوی وو.[۷۰] دا روایت ددې وجه بالکل باطل دې. چې قرآن کریم ښکاره ددې تردید کړېدې دغه شان د حضرت داوّد علیه السلام په باره کښې دا د ځان نه جوړه شوې قصه چې [معاذالله] دوی دخپل جرنیل اوریا ښځې سره زنا کړې وه، یاهغه ئې په مختلفو تدبیرونو سره مړ کړواودهغه ښځه سره ئې نکاح اوکړه، داهم ښکاره دروغ دی، اوداسې قسمه روایتونه غلط ګڼړل لازم دی _ [۷۱]
③ دریم قسم هغه اسرائیلیات دی. چې د هغې په باره کښې د خارجی دلائلو نه نهٔ دا ثابته وی. چې دا رښتینی. او نه دا ثابته وی. چې دا دروغ دی. مثلاً د تورات احکام وغیرهٔ د داسې اسرائیلیاتو په باره کښې نبی کریم ارشاددې دې. چې [لا تصدقوها ولا تکذبوها] مه دهغې تصدیق کوئ. او نه تکذیب داسې قسم روایات بیانول خو جائز دی. خو نه په دې باندې څه دینی مسئله ثابتیږی. او نه د هغې تصدیق یا تکذیب کولې شی او د داسې قسم روایاتو بیانولو څه خاص فائده هم نشته.
ځکه چې شرعی اعتبار سره هغه حجت نه دی [مقدمه تفسیرابن کثیر]

---

[۷۰] بائبل کتاب سلاطین اول ۱۳، ۱۲، ۱۱]
[۷۱] تفسیر ابن کثیر مقدمه ۲/۱او اصول التفسیر لابن تیمیه ۲، ۳۳]

د قرآن د تفسير باره کښې يوه سخته غلط فهمي

دکلام خلاصه: ددې تشريح نه دا خبره ښکاره شوه. چې د قرآن د تفسير دپاره په عربۍ ژبه باندې معمولي واقفيت کافي نه دې بلکه ددې دپاره علم اصول تفسير، علم حديث، اصول حديث، اصول فقه، علم فقه، علم نحو علم صرف علم لغت، علم ادب، او علم بلاغت کښې ماهرانه بصيرت او ددې سره طهارت او تقوى ضروري دى. ددې ضروري شرائطو نه بغير د تفسير په ميدان کښې قدم کيخودل خپل ځان د ګمراهۍ په لاره د روانولو برابر دى.

زمونږ په زمانه کښې دے سبب ډير لوئې قيامت راوستې دې. داغلط فهمي عامه روانه ده. چې صرف د عربۍ ژبې وئيلو نه پس انسان د قرآن کريم عالم جوړيږي. او ددې نه پس چې هغه څنګه غواړي. د قرآن کريم تفسير کولې شي.

بلکه په بعضې وختونوکښې داسې هم کتلې شوى دى دعربې ژبې معمولي پوهې والا خلق چې په عربې ژبه ورته پوره عبورنه وى حاصل، نه صرف داچې دخپل ځان په خپله خوښه اوطريقه باندې دقرآن تفسيرشروع کوى، بلکه د زړو مفسرينودغلطيانو راويستلوپه تکل کښې وى، تردې پورې چې بعضې ظالمان خوصرف دترجمې مطالعه کولوسره خپل ځان دقرآن عالم ګنړى، اوپه لوئې لوئې مفسرينوباندې تنقيد کولونه روستوکيږى ـ

ښه پرې باندې ځان پوهول پکاردى دا انتهائي خطرناک طرز عمل دې کوم چې د دين په معامله کښې ډيرهلاکونکى ګمراهې طرف ته روانونکې دې ـ

حالانکه د سوچ خبره دا ده. چې د دنيا هيڅ يو علم او فن داسې نشته. چې په هغې کښې د ژبې په وجه مهارت پيد اکولې شي. ترنن ورځې پورے هيڅ يو عقل مند کس چې په انګريزۍ ئے مکمل عبور وى. دا دعوى نه ده کړې چې هغه ډاکټر شو. چې د ميډيکل سائنس کتابونه اوګورى. او په دنيا باندې دظلم مشق شروع کړى. دغه شان يو کس چې صرف د انجنرنګ د کتابونو مطالعه اوکړى. نود انجنير جوړيدو دعوى نشي کولې او نه چې د قانون اوچت کتابونه اوګورى. هغه ته ماهر قانون وئيلې شي. او که څوک دا دعوى اوکړى. نو يقيني ده چې ټوله دنيا به ورته احمق او بيوقوف وائى. حالانکه هر کس پيژنى. چې دا ټول علوم او فنون صرف په ژبه باندې او ځانله مطالعه کولو سره نه حاصليږى.بلکه ددې دپاره په کلونو محنت پکار دې دا د ماهرانو استاذانو نه وئيلې شى. او دهغوى نه باقاعده دې فن لره زده کول پکاردى، کله چې ډاکټر اوانجنئير جوړيدو دپاره داشرائط ضرروى نوآخردقرآن اوحديث په معامله کښې صرف عربى ژبه زده کول کافي کيدې شى. دژوندپه هره شعبه کښې هرسړې دا اوصول پيژنى اوپه دې باندې عمل

کوی، چې دهرفن زدهٔ کولودپاره یوه خاصه طریقه اودهغې مخصوص شرائط وی، کومولره چې دپوره کولونه بغیرپه دغه علم اوفن کښې دهغه راې معتبرنه ګڼړلې کیږی، نوآخرقرآن اوسنت دومره لاوارثه څنګه کیدې شی چې ددې تشریح اوتفسیردپاره دکوم علم اوفن حاصلولوضرورت نه وی، اوپه دې معامله کښې کوم سړې چې غواړی خپله راې دې پیش کوی؟

څو غلط فهمیانې :

په دې سلسله کښې د څو غلط فهمیانو ازاله ضروری ده.

① اوله غلط فهمی: بعضې خلق وائی. چې قران کریم په خپله د خپل ځان په باره کښې ارشا فرمائی. چې ﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾: القمرآیت: ۱۷﴾ بیشکه مونږ قرآن کریم د نصیحت حاصلونکو دپاره آسان کړېدې. او هرکله چې قرآن کریم یو آسان کتاب دې. نو ددې د تشریح دپاره د اوږدو علمونو او فنونو ضرورت نشته. بلکه هر کس چې د قرآن کریم متن چې اولولی. نو په دې باندې پوهیدے شی.

دقرآن دآیاتونوآسان قسم خو دا استدلال یوه لویه مغالطه ده. چې په کم فهمئ او ظاهری نظر کولو باندې مبنی ده. واقعه دا ده. چې د قرآن کریم آیاتونه په دوه قسمه دی. یو هغه آیتونه دی. چې په هغې کښې عام د نصیحت خبرې، سبق آموز واقعات او د عبرت او موعظت مضامین بیان شوی دی. مثلا د دنیا بے ثباتی دجنت او دوزخ حالات، دالله ویره او د آخرت فکر پیدا کونکی خبرې او د ژوند نور سیده ساده حقائق داسې قسم آیاتونه بیشکه آسان دی. او کوم کس چې په عربئ پوهیږی. هغه په دې پوهیږی او نصیحت ترې حاصلولے شی. د پورتنی آیت مقصد او مفهوم دادې. چې مونږ قرآن آسان کړېدې. نو قرآن کریم دا خبره مجمله نه دې پریخودې. ځکه چې،، للذکر،، [د نصیحت دپاره] دا لفظ ئے زیاتی کړېدې.

دقرآن د آیتونو ګران قسم : ددې په خلاف دویم قسم آیاتونه هغه دی. چې په احکامو او قوانیو. عقائدو او علمی مضامینوباندې مشتمل دی. د داسې قسم آیاتونو کما حقه پیژندل او ددې نه احکام او مسائل راویستل دهر کس کار نه دې. تر څو چې ورته په اسلامی علومو کښې بصیرت او پوخوالے حاصل شوې نه وی. نو تر هغه وخته پورې د قرآن کریم نه دا مقصد نشی حاصلېدې هم دا وجه ده. چې د صحابه کرامو مورنئ ژبه اګرچې عربی وه. او د عربئ زده کولو دپاره هغوی ته د تعلیم ضرورت نه وو. خو هغوی به هم د نبی ﷺ نه د قرآن کریم زده کولو دپاره ډیرې ډیرې مودے لګولې.

دصحابه کرامو ﷺ د قرآن زده کولوحقیقت علامه سیوطی وغیره د عبدالرحمن سلمی ﷫ نه نقل کړی دی. چې کومو حضراتو د نبی ﷺ نه باقاعدګئ سره د قرآن تعلیم حاصل کړې

وو . مثلاً حضرت عثمان بن عفان، عبدالله بن مسعود ﷺ وغيره هغوى مونږ ته بيان کړي وو. چې دوى به د نبي ﷺ نه د قران لس آياتونه زده کول. تر هغه وخته پورې به وراندې نه تلل. تر څو چې به يې د دغه آياتونو متعلق ټول علمي او عملي خبرو باندې عبورنه وو حاصل کړي. هغوى به فرمائيل. [فتعلمنا القران والعلم والعمل جيعاً] مونږ قرآن او علم او عمل يوځائې زده کول. په موطا امام مالك کښې روايت دې. چې حضرت عبدالله بن عمر صرف د سورت بقره په يادولو کښې اته کاله لګولي وو. او په مسند احمد کښې حضرت انس ﷺ فرمائي. چې په مونږ کښې به کوم کس سورت بقره او سورت آل عمران اووئيل نو زمونږ په نظر کښې به دهغه اوچت مقام وو[۷۲]

دصحابو په طريقه باندې د خپلې مدعا دپاره استدلال: دغور کولو خبره ده. چې دا حضرت صحابه کرام ﷺ چې د هغوى مورنۍ ژبه عربي وه. هغوى په عربي شعر او ادب کښې پوره مهارت لرلو. او هغوى ته به اوږدې اوږدې قصيدې په معمولي توجه سره د قلم هو پشان ياديدلې. هغوى ته د قرآن کريم حفظ کول او ددې په معانيو باندې ځان پوهولو دپاره د دومره اوږدې مودې څه ضرورت وو. چې اته اته کاله کښې صرف د يو سورت په وئيلو کښې لګوى. ددې وجه دا وه چې قرآن کريم او ددې زده کولو دپاره صرف عربۍ ژبه کښې مهارت کافي نه وو. بلکه ددې دپاره د نبي ﷺ صحبت او د تعليم نه فائده اخستل ضروري وو. ښکاره خبره ده. چې کله صحابه کرام ﷺ چې هغوى ته په عربۍ ژبه کښې مهارت حاصل وو. او د نزول وحي ئې براه راست مشاهده کړې وه. ددې باوجود د عالم قرآن جوړيدو دپاره باقاعده د نبي ﷺ نه د تعليم حاصلولو ضرورت وو. نو د نزول قرآن نه په سوونو كاله روستو هغه کس چې په عربۍ باندې ورته څه معمولي غونډې واقفيت حاصل شوې وى. صرف به د ترجمې په کتلو دقرآن کريم د مفسرجوړيدو دعوى كوى. دا څومره د زړه ورتيا او علم دين سره د افسوسناکې خندا خبره ده. داسې خلقو ته چې دا زړه ورتيا كوى. د نبي ﷺ دا ارشاد ښه ياد ساتل پکار دې چې [من قال في القرآن بغير علم فليتبوأ مقعده في النار] کوم کس چې په قرآن کښې بغير د پوهې نه خبره كوى. نو هغه خپل ځائې په جهنم کښې تياروى. [ابوداؤد. از اتقان ۲| ۱۷۹]

او : _ من تكلم في القران برايه فاصاب فقد اخطاء.. کوم سړې چې دقرآن په معامله کښې [محض] په خپله راې سره ګتفګو كوى اوپه هغې کښې صحيح خبره هم اوکړى نوبياهم هغه غلطى اوکړه. . [ابوداؤد ﷫ ونسائى ﷫ ازاتقان ۲| ۱۷۹]

څومشهور تفسيرونه: دعهد رسالت نه روستودقرآن بيشماره تفسيرونه ليکلې شوى دى.

[۷۲] الاتقان ۲/ ۱۷۶ نوع ۷۷]

بلکه په دنيا کښې ديو کتاب هم دومره خدمت نه دې شوې، څومره چې دقرآن کريم شوې دې، ددې ټولو تفاسيرو تعارف په کوم مفصل کتاب کښې هم ممکنه نه دې، څه چې په دې مختصر غونډې مقدمه کښې ئې اراده اوکړې شي، ليکن دلته به مونږ دهغه اهم تفسيرونو مختصر تعارف کول غوارو کوم چې دمعارف القرآن خاص مآخذ پاتې شوې دی، اودکوم حواله چې په قرآن کښې بار بار راځی، اګرچه دمعارف القرآن د تصنيف په دوران کښې ډيرتفسيرونه اوپه سلګونو کتابونه دنظر لاندې پاتې شوی دی، ليکن دلته صرف دهغه تفاسيرو تذکره مقصود ده دکومو حوالې چې په کثرت سره راځی۔

تفسير ابن جرير: ددې تفسيراصل نوم „ جامع البيان،، دې، اودا دعلامه ابوجعفرمحمدبن جريرطبری رحمه الله [متوفی ۳۱۰هـ] تاليف دې، علامه طبری رحمه الله داوچتې درجې مفسر، محدث اومؤرخ دې، نقل کړې شوی دی چې هغه ترڅلويښتو [۴۰] کالوپورې مسلسل ليکلوکښې مشغول وو، اوپه هره ورځ کښې به ئې څلويښت [۴۰] ورقه ليکلومعمول وو[البدايه والنهايه، ص۱۴۵ج۱۱] بعضې حضراتوپه دۀ باندې دشيعه کيدوالزام عائد کړې دې، ليکن محققينوددې الزام ترديدکړې دې، اوحقيقت هم دا دې چې هغه داهل سنت جليل القدر عالم دې، بلکه دهغه شمارپه ائمه مجتهدينوکښې کيږی۔

ددۀ تفسيرپه دريشت [۳۰] جلدونوکښې دې، اوروستوتفاسيرو دپاره دبنيادی مآخذ حيثيت لری، هغه دآياتونوپه تفسيرکښې دعلماؤ مختلف اقوال نقل کوی، اوبيا چې کوم قول دهغه په وړاندې راجح وی هغه ددلائلو په ذريعه سره ثابتوی، البته دهغه په تفسيرکښې صحيح اوسقيم هرشان روايات جمع شوی دی، څکه دهغه بيان کړې شوی هرروايت باندې اعتماد نشی کيدې، په اصل کښې دې تفسيرنه.دهغه مقصدداوو چې دتفسيرقرآن په باره کښې څومره روايات چې هغه ملاوې دې شی هغه ټول جمع کړې شی. اودغه جمع کړې شوی موادو نه کار واغستلې شی، البته هغه دهرروايت سره دهغې سند هم ذکرکړې دې، دې دپاره چې کوم سړې غواړی دراويانو تحقيق کولوسره دروايت صحيح يا غلط کيدې فيصله اوکړې شی۔

① تفسير ابن کثير: په دې کښې سرفهرست تفسير ابن کثير دې دا د حافظ عماد الدين ابوالفداء اسماعيل بن الخطيب ابی الحفص عمر بن کثير الشافعی رحمه الله [المتوفی ۷۴۷ هـ] تنصيف دې او په څلورو جلدونو مشتمل دې دې کتاب ته د تفسير ابن جرير خلاصه وئيل پکار دی. حافظ بن کثير رحمه الله چې کومه طريقه اختيار کړې ده. هغه د تفسير بالروايت طريقه ده.خو د حافظ ابن کثير رحمه الله خصوصيت داده چې کوم کمزورې روايات چې دوی نقل کړی دی. نود هغې د اسناد په علتونو باندې ئې تنبيه هم ورکړې ده.
او په دې لحاظ سره داکتاب په ټولو تفسيری کتابونو کښې يوممتاز مقام لری۔

④ تفسير قرطبي: ددې پوره نوم "الجامع لاحكام القرآن" دادې د اندلس دمشهور او محقق عالم ابو عبدالله محمد بن احمد بن ابى بكر القرطبى رحمه الله [متوفى ۶۷۱ ه] تصنيف دأ دوى په فقه كښې د امام مالك د مسلك تابع دې
دعبادت او دزهد په اعتبار سره لوئ ناموره سړې وو.
په اصل كښې خو ددې كتاب اصلى موضوع د قرآن كريم نه د فقهى احكامو او مسائلو استنباط دې. خو په دې ضمن كښې هغوى د قرآن كريم د آيتونو تشريح، د گرانو ټكو تحقيق، اعراب، بلاغت، اومتعلقه روايات هم په تفسيركښې ښه جمع كړى دى. او باربار چاپ شوې دې.
⑥ تفسير كبير: د امام رازى رحمه الله تفسير كبير دې ددې اصل نوم "مفاتيح الغيب" دې خو د تفسير كبير په نوم باندې زيات مشهور دادې د امام فخر الدين محمد بن ضياء الدين عمر الريزى [متوفى ۶۰۶ ه] تصنيف دې. څنگه چې د روايت په اعتبار سره تفسير ابن كثير ډير جامع او بې نظيره تفسير دې دغه شان د علوم درايت په لحاظ سره تفسير كبير لاجوابه دې
بعضې خلقو په دې كتاب باندې دا فقره چسپان كړے ده. چې [فيه كل شئ إلا التفسير] په دې كښې دتفسير نه سوا هرڅه شته[۷۳] خوحقيقت دادې چې دا جمله ددې كتاب سره ډيرلوئې ظلم دې ځكه چې دقرآن پاك دحل دپاره ددې تفسير څه ثانى نشته ددې امتيازى خصوصيات دا دى.
⑦ دتفسير كبير باره كښې څوضرورى خبرى: امام رازى رحمه الله دا تفسير د سورة فتح پورې ليكلې وو. چې وفات شو نو دسورة فتح نه پس يويل عالم قاضى شهاب الدين بن خليل الخولى الدمشقى رحمه الله [متوفى ۶۳۹ ه] يا شيخ نجم الدين احمد بن محمد القمولى [متوفى ۷۷۷ ه] رحمه الله كښې مكمل كړلو [۷۴]
امام رازى رحمه الله دخپلې زمانې دضرورت مطابق چونكه كلامى بحث اودباطل فرقو ترديد باندې خاص زور ور كړې دې او په دې ضمن كښې دهغه بحثونه په ډيرو ځاينوكښې ډير اوږده شوى دى. البته په يوڅومقاماتوباندې هغوى دجمهورامت دلارې نه اخوا دآيات قرآنى تفسير كړې دې، ليكن داسې مقامات اتۀ [۸] غټ غټ جلدونو كښې خال خال دى
⑧ تفسير البحر المحيط: دا دعلامه ابوحيان غرناطى اندلسى رحمه الله [متوفى ۷۵۴ه] تصنيف دې، كوم چې داسلامى علومونه علاوه په علم نحواو بلاغت كښې خصوصى مهارت

[۷۳] الاتقان [۲/ و تجيب السلمين بكلام رب العالمين. خو زمونږ حقيره رايئ دا ده كه دجمله په څه كتاب باندى صحيح راځى نو هغه به زمونږ د زمانى په تفسير الجواهر للطنطاوى دى.
[۷۴] كشف الظنون [۴۷۷/۲]

لرلو، نو ددۀ په تفسيركښې دنحواو دبلاغت رنګ ښكاره دې، دئ دهرآيت د الفاظو تحقيق، دتركيبونو اختلاف اودبلاغت نكات بيان كولوباندې خاص زرو وركړې دې۔

④ احكام القرآن للجصاص رحمه الله: دا د امام ابوبكرجصاص رازى [متوفى ۳۷۰هه] تصنيف دې، كوم چې په فقهاء احنافوكښې دممتاز مقام خاوند دې، ددوى ددې كتاب موضوع دقرآن كريم نه فقهى احكامات اومسائل استنباط كول دى، اوهغوى دمسلسل آيتونودتفسير په ځائې باندې صرف دهغه آيتونوفقهى تفصيلات بيان كړى دى، كوم چې په فقهى احكاماتوباندې مشتمل دى، په دې موضوع باندې ډيركتابونه ليكلې شوى دى، ليكن دې كتاب ته په دغه ټولوكښې يولوړ اوممتاز مقام حاصل دې۔

⑤ تفسير الدرالمنثور: دا دعلامه جلال الدين سيوطى رحمه الله [متوفى ۹۱۰هه] تصنيف دې، اوددې پوره نوم ,, الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور،، دې، په دې كښې علامه سيوطى رحمه الله دهغه ټولوروا ياتونودجمع كولو كوشش كړې دې كوم چې دقرآن كريم دتفسير سره متعلق هغه ته ملاؤ شوى دى، ددوى نه مخكښې ډيرو محدثينومثلا حافظ ابن جرير رحمه الله، امام بغوى رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله وغيره په خپله خپله ټوګه باندې دكار كړې دې، علامه سيوطى رحمه الله ددغه ټولوبيان شوى جمع روايات په دې كتاب كښې جمع كړى دى. البته هغوى درواياتو سره دهغې پوره سندذكركولوپه ځائې باندې صرف دهغه مصنف نوم ذكر كولوباندې اكتفاء كړې ده چاچې دې روايت په خپل سند سره بيان كړې دې، دې دپاره چې په وخت دضرورت دغې ته مراجعت كولوسره دسند تحقيق اوكړې شى، چونكه دهغه مقصد درواياتوذخيرې لره جمع كول وو، څه په دې كتاب كښې هم صحيح او سقيم هرشان رواياتونه جمع شوى دى، او دسند دتحقيق نه بغير ددۀ هربيان كړې شوې روايت قابل اعتماد نه ګنړلې كيږى، علامه سيوطى رحمه الله په بعضې ځائې كښې درروايت سره دا هم اوائى چې ددې سند په كومه درجه كښې دې، چونكه دتنقيد حديث په معامله كښې هغه ډير متساهل مشهور دې، ځكه په دۀ باندې كماحقه اعتماد كول مشكل دى۔

⑥ تفسير مظهرى: دا دعلامه قاضى ثناء الله صاحب پانى پتى رحمه الله متوفى [۱۲۲۵هه] تصنيف دې اوهغه دخپل شيخ طريقت مرزا مظهرجان جانان دهلوى رحمه الله په نوم باندې ددې تفسيرنوم ,, تفسير مظهرى اينبودې دې. ددۀ دا تفسير ډيره ساده او واضحه دې، او په اختصار سره دقرآنى آياتونو تشريح معلوملودپاره ډير فائده مند. ددۀ د قرآنى آياتونو تشريح سره متعلقه رواياتونه هم ډير تفصيل سره ذكركړى دى، د نورو تفسيرونو په مقابله كښې ډيرپه ڇهان بين سره درروايات كولو كوشش كړې دې۔

⑦ روح المعانى: ددې پوره نوم "روح المعانى فى تفسير القرآن العظيم والسبع المثانى" دې او د بغداد د

مشهور عالم علامه محمود آلوسی حنفی رحمه الله [متوفی ۱۲۷۰ ه] تصنیف دي او په دیرش جلدونو باندې مشتمل دي. دا چونکه بالکل دآخر دور تصنیف دي. نو څکه دوی دا کوشش کړېدې. چې د وړاندېنو تفسیرونو اهم مباحث په دې کښې جمع کړي. نو په دې کښې لغت، نحو ادب، بلاغت، فقه، عقائد، کلام، فسلفه، هیئت، تصوف او متعلقه روایتو باندې تفصیلی بحث کړېدې. او کوشش یې دا کړېدې. چې د آیت سره متعلقه علمی بحث پاتې نشي. د حدیث د روایاتو په معامله کښې هم علامه آلوسی د نورو مفسرینو په مقابله کښې محتاط پاتې شوې دې په دې اعتبار سره دې کتاب ته د وړاندېنی تفاسیرو خلاصه وئیل پکار دي. او اوس قرآن د تفسیر په سلسله کښې هیڅ یو کار هم دداې د مددنه بې نیازه کیدې نشي.

ترجمة الإمامين الهمامين الجليلين

الشیخ محمد بن احمد جلال الدین المحلی، والشیخ عبدالرحمن بن ابی بکر جلال الدین السیوطی رحمهما الله تعالی

بې شکه چه دواړه حضرات په خپله زمانه کښې بې مثاله وو، داسې ذهین او لوئې شخصیتونه ډیر کم پیدا کیږي.

ہزاروں سال نرگس اپنی بے نوری پہ روتی ہے　　　بڑی مشکل سے ہوتا ہے چمن میں دیدہ ور پیدا

سالہا در کعبہ و بت خانہ می نالد حیات　　　تا ز بزم عشق یک دانائے راز آید بروں

هسې خو په دې رنګارنګه دنیا کښې بې شمیره قابل او لائق خلق پیدا کیږي، خو په هغوی کښې بعضې داسې وی چه هغوی په سینو او زړونو باندې همیشه دپاره نقش بریږدی او لاړشی، هم په دغه خوش نصیبه او د مبارک بادئ قابلو خلقو کښې د جلالین دواړه مصنفین هم دی.

اګرچه ددې دواړو حضراتو د تذکرې اوتعارف هیڅ ضرورت نشته څکه چه میان صاحب بیان «دښکاره څیزونو بیان ته ضرورت نه وي»، بلکه دا خونمر ته ډیوه ښکاره کول دی، خو چونکه د ترجمې لیکلو طریقه د اسلاف او اکابرو نه راروانه ده،

شروع د جلالین د نصف ثانی د مصنف نه کولې شی څکه چه موصوف ته تقدم زمانی حاصل دې، او دې سره سره دوی ته د نصف اول دمصنف علامه سیوطی د استاذ کیدو شرف هم حاصل دې.

د جلالین د نصف ثانی مصنف

نوم او نسب د دوی نوم محمد او د پلار نوم ئې احمد دې او جلال الدین ئې لقب دې، سلسله نصب ئې داسې دې: محمد بن احمد بن محمد بن ابراهیم بن احمد بن هاشم بن شهاب بن کمال الانصاری محلی، د مصر یو مشهور محلة الکبری طرف ته منسوب دې.

د پیدائش او وفات تاریخ: دوی د شوال میاشت ۷۹۱هـ کښې د مصر دارالسلطنت قاهره کښې پیدا شو، د دوی عمر ۷۳ کاله وو چه په ۸۶۴ هـ کښې په ۱۵/ رمضان المبارک د هفتې (شنبه) په ورځ د سحر په وخت کښې وفات شو په باب النصر قبرستان کښې دخپل پلار نیکونو سره نزدې مدفون کړې شو.

د علم حصول: دوی چه د قرآن کریم دحفظ نه فارغ شو نوابتدائی کتابونه ئې دمقامی استاذانو نه اووئیل او فقه ئې د علامه هیجوری، جلال بلقینی، والی عراقی ځخه اووئیله، او نحو ئې د شهاب عجیمی او شمس شطعونی ځخه اووئیله، او فرائض اوحساب ئې د ناصرالدین بن انس مصری حنفی نه او منطق، جدل، معانی، بیان، عروض ئې د بدر محمود اقصرائی نه اووئیل، او اصول دین او تفسیر ئې د علامه شمس بساطی وغیره ځخه حاصل کړل.ددې حضراتو ځخه علاوه د نورو لویو لویو عالمانو ددرس په حلقو کښې حاضرشو او استفاده ئې ترې اوکړه، په شروع کښې دوی دکپړې تجارت اختیار کړو، تر یوې مودې پورې ئې د کپړې تجارت کولو، ددې نه پس ئې یو سرې قائم مقام جوړکړو، او په خپله په درس او تدریس کښې مشغول شو او ډیرو خلقو ددوی نه علم حاصل کړو، دوی ته د قضاء عهده هم پیش کړې شوه خو دوی انکار اوکړو.

ددوی تصانیف ددوی ګڼړ شمیر تصانیف دی چه په هغې کښې جمع الجوامع او جلالین نصف ثانی ته ډیر اهمیت حاصل دې، دوی د تفسیر ابتداء د سورة کهف نه اوکړه، دنصف ثانی مکمل کیدو نه پس ئې دنصف اول په تفسیر شروع اوکړه، صرف د سورة فاتحه تفسیر ئې پوره کړې وو چه ژوند ورسره وفا اونه کړه او ددې فانی دنیا ځخه ئې کوچ اوکړو (انا لله وانا الیه راجعون) د باقی نصف اول تکمیل ددوی شاګرد رشید علامه سیوطی عبدالرحمن بن ابی بکر اوکړو.

د جلالین د نصف اول مصنف

نوم اونسب: نوم ئې عبدالرحمن بن ابی بکر محمد کمال الدین، لقب ئې جلال الدین، کنیت ئې ابوالفضل دې، پوره نسب ئې داسې دې. عبدالرحمن بن ابی بکر محمد کمال الدین، بن سابق الدین، بن عثمان فخر الدین بن ناظرالدین السیوطی، سیوط طرف ته منسوب دې، چه اسیوط هم ورته وائی، سیوط د دریائې نیل مغربی طرف ته یو ښار دې، همدا محله خضریه ده کوم چه په سوق خضر نوم سره مشهور دې، په یکم رجب ۸۴۹ هـ د ماښام نه پس پیدا شو، دوی دخپلې زمانې په ائمه ؤ کښې ډیر باکمال وو.

د علم حصول: دوی په ماشوم والی کښې یعنی د پنځه کال اووه میاشتو په عمرکښې د پلار د سورې نه محرومه شو(یعنی پلار ئې وفات شو). دپلار محترم د وصیت مطابق د یو څو بزرګانو په سرپرستۍ کښې پاتې شو، چه په هغوی کښې شیخ کمال ابن الهمام حنفی هم

وو، موصوف هغوی طرف ته پوره توجه ورکړه، په دې وجه ئې د اته کالو نه په کم عمر کښې د قرآن کريم حفظ اوکړو، ددې نه پس ئې منهاج الاصول، الفيه ابن مالک وغيره کتابونه حفظ کړل، د شيخ شمس سراجی او شيخ شمس مرزبانی حنفی نه ئې هم ډير درسی او غير درسی کتابونه اوويل، ددوی نه علاوه ئې هم د نورو ډيرو استاذانو د علم او فن په درسی حلقو کښې شرکت اوکړو

د يوې غلطۍ ازاله: بعضې تذکره کونکو ليکلی دی چه علامه سيوطی دحافظ ابن حجر عسقلانی شاګرد دې، خودا د تاريخ په رڼا کښې صحيح نه ده، ځکه چه د اصحاب تاريخ دا صراحت موجود دې چه د حافظ ابن حجر وفات په ۸۵۲ هـ کښې شوې دې، اود علامه سيوطی پيدائش په ۸۴۹ هـ کښې دې، په دې حساب سره دحافظ ابن حجر د وفات په وخت دعلامه سيوطی عمر صرف درې کاله دې، ظاهره خبره ده چه په دې عمر کښې د شاګردئ سوال هم نه پيدا کيږی.

درس او تدريس او افتاء: د علومو د حصول او د فنونو د تکميل نه پس ئې په ۸۷۰ هـ کښې د افتاء کار شروع کړو، او د ۸۷۲ هـ نه په املا کښې مشغوله شو، دوی په حسن المحاضره کښې ليکلی دی، چه الله تعالی ماته اووه علوم، تفسير، حديث، فقه، نحو، معانی، بيان، بديع کښې ژور علم رانصيب کړې دې، او دائې هم ليکلی دی چه ما دحج په موقع باندې آب زمزم اوڅکل او دا دعامې اوکړه چه په فقه کښې د شيخ سراج الدين بلقينی رتبه اوپه حديث کښې د حافظ ابن حجر مرتبې ته اورسيږم.

دوی په خپله زمانه کښې دحديث ډير لوئې عالم وو، دوی په خپله فرمائيلی دی چه ماته دوه لاکه احاديث ياد دی، اوکه ماته ددې نه هم زيات ملاؤ شوی وې نوهغه به مې هم ياد کړی وو، د څلويښتو کالو په عمر کښې دقضاء اوافتاء وغيره نه فارغ شو او ګوشه نشينی (تنهائی) ئې اختيار کړه، اوپه رياضت او عبادت، په رشد اوهدايت کښې مشغوله شو، ددوی د زهد او قناعت شان دا وو چه بادشاهان او لوئې مالداره خلق به ددوی په خدمت کښې حاضريدل، او قيمتی قيمتی هديې او تحفې به ئې پيش کولې خو دوی به نه قبلول سلطان غوری يو خصی غلام او زر اشرفئ ددوی په خدمت کښې اوليږل، دوی اشرفئ واپس کړې او غلام ئې آزاد کړو او د نبی کريم ﷺ د حجرې مبارکې خادم ئې جوړ کړو.

دوی دکشف او کرامات لرونکو بزرګانو څخه وو، ددوی د طیّ الارض کرامت ډير مشهوردې، ددوی د وينا مطابق دوی د نبی کريم ﷺ اويا ځله په خوب کښې زيارت کړې دې.

علمی خدمات د داؤد مالکی په قول ددوی د تصانيفو تعداد د پنځه سوو نه هم زيات دې،

ددوی په تصانیفو کښې رومبې تصنیف "شرح استعاذه وبسمله" ده، په علوم القرآن باندې ددوی تالیف "الاتقان فی علوم القرآن" ډیر اهم اومشهور کتاب دې.

وفات دوی ته د لاس د پړسوب بیماری اولګیده، چه ددې په وجه د جمعې د شپې په آخره حصه کښې په ۱۹ جمادی الاولی ۹۱۱ هـ کښې وفات شو. اناللہ وانا الیه راجعون۔

تفسیر جلالین دا دتفسیر یو مختصر اوجامع تفسیردې، که دې ته د قرآن پاک عربی ترجمه اووئیلې شی نو نامناسبه به نه وی، قرآنی او تفسیری الفاظ د سورة مدثر پورې تقریباً برابر دې. ددې نه پس د قرآنی کلماتو نه تفسیری کلمات زیات دی، چه ددې په وجه علماء کرامو فرمائیلی دی چه تفسیر جلالین ته بې اودسه لاس وړل جائز دی، دا تفسیر چونکه د دوه بزرګانو دې او ددوی دواړو لقب جلال الدین دې په دې وجه ددې کتاب نوم جلالین کیخودې شو، بعضې وخت د نصف اول اونصف ثانی د مفسر په تعیین کښې اشتباه پیدا کیږی، ددې د یاد ساتلو آسان شکل دادې چه د سیوطی په شروع کښې سین دې اود محلی په شروع کښې میم دې، او سین د حروف تهجی د ترتیب په اعتبار سره مقدم دې او میم مؤخردې، لهذا دکوم په شروع کښې چه سین دې دهغه حصه مقدم ده او په کوم کښې چه میم دې دهغه حصه مؤخر ده.

د جلالین ماخذ شیخ موفق الدین احمد بن حسن بن رافع کواشی دوه تفسیرونه لیکلی دی، یو کبیر چه هغې ته تبصره وائی او دویم صغیر چه هغې ته تلخیص وائی، د شیخ جلال الدین محلی اعتماد په دې تفسیر صغیر باندې دې، علامه جلال الدین سیوطی هم په دې باندې اعتماد کړې دې خو دې سره ئې تفسیر وجیز او تفسیر بیضاوی او ابن کثیر هم د نظر مخې ته ساتلی دی.

د جلالین شروح او حواشی:

① جمالین دا د ملا نورالدین علی بن سلطان محمد الهروی المشهور بملا علی قاری المتوفی ۱۰۱۴ هـ ډیره ښه حاشیه ده.

② قبس النیرین دا د ۹۵۲ هـ تالیف دې

③ مجمع البحرین ومطلع البدرین دا د جلال الدین محمد بن محمد کرخی ده په ډیرو جلدونو کښې ده.

④ کمالین د شیخ سلام الله بن شیخ الاسلام بن عبدالصمد المتوفی ۱۲۲۹ هـ ده، دا د شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمہ اللہ د نمسو څخه دې.

ددې نه علاوه نور هم حواشی او شروحات شته خو چونکه استیعاب مقصود نه دې په دې وجه هم په دې باندې اکتفاء کوو.

(تمت بالخیر)

مقدمة الجلالين

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله حمدًا موافقًا لنعمه كافيًا لمزيده والصلوٰة والسلام على سيدنا محمد واٰله وصحبه وجنوده اما بعد فهٰذا ما اشتدت إليه حاجة الراغبين فى تكملة تفسير القرآن الكريم الذى ألفه الإمام العلامة المحقق المدقق جلال الدين محمد بن أحمد المحلى الشافعى وتتميم ما فاته وهو من أول سورة البقرة إلى آخر سورة الأسراء بتتمة على نمطه من ذكر ما يفهم به كلام الله تعالى والإعتماد على أرجح الأقوال وإعراب ما يحتاج إليه وتنبيه على القراءات المختلفة المشهورة على وجه لطيف وتعبير وجيز وترك التطويل بذكر اقوال غير مرضية وأعاريب محالها كتب العربية والله أسأل النفع به فى الدنيا وأحسن الجزاء عليه فى العقبى بمنه وكرمه.

ترجمه: ټول تعريفونه الله تعالى لره دى، داسې تعريفونه چې د هغوى د نعمتونوپه مقدار وى اود هغوى د نوررو زياتى نعمتونو سره برابر وى، اوزمونږ په سردار محمد اود هغوى په اولاد او صحابه كرامو او لښكرو باندې دې درود اوسلام وى.اودا (زما په ذهن كښې چې څه دى) چې د كومو كسانو د قرآن كريم تفسير پوره كيدو ته ډير شوق دې هغه تفسير كوم چې امام علامه محقق اومدقق جلال الدين محمد بن احمد محلى شافعى تاليف كړې دې اوچې دغه(په ذهن كښې معهود تفسير) د دغه (تفسيرمحلى) پوره والې وى هغه پوره والې كوم چې د سورة بقره څخه د سورة اسراء آخره پورې وى.اوچې ددې دا تكميل د محلى د تفسير په نهج باندې وى (اود محلى نهج) په هغه طريقه دې چې په هغې سره د الله تعالى كلام په پوهه كښې راشى، اوپه راجح اقوالو باندې په كښې اعتماد وى، اوچې د كوم اعراب وضاحت ته ضرورت وى هغه په كښې وى، اوچې په مشهورو اومختلفو قراتونو باندې تنبيه وى، اودا تنبيه په ښكلې طريقې سره وى، اوتعبيرئې مختصر وى اوكوم اوږدوالې چې د ناخوښه اقوالو په وجه راځى هغه په كښې پريښودې شوې وى. اوهغه ناشنا خبرې په كښې پريښودې شى كومې چې د عربۍ په كتابونوكښې دى، او خاص دالله تعالى څخه په دې باندې په دنيا كښې د فائدې رسولو سوال كوم، اوپه آخرت كښې پرې په خپل فضل او كرم د ښكلې بدلې سوال كوم.

قوله:فهٰذا په ، ،هذا ، ، سره هغه عباراتونوته اشاره ده كوم چې سيوطى رحمه الله په خپل ذهن كښې مستحضركړى وو چې زه به تفسيرجلالين محلى په كوموخبرو سره تكميل ته رسوم.

قوله : تفسير القرآن الكريم تفسيرپه لغت كښې وضاحت ته وائى اود تفسيراصل د تفسرة څخه ماخوذ دې. او دا تفسرة د هغه اوبوڅخه معلومات كول دى كومو ته

چې طبيب اوګوری نو د بيمار بيماری ترې معلوموی.دغه شان مفسرهم د قرآن پاک د قرآن وضاحت کوی.

اودتفسيراوتاويل په مينځ کښې فرق دا دې چې تفسيرد قرآن، حديث، اثر يا د شرعی قواعدو د تخريج په ذريعه سره د قرآن پاک د يو لفظ مفهوم ښکاره کول دی د تفسيردې قسم ته تفسيربالماثور وائی اوپه تفاسيروکښې تفسيرابن کثير، درمنثور، تفسيرطبری په دې قسم تفسيرونوکښې راځی.او تاويل دې ته وائی چې کله د قرآن پاک د يولفظ په معنی کښې څو احتمالات وی نود صحيح عقلی قواعدو په ذريعه دغه لفظ په يوه معنی باندې حمل کړې شی اوهغه ترې مراد واخستې شی.اود تفسيردې قسم ته تفسيربالرائې وائی تفسيرکبيروغيره په دې قسم کښې تفاسيرو کښې راځی.

قوله:والإعتماد على أرجح الأقوال بعضې وخت د يو لفظ يا آيت په تفسيرکښې مختلف اقوال وی نو که په دغه اقوالو کښې تطبيق کيدې شی خو صحيح ده خو بعضې وخت په هغه اقوالوکښې تطبيق نشی کيدې نو په دغه وخت د راجح قول تعين هرسړې نشی کولې ددې وجې جلال الدين رحمه الله فرمائي چې امام محلی په خپل تفسيرکښې صرف د راجح اقوالو انتخاب کړې دې مرجوح اقوال ئې په کښې نه دی ذکر کړې

قوله: وإعراب ما يحتاج إليه د قرآن پاک په تفسيرکښې د اعراب ډير لوئې اهميت دې ځکه چې بعضې وخت د اعراب د غلطۍ د وجې په معنی کښې فاحشه غلطی راځی.اوهم دا وجه ده چې بعضې مفسرينو صرف د اعراب القرآن په نوم باندې کتابونو ليکلی دی نوامام سيوطی رحمه الله فرمائی چې په دې مختصر تفسيرکښې د قرآن پاک د ټولو اعراباتووضاحت خو نشی کيدې البته چې د کومو آياتونود اعراب وضاحت ته ضرورت وی نوهغه امام محلی ذکر کړی دی.اوزه به هم دغه طريقه اختياروم

قوله:وتنبيه على القراءات المختلفة د قرآن پاک اووه مشهور قرآءتونه دی په دې تفسيرکښې د هغې وضاحت هم شوې دې چې دلته په دې لفظ کښې کوم قرآءت مشهور دې اوکوم شاذ وغيره ده.

....

پاره نمبر- ۱ [الٓمٓ]

[۱] سورة الفاتحه

مكية وهى سبع آيات

سورة فاتحه مكى سورة دې په ديكښې سره د بسم الله اووه آيتونه دى.

بِالْبَسْمَلَةِ إِنْ كَانَتْ مِنْهَا وَالسَّابِعَةُ صِرَاطَ الَّذِيْنَ إِلَى أخِرِهَا وَ إِنْ لَمْ تَكُنْ مِنْهَا فَالسَّابِعَةُ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ. إِلَى أخِرِهَا، يُقَدَّرُ فِيْ أَوَّلِهَا قُوْلُوْا لِيَكُوْنَ مَا قَبْلَ إِيَّاكَ نَعْبُدُ، مُنَاسِبًا لَهُ بِكَوْنِهِ مِن مَقُوْلِ الْعِبَادِ.

ترجمه: كه بِسْمِ اللّٰه د سورة فاتحې جزء وى نو اووم آيت د صِرَاطَ الَّذِيْنَ تر آخره پورې دې، اوكه بِسْمِ اللّٰه د سورة فاتحې جزء نه وى، نو اووم آيت د غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ نه آخره پورې دې. اود سورة فاتحه په شروع كې به قولوا مقدر منلې شى دې دپاره چه د اياک نعبد ماقبل، د بندگانو په مقوله كيدو كې ددې سره مناسب شى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: سبع آيات بالبسملة: د امام شافعى رحمه الله په نزد چونكه بسم الله د سورة فاتحې يو آيت دې، په دې وجه اووم آيت د صراط الذين نه آخره پورې دې اود احنافو په نزد چونكه بسم الله د سورة فاتحې جزء نه دې، په دې وجه اووم آيت د غيرالمغضوب عليهم څخه آخره پورې دې.

قوله: يقدر فى اولها، قُولُوا: د سورة فاتحه په شروع كښې به لفظ قُولوا مقدر منلې شى، كه بسم الله د سورة فاتحې جزء دې نو قُولوا به د بسم الله نه مخكښې مقدر منلې شى، كه بسم الله د سورة فاتحې جزء نه دې نو د بسم الله نه پس به مقدر منلې شى، د قُولوا مقدر منلو ضرورت په دې وجه پيښ شو چه د إياك نعبد ماقبل، مقوله به په عباد كيدو كښې د إياك نعبد سره مناسب شى، يعنى پوره سورة فاتحه به مقوله د عباد شى.

قوله: بكونها: كښې باء په معنى د فى ده، يعنى فى كون الفاتحة په يوه نسخه كښې د بكونها په ځاى بكونه دې دا زيات واضح دې، ضمير به ماقبل إياك طرف ته راجع وى او كه د قُولوا تقدير ترک كړې شى نو احتمال به دا وى چه سورة فاتحه بتمامها دا د الله په خپله خپل تعريف دې.

[۱] اياتوله: ۱-۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

{اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ} جُمْلَةٌ خَبَرِيَّةٌ قُصِدَ بِهَا الثَّنَاءُ عَلَى اللّٰهِ بِمَضْمُوْنِهَا عَلَى أَنَّهُ تَعَالٰى مَالِكٌ لِجَمِيْعِ الْحَمْدِ مِنَ الْخَلْقِ أَوْ مُسْتَحِقٌّ لِأَنْ يَحْمَدُوْهُ وَاللّٰهُ عَلَمٌ عَلَى الْمَعْبُوْدِ بِحَقٍّ {رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ} أَيْ مَالِكِ جَمِيْعِ الْخَلْقِ مِنَ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ وَالْمَلَائِكَةِ وَالدَّوَابِّ وَغَيْرِهِمْ وَكُلٌّ مِنْهَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ عَالَمٌ يُقَالُ عَالَمُ الْإِنْسِ وَعَالَمُ الْجِنِّ إِلَى

غَيْر ذَلِك وَغَلَبَ فِي جَمعه بِالْيَاءِ وَالنُّون أولي الْعِلم عَلَي غَيرهِمْ وَهُوَ مِنَ الْعَلَامَة لِأَنَّهُ عَلَامَة عَلَي مُوجِده {الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} أَيْ ذِي الرَّحْمَة وَهِيَ إِرَادَة الخير لأهله {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ} أَيْ الْجَزَاء وَهُوَ يَوْم الْقِيَامَة وَخصّ بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُ لَا مُلك ظَاهِرًا فِيهِ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلَّهِ تَعَالَي بِدَلِيلِ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْم لِلَّهِ وَمَنْ قَرَأَ مَالِك فَمَعْنَاهُ مَالِك الْأَمْر كُلّه فِي يَوْم الْقِيَامَة أَوْ هُوَ مَوْصُوف بِذَلِكَ دَائِمًا كَغَافِرِ الذَّنْب فَصَحَّ وُقُوعه صِفَة لِمَعْرِفَةٍ {إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ} أَيْ نَخُصّك بِالْعِبَادَةِ من توحيد وغيره ونطلب المعونه علي العبادة وغيرها {اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ} أَيْ أَرْشِدْنَا إِلَيْهِ وَيُبْدَل منه {صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ} بِالْهِدَايَةِ وَيُبْدَل مِنَ الذين بصلته {غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ} وَهُمْ الْيَهُود {وَلَا} وَغَيْر {الضَّالِّينَ} وَهُمْ النَّصَارَي وَنُكْتَة الْبَدَل إِفَادَة أَنَّ المهتدين ليسوا يهودا وَلَا نَصَارَي وَاللَّه أَعْلَم بِالصَّوَابِ وَإِلَيْهِ الْمَرْجِع وَالْمَآب وَصَلَّي اللَّه عَلَي سَيِّدنَا مُحَمَّد وَعَلَي آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا دائما أبدا وحسبنا الله ونعم الوكيل ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم

ترجمه: شروع کوم په نوم د الله چه ډير زيات مهربان او ډير رحم کونکې دې، هر تعريف الله لره ښائيګی. دا جمله خبريه ده، په دې جملې سره ددې د مضمون په ذريعه د الله تعالی د تعريف قصد کړې شوې دې، په دې طريقه چه الله تعالی دټول مخلوق د تعريف مالک دې يا ددې مستحق دې چه دهغه حمد بيان کړې شی، او الله د معبود حقيقی علم دې چه هغه دټولو عالمونو رب دې يعنی هغه دټولو مخلوقاتو مالک دې، که انسانان دی اوکه جنات دی، که ملائک دی اوکه حيوانات وغيره دی او په دوی کښې په هر يو باندې د عالَم اطلاق کيږی، وئيلې شی چه: عـالَم الإنس،عـالَم الجن وعلى هذا القياس، د (عالَم) يې او دې سره په جمع راوړلو کښې، ذوی العقول ته په غير ذوی العقول باندې غلبه ورکړې شوې ده او (عـالَم) د علامة نه مشتق دې، ځکه چه (عـالَم) په خپل ايجادکونکی باندې علامت دې. زيات مهربان او ډير رحم کونکې دې يعنی رحمت والا دې او رحمت د خير مستحق کيدو سره دخير د ارادې نوم دې، د ورځې د جزاء مالک دې، اوهغه (د جزاء ورځ) دقيامت ورځ ده، اود جزاء ورځ دخاص کولو دا وجه ده چه په دغه ورځ په ظاهره د الله تعالی نه سوا به د هيچا ملک (اختيار) نه وی. د (لمن الملك اليوم؟لله!) په دليل سره او کومو خلقو چه مالك يوم الدين لوستلې دې نو ددې معنی ده، دقيامت په ورځ هغه دټولو امورو مالک دې يعنی هغه د مالکيت صفت سره هميشه متصف دې لکه په غافرالذنب کښې، لهذا ددې د معرفه صفت واقع کيدل صحيح دی. مونږستا عبادت کوو او صرف ستا نه مدد غواړو، مونږ صرف تا دعبادت دپاره خاص کوو چه هغه توحيد وغيره دې اوپه عبادت وغيره باندې ستا نه مدد غواړو، مونږته نيغه لاره اوښائې، يعنی نيغې لار طرف ته مو روان کړې،او صراط الذين،د الصراط المستقيم نه بدل دې،دهغه خلقو لاره چه په هغوی باندې تا د هدايت په ذريعه انعام کړې دې او د الذين نه سره دهغې د صلې غيرالمغضوب عليهم بدل

دي، دهغه خلقو نه چه په هغوی باندې غضب کړې شوې دې او هغه يهود دی او نه د ګمراهانو اوهغه نصاری دی او نکته بدل ګرځولو کښې ددې خبرې فائده رسول دی چه يهود هدايت موندونکی نه دی اونه نصاری دی، والله أعلم بالصواب وإليه المرجع والمآب وصلى الله على سيدنا محمد وعلى آله وأصحابه الطيبين الطاهرين صلوة وسلامًا دائمين متلازمين إلى يوم الدين والحمد لله رب العالمين،،او د حقيقت حال نه الله ښه خبردې او هم هغه طرف ته د ورتلو ځائې دې. د الله رحمت دې وی زمونږ په سردار محمد ﷺ باندې اودهغه په پاکيزه او صفا آل او اصحاب باندې هميشه وی تر قيامته پورې او درود اوسلام دې وی او ټول تعريفونه د الله دپاره دی چه هغه دټولو عالمونو رب دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ‌{الْحَمْدُ لِلَّهِ} جُمْلَةٌ خَبَرِيَّةٌ: د عبرية د اضافي مقصد دا ښودل دی چه الحمد لله لفظًا جمله خبريه ده، ددې تقدير الحمد لله ثابت لله دې او د قُصدبها الثناء الخ د اضافي مقصد دا ښودل دی چه مذکوره جمله معنًا انشائيه ده، چه ددې د مضمون نه د الله تعالى د حمد بيانولو قصد کړې شوې دې.

قوله: أَنَّهُ تَعَالَى مَالِكٌ لِجَمِيعِ الْحَمْدِ مِنَ الْخَلْقِ: ددې جملې اضافی مقصد د جملې د مضمون تعين کول دی يعنی الله تعالى دخپل مخلوق دټولو تعريفونو (ثناګانو) مالک دې. په دې صورت کښې به د لله لام د ملک دپاره وی.

قوله: أَوْمُسْتَحِقٌّ: ددې اضافي مقصد دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چه په لله کښې لام د استحقاق دې يعنی الله تعالى دخپل مخلوق د تعريفونو مستحق دې.

قوله: قُصِدَبِهَا الثَّنَاءُ: ددې عبارت مقصد دا دې چې دلته د حمد څخه مراد مخاطب ته دا خبر ورکول مقصود نه دی چې ټول تعريفونه الله تعالى لره دی ځکه چې دا خو هرچا ته پته ده اونه د حمد څخه دا مقصود دې چې متکلم مخاطب ته دا خبر ورکوی چې ماته معلومه ده چې الله تعالى دټولوتعريفونومستحق دې بلکه ددې څخه مراد د حمد انشاء ده يعنی د الله تعالى دپاره نوې نوې اوبيا بيا تعريف اوحمد کول مراد دی.

قوله: وَاللَّهُ عَلَمٌ عَلَى الْمَعْبُودِ بِحَقٍّ: يعنی الله د معبود برحق عَلَمْ (نوم) دې، مفسر علام جلال الملة والدين د لفظ الله تشريح په عَلَمٌ على المعبود بحق سره کړې ده اود يو اعتراض جواب ئې ورکړې دې.

اعتراض: په دې مقام (الحمد لله) کښې لفظ،،الله،، د الله تعالى د نورو صفتی نومونو مثلاً (خالق، رازق وغيره) په مقابله کښې ولې اختيار کړو حالانکه صفتی نومونه په ذات مع الصفات باندې دلالت کوی.

جواب. الله د يو معبود ذات نوم دې کوم چې ټولود کمال صفتونوته جامع دې. دالله تعالى څخه سوا باقي ټول نومونه صفتي دي که دالله تعالى په ځاني بل صفتي نوم اختيار کړې وې نو چاته دا وهم کيدې شو چې الله تعالى هم ددې صفتي نوم په وجه د حمد مستحق دې نه چې د خپل ذات په اعتبار سره، ځکه چې ديو صفت د يو حکم سره متعلق کيدل په دې خبره دلالت کوي چې هم دا وصف ددې حکم علت دې اودا خبره باطله ده ځکه چې الله تعالى څنگه د خپل صفاتو په اعتبار سره مستحق د حمد دې دغه شان د ذات په اعتبار سره هم يوشان مستحق د حمد دې

قوله {رَبِّ الْعَالَمِينَ} أَيْ مَالِكِ: رَبّ مصدر دې په معنى د تربية سره، رَبّ د الله صفت د مبالغې په طور راوړلې شوې دې، د رب متعدّد معانې راځي، سيد، مالک، معبود، مصلح وغيره، د مناسب مقام په وجه مفسر علام د مالک معنى اختيار کړې ده. لهذا رب په الله باندې د حمل کولو د عدم جواز اعتراض نه واقع کيږي.

قوله وَهو إِرَادَةُ الخيرلأهله: په دې اضافې سره د مفسر علام مقصد د يو سوال جواب دې رحمن او رحيم دواړه د مبالغې صيغې دې او د رحمت څخه مشتق دي اود رحمت معنى رقت قلب ده اودا معنى دالله تعالى دصفاتو سره ممتنع ده.ځکه چې د رقت قلب دپاره د قلب ضروري وي او الله تعالى د قلب څخه منزه او پاک دې.

جواب دالله تعالى دپاره رحمت اطلاق د غايت او انجام په اعتبار سره دې يعنى د رقت قلب نتيجه اوانجام په خيرباندې اماده کول وي نودلته د رحمت ذکرکولې شي اومراد ترې د رحمت انجام چې خير دې هغه وي.

قوله مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ : په مَلِك کښې دوه قرائتونه دي، يوپه الف سره يعنى مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ، او دويم په حذف د الف سره يعنى مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ» په دويم قرأت کښې هيڅ اشکال نشته، يعنى هغه د بدلې د ورځې بادشاه دې، په ړومبي قرأت يعنى مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ کښې اشکال دې

سوال:- مالک اسم فاعل دې او ددې اضافت،اضافت لفظيه وي، کوم چې د تعريف مفيد نه وي نو دا د الله تعالى صفت جوړيدل صحيح نه دي ځکه چې الله معرفه دې او مالک يوم الدين نکره دې، او نکره د معرفه صفت نشي واقع کيدې ؟

جواب: د جواب حاصل دا دې چې د اسم فاعل څخه چې کله د حال يا استقبال قصد اوکړې شي نو اضافت لفظيه وي او که ددې څخه ماضي يا استمرار اراده کړې شي نو دا اضافت حقيقيه وي کوم چې د تعريف مفيد وي او دالله تعالى په ټولو صفتونو کښې استمرار او دوام مراد وي نو اوس څه اشکال نه پاتې کيږي.

قوله: وَغَرَضٌ بِالذِّكْرِ: په دې عبارت سره هم د يو سوال جواب مقصود دې.

سوال: په مالک يوم الدين کښې د يوم جزاء تخصيص ولې کړې شوې دې حال دا چې الله تعالى د ټولو زمانو او مکانونو مالک دې؟

جواب: ديوم جزاء څخه علاوه په دنيا کښې دانسانانو ملکيت هم وی اګرچې مجازی او عارضی وی اود قيامت په ورځ به د چا مجازی او عارضی ملکيت هم نه وی د قيامت په ورځ به الله تعالى تپوس اوکړی «لمن الملک اليوم» د جواب ورکولو والا به څوک نه وی نو الله تعالى به پخپله جواب اوفرمائی «لله الواحد القهار» نومفسر په خپل قول «لا ملک ظاهراً فيّ لاحد الا له تعالى» اوپه دې کښې ئې دغه جواب ته اشاره اوکړه.

قوله: تَخُصُّكَ بِالْعِبَادَةِ: ددې اضافې مقصد دا ښودل دی چه اِيَّاكَ د مفعول تقديم، په تخصص باندې دلالت کولو دپاره دې، په اصل کښې نَعْبُدُكَ وو.

قوله: أَيْ أَرْشِدْنَا إِلَيْهِ أي اثبتنا عليه: ارشاد په معنى داثبات دې، څکه چه هدايت خو حاصل شوې دې، لهذا اوس په دې باندې هميشوالې رانصيب کړې.

قوله: وَيُبْدَلُ منه {صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ}: دا بدل الکل من الکل دې، دا د الصراط المستقيم د مدح او تاکيد دپاره راوړلې شوې دې.

قوله: وَيُبْدَلُ مِنْ الذين بصلته: يعنى الذين سره دخپلې صلې نه مبدل منه ده، او غير المغضوب عليهم ددې نه بدل دې، په دې کښې مبدل منه معرفه او بدل نکره ده، اودا صحيح نه ده.

سوال: غيرچه کله د دوه متضاد څيزونو په مينځ کښې واقع شى، نوهغه معرفه کيږى. لکه څنګه چه دلته واقع دې، څکه چه انعمت عليهم او مغضوب عليهم دواړه په خپل مينځ کښې متضاد دى، او بعضې حضراتو غيرالمغضوب د الذين انعمت صفت ګرځولې دې، خوپه دې صورت کښې به دا اشکال وی چه د معرفه صفت نکره صحيح نه دې؟

جواب: موصول، په ابهام کښې مشابه بالنکرات دې، لهذا ددې سره د نکره په شان معامله شوې ده.

دويم جواب: غير چې کله بين الضدين واقع شى نو دهغې نکارت ختميږى لکه څرنګه چه دلته مابين الضدين واقع دې، لهذا هيڅ اشکال پاتې نشو

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

[٢] سورة البقرة

سورة البقرة مدنية مائتان وست او سبع وثمانون اية

سورت بقره مدنی سورة دې ٢٨٦ ٢٨٧ آياتونه دی

[اياتونه: ١ - ٧]

بسم الله الرحمن الرحيم {الم} اللّٰه أعلم بمُرَادِهِ بِذَلِكَ {ذَٰلِكَ} أَيْ هَذَا {الْكِتَابُ} الَّذِي يَقرؤه محمد {لَا رَيْبَ} لا شك {فِيهِ} أَنَّهُ مِن عِند الله وَجُمْلَة النفي خبر مُبْتَدَؤُهُ ذَلِك وَالإِشَارَة بِهِ لِلتَّعْظِيمِ {هُدًى} خبر ثانٍ أَيْ هَادٍ {لِلْمُتَّقِينَ} الصَّائِرِينَ إِلَى التَّقْوَى بِامْتِثَالِ الْأَوَامِرِ وَاجْتِنَابِ النَّوَاهِي لِاتِّقَائِهِمْ بِذَلِكَ النَّارَ {الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ} يُصَدِّقُونَ {بِالْغَيْبِ} بِمَا غَابَ عَنْهُمْ مِنَ الْبَعْثِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ {وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ} أَيْ يَأْتُونَ بِهَا بِحُقُوقِهَا {وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ} أَعْطَيْنَاهُمْ {يُنْفِقُونَ} فِي طَاعَةِ اللّٰه {وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ} أَيْ الْقُرْآن {وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ} أَيْ التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيل وغيرهما {وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ} يعلمون {أُولَٰئِكَ} الْمَوْصُوفُونَ بِمَا ذُكِرَ {عَلَىٰ هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} الْفَائِزُونَ بِالْجَنَّةِ النَّاجُونَ من النار {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا} كَأَبِي جَهْل وَأَبِي لَهَب وَنَحْوهمَا {سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ} بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَالِ الثَّانِيَة أَلِفًا وَتَسْهِيلهَا وَإِدْخَال أَلِف بَيْن الْمُسَهَّلَة وَالْأُخْرَى وَتَرْكه {أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ} لِعِلْمِ اللّٰه مِنْهُمْ ذَلِكَ فَلَا تَطْمَع فِي إِيمَانهمْ وَالْإِنْذَار إِعْلَام مَعَ تَخْوِيف {خَتَمَ اللّٰهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ} طَبَعَ عَلَيْهَا وَاسْتَوْثَقَ فَلَا يَدْخُلهَا خَيْر {وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ} أَيْ مَوَاضِعه فَلَا يَنْتَفِعُونَ بِمَا يَسْمَعُونَهُ مِنَ الْحَقّ {وَعَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ} غِطَاء فَلَا يُبْصِرُونَ الْحَقّ {وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ} قوي دائم

ترجمه:- شروع كوم په نامه دَ الله چې دير بخښونكې اومهربان دې. ﴿الم﴾ هم الله تعالى دَدې لفظ نه خپل مراد پيژندونكې دې. داكتاب دې كوم چې محمد ﷺ ئې لولي. په دې كښې هيڅ شک نشته چې داد الله تعالى دَطرف نه دې او جمله يعنى ﴿لَا رَيْبَ فِيهِ﴾ خبر دې دَ كوم مبتدا چې ﴿ذٰلِكَ﴾ دې او دَاسم اشاره بعيداستعمال دَ تعظيم دَبيان دَپاره دې. ﴿هُدًى﴾ خبر ثانى دې او په معنى كښې دَ﴿هَادٍ﴾ دې. دَ پرهيزګارانو دَپاره لاره خودونكې دې (يعنى) دَ امتثال اوامر او دَ اجتناب نواهى په ذريعه دَتقوىٰ رغبت لرونكې دې(هم دَ دې امتثال او اجتناب) د بركته دَ جهنم دَ اورنه دَبچ كيدو په وجې دوى ته متقى اووئيلې شو دا هغه خلق دى چې په غائبوباندې ايمان لرى يعنى په هغه خيزونو چې دَدوى نه پټ دى مثلاً بعث بعد الموت دَ جنت او دوزخ تصديق كوى او مونځ قائموى يعنى سره دَاركانو او شرائطو نى اداكوى او مونږ چې دوى ته كوم رزق وركړې دې دَهغې نه دَالله تعالى په اطاعت كښې خرچ كوى اودا هغه خلق دى چې په دې قرآن باندې ايمان لرى كوم چې په تاباندې نازل كړې شوې دې

او په هغې هم کوم چې ستانه وړاندې نازل کړې شوي دي يعني تورات انجيل وغيره اوهغوی په آخرت باندې هم يقين لري يعنی دهغې پوخ علم لري. هم دغه خلق کوم چې په مذکوره صفاتو باندې متصف دی دخپل رب دطرف نه (څخه) په هدايت باندې دی اوهم دغه دی چې پوره کامياب دی يعنی د جنت د (حصول) په ذريعه کامياب اود دوزخ داور نه خلاصې بيامونده ونکی دی. بيشکه هغه خلق کوم چې منکرشو لکه ابوجهل او ابولهب وغيره ستاسو هغوی لره ويرول اونه ويرول برابردی. ﴿ءَأَنْذَرْتَهُمْ﴾ کښې د دواړو همزاؤ تحقيق اودويم لره په الف سره بدلول او په دويم کښې ترک تسهيل کولوسره اود مُسَهّله او محققه په مينځ کښې الف داخلولو سره (او ثانی کښې) ترک تسهيل کولو سره هغوی ايمان راوړونکی نه دی ځکه چې داخبره د هغوی باره کښې د الله تعالی په علم کښې شته لهذا تاسو دهغوی دايمان اميد مه لرئی او انذار په خوف سره ويرولوته وائی الله تعالی دهغوی په زړونو باندې مهرونه لګولی دی اوهغه ئی سيل (Seel) کړی دی لهذا اوس په هغې کښې خيرنه شی داخليدلې اودهغوی د اوريدو (قوت) يعنی په غوږونوباندې (معنوی) مهرلګولې شوې دې هم دغه وجه ده چې دحق خبرې اوريدو سره مستفيدکيږی نه اودهغوی په سترګوباندې پرده ده چې دهغې د وجې نه حقه خبره نه شی کتلې اودهغوی د پاره سخت اودهميشه عذاب دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

د سورة وجه تسميه:- سورة په لغت کښې اوچتوالی يا اوچت منزل ته وائی. (لسان، راغب) يعنی هرسورت د اوچتې مرتبې والا دې. د سورت يومعنی فصيل (د ښارديوال) ته هم وائی. د ښارد خلورو واړو طرفوديوال ته سورالمدينة وائی. قرآنی سورتونوته د سورت ونيلووجه داده چې داخپل مضامينو لره هم دغه شان احاطه کونکې وی لکه څنګه چې د ښارديوال ښار راګير کړې وی.

قوله: ذٰلِكَ:- اسم اشاره د بعيد دپاره ده دکوم مشاراليه چې دمحسوسات نه وی يعنی په حواس خمسه ظاهره سره چې د کوم ادراک کولې شی.

قوله: رَيْبَ: شك شبه. هوالتردد بين النقيضين لاترجيح لاحدهما على الآخر عندالشاك.

قوله: هُدًى. دهدايت نه ماخوذدې. په معنی دلارخودنه(لار ښودونی).

قوله: غَيْبِ: هرهغه څيز (شئ) کوم چې دانسان د حواس خمسه نه غائب وی.

قوله: يُقِيْمُوْنَ:- داقامت نه ماخوذ دې د کوم معنی چې نيغول دی اود مونځ سيدا کول يعنی ادا کول ددې د آدابو او شرائطو لحاظ کول او په خشوع اوخضوع سره ادا کول دی

قوله: رِزْقِ:- د ژوند تيرولوسامان.

قوله يُنْفِقُوْنَ: دا دَ انفاق نه ماخوذ دي په معنى دَخرچ کولو.

قوله اٰخِرَة: مؤخراو روستوراتلونکي څيز دلته تيري دَعالم دنيا په مقابله کښې عالم آخرت مراددي.

قوله يُوْقِنُوْنَ: دَايمان نه ماخوذ دي جمع مذکرغائب.

قوله مُفْلِحُوْنَ: افلاح نه ماخوذ دي فلاح پوره کاميابئ ته وائى.

قوله سَوَآءٌ: دا اسم دي قائمقام دَ مصدر هم دغه وجه ده چې دَدې تثنيه اوجمع نه راځى ونيلې شى هماسواء هم سَوَآءٌ اوکله چې دَدې تثنيه راورل وى نوونيلې شى. هماسيّان غِشَاوَةٌ په وزن دَفعالة. دا وزن په يوڅيز باندې مشتمل کيدو د معنى ظاهرولودپاره استعماليږى لکه : عصابه او عمامه، دغشوة په غين باندې درې واړه حرکته صحيح دى. دَدې معنى سرپټول دى دا مصدر هم دې مگر دې ځائى کښې ترينه پټونکې څيزمراددې.

قوله هٰذَا: **سوال**:- دَ ذلك تفسير ئې په هذا سره ولې اوکړو.

جواب:- ذلك: په معنى د هذا دې ځکه چې دَ ذٰلِكَ مشاراليه، الٓمٓ يا قرآن کريم دې اودواړه ډيرزيات نزدې دى.

سوال:- نوبيا دَ ذٰلِكَ په ځائى باندې ئې هذا ولې استعمال نه کړو؟

جواب:- بيان دَتعظيم دَپاره ئې اسم اشاره دَ بعيداستعمال کړه.

قوله:- اَلَّذِيْ يَقْرَؤُهٗ مُحَمَّدٌ ﷺ: په دې سره دَ نورو آسمانى کتابونونه احتراز اوکړې شو

قوله. اَنَّهٗ مِنْ عِنْدِاللهِ دَاضافه کولو مقصد دَيواعتراض جواب دې.

اعتراض:- (الکتاب) مفرد دې او په مفردکښې دَ شك هيڅ يومطلب نه وى ځکه چې شك اوظن اودَ علم تعلق د قضيه سره وى.

جواب:- الکتاب مفردنه دې بلکه قضيه ده دَدې تقديرى عبارت دادې ذلك الکتاب انه من عندالله.

قوله. اَلصَّائِرِيْنَ اِلَى التَّقْوٰى:

سوال:دَ لِلْمُتَّقِيْنَ تفسير په الصَّائِرِيْنَ اِلَى التَّقْوٰى سره کولوکښې څه نکته ده؟

جواب:- دَدې تفسيرنه دَ يوسوال مقدر جواب مقصوددې.

سوال:- سوال دادې چې په هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ کښې تحصيل د حاصل دې يعنى دا کتاب متقيانوته هدايت ورکونکې دې. متقيانوته هدايت ورکولونه څه مراد دې ځکه چې

متقي خو پخپله هدايت يافته وي.

جواب:- دَجواب حاصل دادې چې دَمتقين نه مراد راغبين الى التقوٰى دي.

قوله: لِإتقائهم بذلك النار دَ اضافه مقصد متقي ته دَ متقي وئيلو وجه بيانول دي. متقي ته دَهغه دَاعمال صالحه په ذريعه سره به چونكه دَ دوزخ نه بچ كولې شي په دې وجه ده ته متقي وائي.

قوله: كـأبي جهل وابي لهب وغيرهما، دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال:- إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ په دې آيت كښې دَ عموم سره وئيلې شوى دى چې ستاسو سره دوى ويرول اونه ويرول برابردى په دوى كښې يوهم ايمان راوړونكې نشته حالانكه هم دَدې حضراتو نه ډيرخلق په اسلام مشرف شوى دى.

جواب:- مفسرعلام إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا تفسير په كابى جهل وابى لهب سره كولوكښې اشاره اوكړه چې دَعموم نه بعضې كسان مراد دى اودَ چا ايمان نه راوړل چې دَالله تعالى په علم كښې متعين وو لكه ابوجهل او ابولهب.

قوله: ءَأَنذَرْتَهُمْ: په دې كښې پنځه قراءتونه دى اودَ دواړو همزاګانو دَتحقيق په ثابت پاتې كيدو په صورت كښې دوه قراءتونه دى: ① دَ دواړو همزه ګانو په مينځ كښې الف داخلولوسره ② ترك ادخال كولوسره دَدويم همزه تسهيل په صورت كښې هم دوه قراءتونه دى. ③ ادخال الف ④ ترك ادخال الف ⑤ پنځم قراءت دويم همزه په الف سره بدل كول او په ادخال الف كښې واؤ په معنى دَمع دې. اى مع ادخال الف. مذكوره پنځه واړه قراءتونه صاحب جلالين ﷫ په دې ترتيب سره بيان كړى دى: ① تحقيق همزتين (يعنى تحقيق محض بلا ادخال) ② ابدال ثانيه بالالف مع المد ③ تسهيل محض (بلا ادخال الف) ④ تسهيل بلاادخال ⑤ ادخال مع تحقيق ثانيه.

الٓمٓ دَمبتدامحذوف خبر كيدودَ وجې نه محلاً مرفوع دې. تقديرى عبارت دادې هذا الٓمٓ، ذلك اسم اشاره مبتداء اومحلاً مرفوع الكتاب ذلك دَ مبتداء خبر اول لَا رَيْبَ فِيهِ خبرثانى تقديرى عبارت دادې لَا رَيْبَ كائن فِيهِ لا نفى جنس رَيْبَ دَدې اسم فيه، كائن سره متعلق شو جمله شوه دَ ذلك خبر ثانى، هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ خبرثالث.

قوله: ءَأَنذَرْتَهُمْ ومبې همزه استفهاميه دَ تسويه دَپاره ده. ءَأَنذَرْتَهُمْ په تاويل د مصدر سره مبتداء دې او سَوَاءٌ عليهم خبرمقدم دې اوداهم كيدې شى چې سَوَاءٌ جارى مجرىٰ مصدراو د ءَأَنذَرْتَهُمْ فاعل جمله كيدو سره دَ إِنَّ خبرشى.

سوال - په انذار او اخبار بالعذاب كښې څه فرق دې؟

جواب:- انذار په داسې وخت كښې ويرولو ته وائي چې دَ امر مخوف منه نه احتراز ممكن وي ګنې اخبار بالعذاب به ورته وئيلې شي (اي في وقت يمكن التحرز من الامر المخوف والا فهو اخباراً بالعذاب) (صاوى)

قوله خَتَمَ اللهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ: دا اودَې مابعدِ دَماقبل دپاره علت دې يعنى داخلق ايمان څكه نه راوړى چې دَدوى په زړونوباندې مهرلګولې شوې دې.

سوال:- دَمهرلګولو نه څه مراددې؟ حالانكه دا يو امر مشاهده دې چې ترننه پورې دَ يو كافرپه زړه باندې هم مهرلګيدلې په نظر نه راځي حالانكه دَ آپريشن په ذريعه دَډېرو زړونو مشاهده كولې شى.

جواب:- دَ قلب نه مراد عقل دې كومه چې يوه لطيفه ربانيه ده چې قلب صنوبرى سره قائميږى لكه چې دَ عرض قيام جوهرسره او دَحرارت قيام د اور سره كيږى دَدې اتصال كيفيت دَ الله تعالى نه علاوه څوك نه پيژنى.

قوله: اى مَوَاضِعَهُ: دَ يوسوال جواب دې.

سوال:- مضاف دَ كومې فائدې دَپاره محذوف منلې شوې دې؟

جواب:- دادې چې سمع يومعنوى شئ دې دَدې طرف ته دَختم نسبت كول صحيح نه دې په دې وجه مضاف محذوف اومنلې شو او اوخودلې شو چې دَ سمع نه مراد مواضع السمع ده په كوم چې مهر لګيدلې شى.

سوال:- سمعُ لره مفرد راوړلو كښې څه حكمت دې سره دَدې چې قلوب او ابصار جمع راوړلې شوى دى.

جواب:- ياخودَدې دَپاره چې سمعٌ مصدردې اودَ مصدرتثنيه اوجمع نه شى راتلې يادَدې دَپاره چې مسموع واحددې. وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ كښې وقف تام شو وَعَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ خبرمقدم دې اوغِشَاوَةٌ مبتداء مؤخر او جمله مستانفه ده.

قوله:قوي دَائِمٌ: دَ عَظِيمٌ تفسير دَ قوى دائم سره كولومقصد دَهغه شبه جواب وركول دى چې عَظِيمٌ دَ اجسام صفت واقع كيږى لكه چې لَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ او عذاب دَ قبيلى د معنى دته دى لهذا عَظِيمٌ دَ عذاب صفت راوړل صحيح نه دى. دَ جواب خلاصه داده چې عَظِيمٌ قَوِيٌّ دائمٌ په معنى كښې دې كوم چې دَ معنى صفت واقع كيږى.

[اياتونه: ٨-١٠]

ونزل في المنافقين {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ} أي يَوم القِيامة لِأَنَّهُ آخِر الأَيَّام {وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ} رُوعِيَ فِيهِ مَعْنَى مِنْ وَفِي ضَمِير يَقُول لَفظها {يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا} بِإظْهَار خِلاف مَا أبطَنوهُ مِنَ الكُفر لِيَدفَعُوا عَنهُمْ أحكَامه الدُّنيَوِيَّة {وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ} لِأَنَّ وَبَال خِداعهم رَاجِع إلَيهِمْ فَيَفتَضِحُونَ فِي الدُّنيَا بِإطِّلاعِ اللَّه نَبِيّه عَلَى مَا أبطَنوهُ وَيُعَاقَبُونَ فِي الآخِرَة {وَمَا يَشْعُرُونَ} يَعلَمُونَ أنَّ خِداعهم لِأَنفُسِهِمْ وَالْمُخَادَعَة هُنَا مِنْ وَاحِد كَعَاقَبْت اللِّصّ وَذِكر اللَّه فِيهَا تَحسِين وَفِي قِرَاءَة وَمَا يَخدَعُونَ {فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ} شَكّ وَنِفَاق فَهُوَ يُمرِض قُلُوبهمْ أي يُضعِفهَا {فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا} بِمَا أنزَلَهُ مِنَ القُرآن لِكُفرِهِمْ بِهِ {وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤلِم {بِمَا كَانُوا يُكَذِّبُونَ} بِالتَّشدِيدِ أي نَبِيّ اللَّه وَبِالتَّخفِيفِ أي قَولهمْ آمَنَّا

ترجمه:-(آئنده آيت)دَ منافقانوباره كښې نازل شوې دي. او بعض خلق داسې هم دی چې وائی چې مونږ په الله تعالى باندې او په ورځ دَآخرت باندې ايمان راوړې دې يعنی دَ قيامت په ورځ څکه چې هغه آخر الايام ده حالانکه هغوی (بالکل) ايمان نه راوړنکی نه دی. (دَ هم ضمير جمع راوړلو کښې) دَ مَنْ دَمعنی رعايت کړې شوې دې اودَ يقول ضمير (واحد راوړلو کښې) دَ مَنْ دَ لفظ رعايت کړې شوې دې (بلکه) دَ هغوی الله اود ايمان راوړونکوسره دهوکه بازی کوی. دَخپل دغه کفريه خلاف به ئې ظاهرول کوم چې هغوی پټ کړې دې دې دَپاره چې هغوی دَخپل ځان نه دَ کفر دنياوی احکام لرې کړې شی حالانکه (فی الواقع) هغوی چاته دهوکه نه ورکوی بغير دَخپل ذات نه ځکه چې دَهغوی دَدهوکې وبال هم په هغوی باندې راپريوتونکې دې. او هغوی به هم په دنياکښې ذليله کيږی يعنی الله تعالى خپل نبی لره په دغه انفاق باندې خبردار کولو په وجه کوم چې هغوی پټ کړی دی او په آخرت کښې به هغوی ته سزا ورکولې شی اوهغوی ته دَدې احساس هم نشته يعنی دَدې خبرې علم نه لری چې دَهغوی دَ دهوکه کولو (ضرر) هم دَهغوی دَپاره دې او مُخَادِعَة (مفاعلة) دلته دَ يوطرف نه دې لکه په عاقبت اللص کښې اودَالله تعالى ذکر دَتحسين (ښائست) دَپاره دې او په يوقراءت کښې وَمَا يَخْدَعُوْنَ دې اودَ هغوی په زړونوکښې يوه بيماری ده چې دَهغوی زړونه مريض يعنی کمزورې کوی نو الله تعالى دَ هغوی بيماری زياته کړه په سبب دَهغې چې الله تعالى قرآن نازل کړو اوهغوی انکارکوی. اودَ هغوی دَ دروغو دَ وجې دَهغوی پاره دردناک عذاب دې. (يُكَذِّبُوْنَ) په تشديد سره يعنی دَالله تعالى دَ نبی تکذيب کوی اودَ (ذال په نخفيف سره) يعنی په خپل قول آمَنَّا کښې دروغژن دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَمِنَ النَّاسِ: مِن تبعیضیه دې النّاس اصل کښې أُنَاسٌ وو همزه تخفیفًا حذف کړې شو. په سورت اسراء کښې دا اصل استعمال شوې دې. ﴿ يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ ﴾ دَ سیبویه او فراء په نیز دَ اناس ماده همزه، نون، سین، دې اودَ کسائی په نیز دَدې ماده نون، واو، سین ده. دا دَ النوس نه مشتق دې دَدې معنی حرکت کول دی. نَاسَ يَنُوسُ نَوْسًا حرکت کول، دَ ابونواس شاعر چې اصل نوم ئې حسن بن هانی وو ابونواس به ئی ورته ځکه وئیلو چې دَهغه دَ ویښتو دوه لړونو(کوڅیو) به هوا سره حرکت کولو. (لغات القرآن للدرویش)

واؤ استینافیه یا عاطفه مِنَ النَّاسِ خبرمقدم مَنْ يَقُولُ اٰمَنَّا مبتداء مؤخر (دویم ترکیب) مِنَ النَّاسِ، فَرِيقٌ، بِأُنَاسٍ دموصوف محذوف صفت دې او موصوف باصفت مبتداء او مَنْ يَقُولُ الخ جمله کیدو سره خبر.

قوله وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ: باء دَ حرف جر اعاده ئې دَخپل ایمان دَدعوې دَ تاکید دَپاره کړې ده الله تعالی دَ هغوی دَایمان دَعوی لره په خپل قول ﴿ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ نه په ابلغه او ډیره زیاته مؤکده طریقه سره رد کړې ده او هغه په دې توګه چې جمله اسمیه استعمال کړه کومه چې په همیشه والی او استمرار باندې دلالت کوی یعنی هغوی به په یوه زمانه کښې هم متصف بالایمان پاتې نه شو نه په ماضی کښې وو او نه حال کښې او نه به راتلونکی وخت کښې مؤمنان وی او په خبر باندې دَ حرف جر اضافه دَ تاکید دَپاره اوفرمائیله.

قوله وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ: واؤ حالیه دې ما مشابه بلیس، هُمْ دَ دې اسم بِمُؤْمِنِينَ دَدې خبر باء زائده دَ تاکید دَپاره.

قوله: اى يَوْمِ الْقِيَامَةِ: دَدې عبارت دَ اضافه کولو مقصد دَ یوې شبه جواب دې.

شبه. شبه داده چې په آخرایام باندې ایمان راوړل دَ موجباتو د دین نه نه دی نودَدې منکر ته کافر ولې وئیلې شی؟

جواب:- یوم الآخر نه مراد یوم القیامة دې یعنی دَ حساب کتاب او دَ اعمالو دَ بدلې ورځ ده او دا دَ موجباتو د دین نه دی.

قوله: لِأَنَّهُ آخر الايام: په دې عبارت سره ئې دَ یوم الآخر دَ وجې تسمیه طرف ته اشاره اوکړه.

قوله: يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: يُخٰدِعُوْنَ: دَ جمع مذکرغائب صیغه ده او باب دې (مفاعلة) هغوی په خپل مینځ کښې دهوکه ورکوی. اَلْخِدَاعُ په لغت کښې فساد او اِخفاء

ته وائی. او مُخَدَّعُ میم مثلث سره په لویه کمره کښې وړه کمره یعنی کوټنړئی ته وائی په کوم کښې چې مال او اسباب پټ ایږدی. (فتح القدیر شوکانی) يُخَادِعُوْنَ: جمله استینافیه هم کیدې شی په دې صورت کښې به د یو سوال مقدر جواب شی.

سوال:- به داوی چې دَ باطن خلاف دا منافقان دَ ایمان اظهارولې کوی؟

جواب:- الله تعالی ته دَ دهوکې ورکولو دَپاره داهم کیدې شی چې يُخٰدِعُوْنَ دَ يقول ضمیرنه حال وی ای مُخَادِ عین الله الخ (اعراب القرآن) اود يَقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللهِ نه بدل اشتمال هم کیدې شی.

قوله: مِنَ الْكُفْرِ دا دَ مَا أَبْطَنُوْا بیان دې.

قوله: لِيَدْفَعُوْا دا دَ اظهار ایمان علت او وجه دې.

قوله: أَحْكَامَهُ: ای احکام الکفر اودَ احکام کفرنه دنیاوی احکام مراد دی. یعنی منافقان دَ باطن خلاف دَ ایمان اظهاردَ گرفت نه دَ بچ کیدو دَپاره کوی. مثلاً دَ اظهار ایمان دَ وجې نه قتل او قید، جزیه او رسوائی نه محفوظ پاتې کیږی او دَ اسلام دَ مراعاتو نه فائده حاصلوی. (صاوی)

قوله. يَعْلَمُوْنَ لره په دَ يشعرون سره تعبیرکولو وجه داده چې دَ علم ذریعه هم مشاعر خمسه دی که ظاهری وی او که باطنی.

قوله: اَلْمُخَادَعَةُ هُنَا مِنْ وَّاحِدٍ: دَدې عبارت دَ اضافه کولو فائده دَ یو اعتراض جواب دې.

اعتراض: باب مفاعلة دَ طرفین نه دَ شرکت تقاضا کوی دَمنافقانودَ طرف نه خو مکراو خداع به پوهه کښې راځی خودَ الله تعالی دَ طرف نه دَدې نسبت په ذهن کښې نه راځی ځکه چې مکر او فریب د خصائل رذیله نه دی دَ کوم نه چې الله تعالی پاك دې.

جواب:- باب مفاعلة اګرچې دَ طرفینو نه دَ شرکت تقاضاکوی مګرداقاعده کلیه نه ده ځکه چې دَدې یو خاصیت موافقت مجرد هم دې لکه عاقبت اللص. وسَافَرَ په د معنی سَفَرَ لهذا خَادَعَ په معنی دَ خَدَعَ دې.

اعتراض: يُخَادِعُوْنَ الله: هغوی الله تعالی ته دهوکه ورکوی آیا الله تعالی دهوکه خوړلې شی؟ هغه خو علیم بذات الصدور دې دَهغه نه دَ چاهیڅ راز پټ نه دې. دهوکه خو هغه خوری چې دَ خادع دَ خدع او ماکر دمکر کولو مکر نه بې خبره وی.

جواب:-لفظ الله دَ تحسین کلام دَپاره دې معنی مقصودنه ده. تقدیر دعبارت داسې دې يُخَادِعُوْنَ رسول الله وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا یا مقصدتحسین معنوی دې په دې توګه چې دا

استعاره تمثیلیه ده، مشبه لره به د مشبه د پاره مستعار اخستې شوې دې. یعنی الله تعالی سره د منافقینو معامله د هغه سړی د حال سره تشبیه ورکړې ده کوم چې خپل صاحب سره د دهوکې ورکولو معامله کوی یا د مجازعقلی په توګه د الله تعالی طرف ته نسبت کړې شوې دې لکه د الله تعالی قول ﴿ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِی الْقُرْبٰی ﴾ کښې اسناد مجازی دې یا د مشاکلت په توګه د خداع نسبت د الله تعالی طرف ته کړې شوې دې لکه د الله تعالی قول ﴿ وَجَزٰٓؤُا سَیِّئَةٍ سَیِّئَةٌ ﴾ کښې.

قوله فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ: مرض، د طبیعت د اعتدال د حدنه وتلوته وائی د کوم په وجه چې افعال او افکارکښې خلل واقع کیږی. دلته د مرض نه مراد روحانی مرض دې او داهم احتمال دې چې بدنی مرض مرادوی کله چې ذا دواړه امراض خپل انتهاء ته اورسیږی نو د روحانی اوبدنی مرګ سبب کیږی.

روحانی امراض: مثلاً کفر، شرك شك نفاق جهل او بخل وغیره، علامه سیوطی رحمه الله خپل قول د شك اونفاق نه د روحانی مرض طرف ته او د یُمَرِّضُ قُلُوْبَهُمْ سره ئې بدنی مرض طرف ته اشاره کړې ده.

قوله مُؤْلِمٌ: د لام په فتحه سره ځکه چې فعیل په معنی د مفعول مستعمل نه دې (ترویح الارواح) عَذَابٌ مُؤْلَمٌ داسې سخت عذاب چې د سختوالی د وجې نه ئې پخپله عذاب هم اذیت محسوس کړې شی دا د مبالغه په توګه دې. ځکه چې اَلِیْمٌ صرف مَعذب صفت دې نه چې د عذاب بعض حضراتو مؤلِمٌ د لام په کسره سره هم ونیلې دې په دې صورت کښې د عذاب طرف ته به د اَلِیْمٌ نسبت حقیقی شی.

[ایاتونه: ۱۱-۱۵]

{وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ} أي لِهٰؤُلَاءِ {لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ} بِالْكُفْرِ وَالتَّعْوِيقِ عَنِ الْإِيمَانِ {قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ} وَلَيْسَ مَا نَحْنُ فِيهِ بِفَسَادٍ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى رَدًّا عَلَيْهِمْ {أَلَا} لِلتَّنْبِيهِ {إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلٰكِنْ لَا يَشْعُرُونَ} بذلك {وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ} أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ} الْجُهَّالُ أي لَا نَفْعَلُ كَفِعْلِهِمْ قَالَ تَعَالَى رَدًّا عَلَيْهِمْ {أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلٰكِنْ لَا يَعْلَمُونَ} ذٰلِكَ {وَإِذَا لَقُوا} أصله لَقِيُوا حُذِفَتِ الضَّمَّةُ لِلِاسْتِثْقَالِ ثُمَّ الْيَاءُ لِالْتِقَائِهَا سَاكِنَةً مَعَ الْوَاوِ {الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا} مِنْهُمْ وَرَجَعُوا {إِلَى شَيَاطِينِهِمْ} رُؤَسَائِهِمْ {قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ} فِي الدِّينِ {إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ} بِهِمْ بِإِظْهَارِ الْإِيمَانِ {اللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ} يُجَازِيهِمْ بِاسْتِهْزَائِهِمْ {وَيَمُدُّهُمْ} يُمْهِلُهُمْ {فِي طُغْيَانِهِمْ} بِتَجَاوُزِهِمُ الْحَدَّ فِي الْكُفْرِ {يَعْمَهُونَ} يَتَرَدَّدُونَ تَحَيُّرًا حَالٌ

ترجمه۔ کله چې هغوی ته وئیلې شی چې دَ کفر په ذریعه په ایمان کښې رکاوټ اچولو سره په زمکه کښې فساد مه خوره وئی نو جواب ورکوی چې مونږ خو صرف اصلاح کونکی یو او هغوی چې په کومه طریقه باندې دی هغه فساد نه دې. الله تعالی دَ دې تردید کولو سره اوفرمائیل خبردار! په حقیقت کښې هم دغه خلق مفسدان دی. الاَ دَ تنبیه دَپاره دې مګر دوی ته دَ دې شعورنشته اوکله چې هغوی ته وئیلې شی چې د خلقو (یعنی) د نبی کریم ﷺ دَ صحابه کرامو په شان تاسو هم ایمان راوړئی نو هغوی جواب ورکوی چې آیا مونږ دَ بې وقوفانو (یعنی) جاهلانو په شان ایمان راوړو؟ یعنی مونږ داسې نه کوو. خبردار په حقیقت کښې خودوی پخپله بې وقوفان دی لیکن په دې هغوی نه پوهیږی. اوکله چې دوی اهل ایمان سره ملاویږی (اِذَا لَقُوْا) دَدې اصل لَقِيُوْا وو ضمه په یاباندې ثقیله ګنړلو سره حذف کړې شوه بیا یاء واؤ سره دَ التقاء ساکنین دَ وجې نه ساقط شوه نو وائی چې مونږ ایمان راوړلې دې اوکله چې خپلو شیطانانو سردارانو سره ملاویږی نو وائی په دین کښې خو مونږ تاسو سره یو دَ ایمان اظهار کولو سره خو مونږ هغوی پورې توقې مذاق کوو. الله تعالی هغوی سره توقې کوی (یعنی) هغوی سره دَ استهزاء معامله کوی اوهغه دوی ته دَ دوی په سرکشئی کښې وخت ورکوی دَهغوی دَ حدنه تجاوز کولو دَ وجې نه دَ کفر په وجه حال دا دې چې هغوی په حیرانئی کښې ګرځی. (يَعْمَهُوْنَ) دَ ضمیر نه حال دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بِالْكُفْرِ: باء سببیه ده اَلْكُفْر، معطوف علیه اَلتَّعْوِيْق د خپل متعلق عن الایمان سره یوځائی کیدو سره معطوف، تَعْوِيْق، (تفعیل) منع کول، بندول، په یوکارکښې بندیزاچول. ای تعویق الغیرعن الایمان.

قوله: اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ: دا جمله حصر مبتداء فی الخبردَ قبیل نه ده. یعنی مونږ خوهم اصلاح کوو دَ اصلاح نه علاوه خوزمونږ بل څه کارنشته. منافقانوخپل دې قول اِنَّما کلمه حصر په ذریعه او د جمله اسمیه په ذریعه کوم چې دَ دوام او استمراردَپاره مفید ده مؤکد کړې ده. الله تبارك وتعالی دَدې جواب په داسې جمله سره ورکړې دې کوم چې په څلورو تاکیدونو سره مؤکددې اوهغه اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ ① اَلاحرف تنبیه ② اِنَّ ③ ضمیرفصل ④ تعریف خبر بالالف واللام(ای المفسدون).

قوله: اصحابُ النبي: د اَلنَّاسُ تفسیر ئې په اصحاب النبی سره کولو کښې اشاره اوکړه چې الناس کښې الف لام دَعهددې.

قوله: لَقُوْا مفسر اعلام دَدې پوره تعلیل نه دې فرمائیلې پوره تعلیل داسې دې لَقُوْا په

اصل کښي لَقِيُوا وو ضمه په ياء باندې دشوار (درنه) ګنړلوسره تخفيفًا اوغورزولې شوه اوس په ياء او واؤ کښې التقاء ساکنين اوشوه اودَ ياء او واؤ نه ياء ساقط شوه دَ واؤ په مناسبت سره دَ قاف کسره په ضمه سره بدله کړې شوه نو لَقُوْا شو.

قوله خَلَوْا مِنْهُمْ: مفسرعلام مِنْهُمْ مقدرمنلوسره دې طرف ته اشاره اوکړه چې دَخَلَوْا متعلق محذوف دې اودَ خَلَوْا تفسير ئې په رَجَعُوْا سره کولو کښې اشاره اوکړه چې خَلَوْا، رَجَعُوْا معنې لره متضمن دې دې دَپاره چې دَدې صله اِلٰی راوړل صحيح شي. خَلَوْا په اصل کښې خَلَوُوْا وو اول واؤ لام کلمه ده او دويم دَ اعراب علامت دې. رومبې واؤ متحرك او دَدې ماقبل مفتوح لهذا واؤ په الف باندې بدلولوسره التقاء ساکنين اوشوه په الف او واؤ ثانيه کښې الف پريوتلو اودَ حذف الف دَ علامت په توګه فتحه باقي پاتې شوه نو خَلَوْا شو.

قوله: يَعْمَهُوْنَ مضارع مذکر غائب (ف، س) هغوی سرګردان ګرځي اوحيران ګرځي يَعْمَهُوْنَ، ياخو يَمُدُّهُمْ کښې ضميرهم يا طُغْيَانِهِمْ کښې ضمير هم، نه حال دې دَدې مقصد دې طرف ته اشاره کول دی چې يَعْمَهُوْنَ دَمذکوره ضميرصفت نه دې خکه چې ضمير موصوف واقع کيږي.

[اياتونه: ١٦-٢٠]

{أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ} أَيْ اسْتَبْدَلُوهَا بِهِ {فَمَا رَبِحَتْ تِجَارَتُهُمْ} أَيْ مَا رَبِحُوا فِيهَا بَلْ خَسِرُوا لِمَصِيرِهِمْ إلَى النَّار الْمُؤَبَّدَة عَلَيْهِمْ {وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ} فِيمَا فَعَلُوا {مَثَلُهُمْ} صِفَتهمْ فِي نِفَاقهمْ {كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ} أَوْقَدَ {نَارًا} فِي ظُلْمَة {فَلَمَّا أَضَاءَتْ} أَنَارَتْ {مَا حَوْلَهُ} فَأَبْصَرَ وَاسْتَدْفَأَ وَأَمِنَ مِمَّنْ يَخَافهُ {ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ} أَطْفَأَهُ وَجُمِعَ الضَّمِير مُرَاعَاة لِمَعْنَى الَّذِي {وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَا يُبْصِرُونَ} مَا حَوْلهمْ مُتَحَيِّرِينَ عَنْ الطَّرِيق خَائِفِينَ فَكَذَلِكَ هَؤُلَاءِ أَمِنُوا بِإِظْهَارِ كَلِمَة الْإِيمَان فَإِذَا مَاتُوا جَاءَهُمْ الْخَوْف وَالْعَذَاب هُمْ {صُمٌّ} عَنْ الْحَقّ فَلَا يَسْمَعُونَهُ سَمَاع قَبُول {بُكْمٌ} خُرْس عَنْ الْخَيْر فَلَا يَقُولُونَهُ {عُمْيٌ} عَنْ طَرِيق الْهُدَى فَلَا يَرَوْنَهُ {فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ} عَنْ الضَّلَالَة {أَوْ} مَثَلهمْ {كَصَيِّبٍ} أَيْ كَأَصْحَابِ مَطَر وَأَصْله صَيْوِب مِنْ صَابَ يَصُوب أَيْ يَنْزِل {مِنَ السَّمَاءِ} السَّحَاب {فِيهِ} أَيْ السَّحَاب {ظُلُمَاتٌ} مُتَكَاثِفَة {وَرَعْدٌ} هُوَ الْمَلَك الْمُوَكَّل بِهِ وَقِيلَ صَوْته {وَبَرْقٌ} لَمَعَان صَوْته الَّذِي يَزْجُرهُ بِهِ {يَجْعَلُونَ} أي اصحاب الصيب {أَصَابِعَهُمْ} اي انامِلهم {فِي آذَانِهِمْ مِنَ} أَجْل {الصَّوَاعِقِ} شِدَّة صَوْت الرَّعْد لِئَلَّا يَسْمَعُوهَا {حَذَرَ} خَوْف {الْمَوْتِ} مِنْ سَمَاعهَا كَذَلِكَ هَؤُلَاءِ إِذَا نَزَلَ الْقُرْآن وَفِيهِ ذِكْر الْكُفْر الْمُشَبَّه بِالظُّلُمَاتِ وَالْوَعِيد عَلَيْهِ الْمُشَبَّه بِالرَّعْدِ وَالْحُجَج الْبَيِّنَة الْمُشَبَّهَة بِالْبَرْقِ يَسُدُّونَ آذَانهمْ لِئَلَّا يَسْمَعُوهُ فَيَمِيلُوا إلَى الْإِيمَان وَتَرْك دِينهمْ وَهُوَ عِنْدهمْ مَوْت {وَاللَّهُ مُحِيطٌ بِالْكَافِرِينَ} عِلْمًا وَقُدْرَة فَلَا يَفُوتُونَهُ {يَكَادُ} يَقْرُب {الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ} يَأْخُذهَا بِسُرْعَةٍ {كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُمْ مَشَوْا فِيهِ} أَيْ فِي ضَوْئِهِ

{وَإِذَآ أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا} وَقَفُوا تَمْثِيل لِإِزْعَاج مَا فِي الْقُرْآن مِنْ الْحُجَج قُلُوبهمْ وَتَصْدِيقهمْ لِمَا سَمِعُوا فِيهِ مِمَّا يُحِبُّونَ وَوُقُوفهمْ عَمَّا يَكْرَهُونَ {وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ} بِمَعْنَى أَسْمَاعهمْ {وَأَبْصَارِهِمْ} الظَّاهِرَة كَمَا ذَهَبَ بِالْبَاطِنَةِ {إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ} شَاءَهُ {قَدِيرٌ} ومنه إذهاب ما ذكر

ترجمه:- دا هغه خلق دی چاچې دَهدایت په بدله کښې ګمراهی اختیارکړه (یعنی) ګمراهی ئی په هدایت سره بدله کړه خودا سوداګرې دوی دَپاره دَ ګټې نه ده. یعنی دوی ته په دې سوداګښې ګټه اونه شوه بلکه خساره اوشوه دَهغوی دَ همیشه والی اور طرف ته ورتاویدلو دَ وجې نه اودوی په خپل طریقه کارکښې هیڅ کله په صحیح طریقه نه دی. اودَدوی کیفیت دَ دوی په نفاق کښې دَهغه سړی په شان دې چې په تیاره کښې ئی اور لګولې وی نوچې اور اطراف او جوانب روښانه کړل هغه ته هر څیز ښکاره کیدل شروع شو اود یخنئی تکلیف لرې شو اوویرې والا دَ څیزونو دَ ویرې نه په امن کښې شو نوالله تعالی دَهغه دَ کتلو نور واخستو (یعنی) هغه ئی مړکړو او (هم) ضمیر جمع راوړل دَ اَلَّذِیْ دَمعنی رعایت په اعتبارسره دې او هم په دغه تیاروکښې په دې حال کښې پریخودل چې هغوی ته په خپل خواږشا کښې هیڅ په نظر نه راځی اوحال دادې چې هغه دَ لارې په باره کښې حیران دې او ویریږی هم دغه کیفیت دَ هغه خلقو دې کوم چې دَ ایمان دَ کلمې په اظهارکولو سره په امن کښې شو اوکله چې مړه شی نو په هغوی به ویره اوعذاب مسلط کړې شی دوی دَ حق اوریدو نه کاڼه دی دَ کوم دَ وجې نه چې ئی دَ قبلولو په اراده نه اوری دَ خیر (کلمه) ونیلونه ګونګیان دی چې دا دَ ژبې نه نه اوباسی. دَ هدایت دَ لارې نه ړانده دی چې دې ته نه ګوری. پس دا خلق دَ ګمراهئی نه منع کیدونکی نه دی. یادَ دوی مثال دَهغه خلقو په شان دې چې دَ آسمان (اوریځونه) په زوره باران کیږی دَ (صَیِّبٌ) اصل صَیْوِبٌ وو، صَابَ یَصُوْبُ نه په معنی دَ یَنْزِلُ او په هغه اوریځوکښې سختې تیارې وی او بریښنا وی اوهغه فرښته ده چې په دې باندې مامورده او وئیلې شوی دی چې دا دَهغه فرښتې آواز دې او دا بریښنا دَهغې دَ کوړې پړق دې په کوم سره چې هغه اوریځې شړی. دا باران والا دَ (بجلئی) ګړځ اوریدوسره دَمرګ دَ ویرې نه خپلې ګوتې په خپلو غوږونوکښې ورکوی یعنی دَ ګړځ دَ آواز دَ سختوالی دَ وجې نه دې دَپاره چې هغوی واؤنری. هم دغه کیفیت دَهغه خلقو دې. کله چې قرآن نازلیږی او په هغې کښې دَکفر ذکردې چې دَ تیارو په شان دې او (په کفر) باندې وعیدې کوم چې دَ ګړځ یعنی د تندر په شان دې او دلیلونه دی کوم چې دَ پړق په شان دی خپل غوږونه بندوی چې دا واؤنری چرته (داسې نه وی) چې خپل دین ترک کړی اودَ ایمان طرف ته مائل شی اوداد هغوی په نیز مرګ دې. الله تعالی دادَ حق نه منکرین دَ (خپل) علم اوقدرت په احاطه کښې اخستې دی نودوی دَهغې نه بچ نه شی تللې. دَ پړق حالت دادې چې داسې

معلوميږي چې هغه به دَ دوی نظرونه واخلي چرته چې لږه شان رڼرا اوپرقيده نودَهغې په رڼراکښې روانيږي او کله چې په هغوی باندې تيارې خورېږي نو اودرېږي. دا دَ هغه تحريك تمثيل دې چې دَ قرآنی دلائلودَ وجې نه دَهغوی په زړونوکښې پيدا کيږي اودَهغوی دَ دغه خوښ کړې شوی څيز تمثيل دې کوم چې هغوی په قرآن کښې اوری اودَدې تمثيل دې کوم چې هغوی ناخوښه کوی دَهغې نه منع کيږی که چرې الله تعالی غوښتل نودَهغوی غوږونه اود هغوئ ظاهری بصارت به ئې بالکليه سلب کړې وو لکه چې دَهغوی باطنی بصارت ئې سلب کړو يقينًا الله تعالی چې څه غواړی په هغې قدرت لری او هم دغه (قدرت) کښې مذکوره سلب کول هم داخل دی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اِشْتَرَوا: اِشتِرَاءٌ نه ماضی جمع مذکرغائب، هغوی واخستل هغوی اختيارکړل. زجاج دَ واؤ په ضمه سره لوستلې دې د واؤ د جمع او واؤ اصليه په مينځ کښې فرق کولودَپاره او يحيى بن يعمر واؤ په کسره سره لوستلې دې التقاء ساکنين دَ قاعدې مطابق ابوالسماك عدوی واؤ په فتحه سره لوستلې دې دَ اخف الحرکات کيدو دَ وجې اوکسائی واؤ په همزه سره لوستلې دې.

قوله: اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ(الاية) اُولٰئِكَ مبتداء، اَلَّذِيْنَ اسم موصول اِشْتَرَوُا خپل مفعول الضلالة اوخپل متعلق سره يوځائی کيدوسره جمله صله شوه، موصول خپلې صله سره يوځائی شو نو جمله شوه او د اولئك دَ مبتداء خبردې.

قوله: اِسْتَبْدَلُوْهَا بِه: دَدې جملې دَ اضافه کولو فائده د يوسوال مقدرجواب دې.

سوال: ښرۍ په قيمت باندې دَ يوڅيز حاصلولوته وائی ځکه چې باء په ثمن باندې داخليږی لکه چې وئيلې شی اِشْتَرَيْتُ الْقَلَمَ بِالدِّرْهَمِ يعنی درهم ورکولوسره قلم واخستو دَدې مطلب داشو چې هدايت ئې ورکړو ګمراهی ئې واخسته حالانکه هدايت هغوی سره دَ سر نه وو نه نو د هدايت ورکولو او ضلالت اخستلو هډو سوال نه پيداکيږی؟

جواب:- شراء نه مراد استبدال دې کوم چې دَ شراء دَپاره لازم دې لکه چې ملزوم وئيلوسره ئې لازم مراد اخستې دې اودَ استبدال نه مراد اختيارول او ترجيح ورکول دی، يعنی دَ هدايت او ضلالت دواړه لارې دَهغوی مخې ته موجود وې اوهغوی په خپله مرضئی اواختيارسره ګمراهی اختيارکړه.

قوله: فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ: **سوال**:- فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ: کښې دَ ربح نسبت تجارت طرف ته کړې شوې دې حالانکه نفع اونقصان اوچتول دَ صاحب تجارت صفت دې نه چې دَ تجارت؟

جواب:- دا اسناد دَ مجاز عقلی په توګه دې لکه أَنبَتَ الربيعُ البَقْلَ کښې دې چې دا اسناد فعل الی ملابس الفاعل دَ قبیلې نه دې. عرب وائی رَبِحَ بَيْعُكَ وَخَسِرَتْ صَفْقَتُكَ.

قوله: لِيَصِيْرَهُمْ الى النَّار، دا دَ عدم ربح علت دې.

قوله: وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ: فِيْمَا فَعَلُوْا یعنی دَ تجارت کومه طریقه چې هغوی اختیار کړې ده په دې کښې سراسر نقصان او خساره ده یعنی نفع او اصلی سرمایه دواړه ضایع شو.

قوله: صِفَتُهُمْ فِی نفَاقِهِمْ: دَ مَثَلُهُمْ تفسیر ئې په صفتهم سره کولو کښې اشاره اوکړه چې دلته دَ مثل نه مراد مثل سائر نه دې بلکه دَهغې کیفیت او حالت مراد دې.

قوله: أَوْقَدَ، دَ اسْتَوْقَدَ تفسیر ئې په أَوْقَدَ دَسره کولو کښې اشاره اوکړه چې مزید په معنی دمجرد دې. په اِسْتَوْقَدَ کښې سین او تاء دَ طلب دَپاره نه دی.

قوله: أَنَارَتْ، دَ اَضَاءَت تفسیر ئې په أَنَارَتْ سره کولو کښې اشاره اوکړه چې اضاءت فعل متعدی دې په دې کښې ضمیر مستتر دَدې فاعل او مَا حَوْلَهُ جمله کیدو سره مفعول به دې او مَا په معنی دَ مکان دې ای أَضَاءَتْ مکان الَّذِی مَا حَوْلَهُ.

قوله: صُمٌّ دا دَ مبتداء محذوف خبر او جمله مستانفه ده او بُكْمٌ خبر ثانی دې او عُمْیٌ خبر ثالث دې. مذکوره درېواړه خبرونه سره دَدې چې په الفاظو کښې متبائن دی خو په معنی او مدلول کښې متحد دی. او هغه عدم قبول د حق دې په معنی دکوڼ صُمٌّ دَ اَصَمّ جمع ده، بُكْمٌ ګونګا او دا دَ أَبْكَمْ جمع ده او عُمْیٌ ړوند، دَاعمی جمع ده.

قوله: کصیب ای کاصحاب مطر په دې کښې دَحذف مضاف طرف ته اشاره ده او صَیِّب په معنی دَ باران صَیِّبٌ په اصل کښې صَیْوِبٌ په وزن دَ فعیل وو واؤ او یاء دواړه په یوه کلمه کښې راجمع شوه واؤ یاء کړې شو او دَیاء په یاء کښې ادغام اوکړې شو أَوْ دَ تردید دَپاره وې خو دلته دَ شك دَپاره نه دې بلکه د تنویع دپاره دی یا أَوْ په معنی دَ واؤ دې.

قوله: فیه ای فی السحاب دَ ظاهر نظم نه معلومیږی چې دَ فیه ضمیر دَ صَیِّبٌ طرف ته راجع دې لکه چې نورو مفسرینو دَ صَیِّبٌ طرف ته ضمیر راجع کړې دې. په معالم التنزیل کښې دی فیه ای فی الصیب او مفسر علامه سیوطی رحمه الله دَ السحاب طرف ته راجع کړې دې کوم چې دَ السماء مدلول دې مګر دا دظاهر نظم دَ آیت خلاف دې فیه کښې فی په معنی دَمع دې. او بعضې مفسرینو حضراتو دَ سماء طرف ته دَ فیه ضمیر راجع کړې دې او دَ سماء نه مراد ئې اوریځې اخستې دی هم دغه وجه ده چې دَ فیه ضمیر ئې مذکر راوړلې دې حالانکه دَ سماء استعمال دَ مؤنث په اعتبار سره اکثر دې.

قوله اي أنامِلَها: دَ اصابع تفسير ئې په انامل سره كولوكښې اشاره اوكړه چې دا دَمجاز معنوى دَ قبيل نه دې يعنى كل وئيلوسره جزء مراداخستې شوې دې نكته په دې كښې په عدم سماع كښې مبالغه كول دى.

قوله وَاللهُ مُحِيطٌ بِالْكَافِرِيْنَ: دا قصه په مينځ كښې جمله معترضه ده.

قوله مُحِيْطٌ په اصل كښې مُحْوِطٌ وو واؤمتحرك ماقبل حرف صحيح ساكن و واؤ كسره ماقبل ته وركړې شوه واؤ په ياء سره بدل كړې شو، محيطٌ شو.

قوله شَاءَهُ: دَ شئ تفسير ئې په شاءه سره كولوكښې دَ يوسوال مقدر جواب وركول مقصوددى

سوال:- شئ هغه خيزته وائى كوم چې موجود وى الله تعالى هم سره دَ خپل صفات او ذات مرجود دې لهذا سوال دادې چې الله تعالى په اشياء كښې داخل دې كه نه؟ اوكه نه وى نودَ الله تعالى لاشئ كيدل لازم راځى چې په ظاهره بطلان دې ځكه چې هغه موجود دې اوكه داخل دې نو بيا خو كل شئ هَالِكٌ په وجه سره لازم راځى چې هغه هم هالك دې؟

جواب:- شئ نه مراد هغه شئ دې كوم چې دَ الله تعالى په مشيت او اراده كښې داخل وى اودَ الله تعالى ذات په مشيت كښې داخل نه دې ځكه چې كوم شئ دَ مشيت او ارادې لاندې داخل وى هغه به حادث وى اوالله تعالى قديم دې.

[اياتونه: ۲۱-۲٤]

{يأيها النَّاس} أيْ اهل مَكّة {أُعْبُدُوا} وَحّدُوا {رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ} أَنْشَأكُمْ وَلَمْ تَكُونُوا شَيْئًا {وَ} خلق {الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} بِعِبَادَتِهِ عِقَابه وَلَعَلّ فِي الأَصْل لِلتَّرَجِّي وَفِي كَلَامه تعالي للتحقيق {الَّذِي جَعَلَ} خلق {لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشًا} حَال بِسَاطًا يُفْتَرَش لَا غَايَة فِي الصَّلَابَة أَوْ اللُّيُونَة فَلَا يُمْكِن الِاسْتِقْرَار عَلَيْهَا {وَالسَّمَاءَ بِنَاءً} سقفا {وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنْ} أنواع {الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا} شُرَكَاء فِي العِبَادَة {وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ} أَنَّهُ الْخَالِق وَلَا تَخْلُقُونَ وَلَا يَكُون إِلَهًا إِلَّا مَنْ يخلق {وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ} شَكّ {مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا} مُحَمَّد مِنَ الْقُرْآن أَنَّهُ مِنْ عِنْد الله {فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ} أَيْ الْمُنَزَّل وَمِنْ لِلْبَيَانِ أَيْ هِيَ مِثْله فِي الْبَلَاغَة وَحُسْن النَّظْم وَالْإِخْبَار عَنْ الْغَيْب وَالسُّورَة قِطْعَة لَهَا أَوَّل وَآخِر أَقَلّهَا ثَلَاث آيَات {وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ} آلِهَتكُمْ الَّتِي تَعْبُدُونَهَا {مِنْ دُونِ اللهِ} أَيْ مِنْ غَيْره لِتُعِينكُمْ {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِي أَنَّ مُحَمَّدًا قَالَهُ مِنْ عِنْد نَفْسه فَافْعَلُوا ذَلِك فَإِنَّكُمْ عَرَبِيُّونَ فُصَحَاء مِثْله وَلَمَّا عَجَزُوا عَنْ ذَلِك قَالَ تَعَالَى {فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا} ما ذكر لعجزهم {وَلَنْ تَفْعَلُوا} ذَلِك أَبَدًا لِظُهُور إِعْجَازه اعْتِرَاض {فَاتَّقُوا} بِالْإِيمَانِ بِاللَّهِ وَأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ كَلَام الْبَشَر {النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ} الْكُفَّار

{وَالْحِجَارَةُ} كَأَصْنَامِهِمْ مِنْهَا يَعْنِي أَنَّهَا مُفْرِطَةُ الْحَرَارَةِ تَتَّقِدُ بِمَا ذُكِرَ لَا كَنَارِ الدُّنْيَا تَتَّقِدُ بِالْحَطَبِ وَنَحْوِهِ {أُعِدَّتْ} هُيِّئَتْ {لِلْكَافِرِينَ} يُعَذَّبُونَ بِهَا جُمْلَةٌ مُسْتَأْنَفَةٌ أَوْ حَالٌ لَازِمَةٌ

ترجمه:- اې خلقو (يعنى) اې دَمکې او سيدونکو، دَخپل هغه رب بندگى اوکړئى يعنى دَهغه دَتوحيد اقرار اوکړئى چاچې تاسو پيداکړئى حال دادې چې تاسو هيڅ (قابل ذکر) شئ نه وئى او تاسونه وړاندې خلق ئى پيدا کړل دې دَپاره چې تاسو دَهغه دَ عبادت په ذريعه دَهغه دَ عذاب نه محفوظ پاتې شئى. او لَعَلَّ په اصل کښې دَ ترجى دَپاره دې اودَ الله تعالى په کلام کښې دَتحقيق دَپاره دې. چا چې ستاسو دَ پاره زمکه فرش اوغوړوله (فِرَاشًا) حال دادې (يعنى) داسې دَ خوړولو ځيز چې خوړئى کړې چې نه ډير سخت دې اونه ډير نرم چې په دې باندې پاتې کيدل ممکن نه وى او آسمان ئى چت جوړ کړو دَآسمان نه ئى اوبه راؤرولې دَکوم په ذريعه چې ستاسو دَ خوراک دَپاره مختلف قسم ميوې پيداکړې کومې چې تاسو خورئى او کومې چې تاسو خپلو څناوروته (دَ گيا په توگه) ورکوئى نو تاسو په عبادت کښې څوک دَ الله تعالى برابر (يعنى) شريك مه گرځوئى او حال دادې چې تاسو پوهيږئى چې خالق هم هغه دې او هغه شرکاء تخليق نه شى کولې او معبود خو هم هغه کيدې شى څوك چې تخليق کولې شى. مونږ په خپل بنده محمد ﷺ باندې چې کوم (قرآن) نازل کړې دې که چرې تاسو دَهغې دَالله تعالى دَ طرف نه کيدلو کښې په څه شک کښې ئى نو دَهغې مُنَزَّل په شان يوسورت راوړئى او من بيانيه دې چې هغه سورت په بلاغت او حسن نظم کښې او اخبار بالغيب کښې هم دَهغې په شان وى، سورت داسې حصې ته وائى دَکوم چې شروع او خاتمه وى او په هغې کښې کم نه کم درې آياتونه وى او خپل هغه معبودان هم راؤغوارئى دَکومو چې تاسو الله تعالى پريخودوسره بندگى کوئى دې دَپاره چې هغوى ستاسو امداد اوکړى که چرې تاسو په دې خبره کښې چې محمد ﷺ هغه دَ خپل ځان نه جوړ کړې دې رښتونى ئى نو تاسو هم دا کار اوکړئى اوښائى څکه چې تاسو خو هم دَهغه په شان فصيح عرب ئى اوکله چې هغوى دَ دې نه عاجز شو نو الله تعالى اوفرمائيل که تاسو دَخپل عجز دَ وجې نه مذکوره کار اونه کړې شو او تاسو دا هيڅ کله هم نه شئى کولې دَدې دَ اعجاز دَ ښکاره کيدو دَ وجې نه (دَشرط او جزاء په مينځ) کښې دا جمله معترضه ده. لهذا تاسو په الله تعالى باندې ايمان راوړلو سره دَدې خبرې تصديق اوکړئى چې دا انسانى کلام نه دې نو دَهغه اور نه بچ شئى دَکوم خشاک چې به کافران انسانان او کاڼړى وى. مثلاً دَ کاڼړى نه جوړ شوى بتان يعنى هغه اور به دَ سخت گرمائش والا وى چې په مذکوره ځيزونو سره به تيزولې شى نه چې دَ دنياوى اور په شان په لرگو وغيره تيزولې شى. (هغه اور) دَکافرانو دَپاره تيار کړې شوې دې په هغې کښې به دوى ته عذاب ورکولې شى (دا) جمله معترضه ده يا حال لازمه ده.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله يَاَيُّهَا النَّاسُ اى اَهل مَكَّة: ياحرف نداد متوسط دپاره ده په قرآن پاك كښې د نداد پاره صرف د ياء استعمال شوې دې د دويم حرف ندا استعمال نه دې شوې، نداكه د خالق د طرف نه وى اوكه د مخلوق طرف نه وى، اَىُّ منادى لفظًا مبنى په ضمه دې او په محل كښې د نصب دې، ها، د تنبيه دپاره ده. اَلنَّاس لفظونو په اعتبارسره د اَىُّ صفت يا بدل دې

قوله اَىْ اَهْلُ مَكَّةَ دا د اَلنَّاس تفسير دې.

سوال:- قاعده داده چې په قرآن پاك كښې اهل مكه ته خطاب په يَاَيُّهَا النَّاس سره او اهل مدينه ته په يايها الذين آمنوا سره كيږى. دا سورت مدنى دې او خطاب اهل مدينه ته په يَاَيُّهَا النَّاس سره دې داسې ولې دى؟

جواب:- دا قاعده اكثرى ده كلى نه ده. په لفظ اَهْلُ باندې رفع او نصب دواړه جائزدي. نصب په دې اعتبارسره چې دا په اعتبارد محل سره د النَّاس تفسير دې او رفع په دې اعتبارسره چې په اعتبارد لفظ سره دالنَّاس تفسير دې.

قوله وَحِّدُوا اُعْبُدُوا تفسير په وَحِّدُوا سره دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په اتباع كښې دې. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وفرمائيل چې اُعْبُدُوا په قرآن پاك كښې چرته هم راغلي دې ددې نه مراد توحيد د ټولونه اول دې ځكه چې د توحيدنه بغيريو عبادت هم مقبول نه دې. دغه شان دالنَّاس تفسير د اهل مكه سره دا هم د ابن عباس رضي الله عنهما په اتباع كښې دې. ګنې نورو مفسرينو النَّاس مطلق ساتلې دې په كوم كښې چې د مكې اوغيرمكې ټول خلق شامل دى.

قوله لَعَلَّ فى الاصل للترجى: **سوال**:- د لَعَلَّ اصل استعمال طمع فى المحبوب دپاره دې عوام دا په توقع سره تعبيركوى اودا د جهل متقاضى دې د حق تعالى د پاره ددې معنې استعمال محال دې.

جواب:- مفسرعلام خپل "قول وفى كلامه تعالى للتحقيق" سرهم دې جواب طرف ته اشاره كړې ده يعنى دالله تعالى په كلام كښې دلَعَلَّ استعمال دتحقيق وقوع دپاره كيږى ځكه چې كريم هم ددې توقع وركوى كوم چې هغه په يقينى توګه باندې كوى.

قوله فِرَاشًا، اَلْاَرْضَ نه حال دې مګردا په هغه صورت كښې دې كله چې جَعَلَ په معنى د خَلَقَ متعدى يو مفعول ته وى لكه چې مفسرعلام د جَعَلَ تفسير په خَلَقَ سره كولوكښې اشاره كړې ده او كومو حضراتو چې جَعَلَ په معنى د صَيَّرَ متعدى مفعولو ته اخستې دى

دَهغوی په نیزیه اَلْاَرْضَ مفعول اول او فِرَاشًا مفعول ثانی وی.

قوله: مِنَ السَّمَاءِ دَالسماء نه لغوی معنی مراد ده یعنی: قول، مَا علاكَ وَأظلك فهو سماءٌ، سماءٌ مؤنث دې اوکله مذکرهم استعمالیږی او باران هم دَ بره نه نازلیږی لهذا دا شك ختم شو چې باران دَ وریځونه راوریږی نه چې دَآسمان نه. دویم جواب دا هم ورکړې شوې دې چې دَ سماءنه سحاب مراد دې.

قوله. تعلفونَ به دَوَّابَكُمْ: سره اشاره اوکړه چې دَ ثمرات نه دَ زمکې هرقسم پیداوار مراد دې او عَلَفْ دَ څناورو ګیاته وائی.

قوله: فَلَاتَجْعَلُوْالِلّٰهِ اَنْدَادًا: دَدې تعلق په ماقبل کښې مذکور د اُعْبُدُوْارَبَّكُمُ الَّذِی، سره دې.

قوله: اَنْدَادًا، دا دَ نِدٌّ جمع ده په معنی د برابر، مقابل، شریك ندأ په ذات کښې شریك او مثل هرقسم شریك ته وائی.

قوله. وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ: مبتدا خبر سره ملاؤشو جمله شوه دَ فَلَاتَجْعَلُوْا دَ ضمیر نه حال دې.

قوله. اَنَّهُ الْخَالِقُ: معطوف علیه دې او ولایخلقون جمله کیدوسره معطوف معطوف علیه داپوره جمله دَ تَعْلَمُوْنَ مفعول به دې.

قوله: فَافْعَلُوْاذٰلِكَ: دا دَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ جزاء ده.

قوله: وَقُوْدُهَا، دَ واؤ فتحه سره په معنی مَاتُوْقَدُ به یعنی خشاك اودَ واؤ ضمه سره مصدردې. په دې وزن باندې راتلونکو ټولو صیغوکښې هم دغه دوه صورتونه دی مثلاً وَضُوْءٌ، سَحُوْرٌ، طَهُوْرٌ، قاعده داده چې د فَعُوْلٌ په وزن باندې راتلونکې هره صیغه کښې که چرې فاء کلمه باندې فتحه وی نو په معنی آله سره وی، اوکه چرته ضمه وی نومصدر بعضو وئیلی دی چې یودَ بل په ځائی هم مستعمل دې.

قوله: مِنْهَا: داسره اَصْنامهم حال دې ای حال کونها مِنَ الحِجارة، مقصدپه آیت کښې مذکوره وقودُهَاالنَّاسُ وَالْحِجَارَةُ مطابقت سره دې. حِجَارَةٌ دَ حَجَرٌ جمع ده لکه جِمَالَةٌ، دَ جَمَلٌ جمع ده.

قوله: اُعِدَّتْ جمله مستانفه ده او جمله مستانفه همیشه دَ یوسوال مقدر جواب وی نو دلته دَکوم سوال جواب دې؟

سوال: - دا دې لِمَنْ اُعِدَّتْ هٰذِهِ النَّارُالَّتِیْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ؟

جواب: - اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ

قوله أوحالٌ. يعنى أعِدَّتْ لِلْكَافِرِيْنَ لفظ النار نه حال دي دَوَقُوْدُهَا ضميرنه حال واقع کيدل صحيح نه دى دَ كوم چې دوه وجوهات دى. ① ځکه چې د هَا ضمير مضاف اليه دې او مضاف اليه مقصودنه وی. ② ځکه چې د مضاف کوم چې دلته وَقُوْدٌ په معنی د حطب عين دي اودا جامد دي او اسم جامد عامل نه وی.

قوله لَازِمَةٌ. دَدې اضافه مقصد دا شك ختمول دی کوم چې د أعِدَّتْ لِلْكَافِرِيْنَ نه معلوميږی چې دَ دوزخ اور دَ كافرانو دَ پاره تيارکړې شوې دې. نو لهذا مسلمانانوته دَ فکر کولو ضرورت نشته که هغه فاسق اوفاجرولې نه وی په دې شرط چې مؤمن وی.

جواب:- حال لازم په منزله دَ صفت وی دَ ذوالحال دَپاره او دَ ذوالحال نه جدا نه وی لکه چې ابوك عطوفًا کښې دَ پلار شفقت دَ ځوئی دَپاره لازم دې مگر خاص نه دې چې دَ ځوئی نه علاوه په بل چاباندې دَ پلار شفقت ممنوع وی. دغه شان دَ دوزخ اور دَ كافرانودپاره خو لازم دي مگرخاص نه دې. يعنى اصالةً او دوامًا خودَ دوزخ اور هم دَ كافرانودَپاره تيارکړې شوې دې نو لهذا مسلمانانولره دَ فکرمندکيدو ضرورت نشته که فاسق فاجر ولې نه وی خوپه عارضی توگه دَ تاديب دَپاره به اهل فسق اوعصيان هم په دې کښې داخلولې شی نودا دَدې منافی نه ده (ماجدی ملخصا) وكون الاعداد للكافرين لاينافي دخول غيرهم فيه على جهة التطفل. (روح)

دويم جواب:- أعِدَّتْ لِلْكَافِرِيْنَ کښې دکافرنه مراد عام کافر وی کوم چې اصطلاحی کافر او لغوی کافردواړو ته شامل وی نو په دې صورت کښې هيڅ اعتراض نشته. د اصطلاحی کافر دخول به دَ هميشه دَپاره وی اولغوی کافر يعنی ناشکره او گناهگار نافرمان داخليدل به دَ تطهيردَپاره عارضی وی.

[اياتونه: ٢٥ - ٢٧]

{وَبَشِّرْ} اخبر {الَّذِيْنَ آمَنُوا} صدقوا باللّٰهِ {وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ} مِنَ الْفُرُوضِ وَالنَّوَافِلِ {أَنَّ} أيْ بِأَنَّ {لَهُمْ جَنَّاتٍ} حَدَائِق ذَات أشْجَار وَمَسَاكِن {تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا} أيْ تَحْت أشْجَارِهَا وَقُصُورِهَا {الْأَنْهَارُ} أيْ الْمِيَاه فِيهَا وَالنَّهَر الْمَوْضِع الَّذِي يَجْرِي فِيهِ الْمَاء لِأَنَّ الْمَاء يَنْهَرهُ أيْ يَحْفِرهُ وَإِسْنَاد الْجَرْي إلَيْهِ مَجَاز {كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا} أطْعِمُوا مِنْ تِلْكَ الْجَنَّات {مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقًا قَالُوا هٰذَا الَّذِي} أيْ مِثْل مَا {رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ} أيْ قَبْله فِي الْجَنَّة لِتَشَابُهِ ثِمَارهَا بِقَرِينَةِ {وَأُتُوا بِهِ} أيْ جِيئُوا بِالرِّزْقِ {مُتَشَابِهًا} يُشْبِه بَعْضه بَعْضًا لَوْنًا وَيَخْتَلِف طَعْمًا {وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاج} مِنَ الْحُور وَغَيْرهَا {مُطَهَّرَة} مِنَ الْحَيْض وَكُلّ قَذَر {وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ} مَاكِثُونَ أبَدًا لَا يَفْنَوْنَ وَلَا يَخْرُجُونَ وَنَزَلَ رَدًّا لِقَوْلِ الْيَهُود لَمَّا ضَرَبَ اللّٰه الْمَثَل بِالذُّبَابِ فِي قَوْله {وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا} وَالْعَنْكَبُوت فِي قَوْله {كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوتِ} مَا أرَادَ اللّٰه بِذِكْرِ هٰذِهِ الْأَشْيَاء

الخبيثة فأنزل الله {إن الله لا يستحيي أن يضرب} يجعل {مَثَلًا} مفعول أول {مَا} نكرة موصوفة بما بعدها مفعول ثانٍ أي أيَّ مثل كان أو زائدة لتأكيد الخسة فما بعدها المفعول الثاني {بَعُوضَةً} مفرد البعوض وهو صغار البق {فَمَا فَوْقَهَا} أي أكبر منها أي لا يترك بيانه لما فيه من الحكم {فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ} أي المثل {الْحَقُّ} الثابت الواقع موقعه {مِنْ رَبِّهِمْ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَذَا مَثَلًا} تمييز أي بهذا المثل وما استفهام إنكار مبتدأ وذا بمعنى الذي بصلته خبره أي أي فائدة فيه قال تعالى في جوابهم {يُضِلُّ بِهِ} أي بهذا المثل {كَثِيرًا} عن الحق لكفرهم به {وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا} من المؤمنين لتصديقهم به {وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ} الخارجين عن طاعته {الَّذِينَ} نعت {يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ} ما عهده إليهم في الكتب من الإيمان بمحمد صلى الله عليه وسلم {مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ} توكيده عليهم {وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ} من الإيمان بالنبي والرحم وغير ذلك وأن بدل من ضمير به {وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ} بالمعاصي والتعويق عن الإيمان {أُولَئِكَ} الموصوفون بما ذكر {هُمُ الْخَاسِرُونَ} لمصيرهم إلى النار المؤبدة عليهم

ترجمه:- او (اې نبي) زيرې وركړه خبر وركړه هغه خلقو ته چې ايمان ئې راوړلې (يعنى) دَ الله تعالى دَ (توحيد) تصديق ئې كړې اونيک عملونه ئې كړى چې هغه فرائض اونوافل دى. دَهغوى دَپاره دَ ونو والا اومحلونو والا باغونه دى اودَ دغه باغونو اومحلونو لاندې نهرونه جارى دى يعنى په دغه نهرونو كښې اوبه روانې دى اونهر هغه خائى وى په كوم كښې چې اوبه روانې وى (نهر ته نهر هم په دې وجه وائى) چې اوبه دغه نهر كنى اودَ جريان اسناد دَنهرطرف ته اسناد مجازى دى. كله چې دَ دغه باغونونه دوى ته څه ميوه دَ خوراک دَپاره دَغذا په توګه وركولې شى نو وئيلې به شى چې دا خو هم هغه شان ده كومه چې مونږ ته دې نه وړاندې دَ خوراک دَپاره راكړې شوې وه يعنى چې دې نه وړاندې په جنت كښې راكړې شوه (دا به په دې وجه وى) چې دَ جنت ميوې به په يوشكل كښې وى (دَدې قول قرينه) ﴿ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا ﴾ دې اوملاويږى به هم دوى ته دَ يوشكل ميوې چې دَ رنګ په لحاظ به دَ يوبل په شان وى مګر په خوند كښې به مختلف وى اودَهغوى دَپاره به په جنت كښې بيبيانې وى يعنى حورې وغيره چې پاكې به وى دَ حيض او د هرقسم ګندګنى نه اوهغوى به په دغه جنت كښې هميشه اوسيږى. يعنى دائمى قيام به وى نه به په دغې كښې فنا كيږى اونه به دَ دې نه اوځى. آيت ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا ﴾ دَ يهودو اعتراض ﴿ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بذكر هذه الاشياء الخسيسة ﴾ يعنى دَ دغه حقير څيزونو په ذكركولوسره دَ الله تعالى څه مقصد دې؟ دَ رد كولودَپاره نازل شو او الله تعالى خپل قول ﴿ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا ﴾ كښې دَ مچ او بل قول ﴿ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوتِ ﴾ جولاكى مثال بيان كړې دې. يقينًا الله تعالى دَ يو څيز مثال بيانولو سره شرميږى نه كه دَ ماشى وى

اوكه دَدې نه دَا اوچت څيز. (مثلاً) ضَرَبَ په معنى دَ جَعَلَ مفعول اول دې. ما نكره موصوفه دَ خپل مابعد صفت سره يوځائې شو اودَ ضَرَبَ مفعول ثانى دې. بَعُوْضَةً، دَ بعوض مفرد دې (يعنى) وړوكې ماشې يعنى دَدې بيان نه ترك كوى څكه چې دَ دې په بيانولوكښې حكمتونه دى اهل ايمان خودامثال دَخپل رب دَ طرف نه صحيح گڼرى. (يعنى) په ځائې بيان شوې دې اوكافران وائى چې د الله تعالى د داسې (سپك) مثال بيانولوسره څه كار؟مَثَلاً تميز دې (بهذا مَثَلاً) اى بِهٰذَا المثل (په معنى كښې دې) اوما استفهام انكارى مبتدا او ذا په معنى د الذى خپل صله سره يوځائې شو دَ مبتدا خبر يعنى په دې مثال كښې څه فائده ده؟ الله تعالى دَ دې (معترضينو) په جواب كښې اوفرمائيل چې هغه په دې مثالونوسره ډير خلقو لره دَ حق نه دَدې مثالونودَ انكاردَ وجې سره گمراه كوى او ډيرومؤمنانو ته دَ دې مثالونو دَ تصديق كولودَ وجې لارخودنه كوى او په دې سره هغه فاسقان هم گمراه كوى چې دَالله تعالى عهد دَ پخولو باوجود ماتوى يعنى دَهغه دَ اطاعت نه دَ وتونكو (گمراه كول) يعنى دا عهد كوه چې الله تعالى هغوى سره په كتابونوكښې په محمد ﷺ باندې دَ ايمان راوړلو باره كښې اخستې وو(اَلَّذِيْنَ) دَ فٰسِقِيْنَ صفت دې او الله تعالى چې دَ كوم دَ يوځائې كولوحكم وركړې دې هغه ماتوى اوهغه په نبى ﷺ باندې ايمان راوړل او صله رحمى وغيره كول دى اودَ اَنْ يُّوْصَلَ، به د ضميرنه بدل دې اودَ معاصى په ذريعه نور (خلق) دَ ايمان نه دَ بنديدلو په ذريعه په زمكه كښې فساد كوى په حقيقت كښې هم دغه خلق دى چې په مذكوره صفاتو باندې متصف دى اونقصان اوچتونكى دى. په هميشه عذاب (كښې) دَهغوى ټكانه كيدودَ وجې نه.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله. وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: دَدې عطف، عطف قصه على القصه په توگه دَ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا په مضمون باندې دې.

قوله. بَشِّرْ. امر واحدمذكرحاضر په معنى دَ خيرخبراورول، بَشِّرْ، البشارة نه مشتق دې بشارت هغه ړومبى خبرته وائى چې دَ خوشحالئ وى، ړومبى دَ خوشحالئ خبرته بشارت څكه وائى چې دَدې اثر (بشره) يعنى په مخ باندې ښكاره كيږى. (اَلْبِشَارَةُ: اَلْخَبَرُ الاَوَّلُ السَّارُّ الَّذِىْ يَظْهَرُ بِهٖ اَثَرُ السُّرُوْرِ فِى الْبَشَرَةِ) (اعراب القرآن)

قوله. اَخْبِرْ دَ بَشِّرْ تفسيرپه اَخْبِرْسره كولوكښې اشاره اوكړه چې زيرې سره دَدې چې ښه خبرته وائى مگر دلته دا دَمطلق خبرپه معنى كښې دې اودَ بشارت ضد انذار دې.

سوال:- وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ، الصّٰلحٰت داسې وصف دې چې كولې نه شى څكه چې وصف دَ

اعراض دَ قبيل نه دي او عرض موجود في الخارج نه وي تركومي پورې چې يو جوهر (موصوف) سره متصل نه وي لهذا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وئيل صحيح نه دي.

جواب:- الصلحت، سره دَدې چې دَخپل اصل په اعتبارسره وصف دې خو په دې باندې اسميت غالب كيدودَ وجې نه دَاسم قائمقام دې. لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

قوله:- بِأَنْ، بِأَنْ باندې باء ظاهرولوسره اوخودلې شو چې أَنْ اصل كښې بِأَنْ وو باء جوازاً حذف كړې شوه أَنْ سره دَ خپل مدخول د بَشِّرْ مفعول كيدو دَ وجې منصوب دې. (ابوالبقاء)

بعضې مفسرينو وئيلي دي چې دَ وَبَشِّرْعطف په فَاتَّقُوا باندې دې مګر په دې صورت كښې بيا د تغاير دَ مخاطبينو اعتراض راځي. صاحب روح المعاني دَ دې اعتراض دا جواب وركړې چې تغايرمخاطبينو عطف دَپاره مضرنه دې. لكه چې دَالله تعالى قول ﴿ يُوْسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ وَاسْتَغْفِرِيْ ﴾ دلته دمعطوف عليه او معطوف مخاطب جدا جدا دي مګر بياهم عطف كړې شوې دې.

قوله اَلَّذِيْنَ: موصول خپلې صله سره يوځائې شو دَبَشِّرْ مفعول به دې.

قوله: اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ دا مشابه مفعول به كيدودَ وجې منصوب دې ﴿ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾ دَ جَنّٰتٍ صفت اول او ﴿ كُلَّمَا رُزِقُوْا ﴾ دويم صفت او ﴿ لَهُمْ فِيْهَآ ﴾ دريم صفت او ﴿ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾ څلورم صفت دې.

قوله: بِهٰذَا مَثَلاً تميز لفظ دَ تميز دَاضافه مقصد دې طرف ته اشاره كول دي چې مثلاً تميز دې حال نه دې لكه چې بعضې حضراتو مَثَلاً حال ګرځولې دې حالانكه حال ګرځول ضعيف دي. دَ ضعف وجه داده چې دَ اسم جامد حال واقع كيدوكښې اختلاف دې لهذا دَ مَثَلاً حال واقع كيدل مختلف فيه دي اودَ اسم جامد تميزواقع كيدوكښې دَ چااختلاف نشته دې. لهذا دَ مَثَلاً تميزګرځول راجح دي.

قوله: بِهٰذَا مَثَلاً، مفسرعلام دَ بِهٰذَا مثلاً تفسير په بهذا المثل سره كولوكښې دَ سوال جواب وركړې دې.

سوال - دادې چې په تميزكښې اصل دادې چې په نسبت سره واقع وي اوپه هذامثلاكښې نسبت نشته دې لهذا دَ مثلاًتميز واقع كيدل صحيح نه دي.

جواب:- هذامَثَلاً، دَ هذاالمثل په معنى كښې دې په كوم كښې چې نسبت موجود دې لهذا دَ مثلاً تميزواقع كيدل صحيح دي.

قوله: مَا، استفهام انكار، دَدي عبارت دَ اضافه مقصد هم دَ يو سوال جواب دي.
سوال: - مَاذَآ اَرَادَ اللهُ بِهٰذَا مَثَلاً كښي دَ مثال بيانولو حكمت معلوم كړې شوې دې اودَ يوقول اوفعل حكمت معلومول مذموم نه دى حالانكه دلته مذموم گرځولې شوى دى.

قوله مبتداء: دَ دې عبارت مطلب دَ سيبويه مذهب راجح گرځول دى اوهغه دادى چې مَا مبتداء ده او ذَا موصول خپلې صله سره يوځائې شو دَ مبتداء خبر شو نه دا چې ذا مبتداء مؤخر او ما خبرمقدم، دَ ترجيح وجه داده چې دَ سيبويه تركيب د قاعده معروفه مطابق دې اوهغه دا چې مبتداء مقدم او خبر مؤخر كيږي.

قوله اَلْخَارِجِيْنَ عَنْ طَاعَتِه: دا دَ اَلْفٰسِقِيْنَ تفسيردې. دې خبرې طرف ته اشاره ده چې دلته دَ فاسق نه فاسق كامل مراد دې او هغه مشرك اوكافردې نه چې مومن فاسق. مطلب داچې دلته دَ فسق لغوى معنى مراد وه نه چې اصطلاحى او شرعى لكه چې دَ الله تعالى قول ﴿ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴾ كښې منافق ته فاسق وئيلې شوى دې حالانكه منافق كليةً دَاسلام نه خارج كيږي.

قوله توكيده عَلَيْهِمْ: دا هم دَ يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: - يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ په آيت كښې دوه لفظونه استعمال شوى دى عهداوميثاق اودَ دواړو مفهوم هم يودې. دَدې ترجمه به دا شى هغوئ دَالله تعالى عهد ماتوى دَ هغه دَعهدنه پس او بل دَدې هيڅ مطلب نشته.

جواب: - ميثاق: په معنى دَتاكيداو پوخوالى ده يعنى هغه دَالله تعالى عهد دَهغې دَ پخولونه پس ماتوى اودا معنى صحيح ده.

قوله من الايمان بالنبى ﷺ دا ﴿ مَآ اَمَرَ اللهُ بِهٖٓ ﴾ كښې دَمَا بيان دې يعنى هغه خلق هغې لره قطع كوى دكوم دَ متصل كولوچې حكم وركړې شوې دې اوهغه ايمان بالرسول او صله رحمى ده.

قوله وَاَنْ يُّوْصَلَ بدل من ضميره، په دې كښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې دَ اَنْ يُّوْصَلَ به ضمير سره دبدليدلو د وجې نه مجرور دې نه چې دَ مَا سره دَ بدل كيدو دَ وجې نه منصوب.

[ايا تونه: ۲۸ - ۲۹]

﴿كيف تكفرون﴾ يا اهل مكة ﴿بِاَللّٰه و﴾ وَقَدْ ﴿كُنْتُمْ اَمْوَاتًا﴾ نُطَفًا؟ فِي الْاَصْلَابِ ﴿فَاَحْيَاكُمْ﴾ في الأرحام والدنيا بنفخ الروح فيكم والاستفهام للتعجب مِنْ كُفْرِهِمْ مَعَ قِيَامِ الْبُرْهَانِ أَوْ لِلتَّوْبِيْخِ ﴿ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ﴾ عِنْدَ انْتِهَاءِ آجَالِكُمْ ﴿ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ﴾ بِالْبَعْثِ ﴿ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ تُرَدُّوْنَ بَعْدَ الْبَعْثِ فَيُجَازِيْكُمْ بِاَعْمَالِكُمْ

وَقَالَ دَلِيلًا؟ عَلَي الْبَعْثِ لِمَا انكروه {هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ} أَيِ الْأَرْض وَمَا فِيهَا {جَمِيعًا؟} لِتَنْتَفِعُوا بِهِ وَتَعْتَبِرُوا {ثُمَّ اسْتَوَىٰ} بَعْدَ خَلْقِ الْأَرْضِ أَيْ قَصَدَ {إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ} الضَّمِير يَرْجِع إِلَي السَّمَاء لِأَنَّهَا فِي مَعْنَي الْجُمْلَة الْآيِلَة إِلَيْهِ أَيْ صَيَّرَهَا كَمَا فِي آيَة أُخْرَى {فَقَضَاهُنَّ} {سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ} مُجْمَلًا؟ وَمُفَصَّلًا؟ أَفَلَا تَعْتَبِرُونَ أَنَّ الْقَادِرَ عَلَي خَلْقِ ذَلِكَ ابْتِدَاء؟ وَهُوَ أَعْظَم مِنكُمْ قَادِر عَلَي إِعَادَتكم

ترجمه:- اې دَ مكې والو! تاسو الله تعالى سره دكفررويه ولې اختياروئې؟ حالانكه تاسو دَ پښتونونه يوېې سا نقطه وئې هغه دَ مور په رحمونوكښې او په دنياكښې په تاسو كښې روح پوك وهلو سره تاسوله ژوند دركړو او استفهام دَهغوى په كفر باندې دَ اظهارتعجب دَپاره دې اودَ توبيخ دَپاره دې. د قيام دليل باوجود به هغه تاسو ته مرگ دركوى ستاسو دَ ژوند موده ختميدو په وخت بيا به هم هغه تاسو دَ مرگ نه پس دوباره ژوندون دركوى. بيا دَ ژوندى كيدو نه پس هم دَهغه طرف ته واپس تلل دى. نوهغه به تاسو ته ستاسو دَاعمالو بدله دركوى. نوچې كله هغوى دَ بعث بعد الموت نه انكاراوكړو نو الله تعالى په دې باندې دَ دليل په توگه اوفرمائيل هم هغه خودې چې ستاسو دَپاره ئې دَ زمكې تول څيزونه پيدا كړل يعنى زمكه او څه چې په زمكه كښې دى دې دَپاره چې تاسو دَهغې نه فائده واخلئ او عبرت حاصل كړئې بيا (يعنى) په زمكه پيداكولونه پس هغه دَآسمان طرف ته متوجې شو او اووه آسمانونه ئې قايم كړل. دَ هُنَّ ضمير دَ اَلسَّمَاء طرف ته راجع دې دَدې دَپاره چې اَلسَّمَاء دَمَا يؤل په اعتبارسره دَ جمع په معنى كښې دى. (سوّٰهُنَّ) په معنى كښې صَيَّرَهَا دې. لكه چې دويم آيت كښې ﴿ فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ﴾ او هغه دَهر يو څيز اجمالى اوتفصيلى علم لرونكې دې. آيا تاسو دَدې نه عبرت نه حاصلوئې چې كوم ذات دَدې (مذكوره) څيزونو ابتداء پيدا كولوباندې قادر دې چې ستاسو نه عظيم تر دې ستاسو په دوباره پيداكولو باندې (په طريق اولى) قادردې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ يااهل مكة، كَيْفَ حرف استفهام دې دَ حالت نه دَ سوال كولودَپاره استعماليږى خو په قرآن كښې زيات تر دَانكار او په جرأت باندې دَ اظهارتعجب دَپاره مستعمل دې.

قوله: وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا: واؤ حاليه دې او كنتم امواتا، دَتكفرون دَ ضمير نه حال دې مفسرعلام دَ قَدْ اضافه كولوسره دَيو سوال مقدرجواب وركړې دې.

سوال:- دَماضى بغيردَ قد نه حال واقع كيدل صحيح نه دى.

جواب. - دَ قد لفظ کښې کیدل ضروری نه دی که قد مقدروی نوبیاهم ماضی حال واقع کیدې شی. دلته قد مقدردې لکه چې مفسرعلام قد مقدر منلوسره اشاره کړې ده.

دویم جواب - بغیردَ قد دَ تقدیر نه هم حال جوړیدل صحیح دی ځکه چې حال صرف کنتم امواتًا نه دې بلکه ما بعد ترجعون پورې جمله کیدوسره حال دې کما جزم صاحب الکشاف، لکه چې داسې ئې اوونیل: کیف تکفرون؟ وقصتکم هذه. (فتح القدیر)

قوله: نُطَفًا فِي الْاَصْلَابِ، ای اصلاب الرجال، نُطَف دَ نُطْفَةٌ جمع ده صفا اوبه، لږې اوبه. ځڅیدونکې څیز دلته دلته ترې دَ سړی نطفه منی مراد ده.

قوله فَاَحْيَاكُمْ، دا په محذوف باندې مرتب دې تقدیری عبارت دې. وَكُنْتُمْ عَلَقَةً لمضغة فَاَحْيَاكُمْ دَدې تقدیر ضرورت په دې وجه پیښ شو چې دَنطفې نه فوراً روستو ژوند نه ورکړې کیږی بلکه دَ مور په رحم کښې ۱۲۰ ورځو کښې مختلفو مراحلو تیریدو نه پس ژوند ورکولې شی.

قوله. فِي الْاَرْحَامِ، وفی الدنیا بنفخ الروح دَ ظرفیت تعلق صرف د ارحام سره دې. بنفخ الروح کښې باء سببیه ده یعنی عطاء حیات دَ مور په رحم کښې دَ روح پوك وهلو په سبب سره کیږی غالبًا دَ دنیا ذکر دَ حیات رحم او د حیات دنیا کښې دَ فرق طرف ته دَاشارې کولو دَپاره دې. ځکه چې په دواړو ژوندونو کښې دَنوعیت فرق دې. (ترویح الارواح)

قوله وَالاستفهام للتعجب من کفرهم: یعنی دَدومره ډیرو انعاماتوباوجود په کفر او انکارباندې جرأت کول دَ حیرانتیا اود تعجب سبب دې یا بیا استفهام دَ توبیخ دَپاره دې لکه چې مفسر رحمه الله اشاره کړې ده چې په معروف معنی کښې تعجب مراد نه دې ځکه چې په معروف معنی کښې تعجب اسبابو مخفی کیدو دَ وجې نه لاحق کیږی اودا معنی دَالله تعالی دَپاره متصور نه ده. ځکه چې دَالله تعالی نه دَ یو څیز اسباب هم پټ نه دی

قوله لِاَنَّهَا فی معنی الجمع دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ یو سوال جواب ورکول دی.

سوال - ثُمَّ اسْتَوٰى اِلَى السَّمَاءِ فَسَوّٰهُنَّ، کښې هُنَّ ضمیر اَلسَّماءطرف ته راجع دې او السَّماء مفرددې او ضمیرجمع دې. لهذا مرجع او ضمیر کښې مطابقت نشته.

جواب - السَّماء مایؤل په اعتبارسره جمع دې دَدې دَپاره چې استوی نه پس اوه آسمانونه دی. چنانچې الله تعالی دَ دَځوارض نه پس اووه آسمانونه جوړکړی دی الله تعالی فرمائی ﴿ فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ﴾ دا جواب هم ورکولې شی چې په السَّماء کښې الف لام دَ جنس دې لهذا په جمع باندې اطلاق صحیح دې.

[اياتونه: ۳۰ - ۳٤]

{و} اذكر يا محمد {إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً} يخلفني في تنفيذ أحكامي فيها وهو آدم {قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا} بالمعاصي {وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ} يريقها بالقتل كما فعل بنو الجان وكانوا فيها فلما أفسدوا أرسل الله عليهم الملائكة فطردوهم إلى الجزائر والجبال {وَنَحْنُ نُسَبِّحُ} متلبسين {بِحَمْدِكَ} أي نقول سبحان الله وبحمده {وَنُقَدِّسُ لَكَ} ننزهك عما لا يليق بك فاللام زائدة والجملة حال أي فنحن أحق بالاستخلاف {قَالَ} تعالى {إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ} من المصلحة في استخلاف آدم وأن ذريته فيهم المطيع والعاصي فيظهر العدل بينهم فقالوا لن يخلق ربنا خلقا؟ أكرم عليه منا ولا أعلم لسبقنا له ورؤيتنا ما لم يره فخلق الله تعالى آدم من أديم الأرض أي وجهها بأن قبض منها قبضة من جميع ألوانها وعجنت بالمياه المختلفة وسواه ونفخ فيه الروح فصار حيوانا؟ حساسا؟ بعد أن كان جمادا {وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ} أي أسماء المسميات {كُلَّهَا} بأن ألقى في قلبه علمها {ثُمَّ عَرَضَهُمْ} أي المسميات وفيه تغليب العقلاء {عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ} لهم تبكيتا؟ {أَنْبِئُونِي} أخبروني {بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ} المسميات {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} في أني لا أخلق أعلم منكم أو أنكم أحق بالخلافة وجواب الشرط دل عليه ما قبله {قَالُوا سُبْحَانَكَ} تنزيها لك عن الاعتراض عليك {لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا} إياه {إِنَّكَ أَنْتَ} تأكيد للكاف {الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ} الذي لا يخرج شيء عن علمه وحكمته {قال} تعالى {يَا آدَمُ أَنْبِئْهُمْ} أي الملائكة {بِأَسْمَائِهِمْ} المسميات فسمى كل شيء باسمه وذكر حكمته التي خلق لها {فَلَمَّا أَنْبَأَهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ قَالَ} تعالى لهم موبخا؟ {أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} ما غاب فيهما {وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ} ما تظهرون من قولكم أتجعل فيها الخ {وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ} تسرون من قولكم لن يخلق أكرم عليه منا ولا أعلم

ترجمه:- اې محمد ﷺ هغه وخت ياد كړه كوم وخت چې ستا رب فرښتوته فرمائيلې وو چې زه په زمكه كښې يو نائب جوړوم چې په زمكه كښې به زما احكام نافذ كولو كښې زما نيابت كوي او هغه آدم ﷺ دې. نو فرښتو عرض اوكړو آيا ته په زمكه كښې داسې سړې مقرر كول غواړې چې په زمكه كښې دګناه په ذريعه وينې توېوي؟ يعنى دّ قتل په ذريعه به خونريزى كوي لكه څنګه چې جنات يعنى پيريانو كړې وو او په زمكه كښې دّ اول نه (مقيم) وو. چنانچې هغوى فساد اوكړو نوالله تعالى دّهغوى طرف ته فرښتې اوليګلې نو فرښتوهغوى دّ جزيرو او غرونو طرف ورديكه كړل اومونږ خوستا حمد اوثناء كوو يعنى سبحان الله او الحمدلله وايو. اود هغه خيزونو نه كوم چې ستا شان سره مناسب نه دى ستا پاكى بيانوو. (لَكَ) كښې لام زائده دې او جمله حال ده اودّخلافت مونږ زيات مستحق يو. الله تعالى اوفرمائيل دّ آدم ﷺ نائب جوړولو كښې چې كوم مصلحت دې زه هغه پيژنم كوم

چې تاسو نه پېژنئ. (اوهغه دا) چې دَهغه په اولاد کښې به فرمانبردارهم وی او نافرمان هم، نو په هغوی کښې به دَ عدل ظهور وی نو فرښتو عرض اوکړو چې زمونږ رب به هیڅ کله داسې یومخلوق پیدا نه کړی چې دَهغه په نیزبه زمونږ نه غوره وی نه داسې چې زمونږ نه اعلم (زیاته پوهه لرونکې) وی په دې وجه چې مونږ ته دَ سبقت حق حاصل دې او په دې وجه چې کوم مونږ لیدلی دی هغه چانه دی لیدلی. نوحق تعالی شانه آدم علیه السلام دَ زمکې دَ خاورې نه پیدا کړو یعنی دَ زمکې (خاورې) نه په داسې طریقه چې دَ زمکې نه دَ هر رنګ یوموټې خاوره واخستله اوهغه ئې په مختلفو اوبوسره واغږله او په هغې کښې ئې روح پوك وهلو نو هغه یوحساس (شئ) جوړشو. پس دَهغې نه چې هغه جماد (یوبې سا) وو او آدم علیه السلام ته ئې دَ ټولو څیزونو نومونه اوخودل تردې چې پیاله، پیالئ او د لرګی خمسی په دې توګه دَ آدم علیه السلام په زړه کښې القاء کړل بیائې دغه څیزونه دَ فرښتو مخې ته وړاندې کړل. دَهم جمع مذکر ضمیرراوړلووجه ذوی العقول ته غلبه ورکول دی او وئې فرمائیل چې تاسو ماته دَدغه څیزونو نومونه واخلئ که چرې تاسو په دې (مشوره) کښې رښتونی یئ چې زه به تاسو نه زیات پیژندونکې نه پیداکوم. یا تاسو په دغه دعوی کښې په حق باندې یئ چې په نیابت کښې تاسو زیات حقدار یئ (نوتاسوماته دَ دغه څیزونو نومونه اوښایئ) او په جواب شرط باندې دَدې ماقبل دلالت کوی. فرښتو عرض اوکړو ته خو پاک ئې (یعنی) ته خودَ اعتراض (نقص) نه پاك ئې مونږ ته هیڅ علم نشته مګردومره څومره چې تامونږ ته خودلې دې. بیشکه هم ته (انت ضمیر) د کاف دَخطاب دَ تاکید دَپاره دې علم اوحکمت والا ئې. ستا دَعلم اوحکمت نه هیڅ څیز بهرنه دې. الله تعالی اوفرمائیل اې آدم! ته اوښایه فرښتو ته دَ دغه څیزونو نومونه. حضرت آدم علیه السلام هغوی ته دَهر څیزنوم اوخودلو اودَهغې حکمت او خواص ئې بیان کړل دَ کوم څیزدَپاره چې هغه څیزونه پیداکړې شوی وو. کله چې آدم علیه السلام دَدغه څیزونو نومونه اوخودل نو الله تعالی توبیخًا او فرمائیل آیا ما تاسو ته نه وو وئیلی چې زه پیژنم دَآسمانونو اوزمکو پټ څیزونه کوم چې دَ فرښتونه پټ دی او هغه هم پیژنم کوم چې تاسو په خپل قول ﴿ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ﴾ سره ظاهره وئی او کومه خبره چې تاسو پټه وئی یعنی خپل قول لن یخلق ربنا خلقا اکرم علیه منا ولا اعلم.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ، واؤ استنافیه دې، إِذْ اُذْكُرْ. دَ فعل محذوف مفعول به دې. په قرآن کښې ذکر شوو قصو کښې هم دغه ترکیب اغلب دې. دَزمخشری او ابن عطیه هم دغه قول مختاردې او ابوحیان وئیلی دی چې إِذْ قَالُوْا أَتَجْعَلُ دَ وجې نه منصوب دې.

قوله لِلْمَلاَئِكَةِ: دا دَ مَلَكٌ جمع ده دا په اصل کښې مَالَكٌ دې په وزن دَ مفعل وو همزه تخفيفًا حذف کړې شوه مَلَكٌ دا دَ اُلوكة نه مشتق دې. د اُلوكة معنى ده پيغام رسول، رسالت، فرښتې هم دَالله تعالى پيغام مخلوق ته د رسولوکارکوی او دَخالق اومخلوق په مينځ کښې واسطه وی په دې وجه دوی ته ملائکه وائی.

قوله مُتَلَبِّسِيْنَ، په دې کښې اشاره ده چې بِحَمْدِكَ، نسبح دَ ضمير نه حال دی او باء دَ ملابَست دَپاره ده.

قوله نُقَدِّسُ لَكَ،کښې لام زائده دَ تاکيددَپاره دې ځکه چې نقدس متعدی بنفسه دې

قوله والجملة حال يعنى وَنَحْنُ نُسَبِّحُ، اَتَجْعَلُ دَ ضميرنه حال دې او د نقدس عطف نُسَبِّحُ باندې دې معطوف معطوف عليه سره ملاؤشو جمله فعليه شوه نحن مبتداء خبردې.

قوله: والجملة حال، دَ يو اعتراض جواب ګرځولې کيدې شی.

سوال:- وَنُسَبِّحُ، په اَتَجْعَلُ باندې عطف صحيح نه دې ځکه چې اَتَجْعَلُ جمله انشائيه ده او نُسَبِّحُ جمله خبريه ده.

جواب:- وَنُسَبِّحُ عطف په اَتَجْعَلُ باندې نه دې بلکه واؤ حاليه دې نه چې عاطفه لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

قوله: نُنَزِّهُكَ عَمَّا لاَيَلِيْقُ بِكَ،دَدې عبارت دَاضافه کولو مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال:- نُسَبِّحُ ونُقَدِّسُ دواړه په يومعنې دی نو دا تکرار بې فائدې دې.

جواب:- دَ دواړو معنى مختلف دی دَ تسبيح معنى ده په ژبه سره تسبيح بيانول اودَ تقديس معنى ده دَ پاکئ په زړه سره عقيده لرل.

قوله وجواب الشرط دَلّ عليه ما قبله، يعنى اِنْ كنتم صادقين جواب شرط محذوف دې او دال على الحذف ما قبل يعنى انبؤنى دې. تقديرى عبارت به داسې شی اِنْ كنتم صدقين انبؤنى اودَ سيبويه په نيز چونکه دَ جواب شرط تقديم جائزدې لهذا دَ جواب شرط محذوف منل به ضرورى نه وی بلکه په ماقبل کښې مذکور، هم انبؤنى به جواب شرط وی.

[اياتوله: ۳٤ - ۳۹]

{وَ} اُذْكُرْ {اِذْ قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ} سُجُود تَحِيَّة بِالإنْحِنَاء {فَسَجَدُوا اِلَّا اِبْلِيْس} هُوَ اَبُو الْجِنّ كَانَ بَيْن الْمَلاَئِكَة {اَبَى} امْتَنَعَ مِنَ السُّجُود {وَاسْتَكْبَرَ} تَكَبَّرَ عَنْهُ وَقَالَ اَنَا خَيْر مِنْهُ {وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِيْنَ} فِي عِلْم الله {وَقُلْنَا يَآدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ} تَاْكِيد لِلضَّمِير الْمُسْتَتِر لِيَعْطِف عَلَيْهِ {وَزَوْجُكَ} حَوَّاء بِالْمَدّ وَكَانَ خَلَقَهَا مِنْ ضِلْعه الْاَيْسَر {الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا} اَكْلًا {رَغَدًا} وَاسِعًا لَا حَجْر فِيهِ {حَيْثُ شِئْتُمَا

وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ} بِالْأَكْلِ مِنْهَا وَهِيَ الْحِنْطَةُ أَوِ الْكَرْمُ أَوْ غَيْرُهُمَا {فَتَكُونَا} فَتَصِيرَا {مِنَ الظَّالِمِينَ} العاصين {فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ} إِبْلِيسُ أَذْهَبَهُمَا وَفِي قِرَاءَةٍ فَأَزَالَهُمَا نَحَّاهُمَا {عَنْهَا} أَيِ الْجَنَّةِ بِأَنْ قَالَ لَهُمَا هَلْ أَدُلُّكُمَا عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَقَاسَمَهُمَا بِاللّٰهِ إِنَّهُ لَهُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ فَأَكَلَا مِنْهَا {فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ} مِنَ النَّعِيمِ {وَقُلْنَا اهْبِطُوا} إِلَى الْأَرْضِ أَيْ أَنْتُمَا بِمَا اشْتَمَلْتُمَا عَلَيْهِ مِنْ ذُرِّيَّتِكُمَا {بَعْضُكُمْ} بَعْضُ الذُّرِّيَّةِ {لِبَعْضٍ عَدُوٌّ} مِنْ ظُلْمِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا {وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ} مَوْضِعُ قَرَارٍ {وَمَتَاعٌ} مَا تَتَمَتَّعُونَ بِهِ مِنْ نَبَاتِهَا {إِلَىٰ حِينٍ} وَقْتِ انْقِضَاءِ آجَالِكُمْ {فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ} أَلْهَمَهُ إِيَّاهَا وَفِي قِرَاءَةٍ بِنَصْبِ آدَمَ وَرَفْعِ كَلِمَاتٍ أَيْ جَاءَهُ وَهِيَ {رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا} الْآيَةَ فَدَعَا بِهَا {فَتَابَ عَلَيْهِ} قَبِلَ تَوْبَتَهُ {إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ} عَلَى عِبَادِهِ {الرَّحِيمُ} بِهِمْ {قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا} مِنَ الْجَنَّةِ {جَمِيعًا} كَرَّرَهُ لِيَعْطِفَ عَلَيْهِ {فَإِمَّا} فِيهِ إِدْغَامُ نُونِ إِنِ الشَّرْطِيَّةِ فِي مَا الزَّائِدَةِ {يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى} كِتَابٌ وَرَسُولٌ {فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ} فَآمَنَ بِي وَعَمِلَ بِطَاعَتِي {فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} فِي الْآخِرَةِ بِأَنْ يَدْخُلُوا الْجَنَّةَ {وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا} كُتُبِنَا {أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ} ماكثون أبدًا؟ لَا يَفْنَوْنَ وَلَا يَخْرُجُونَ

ترجمه - او ياد كړه چې كوم وخت مونږ فرښتوته حكم وركړو چې دَآدم په وړاندې دَتعظيم په توګه سره ټيټ شئ، ټول ښكته شوخو ابليس ښكته نه شوهغه دَ پيريانو نيكه دي يعنى : سجدې كولونه منع شو هغه به دَ فرښتو په مينځ كښې اوسيدو او په سجده كولو سره ئې تكبر اوكړو اوونى وئيل زه دَ ده نه غوره يم اوهغه دَالله تعالى په علم كښې دَ منكرينونه وو او مونږ اووئيل چې اې آدم ته (انت) ضمير دَ مستتر دَتاكيددَپاره دې دې دپاره چې په دې باندې عطف اوكړې شى او ستا بى بى حوآء چې په مد سره اودَدې تخليق ئى دَ آدم عليه السلام دَ كچې پښتئى نه كړې وو. په جنت كښې اوسيږئى اوتاسو دواړه چې څه غواړئى دَ چرته نه غواړئى په فراخئ دلته هيڅ پابندى نشته ليكن دَ خوراك په اراده تاسو دواړه دې ونې سره نيزدې (هم) مه ورځئى هغه دَغنم ونه وه يا دَ انګور وغيره ګنى په نافرمانو كښې به شمير كړې شئى. خو شيطان ابليس دَدغه ونې دَ وجې نه دواړ دهوكه كړل او په يو قراءت كښې فَأَزَالَهُمَا دې يعنى دا دواړه ئى دَ جنت نه اوويستل. په داسې طريقه چې ابليس دې دواړو ته اوونيل چې زه تاسو ته (شجرة الخلد) يعنى دَهميشه والا ونه اونه ښايم؟ اوپه الله تعالى باندې قسم خوړلو سره ئى هغوى ته اووئيل چې هغه دَدې دواړو خيرخواه دې نوهغه دواړو دَدغه ونې نه څه اوخوړل. نو راويستل ئې هغه دواړه دَ دغه عيش نه په كوم كښې چې هغوى وو او مونږ هغوى ته اووئيل تاسو ښكته زمكې ته كوز شئى يعنى تاسو دواړه سره دَ دغه اولاد كوم چې په تاسو كښې دې ستاسو اولاد به بعضې دَ بعضو دښمنان وى دَ بعضې په بعضو باندې دَ ظلم كولو دَ وجې نه او ستاسو دَپاره په زمكه كښې ټكانه ده اودَهغې دَ پيداوارنه دَ يو وخت پورې نفع اوچتول دى يعنى ستاسو دَعمر موده ختميدو پورې. آدم عليه السلام دَخپل رب نه يو څو كلمات زده

کړل کوم چې هغه آدم علیه السلام ته الهام کړل او هغه کلمات ﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۚ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴾ حضرت آدم علیه السلام دَ دغه کلماتو په ذريعه سره دعاء اوفرمائيله اوالله تعالى دَهغه دعاقبوله کړه. بيشکه هغه دَخپلو بنديگانو توبه قبولونکې دې او په هغوی باندې رحم کونکې دې. او مونږ هغوی ته اووئيل چې تاسو دَ جنت نه لاړشئ دا جمله ئې مکرره ذکرکړې دې دپاره چې په دې باندې عطف اوکړې شی. کله چې تاسو ته زما هدايت کتاب او رسول اورسی اِمَّا کښې اِن شرطيه دَ نون په ما زائده کښې ادغام دې نوچاچې زما دَهدايت تابعداری اوکړه په ما ئې ايمان راوړواوزما په طاعت باندې ئې عمل اوکړو نو په هغوی باندې نه څه ويره ده او نه به په آخرت کښې هغوی خفه وی څکه چې هغوی به په جنت کښې وی او چاچې کفراوکړو او زمونږ دَ آياتونو اوکتابونو تکذيب ئې اوکړو هغه دوزخيان دی او هغوی به هميشه په هغې کښې پراته وی نه به فنا کيږی او نه به دَ «دې نه» راوځی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اُذکر مفسرعلام حسب عادت اُذکر فعل مقدر منلوسره اشاره اوکړه چې اِذْقُلْنَا الخ دَفعل محذوف ظرف دې.

قوله: بِالْاِنْحِنَاءِ دَ سجدې تفسير ئې په انحناء سره کولوکښې اشاره اوکړه چې دلته دَ سجدې لغوی معنی مراد ده اوهغه ښکته کيدل دی. قال ابوعمرو سجد اذا طأطأ راسه څنګه چې د حضرت يوسف عليه السلام په واقعه کښې د سجدې نه لغوی معنی مراد ده. په تيتيدوسره تعظيم کول په سابقه امتونوکښې جائز وو په دې امت کښې جائزنه دی اوکه چرې دَ سجدې معنی وضع الجبهة على الارض مراد وی نو په لِاٰدَمَ کښې په لام په د معنی الی وی يعنی سجده خو هم الله تعالى ته کول مراد دی مګر مخ دَ آدم علیه السلام طرف ته کول لکه چې بيت الله طرف ته مخ کولوسره الله تعالى ته سجده کولې شی مګردا قول ضعيف دې.

قوله: تَحِيَّة،دا حَيِيَ يَحْيٰ(س) مصدر دې دَدې معنی ده حَيَّاكَ الله وئيل سلام کول.

قوله: ابليس دَدې په مشتق اوغيرمشتق کيدو کښې اختلاف دې صحيح دادې چې دا عجمی لفظ دې او عجمه او علم کيدو دَ وجې نه غيرمنصرف دې اوکه چرې د ابلاس په معنی د مايوسی نه مشتق وو نومنصرف به وې.

قوله: هوابوالجن: دَدې عبارت دَ اضافه مقصددې خبرې طرف ته اشاره ده چې اِلاَّ ابليس مستثنی منقطع ده يعنی ابليس دَ فرښتو دَ جنس نه وو بلکه صرف په هغوی کښې اوسيدو تغليبًا په فرښتوکښې شامل کړې شو. مفسرعلام وَکَانَ بَيْنَ الْمَلَائِکَةِ سره هم دې

طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: وَاسْتَكْبَرَ: عطف په أبىٰ باندې عطف علت على المعلول دَ قبيل نه دې يعنى استکبرعلت دې او أبىٰ معلول.

قوله تكبّرَ د استكبر تفسير ئې تكبر سره اوكړو او دې كښې ئې اشاره اوكړه چې سين زائده د مبالغه دپاره دې.

سوال - علت معلول باندې مقدم وى نه چې عكس.

جواب - معلول چونكه ظاهراومحسوس دې اوعلت يعنى تكبر، معنوى اوغيرمحسوس شئ دې دَدې دَپاره ئې محسوس په غيرمحسوس باندې مقدم كړو.

سوال - كان من الكافرين سره سوال پيدا كيږى چې ابليس دَاول نه كافروو نوبيا هغه په جنت كښې څنګه داخل شو؟

جواب - دَدې دوه جوابونه دى اول جواب دادې چې هغه وخت كافرنه وو. مګرد الله تعالى دَازلى علم په اعتبارسره كافروو.دويم جواب كَانَ په معنى صار دې يعنى كافرشو.

قوله: بِالْاَكْلِ. مفسرعلام ددې كلمې په اضافه كولو سره اشاره اوكړه چې لَاتَقْرَبَا كښې د قرب مكانى نه نهى مقصودنه ده بلكه دَ نه خوړلو په تاكيد كښې مبالغه مقصود ده لكه دَ الله تعالى قول ﴿وَلَاتَقْرَبُوا الزِّنٰى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً﴾ كښې چې دى.

قوله: اَذْهَبَهُمَا وَاَزَالَهُمَا. دَدې دواړو كلمو دَاضافه مقصد اَزَلَّهُمَا دَ دوه معانو بيان دې يوه معنى دهوكه كول او دويمه معنى ويستل، ختمول.

قوله كَرَّرَهٗ لِيُعْطَفَ عَلَيْهِ. ددې اضافه مقصد دَ يوسوال مقدر جواب دې.

دَ سوال تمهيد، قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا. مكرر ذكركړې شوې دې په دې تكراركښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې اول اهباط په دې خبره باندې دَ دلالت دَپاره دې چې دا هبوط دارالمحن (دنيا) طرف دې په كوم كښې چې به دَ ژوند تيرولودَپاره منډې تربې اوكوشش كولې كيږى او په خپل مينځ كښې به دَ يوبل دښمنان وى اودا هبوط به دَ يومحدود وخت دَپاره وى او په دويم هبوط كښې دې طرف ته اشاره ده چې دَدې عارضى قيام په دوران كښې هغه به دَ شرعى تكاليفوهم مكلف وى دَدې نه معلومه شوه چې دوه ځل هبوط ونيلو مقصد جدا جدا دې.

سوال - دواړه مقصدونه ئې په يوهبوط سره ولې متعلق نه كړل؟

جواب - داسې كولې شو مګر په مينځ كښې فَتَلَقّٰىٓ اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ جمله معترضه راغله په دې

وجه ئې هبوط مكرر راوړلو چې دَ ثاني مقصد ثاني سره اود اول مقصد د اول سره متصل شي دَدې مقصد طرف ته اشاره كولو دپاره مفسرعلام لِيُعْطَفَ عليه اضافه اوفرمائيله دلته دَ عطف نه مراد اصطلاحي عطف نه دې بلكه اتصال مراد دې.

قوله فَإِمَّا فاء دترتيب مابعدعلى ماقبل دپاره ده. فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ إِمَّا په اصل كښې إِنْ مَا وو. انْ شرطيه اومَا زائده دې ﴿ فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ جمله شرطيه جزائيه كيدو سره د اِن شرطيه جواب واقع دې.

[اياتوله:٤٠-٤٢]

{يَا بَنِي إِسْرَائِيل} أَوْلَاد يَعْقُوب {اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْت عَلَيْكُمْ} أَيْ عَلَى آبَائِكُمْ مِنْ الْإِنْجَاء مِنْ فِرْعَوْن وَفَلْق الْبَحْر وَتَظْلِيل الْغَمَام وَغَيْر ذَلِكَ بِأَنْ تَشْكُرُوهَا بِطَاعَتِي {وَأَوْفُوا بِعَهْدِي} الَّذِي عَهِدْته إلَيْكُمْ مِنْ الْإِيمَان بِمُحَمَّدٍ {أُوفِ بِعَهْدِكُمْ} الَّذِي عَهِدْت إلَيْكُمْ مِنْ الثَّوَاب عَلَيْهِ بدخول الجنة {وإياي فارهبون} خَافُونِ فِي تَرْك الْوَفَاء بِهِ دُون غَيْرِي {وَآمِنُوا بِمَا أَنْزَلْت} مِنْ الْقُرْآن {مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ} مِنْ التَّوْرَاة بِمُوَافَقَتِهِ لَهُ فِي التَّوْحِيد وَالنُّبُوَّة {وَلَا تَكُونُوا أَوَّل كَافِر بِهِ} مِنْ أَهْل الْكِتَاب لِأَنَّ خَلْفكُمْ تَبَع لَكُمْ فَإِثْمهمْ عَلَيْكُمْ {وَلَا تَشْتَرُوا} تَسْتَبْدِلُوا {بِآيَاتِي} الَّتِي فِي كِتَابكُمْ مِنْ نَعْت مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {ثَمَنًا قَلِيلًا} عِوَضًا يَسِيرًا مِنْ الدُّنْيَا أَيْ لَا تَكْتُمُوهَا خَوْف فَوَات مَا تَأْخُذُونَهُ مِنْ سَفَلَتكُمْ {وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ} خَافُونِ فِي ذَلِكَ دون غيري {وَلَا تَلْبِسُوا} تخلطوا {الْحَقّ} الَّذِي أَنْزَلْت عَلَيْكُمْ {بِالْبَاطِلِ} الَّذِي تَفْتَرُونَهُ {وَ} لَا {تَكْتُمُوا الْحَقّ} نَعْت مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ} أَنَّهُ الْحَق

ترجمه:- اې بنى اسرائيلو ! دَ يعقوب عليه السلام اولاد زما هغه نعمتونه يادكړئ كوم چې ما تاسو ته دركړي دي يعنى ستاسو پلارانو او نيكونوته مثلاً دَ فرعون نه خلاصې وركول او درياب لره شلول او اوريځې دَ سورى دپاره چت جوړول وغيره وغيره. په دې توګه چې زما اطاعت اوكړئ او زما دَنعمتونو شكريه اداكړئ او تاسو زما عهدپوره كړئ كوم چې ما تاسو نه اخستې وو اوهغه په محمد ﷺ باندې دَ ايمان راوړلومتعلق دې. زه به ستاسو عهدپوره كړم كوم چې تاسوسره مې كړې دې يعنى په ايمان راوړو باندې په جنت كښې داخلول او ثواب به دركوم. اوهم زما نه ويرېږئ يعنى په وعده ماتولو كښې زمانه ويرېږئ نه چې زما نه علاوه دَبل چانه ويرېږئ او په دې قرآن پاک باندې ايمان راوړئ كوم چې ما ستاسو دَ كتابونويعنى تورات دَتصديق دپاره نازل كړې دې. په توحيداو نبوت كښې ددې (قرآن او دَدې (تورات) د موافق كيدو وجې نه تاسو اهل كتابونه اول منكرمه جوړيږئ ځكه چې ستاسو نه پس راتلونكى به ستاسو اتباع كوى نودَهغوى ګناه به هم ستاسوپه سر وى اوزما دا آياتونه كوم چې ستاسو په كتاب كښې دى مثلاً دَ محمد ﷺ صفات په

سپک قیمت باندې مه خرڅه وئې یعنې په معمولی دنیاوی بضاعت سره ئې مه بدلوئې اوهم زما نه ویرېږئې یعنې په دې معامله کښې هم زمانه ویرېږئې نه چې زما نه علاوه دَ بل چانه اوحق کوم چې ما ستاسو طرف ته نازل کړې دې باطل سره کوم چې تاسو دَ ځان نه جوړه وئې مه ګډوډ کوئې او مه حق پټه وئې یعنې دَ محمد ﷺ صفت چې تاسو ته خوپخپله دَ هغې علم دې چې هغه (رسول) په حقه دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله يَابَنِىٓ إِسْرَآءِيْلَ، یعنې دَ یعقوب علیه السلام اولاد، اسرائیل عربی لفظ دې که عجمی په دې کښې اختلاف دې صحیح دادې چې عجمی دې اوهم دغه وجه ده چې دَ عُجمه اودَ عَلَم کیدودَ وجې نه غیرمنصرف دې. اسرائیل مرکب اضافی دې اِسرا په معنی دَ عبد، ایل په معنی د الله، یعنی عبدالله یا صفوة الله (دَ الله تعالی غوره) او دَ اسرائیل دَ حضرت یعقوب علیه السلام بن اسحاق علیه السلام لقب دې.

قوله بِاَن تشکروها، بطاعتی دَدې تعلق د اُذْکُرُوْا سره دې. په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې اُذْکُرُوْا نعمتی نه مراد صرف ذکر اوشمیرنه دې بلکه دَهغه نعمتونو شکریه اداکول دی ګنی ذکراوشمیرخوهرسړې کوی تردې چې کافر اومشرك ئې هم کوی.

قوله علی آبائکم، دَدې اضافه مقصد دَ یوسوال مقدرجواب دې.

سوال:- دَ اَنْعَمْتُ علیکم، مخاطب دَ حضورپاك دَ زمانې یهودیان دی اودَ اَنْعَمْتُ علیکم تفسیرکښې چې کوم انعامات شمیرکړې شوی دی په هغې کښې یوهم دَ حضورپاك په زمانه کښې موجود یهودیانو باندې نه دې شوې بیا دَحضورپاك دَ زمانې یهودیان مخاطب کولو سره انعمت علیکم وئیل څنګه صحیح دی؟

جواب:- عبارت په حذف د مضاف سره دې ای انعمتُ علی آبائکم. لهذا اوس هیڅ اشکال پاتې نه شو.

قوله. اوفوا: تاسو پورا کړئی. دا ایفاء د (افعال) نه جمع مذکر امر حاضر ده.

قوله اُوْفِ زه به پوره کړم، ایفاء نه مضارع واحدمتکلم دې.

قوله اَوْفُوْا بِعَهْدِىٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ تاسو زما عهدپوره کړئی زه به ستاسو عهدپوره کړم.

سوال: په دې آیت کښې دَ بنی اسرائیلونه دَ هغه عهد دَ پوره کولومطالبه کړې شوې ده کوم چې بنی اسرائیلو نه دې کړې بلکه اَوْفُوْا بِعَهْدِىٓ نه معلومیږی چې عهدالله تعالی کړې دې، دَ بنی اسرائیلونه دَ عهد پوره کولومطالبه کول، دا خودَ غیرفاعل نه دَ ایفاء مطالبه کول دی کوم چې صحیح نه دې؟

جواب: کوم عهد چې د معاهد (فاعل) په فعل باندې معلق وی نومفعول یعنی (فریق ثانی) د طرف نه معلق علیه پوره کولو ته وفاء عهدوئیلې شی او فاعل معاهد د (الله) عهدجنت کښې داخلول دی کوم چې معلق دی. د بنی اسرائیلو په ایمان راوړو باندې او بنی اسرائیلو ایمان معلق علیه (شرط) دې لهذا د معلق پوره کولو دپاره د معلق علیه د وفاء مطالبه کول صحیح دی. إنَّ العَهْدَ المعلق على فعلِ المعاهدِ يكونَ الوفاءُ مِنَ المفعول بالاتيان بالمعلق عليه ومن الفاعل بالاتيان بالمعلق فالمراد بِعَهْدِ اللهِ إيّا هم بالايمان والعمل الصالح، فيصح طلب الوفاء منهم بالاتيان. (ترويح الارواح)

قوله: اَلَّذِیْنَ عَهِدْتُه اِلَیکُم، په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چې دواړو خایونوکښې عهد مصدر مضاف الی الفاعل دی اودَهغه خلقو رددې څوك چې وائی اول مضاف الی الفاعل دې او ثانی مضاف الی المفعول دې اودَدې رد وجه داده چې اضافت الی الفاعل اکثرواقع دې او راجح دې. لهذا ترکومې چې څوك صارف موجود نه وی ترك کولې پورې به نه شی اودلته څوك موجود نه دې.

قوله: دونَ غیری، دا دَهغه حصرطرف ته اشاره ده کوم چې اِیَّایَ فَارْهَبُوْنِ کښې تقدیم مفعول نه مستفاددې.

قوله: من اهل الکتاب، دَدې اضافه مقصدهم دَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دادې چې دَ حضورپاك بعثت په مکه کښې شوې او دَ ټولونه وړاندې دَ نبوت دعویٰ هم حضورپاك په مکه کښې کړې ده، دَ کومې چې دَمکې کافرانو انکاراوکړو نو په دې اعتبارسره اول منکرین کفار مکه دی نه چې دمدینې یهود.

جواب:-قوله:تستبدلوا، دَ تَشْتَرُوْا تفسیر په تَسْتَبْدِلُوْا سره دکولومقصد دادې خبرې طرف ته اشاره کول دی چې دلته اشتراء په حقیقی معنی کښې ممکن نه ده ځکه چې دا باء په ثمن باندې داخلیږی دلته په آیاتی باندې داخل ده. لهذا آیاتی به ثمن وی او ثمناً به مبهم شی یعنی آیات ورکولوسره ثمن مه اخلئ اودا حقیقةً متعذره ده لهذا د اشتراء نه مجازاً استبدال مراد دې.

[ایاتونه:۴۲-۴۶]

{وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ} صَلُّوا مَعَ الْمُصَلِّينَ مُحَمَّد وَأَصْحَابه وَنَزَلَ فِي عُلَمَائِهِمْ وَكَانُوا يَقُولُونَ لِأَقْرِبَائِهِمْ الْمُسْلِمِينَ اُثْبُتُوا عَلَى دِين مُحَمَّد فَإِنَّهُ حَقّ {أَتَأْمُرُونَ النَّاس بِالْبِرِّ} بِالْإِيمَانِ بِمُحَمَّدٍ {وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسكُمْ} تَتْرُكُونَهَا فَلَا تَأْمُرُونَهَا بِهِ {وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَاب} التَّوْرَاة وَفِيهَا الْوَعِيد عَلَى مُخَالَفَة الْقَوْل الْعَمَل {أَفَلَا تَعْقِلُونَ} سُوء فِعْلكُمْ فَتَرْجِعُونَ فَجُمْلَة النِّسْيَان محل الاستفهام الإنكاري

{واستعينوا} اطلبوا المعونه عن أموركم {بِالصَّبْرِ} الْحَبْسِ لِلنَّفْسِ عَلَي مَا تَكْرَه {والصلاة} افردها بالذكر تعظيما؟ لشانه وَفِي الْحَدِيث كَانَ صَلَّي اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذا حز به أَمْر بَادَرَ إِلَي الصَّلَاة وَقِيلَ الْخِطَاب لِلْيَهُودِ لَمَّا عَاقَهُمْ عَنْ الْإِيمَان الشَّرَه وَحُبّ الرِّيَاسَة فَأُمِرُوا بِالصَّبْرِ وَهُوَ الصَّوْم لِأَنَّهُ يَكْسِر الشَّهْوَة وَالصَّلَاة لِأَنَّهَا تُورِث الْخُشُوع وَتَنْفِي الْكِبْر {وَإِنَّهَا} أَيْ الصَّلَاة {لَكَبِيرَة} ثَقِيلَة {إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ} السَّاكِنِينَ إلَي الطَّاعَة {الذين يظنون} يوقنون {أنهم ملاقوا ربهم} بِالْبَعْثِ {وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} فِي الْآخِرَة فيجازيهم

ترجمه:- اومونځ قائم کوئی او زکوة ورکوئی او رکوع کونکوسره رکوع کوئی. مونځ کونکوسره (يعني) د محمد ﷺ اودهغه ملګرو سره مونځ کوئی او (آئنده) آيت د يهودو دعلماؤ باره کښې نازل شوې چې خپلو رشته دارانوته به ئی وئيل په دين محمد ﷺ باندې قائم اوسيږئ ځکه چې دا حق دين دې. ايا تاسو خلقوته د نيکئ (يعني محمد ﷺ باندې د ايمان حکم کوئی او پخپله ئی هيره وئی چې خپل ځان ته د ايمان حکم نه کوئی سره ددې چې تاسوکتاب تورات لولئ او په هغې کښې په قول اوفعل کښې مخالفت باندې وعيددې. آيا تاسو په خپله دې غلطه طريقه باندې نه پوهيږئ؟ چې (دا د قول اوفعل تضاد نه) منع شئ جمله نسيان (يعني تنسون الخ) داستفهام انکاری محل دې او په خپلو معاملاتوکښې صبراو صلوة سره مدد طلب کوئی. نفس چې کوم څيز ناخوښه کوی دهغې په کولوباندې نفس مجبوره کولوته صبر وائی صرف د مونځ ذکر ددې د شان دعظمت د وجې نه دې.

او په حديث شريف کښې دی چې کله به حضورپاک ته د پريشانئ څه خبره مخې ته شوه نود مانځه طرف ته به ئی سبقت کولو اووئيلې شوی دی چې خطاب يهودو ته دې کله چې هغوی حرص او حب جاه د ايمان راوړلونه منع کړل نوهغوی ته د صبر چې روژه ده حکم ورکړې شو چې هغه شهوت ماتونکې ده او مونځ، ځکه چې مونځ خشوع پيداکوی اوتکبرختموی او مونځ بيشکه سخت دې مګر خشوع اختيارونکو باندې (سخت نه دې) يعنی د اطاعت طرف ته مائل کيدونکو باندې څوک چې ددې خبرې يقين لری چې دمرګ نه پس ژوندی کيدل دی او خپل رب سره ملاويدونکی دی اوهغوی له په آخرت کښې رب ته تلل دی نوهغه به دوی ته بدله ورکوی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: صَلُّوامع المصلين، د واركعوامع الراكعين تفسير ئې صلوامع المصلين سره کولو کښې اشاره اوکړه چې جزء وئيلو سره مراد کل دې اود رکوع تخصيص ددې دپاره چې د وراندينو امتونو په مونځونوکښې رکوع نه وه مطلب دادې چې تاسو هغه مونځ کوئی کوم کښې

چې رکوع هم وي او مع الراكعين سره اشاره چې مونځ په جمع سره کوئ. خطاب چونکه يهودو ته دې په دې وجه هغوی ته وئيلې شي چې تاسو داسې مونځ کوئ په کوم کښې چې رکوع هم وي او په جمع سره هم وي. چونکه د يهودو په مونځ کښې سجده خو وه ليکن رکوع نه وه. په دې وجه د رکوع والا مونځ محمد ﷺ سره د کولو حکم ورکړې شوې دې. مطلب دادې چې تاسو په محمد ﷺ باندې ايمان راوړئ او د هغوی په شان مونځونه کوئ.

قوله: فجملة النسيان محل الاستفهام الانكاري، مطلب دادې چې د انكار تعلق د تنسون انفسكم سره دې نه چې تامرون الناس سره ځکه چې امر بالبر خو امر مندوب ومطلوب دې

قوله: أفردهما بالذكر، دا د يو سوال مقدر جواب دې سوال دادې چې صرف هم مونځ ولې ذکر کړې شو؟ جواب دادې چې د دې د عظمت شان د وجې نه دا په خاص توګه ذکر کړې دې.

[اياتونه: ٤٧-٥٤]

{يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ} بالشُّكْرِ عَلَيْهَا بِطَاعَتِي {وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ} أَيْ آبَاءَكُمْ {عَلَى الْعَالَمِينَ} عَالِمِي زَمَانِهِمْ {واتقوا} خافوا {يوماً لَا تَجْزِي} فِيهِ {نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْئًا؟} وهو يوم القيامة {وَلَا يُقْبَلُ} بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ {مِنْهَا شَفَاعَةٌ} أَيْ لَيْسَ لَهَا شَفَاعَة فَتُقْبَل {فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِينَ} {ولا يؤخذ منها عَدْلٌ} فِدَاء {وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ} يُمْنَعُونَ مِنْ عذاب الله {وَ} اُذْكُرُوا {إِذْ نَجَّيْنَاكُمْ} أَيْ آبَاءَكُمْ وَالْخِطَاب بِهِ وَبِمَا بَعْده لِلْمَوْجُودِينَ فِي زَمَن نَبِيّنَا بِمَا أَنْعَمَ اللَّه عَلَى آبَائِهِمْ تَذْكِيرًا؟ لَهُمْ بِنِعْمَةِ اللَّه تَعَالَى لِيُؤْمِنُوا {مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ} يُذِيقُونَكُمْ {سُوءَ الْعَذَابِ} أَشَدّه وَالْجُمْلَة حَال مِنْ ضَمِير نَجَّيْنَاكُمْ {يُذَبِّحُونَ} بَيَان لِمَا قَبْله {أَبْنَاءَكُمْ} الْمَوْلُودِينَ {وَيَسْتَحْيُونَ} يَسْتَبْقُونَ {نِسَاءَكُمْ} لِقَوْلِ بَعْض الْكَهَنَة لَهُ إِنَّ مَوْلُودًا يُولَد فِي بَنِي إِسْرَائِيل يَكُون سَبَبًا؟ لِذَهَابِ مُلْكك {وَفِي ذَلِكُمْ} الْعَذَاب أَوْ الْإِنْجَاء {بَلَاءٌ} ابْتِلَاء أَوْ إِنْعَام {مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ} {وَ} اُذْكُرُوا {إِذْ فَرَقْنَا} فَلَقْنَا {بِكُمْ} بِسَبَبِكُمْ {الْبَحْرَ} حَتَّى دَخَلْتُمُوهُ هَارِبِينَ مِنْ عَدُوّكُمْ {فَأَنْجَيْنَاكُمْ} مِنْ الْغَرَق {وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ} قَوْمه مَعَهُ {وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ} إِلَى انْطِبَاق الْبَحْر عَلَيْهِمْ {وَإِذْ وَاعَدْنَا} بِأَلِفٍ وَدُونهَا {مُوسَى أَرْبَعِينَ لَيْلَةً} نُعْطِيه عِنْد انْقِضَائِهَا التَّوْرَاة لِتَعْمَلُوا بِهَا {ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ} الَّذِي صَاغَهُ لَكُمْ السَّامِرِيّ إِلَهًا {مِنْ بَعْدِهِ} أَيْ بَعْد ذَهَابه إِلَى مِيعَادنَا {وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ} بِاتِّخَاذِهِ لِوَضْعِكُمْ الْعِبَادَة فِي غَيْر مَحَلّهَا {ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ} مَحَوْنَا ذُنُوبكُمْ {مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ} الِاتِّخَاذ {لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} نِعْمَتنَا عَلَيْكُمْ {وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ} التَّوْرَاة {وَالْفُرْقَانَ} عَطْف تَفْسِير أَيْ الْفَارِق بَيْن الْحَقّ وَالْبَاطِل وَالْحَلَال وَالْحَرَام {لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ} بِهِ مِنْ الضَّلَال {وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ} الَّذِينَ عَبَدُوا الْعِجْل {يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ} إِلَهًا {فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ} خَالِقكُمْ مِنْ عِبَادَته {فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ} أَيْ لِيَقْتُل الْبَرِيء مِنْكُمْ الْمُجْرِم {ذَلِكُمْ} الْقَتْل {خَيْرٌ لَكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ} فَوَفَّقَكُمْ لِفِعْلِ ذَلِكَ وَأَرْسَلَ عَلَيْكُمْ سَحَابَة سَوْدَاء لِئَلَّا يُبْصِر بَعْضكُمْ بَعْضًا؟ فَيَرْحَمهُ حَتَّى قَتَل

مِنكُمْ نحو سَبعِينَ أَلفًا؟ {فَتَابَ عَلَيْكُمْ} قَبِلَ تَوْبَتَكُمْ {إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ}

ترجمه:- اې دَ يعقوب ﷺ اولاده زما هغه نعمت ياد کړئ کوم چې ما تاسو ته درکړې وو يعنی په هغه نعمتونو باندې شکرگزاريئ په ذريعه اطاعت کولو سره اوما تاسو ته يعنی ستاسو پلارانو ته په دنياوالا باندې (يعنی) دَهغه زمانې په دنياوالو باندې فضيلت ورکړې وو اودَهغه ورځ نه ويرېږئ په کومه ورځ چې به څوک دَ چا په هيڅ کارنه شی راتلې اوهغه دَ قيامت ورځ ده. اونه به دَ چادَ طرف نه سفارش قبلولې شی. (تُقْبَلُ) ياء او تاء سره دې يعنی دَهغې دَپاره به سفارش نه کيږي چې قبول به کړې شی لکه چې فما لنا من شافعين نه معلوميږي اونه به څوک څه فديه اخستوسره پريخودې شی اونه به دَهغوی مددکيږي چې هغوی دَ الله تعالی دَعذاب نه بچ کړې شی اوهغه وخت يادکړئ کوم وخت چې مونږ تاسو ته يعنی ستاسو پلارانو ته اوداخطاب هغوی ته اودَهغوی نه پس په ذريعه دهغه (يهوديانو) دې کوم چې ستاسو په زمانه کښې موجود وو دَهغه انعاماتو هغوی ته خبرورکولې شی کوم چې دَهغوی پلارانوته ورکړې شوی وو. دَالله تعالی نعمتونه وريادولودَپاره چې ايمان راوړي. دَ آل فرعون د (غلامئ) نه ئې خلاصې درکړو چې تاسو به ئې په ډير خراب عذاب سره تکليف کولې يعنی ډيرسخت عذاب او جمله د نَجَّيْنٰكُمْ ضميرنه حال دې. ستاسو (نوی) پيدا شوی هلکان به ئې ذبح کول. يُذَبِّحُوْنَ دَماقبل نه بدل دې اوستاسو لونړه به ئې ژوندئ پريخودې. بعض کاهنانو فرعون ته دَ دې ويناکولودَ وجې چې بنی اسرائيلوکښې به يوهلك پيداکيږي چې ستادَحکومت دَ زوال سبب به جوړيږي او دغه عذاب يا خلاصې ورکولوکښې ستاسو دَ رب دَ طرف نه لوئی ازميښت يا انعام دې. او يادکړئ هغه وخت چې مونږستاسودَپاره درياب شلولې وو تردې چې تاسو دَ خپل دښمن نه په تيخته په هغې کښې داخل شوئی او تاسو له ئې دَ غرقيدلونه خلاصې درکړو اوآل فرعون اودَ هغه قوم سره دَ فرعون مونږ غرق کړو او تاسو په هغوی باندې دَ درياب يوځائی کيدل ليدلې وو. او کله چې مونږ موسی ﷺ سره دَ څلويښتو ورځو وعده اوکړه (وَاعَدْنَا) کښې الف او بغيردَ الف دواړه قراءتونه دی چې مونږ به دَ دغه مودې پوره کيدو باندې تورات درکوو. دې دَپاره چې تاسو په هغې باندې عمل اوکړئ بيا تاسو هغه سخې خپل معبود جوړکړو کوم چې ستاسو دَ پاره سامری جوړکړې وو. دَ موسیٰ ﷺ زمونږ دَ وعدې مقام ته دَ تللونه پس اوتاسو دَ هغه معبود جوړولو دَوجې نه ظالمان جوړشوئی. د عبادت په غيرمحل کښې ساتلودَ وجې نه بيا مونږ تاسو معاف کړئ يعنی ستاسوگناهونه مومعاف کړل دَ سخې معبود جوړولونه پس دې دَ پاره چې تاسو په خپل ځان باندې زمونږ دَ نعمتونو شکر اداکړئ اوکله چې مونږ موسی ﷺ ته کتاب تورات اوفرقان ورکړو داعطف تفسيری دې

يعني حق او باطل او دَ حلال او حرام په مينځ کښې فرق کونکې دې دَپاره چې تاسو دَدې په ذريعه دَ گمراهئ نه هدايت حاصل کړئ او کله چې موسى عليه السلام دَ خپل قوم ته چې دَ سخي عبادت ئې کړې وو اوفرمائيل اې زما قومه تاسو سخې خپل معبود جوړ کړو په خپل ځان باندې مو ظلم کړې دې. لهذا تاسو خپل خالق ته دَهغه سخي دَعبادت نه توبه او کړئ. لهذا تاسو خپل مينځ کښې يو بل قتل کړئ يعني په تاسو کښې خراب مجرم قتل کړئ دا قتل کول ستاسو دَپاره بهتر دی ستاسو دَ پيدا کونکي په نيز نو الله تعالى تاسو ته دَدې توفيق درکړو او په تاسو باندې ئې توره اوريځې راؤليږلې دې دَپاره چې په تاسو کښې بعضې بعضو اونه ليدلې شي چې په هغه باندې ترس اوخوری. تردې چې په تاسو کښې قتل کړې شوی اويا زره کسان وؤ، نو الله تعالى ستاسو توبه قبوله کړه بيشکه هغه توبه قبلونکې او رحم کونکې دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: عَالَمِيْ زَمَانِهِمْ دَدې اضافه مقصد دَ يو سوال جواب دې.

سوال: عَالَمْ ماسوا دَ الله تعالى ته وائی دَ بنی اسرائيلو په ماسوی د الله باندې دَ فضيلت نه لازم راځی چې امت محمديه ﷺ باندې هم فضيلت حاصل وی حالانکه امت محمديه ﷺ په ټولو امتونو کښې غوره امت دې.

جواب:- دَعالم نه په هغه زمانه کښې موجو دين مراد دې نه چې مطلق موجو دين.

قوله: عَدْلٌ په معنی دَعوض، بدله، معاوضه، انصاف، فديه، عدل په کسره دَ عين سره په معنی دَمثل، ابوعمر اووئيل چې فتحه او کسره سره يوشان معنی ده.

قوله: وَلَاهُمْ يُنْصَرُوْنَ دا دَ يو سوال جواب دې.

سوال: هُمْ ضمير دَجمع مذکر دې نفس طرف ته راجع دې حالانکه نفس مفرد دې.

قوله: نفس، د نکره لاندې النفی د دداخليدو په وجه عموم باندې دلالت کوی. او ددې په وجه په نفس کښې د جمعيت معنی پيدا شوې ده.

جواب:- نَفْس دَ عِبَادْ تاويل دې.

قوله: يَسُوْمُوْنَكُمْ دا د سَوْمٌ (ن) نه مضارع جمع مذکر غائب صيغه ده هغوی تاسو ته تکليف درکوی، مجبوره کوی دې.

قوله: بَيَانٌ لِمَا قَبْلَهُ يعنی يُذَبِّحُوْنَ بعضې ماقبل يعنی يسومونکم بيان دې ځکه چې متعدد او مختلف قسم تکليفونو نه دلته صرف دَ ذبح ذکر دې.

قوله: يَسْتَحْيُوْنَ إِسْتِحْيَاء (استفعال) نه جمع مذکر غائب مضارع هغه ژوندی پريږدی.

یَتَمَنَّوْنَ اصل کښې یَتَمَنَّیُوْنَ دَ دوو یاګانو سره وو رومبې یاء عین کلمه او دویمه لام کلمه په رومبې یاء باندې کسره دشوارکیدو دَ وجې نه کسره حذف شوه. دَدې نه پس د یاء اوحاء په مینځ کښې التقاء دَ ساکنینو اوشوه دَ کوم دَ وجې نه چې یاء حذف کړې شوه اواووئیلې شوش دی چې تخفیفًا یاء ثانیه حذف کړې شوه او رومبې یاء ته دَ واؤ په مناسبت سره ضمه ورکړې شوې ده. جینکونه دَ مایؤل په اعتبارسره نساء سره تعبیرکړې شوې دی.

قوله وفی ذلکم، خبرمقدم دې. بَلَاءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ مبتداء مؤخردې.

قوله اَلسَّامِرِیُّ، دَ سامری اصل نوم موسیٰ دې دا سړې ولدالزنا وو دَ هغه مور دَ شرم اوحیاء دَ وجې نه هغه دَ یوغر په غارکښې راوړې وو اودَبدنامئ دَوجې نه ئې هم په غارکښې پریخودې وو. حضرت جبرائیل علیه السلام دَده پالنه کړې وه.

فموسی الذی ربّاه جبرئیل کافرٌ ومولی الذی ربّاه فرعون مرسلٌ

[ایاتونه: ۵۵ - ۵۹]

{وَإِذْ قُلْتُمْ} وَقَدْ خَرَجْتُمْ مَعَ مُوسَي لِتَعْتَذِرُوا إِلَي اللَّهِ مِنْ عِبَادَةِ الْعِجْلِ وَسَمِعْتُمْ كَلَامه {يَا مُوسَى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً} عِيَانًا {فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ} الصَّيْحَة فَمُتُّمْ {وأنتم تنظرون} ما حل بكم {ثم بعثناكم} احيناكم {من بعد موتكم لعلكم تشكرون} نِعْمَتَنَا بِذَلِكَ {وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ} سَتَرْنَاكُمْ بِالسَّحَابِ الرَّقِيقِ مِنْ حَرِّ الشَّمْس فِي التِّيهِ {وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ} فِيهِ {الْمَنَّ وَالسَّلْوَى} هُمَا التُّرَنْجَبِين وَالطَّيْر السُّمَانِي بِتَخْفِيفِ الْمِيم وَالْقَصْر وَقُلْنَا {كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} وَلَا تَدَّخِرُوا فَكَفَرُوا النِّعْمَة وادَّخَرُوا فَقُطِعَ عَنْهُمْ {وَمَا ظَلَمُونَا} بِذَلِكَ {وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ} لِأَنَّ وَبَاله عَلَيْهِمْ {وَإِذْ قُلْنَا} لَهُمْ بَعْد خُرُوجهمْ مِنْ التِّيهِ {ادْخُلُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ} بَيْت الْمَقْدِس أَوْ أَرِيحَا {فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا} وَاسِعًا لَا حَجْر فِيهِ {وَادْخُلُوا الْبَابَ} أَيْ بَابهَا {سُجَّدًا} مُنْحَنِينَ {وَقُولُوا} مَسْأَلَتنَا {حِطَّةٌ} أَيْ أَنْ تَحُطّ عَنَّا خَطَايَانَا {نَغْفِر} وَفِي قِرَاءَة بِالْيَاءِ وَالتَّاء مَبْنِيًّا لِلْمَفْعُولِ فِيهِمَا {لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ} بِالطَّاعَةِ ثَوَابًا {فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا} مِنْهُمْ {قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ} فَقَالُوا حَبَّة فِي شَعْرَة وَدَخَلُوا يَزْحَفُونَ عَلَي أَسْتَاههمْ {فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا} فِيهِ وَضْع الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر مُبَالَغَة فِي تَقْبِيح شَأْنهمْ {رِجْزًا} عَذَابًا طَاعُونًا {مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ} بِسَبَبِ فِسْقهمْ أَيْ خُرُوجهمْ عَنْ الطَّاعَة فَهَلَكَ مِنْهُمْ فِي سَاعَة سَبْعُونَ أَلْفًا أَوْ أَقَلّ

ترجمه:- (یاد کړئ) چې کله تاسو موسیٰ علیه السلام ته ونیلې وو (کوم وخت) چې تاسو موسیٰ علیه السلام سره دَ سخی دَعبادت دَ عذر خواهئ دَپاره دَالله تعالیٰ طرف ته وتلې وئ اوتاسو دَ هغه کلام اوریدلې وو. اې موسیٰ علیه السلام مونږ به هیڅ کله ستادَ خبرې یقین اونه کړو ترکومې چې مونږ په

بنکاره په خپلو سترګو الله تعالی اونه وينو نوتاسو دَ بجلی ګړزاګيرکړئی دَ څه په وجه چې تاسو مړه شونې. اوڅه چې په تاسوباندې تيرشو هغه تاسو ليدل. بيا مونږ تاسو ستاسودَ مرګ نه پس ژوندی کړئی دې دَپاره چې تاسو دَ دغه احسان شکرګذاری اوکړئی او مونږ په تاسو باندې دَ اوريځې سورې اوکړو. يعنی مقام تيه کښې د رقيق (نرئی) اوريځو په ذريعه دَ نمر دَ ګرمئی نه حفاظت اوکړو او په هغه مقام تيه کښې ستاسو دَ پاره من اوسلویٰ درکړل او هغه ترنجبين او مرزان وو. دَ ميم په تخفيف او الف مقصوره سره اومونږ تاسو ته اووئيل چې کوم پاک څيزونه مونږ تاسو ته درکړی دی هغه خورئی او ذخيره مه کوئی مګر هغوی دَ نعمت ناشکری اوکړه او ذخيره کول ئی شروع کړه دَ څه په وجه چې هغه څيزونه بند شو. او (ستاسو مشرانو)دَ دغه ذخيره اندوزئی په ذريعه هغوی په مونږ باندې ظلم اونه کړو بلکه پخپله هغوی په خپلو ځانونوباندې ظلم اوکړو ځکه چې دَهغې وبال اونقصان هم په هغوی باندې پريوتونکې دې. اوکله چې مونږ هغوی ته دَ مقام تيه نه دَ وتلونه پس وئيلې وو چې په دغه کلی بيت المقدس يا اريحاکښې داخل شئی اوپه هغې کښې چې څه غوارئی اودَ چرته نه غوارئی په کولاؤ او آسانه سره خورئی په دې کښې هيڅ پابندی نشته مګر دَ دغه کلی په دروازه کښې(په عاجزئی سره) په تيټه تيټه داخليږئی او وايئی چې زمونږ درخواست دَ معافئی دې يعنی زمونږ خطاګانې معاف کړئی مونږ به ستاسو خطاګانې معاف کړو او په يوقراءت کښې په ياء او تاء سره دې او دواړه صيغې د مجهول سره مونږ به نيکانوخلقو ته نورهم ورکوو دَ طاعت په سبب دَ ثواب خو چې کومه خيره هغوی ته خودلې شوې وه ظالمانو هغه په بله خيره کښې بدله کړه او حَبَّة فی شعرة ئې اووئيل دَتوبې دانې سره اوپه خپلو کناټو باندې راښکلوسره داخل شو آخرکار مونږ ظلم کونکوباندې، په دې کښې دَ ضميرپه ځائی اسم ظاهر راوړلې شوې دې دَهغوی په تقبيح شان کښې مبالغه کولودَپاره دَ آسمان نه دَ طاعون عذاب نازل کړو دَهغوی دَ فسق دَ وجې نه يعنی دَهغوی دَ اطاعت نه دَانحراف کولودَ وجې نه. چنانچې هم هغه وخت په هغوی کښې اويا زره يا (څه) کم هلاك شو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ:

سوال: مؤمن به څه څيز دې؟

جواب: صاحب کشاف وئيلی دی چې مؤمن به دادې چې هم الله تعالی تاسره خبرې کوی اودا چې هم الله تعالی تاته تورات درکړې دې. اومحی السنه وئيلی دی چې مؤمن به دَالله تعالی نبی دې.

سوال: نُّؤمِنَ، متعدی بنفسه دی نو دَدې په صله کښې لام څنګه دی؟

جواب: لام په معنی دَ اجل دی: اَیْ لَا نُّؤْمِنُ لِاَجَلِكَ یعنی صرف ستا په وینا کولو سره به ایمان نه راوړو ترکومې پورې چې مونږ په خپلو سترګو باندې الله اونه ګورو.

قوله: عیانا، دَ جَهْرَةً تفسیر په عیانًا سره کولو کښې دَ یو سوال مقدر جواب مقصود دی.

سوال: جَهْرَةً، د جَهَرْتُ بالقراءة مصدر دی. دَ کوم تعلق چې صوت یعنی آواز سره دی نو جَهْرَةً دَ رؤیة په معنی کښې د استعمالولو څه وجه ده؟

جواب: جَهْرَ، دَ رؤیة په معنی کښې مجاز دی مناسبت په دواړو کښې ظهور تام دی.

قوله: صَاعِقَة، دَ بجلئ ګرز، ګرزارې.

قوله. فَمُتُّمْ دَ فَمُتُّمْ اضافه مقصد دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چې دَ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ عطف په مقدر باندې دې لهذا اوس دا اعتراض نه شی کیدې چې بعث خو بعد الموت کیږی اودَ اخذ صاعقه دَپاره مرګ لازم نه دې، دَجواب خلاصه داده چې دَ صاعقه سره دَهغوئ مرګ واقع شو.

قوله: اَلْغَمَام، السَّحابُ الرقیق الابیض. یعنی نرمه سپینه وریځ.

قوله: تیه، دشام او د مصر په مینځ کښې دَ یو وادئ نوم دې دکوم وسعت چې نهه فرسخه دې.

قوله: مَنّ دَ یو قسم شبنمی خوږې شیرې په شکل کښې خیزوو چې دَ شپې به په پانړو باندې راجمع کیدو. مفسر علام دا په ترنجبین سره تعبیر کړې دې.

قوله: سَلْوٰی دا یو قسم مرغنی ده چې دکونترې نه وړه او دَ چرچنړې نه لویه وی په اوردو کښې هغې ته بټیر وائی اودې ته لَوَی او فارسی کښې ورته بیودنه وائی. قاموس کښې دی چې دَدې واحد سَلْوَاةٌ دې. اخفش نه نقل دی چې دَدې واحدنه دې اوریدلې شوې (لغات القرآن)

قوله: سُمَانی، دَ سین په ضمه او الف مقصوره سره دَدې جمع سمانات راځی. (ترویح الارواح)

قوله: منحنین، په دې کښې اشاره ده چې سجداً حال دې، ای متواضعین

قوله: مسالتنا حِطَّةٌ په دې کښې اشاره ده چې حِطَّةٌ دمبتداء محذوف خبر دې او حِطَّةٌ کلمه د استغفار ده او په دې کښې د حذف هم ضرورت نشته.

سوال: حِطَّةٌ لره دَ قولوا مقوله ولې اونه ګرځوله حالانکه هم دغه ظاهر دی.

جواب: ځکه چې دَ قول مقوله جمله وی او حِطَّةٌ مفرد دې دَدې اعتراض نه دَ بچ کیدودپاره مَسْالتنا دَمبتداء محذوف حِطَّةٌ خبر ګرځولې دې.

قوله: يَزْحِفُوْنَ على استاههم، اى يمشون على أدبارهم، يعنى په کناتو باندې رابنکونکې. اَسْتَاهٌ جمع سَتَهٍ، سرین.

قوله: بسبب فسقهم، دې کښې اشاره ده چې بِمَا کښې باء سببيه ده او ما مصدريه دې.

[اياتونه: ٦٠-٦١]

{و} اذكر {إِذِ اسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ} أَيْ طَلَبَ السُّقْيَا {لِقَوْمِهِ} وَقَدْ عَطِشُوا فِي التِّيه {فَقُلْنَا اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ} وَهُوَ الَّذِي فَرَّ بِثَوْبِهِ خَفِيف مُرَبَّع كَرَأْسِ الرَّجُل رُخَام أَوْ كَذَّان فَضَرَبَهُ {فَانفَجَرَتْ} انْشَقَّتْ وَسَالَتْ {مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا} بِعَدَدِ الْأَسْبَاط {قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ} سَبْط مِنْهُمْ {مَّشْرَبَهُمْ} مَوْضِع شُرْبهمْ فَلَا يَشْرَكهُمْ فِيهِ غَيْرهمْ وَقُلْنَا لَهُمْ {كُلُوا وَاشْرَبُوا مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ} حَال مُؤَكِّدَة لِعَامِلِهَا مِنْ عَثِيَ بِكَسْرِ الْمُثَلَّثَة أَفْسَدَ {وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ} اي نوع {وَاحِدٍ} وَهُوَ الْمَنّ وَالسَّلْوَى {فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا} شَيْئًا؟ {مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ مِن} لِلْبَيَانِ {بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا} حِنْطَتهَا {وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا قَالَ} لَهُمْ مُوسَى {أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَىٰ} أَخَسّ {بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ} أَشْرَف أَتَأْخُذُونَهُ بَدَله وَالْهَمْزَة لِلْإِنْكَارِ فَأَبَوْا أَنْ يَرْجِعُوا فَدَعَا اللَّه تَعَالَى فَقَالَ تَعَالَى {اهْبِطُوا} انْزِلُوا {مِصْرًا} مِنَ الْأَمْصَار {فَإِنَّ لَكُم} فِيهِ {مَّا سَأَلْتُمْ} مِنَ النَّبَات {وَضُرِبَتْ} جُعِلَتْ {عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ} الذُّلّ وَالْهَوَان {وَالْمَسْكَنَةُ} أَيْ أَثَر الْفَقْر مِنَ السُّكُون وَالْخِزْي فَهِيَ لَازِمَة لَهُمْ وَإِنْ كَانُوا أَغْنِيَاء لُزُوم الدِّرْهَم الْمَضْرُوب لِسِكَّتِهِ {وَبَاءُوا} رَجَعُوا {بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ ذَٰلِكَ} أَيْ الضَّرْب وَالْغَضَب {بِأَنَّهُمْ} أَيْ بِسَبَبِ أَنَّهُمْ {كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ} كَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى {بِغَيْرِ الْحَقِّ} أَيْ ظُلْمًا {ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ} يَتَجَاوَزُونَ الْحَدّ فِي الْمَعَاصِي وَكَرَّرَهُ لِلتَّأْكِيدِ

ترجمه: او هغه وخت یاد کړه کوم وخت چې موسی علیه السلام خپل قوم دپاره دَ اوبو دعا اوغوښتله په داسې حال کښې چې هغه په مقام تیه کښې تږی شو نوموږ موسیٰ علیه السلام ته حکم اوکړو چې خپله همسا (ګلانکې) کاڼی باندې اووهه اودا هم هغه کاڼې وو چې دَ موسی علیه السلام کپړې ئې اخستې وې اوتختیدلې وو (او) هغه کاڼې سپك څلورګوټه دَ سړی دَ سرپه شان سپین رنګې نرم وو. حضرت موسی علیه السلام هغه په همسا باندې اووهلو نو هغه اوشلیدو او دَ قبیلو دَ شمیر مطابق دَهغه کاڼی نه دولس چینې جاری شوې. او دَهغه هرې یوې قبیلې خپله خپله چینه اوپیژندله (یعنی) دَ خپلو اوبو څائی اوپیژندلو دې دپاره چې په هغې کښې بل څوك شریك نه شی او موږ هغوی ته اووئیل چې دَالله تعالی درکړې شوې رزق خورئی او په ملك کښې

فساد کولوسره مه ګرځئ. (مفسدین) دَ خپل عامل نه حال موکده دي عثیٰ ثاء مثلثه مکسوره نه ماخوذ ده په معنی د اَلْفَسَدَ دي. اوهغه وخت یاد کړئ کوم وخت چې تاسو (موسیٰ ﷺ ته) وئیلې وو چې اې موسی ﷺ مونږ به په یوقسم خوراک باندې هیڅ کله اکتفاء اونه کړو چې هغه من او سلویٰ دی. لهذا ته دَ خپل رب نه دعا اوغواړه چې زمونږ دَپاره دَ زمکې نه راتوکیدونکی څیزونونه څه څیزپیداکړی په ممّاکښې مِنْ بیانیه دي. (مثلاً) ساګ سبزی بادرنګ غنم مسور پیاز وغیره نو موسی ﷺ هغوی ته اوفرمائیل آیا تاسودَ اوچتې درجې څیز دَ ښکته درجې والا څیز په بدل کښې اخستل غواړئ یعنی دَ اعلی په بدله کښې ادنی اخستل غواړئ. او همزه دَ انکاردَپاره دي مګر هغوی دَ (خپلې مطالبې نه) منع کیدو نه انکار اوکړو. موسیٰ ﷺ الله تعالی نه دعا اوغوښتله نو الله تعالی اوفرمائیل (ښه ده)په ښارونوکښې یوښار ته لاړشئ ساګ وغیره څه چې تاسو غواړئ ملاؤ به شي. (تردي چه) په هغوی باندې ذلت خواری محتاجی یعنی دَ محتاجنی (قلبی) اثر فقر او ذلت مسلط کړې شو دَ کوم دَ وجې نه چې (قلبی) محتاجی په هغوی لازمه شوه سره دَدې چې هغوی به مالداران ولې نه وی لکه څنګه چې دَ تکسلی سکې دَپاره تهپه لازمه وی اودَ الله تعالی غضب ئې واخستو واپس شول اودَ ذلت مسلط کیدل اودَ الله تعالی غضب اخستل واپس کیدل دا ځکه اوشو چې هغوی دَ الله تعالی دَ آیاتونو انکارکولو. او نبیان به ئې ناحق په ظلم سره قتل کول لکه زکریا ﷺ او یحییٰ ﷺ دا ځکه اوشو چې هغه خلقو نافرمانی کوله او په ګناه کښې به دَحد نه زیاتیدل. (اسم اشاره) دَ تاکید دَپاره مکرر راوړې ده.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اِسْتَسْقٰی طَلَبُ السُّقیاء (استفعال) ماضی واحد مذکر غائب اوبه غوښتل دَ اوبودَپاره دعا کول، اِضْرِب بِعَصَاكَ الحجر، د ضربٌ، عام اومعروف معنی وهل او ضرب لګول دی. دَ ضَرَبَ معنی دَ تګ په هغه وخت کښې راځی کله چې دَ دې صله فی راځی. لهذا کومو حضراتو چې په غرباندې دَتللو ترجمه کړې ده (لکه چې سرسیداحمدخان کړې ده) نودا ترجمه چې څنګه دَ لغت او زبان دَ قواعدو خلاف ده دغه شان دَ تاریخ هم بالکل مخالف ده.

قوله: اَلْحَجَرَکیدې شی چې یوخاص کاڼړې مراد وی لکه څنګه چې دَ مفسرعلام هم دغه رائې ده نو په دې صورت کښې به الف لام دَعهددَپاره وی اودا هم احتمال دې چې یومعین کاڼړې مراد نه وی په دې صورت کښې به الف لام دَ جنس وی دَ معجزې دَپاره دا زیات مناسب دی.

قوله: فَضَرَبَهٗ، دَدې په مقدرمنلوکښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې فانفجرت کښې فاء فصیحه ده او اَنْفَجَرَت په محذوف باندې مرتب دي. اِنْفَجَرَتْ انفجار نه مشتق دي دَدې معنی دَ

شليدلو او بهيدلو ده.

قوله: كُلُّ أُنَاسٍ دَ كل نه كل افرادي مراد دى بالنسبة الى الاسباط نه چې كل مجموعي.

قوله: تَعْثَوْادا د عَثَا يَعْثُوا (ن) او عثِيَ يَعْثَىٰ (س) نه نهى دَ جمع مذكرحاضر صيغه ده. يعنى تاسو فساد مه خوروئى.

قوله: حَالٌ مؤكدة لعامِلِهَا دادَ يوسوال جواب دې.

سوال: حال په ذوالحال كښې په معنى زائده (دزيات په معنى) باندې دلالت كوى چې دلته مفقود دې ځكه چې كومه معنى دَعَثِيَ ده هم هغه معنى دَ مفسدين ده.

جواب: دَمعنې زياتوالې په حال منتقلة كښې ضرورى وى نه چې په مؤكده كښې اودا حال مؤكده دې.

قوله: موضع شرب، د مَشْرَبٌ تفسير موضع شرب سره كولوكښې اشاره اوكړه چې المشرب ظرف دې نه چې مصدر ميمى ځكه چې دَمصدرپه صورت كښې ئې معنى صحيح نه ده. كمالايخفى.

قوله: نوعٌ منه دَدې جملې دَ اضافې مقصد دَ يو اشكال جواب دې.

اشكال: دَ بنى اسرائيلو خوراكونه دوه وو مَنْ او سلوىٰ نوالله تعالى على طعام واحد ولې اوفرمائيل؟

جواب: دَ وحدت نه مراد وحدت نوعى دې نه چې فردى اودا دَتعدد منافى نه دې ځكه چې په عرف كښې وئيلې شى چې خوراك ډير مزيدار وو سره دَدې چې مختلف قسم خوراكونه وى.

قوله: شيئًا په مقدر منلوكښې اشاره ده چې من تبعيضيه ده، نه چې بيانيه او روستونې مِنْ بيانيه دى.شيئًا،چې دَ يُخرِجُ مفعول به دې. مقدر منلوسره دَ يو اشكال جواب وركړې دې.

اشكال: دوه حرف جر چې دَ يوې معنې وى بغيردَعطف ديوفعل سره متعلق كول صحيح نه دى لكه چې مِمَّاتنبت او من بَقْلِهَا كښې دواړه يُخْرِجْ لنا سره متعلق دې.

جواب: دواړه مِنْ په يوه معنى كښې نه دى رومبې تبعيضيه دې او دويم بيانيه.

قوله: بقلها، دا دَ مانه د حرف جر په اعاده سره بدل دې. بَقْلٌ دَ دې جمع بقول ده. هر هغه نبات ته وائى په كوم كښې چې تنانه وى قِثَّاءُ بادرنګ واحد قِثَّاءة.

قوله: فُومُ غنم اوړه هره هغه غله دَ كومې نه چې روټئ جوړيدې شى. عدس مسور، بَصَلٌ پياز.

قوله: باءُو، بَوْءٌ سره ماضي جمع مذكر غائب هغه واپس شو، او هم دَدې نه دي باءَالسماءاى رَجَعَ الى المنزل

قوله: من الامصار،أىْ بلدٍ كان من الشام دلته دَمصرنه مراد يو مخصوص ښارنه دې اونه معروف ښارمصردې مطلب دا چې دَ شام دَملك كوم يوكلى ته هم لاړشې دَمِصرًا تنوين تنكير هم دې طرف ته اشاره كوى.

قوله: جُعِلَتْ، د ضُرِبَتْ تفسير ئې په جُعِلَتْ سره كولوكښې اشاره اوكړه چې په دې كښې استعاره تبعيه په معنى دَ لزوم ده اودا دَ دوى دَ ذليل كيدو دَ طرف ته اشاره ده.

قوله: المسكنه،محتاجى.

قوله: اثرالفقر، أثر مضاف محذوف منلوسره اشاره اوكړه چې نفس فقر مراد نه دې بلكه لازم فقر كوم چې ذلت دې مراد دې. ګنې په هغوئ كښې ډير خلق غنيان هم وو او نن هم دي مګر دَ غنا تعلق دَمال اودولت سره نه دې بلكه قلب سره دې كه قلبى غنا حاصله نه وى نودَدې مصرعې مصداق به وى. آنا كه غنى ترند محتاج ترند

قوله: ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا، ذلك مشار اليه ضرب ذلت او غضب دې. سوال پيداشوې دې چې مشار اليه دوه دى او اسم اشاره مفرددې.

جواب: مشاراليه مذكورپه معنى كښې دې لهذا هيڅ اشكال نشته.

[ايا تونه:٦٢-٦٦]

{إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا} بِالأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلُ {وَالَّذِينَ هَادُوا} هُمُ الْيَهُودُ {وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ} طَائِفَةٌ مِنَ الْيَهُودِ أَوِ النَّصَارَىٰ {مَنْ آمَنَ} مِنْهُمْ {بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} فِي زَمَنِ نَبِيِّنَا {وَعَمِلَ صَالِحًا} بِشَرِيعَتِهِ {فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ} أَيْ ثَوَابُ أَعْمَالِهِمْ {عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} رُوعِيَ فِي ضَمِيرِ آمَنَ وَعَمِلَ لَفْظُ مَنْ وفيما بعده معناه {وَ} اذْكُرْ {إِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ} عَهْدَكُمْ بِالْعَمَلِ بِمَا فِي التَّوْرَاةِ {وَ} قَدْ {رَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ} الْجَبَلَ اقْتَلَعْنَاهُ مِنْ اصله عَلَيْكُمْ لَمَّا أَبَيْتُمْ قَبُولَهَا وَقُلْنَا {خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ} بِجِدٍّ وَاجْتِهَادٍ {وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ} بِالْعَمَلِ بِهِ {لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} النَّارَ أَوِ الْمَعَاصِيَ {ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ} أَعْرَضْتُمْ {مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ} الْمِيثَاقِ عَنِ الطَّاعَةِ {فَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ} لَكُمْ بِالتَّوْبَةِ أَوْ تَأْخِيرِ الْعَذَابِ {لَكُنْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ} الهالكين {وَلَقَدْ} لام قسم {عَلِمْتُمُ} عَرَفْتُمْ {الَّذِينَ اعْتَدَوْا} تجاوزوا الحد {مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ} بِصَيْدِ السَّمَكِ وَقَدْ نَهَيْنَاهُمْ عَنْهُ وَهُمْ أَهْلُ أَيْلَةَ {فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ} مُبْعَدِينَ فَكَانُوا وَهَلَكُوا بَعْدَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ {فَجَعَلْنَاهَا} أَيْ تِلْكَ الْعُقُوبَةَ {نَكَالًا} عِبْرَةً مَانِعَةً مِنِ ارْتِكَابِ مِثْلِ مَا عَمِلُوا {لِمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا} أَيْ لِلْأُمَمِ الَّتِي فِي زَمَانِهَا وَبَعْدَهَا {وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِينَ} اللَّهَ وَخُصُّوا بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُمُ الْمُنْتَفِعُونَ بِخِلَافِ غَيْرِهِمْ

ترجمه: بېشکه هغه خلق چې په سابقه انبیاء کرامو علیهم السلام باندې ایمان راوړو (یعنی مسلمانان) یهود نصاری او صابي (اوصابی) هم دَ یهودو اونصاری يوه فرقه ده په دوی کښې چې څوک هم په الله اوپه ورځ دَ قیامت دَ نبی په زمانه کښې ایمان راوړی اوذهغوی دَ شریعت مطابق نیک عمل کوی دَهغوی اجر یعنی دَهغوی دَاعمالو ثواب دَ هغوی رب سره دې اودَهغوی دَپاره به نه څه ویره وی اونه غم، د آمَنَ او عَمِلَ په ضمیر کښې دَ مَنْ لفظ رعایت دې اودَدې په مابعد کښې مَنْ دَمعنی رعایت دې اوهغه وخت یادکړه کله چې مونږ تاسو نه دَ تورات په احکامو باندې دَعمل کولو عهد اخستې وو کوم وخت چې مونږ په تاسو باندې کوه طور راوچت کړو (یعنی) دَ بیخ نه راویستلو او په تاسو باندې زورندکړو کوم وخت چې تاسو دَ تورات دَ قبلولونه انکارکړې وو اومونږ وئیلی وو چې کوم کتاب مونږ تاسو ته درکړې دا کلک اونیسئ یعنی په کوشش اومحنت سره اوچې کوم احکام په دې کښې درج دی په هغې باندې عمل کولو په ذریعه هغه یاد ساتئ دې دَپاره چې تاسو دَاور (دوزخ) یا ګناه نه بچ شئ (مګر) بیا تاسو دَ دغه عهد دَ طاعت نه واوړېدئ. بیاهم که چرې په تاسو باندې دَتوبې اودَ عذاب دَ تاخیرپه ذریعه دَالله تعالی فضل او رحمت نه وو شوې نوتاسو به په نقصانیانو (یعنی) دَهلاکیدونکونه کیدئ اویقیناً تاسو دَهغه خلقو باره کښې پوهیږئ چا چې په تاسو کښې دَهفتې دَ ورځې باره کښې دکبانو ښکار کولو سره دَحد نه تجاوز اوکړو. حالانکه مونږ هغوی دَدې نه منع کړی وو او هغوی دَ ایله اوسیدونکی وو. نومونږ دَهغوی دَپاره حکم اوکړو چې ذلیل او شړلې شوې بیزوګان جوړ شئ نوهغوی ټول بیزوګان شو. او درې ورځې پس هلاك شو. نومونږ دا سزا موجوده او راتلونکی کسانو یعنی دَهغوی او هغوی پسې شاته خلقو دَپاره (سامان) عبرت یعنی دَ هغوی په طرز عمل کولونه منع کیدونکی جوړکړل. اودَ الله تعالی ویره لرونکو دَپاره نصیحت جوړکړو اودَ متقینو دَ تخصیص وجه دا ده چې هم دغه خلق دَدې نه استفاده کوی په خلاف دَ هغوی نه علاوه.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله هَادُوْا، ای دَخَلُوْا فِی الْیَهُوْدِیَّةِ، هَادُوْا ماضی جمع مذکر غائب معروف، یهودی مذهب نې اختیارکړو. (ن) هُوْدًا توبه کول یهودی کیدل، دَ سخی دَ عبادت نه توبه کولودَ وجې یهودیان یادیدل، هُوْدٌ دَ یهودیانو جماعت، الیهود که چرې عربی دې نو هَادَ نه ماخوذ دې په معنی د تاب، چونکه دغه خلقو دَخپلو څانونو په قتل کولو سره دَ سخی دَ عبادت نه توبه کړې وه په دې وجه دا خلق یهودیان یادیدل اوکه چرې عجمی وی نو په دې صورت کښې دَحضرت یعقوب علیه السلام مشر څوئی یهوذا طرف ته به نسبت شی دَ تعریب په وخت ذال په دال سره بدل کړې شو کوم چې دَ معربین عام عادت دې.

قوله: النصاري، دا دَ نَصْرَان جمع ده په دې کښې ياء نسبتي ضرور استعماليږي. وئيلې شي منع کيدل، نصراني، إمرأة نصرانية، دَنصارى وجه تسميه خويا داده چې هغوی وئيلی وو نحن انصارالله يا نَصْرَان نومې يا ناصره نومې کلي طرف ته نسبت کولوسره نصراني ياديدل. (اعراب القرآن، لغات القرآن)

قوله: اَلصَّابِئِيْنَ دا دَ صابي جمع ده او صَبَاالابْنُ نه ماخوذ دې چې دَ دين نه خارج شي دَ بعضې مفسرينو داخيال دې چې صابي دَ ستورو عبادت کونکو ته وائي. ابواسحاق صابي کاتب شاعر تعلق هم دَهغه قوم نه وو. دَبعض مفسرينو خيال دې چې دې خلقو دَهردين او عقيدې نه څه نا څه اخستې وو. دغه شان دا جدا جدا شو مفسرعلام طائفة من اليهودوالنصارى وئيلوسره دې طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: في زمن نبينا دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ يواشکال جواب دې.

اشکال: پورته اوفرمائيلې شو اِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا او بيا اوفرمائيلې شو اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ دَ دوارو مفهوم هم يو دې نودَدې تخصيص بعدالتعميم څه ضرورت دې؟

جواب:- دَ دوارو مصداق جدا جدا دې دَ اِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مصداق هغه خلق دی چې په زمانه فترت (وقفه) کښې ايمان راوړو لکه ورقه بن نوفل بحيرا راهب، سلمان فارسي رضي الله عنه وغيره په دوی کښې بعضو دَحضورپاک زمانه هم ليدلې اوبعضې دَ حضورپاک دَ بعثت نه وړاندې وفات شوی وو هم ددې طرف ته اشاره کولودَپاره علامه سيوطی رحمه الله بالانبياء من قبل فرمائيلی او مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ نه هغه خلق مراد دی چې دَ حضورپاک په زمانه کښې ئی هم په حضورپاک باندې ايمان راوړې. دَدې نه معلومه شوه چې دَ دوارو په مصداق کښې مغايرت دې لهذا دَ تکرار اشکال ختم شو. اوهم دَدغې مغايرت دَ بيان دَپاره دَ بل آيت په تشريح کښې في زمن نبينا اوفرمائيلې شو.

سوال: مَنْ اٰمَنَ او مَنْ عَمِلَ کښې دَضميرمفرد مرجع مَنْ دې او فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ کښې هم ضمير جمع مرجع هم مَنْ دې کوم چې صحيح نه دې.

جواب: مفسرعلام رُوْعِيَ في ضميرالخ اضافه کولوسره هم دَدې سوال جواب ورکړې دې مطلب دادې چې په اول کښې دَمَنْ دَ لفظ رعايت دې اوپه دويم مَنْ کښې معنی رعايت دې. داخبره ياد ساتئی چې دَ مَنْ لفظ په اعتبارسره مفرد او دَمعنی په اعتبارسره جمع دې.

قوله: وَقَدْ رَفَعْنَا: قَدْ مقدر منلوسره اشاره اوکړې شوه چې واؤ حاليه دې نه چې عاطفه اورَفَعْنَا دَ قَدْتقدير سره اَخَذْنَهُمْ نه حال دې نه چې معطوف. څکه چې دَامام شافعی رحمه الله په

نیز معطوف علیه او معطوف کښې ترتیب ضروری دې حالانکه رفع طور مقدم دې او اخذ میثاق مؤخر.

قوله: بالعمل، بالعمل اضافه کولوسره اشاره اوکړه چې دَ ژبې ذکر کافی نه دې بلکه مقصد عمل دې مطلب دادې چې نعمتونه شمیرل مقصد نه دې عمل مقصد دې.

قوله: النار والمعاصی، دې کښې اشاره ده چې د تَتَّقُونَ مفعول النار یا المعاصی محذوف دې دا تنزیل المتعدی منزلة اللازم دَ قبیل نه نه دې.

قوله: نكال جمع أنكال بیرته واپس لازم دَ منع په توګه باندې عذاب او منع کښې استعمالیږی.

[ایاتونه: ٦٧ - ٧١]

{وَ} اذْكُرْ {إِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ} وَقَدْ قُتِلَ لَهُمْ قَتِيل لَا يُدْرى قَاتِله وَسَأَلُوهُ أَنْ يَدْعُو الله أَنْ يُبَيِّنهُ لَهُمْ فَدَعَاهُ {إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً قَالُوا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا} مَهْزُوءًا؟ بِنَا حَيْثُ تُجِيبنَا بِمِثْلِ ذَلِكَ {قَالَ أَعُوذُ} أَمْتَنِع {بِاللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ} الْمُسْتَهْزِئِينَ فَلَمَّا عَلِمُوا أَنَّهُ عَزْم {قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ} أَيْ مَا سِنّهَا {قَالَ} مُوسَى {إِنَّهُ} أَيْ اللَّه {يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا فَارِضٌ} مُسِنَّة {وَلَا بِكْرٌ} صَغِيرَة {عَوَانٌ} نِصْف {بَيْنَ ذَلِكَ} الْمَذْكُور مِنْ السِّنِينَ {فَافْعَلُوا مَا تُؤْمَرُونَ} بِهِ مِنْ ذَبْحهَا {قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا لَوْنُهَا قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَوْنُهَا} شَدِيد الصُّفْرَة {تَسُرُّ النَّاظِرِينَ} إلَيْهَا بِحُسْنِهَا أَيْ تُعْجِبهُمْ {قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ} أَسَائِمَة أَمْ عَامِلَة {إِنَّ الْبَقَرَ} أَيْ جِنْسه الْمَنْعُوت بِمَا ذُكِرَ {تَشَابَهَ عَلَيْنَا} لِكَثْرَتِهِ فَلَمْ نَهْتَدِ إلَى الْمَقْصُود {وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ} إلَيْهَا وَفِي الْحَدِيث لَوْ لَمْ يَسْتَثْنُوا لَمَا بُيِّنَتْ لَهُمْ لِآخِرِ الْأَبَد {قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا ذَلُولٌ} غَيْر مُذَلَّلَة بِالْعَمَلِ {تُثِيرُ الْأَرْضَ} تُقَلِّبهَا لِلزِّرَاعَةِ وَالْجُمْلَة صِفَة ذَلُول دَاخِلَة فِي النَّفْي {وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ} الْأَرْض الْمُهَيَّأَة لِلزِّرَاعَةِ {مُسَلَّمَةٌ} مِنْ الْعُيُوب وَآثَار الْعَمَل {لَا شِيَةَ} لَوْن {فِيهَا} غَيْر لَوْنهَا {قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ} نَطَقْت بِالْبَيَانِ التَّامّ فَطَلَبُوهَا فَوَجَدُوهَا عِنْد الْفَتَى الْبَارّ بِأُمِّهِ فَاشْتَرَوْهَا بِمِلْءِ مَسْكهَا ذَهَبًا؟ {فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ} لِغَلَاءِ ثَمَنهَا وَفِي الْحَدِيث لَوْ ذَبَحُوا أَيّ بَقَرَة كَانَتْ لَأَجْزَأَتْهُمْ وَلَكِنْ شَدَّدُوا عَلَى أَنْفُسهمْ فَشَدَّدَ اللَّه عَلَيْهِمْ

ترجمه:- او هغه وخت یاد کړه کله چې موسی علیه السلام خپل قوم ته اووئیل او دَ هغوی نه څوک سړې قتل شوې وو او دَ هغه دَ قاتل پته نه لګیده. هغه خلقو حضرت موسی علیه السلام ته درخواست اوکړو چې تاسو دَالله تعالی نه دعا اوغواړئ چې هغه قاتل ښکاره شي حضرت موسی علیه السلام دعا اوغوښتله (او ونې وئیل) الله تعالی تاسو ته دَ یوې غوا دَ ذبح حکم درکوی نو هغوی اوئیل ولې ته مونږ پورې ټوقې کوې یعنی زمونږ مسخرې جوړه وې چې داقسم جواب راکوئې؟ (حضرت موسی علیه السلام) اووئیل زه دَالله تعالی پناه غواړم چې دَ جاهلانو په شان خبرې

اوکړم (یعنی) تړقوکونکوکښې شمیرشم. کله چې هغوی پوهه شوچې هغه حقیقت وائی (تړقې نه کوی) نووې وئیل تاسو زمونږ دپاره دَ خپل پروردګار نه دعا اوکړه چې هغه مونږ ته دَ دغه (غوا) باره کښې څه (تفصیل) اوښائی چې دَهغې عمر څه وی؟ (موسیٰ ﷺ) اوفرمائیل چې الله تعالی فرمائی چې هغه به نه بوډئی وی او نه بچې (بلکه) دَ درمیانه عمر وی لهذا (دَ ذبح) کوم حکم چې تاسو ته درکولې شی هغه اوکړئی. بیا ئی اووئیل دَ خپل رب نه دا نور تپوس اوکړه چې دَهغې رنګ څنګه به وی؟ (حضرت موسی ﷺ) اوفرمائیل چې الله تعالی فرمائی چې هغه دَ دیر شوخ رنګ زیړه وی کتونکوته دَهغې دَ خوبیانودَ وجې نه یعنی (ناظرین) په حیرانتیاکښې واچوی هغوی بیا اووئیل چې خپل رب نه صفاصفا تپوس اوکړه چې مونږ ته اوښائی څنګه (غوا) مطلوب ده؟ په څنګل کښې څریدونکې به وی که ساتلې شوې (کورنئی) بیشکه دَ مذکوره صفاتو دَ غوا په تعیین کښې زمونږ شک پیداشوې دَدې صفت (جنس) غواګانې په کثرت سره کیدودَ وجې په کوم سره چې مونږ مقصد ته رسیدې نه شو (موسیٰ ﷺ) اوفرمائیل هغه وائی چې داسې غوادې وی چې دَ هغې نه خدمت نه وی اخستې شوې په کارکښې استعمال شوې نه وی نه په زمکه اړولوکښې استعمال شوې وی چې زمکه دَ زمیندارئی دَپاره اړولې را اړولې شی او تول (تثیر الارض، ذلولٌ صفت دې کوم چې دَنفی لاندې داخل دی اونه دَپټی اوبه خورکړې وی یعنی هغه زمکه کومه چې دَ فصل دَپاره تیاره کړې شوې وی دَعیبونو او دَ کرد نښاناتو نه صحیح سالمه وی او په دې کښې دَهغې دَ (اصلی) رنګ نه علاوه هیڅ داغ نه وی نووئی وئیل چې اوس تا صحیح پته اوخودله یعنی پوره وضاحت دې اوکړو. نوهغوی دَدې لټون شروع کړو نوهغه ئی یوځوان سره اولیدله چې دَخپلې مور حکم منونکې وو دې خلقو دغه غوا دَهغې د څرمن دَ سرو زرو نه دَ ډکولوپه عوض واخستله بیاهغوی دا ذبح کړه ګنی هغوی دَ دې دومره قیمتی کیدو دَ وجې داسې کونکی نه معلومیدل. په حدیث شریف کښې دی چې که هغوی کومه یوه غوا هم ذبح کړې وه نودَهغوی دَپاره به کافی کیدله لیکن هغوی پخپله په خپل ځان باندې سختی اوکړه نوالله تعالی هم په هغوی باندې سختی اوکړه.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله بَقَرَةٌ د بَقَرَة اطلاق سره ددې چې په نر او ماده دواړو باندې کیږی مګر دلته ترې نه ماده مراد ده. بَقَرَةٌ بَقْرٌ نه مشتق دې دَ کوم معنی چې شلول دی چونکه دا زمکه اړه وی په دې وجه دې ته بقرة وائی.

قوله مَهْزُوًّا، هُزُوًا، تفسیر مَهْزُوًّا سره کولوکښې اشاره اوکړه چې هُزُوًا مصدر په معنی د اسم مفعول دې.

قوله: مَا لِنُهَا، مَاهِيَ تفسير په مالونُهَا سره کولو کښې اشاره اوکړه چې مَا اګرچې ماهيت نه دَ سوال کولو دَپاره راځي مګر دا قاعده کليه نه ده بلکه اکثريه ده.

قوله: فَارِضٌ، بوډئ.

سوال: فارض، د بقرة صفت دې لهذا فارضة، کيدل پکار دی.

جواب: مفسر علام فارض تفسير مسنة سره کولو کښې اشاره کړې ده چې دا مسنة نوم دې نه چې د بقرة صفت فارض، فَرَضٌ نه اسم فاعل دې دَدې معنی خيرل شلول او ارتول دی. دلته فارض نه هغه غوا يا غوئې مراد دې چې خپله ځواني ئې تيره کړې وی بوډا والی ته رسيدلې وی يا دَ بوډا والی دَ وجې نه دَهغې غاښونه وتلې وی.

قوله: عَوَانٌ، متوسط درميانه عمر جمع عُوْنٌ تخفيفًا دَ واؤ ضمه حذف کړې شوې ده.

قوله: فَاقِعٌ تيز زيړ دَ تاکيد په توګه دَتيز زيړ دَپاره راوړلې شي. أصفر فاقعٌ او دَ تيز تور دَپاره وئيلې شی. أَسْوَدُ حَالِكٌ اودَ تيز سپين دَپاره په تاکيدی توګه راوړلې شی. ابيض يقق او دَ تيز سور دَپاره په تاکيدی توګه سره وئيلې شی احمر قانئ او دَ شين دَ پاره اخضر ناضرٌ (لغات القرآن درويش)

قوله: لَا ذَلُولٌ، اي لَا مُذَلَّلَ لِلحراثةِ يعنی کومه چې دَزميندارئ په کار روزګار کښې نه وی استعمال کړې شوې.

قوله. غَيرُمُذَلَّلَةٍ، بالعمل دَدې اضافه نه دَمفسر علام مقصد دَ يو سوال جواب دې.

سوال: لَا ذَلُولٌ دَبَقَرة صفت دې حالانکه حرف نه صفت واقع کيدې شی او دَ صفت جزء لهذا دَ لَا ذَلُوْلٌ صفت واقع کيدل صحيح نه دی.

جواب: لا په معنی د غَيْرَ دې لهذا اوس هيڅ اشکال نشته. (ترويح الارواح)

قوله: الجملة صفة ذلولٍ يعنی (تثيرالارض) ذَلُوْلٌ صفت دې او د لا لاندې داخل دې اي لا تثير الارض.

قوله: شية داغ، نشان دَ يو رنګ په خاروی کښې دَ بل رنګ داغ، شِيَةٌ په اصل کښې وشية وو واؤ حذف کړې شو لکه چې عِدَةٌ او زِنَةٌ کښې اوحذف شوې واؤ په عوض آخره کښې هَا لاحق کړې ده جمع شِيَاتٌ.

قوله: مَسْکِهَا، مسكٌ خرمن جمع مُسُوكٌ.

[ایاتونه: ٧٢ - ٧٧]

{وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ} فِيهِ إِدْغَام الدَّال فِي التَّاء أَيْ تَخَاصَمْتُمْ وَتَدَافَعْتُمْ {فِيهَا وَاللَّهُ مُخْرِجٌ} مُظْهِر {مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ} مِنْ أَمْرِهَا وَهَذَا اعْتِرَاض وَهُوَ أَوَّل الْقِصَّة {فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ} أَيْ الْقَتِيل {بِبَعْضِهَا} فَضُرِبَ بِلِسَانِهَا أَوْ عَجْب ذَنَبهَا فَحَيِيَ وَقَالَ قَتَلَنِي فُلَان وَفُلَان لِابْنَيْ عَمّه وَمَاتَ فَحُرِمَا الْمِيرَاث وَقُتِلَا قَالَ تعالي {كَذَلِكَ} الْإِحْيَاء {يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَى وَيُرِيكُمْ آيَاته} دَلَائِل قُدْرَته {لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ} تَتَدَبَّرُونَ فَتَعْلَمُونَ أَنَّ الْقَادِر عَلَي إِحْيَاء نَفْس وَاحِدَة قَادِر عَلَي إِحْيَاء نُفُوس كَثِيرَة فَتُؤْمِنُونَ {ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ} أَيُّهَا الْيَهُود صَلُبَتْ عَنْ قَبُول الْحَقّ {مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ} الْمَذْكُور مِنْ إِحْيَاء الْقَتِيل وَمَا قَبْله مِنْ الْآيَات {فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ} فِي الْقَسْوَة {أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً} مِنْهَا {وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَارُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ} فِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الشِّين {فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ} يَنْزِل مِنْ عُلْو إِلَي أَسْفَل {مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ} وَقُلُوبكُمْ لَا تَتَأَثَّر وَلَا تَلِين وَلَا تَخْشَع {وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ} وَإِنَّمَا يُؤَخِّركُمْ لِوَقْتِكُمْ وَفِي قِرَاءَة بالتحتانية وَفِيهِ الْتِفَات عَنْ الْخِطَاب {أفتطمعون} ايها المؤمنون {أَنْ يُؤْمِنُوا لَكُمْ} أَيْ الْيَهُود {وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ} طَائِفَة {مِنْهُمْ} أَحْبَارهمْ {يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ} فِي التَّوْرَاة {ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ} يُغَيِّرُونَهُ {مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ} فَهِمُوهُ {وَهُمْ يَعْلَمُونَ} أَنَّهُمْ مُفْتَرُونَ وَالْهَمْزَة لِلْإِنْكَارِ أَيْ لَا تَطْمَعُوا فَلَهُمْ سَابِقَة بِالْكُفْرِ {وإذا لقوا} أي منافقوا اليهود {الذين آمنوا قالوا آمنا} بان محمد صَلَّي اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيّ وَهُوَ الْمُبَشَّر بِهِ فِي كِتَابنَا {وَإِذَا خَلَا} رَجَعَ {بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ قَالُوا} أَيْ رُؤَسَاؤُهُمْ الَّذِينَ لَمْ يُنَافِقُوا لِمَنْ نَافَقَ {أَتُحَدِّثُونَهُمْ} أَيْ الْمُؤْمِنِينَ {بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ} أَيْ عَرَّفَكُمْ فِي التَّوْرَاة مِنْ نَعْت مُحَمَّد صَلَّي اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {لِيُحَاجُّوكُمْ} لِيُخَاصِمُوكُمْ وَاللَّام لِلصَّيْرُورَةِ {بِهِ عِنْدَ رَبِّكُمْ} فِي الْآخِرَة وَيُقِيمُوا عَلَيْكُمْ الْحُجَّة فِي تَرْك اتِّبَاعه مَعَ عِلْمكُمْ بِصِدْقِهِ {أَفَلَا تَعْقِلُونَ} أَنَّهُمْ يُحَاجُّونَكُمْ إِذَا حَدَّثْتُمُوهُمْ فَتَنْتَهُوا قَالَ تَعَالَي {أَوَلَا يَعْلَمُونَ} الِاسْتِفْهَام لِلتَّقْرِيرِ وَالْوَاو الدَّاخِلَة عَلَيْهَا لِلْعَطْفِ {أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ} مَا يُخْفُونَ وَمَا يُظْهِرُونَ مِنْ ذَلِكَ وَغَيْره فَيَرْعَوُوا عَنْ ذَلِكَ

ترجمه: اوهغه واقعه یاده کړئ کوم وخت چې تاسو یوسړې قتل کړې وو بیا تاسو په دغه (معامله) کښې جنګ جګړې کولې. (ادَّارَأْتُمْ اصل (یعنی تَدَارَأْتُمْ) کښې دَ تاء په دال کښې ادغام دې یعنې جګړه کونکی وو او په یوبل باندې مو الزام لګولو. اوکومه خبره چې تاسو پټول غوښتل الله تعالی دَهغې ښکاره کونکې وو داجمله معترضه ده، دا دَ قصې دَ شروع حصه ده. (او په تلاوت کښې مؤخرده) نوموږ حکم اوکړو چې دې مقتول سره د (مذبوحه غوا څه حصه اولګوئی نودَ غوا ژبه یا دَ لکئ دَ بیخ حصه مقتول سره اولګولې شوه نوهغه (مقتول) ژوندې راپاسیدو او وئی خودل چې زما دَتره خامنونه فلانکی فلانکی زه قتل کړې یم او (دومره وینا کولو سره زر) مړشو نودواړه دَمیراث نه محروم کړې شو اوقتل کړې

شو. الله تعالی فرمائی چې دې (ژوندې کولو) په شان به الله تعالی مړی ژوندی کوی او تاسو ته به دَ خپل قدرت نمونې اوښائی دې دَپاره چې تاسو پوهه شئی او غورو فکر او کړئی او په دې خبره باندې پوهه شئی چې کوم ذات دَ یوسړی په راژوندی کولو باندې قادر دې هغه دَ دیرکسانو په راژوندی کولو باندې هم قادر دې. پس تاسو ایمان راوړئی بیا دَ دغه مذکور یعنی مقتول ژوندی کولو اودَدې نه وړاندې ذکرشوې معجزې کتلونه پس اې یهودیانو دَحق قبلولو نه ستاسو زړونه سخت شو او هغه دَ زړه په سختوالی کښې دَ کاڼړی په شان دی. یادَدې نه هم زیات سخت دی. او بیشکه په کاڼړو کښې خوبعضې داسې هم دی دکومو نه چې چینې راوُځی او په دې کښې بعضې داسې دی چې اوشلیږی (تَشَقَّق) دَ تاء ادغام دې په شین کښې چې دَهغې نه اوبه راوُځی او بعضې په دې کښې داسې دی چې دَالله تعالی دَ ویرې نه دَ پورته نه ښکته رارغړیږی. (مګر) ستاسو زړه خو نه متاثرکیږی او نه نرمیږی او نه ویریږی او دا څه چې تاسو کوئی الله تعالی دَهغې نه بې خبره نه دې او بیشکه هغه تاسو ته دَ یووخت دَپاره مهلت درکوی او په یوقراءت کښې (یعملون) یاء تحتانیه سره دې او په دې کښې دَحاضرنه (غائب طرف ته) التفات دې. اې مسلمانانو! آیا اوس هم تاسو توقع لرئی چې یهود به ستاسو په وینا کولو سره ایمان راوړی؟ حالانکه په هغوی کښې یوفریق چې هغه دَ هغوی دَعلماؤ دې په تورات کښې دَ الله تعالی کلام اوری او دَ پوهیدلونه پس هغه بدلوی حالانکه هغوی پیژنی چې افترا کوی. (اَفَتَطمعون) کښې همزه دَ انکاردې یعنی تاسو توقع مه ساتئی ځکه چې کفر دَهغوی سابقه خصلت دې او منافق یهودیان کله چې مسلمانانو سره ملاویږی نو وائی مونږ په دې خبره چې محمد ﷺ (دَ الله تعالی) نبی دې ایمان مو راوړلې دې او زمونږ په کتاب کښې دَهغه زیرې ورکړې شوې دې او کله چې خپل مینځ کښې ځان له ملاویږی نو دَهغوی سرداران چې منافقان دی منافقانوته وائی آیا تاسو دې (مسلمانانو) ته هغه خبرې ښایئی کومې چې الله تعالی تاسو ته ښکاره کړی دی. یعنی دَ محمد ﷺ هغه صفات چې تاسو ته په تورات کښې خودلې شوی دی دې دَپاره چې په تاسو باندې دَدې په ذریعه په آخرت کښې ستاسو دَ رب په وړاندې حجت قائم کړی یعنی تاسو سره مخاصمت جګړه اوکړی او لام دَ صیرورت دَپاره دې او (محمد ﷺ) په ترک اتباع باندې هغه رښتونې (نبی) پیژندلو باوجود حجت قایم کړی ولې دا خلق نه پوهیږی استفهام دَتقریر دَپاره او په دې چې کوم واؤ داخل دې هغه دَعطف دَپاره دې چې الله تعالی هره خبره پیژنی کومې چې دوی پټه وی او ښکاره کوی دَهغه خبرونه. اودَدې نه علاوه نه په دې وجه دَدې پټولو نه منع شئی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: اِدّٰرَءْتُمْ په وزن اِفَّاعَلْتُمْ ماده دَرْءَه په معنی ده جګړه کول او دفع کولو سره اِدّٰرَءْتُمْ تَدَارَءْتُمْ (تفاعل) نه ماضی جمع مذکرحاضر، تاسو په یوبل باندې الزام واچولو

إِدَّارَءْتُمْ په اصل کښې په په وزن تفاعَلتُمْ وو دَتاء او دال قريب المخرج كيدو د وجې نه تاء په دال سره بدله کړې شوه بیاد دال په دال کښې ادغام اوکړې شو د کوم د وجې نه چې ابتداء بالسکون لازم راغله. دا دشواری لرې کولو دپاره همزه وصل شروع کښې راوړلې دې نو اِدَّارَءْتُمْ شو.

قوله فِيهَا، اى فى واقعة قتل النفس.

قوله هذا اعتراض، يعنى وَاللهُ مُخْرِجٌ مَاكُنتُمْ تَكْتُمُونَ د معطوف او معطوف عليه په مينځ کښې جمله معترضه ده.

قوله مِنْ اَمْرِهَا دې کښې اشاره ده چې تَكْتُمُونَ مفعول محذوف دې

قوله مَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ کښې مَا موصوله ده او تكتمون جمله كيدو سره صله ده عائد محذوف دی تقدیری عبارت دادې اَلَّذِى تكتمونهُ من امر القتل.

قوله هو اول القصة، يعنى اِدَّارَءْتُمْ سره د اول قصې بيان دې او په سابقه رکوع کښې چې کوم بیان اوشو هغه دَدې نه پس حصه ده سره دَدې چې په تلاوت کښې مقدم دې دَدې تقدیم او تاخير مقصد د يهوديانو قبائح يوځائې بيانول دی.

قوله كَذَٰلِكَ يُحْيِ اللهُ الْمَوْتَىٰ داجمله هم په کلام مسلسل کښې معترضه ده اودَدې مخاطب غيريهود دی ځکه چې دا يهود منكرين بعث نه وو.

قوله ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ

سوال ثُمَّ په تراخي زمان باندې دلالت کوی اودلته تراخی فی الزمان نشته ځکه چې د یهودو قلبی شقاوت هغه وخت موجود وو، نه دا چې روستو پيداشوې، لهذا د ثُمَّ استعمال په محل نه معلومیږی.

جواب دلته ثُمَّ استعمال مجازاً د استبعاد معنی کښې دې يعنى دومره ډير دلائل كتلو اوريدلو نه پس د يوعاقل بالغ نه شقاوت قلبی لرې خبره ده.

قوله اَوْاَشَدُّ قَسْوَةً، او په معنی د بَلْ دې مگر ابوحيان اَوْ دتوزيع دپاره اخستې دې يعنى د زړونو قسمونه بیانولو دپاره.

قوله مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ دا د استبعاد نور تاكيد دې يعنى چې كوم مفهوم د ثُمَّ دې هم هغه د مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ دې

قوله اَفَتَطْمَعُونَ، دا طمعٌ نه مضارع جمع مذكر حاضر دې. همزه استفهام انکاری دې يعنى آيا تاسو توقع لرئی چې هغوی به ستاسو خبره اومنی؟ يعنى تاسو له توقع نه دی

ساتل پکار. اَفَتَطْمَعُوْنَ، اصل کښې فَاَتَطْمَعُوْنَ، دَ فاء په تقدیم سره وو همزه استفهام چونکه صدارت د کلام غواړي په دې وجه همزه په فاء باندې مقدم کړې شو اَفَتَطْمَعُوْنَ شو. دا دَ جمهورو مذهب دې. زمخشري رحمه الله وئیلی دي چې همزه په محذوف باندې داخل دې اوفاء عاطفه ده اومعطوف علیه محذوف دې تقدیري عبارت داسې دې اَتَسْمَعُوْنَ کلامَهُمْ وتعرفون احوالهم فتطمعون أن يؤمنوا لكم.

فائده: همزه استفهام، حروف عطف کښې صرف په دریو باندې داخلیږي. واؤ، فاء، ثم.

قوله اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ: **سوال:** دَ یؤمنو اصله لام نه راځي بلکه باء راځي او دلته لام استعمال شوې دې.

جواب: یؤمنوا یَنْقَادُوْا معنی ته مشتمل دې لهذا لام صله راوړل صحیح دی یعنی آیا ستاسو توقع ده چې دوی به ستاسو خبره اومني.

قوله: فَلَهُمْ سابقة بالکفر، یعنی دَ دوی خودَ کفر اوانکار زوړعادت دې ځکه چې یهودیانو خو په تورات کښې تحریف کولو سره دَمحمد ﷺ دَ انکارکولونه وړاندې کفرکړې دې لکه چې کفر اوانکارد دوی زوړ عادت دې لهذا دَدوی ایمان راوړل ډیره لرې خبره ده.

قوله: اِذَا خَلَا رَجَعَ، د خَلاَ تفسیر رَجَعَ سره کولو سره دَدې اعتراض جواب ورکړې شو چې خَلاَ، صله الی نه راځي حالانکه إذا خلا بعضهم الی بعض کښې دَخلا صله الی استعمال شوې.

جواب: خَلاَ، رَجَعَ معنی ته متضمن دې دَدې دَ وجې نه دَدې صله الی راوړل صحیح دی.

قوله: واللام للصيرورة لِيُحَاجُّوكم، کښې لام دَتعلیل نه دې بلکه دَ صیرورت یا د عاقبت دې ځکه چې احتجاج دَهغوی غرض اومقصدنه دې. يُحَاجُّوكُم مضارع جمع مذکرغائب دې یعنی انجام کار هغوی تاسوسره حجت بازی اوکړي. لِيُحَاجُّوكُم، أن مقدره دَ وجې نه منصوب دې دَدې دَپاره چې لام صیرورت نه پس اَنْ جوازًا مقدرکیږي. لِيُحَاجُّوكُم، تحدثونهم سره متعلق دې نه چې دَ فتح الله سره.

[ایات قوله: ۷۸-۸۲]

{وَمِنْهُمْ} اي اليهود {أُمِّيُّونَ} عَوَامّ {لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ} التَّوْرَاة {إِلَّا} لكِن {أَمَانِيَّ} أَكَاذِيب تَلَقَّوْهَا مِنْ رُؤَسَائِهِمْ فَاعْتَمَدُوهَا {وَإِنْ} مَا {هُمْ} فِي جَحْد نُبُوَّة النَّبِيّ وَغَيْره مِمَّا يَخْتَلِقُونَهُ {إِلَّا يَظُنُّونَ} ظَنًّا؟ وَلَا عِلْم لَهُمْ {فَوَيْلٌ} شِدَّة عَذَاب {لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ} أَيْ مُخْتَلَقًا؟ مِنْ عِنْدهمْ {ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا؟} مِنْ الدُّنْيَا وَهُمْ الْيَهُود غَيَّرُوا صِفَة النَّبِيّ فِي التَّوْرَاة وَآيَة

الرَّجْم وَغَيْرهمَا وَكَتَبُوهَا عَلَى خِلَاف مَا أُنْزِلَ {فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ} مِنَ الْمُخْتَلَق {وَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ} مِنَ الرُّشَا جَمْع رِشْوَة {وَقَالُوا} لَمَّا وَعَدَهُمُ النَّبِيّ النَّار {لَن تَمَسَّنَا} تُصِيبنَا {النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً} قَلِيلَة أَرْبَعِين يَوْمًا؟ مُدَّة عِبَادَة آبَائِهِمُ الْعِجْل ثُمَّ تَزُول {قل} لهم يا محمد {أتخذتم} حذفت منه هَمْزَة الْوَصْل اسْتِغْنَاء بِهَمْزَةِ الِاسْتِفْهَام {عِندَ اللَّهِ عَهْدًا؟} مِيثَاقًا؟ مِنْهُ بِذَلِكَ {فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ} به ام لا {أَمْ} بَلْ {تقولون على الله ما لا تعلمون} {بَلَى} تَمَسّكُمْ وَتُخَلَّدُونَ فِيهَا {مَن كَسَبَ سَيِّئَةً} شِرْكًا {وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَته} بِالْإِفْرَادِ وَالْجَمْع أَيْ اسْتَوْلَتْ عَلَيْهِ وَأَحْدَقَتْ بِهِ مِنْ كُلّ جَانِب بِأَنْ مَاتَ مُشْرِكًا {فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ} روعي فيه معني من {والذين آمنوا وعملوا الصالحات أولئك أصحاب الجنة هم فيها خالدون}

ترجمه: او په دې يهودو كښې بعضې ناخوانده هم دي چې د كتاب يعنى تورات علم نه لرى ليكن دَ زړه دَخوشحالولو خبرې كومې چې هغوى دَ خپلو سردارانونه اوريدلى دى هم په هغې باندې يقين اوكړو اوهغوى ستادَ نبوت نه دَ انكار باره كښې كوم چې هغوى دَ خان نه جوړ وى صرف په وهم اوگمان باندې قايم دى او هغوى سره (ددې) هيڅ سند نشته. لهذا دَهغوى دَپاره هلاكت او سخت عذاب دې (څكه) چې هغوى دَخپل ځان نه تصنيف كوى (يعنى پخپله ئې ايجاد كوى او بيا وائى چې دا (ليكل) دَ الله تعالى دَ طرف نه راغلى دى دې دَپاره چې دَ دې په بدله كښې (دَدنيا) لږه شان فائده حاصله كړى اودا يهوديان دى چې په تورات كښې ئې ستا ذكرشوى صفات بدل كړل او دَ رجم آيت وغيره (هم) او دَ نازل كړې شوى برعكس ئې اوليكل نودَداسې خلقو دَپاره بربادى ده چې دَ خپل ځان نه ليكلو دَوجې نه هغوى دَ خان نه جوړ كړل اودَ هغوى دَ رشوت دا گټه هم موجب هلاكت ده اوهغوى كله چې دا نبى ﷺ دَ دوزخ دَ اور نه ويره وى نو وائى چې مونږ سره اور چرې هم نه شى لگيدې مگر دَ شمير يوڅو ورځې يعنى څلوينبت ورځې چې دَهغوى دَ پلارانو نيكونو دَ سخى دَ عبادت موده ده بيابه ختم شى. اې محمد ﷺ تاسو دَدوى نه پوښتنه اوكړئ چې تاسو دَ الله تعالى نه دَدې څه عهد اخستې دې؟ (أتخذتم) دَهمزه استفهام دَ وجې نه همزه دَ وصل نه مستغنى شو دَ كوم دَ وجې نه چې همزه وصل حذف كړې شو دَ كوم چې هغوى خلاف ورزى نه شى كولې (داسې هيڅ كله نه ده) بلكه حقيقت خودا دې چې تاسو په الله تعالى باندې دَ داسې خبرې بهتان لگوئى دَ كوم متعلق چې پخپله تاسو ته علم نشته. آخر تاسو پورې به دَ دوزخ اور ولې نه لگى؟ (خامخا) به دربورې لگى او په هغې كښې به هميشه پراته ئې. څوك هم چې بدى اوشرك گټى او هغه دَ ده خطاكارو راگيركړې وى (خطيئة) افراد او جمع سره دې يعنى (بدى) په ده غالب راغله او دې ئې دَ هر طرف نه راگيركړو په داسې حالت كښې چې په شرك كښې مرشو نوهغه دوزخى دې او هميشه به په دوزخ كښې وى. (اولئك او هم او خلدون وغيره كښې) دَ مَنْ دَمعنى

رعايت کړي شوي دي او کوم خلق چې ايمان راوړي او نيک عمل کوي هم هغه جنتيان دي او هغه به (جنت) کښې هميشه دپاره وي.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: عَوَامّ أُمِّيُّوْن تفسير په عوام سره کول دَ يو سوال مقدر جواب طرف ته اشاره کړې ده

سوال: عربو کښې أُمِّيُّوْن وئيلې شي نودَ قوم عرب طرف ته ذهن وړاندې کيږي بل أُمَّةُ الأُمِيَة، هم دَعربو باره کښې وئيلې شي.

جواب: دَجواب ماحمل دادې چې دلته أُمِّيُّوْن نه عوام يهود مراد دي چې دَ احبار يهود بالمقابل دي کوم ته چې عوام وئيلې شي. بل دَدې شبه هم جواب اوشو چې دَ منهم نه مراد يهود دي او أُمِّيُّوْن نه معلوميږي چې عرب دي کله چې دَ أُمِّيُّوْن تفسير ئې په عوام سره اوکړو نودا تضاد هم ختم شو.

قوله: اَلْاَمَانِي، اَمَانِي، دَ اُمْنِيَةٌ جمع ده په معنى دَتمنا، بې اصل خيالات، دا مِنّى يمنى منّا معنى مقدر کولو نه ماخوذ دې.

قوله: بِاَيْدِيْهِمْ دا دَ يکتبون تاکيد دې خکه چې کتابت هم په لاس سره کيږي لکه چې ولاطائر يطير بجناحيه کښې يطير بجناحيه دطائر تاکيد دې.

قوله: فَوَيْلٌ لَّهُمْ دَ يو سوال جواب دې.

سوال: وَيْلٌ مبتداء او لَهُمْ دَدې خبر دې حالانکه وَيْلٌ نکره دې اودَ نکره مبتداء واقع کيدل صحيح نه دي.

جواب: وَيْلٌ په اصل کښې کلمه دَ بددعاده دا په اصل کښې هَلَكْتُ وَيْلاً وو لکه سَلَمْتُ سَلَامًا فعل حذف کولو سره نصب نه دَ رفع طرف ته عدول اوکړو دې دَپاره چې په دوام او ثبات باندې دلالت اوکړي.

[اياتونه: ۸۲-۸٤]

{وَ} اذْكُرْ {اِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِي اِسْرَاءِيْلَ} فِي التَّوْرَاة وَقُلْنَا {لَا تَعْبُدُوْنَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ {اِلَّا اللهَ} خَبَر بِمَعْنَى النَّهْيِ وَقُرِئَ لَا تعبدوا {وَ} اَحْسِنُوا {بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا} بِرًّا {وَّذِي الْقُرْبٰى} الْقَرَابَة عَطْف عَلَى الْوَالِدَيْنِ {وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ} قَوْلًا {حُسْنًا} مِنَ الْأَمْر بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْي عَنِ الْمُنْكَر وَالصِّدْق فِي شَأْن مُحَمَّد وَالرِّفْق بِهِمْ وَفِي قِرَاءَة بِضَمّ الْحَاء وَسُكُون السِّين مَصْدَر وُصِفَ بِهِ مُبَالَغَة {وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ} فَقَبِلْتُمْ ذٰلِكَ {ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ} اَعْرَضْتُمْ عَنِ الْوَفَاء بِهِ فِيهِ الْتِفَات عَنِ الْغَيْبَة وَالْمُرَاد آبَاؤُهُمْ {اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ} عَنْهُ كَآبَائِكُم {وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ} وَقُلْنَا {لَا تَسْفِكُوْنَ

دِمَاءَكُمْ} تُرِيقُونَهَا بِقَتْلِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا {وَلَا تُخْرِجُونَ أَنْفُسَكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ} لَا يُخْرِجْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا مِنْ دَارِهِ {ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ} قَبِلْتُمْ ذٰلِكَ الْمِيثَاقَ {وَأَنْتُمْ تَشْهَدُونَ} عَلَى أَنْفُسِكُمْ

ترجمه:- او یادکړه (هغه وخت) کله چې مونږ په تورات کښې دّ بنی اسرائیلو پوخ عهد اخستې وو او وئیلې وو چې دَالله تعالی نه سوا دَ چاېندګی مه کوئې (تعبدون) کښې یاء اوتاء دواړه دی (لَا تَعْبُدُوْنَ) خبر په معنی دَنهی دې. اولا تَعْبُدُوْا هم لوستلې شوې دې او والدینوسره او خپلوانوسره القربی په معنی د قرابت ده او ذی القربی عطف وَالدَيْنِ باندې دې او یتیمانو اومسکینانو سره ښه سلوک کوئې او خلقو ته ښې خبرې کوئې یعنی امر بالمعروف اونهی عن المنکر (کوئې) او دَ محمد ﷺ په شان کښې (بیان صفات باره کښې) رښتیا وایئ اوخلقو سره دَنرمئی رویه اختیاروئ او په یو قراءت کښې (حُسْنًا) دَحاء په ضمه سره اودَ سین په سکون سره دې کوم چې مصدر دې په توګه دَمبالغې وصف راوړلې شوې دې او دَ مونځ پابندی کوئ او زکوة اداکوئ تاسو دا خبره قبوله کړې وه خوبیاهم تاسو دَ عهد دَپوره کولونه واوړیدئی په دې کښې دَ غَیبت نه (خطاب) طرف ته التفات دې او مراد دَدوی پلاران اونیکونه دی. مګرپه تاسوې کښې دیرلږ (په عهدباندې قائم پاتې شو) اوتاسو هم دَدغه عهد نه دَخپلو پلارنو په شان اوښتلې یئې او (بیا لږ شان یاد کړئې) کله چې مونږ تاسو نه پوخ عهد اخستې وو او مونږ وئیلی وو چې خپل مینځ کښې قتل کولوسره وینې مه تویوئې او مه یوبل دَکورنه بې کوره کوئې یعنی څوك دَهغه دَ کورنه مه اوباسی اوتاسو دَدغه عهد اقرار کړې وو او تاسو پخپله په خپل ځان باندې ګواه یئې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: میثاق، عهدوپیمان (جمع) مَوَاثِقُ وَمَوَاثِيقُ، وَمَيَاثِقُ بعضې مفسرینو د اَخَذْنَا مِیْثَاقَکُمْ معنی اَمَرْنَا بِذٰلِكَ کړې ده (یعنی دَ حکم ورکولو دَپاره دې. (ابن قتیبه) یعنی مونږ بنی اسرائیلو ته حکم ورکړو مِیْثَاق، دَ اَخَذْنَا مفعول به دې.

قوله: بَنِیْ اِسْرَآئِیْلَ، بَنِیْ په اصل کښې بَنِیْنَ وو دا ملحق بجمع مذکرسالم دې. مضاف الیه کیدو دَ وجې نه حالت جری کښې یاء نون سره دې نون دَ اضافت دَ وجې نه ساقط شو اسرائیل د عجمه او علم کیدو دَ وجې نه غیرمنصرف دې دَدې فتحه نیابة عن الکسره دې.

سوال: دَمفسرعلام لفظ قُلْنَا اضافه کولونه څه مقصد دې؟

جواب: کلام د ماقبل یعنی وَإِذْ أَخَذْنَا سره مربوط کول دی په دې توګه چې په دواړو ځایونوکښې دَ جمع متکلم صیغه شی ګنی کلام واحدکښې د مخاطب واحد دَپاره دَغائب او حاضر صیغې استعمال لازم راځی. دَدې دَپاره چې بنی اسرائیل اسم ظاهر دې

او اسم ظاهردَ غائب په حکم کښې وی دَدې نه پس لَاتَعْبُدُوْنَ دې. دَدې مخاطب هم بنی اسرائیل دی اودا دَ حاضر صیغه ده دغه شان په کلام واحد کښې دَ شئ واحد دَپاره خطاب بالغائب او خطاب بالحاضر لازم راځی. دَدې نه دَ بچ کیدلو دَپاره مفسرعلام قُلْنَا اضافه اوکړه دې دَپاره چې اَخَذْنَا او قلنا کښې مطابقت اوشی.

فائده: دا التفات من الغيبة الى الخطاب د قلنا محذوف نه منلو په صورت کښې لازم راځی اوکه چرې قلنا محذوف اومنلې شی لکه چې مفسرعلام منلې دې نو په دغه صورت کښې به التفات من الغيبة الى الخطاب نه شی ځکه چې په قلنا سره به جمله مستانفه شی.

قوله: خبرٌ بمعنى النهى، يعنى لَاتَعْبُدُوْنَ مضارع منفی دجمع مذکر حاضرکیدو دَوجې جمله خبریه ده هم دغه وجه ده چې دَدې نون اعرابی ساقط نه شو مگر دَمعنې په اعتبارسره جمله انشائیه ده اومعنی کښې دَلاتعبدوا دې.

سوال: نهی دَ مضارع منفی په صورت کښې ذکرکولو څه فائده ده؟

جواب:- صراحةً دَنهی نه کنایه نهی اولی ده ځکه چې نهی په صورت د مضارع منفی سره دا مفهوم راوځی لکه چې دَ حکم تعمیل شوې دې دَهغې خبر ورکولې شی.

وهو ابلغ من صريح الامر والنهى كانّهُ سورع الى الامتثال، (کشاف) دَحضرت ابی او عبدالله بن مسعود ؓ په قراءت کښې لَاتَعْبُدُوْا هم په دې دلالت کوی چې مضارع منفی په معنی دَ نهی دې بل وَقُوْلُوْا، واقیموا، وآتوا، په لاتعبدون باندې عطف هم په دې دلالت کوی چې لَاتَعْبُدُوْنَ، دَ لاتعبدوا په معنی کښې دې.

قوله: وَاَحْسِنُوْا. **سوال**: احسنوامقدر منلو څه فائده ده؟

جواب: دَدې تقدیر مقصد دَدې اعتراض جواب ورکول دی چې بالوالدین کوم چې جار مجرور دې عطف، په لَاتَعْبُدُوْنَ باندې دې کوم چې دَ جار مجرور په غیر جارمجرور باندې عطف دې، کوم چې صحیح نه دې. کله چې اَحْسِنُوْا محذوف اومنلې شو نودا اعتراض ختم شو. مفسرعلام دَ اَحْسِنُوْا دَ امرصیغه مقدرمنلوسره دې خبرې طرف ته هم اشاره کړې ده چې عطف د لَاتَعْبُدُوْنَ په معنی باندې دې نه چې په لفظ باندې.

قوله: فَقَبِلْتُمْ، د قَبِلْتُمْ اضافه کولوسره ئې اشاره اوکړه چې د تَوَلَّيْتُمْ عطف، په مقدرباندې دې نه چې په اَقِيْمُوْا باندې لکه چې متبادر دې نو لهذا دَعطف الخبر على الانشاء اعتراض ختم شو.

قوله: بِرًّا، د اِحْسَانًا تفسیر بِرًّا سره کولوکښې اشاره اوکړه چې احسان نه مطلق حسن سلوک مراددې که قولاً وی یا فعلاً اویا عملاً نه چې صرف مالی لکه چې دَ احسانًا نه معلومیږی.

قوله: ذي القربى، دَ قربي تفسير القرابة سره كولو كښې اشاره اوكړه چې قربي د رُجْعي، په شان مصدر دې نه چې جمع.

قوله: اليتامى دا دَ اليتيم جمع ده معرف باللام دې په انسانانو كښې دَ پلار دَ مړكيدو سره او په ځناورو كښې دَ مور په مړكيدو سره بچې يتيم كيږي. (صاوى)

[ايا تونه: ۸۵-۸۶]

{ثُمَّ أَنْتُمْ} يَا {هَؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنْفُسَكُمْ} بِقَتْلِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا {وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِنْكُمْ مِنْ دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ} فِيهِ إدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الظَّاء وَفِي قِرَاءَة بِالتَّخْفِيفِ عَلَى حَذْفهَا تَتَعَاوَنُونَ {عَلَيْهِمْ بِالْإِثْمِ} بِالْمَعْصِيَةِ {وَالْعُدْوَانِ} الظُّلْم {وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَى} وفي قراءة اسري {تفدوهم} وفي قراءة {تفادوهم} تُنْقِذُوهُمْ مِنَ الْأَسْر بِالْمَالِ أَوْ غَيْره وَهُوَ مِمَّا عُهِدَ إلَيْهِمْ {وَهُوَ} أَيْ الشَّأْن {مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ} مُتَّصِل بِقَوْلِهِ وَتُخْرِجُونَ وَالْجُمْلَة بَيْنهمَا اعْتِرَاض أَيْ كَمَا حَرُمَ تَرْك الْفِدَاء وَكَانَتْ قُرَيْظَة حَالَفُوا الْأَوْس وَالنَّضِير الْخَزْرَج فَكَانَ كُلّ فَرِيق يُقَاتِل مَعَ حُلَفَائِهِ وَيُخَرِّب دِيَارهمْ وَيُخْرِجهُمْ فَإِذَا أُسِرُوا فَدَوْهُمْ وَكَانُوا إذَا سُئِلُوا لِمَ تُقَاتِلُونَهُمْ وَتَفْدُونَهُمْ قَالُوا أُمِرْنَا بِالْفِدَاءِ فَيُقَال فَلِمَ تقاتلونهم فيقولون حياء أن تستذل حلفاؤنا قال تعالى {أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ} وَهُوَ الْفِدَاء {وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ} وَهُوَ تَرْك الْقَتْل وَالْإِخْرَاج وَالْمُظَاهَرَة {فَمَا جَزَاءُ من يفعل ذلك منكم إِلَّا خِزْيٌ} هَوَان وَذُلّ {فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} وَقَدْ خُزُوا بِقَتْلِ قُرَيْظَة وَنَفْي النَّضِير إلَى الشَّام وَضَرْب الْجِزْيَة {وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أشد العذاب وما الله بغافل عما يعملون} بالياء والتاء {أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ} بِأَنْ آثَرُوهَا عَلَيْهَا {فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ} يُمْنَعُونَ مِنْهُ

ترجمه: بيا چې څنګه تاسو ئې مخامخ ئې چې هم خپل رونړه بنده ګان قتل كوې يعنې خپل مينځ كښې وينې تويوئې اوهم خپل مينځ كښې يوفريق دَ كورنه اوباسئې او دَهغوئ خلاف (دَپردو) په ظلم اوزياتى سره مددكوئې. (تَظَاهَرُوْنَ) كښې دَ تاء په اصل كښې په ظاء كښې ادغام شوې دې او په يوقراءت كښې تخفيف سره دې تاء حذف كولوسره د(تَظَاهَرُوْنَ) معنى كښې د تَتَعَاوَنُوْنَ دې. اوكه چرې هغوى ګرفتارشى تاسو له راشى او په يوقراءت كښې اسرى دې نو تاسوهغوى ته فديه وركوئى خلاصوئى او په يوقراءت كښې تُفْدُوْهُمْ دې يعنې تاسو هغوى دَ قيد نه مال وغيره وركولو سره خلاصوئى (يعنې دَ قيدى په قيدى سره بدلون كول) دا هم دَ هغه احكامو نه دى دَ كوم چې دَهغوى نه عهد اخستې شوې. حالانكه خبره داده چې دَدوى اخراج دَ سرنه په تاسو حرام دې. د (هُوَ مُحَرَّمٌ) تعلق د تخرجون سره دې او (وَاِنْ يَّاْتُوكُمْ الخ) متعلق اودمتعلق په مينځ كښې جمله معترضه ده لكه څنګه چې دَ فديه ترك كول حرام دى (هغه شان قتل او اخراج هم حرام دې) او (بنو) قريظه دَ اوس حليف وو او (بنو) نضير دَ خزرج او

هرفریق دَ خپل حلیف سره به ملاؤ شو جنګونه به ئې کول. او (دَ فریق مخالف) کورونه به ئې ورانول او هغوی به ئې دَ خپلو کورونو نه ویستل او کله چې به هغوی قیدیان شو نو فدیه ورکولو سره به ئې راخلاصول. او کله چې به دَ هغوی نه پوښتنه کیدله چې تاسو دوی سره جنګونه ولې کوئې او بیا فدیه ورکولو سره هغوی راخلاصوئې نو هغوی به جواب ورکولو چې په دې خبره باندې شرم محسوس کوو چې زمونږ حلیف ذلیل او ګنړلې شي.

الله تعالی فرمائی نو آیا تاسو دَ کتاب په یوه حصه باندې ایمان راوړئې او هغه دَ فدیه حکم دې او دَ دویمې حصې نه انکار کوئې چې هغه قتل او اخراج او (دَ پردو) تعاون ترک کول دی نو په تاسو کښې چې کوم خلق داسې کوی دَ هغوی سزا دَ دې نه علاوه بل څه ده چې هغوی به دَ دنیا په ژوند کښې ذلیل او خوارېږی؟ چنانچې (بنو) قریظه دَ قتل سره او (بنو) نظیر دَ جلا وطنئی سره او جزیه عائد کولو سره ذلیل شو او په آخرت کښې به دَ سخت عذاب طرف ته راګرځولې شي. الله تعالی دَ هغوی دَ حرکتونو نه بې خبر نه دې (تعملون) یاء او تاء سره او دا هغه خلق دی چې آخرت ئې خرڅ کړو او دنیائی واخسته په دې توګه ئې دنیا له په آخرت باندې ترجیح ورکړه. لهٰذا دَ هغوی په سزا کښې به هیڅ تخفیف یعنی کمې نه کیږی او نه به دَ هغوی امداد کیږی یعنی هغوی به دَ عذاب نه نشی بچ کولې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ثُمَّ اَنْتُمْ یاهٰؤلاءِ، ثُمَّ حرف عطف تراخی دَ پاره دې. اَنْتُمْ، مبتداء تَقْتُلُوْنَ الخ جمله کیدو سره دَ مبتداء خبر دې هٰؤُلَآءِ اسم اشاره منادی محلاً منصوب یا حرف ندا محذوف کما ذهب الیه المفسر، او دا هم کیدې شی چې هٰؤُلَآءِ محلاً منصوب علی الذم یعنی د فعل محذوف اَمْدَ وجې نه.

قوله: تَظٰهَرُوْنَ فعل مضارع جمع مذکر حاضر، جمله کیدو سره محلاً دَ حال کیدو دَ وجې نه منصوب دی په معنی د متعاونین عَلَیْهِمْ.

قوله: فی الاصل،ای بعد قلبها ظاءً، تاء ثانیه حذف کولو سره..

قوله: مُحَرَّمٌ عَلَیْکُمْ اِخْرَاجُهُمْ، مُحَرَّمٌ د خپل متعلق علیکم سره ملاؤ شو خبر مقدم، اِخْرَاجُهُمْ په ترکیب اضافی مبتداء مؤخر، مبتداء باخبر جمله کیدو سره خبر شو د هو مبتداء دَ هُوَ ماقبل کښې چونکه مرجع مذکور نه دې. په دې وجه دا ضمیر شان ګرځولې دې.

قوله: متصل بقوله: وَتُخْرِجُوْنَ، دَ دې اتصال نه مراد تعلق الحال مع ذوالحال دې او دَ حال او ذوالحال په مینځ کښې وَاِنْ یاتوکم اُسٰری تفادوهم، جمله معترضه ده او په یو قراءت کښې اَسْرٰی ده چې اَسِیْرٌ جمع ده لکه چې جَرْحیٰ دَ جَرِیْحٌ جمع ده او اُسَارٰی، دَ اَسْرٰی جمع ده. لکه چې دَ سُکَارٰی جمع سَکْرٰی ده په دې اعتبار سره اُسَارٰی جمع الجمع ده نه چې د اَسِیْر مفرد جمع لهٰذا دا شبه ختمه شوه چې د فَعِیْلٌ جمع دَ فُعَالیٰ په وزن باندې نه راځی.

[ایاتونه: ۸۷-۹۰]

{وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ} التَّوْرَاة {وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ} أَيْ أَتْبَعْنَاهُمْ رَسُولًا فِي إِثْر رسول {وآتينا عيسى بن مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ} الْمُعْجِزَات كَإِحْيَاءِ الْمَوْتَى وَإِبْرَاء الْأَكْمَه وَالْأَبْرَص {وَأَيَّدْنَاهُ} قَوَّيْنَاهُ {بِرُوحِ الْقُدُسِ} مِنْ إِضَافَة الْمَوْصُوف إِلَى الصِّفَة أَيْ الرُّوح الْمُقَدَّسَة جِبْرِيل لِطَهَارَتِهِ يَسِير مَعَهُ حَيْثُ سَارَ فَلَمْ تَسْتَقِيمُوا {أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُول بِمَا لَا تَهْوَى} تُحِبّ {أَنْفُسُكُمْ} مِنْ الْحَقّ {اسْتَكْبَرْتُمْ} تَكَبَّرْتُمْ عَنْ اتِّبَاعه جَوَاب كُلَّمَا وَهُوَ مَحَلّ الِاسْتِفْهَام وَالْمُرَاد بِهِ التَّوْبِيخ {فَفَرِيقًا} مِنْهُمْ {كَذَّبْتُمْ} كَعِيسَى {وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ} الْمُضَارِع لِحِكَايَةِ الْحَال الْمَاضِيَة أَيْ قَتَلْتُمْ كَزَكَرِيَّا ويحيى {وَقَالُوا} لِلنَّبِيِّ اسْتِهْزَاء {قُلُوبنَا غُلْف} جَمْع أَغْلَف أَيْ مُغَشَّاة بِأَغْطِيَةٍ فَلَا تَعِي مَا تَقُول قال تعالى {بَلْ} لِلْإِضْرَابِ {لَعَنَهُمْ اللَّه} أَبْعَدهمْ مِنْ رَحْمَته وَخَذَلَهُمْ عَنْ الْقَبُول {بِكُفْرِهِمْ} وَلَيْسَ عَدَم قَبُولهمْ لِخَلَلٍ فِي قُلُوبهمْ {فَقَلِيلًا مَا يُؤْمِنُونَ} مَا زَائِدَة لِتَأْكِيدِ الْقِلَّة أَيْ إِيمَانهمْ قَلِيل جِدًّا {وَلَمَّا جَاءَهُمْ كِتَاب مِنْ عِنْد اللَّه مُصَدِّق لِمَا مَعَهُمْ} مِنْ التَّوْرَاة هُوَ الْقُرْآن {وَكَانُوا مِنْ قَبْل} قبل مجيئه {يستفتحون} يستنصرونه {عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا} يَقُولُونَ اللَّهُمَّ انْصُرْنَا عَلَيْهِمْ بِالنَّبِيِّ الْمَبْعُوث آخِر الزَّمَان {فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفُوا} مِنْ الْحَقّ وَهُوَ بَعْثَة النَّبِيّ {كَفَرُوا بِهِ} حَسَدًا وَخَوْفًا عَلَى الرِّيَاسَة وَجَوَاب لَمَّا الْأُولَى دَلَّ عَلَيْهِ جَوَاب الثَّانِيَة {فلعنة الله على الكافرين} {بئسما اشتروا} باعوا {به أنفسهم} اي حظها من الثواب وما نكرة بمعنى شيئا تميزا لفاعل بئس والمخصوص بالذم {أَنْ يَكْفُرُوا} أَيْ كُفْرهمْ {بِمَا أَنْزَلَ اللَّه} مِنْ الْقُرْآن {بَغْيًا} مَفْعُول لَهُ لِيَكْفُرُوا أَيْ حَسَدًا عَلَى {أَنْ يُنَزِّل اللَّه} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {مِنْ فَضْله} الْوَحْي {عَلَى مَنْ يَشَاء} لِلرِّسَالَةِ {من عباده فباؤا} رَجَعُوا {بِغَضَبٍ} مِنْ اللَّه بِكُفْرِهِمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّه وَالتَّنْكِير لِلتَّعْظِيمِ {عَلَى غَضَب} اسْتَحَقُّوهُ مِنْ قَبْل بِتَضْيِيعِ التَّوْرَاة وَالْكُفْر بِعِيسَى {وَلِلْكَافِرِينَ عَذَاب مُهِين} ذو إهانة

ترجمه:- او مونږ موسی ﷺ ته کتاب تورات ورکړو او دهغې نه پسپرله پسې یو بل پسې رسولان اولیګل او عیسی بن مریم ﷺ ته ښکاره معجزات ورکړل مثلاً مړی ژوندی کول، د مورنه رانده پیدا شوی بینا کول، او ابرص مرض والا تیك کول، او پاك روح (یعنی جبرائیل ﷺ) په ذریعه مونږ دّ هغه تائیدا وکړو (روح القدس) کښې اضافت موصوف الی الصفت دې. ای الروح المقدسة (قدس اورنیل) دهغه (نافرمانئی نه) پاك کیدو د وجې نه (دهغه تائید په دې توګه اوکړو چه) چرته به هغه تلو نو حضرت جبرائیل ﷺ به هم ورسره وو بیا هم دا خلق په نیغه لار رانغلل (لیکن) ولې داخبره نه ده چې کله هم تاسو له یو رسول هغه څیز (یعنی حق) راوړلو کوم چې ستاسو ناخوښه کیدو نو تاسو دهغه دّ اتباع نه تکبر اوکړو. (استکبرتم) د کلّما جواب دې او هم دغه محل استفهام دې او (استفهام) مقصد توبیخ دې نو په هغوی کښې دّ بعضو تاسو تکذیب اوکړو لکه چې حضرت عیسی ﷺ او بعضې مو قتل کړل لکه

حضرت زکریا علیه السلام اوحضرت یحییٰ علیه السلام اودَ (ماضی په ځائی)مضارع حکایت حال ماضیه دَپاره دې یعنی تاسو قتل کړل او نبی ته مو تمسخراً اووئیل زمونږ په زړونوباندې پردې دی. غُلۡفٌ، دَ اَغۡلَفُ جمع ده یعنی په پردوکښې پټ دی لهذا دا تاسو چې وائې دا محفوظ کوئی نه، الله تعالی فرمائی نه خبره داسې نه ده بلکه (په اصل کښې خبره داده) چې دَهغوی دکفر دَ وجې نه الله تعالی هغوی دَخپل رحمت نه لرې کړل اودَحق قبلولونه ئې محروم کړل. بَلۡ، د اضراب دَپاره دې او دَدوی (حق) نه قبولول دَ څه قلبی (دماغی خلل) دَ وجې نه نه وو، پس هغوی په ډیروکمو خبروباندې یقین لرې. مَا تاکید قلت دَپاره زائده ده. یعنی دَهغوی ایمان په ډیرو کموخبرو باندې دې. او اوس چې کله هغوی له دَ الله تعالی کتاب (قرآن) څوک چې دَدې کتاب کوم چې دوی سره موجود دې (یعنی) دَ تورات تصدیق کوی راغلو حالانکه دَدې دَ راتلونه وړاندې (دَدې په ذریعه) په کافرانو باندې دَ فتح اونصر دعاکوله او وئیل به ئې چې اې الله ته مونږ په کافرانوباندې دَ نبی آخرالزمان په وسیله غلبه راکړې نوچې ترکومې دَغه حق کوم چې هغوئ پیژندل اوهغه دَنبی صلی الله علیه وسلم بعثت دې هغوی لرۀ راغلو نود حسد اوزوال دَ ریاست دَ ویرې نه ئې انکاراوکړو کیناستل او اول دَ لَمَّا په جواب باندې دَ دویم لَمَّا جواب دلالت کوی دَالله تعالی غضب دې وی په کافرانوباندې ډیر خراب دې هغه شئ دَکوم په عوض چې هغوی خپل ځان یعنی دَ خپلې حصې اجر(او ثواب) خرڅ کړو اومَا، نکره په معنی شیئًا دَبِئۡسَ فاعل نه تمیزدې اومخصوص بالذم، اَنۡ یَّکۡفُرُوۡا دې یعنی دَ سرکشئ دَ وجې نه دَدغه قرآن نه انکار دې کوم چې الله تعالی نازل کړې، بَغۡیًا،دَلِیَکۡفُرُوۡا مفعول له دې یعنی صرف دَدې حسددَ وجې نه چې الله تعالی خپل فضل (یعنی) وحی دَ خپلو بندیګانوی په هغه باندې چالره ئې چې دَ رسالت دَپاره خوښ کړې دَ نازل کړو (یُنَزِّلُ) کښې دَ (زاء) تخفیف اوتشدید دواړه قراءتونه دی نوهغه دَ نازل کړې شوی دَ انکاردَ وجې دَالله تعالی غضب دَپاسه غضب واخستو واپس شو (بِغَضَبٍ) د تنکیرشدت بیانولودَپاره دې. (یعنی) دَ غضب خو هغوی تورات ضائع کولو او دَحضرت عیسیٰ علیه السلام دَ انکارکولودَ وجې نه اول مستحق شوی وو اودَکافرانو دَپاره دَ ذلت نه ډک عذاب دې یعنی رسوا کونکې عذاب دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: قَفَّیۡنَا ماضی جمع متکلم (التفعیل) اَلتَّقۡفِیَةُ شاته لیګل، قَفَّیۡ دوه مفعوله غواړی په عام توګه دَدې په مفعولوباندې حرف جر نه داخلیږی لکه قَفَّیۡتُ زیدًا عمرًا ما زید عمرپسې شاته اولیګلو اوکله په دویم مفعول باندې "ب" داخلیږی په قرآن مجیدکښې دَدې استعمال دې لکه هم په دې آیت کښې دی ﴿ وَقَفَّیۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ بِالرُّسُلِ ﴾ مونږ هغوئی پسې روستو پرله پسې رسولان اولیګل.

قوله: مَرْيَمَ دا سریانی لفظ دې دَدې معنی ده خادمه نوکره په انګریزی کښې دَدې تلفظ مئیری (Mery) راځی.

حضرت مریم اودَهغې لسبد دَحضرت مریم دَ مور نوم حَنّه او دَ پلار نوم ئې عمران وو. نسب نې داسې دې مریم بنت عمران بن ماتان. دَحضرت مریم نبی کیدل مختلف فیه دی دَاهل سنت عقیده ده چې هیڅ یوه ښځه نبی نه شی کیدې خو دَ ورِ وکوالی نه دَ هغې صاحب کرامت ولیه کیدو کښې شبه نه وه هم په ورِوکوالی کښې دَ الله تعالی دَ طرف نه بې موسمه میوې هغې ته رالیګلې کیدې (لغات قرآن) دَوفات کال دَ مسیحی روایتونو مطابق ۴۸ ق، م دې.

دَ تاریخی اختلاف باوجود صحیح فیصله داده چې هغې کله هم نکاح نه ده کړې په دې وجه هغې ته مریم عذراء وئیلې شی (ناواده کړې) دَهغې دَ خیټې نه حضرت عیسیٰ علیه السلام بغیردَ پلار نه پیدا شو. وئیلې شی چې یوسف نجار سره دَهغې نسبت شوې وو نکاح اورخصتی نه شوې. (لغات القرآن)

عیسیٰ علیه السلام دَ بنی اسرائیلو دَ انبیاء دَ سلسلې خاتم دې: عیسیٰ علیه السلام عجمی لفظ دې په سریانی کښې یسوع وئیلې شی. دَ کوم معنی چې مبارك ده. عیسیٰ علیه السلام دَ بنی اسرائیلو دَ انبیاء کرامو دَ سلسلې خاتم دې سنه عیسوی هم دَهغوی په نوم باندې جاری شوې. دَهغوی نه پس صرف نبوت محمدی شوې دَ شام په ملك کښې علاقه ارض ګلیل کښې دَ کلی نوم ناصره دې دَهغوی مادری وطن هم هغه دې او ولادت ئې دَ بیت المقدس په یوګوټ کښې شوې. دَ ۳۳ کالو په عمرکښې هغوی دَ جمهور امت دَ عقیدې مطابق اودَ مسیحی عقیدې مطابق درې ورځې دپاره وفات شوې او آسمان ته اوچت کړې شوې. دَهغوی دَ آسمانی رفع نه انکار صرف بعضو جدید فرقوکړې دې. (ماجدی، ملخصًا)

قوله: رُوْحُ الْقُدُسِ دا دَ حضرت جبرائیل علیه السلام مشهور لقب دې. په مسیحی اصطلاح کښې دَ اقانیم ثلثه نه اقنوم ثالث دې.

قوله: وَلَقَدْ اٰتَيْنَا واوَ حرف عطف دې دَ لام قسم محذوف په جواب باندې داخل دې قد حرف تحقیق دې.

قوله: بِطَهَارَتِهٖ دا دَ القدس (طاهر کیدو علت دې.

قوله: يَسِيْرُمعه،حيث سَار، اَيَّدْنَاهُ تفسیر دې.

قوله: فلم تَسْتَقِيْمُوْا داجمله هم مقصود کلام دې یعنی دَ مذکوره هرڅه کیدو نه پس هم هغوی په نیغه لار رانغلل. بل په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چې اَفَكُلَّمَا په مقدرباندې

عطف دې. تقديري عبارت دادې فَلَمْ تَسْتَقِيْمُوْا فَاسْتَكْبَرْتُمْ اَفَكُلَّمَا جاءكم رسول الخ، دَمعطوف اومعطوف عليه په مينځ کښې همزه دَ استفهام دَ توبيخ دَپاره دې. (لغات القرآن)

قوله: تَهْوٰى، مضارع واحد مؤنث غائب هغه ارزوکوی (س) هَوٰى دَ خواهش طرف ته دَ نفس مائل کيدل. (لغات القران)

قوله: مِنَ الْحَقِّ دا دَ مَا بيان دې.

قوله: تَكَبَّرْتُمْ. اِسْتَكْبَرْتُمْ تفسير تكبرتم سره کولو کښې اشاره اوکړه چې (سين، تاء) زائده دی نه چې دَ طلب دَپاره.

قوله: جَوَابِ كُلَّمَا، كُلَّمَا متضمن په معنى د شرط دې. اِسْتَكْبَرْتُمْ دَدې جواب دې اومحل استفهام هم دغه جواب دې. اودا استفهام توبيخى دې ځکه چې دَ الله تعالى دَپاره استفهام دَ سوال دپاره ممکن نه دې يعنى چې کله هم تاسو له رسول راغلې دې نوهغه شان بيا تاسو تکبر کړې.

قوله: فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ، فريقا كذبتم مفعول مقدم دې اودَ كذبتم عطف اِسْتَكْبَرْتُمْ باندې دې دغه شان فريقًا تقتلون دې.

قوله: المضارع لحكاية الحال الماضية په دې اعتبارسره دَ دې اضافه مقصد دَيو سوال مقدر جواب دې.

سوال: فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ کښې دَمضارع صيغه استعمال شوې ده چې په زمانه دَحال دلالت کوی دَدې مطلب دادې چې يهودو به دَ دغه آيت دَ نزول په وخت کښې هم انبياء کرام قتل کول حالانکه دا د واقعې خلاف دی.

جواب: دَ تيرې شوې واقعه دَ منظرکشئى په توګه دَمضارع صيغه استعمال کړې شوې ده لکه چې دَقتل انبياء دا واقعه فى الحال دَ سترګو په وړاندې کيږى هم دې ته حکايت حال ماضيه وائى.

قوله: غُلْفٌ. دا دَاَغْلَف جمع ده غيرمختون ته وئيلې شى. اى لاتعى ولاتفهم مفسرعلام هم دا معنى مراد اخستې ده. بعضې حضراتو وئيلې چې غلف دغلاف جمع ده. معنى به ئې دا شى چې زمونږ زړونه د علم خزانې دموسوى معارف نه ډك دى او مونږ ته دَ يونوى تعليم دَ قبولول ضرورت نشته. هِيَ جمع غلاف اى هى اَوْعِيَةُ العلم. (راغب)

قوله: فَقَلِيْلًا دا دَ ايمانًا موصوف محذوف صفت کيدو دَ وجې نه منصوب دې.

قوله: قَبْلَ مَجِيْئِهٖ په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې قَبْلُ مضاف اليه محذوف

معنوی کیدو دَ وجې مبنی برضمه دې.

قوله: باعُوا، اِشْتَرَوْا تفسیر ئې په باعُوا سره کولو کښې اشاره ده چې اشْترٰی دَ اضداد نه دې دَدې معنی بیع او شراع دواړه راځي.

قوله: مِنَ الحَقِّ، دَ مَا بیان دې مِنَ الحق سره. دَ مَا تفسیر کولو سره دَ یو اعتراض دَ جواب طرف ته اشاره اوکړه.

اعتراض: لره چې یهودیانو دَ نبی آخرالزمان په توګه پیژندلو هغه دَ حضور پاك ﷺ ذات مبارك وو لکه چې دَ الله تعالی ارشاد دې ﴿ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ﴾ بیا دلته حضور پاك ﷺ په لفظ مَا سره ولې تعبیر کړو؟

جواب: دې نه مراد حق دې نه چې دَ حضور پاك مخصوص ذات او دَ هغوی په حقه رسول کیدل دَمعجزاتو او په تورات کښې ذکرشوو علاماتو نه ښکاره وو.

قوله: حَسَدًا دا دَهغه سوال جواب دې چې کفر جهل دَ وجې نه کیدې شی کله چې هغوی نبی پاك او دَهغه نبوت په ښه توګه سره پیژندلو نو بیا کفر ولې اوشو.

جواب: دا کفر او انکار دَ عدم معرفت دَ وجې نه نه دې شوې بلکه دَحسد او قومی تعصب د وجې نه شوې دې.

قوله: دَلَّ عَلَيْهِ جَوَابُ الثَّانِيَةِ، وَهُوَ قوله كفروا به، مطلب دا دې چې کفروا به، د لَمَّا ثانیه جواب دې او هم دَدې دَ دلالت دَ وجې نه د لَمَّا اولی جواب محذوف دې. تقدیری عبارت داسې دې وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ كَفَرُوْا بِهٖ، په دې سره دَ مبرد رد هم مقصودې دَ مبرد وینا ده چې كَفَرُوْا بِهٖ، د لَمَّا، اولی جواب دې او ثانی لَمَّا دَ طویل کلام دَ وجې نه دَ تکرار په توګه راوړلې شوې دې. لهذا دې ته دَ جواب ضرورت نشته. دَ رد وجه داده چې که چرې لَمَّا مکرر اومنلې شی نو هغه به صرف دَ تاکید دَپاره وی او دَتاکید نه تاسیس اولی دې او وكانوا من قبل الخ تقدیر قَدْ سره جمله حالیه ده.

قوله: بِئْسَمَا کښې مَا په بئس کښې ضمیر مستتر هُوَ سره تمیز دې تقدیری عبارت دادې بئس الشئ شيئا اواشتروا، دَ مَا صفت دې او أَنْ يكفروا مخصوص بالذم دې.

قوله: ذُوْاِهَانَةٍ په دې کښې اشاره ده چې دَ اهانت اسناد دَ عذاب طرف ته مجازًا دې. دَ دې دَپاره چې عذاب ذلیل نه وی بلکه صاحب عذاب (معذب) ذلیل کیږی لهذا عذاب به د مهين نه وی بلکه صاحب عذاب (معذب) مهين وی.

قوله: مُهِيْنٌ، مُهِيْنٌ په اصل کښې مُهْوِنٌ، دَ واؤ کسره نقل کولو سره هاء ته ورکړه واؤ ساکن ماقبل مکسور یاء سره بدل شو نو مُهِيْنٌ شو.

[اياتونه: ۹۱-۹۶]

{وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ} الْقُرْآن وَغَيْره {قَالُوا نُؤْمِنُ بِمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا} أي التوراة قال تعالي {وَيَكْفُرُونَ} الْوَاو لِلْحَالِ {بِمَا وَرَاءَهُ} سِوَاهُ أَوْ بَعْده مِنْ الْقُرْآن {وَهُوَ الْحَقُّ} حَال {مُصَدِّقًا} حَال ثَانِيَة مُؤَكِّدَة {لِمَا مَعَهُمْ قُلْ} لَهُمْ {فَلِمَ تَقْتُلُونَ} أَيْ قَتَلْتُمْ {أَنْبِيَاءَ اللَّهِ مِنْ قَبْلُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} بِالتَّوْرَاةِ وَقَدْ نُهِيتُمْ فِيهَا عَنْ قَتْلهمْ وَالْخِطَاب لِلْمَوْجُودِينَ فِي زَمَن نَبِيّنَا بِمَا فَعَلَ آبَاؤُهُمْ لِرِضَاهُمْ بِهِ {وَلَقَدْ جَاءَكُمْ مُوسَى بِالْبَيِّنَاتِ} بِالْمُعْجِزَاتِ كَالْعَصَا وَالْيَد وَفَلْق الْبَحْر {ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ} إلَهًا {مِنْ بَعْدِهِ} مِنْ بَعْد ذَهَابه إلَى الْمِيقَات {وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ} باتخاذه {وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ} عَلَي الْعَمَل بِمَا فِي التَّوْرَاة {و} قَدْ {رَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ} الْجَبَل حِين امْتَنَعْتُمْ مِنْ قَبُولهَا لِيَسْقُط عَلَيْكُمْ وَقُلْنَا {خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ} بِجِدٍّ وَاجْتِهَاد {وَاسْمَعُوا} مَا تُؤْمَرُونَ بِهِ سَمَاع قَبُول {قَالُوا سَمِعْنَا} قَوْلك {وَعَصَيْنَا} أَمْرك {وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ} أَيْ خَالَطَ حُبُّهُ قُلُوبَهُمْ كَمَا يُخَالِط الشَّرَاب {بِكُفْرِهِمْ قُلْ} لَهُمْ {بِئْسَمَا} شَيْئًا {يَأْمُرُكُمْ بِهِ إِيمَانُكُمْ} بِالتَّوْرَاةِ عِبَادَة الْعِجْل {إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} بِهَا كَمَا زَعَمْتُمْ الْمَعْنَي لَسْتُمْ بِمُؤْمِنِينَ لِأَنَّ الإيمان لم يَأْمُر بِعِبَادَةِ الْعِجْل وَالْمُرَاد آبَاؤُهُمْ أَيْ فَكَذَلِكَ أَنْتُمْ لَسْتُمْ بِمُؤْمِنِينَ بِالتَّوْرَاةِ وَقَدْ كَذَّبْتُمْ مُحَمَّدًا وَالْإِيمَان بِهَا لَا يَأْمُر بِتَكْذِيبِهِ {قُلْ} لَهُمْ {إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ} أَيْ الْجَنَّة {عِنْدَ اللَّهِ خَالِصَةً} خَاصَّة {مِنْ دُونِ النَّاسِ} كَمَا زَعَمْتُمْ {فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} تَعَلَّقَ بِتَمَنَّوْا الشَّرْطَانِ عَلَي أَنَّ الْأَوَّل قَيْد فِي الثَّانِي أَيْ إنْ صَدَقْتُمْ فِي زَعْمكُمْ أَنَّهَا لَكُمْ وَمَنْ كَانَتْ لَهُ يُؤْثِرهَا وَالْمُوَصِّل إلَيْهَا الْمَوْت فَتَمَنَّوْهُ {وَلَنْ يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ} مِنْ كُفْرهمْ بِالنَّبِيِّ الْمُسْتَلْزِم لِكَذِبِهِمْ {وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ} الكافرين فيجازيهم {وَلَتَجِدَنَّهُمْ} لَام قَسَم {أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ و} احرص {مِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا} الْمُنْكِرِينَ لِلْبَعْثِ عَلَيْهَا لِعِلْمِهِمْ بِأَنَّ مَصِيرهمْ النَّار دُون الْمُشْرِكِينَ لِإِنْكَارِهِمْ لَهُ {يَوَدُّ} يَتَمَنَّي {أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ} لَوْ مَصْدَرِيَّة بِمَعْنَي أَنْ وَهِيَ بِصِلَتِهَا فِي تَأْوِيل مَصْدَر مَفْعُول يَوَدّ {وَمَا هُوَ} أَيْ أَحَدهمْ {بِمُزَحْزِحِهِ} مُبْعِده {مِنَ الْعَذَابِ} النَّار {أَنْ يُعَمَّرَ} فَاعِل مُزَحْزِحه أَيْ تَعْمِيره {وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ} بالياء والتاء فيجازيهم

ترجمه:- اوكله چې هغوى ته وئيلې شى چې كوم قرآن وغيره (انجيل) الله تعالى نازل كړې دې په هغې باندې ايمان راوړئى نو وائى كوم چې په مونږ باندې نازل كړې شوې دې يعنى تورات نومونږ په هغې باندې ايمان لرو الله تعالى اوفرمائيل او واؤ حاليه دې څومره چې دَدې نه علاوه دې دَهغې نه پس دې (اوهغه) قرآن دې دَهغې نه انكاركوى حالانكه هغه حق هم دې (جمله) حاليه ده او دَدې (تورات) تصديق كونكې دې كوم چې هغوى سره دې. (مصدقًا) حال ثانى دې دَ تاكيد دَپاره تاسو دَهغوى نه معلومه كړئى كه چرې ستاسو په تورات باندې ايمان وى نو سابقه انبياء كرام تاسو ولې قتل كړل؟ حالانكه تاسو په تورات كښې دَهغوى دَ قتل كولونه منع كړې شوى وئى. خطاب هغه (يهودو) ته دې كوم چې دَ رسول الله ﷺ په زمانه

کښې موجود وو. په دې وجه چې دَهغوی پلاران (اونیکونو) څه کړی وو دوی په هغې راضي دی. موسی علیه السلام تاسو له ښکاره معجزات راوړل لکه همسا یدبیضاء اودَ دریاب دوه ټکړې کیدل، خوبیاهم تاسو دَموسی علیه السلام میقات (کوه طور) ته په تلوباندې سخې خپل معبود جوړکړو اوتاسو دَ سخی معبودجوړولوسره ظالمان شوئی اوکله چې مونږ ستاسو نه دَ تورات په احکامو دَعمل کولووعده واخسته اومونږ په تاسو باندې کوه طور مسلط کړو دې دَپاره چې په تاسوباندې راګذارکړې شی. کله چې تاسو دَ تورات دَ قبلولونه منع شوئی اومونږ اووئیل چې زمونږ درکړې شوې څیز (تورات) په مضبوطوالئ او کوشش سره اونیسئی اودَ کومې خبرې چې تاسو ته حکم درکولې شی هغه دَ قبولیت په نیت سره واورئی نوهغوی اووئیل چې مونږ ستا خبره واوریده او مونږ ستا خبره نه منو اودَهغوی په زړونوکښې دَهغوی دکفردَ وجې نه سخې راغلې وو یعنی دَ سخی محبت دَهغوی په زړونوکښې داسې ورننوتلې وو لکه څنګه چې شراب په (بدن کښې) ورننوځی. تاسوهغوی ته اووایئی ستاسو توریت باندې ایمان چې دَ کوم سخی عبادت حکم درکوی هغه ډیر خراب څیزدې. که چرې تاسو په تورات باندې ایمان لرئی لکه څنګه چې ستاسو دعوئ ده مطلب دادې چې ستاسو په تورات باندې هم ایمان نشته څکه چې په تورات باندې ایمان لرل دَ سخی دَ عبادت حکم نه ورکوی. اود (کُم) مخاطب دَهغوی پلاران (نیکونه) دی یعنی دغه شان خو ستاسو هم په تورات باندې ایمان نشته اوتاسو دَمحمد ﷺ تکذیب کړې دې او په تورات باندې ایمان لرل دَ حضورپاک دَ تکذیب اجازت نه ورکوی. تاسو ﷺ هغوی ته اووایئی چې که چرې دَ آخرت په کور یعنی جنت دَ الله تعالی په نیز صرف ستاسو دَپاره وی په خاص توګه دَ نورو خلقونه علاوه لکه څنګه چې ستاسو دعوئ ده (لرشان) دَ مرګ غوښتنه اوکړئی که چرې تاسو په خپله دعوئ کښې رښتونی یئی. دَ مرګ ارزوسره دوه شرطونه متعلق دی په دې طریقه چې اول دَدویم دَپاره قیددې یعنی که چرې تاسو په دغه دعوی کښې رښتونی ئې چې دار آخرت (جنت) صرف ستاسودَپاره دې اودَ چادَ پاره چې آخرت وی نوهغه دې ته ترجیح ورکوی اودَهغې دَ رسیدو ذریعه مرګ دې لهذا تاسو دَدې تمنا اوکړئی خوهغوی دَ خپلو کړو دَ وجې نه چې هغه دَحضورپاک ﷺ نه انکاردې اودَمرګ خواهش نه کول دَهغوی تکذیب ته مستلزم دې. هیڅ کله به دَ مرګ تمنا اونه کړی اوالله تعالی ظالمان او کافران ښه پیژنی لهذا هغوی له به سزا ورکوی بلکه دَ ټولو نه زیات دَ دنیادَ ژوند حارصان به تاسو هم دوی اوموموئی چې (دا خلق دَ ژوند په حرص کښې) دَمشرکانو اومنکرانودَ بعث نه هم زیات وراندې دی. (لَتَجِدَنَّهُمْ) کښې لام قسمیه دې څکه چې دوی (یهودو) ته داخبره معلومه ده چې دَدوی ځائی دوزخ دې په خلاف دَ مشرکانو چې هغوی دَ بعث بعدالموت هډوقائل نه دی او په دوی کښې هرسړې داغواړی چې دَهغه عمرزر کاله وی. لَوْ مصدریه دې دَآنْ په معنی

کېږي دې او لَوْ خپلې صله سره دَمصدر په تاويل کېدو سره دَ يَوَدُّ مفعول دې. دَ عمردا اوږدوالي هم هغوی دَ عذاب نه نه شي بچ کولې. أَنْ يُعَمَّرَ، د مُزَحْزِحِه فاعل دې. (يعنی أَنْ يُعَمَّرَ دَ تعمير په معنی کېږي دې الله تعالی دَهغوی کارونه ښه وينی يعملون ياء او تاء سره دې يعنی هغوی ته به بدله ورکوی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وَرَآءَ، دا ظرف مکان دې، دا دَخلف په معنی کېږي زيات او دَ آمام په معنی کېږي کم استعماليږي. دا دَ اضداد نه دې او دسوی او بَعْدُ په معنی کېږي هم مستعمل دې مفسرعلام دَ بعد معنی مراد اخستې ده.

قوله: وَهُوَالْحَقُّ دا د مَا نه حال دې.

قوله: مُصَدِّقًا حَالٌ ثَانِيَةٌ مُؤَكِّدَةٌ دادَ ماقبل جملې دَ تاکيد دَپاره دې ځکه چې حق هم صادق وی لکه چې زيدٌ أبوك، عَطُوفًا، کېږي عطوفًا دَ ماقبل دَ تاکيد دَپاره دې دَ حال ثانيه مطلب دادې چې دَ تاکيد په اعتبار حال ثانی دې ګنی دا حال ثالث دې ځکه چې اول ويکفرون دې.

قوله. تَقْتُلُوْنَ، دَ مضارع تفسير په ماضی سره کولو کېږي اشاره ده چې دَ انبياء کرامو قتل دَ آيت دَ نزول دَ زمانې په اعتبار سره په زمانه ماضی کېږي واقع شوې دې او په دې باندې قرينه (مِنْ قَبْلُ) ده.

قوله: بِمَا فَعَلَ اٰبَاءُهُمْ، په دې کېږي اشاره ده چې په تَقْتُلُوْنَ کېږي اسناد مجازی دې ځکه چې دَ انبياء قاتلان دَهغوی پلاران اونيکونه وو نه چې هغوی.

قوله: رضاهم دا دَ مجاز د علاقې بيان دې او هغه ملابست دې چونکه موجوده يهوديان دَ خپلو پلارانو په کړو قتلونو باندې راضی وو په دې وجه دَ قتل نسبت دَهغوی طرف ته اوکړې شو.

قوله: بالمعجزات، د بَيِّنَات تفسير په معجزات سره کولو کېږي په هغه خلقو باندې رد مقصود دې چې دَ بينات نه تورات مراد اخلی ځکه چې تورات واحد دې او بينات جمع ده.

قوله: إِلٰهًا په دې تقدير کېږي اشاره ده چې دَ اِتَّخَذَ مفعول ثانی محذوف دې او دا اِتخذتُ سَيفًا ای صنعته نه ماخوذ نه دې چې مفعول وغواړی ځکه چې اتخاذ عجل دَ سامری نه صادرشوې وو نه چې دَ بنی اسرائيلو نه هم دا مضمون دَ سوال او جواب په شکل کېږي هم بيانولې شی.

سوال: اِلٰهًا دَمحذوف منلو ضرورت ولې پیښ شو؟

جواب: اتخاذ دَ ابتداء صنعت په معنی کښې هم استعالیږی لکه اِتخذتُ سیفاً، ای صَنَعْتُهٗ مفعول ثانی نه ذکرکولوسره دې معنې طرف ته ذهن اوریدې شو په دغه صورت کښې به مطلب وو صَنَعتم بابنی اسرائیل عجلاً حالانکه دَ عجل سازئی عمل دَ سامری نه صادر شوې وو نه چې دَ بنی اسرائیلونه.

قوله: بعدذهابه په دې کښې دَ مضاف دَ حذف طرف ته اشاره ده. په دې صورت کښې د مِن بعد تعلق د مضاف محذوف سره به وی نه چې اتخاذ سره. دا په هغه حضراتو باندې ردهم دې کومو چې بعد ذهابه په ځائی مجیئه محذوف سنلې دې ګنی لازم به راځی چې دَ موسی علیه السلام په موجودګئی کښې دَ سخی جوړول شوی وو کوم چې غلط دی.

قوله: عَلَى العَمَلِ بِمَا فِي التَّوْرَاةِ په دې کښې اشاره ده چې اخذ میثاق نه هغه عمومی میثاق مرا نه دې چې په ازل کښې دَ ټولو اولادآدم نه دَ الست بربکم په صورت کښې اخستې شوې وو.

قوله: وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ، قد مقدر منلوسره اشاره اوکړه چې دَ ماضی حال جوړیدل صحیح دی که چرې قد مقدر اومنلې شی دَ ماضی نه حال جوړیدودَپاره نودَ قَد کیدل ضروری دی که لفظًا وی او که تقدیراً.

قوله: حُبُّهٗ قلوبهم په دې کښې اشاره ده چې العجل نه وراندې حب مضاف محذوف دې ځکه چې سخې په زړه کښې نه شی راتلې. مضاف حذف کولوسره مبالغةً مضاف الیه دَدې په ځائی کړې شوې دې.

قوله: عِبَادَةُ العِجْلِ دا مخصوص بالذم مقدر دې.

قوله: کذلك انتم لستم بمومنین، دَ دې عبارت دَ اضافه مقصد دَ یوسوال مقدر جواب ورکول دی.

سوال: دَ آباءو دَ جنایت دَ وجې نه ابناء نه مواخذه نه شی کیدې لهذا دَ حضورپاك په زمانه کښې په موجودینو دَهغوی دَ پلارانو دَ فعل مذمت په څه وجه سره دې؟

جواب: ظاهر ده چې دَحضورپاك په زمانه کښې یهود دَخپلو اسلافو په فعل باندې راضی وو اوهغې سره متفق وو نه چې خپیمانه شرمنده ځکه چې په ګناه باندې راضی کیدل او دې سره متفق کیدل هم ګناه ده.

قوله: ای الجنة دَ دار آخرت تفسیر په جنت سره دَ کولو مقصد دادې چې دار آخرت عام دې

په کوم کښې چې دوزخ او جنت شامل دی او دې خلقو به خپل ځان صرف دَجنت مستحق ګنړلو.

قوله: کما زعمتم، ای بقولك لن یدخل الجنة الا من کان هودا.

قوله: تعلق بتمنیه الشرطان الخ. ښکاره داده چې تعلق تمنیه بالشرطین او وئیلې شی په دې کښې قلب دې دا دَهغه اعتراض جواب دې چې دَجزاء واحد تعلق په دوو شرطونو دَ عطف نه بغیر جائزده او دلته هم دغه لازم راځی.

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې دَ جزاء واحد تعلق دوو شرطونوسره نه دې بلکه هم یو شرط سره دې ځکه چې اول شرط دَ ثانی دَپاره قید دې مستقل شرط نه دې.

فائده: داده چې کله دوه شرطونه جمع شی او دَهغې جواب په مینځ کښې وی نو اول شرط به دَ ثانی دَپاره قید وی په دې توګه اول به دَ ثانی معنی دَپاره متمم شی او جواب به دَ ثانی وی تقدیر ایت به داسې شی ان کنتم صادقین فی زعمکم ان الدار الاخرة لکم خاصة فتمنوا الموت اودا هم وئیلی شوی دی چې فتمنوا الموت دَ ثانی جواب دې اودَ اول جواب محذوف دې په کوم چې دَ اول جواب دلالت کوی.

قوله: المستلزم لکذبهم دا دَشکل اول نتیجه ده ان کانت لکم الدار الاخرة، مقدم دې. فتمنوا الموت تالی دې اولن یتمنوه ابدا نقیض تالی دې. دَ نقیض تالی عدم د مقدم عدم ته مستلزم وی اومقدم دارآخرت دَخپل ځان دَپاره خاص کول دی. لهذا دَ دار آخرت دَ تخصیص دعویٰ معدوم شوه. اودا دَ نقیض تالی دَعدم دَ وجې نه لازم راغله او د المستلزم لکذبهم هم دغه مطلب دې یعنی دَ یهودو دَ مرګ تمنا نه کول دَخپل ځان دَپاره دارآخرت دَتخصیص دعویٰ کذب ته مستلزم ده.

قوله: لام قسم، په دې کښې اشاره ده چې دَ ولتجدنهم عطف په لن یتمنوه باندې دې اودا عدم تمنا دَ مرګ تاکید دې نه چې جمله معترضه لکه چې وئیلې شوی دی دَدې دَپاره چې په دې صورت کښې به لام دَ تاکید هیڅ فائده نه ورکوی.

قوله: یتمنی، د یود تفسیر په یتمنیٰ سره کول دَدې سوال جواب ورکول مقصود دې چې وِداد په موجوده څیزونو کښې کولې شی نه چې په معدوم کښې، اودَ عمر دَ اوږدوالی تمنا دَمعدومات نه ده.

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې دَ وِداد دَتمنا په معنی کښې دې اوتمنا دَ معدوم او موجود دواړو کیدې شی.

قوله: مزحزحه اسم فاعل واحد مذکر لرې کونکې مصدر زحزحة په وزن دَ فعللة لرې کول ثلاثی مجرد زحزحا، (ن) لرې کول.

[ايا تونه: ۹۷ - ۱۰۱]

وسال بن صُورِيَا النَّبِيّ أَوْ عُمَر عَمَّنْ يَأتِي بِالْوَحْيِ مِنَ الْمَلَائِكَة فَقَالَ جِبْرِيل فَقَالَ هُوَ عَدُوّنَا يَأْتِي بِالْعَذَابِ وَلَوْ كَانَ مِيكَائِيل لَآمَنَّا لِأَنَّهُ يَأْتِي بِالْخِصْبِ وَالسَّلْم فَنَزَلَ {قُلْ} لَهُمْ {مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيل} فَلْيَمُتْ غَيْظًا {فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ} أَيْ الْقُرْآن {عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ} بِأَمْرِ {اللّٰه مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ} قَبْله مِنَ الْكُتُب {وَهُدًى} مِنَ الضَّلَالَة {وَبُشْرَى} بالجنة {لِلْمُؤْمِنِين} {مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلّٰهِ وَمَلَائِكَتِه وَرُسُلِه وَجِبْرِيل} بكسر الجيم وفتحها بلا همز وَبِهِ بِيَاءٍ وَدُونهَا {وَمِيكَال} عُطِفَ عَلَى الْمَلَائِكَة من الْخَاصّ عَلَى الْعَامّ وَفِي قِرَاءَة مِيكَائِيل بِهَمْزَةٍ وَيَاء وَفِي أُخْرَى بِلَا يَاء {فَإِنَّ اللّٰه عَدُوٌّ لِلْكَافِرِينَ} أَوْقَعَهُ مَوْقِع لَهُمْ بَيَانًا لِحَالِهِمْ {وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ} يَا مُحَمَّد {آيَاتٍ بَيِّنَات} اي واضحات حال ردا لقول بن صُورِيَا لِلنَّبِيّ مَا جِئْتنَا بِشَيْءٍ {وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلَّا الْفَاسِقُون} كفروا بها {أَوَكُلَّمَا عَاهَدُوا} الله {عَهْدًا} عَلَى الْإِيمَان بِالنَّبِيّ إِنْ خَرَجَ أَوْ النَّبِيّ أَنْ لَا يُعَاوِنُوا عَلَيْهِ الْمُشْرِكِينَ {نَبَذَهُ} طَرَحَهُ {فَرِيقٌ مِنْهُمْ} بِنَقْضِهِ جَوَاب كُلَّمَا وَهُوَ مَحَلّ الِاسْتِفْهَام الْإِنْكَارِيّ {بَلْ} لِلِانْتِقَالِ {أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُون} {وَلَمَّا جَاءَهُمْ رَسُولٌ مِنْ عِنْدِ اللّٰه} مُحَمَّد صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَاب كِتَابَ اللّٰه} أَيْ التَّوْرَاة {وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ} أَيْ لَمْ يعلموا بِمَا فِيهَا مِنَ الْإِيمَان بِالرَّسُولِ وَغَيْره {كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ} مَا فِيهَا مِنْ أَنَّهُ نَبِيّ حق أو أنها كتاب الله

ترجمه: ابن صوريا دَ نبی ﷺ یا حضرت عمر رضی الله عنه نه سوال اوکړو چې کومه فرښته وحی راوړی راځي؟ جواب ورکړې شو جبرائیل علیه السلام نو هغه اووئیل چې هغه خوزمونږ دښمن دې ځکه چې هغه عذاب راوړی اوراځي که چرې (وحې راوړونکې) فرښته میکائیل دې نو مونږ به ایمان راوړلې ځکه چې هغه خوشحالی او سلامتی راوړی نو دا آیت نازل شو. ته دوی ته اووایه څوک چې دَ جبرائیل دښمن وی هغه له پکاردی چې دَغصې نه مړشي. بیشکه هم دې (جبرائیل) خو قرآن دَ الله تعالی په حکم باندې ستاسو په زړونو باندې نازل کړې دې. کوم (قرآن) چې دَ سابقه کتابونو تصدیق کونکې دې او مؤمنانو ته دَ هدایت لار خودونکې او دَ جنت زیرې ویرونکې دې او څوک هم چې دَ الله تعالی دَ هغه دَ فرښتو او دَ هغه دَ رسولانو او دَ جبرائیل، جبرائیل دَ جیم په کسره او فتحه سره دې بغیر دَ همزه او سره دَ همزه او دَ یاء نه بغیر او سره دَ یاء دې او دَ میکائل دښمن وی دَ دې عطف په ملائکه باندې عطف خاص علی العام په توګه دې. او په یو قراءت کښې میکائیل همزه او یاء سره دې او په دویم کښې بغیر دَ یاء نه نو دَ داسې کافرانو دښمن پخپله هم الله تعالی دې. (لفظ کافِرِیْنَ) دَ هُمْ ضمیر په ځائې دَ هغوی (دَ کفر حالت) بیانولو دَ پاره راوړلې شوې دې او اې محمد ﷺ یقینًا مونږ په تا باندې روښانه دلیلونه نازل کړی دی. (بینات) آیات نه حال دې دا دَ ابن صوریا دَ هغه خبرې جواب دې چې تا مونږ له څه شئ نه دې راوړې دَ کوم انکار چې دَ فاسقانو نه علاوه بل څوک نه کوی

(صرف) هم فاسق دَدي انکار کوی. دغه خلقو په نبی باندې ایمان راوړلو باره کښې که چرې هغه ظاهر وی اوبیانی هم الله تعالی سره وعده اوکړه یا نبی سره ئی وعده اوکړه چې دهغې خلاف به دمشرکانو امدادنه کوی نو په هغوی کښې یوفریق دغه عهد مات کړو شاته ئی اوغورزولو (نَبَذَهٗ) دَکلما جواب دې. اوهم دغه دَ استفهام انکاری محل دې بلکه بَلْ دَ انتقال (اضطراب) دَپاره دې په دوی کښې اکثر ایمان نه لري اوکله چې دوی له دَ دوی دَ کتاب تصدیق کونکې رسول (محمد ﷺ) دَ الله تعالی دَ طرف نه راغلو نودَدې اهل کتابو نه یوفریق دَ الله تعالی کتاب تورات شاته اوغورزولو یعنی په هغې کښې چې په رسول باندې دَ ایمان راوړلو وغیره احکام وو په هغې باندې ئی عمل اونه کړو لکه چې هغوی داخبره چې دا نبی په حقه دې اویا دا دَالله تعالی کتاب دې هډو پیژنی نه.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ابن صوریا: عبدالله بن صوریا، دَ فدك اوسیدونکې دَ یویهودی عالم نوم دې. (روح البیان)

قوله: جبرائیل، جِبْرِیل علیه السلام دَالله تعالی دَ یومقرب فرښتې نوم دې. دَ جبرئیل په تلفظ کښې دیارلس لغات دی خو په هغې کښې زیات تر شاذ دی:

① جِبْرِیل دَ جیم زیر سره　② جَبْرِیْلٌ وَدَ جیم زیر سره　③ جَبْرَئِیل، په وزن دَ خَنْدَرِیس

④ جَبْرَئِل دَ همزه نه پس یاء نشته　⑤ جَبْرَئِلّ لام مشدد　⑥ جبْرَاهِل

⑦ جَبْرَال　⑧ جَبْرَیِل　⑨ جِبْرَئِیلُ

⑩ جَبْرَیِن　⑪ جِبْرِیْلَ　⑫ جبرائین (لغات القرآن)

جِبْرِیْل په معنی د عبدالله، دَ خدائی بنده، جبر بنده او ایل الله، دا عجمی لفظ دې دَ عجمه اوعلم کیدو دَ وجې نه غیرمنصرف دې. او میکائیل په معنی دَ عبیدالله دې.

قوله: فَلْیَمُتْ غَیْظًا دا جمله محذوف منلومقصد داخودل دی چې مَنْ کَانَ کښې مَنْ شرطیه دې، فَلْیَمُتْ دَدې جزاء محذوف دې.

قوله: فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ، دا علت جزاء ده نه چې جزاء ځکه چې جزاء کله جمله وی نو په هغې کښې دَ عائد کیدل ضروری وی کوم چې موجودنه دې.

قوله: ای القرآن دَنَزَّلَهٗ دَ ضمیرباره کښې چونکه احتمال وو چې دَ جبرائیل طرف ته راجع وی مګردا دَمعنې په اعتبار سره صحیح نه ده. ځکه چې القرآن وئیلوسره مرجع متعین کړې شوه سره دَدې چې په ماقبل کښې قرآن ذکرنه دې خودَ المشهور کالمذکور قاعدې سره اضمار قبل الذکر لازم نه راځی.

قوله: أَوْقَعَهُ مَوْقِعَ هُمْ، بَيَانًا لِحَالِهِمْ، يعني عَدُوٌّ لِلْكَافِرِيْنَ وئيلو په ځائې عَدُوٌّ لَهُمْ وئيل كافي وو ځكه چې دَدې ذكروراندې تيرشوې دې خود هغوئ عادت شنيعه او خصلت قبيحه بيانول مقصود وو چې دَ ملائكود دښمنئ دَ وجې نه داكافرشوى وو په دې وجه دَ ضميرپه ځائې اسم ظاهر راوړلې شو.

قوله: رَدٌّ لِقَوْلِ ابن صوريا الخ دَ دې عبارت دَ اضافه مقصد معطوف عليه كوم چې مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيْلَ دې او معطوف كوم چې وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلَّا الْفَاسِقُوْنَ دې په مينځ كښې جمله معترضه راوړلو نكته بيانول دي.

قوله: أَوِالنَّبِي، دَدې عطف په الله باندې دې اودَ دې مقصد دويم تفسيرطرف ته اشاره كول دى يعنى يهودو الله تعالى سره عهدكړې وو چې كله دَ نبى آخرزمان ظهوركيږى نو مونږ به په هغه باندې ايمان راوړو يا مطلب دادې چې رسول الله ﷺ سره ئې عهدكړې ووچې دَهغوى خلاف به دَ مشركانوسره تعاون نه كوو.

قوله: أَوَكُلَّمَا همزه استفهام انكارى دې واؤعاطفه دې معطوف عليه محذوف دې دَدې تقدير دادې أكفروابآيات الله البينات وكُلَّمَا، ظرف زمان متضمن لمعنى شرط.

قوله: نَبَذَهُ فَرِيْقٌ، جمله كيدوسره جواب شرط، كتاب الله د نَبَذَ مفعول اول او وَرَاءَ ظُهُوْرِهِمْ، مفعول ثانى دې ځكه چې نَبَذَ جَعَلَ معنې لره متضمن دې اودَ استفهام انكارى محل هم دغه دې يعنى هغوى لره دَ الله تعالى اودَهغه دَ رسول ﷺ عهد شاته غورزول نه وو پكار.

[ايالونه:١٠٢-١٠٣]

{واتبعوا} عطف علي نبذ {ما تتلوا} أيْ تَلَتْ {الشَّيَاطِيْن عَلَى} عَهْد {مُلْك سُلَيْمَان} مِنَ السِّحْر وَكَانَتْ دَفَنَتْهُ تَحت كُرْسِيّه لَمَّا نُزِعَ مُلْكه أَوْ كَانَتْ تَسْتَرِق السَّمْع وَتَضُمّ إِلَيْهِ أَكَاذِيب وَتُلْقِيه إِلَي الْكَهَنَة فَيُدَوِّنُونَهُ وَفَشَا ذَلِكَ وَشَاعَ أَنَّ الْجِنّ تَعْلَم الْغَيْب فَجَمَعَ سُلَيْمَان الْكُتُب وَدَفَنَهَا فَلَمَّا مَاتَ دَلَّتْ الشَّيَاطِين عَلَيْهَا النَّاس فَاسْتَخْرَجُوهَا فَوَجَدُوا فِيهَا السِّحْر فَقَالُوا إنَّمَا مَلَكَكُمْ بِهَذَا فَتَعَلَّمُوهُ فَرَفَضُوا كُتُب أَنْبِيَائِهِمْ قَالَ تَعَالَي تَبْرِئَة لِسُلَيْمَان وَرَدًّا عَلَي الْيَهُود فِي قَوْلهمْ أنْظُرُوا إلَي مُحَمَّد يَذْكُر سُلَيْمَان فِي الْأَنْبِيَاء وَمَا كَانَ إلَّا سَاحِرًا {وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَان} أَيْ لَمْ يَعْمَل السِّحْر لِأَنَّهُ كُفْر {وَلَكِنَّ} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيف {الشَّيَاطِين كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاس السِّحْر} الْجُمْلَة حَال مِنْ ضَمِير كَفَرُوا {وَ} يُعَلِّمُونَهُمْ {مَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ} أَيْ أُلْهِمَاهُ مِنَ السِّحْر وَقُرِئَ بِكَسْرِ اللَّام الْكَائِنَيْنِ {بِبَابِل} بَلَد فِي سَوَاد الْعِرَاق {هَارُوت وَمَارُوت} بدل او عطف بيان للملكين قال بن عَبَّاس هُمَا سَاحِرَانِ كَانَا يُعَلِّمَانِ السِّحْر وَقِيلَ مَلَكَانِ أُنْزِلَا لِتَعْلِيمِهِ ابْتِلَاء مِنَ اللَّه لِلنَّاسِ {وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ} زَائِدَة {أَحَد حَتَّى يَقُولَا} لَهُ نُصْحًا {إنَّمَا نَحْنُ فِتْنَة} بَلِيَّة مِنَ اللَّه إلَي النَّاس لِيَمْتَحِنَهُمْ بِتَعْلِيمِهِ فَمَنْ تَعَلَّمَهُ كَفَرَ وَمَنْ تَرَكَهُ فَهُوَ مُؤْمِن {فَلَا تَكْفُر} بِتَعَلُّمِهِ فَإِنْ أَبَي إلَّا التَّعْلِيم عَلَّمَاهُ

{فَيَتَعَلَّمُونَ منهما ما يفرقون به بين المرء وزوجه} بِأَنْ يُبَغِّض كُلًّا إِلَي الآخر {وَمَا هُمْ} أي السَّحَرَة {بِضَارِّينَ بِهِ} بِالسِّحْرِ {مِنْ} زَائِدَة {أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّه} بِإِرَادَتِهِ {وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ} فِي الآخِرَة {وَلَا يَنْفَعُهُمْ} وَهُوَ السِّحْر {وَلَقَدْ} لَام قَسَم {عَلِمُوا} أي اليَهُود {لَمَنْ} لَام ابْتِدَاء مُعَلِّقَة لِمَا قَبْلَهَا وَمَنْ مَوْصُولَة {اشْتَرَاهُ} اخْتَارَهُ أَوْ اسْتَبْدَلَهُ بِكِتَاب الله {مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ} نَصِيب فِي الْجَنَّة {وَلَبِئْسَ مَا} شَيْئًا {شَرَوْا} بَاعُوا {بِهِ أَنْفُسَهُمْ} أي الشَّارِينَ أي حَظّهَا مِنَ الآخِرَة إنْ تَعَلَّمُوهُ حَيْثُ أَوْجَبَ لَهُمُ النَّار {لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ} حَقِيقَة مَا يَصِيرُونَ إِلَيْهِ مِنَ الْعَذَاب مَا تَعَلَّمُوهُ {وَلَوْ أَنَّهُمْ} أي اليَهُود {آمَنُوا} بِالنَّبِيّ وَالْقُرْآن {وَاتَّقَوْا} عِقَاب الله بِتَرْكِ مَعَاصِيه كَالسِّحْرِ وَجَوَاب لَوْ مَحْذُوف أي لَأُثِيبُوا دَلَّ عَلَيْهِ {لَمَثُوبَةٌ} ثَوَاب وَهُوَ مُبْتَدَأ وَاللَّام فِيهِ لِلْقَسَمِ {مِنْ عِنْدِ اللَّهِ خَيْرٌ} خَبَره مِمَّا شَرَوْا بِهِ أَنْفُسهمْ {لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ} أَنَّهُ خَيْر لَمَا آثروه عليه

ترجمه: اوورپسې اولګيدل (يهود) دَ (اتّبعوا) عطف په تلاباندې دې هغه (سحر) کوم چې به شيطانانودَ حضرت سليمان عليه السلام دَ بادشاهئ په زمانه کښې خودلو. کله چې دَ سليمان عليه السلام حکومت ختم شو نودَسحر (کتابونه) شيطانانودَ حضرت سليمان عليه السلام دَ کرسئ لاندې خښ کړی وو يا هغې پسې اولګيدل کوم چې به شيطانانو په غلاباندې اوريدل او په هغې کښې به ئې (دَ خپل طرف نه) دروغ ملاوول اوکاهنانوته به ئې خودل او هغه به ئې مُدَوَّن کول اودَدې خبرې مشهورتيااوشوه. بل دا مشهورشو چې جنات غيب پيژنی نو سليمان عليه السلام (دَ جادو) کتابونه راجمع کړل او خښ ئې کړل. کله چې دَ سليمان عليه السلام انتقال اوشو نو شيطانانوهغه خلقو ته په ګوته کړل نوخلقو هغه رااوويستل نو په هغې کښې ئې جادو اوموندلو نورئې وئيل چې (سليمان عليه السلام) په تاسو باندې هم دَدې جادو په ذريعه په تاسو حکومت کولو نوهغه خلقو دا جادو زده کړواودَ خپلو انبياء کرامو کتابونه ئې يوطرف ته کړل. الله تعالی دَ حضرت سليمان عليه السلام براءت کولوسره اودَ يهوديانو دا خبره ردکولوسره چې محمد صلی الله عليه وسلم ته اوګورئ سليمان عليه السلام په انبياء کښې شميری حالانکه هغه خو صرف يوجادوګروو وئې فرمائيل چې سليمان عليه السلام کفرنه دې کړې يعنی دَ جادو عمل ئې نه دې کړې ځکه چې دَ (جادوعمل) کفردې لکِنْ تشديداوتخفيف سره ليکن شيطانانو کفراوکړو چې خلقو ته به ئې جادو خودلو. جمله (يُعَلِّمُونَ الناس السحر) دَ کفروا دَ ضميرنه حال دې او (شيطانان) هغوی ته به دوی علم سحر هم خودلو. اوکوم چې په هغه دوو فرښتوباندې نازل کړې شوی وو چې (ښار) دَ بابل کښې اوسيدلې او مَلَكَيْن دَ لام په کسره سره هم لوستلې شوې دې بابل دَ عراق په مينځ کښې يوښاردې. (دَ دغه فرښتونومونه) هاروت اوماروت وو. دادَ ملکين نه بدل ياعطف بيان دې. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائيلی دی هغه دواړه جادوګروو اوپخپله به ئې جادو خودلو او نوروئيلی شوی دی چې دوه فرښتې

وې چې دَ جادو دَ تعلیم دَپاره دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ خلقو دَ ازمیښت په توګه رالیږلې شوي وې او هغه دواړو به (جادو) چاته نه خودلو مِن زائده دې مګر نصیحةً به ئې دا وئیل چې مونږ دَ الله تعالی دَ طرف نه (دَ خلقو) ازمیښت یو دې دَپاره چې جادو ورته اوښائی او ازمیښت ئې اوکړو. لهذا چاچې جادو زده کړو هغه کفراوکړو اوڅوك چې دَ زده کولو نه منع شو هغه مؤمن دې. لهذادې زده کولوسره کفر مه کوئی بیا هم که هغوی په زده کولوباندې زور کوی نو هغوی ته اوښائی. بیابه خلقو دغه علم زده کولو دَ کوم په ذریعه چې به ئې دَ ښځې اوخاوند په مینځ کښې جدائی کوله په دې توګه چې په خپل مینځ کښې به ئې بغض ساتلو اودا جادو کونکی دَدغه (جادو) په ذریعه چاته دَالله تعالی دَ حکم (او) ارادې نه بغیر نقصان نه شو رسولې اودې خلقو به هغه څیز زده کولو چې هغوی ته په آخرت کښې نقصان اورسوی اونفع ورانه رسوی اوهغه جادو دې. او یقینًا دا یهودیان لَقَدْ کښې لام قسمیه دې ښه پوهیږی چاچې دا جادو اختیارکړو یائی په کتاب الله باندې بدل کړو دَهغه په آخرت کښې په جنت کښې هیڅ حصه نشته. لَمَنْ کښې لام ابتدائیه دې چې دَ خپل ماقبل دَ عمل نه مانع دې اومَنْ موصوله دې او یقینًا چې دَکوم څیز په عوض کښې چې هغوی خپل ځانونه خرڅ کړل هغه دیر خراب څیز دې یعنی خرڅونکی دی. (نفسونه) یعنی دَهغوی دَ آخرت حصې ته (خراب دې) دَهغې زده کړه ځکه چې دې زده کړې دَهغوی دَ پاره جهنم واجب کړو. یا که چرې دې خلقو ته دَ دغې عذاب حقیقت معلوم وې دَ کوم طرف ته چې دوی روان دی نودا به ئې نه زده کولو اوکه چرې دې یهودیانو په نبی او قرآن باندې ایمان راوړلې وې او ګناه ئې پریخودې وې او دَ الله تعالی نه ویریدل مثلاً (ترك) جادو ئې کولې نو دَالله تعالی دَ طرف نه به دوی ته بهترین ثواب ملاویدلو. دَلَوْجواب محذوف دې او هغه لَاَثِیْبُوْا دې په کوم چې لَمَثُوْبَةٌ (په معنی ثواب) دلالت کوی اوهغه مبتداء ده او په دې کښې لام قسمیه دې دَهغې نه کوم چې هغوی دَخپل ځان دَ پاره اخستې دې. که چرې هغوی ته داخبره معلومه وه چې دابهتردی نو جادو له به ئې په اجر اوثواب باندې ترجیع نه ورکوله.

دَ قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَاتَّبَعُوْا واؤعاطفه دې. اِتَّبَعُوْا (اِتّبَاعٌ) دَ (افتعال) نه ماضی جمع مذکرغائب دې هغوی اتباع اوکړه هغوی وریسې شو. دَدې عطف په نَبَذَ باندې دې. اِتَّبَعُوْا کښې ضمیر کوم چې دَ فریق طرف ته راجع دې هغه دَدې فاعل دې. مَا موصوله دَ اِتَّبَعُوْا مفعول دې. تتلوا الشیطین فعل فاعل سره ملاؤشو جمله شوه صله.

سوال: تَتْلُوْا دَمضارع صیغه ده چې په حال باندې دلالت کوی حالانکه دَ آیت دَ نزول په وخت شیطانانو تلاوت نه کولو. ځکه چې دَ حضورپاك دَ بعثت نه پس دَ شیطانانو آسمان

ته په تلو باندې پابندی لګیدلې وه؟

جواب: دَ مضارع صیغه دَ حکایت حال ماضیه په توګه استعمال شوې ده لکه چې هغه معامله دغه وخت دَ سترګو په وړاندې کیدله. دَدې جواب طرف ته علامه سیوطی ﷫ دَ تتلوا تفسیر ئې په تلت سره کولو کښې اشاره کړې ده.

قوله: اَوْكَانَتْ تَسْتَرِقُ السَّمْعَ الخ، اَوْ دَ تنویع دَپاره دې. دَدې عطف په معنوی توګه باندې من السحر باندې دې او تَتْلُوْا لاندې دې اوداد اختلاف طرف ته اشاره ده یعنی شیطانانو به خلقوته جادو لوستلو اورولو. یا کومې خبرې چې به شیطانانو آسمان ته تللوسره په غلا اوریدلې هغه به ئې لوستلې اورولې به ئې.

قوله: علی عَهْدِ سلیمان، ای فی عهد سلیمان، علی په معنی دَ فی او دا هم احتمال دې چې تتلوا په معنی د تَتَقَوَّلُ (افتراء کول) وی نوبیا به علی په خپل حال باندې وی ځکه چې د تَقَوَّلَ صله علی راځی په دې صورت کښې به متعلق محذوف وی. دَدې تقدیری عبارت به داسې وی. وَاتَّبَعُوْا مَا تَتَقَوَّلُهُ الشیطین علی الله زَمَنَ ملكِ سلیمان او مِنَ السحر، دَ مَا بیان دې عائد به محذوف وی تقدیر به شی تتلوهٗ.

قوله: لَمْ يَعْمَلِ السِّحْرَ دَدې عبارت دَ اضافه مقصد داخودل دی چې صرف دَ سحر تعلیم کفر نه دې بلکه عمل بالسحر کفر دې.

قوله: وَيُعَلِّمُوْنَهُمْ مَا اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ يُعَلِّمُوْنَ محذوف منلوسره ئې اشاره اوکړه چې مَا موصوله دې دَدې عطف په اَلسِّحْرَ باندې دې اودا عطف خاص علی العام دَ قبیل نه دې. لهذا د عطف الشیٔ علی نفسه اعتراض هم ختم شو.

قوله: ای اُلْهِمَاهُ، دا دَ اُنزل تفسیر دې. دَدې خبرې طرف ته اشاره ده چې د اُنزل نه دَ وحی دَ انزال طریقه مراد نه ده په کوم سره چې عظمت معلوم شی بلکه مطلقًا خودل مراد دی.

قوله: بِبَابِلَ، باء په معنی دَ فی ده بابل دَ یوعظیم الشان ښار نوم دې چې پخوانئی زمانه کښې دَ دریائې فرات دواړو طرفوته واقع وو فرات به دَدې په مینځ کښې تیریدو. نن هم دَهغې کنډرې موجود دی دَ دې عرض البلد شمالی ۲۳ درجې دقیقه ۴۱ ثانیه او طول البلد ۴۴ درجې ۲۳ دقیقه ۴۰ ثانیه دې. دا دَ ډیرې مودې پورې دَ عراق دارالخلافه وه اودَ بخت نصر دَ زمانې پورې دَ یوډیر لوئی شان اوشوکت ښار وو. دَ ۵۳۸ قبل مسیح نه پس په دې باندې داسې تباهی راغله چې دَهمیشه همیشه دَپاره دَدې خاتمه اوشوه. بابل به سحر اوساحرئی کښې ډیرمشهوردې دا دَعجمه اوعلم کیدودَ وجې نه غیرمنصرف دې.

اخفش رحمه الله وئیلي دي چې د تانیث او علمیت د وجې نه غیرمنصرف دي. (لغات القرآن

قوله: هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ، دا د دوو فرښتو نومونه دی علمیت او عجمه کیدو د وجې نه غیرمنصرف دی. بعضې مفسرینو د دویم قرامت په وجه هغوی ته انسانان وئیلی مګر راجح اول قول دي.

قوله: لام ابتداء مُعَلِّقَةٌ لِمَا قَبْلَهَا مِنَ العمل، لَمَنْ کښې لام ابتدائیه دې دا په مبتداء باندې داخلیږی خو که چرته په ماضی داخلیږی یا په مضارع باندې داخلیږی نو قد لفظًا یا معنًا ضروری وی. البته کوم کسان چې لام ابتداء لام قسم ګرځوي د هغوئ په نیز د لام ابتداء تصور نشته. (روح المعانی) لَمَنْ کښې لام ابتداء خپل ماقبل عَلِمُوا د عمل نه منع کړې دې ځکه چې د عمل په صورت کښې د لام ابتداء صدارت به باطل شی.

قوله: حَظَّهَا، په دې کښې د حذف مضاف طرف ته اشاره ده. حَظَّهُمْ اى حَظَّ أنفسِهِمْ.

قوله: أَنْ تَعَلَّمُوْهُ، مفسرعلام دا جمله مقدرمنلوسره اشاره اوکړه چې مخصوص بالذم په تاویل د مصدرکیدو سره محذوف دې لهذا دا اعتراض ختم شو چې مَا په معنی شيئًا کیدو د وجې نه نکره ده د کوم د وجې نه چې مخصوص بالذم نه شی واقع کیدې ځکه چې د مخصوص معرفه کیدل ضروری وی. د دې جواب ورکړې شو چې مَا د شيئًا په معنی کښې کیدوسره په بئس کښې مستتر، د هُوَ ضمیر فاعل تمیزدې او مخصوص بالذم، أَنْ تَعَلَّمُوْا محذوف دې.

قوله: حَقِيْقَةَ مَا يَصِيْرُوْنَ إِلَيْهِ الخ، د دې عبارت د اضافې مقصد د یوسوال جواب دې.

سوال: په سابق کښې وَلَقَدْ عَلِمُوْا نه معلومیږی چې هغوی ته علم دې او لوکانوايعلمون نه معلومیږی چې هغوی ته علم نشته. په دوارو کښې تضاد معلومیږی؟

جواب: یعنی د الله تعالی عذاب پیژنی مګر د عذاب حقیقت او د هغې سختی نه پیژنی. لهذا اوس هیڅ تنافی نشته هم د دې سوال د جواب د پاره مفسرعلام د حقیقة ما یصیرون اضافه کړې ده.

قوله: مَا تَعَلَّمُوْهُ دا د لوکانوا یعلمون جواب محذوف دې.

قوله: جَوَابُ لَوْ محذوف دا هم د یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: د لَوْ د جواب فعل ماضی کیدل ضروری دی او دلته لَمَثُوْبَةٌ جمله اسمیه جواب واقع کیږی کوم چې صحیح نه دې.

جواب: د لَوْ جواب لمثوبة نه دې بلکه جواب محذوف دې او هغه لأثِيْبُوا دی او په دې حذف

باندې لَمَثُوبَةٌ دلالت كوي.

قوله: لَمَا آثَرُوْهُ، دا دَ لوكانوايَعْلَمُوْنَ جواب محذوف دي. (والله اعلم بالصواب)

[اياتونه: ۱۰٤-۱۰۸]

{يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوالَاتَقُولُوا} لِلنَّبِيِّ {رَاعِنَا} أَمر مِنَ الْمُرَاعَاة وَكَانُوا يَقُولُونَ لَهُ ذَلِكَ وَهِيَ بِلُغَةِ الْيَهُود سَبّ مِنَ الرُّعُونَة فَسُرُّوا بِذَلِكَ وَخَاطَبُوا بِهَا النَّبِيّ فَنُهِيَ الْمُؤْمِنُونَ عَنهَا {وَقُولُوا} بَدَلهَا {انْظُرْنَا} أَيْ انْظُرْ إِلَيْنَا {وَاسْمَعُوا} مَا تُؤْمَرُونَ بِهِ سَمَاع قَبُول {وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم هُوَ النَّار {مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ} مِنَ الْعَرَب عُطِفَ عَلَى أَهْل الْكِتَاب وَمِن لِلْبَيَانِ {أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ} زَائِدَة {خَيْرٍ} وَحْي {مِنْ رَبِّكُمْ} حَسَدًا لَكُمْ {وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ} نُبُوَّته {من يشاء والله ذوالفضل العظيم} وَلَمَّا طَعَنَ الْكُفَّار فِي النَّسْخ وَقَالُوا إِنَّ مُحَمَّدًا يَأْمُر أَصْحَابه الْيَوْم بِأَمْرٍ وَيَنْهَى عَنْهُ غَدًا نَزَلَ {مَا} شَرْطِيَّة {نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ} أَيْ نُزِلْ حُكْمهَا إِمَّا مَعَ لَفْظهَا أَوْ لَا وَفِي قِرَاءَة بِضَمِّ النُّون مِنْ أَنْسَخ اي نامرك او جبريل بنسخها {أوننسأها} نُؤَخِّرهَا فَلَا نُنْزِل حُكْمهَا وَنَرْفَع تِلَاوَتهَا أَوْ نُؤَخِّرهَا فِي اللَّوْح الْمَحْفُوظ وَفِي قِرَاءَة بِلَا هَمْز مِنَ النِّسْيَان أَيْ نُنْسِكهَا أَيْ نَمْحُهَا مِنْ قَلْبك وَجَوَاب الشَّرْط {نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا} أَنْفَع لِلْعِبَادِ فِي السُّهُولَة أَوْ كَثْرَة الْأَجْر {أَوْ مِثْلِهَا} فِي التَّكْلِيف وَالثَّوَاب {أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ النَّسْخ وَالتَّبْدِيل وَالِاسْتِفْهَام لِلتَّقْرِيرِ {أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} يَفْعَل مَا يَشَاء {وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْره {مِنْ} زَائِدَة {وَلِيٍّ} يَحْفَظكُمْ {وَلَا نَصِيرٍ} يَمْنَع عَنْكُمْ عَذَابه إِنْ أَتَاكُمْ وَنَزَلَ لَمَّا سَأَلَهُ أَهْل مَكَّة أَنْ يوسعها ويجعل الصفا ذهبا {أَمْ} بل أ {تُرِيدُونَ أَنْ تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَى} أَيْ سَأَلَهُ قَوْمه {مِنْ قَبْلُ} مِنْ قَوْلهمْ أَرِنَا اللَّه جَهْرَة وَغَيْر ذَلِكَ {وَمَنْ يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ} أَيْ يَأْخُذهُ بَدَله بِتَرْكِ النَّظَر فِي الْآيَات وَاقْتِرَاح غَيْرهَا {فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ} أَخْطَأَ الطَّرِيق الْحَقّ وَالسَّوَاء فِي الْأَصْل الوسط

ترجمه: اې دَ ايمان والو! تاسو نبي ته راعنا مه وايئ (رَاعِنَا) دَ مُرَاعَاةٌ نه دَ امر صيغه ده. صحابه كرامو ﷺ به رسول الله ﷺ ته دالفظ ونيلو اودا (لفظ) دَ يهودو په ژبه كښې كنځل دى. دَ رَعُوْلَة نه مشتق دې يهوديان به په دې سره خوشحاليدل او پخپله به ئې په دې كلمه سره (رسول الله ﷺ) ته خطاب كولو. مؤمنان دَدې كلمې دَ ونيلو نه منع كړې شو اودَدې په ځائې انظرنا وايئ يعنى زمونږ خيال ساتئې او په توجو سره اورئې دَ كومې خبرې حكم چې دركړې شي دَعمل په نيت سره اودَ كافرانودپاره دردناك عذاب دې تكليف وركونكې اوهغه اور دې. دې خلقو چاچې دَ حسددَ وجې نه (دَ حق دعوت قبلولونه) انكاراوكړو، كه اهل كتاب وي اوكه مشركان دَ عربو داخبره نه خوښوي چې تاسو لره ستاسو دَ رب دَ طرف نه څه خير(مثلاً) وحى نازل شي. (ولا المشركين عطف) په اهل الكتاب باندې دې او

مِن بیانیه دې. (مِن خیر) کښې مِنْ زائده دې او الله تعالی چاته چې غواړي خپل رحمت (یعنې نبوت دَپاره خاص کوی او الله تعالی دَ ډیرلوئی فضل والا دې. اوکله چې کافرانو په نسخ کښې پیغور اوکړو او وئې وئیل چې محمد ﷺ خپلو ملګروته نن د یوې خبرې حکم ورکوی نو بله ورځ ئې دَهغې نه منع کوی. نو دا آیت نازل شو مونږچې کوم آیت منسوخ کړو یعنې دَهغې حکم ختم کړو ماشرطیه دې یا خو سره دَ لفظ (یعنې تلاوت اوحکم دواړه) یابغیردَ لفظ (صرف حکم) او په یوقراءت کښې نُنسِهَا، اَلنَّخ سره دَ نون په ضمه سره دې. یعنې تاسوته یا جبرئیل ته دَدې نسخ حکم ورکوی یادا مؤخر کړو نومونږ دَهغې حکم ختم (منسوخ) کوو نه اودَ هغې تلاوت اوچتوو یا هغه په لوح محفوظ کښې مؤخر (موقوف) کوو. او په یوقراءت کښې بغیردَ همزه دې (نُنسِهَا) دَ نسیان نه مشتق دې. او دا به مونږ ستادَ زړه نه ختم کړو او جواب شرط، نَأتِ بِخَیرٍمِّنهَا دې نو مونږ دَهغې نه بهتر راوړو. (یعنې کوم چې دَ بندیګانودَپاره (عملاً) دَ سهولت په اعتبار سره یا دَ کثرت اجر په اعتبارسره زیات نفع ورکونکې وی یا په تکلیف او اجرکښې هم دَدې برابر وی. آیا تاسو نه پوهیږئ چې الله تعالی په هرڅیز باندې قادر دې. هم دَدې نه نسخ اوتبدیل هم دې اواستفهام دَتقریردَپاره دې آیا تاسو نه پیژنئ چې دَ زمکې اوآسمان فرمانروائی هم دَالله تعالی دَپاره دې په دې کښې چې کوم (تصرف) غواړی اودَ الله تعالی نه سوا نه ستا څوک مولی شته چې ستاسوحفاظت اوکړی اونه مددګار، چې تاسونه عذاب منع کړې شی. که چرې په تاسو راشی (مِنْ غَیْرِهٖ) کښې من زائده دې او چې کله اهل مکه دَ حضورپاك نه دا سوال اوکړو چې (غرونه اخوا کړه) او مکه کښې وسعت اوکړه اودَ صفا(غر) دَ سرو زرو جوړکړه نودا آیت نازل شو چې تاسو دَ خپل رسول نه داسې سوال کول غواړئ لکه چې سابق کښې دَحضرت موسی علیه السلام نه کړې شوې دې یعنې دَهغه قوم دَهغوی نه سوال اوکړو مثلاً دَهغوی دا سوال چې مونږ ته الله تعالی په خپلو سترګو اوښایه وغیره (واؤرئ) چاچې ایمان په کفربدل کړو یعنې ایمان ئې پریخودو کفرئې اختیارکړو په واضحه آیاتونوکښې غور اوفکر پریخودو اودَ هغه آیاتونو نه دَ علاوه په کوشش کښې لګیاشو نوهغوی دَ نیغې لارنه واوښتل یعنې دَحق لار نه خطا شو او سَوَاءَ په اصل کښې وسط د شئ ته وائی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لَا تَقُولُوا رَاعِنَا، راعِ، مُرَاعَاةٌ (مفاعلة) نه دَ امر واحد مذکرحاضر صیغه ده نَا ضمیر مفعول دې زمونږ خیال اوساتئ، مونږ سره رعایت اوکړئ. په عبرانی ژبه کښې راعن بې وقوف ته وائی دا دَ رعونت نه مشتق دې دَ کوم معنی چې حمق ده الف دَ ندا دې اې بې وقوف، راعی ګډبه ته هم وائی یهودو به دَ تحقیر او استهزاء په توګه ژبې له زور ورکړو

او كله به ئې رَاعِنَا وئيل نو رَاعِيْنَا به كيدلو د كوم معنى چې زمونږ ګډبه ده.

قوله: أُنْظُرْإِلَيْنَا، مفسرعلام دَ أنظرنا تفسيرپه أُنظر إِلَيْنَا سره كولوكښې دې خبرې طرف ته اشاره كړې ده چې كلام په حذف سره دې په دې سره دَ اعتراض جواب هم اوشو چې أنظر لازم دې اودلته متعدى استعمال شوې دې ځكه چې ئا دَ دې مفعول ذكركړې شوې دې او په هغه خلقو باندې هم رد اوشو چې أنظر دَ انتظرنا په معنى كښې اخلى. (ترويح الارواح)

قوله .مَاتُؤْمَرُوْنَ په دا دَ حذف مفعول طرف ته اشاره ده.

قوله: مَايَوَدُّ مَا نافيه يَوَدُّ مَوَدَّةٌ نه جمع مذكرغائب مجزوم، تمنا به كوى خواهش به كوى.

قوله:من العرب من العرب دَ اضافه مقصد يو اعتراض رفع كول دى.

اعتراض: اهل الكتاب هم مشركان وو په هغوى باندې دَ ولاالمشركين عطف اوكړې شو دا عطف الشئ على نفسه دې.

جواب: دَ مشركين نه غير اهل كتاب مشركان مراد دى كوم چې عرب دى.

قوله:ان ينزل: دا ديود معفول دې.

قوله: مَاشرطية مَا دَ ننسخ مفعول مقدم دې او شرطيه نه چې موصوله دَدې په صله كښې دَ ضمير ضرورت وى.

قوله: نُزِّلَ حُكْمِهَادا دَ مِن آيةٍ صفت دې.

قوله: إِمَّا مَعَ لَفْظِهَا أَوْلَا يعنى كله صرف حكم منسوخ كيږى اوتلاوت باقى پاتې كيږى او كله حكم او تلاوت دواړه منسوخ كولې شى.

قوله: اوجبرئيل دَ جبرائيل عطف تَأْمُرُكُمْ په كاف باندې دې يعنى مونږ دَ نسخ حكم حضورپاك ته يا جبرئيل عليه السلام ته كوو. (ترويح الارواح)

قوله:نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ،نَنْسَخْ جمع متكلم مضارع مجزوم (ف)نَسْخًا ورانول، ختمول.

قوله: نُنْسِهَا دا إِنْسَاءٌ (افعال) نه جمع متكلم مضارع ده، هَا مفعول به دى، اصل كښې نُنْسِيهَا مونږ هغه هيره وو.

قوله: وفى قراءة بلاهمزدې نه معلوميږى چې دَ مفسرعلام په وړاندې دَ قرآن كريم چې كومه نسخه ده هغه نَنْسَأْهَا سره دَ همزه والا ده هم په دې وجه ئې اوفرمائيل بلاهمز، زمونږ مخې ته چې كومه نسخه ده او دلته زمونږ په اطرافوكښې هم دغه نسخه رائج ده اوهغه هم بلاهمزه والا ده. نَنْسَأْهَا دا نَسَاءٌ نه ماخوذ دې دَدې معنى ده مؤخركول، وئيلې شى نَسَأَ اللهُ فِىْ أَجَلِه الله تعالى دَهغه عمر روستوكړو، يعنى عمرئې زيات كړو دا دَهمزه والا دَ

قراءت تفسير دي. (لغات القران)

قوله: أَوْ نُنْسِهَا كه چرې نُنْسِهَا دَ نسيان نه وي نو متعدى به يو مفعول ته شي يعنى مونږ دا هيره وو اوكه دَ إِنْسَاءٌ نه ماخوذ وي نو متعدى په دو مفعولو وي. ځكه چې انساء متعدي بدو مفعول دې يو مفعول نُنْسِهَا كښې ضميرخطاب كاف دې. او دويم مفعول هَا ضمير دې كوم چې دَ آيت طرف ته راجع دې. مونږ تانه هغه آيت هيره وو مفسرعلام وَنُمْحُهَا مِنْ قَلْبِكَ اضافه كولو سره هم دې معنى طرف ته اشاره كړې ده.

فائده: كه چرې مفسرعلام فى قراءة بلاهمز په ځائې وفى قراءة بضم النون والسين ونيلى وې نو مراد به زيات واضحه كيدو ځكه چې دَمفسرعلام په عبارت كښې دَ يوبل قراءت هم احتمال دې كوم چې فاسددې اوهغه تَنْسَهَا بفتح النون والسين دې. دا صورت لفظًا اومعنًا دواړه شان فاسددې. لفظًا خو په دې وجه چې دا قراءت منقول نه دې معنًا داسې چې دا د الله تعالى نه د صدور نسيان مقتضى دې.

قوله: مِنَ النِّسْيَانِ بهتر به وې چې من الانساء ئې ونيلې وې ځكه چې دَ رباعى مصدر كوم چې زير بحث دې إِنْسَاءٌ دې نه چې نسيان. (جمل)

[اياتونه: ١٠٩-١١٢]

{وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ} مَصْدَرِيَّة {يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا} مَفْعُول لَهُ كَائِنًا {مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ} أَيْ حَمَلَتْهُمْ عَلَيْهِ أَنْفُسهمْ الْخَبِيثَة {مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ} فِي التَّوْرَاة {الْحَقُّ} فِي شَأْن النَّبِيّ {فَاعْفُوا} عَنْهُمْ أَيْ اُتْرُكُوهُمْ {وَاصْفَحُوا} أَعْرِضُوا فَلَا تُجَازُوهُمْ {حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ} فِيهِمْ مِنْ الْقِتَال {إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} {وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ} طَاعَة كَصِلَةٍ وَصَدَقَة {تَجِدُوهُ} أَيْ ثَوَابه {عِنْدَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ {وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا} جَمْع هَائِد {أَوْ نَصَارَى} قَالَ ذَلِكَ يَهُود الْمَدِينَة وَنَصَارَى نَجْرَان لَمَّا تَنَاظَرُوا بَيْن يَدَيْ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ قَالَ الْيَهُود لَنْ يَدْخُلهَا إِلَّا الْيَهُود وَقَالَ النَّصَارَى لَنْ يَدْخُلهَا إِلَّا النَّصَارَى {تِلْكَ} الْقَوْلَة {أَمَانِيُّهُمْ} شَهَوَاتهمْ الْبَاطِلَة {قُلْ} لَهُمْ {هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ} حُجَّتكُمْ عَلَى ذَلِكَ {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِيهِ {بَلَى} يَدْخُل الْجَنَّة غَيْرهمْ {مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ} أَيْ انْقَادَ لِأَمْرِهِ وَخَصَّ الْوَجْه لِأَنَّهُ أَشْرَف الْأَعْضَاء فَغَيْره أَوْلَى {وَهُوَ مُحْسِنٌ} مُوَحِّد {فَلَهُ أَجْرُهُ عِنْدَ رَبِّهِ} أَيْ ثَوَاب عَمَله الْجَنَّة {وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} فِي الْآخِرَة

ترجمه: اوپه اهل كتابو كښې اكثر داغواړى لَوْمصدريه دې چې په څه شان باندې تاسو دَ ايمان نه كفرطرف ته راوګرځوى. دَ هغه حسد دَ وجې نه كوم چې پخپله هم دَهغوى دَ طرف نه دې. حَسَدًا

مفعول له دي. (يعنى بغير د څه وجې) په حسد باندې دَهغوى خبيث نفس تيار كړى دى. دَدې باوجود چې په تورات كښې دَ نبى په بابت په هغوى حق ښكاره شوې دې (دَدې باوجود) ته دَعفو اومعافئى نه كاراخله او سترګې ترې اړه وه اودَهغوى نه بدله مه اخله. ترهغه وخته پورې چې هغوى سره دَ جنګ كولو حكم پخپله دَالله تعالى دَ طرف نه راشى بيشكه هغه په هرڅيزباندې قادردې. مونځ قائمه وئى او زكوة وركوئى اودَخپل ځان دَ پاره چې كومه نيكى مثلاً مونځ صدقه تاسو وړاندې اوليګئى نو تاسو به هغه يعنى دَهغې اجرالله تعالى سره بيامومئى. څه چې تاسو كوئى هغه دَالله تعالى په نظركښې دى هغه به دَدې تاسو ته اجر دركوى. دَهغوى وېناده چې جنت دَ يهودو اونصارى نه علاوه به هيڅوک نه ځى. هُود. دَ هائد جمع ده. دا خبره دَ مدينې يهودويانو اودَ نجران نصارىٰ هغه وخت اوكړه كله چې دغه دواړو فريقو دَرسول الله ﷺ په وړاندې مناظره اوكړه. يهودو اوونيل دَ يهودونه علاوه به بل څوك جنت ته نه ځى او نصارىٰ اوونيل دَ نصارىٰ نه علاوه به بل څوك جنت ته نه ځى. دا خبرې دَ هغوى ارزوګانې دى. (يعنى باطل خواهشات دى) تاسو هغوى ته اووايئى چې په دې خبره باندې خپل دليل پيش كړئى كه چرې تاسو په دې دعوىٰ كښې رښتونى يئې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَدَّ ماضى واحدمذكر غائب (س) مصدر وَدٌّمَوَدَّةٌغوښتنه، ارزوكول.

قوله: لَوْيَرُدُّوْنَكُمْ لَوْ حرف مصدرى دې كله چې دَ فعل نه پس واقع كيږى نو دَ تمنى په معنى كښې استعماليږى. تقديرى عبارت دادې وَدَّكَثِيْرٌرَدَّكُم الخ رَدَّ چونكه دَ صَيَّرَ په معنى كښې دې دوو مفعولونو ته نصب وركوى، مفعول اول كُم دې او ثانى كُفَّارًا دې.

قوله: كَائِنًامِنْ عِنْدِاَنْفُسِهِمْ مفسر علام كَائِنًا مقدرمنلو سره اشاره اوكړه چې مِنْ عِنْدِاَنْفُسِهِمْ د كَائِنًا محذوف متعلق كيدوسره دَحَسَدًا صفت دې.

قوله: مِنْ بَعْدِمَا تَبَيَّنَ، مِنْ بعد د وَدَّ سره متعلق دې. اومَا مصدريه دى اى بَعْدَتَبَيُّنِ الحق لَهُمْ.

قوله: هُوْدٌجمع هَائِدٌ، هَائِد په معنى د تائب ابتداءً به هغه سړى ته هائد وئيلې كيدو چا چې دَ سخى دَ عبادت نه توبه كړې وه. روستو دَ پوره قوم دَپاره دَ علم په توګه استعماليدو. په دې كښې دَ يواعتراض دَ جواب طرف ته هم اشاره ده.

اعتراض: مَنْ كَانَ هودًا، كَانَ كښې ضمير مفرد دكان اسم او هُوْدًا دَ كان خبردې كوم چې جمع دې حالانكه په اسم اوخبر كښې مطابقت ضرورى دې.

جواب: دَكان اسم مفرد راوړلو كښې لفظ د مَنْ رعايت كړې شوې دې او هُوْدًا جمع راوړلو كښې دَ مَنْ دَ معنې رعايت كړې شوې دې په دې كښې هيڅ قباحت نشته.

[ایاتوله:۱۱۳-۱۱٦]

{وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَى شَيْءٍ} مُعْتَدٍ بِهِ وَكَفَرَتْ بِعِيسَى {وَقَالَتِ النَّصَارَى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَى شَيْءٍ} مُعْتَدٍ بِهِ وَكَفَرَتْ بِمُوسَى {وَهُمْ} أَيِ الْفَرِيقَانِ {يَتْلُونَ الْكِتَابَ} الْمُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ وَفِي كِتَابِ الْيَهُودِ تَصْدِيقُ عِيسَى وَفِي كِتَابِ النَّصَارَى تَصْدِيقُ مُوسَى وَالْجُمْلَةُ حَالٌ {كَذَٰلِكَ} كَمَا قَالَ هَؤُلَاءِ {قَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ} أَيِ الْمُشْرِكُونَ مِنَ الْعَرَبِ وَغَيْرِهِمْ {مِثْلَ قَوْلِهِمْ} بَيَانٌ لِمَعْنَى ذٰلِكَ أَيْ قَالُوا لِكُلِّ ذِي دِينٍ لَيْسُوا عَلَى شَيْءٍ {فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ} مِنْ أَمْرِ الدِّينِ فَيُدْخِلُ الْمُحِقَّ الْجَنَّةَ وَالْمُبْطِلَ النَّارَ {وَمَنْ أَظْلَمُ} أَيْ لَا أَحَدَ أَظْلَمُ {مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ} بِالصَّلَاةِ وَالتَّسْبِيحِ {وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَا} بِالْهَدْمِ أَوِ التَّعْطِيلِ نَزَلَتْ إِخْبَارًا عَنِ الرُّومِ الَّذِينَ خَرَّبُوا بَيْتَ الْمَقْدِسِ أَوْ فِي الْمُشْرِكِينَ لَمَّا صَدُّوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ عَنِ الْبَيْتِ {أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ} خَبَرٌ بِمَعْنَى الْأَمْرِ أَيْ أَخِيفُوهُمْ بِالْجِهَادِ فَلَا يَدْخُلُهَا أَحَدٌ آمِنًا {لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ} هَوَانٌ بِالْقَتْلِ وَالسَّبْيِ وَالْجِزْيَةِ {وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ} هُوَ النَّارُ وَنَزَلَ لَمَّا طَعَنَ الْيَهُودُ فِي نَسْخِ الْقِبْلَةِ أَوْ فِي صَلَاةِ النَّافِلَةِ عَلَى الرَّاحِلَةِ فِي السَّفَرِ حَيْثُمَا تَوَجَّهَتْ {وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ} أَيِ الْأَرْضُ كُلُّهَا لِأَنَّهُمَا نَاحِيَتَاهَا {فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا} وُجُوهَكُمْ فِي الصَّلَاةِ بِأَمْرِهِ {فَثَمَّ} هُنَاكَ {وَجْهُ اللَّهِ} قِبْلَتُهُ الَّتِي رَضِيَهَا {إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ} يَسَعُ فَضْلُهُ كُلَّ شَيْءٍ {عَلِيمٌ} بِتَدْبِيرِ خَلْقِهِ {وَقَالُوا} بِوَاوٍ وَبِدُونِهَا الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى وَمَنْ زَعَمَ أَنَّ الْمَلَائِكَةَ بَنَاتُ اللهِ {اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا} قَالَ تَعَالَى {سُبْحَانَهُ} تَنْزِيهًا لَهُ عَنْهُ {بَلْ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا وَالْمِلْكِيَّةُ تُنَافِي الْوِلَادَةَ وَعَبَّرَ بِمَا تَغْلِيبًا لِمَا لَا يَعْقِلُ {كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ} مُطِيعُونَ كُلٌّ بِمَا يُرَادُ مِنْهُ وَفِيهِ تَغْلِيبُ الْعَاقِلِ

ترجمه: یهودیان وائی نصاری سره هیڅ نشته یعنی هیڅ معتدبه څیزنشته، اوډ حضرت عیسیٰ علیه السلام ډ (نبوت) منکر دی. او نصاری وائی چې یهودیانوسره هیڅ نشته یعنی هیڅ معتدبه څیزنشته. اوډ حضرت موسیٰ علیه السلام ډ (نبوت) منکردی. حالانکه دا دواړه فریقه کتاب لولی اوډ یهودو کتاب (تورات) کښې ډ عیسیٰ علیه السلام (دنبوت) تصدیق موجود دې اوډ نصاریٰ کتاب (انجیل) کښې ډ موسیٰ علیه السلام ډ (نبوت) تصدیق موجود دې. او جمله (وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ) حال دادې اولکه څنګه خبره چې دا (دواړه) فریق کوی دغه شان خبره بې علم خلق هم کوی یعنی مشرکین عرب وغیره. (مِثْلَ قَوْلِهِمْ) د ذلك دَمعنی بیان دې یعنی دغه (مشرکانو) دَ (آسمانی) دین والونه دَ هریوباره کښې وئیلی چې هغوی سره هیڅ نشته. دَ قیامت په ورځ به الله تعالی دَ دین په معامله کښې دَهغوی دَاختلاف فیصله کوی. په داسې توګه چې اهل حق به جنت ته او اهل باطل به دوزخ کښې داخلوی. اودَې نه زیات به لوئی ظالم څوک وی؟ یعنی دَهغوی نه زیات لوئی ظالمان څوک نشته چې دَالله تعالی په جماتونو(د

عبادت ځايونو) کښې دَ الله تعالی دَ نوم مونځ او تسبيح نه منع کړی اودَ هدم اوتعطيل په ذريعه دَهغې ورانولوپسې لګيدلې وی. (دا آيت) دَ هغه روميانو خبر ورکولوپاره کښې نازل شو کومو چې بيت المقدس وران کړو يادَ مشرکانو باره کښې نازل شوې چې حضورپاك ﷺ ئې دَ (صلح) حديبيه په کال دَ بيت الله نه منع کړلو. هغوی له خو پکاردی چې په دې کښې خو قدم هم کښې نه ايږدی مګر په ويره سره، خبر په معنی دَ امر دې يعنی هغوی دَ جهاد په ذريعه (داسې) اوويره وئې چې څوك په دې کښې بې ويرې داخل نه شی. دَهغه خلقو دَپاره په دنياکښې رسوائی ده. دَ قتل قيد اوجزيئې په ذريعه اودَ هغوی دَپاره په آخرت کښې لوئی عذاب دې (او) هغه اور دې او (راتلونکې آيت) هغه وخت نازل شو کله چې يهوديانو دَ تحويل قبله باره کښې، يا په سفرکښې په سورلئ باندې کوم طرف ته چې دَ سورلئ رخ وی دَ نفل مونځ کولوباره کښې پيغور اوکړو، مشرق اومغرب ټول هم دَ الله تعالی دَپاره دی يعنی پوره زمکه، ځکه چې دواړه (مشرق او مغرب) هم دَ زمکې دوه غاړې دی تاسو دَهغه په حکم باندې په مونځ کښې چې کوم طرف ته هم مخ کړئی هم هغه طرف ته دَ الله تعالی مخ دې يعنی دَهغه قبله ده چې دَهغه خوښه ده. بيشکه الله تعالی دَ ډير وسعت والا دې چې دَهغه فضل هرشئ باندې حاوی دې اودَ خپل مخلوق دَ تدبير نه واقف دې (وقالوا کښې) دَ واؤ او بغير واؤ دواړه صورتونه دی او يهوديان، نصاری او هغه خلقودَپاره چې دَ الله تعالی دَپاره دَ لونړو کيدو عقيده لری وينا ده چې دَالله تعالی اولاد شته. الله تعالی دَ اولاد نه خپله پاکی بيانولو سره اوفرمائيل هغه پاک دې (دَاولادنه) بلکه چې څه په آسمانونوکښې دی اوڅه په زمکوکښې دی هغه هم دَهغه دی يعنی هم دَ هغه ملك دې او هم دَهغه مخلوق دې اوهم دَهغه مملوك دې او ولادت دَ ملکيت منافی دې او غير ذوی العقول ته غلبه ورکولوسره په مَا سره تعبير کړو ټول په ټول دَهغه حکم منونکی دی يعنی هرشئ دَدې مقصددَپاره دَ هغه تابع فرمان دې کوم چې هغې نه مطلوب دې او په هغې کښې ذوی العقول ته غلبه ده.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ، كذلك ای مِثْلَ ذلكَ الَّذِیْ سَمِعْتَ په كاف په محل دَ نصب کښې دې يا خودَدې دَپاره چې مصدردَمحذوف صفت دې کوم چې دَافادهٔ حصر دَپاره مقدم کړې شوې دې. ای قولاً مِثْلَ ذٰلِكَ القول بِعَيْنِهٖ لَا قَوْلًا مغايرًا له.

قوله: وغيرُهم، غيرُهم رفع سره دَدې عطف په مشرکون باندې دې نه چې په عرب باندې يعنی دَ مشرکينو نه علاوه دَ نورو کافرانو هم دغه وينا وه.

قوله: بَيَانٌ لمعنی ذٰلِكَ يعنی مثلَ قولهم، كذلك قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ بدل دې.

قوله: لَيُسْوا دَ لَيُسْوا جمع ضمير دَ كل طرف ته په اعتبار دَ معنى راجع دي.

قوله: وَمَنْ أَظْلَمُ، مَنْ مبتداء محلاً مرفوع دي. اَظْلَمُ اسم تفضيل دَدې خبر دي. استفهام انكارى دي اى لا احدٌ أظلم منه.

سوال: دلته په قدرتي توګه يو سوال پيدا كيږي هغه دا چې فَمَنْ أَظْلَمُ كلمه په قرآن كښې باربار راغلي ده مثلاً وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ افْتَرٰى، وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ، فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ، وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ په دې كښې دَهريو تقاضا دَ حصر ده چې په دې كښې ذكرشوى نه لوئى ظالم نشته نو بيا دوئم فريق دَ هغه بل نه څنګه لوئى ظالم كيدې شى؟ يعنى اظلميت سره چې كله يو فريق متصف شو نو اوس دويم فريق دَ اظلميت صفت سره متصف كول څنګه صحيح دى؟

جواب: هريو دَخپلې صلې دَمعنې په اعتبارسره خاص دې. مثلاً كَانَّهٗ قَالَ لَا اَحَدَ مِنَ الْمَانِعِيْنَ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ ولَا اَحَدَ مِنَ الْمُفْتَرِيْنَ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ، ولَا اَحَدَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ وعلى الله على هذا القياس.

قوله: مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ، مَسٰجِدَ اللّٰهِ، دَ مَنَعَ مفعول اول دې او اَنْ يُّذْكَرَ په تاويل د مصدر كيدو سره مفعول ثانى دې. مَسَاجِد دَ مسجدَ جمع ده، دَ سجدې كولو ځائى، دَ قاعدې مطابق، مَفْعَلٌ په وزن باندې مَسْجَدٌ كيدل پكاروو ځكه چې دَ كوم مضارع مرفوع العين وى دَهغې ظرف مكان مَفْعَلٌ په وزن باندې راځى. دلته خلاف قياس دَ جيم په كسره سره دې.

سوال: مَسَاجِدَ جمع ولې راوړې شوې دې؟ اومراد بيت المقدس دې ځكه چې بيت المقدس ته رومى بادشاه بخت نصر مجوسى منهدم كړې وو، يا مراد مسجد حرام دې چې مشركان دَ مكې حضورپاك ﷺ دَ صلح حديبيه په كال دَ عمرې نه منع كړې وو.

جواب: مذكوره دواړه مساجد چونكه ټولو نه اهم او بابركت وى، ددې نه منع كول يا دا ويرانول ګويا داسې دى لكه چې ټول مساجد څوك ويران كړى.

سوال: مَنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ كښې د مَنَعَ نسبت مساجد طرف ته كړې شوې دې حالانكه حقيقت كښې دا ممنوع خلق دى.

جواب: دَ مانعين فعل چونكه مسجد سره متعلق وو مثلاً په جماتونو كښې ګندګى وغيره اچول يا دا منهدم كول دَدې دَپاره دَ منع نسبت مساجد طرف ته كړې شوې دې.

قوله: اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ په دې كښې دَ اعراب په اعتبارسره څلور صورتونه ممكن دى.
① مَنَعَ مفعول ثانى دې كما تقول مَنَعْتُهٗ كَذَا ② مَنَعَ مفعول له دې، اى مَنَعَ كَرَاهَةَ اَنْ يُّذْكَرَ بِاَمْنَهٗ

دخول مساجد الله ③ د مَسَاجِدَ الله نه بدل الاشتمال دې، اى مَنَعَ ذِكْرَ اسمه فِيْهَا ④ حذف حرف جر دَوجې نه منصوب دې، اى مَنَعَ مَسَاجِدَ اللهِ مِنْ اَنْ يُذْكَرَ.

قوله: بالهدم أو التعطيل، هدم نه دَ بيت المقدس طرف ته اشاره ده دَدې د وجې چې دا بخت نصر مجوسى وران کړې وؤ اود تعطيل نه مسجد حرام طرف ته اشاره ده ځکه چې دَمکې مشرکانو حضورپاك ﷺ منع کړې وو لکه چې مسجدحرام معطل او وران کړې شوې وو، أوْ د تنويع دَپاره دې نه چې دَ ترديد دَپاره.

قوله: فِىْ خَرَابِهَا ابوالبقاء وئيلى دى چې خَرَاب اسم مصدر په معنى د تخريب دې. خپل مفعول طرف ته مضاف دې لکه چې سَلَام په معنى تسليم، او بعضې حضراتو وئيلى دى چې دَخَرِبَ مصدردې کوم چې خَرِبَ بالمکان نه مشتق دې. يعنى دا نى بغيرةَ خيال ساتلو پريخودو دې دَپاره چې هغه پخپله ويرانه ويجاړ شى.

قوله: خبر بمعنى الامر يعنى دا جمله لفظًا خبريه او معنىً انشائيه ده. ددې اضافه مقصد دَ يو سوال جواب دې.

سوال: ان لَا يَدْخُلُوْهَا اِلَّا خَآئِفِيْنَ کښې خبر ورکړې شوې دې چې تخريب کار په بيت المقدس کښې په ويره سره داخل شو حالانکه هغوى خو ډير بې ويرې په بيت المقدس کښې داخل شوى وو او دَ يوکال نه هم زيات قابض پاتې شو او البته مسلمانان په بيت المقدس کښې دَ الله تعالى نه په ويره سره دَ سلطان صلاح الدين په زمانه کښې داخل شو.

جواب: دادې چې داخبر په معنى دَ امردې يعنىٰ دوئ ته حکم ورکولې شى چې بيت المقدس کښې دَ الله تعالى په ويره سره داخل شئى. (جمل) خودا جواب خوبن کړې شوې نه دې ځکه چې په دې کښې تعبير په کان سره دې. بيضاوى وئيلى دى چې دَدې آيت مقصد جمات کښې دَ داخليدو اجازت ورکولو نه منع ده. (معناه النهى عن تمکينهم من الدخول فى المسجد) (جمل)

قوله: اخيفوهم بالجهاد يعنى مونږ ته الله تعالى حکم راکړې دې چې مسجد حرام او بيت المقدس کښې ددوئ داخليدل په ذريعه دَ جهاد منع کړئى. (صاوى) اوداهم کيدې شى چې لفظًا اومعنىً جمله خبريه وى اومطلب دا وى چې الله تعالى دَرسول الله ﷺ اودَ حضرت عمر ﷺ په زمانه کښې د پيښيدونکوحالاتو خبر ورکړې وى. (هواقرب) (صاوى)

قوله: مُطِيْعُوْنَ کُلٌّ بِمَا يُرَادُ مِنْهُ يعنى دَ مخلوق هريوکس دَدې مقصود تابع دې کوم چې د هغه نه مطلوب دې. بِمَا کښې باء په معنى دَ لام ده.

[ایاتونه: ۱۱۷ - ۱۲۱]

{بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} مُوجِدهمْ لَا عَلَى مِثَال سَبَقَ {وَإِذَا قَضَى} أَرَادَ {أَمْرًا} أَيْ إِيجَاده {فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ} أَيْ فَهُوَ يَكُون وَفِي قِرَاءَة بِالنَّصْبِ جَوَابًا لِلْأَمْرِ {وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ} أَيْ كُفَّار مَكَّة لِلنَّبِيِّ {لَوْلَا} هَلَّا {يُكَلِّمُنَا اللَّهُ} بِأَنَّك رَسُوله {أَوْ تَأْتِينَا آيَةٌ} مِمَّا اقْتَرَحْنَاهُ عَلَى صِدْقك {كَذَلِكَ} كَمَا قَالَ هَؤُلَاءِ {قَالَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ} مِنْ كُفَّار الْأُمَم الْمَاضِيَة لِأَنْبِيَائِهِمْ {مِثْلَ قَوْلِهِمْ} مِنْ التَّعَنُّت وَطَلَب الْآيَات {تَشَابَهَتْ قُلُوبُهُمْ} فِي الْكُفْر وَالْعِنَاد فِيهِ تَسْلِيَة لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {قَدْ بَيَّنَّا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ} يَعْلَمُونَ أَنَّهَا آيَات فَيُؤْمِنُونَ فاقتِرَاح آية مَعَهَا تعنت {إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ} يَا مُحَمَّد {بِالْحَقِّ} بِالْهُدَى {بَشِيرًا} مَنْ أَجَابَ إِلَيْهِ بِالْجَنَّةِ {وَنَذِيرًا} مَنْ لَمْ يُجِبْ إِلَيْهِ بِالنَّارِ {وَلَا تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ} النَّار أَيْ الْكُفَّار مَا لَهُمْ لَمْ يُؤْمِنُوا إِنَّمَا عَلَيْك الْبَلَاغ وَفِي قِرَاءَة بِجَزْمِ تسال نهيا {وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ} دِينهمْ {قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ} أَيْ الْإِسْلَام {هُوَ الْهُدَى} وَمَا عَدَاهُ ضَلَال {وَلَئِنْ} لَام قَسَم {اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ} الَّتِي يَدْعُونَك إِلَيْهَا فَرْضًا {بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ} الْوَحْي مِنْ اللَّه {مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ من ولي} بحفظك {ولا نصير} يمنعك منه {والذين آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ} مُبْتَدَأ {يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَته} أَيْ يقرؤونه كَمَا أُنْزِلَ وَالْجُمْلَة حَال وَحَقّ نُصِبَ عَلَى الْمَصْدَر وَالْخَبَر {أُولَئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ} نَزَلَتْ فِي جَمَاعَة قَدِمُوا مِنْ الْحَبَشَة وَأَسْلَمُوا {وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ} أَيْ بِالْكِتَابِ الْمُؤْتَى بِأَنْ يُحَرِّفهُ {فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ} لِمَصِيرِهِمْ إِلَى النَّار الْمُؤَبَّدَة عَلَيْهِمْ

ترجمه: هغه دَ آسمانونو اوزمکې بغیرد سابقه نمونې پیداکونکې دې. او کله چې دَ څه څیزد کولو اراده کوی نوبس دَهغې دَ پاره دا حکم کوی چې اوشه نوهغه کیږي او په یوقراءت کښې (یکون) جواب امر کیدو وجې نه منصوب دې. نادان (جنې) یعنی دَمکې کافرانو به نبی ﷺ ته وئیل چې الله تعالی پخپله مونږته ولې نه وائی چې ته دَ الله تعالی رسول یئی یا ستا په صداقت باندې چې مونږ کومه نښه تجویزکړو مونږ له ولې نه راځی؟ دغه شان یعنی لکه څنګه چې وائی ددوی نه وړاندې سابقه امتونو کافرانو هم خپلو نبیانوته دَدې په شان خبرې کړې وې یعنی سرکشی اود معجزاتو غوښتنه، په کفر اوعنادکښې دَهغوی زړونه یوشان دی. په دې کښې نبی ﷺ ته تسلی ده. دَ یقین راوړونکودَپاره خومونږ صفا صفا نښانې بیان کړې دی چې څوک پیژنی چې دا معجزات دی نو په دې باندې ایمان راوړی. بیا دغه نښو نښانوسره دَ نورو معجزاتو مطالبه کول سرکشی ده. بیشکه اې محمد ﷺ مونږته هدایت سره دَ جنت زیرې اوروونکې جوړکړې لیګلې یئی هغه ته چې چا ستا دعوت قبول کړو او هغه سړې لره دَ دوزخ نه ویریونکې جوړ کړې لیګلې یئی چاچې ستادعوت قبول نه کړو. دوزخیانو یعنی کافرانوباره کښې به تانه پوښتنه نه شی کولې چې هغوی ایمان ولې نه دې راوړې؟

ستا ذمه واری خو صرف رسول دی او په یو قراءت کښې تُسْئَلْ جزم سره دې دَنهی کیدو دَ وجې نه او یهودیان اونصاری به هیڅ کله تانه راضی نه شی، ترکومې چې ته دَهغوی دین اونه منې، ته ورته اووایه چې دَ الله تعالی هدایت یعنی هم اسلام (صحیح) لار ده اودَ دې نه علاوه ټوله ګمراهی ده. او قسم دې لام قسمیه دې تاسو له دَ وحی علم راتللونه پس که چرې بالفرض تادَهغوی خواهشات اومنل دکوم طرف ته چې هغوی تاته دعوت درکوی نوالله تعالی سره به نه ستا څوک ولی وی چې ستا حفاظت اوکړې شی اونه به څوک امدادی وی چې تا بچ کړې شی. کومو خلقو ته چې مونږ کتاب ورکړو (الذین اتینهم الکتاب) مبتداء ده. (او) هغه دَهغې دَدې تلاوت حق سره یعنی چې څنګه نازل کړې شوې دې هم هغه شان لولی. دا جمله حال ده او حَقَّ مصدر کیدو دَ وجې نه منصوب دې. او خبر (أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ به دې) هم دغه دی هغه خلق چې په دې باندې ایمان لری (دا آیت) دَ هغه جماعت باره کښې نازل شوې دې چې دَ حبشه نه راغلې وو او اسلام ئې قبول کړې وو او څوک چې دَدې عطا کړې شوی کتاب منکر دی په داسې توګه چې په دې کښې تحریف کوی نو هم هغه تاوانیان دی دَهغوی دَ همیشه والا اور طرف ته دَ ورګرځیدو دَوجې نه.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ، بَدِيعٌ په وزن دَ فَعِيلٌ په معنی دَ مُبْدِعٌ بغیردَ مخکښې نمونې اوماده نه پیدا کونکې، بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ای هُوَ بَدِيعُ السموات بَدِيعٌ دَ اسماء حسنٰی نه دې.

قوله: وَإِذَا قَضٰى، أَرَادَ مفسرعلام دَ قضی تفسیر په أَرَادَ سره کولو کښې دَ یوسوال جواب ورکړې دې.

سوال: قَضٰی معنی اِتمام شئ دې که هغه قولاً وی لکه وَقَضٰى رَبُّكَ یا فعلاً لکه فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ اودَ اتمام شئ نه پس دَدې دَپاره دَ کن وئیلو ضرورت باقی نه پاتې کیږی بلکه صحیح هم نه دې ځکه چې دې سره تحصیل حاصل لازم راځی کوم چې ممنوع دی اودَ مکون واحددَپاره دوه کون یا دا اووایئی چې دَموجود واحددَپاره دَدوو وجودو کیدل لازم راځی ځکه چې دَ مخاطب جوړیدودَپاره موجود کیدل ضروری دی ګنی معدوم ته به خطاب کول لازم شی کوم چې جائزنه دې اودَ دویم کن وئیلونه پس به موجود شی ګنی امر به بې کاره شی.

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې قَضٰی په معنی د أَرَادَ دې مجازًا.

سوال: فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ دَدې نه معلومیږی چې کله الله تعالی دَ یومعدوم لره وجودکښې دَ راوستو اراده کوی نوهغې ته کن وائی دکوم په وجه چې هغه معدوم موجود شئ په دې سره معدوم ته مخاطب کول لازم راځی؟

جواب: دَالله تعالى په اراده سره هغه معدوم دَ موجود په حکم کښې کیږی لهذا خطاب کول صحیح دی بل كُنْ فَيَكُونُ نه مقصد سرعت دې نه چې ایجاد.

قوله: فهويكونُ دَ دې جملې دَ اضافه فائده دَ یوسوال جواب دې.

سوال: مضارع چې کله دَ فاء نه پس واقع وی اودَدې ماقبل امر یا نهی وی نو په دې باندې نصب واجب دې حالانکه دلته فيكونُ باندې رفع ده دَدې څه وجه ده؟

جواب: دَحذف مبتداء دَ وجې نه دا جمله اسميه ده تقدیرعبارت فَهُوَيَكُونُ دې جمله اسميه کیدو سره جواب دَ امردَ وجې نه په محل دَ نصب کښې دې. په دې کښې دې خبرې طرف ته هم اشاره ده چې فیکون جمله مستانفه ده اوهودَ مبتداء محذوف خبردې او په یوقراءت کښې فیکون نصب سره هم دې په دې صورت کښې دَ فاء سببیه نه پس أن به مقدر منلې شي.

قوله: أي كفارمكة.

سوال: اَلَّذِيْنَ لَايَعْلَمُوْنَ تفسير دَمکې کافرانوسره کول صحیح نه دی څکه چې دا صورت مدنی دې.

جواب: بعضې حضراتو داجواب ورکړې دې چې پوره سورت مدنی دې خودا آیت مکی دې مګردا جواب بعیددې.

دويم جواب: دا کیدې شي چې مذکوره سوال دَ مکې کافرانو دَ مدینې دَ یهودو په معرفت دَ رسول الله ﷺ نه کړی وی.

قوله: وَفِي قراءة بجزم تُسْئَل نهيًا یعنی په یوقراءت کښې د لَاتُسْئَلُ په ځائی لَاتَسْئَلْ دې یعنی تاسو دَ دوزخیانو باره کښې هیڅ تپوس مه کوئی دَهغوی به ډیر خراب حال وی.

قوله: وَحَقَّ نُصِبَ على المصدرية حَقَّ تلاوته مصدردَ محذوف صفت کیدو دَ وجې نه منصوب دې. تقدیرعبارت داسې دې يتلونه تلاوةً حقًا صفت مقدم کړې شو اودَ موصوف طرف ته اضافت اوکړې شو.

[ايات توله:۱۲۲-۱۲۶]

{يَابَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ} تَقَدَّمَ مِثْله {واتقوا} خافوا {يوما لاتجزى} تُغْنِي {نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ} فِيهِ {شَيْئًا وَلَا يقبل منها عدل} فداء {ولا ينفعها شَفَاعَةٌ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ} يُمْنَعُونَ مِنْ عَذَاب الله {وَ} اُذْكُرْ {إِذْ ابْتَلَى} اخْتَبَرَ {إِبْرَاهِيمَ} وَفِي قِرَاءَة إِبْرَاهَام {رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ} بِأَوَامِر وَنَوَاهٍ كَلَّفَهُ بِهَا قِيلَ هِيَ مَنَاسِك الْحَجّ وَقِيلَ الْمَضْمَضَة وَالِاسْتِنْشَاق وَالسِّوَاك وَقَصّ الشَّارِب وَفَرْق الشَّعْر وَقَلْم الإظفار ونتف الإبط وحلق العانة والختان والاستنجاء {فَأَتَمَّهُنَّ} أَدَّاهُنَّ تَامَّات

{قَالَ} تَعَالَى لَهُ {إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا} قُدْوَةً فِي الدِّينِ {قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي} أَوْلَادِي اجْعَلْ أَئِمَّةً {قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي} بِالْإِمَامَةِ {الظَّالِمِينَ} الْكَافِرِينَ مِنْهُمْ دَلَّ عَلَى أَنَّهُ يَنَالُ غَيْرَ الظَّالِمِ {وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ} الْكَعْبَةَ {مَثَابَةً لِلنَّاسِ} مَرْجِعًا يَثُوبُونَ إِلَيْهِ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ {وَأَمْنًا} مَأْمَنًا لَهُمْ مِنَ الظُّلْمِ وَالْإِغَارَاتِ الْوَاقِعَةِ فِي غَيْرِهِ كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى قَاتِلَ أَبِيهِ فِيهِ فَلَا يُهَيِّجُهُ {واتخذوا} ايها الناس {مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ} هُوَ الْحَجَرُ الَّذِي قَامَ عَلَيْهِ عِنْدَ بِنَاءِ الْبَيْتِ {مُصَلًّى} مَكَانَ صَلَاةٍ بان تصلوا خلفه ركعتي الطواف وفي قراءة بفتح الخاء خبر {وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ} أَمَرْنَاهُمَا {أَنْ} أَيْ بِأَنْ {طَهِّرَا بَيْتِيَ} مِنَ الْأَوْثَانِ {لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ} الْمُقِيمِينَ فِيهِ {وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ} جَمْعُ رَاكِعٍ وَسَاجِدٍ المصلين {وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا} الْمَكَانَ {بَلَدًا آمِنًا} ذَا أَمْنٍ وَقَدْ أَجَابَ اللَّهُ دُعَاءَهُ فَجَعَلَهُ حَرَمًا لَا يُسْفَكُ فِيهِ دَمُ إِنْسَانٍ وَلَا يُظْلَمُ فِيهِ أَحَدٌ وَلَا يُصَادُ صَيْدُهُ وَلَا يُخْتَلَى خَلَاهُ {وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ} وَقَدْ فَعَلَ بِنَقْلِ الطَّائِفِ مِنَ الشَّامِ إِلَيْهِ وَكَانَ أَقْفَرَ لَا زَرْعَ فِيهِ وَلَا مَاءَ {مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} بَدَلٌ مِنْ أَهْلِهِ وَخَصَّهُمْ بِالدُّعَاءِ لَهُمْ مُوَافَقَةً لِقَوْلِهِ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ {قَالَ} تَعَالَى {وَ} أَرْزُقُ {مَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ فِي الدُّنْيَا بِالرِّزْقِ {قَلِيلًا} مُدَّةَ حَيَاتِهِ {ثُمَّ أَضْطَرُّهُ} أُلْجِئُهُ فِي الْآخِرَةِ {إِلَى عَذَابِ النَّارِ} فَلَا يَجِدُ عَنْهَا مَحِيصًا {وَبِئْسَ الْمَصِيرُ} الْمَرْجِعُ هِيَ

ترجمه: اې بنی اسرائیلو زما هغه نعمت یاد کړئ کوم چې ما تاسو ته درکړې وو او ما تاسو ته دَ دنیا په قومونو فضیلت درکړې وو. دَدې په شان آیت وړاندې تیرشوې دې او دَهغه ورځ نه اوویرېږئ په کومه ورځ چې به هیڅوک دَچا په کار نه راځي او نه به څه فدیه قبلولې شي او نه څه سفارش به چاته څه فائده ورکوی او نه به (مجرمانو) ته دَچرته نه څه امداد رسیږی چې هغوی دَالله تعالی دَ عذاب نه بچ کړې شي او یاد کړئ کوم وخت چې حضرت ابراهیم علیه السلام ته دَ هغه رب په یوڅوخبرو سره ازمیښت کړو او په یو قراءت کښې ابراهام دې (او هغه خبرې) دَ کرمو چې هغه مکلف جوړ کړو اوامر او نواهی وې. وئیلې شوی دی چې هغه مناسك حج وو او نور وئیلی شوی دی چې هغه غرغرې کول، پوزه کښې اوبه اچول مسواك کول او بریت کټ کول او دَ سر په ویښتو کښې لار ویستل نوکونه پرې کول دَ ترخونو ویښته راویستل او دَ نامه لاندې ویښته صفا کول سنت کول او په اوبو سره استنجاء کول وو. نو (حضرت ابراهیم علیه السلام) دا خبرې په مکمل توګه سره اداکړې (نو) الله تعالی هغه ته اوفرمائیل چې زه به تا په دین کښې دَ خلقو پیشوا جوړوم. ابراهیم علیه السلام عرض اوکړو زما په اولاد کښې هم پیشوا جوړ کړه. الله تعالی جواب ورکړو چې دَ پیشوائې زما وعده دَهغوی نه ظالمانو کافرانو سره نه ده دې نه معلومه شوه چې څوك ظالمان ندی دهغو سره وعده ده او دا چې مونږ دا کور کعبه دَ خلقو دَ پاره مرجع (مرکز) جوړ کړو. دَهر طرف نه خلق دَدې طرف ته رجوع کوی او دَ ظلم نه او دَ بل ځائی تباهی کولو سره دَامن ځائی جوړ کړو. سړې به په بیت الله کښې دَ پلار

قاتل سره ملاويدلو مگر (دَپلار قاتل) به هغه (دَ قاتل په قتل) باندې نه تيارولو او اې خلقو تاسو مقام ابراهيم دَ مانځه ځائې جوړکړئ او هغه هم دغه کانړې دې چې دَبيت الله دَ آبادئ په وخت به (حضرت ابراهيم عليه السلام) اودريدلو. مصلى په معنى دَ ځائې نماز په داسې توګه چې دې نه شاته دَ طواف دوه رکعته مونځ اوکړئ او په يو قراءت کښې إتَّخَذُوْا دَ خاء فتح سره دې اومونږ حضرت ابراهيم عليه السلام ته او حضرت اسماعيل عليه السلام ته حکم ورکړو چې زما کور دَ طواف کونکو او اعتکاف کونکودَپاره دَبتانونه پاک اوساتئ يعنى په دې کښې د قيام کونکودَپاره، رکوع اوسجده کونکودَپاره (يعنى) مونځ کونکو دَپاره رُکّع راکع او السجود دَ ساجد جمع ده او ابراهيم عليه السلام اووئيل اې پروردګار ته دا ځائې دَ امن والا جوړکړه او الله تعالى دَهغه دعاقبوله کړه او دائې محترم جوړکړو چې نه په دې کښې دَ انسان وينه توييولې شى او نه په دې کښې په چا باندې ظلم کيږى اونه په دې کښې ښکار کولې شى او نه دَدې ازغي ويستلې شى اودَدې اوسيدونکوته دَ ميوو رزق ورکړې نودَ طائف خطه ئې دَ شام دَ ملك نه منتقل کولوسره هم داسې اوکړه حالانکه هغه شاړه بې اوبو اوبې ګيا زمکه وه دَهغوى دَپاره څوک چې په الله تعالى باندې ايمان راوړى او په يوم آخرت باندې مَنْ آمَنَ، اهله بدل دې اودا دَدعادَپاره خاص کول دَدې وجې نه دى چې دا لاينال عهدى الظلمين سره موافق دې الله تعالى اوفرمائيل اوڅوک چې کفرکوى هغوى ته به هم په يوه اندازه يعنى دَهغوى دَ ژوند په اندازه نفع رسوم او بيا به په آخرت کښې هغوى په زور دوزخ ته اورم او هغوى به دغه قيد نه خلاصې بيامومى او هغه (دوزخ) ډيرخراب ځائې دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: يَوْمًا لَّا تَجْزِىْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ، فِيْهِ، لَا تَجْزِى نَفْسٌ عن نفسٍ جمله کيدوسره دَ يَوْمًا صفت دې اوصفت چې کله جمله وى نو عائد ضرورى وى. دَ فِيْهِ اضافه دَ عائد محذوف کيدو طرف ته اشاره ده واذکر اذ ابتلى ابراهيم کښې يو قراءت ابراهام هم دې ابراهيم په سريانى ژبه کښې أبٌ رحيمٌ ته وائى يعنى مشفق اومهربان پلار، دلته اذکر محذوف منلوسره اشاره اوکړه چې إِذْ د اذکر فعل محذوف معمول دې نه چې دَ ابتلى. دا په هغه خلقو باندې رد دې چې وائى إِذْ دَ اِبْتَلى معمول دې ځکه چې په دې کښې دَمعمول په عامل باندې مقدم کيدل لازم راځى.

قوله: قَالَ إِنِّىْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا دا جمله مستانفه ده اودَ يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: دا دې چې کله ابراهيم عليه السلام ټول اوامر او نواهى په ښه طريقه سره سرته اورسول نو څه چل اوشو؟

جواب: کښې اوفرمائيل زه به تا دَ خلقو ديني پيشوا جوړوم.

قوله: قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ عطف په تاويل دَ بعضودَ جاعِلُكَ په كاف باندېدې لكه چې مِنْ تبعيضيه دلالت كوى.

سوال: په ضمير متصل باندې بغيرد اعاده ضمير يا د فصل عطف صحيح نه دې لهذا دَ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ عطف په كاف ضمير باندې څنګه صحيح دې؟

جواب: په جَاعِلُكَ كښې دَ جاعِل؛ كاف طرف ته اضافت لفظيه دې اودَ انفصال په درجه كښې دې لهذا عطف صحيح شو.

سوال: په دې عطف كښې دَ يودَ مقوله دَ بل په مقوله باندې عطف لازم راځي ځكه چې إِنِّي جَاعِلُكَ دَ الله تعالى مقوله ده او مِنْ ذُرِّيَّتِيْ دَحضرت ابراهيم عليه السلام مقوله ده؟

جواب: دَ يودَ مقوله دَ بل په مقوله باندې عطف جائزدې لكه چې ستا وينا وَزَيْدًا هغه چا په جواب كښې وئيل چې څوك تاته اووائي ساكرمُكَ نو ته ورته اووائې وَزَيْدًا يعنى دَ زيد هم اكرام اوكړه، دې ته عطف تلقين وائي لكه دَ سلام په جواب كښې وعليكم السلام وئيل دا هم دَ يو مقوله دَ بل مقوله باندې دَعطف دَ قبيل نه دې. په كوم كښې چې هيڅ قباحت نشته حاصل دا چې خبر په معنى دَ طلب دې. (ترويح الارواح)

قوله: الكعبة، د الْبَيْت تفسير ئې په الكعبة سره كولو كښې اشاره اوكړه چې په البيت كښې الف لام دَ عهد دې اودا دَ اسماء مغالبه نه دې لكه الثريا مطلق ستورى ته وائى اوس دَ يو مخصوص ستورى نوم شوې دې دغه شان البيت كله چې مطلق وئيلې شى نو هم بيت الله ترې مراد وى.

قوله: مَثَابَةً، ثاب يثوب نه ظرف مكان دې دَ واپس كيدو ځائى، مرجع مركز، دَ ثوبًا معنى ده اصلى حالت طرف ته واپس كيدل، هاء په دې كښې دَ مبالغه دَپاره ده لكه علامة ونسابة كښې چې دې.

قوله: مَامَنًا لَهُمْ دا مصدر ميمى په معنى د ظرف مكان دې موضع امن، اَمْنًا دَ مَامَنًا په معنى كښې اخستلودَ وجې نه دَ اَمْنًا په البيت باندې حمل هم صحيح شو ګنى دَ مصدر حمل په ذات باندې لازم راتللو.

قوله: وَاتَّخِذُوا دَدې عطف په جَعَلْنَا باندې دې اودادَ قول محذوف مقوله ده اى قلنا لهم اتخذوا من مقام ابراهيم مصلى.

قوله: بفتح الخاء خبرٌ دَدي عطف هم جَعَلْنَا باندې دې دا بيان دَ حال دَپاره دې يعنی خلقو داخپله مصلی جوړکړه.

قوله: اَمَرْنَاهُمَا، عَهِدْنَا تفسير اَمَرْنَا سره کول دَ يوسوال جواب ورکول مقصوددی.

سوال: د عَهِدَ صله چې کله اِلیٰ راځی نودَدې معنی دَتوصية وی کوم چې دَ ذات باری تعالی دَپاره مناسب نه ده؟

جواب: عَهِدْنَا په معنی د اَمَرْنَا دې لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

قوله: بِأَنْ په دې کښې اشاره ده چې اَنْ مصدريه دې نه چې تفسيريه، دا فعل امر باندې بيان ماموربه دَپاره داخل دې.

[اياتونه:۱۲۷-۱۲۹]

{وَ} اُذْكُرْ {إِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ} الْأُسُس أَوْ الْجُدُر {مِنَ الْبَيْتِ} يَبْنِيه مُتَعَلِّق بِيَرْفَعُ {وَإِسْمَاعِيلُ} عُطِفَ عَلَى إِبْرَاهِيم يَقُولَانِ {رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا} بِنَاءَنَا {إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ} لِلْقَوْلِ {الْعَلِيمُ} بِالْفِعْلِ {رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ} مُنْقَادِين {لَكَ وَ} اجْعَل {مِنْ ذُرِّيَّتِنَا} أَوْلَادنَا {أُمَّةً} جَمَاعَة {مُسْلِمَةً لَكَ} وَمِنْ لِلتَّبْعِيضِ وَأَتَى بِهِ لِتَقَدُّمِ قَوْله لَا يَنَال عَهْدِي الظَّالِمِينَ {وَأَرِنَا} عَلِّمْنَا {مَنَاسِكَنَا} شَرَائِع عِبَادَتنَا أَوْ حَجّنَا {وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ} سَأَلَاهُ التَّوْبَة مَعَ عِصْمَتهمَا تَوَاضُعًا وَتَعْلِيمًا لِذُرِّيَّتِهِمَا {رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ} أَيْ أَهْل الْبَيْت {رَسُولًا مِنْهُمْ} مِنْ أَنْفُسهمْ وَقَدْ أَجَابَ اللّٰه دُعَاءَهُ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ} الْقُرْآن {وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ} الْقُرْآن {وَالْحِكْمَةَ} أَيْ مَا فِيهِ مِنَ الْأَحْكَام {وَيُزَكِّيهِمْ} يُطَهِّرهُمْ مِنَ الشِّرْك {إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ} الْغَالِب {الْحَكِيمُ} فِي صُنْعه

ترجمه: اويادکړه چې کوم وخت ابراهيم (عليه السلام) او اسماعيل (عليه السلام) دَ دې کور بنيادونه يا ديوالونه اوچتول يعنی دَدې تعمير ئې کولو. مِنَ الْبَيْتِ دَ يَرْفَعُ متعلق دې. او د اِسْمَاعِيْلُ عطف په اِبْرَاهِيْمُ باندې دې. دواړو به دعا کوله اې زمونږ پروردګاره ته زمونږ دَ طرف نه دا تعمير قبول کړه ته خبرې اوريدونکې او په کارونو باندې پوهيدونکې ئې. اې زمونږ پروردګار ته مونږ دواړوه خپل حکم منونکی جوړکړه او زمونږ دَ نسل نه يو داسې امت راوچت کړه کوم چې ستا تابعدار وی او مِنْ تبعيضيه دې او سابق کښې لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ راتلو دَ وجې نه مِنْ تبعيضيه راوړلې دې او ته مونږ ته دَخپل عبادت طريقه اوښايه يعنی زمونږ دَ عبادت احکام يا مونږ ته زمونږ دَ حج طريقه اوښايه او زمونږ کمزورئی معاف کړه بيشکه ته ډير معافی کونکې ئې. دَ دواړو معصوم کيدو نه باوجود دَ توبه سوال کول تواضعًا او دَ خپل اولاد دَتعليم دَپاره وو. اې پروردګاره په دوی کښې يعنی اهل بيت کښې يو داسې رسول مبعوث کړه نو الله تعالی دَ حضرت محمد ﷺ په شکل کښې دَهغوی دعاقبوله کړه چې هغوی ته ستا

قرآني آياتونه اوښائي اوهغوئ ته كتاب قرآن اوحكمت په كوم كښې چې احكام وى اوښايئ اوهغوئ دَ شرك نه پاك كړئ يقينًا ته غلبه والا او په خپل صنعت كښې حكمت والا ئې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: عطف على ابراهيم دا عبارت د يو شبه لرې كونكې دې چې واسمعيل جمله مستانفه ده دَدې دَپاره كه چرې دَ اسماعيل په ابراهيم باندې عطف كيدو نو اسماعيل به ئې دَ القَوَاعِدَ مفعول نه مقدم كړې وو.

جواب: اسماعيل ئې په دې وجه روستو كړې دې چې حضرت اسماعيل عليه السلام په حقيقت كښې بانى نه دې بلكه معاون دې بانى خو حضرت ابراهيم عليه السلام دې. خو په تعمير اوجوړولو كښې دَحضرت اسماعيل عليه السلام هم حصه ده په دې وجه په اصل بانى باندې دَ معاون عطف اوكړې شو.

قوله: يَقُوْلَانِ، يقولان دَ اضافه مقصد دَ يو سوال جواب دې.

سوال: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِبْرَاهِيمَ واسماعيل نه حال واقع دې حالانكه حال واقع كيدل صحيح نه دى ځكه چې رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا دعا كيدو دَ وجې نه جمله انشائيه ده او جمله انشائيه حال نه شى واقع كيدې.

جواب: دَ جواب حاصل دُادې چې دَدې نه وړاندې يقولان محذوف دې دَ كوم دَ وجې نه چې دا جمله خبريه شوه لهذا حال واقع كيدل صحيح شو. يقولان مقدر منلو دويمه وجه داده كه چرې يقولان مقدر اونه منلې شى نو په خطاب واحد كښې به شئ واحد بغيردَ عطف نه غائب او متكلم كيدل لازم راځى ځكه چې يَرْفَعُ ابراهيمُ القواعد الخ غائب دې او رَبَّنَا تَقَبَّلْ الخ متكلم دې اوكله چې يقولان مقدر اومنلې شى نو دواړه جملې غائب شوې.

قوله: ومِنْ للتبعيض، وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا كښې من تبعيضيه كرځولو وجه داده چې پورته الله تعالى فرمائيلې وو لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ دَ دې مطلب دادې چې دَ امامت وعده پوره اولاد سره نه ده بلكه صرف دَهغوى سره ده چې مومن وى او صالح وى. كه چرې مِن تبعيضيه اونه منلې شى نو لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ او من ذريتنا كښې به تعارض وى ځكه چې دَ من ذريتنا مطلب دې بغيردَ استثناء پوره ذريت دَپاره ئې دَ امامت دعا اوفرمائيله.

سوال: من ذريتنا كښې من تبعيضيه اخستلو په صورت كښې په دعا كښې بخل لازميږى يعنى دَ ټولو دَپاره ئې دعا اونه كړه بلكه دَ بعضو دَپاره ئې دعا اوكړه.

جواب: مِن ابتدائيه اخستل چونكه په ماقبل كښې مذكور د لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ

معارض او منافی دي په دې وجه ئې مِن تبعيضيه اخستې دې.

سوال: أَرِنَا دا دَ رأى نه ماخوذ دې چې دوو مفعولونو ته متعدى دې او كله چې دَ باب افعال نه راوړلې شو نودريو مفعولونو نه متعدى كيږي حالانكه دلته صرف هم دوه مفعولونه ذكر دى يو نَا او بل مَنَاسِكَ.

جواب: أرى په معنى د عَلِمَ وأبْصَرَ دې. چې په يومفعول متعدى دې دَ باب افعال نه دَ راتلو دَ وجې په دوو مفعولو متعدى شو.

قوله: سَالَاهُ التوبة الخ دا هم دَ يو سوال جواب دې.

سوال: دا دې چې دَ حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام دَ توبه دَ قبليدو درخواست كول دعوى دَ معصوميت خلاف دې حالانكه نبى معصوم وى.

جواب: تواضعًا او تعليمًا للامة ئې دَ توبه درخواست اوكړو.

قوله: اهلُ البيت دَدې جملې دَ اضافه مقصد دَ يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: دا دې چې وابْعَثْ فِيهِم كښې هم ضمير ذريةٌ طرف ته راجع دې حالانكه ذريةٌ مؤنث دې لهذا فِيهَا كيدل پكار وو؟

جواب: ذريةٌ نه مراد اهل البيت دى كوم چې د ذريةٌ نه مفهوم دې لهذا اوس هيڅ اعتراض پاتې نه شو.

[اياتونه: ١٣٠ - ١٣٦]

{وَمَنْ} أيْ لَا {يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ} فَيَتْرُكُهَا {إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ} جَهِلَ أَنَّهَا مَخْلُوقَة لِلّٰهِ يَجِب عَلَيْهَا عِبَادَته أَوْ اسْتَخَفَّ بِهَا وَامْتَهَنَهَا {وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ} اخْتَرْنَاهُ {فِي الدُّنْيَا} بِالرِّسَالَةِ وَالْخُلَّة {وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ} الَّذِينَ لَهُمْ الدَّرَجَات الْعُلَى وَاذْكُرْ {إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ} انْقَدْ لِلّٰهِ وَأَخْلِصْ لَهُ دِينك {قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ} {وَوَصَّى} وَفِي قِرَاءَة أَوْصَى {بِهَا} بِالْمِلَّةِ {إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ} بَنِيهِ قَالَ {يَا بَنِيَّ إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ} دِين الْإِسْلَام {فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} نَهْي عَنْ تَرْك الْإِسْلَام وَأَمْر بِالثَّبَاتِ عَلَيْهِ إِلَى مُصَادَفَة الْمَوْت وَلَمَّا قَالَ الْيَهُود لِلنَّبِيِّ أَلَسْت تَعْلَم أَنَّ يَعْقُوب يَوْم مَاتَ أَوْصَى بَنِيهِ بِالْيَهُودِيَّةِ نَزَلَ {أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ} حُضُورًا {إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ} بَدَل مِنْ إِذْ قَبْله {قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي} بَعْد مَوْتِي {قَالُوا نَعْبُدُ إِلٰهَكَ وَإِلٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ} عَدّ إِسْمَاعِيل مِنْ الْآبَاء تَغْلِيب وَلِأَنَّ الْعَمّ بِمَنْزِلَةِ الْأَب {إِلٰهًا وَاحِدًا} بَدَل مِنْ إِلٰهك {وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ} وَأَمْ بِمَعْنَى هَمْزَة الْإِنْكَار أَيْ لَمْ تَحْضُرُوهُ وَقْت مَوْته فَكَيْفَ تَنْسُبُونَ إِلَيْهِ مَا لَا يَلِيق بِهِ {تِلْكَ} مُبْتَدَأ وَالْإِشَارَة إِلَى إِبْرَاهِيم وَيَعْقُوب وَبَنِيهِمَا وَأُنِّثَ لِتَأْنِيثِ خَبَره {أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ} سَلَفَتْ {لَهَا مَا كَسَبَتْ} مِنْ الْعَمَل أَيْ

جَزَاؤُهُ اسْتِئْنَاف {وَلَكُمْ} الْخِطَاب لِلْيَهُودِ {مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ} كَمَا لَا يُسْأَلُونَ عَنْ عَمَلِكُمْ وَالْجُمْلَة تَأْكِيد لِمَا قَبْلَهَا {وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا} أَوْ لِلتَّفْصِيلِ وَقَائِل الْأَوَّل يَهُود الْمَدِينَة وَالثَّانِي نَصَارَى نَجْرَان {قُلْ} لَهُمْ {بَلْ} نَتَّبِع {مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا} حَال مِنْ إِبْرَاهِيم مَائِلًا عَنْ الْأَدْيَان كُلّهَا إِلَى الدِّين الْقَيِّم {وما كان من المشركين} {قُولُوا} خِطَاب لِلْمُؤْمِنِينَ {آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا} مِنْ الْقُرْآن {وَمَا أُنْزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ} مِنْ الصُّحُف الْعَشْر {وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ} اولاده {وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ} مِنْ التَّوْرَاة {وَعِيسَىٰ} مِنْ الْإِنْجِيل {وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ} مِنْ الْكُتُب وَالْآيَات {لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ} فَنُؤْمِن بِبَعْضٍ وَنَكْفُر بِبَعْضٍ كَالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى {ونحن له مسلمون}

ترجمه: او څوك دى؟ يعنى هيڅوك نشته چې بې رغبتي اوكړي دَ ملت ابراهيمى نه چې دا پرېږدي مگر هم هغه څوك چاچې خپل ځان بې وقوف جوړكړو (يعنى چې صرف بې وقوف وى)(او) دَدې خبرې نه بې خبر وى چې هغه دَ الله تعالى مخلوق دې اودا چې په ده باندې دَالله تعالى عبادت واجب دې. يا دامعنى ده چې هغه دَخپل نفس تحقيركړې دې اودائى ذليل كړې دې. مونږ خو هغه په دنياكښې هم دَ رسالت او دوستئى دَپاره خوښ كړې دې او بېشكه هغه به په آخرت كښې هم په هغه صالحينوكښې وى دَ چادَپاره چې اوچتې مرتبې دى. اوهغه وخت يادكړه كوم وخت چې دَهغه رب هغه ته اووئيل چې سرتسليم ښكته كړه يعنى دَ الله تعالى حكم منونكې شه اوخپل دين دَهغه دَپاره خالص كړه نوهغه زر اووئيل ما دَ رب العالمين په مخكښې سرتسليم ښكته كړو او هم په هغه طريقه ابراهيم عليه السلام خپلو ځامنوته هدايت كړې او په يوقراءت كښې أَوْصىٰ دې او يعقوب عليه السلام (هم) خپلو ځامنوته هم دَدې وصيت اوكړو. وئى وئيل اې زما بچو الله تعالى ستاسو دَپاره هم دغه دين اسلام خوښ كړې دې لهذا تر مرگه پورې هم مسلمانان اوسيږئى دَ ترك اسلام نه ئى منع كړل او تر مرگه پورې په دې باندې دَ ثابت قدم اوسيدو حكم ئى وركړو. اوكله چې يهودو نبى عليه السلام ته اووئيل ايا تاته دا معلومه نه ده چې يعقوب عليه السلام دَخپل مرگ په ورځ خپل اولاد ته ته دَ يهوديت وصيت كړې وو. (نودا آيت) نازل شو آيا تاسو هغه وخت موجود وئى كوم وخت چې يعقوب عليه السلام (دَدې دنيانه) رخصت كيدلو. دا اِذْ سابقه اِذْ نه بدل دې دې (يعقوب عليه السلام) دَ (مرگ په وخت) دَخپلو بچونه تپوس اوكړو تاسو به زما نه پس يعنى زما دَ مرگ نه پس دَ چابندگى كوئى؟ جواب ئى وركړو چې هم دَ هغه يوخدائى بندگى به كووكوم چې ستاسو دَ پلارانو ابراهيم اسماعيل او اسحاق عليهم السلام معبود دې او اسماعيل عليه السلام په آباء كښې شميرل تغليبًا دى او دَدې دَپاره هم چې تره په منزله دَ پلار وى. إِلٰهًا وَاحِدًا، إِلٰهَكَ نه بدل دې. او مونږ دَهغه حكم منونكى يو. او أَمْ په معنى دَ همزه انكارى دې. يعنى تاسو دَ يعقوب عليه السلام دَ مرگ په وخت كښې موجود نه وئى نوتاسو دَهغه طرف ته دَداسې خبرې نسبت ولې كوئى كومه چې دَ هغه دَ شان سره

او يعقوب عليه السلام برابر نه ده؟ هغه يو جماعت وو چې تيرشو. تلك مبتداء او اشاره ابراهيم عليه السلام او يعقوب عليه السلام او دَهغوى دَ خامنو طرف ته ده. او (تلك) دَ خبر مؤنث كيدو دَ وجې نه مؤنث راوړلې شوې دا دې كوم اعمال چې هغوى كړى دى دَهغوى دَپاره دى يعنى دَهغې بدله دَ هغوى دَپاره ده. (جمله) مستانفه ده او كوم چې تاسو كوئى دَهغې بدله به تاسو ته ملاوېږى. خطاب يهوديانو ته دې. دَهغوى دَاعمالو په باره كښې به تاسو نه سوال نه شى كولې لكه څنګه چې به دَهغوى نه ستاسو دَاعمالو باره كښې سوال نه شى كولې. جمله دَماقبل تاكيد دې. يهوديان وائى يهودى شئ نو هدايت به درته ملاوُشى. نصارىٰ وائى نصارى شئى هدايت به درته ملاوُشى. اَوْ دَ تفصيل دَپاره دې دَ اول (قول) قائل دَمدينې يهوديان دى او دَ دويم (قول) قائل دَ نجران نصارىٰ دى. تاسو دوى ته اووايئى چې مونږ خو به دَ ملت ابراهيمى اتباع كوو په كوم كښې چې دَ څه كوګوالى نوم نشته (حنيفا) دَ ابراهيم نه حال دې اوحال دادې چې هغه ټول دينونو (باطله) نه دَ مستقيم دين طرف ته مائل كيدونكى دى. او ابراهيم عليه السلام دَ مشركانو نه نه وو. اووايئ دا مؤمنانو ته خطاب دې مونږ خو په الله تعالى باندې ايمان راوړلې دې اوكوم چې زمونږ طرف ته نازل كړې شوى دى قرآن (په هغې باندې ايمان راوړو) او په هغه لسو صحيفو باندې ايمان لرو كوم چې په ابراهيم عليه السلام باندې نازل شوى او په اسماعيل عليه السلام او حضرت اسحاق عليه السلام او حضرت يعقوب عليه السلام باندې اودَهغوى په اولاد باندې نازل شوى او كوم چې وركړې شوې حضرت موسى عليه السلام ته يعنى تورات او حضرت عيسى عليه السلام ته يعنى انجيل او كوم كتابونه او اياتونه چې هغوى ته وركړې شوى دَهغوى دَ رب دَ طرف نه (ايمان لرو) په دې توګه چې مونږ په هغوى كښې دَهيڅ قسم جداوالئ نه كوو دَ يهوديانو نصرانيانو په شان چې په بعضو باندې ايمان راوړو او دَ بعضو نه انكاركوو. مونږ خو دَالله تعالى تابعداريو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَمَنْ اىْ لايرْغَبُ مَن استفهام انكارى مبتداء دې. يَرْغَبُ خبر، په دې كښې ضمير دې كوم چې دَ مَنْ طرف ته راجع دې.

قوله: دين اسلام دې كښې اشاره ده چې الدِّيْنَ كښې الف لام دَ عهد دې اودليل ئې فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ دې.

قوله: نهى عَن ترك الاسلامِ په دې سره دَ يو سوال جواب مقصود دې.

سوال: فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ كښې په ظاهر دَ مرګ نه نهى معلوميږى كوم چې دَ بنده په اختيار كښې نه دې.

جواب: دَمرګ نه نهى نه ده بلكه دَ ترك اسلام نه نهي ده څكه چې كله به مقيد باندې نفى

داخليږي نو دقيد نفي کيږي. دَدې دپاره سره دَدې چې نهى هم په مرګ باندې داخل ده او مدخول هم نهى مقصود عن النهى وى مګر مدخول نهى اختيارى نه ده په دې وجه دَ قيد نهى مراد ده.

قوله اَمَرَ بالثباتِ عليه دَدې عبارت نه دافائده ده چې نفس ايمان خو هغوى ته حاصل وو لهذا دَهغې دَحصول هيڅ مطلب نشته بلکه په اسلام باندې هميشه والې مراددې.

قوله بمنزلة الاب، اَلعَمُّ صِنوُ اَبِيهِ. (الحديث)

قوله والجملة تاكيد لماقبله: دا د تکرار د فائدې بيا ن دې

قوله كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْنَصَارٰى اَوْ دَ تنويع مقال دپاره دى نه چې دَ تخيير دپاره. ځکه چې هره يوه ډله دَبلې ډلې تکفير کوى.

قوله قائل الاول اليهود دَاضافه مقصد يو اعتراض لرې کول دى.

اعتراض كونوا هودًا اونصارى کښې تناقض دې دَالله تعالى د قول ليست اليهود على شئ الخ سره

جواب دَ جواب ماحصل دادې چې دَدوارو قائل مختلف دى لهذا هيڅ تناقض نشته

قوله حال من ابراهيم يعني حنيفًا ابراهيم نه حال دې حالانکه دَ مضاف اليه نه حال واقع کيدل صحيح نه دى دَدې وجې چې دَ اصل مضاف په ځائى ساتل صحيح وى نو دَ مضاف اليه نه هم حال واقع کيدل صحيح کيږي دلته هم داسې دى په دې وجه ابراهيم دَملت په ځائى کيخودو نه پس هم مطلب صحيح پاتې کيږي.

[ايا تونه: ۱۳۷ - ۱۴۱]

{فَإِنْ آمَنُوا} أَيْ الْيَهُود وَالنَّصَارَى {بِمِثْلِ} مِثْل زَائِدَة {مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا} عَنْ الْإِيمَان بِهِ {فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ} خِلَاف مَعَكُمْ {فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ} يَا مُحَمَّد شِقَاقهمْ {وَهُوَ السَّمِيع} لِأَقْوَالِهِمْ {الْعَلِيم} بِأَحْوَالِهِمْ وَقَدْ كَفَاهُ إِيَّاهُمْ بِقَتْلِ قُرَيْظَة وَنَفْي النَّضِير وَضَرْب الْجِزْيَة عَلَيْهِمْ {صِبْغَةَ اللَّهِ} مَصْدَر مُؤَكِّد لِآمَنَّا وَنَصْبه بِفِعْلٍ مُقَدَّر أَيْ صَبَغَنَا اللَّه وَالْمُرَاد بِهَا دِينه الَّذِي فَطَرَ النَّاس عَلَيْهِ لِظُهُورِ أَثَره عَلَى صَاحِبه كَالصَّبْغِ فِي الثَّوْب {وَمَنْ} أَيْ لَا أَحَد {أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً} تَمْيِيز {وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ} قَالَ الْيَهُود لِلْمُسْلِمِينَ نَحْنُ أَهْل الْكِتَاب الْأَوَّل وَقِبْلَتنَا أَقْدَم وَلَمْ تَكُنْ الْأَنْبِيَاء مِنْ الْعَرَب وَلَوْ كَانَ مُحَمَّد نَبِيًّا لَكَانَ مِنَّا فَنَزَلَ {قُلْ} لَهُمْ {أَتُحَاجُّونَنَا} تُخَاصِمُونَنَا {فِي اللَّهِ} أَنْ اصْطَفَى نَبِيًّا مِنْ الْعَرَب {وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ} فَلَهُ أَنْ يَصْطَفِي مَنْ يَشَاء {وَلَنَا أَعْمَالُنَا} نُجَازَى بِهَا {وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ} تُجَازَوْنَ بِهَا فَلَا يَبْعُد أَنْ يَكُون فِي أَعْمَالنَا مَا نَسْتَحِقّ بِهِ الْإِكْرَام {وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ} الدِّين وَالْعَمَل دُونكُمْ فَنَحْنُ أَوْلَى بِالِاصْطِفَاءِ وَالْهَمْزَة لِلْإِنْكَارِ وَالْجُمَل الثَّلَاث أَحْوَال {أَمْ} بَلْ أَ {تَقُولُونَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاء {إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ كَانُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى قُلْ} لَهُمْ {أَأَنْتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللَّهُ} أَيْ اللَّه أَعْلَم وَقَدْ بَرَّأَ

مِنْهُمَا إِبْرَاهِيم بِقَوْلِهِ {مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا} وَالْمَذْكُورُونَ مَعَهُ تَبَع لَهُ {وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ} أَخْفَى عَنْ النَّاس {شَهَادَةً عِنْدَهُ} كَائِنَة {مِنَ اللّٰهِ} أَيْ لَا أَحَد أَظْلَم مِنْهُ وَهُمْ الْيَهُود كَتَمُوا شَهَادَة اللّٰه فِي التَّوْرَاة لِإِبْرَاهِيم بِالْحَنِيفِيَّةِ {وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ} تَهْدِيد لَهُمْ {تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ} تقدم مثله

ترجمه: اوس که چرې هغوی یعنی یهود او نصاریٰ دغه شان ایمان راوړی څنګه چې تاسو ایمان راوړې دې نو هدایت یافته به شی (لفظ) مثل زائده دې اوکه چرې هغوی په دې باندې دایمان راوړلو نه مخ واړه وی نو هغوی په ښکاره اختلاف کښې دی یعنی ستاسو په مخالفت کښې دی. لهذا تسلی ساته اې محمد ﷺ دهغوی په دښمننی کښې به ډیر زر الله تعالی ستاسو کفایت اوکړی دهغوی خبرې ښه اوریدونکې اودهغوی حالات پیژندونکې دې. اوالله تعالی دهغوی دپاره کافی شو. بنی قریظه قتل کول او بنی نضیر جلاوطن کولوسره په هغوی باندې جزیه لګولوسره دالله تعالی رنګ اختیارکړئ (صِبْغَةَ اللهِ) مصدر دې د آمَنَّا دتاکید دپاره دې اودې نصب د فعل مقدر دوجې نه دې. ای صَبَغَنَا اللهُ صِبغَةً اودې نه مراد دالله تعالی هغه دین دې په کوم چې هغه انسانان پیداکړل د دین اثر په دیندارو باندې ښکاره کیدلو د وجې نه لکه چې د رنګ (اثر) په کپړه باندې ښکاره کیږی اود الله تعالی د رنګ نه به د چا رنګ ښه وی؟ صیغه د تمییز ده مونږ خود هغه بندګی کونکې یو (کله) چې یهودو مسلمانانوته اووئیل چې مونږ اول اهل کتاب یو او زمونږ قبله د ټولو نه اولنې قبله ده او په عربو کښې انبیاء نه دی پیداشوی که محمد ﷺ نبې وې نو هم زمونږ نه به وې نو راتلونکې آیت نازل شو. تاسو هغوی ته اووایئ آیا تاسو مونږ سره دالله تعالی باره کښې جګړې کوئ. په دې وجه چې هغه د عربو نه نبی منتخب کړو حالانکه هغه زمونږ هم رب دې اوستاسو هم رب دې. هغه ته اختیاردې چې په خپلو بندیګانو کښې څوک غواړی منتخب کړی زمونږ دپاره زمونږ اعمال دی د کوم چې به مونږ ته بدله راکولې شی اوستاسو دپاره ستاسو اعمال دی د کوم چې به تاسو له بدله درکولې شی. لهذا دا خبره لرې نه ده چې زمونږ په اعمالو کښې داسې څیز وی د کوم د وجې نه چې مونږ د اکرام حقدار یو مونږ خو هم ددې دپاره دین اوعمل خالص کړې دې نه چې تاسو لهذا دانتخاب د پاره مونږ زیات غوره یو. او (أَتُحَاجُّونَنَا) کښې همزه استفهام انکاری دې او دریواړه جملې حال دی آیا تاسو وایئ (یقولون) یاء او تاء سره دې ابراهیم اسماعیل اسحاق او یعقوب علیهم السلام اودهغوی اولاد یهود او نصاری وو هغوی ته اووایه تاسو زیات پوهیږئ که الله تعالی؟ یعنی الله تعالی زیات پوهیدونکې دې. اوالله تعالی د حضرت ابراهیم علیه السلام د یهودیت او نصرانیت دواړو نه براءت اوفرمائیلو. په خپل قول مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا سره اوهغوی سره

چې کوم حضرات ذکردی نو دَ (ابراهیم ﷺ) تابع دی اودَهغه نه به لوئی ظالم څوک وی؟ چاچې دَ الله تعالی په نیز ثابت شوې شهادت دَخلقو نه پټ کړې وی یعنی دَهغوی نه بل لوئی ظالم نشته اوهغه یهود دی چې هغوی په تورات کښې دَ ابراهیم ﷺ حنفی کیدو شهادت پټ کړو او الله تعالی ستاسو دَکارونو نه غافل نه دې. دا یوه ډله وه چې تیره شوه. کوم چې هغوی کړی دَهغوی دَپاره دی او څه چې تاسو اوکړه ستاسو دَپاره دی تاسو نه به دَ هغوی دَاعمالو باره کښې سوال نه کیږی هم داسې آیت پورته تیرشوې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: مِثل زائدة دَدې اضافه مقصد دَ یواعتراض جواب دې. اعتراض دادې چې مسلمانانو په الله باندې ایمان راوړې دې اوس یهود اونصاریٰ ته وئیلی شی چې که چرې هغوی دهغه په مثل باندې ایمان راوړی په کوم چې مسلمانانو ایمان راوړې دې نو دَدې نه خو دَالله تعالی مثل کیدل لازم راځی حالانکه دَالله تعالی څوك مثل نشته.

جواب: لفظ مثل زائده دې دَدې جواب شهادت هغه قراءت هم ورکوی په کوم کښې چې بمثل ماآمَنْتُمْ په ځائی بِمَاآمَنْتُمْبِه دې. (ترویح)

قوله: مؤكِّدًلِاٰمَنَّا،صبغة دَ فعل مقدر مصدردې او آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ الخ دَ مضمون دَ تاکید دَپاره دې ځکه چې په مذکوره جمله کښې دَ بل مضمون هډو احتمال نشته په دې وجه دَدې عامل حذف کړې شوې دې. صبغة الله په اصل کښې صَبَغَنَا الله صِبْغَةً وو په صِبْغَةَ اللهِ کښې حرف عطف ترك کولو طرف ته اشاره اوکړه چې صَبَغَنَاالله او دَ آمَنَّامدلول هم یودې دَ کوم نه چې دَتاکید مفهوم ښکاره دې.

قوله: دونکم کښې اشاره ده چې نحن له مُخْلِصُوْنَ کښې دَمسند الیه تقدیم دَحصردَپاره دې.

قوله: والهمزةللانکار یعنی أَتُحَاجُّوْنَ کښې همزه دَ انکاردَپاره دې په دې سره دَدې جواب اوشو چې استفهام دَالله تعالی دَ شان مناسب نه دې.

قوله: والجُمَلُ الثَّلٰثُ احوال دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ یواعتراض جواب دې.

اعتراض: په واؤ کښې اصل عطف دې لهذا په مذکوره دریوارو جملوکښې به واؤ عاطفه وی او معطوف علیه أَتُحَاجُّوْنَ دې کوم چې جمله انشائیه ده اودا دریواړه جملې خبریه دی لهذا دَ جمله خبریه عطف انشائیه باندې لازم راځی کوم چې صحیح نه دې.

جواب: واؤ دَعطف دَپاره په هغه ځائی کښې اصل وی چرته چې دَعطف نه څه مانع نه وی اودلته مانع موجود دې اوهغه دَجملې خبریه په جمله انشائیه باندې دَ عطف لازم راتلل دی لهذا دلته واؤ عاطفه نه دې بلکه حالیه دې.

پاره نمبر- ٢ [سيقول]

[آياتونه: ١٤٢- ١٤٣]

{سيقول السفهاء} الجهال {مِنَ النَّاس} اليهود والمشركين {مَا وَلَّاهُمْ} أي شيء صرف النبي صلي الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُؤْمِنِينَ {عَن قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا} علي استقبالها في الصلاة وهي بيت المقدس والإتيان بالسين الدالة علي الاستقبال من الإخبار بالغيب {قُل لِّلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ} أي الجهات كلها فيأمر بالتوجه إلي أي جهة شاء لا اعتراض عليه {يَهْدِي مَن يَشَاءُ} هدايته {إِلَىٰ صِرَاطٍ} طريق {مُّسْتَقِيمٍ} دين الإسلام أي ومنهم أنتم دل علي هذا {وَكَذَٰلِكَ} كما هديناكم إليه {جَعَلْنَاكُمْ} يا أمة محمد {أُمَّةً وَسَطًا} خيارا عدولا {لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ} يوم القيامة أن رسلهم بلغتهم {وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا} أنه بلغكم {وَمَا جَعَلْنَا} صيرنا {الْقِبْلَةَ} لك الآن الجهة {الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا} أولا وهي الكعبة وكان صلي الله عليه وسلم يصلي إليها فلما هاجر أمر باستقبال بيت المقدس تألفا لليهود فصلي إليه ستة أو سبعة عشر شهرا ثم حول {إِلَّا لِنَعْلَمَ} علم ظهور {مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ} فيصدقه {مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ} أي يرجع إلي الكفر شكا في الدين وظنا أن النبي صلي الله عليه وسلم في حيرة من أمره وقد ارتد لذلك جماعة {وَإِن} مخففة من الثقيلة واسمها محذوف أي وإنها {كَانَتْ} أي التولية إليها {لَكَبِيرَةً} شاقة علي الناس {إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ} منهم {وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ} أي صلاتكم إلي بيت المقدس بل يثيبكم عليه لأن سبب نزولها السؤال عمن مات قبل التحويل {إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ} المؤمنين {لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ} في عدم إضاعة أعمالهم والرأفة شدة الرحمة وقدم الأبلغ للفاصلة

ترجمه: كم عقل جاهل خلق يعني يهودا ومشركين به دير زر اووائي چې څه څيز اوګرځول هغوی؟ يعنی نبی او مومنانولره دَهغه قبلې نه په كومه چې هغوی وو يعنی په مونځ كښې تراوسه پورې چې دَ كومې قبلې طرف ته مخ كولو اوهغه بيت المقدس دې اود سين استقبال راوړل دَ اخبار بالغيب دَ قبيل نه دې او اووايه چې دَمشرق اومغرب مالک هم الله دې يعنی ټول طرفونه هم دَهغه ملک دې لهذا هغه ته حق دې چې كوم طرف ته غواړی دَ مخ كولو حكم وركړی په دې باندې چاته دَاعتراض حق نشته هغه چې چا ته هدايت وركول غواړی هغه ته نيغه (يعنی) دَ دين اسلام لاربنائی او په هغوی كښې (اې مؤمنانو) تاسو هم يئې چاته چې ئې نيغه لارخودلې ده. اومونږهم دغه شان څنګه چې تاسو ته نيغه لار خودلې ده اې امت محمد ﷺ تاسو دَ خير امت يعنی معتدل امت (هم) جوړكړئ دې دَپاره چې تاسو دَ قيامت په ورځ په خلقو باندې ګواه شئ په دې خبره چې دَهغوی رسولانوهغوی ته پيغام رسولې وو او رسول ستاسودَپاره ګواه وی چې هغه تاسو ته پيغام رسولې دې. دَ قبلې په كوم طرف چې اول تاسو وئ او رسول الله ﷺ به دَ كعبې طرف ته مخ كولوسره مونځ

کولو خو چې کله هغوی هجرت اوکړو نوَدیهودیانوَ زړه ساتنې دَپاره دَ بیت المقدس طرف ته دَ مخ کولو حکم ورکړې شو نوحضورپاك دَهغې طرف ته مخ کولوسره شپاړلس یا اوولس میاشتې مونځ اوکړو بیا (داحکم) بدل کړې شودا مونږ صرف دَدې دَپاره مقررکړې وو دې چې مونږ علم ظهور په توګه باندې ښکاره کړو چې دَ رسول څوك اتباع کوی؟ (یعنی) دَدې تصدیق کوی اوڅوك دی چې اولټه تاویږی؟ یعنی په دین کښې شك کولوسره اودا ګمان کولو سره چې نبی دَ قبلې په معامله کښې ګډوډ شوې دې. او هم په دې وجه یوډله مرتدشوه لکه چې دَ قبلې دَ بدلون داکار ګران دې یعنی په خلقو باندې سخت دې اِنْ مخففة عن المثقلة دې اودَدې اسم محذوف دې (دراصل) وَاِنَّهَا وو مګر دَدوې نه چاته چې الله تعالی هدایت ورکړې دې (هغوی دَپاره هیڅ ګران نه دې) الله تعالی به ستاسو ایمان نه ضائع کوی یعنی دَ بیت المقدس طرف ته اداکړې شوی مونځونه به (نه ضائع کوی) بلکه په هغې به تاسو له اجر درکوی څکه چې دَدې دَ نزول سبب دَهغه خلقو باره کښې سوال وو چې دَ قبلې دَ تحویل کیدو نه وړاندې مړه شوی. الله تعالی مؤمنانوسره شفقت اومهربانی کونکې دې دَهغوی اعمال به نه ضائع کوی او رأفة شدتِ رحمت ته وائی ابلغ (یعنی رؤف) دَ فاصله دَ رعایت دَ وجې نه مقدم کړې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: سُفَهَاءُ (واحد) سَفِيْهٌ بیوقوف، نادان، کم عقل، جاهل، (س)

قوله: مَاوَلّٰهُمْ، مَا استفهامیه مبتداء وَلّٰهُمْ خبر وَلَّى تَوْلِيَةٌ (تفعیل) شاکول، مخ اړول

قوله: مِنَ النَّاسِ، سُفَهَاء نه حال کیدو دَ وجې نه محل کښې دَ نصب دې عامل سیقول دې. دا حال مبینه دې یعنی دَ نورو نه ممتاز او جدا کولودَپاره څکه چې سفاهت سره چې څنګه انسان متصف وی غیر انسان هم متصف کیږی تردې چې غیرحیوان هم متصف کیږی. دَخر بیوقوفی خو دَ هرچا په ژبه عام ده دَ جماد طرف ته هم دَ سفه نسبت کولې شی بَقْلَةُ الحمقاء بې وقوف دانه، خرفه ته وائی. خرفه یوه دانه ده چې دَ دوائی په توګه هم استعمالیږی. دې ته بې وقوف وئیلو وجه داده چې دا په اوبوباندې تیریدو سره هم راټوکیږی خو دَ سیلاب دَ بهیدو په وخت دَ بې چینئی کیفیت وی. په داسې حال کښې دَ دې تیغ او ګل راویستل بې وقوفی نه ده نوڅه دی؟ دا داسې ده لکه چې یومسافر په سفرکښې خپل کور جوړول شروع کړی اوخرف(س،ك) خَرَفًا دَ بوډاوالی دَ وجې نه دَ عقل فاسد کیدلو ته هم وائی.

قوله: قِبلة په وزن دَ جِلسة بیان دَ حالت دَپاره دې لکه جلستُ جِلسةَ القاری، کښې دَ قاری په

شان كيناستو قِبْلَةً دَاستقبال حالت ته وائى دَ شريعت په عرف كښې دَ قبلې طرف ته مخ كولو ته وائى. قبلة، د جعلنا مفعول اول دې او التى كنت عَلَيهَا تقدير موصوف سره مفعول ثانى دې. تقدير دادې الجهة التى كنت عليها.

قوله: على عقبيه دَدې واحد عقبٌ پونډې ته وائى مراد انقلاب على عقبيه دَ حق نه باطل طرف ته واپس كيدل، مرتد كيدل دى.

قوله: لأنَّ سبب نُزُولِهَا السوال الخ دَدې عبارت مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال: دَايمان تفسير ئى په صلوة سره ولې اوكړو؟

جواب: دَ يهودو دَ طرف نه چې چونكه سوال هم دَ مانځه باره كښې وو په دې وجه ئى دَ ايمان تفسير په صلوة سره كړې دې.

قوله: وقُدِّمَ الابلغ للفاصلة دا دَ يوسوال جواب دې.

سوال: په عام توګه ترقى دَ ادنٰى نه اعلىٰ ته كيږى نه چې بالعكس لكه چې وائى عالم نحريرٌ نحريرٌ عالم نشى وئيلې هم دَدې قاعدې لاندې دلته رحيمٌ رؤفٌ وئيل پكارو و.

جواب: دَ فواصل رعايت دَپاره پوره قرآن كښې داسې كړې شوى دى سره دَدې چې دَ رحيم په مقابله كښې رؤف كښې شدت رحمت دې.

[اياتونه: ١٤٤-١٤٧]

{قَدْ} لِلتَّحْقِيقِ {نَرَىٰ تَقَلُّبَ} تَصَرُّف {وَجْهِكَ فِي} جِهَة {السَّمَاءِ} مُتَطَلِّعًا إلَي الْوَحْي وَمُتَشَوِّقًا لِلْأَمْرِ بِاسْتِقْبَالِ الْكَعْبَة وَكَانَ يَوَدّ ذَلِكَ لِأَنَّهَا قِبْلَة إبْرَاهِيم وَلِأَنَّهُ أَدْعَي إلَي إسْلَام الْعَرَب {فَلَنُوَلِّيَنَّكَ} نُحَوِّلَنَّك {قِبْلَةً تَرْضَاهَا} تُحِبّهَا {فَوَلِّ وَجْهَكَ} اسْتَقْبِلْ فِي الصَّلَاة {شَطْرَ} نَحْو {الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ} أَيْ الْكَعْبَة {وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ} خِطَاب لِلْأُمَّةِ {فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ} فِي الصَّلَاة {شَطْرَهُ وَإِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ} أَيْ التَّوَلِّي إلَي الْكَعْبَة {الْحَقُّ} الثَّابِت {مِنْ رَبِّهِمْ} لِمَا فِي كُتُبهمْ مِنْ نَعْت النَّبِيّ صَلَّي اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَنَّهُ يَتَحَوَّل إلَيْهَا {وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تعملون} بِالتَّاءِ أَيّهَا الْمُؤْمِنُونَ مِنْ امْتِثَال أَمْره وَبِالْيَاءِ أَيْ الْيَهُود مِنْ إنْكَار أَمْر الْقِبْلَة {وَلَئِنْ} لَام الْقَسَم {أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ} عَلَي صِدْقك فِي أَمْر الْقِبْلَة {مَا تَبِعُوا} أَيْ لَا يَتْبَعُونَ {قِبْلَتَكَ} عِنَادًا {وَمَا أَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ} قَطْع لِطَمَعِهِ فِي إسْلَامهمْ وَطَمَعهمْ فِي عَوْده إلَيْهَا {وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ} أَيْ الْيَهُود قِبْلَة النَّصَارَي وَبِالْعَكْسِ {وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ} الَّتِي يَدْعُونَك إلَيْهَا {مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ} الْوَحْي {إنَّكَ إذًا} إنْ اتَّبَعْتهمْ فَرْضًا {لمن الظالمين} {الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ} أَيْ مُحَمَّدًا {كَمَا يعرفون أبناءهم} بنعته في كتبهم قال ابن سَلَام لَقَدْ عَرَفْته حِين رَأَيْته كَمَا أَعْرِف ابني ومعرفتي لمحمد أَشَدّ {وَإِنَّ فَرِيقًا مِنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ} نعته

{وَهُمْ يَعْلَمُونَ} هَذَا الَّذِي أَنت عَلَيْهِ {الْحَقُّ} كَائِنًا {مِنْ رَبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ} الشَّاكِّينَ فِيهِ أَيْ مِنْ هَذَا النَّوْعِ فَهُوَ أَبْلَغُ مِنْ أَنْ لَا تَمْتَرِ

ترجمه: قَدْدَ تحقیق دَپاره دې مونږ ستا مخ دَآسمان طرف ته دَ وحی په غوښتلو او استقبال کعبه په شوق کښې بار بار پورته کتونکې گورو. او رسول ﷺ به (کعبه) دَ دې دَپاره خوښوله چې (کعبه) دَحضرت ابراهیم علیه السلام قبله وه اودَدې دَپاره هم چې کعبه قبله گرځول عرب دَ اسلام طرف ته راغوښتلو کښې ډیر مؤثر (اپیل کونکې) وو. نومونږ تاسو هم دغه قبلې طرف ته راگرځوو کومه چې ته خوښه وې. ته خپل مخ په مانځه کښې مسجدحرام یعنی کعبه طرف ته اوگرځوه او (اې مسلمانانو) تاسو چې چرته هم یئې دا امت ته خطاب دې. دَخپل مخونه (رخ) په مانځه کښې هم دې طرف ته کړئ. اهل کتابو ته قطعی علم دې چې کعبه طرف ته مخ کول دَهغوی دَ رب دَ طرف نه قطعی حق دې ځکه چې دَهغوی په کتابونو کښې دَمحمد دَ صفاتوباره کښې دا موجود دې چې هغه به په (مانځه کښې) دَ کعبې طرف ته مخ کوی اوالله تعالی دَهغوی دَ اعمالونه بې خبرنه دې. یاء او تاء سره اې مومنانو امتثال امر وغیره کوم چې تاسو کوئ او یهودیان چې دَ قبلې دَحکم نه انکارکوی (الله تعالی دَهغوی نه غافل نه دې) اواگرچې حضورپاک ﷺ تاسولیږ کښې لام قسمیه دې دَقبله په معامله کښې په خپل صداقت باندې ټول دلیلونه پیش کړئ نوبیاهم هغوئ دَ دښمنئ دَ وجې نه ستاسو دَ قبلې منونکی نه دی اونه تاسو دَهغوی دَ قبلې پیروی کونکی یئې. دا دَهغوی دَاسلام باره کښې دَحضورپاک ﷺ امید منقطع کول دی. اودَ حضورپاک ﷺ باره کښې دَهغوی دَقبلې طرف ته دَ واپس کیدلو امیدمنقطع کول دی اونه دا یهود اونصاریٰ په خپل مینځ کښې دَ یوبل دَ قبلې اتباع کونکی دی یعنی نه دَ یهود اونصاریٰ او نه برعکس او که چرې حضورپاک ﷺ دَعلم راتلونه باوجود دَهغوی خواهشاتو پسې اولگی دَ کوم طرف ته چې هغوئ دعوت ورکوی. (یعنی) فرض کړه که تاسو دَهغوی اتباع اوکړئ نوتاسو به یقینًا دَ ظالمانونه شئ چاته چې مونږ کتاب ورکړې دې هغوی خو محمد ﷺ داسې پیژنی لکه څوک چې خپل ځامن پیژنی. دَهغوی په کتاب کښې دَ حضورپاک صفات موجود کیدو دَ وجې، عبدالله بن سلام اووئیل کله چې حضورپاک ما اولیدلو نو ما هغوی داسې اوپیژندل لکه څنگه چې خپل خوئی پیژنم بلکه دَ محمد ﷺ پیژندگلو دَدې نه هم زیاته ده. (رواه البخاری) بیشکه په دوی کښې یوجماعت دَحضورپاک صفات پټه وئ سره دَدې چې هغوی ښه پیژندو چې دا (طریقه) په کومه چې رسول الله ﷺ دې حق ده اودَهغه دَ رب دَ طرف نه ده. واوړئ تاسو دَ شک کونکو نه مه کیږئ یعنی دَ شك کونکو دَ قسم نه مه کیږئ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ (طرزخطاب) کښې دِ لاتَمْتَرَنه ډیر بلیغ دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله قَدْ د تحقیق دپاره دي کما صرح المفسر العلام او د بعضو په نیز د تکثیر دپاره دي اودا کثرت د حضور ﷺ پاك په نسبت دي یعنی د حضورپاك نظر په کثرت سره د آسمان طرف ته اوچتیدونکي وینی دلته د قَدْ تقلیل ځکه چې نه شی کیدې چې تقلب د دې نفی کوی ددې دپاره تقلب د کثرت تقاضه کوی.

قوله نُوَلِّيَنَّكَ مضارع جمع متکلم بانون تاکید ثقیله، مصدر تَوْلِيَةٌ کاف ضمیر مفعول دې مونږ به تا ضرور واپس راګرځوو. دې نه مراد د قبلې تحویل دې کوم چې غزوه بدر نه دوه میاشتې وړاندې په میاشت د رجب کښې په روایت د براء بن عازب رضی الله عنه د زوال آفتاب نه پس د مازیګر په مانځه کښې اوشو. د حضرت مجاهد رحمه الله د قول نه معلومیږی چې هغه وخت حضورپاك صحابه کرامو ته د بنی سلمه په جمات کښې د ماسپښین مونځ ورکولو.

قوله اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ الخ دا د تعلمون په صورت کښې دې.

قوله تَقْطَعُ طَمْعَه فِي اِسْلَامِهِمْ وَطَمْعُهُمْ فِي عَوْدِهٖ اِلَيْهَا په دې کښې لف اونشر مرتب دي.

قوله الْيَهُوْدُ قِبْلَةُ النَّصَارٰى وَبِالْعَكْسِ د یهودو قبله صخرة البیت المقدس وو او د نصارىٰ قبله د صخره د مشرق طرف ته.

قوله: فرضًا ددې اضافه مقصد د یوسوال جواب دي.

سوال لَئِنْ اَتَيْتَ کښې اِنْ استعمال شوې دې کوم چې د غیریقینی څیزونو دپاره استعمالیږی حالانکه د رسول الله ﷺ د هغوی د قبلې اتباع نه کول او د هغوی د حضورپاك د قبلې اتباع نه کول یقینی وو.

جواب علی سبیل الفرض تسلیم کولوسره د اِنْ استعمال شوې دې.

قوله هٰذَا الَّذِيْ اَنْتَ عَلَيْهِ الْحَقُّ هذا اسم اشاره ده الذی انت علیه موصول صله سره ملاؤشو مشارالیه جمله شوه مبتداء او الحق ددې خبر.

قوله الممترین، اِمْتِرَاءٌ (افتعال) نه اسم فاعل جمع مذکر، ددې واحد اَلْمُمْتَرِي په شك کښې پریوتونکې، شك کونکې.

قوله: مِنْ هٰذَا النَّوْعِ یعنی ته د شکیانونه مه کیږه ځکه چې چې بعضې وخت انسان شك نه کوی مګر شکی کیږی خوداسې نه وی چې شك کوی او شکی کیږی نه یعنی د شکی دپاره شك لازم نه دي مګر د شك د پاره شکی کیدل لازم دی. (والله اعلم بالصواب)

قوله: ابلغ مِنْ لَا تَمْتَرْ دا د یواعتراض جواب دی او اعتراض دادې چې د ایجاز قاعده ددې

خبري مقتضی ده چې لاتمترز اووئیلې شی اختصار ترك کولوسره اطناب ولې اختیارکړې شوې دې؟

جواب: دلته اطناب بې فائدې نه دې ځکه چې اطناب دَ اختصار نه ابلغ دې. ځکه چې فلا تمترز دَ مستقبل په زمانه کښې دَحدوث امتراء نه منع دې ځکه چې دا فعل مضارع دې او ممترین حدوث امتراء او بقاء امتراء دَدواړو نه منع دې دَدې دَاسم کیدو دَ وجې نه.

[ایاتونه: ۱۴۸ - ۱۵۲]

{وَلِكُلٍّ} مِنَ الْأُمَمِ {وِجْهَةٌ} قِبْلَةٌ {هُوَ مُوَلِّيهَا} وِجْهَةٌ فِي صَلَاتِهِ وَفِي قِرَاءَةٍ مُوَلَّاهَا {فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ} بَادِرُوا إِلَى الطَّاعَاتِ وَقَبُولِهَا {أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا} يَجْمَعُكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُجَازِيكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ {إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} {وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ} لِسَفَرٍ {فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ تَقَدَّمَ مِثْلُهُ وَكَرَّرَهُ لِبَيَانِ تَسَاوِي حُكْمِ السَّفَرِ وَغَيْرِهِ {وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ} كَرَّرَهُ لِلتَّأْكِيدِ {لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ} الْيَهُودِ أَوِ الْمُشْرِكِينَ {عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ} أَيْ مُجَادَلَةٌ فِي التَّوَلِّي إِلَى غَيْرِهِ لِتَنْتَفِيَ مُجَادَلَتُهُمْ لَكُمْ مِنْ قَوْلِ الْيَهُودِ يَجْحَدُ دِينَنَا وَيَتَّبِعُ قِبْلَتَنَا وَقَوْلِ الْمُشْرِكِينَ يَدَّعِي مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ وَيُخَالِفُ قِبْلَتَهُ {إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ} بِالْعِنَادِ فَإِنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا تَحَوَّلَ إِلَيْهَا إِلَّا مَيْلًا إِلَى دِينِ آبَائِهِ وَالِاسْتِثْنَاءُ مُتَّصِلٌ وَالْمَعْنَى لَا يَكُونُ لِأَحَدٍ عَلَيْكُمْ كَلَامٌ إِلَّا كَلَامُ هَؤُلَاءِ {فَلَا تَخْشَوْهُمْ} تَخَافُوا جِدَالَهُمْ فِي التَّوَلِّي إِلَيْهَا {وَاخْشَوْنِي} بِامْتِثَالِ أَمْرِي {وَلِأُتِمَّ} عُطِفَ عَلَى لِئَلَّا يَكُونَ {نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ} بِالْهِدَايَةِ إِلَى مَعَالِمِ دِينِكُمْ {وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ} إِلَى الْحَقِّ {كَمَا أَرْسَلْنَا} متعلق باتم اي إتمام كَإِتْمَامِهَا بِإِرْسَالِنَا {فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ} مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا} الْقُرْآنَ {وَيُزَكِّيكُمْ} يُطَهِّرُكُمْ مِنَ الشِّرْكِ {وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ} الْقُرْآنَ {وَالْحِكْمَةَ} مَا فِيهِ مِنَ الْأَحْكَامِ {وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ} {فَاذْكُرُونِي} بِالصَّلَاةِ وَالتَّسْبِيحِ وَنَحْوِهِ {أَذْكُرْكُمْ} قِيلَ مَعْنَاهُ أُجَازِيكُمْ وَفِي الْحَدِيثِ عَنِ اللَّهِ مَنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَمَنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَأٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَأٍ خَيْرٍ مِنْ مَلَئِهِ {وَاشْكُرُوا لِي} نِعْمَتِي بِالطَّاعَةِ {وَلَا تَكْفُرُونِ} بالمعصية

ترجمه: دَهرامت دَپاره یوه قبله ده دَکومې طرف ته چې هغوی په خپل عبادت کښې مخ کوی او په یو قراءت کښې مُوَلَّاهَا دې (دَ کوم طرف ته چې راګرځولې شوې دې) دَ نیکو طرف ته وراندیوالې کوئی یعنی طاعات او دَدې دَقبلیدو طرف ته تندی کوئی تاسو چرته هم چې یئې الله تعالی به تاسو راجمع کوی (یعنی) دَ قیامت په ورځ به مو راجمع کوی او ستاسو دَاعمالو بدله به درکولې شی. الله تعالی په هرڅیز باندې قادردې (اې محمد ﷺ) ته دَ کوم ځائی نه هم چې سفرشروع کړې (په مونځ کښې) مخ دَ مسجد حرام طرف ته کړه هم دغه ستا دَ رب فیصله ده او الله تعالی ستاسو دَاعمالونه بې خبره نه دې تاء او یاء سره هم دَدې په شان آیت تیرشوې دې

په سفر او حضر کښې دَ حکم یوشان والي دَ بیانولو دَپاره (آیت) مکرر ذکر کړې شوې دې او (اې مسلمانانو تاسو هم) چې د کوم ځائې نه سفر شروع کړئ خپل مخ دَ مسجد حرام طرف ته کوئ دَ تاکید دَپاره مکرر ذکر کړې شوې دی دې دَپاره چې خلق (یعنی) یهودیانو او مشرکانو ستاسو سره څه جګړه پاتې نه شي. (دَهغوی) دَ قبلې طرف ته دَمخ کولو دَ مخالفت د وجې نه یعنی دې دَپاره چې تاسو سره دَهغوی حجت بازي کول ختم شي په دې خبره کښې چې یهودیان وائی چې (محمد) زمونږ دَ دین نه خو انکارکوی مګر زمونږ دَ قبلې (بیت المقدس) اتباع کوی او دَ مشرکانو وینا داده چې محمد دَملت ابراهیمی خو دعوی کوی خو دَهغه دَ قبلې مخالفت کوی. سوا دَهغه خلقونه چا چې په دوی کښې دَ وجې دَ عناد ظلم اوکړو. دَهغوی وینا ده چې دکعبې طرف ته مخ کول صرف دَخپلو پلارانو دَدین طرف ته رغبت دَ وجې نه کړې دې او (الا الذین) کښې استثناء متصل ده او معنی داده چې په تاسو به دَ چا هیڅ اعتراض پاتې نه شي. مګر (ظالمان) خلق لهذا تاسو دَ کعبې طرف ته مخ کولو کښې دَهغوی دَ جګړې کولو نه مه ویریږئ. زما حکم په ځائې راوړلو سره مانه ویریږئ دې دَپاره چې زه ستاسو دَ دین دَاحکامو طرف ته لارخودنه کولو سره په تاسو باندې خپل نعمت پوره کړم. او دَدې دَپاره چې تاسو دَحق طرف ته هدایت بیامومئ لکه څنګه چې مونږ هم ستاسو نه یو رسول (محمد ﷺ) دراولیګلو (کَمَآ اَرْسَلْنَا) اُتِمَّ سره متعلق دې یعنی په داسې شان دَ نعمت تکمیل کولو سره لکه څنګه چې مونږ هم ستاسو نه رسول لیګلو سره نعمت پوره کړو چې تاسو ته زمونږ قرآنی آیاتونه لولی. او تاسو دَ شرک نه پاکوی او تاسو ته دکتاب یعنی قرآن او حکمت دربنائی په کوم کښې چې احکام دی او تاسو ته هغه څیز دراوښائی دکوم نه چې تاسو ناخبره وئ. لهذا تاسو دَ مونځ او تسبیح په ذریعه زما ذکر کوئ زه به تاسو یادوم. وئیلې شوی دی چې دَدې معنی ده زه به تاسو ته بدله درکوم او په حدیث قدسی کښې دی کوم سړې چې ما په خپل زړه کښې یادوی زه هغه په خپل زړه کښې یادوم او څوک چې ما په ګنړه کښې یادوی نوزه هغه دَ هغه دَ ګنړې نه په بهتره ګنړه کښې یادوم او زما دَنعمتونو دَ طاعت په ذریعه شکر اداکړئ او دَ ګناه په ذریعه ناشکری مه کوئ.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ مفسر علام مِنَ الْاُمَمِ محذوف منلو سره حذف مضاف الیه طرف ته اشاره کړې ده حذف دَ مضاف په شان دَ مضاف الیه مثال هم عام دې. لِكُلٍّ ای لِكُلِّ اُمَّةٍ یعنی دَ هر دین او مذهب والو دَپاره که دین حق وی او که باطل یو مرکزی رخ وی کوم ته چې دَهغوی قبله وئیلی شي.

قوله: هُوَ مُوَلِّيْهَا هو نه فریق مراد دې کوم چې دَ اُمَمِ مفهوم دې دَ كُلٍّ په مناسبت سره هو

راوړلې شوې دې که مفسرعلام دَ امرٌ په ځائې فریق سره تعبیرکولې نوزیات به واضح وې. (صاوی)

قوله: مُوَلِّيهَا مُوَلِّیْ اسم فاعل دې هَا مفعول اول دې. وَجهةُ مفعول ثانی دې کوم چې مفسرعلام ښکاره کړې دې. وفي قراءةٍ مُوَلَّاهَا په صیغه دَ اسم مفعول دَدې نائب فاعل مفعول اول دې.

قوله: قِبْلَةً مفسرعلام دَ وِجْهَةً تفسیرپه قبلةٌ سره کولوکښې دَ دوو اعتراضونو جواب ورکړې دې. ① وِجْهَةٌ مصدردې په معنی د توجه، په دې صورت کښې معنی صحیح نه ده ځکه چې مقصود دا نه دې چې دَ هرامت دَپاره توجو ده بلکه مراد متوجه الیه دې یعنی دَ چاطرف ته چې توجو اوکړې شی. د قِبْلَة اضافه کولوسره ئې جواب ورکړې چې معنی مصدری مراد نه ده مراد ظرف مکان دې کوم ته چې قبله وئیلې شی. ② دَ قیاس تقاضادا ده چې جِهَةٌ وی ځکه چې تا دَ واؤ په عوض کښې ده لکه چې په عِدَةٌ کښې چې دا په اصل وِعْدٌ وو، واؤحذف کړې شو او آخرکښې دَ تاء اضافه اوکړې شوه نو جِهَةٌ شو. وِجْهَةٌ کښې عوض اومعوض دواړو جمع کیدل لازم راځی.

جواب: وِجْهَةٌ سره دَدې چې په اصل کښې مصدردې خودَ متوجه الیه په نوم شوې دې اوهغه قبله ده په دې کښې واؤ باقی ساتل شاذ نه دی. (ترویح الا رواح)

قوله: الیهوداوالمشرکین دې کښې اشاره ده چې په للناس کښې لام دَ عهد دې.

قوله: أي مُجَادَلَة، د حُجَّةٌ تفسیر ئې په مجادلة سره کولوکښې اشاره اوکړه چې دلته دَ حجة نه دلیل او برهان مراد نه دې ځکه چې هغوی سره څه حجة او برهان نه وو بلکه منازعة او مجادلةبالباطل مراد دې.

قوله: من قول الیهودالخ دادَ مجادلة بیان دې یعنی یهود دې ویناکولوسره مجادله کوی اومشرکان دې وینا کولوسره کوی.

قوله: الی غَيْره، غیره ضمیر تَوَلِّیْ ظرف ته راجع دې مطلب دادې چې اې مسلمانانو مونږ تاسوته دَ کعبې طرف ته مخ کولودَدې دَپاره حکم درکړې دې چې په مخ کولو کښې جګړه ختمه شی.

قوله: الإستثناءمتصل ځکه ده چې مستثنٰی منه هم ظالمین دی.

....

[ایاتونه: ۱۵۳-۱۵۸]

{يٰأيها الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا} عَلَي الآخِرَة {بِالصَّبْرِ} عَلَي الطَّاعَة وَالْبَلَاء {وَالصَّلَاة} خصهَا بِالذّكر لِتَكَرُّرِهَا وَعِظَمِهَا {إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} بِالْعَوْنِ {وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ} هُمْ {أَمْوَاتٌ بَلْ} هُمْ {أَحْيَاء} أَرْوَاحهمْ فِي حَوَاصِل طُيُور خُضْر تَسْرَح فِي الْجَنَّة حَيْثُ شَاءَتْ لِحَدِيثٍ بِذَلِكَ {وَلَكِنْ لَا تَشْعُرُونَ} تعلمون ما فيه {وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ} لِلْعَدُوِّ {وَالْجُوعِ} الْقَحط {وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ} بِالْهَلَاكِ {وَالْأَنْفُسِ} بِالْقَتْلِ وَالْمَوْت وَالْأَمْرَاض {وَالثَّمَرَاتِ} بِالْجَوَائِحِ أَيْ لَنَخْتَبِرَنَّكُم فَنَنْظُر أَتَصْبِرُونَ أَمْ لَا {وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ} عَلَي الْبَلَاء بِالْجَنَّةِ هُمْ {الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ} بَلَاء {قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ} مِلْكًا وَعَبِيدًا يَفْعَل بِنَا مَا يَشَاء {وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} فِي الْآخِرَة فَيُجَازِينَا وَفِي الْحَدِيث مَنْ اسْتَرْجَعَ عِنْد الْمُصِيبَة أَجَرَهُ اللَّه فِيهَا وَأَخْلَفَ اللَّه عَلَيْهِ خَيْرًا وَفِيهِ أَنَّ مِصْبَاح النَّبِيّ صَلَّي اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَفِئَ فَاسْتَرْجَعَ فَقَالَتْ عَائِشَة إِنَّمَا هَذَا مِصْبَاح فَقَالَ كُلّ مَا أَسَاءَ الْمُؤْمِن فَهُوَ مُصِيبَة رَوَاهُ أَبُو دَاوُد فِي مَرَاسِيله {أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَات} مَغْفِرَة {مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ} نعمة {وأولٰئك هُمُ الْمُهْتَدُونَ} إِلَي الصَّوَاب {إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ} جَبَلَانِ بِمَكَّة {مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ} أعلام دينه جمع شعيرة {فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ} أَيْ تَلَبَّسَ بِالْحَجِّ أَوْ الْعُمْرَة وَأَصْلهمَا الْقَصْد وَالزِّيَارَة {فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ} إثم عَلَيْهِ {أَنْ يَطَّوَّفَ} فِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الطَّاء {بِهِمَا} بِأَنْ يَسْعَي بَيْنهمَا سَبْعًا نَزَلَتْ لَمَّا كَرِهَ الْمُسْلِمُونَ ذَلِكَ لِأَنَّ أَهْل الْجَاهِلِيَّة كَانُوا يَطُوفُونَ بِهِمَا وَعَلَيْهِمَا صنمان يمسحونهما وعن بن عَبَّاس أَنَّ السَّعْي غَيْر فَرْض لِمَا أَفَادَهُ رَفْع الْإِثْم مِنْ التَّخْيِير وَقَالَ الشَّافِعِيّ وَغَيْره رُكْن وَبَيَّنَ صَلَّي اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فريضته بِقَوْلِهِ إِنَّ اللَّه كَتَبَ عَلَيْكُمْ السَّعْي رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ وغيره وقال ابداوا بِمَا بَدَأَ اللَّه بِهِ يَعْنِي الصَّفَا رَوَاهُ مُسْلِم {وَمَنْ تَطَوَّعَ} وَفِي قِرَاءَة بِالتَّحْتِيَّةِ وَتَشْدِيد الطَّاء مَجْزُومًا وَفِيهِ إِدْغَام التَّاء فِيهَا {خَيْرًا} أَيْ بِخَيْرٍ أَيْ عَمِلَ مَا لَمْ يَجِب عَلَيْهِ مِنْ طَوَاف وَغَيْره {فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ} لِعَمَلِهِ بِالْإِثَابَةِ عَلَيْهِ {عَلِيمٌ} بِهِ

ترجمه: اې ایمان والو په طاعت او مصیبت باندې صبر او په مانځه سره د آخرت دپاره امداد غواړئ. د مونځ ذکر باربار راتلل اودې عظمت شان د وجې په خاص توګه مکرر ذکر کړې دې. بیشکه الله تعالی صبر کونکوته د امداد په ذریعه ملګرتیا ورکوی اود الله تعالی د لارې شهیدانوته مره مه وایئ هغوی ژوندی دی دهغوی روحونه د شنو مارغانو په شکلونو کښې په جنت کښې چرته چې غواړی ګرځی. د دې مضمون د حدیث د وجې نه لیکن په کوم کیفیت کښې چې هغوی دی تاسو په هغې نه پوهیږئ او مونږ تاسو ته د دښمن د ویرې او د قحط او اولږې د ویرې او د مال د ضایع کیدو په ذریعه نقصان بل په ځانونو کښې د قتل مرضونو او مرګ په ذریعه ضرور ازمیښت کوو. او په میوو کښې د بیمارو د نقصان په ذریعه تاسو ضرور ازمیښت کوو دې د پاره چې مونږ اوګورو چې تاسو صبر کوئ که نه.

په مصیبت کښې صبرکونکو ته دَ جنت زیرې ورکړه. دا هغه خلق دي چې کوم وخت په دوی څه مصیبت راځي نو وائی چې مونږ دَ ملکیت او عبدیت په اعتبارسره دَ الله یو هغه ته اختیار دي چې زمونږ سره څه کول غواړي کولې شي او مونږ په آخرت کښې هم دَهغه طرف ته ورتلونکی یو نو هغه به مونږ ته بدله راکوي. په حدیث شریف کښې دي چې یو ځل دَ رسول الله ﷺ ډیوه مړه شوه نو حضورپاک اناالله اوویل حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل (یارسول الله) داخو صرف ډیوه ده نوحضورپاک اوفرمائیل هرهغه څیز چې مومن ته تکلیف اورسوی هغه مصیبت دې اودا ابوداؤد رحمه الله په خپل مراسیل کښې ذکرکړی دی. همدغه هغه خلق دی په چا باندې چې به دَ خپل رب دَ طرف نه مغفرت او نوازشات وی او هم دغه شان خلق دَ نیغې لارې طرف ته هدایت بیاموندونکی دی. یقینًا صفا اومروه دوه غرونه دَ الله تعالی نشانې دی یعنی دَهغه دَ دین نښې دی. شَعَآئِرُ دَ شَعِيْرَةٌ جمع ده نو چې چا دَ بیت الله حج اوکړو یا ئی عمره اوکړه یعنی دَ حج او عمرې احرام ئی اوتړلو اودَ حج اصلی معنی اراده او زیارت دې نودَهغه دَپاره په صفا اومروه کښې دَ سعی کولوهیڅ گناه نشته. یَطَّوَّفَ کښې په اصل کښې دَ تاء په طاء کښې ادغام دې په داسې توگه چې دَ صفا اومروه په مینځ کښې اود ځله سعی اوکړی. دا آیت هغه وخت نازل شو کوم وخت چې مسلمانانو دَ صفا اومروه سعی ناخوښه اوگنړله ځکه چې دَجاهلیت خلقو به دې نه طواف کولو او په دې باندې دوه بتان وو اودې له به ئی لاس وراوړلو. اودَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې چې سعی فرض نه ده ځکه چې رفع اثم سره تخییر مستفاد کیږی اما شافعی رحمه الله وغیره فرمائیلی دی چې (سعی) رکن دې. اورسول الله ﷺ خپل قول اِنَّ اللهَ کَتَبَ عَلَیْکُمُ السَّعْیَ سره دَدې وجوب بیان فرمائیلې دې. (رواه بیهقی وغیره) او فرمائیلی دی دَ کوم څیز نه چې الله تعالی شروع فرمائیلې ده تاسو هم دَهغې نه شروع اوکړئی یعنی دَ صفا نه (رواه مسلم) او کوم سړی چې په اختیاری توگه (څه) کارخیر اوکړی یعنی طواف وغیره یعنی څه داسې دَخیرکار اوکړی چې په هغه باندې واجب نه وی نوالله تعالی دَهغې اجر ورکولوسره دَهغه عمل قدردان دې دَهغه نه خبردې. تَطَوَّعَ کښې یو قراءت یاء تحتانیه او دَ طاء تشدید سره مجزوم دې اودَدې دَ تاء په طاء کښې ادغام دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بِالْعَوْنِ، بِالْعَوْنِ وئیلو سره ئې اشاره اوکړه چې عَوْن نه نصرت خاصه مراد دې. ځکه چې عمومی معیت خودَالله تعالی هرشئ سره دې لهذا په دې کښې صابرین دَپاره څه فضیلت نشته. مفسرعلام بِالْعَوْنِ وئیلو سره هم دا شبه لرې کړې ده. دَدې دفع کرلوحاصل دادې چې معیت دوه قسمه وی اودَدې نه دا معیت متقین ومحسنین وصابرین

سره خاص دي. په دې کښې دَ صبر او صلوة په ذريعه سره دَ امربالاستعانت علت هم شته صلوة دَ صبرنه اولى دي لهذا مصلين سره به معيت خاصه بطريق اولى وى.

قوله: في الحواصل، حَوَاصِلُ،دَ حَوْصِلَةٌ جمع ده په فارسى کښې سنگدان چرگ ته وائى او په اردوکښې دَدې ترجمه ده لرى.

قوله: لحديث بذلك. (المسلم والمشکوة)

قوله: بالجوائح دا دَ جائحةٌ جمع ده دَ ميوو بيمارئى يا چينجى ته وائى.

قوله: هُمْ أَمْوَاتٌ، هُمْ محذوف منلوسره ئې اشاره اوکړه چې أَمْوَاتٌ د مبتداء محذوف خبر دي. ځکه چې أَمْوَاتٌ مقوله ده اومقوله هم جمله وى.

قوله: بَلْ هُمْ أَحْيَاءٌ مفسر علام دَ هُمْ اضافه کولوسره اشاره کړې ده چې دَ أَحْيَاءٌ عطف په أَمْوَاتٌ باندې عطف مفرد على المفرد نه دي چې لاتقولوا دَ لاندې وى اومعنى وى بل قولوا أَحْيَاءٌ او نه په هُمْ أَمْوَاتٌ باندې عطف دې چې عطف جمله على الجمله وى ځکه چې دا دَ قول لاندې نه دي بلکه دا په جمله تقولوا باندې معطوف دي دَدې جملې په ذريعه دَ نهى نه دَ اخبارطرف ته اضراب دې. ځکه چې مقصد هغوئ دَپاره اثبات د حيات دي نه دا چې دوى ته حکم ورکولې شى چې تاسو دهغوئ په شان کښې أَنَّهُمْ أَحْيَاءٌ اووايئ.

قوله: مَاهُمْ فِيهِ،تَشْعُرُوْنَ په معنى د تعلمون مفعول به دي.

قوله: مُصِيْبَةٌ دا إِصَابَةٌ دَ (افعال) نه اسم فاعل مؤنث دي تکليف رسونکې، مُصِيبَة په اصل کښې دَ صفت صيغه ده او دَ کثرت استعمال دَ وجې نه دَدې موصوف محذوف دي. مثلاً رَمْيَةٌ مُصِيبَةٌ په نښه باندې لگيدونکې غشى ويشتل، لکه چې دَ کثرت استعمال دَ وجې نه مويز منقّى تخم راويستونکې مويز. دَمنقّى معنى ده تخم صاف کړې شوې، مويز په داروگانوکښې هم تخم ويستلوسره استعمالولې شى لکه چې تخم راويستل لازم دى لهذا موصوف حذف کولوسره صفت دَ هغې په ځائى کړې شو او صرف منقّى ورته اووئيلې شو.

قوله: نِعْمَةٌ، دَرَحْمَةٌ تفسيرپه نعمة سره کولوکښې اشاره اوکړه چې دَ رحمة لازم معنى مراد ده اوهغه دې نعمت، ځکه چې دَ رحمة اصلى معنى دَ زړه نرى کيدل دى کوم چې دَالله تعالى دَ ذات دَپاره متصورنه دى.

قوله: مجزومًا يعنى دَ ياء په صورت کښې يَطَّوَّعْ جزم عين سره دې دَ مجزومًا دَ اضافه مقصد يووهم لرې کول دى. وهم دادى لکه څنګه چې تَطَوَّعَ په صورت کښې عين دَ فتحه

سرہ دي لهذا دَ ياء په صورت کښې هم به دَعين فتحه سره وی حالانکه دَ ياء په صورت کښې به مضارع وی او مضارع بغيردَ ناصب منصوب کيدې نه شی. په خلاف دَ تاء په صورت کښې چې دَ ماضی صيغه ده اودَ مجزوم کيدو دَ وجې نه جزاء وی.

[اياتونه:۱۵۹-۱۶۳]

وَنَزَلَ فِي الْيَهُود {إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ} النَّاس {مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى} كَآيَةِ الرَّجْم وَنَعْت مُحَمَّد صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَاب} التَّوْرَاة {أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰه} يُبْعِدهُمْ مِنْ رَحْمَته {وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ} الْمَلَائِكَة وَالْمُؤْمِنُونَ أَوْ كُلّ شَيْء بِالدُّعَاءِ عليهم باللعنة {إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا} رَجَعُوا عَنْ ذَلِكَ {وَأَصْلَحُوا} عَمَلهمْ {وَبَيَّنُوا} مَا كَتَمُوا {فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ} أَقْبَل تَوْبَتهمْ {وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيم} بِالْمُؤْمِنِينَ {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّار} حَال {أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰه وَالْمَلَائِكَة وَالنَّاس أَجْمَعِينَ} أَيْ هُمْ مُسْتَحِقُّونَ ذَلِكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة وَالنَّاس قِيلَ عَامّ وَقِيلَ الْمُؤْمِنُونَ {خَالِدِينَ فِيهَا} أَيْ اللَّعْنَة وَالنَّار الْمَدْلُول بِهَا عَلَيْهَا {لَا يُخَفَّف عَنْهُمُ الْعَذَاب} طَرْفَة عَيْن {وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ} يُمْهَلُونَ لِتَوْبَةٍ أَوْ لِمَعْذِرَةٍ وَنَزَلَ لَمَّا قَالُوا صِفْ لَنَا رَبّك {وَإِلَٰهُكُمْ} الْمُسْتَحِقّ لِلْعِبَادَةِ مِنْكُمْ {إِلَٰه وَاحِد} لَا نَظِير له لا في ذاته وَلَا فِي صِفَاته {لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ} هُوَ {الرَّحْمَٰن الرَّحِيم}

ترجمه: اودَيهود وباره کښې ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ ﴾ (الاية) نازل شو بيشکه هغه خلق کوم چې زمونږ نازل شوی دليلونو اوهدايت مثلاً آيت رجم اودَ محمد ﷺ صفات پټوی سره دَدې چې مونږ دَ دغه خلقودپاره په تورات کښې بيان کړی دی هم دغه هغه خلق دی په چاچې الله تعالی لعنت کوی يعنی دَخپل رحمت نه ئې لرې ساتی او لعنت کونکی لعنت کوی (اوهغه) فرښتې اومؤمنان دی ياهرشئ چې دَهغوی دَپاره دَ لعنت بددعاکوی. مګرهغه خلق چاچې توبه اوکړه يعنې دَ دغه حرکت نه منع شو اودَخپلو اعمالو اصلاح ئې اوکړه اوکوم چې هغوی پټ کړی وو هغه ئې ښکاره کړل دا هغه خلق دی دَ چاتوبه چې زه قبلوم او زه ډير معافی کونکې يم او په مؤمنانو باندې رحم کونکې يم. بيشکه هغه خلق چاچې کفراوکړو او هم دکفرپه حالت کښې مړه شو هم دغه هغه خلق دی په چاچې دَ الله تعالی دَ فرښتو اودَ ټولو خلقو لعنت دې يعنی داخلق په دنيا اوآخرت کښې دَلعنت مستحق دی. د النَّاس باره کښې وئيلې شوی دی چې دې نه عام خلق مراد دی او دا هم وئيلې شوی دی چې مؤمنان ترې مراد دی. په لعنت کښې يا په اور کښې کوم چې دَ لعنت مدلول دې هميشه به وی. (لهذا اضمارقبل الذکربه لازم نه راځی) اونه به دَهغوی په عذاب کښې دَ سترګو دَ رپ په اندازه کمې کولې شی اونه به هغوی ته دَتوبې او مِعذرت مهلت ورکولې شی. اوکله چې (مشرکانو) اووئيل ته زمونږ دَ پاره دَ رب صفت بيان کړه نودا آيت نازل شو ﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴾ ستاسو خدائې چې ستاسودَ عبادت مستحق دې هم يوخدائې دې په ذات

اوصفات کښې څوك دَهغه برابر نشته دَهغه نه علاوه بل يوخدائې نشته هم هغه رحمن او رحيم دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله وَنَزَلَ فِى اليهودِ په دې کښې اشاره ده چې اِنَّ الَّذِيْنَ کښې موصول دَعهد دَپاره دې (کماقال صاحب الکشاف) او من البینت کښې الف لام هم دَعهددې څکه چې دا آيت دَيهودرباره کښې نازل کړې شوې دې او فى الکتاب دَدې قرينه ده څکه چې دَ کتاب نه تورات مراد دې.

قوله: الناس دا دَ يَكْتُمُوْنَ مفعول ثانى دې او البينت نه احکام مراددى لکه چې مفسرعلام ښکاره کړې ده يعنى رجم وغيره اودَ هدى نه مراد دَ رسول الله ﷺ صفات دى کوم چې دَحضورپاك دَاتباع طرف ته لارخودنه کونکى دى. لهذا هدٰى په معنى دَ هَادِي دې دَ مبالغه په توګه هادِئى هدًى سره تعبيرکړې دې.

قوله: اَللّٰعِنُوْنَ دَ واؤ اونون سره جمع راوړلوکښې اشاره ده چې دَلعنت کونکونه ذوى العقول مراد دى.

قوله اَوْكُلُّ شَيْءٍ دې کښې اشاره ده چې اَللّٰعِنُوْنَ کښې الف لام دَ استغراق دَپاره دې.

قوله اى اَللَّعْنَةُ اوالنار دَدې عبارت مقصد د فِيْهَا مرجع کښې احتمال بيانول دى يعنى هميشه به اوسيږى په لعنت کښې يا په اُورکښې.

قوله المدلول بهاعليها دادَ يوسوال مقدرجواب دې.

سوال. د فِيْهَا مرجع النار نه شى کيدې څکه چې په ماقبل کښې دَدې ذکر نشته لهذا اضمار قبل الذکر به لازم راځى؟

جواب: النار سره دَدې چې صراحةً مذکورنه دې خو ضمنًا مذکوردې څکه چې چې النار، دَ اللّعْنَة مدلول دې يعنى چې کوم سړې هميشه دَ لعنت مستحق کيږى دَهغه دَپاره نارلازم دې.

[اياتونه:۱٦٤-۱٦٧]

وطَلَبُوا آية على ذلك فنزلت {إن فى خلق السماوات والأرض} وما فيهما مِنَ الْعَجَائِب {وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ} بِالذَّهَابِ وَالْمَجِيء وَالزِّيَادَة وَالنُّقْصَان {وَالْفُلْكِ} السُّفُن {الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ} وَلَا تَرْسُب مُوقَرَة {بِمَا يَنْفَع النَّاس} مِنَ التِّجَارَات وَالْحَمْل {وَمَا أَنْزَلَ اللَّه مِنَ السَّمَاء مِنْ مَاء} مَطَر {فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْض} بِالنَّبَاتِ {بَعْد مَوْتهَا} يُبْسهَا {وَبَثَّ} فَرَّقَ وَنَشَرَ بِهِ {فِيهَا مِنْ كُلّ دَابَّة} لِأَنَّهُمْ يَنْمُونَ بِالْخِصْبِ الْكَائِن عَنْهُ {وَتَصْرِيف الرِّيَاح} تَقْلِيبهَا جُنُوبًا وَشِمَالًا حَارَّة وَبَارِدَة {وَالسَّحَاب} الْغَيْم

{الْمُسَخَّرِ} الْمُذَلَّلِ بِأَمْرِ اللّٰهِ تَعَالٰى يَسِيرُ إِلٰى حَيْثُ شَاءَ اللّٰهُ {بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ} بِلَا عَلَاقَةٍ {لَآيَاتٍ} دَالَّاتٍ عَلٰى وَحْدَانِيَّتِهِ تَعَالٰى {لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ} يَتَدَبَّرُونَ {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللّٰهِ} أَيْ غَيْرِهِ {أَنْدَادًا} أَصْنَامًا {يُحِبُّونَهُمْ} بِالتَّعْظِيمِ وَالْخُضُوعِ {كَحُبِّ اللّٰهِ} أَيْ كَحُبِّهِمْ لَهُ {وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلّٰهِ} مِنْ حُبِّهِمْ لِلْأَنْدَادِ لِأَنَّهُمْ لَا يَعْدِلُونَ عَنْهُ بِحَالٍ مَا وَالْكُفَّارُ يَعْدِلُونَ فِي الشِّدَّةِ إِلَى اللّٰهِ {وَلَوْ يَرَى} تُبْصِرُ يَا مُحَمَّدُ {الَّذِينَ ظَلَمُوا} بِاتِّخَاذِ الْأَنْدَادِ {إِذْ يَرَوْنَ} بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ يُبْصِرُونَ {الْعَذَابَ} لَرَأَيْتَ أَمْرًا عَظِيمًا وَإِذْ بِمَعْنٰى إِذَا {أَنَّ} أَيْ لِأَنَّ {الْقُوَّةَ} الْقُدْرَةَ وَالْغَلَبَةَ {لِلّٰهِ جَمِيعًا} حَالٌ {وَأَنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ} وَفِي قِرَاءَةٍ تَرٰى وَالْفَاعِلُ ضَمِيرُ السَّامِعِ وَقِيلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا فَهِيَ بِمَعْنٰى يَعْلَمُ وَأَنَّ وَمَا بَعْدَهَا سَدَّتْ مَسَدَّ الْمَفْعُولَيْنِ وَجَوَابُ لَوْ مَحْذُوفٌ وَالْمَعْنٰى لَوْ عَلِمُوا فِي الدُّنْيَا شِدَّةَ عَذَابِ اللّٰهِ وَأَنَّ الْقُدْرَةَ لِلّٰهِ وَحْدَهُ وَقْتَ مُعَايَنَتِهِمْ لَهُ وَهُوَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ لَمَا اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَنْدَادًا {إِذْ} بَدَلٌ مِنْ إِذْ قَبْلَهُ {تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا} أَيِ الرُّؤَسَاءُ {مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا} أَيْ أَنْكَرُوا إِضْلَالَهُمْ {وَ} قَدْ {رَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ} عُطِفَ عَلٰى تَبَرَّأَ {بِهِمْ} عَنْهُمْ {الْأَسْبَابُ} الْوُصَلُ الَّتِي كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا مِنَ الْأَرْحَامِ والمودة {وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً} رجعة إلى الدنيا {فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ} أَيِ الْمَتْبُوعِينَ {كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا} اليوم ولو للتمني ونتبرأ جوابه {كَذٰلِكَ} أَيْ كَمَا أَرَاهُمْ شِدَّةَ عَذَابِهِ وَتَبَرُّؤَ بَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ {يُرِيهِمُ اللّٰهُ أَعْمَالَهُمُ} السَّيِّئَةَ {حَسَرَاتٍ} حَالٌ نَدَامَاتٍ {عَلَيْهِمْ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ} بَعْدَ دُخُولِهَا

ترجمه او مشرکانو چې کله په دې باندې دَ دلیل مطالبه اوکړه نو دا آیت نازل شو ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ نازل شو بیشکه دَ آسمانونو او زمکې په جوړخ کښې اودَهغې په عجائباتوکښې اودَ شپې ورځې تلوراتلو او زیاتیدواو کمیدو په ذریعه تغیرکښې او په هغه کشتوکښې چې په دریابونوکښې دَخلقو دَ کټې سامانونه دَ تجارت او بوجونه اوړې ګرځی. اودَ دروندوالی باوجود ډوبیږی نه او په هغه اوبوکښې کومې چې دَآسمان نه دَ باران په شکل کښې الله تعالی راوره وی بیا په دې اوبوسره دَ برتو په ذریعه مره یعنی اوچې زمکه راژوندئی کړه په دې کښې ئې هرقسم څناور خواره کړل څکه چې دَهغوی لوئیدل په دغه شینکی سره کیږی کوم په اوبوباندې راپیدکیږی. او هواګانې شمالاً او جنوبًا او په ګرمو اویخو کښې بدلیدلوکښې او په هغه وریځوکښې چې دَ الله تعالی دَ حکم تابع دی (او) دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې بغیردَ څه ترون نه زوړند دی (او) کوم طرف ته چې الله تعالی غواړی هغه طرف ته ځی په هغې کښې دَ عقلمندو دَپاره څوک چې غور اوفکر کوی دَ الله تعالی دَ یووالی نښې دی. او څه خلق داسې هم دی چې غیرالله (یعنی) بتان (دَ الله) سره برابر ګرځوی دَ تعظیم اوعاجزئی په ذریعه هغوی سره دَ

داسې تعلق معامله کوی لکه څنګه چې الله تعالی سره ساتی او ایمان والا دُالله تعالی په محبت کښې ډیر سخت وی دهغوی دَ شرکاؤ دَ محبت په مقابله کښې، څکه چې هغوی په یوحال کښې هم دَ الله تعالی نه واپس نه ګرځی او کافران دَ مصیبت په وخت (خپل شریك کړې شوی شریکان پریږدی) اودَ الله تعالی طرف ته مائل کیږی. او اې محمد ﷺ که چرې ته دا خلق اووینې چاچې شریك ګرځولی دی اوظلم ئې کړې دې کله چې هغوی عذاب اوګوری (یَرَوْنَ) معروف اومجهول دواړه دی نوتاسو به یوامر عظیم (خطرناك منظر) اوګوری او اِذْ په معنی دَ اِذَا دې څکه چې پوره قدرت او غلبه هم دَ الله تعالی دَپاره ده. (جَمِيعًا) كَائِنَةً (مقدر) نه حال دې اوالله تعالی دَ سخت عذاب والا دې او یوقراءت کښې یَرَى تحتانیه سره دې او وئیلې شوی دی چې دَیری فاعل دَمخاطب ضمیردې او نور وئیلې شوی دی چې اَلَّذِيْنَ ظَلَمُوا دې او یَرَى په معنی دَ یعلم دې او اَنَّ او دَدې مابعد دَ دوو مفعولونو په ځائی دې او دَ لَوْجواب محذوف دې او معنی دا ده چې که چرې دې خلقوته په دنیاکښې معلومه شی. دَ قیامت په ورځ دَهغوی عذاب لیدلووخت کښې دَالله تعالی وحده قدرت اودَعذاب سختی نو هغوئ هیڅ چالره هم شریك اونه ګرځوی. اِذْ، سابقه اِذْ سره بدل دې اوپیشوا یعنی سرداران به دَ خپلو ماتحتانونه دَبې تعلقئ اظهارکوی یعنی دَهغوی دَ ګمراه کولودَ الزام نه به انکارکوی حالانکه عذاب به (په خپلو سترګو) ګوری او ټولې رشتې او تعلقات به ختم شی یعنی هغه تعلقات کوم چې دَهغوی په مینځ کښې دَخپلولئ او دوستئ په دنیاکښې وو (ختم به شی) دَتَقَطَّعَتْ عطف په تَبَرَّأ باندې دې او ماتحت خلق به وائی افسوس چې مونږ ته دَ دنیادَ واپسئ موقع ملاؤشی نومونږ به هم دَ دغه متبوعینو نه هم دغه شان اظهاردَ لاتعلقئ اوکړو څنګه چې نن هغوی زمونږ سره دَ لاتعلقئ اظهارکړې دې. او لَوْ دَ تمنی دَپاره دې فَنَتَبَرَّأَ جواب تمنی دې دغه شان خودنه دَهغوی دَ عذاب سختوالی او دَبعضو دَ بعضې نه دَ ویزارئ اظهاربشائی الله تعالی به هغوی ته دَخرابو اعمالو حال دا چې په هغوی باندې خپیمانتیا شروع شی اوهغوئ دَ داخلیدونه پس دَ اُور نه وتونکی نه دی. حَسَرَاتٍ په معنی ندامات، هُمْ ضمیرنه حال دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَطَلَبُوْا اٰيَةً عَلٰى ذٰلِكَ دَ مشرکانودَ طرف نه دَ الله تعالی دَ صفاتو دَ مطالبه په جواب کښې کله چې الله تعالی ﴿ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ﴾ الخ لوفرمائیل نو مشرکانودَقرآن په دې دعوئ باندې دَ دلیل مطالبه اوکړه نوالله تعالی دَدلیل په توګه ﴿ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾ (الاية) نازل کړو اِنَّ حرف مشبه بالفعل ناصب دې ﴿فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾ الخ كَائِنَةً متعلق کیدو سره دَ اِنَّ خبرمقدم دې او ﴿ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴾ دَدې اسم مؤخر دې.

قوله: فُلْكِ الَّتِي تجرى فُلْكٌ چې کله مفرد وی نومذکردې اوکه چرې جمع وی نو جمع مکسر کیدو دَ وجې نه مؤنث دې. دلته فُلْكِ مؤنث دې او قرینه الَّتِي تجرى دَدې صفت دې

سوال: جمع مکسر مفرد کښې تغیرکولوسره جوړولې شی لکه رَجُلٌ نه رِجَالٌ مگر دلته مفرد اوجمع دواړه هم په یووزن باندې دی په جمع کښې هیڅ تغیراونه شو نوبیا دا جمع مکسر څنګه شوه؟

جواب: په دې کښې تغیرمعنوی شوې دې څکه چې کله فُلك قُفْلٌ په وزن باندې وی نو مفرد وی اوکله چې دَ أُسُدٌ په وزن باندې وی نوجمع وی.

قوله: من التجارات دې کښې اشاره ده چې بِمَا يَنْفَعُ کښې ما موصوله دی ای تجرى فى البحر بالذى ينفع الناس او بعضو مَا ته مصدريه هم وئيلې دی. ای تجرى فى البحر بنفع الناس.

قوله: بِلاَ عِلاَقَة دَ عین کسره سره محسوس رابطه لکه دَ تورې سر اودَ عین فتحه سره معنوی یعنی غیرمحسوس رابطه لکه دَ عشق اومحبت رابطه یا دَحسد اوعداوت تعلق.

قوله: تَبْصُرُ مفسرعلام يَرَى تفسيرپه تَبْصُرُ سره کولوکښې اشاره اوکړه چې دَ يَرَى نه رویت بصری مراد دې نه چې قلبی څکه چې دَ رویت قلبی دَپاره به دَ دواړو مفعولونو ضرورت وی کوم چې موجودنه دی.

قوله: إِذْ په معنی إِذَا دا دَدوو سوالونو جواب دې.

سوال: ① لَوْاو إِذْماضی باندې داخلیږی نه چې په مضارع باندې دلته په مضارع باندې داخل دې دَ دې څه وجه ده؟

جواب: إِذْ يَرَوْنَ العذابَ کښې دَ رویت وقوع چونکه یقینی ده لهذا په مضارع باندې إِذْ داخل کړې شو دې دَپاره چې په تاویل دَ ماضی کیدوسره یقینی وقوع کیدو باندې دلالت اوکړی.

سوال: ② نوبیا دَمضارع په ځائی دَ ماضی صیغه راوړل پکاروو دې دَپاره چې حقیقةً په یقینی الوقوع باندې نی دلالت کړې وې.

جواب: چونکه رویت په حقیقت کښې مستقبل کښې یعنی دَ قیامت په ورځ به وی دَدې دَپاره دَمضارع صیغه راوړلوسره اشاره اوکړه.

قوله: لِأَنَّ دا جواب شرط دَمحذوف علت دې.

قوله: فَهِيَ په بمعنی يَعْلَمُ، يَرَى دَ يَعْلَمُ په معنی کښې څکه اخستې دې چې دَ ظالمانو دَالله تعالی دَعذاب سختوالې په دنیاکښې دَ سر په سترګو کتل ممکن نه دی څکه چې

دَ عذاب تحقق به آخرت کښې وی. لهذا دَ رویت نه رویت قلبی مراد دې یعنی یَرٰی دَ یَعْلَمُ په معنی کښې دې.

قوله: وفی مُعَایِنَتِهِمْ دا دَ ﴿ اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ﴾ ظرف دې.

قوله: وَقَدْ، قد محذوف منلو کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې واؤ حالیه دې او قد راواالعذاب، الذینَ اتُّبِعُوا او الذین اتَّبَعُوْا دَ دواړو د ضمیرنه حال دې ای رَائِیْنَ لکه لَقِيْتُ زیدًا راکِبَیْنِ اوچونکه ماضی بغیردَ قد حال واقع کیدې نه شی اوقد که لفظًا وی اوکه تقدیرًا لهذا دلته ئی قد مقدر منلې دې.

قوله: لَوللتَّمَنِّی، لَوْدَتمنی دَپاره دې او فَنَتَبَرَّاَدَدې جواب دې دلته دوه سوالونه پیدا کیږی.

سوال: ① دَ لو جواب لام سره کیږی نه چې فاء سره، حالانکه دلته فَنَتَبَرَّاَ فاء سره دې.

سوال: ② فَنَتَبَرَّاَ دمنصوب کیدوڅه وجه ده؟ څکه چې ناصب نه لفظًا شته دې اونه تقدیرًا.

جواب: مفسرعلام لوللتمنی وئیلوسره دَ دواړو اعتراضونو جواب ورکړې دې. دَ جواب حاصل دادې چې ذکر شوې دواړه خبرې دَلَوْ شرطیه دَپاره ضروری دی اودا لَوْ تمنیه دې لو تمنیه نه پس اِن مقدرکیدودَ وجې نه جواب تمنی منصوب کیږی (کما لایخفی علی من له درایة فی علم النحو)

[ایاتونه:۱۶۸-۱۷۳]

ونزل فيمن حرم السوائب ونحوها {يٰأيها النَّاس كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلاَلًا} حال {طَيِّبًا} صِفَة مُؤَكِّدَة أَيْ مُسْتَلَذًّا {وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَات} طُرُق {الشَّيْطَان} أَيْ تَزْيِينه {إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوّ مُبِين} بَيِّن الْعَدَاوَة {إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ} الْإِثْم {وَالْفَحْشَاء} الْقَبِيح شَرْعًا {وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّه مَا لَا تَعْلَمُونَ} مِنْ تَحْرِيم مَا لَمْ يُحَرَّم وَغَيْره {وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ} أَيْ الْكُفَّار {اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّه} مِنْ التَّوْحِيد وَتَحْلِيل الطَّيِّبَات {قَالُوا} لَا {بَلْ نَتَّبِع مَا أَلْفَيْنَا} وَجَدْنَا {عَلَيْهِ آبَاءَنَا} مِنْ عِبَادَة الْأَصْنَام وَتَحْرِيم السَّوَائِب وَالْبَحَائِر قال تعالي {أَ} يتبعونهم {ولو كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا} مِنْ أمر الدين {ولا يهتدون} إلي الحق والهمزة للإنكار {وَمَثَل} صِفَة {الَّذِينَ كَفَرُوا} وَمَنْ يَدْعُوهُمْ إلَي الْهُدَي {كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِق} يُصَوِّت {بِمَا لَا يَسْمَع إلَّا دُعَاء وَنِدَاء} أَيْ صَوْتًا وَلَا يَفْهَم مَعْنَاهُ أَيْ فِي سَمَاع الْمَوْعِظَة وَعَدَم تَدَبُّرهَا كَالْبَهَائِمِ تَسْمَع صَوْت رَاعِيهَا وَلَا تَفْهَمهُ هُمْ {صُمّ بُكْم عُمْي فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ} الموعظة {يٰأيها الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَات} حَلَالَات {مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ} عَلَي مَا أَحَلّ لَكُمْ {إن كنتم إياه تعبدون} {إنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ الْمَيْتَة} أَيْ أَكْلهَا إذْ الْكَلَام فِيهِ وَكَذَا مَا بَعْدهَا وَهِيَ مَا لَمْ يذك شرعا والحق به بِالسُّنَّةِ مَا أُبِينَ مِنْ حَيّ وَخُصَّ مِنْهَا السَّمَك وَالْجَرَاد {وَالدَّم} أَيْ الْمَسْفُوح كَمَا فِي الْأَنْعَام {وَلَحْم الْخِنْزِير} خُصَّ اللَّحْم لِأَنَّهُ مُعْظَم الْمَقْصُود وَغَيْره

ئے لَهٗ {وَمَآ أُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ} أَيْ ذُبِحَ عَلَي اسْمِ غَيْرِه وَالْإِهْلَال رَفْع الصَّوْت وَكَانُوا يَرْفَعُونَهٗ عِنْد الذَّبْح لِآلِهَتِهِمْ {فَمَنِ اضْطُرَّ} أَيْ أَلْجَأَتْهُ الضَّرُورَة إِلَي أَكْل شَيْء مِمَّا ذُكِرَ فَأَكَلَهٗ {غَيْرَ بَاغٍ} خَارِج عَلَي الْمُسْلِمِينَ {وَلَا عَادٍ} مُتَعَدٍّ عَلَيْهِمْ بِقَطْعِ الطَّرِيق {فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ} فِي أَكْله {إِنَّ اللّٰهَ غَفُور} لِأَوْلِيَائِهِ {رَحِيم} بِأَهْلِ طَاعَته حَيْثُ وَسَّعَ لَهُمْ فِي ذٰلِكَ وَخَرَجَ الْبَاغِي وَالْعَادِي وَيُلْحَق بِهِمَا كُلّ عَاصٍ بِسَفَرِهٖ كَالْآبِقِ وَالْمَكَّاس فَلَا يَحِلّ لَهُمْ أَكْل شَيْء مِنْ ذٰلِكَ مَا لَمْ يَتُوبُوا وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ

ترجمه. او (دا آيت) دَهغه خلقو باره کښې نازل شوې دې چاچې دَ سَوائب وغيره (دَبتانو په نوم ياندې آزادکړې شوې ځناور) حرام کړې وو. **خلقوا په زمکه کښې چې کوم پاک او حلال** **څيزونه دی هغه خورئ** (څکئ) طَيِّبًا، دحَلاَلاً صفت مؤکده دې. يا په معنی د مُتَلَذّذ دې. (يعنی مرغوب اوخوښ کړې شوې) **اودَ شيطان په نقش قدم باندې** (يعنی طريقه) باندې **مه ځئ** يعنی دَهغه په ښائسته کړې شوې لار باندې **هغه ستاسو ښکاره دښمن دې** يعنی دَهغه دښمنی بالکل واضحه ده **هغه تاسوته صرف دَ گناه اوفحش** يعنی شرعًا دَ قبيح خبرې حکم کوی او دَدې خبرې حکم کوی چې تاسو دَ الله تعالی باره کښې هغه خبرې اوکړئ کومې چې تاسو نه پيژنئ يعنی کوم څيزونه چې حرام کړې شوی نه دی هغه حرام کول وغيره. اوکله چې کافرانوته او وئيلې شی الله تعالی چې دَ توحيد او پاکيزه څيزونو حلت نازل کړې دې دَهغې اتباع اوکړئ نوهغوی وائی چې نه، بلکه مونږ خو به دَهغې اتباع کوو په څه چې مونږ خپل پلاران (نيکونه) موندلې (پيدا کړی) دی هغه دَ بتانو بندگی ده اوهغه سوائب اوبحائرحرام کول دی. الله تعالی فرمائی آيا دوی به دَهغوئ اتباع کوی؟ سره دَدې چې دَهغوی پلاران او نيکونه دَ دين په معامله کښې په هيڅ نه پوهيدل او نه دَحق طرف ته روان وو. او همزه دَ انکار دَپاره ده اودَ کافرانو مثال اودَهغه خلقو چې هغوی دَ هدايت طرف ته راغواړی دَهغه سړی په شان دې چې هغه چا ته آواز ورکوی چې دَ چغو سورو نه علاوه بل هيڅ نه اوری يعنی آواز چې دَهغې په معنی نه پوهيږی مطلب دا چې (دا کافران) په نصيحت اوريدو او په هغې باندې غور کولو کښې دَ ځناورو په شان دی چې دَ خپل څرونکی آواز خو اوری مگر په هغې پوهيږی نه. **هغه کاڼه گونگيان او ړانده دی چې په نصيحت نه پوهيږی.** **اې دَ ايمان والو! کوم حلال څيزونه چې مونږ تاسو ته درکړی دی دَهغې نه خورئ څکئ** او کوم څيزونه چې ستاسو دَپاره حلال کړې دی په هغې باندې **دَالله تعالی شکر کوئ که چرته تاسو** **هم دَهغه بندگی کونکی. او کوم څيزونه چې ستاسو دَپاره حرام کړې شوی دی** (په هغې کښې يو) مرداره ده يعنی دَهغې خوراك حرام دې ځکه چې خبرې اترې هم دَ خوراك باره کښې دی اودغه شان دَدې نه پس ذکر شوی (څيزونو خوراك هم حرام دې) اوهغه مرداره ده کوم چې په شرعی طريقه سره ذبح شوې نه وی او په حکم دَحديث په مرداره کښې هغه ټکړه هم

شامل کړې شوې ده چې دَ ژوندی ځاروی نه پرې کړې شوې وی او دَ مردارې نه کب او ملخ مستثنٰی کړې شوې دې او بهیدونکې وینه ده لکه چې په سورت انعام کښې دی او دَ خنزیر غوښه (حرام کړې شوې د ه) او (حرمت دَ پاره) ئې دَ غوښې تخصیص دَدې دَپاره کړې شوې دې چې (خوراك) کښې هم دغه لوئی مقصد دې. نور ځیزونه (مثلاً رګ پټې وغیره) دَدې تابع دی او هغه ځناور (هم حرام دې) په کوم چې دَ غیرالله نوم اخستې شوې وی یعنی دَ غیرالله په نوم باندې ذبح کړې شوې وی (اهْلال) آواز اوچتولوته وائی او مشرکانو به دَ ذبح په وخت دَخپلو معبودانو نوم په اوچت آواز سره اخستلو. نوکه چرې څوک مجبورشی یعنی ضرورت هغه دَ دغه مذکوره ځیزونو په خوړلو مجبورکړې وی حال داوی چې هغه باغی نه وی یعنی دَ مسلمانانو خلاف بغاوت کونکې نه وی اونه دَ لارې شوکولو وغیره په ذریعه په مسلمانانو باندې ظلم کونکې وی نودَ داسې سړی دَپاره دَ هغې په خوړلوکښې هیڅ ګناه نشته. بیشکه الله تعالی بخښونکې دې په خپلو دوستانو باندې مهربان دې او په اطاعت کونکو باندې چې هغوی ته په دې معامله کښې ئې وسعت (آسانی) ورکړه او باغی او ظالم دَ دې حکم نه بهر شو او (باغی او ظالم) سره هر هغه سړې شامل دې چې دَ ګناه په سفرکښې وی لکه تختیدلې غلام او په ظلم سره مال وصول کونکې. دَداسې خلقو دَپاره دَ ذکرشوی ځیزونونه دَ یوځیز خوړل حلال نه دی ترکوم وخته پورې چې توبه اونه کړی. او دَ امام شافعی رحمه الله هم دغه مذهب دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: يَاأَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا دَدې آیت مخاطب دَمکې مشرکان دی. دَ سورت مدنی کیدو دَ وجې نه، اودَسورت نزول اګرچې مدنی دې لیکن چې نزول مدنی وی او خطاب اهل مکه ته وی نو په دې کښې هیڅ تعارض نشته.

قوله: حالٌ یعنی حلالًا، مِمَّا فی الارض نه حال دې. دکُلُوا مفعول به نه دې لکه چې بعضې حضراتو وئیلی دی ځکه چې په دې صورت کښې مِمَّا فِي الارضِ، حلالًا سره صفت یا حال وی او دَ صفت تقدیم په موصوف باندې اودَحال تقدیم په ذوالحال باندې خلاف ظاهردې. لکه بعضې حضراتو حلالًا دکُلُوامفعول به هم ګرځولې دې. او مِمَّا فی الارضِ دَ حلالًانه حال مقدم ګرځولې دې. دَ ذوالحال نکره کیدو دَ وجې نه حال مقدم کړې شوې دې.

قوله: الَسَّوائب دا دَسَائِبَةٌ جمع ده هغه اوښې ته وائی کومه چې دَ بت وغیره په نوم باندې بریخودلې شی او تعظیمًا دهغې نه دَ څه قسم فائده نه شی اخستلې.

قوله: ونحوها نحونه بَحَائِر وغیره مراد دی. بحیره هغه ځناورته وائی کوم چې دَ غیرالله په نوم باندې آزاد کړې شوې وی او دَعلامت په توګه دَهغې غوږ څیرلې شوې وی.

قوله: طَيِّبًا،صفة مؤكدة دَ دې اضافه مقصد دَ يو سوال جواب دې.

سوال: كله چې دَحلالاً نه شرعًا پاكيزه څيز مراد وی نوبيا دَدې نه پس طيبًا لره د ذكر كولو څه فائده ده؟ ځكه چې كوم څيز شرعًا حلال وی هغه پاك هم وی.

جواب: دَ جواب خلاصه داده چې طيبًا صفت مؤكده دې نه چې احترازيه.

قوله: اومُسْتَلَذًّا دَ مفعول صيغې سره يعنى كوم څيز چې مرغوب او خوښ كړې شوې وى په هغه صورت كښې دَطيبًا صفت مقيدوى دَ كوم نه چې ناخوښه مثلاً تريخ او بې خونده څيزونه خارج شى. مُسْتَلَذًّا به صفت مخصصه په هغه صورت كښې وى كله چې اَوْ سره وى او بعضې نسخو كښې وَمُسْتَلَذًّا واؤ سره دې. په دې صورت كښې به طيبًا صفت مؤكده وى يعنى دَ نفس مؤمن مرغوب شئ.

قوله: اى تَزْيِينَهُ په دې كښې دَ حذف مضاف طرف ته اشاره ده اودَ تزئين نه شيطانى وسوسې مراد دى.

قوله: يامركم بالسُّوء دا دَ إِنَّهُ لكم عدوٌ مُبِين دَپاره دَعلت په شان دې يعنى هغه ستاسو دښمن دَدې وجه دې چې هغه تاسو ته دَ خرابو او فحش خبرو حكم كوى. السُّوء هر هغه عمل ته وائى په كوم سره چې الله تعالى ناراض شى كه هغه عمل لوئى وى اوكه وړوكې اودَالْفَحْشَاء نه مراد كبيره ګناه ده. لكه چې داعطف خاص على العام دَ قبيل نه دې مګر دَ مفسرعلام دَ كلام نه دواړو كښې تساوى مستفاد كيږى.

قوله: مِن تحريم مَالَم يُحَرِّمْ الخ دا په مالاتعلمون كښې دَما بيان دې.

قوله: اَيَتَّبِعُوْنَهُم په دې كښې اشاره ده چې همزه فعل مقدرباندې داخل ده. او وَلَوْكَانَ فعل مقدر مفعول نه حال دې. تقديرى عبارت دادې أَيَتَّبِعُوْنَهُم فى حَالِ فرضهم غير عاقلين ولا مهتدين همزه انكارى دَتعجب دَپاره ده مفسرعلام أَيَتَّبِعُوْنَهُم كښې همزه نه پس فعل مقدر منلو سره دَ يو سوال جواب طرف ته اشاره كړې ده.

سوال: اَوَلَوْكَانَ كښې لَوْ شرطيه دې لهذا دَدې دَپاره جواب شرط كيدل ضرورى دى حالانكه دلته جواب شرط موجود نه دې.

جواب: لَوْ باندې چې كوم واؤ داخل دې هغه حاليه دې لهذا لَوْ ته په دې صورت كښې دَجواب ضرورت نشته. ځكه چې شرط هغه وخت حال واقع كيږى كله چې دَهغې نه دَ شرطيت معنى سلب كولې شى. دَدې وجه چې جمله مقدمه محذوفه په صورت كښې په لَوْ كښې معنى دَ شرطيت باقى نه پاتې كيږى لهذا دې ته دَ جواب هم ضرورت نه وى. (ترويح الارواح)

قوله: صفة يعنى مثل په معنى د صفت دې نه چې په معنى د مشابه، دا دَ يواعتراض جواب دې

اعتراض: كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ كښې دكاف تشبيه ضرورت نشته ځكه چې دَمثل ذكركولونه پس كاف تشبيه بلاوجه تكرار دې.

جواب: رومبې مثل معنى دَ تشبيه نه ده بلكه دَدې معنى دَ صفت ده لهذا اوس هيڅ تكرار نشته.

قوله: النعق والنعيق، صوت الراعي بالغنم، دَ ګډبه چيلئ شرل.

قوله: وَمَنْ يَدْعُوهم اِلَى الهُدٰى دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال: په آيت كښې كافرانوته ناعق (شپونكى) سره تشبيه وركړې ده ځكه چې دَ آيت ترجمه داده اودكافرانو مثال دَهغه ناعق (شپونكى دې) چې خاروو ته چغې وهى حالانكه واقعه داسې نه ده ځكه چې ناعق داعى (دَ هداياتوطرف ته رابلونكې رسول يا مسلمان دې) اوكفار منعوق مدعو (مثل بهائم) دې.

جواب: دلته معطوف محذوف دې اوهغه مَنْ يَدْعُوهم اِلَى الهُدٰى دې. لهذا كافرانو او دَ هغوى داعى ته شپونكى او بهائم سره تشبيه وركړې شوې ده يعنى كفار اودَهغوى داعى مشبه دې او بهائم اودَهغې شپونړكې مشبه به دى لكه چې دا تشبيه مركب بالمركب ده. په كوم كښې چې د يوې مجموعې دَ بلې مجموعې سره تشبيه وركولې شى لهذا اوس هيڅ اشكال نشته.

سوال: كه چرې دَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا نه وړاندې مضاف محذوف اومنلې شى لكه چې قاضى وغيره مضاف محذوف منلې دې. تقديرى عبارت به داسې شى مَثَلُ داعِي الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْنَ ينعِقُ اوس به مطلب داسې شى چې دَ داعى مثال دَناعق (شپونړكى) په شان دې يعنى داعى ته په ناعق سره تشبيه وركړې شوې ده او په دې كښې هيڅ حرج نشته.

جواب: مطلب خو صحيح كيږى مګر په داسې صورت كښې تشبيه داعى (دَمسلمان يارسول) حالت بيانولودَپاره وى نه چې مدعو حالت بيانولودَپاره حالانكه مقصود دَ دواړو حالت بيانول دى او اهم د مدعو (كفارو) حالت بيانول دى لكه چې پخپله مفسر علام دې خبرې طرف ته خپل قول هم في سماع الموعظة الخ سره اشاره كړې ده. (دَنور تفصيل دَپاره تفسير مظهرى ج ۱ ص ۱۹۷ طرف ته رجوع اوكړئ)

[ایاتونه:۱۷۴ - ۱۷۶]

{إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ} الْمُشْتَمِلِ عَلَى نَعْتِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمُ الْيَهُودُ {وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا} مِنَ الدُّنْيَا يَأْخُذُونَهُ بَدَلَهُ مِنْ سَفَلَتِهِمْ فَلَا يُظْهِرُونَهُ خَوْفَ فَوْتِهِ عَلَيْهِمْ {أُولَئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ} لِأَنَّهَا مَآلُهُمْ {وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ} غَضَبًا عَلَيْهِمْ {وَلَا يُزَكِّيهِمْ} يُطَهِّرُهُمْ مِنْ دَنَسِ الذُّنُوبِ {وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِمٌ هُوَ النَّارُ {أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَى} أَخَذُوهَا بَدَلَهُ فِي الدُّنْيَا {وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ} الْمُعَدَّةِ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ لَوْ لَمْ يَكْتُمُوا {فَمَا أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ} أَيْ مَا أَشَدَّ صَبْرَهُمْ وَهُوَ تَعَجُّبٌ لِلْمُؤْمِنِينَ مِنِ ارْتِكَابِهِمْ مُوجِبَاتِهَا مِنْ غَيْرِ مُبَالَاةٍ وَإِلَّا فَأَيُّ صَبْرٍ لَهُمْ {ذَلِكَ} الَّذِي ذُكِرَ مِنْ أَكْلِهِمُ النَّارَ وَمَا بَعْدَهُ {بِأَنَّ} بِسَبَبِ أَنَّ {اللَّهَ نَزَّلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ} مُتَعَلِّقٌ بِنَزَّلَ فَاخْتَلَفُوا فِيهِ حَيْثُ آمَنُوا بِبَعْضِهِ وَكَفَرُوا بِبَعْضِهِ بِكَتْمِهِ {وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِي الْكِتَابِ} بِذَلِكَ وَهُمُ الْيَهُودُ وَقِيلَ الْمُشْرِكُونَ فِي الْقُرْآنِ حَيْثُ قَالَ بَعْضُهُمْ شِعْرٌ وَبَعْضُهُمْ سِحْرٌ وَبَعْضُهُمْ كَهَانَةٌ {لَفِي شِقَاقٍ} خِلَافٍ {بَعِيدٍ} عَنِ الْحَقِّ

ترجمه: بیشکه چې هغه خلق کوم چې پټوی دا کتاب (تورات) کوم چې الله تعالی نازل کړې دې اودمحمد ﷺ په صفاتو باندې مشتمل دې (اوپټونکی) یهود دی اودهغې په عوض دنیاوی لږه شان فائده اخلی او د پټولو په بدله کښې د خپلو عوامونه معمولی شان قیمت وصول کوی. اودغه معمولی شان قیمت د فوت کیدو د ویرې د رسول الله ﷺ صفات نه ښکاره کوی. هم دغه هغه خلق دی چې په خپلو خیټوکښې اور دکوی ځکه چې دوزخ ددوی انجام دې او الله تعالی به په هغوی باندې د قیامت په ورځ دغصه کیدو د وجې هغوی سره خبرې نه کوی. او نه به هغوی د ګناهونو د ګندګئی نه پاکوی. اودهغوی دپاره دردناک عذاب دې اوهغه اور دې. اَلِيْمٌ په معنی د مولِمٌ دې. هم دغه هغه خلق دی چاچې د هدایت په بدله کښې ګمراهی اخستې ده یعنی په دنیاکښې دهدایت په ځائې ګمراهی اخستې ده او عذاب ئې د بخښنې په عوض کښې اخستې دې. (یعنی) هغه مغفرت چې دهغوی دپاره تیارکړې شوې وو که هغوی کتمان یعنی پټول نه ووکړې، نودا خلق په څومره اندازه باندې په اور صبرکونکی دی. (یعنی) څومره سخت دې صبردهغوی او دلاپرواهئی نه په موجباتو د اوردجهنم ارتکاب کولو باندې مسلمانانوته تعجب ورکول دی ګنی دهغوی صبر څه دې؟ اودا د اور خوراك دهغې نه پس په دې سبب سره دې چې الله تعالی کتاب (تورات) په حق سره نازل کړې دې (بالحق) نَزَّلَ سره متعلق دې نو په هغې کښې هغوی اختلاف اوکړو په داسې طریقه چې په څه حصه ئې ایمان راوړو اوڅه حصې نه ئې انکار اوکړو هغه ئې پټه کړه او کومو خلقو چې په کتاب کښې په ذکرشوې طریقه باندې اختلاف اوکړو بیشکه هغه هم یهودیان دی او

وئيلې شوی دی چې په قرآن کښې اختلاف کونکی مشرکان دی په داسې طريقه چې په هغوی کښې بعضو وئيلی چې (قرآن) شعردې او بعضو وئيلی چې جادو دې او بعضو وئيلی کهانت دې بيشکه دا خلق په اختلاف کښې دَ (حق نه) ډير لرې دی.

دَ قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: مِنَ الْكِتٰبِ دا دَ ضميرمحذوف نه حال دې، تقديری عبارت داسې دې مَا اَنْزَلَهُ الله كائنًا مِنَ الْكِتَابِ.

قوله: مَا يَأْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ، فِيْ بُطُوْنِهِمْ دَ اضافه مقصد دَ مجاز احتمال دفع کول دی ځکه چې اکل مجازًا دَ غصب په معنی کښې هم استعماليږی. وئيلی شی اَكَلَ فلانٌ اَرضِي فلانکی سړی زما زمکه اوخوړله يعنی غصب ئې کړله لکه چې طَآئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ کښې هم بِجَنَاحَيْهِ اضافه دَ مجاز احتمال دفع کولو دَپاره دې که دَ اکل نار نه په جهنم کښې اکل نار مراد دې نو دَ نار حقيقی معنی به مرادوی يعنی درحقيقت به اور خوری اوکه چرته په دنياکښې اکل نار مراد وی نومجازًا به نار مراد وی يعنی دَ نار سبب به مراد وی. ځکه چې دَ رشوت مال به دَ دوزخ دَ اور سبب وی. اوکه دَ نار نه بالقوه نار مراد وی نو په دنياکښې هم دَ نار حقيقی معنی مراد کيدې شی لکه چې ماچس بالقوه اور وی. مفسرعلام لِاَنَّهَا مَاٰلُهُمْ اضافه کولو سره دَ مجازی معنی طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ دا دَ تعجب صيغه ده ای مَا اَصْبَرَهم على اعمال اهل النار او دَ تعجب نه مراد تعجيب يعنی په تعجب کښې اچول دی. اوتعجب دَ بنديګانو په نسبت دې ځکه چې دَ تعجب منشا دَ سبب نه ناواقفيت دې تعجب وائی انفعال النفس مما خفي سببه يعنی تعجب نوم دې دَ داسې څيز منفعل کيدو دَ کوم سبب چې پټ وی اودا دَ شان باری دَپاره محال دې. او بعضې حضراتو مَا اَصْبَرَهُمْ کښې ما استفهاميه دَپاره دَ توبيخ وئيلې ده ای ای شئ اَصْبَرَهم على عمل النار. (فتح القدير ملخصًا)

[اياتوله: ۱۷۷ - ۱۷۹]

{لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ} فِي الصَّلَاةِ {قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ} نَزَلَ رَدًّا عَلَي الْيَهُوْدِ والنصاري حين زَعَمُوا ذٰلِكَ {وَلٰكِنَّ الْبِرَّ} أَيْ ذَا الْبِرِّ وَقُرِئَ بِفَتْحِ الْبَاءِ أَيْ الْبَارَّ {مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰئِكَةِ وَالْكِتٰبِ} أَيْ الْكُتُبِ {وَالنَّبِيّٖنَ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰي} مَعَ {حُبِّه} لَهُ {ذوي القربى} القرابة {واليتامى والمساكين وابن السَّبِيلِ} الْمُسَافِرِ {وَالسَّآئِلِيْنَ} الطَّالِبِيْنَ {وَفِي} فَكِّ {الرِّقَابِ} الْمُكَاتَبِيْنَ وَالْأَسْرٰي {وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ} الْمَفْرُوْضَةَ وَمَا قَبْلَه فِي التَّطَوُّعِ {وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا} اللّٰهَ أَوْ النَّاسَ {وَالصّٰبِرِيْنَ} نُصِبَ عَلَي الْمَدْحِ {فِي الْبَأْسَآءِ} شِدَّةِ الْفَقْرِ {وَالضَّرَّآءِ} الْمَرَضِ {وَحِيْنَ الْبَأْسِ}

وَقْت شِدَّة الْقِتَال فِي سَبِيل الله {أُولَٰئِكَ} الْمَوْصُوفُونَ بِمَا ذُكِرَ {الَّذِينَ صَدَقُوا} فِي إِيمَانهمْ أَوْ ادِّعَاء الْبِرّ {وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ} الله {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ} فُرِضَ {عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ} الْمُمَاثَلَة {فِي الْقَتْلَى} وَصْفًا وَفِعْلًا {الْحُرُّ} يُقْتَل {بِالْحُرِّ} وَلَا يُقْتَل بِالْعَبْدِ {وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَىٰ بِالْأُنْثَىٰ} وَبَيَّنَتْ السُّنَّة أَنَّ الذَّكَر يُقْتَل بِهَا وَأَنَّهُ تُعْتَبَر الْمُمَاثَلَة فِي الدِّين فَلَا يُقْتَل مُسْلِم وَلَوْ عَبْدًا بِكَافِرٍ وَلَوْ حُرًّا {فَمَنْ عُفِيَ لَهُ} مِنْ الْقَاتِلِينَ {مِنْ} دَم {أَخِيهِ} الْمَقْتُول {شَيْءٌ} بِأَنْ تَرَكَ الْقِصَاص مِنْهُ وَتَنْكِير شَيْء يُفِيد سُقُوط الْقِصَاص بِالْعَفْوِ عَنْ بَعْضه وَمِنْ بَعْض الْوَرَثَة وَفِي ذِكْر أَخِيهِ تَعَطُّف دَاعٍ إِلَى الْعَفْو وَإِيذَان بِأَنَّ الْقَتْل لَا يَقْطَع أُخُوَّة الْإِيمَان وَمَنْ مُبْتَدَأ شَرْطِيَّة أَوْ مَوْصُولَة وَالْخَبَر {فَاتِّبَاعٌ} أَيْ فِعْل الْعَافِي اتِّبَاع لِلْقَاتِلِ {بِالْمَعْرُوفِ} بِأَنْ يُطَالِبهُ بِالدِّيَةِ بِلَا عُنْف وَتَرْتِيب الِاتِّبَاع عَلَى الْعَفْو يُفِيد أَنَّ الْوَاجِب أَحَدهمَا وَهُوَ أَحَد قَوْلَيْ الشَّافِعِيّ وَالثَّانِي الْوَاجِب الْقِصَاص وَالدِّيَة بَدَل عَنْهُ فَلَوْ عَفَا وَلَمْ يُسَمِّهَا فَلَا شَيْء وَرَجَحَ {وَ} عَلَى الْقَاتِل {أَدَاءٌ} الدِّيَة {إِلَيْهِ} أَيْ الْعَافِي وَهُوَ الْوَارِث {بِإِحْسَانٍ} بِلَا مَطْل وَلَا بَخْس {ذَٰلِكَ} الْحُكْم الْمَذْكُور مِنْ جَوَاز الْقِصَاص وَالْعَفْو عَنْهُ عَلَى الدِّيَة {تَخْفِيفٌ} تَسْهِيل {مِنْ رَبِّكُمْ} عَلَيْكُمْ {وَرَحْمَةٌ} بِكُمْ حَيْثُ وَسَّعَ فِي ذَلِكَ وَلَمْ يُحَتِّم وَاحِدًا مِنْهُمَا كَمَا حَتَّمَ عَلَى الْيَهُود الْقِصَاص وَعَلَى النَّصَارَى الدِّيَة {فَمَنِ اعْتَدَىٰ} ظَلَمَ الْقَاتِل بِأَنْ قَتَلَهُ {بَعْدَ ذَٰلِكَ} أَيْ الْعَفْو {فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم فِي الْآخِرَة بِالنَّارِ أَوْ فِي الدنيا بالقتل {وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ} أَيْ بَقَاء عَظِيم {يَا أُولِي الْأَلْبَابِ} ذَوِي الْعُقُول لِأَنَّ الْقَاتِل إِذَا عَلِمَ أَنَّهُ يُقْتَل ارْتَدَعَ فَأَحْيَا نَفْسه وَمَنْ أَرَادَ قَتْله فَشُرِعَ {لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} الْقَتْل مخافة القود

ترجمه: ستاسو مخونه مشرق او مغرب طرف ته کول نيکي نه ده، بلکه ...

ترجمه: تولي ښيګړي په مانځه کښې مشرق اومغرب طرف ته مخ کولوکښې نه د ی. دا آيت دَ يهودو اونصارىٰ په رد کښې نازل شوې دې ځکه چې هغوی هم دا قسم عقيدې لرلې بلکه ښه يعنی نيک هغه سړې دې چې په الله تعالی باندې او په ورځ دَ آخرت باندې او په فرښتو باندې او (آسمانی) کتابونو باندې ايمان لرونکې وی او دَ البِرّ په ځائی باندې البارّ هم لوستلې شوې دې. او څوک چې دَ مال سره دَ محبت لرلو باوجود خپلوانوته يتيمانو ته مسکينانوته مسافروته او سوال کونکوته ورکړی او مکاتبوته اودَ قيديانو په آزادولوکښې خرچ کړی دَ مونځ پابندی اوکړی او فرض زکوة ورکړی ماقبل (کښې ذکرشوې زکوة) نه نفلی صدقه مراد ده (او نيک هغه خلق دی) چې څوک الله تعالی سره يا خلقو سره عهد کوی نوپوره کوئی. الصَّابِرِينَ منصوب بالمدح دې او تنګی (يعنی) په سخت حاجت اوتکليف کښې يعنی بيمارئی کښې او دَ الله تعالی په لارکښې دَ سخت جنګ په وخت صبرکونکی دی. دا خلق يعنی دَ مذکوره صفاتو حاملين په خپل ايمان او دَ نيکئ په دعویٰ کولوکښې رښتونی دی. اوهم دغه خلق دَالله تعالی نه ويريدونکی دی. اې ايمان والوپه تاسو باندې دَ قتل شوو باره کښې وصفًا فعلاً مماثلت (برابری) فرض کړې شوې ده. آزاد به دَآزاد په بدله کښې قتل کولې شی او دَغلام په عوض به (آزاد) نه شی قتل کولې او غلام دَ غلام په عوض کښې او ښځه دَښځې په عوض کښې (قتل

کړنی) او په سنت کښې بیان کړې شوی دی چې سړی به د ښځو په عوض کښې قتل کولې شی او دا چې په دین کښې به د مماثلت اعتبارکولې شی لهذا مسلمان سره دَدې چې غلام وی د کافر په عوض اګرچې آزاد وی نشی به قتل کولې. او که د قاتلینونه څوک دَخپل مقتول رور دَ وینې معافی ورکړی په داسې طریقه چې دَهغه نه قصاص معاف کړې شی اودَ شئ تنکیردَ بعضې وارثانو دَ طرف نه دَ قصاص مطالبه اودَ بعضو دَ طرف نه دَ قصاص معافئی په صورت کښې دَ قصاص دَ ساقط کیدو فائده ورکوی. او دَ رور ذکر کولو کښې دَمعافئی داعی شفقت دې او دَدې خبرې اعلان دې چې قتل اخوة ایمانی نه قطع کوی او مَنْ مبتداء دې شرطیه دې یاموصوله او فاتباع خبر دې نودَمعاف کونکی قاتل په معروف طریقه باندې تعاقب (مطالبه) کول دی په داسې طریقه چې دَ سختئی نه بغیر (نرمئی سره) مطالبه اوکړی او په معافئی باندې اتباع مرتب کول دَدې خبرې فائده ورکوی چې دې دواړو نه یوواجب دې. اودا دَ امام شافعی رحمه الله دَ دوو اقوالونه یوقول دې اودویم قول دادې چې واجب قصاص دې. اودیت دَدې بدل دې. نوکه دَمقتول وارث معاف کړو اودَ دیت تذکره ئی اونه کړه نودَمقتول دَ وارثانودَپاره هیڅ نشته او هم دغه قول راجح ګرځولې شوې دې او په قاتل باندې معافی کونکې یعنی وارث له دیت په ښه طریقه رسول دی. په داسې توګه چې بغیردَ کمی او ټال مټول نه ئی اورسوی. دا حکم (یعنی) دَ قصاص جواز اودَ دیت په عوض دَ قصاص معافی ستاسو دَرب دَ طرف نه آسانی او رحمت دې څکه چې په دې کښې وسعت کړې شوې دې او (په متعین توګه) په دې دواړو کښې یوواجب نه دې لکه چې په یهودو باندې (صرف) قصاص واجب کړې شوې وواو په نصاریٰ باندې (صرف) دیت واجب کړې شوې وو. بیا چاچې په قاتل باندې زیاتې اوکړو په داسې طریقه چې دَمعاف کولونه پس ئی هغه قتل کړو نودَهغه دَپاره آخرت کښې دَ اور دردناک عذاب دې یا په دنیاکښې قتل دې. اې عقل مندو ستاسو دَپاره په قصاص کښې ژوندون دې یعنی بقاء عظیم دې څکه چې قاتل ته کله داعلم اوشی چې هغه به هم قتل کولې شی نوهغه به (قتل) نه منع شی نو هغه په څپله څپل ځان بچ کړو اودَ چا دَ قتل اراده ئی چې کړې وه هغه هم. لهذا ستاسو دَپاره قانون قصاص مشروع کړې شوې دې دَپاره چې تاسو دَ قصاص دَ ویرې نه دَ قتل ‌نه بچ شئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لَيْسَ الْبِرَّ. لَيْسَ ماضی جامد فعل ناقص دې دَدې مضارع مستعمل نه ده څکه چې لَيْسَ سره دَدې چې دَ ماضی صیغه ده خودَدې معنی نفی للحال دَپاره دې. لَيْسَ په اصل کښې لَيِسَ په وزن دَ فَعِلَ وو که چرې دَ لَيْسَ دَپاره یاء ساکنه دَ لَيْتَ په شان لازم نه وې نو په

لَیۡسَ کښې یاء ساکن ماقبل مفتوح کیدو دَوجې نه یاء الف سره بدلیدله نو لاَسَ به کیدلو.

قوله: البرَّ بالنصب، البرَّد لَیۡسَ خبر مقدم کیدودَوجې نه منصوب دې. او اَنۡ تُوَلُّوۡا په تاویل مصدر کیدوسره دَ لَیۡسَ اسم مؤخردې اوبعضو قراء البرُّ اسم لیس گرځولوسره مرفوع هم لوستلي دې.

قوله: اَنۡ تُوَلُّوۡا تاسو مخ کړئی تَوۡلِیَةٌ نه مضارع جمع مذکرحاضر، نون اعرابی عامل ناصب دَ اَنۡ دَ وجې نه پریوتلې دې دا دَ اضدادنه دې دَدې معنی مخ کول اومخ اړول دَ دواړو دَپاره راځی.

قوله: لَیۡسَ البرَّباندې سورت بقره نصف شو نصف اول اصول دین اوبنی اسرائیلو په بیان باندې مشتمل دې اودَنصف ثانی غالبه حصه احکام فرعیه تفصیلیه سره متعلق دی.

قوله: فی الصلوٰة، فی الصلوٰة سره مقیدکولومقصد دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چې خارج صلوٰة کوم طرف ته هم مخ کول دَ چا په نیز مطلوب اومحمود نه دی.

قوله: ردًّاعلی الیهودوالنصاری.

تنبیه: دا تردید دَ نصاریٰ باره کښې خو صحیح دې ځکه چې هغوی په عبادت کښې مشرق طرف ته مخ کوی خو دَ یهودو باره کښې صحیح نه دې ځکه چې یهودیان په عبادت کښې دَ بیت المقدس طرف ته مخ کوی نه چې دَمغرب طرف ته. او بیت المقدس په مدینه کښې دَ شمال طرف ته دې نه چې دَ مغرب طرف ته (فیه مافیه) لهذا که دَ یهودو اونصاریٰ تخصیص نه کولوسره مطلق طرف مراد واخستلې شی نو په دې طریقه به په عبادت کښې هیڅ طرف مقصود اومطلوب نه شی اصل مطلوب امتثال امردې. بار بار تحویل قبله کولوکښې هم دې طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: ذَالبِرّوَلٰکِنَّدَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ یوسوال جواب دې.

سوال: لٰکِنَّ البِرَّمَنۡ اٰمَنَ کښې دَ مصدر حمل په ذات کیږی کوم چې صحیح نه دې ځکه چې ددې ترجمه داده نیکی هغه ده چې په الله باندې ایمان راوړی. حالانکه دا صحیح نه ده ددې دوه جوابونه ورکړې دی.

جواب: ① دا چې دَمصدرماقبل ذومحذوف اومنلې شی ای ذَالبِرّ دغه شان به مصدر اسم فاعل جوړشی او ترجمه به داسې شی نیکئ والا (یعنی) نیك هغه دې چې په الله باندې ایمان راوړی.

جواب: ② ئی دا ورکړې دې چې بِرٌّ مصدر بَارٌّ دَ اسم فاعل په معنی کښې دې په دې

صورت کښې د حمل مصدر علی الذات اعتراض به هم ختم شی بعضو حضراتو یودریم جواب ورکړې دې دَدې ماحصل دادې چې مصدر دَ خبرپه طرف کښې محذوف اومنلې شی او تقدیرعبارت به داشی لٰکِنَّ البِرَّبِرُّمَنْ آمَنَ په دې صورت کښې هم څه اعتراض باقی نه پاتې کیږی.

قوله: وَآتَى الْمَالَ عَلٰى مع حُبِّهٖ لَهٗ، علی په معنی د مع دې څکه چې دلته دَ استعلاء معنی صحیح نه ده.

قوله: حُبِّهٖ لَهٗ، لهٗ په ضمیرکښې درې احتماله دی: ① چې دَ مال طرف ته راجع وی یعنی دَ مال حاجت او ضرورت نه باوجود دَالله تعالی په لارکښې مال خرچ کوی. ② دَالله تعالی طرف ته راجع وی یعنی دَالله تعالی دَ محبت دَ وجې نه دَالله تعالی په لارکښې مال خرچ کوی. ③ آتَی نه چې کوم دَ اِیتان مفهوم دې هغه طرف ته راجع وی یعنی دَالله تعالی په لارکښې ورکول محبوب ګڼړلوسره حاجت مندو ته ورکوی.

قوله: عَلٰی حُبِّهٖ، دَحال کیدودَ وجې نه منصوب دې اوذوالحال دَ آتَی ضمیردې. (ای آتی المال حال محبته له)

قوله: القربی، مصدردې نه خودَ قریبٌ جمع ده اونه دَ اَقْرَبُ مؤنث دې اودَدې قرینه دَ ذوا اضافت دې که چرې قربیٰ دَ قریب جمع یا دَ اقرب مؤنث وی نودَ ذو اضافت به صحیح نه شی.

قوله. والموفون بعهدهم ددې عطف په مَنْ آمَنَ باندې دې.

قوله: نصب علی المدح دَدې عبارت مقصد دَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: وَالصّٰبِرِيْنَ رفع سره کیدل پکاروو څکه چې دا په الموفون باندې عطف دې.

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې الموفون باندې عطف تقاضه اګرچې داده چې الصّٰبرونَ رفع سره وی لیکن نصب ورکړې شو دې دَپاره چې مقصد بدرجه اتم مکمل وی. لهذا دَ اَمْدَحُ مقدر دَ وجې نه الصابرینَ منصوب دې. اختصار پریخودوسره دَ اطناب اختیارولو وجه داده چې دا مقام مقام مدح دې او کله چې په مقام مدح کښې صفات کثیره ذکر کولې شی نوښه طریقه داده چې دَدې اعراب مختلف وی څکه چې دَاعرابونو اختلاف په انواع متعدده باندې دلالت کوی او اتحاد فی الاعراب په نوع واحدباندې دلالت کوی. لهذا کله چې په اعراب کښې اختلاف وی نو مقصد به حمد اومدح په طریقه اکمل پوره کیږی لکه چې والصابرون صفت مقطوعه عن الموصوف دې او موصوف الموفون دې اودَ صفت قطع په موصوف سره جائزده. لکه چې دَالله تعالی قول وامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ کښې دې.

قوله: أُولٰئِكَ مبتداء الَّذِيْنَ صدقُوا جمله كيدو سره دَ مبتداء خبر اول، أُولٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ جمله كيدو سره خبرثاني، دا جمله مستانفه هم ښكاري.

قوله: اَلْقَتْلٰى دَ قتيل جمع ده په معنى د مقتول.

قوله: وَصْفًا وفعلاً دَ مماثلت في الوصف مطلب دادې چې دَ حراوعبد تفاوت نه وى اودَ مماثلت في الفعل مطلب دادې چې په كومه طريقه اوكومه آله سره مقتول قتل كړې شوې دې قاتل به هم هغه شان قصاصاً قتل كړې شى. كه په سوزولوسره ئى قتل كړې دې نو قاتل به هم سوزولوسره قتل كولې شى او كه په اوبوكښې ډوبولوسره قتل كړې وى نو قاتل به هم په اوبوكښې ډوبولوسره قتل كولې شى على هذا القياس.

قوله: الماثلة دې لفظ سره دا شبه لرې كړې شود چې دَ قصاص صله فى نه راځى خودلته صله فى استعمال شوې ده.

جواب: قصاص دَ مماثلث معنى ته متضمن دې دَدې دَپاره فى صله راوړل صحيح دى.

قوله: تنكير شئٍ يُفيدُ سقوطَ القصاص الخ يعنى په شئ كښې دَ فاعل معنى كيدو دَ وجې اصل تعريف دې خو نكره راوړلوسره ئى اشاره اوكړه چې كه يووارث معاف كړو نوقصاص به ساقط شى.

قوله: وايذان بأن القتل لا يقطعُ اخوةَ الايمان په دې سره په معتزله باندې رد كول مقصود دې. قتل ناحق چونكه كبيره گناه ده چې انسان دَمعتزله په نيز دَاسلام نه خارج كرى او په كافر او مسلمان كښې هيڅ اخوة نه وى مگر مِنْ دَمِ اخِيهِ وئيلوسره اشاره اوكړه چې قتل ناحق سره دَدې چې كبيره گناه ده مگر دَ اسلام نه نه خارج كوى گنى دې ته به ئى اخ نه وئيل.

قوله: وَمَنْ مبتداء دې كه شرطيه وى اوكه موصوله او فَاتِّبَاعٌ بِالمعروفِ دَدې خبر دې جواب شرط كيدو دَ وجې فاء داخل ده مطلب دادې كه دَ مقتول وارثانودَ قاتل نه قصاص معاف كړو او په ديت باندې رضا شو نو قاتل ته داهدايت دې چې ديت دې په ښه طريقه سره اداكړى بې وجې دې ټال مټول نه كوى. بل طرف ته معاف كونكو وارثانو ته دا هدايت دې چې دَ ديت وصول كولودَپاره دې قاتل پسې نه لگى بلكه په نرمئى او آسانئى سره دې تقاضاكوى دا دې نه گنړى چې مونږ معاف كړې نو په قاتل باندې مو لوئى احسان كړې دې ځكه چې دَ دې اجر به الله تعالى وركوى.

قوله: فَعَلَى العَافِي مفسرعلام مذكوره عبارت محذوف منلوسره دَ يواعتراض جواب وركړې دې.

اعتراض: مَنْ شرطیه یا موصوله دَ جواب شرط ړومبی صورت کښې او دَ صله په دریم صورت کښې جمله کیدل ضروری دی ځکه چې صله په حکم کښې دَ جزاء وی.

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې فاتباع هم جمله ده ځکه چې اتباع مبتداء ده اودَې خبر عَلَی العَافِی خبرمقدم دې. تقدیری عبارت دادې فَعَلَی العَافِی اتباع بالمعروف.

قوله: وترتیب الاتباع علی العفوالخ دَدې عبارت مقصد دا خودل دی چې دیت دَ قصاص بدل یا تابع نه دې بلکه مستقل واجب دی چې په قرآن کریم کښې اتباع یعنی دَ دیت مطالبه عفوقصاص باندې مرتب کړې دې یعنی اول درجه دَ قصاص ده که قصاص په څه وجه ساقط شی نو دیت به پخپله واجب شی. دَدې نه معلومه شوه چې قصاص دَ دیت بدل نه دې که قصاص معاف شی نو دیت به هم پخپله معاف شی. بلکه په دې دواړو کښې یوواجب دې اومقدم قصاص دې. دَ امام شافعی رحمه الله دا قول اول دې که صرف قصاص واجب وې اودیت دَدې بدل وې لکه چې دَامام شافعی رحمه الله قول ثانی دې نو بې دَ عوض یا مطلقًا قصاص معاف کولوسره به دیت بغیردَ ذکر نه واجب کیدو حالانکه دیت بغیردَ ذکرکولونه نه واجب کیږی.

قوله: والثانی الواجب القصاص والدیة بدل عنه دا دَ امام شافعی رحمه الله دَ قول ثانی بیان دې دَدې خلاصه داده چې واجب قصاص دې او دیت دَدې بدل دې که دَمقتول وارثانو قصاص معاف کړو اودَ دیت څه ذکر ئې اونه کړو نو دیت به هم پخپله معاف شی اوهم دغه قول راجح دې ځکه چې تعیین سره دَ قصاص په وجوب باندې نصوص موجود دی.

قوله: وعلی القاتل، دا عبارت محذوف منلومقصد سابق اعتراض لرې کول دی. دَ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ عطف چونکه په فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ باندې دې لهذا کوم اعتراض چې هلته کیدلو هم هغه دلته کیږی. اعتراض او دَ جواب تقریر وړاندې تیرشوې دې اوګورئې.

قوله. الحکم المذکور دَدې عبارت مقصد هم دَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: ذلك اسم اشاره واحد دې حالانکه دَ دې مشارالیه درې دی: ① جواز قصاص ② العفوعنه ③ دیت.

جواب: دَ جواب خلاصه داده چې دَ ذلك مرجع الحکم المذکور دې په کوم کښې چې دا دریواړه احکام راځی.

قوله: عذابٌ الیمٌ مؤلم، مؤلِمٌ کښې دَ لام فتحه اوکسره دواړه جائزدی په فتحه کښې مبالغه زیاته ده.

[ایاتونه: ۱۸۰-۱۸۲]

{كُتِبَ} فُرِضَ {عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ} أَيْ أَسْبَابه {إِنْ تَرَكَ خَيْرًا} مَالًا {الْوَصِيَّةُ} مَرْفُوع بِكُتِبَ وَمُتَعَلِّق بِإِذَا إِنْ كَانَتْ ظَرْفِيَّة وَدَالّ عَلَى جَوَابهَا إِنْ كَانَتْ شَرْطِيَّة وَجَوَاب إِنْ أَيْ فَلْيُوصِ {لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ} بِالْعَدْلِ بِأَنْ لَا يَزِيد عَلَى الثُّلُث وَلَا يَفْضُل الْغَنِيّ {حَقًّا} مَصْدَر مُؤَكِّد لِمَضْمُونِ الْجُمْلَة قَبْله {عَلَى الْمُتَّقِينَ} اللّٰه وَهٰذَا مَنْسُوخ بِآيَةِ الْمِيرَاث وَبِحَدِيثِ لَا وَصِيَّة لِوَارِثٍ رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ {فَمَنْ بَدَّلَهُ} أَيْ الْإِيصَاء مِنْ شَاهِد وَوَصِيّ {بعد ما سمعه} علمه {فإنما إثمه} اي الإيصاء الْمُبَدَّل {عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ} فِيهِ إِقَامَة الظَّاهِر مَقَام الْمُضْمَر {إِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ} لِقَوْلِ الْمُوصِي {عَلِيمٌ} بِفِعْلِ الْوَصِيّ فَمُجَازٍ عَلَيْهِ {فَمَنْ خَافَ مِنْ مُوصٍ} مُخَفَّفًا وَمُثَقَّلًا {جَنَفًا} مَيْلًا عَنْ الْحَقّ خطأ {أَوْ إِثْمًا} بِأَنْ تَعَمَّدَ ذَلِكَ بِالزِّيَادَةِ عَلَى الثُّلُث أَوْ تَخْصِيص غني مثلا {فأصلح بينهم} بين الوصي وَالْمُوصَى لَهُ بِالْأَمْرِ بِالْعَدْلِ {فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ} في ذلك {إن الله غفور رحيم}

ترجمه: په تاسو باندې فرض کړې شوې دی چې کله په تاسو کښې چا ته وَدَمرګ وخت نیزدې راشی یعنی دَ مرګ علامات ښکاره شی که هغه چرې څه مال پرېږدی نودَ والدینو او خپلوانودَپاره دې وصیت اوکړی (الوَصِیَّةُ) کُتِبَ نائب فاعل کیدو دَوجې مرفوع دې او اِذَا سره متعلق دې. که چرې اِذَا ظرفیه دې او دال علی الجزاء دې. که چرې اذا شرطیه دې نودَ اِنّ جواب محذوف دې او هغه فَلْیُوْصِ دې. انصاف سره په دې طریقه چې دَ یوثلث نه زیات وصیت اونه کړی اومالدارته ترجیح ورنه کړی دا حق دې دَ الله تعالی نه ویریدونکوباندې (حَقًّا) دَ خپل سابقه جملې دَمضمون دَپاره مصدر مؤکد دې اودا دَ (وصیت حکم) په آیت دمیراث او لاَوَصِیَّةَ لِوَارِثٍ سره منسوخ دې. (رواه الترمذي) لهذا کوم سړی چې دا (یعنی) ایصاء بدل کړو دَعلم کیدونه پس که ګواه وی یا پخپله وصی نودَ وصیت دَ بدلون ګناه به په هغه خلقو باندې وی څوک چې په دې کښې بدلون کوی او په دې کښې دَاسم ضمیر په ځائی اسم ظاهر دې بیشکه الله تعالی دَ وصیت کونکی خبره (وصیت) اوریدونکې اودَ وصی دَفعل نه خبردې نوهغه په دې باندې بدله ورکونکې دې. اوس که چرې دَ وصیت کونکی دَ طرف نه دَ پوهې یا ناپوهې په طریقه سره اندیښنه وی (مُوَصٍّ) مخفف اومشدد دواړه دی په داسې توګه چې دَ ثلث نه زیاتی (وصیت) اراده اوکړی یا مثلاً دَ مالدار تخصیص اوکړی نودَ انصاف حکم ورکولوسره دَهغوی دَپاره یعنی دَ موصی او موصی له په مینځ کښې (څوك سړې) صلح اوکړی نو په دې کښې هیڅ ګناه نشته بیشکه چې الله تعالی بخښونکې اومهربان دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: کُتِبَ ای فُرِضَ دَ کتابت اصل معنی دَ لیکلوده مګر دَعلی په قرینه سره کوم چې په

الزام باندې دلالت کوی دَفرض معنی اخستې شوې ده لکه چې كُتِبَ عليكم القصاص کښې وئیلی شوی دی.

قوله: اي اسبابُهُ مفسرعلام مضاف محذوف منلوسره دَ یوسوال مقدر جواب ورکړې دې.

سوال: په ایت کښې وئیلی شوی دی چې کله دَ یوسړی مرګ رانیزدې شی نو په هغه باندې وصیت کول فرض دی حالانکه دا ممکن نه دی ځکه چې دَمرګ دَ حاضرئی په وخت سړې مری.

جواب: دَمرګ نه دَمرګ علامات مراد دی یا مجازًا قرب ئې حضور سره تعبیرکړې دې.

قوله: اَحَدَكُمُ دې سره فرض عین طرف ته اشاره ده یعنی قانون میراث نازلیدونه وړاندې وصیت کول فرض وو.

قوله: مرفوعٌ بكُتِبَ دا دَهغه خلقو دَقول رد طرف ته اشاره ده کومو چې وئیلی دی چې الوَصِيَّةُ مبتداء ده او للوالدین دَ دې خبردې. دَدې قول دَ قائلینو دلیل دادې چې که الوَصِيَّةُ دَكُتِبَ نائب فاعل کیدو دَ وجې مرفوع وی نو كُتِبَ به نه كُتِبَتْ مؤنث کیدل پکار وو.

جواب: که دَفعل اوفاعل په مینځ کښې فاصله واقع وی نو په فعل اوفاعل کښې مطابقت ضروری نه پاتې کیږی.

قوله: اِنْ تَرَكَ، د اِنْ حرف شرط جواب باره کښې اختلاف دې چې څه دی؟ اخفش رحمه الله دَدې دوه صورتونه بیان کړی دی. جواب شرط الوَصِيَّةُ دې تقدیری عبارت به داسې شی اِنْ تَرَكَ خيرًا فَالوَصيةُ واجبَةٌ مګر په دې به دا اعتراض کیږی چې جزاء کله جمله اسمیه وی نو په دې باندې فاء راوړل ضروری کیږی حالانکه دلته فاء نشته او حذف بغیرد ضرورت نه جائزنه دې. دویم صورت دادې چې دَ شرط نه وړاندې جواب شرط مَحذوف اومنلې شی، تقدیری عبارت به داشی ای كُتِبَ الوصيةُ للوَالِدَينِ وَالاَقرَبِينَ اِنْ تَرَكَ خيرًا لهذا بهتر هم دغه دی چې الوصية دَ كتبَ نائب فاعل اومنلې شی اودَ دواړو شرطونودَپاره جزاء محذوف اومنلې شی لکه چې مفسرعلام وئیلی دی. اودَ عدم مطابقت بعضې حضراتو دا جواب ورکړې دې چې الوَصِيَّةُ په معنی دَ ايصاءُ دې او بعض نورو حضراتو دا جواب ورکړې دې چې کله فاعل مؤنث مجازی وی نوفعل مذکر اومؤنث دواړه راوړل جائزدی. که اذا دَ ظرفیت محض دَپاره وی نو دَ الوَصِيَّةُ ظرف به شی اوکه چرې متضمن وی په معنی دَ شرط لره نو دال به علی جواب الشرط شی اودَ دواړو شرطونو جواب به محذوف وی.

(كما صرّح المفسر عليه الرحمة)

قوله: ومتعلق باذا په دې اضافه سره دَدې حضراتو دَ قول تضعيف مقصوددې چاچې وئيلی دی چې اذا،كُتِبَ سره متعلق دې نه چې الوصيةُ سره. دَدې قائلينو حضراتو دليل دادې چې الوصيةُ اسم كيدو دَ وجې نه عامل ضعيف دې لهذا په خپل معمول مقدم كښې عمل نه شي كولې. دَ ضعف وجه داده چې اذا ماضی دَ مستقبل په معنی كښې كوی او كُتِبَ فعل ماضی دې چې په تيره شوې زمانه باندې دلالت كوی او زمانه دَ مستقبل د ماضی ظرف كيدې نه شی او بعضې حضراتو دا اعتراض كړې دې چې الوصيةُ دَ اسم عامل ضعيف كيدو دَ وجې نه په خپل ماقبل كښې عمل نه شی كولې. دَدې جواب دادې چې الوصيةُ اسم مصدر دې نه چې اسم جامد اوتحقيق دادې چې اسم مصدر ظرف مقدم كښې عمل كولې شی ځكه چې په ظرف كښې دَعمل كولودپاره دَ فعل بوئی كافی دې او په اسم مصدر كښې دَ فعل بوئی وی.

قوله: وَدَالٌ على جوابها ان كانت شرطيةً.

سوال: مفسرعلام دال على الجزاء وئيلې دې دائی ولې نه دی وئيلی چې الوصيةُ جزاء دې؟

جواب: دادې چې دَ جزاء دَپاره جمله كيدل شرط دې او الوصيةُ جمله نه ده ځكه پخپله الوصيةُ جزاء نه شی جوړيدې.

قوله: وَجواب اِن محذوف، محذوف دَ جواب صفت دې مطلب دادې چې الوصيةُ دَ اذا په جواب محذوف باندې دال دې. كه چرې اذا شرطيه وی اودَ اِنْ جواب په محذوف باندې هم دال دې او هغه فليُوْصِ دې.

قوله: حقًا مصدرٌ مؤكِدٌ لمضمون الجملة قبلَهُ، حقًا دَ سابقه جملې دَ مضمون تاكيد دې. دَ سابقه جملې نه مراد كُتِبَ عَلَيْكُمْ دې اودَكُتِبَ عَلَيْكُمْ مضمون دې حُقَّ عَلَيْكُمْ لهذا حَقًا دَدې تاكيد دې اوتقديری عبارت دادې حُقَّ عليكم حقًا ځنگه چې مفعول بغيرلفظ سابق مضمون دَ جملې تاكيد كوی هم دغه شان حقًا هم مضمون دَ جملې تاكيد كوی. او سابقه جمله كښې حقَّ عليكم نه علاوه احتمال نشته.

قوله: بِآيةِ الميراثِ دَ ميراث دَ آيت نه مراد دَالله تعالی قول يُوْصِيْكُمُ اللهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ دې. يعنی د آيت دَ وصيت حكم منسوخ دې او تلاوت ئې باقی دې.

قوله: ای الايصاء دَدې عبارت مقصد دَ يواعتراض جواب دې.

اعتراض: بَدَّلَهُ ضمير الوَصية طرف ته راجع دې كوم چې مؤنث دې لهذا په ضمير اومرجع كښې مطابقت نشته.

جواب: الوصية نه چې كوم ايصاء مفهوم دي دَدې طرف ته ضمير راجع دي لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

قوله: إِقَامَةُ الظَّاهِرِ مَقَامَ الْمُضْمَرِ يعنى فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَيْهِمْ وئيل كافي وو مگر دَ ضميرپه ځائې اسم راوړلو کښې علت دَ اثم طرف ته اشاره ده يعنى دَ گناهگار كيدو دَ وجې نه دَشاهد يا وصى وصيت کښې بدلون کول دي.

قوله: مَيلًا عن الحق خطأ. جَنَفٌ لغت کښې مطلقًا تيتيدو او مائل كيدو ته وائي دلته دَحق نه بغيرارادې واپس كيدل مراد دى ځکه چې دَ دې په مقابله کښې بالاثم راغلي دې اثم وائي په قصد او په اراده دَحق نه واپس گرځيدوته.

[اياتونه: ۱۸۳-۱۸۶]

{يأيها الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ} فُرِضَ {عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ} مِنَ الْأُمَمِ {لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} الْمَعَاصِي فَإِنَّهُ يَكْسِرُ الشَّهْوَةَ الَّتِي هِيَ مَبْدَؤُهَا {أَيَّامًا} نُصِبَ بِالصِّيَامِ أَوْ يَصُومُوا مُقَدَّرًا {مَعْدُودَاتٍ} أَيْ قَلَائِلَ أَوْ مُؤَقَّتَاتٍ بِعَدَدٍ مَعْلُومٍ وَهِيَ رَمَضَانُ كَمَا سَيَأْتِي وَقَلَّلَهُ تَسْهِيلًا عَلَى الْمُكَلَّفِينَ {فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ} حِينَ شُهُودِهِ {مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ} أَيْ مُسَافِرًا سَفَرَ الْقَصْرِ وَأَجْهَدَهُ الصَّوْمُ فِي الْحَالَيْنِ فَأَفْطَرَ {فَعِدَّةٌ} فَعَلَيْهِ عِدَّةُ مَا أَفْطَرَ {مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ} يَصُومُهَا بَدَلَهُ {وَعَلَى الَّذِينَ} لَا {يُطِيقُونَهُ} لِكِبَرٍ أَوْ مَرَضٍ لَا يُرْجَى بُرْؤُهُ {فِدْيَةٌ} هِيَ {طَعَامُ مِسْكِينٍ} أَيْ قَدْرُ مَا يَأْكُلُهُ فِي يَوْمِهِ وَهُوَ مُدٌّ مِنْ غَالِبِ قُوتِ الْبَلَدِ لِكُلِّ يَوْمٍ وَفِي قِرَاءَةٍ بِإِضَافَةِ فِدْيَةٍ وَهِيَ لِلْبَيَانِ وَقِيلَ لَا غَيْرُ مُقَدَّرَةٍ وَكَانُوا مُخَيَّرِينَ فِي صَدْرِ الْإِسْلَامِ بَيْنَ الصَّوْمِ وَالْفِدْيَةِ ثُمَّ نُسِخَ بِتَعْيِينِ الصَّوْمِ بِقَوْلِهِ مَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ قال بن عباس إِلَّا الْحَامِلَ وَالْمُرْضِعَ إِذَا أَفْطَرَتَا خَوْفًا عَلَى الْوَلَدِ فَإِنَّهَا بَاقِيَةٌ بِلَا نَسْخٍ فِي حَقِّهِمَا {فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا} بِالزِّيَادَةِ عَلَى الْقَدْرِ الْمَذْكُورِ فِي الْفِدْيَةِ {فَهُوَ} أَيِ التَّطَوُّعُ {خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا} مُبْتَدَأٌ خَبَرُهُ {خَيْرٌ لَكُمْ} ومن الْإِفْطَارِ وَالْفِدْيَةِ {إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ} أَنَّهُ خَيْرٌ لَكُمْ فَالْمَعْلُوهُ تِلْكَ الْأَيَّامُ {شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ} مِنَ اللَّوْحِ الْمَحْفُوظِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ مِنْهُ {هُدًى} حَالٌ هَادِيًا مِنَ الضَّلَالَةِ {لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ} آيَاتٍ وَاضِحَاتٍ {مِنَ الْهُدَى} بِمَا يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ مِنَ الْأَحْكَامِ {و} من {الْفُرْقَانِ} مِمَّا يُفَرِّقُ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ {فَمَنْ شَهِدَ} حَضَرَ {مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ} تَقَدَّمَ مِثْلُهُ وَكُرِّرَ لِئَلَّا يُتَوَهَّمَ نَسْخُهُ بِتَعْمِيمِ مَنْ شَهِدَ {يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ} وَلِذَا أَبَاحَ لَكُمُ الْفِطْرَ فِي الْمَرَضِ وَالسَّفَرِ لِكَوْنِ ذَلِكَ فِي مَعْنَى الْعِلَّةِ أَيْضًا لِلْأَمْرِ بِالصَّوْمِ عُطِفَ عَلَيْهِ {وَلِتُكْمِلُوا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ {الْعِدَّةَ} أَيْ عِدَّةَ صَوْمِ رَمَضَانَ {وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ} عِنْدَ إِكْمَالِهَا {عَلَى مَا هَدَاكُمْ} أَرْشَدَكُمْ لِمَعَالِمِ دِينِهِ {وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} اللَّهَ على ذلك وَسَأَلَ جَمَاعَةٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَرِيبٌ رَبُّنَا فَنُنَاجِيهِ أَمْ بَعِيدٌ فَنُنَادِيهِ فَنَزَلَ {وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ} مِنْهُمْ بِعِلْمِي فأخبرهم بذلك

{أجيب دعوة الداع إذا دعان} بإنالته ما سأل {فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي} دُعَائِي بِالطَّاعَةِ {وليؤمنوا} يداوموا على الإيمان {بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ} يَهْتَدُونَ

ترجمه: اې دَ ايمان والوپه تاسو باندې داسې روژه ساتل فرض کړې شوې دي څنګه چې تاسو نه وړاندې امتونوباندې فرض کړې شوې وې دې دَپاره چې تاسودګناه نه بچ شئ بیشکه روژه شهوت ختمه وي چې دَ معصیت سرچشمه ده (أَيَّامًا) صِيَامًا دَ وجې نه يا يَصُوْمُوا مقدر دَ وجې نه منصوب دي چې دَ شمېريوڅو ورځې دي دَ کوم شميرچې معلوم دې اوهغه دَ رمضان روژې دي لکه چې ډېر زر به راشي دَرمضان دَمياشت روژې په مکلفينوباندې دَ سهولت دَپاره کمې ګرځولې شوې دي نو په تاسوکښې چې څوک دَ رمضان دَ مياشت په راتلوسره بيمار يا مسافروي يعني دَ سفرقصردَ مسافت مسافروي او په دواړو صورتونوکښې هغه ته دَ روژې دَ وجې نه مشقت اوچتول وي نوهغه روژه ماتولې شي په هغه باندې دَ پريخودې شوو روژو دَشمير برابر روژې په نورو ورځوکښې دغه شميرپوره کول لازم دي. چې دَهغې په بدله کښې روژې اوساتي اوکوم خلق چې دَ ډيربوډاوالي دَوجې نه يا دَداسې بيمارئي دَ وجې نه دَ صحت ياب کيدو اميد نه لري هغوي دې روژه نه ساتي په هغوي باندې نديه واجب ده. (او) هغه دَ يومسکين خوراك دې يعني په دومره اندازه چې دَ يوې روژې خوراك وي اوهغه په اندازه دَ يومُد دې دَ روزمره عام دَ ښارخوراك نه او په يوقراءت کښې دَ فديه اضافت سره دې اودا اضافت بيانيه دې او وئيلې شوي دي چې لاَ مقدر نه دې او دَاسلام په شروع کښې روژه او فديه کښې اختياروو بيا دَالله تعالى قول ﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ﴾ په ذريعه اختيار منسوخ کړې شو. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائيلي دي دَحامله اومرضعه (پئي ورکونکې ښځه) اختيار منسوخ نه دې خوچې دَخپل بچي باره کښې دَ (نقصان) انديښنه وي دَ څه دَ وجې نه چې فديه دَدې دواړو په حق کښې بغيرنسخ باقي وي. بياچې کوم سړې دَ فديه په مقدارمذکورکښې په خپله خوښه اضافه اوکړي نودا پخپله خوشنې باندې اضافه کول دَ ده دَپاره بهتردي. او ستاسو روژه ساتل دَ افطار او فديه نه ستاسو دَ پاره بهترده. إِنْ تَصُوْمُوْا مبتداء او خَيْرٌلَكُمْ دَدې خبر دې. که چرې تاسو ګڼرئ چې روژه ساتل ستاسو دَپاره بهتردي نو تاسو دَدغه ورځو روژې اوساتئ. دَ رمضان مياشت هغه مياشت ده په کومه کښې چې دَ لوح محفوظ نه دَ دنيادَ آسمان طرف ته په ليلة القدرکښې قرآن نازل کړې شو حال دادې چې هغه دَخلقودَپاره دَ ګمراهئ نه هدايت کونکې دې اودَهدايت ښکاره نښې دي چې دَحق يعني احکاموطرف ته لار خودنه کوي اودَ حق اوباطل په مينځ کښې فرق کوي نو په تاسوکښې چې کوم سړې هم دَ رمضان مياشت کښې وي نوهغه له روژه ساتل پکاردي اوکوم سړې چې بيمار يا مسافروي نو په نورو ورځوکښې دې

شميرپوره کړی. دَدې په شان حکم وراندې هم تيرشوې دې اوداحکم مکررراوړلې شوې دې چې دَ فَمَنْ شَهِدَ عموم نه (حکم قضا) دَمنسوخ کيدو وهم نه وی. الله تعالیٰ تاسو سره نرمئی معامله کول غواړی دَ سختئی نه څکه په حالت دَ بيمارئی اوسفر کښې افطار مباح اوګرځولو. اودَ يُرِيْدُاللهُ الخ هم دَ روژې امر (يعنی فَلْيَصُمْهُ) دَ علت معنی کښې کيدو وجې نه دَ وَلِتُكْمِلُوا الخ په يُرِيْدُاللهُ الخ عطف کړې شوې دې. وَلِتُكْمِلُوا الخ تخفيف او تشديد سره، اودې دَپاره چې تاسو دَ رمضان روژو شميرپوره کړئی اودَ روژو دَ پوره کولونه پس په دې خبره باندې چې هغه تاسو ته هدايت درکړې (يعنی) دَ خپل دين دَ احکامو طرفته لار خودنه فرمائيلې. دَ الله تعالیٰ لوئی بيانوئی دې دَپاره چې تاسو په دې هدايت باندې دَ الله تعالیٰ شکر ادا کړئ اوځه خلقو دَالله تعالیٰ دَ نبی ﷺ نه سوال اوکړو چې زمونږ پروردګار نيزدې دې چې هغه سره پټې خبرې اوکړو يا لرې دې چې هغه ته په زوره آواز اوکړو نو آيت نازل شو چې کله زما بنديګان زما باره کښې سوال کوی (نو واقعه داده) چې زه هغوی سره زما دَ علم په اعتبار بيشکه نيزدې يم ته هغوی ته داخبره اوښايه چې دَ هردعاکونکی دعا دَهغه مطلوب عطا کولو سره قبلوم په دې وجه خلقو ته هم پکاردی چې اطاعت کولو سره زما خبره اومنی او په ما باندې ايمان اولری (يعنی) په ايمان باندې قائم اودائم پاتې شی دې دَپاره چې نيغه لار اومومی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: الصِّيَامُ (ن) صَوْمًا وصِيَامًا لغت کښې مطلقًا منع کيدل، دَ شريعت په اصطلاح کښې دَ خوراك څښاك اوجماع نه دَ روژې په نيت سره دَ صبح صادق نه دَ نمر دوبيدو پورې.

قوله: د مِنَ الْأُمَمِ اضافه اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ عموم ښکاره کولودَپاره اودَهغه خلقو ترديد دې چې اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ نه نصاریٰ مراداخلی. الصيام مصدر دې په معنی روژه ساتل.

قوله: المعاصی اضافه کولوسره اشاره اوکړه چې دَ تتقون نه لغوی معنی مراد ده اوالمعاصی دَدې مفعول به دې.

قوله: نُصِبَ بِالصِّيَامِ اَوْيَصُوْمُوْا مُقَدَّرًا، دَ تقديرنه د اَيَّامًا منصوب کيدو دواړو صورتونو طرف ته اشاره ده يوخودا دی چې اَيَّامًا، الصِّيَامُ مذکوردَ وجې نه منصوب دې. مګر په دې باندې دا اعتراض دې چې دَ عامل اومعمول په مينځ کښې كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ فصل بالاجنبی دې لهذا الصِّيَامُ عامل کيدې نه شی. دَدې جواب دادې چې علامه رضی رحمه الله وئيلی دی که چرې معمول ظرف وی نود فصل بالاجنبی باوجود عمل صحيح دې او دويم صورت دادې چې صُوْمُوْا مقدر اومنلې شی په دې صورت کښې هيڅ اشکال نشته.

قوله: اي قلائل، دَ معدُودَاتٍ تفسير قلائل سره کولوکښې اشاره اوکړه چې معدودات نه

مراد قلیل مقدار دي ځکه چې عرب قلیل ته کوم چې دَ ځلویښتونه کم وی معدود سره او کثیر موزون سره تعبیرکوی. قلیل مال ته وئیلی شی یُعَدُّعدًا او کثیر ته یُصَبُّ صَبًا وائی. ای یُوْزَنُ وَزْنًا.

قوله: ای موقتـاتٍ بعددٍای محدوداتٍ بعدد داد قلائل تفسیردي معنی ده دَ شمیرورځي.

قوله: قَلَّلَهُ تَسْهِیْلاً علی المکلفین دَ رمضان دَ میاشت روژې اګر چې فی نفسه کثیردی مګرپه نفسیاتی توګه متاثرکولودپاره دَ تشجیع په توګه قلت سره تعبیرکړې دی دې دپاره چې دَ مکلفین دپاره دَ روژې اداکولوکښې سهولت او آسانی وی.

قوله: حین شهودِهٖ یعنی دَرمضان دَ راتلووخت کښې بیماروی یا مسافرپه دې کښې احتراز دې ددې صورت نه چې په حالت سفرکښې یا حالت مرض کښې چې روژه شروع شی.

قوله: اي مسـافِرًاسفرالقصر دې کښې شرعی سفرطرف ته اشاره ده.

قوله: اَجْهَدَهُ الصومُ فی الحـالین فَـاَفْطَرَای فی حـالة المرض والسفر په دواړو صورتونو کښې دَ افطار دَ اجازت دپاره دَ مشقت شرط امام شافعی رحمه الله دَ قول مطابق دې. دَ احنافو په نیزپه سفرکښې دمشقت شرط نشته که سفر په آرام سره هم وی خوبیاهم دَ افطار اجازت دې. په مرض کښې دَ افطاردپاره دکوشش اومشقت شرط دې ځکه چې په بعضو مرضونو کښې روژه فائده منده وی نه چې مضر، په خلاف دَ سفرچې هم نفس سفر دَ مشقت په ځائی منلې شوې دې.

قوله: هُدًي حال دې په معنی د هـادِیًا نه چې دَ القرآن صفت ځکه چې هدًی نکره او القرآن معرفه دې.

قوله: وَکَرَّرَهٗ لِئَلاَّ یُتَوَهَّمَ نسخه بتعمیم مَن شَهِدَ ددې اضافه مقصد دَ یوسوال جواب دې.

سوال: دَمذکوره آیت مکرر راوړلو څه وجه ده؟

جواب: دَ الله تعالی قول ﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنْکُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُ ﴾ نه معلومیږی چې دَ رمضان دَ میاشت دَ روژې نه هیڅ مستثنٰی نشته که مریض وی او که مسافر، مرضعه وی که حامله، حالانکه دَ اولو دوو نه علاوه ټول مستثنٰی دی که مقیم وی که صحت مند ځکه چې فَمَنْ شَهِدَ په عموم باندې دلالت کوی هم داد وهم لرې کولودپاره دا آیت مکرر راوړلې شوې دې.

قوله: ولِتُکْمِلُوْا ذلك فی معنی العلة ایضًا للامر بالصوم عُطِفَ علیه ولتکملوا ددې عبارت دَ اضافه مقصدیواعتراض لرې کول دی.

اعتراض: دَ اعتراض حاصل دادې چې یُرِیْدُاللهُ بِکُمُ الْیُسْرَالخ فعدة من ایام اخر جمله فعلیه ده او

په دې باندې وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ عطف دې اودا جمله انشائيه ده او دَ جملې انشائيه په جمله خبريه باندې عطف صحيح نه دې.

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې معطوف عليه يعنى يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ الخ دَ علت په معنى کښې دې او وَلِتُكْمِلُوا هم دَ علت په معنى کښې دې لهذا دَ علت په علت باندې عطف صحيح دې.

قوله: وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلىٰ مَا هَدٰكُمْ امر بالقضاء علت ثالثه دې.

[اياتونه: ۱۸۷-۱۸۸]

{أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ} بِمَعْنَى الْإِفْضَاءِ {إِلَىٰ نِسَائِكُمْ} بِالْجِمَاعِ نَزَلَ نَسْخًا لِمَا كَانَ فِي صَدْرِ الْإِسْلَامِ عَلَى تَحْرِيمِهِ وَتَحْرِيمِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ بَعْدَ الْعِشَاءِ {هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ} كِنَايَةٌ عَنْ تَعَانُقِهِمَا أَوْ احْتِيَاجِ كُلٍّ مِنْهُمَا إِلَى صَاحِبِهِ {عَلِمَ اللّٰهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ} تَخُونُونَ {أَنْفُسَكُمْ} بِالْجِمَاعِ لَيْلَةَ الصِّيَامِ وَقَعَ ذَلِكَ لِعُمَرَ وَغَيْرِهِ وَاعْتَذَرُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {فَتَابَ عَلَيْكُمْ} قَبِلَ تَوْبَتَكُمْ {وَعَفَا عَنْكُمْ فَالْآنَ} إِذْ أُحِلَّ لَكُمْ {بَاشِرُوهُنَّ} جَامِعُوهُنَّ {وَابْتَغُوا} اُطْلُبُوا {مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ} أَيْ أَبَاحَهُ مِنَ الْجِمَاعِ أَوْ قَدَّرَهُ مِنَ الْوَلَدِ {وَكُلُوا وَاشْرَبُوا} اللَّيْلَ كُلَّهُ {حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ} يَظْهَرَ {لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ} أَيِ الصَّادِقِ بَيَانٌ لِلْخَيْطِ الْأَبْيَضِ وَبَيَانُ الْأَسْوَدِ مَحْذُوفٌ أَيْ مِنَ اللَّيْلِ شُبِّهَ مَا يَبْدُو مِنَ الْبَيَاضِ وَمَا يَمْتَدُّ مَعَهُ مِنَ الْغَبَشِ بِخَيْطَيْنِ أَبْيَضَ وَأَسْوَدَ فِي الْإِمْتِدَادِ {ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ} مِنَ الْفَجْرِ {إِلَى اللَّيْلِ} أَيْ إِلَى دُخُولِهِ بِغُرُوبِ الشَّمْسِ {وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ} أَيْ نِسَاءَكُمْ {وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ} مُقِيمُونَ بِنِيَّةِ الاعتكاف {فِي الْمَسَاجِدِ} متعلق بعاكفون نَهْيٌ لِمَنْ كَانَ يَخْرُجُ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَيُجَامِعُ امْرَأَتَهُ وَيَعُودُ {تِلْكَ} الْأَحْكَامُ الْمَذْكُورَةُ {حُدُودُ اللّٰهِ} حَدَّهَا لِعِبَادِهِ لِيَقِفُوا عِنْدَهَا {فَلَا تَقْرَبُوهَا} أَبْلَغُ مِنْ لَا تَعْتَدُوهَا الْمُعَبَّرِ بِهِ فِي آيَةٍ أُخْرَى {كَذَٰلِكَ} كَمَا بَيَّنَ لَكُمْ مَا ذُكِرَ {يُبَيِّنُ اللّٰهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ} مَحَارِمَهُ {وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ} أَيْ لَا يَأْكُلْ بَعْضُكُمْ مَالَ بَعْضٍ {بِالْبَاطِلِ} الْحَرَامِ شَرْعًا كَالسَّرِقَةِ وَالْغَصْبِ {وَ} لَا {تُدْلُوا} تُلْقُوا {بِهَا} أَيْ بِحُكُومَتِهَا أَوْ بِالْأَمْوَالِ رِشْوَةً {إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا} بِالتَّحَاكُمِ {فَرِيقًا} طَائِفَةً {مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ} مُتَلَبِّسِينَ {بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ} أَنَّكُمْ مُبْطِلُونَ

ترجمه: او حلال کړې شوې دی ستاسو دپاره دَ روژو په شپو کښې ستاسو ښځوسره دَجماع په توګه بې حجابه کيدل دا حکم په شروع د اسلام کښې د ښځوسره جماع اودَ ماسخوتن نه پس دَخوراک څښاک حرمت منسوخ کولودپاره نازل شو. هغوی ستاسو لباس دې اوتاسو دَهغوی لباس. دا کنايه ده په خپل مينځ کښې معانقه نه يا دَ يوبل حاجتمند کيدو سره، الله تعالى ته معلومه ده چې تاسو دَ روژې په شپه جماع کولوسره هم خپل ځان سره خيانت کوئې. دا واقعه حضرت عمر ﷺ وغيره او ددوئ نه علاوه نوروته پيښه شوې وه او هغه خلقو دَ

حضور پاك ته معذرت غوښتې وو نوهغه ستاسو توبه قبوله كړه اوتاسو ئې معاف كړئې نو اوس چې ستاسو دپاره حلال كړې شوى دى نوهغوى سره مباشرت كولې شئى او هغه (اولاد) طلب كولې شئى كوم چې ستاسو دپاره الله تعالى مقدركړې دې يعنى جماع نى جائزكړه يا ولد مقدرطلب كول نى جائزكړل او دَ شپې په هره حصه كښې خوړاک څښاک كولې شئى ترهغه وخته پورې چې دَ سحر يعنى صبح صادق سپين مزې دَ تور مزى نه جدا شى (مِنَ الفجر) د الخيط الابيض بيان دې اودَ اسود بيان محذوف دې (اوهغه من الليل دې) ښكاره كيدونكې سپينوالې اوهغه تياره كومه چې دې سره ترلې وى دَ سپين او تور دوو مزو سره په اوږدوالى كښې تشبيه وركړې ده. يا دَ صبح صادق نه ترشپې پورې روژه پوره كړئې يعنى دَ نمر دوبيدو سره دَ شپې داخليدو پورې، او خپلو بيبيانوسره مباشرت مه كوئې كوم وخت چې تاسو دَ اعتكاف په نيت سره په جماتونوكښې مقيم يئې فى المساجد دَ عاكفون سره متعلق دې دا ممانعت دَهغه سړى دَپاره دې چې (جمات كښې) معتكف كيدودَ وجې نه دَ جمات نه وتلې وى او خپلې بى بى سره كور والې كولونه پس بيا راغلې وى. دا مذكوره احكام دَ الله تعالى حدود دى كوم چې الله تعالى دَخپلو بنديگانودَپاره مقرر فرمائيلى دى. لهذا دې نه نيزدې كيږئې هم مه. دا تعبيردَ لاتعتدوها نه زيات بليغ دې. كوم چې په دويم آيت كښې تعبيركړې شوې دې بالكل هم دغه شان چې ستاسو دَپاره مذكوره (احكام) بيان كړې شو. الله تعالى خپل آياتونه دَخلقو دَپاره بيانوى چې دَ حرام كړې شوى څيزونونه بچ شى اوتاسو خلق دَ يوبل مال په ناحقه طريقه سره مه خورئې يعنى باطل طريقه باندې دَ يوبل مال مه خورئې يعنى په هغه طريقه چې شرعًا حرام وى مثلاً غلا غصب وغيره او مه رسوئې مال يعنى مالى خصومت حكامو له يعنى مالى جگړې حاكمانوله مه رسوئى يا مال دَ رشوت په توگه حكام ته مه رسوئى دې دَپاره چې اوخورئې تاسو مرافعه الى الحكام كولوسره دَ خلقو دَ مال يوه حصه په گناه سره ككړ كول سره دَدې چې تاسو پوهيږئې چې تاسو په ناحقه يئې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ، الرَّفثُ هغه خبرې اترې كومې چې دَ ښځې او سړى په مينځ كښې دَ جماع په وخت كيږى او بل وخت ناخوښه كولې شى. د رفث اودَ جماع په مينځ كښې عمومًا دَ لزوم كيدودَ وجې نه رفث وئيلوسره جماع مراد اخستې ده. (اعراب القرآن) رَفَثَ يَرْفُثُ (ن) رَفَثًا فحش خبرې كول.

سوال: دَ رفث صله فى يا باء راځى دلته الى استعمال شوې دى؟

جواب: رفث چونكه دَ افضاء په معنى د مشتمل دې لهذا صله الى راوړل صحيح دى لكه چې مفسرعلام دې ته اشاره كړې ده.

قوله: لَيْلَةَ الصِّيَامِ ظاهرخوهم دغه ده چې لَيْلَةَ دَ أُحِلَّ دَ وجې نه منصوب دې لکه چې ډیرو مفسرینوهم دا وئیلی دی مگر په دې صورت کښې دا شبه کیږی چې حلت خودَهغه وخت نه وړاندې ثابت وو. دَدې ترکیب نه معلومیږی چې حلت هم دغه وخت اوشو.

سوال: الرفث کوم چې بعدکښې مذکوردې هغه دَ لَيْلَةُ ناصب کیدې شی؟

جواب: الرفث چونکه مصدر عامل ضعیف دې کوم چې په خپل ماقبل کښې عمل نه شی کولې په دې وجه هغه عامل نه دې لهذا بهترهم دغه ده چې دَ لَيْلَةُ عامل محذوف اومنلې شی تقدیری عبارت به داسې شی أَنْ تَرْفُثُوا لَيْلَةَ الصِّيَامِ.

قوله: تخونون، دَ تختانون تفسیر په تخونون سره کول دَ یو اشکال جواب دې.

اشکال: تختانون دَ باب افتعال نه دې کوم چې لازم وی حالانکه دلته دَ انفسکم طرف ته متعدی دې.

جواب: مفسرعلام تختانون تفسیرپه تخونون سره کولوسره هم دَدې اشکال جواب ورکړې دې دَ جواب ماحصل دادې چې افتعال دمجرد په معنی کښې دې او باب افتعال دکثرت خیانت دَ ښکاره کولودَپاره اختیارکړې شوې دې

قوله: وَكُلُوا وَاشْرَبُوا دَدې عطف په بَاشِرُوهُنَّ باندې دې.

قوله: الْغَبَش دَ شین اوباء فتحه سره په معنی دَ غلس بقية الليل یا دَ آخری شپې تیاره.

قوله: الی دخوله بغروب الشمس دې کښې اشاره ده چې غایت په مغیا کښې داخل نه دې.

قوله: شُبِّهَ مَا يَبْدُوا مِنَ الْبَيَاضِ وَمَا يَمتَدُّ مَعَهُ دَدې عبارت داضافه کول مقصد دَ یو اشکال جواب دې.

اشکال: دادې چې صبح صادق ته په خیط الابیض سره تشبیه ورکړې شوې ده حالانکه دا تشبیه صبح کاذب سره زیاته مشابه ده ځکه چې هغه دَ مزی په شکل کښې عموداً ممتد کیږی نه چې صبح صادق. صبح صادق خو عرضاً خور شوې وی په مذکوره عبارت سره دَدې اعتراض جواب ورکړې شوې دې.

جواب: خلاصه داده چې صبح صادق کله په شروع کښې ښکاره شی نودَ هغې پورتنئ غاړه دَ خیط ابیض په شان کیږی معلومه شوه چې تشبیه په شروع کښې ښکاره کیدونکې غاړې سره ده نه چې مینځ یا آخر سره. فافهم.

قوله: فلاتقربوها اہلغ مِن لا تَعْتَدُوهَا، هُوَ ابْلَغُ الخ سره دَ دوو اشکالو جواب ورکول مقصوددی:

① **رومبی اشکال**: کومو احکاموته چې دَ نیزدې نه تللو حکم ورکولې شی په هغې کښې بعضې واجب دی اوبعضې مباح او بعضې حرام نودَدې تولودَپاره دا ونیل چې دې ته نیزدې هم مه ځئی څنګه صحیح کیدې شی؟

② **دویم اشکال**: په دویم آیت کښې واردشوی دی ﴿ تِلْكَ حُدُوْدُاللهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ﴾ مطلب دادې چې دا دَالله تعالی حدود اواحکام دی دَدې نه مه وړاندې کیږئی (تجاوز مه کوئی) دَدې دواړو آیاتونو په مفهوم کښې تضاد دې لهذا دَ جمع اوتوفیق به څه صورت وی؟

① **د رومبی اشکال جواب**: دَ الله تعالی احکام ته ئی په دې حدودو سره تشبیه ورکړې ده چې دَ حق اوباطل په مینځ کښې حاجزدی. څوك چې په دې احکاموعمل کونکې وی هغه به دَ حق اداکونکې وی اوڅوك چې دَدې مخالفت کوی هغه به په باطل کښې واقع وی. لهذا دې ته د نیزدې تللونه ئی منع اوفرمائیله دې دَپاره چې باطل له نیزدې لاړنه شی لکه چې قربان حدود نه نهی، دَقرب باطل نه نهی ده.

② **ددویم اشکال جواب**: فَلَا تَقْرَبُوْهَا او لَا تَعْتَدُوْهَا دَ دواړو مقصد باطل ته دَ نیزدې کیدونه منع کول دی. په لَا تَعْتَدُوْهَا کښې په صراحت سره منع کړې شوې ده او فَلَا تَقْرَبُوْهَا کښې دَ کنایه په توګه منع کړې شوې ده. او قاعده مشهوره ده چې الکنایة ابلغ من التصریح.

قوله: ای لایاکل بعضکم مال بعض دَدې عبارت دَاضافه مقصدیوه شبه لرې کول دی.

شبه: وَلَا تَأْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ نه معلومیږی چې څوك دې خپل مال په باطل طریقه سره نه خوری حالانکه دَدې څه مفهوم نشته.

جواب: دا تقسیم دَ جمع علی الجمع دَ قبیل نه نه دې لکه چې اِرْكَبُوْا دَ وابکم یعنی په تاسو کښې دې هریوپه خپل اس باندې سور شی بلکه داد لَاتَلْمِزُوْا اَنْفُسَكُمْ دَ قبیل نه دې. یعنی په خپل مینځ کښې په یوبل عیب مه لګوئی لکه چې دَ بینکم دَ لفظ نه هم دَدې معنی تائید کیږی.

قوله: وَلَا تُدْلُوْا بِهَا، لا مقدر منلوسره اشاره اوکړه چې دَدې عطف لاتاکلوا باندې دې. لهذا لکه څنګه چې لاتاکلوا مجزوم بالجازم دې دغه شان تُدلوابِهَا هم مجزوم بالجازم دې. فرق دادې چې دلته جازم مقدر دې اوهلته ظاهر دی تدلوا، اِدلاءٌ نه ماخوذ دې. اودلا معنی : رسئی په ذریعه په کوهی کښې ډولچې زوړندول، اوس دَ وسیلې او ذریعې دَ معنی دَپاره مستعار اخستې شوې دې یعنی حکام له مالی خصومات اوړل په جائز طریقه سره دَ نورو دَمال خوړلو ذریعه مه جوړوئی اَوبالاموال رشوة دادَدې خبرې طرف ته اشاره ده چې دَ مال نه مالی رشوت مراد دې.

[ایاتونه: ۱۸۸ - ۱۹٤]

{يَسْأَلُونَكَ} يَا مُحَمَّد {عَنِ الْأَهِلَّةِ} جَمْع هِلَال لِمَ تَبْدُو دَقِيقَة ثُمَّ تَزِيد حَتَّى تَمْتَلِئ نُورًا ثُمَّ تَعُود كَمَا بَدَتْ وَلَا تَكُون عَلَى حَالَة وَاحِدَة كَالشَّمْسِ {قُلْ} لَهُمْ {هِيَ مَوَاقِيتُ} جَمْع مِيقَات {لِلنَّاسِ} يَعْلَمُونَ بِهَا أَوْقَات زَرْعهمْ وَمَتَاجِرهمْ وَعِدَد نِسَائِهِمْ وَصِيَامهمْ وَإِفْطَارهمْ {وَالْحَجِّ} عَطْف عَلَى النَّاس أَيْ يَعْلَم بِهَا وَقْته فَلَوْ اسْتَمَرَّتْ عَلَى حَالَة لَمْ يُعْرَف ذَلِكَ {وليس البر أن تأتوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا} فِي الْإِحْرَام بِأَنْ تَنْقُبُوا فِيهَا نَقْبًا تَدْخُلُونَ مِنْهُ وَتَخْرُجُونَ وَتَتْرُكُوا الْبَاب وَكَانُوا يَفْعَلُونَ ذَلِكَ وَيَزْعُمُونَهُ بِرًّا {وَلَكِنَّ الْبِرَّ} أَيْ ذَا الْبِرّ {مَنِ اتَّقَى} اللّه بِتَرْكِ مُخَالَفته {وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا} فِي الْإِحْرَام {وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} تَفُوزُونَ ولما صد صَلَّى اللّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْبَيْت عَام الْحُدَيْبِيَة وَصَالَحَ الْكُفَّار عَلَى أَنْ يَعُود الْعَام الْقَابِل ويخلو لَهُ مَكَّة ثَلَاثَة أَيَّام وَتَجَهَّزَ لِعُمْرَةِ الْقَضَاء وَخَافُوا أَنْ لَا تَفِي قُرَيْش وَيُقَاتِلُوهُمْ وَكَرِهَ الْمُسْلِمُونَ قِتَالهمْ فِي الْحَرَم وَالْإِحْرَام وَالشَّهْر الْحَرَام نَزَلَ {وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ} أَيْ لِإِعْلَاءِ دِينه {الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ} الْكُفَّار {وَلَا تَعْتَدُوا} عَلَيْهِمْ بِالِابْتِدَاءِ بِالْقِتَالِ {إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} الْمُتَجَاوِزِينَ مَا حَدّ لَهُمْ وَهَذَا مَنْسُوخ بِآيَةِ بَرَاءَة أَوْ بِقَوْلِهِ {وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ} وَجَدْتُمُوهُمْ {وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ} أَيْ مِنْ مَكَّة وَقَدْ فَعَلَ بِهِمْ ذَلِكَ عَام الْفَتْح {وَالْفِتْنَةُ} الشِّرْك مِنْهُمْ {أَشَدُّ} أَعْظَم {مِنَ الْقَتْلِ} لَهُمْ فِي الْحَرَم أَوْ الْإِحْرَام الَّذِي اسْتَعْظَمْتُمُوهُ {وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ} أَيْ فِي الْحَرَم {حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ} {فَاقْتُلُوهُمْ} فِيهِ وَفِي قِرَاءَة بِلَا أَلِف فِي الْأَفْعَال الثَّلَاثَة {كَذَلِكَ} الْقَتْل وَالْإِخْرَاج {جزاء الْكَافِرِينَ} {فَإِنِ انْتَهَوْا} عَنْ الْكُفْر وَأَسْلَمُوا {فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ} لَهُمْ {رَحِيمٌ} بِهِمْ {وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ} تُوجَد {فِتْنَةٌ} شِرْك {وَيَكُونَ الدِّينُ} الْعِبَادَة {لِلَّهِ} وَحْده لَا يُعْبَد سِوَاهُ {فَإِنِ انْتَهَوْا} عَنْ الشِّرْك فَلَا تَعْتَدُوا عَلَيْهِمْ دَلَّ عَلَى هَذَا {فَلَا عُدْوَانَ} اعْتِدَاء بِقَتْلٍ أَوْ غَيْره {إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ} وَمَنْ انْتَهَى فَلَيْسَ بِظَالِمٍ فَلَا عُدْوَان عَلَيْهِ {الشَّهْرُ الْحَرَامُ} الْمُحَرَّم مُقَابَل {بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ} فَكَمَا قاتلوكم فيه قاتلوهم فِي مِثْله رَدّ لِاسْتِعْظَامِ الْمُسْلِمِينَ ذَلِكَ {وَالْحُرُمَاتُ} جَمْع حُرْمَة مَا يَجِب احْتِرَامه {قِصَاصٌ} أَيْ يُقْتَصّ بِمِثْلِهَا إذَا انْتُهِكَتْ {فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ} بِالْقِتَالِ فِي الْحَرَم أَوْ الْإِحْرَام أَوْ الشَّهْر الْحَرَام {فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ} سُمِّيَ مُقَابَلَته اعْتِدَاء لِشَبَهِهَا بِالْمُقَابَلِ بِهِ فِي الصُّورَة {وَاتَّقُوا اللَّهَ} فِي الِانْتِصَار وَتَرْك الِاعْتِدَاء {وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ} بِالْعَوْنِ وَالنَّصْر

ترجمه: اې محمد ﷺ تانه دَ سپوږمۍ دَ حالتونو باره کښې سوال کوی چې دا نرئی ولې ښکاره کیږی؟ (یعنی چې کله ښکاره کیږی نو نرئی وی) بیا غټیږی تردې چې پرق روښانه شی. بیا (دَ خپل مخکینی حالت طرف ته) راګرځی (یعنی کمیدل شروع کوی) او هم هغه شان کیږی لکه چې دَ شروع راښکاره کیدو په وخت وه اودَ نمر په شان په یو حالت باندې نه پاتې کیږی. ته هغوی ته اووایه چې دا دَخلقو دَ وختونو دَ معلومولو دَپاره ذریعه ده مواقیت دَ

میقات جمع ده یعنی خلق دَدې په ذریعه دَ فصل او تجارت وختونه معلومول اودَ خپلو ښځو عدت او خپلې روژې (دَرمضان) او افطار (دَ شوال) وختونه معلوموی اودَ حج دَپاره (دَ پیژندګلو دَ وخت آله ده). دَدې عطف په الناس باندې دې یعنی دَ سپوږمئی په ذریعه دَ حج وخت معلوموی. که چرې (سپوږمئی) په یوحالت پاتې کیده نوداخبرې نه شوې معلومیدې. او دَ احرام په حالت کښې دَ کورونو شانه راتلل څه نیکی نه ده چې تاسو دَ کورونو په (دیوالونو) کښې کنډر اوکړئی او تاسو په دغه کنډر کښې داخلیږئی او راوځئی او دَ دروازو نه (راوتل) پریږدئی (مشرکین عرب) به داسې کول او دا به ئې نیکی ګڼړله بلکه نیکی یعنی نیک هغه دې چې دَ الله تعالی مخالفت ترک کړی دَ الله تعالی نه اوویریږی. په حالت دَ احرام کښې هم بغیردَ احرام په شان دَ کورو په دروازو کښې راتلل کوئی اودَ الله تعالی نه ویریږئی دې دَپاره چې تاسو کامیاب شئی اوکله چې رسول الله ﷺ دَ حدیبیه په کال دَ بیت الله نه منع کړې شو او کافرانو په دې خبره باندې صلح اوکړه (چې حضورپاک ﷺ) به راتلونکی کال کښې راځی اوهغه (مشرکان) به دَ دریو ورځودَپاره مکه خالی کوی او حضورپاک دَ عمرة القضاء دَپاره تیاری شروع کړه او مسلمانانوته دَدې خبرې ویره وه چې (چرته داسې نه وی قریش دَ خپلې وعدې) پابندی اونه کړی اومسلمانانوسره جنګ اوکړی او مسلمانان هغوی سره په حرم کښې او (حالت) دَ احرام کښې او په میاشت دَ حرام کښې جنګ کول ناخوښه کړی. او جنګ کوئی دَالله تعالی په لارکښې هغه کافرانو سره څوک چې تاسو سره قتال کوی دَهغوی دَ دین دَ اوچتوالی دَپاره او دَ جنګ شروع کولوسره په هغوی باندې ظلم مه کوئی بیشکه الله تعالی دَ مقررحدنه تجاوزکونکی نه خوښوی اودا حکم دَ سورت براءت آیت یا دَ الله تعالی دَ قول ﴿ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ﴾ سره منسوخ دې یعنی چرته چې تاسو هغوی اووینئی هم هلته ئې قتل کړئی اوهغوی اوباسئی دَ کوم ځائی نه چې هغوی تاسو ویستلې وئی یعنی دَ مکې نه. اودَ مکې دَ فتح په وخت هغوی سره هم دغه شان اوکړې شو. او فتنه یعنی شرک دَهغوی دَ قتل نه زیات سخت دې هغوی په حرم کښې دَ احرام په حالت کښې دَ قتل کولونه کوم چې تاسو عظیم ګڼړئی او مسجدحرام کښې یعنی په حرم کښې هغوی سره جنګ مه کوئی ترهغه وخته پورې چې هغوی تاسو سره پخپله هلته جنګ اونه کړی نوکه چرې هغوی په حرم کښې تاسوسره جنګ اوکړی نوتاسو هم په حرم کښې هغوی سره جنګ اوکړئی او په یوقراءت کښې دریواړه افعال بغیردَ الف دی. هم دغه قتل او دَ وطن نه ویستل دَ داسې کافرانو سزا ده نوکه هغوی دَ کفرنه منع شی اواسلام قبول کړی نوالله تعالی هغوی لره معاف کونکې دې تاسو هغوی سره جنګیږئی ترهغې چې فتنه دَ شرك باقی پاتې نه شی اوعبادت هم دَیو الله تعالی کیږی اودَهغه نه سوا دَ بل چا بندګی نه وی نوکه هغوی دَ شرك نه منع شی نوبیا هغوی باندې تاسو زیاتې مه کوئی په

دې باندې حذف دَ جزاء. فَلَاعُدْوَانَ دلالت کوی نو دَقتل وغیره په ذریعه زیاتې دَ ظالمانو نه په علاوه باندې جائزنه دې اوځوك چې منع شو هغه ظالم نه دې. لهذا په هغه باندې زیاتې کول هم نه دی پکار. ماه محترم عوض دې دَ ماه محترم لهذا څنګه چې هغوی تاسو سره په دې کښې جنګ اوکړو نو تاسو هم په دغه شان میاشت کښې هغوی سره جنګ کوئی اودا دَ مسلمانانو دا میاشت دَعظمت والا ګڼړلوباندې رد دې او په احترام کښې برابری دە.

حُرمَاتُ دَ حرمَة جمع ده معنی دَ کوم چې احترام واجب وی او دَ احترام لحاظ به برابرئی سره وی یعنی که بې حرمتی اوکړی نو دَهغې په شان به بدله اخستې شی لهذا په حرم کښې یا په احرام کښې یا په میاشت محترم کښې دَ جنګ په ذریعه کوم سړې چې په تاسو باندې ظلم اوکړی نو تاسو هم په هغه باندې هم هغه هومره ظلم کولې شئی څومره چې هغه په تاسو باندې کړې دې. دَ ظلم بدل ته ظلم دَ مقابله په توګه وئیلې شوی دې. صورةً دَ دغه زیاتی دَ خپل مقابل په شان کیدو دَ وجې نه او دَ الله تعالی نه ویریږئی په بدله اخستلو کښې او دَ زیاتی په پریخودلو کښې او بنه پوهه شئی چې الله تعالی دَ امداد او نصرت په ذریعه پرهیزګارانو سره دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: جَمْعُ هِلَالٍ، اَهِلَّة، دَ هِلَالُ جمع ده هلال دَدریمې شپې پورې سپوږمئی ته وائی. هلال ته هلال ځکه وائی چې دَ هلال معنی آواز اوچتول او شور کولو ده. نوې میاشت لیدو سره خلق شور کوی لکه څنګه چې زمونږ طرف ته د وروکی اخترمیاشت لیدلو سره لوئی واړه شور کوی په دې وجه هغې ته هلال وائی.

سوال: هلال خو هم یووی نو بیا دادَدې جمع ولې راوړلې شوې ده؟ .

جواب: یا خو دَدې دَپاره چې دَ روزانه سپوږمئی دَ خپل ماقبل دَ ورځې دَ سپوږمئی نه مختلف وی نو لکه چې هغه دَ سابقه سپوږمئی نه غیرده په دې وجه مختلف سپوږمئی شوې په کوم چې دَ جمع اطلاق کول صحیح دی یا دَ هرې میاشتې سپوږمئی جدا وی په دې اعتبارسره هم متعدد سپوږمئی شوې لهذا دَ جمع اطلاق صحیح دې.

سوال: يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ کښې دَ سپوږئی دَ غټیدو کمیدو دَ علت باره کښې سوال کولې شی خو په جواب کښې دَدې حکمت او فائده بیان کړې شوې ده؟

جواب: په جواب کښې دَ سپوږمئی دَ غټیدو اوکمیدو علت بیانولوسره دې خبرې طرف ته اشاره کول مقصود دی چې سوال کونکی ته دَ سپوږمئی دَ غټیدو اوکمیدو حقیقت یا علت معلومولو په ځائی دَهغې دَ حکمتونو او فائدو باره کښې سوال کول پکاروو کوم چې دَهغه دَکار اوفائدې خبره ده. (کمافی المختصر المعانی)

قوله. لِمَ تبدوا دقيقةً دا دَدويم جواب طرف ته اشاره ده دَدې جواب حاصل دادې چې سوال هم دَ سپوږمئې دَ غټيدو او كميدو باره كښې وو په سوال كښې مضاف محذوف دې تقديرى عبارت داسې دې يَسْئَلُوْنَكَ عن حكمة الاهلة په دې صورت كښې به جواب دَ سوال مطابق وى فلا اعتراض. دَدې جواب تائيد دَدې روايت نه هم كيږى كوم چې ابن جرير رحمه الله دَ ابو العاليه نه روايت كړې دې قَالُوْا يَا رَسُوْلَ الله، لِمَ خُلِقَتِ الأَهِلَّة، فنزلت يَسْئلونَكَ عن الأَهِلَّةِ دا روايت دَ سپوږمئې دَ غټيدو او كميدو دَ حكمت دَ سوال كولو باره كښې صريح دې.

قوله: جمعُ ميقات، مَوَاقيت د ميقات اسم آله جمع ده دَ وخت دَ پيژندګلو آله.

قوله: مَتَاجِرِهِمْ دا دَ مَتْجَرْ جمع ده مصدر دې نه چې ظرف مكان.

قوله: عِدَدَنِسَآئِهِمْ عِدَد، دَ عِدَّة جمع ده.

قوله: عَطْفٌ على النَاس، دمفسر علام دَدې اضافه نه مقصد دَ بعض خلقو دا شك لرې كول دى چې دَ والحج عطف مَوَاقِيْتُ باندې دې حالانكه دا صحيح نه دى ځكه چې مَواقيتُ حمل اَهِلَّة ضمير هِيَ باندې دې اى الأَهِلَّةُ هِيَ المواقيتُ كه چرې دَ الحج عطف په مواقيت باندې اوكړې شى نو دَدې حمل به هم دَ هِيَ په ضمير باندې وى او تقديرى عبارت به داسې شى الأَهِلَّةُ هِيَ الحج، حالانكه دا معنى صحيح نه ده.

قوله: د فى الاحرام **سوال**: فى الاحرام دَ اضافه څه فائده ده؟

جواب: په اصل كښې دَ فى الاحرام دَ اضافه مقصد دَ يو سوال جواب دې.

سوال: په لَيْسَ البِرُّ بِأَن تأتوا البُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا كښې او په ماسبق لِلنَّاس كښې په ظاهره هيڅ جوړ او ربط نشته. دَ جواب حاصل دادې چې جوړ او ربط شته اوهغه دا چې مواقيت دَ حج اوقات دى او دَاحرام په حالت كښې دَ كور دَ شانه داخليدل دَهغوى په نيز دَ افعال حج نه دى لهذا ربط او تعلق ظاهر دې.

قوله: اى ذَالبِرّ دَدې باره كښې سوال او جواب وړاندې تير شوې دې اوګورئې.

قوله: بآيةِ البراءة وَهِيَ فَإِذَا انسَلَخَ الأَشْهُرُ الحُرُمُ (الاية)

قوله: اى فى الحرم، د عِنْدَ الْمَسْجِدِ الحَرَامِ تفسير په فى الحرام سره كولو كښې اشاره اوكړه چې جزء وئيلو سره كل يعنى مسجد حرام وئيلو سره پوره حرم مراد دې ځكه چې جنګ كول صرف په مسجد حرام كښې ممنوع نه دې بلكه په پوره حرم كښې منع دې.

قوله: بلاالف فى الافعال الثلث هغه درې افعال دادى لاتَقْتُلُوهم، يَقْتُلوكم، فإن قتلوكم.

قوله: توجَدُ، دَتكون تفسير توجَدُ سره كولو كښې اشاره اوكړه چې كان تامه دې.

قوله: سُمِّيَ مقابلته الخ سره دَ يوشبه جواب دې.

شبه: داده چې که دَ ظالم نه دَ ظلم بدله واخستې شي نو هغې ته ظلم نه شي وئيلې هغه خودَ هغه حق دې حالانکه دلته بدله اخستل اعتداء سره تعبيرکړې شوې ده.

جواب: صورةً يوشان کيدودَوجې نه جزاء الاعتداء په اعتداء سره تعبيرکړې شوې ده او جزاء السيئة سيئة دَ قبيل نه ده.

[اياتونه:١٩٥-١٩٦]

{وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ} طَاعَته بِالْجِهَادِ وَغَيْره {وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ} أَيْ أَنْفُسكُمْ وَالْبَاء زَائِدَة {إِلَى التَّهْلُكَة} الْهَلَاك بِالْإِمْسَاكِ عَنْ النَّفَقَة فِي الْجِهَاد أَوْ تَرْكه لِأَنَّهُ يُقَوِّي الْعَدُوّ عَلَيْكُمْ {وَأَحْسِنُوا} بِالنَّفَقَةِ وَغَيْرهَا {إِنَّ اللَّه يُحِبّ الْمُحْسِنِينَ} اي يثيبهم {وَأَتِمُّوا الْحَجّ وَالْعُمْرَة لِلَّهِ} أَدُّوهُمَا بِحُقُوقِهِمَا {فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ} مُنِعْتُمْ عَنْ إتْمَامهَا بِعَدُوٍّ {فَمَا اسْتَيْسَرَ} تَيَسَّرَ {مِنَ الْهَدْيِ} عَلَيْكُمْ وَهُوَ شَاة {وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسكُمْ} أَيْ لَا تَتَحَلَّلُوا {حَتَّى يَبْلُغ الْهَدْي} الْمَذْكُور {مَحِلّه} حَيْثُ يَحِلّ ذَبْحه وَهُوَ مَكَان الْإِحْصَار عِنْد الشَّافِعِيّ فَيُذْبَح فِيهِ بِنِيَّةِ التَّحَلُّل وَيُفَرَّق عَلي مساكينه ويحلق به يَحصُل التَّحَلُّل {فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسه} كَقَمْلٍ وَصُدَاع فَحَلَقَ فِي الْإِحْرَام {فَفِدْيَة} عَلَيْهِ {مِنْ صِيَام} ثَلَاثَة أَيَّام {أَوْ صَدَقَة} بِثَلَاثَةِ آصُعٍ مِنْ غَالِب قُوت الْبَلَد عَلَي سِتَّة مَسَاكِين {أَوْ نُسُك} اي ذبح شاة او لِلتَّخْيِيرِ وَأُلْحِقَ بِهِ مَنْ حَلَقَ لِغَيْرِ عُذْر لِأَنَّهُ أَوْلَي بِالْكَفَّارَةِ وَكَذَا مَنْ اسْتَمْتَعَ بِغَيْرِ الْحَلْق كَالطِّيبِ وَاللُّبْس وَالدُّهْن لِعُذْرٍ أَوْ غَيْره {فَإِذَا أَمِنْتُمْ} الْعَدُوّ بِأَنْ ذَهَبَ أَوْ لَمْ يَكُنْ {فَمَنْ تَمَتَّعَ} اسْتَمْتَعَ {بِالْعُمْرَةِ} أَيْ بِسَبَبِ فَرَاغه مِنْهَا بِمَحْظُورَاتِ الْإِحْرَام {إِلَى الْحَجّ} أَيْ إلَي الْإِحْرَام بِهِ بِأَنْ يَكُون أَحْرَمَ بِهَا فِي أَشْهُره {فَمَا اسْتَيْسَرَ} تَيَسَّرَ {مِنَ الْهَدْي} عَلَيْهِ وَهُوَ شَاة يَذْبَحهَا بَعْد الْإِحْرَام بِهِ وَالْأَفْضَل يَوْم النَّحْر {فَمَنْ لَمْ يَجِد} الْهَدْي لِفَقْدِهِ أَوْ فَقْد ثَمَنه {فَصِيَام} أَيْ فَعَلَيْهِ صِيَام {ثَلَاثَة أَيَّام فِي الْحَجّ} أَيْ فِي حَال الْإِحْرَام بِهِ فَيَجِب حِينَئِذٍ أَنْ يُحْرِم قَبْل السَّابِع مِنْ ذِي الْحِجَّة وَالْأَفْضَل قَبْل السَّادِس لِكَرَاهَةِ صَوْم يَوْم عَرَفَة وَلَا يَجُوز صَوْمهَا أَيَّام التَّشْرِيق عَلَي أَصَحّ قَوْلَيْ الشَّافِعِيّ {وَسَبْعَة إِذَا رَجَعْتُمْ} إلَي وَطَنكُمْ مَكَّة أَوْ غَيْرهَا وَقِيلَ إذَا فَرَغْتُمْ مِنْ أَعْمَال الْحَجّ وَفِيهِ اِلْتِفَات عَنْ الْغَيْبَة {تِلْكَ عَشَرَة كَامِلَة} جُمْلَة تَأْكِيد لِمَا قَبْلهَا {ذَلِكَ} الْحُكْم الْمَذْكُور مِنْ وُجُوب الْهَدْي أَوْ الصِّيَام عَلَي مَنْ تَمَتَّعَ {لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْله حَاضِرِي الْمَسْجِد الْحَرَام} بِأَنْ لَمْ يَكُونُوا عَلَي دُون مَرْحَلَتَيْنِ من الحرم عِنْد الشَّافِعِيّ فَإِنْ كَانَ فَلَا دَم عَلَيْهِ وَلَا صِيَام وَإِنْ تَمَتَّعَ فَعَلَيْهِ ذَلِكَ وَهُوَ أَحَد وَجْهَيْنِ عِنْد الشَّافِعِيّ وَالثَّانِي لَا وَالْأَهْل كناية عن النفس والحق بالتمتع فِيمَا ذُكِرَ بِالسُّنَّةِ الْقَارِن وَهُوَ مَنْ أَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجّ مَعًا أَوْ يَدْخُل الْحَجّ عَلَيْهَا قَبْل الطَّوَاف {وَاتَّقُوا اللَّه} فِيمَا يَأْمُركُمْ بِهِ وَيَنْهَاكُمْ عَنْهُ {وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّه شَدِيد الْعِقَاب} لِمَنْ خَالَفَهُ

ترجمه: اودَالله تعالى په لاركښې خرچ كوئى (يعنى) دَهغه په اطاعت كښې چې هغه جهاد وغيره دى اوتاسو په جهاد كښې دَخرچ كولونه بخل كولوسره او جهاد پريخودلوسره خپل ځان په هلاكت كښې مه اچوئى. ځكه چې دا (بخل او ترك) به دښمن په تاسو باندې بهادر كړى. (بِأَيْدِى) كښې باءِ زائده ده (دَ الله تعالى په لار كښې) دَ خرچ وغيره په ذريعه نيكى كوئى الله تعالى نيكئ كونكى خوښوى. يعنى هغوى ته اجر وركوى اوحج او عمره دَالله تعالى دَپاره پوره كوئى يعنى دواړه دَهغې دَ حقوقو خيال ساتلوسره اداكوئى. پس كه چرته دَحج اوعمرې نه (يعنى) دَدې دَ پوره كولونه د دښمن يا هم دَدې په شان بل څه څيزپه ذريعه تاسو منع كړې شئى نو چې كوم هدى (دَ قربانئى ځاروې) تاسو ته ملاؤشى اوهغه چيلئ ده اوخپل سرونه مه خروئى يعنى ځانونه مه حلال وى ترهغه وخته پورې چې هدى مذكوره خپل مقام ته اونه رسى چرته چې دَهغې ذبح كول جائز دى. هغه دَامام شافعى رحمه الله په نيزدَ احصار ځائى دې لهذا دَ حلاليدو په نيت سره دې هغه ځائى (هدى) ذبح كړې شى او دَدغه مقام په مسكينانوباندې دې (غوښه) تقسيم كړې شى اوسر دې اوخروى. دې سره به حلت حاصل شى. مگر كوم سړې چې په تاسو كښې مريض وى يادَهغه په سركښې څه تكليف وى مثلاً سپږې يا دَ سر درد نوهغه په حالت احرام كښې حلق كولې شى نو په هغه باندې فديه واجب ده اوهغه درې ورځې روژې يا درې صاع مقامى عمومى خوراك په شپږو مسكينانو باندې صدقه كول دى يا قربانى كول دى يعنى چيلئ ذبح كول دى او اودَ تخييردَپاره دې او هم په دې حكم كښې به هغه سړې هم شامل وى چې بغيردَ څه عذر نه ئى حلق كړې وى ځكه چې دكافران دې د وجوب دَپاره دې زيات لائق دې هم دغه حكم دَهغه سړى هم دې چې دَ حلق نه علاوه نى څه استفاده كړې وى مثلاً خوشبوئى لګولې وى يا تيل ئى لګولې وى كه دَ عذر دَ وجې نه وى اوكه بغيردَ عذر نه. بياچې كله تاسو دَ دښمن نه په امن كښې شئى په داسې توګه چې دښمن لاړو يا هلاو وو نه نوكوم سړى چې دَتاسو نه عمره حج سره يوځائى كولوسره دَ ممنوعات احرام نه دَ حج په مياشت كښې دَ عمره احرام اوتړلو فائده ئى اوچته كړه دَ عمرې نه فارغ شو اودَدې سره دَحلال كيدو دَ وجې نو په ده باندې چې څه ورته ملاؤ شى قربانى واجب ده اوهغه يوه چيلئ ده چې دَ حج احرام تړلونه پس دې ذبح كړى او غوره ورځ يوم نحر يعنى دَ قربانئى ورځ ده. چاته چې هدى ملاؤنه شى دَ هدى نه موجود كيدودَ وجې يا دَهغې دَ قيمت نشتوالى دَ وجې نو په هغه باندې درې روژې دى دَ حج په ورځوكښې يعنى دحج دَ احرام په حالت كښې نو ضرورى دى چې دَ اوومې ذى الحجه نه وړاندې (دحج) احرام دې اوتړى او غوره دَ شپږم ذى الحجه نه وړاندې دې. په يوم نحركښې دَ حاجى دَپاره روژه ساتل مكروه دى او په ايام تشريق كښې دَ امام شافعى رحمه الله دَ زيات صحيح قول مطابق روژه جائزنه ده او اووه روژې هغه وخت كله چې خپل وطن ته واپس شى وطن كه مكه

وی اوکه غیرمکه، او وئیلی شوی دی چې کله تاسو دَ ارکان حج نه فارغ شئ په دې کښې دَ غائب نه دَحاضرطرف ته التفات دې دا لس روژې پوره دی دا جمله دَ خپل ماقبل تاکید دې دَ قربانئ یا روژو مذکوره حکم دَهغه سړی دپاره دې چې حج تمتع اوکړی یا دا رعایت دَهغه خلقو دپاره دې چې دَهغوی کورو غیره جمات سره نیزدې نه وی دومره چې دَحرم نه دَ دوو مرحلونه کم نه وی دا دَ امام شافعی رحمه الله په نیز دی اوکه چرته دَ دوو مرحلونه کم وی نو په هغه نه دم شته نه روژه سره دَدې چې حج تمتع اوکړی. او اهل ذکر کولو کښې دَ وطن جوړولو شرط طرف ته اشاره ده او دَتمتع نیت ئې کړې وی نو په هغه باندې مذکوره څیزونه (یعنی) قربانی واجب ده اودا زمونږ (یعنی شوافع) په نیزدی اود تمتع سره په مذکوره احکامو کښې دَ حدیث دَ وجې نه قارن هم ملاؤکړې شوې دې او قارن هغه دې چې دَ حج او عمرې احرام په یوځائی اوتړی یا حج په عمره باندې داخل کړی طواف عمره کولو نه وړاندې (یعنی دَعمرې طواف شروع کولو نه وړاندې دَ حج احرام اوتړی) او په دې څیزونو کښې دَالله تعالی نه ویریږئ دَ کوم چې تاسو ته حکم درکولې شی او دکوم نه چې منع کولې شئ او پوهه شئ چې الله تعالی دَهغه خلاف کونکو ته سخته سزا ورکونکې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَلَا تُلْقُوْا بِأَيْدِيْكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ، لَاتُلْقُوْا، إِلْقَاءٌ (افعال) نه صیغه نهی جمع مذکرحاضر، تاسو مه اچوئ.

سوال: إلقاء متعدی بنفسه دې حالانکه دلته الی سره متعدی کړې شوې دې؟

جواب: إِلْقَاء دَ انتهاء معنی ته متضمن دې لهذا تعدیه بالی جائزده.

قوله: تَهْلُكَة، (ض) دا خلاف قیاس دَ نادر مصادرو نه دې هلاکت کښې اچول. په قاموس کښې لام مثلث سره لیکلې دې اَلتَّهْلُكَةُ چونکه دَ مصادر نادره نه دې دَدې دپاره اَلْهَلَاكَ مصدر مشهوردې دَدې وضاحت ئې اوکړو.

قوله: بِالنَّفَقَةِ، دا دَ یوسوال مقدرجواب دې. سوال دادې چې أَحْسِنُوْا دَ تفضلوا په معنی کښې دې کوم چې متعدی بالباء وی.

قوله: بالنفقة، ماسبق سره مربوط کولو دپاره راوړلې شوې دې ځکه ئې دَ تَهْلُكَةُ تفسیر إمْسَاك عن النفقة سره کړې دې نودلته دَ احسان تفسیر په انفاق فی سبیل الله سره کول مناسب دی دې دپاره چې په دواړو کښې ربط پیداشی.

قوله: ای يُثِيبُهُمْ، دَ يُحِبُّ تفسیر يثيبُ سره تفسیر باللازم دې ځکه چې دَ حبُ معنی میلان القلب دې چې دَ الله تعالی په حق کښې متصورنه دې. دا هم داسې دې لکه دَ رحمت تفسیر

احسان سره کوی گنی دَ رحمت معنی دَ رقة القلب ده چې ذات باری تعالی کښې متصور نه دې.

قوله اَدُوْهُمَا، په دې سره دَ حج اوعمرې دواړو طرف ته اشاره ده ځکه چې دَ امام شافعی رحمه الله په نیزدواړه واجب دی اوکه چرې لفظ اتموا په ظاهری معنی باندې اوساتلې شی نومطلب به داشی چې دَ شروع کولو نه پس دا پوره کول واجب دی ځکه چې دَ احنافو په نیز نفلی عبادت شروع کولوسره واجب کیږی.

قوله بِعَدُوِّدا دَ امام شافعی رحمه الله او امام مالک رحمه الله دَ قول مطابق دې ځکه چې چې دَدې حضراتو په نیز احصارصرف دَ دښمن په ذریعه سره صحیح دې په خلاف دَ احنافو چې ددوئ په نزد دَ دښمن نه علاوه دَمرض وغیره سره هم احصار صحیح دې.

قوله عَلَيْكُمْ دَدې اضافه کولو مقصد دَ یوسوال جواب دې.

سوال دادې چې فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ جواب شرط دې حالانکه دا جمله تامه نه ده اودَ جواب شرط دَپاره جمله کیدل شرط دې.

جواب عَلَيْكُمْ محذوف منلوسره اشاره اوکړه چې ما دَمبتداء خبرمحذوف دې دې دَپاره چې مبتداء خپل خبرسره ملاؤ شی جمله کیدوسره دَ شرط جزاء واقع شی. تقدیری عبارت دادې فَعَلَيْكُمْ مَا اسْتَيْسَرْتُمْ.

قوله فَفِدْيَةٌ. فِدْيه مبتداء ده اوعلیه دَ دې خبر محذوف دې.

قوله مِنْ صِيَامٍ دا محذوف سره متعلق کیدوسره دَ فدیهٔ صفت دې ای فِدْيَةٌ كائنةٌ من صيام

قوله بِأَنْ ذَهَبَ اَوْلَمْ يكن. دَدې عبارت دَاضافه مقصد، دَ اَمِنْتُمْ دواړو معنوطرف ته اشاره کول دی. اَمِنْتُمْ یا خودَ اَمَنَةٌ نه مشتق دې دَدې معنی زائل کیدل د ویرې ده یا دَ اَمْنٌ نه مشتق دې دَ دې معنی اَمَنَ یعنی دَ ویرې ضد دې. که چرې اَمِنْتُمْ دَ الاَمَنَة نه مشتق اومنلې شی نومعنی به وی فـإِذَازالَ عَنْكم خوف العدو نو په دې صورت کښې به دَداسې سړی حکم دَ چا احصار چې زائل شوې وی دَ عبارت النص په توګه به ثابت شی اوهم ددې نه دَهغه سړی حکم چې دَ اول نه په امن کښې وی دَ دلالت النص په توګه به مفهوم وی اوکه چرې اَمِنْتُمْ دَ الاَمْن نه مشتق وی نودَدې معنی به وی چې کوم وخت تاسو په امن او تسلئ کښې وئې. (ترویح الارواح)

قوله نُسُكٍ دا دَ نَسِيْكٌ جمع ده په معنی د قربانی او نُسُكٍ مصدرهم دې قربانی کول.

قوله فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ، فاء رابطه ده دَ جواب شرط دَپاره، مَا اسم موصول مبتداء دَدې خبر محذوف دی، ای فعليه مَا اسْتَيْسَرَ، اِسْتَيْسَرَ صله، جمله کیدو سره جواب شرط دې.

قوله: بان لم يكونوا على مرحلتين من الحرم عند الشافعي رحمه الله دَدي عبارت مقصد په متمتع باندې قرباني واجب كيدل اودَعدم وجوب قربانئ دواړه صورتونه بيانول دي. دَدې خلاصه داده كه چرې متمتع آفاقي وي نو په ده باندې دم دَتمتع واجب دې او امام شافعي رحمه الله په نيز آفاقي هغه دې چې دَ حرم نه كم نه كم دوو مرحلو دَ فاصله اوسيدونكې وي اوخوك چې دَدې نه دَ كمې فاصله اوسيدونكې وي هغه دَ دوى په نيز حضرى دې نو په ده باندې دم تمتع واجب نه دې او چې كله دم واجب نه دې نودَده نائب يعنى روژه هم واجب نه ده.

قوله: في ذكر الاهل الخ دَدې عبارت مقصد دَ ﴿لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ تشريح ده مطلب دادې چې دم تمتع ساقط كيدودَپاره شرعى مقيم كيدل ضرورى دى كه يوسړى قبل اشهر الحرم په مكه كښې قيام خو كړې دې مګر وطن ئى نه دې جوړكړې يعنى دَ پنځلس ورځو دَ قيام اراده ئى نه ده كړې نودَدې سړى نه به دم تمتع نه ساقطيږى ځكه چې دَ اقامت شرعى دَ نيت نه بغير هغه به هم آفاقي شميرلې شى او په آفاقي باندې دم تمتع واجب وى.

[اياتونه: ۱۹۷-۲۰۲]

{الْحَجُّ} وَقْته {أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ} شَوَّال وَذُو الْقَعْدَة وَعَشْر لَيَالٍ مِنْ ذِي الْحِجَّة وَقِيلَ كُلّه {فَمَنْ فَرَضَ} عَلَى نَفْسه {فِيهِنَّ الْحَجَّ} بِالْإِحْرَامِ بِهِ {فَلَا رَفَثَ} جِمَاع فِيهِ {وَلَا فُسُوقَ} مَعَاصٍ {وَلَا جِدَالَ} خِصَام {فِي الْحَجِّ} وَفِي قِرَاءَة بِفَتْحِ الْأَوَّلَيْنِ وَالْمُرَاد فِي الثَّلَاثَة النَّهْي {وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ} كَصَدَقَةٍ {يَعْلَمْهُ اللَّهُ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ وَنَزَلَ فِي أَهْل الْيَمَن وَكَانُوا يَحُجُّونَ بِلَا زَاد فَيَكُونُونَ كَلًّا عَلَى النَّاس {وَتَزَوَّدُوا} مَا يُبَلِّغكُمْ لِسَفَرِكُمْ {فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى} مَا يُتَّقَى بِهِ سُؤَال النَّاس وَغَيْره {وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ} ذَوِي الْعُقُول {لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ} فِي {أَنْ تَبْتَغُوا} تَطْلُبُوا {فَضْلًا} رِزْقًا {مِنْ رَبِّكُمْ} بِالتِّجَارَةِ فِي الْحَجّ نَزَلَ رَدًّا لِكَرَاهَتِهِمْ ذَلِكَ {فَإِذَا أَفَضْتُمْ} دَفَعْتُمْ {مِنْ عَرَفَاتٍ} بَعْد الْوُقُوف بِهَا {فَاذْكُرُوا اللَّهَ} بَعْد الْمَبِيت بِمُزْدَلِفَةَ بِالتَّلْبِيَةِ وَالتَّهْلِيل وَالدُّعَاء {عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ} هُوَ جَبَل فِي آخِر الْمُزْدَلِفَة يُقَال لَهُ قُزَح وَفِي الْحَدِيث أَنَّهُ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ بِهِ يَذْكُر اللَّه وَيَدْعُو حَتَّى أَسْفَرَ جِدًّا رَوَاهُ مُسْلِم {وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ} لِمَعَالِمِ دِينه وَمَنَاسِك حَجّه وَالْكَاف لِلتَّعْلِيلِ {وَإِنْ} مُخَفَّفَة {كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ} قَبْل هُدَاهُ {لَمِنَ الضَّالِّينَ} {ثُمَّ أَفِيضُوا} يَا قُرَيْش {مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ} أَيْ مِنْ عَرَفَة بِأَنْ تَقِفُوا بِهَا مَعَهُمْ وَكَانُوا يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ تَرَفُّعًا عَنْ الْوُقُوف مَعَهُمْ وَثُمَّ لِلتَّرْتِيبِ فِي الذِّكْر {وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ} مِنْ ذُنُوبكُمْ {إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ} لِلْمُؤْمِنِينَ {رَحِيمٌ} بِهِمْ {فَإِذَا قَضَيْتُمْ} أَدَّيْتُمْ {مَنَاسِكَكُمْ} عِبَادَات حَجّكُمْ بِأَنْ رَمَيْتُمْ جَمْرَة الْعَقَبَة وَطُفْتُمْ وَاسْتَقْرَرْتُمْ بِمِنًى {فَاذْكُرُوا اللَّهَ} بِالتَّكْبِيرِ وَالثَّنَاء {كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ} كَمَا كُنْتُمْ تَذْكُرُونَهُمْ عِنْد

فَرَاغ حَجِّكُمْ بِالْمُفَاخَرَةِ {أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا} مِنْ ذِكْرِكُمْ إِيَّاهُمْ وَنُصِبَ أَشَدَّ عَلَي الْحَال مِنْ ذِكْر الْمَنْصُوب
بِاذْكُرُوا إِذْ لَوْ تَأَخَّرَ عَنْهُ لَكَانَ صِفَة لَهُ {فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا} نَصِيبًا {فِي الدُّنْيَا} فَيُؤْتَاهُ فِيهَا
{وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ} نصيب {وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً} نِعْمَة {وَفِي الْآخِرَةِ
حَسَنَةً} هِيَ الْجَنَّة {وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ} بِعَدَمِ دُخُولِهَا وَهَذَا بَيَان لِمَا كَانَ عَلَيْهِ الْمُشْرِكُونَ وَلِحَالِ الْمُؤْمِنِينَ
وَالْقَصْد بِهِ الْحَثّ عَلَي طَلَب خَيْر الدَّارَيْنِ كَمَا وَعَدَ بِالثَّوَابِ عَلَيْهِ بِقَوْلِهِ {أُولَٰئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ} ثواب {مِ
ن اجل {مَا كَسَبُوا} عملوا من الْحَجّ وَالدُّعَاء {وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ} يُحَاسِب الْخَلْق كُلّهمْ فِي قَدْر نِصْف
نَهَار مِنْ أَيَّام الدُّنْيَا لِحَدِيثٍ بِذَلِكَ {وَاذْكُرُوا اللَّهَ} بِالتَّكْبِيرِ عِنْد رَمْي الْجَمَرَات {فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ} أَيْ
أَيَّام التَّشْرِيق الثَّلَاثَة {فَمَنْ تَعَجَّلَ} أَيْ اسْتَعْجَلَ بِالنَّفْرِ مِنْ مِنًى {فِي يَوْمَيْنِ} أَيْ فِي ثَانِي أَيَّام التَّشْرِيق
بَعْد رَمْي جِمَاره {فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ} بِالتَّعْجِيلِ {وَمَنْ تَأَخَّرَ} بِهَا حَتَّي بَاتَ لَيْلَة الثَّالِث وَرَمَي جِمَاره {فَلَا إِثْمَ
عَلَيْهِ} بِذَلِكَ أَيْ هُمْ مُخَيَّرُونَ فِي ذَلِكَ وَنَفْي الْإِثْم {لِمَنِ اتَّقَىٰ} اللّٰه فِي حَجّه لِأَنَّهُ الْحَاجّ فِي الْحَقِيقَة
{وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ} فِي الْآخِرَة فَيُجَازِيكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ

ترجمه: دَحج وخت مقرر میاشتې دی (اوهغه) دَ شوال، ذی القعده اود ذی الحجه لس شپې دی او ونیلی شوی دی چې دَ ذی الحجه پوره میاشت ده نوچې چا په دې میاشتوکښې دَ حج احرام اوتړلو په خپل ځان ئی حج لازم کړو نونه دَهغه دَ پاره (حالت) احرام کښې فحش خبرې د جماع جائزدی او نه دَ ګناه ارتکاب او نه په حج کښې جنګ جګړې دی او په یو قراءت کښې اول دواړه (رَفَثَ او فُسُوقَ) کښې فتحه ده یعنی (مبنی برفتحه) دی او (نفی) درېواړو صیغونه نهی مراد ده اوکوم چې هم تاسو کارخیرکوئی مثلاً صدقه الله تعالی دَهغې نه خبردې نوهغه به تاسو ته دَهغې صله درکړی اودَ اهل یمن باره کښې (راتلونکې آیت) نازل شو چې بغیردَ لارې دَ توښې به ئی حج کولو چې دهغه دَ وجې نه به په خلقو بوج جوړیدل او دومره اندازه باندې دَ لارې توښه اخلئ چې ستاسو دَ سفردَپاره کافی وی بیشکه ښکلې توښه دَلارې دَ الله تعالی ویره ده دَ کوم دَ وجې نه چې دَ خلقو نه سوال وغیره مثلاً (غلا غصب وغیره) نه بچ شئی او اې دَعقل خاوندانو هم زما نه ویرېږئی ستاسو دَپاره په دې خبره کښې هیڅ خرابی نشته چې تاسو په حج کښې دَ تجارت په ذریعه دَخپل رب فضل (رزق) طلب کړئی. دَهغوی دَ رزق دَ طلب کولوناخوښئی دَ تردید دَپاره دا آیت نازل شوې اوکله چې تاسو دَ وقوف عرفه نه پس دَ عرفات نه واپس شئ نوپه مزدلفه کښې دَ شپې تیرولونه پس مشعر حرام سره دَ تلبیه تهلیل او دعا په ذریعه دَ الله تعالی ذکر کوئی (مشعرحرام) دَ مزدلفه په آخره کښې یوغردې هغې ته قزح وائی. په حدیث شریف کښې دی چې رسول الله ﷺ په دې ځائی کښې دَ الله تعالی ذکر سره قیام فرمائیلې او حضورپاك به دعاکوله تردې چې ښه رڼا شوه (رواه مسلم) اودَ الله تعالی ذکرکوئی چې هغه تاسو ته دَ دین اوحج دَ احکامو هدایت

درکړې او بیشکه تاسو إنْ مخففه دې دَهغه دَ هدایت نه وړاندې په ګمراهو کښې وئ. اې قریشو تاسو هم دَ هغه ځائې نه واپس شئ دَ کوم ځائې نه چې ټول خلق واپس کیږي یعنی دَعرفات نه، په داسې طریقه چې تاسو هم هغوی سره په هغه ځائې کښې قیام اوکړئ او قریشو به په نورو خلقو باندې دُ خان اوچت خودلو دَپاره په مزدلفه کښې قیام کولو. ثُمَّ دَ ترتیب ذکری دَپاره دې دَالله تعالیٰ نه دخپلو ګناهونو معافی اوغواړئ بیشکه الله تعالیٰ مؤمنان معاف کونکې دې په هغوی باندې رحم کونکې دې. کله چې تاسو دَخپل حج ارکان پوره کړئ په داسې توګه چې تاسو دَ جمره عقبه رمی اوکړئ او حلق اوکړئ او په منیٰ کښې قیام اوکړئ نو تکبیر او ثناء سره دَ الله تعالیٰ ذکر کوئ لکه څنګه چې به تاسو دَ خپلو پلارانو اونیکونو ذکر کولو یعنی څنګه چې دَ حج نه په فراغت سره دَفخر په توګه دَهغوی ذکر کولو بلکه دَهغوی دَ ذکر کولونه هم زیات. اَشَدَّ دَ ذکرًانه حال کیدو دَ وجې منصوب دې چې دَ اذکروا دَ وجې نه منصوب دې څکه چې که چرې دَ (ذکرًا) نه روستو وې نو دَدې صفت به وو او په هغوی کښې بعض خلق خوداسې هم دی چې وائی اې زمونږ ربه ته مونږته زمونږ حصه هم په دنیاکښې راکړه نو هغوی ته هم په دنیاکښې ورکولې شی دَ داسې سړی دَپاره په آخرت کښې هیڅ حصه نشته. او په هغوی کښې بعض داسې دی چې وائی زمونږه ربه ته مونږ ته په دنیاکښې هم نعمت راکړه او په آخرت کښې هم د نیکۍ بدله راکړه او هغه جنت دې او ته مونږ دَ اور دَعذاب نه بچ کړه په هغې کښې مو داخل نه کړې. دا دَ مشرکانو طریقه اودَ مؤمنانو د حال بیان دې اودَدې مقصد په دواړه جهانه دَ خیر غوښتلو ترغیب ورکول دی. لکه چې په دې باندې (الله دَ) خپل قول اُولٰئِكَ لَهُمۡ نَصِيبٌ سره وعده کړې ده هم دغه هغه خلق دی دَ چا دَپاره چې اجرونه دَهغوی دَاعمالو چې هغوی دَ حج او دعا په ذریعه کړی. او الله تعالیٰ زر حساب پوره کونکې دې. دَ پوره مخلوق حساب دَ دنیا دَ ورځو په اعتبارسره به په نیمه ورځ کښې پوره کړی دَدې مضمون حدیث وارد کیدودَ وجې نه اودَ جمرات دَ رمی په وخت دَ تکبیر په ذریعه یو څو ورځې یعنی دَ ایام تشریق په دریواړو ورځوکښې دَ الله تعالیٰ ذکرکوئ اوچا چې تادی اوکړه یعنی دَ منیٰ نه په تلوکښې تادئ نه کار واخستو یعنی په ایام تشریق کښې دُ دویمې ورځې دَ رمی جمار کولونه پس نو دَدغه تادئ کولو په وجه په هغه باندې هیڅ ګناه نشته او چاچې تاخیر اوکړو تردې چې دریمه شپه ئې تیره کړه اودَهغه ورځ رمی جمار ئې اوکړو نو په دې کښې په هغه باندې څه ګناه نشته یعنی هغوی ته په دې کښې اختیارشته اوګناه نه کیدل دَهغه سړی دَپاره دی چې په خپل حج کښې دَ الله تعالیٰ نه ویریږی څکه چې په حقیقت کښې هم هغه حاجی دې اودَالله تعالیٰ نه اوویریږئ او پوهه شئ چې تاسو به په آخرت کښې هم دَهغه طرف ته رَاجمع کولې شئ اوهغه به تاسو ته ستاسو دَ اعمالو بدله درکوی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله الحج وَقْتُهُ.

سوال لفظ وَقْتُهُ اضافه دَ څه مقصد دپاره کړې شوې ده؟

جواب مضاف محذوف دې ای وقتُ الحج، دَ حج وخت، که چرې مضاف محذوف اونه منلې شی نو دَ مصدر حمل په ذات باندې لازم راځی چې جائزنه دې ځکه چې تقدیری عبارت به داسې شی اَلحج اشهُرٌ حج میاشتې دی حالانکه میاشتې حج نه دې بلکه دَ حج دَ پاره وختونه دی مضاف محذوف منلو سره مذکوره اعتراض ختم شو.

قوله وقیل کلُّهُ دَ قیل قائل امام مالك ﷫ دې ځکه چې دَ هغه په نیز دَ ذی الحجه پوره میاشت دَ حج په میاشتو کښې شامل ده.

قوله بالاحرام به.

سوال دَ بالاحرام به دَ اضافه څه فائده ده؟

جواب دا دَ ائمه دَاختلاف طرف ته اشاره ده دَ امام شافعی ﷫ په نیز صرف نیت او احرام تړلو سره حج لازمیږی مګر دَ امام ابوحنیفه ﷫ په نیز تلبیه یا سوق الهدی سره لازمیږی

قوله جِمَاعَ فِيْهِ، دَ جِمَاعَ اضافه خو دَمعنی دَبیان دَپاره ده مګر دَ فیه دَاضافه څه مقصد دې؟

جواب لَارَفَثَ، د فَمَنْ فَرَضَ دَ شرط جزاء ده او دَ جزاء دَپاره جمله کېدل شرط دې حالانکه لَارَفَثَ جمله تامه نه ده ځکه چې لانفی جنس دې او رَفَثَ دَدې اسم دې او خبرئی نشته لهذا جمله ناقصه شوه. دَ رَفَثَ جمله تامه جوړولو دَپاره فیه محذوف منل ضروری دی دې دَپاره چې دَ جائزٌ وغیره متعلق کېدو سره لا نفی جنس خبر شی اولانفی جنس خپل اسم اوخبر سره ملاؤ شی دَ شرط جزاء واقع شی.

قوله وفی قراءةٍ دَدې اضافه مقصد اختلاف قراءت بیانول دی ﴿ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ ﴾ کښې څلور قراءتونه کیدې شی مګر مفسرعلام دَ دوو طرف ته اشاره کړې ده. غالبًا دَ مفسرعلام مخې ته دَ قرآن کریم هغه نسخه ده په کوم کښې چې په دریواړو رفع ده. هم ځکه چې ئې فرمائیلی چې په یوقراءت کښې په رومبودوو باندې فتحه ده او جِدَالَ باندې هم رفع ده هغه څلور قراءتونه دادی ① دَدریواړو نصب ② دَ دریواړو رفع ③ دَ رومبو دوو رفع او دریم نصب ④ دَ رومبو دوو نصب اودریم رفع.

قوله. والمراد في الثلثة النهي دَدي اضافه مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال. فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ دا دريواړه دَنفی صيغې دی په دې کښې خبرورکړې شوې دې چې په حج کښې نه دَ فحش خبرې وجودشته اونه دَ فسق اوجنګ جګړې حالانکه مشاهده ده چې دا دريواړه څيزونه په حج کښې واقع کيږئ حالانکه دَ الله تعالی په کلام کښې تخلف او کذب نه شی کيدې.

جواب. دَنفی نه مراد نهی ده څکه چې مقصد لاترفثوا، لاتفسقوا ولا تجادلوا دې. يعنی په حج کښې دغه ذکر شوی دريواړه کارونه مه کوئی.

سوال. دَ نهی په نفی سره تعبيرکولوڅه وجه ده؟

جواب: په اصل کښې نفی کښې مبالغه مقصود ده او په دې خبره دلالت مقصود دې چې دغه ذکر شوی درويواړه کارونه په حج کښې هيڅ کله نه دی کول پکار.

قوله تعالی: وَمَاتفعلوا.

سوال: لَارَفَثَ، لاترفث په معنی کښې کيدو دَ وجې جمله انشائيه ده او وَمَاتَفْعَلُوْا جمله خبريه ده حالانکه دَ وَمَاتَفْعَلُوْا عطف په ولَارَفَثَ باندې دې اودا عطف خبر علی الانشاء دَ قبيل نه دې کوم چې جائزنه دې؟

جواب: مَاتَفْعَلُوْا په تاويل کښې دَ امر دې ای اِفْعَلُوا لهذا اوس هيڅ اعتراض پاتې نه شو.

قوله. والکاف للتعليل يعنی کما هداکم کښې کاف تشبه دَپاره نه دې بلکه تعليل دَپاره دې يعنی تاسودَ الله تعالی ذکرڅکه اوکړئی چې هغه تاسو ته دَ احکام دين هدايت درکړو

قوله. وَاِنْ مخففة دا په هغه خلقو باندې رد دې چې اِنْ نافيه منی څکه چې لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ کښې لام علامت دې دَدې خبرې چې اِنْ مخففه عن المثقلة دې ګنی نود لَمِنَ الضالين لام دَ الّا په معنی کښې به اخستل وی کوم چې دَاصل خلاف دې.

قوله ثُمَّ للترتيب في الذکر دا دَ يو اعتراض جواب دې.

اعتراض. پورته دَ عرفات نه دَ روانيدو ذکر دې دَ الله تعالی قول ﴿ فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ عَرَفٰتٍ ﴾ بيادَدې نه پس ﴿ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ ﴾ کښې مزدلفه نه دَ روانيدو ذکر دې حالانکه ترتيب خارجی دَ دې برعکس دې څکه چې اول دَ عرفات نه روانيدل کيږی دَهغې نه پس دَ مزدلفه نه کيږی.

جواب: ثُمَّ ترتيب خارجی دَپاره نه دې بلکه دَترتيب ذکری دَپاره دې.

قوله ونصبُ أشدَّ على الحال دَدې اضافه مقصد دَأَشَدَّ دَنصب وجه بيانول دى. دَدې خلاصه داده چې اِشَدَّ ذِكۡرًا، اذكروا مفعول مطلق نه حال كيدودَ وجې نه منصوب دې اوكه چرې اِشَدَّ ذِكۡرًا نه مؤخر كيدو نو دَصفت كيدودَ وجې نه منصوب كيدو. موصوف نكره باندې چې كله صفت مقدم كيږي نو بيا هغه حال واقع كيږي هم دغه صورت دلته دې. والله اعلم بالصواب.

[اياتوله: ۲۰٤-۲۱۰]

{وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّعۡجِبُكَ قَوۡلُه فِي الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا} وَلَا يُعۡجِبُك فِي الآخِرَة لِمُخَالَفَتِهِ لِاعۡتِقَادِهِ {وَيُشۡهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيۡ قَلۡبِه} أَنَّهُ مُوَافِق لِقَوۡلِهِ {وَهُوَ أَلَدُّ الۡخِصَامِ} شَدِيد الۡخُصُومَة لَك وَلِأَتۡبَاعِك لِعَدَاوَتِهِ لَك وَهُوَ الۡأَخۡنَس بۡن شَرِيق كَانَ مُنَافِقًا حُلۡو الۡكَلَام لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ يَحۡلِف أَنَّهُ مُؤۡمِن بِهِ وَمُحِبّ لَهُ فَيُدۡنِي مَجۡلِسه فَأَكۡذَبَهُ اللّٰه فِي ذٰلِكَ وَمَرَّ بِزَرۡعٍ وَحُمُر لِبَعۡضِ الۡمُسۡلِمِينَ فَأَحۡرَقَهُ وعقرها ليلا كما قال تعالى {وَإِذَا تَوَلّٰى} انۡصَرَفَ عَنۡك {سَعٰى} مَشَى {فِي الۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيۡهَا وَيُهۡلِكَ الۡحَرۡثَ وَالنَّسۡلَ} مِنۡ جُمۡلَة الۡفَسَاد {وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الۡفَسَادَ} أَيۡ لَا يَرۡضَى بِهِ {وَإِذَا قِيۡلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ} فِي فِعۡلك {أَخَذَتۡهُ الۡعِزَّةُ} حَمَلَتۡهُ الۡأَنَفَة وَالۡحَمِيَّة عَلَى الۡعَمَل {بِالۡإِثۡمِ} الَّذِي أُمِرَ بِاتِّقَائِهِ {فَحَسۡبُه} كَافِيه {جَهَنَّمُ وَلَبِئۡسَ الۡمِهَادُ} الۡفِرَاش هِيَ {وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يَّشۡرِيۡ} يَبِيع {نَفۡسَه} أَيۡ يَبۡذُلهَا فِي طَاعَة اللّٰه {ابۡتِغَاءَ} طَلَب {مَرۡضَاتِ اللّٰهِ} رِضَاهُ وَهُوَ صُهَيۡب لَمَّا آذَاهُ الۡمُشۡرِكُونَ هَاجَرَ إِلَى الۡمَدِينَة وَتَرَكَ لَهُمۡ مَاله {وَاللّٰهُ رَءُوۡفٌ بِالۡعِبَادِ} حَيۡثُ أَرۡشَدَهُمۡ لِمَا فِيهِ رِضَاهُ وَنَزَلَ فِي عَبۡد اللّٰه بۡن سَلَام وَأَصۡحَابه لَمَّا عَظَّمُوا السَّبۡت وَكَرِهُوا الۡإِبِل بَعۡد الۡإِسۡلَام {يٰأَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا ادۡخُلُوۡا فِي السِّلۡمِ} بِفَتۡحِ السِّين وَكَسۡرهَا الۡإِسۡلَام {كَافَّةً} حَال مِنَ السِّلۡم أَيۡ فِي جَمِيع شَرَائِعه {وَلَا تَتَّبِعُوۡا خُطُوٰتِ} طُرُق {الشَّيۡطٰنِ} أَيۡ تَزۡيِينه بِالتَّفۡرِيقِ {إِنَّهُ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ} بَيِّن الۡعَدَاوَة {فَإِنۡ زَلَلۡتُمۡ} مِلۡتُمۡ عَنِ الدُّخُول فِي جَمِيعه {مِّنۡ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ الۡبَيِّنٰتُ} الۡحُجَج الظَّاهِرَة عَلَى أَنَّهُ حَقّ {فَاعۡلَمُوۡا أَنَّ اللّٰهَ عَزِيۡزٌ} لَا يُعۡجِزهُ شَيۡء عَنِ انۡتِقَامه مِنۡكُمۡ {حَكِيۡمٌ} فِي صُنۡعه {هَلۡ} مَا {يَنۡظُرُوۡنَ} يَنۡتَظِر التَّارِكُونَ الدُّخُول فِيهِ {إِلَّا أَنۡ يَّأۡتِيَهُمُ اللّٰهُ} أَيۡ أَمۡره كَقَوۡلِهِ أَوۡ يَأۡتِي أَمۡر رَبّك أَيۡ عَذَابه {فِيۡ ظُلَلٍ} جَمۡع ظُلَّة {مِّنَ الۡغَمَامِ} السَّحَاب {وَالۡمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ الۡأَمۡرُ} تَمَّ أَمۡر هَلَاكهمۡ {وَإِلَى اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡأُمُوۡرُ} بِالۡبِنَاءِ لِلۡمَفۡعُولِ وَالۡفَاعِل فِي الۡآخِرَة فَيُجَازِي كُلًّا بِعَمَلِهِ

ترجمه: - اوبعض خلق داسې هم دى چې دَ دنيا دَ ژوند باره كښې دَهغوى خبرې په تاسو ښه لګى اودَ آخرت باره كښې ښه نه لګى. دَ هغوى اعتقاد ستاسو دَاعتقاد دَخلاف كيدو دَ وجې او دَخپل زړه په خبرو باندې الله تعالى ګواه جوړوى چې څه دَهغه په زړه كښې دى هغه دَ هغه دَ قول مطابق دى. حالانكه هغه يو زبردست جګړه كونكې دې يعنې تاسوسره اوستاسو متعبينوسره سخت خصومت لرونكې. تاسو سره خصومت لرلودَ وجې نه اوهغه اخنس بن شريق دې كوم چې منافق دې. او رسول الله ﷺ سره به نى ډيرې خوږې خبرې اترې كولې او

قسمونه به ئی خوړل چې هغه په رسول الله ﷺ باندې ایمان لري او رسول الله ﷺ سره
محبت کوي. رسول الله ﷺ به هغه ځان سره نیزدې کینولو نو الله تعالی دَهغه په دعوی
کښې تکذیب اوکړو. یو ځل دَ مسلمانانو فصل او خرو سره تیریدو نو دَ شپې ئې فصل ته
اور ورته کړو او دَخرو خپې ئې پرې کړې لکه څنګه چې الله تعالی اوفرمائیل او کله چې
هغه واپس ځي یعنی ستاسو دَ مجلس نه ځي نو په زمکه کښې منډې ترړې وهي دې دَپاره چې
په زمکه کښې فساد پیدا کړي (دویمه ترجمه) (او کله چې ده ته اقتدار ملاؤ شي نو دَهغه ټولې
منډې ترړلې په زمکه کښې دَ فساد پیدا کولو دَپاره وي) او فصل او نسل برباده وي دا هم ټولې دَ
فساد خبرې دی او الله تعالی فساد خوروونکی نه خوښوي یعنی دَهغوئ نه راضي نه دې او کله
چې هغه ته اوئیلې شي چې ته دَ خپلو حرکتونو باره کښې دَ الله تعالی نه اووېرېږه نو هغه لره کبر
او جهالت او تعصب په ګناه باندې تیاره وي. دکوم ځیزنه چې هغه ته دَ بچ کیدو دَپاره وئیلې
شوی دی نو دَهغې دَپاره جهنم کافی دې او هغه ډیر خراب ځائی دې یعنی هغه خراب دَ استوګنې
ځائی دې او څه داسې خلق هم دی چې دَ الله تعالی دَ رضا او خوشحالئ حاصلولو دَپاره خپل ځان
خرڅه وي یعنی دَ الله تعالی په اطاعت کښې هغه قربانوي او هغه صهیب رومی ﷺ دې
کله چې مشرکانو تکلیفونه ورکول نو مدینې ته ئې هجرت اوکړو او مشرکانو ته ئې خپل
ټول مال پرېخودو او الله تعالی په خپلو بندیګانو باندې ډیر لوئی مهربانی کونکې دې څکه
چې هغوی ته ئې دَدې خبرو لارخودنه اوکړه په کومو کښې چې دَهغوئ خوشحالی ده
او کله چې عبدالله بن سلام او دَهغه ملګرو دَ اسلام قبلولونه پس دَ هفتې دَ ورځې دَ
تعظیم اراده اوکړه او اوښ او دَهغې پئی ناخوښه کړل نو آیت نازل شو اې ایمان والو په
اسلام کښې پوره داخل شئی (السلم) دَ سین فتحه او کسره سره په معنی د اسلام کافة دَ سلم
نه حال دې یعنی دَهغه په پوره شریعت کښې (داخل شئی) او دَ شیطان دَ طریقو تابعداری مه
کوئی یعنی دَتفریق په ذریعه ځان خودلو بیشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دې یعنی دَهغه
دښمنی بالکل ښکاره ده. نو که چرې تاسو غلطی اوکړه یعنی په اسلام کښې په پوره توګه
داخلیدو نه تاسو اعراض اوکړو پس دَهغې نه چې تاسو له دَ اسلام دَ حق کیدو واضحه دلائل
راغلل نو پوهه شئی چې الله تعالی غالب دې هغه لره دَ انتقام اخستونه هیڅ څوک نه شي
عاجز کولې په خپل صنعت کښې حکیم دې. په پوره توګه په اسلام کښې نه داخلیدونکی
آیا صرف دَدې خبرې په انتظار دی چې هغوی له الله تعالی او دَهغه فرښتې یعنی دَهغه حکم راشي
لکه چې دَ الله تعالی قول ﴿ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ، اي عذابُه ﴾ دَ اوریځو په سورو کښې ظلل دَ ظلة جمع
ده او کار ختم کړې شي یعنی دَهغوی دَهلاکت معامله انجام ته اورسي او په آخرت کښې
ټول کارونه هم دَ الله تعالی طرف ته واپس کیدونکی دی (ترجع) معروف او مجهول دواړه دی
نو هغه به بدله ورکوي.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ دَ دې په عطف فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُوْلُ باندې دې او وَمِنَ النَّاسِ د خپل متعلق محذوف د ملاويدو سره خبرمقدم دې اووَمَنْ يُعْجِبُكَ مبتدا مؤخر دې.

قوله اَلَدُّ الْخِصَامِ، د لَدٌّ نه اسم تفضيل دې سخت جګړې کونکې، خِصَامٌ دادَخَاصَمَ مصدردې زجاج وئيلى دى چې دَ خَصْمٌ جمع ده لکه چې دَ صَعْبٌ جمع صِعَابٌ ده اودَ ضَخْمٌ جمع ضِخَامٌ

قوله شديدالخصومَةِ مفسرعلام دَ اَلَدُّ تفسير په شَدِيْدٌ سره کولوکښې اشاره اوکړه چې اَلَدُّ سم تفضيل نه دې (کمافى قول بعض الناس) ځکه چې دَدې مؤنث لَدى او جمع لُدٌّ ده

قوله تَوَلّٰى، اِنْصَرَفَ عَنْكَ د تَوَلّٰى، تفسير اِنْصَرَفَ سره کولوکښې اشاره اوکړه چې تَوَلّٰى په معنى اِنْصِراف دى نه چې په معنى د ولاية لکه چې وئيلى شوى دى. ځکه چې دَآيت نزول اخنس بن شريق باره کښې دې اوهغه والى نه وو.

قوله مِنْ جملة الفساد دا د مبتداء محذوف خبردې اى هُوَمِنَ الفساد دَدې جمله دَ اضافه مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال. لِيُفْسِدَ فِيهَا عام دې په دې کښې دَهرقسم فساد شامل دې بيا دې نه پس وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وئيلوڅه ضرورت دې؟

جواب. داعطف دَخاص على العام دَقبيل نه دې. مِنْ جملة الفساد نه هم دَ دغه جواب طرف ته اشاره ده.

قوله حَالٌ مِّنَ السِّلْمِ دا په هغه خلقو باندې رددې چاچې كَافَّةً مصدر دَمحذوف صفت وئيلى دى او تقديرى عبارت ئې دا منلې دې اى اِدْخَالًا كَافَّةً. دَ رد وجه داده چې ابن هشام وئيلى دى چې كَافَّةً حال اونکره کيدلو دَپاره خاص دې.

قوله من السِّلْم. دادَدې رد دې چاچې وئيلى دى چې كَافَّةً، ادخلوا دَ ضميرنه حال دې ياخرځکه چې كَافَّةً مؤنث دې او سلم مذکردې يا ځکه چې سلم په معنى دَ اسلام اجزاء نه دى حالانکه دَ ذوالحال ذات الاجزاء کيدل ضرورى دى دَ رومبى دليل جواب اِنَّ السِّلْمَ، حربٌ په شان مذکر او مؤنث دواړو دَپاره استعماليږى دَ دويم دليل جواب، دَ اسلام نه تول شرائع او احکام مراد دى او شرائع ذات الاجزاء دى لهذا سِلْمٌ دکافة نه حال واقع کيدل صحيح دى. مفسرعلام خپل قول اى فى جميع شرائعه سره هم دې جواب طرف ته اشاره کړې ده مذکوره آيت د عبدالله بن سلام اودَ هغه دَ ملګروباره کښې نازل شوې په اصحاب

کښې ثعلبه بن يامين او اسد سعيد بن عمرو دا ټول حضرات يهوديان وو دوی روستو
بيا اسلام قبول کړو.

قوله طُرُق، خطوات تفسير طُرُق سره کولو سره ئې ددې اشکال جواب ورکړې دې چې د
شيطان قدم نه وي جواب دادې چې حال ونيلو سره محل مراد دې.

قوله اى أمره دې کښې اشاره ده چې باتهم الله کښې اسناد مجازی دی.

قوله تزيينه، اى تزيين الشيطان، المراد من التزيين وسوسته، كتحريم لحم الابل وتعظيم يوم السبت

[اياتونه: ۲۱۱-۲۱۴]

{سَلْ} يَا مُحَمَّد {بَنِي إِسْرَائِيل} تَبْكِيتًا {كَمْ آتَيْنَاهُمْ} كَمْ اسْتِفْهَامِيَّة مُعَلِّقَة سَلْ عَنْ الْمَفْعُول الثَّانِي وَهِيَ ثَانِي مَفْعُول آتَيْنَا وَمُمَيِّزهَا {مِنْ آيَةٍ بَيِّنَةٍ} ظَاهِرَة كَفَلْقِ الْبَحْر وَإِنْزَال الْمَنّ وَالسَّلْوَى فَبَدَّلُوهَا كُفْرًا {وَمَنْ يُبَدِّلْ نِعْمَةَ اللَّه} أَيْ مَا أَنْعَمَ بِهِ عَلَيْهِ مِنْ الْآيَات لِأَنَّهَا سَبَب الْهِدَايَة {مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُ} كُفْرًا {فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ} لَهُ {زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا} مِنْ أَهْل مَكَّة {الْحَيَاةُ الدُّنْيَا} بِالتَّمْوِيهِ فَأَحَبُّوهَا {وَ} هُمْ {يَسْخَرُونَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا} لِفَقْرِهِمْ كَبِلَالٍ وَعَمَّار وَصُهَيْب أَيْ يَسْتَهْزِئُونَ بِهِمْ وَيَتَعَالَوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْمَالِ {وَالَّذِينَ اتَّقَوْا} الشِّرْك وَهُمْ هَؤُلَاءِ {فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ} أَيْ رِزْقًا وَاسِعًا فِي الْآخِرَة أَوْ الدُّنْيَا بِأَنْ يَمْلِك الْمَسْخُور مِنْهُمْ أَمْوَال السَّاخِرِينَ وَرِقَابهمْ {كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً} عَلَى الْإِيمَان فَاخْتَلَفُوا بِأَنْ آمَنَ بَعْض وَكَفَرَ بَعْض {فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ} إِلَيْهِمْ {مُبَشِّرِينَ} مَنْ آمَنَ بِالْجَنَّة {وَمُنْذِرِينَ} مَنْ كَفَرَ بِالنَّارِ {وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ} بِمَعْنَى الْكُتُب {بِالْحَقِّ} مُتَعَلِّق بِأَنْزَلَ {لِيَحْكُمَ} بِهِ {بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ} مِنْ الدِّين {وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ} أَيْ الدِّين {إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ} أَيْ الْكِتَاب فَآمَنَ بَعْض وَكَفَرَ بَعْض {مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ} الْحُجَج الظَّاهِرَة عَلَى التَّوْحِيد وَمِنْ مُتَعَلِّقَة بِاخْتَلَفَ وَهِيَ وَمَا بَعْدهَا مُقَدَّم عَلَى الِاسْتِثْنَاء فِي الْمَعْنَى {بَغْيًا} مِنْ الْكَافِرِينَ {بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ} لِلْبَيَانِ {الْحَقِّ بِإِذْنِهِ} بِإِرَادَتِهِ {وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ} هِدَايَته {إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} طَرِيق الْحَقّ ونزل في جهد أصاب المسلمين {أَمْ} بَلْ أ {حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا} لَمْ {يَأْتِكُمْ مَثَلُ} شِبْه مَا أَتَى {الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ} مِنْ الْمُؤْمِنِينَ مِنْ الْمِحَن فَتَصْبِرُوا كَمَا صَبَرُوا {مَسَّتْهُمُ} جُمْلَة مُسْتَأْنَفَة مُبَيِّنَة مَا قَبْلهَا {الْبَأْسَاءُ} شِدَّة الْفَقْر {وَالضَّرَّاءُ} الْمَرَض {وَزُلْزِلُوا} أُزْعِجُوا بِأَنْوَاعِ الْبَلَاء {حَتَّى يَقُولَ} بِالنَّصْبِ وَالرَّفْع أَيْ قَالَ {الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ} اسْتِبْطَاء لِلنَّصْرِ لِتَنَاهِي الشِّدَّة عَلَيْهِمْ {مَتَى} يَأْتِي {نَصْرُ اللَّهِ} الَّذِي وُعِدْنَاهُ فَأُجِيبُوا مِنْ قِبَل اللَّه {أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ} إِتْيَانه

ترجمه: اې محمد ﷺ بنی اسرائيل لاجواب کولو دپاره پوښتنه اوکړه چې مونږ هغوی ته څومره ښکاره نښې ورکړې دی مثلاً د د درياب دوه ټکړې کيدل، او مَنْ وسَلْوٰی نازل کول مګر هغوی ددې نښانې (نعمتونو) بدله په ناشکرئی سره ورکړه. کَمْ استفهاميه دې چې د سَل

مفعول ثانی دی (آتَيْنٰهُمْ) کښې دَعمل کولو نه منع کونکې دې او دَ كَمْ آتَيْنَا مفعول ثانی دی (مميزدې او مِن آيَةٍ دَدې تميزدې. اوکوم سړې چې دَالله تعالى نعمتونه بدلوی په کفرسره يعنی هغه نعمتونه چې هغه ته دَ انعام په توګه دَ نشانو په شکل کښې ورکړې (اوهغه آيات نعمت څکه چې دې، چې هغه دَ هدايت سبب دې نوبيشکه الله تعالى دَ ډيرسخت عذاب والا دې. دکافرانو يعنی اهل مکه دَپاره دَ دنياژوند ښائسته کولوسره کوم چې هغوی محبوب ګڼړلې دې نو ښائسته کړې دې اودا خلق ايمان والوپورې دَ غربت دَ وجې مسخرې کوی لکه په عمار بلال او صهيب به دوی مذاق کولو او په هغوی به ئی مالی اوچتوالې خرڅولو حالانکه هغه خلق چې دَ شرك نه بچ شو اوهغه هم دغه (فقيران) دی دَ قيامت په ورځ به دَهغوی نه اوچت وی او الله تعالى چاله چې غواړی بې حسابه روزی ورکوی يعنی په آخرت يا دنياکښې وسيع رزق ورکوی په داسې طريقه چې کومو خلقو پورې توقې شوی دی هغوی به دَدوی دَ مالونو اودَ هغوی دَ ستونو مالکان جوړکړی (په حقيقت) کښې ايمان والا هم يوامت وو روستو مختلف شو په دې طريقه چې بعضو ايمان راوړو اوبعضو انکار اوکړو روستو دَهغې نه چې هغوی له واضحه دليلونه راغلی وو اودَ من بعدمتعلق اختلف سره دې او مِن اودَدې مابعد دَمعنی په اعتبارسره په استثناء باندې مقدم دې اودا هرڅه صرف دَخپل مينځ د کفر اوعناد دَ وجې نه ئی اوکړه. بيا هم الله تعالى دَ ايمانو والو په کوم کښې چې هغوی اختلاف اوکړو په خپله رضاباندې لارخودنه اوکړه اوالله تعالى چې دَ چاهدايت غواړی په صراط مستقيم يعنی نيغې لارې ته هدايت ورته کوی اودَهغه مشقت باره کښې کوم چې مسلمانانوته اورسيدو (راتلونکې آيت) نازل شو. آيا تاسودا ګمان کړې ناست يئې چې جنت کښې به داخل شئی حالانکه تراوسه پورې په تاسو هغه حالات نه دی راغلی کوم حالات چې تاسو نه وړاندې ايمان والوباندې راغلی وو. لهذا تاسو هم هغه شان صبر اوکړئی څنګه چې صبر هغوی کړې وو هغوی سخت محتاج شو او بيماران شو. مَسَّتْهُمْ جمله مستانفه دَخپل ماقبل بيان دې په مختلف قسم ازميښتونو سره ئی اوخوزول تردې چې دَهغه وخت رسول او هغه سره ايمان راوړونکی په نصرت کښې دَ تاخير او په هغوی باندې دَ ډيرې سختئی دَ وجې دا ويئا اوکړه چې دَالله تعالى امدادبه کله راځی؟ دَ کوم چې مونږ سره وعده کړې شوې ده (يقول) نصب او رفع سره دې نوهغوی ته دَ الله تعالى دَ طرف نه جواب ورکړې شو واورئی دَالله تعالى نصرت راتلل نيزدې دی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: سَلْ ته سوال اوکړه (ف) نه امر واحدمذکرحاضر دَ سَلْ اصل اِسْئَلْ وو دَ همزه ثانيه حرکت نقل کولوسره خپل ماقبل سين ته ورکړو اوهمزه تخفيفًا حذف کړې شوه همزه

وصل چونکه ضرورة راوړلي شوې وه د ضرورت نه پاتې کيدو د وجې نه ساقط کړې شوه. سَلْ شو خطاب رسول الله ﷺ ته دې.

قوله: تبکيتًا (تفعيل) لاجواب کول، چپ کول، شرمنده کول اودا استفهام د توبيخ د پاره دې نه چې دا استفهام د سوال د پاره دې.

قوله: مُعَلِّقَةٌ لِسَلْ مِنَ المفعول الثانی، يعنی کَمْ استفهام سَلْ مفعول ثانی کښې عمل کولو نه مانع دې او پخپله د مفعول ثانی په ځائی باندې دې دې د پاره چې د دې د کلام صدارت باقی پاتې شی.

سوال: سَلْ متعدی په يو مفعول دې دې ته د دويم مفعول هدو ضرورت نشته نوبيا سَلْ ته په مفعول ثانی کښې د عمل کولو نه بندولو څه مطلب دې؟

جواب: سوال چونکه سبب د علم وی او عَلِمَ د افعال قلوب نه د کيدو د وجې متعدی په دوو مفعولو دې. چونکه سوال سبب دې د علم اوعلم د دې مسبب دې او بعض وخت سبب د مسبب په ځائی وی لهذا دلته هم سَئَلَ په ځائی د عَلِمَ کيدو د وجې نه متعدی په دوو مفعولو شو.

ترکيب: سَلْ فعل امر ضمير اَنْتَ د دې فاعل بنی اسرائيل د سَلْ مفعول اول دې کَمْ استفهاميه مميز، هُمْ د آتَيْنَا مفعول اول مِنْ آيَةٍ تميز کَمْ مُمَيَّزْ خپل تميز سره ملاويدو کښې د آتَيْنَا مفعول ثانی مقدم دې. اتينا خپل فاعل اومفعولونو سره ملاويدو کښې جمله قائمه شوه د سَلْ د مفعول ثانی او سَلْ خپل فاعل مفعول او قائمقام مفعول سره ملاويد کښې جمله انشائيه شوه.

سوال: سَلْ د دوو مفعولونو تقاضا کوی. يو د هغې نه مسؤل عنه دې او دويم مسؤل، دلته مسؤل بنی اسرائيل دی او مسؤل عنه ذکر نه دې حالانکه د مسؤل عنه بغير سوال نه هيڅ مطلب نه دې؟

جواب: لکه څنګه چې د مفعول ثانی نه مسؤل عنه ګنړلې شی د قائمقام مفعول نه هم مسؤل عنه ګنړلې شی لهذا کَمْ آتَيْنَاهم کوم چې د سَلْ مفعول ثانی په ځائی دې نه هم مسؤل عنه مفهوم کيږی لهذا مسؤل عنه مستقل د ذکر کولو ضرورت نشته.

قوله: ومُمَيِّزُهَا مِنْ آيَةٍ د دې اضافه مقصد د يو سوال مقدر جواب دې

سوال: کم استفهاميه په تميز باندې مِنْ نه استعماليږی او د نحوی په کتابونو کښې چرته ذکر نه دی.

جواب دَ جواب حاصل دا دې چې کم استفهامیه په تمیزباندې دَ من دخول هغه وخت منع دې چې کوم وخت دَ ممیز اوتمیز په مینځ کښې فصل نه وی خوکه ممیز اوتمیزپه مینځ کښې فعل متعدی فصل وی لکه چې دلته دَ اٰتینٰا فصل دې نو مِنْ راوړل واجب دی او دَدې جواب وجه دَ مفعول او تمیز په مینځ کښې فرق کول دی که چرې په تمیزباندې مِنْ نه وې نو په دغه امرکښې التباس کیدلو چې اٰیَۃٍ د اٰتینٰامفعول دې یادَ کم استفهامیه تمیزدې؟

قوله لِاَنَّهَا سَبَبُ الْهِدَايَةِ دَ هغه شبه جواب دې چې آیات ته نعمت ولې ونیلې شوې دې؟ جواب دادې چې آیات سبب دَ هدایت دی اوهدایت دَ ټولونه لوئی نعمت دې سبب ونیلوسره مسبب مراد اخستې شوې دې.

قوله كُفْرًا، كُفْرًا اضافه کولوسره اشاره اوکړه چې د يُبَدِّلْ مفعول ثانی محذوف دې

قوله شديدالعقاب لَهٗ.

سوال لَہٗ مقدر منلوڅه ضرورت دې؟

جواب مَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللهِ مبتداء دې او فَاِنَّ اللهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ جمله کیدو سره دَ مبتداء خبردې حالانکه خبرچې کله جمله وی نو په هغې کښې دَ یوعائدکیدل ضروری وی لَهٗ مقدرمنلوسره عائددَ محذوف طرف ته اشاره اوکړه.

قوله وَهُمْ يَسْخَرُوْنَ.

سوال هُمْ دَ اضافه څه فائده ده؟

جواب واؤحالیه دې نه چې عاطفه اودَ واؤ حالیه جمله اسمیه کیدل ضروری دی څکه چې دَ هُمْ اضافه اوکړې شوه.

سوال واؤعاطفه منلوکښې څه قباحت دې که چرې واؤ عاطفه اومنلې شی نو دَ هُمْ محذوف منلوڅه ضرورت دې؟

جواب واؤ عاطفه منلوپه صورت کښې يَسْخَر دَمضارع په زَيَّنَ ماضی باندې به عطف لازم راشی چې په فصیح کلام کښې مستحسن نه دې.

قوله وَهِىَ وَمَابَعْدَهَا مقدم عَلَى الاستثناء معنى دَدې اضافه مقصد دَیومشهورسوال جواب دې.

سوال دَ یوحرف استثناء په ذریعه متعدد استثناء صحیح نه ده اودلته هم دغه صورت دې څکه چې وَمَا اخْتَلَفَ فيه مستثنٰی منه ده او اِلَّا الَّذِيْنَ اوتوه مستثنٰی اول ده او مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمْ مستثنٰی ثانی ده.

جواب دَ جواب حاصل دادې چې دا اعتراض به هغه وخت کيږي کله چې من بعد الغرد اُوتوه متعلق کړې شي لکه دَ قريب کيدودَ وجې نه ظاهردې مگر دَ من بعد تعلق اِختِلَفَ سره دې دَ کوم دَ وجې نه مِنۢ بَعۡدِ الخ په اِلَّا الَّذِيۡنَ اُوتوه باندې مقدم دې لهذا من بعد په مستثنٰى کښې نه دې بلکه مستثنٰى منه کښې داخل دې هم دَدې جواب طرف ته مفسرعلام مِنۢ بعدِ الخ متعلقة باختلف وئيلو سره اشاره اوکړه.

قوله معنیٰ دَدې لفظ اضافه مقصد داخودل دی چې مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ الخ دَ لفظونو په اعتبارسره اگرچې مؤخردې مگردَ معنی په اعتبارسره مقدم دې.

قوله بَغۡيًا يا خود مفعول يا د حال کيدودَ وجې نه منصوب دې.

قوله بَيۡنَهُمۡ د بَغۡيًا صفت دې يا حال دې.

قوله: اى قال.

سوال مفسرعلام دَ يقول تفسير قَالَ سره کړې دې دَدې څه فائده ده؟

جواب دَدې مقصد دَ يقول دوارو قراءتونو طرف ته اشاره کول دی څکه چې قاعده داده چې کله دَحتّٰى نه پس مستقبل په معنى دَماضى وى نو په هغې کښې رفع اونصب کول دواړه جائز وى. دلته هم دغه صورت دې څکه چې نافع رحمه الله رفع او نورو حضراتو نصب لوستلې دې. حَتّٰى يَقُوۡلَ الرَّسُوۡلُ اصل کښې قال الرسول دې حکايت دَ حال ماضيه په توگه ماضى مضارع سره تعبيرکړې شوې دې لکه چې وئيلې شى مَرِضَ فلانٌ حتّٰى لا يَرجونَهٗ فلانکې سړې بيمارشو دَهغه دَ بچ کيدو اميدنشته.

قوله مَتٰى يأتى نصرُالله. متى دَ ظرفيت دَ وجې نه منصوب دې او خبرمقدم کيدو دَ وجې نه په محل کښې دَ رفع دې او نصرالله مبتداء مؤخردې مفسرعلام يأتى. فعل محذوف منلوسره اشاره اوکړه چې نصرالله دَ فعل محذوف فاعل دې.

[اياتوله:٢١٥-٢١٦]

{يسألونك} يا محمد {ماذاينفقون} اي اللذين يُنفِقُونَهُ وَالسَّائِل عَمرو بن الجَمُوح وَكَانَ شَيخًا ذا مَال فَسَالَ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَمَّا يُنفِق وَعَلَي مَن يُنفِق {قُلۡ} لَهُمۡ {مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ} بَيَان لِمَا شَامِل لِلقَلِيلِ وَالكَثِير وَفِيهِ بَيَان المُنفِق الَّذِي هُوَ أحد شِقَّيِ السُّؤَال وَأجَابَ عَنِ المَصرِف الَّذِي هُوَ الشَّقّ الآخر بِقَولِهِ {فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ والمساكين وبن السَّبِيل} أي هُم أولَي بِهِ {وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ} إنفاق أو غيره {فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ} فَمُجَازٍ عَلَيهِ {كُتِبَ} فُرِضَ {عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ} لِلكُفَّار {وَهُوَ كُرۡهٞ} مكروه {لكم} طبعا لِمَشَقَّتِهِ {وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡ} لِمَيلِ

النَّفس إلي الشَّهوَات الْمُوجِبَة لِهَلَاكِهَا وَنُفُورهَا عَنْ التَّكْلِيفَات الْمُوجِبَة لِسَعَادَتِهَا فَلَعَلَّ لَكُمْ فِي الْقِتَال وإنْ كَرِهْتُمُوهُ خَيْرًا لِأَنَّ فِيهِ إمَّا الظَّفَر وَالْغَنِيمَة أَوْ الشَّهَادَة وَالْأَجْر وَفِي تَرْكه وَإِنْ أَحْبَبْتُمُوهُ شَرًّا لِأَنَّ فِيهِ الذُّلّ وَالْفَقْر وَحِرْمَان الْأَجْر {وَاللَّهُ يَعْلَمُ} مَا هُوَ خَيْر لَكُمْ {وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ} ذَلِكَ فَبَادِرُوا إلَى مَا يَأْمُركُم بِهِ

ترجمه: اي محمد ﷺ تاسو نه خلق تپوس کوی چې څه خرچ کړی؟ مَاذَا په معنی د اَلَّذِیْ اوسائل عمرو بن جموح وو چې مالداره بوډا وو نوهغه دَ رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوکړه چې څه خرچ کړی؟ **تاسو هغه ته جواب ورکړئی چې تاسو کوم مال هم خرچ کړې** (مِنْ خَیْرٍ دَ مَا بیان دې چې قلیل اوکثیرتولوته شامل دې او په دې کښې دَ خرچ کیدونکی څیزبیان دې چې دَ سوال دَ دوو حصونه یوه حصه ده اودَمصرف جواب ئی ورکړو په خپل قول فَلِلْوَالِدَیْنِ سره کوم چې دَ سوال دویمه حصه ده (یعنی خپل) **والدین باندې، په خپلوانو یتیمانو مسکینانو او مسافرو باندې** (خرچ کړئی) دا خلق دَ خرچ زیات مستحق دی انفاق وغیره **کوم عمل دَ خیرچې هم تاسو کوئی الله تعالی دَ هغې نه خبردې** دَهغې **به تاسو ته صله ملاویږی**. په تاسو باندې **کافرانوسره جهاد کول فرض کړې شوی دی اوهغه ستاسو طبعًا ناخوښه دې** په هغې کښې دَ مشقت کیدو دَ وجې نه **اوکیدې شی چې یوڅیز ستاسو ناخوښوی او هم هغه ستاسو دَپاره بهتروی اوکیدې شي چې یوڅیز تاسوته خوښ وی اوهغه ستاسو دَپاره خراب** او هلاکونکې وی اودَ خواهشاتو دَ نفس طرف ته دَنفس میلان کیدو دَ وجې، اودَ نفس دَ پارد نیك بختی واجب کونکی تکلیفوته دَ نفس دَ نفرت کولودَ وجې، څکه چې کیدې شی چې په جهادکښې ستاسو دَپاره خیروی سره دَدې چې هغه تاسو ناخوښه اوګنړئی. په دې کښې یاخوفتح او مال غنیمت دې یاشهادت اواجردې. اودَ جهاد په ترك کولوکښې سره دَدې چې تاسو دا (دَ جهاد پریخودل) خوښ ګنړئی شر وی څکه چې په دې کښې ذلت فقر اودَ اجر نه محرومتیا ده ستاسو دَ پاره څه بهتردی؟ **الله تعالی پیژنی تاسو هغه نه پیژنئی** نوچې تاسو ته دَ څه حکم کوی هغې طرف ته وړاندیوالې کوئی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اَلَّذِیْ دې کښې اشاره ده چې ذَا دلته موصول دې نه چې اسم اشاره، یعنی اَلَّذِیْ دَ إِذَاتفسیر دې نه چې دَ مَاذَا.

قوله: وَعَلٰی مَنْ یُنْفِقُ، دا عبارت مقدرمنلومقصددَ یوسوال جواب دې.

سوال: دادې چې دَ الله تعالی جواب دَ عمروبن جموح دَ سوال مطابق نه دې څکه چې سوال وو څه خرچ کړو نه دا چې په چاباندې خرچ کړوحالانکه الله تعالی فَلِلْوَالِدَیْنِ ذکرکولوسره مصرف بیان کړې دې. خلاصه دا ده چې سوال دَ منفق وو او جواب منفق علیهم سره ورکړې شو؟

جواب: دَ جواب ماحصل دادې چې سوال دَ دوارو څیزونو وو مګر په نظم آیت کښې دَ ایجاز اواختصار دَ وجې نه منفق ذکرنه کړې شو. په جواب باندې محمول کولوسره چې هم په جواب سره سوال په پوهه کښې راشي. مِنْ خَيْرٍ، دَمَا بیان دې کوم چې قلیل اوکثیرته شامل دې او په دې کښې اشارةً د مُنْفَق بیان دې چې دَ سوال دَ دوو جزونونه یو دې او فللوالدين دَمصرف بیان دې کوم چې دَ سوال دَ دویم جز بیان دې. دَ سوال چې کوم جز صراحةً ذکر دې، دهغه جواب ئې ما انفقتم من خير سره اشارة ورکړې دې او دسوال چې کوم جزء محذوف دې یعنی علی من ینفق دهغه جواب صراحة مذکور دې یعنی فللوالدين الخ لهذا اوس هیڅ اشکال باقی پاتې نه شو، سوال اوجواب دواړه مطابق شو. دَ منفق اشارةً او منفق علیهم صراحة ذکرکولوکښې دې خبرې طرف ته هم اشاره ده چې دَ منفق باره کښې سوال هیڅ اهمیت نه لری ځکه چې څه خرچ کړی اوڅومره خرچ کړی. دا دَ انسان په حالت او اختیار باندې موقوف وی البته دَمصرف پیژندل ضروری دی دې دَپاره چې خرچ کړې شوې مال بې مصرف او بې ځایه خرچ نه شی ګنی مال به ضائع او دَ اجر نه محروم کیدل به لازم راځی.

قوله: هُمْ اولى به،په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې مذکوره مصارف اولی او افضل ضرورې مګر هم په دې کښې منحصرنه دې دَدې نه په علاوه باندې هم خرچ کولې شی دَدې نه معلومه شوه چې فللوالدين کښې لام دَ اختصاص نه دې.

قوله: طبعًا دا دَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دَالله حکم خصوصًا چې فرض وی ناخوښه کول اومکروه ګڼړل کفردې.

جواب: طبعی کراهت موجب کفرنه دې ځکه چې دادَ انسان فطرت دې.

قوله: ذلك دادَ يعلمون مفعول دې.

[اياتونه:۲۱۷-۲۱۹]

وارسل النبي أوّل سَرَايَاهُ وَعَلَيْهَا عَبْد الله بْن جَحْش فقاتلوا المشركين وقتلوا بن الحضرمي اخر يوم من جمادي الآخر وَالْتَبَسَ عَلَيْهِم بِرَجَب فعَيَّرَهُمْ الْكُفَّار بِاسْتِحْلَالِهِ فَنَزَلَ {يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ} الْمُحَرَّم {قِتَالٍ فِيهِ} بَدَل اشْتِمَال {قُلْ} لَهُمْ {قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ} عَظِيم وِزْرًا مُبْتَدَأ وَخَبَر {وَصَدٌّ} مُبْتَدَأ مَنْع لِلنَّاس {عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ} دِينه {وَكُفْرٌ بِهِ} بالله {وصد عن الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ} أَيْ مَكَّة {وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ} وَهُمْ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُؤْمِنُونَ وَخَبَر الْمُبْتَدَأ {أَكْبَرُ} أَعْظَم وِزْرًا {عِنْدَ اللَّهِ} مِنَ الْقِتَال فِيهِ {وَالْفِتْنَةُ} الشِّرْك مِنْكُمْ {أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ} لَكُمْ فِيهِ {وَلَا يَزَالُونَ} أَيْ الْكُفَّار {يُقَاتِلُونَكُمْ} أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ {حَتَّى} كَيْ {يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ} إِلَى الْكُفْر {إِنِ اسْتَطَاعُوا وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ

وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَـٰئِكَ حَبِطَتْ} بَطَلَتْ {أَعْمَالُهُمْ} الصَّالِحَة {فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ} فَلَا اعْتِدَاد بِهَا وَلَا ثَوَاب عَلَيْهَا وَالتَّقْيِيد بِالْمَوْتِ عَلَيْهِ يُفِيد أَنَّهُ لَوْ رَجَعَ إِلَى الْإِسْلَام لَمْ يَبْطُل عَمَله فَيُثَاب عَلَيْهِ وَلَا يُعِيدهُ كَالْحَجِّ مَثَلًا وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ {وأولئك أصحاب النار هم فيها خالدون} وَلَمَّا ظَنَّ السَّرِيَّة أَنَّهُمْ إِنْ سَلِمُوا مِنَ الْإِثْم فَلَا يَحْصُل لَهُمْ أَجْر نَزَلَ {إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا} فَارَقُوا أَوْطَانهمْ {وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ} لِإِعْلَاءِ دِينه {أُولَـٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ} ثَوَابه {وَاللَّهُ غَفُورٌ} لِلْمُؤْمِنِينَ {رَحِيمٌ} بِهِمْ. {يسألونك عن الخمر والميسر} القمار ما حكمها {قُلْ} لَهُمْ {فِيهِمَا} أَيْ فِي تَعَاطِيهِمَا {إِثْمٌ كَبِيرٌ} عَظِيم وَفِي قِرَاءَة بِالْمُثَلَّثَةِ لِمَا يَحْصُل بِسَبَبِهِمَا مِنَ الْمُخَاصَمَة وَالْمُشَاتَمَة وَقَوْل الْفُحْش {وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ} بِاللَّذَّةِ وَالْفَرَح فِي الْخَمْر وَإِصَابَة الْمَال بِلَا كَدّ فِي الْمَيْسِر {وَإِثْمُهُمَا} أَيْ مَا يَنْشَأ عَنْهُمَا مِنَ الْمَفَاسِد {أَكْبَرُ} أَعْظَم {مِنْ نَفْعِهِمَا} وَلَمَّا نَزَلَتْ شَرِبَهَا قَوْم وَامْتَنَعَ عَنْهَا آخرون إِلَى أَنْ حَرَّمَتْهَا آيَة الْمَائِدَة {وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ} أَيْ مَا قَدْره {قُلْ} أَنْفِقُوا {الْعَفْوَ} أَيْ الْفَاضِل عَنِ الْحَاجَة وَلَا تُنْفِقُوا مَا تَحْتَاجُونَ إِلَيْهِ وَتُضَيِّعُوا أَنْفُسَكُمْ وَفِي قِرَاءَة بِالرَّفْعِ بِتَقْدِيرِ هُوَ {كَذَٰلِكَ} أَيْ كَمَا بُيِّنَ لَكُمْ مَا ذُكِرَ {يبين الله لكم الآيات لعلكم تتفكرون} {فِي} أَمْر {الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ} فَتَأْخُذُونَ بِالْأَصْلَحِ لَكُمْ فِيهِمَا

ترجمه: نبی کریم ﷺ خپل لښکر (جنګی یونټ) نه ړومبې سریه (یونټ) روان کړو او دهغې امیرئی عبدالله بن جحش رضی الله عنه مقررکړو دغه خلقو مشرکانو سره جنګ اوکړو او دَ جمادی الاخر آخری ورځ ئې ابن حضر می قتل کړو. هغوی ته دَ جمادی الاخر دآخری ورځې دَرجب دَړومبې ورځې شك پیدا شو نو کافرانو دَ رجب د میاشت حلال ګنړلو پیغور اوکړو نو یَسْئَلُوْنَكَ نازل شو. خلق تاسو نه تپوس کوی چې ماه حرام (یعنی) دَ احترام په میاشت کښې جنګیدل څنګه دی؟ قِتَالٍ فِيهِ (عن الشهر الحرام) نه بدل الاشتمال دې. تاسو هغوی ته اوښایئې چې په دې کښې جنګ کول ډیر خراب دی (یعنی) دَ ګناه په اعتبارسره لوئی جرم دې (قتال فيه) دَ مبتداء خبردې اوخلق دَ الله تعالی دَ لار یعنی دین نه منع کول او الله تعالی سره کفرکول اومسجدحرام یعنی مکې نه بندول او اهل حرم دَ حرم نه ویستل اوهغه نبی کریم ﷺ اومؤمنان دی دَ الله تعالی په نیزډیره لویه ګناه ده. په دې کښې تر جنګ کولونه، صَدٌّ مبتداء ده او اکبرعندالله دَدې خبردې او فتنه (یعنی) ستاسوشرك کول ستاسو په دې کښې دَقتل کولونه ډیر سخت دی. او اې مؤمنانو داکافران به تاسو سره جنګیږی ترهغه وخته پورې چې تاسو دَ خپل دین نه کفرطرف ته اوګرځوی که دَ دوی وس اوشی او تاسو نه چې څوک دَ خپل دین نه واوُختل اوهغه دکفرپه حالت کښې پاتې کیږی نو دَهغه نیک اعمال به په دنیا او آخرت کښې ضائع شی نونه به دَ دغه اعمالو شمیرکیږی اونه به په هغې باندې اجر ملاویږی او هم په کفر باندې دَمړه کیدلوقید دا فائده ده که چرې دا سړې دَ اسلام طرف ته واپس راوګرځید و

نوډده عمل ضائع نه شو لهذا په هغې به ثواب ورکولې شی اوهغه به دَ دغه عمل سردوباره کول نه کوی لکه حج مثلاً امام شافعی رحمه الله هم دغه مذهب دې اوداسې تول خلق دوزخيان دی او هميشه به هم په دغه دوزخ کښې وی. اوکله چې دَ لښکريانودا ګمان پيداشو چې هغوی سره ډدې چې دَ ګناه نه بچ شو ليکن هغوی ته (دَ جهاد) اجر خو ملاؤنه شونو إِنَّ الَّذِينَ نازل شو بيشکه هغه خلق چې ايمان ئی راوړې او چاچې هجرت اوکړو يعنی خپل وطن ئی پريخودو اودَ دين دَ کلمې دَ اوچتولودپاره دَالله تعالی په لارکښې جهاد اوکړو هم دغهٔ هغه خلق دی چې دَ الله تعالی دَرحمت ثواب (په خائی) اميدواران دی اوالله تعالی مؤمنان معاف کونکې دې او په هغوی باندې رحم کونکې دې. تاسونه دَ شرابو او جوارئی يعنی ډدې دَ حکم باره کښې پوښتنه کوی دوی ته اوښايه چې دَ دغه دواړو په کولوکښې عظيمه ګناه ده او په يوقراءت کښې (کَبِيرٌ ثاء مثلثه سره (يعنی) کثيرٌ دې څکه چې ډدې دواړو دَ وجې نه دښمنی کنځلې او فحش خبرې کولو نوبت راځی او (په دې کښې) دَخلقو دَپاره څه فائدې هم دی مثلاً خوند خوشحالی په شرابوکښې او بغيردَ مشقت نه دَمال حاصليدل په جوارئی کښې دی اوډدې ګناه يعنی ډدې دَمفاسد ګناه کومه چې (ډدې دواړو) نه پيدا کيږی ډيره لويه ده ډدې دَ ګټې نه. اوکله چې دا آيت نازل شو نو څه خلقو (شراب) څکل او څه (دَ څکلونه) منع شو. تردې چې دَ سورت مائده آيت دا دواړه حرام کړل. اوخلق تاسونه داهم تپوس کوی چې (دَالله تعالی په لارکښې) څه خرچ کړو؟ يعنی دَهغې اندازه څه ده؟ تاسو ورته اووايئې چې کوم تاسونه زياتی شی هغه خرچ کړئی اودکوم چې تاسو ته حاجت وی هغه مه خرچ کوئی (چې هغه خرچ کړئی) خپل ځان نه ضائع کړئی او په يوقراءت کښې (الْعَفْوُ) رفع سره دې دَ هُوَ تقدير سره داسې لکه څنګه چې ستاسو دَپاره مذکوره احکام بيان کړل الله تعالی ستاسو دَپاره صفا صفا احکام بيانوی دې دَپاره چې تاسو دَدنيا اوآخرت په معامله کښې غور اوکړئ نو بس هم هغه اختيارکړئی کوم چې ستاسو دَپاره په دنيا او آخرت کښې بهتروی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ابن الحضرمی دَدوی اصل نوم عمربن عبدالله بن عباد حضرمی دې دَ حضرموت طرف ته منسوب دې.

قوله: سَرَايَا. دَ سَرِيَّةٌ جمع ده دَ لښکريوه حصه، په اصطلاح کښې سريه هغه لښکرته وائی په کوم کښې چې حضور پاک پخپله شرکت نه وی فرمائيلې او غزوه هغه لښکرته وائی په کوم کښې چې رسول الله ﷺ پخپله شرکت فرمائيلې وی. دَ غزوات او سرايا مجموعه اويا دی. سريه دَ پنځو کسانونه واخله ترڅلورو سوو پورې شمير ته وائی ډدې نه زيات ته جند (لښکر) ته وائی. مفسرعلام دې سريه ته رومبې سريه وئيلې ده؛ حالانکه مواهب

کښې دی چې دې نه وړاندې درې سرایا او څلور غزوات شوی وو. ړومبې سریه دَ هجرت په اووم کال دَ رمضان په میاشت کښې شوې وه دَ کومې امیر چې حضورپاك خپل تره حضرت حمزه ﷜ جوړکړې وو دَدغه سریه دَ کسانو شمیر دیرش وو دې نه پس دویمه سریه سریهٔ عبیدة بن الحارث﷜ ده دا دَ شوال په میاشت کښې پیښه شوې وه. دَ هجرت په اتمه میاشت دې کښې شپیته کسان شامل وو. دې نه پس دریمه سریه سریهٔ سعدبن ابی وقاص ﷜ ده داد حجاز په یوه وادئی خرار کښې پیښه شوه دا ذی القعده کښې دَهجرت په نهمه میاشت کښې پیښه شوه دا سریه په شلوکسانو باندې مشتمل وه. دې نه پس څلور غزوات پیښ شوی اول غزوه ودان دویمه بواط دریمه غزوه ذوالعُشیره پیښه شوې او څلورمه غزوه بدر اولی ده دَ کومې نه پس چې سریهٔ عبدالله بن جحش دَ رجب په آخرکښې دَ هجرت په اوولسمه میاشت پیښه شوه لهذا سریهٔ عبدالله بن حجش ته اول سریه وئیلو کښې نظردې.

تطبیق: دَ تطبیق چې کوم صورت کیدې شی هغه دا چې په کومه سریه کښې چې دَ چاقتل شوې وی او مال غنیمت په لاس راغلې وو هغه هم دغه سریه ده. په دې اعتبارسره دې ته اوله سریه وئیلې شی ځکه چې دې نه وړاندې سرایا کښې نه څوك قتل شوی اونه دَ غنیمت مال په لاس راغلې. (جمل صاوی)

قوله: اِلتبسَ عَلَيۡهِمۡ بِرَجَبَ دَ جمادی الاخری آخری تاریخ ګڼرلوسره مسلمانانو دَ خضرمی په قافله باندې شبخون وهلې وو. په دویمه ورځ چې کله سپوږمئی اوکتله نو په هغې کښې اشتباه اوشوه بعضو وئیل دا دَ پرونې ورځې سپوږمئی ده بعض اووئیل هم دَ نن ده که چرې دَ پرون وی نو قتال دَ رجب په ړومبی تاریخ کښې واقع شو چې محترم میاشت ده په دې وجه مسلمانان هم په شش وپنج کښې پریوتل. او دَمکې مشرکانو هم په دې باره کښې په مسلمانانو باندې پیغورونه شروع کړل چې تاسو دا دَ احترام میاشت هم حلال کړه تردې چې دَمکې دَمشرکانو یووفد دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اودَ مسلمانانو شکایت ئې اوکړو اوهم دغه مسئله ئې معلومه کړه. نو دا آیت نازل شو يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الشَّهۡرِ الۡحَرَامِ الخ.

قوله: المحرّم.

سوال: الحرام تفسیر المحرم سره کولو کښې څه مصلحت دې؟

جواب: مقصد دَ یوسوال مقدر جواب ورکول دی.

سوال: دادې چې الشهر الحرام کښې دَمصدر حمل په ذات باندې لازم راځی کوم چې صحیح نه دې؟

جواب: دادې چې الحرام مصدر المحرّم دَمفعول په معنی کښې دې لهذا هیڅ اعتراض نشته یادا حمل مبالغة دې.

قوله: قتال فیه دا دَ الشهر الحرام نه بدل الاشتمال دې. ځکه چې الشهرالحرام دَاداء مقصود دَپاره ناکافی دې.

سوال: قتال فیه نکره دې او الشهرالحرام معرفه، او دنکره په معرفه سره بدل واقع کیدل درست نه دی.

جواب: نکره موصوفه بدل واقع کیدل صحیح دی تقدیر عبارت دادې قتال کائن فیه.

قوله: مبتداءوخبرٌیعنی قتال فیه کبیرٌ دَ مبتداء خبر دې.

سوال: قتال نکره دې اودَ نکره مبتداء واقع کیدل صحیح نه دی.

جواب: نکره که چرته موصوفه وی نو مبتداء واقع کیدل صحیح دی دلته فیه، دَ قتال صفت دې تقدیری عبارت دادې قتال کائن فیه کبیر (فلااعتراض) بعض حضراتو قتالٌ فیه کبیرٌ: جمله موصوفه ګرځولوسره دَ قول مقوله ګرځولې ده مګر دا صحیح نه ده ځکه چې دَمقوله جمله کیدل ضروری دی او قتال فیه کبیرٌ جمله تامه نه ده دَدې جمله مرصوفه واقع کیدل صحیح نه دی.

قوله: اکبرُ، اعظم. **سوال**: اکبرُ دَمتعددخبر واقع دې حالانکه اکبرمفرددې.

جواب: اَفعَلُ وزن واحد تثنیه جمع مذکراومؤنث ټولو کښې استعمالیږی.

قوله: وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُمِنَ الْقَتْلِ، اَلْفِتْنَةُ اکبرُ، دَ مبتداء خبردې حالانکه په دې کښې مطابقت نشته دَ دې دوه جوابونه دی دَ یوطرف ته خو مفسرعلام اَلشِرك وئیلوسره اشاره کړې ده یعنی دَ فتنې نه مراد شرك دې لهذا مطابقت موجود دې. دویم جواب اَفْعَلُ په وزن کښې مذکراومؤنث دواړه برابردی

قوله: فلااعتدادَبِهَا، ولاثواب عَلَيْهَا، د فلااِعْتَدادَتعلق فی الدنیاسره دې یعنی هغه به نه دَمیراث مستحق وی اونه په مال غنیمت وغیره کښې دَ حصو اودَ ولاَ ثوابَ تعلق آخرت سره دې یعنی داسې سړی ته به په آخرت کښې هیڅ اجر نه ملاویږی.

قوله: وَعَلَيْهِ الشَّافعی، په دې دواړو مسئلوکښې امام شافعی رحمه الله سره دَ امام ابوحنیفه رحمه الله اختلاف دې یعنی که دَمرتدکیدونه پس دوباره په اسلام کښې داخل شونودَامام صاحب رحمه الله په نیزدَ ارتداد نه دَ وړاندې اعمالو به اوس هیڅ اجر او ثواب نه ملاویږی. (بیان القرآن ملخصاً)

داختلاف نتیجه: یوسړی مونځ اوکړو اوهغه مرتدشو او دغه وخت کښې لاوخت باقی دې چې بیانې اسلام قبول کړو نودَ امام صاحب په نیزپه هغه باندې دوباره مونځ کول لازم دی به خلاف دَامام شافعی رحمه الله.

قوله: فی تعاطیهما، دې کښې اشاره ده چې دَ خمر اومیسر په ذات کښې گناه نشته بلکه په کار راوستلو او استعمالولو کښې گناه ده.

قوله: ای مایَنشأ عنهما من المفاسِد، دې کښې اشاره ده چې اِثمُهُما کښې اضافت، اضافت مصدرالی السبب دَ قبیل نه دې نه چې اضافت الی الفاعل دَ قبیل نه کوم چې غالب دې.

قوله: اَیْ مَاقدرُه، دَدې اضافه مقصد دَ تکرار اعتراض لرې کول دی.

دفع: دَ دفع خلاصه داده چې په سابق کښې مذکور یَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا یُنْفِقُوْنَ کښې ذِات نفق سره سوال وو اودلته مقدار منفق سره سوال دې. (فلاتکرارَ)

قوله: انفقوا دې کښې اشاره ده چې العَفْوَ دَ فعل محذوف دَ وجی نه منصوب دې.

سوال: خو دَ مبتداء محذوف خبرگرځولو کښې څه نقصان دې ای هوالعَفْوُ.

جواب: په دې صورت کښې په سوال اوجواب کښې مطابقت نه پاتې کیږی ځکه چې سوال جمله فعلیه دې او جواب جمله اسمیه کیږی اوس دواړه جملې فعلیه شوې.

قوله: كَمَا يُبَيِّنُ لكم، دې کښې اشاره ده چې کذلك کښې کاف فعل مؤخر یُبَیِّنُ دَ مصدر محذوف صفت کیدو دَ وجی نه محلاً منصوب دې ای تبیینًا مثل هذاالتبیین.

[ایاتونه:۲۲۰ - ۲۲۱]

{وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى} وَمَا يَلْقَوْنَهُ مِنَ الْحَرَجِ فِي شَأْنِهِمْ فَإِنْ وَاكَلُوهُمْ يَأْثَمُوا وَإِنْ عَزَلُوا مَا لَهُمْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَصَنَعُوا لَهُمْ طَعَامًا وَحْدَهُمْ فَحَرَجٌ {قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ} فِي اموالهم بتنميتها ومداخلتكم {خَيْرٌ} مِنْ تَرْكِ ذَلِكَ {وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ} أَيْ تَخْلِطُوا نَفَقَتَكُمْ بِنَفَقَتِهِمْ {فَإِخْوَانُكُمْ} أَيْ فَهُمْ إِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمِنْ شَأْنِ الْأَخِ أَنْ يُخَالِطَ أَخَاهُ أَيْ فَلَكُمْ ذَلِكَ {وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ} لِأَمْوَالِهِمْ بِمُخَالَطَتِهِ {مِنَ الْمُصْلِحِ} بِهَا فَيُجَازِي كُلًّا مِنْهُمَا {وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ} لَضَيَّقَ عَلَيْكُمْ بِتَحْرِيمِ الْمُخَالَطَةِ {إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ} غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ {حَكِيمٌ} فِي صُنْعِهِ {وَلَا تَنْكِحُوا} تَتَزَوَّجُوا أَيُّهَا الْمُسْلِمُونَ {الْمُشْرِكَاتِ} أَيِ الْكَافِرَاتِ {حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ} حُرَّةٍ لِأَنَّ سَبَبَ نُزُولِهَا الْعَيْبُ عَلَى مَنْ تَزَوَّجَ أَمَةً وَتَرْغِيبُهُ فِي نِكَاحِ حُرَّةٍ مُشْرِكَةٍ {وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ} لِجَمَالِهَا وَمَالِهَا وَهَذَا مَخْصُوصٌ بِغَيْرِ الْكِتَابِيَّاتِ بِآيَةِ {وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ} {وَلَا تُنْكِحُوا} تُزَوِّجُوا {الْمُشْرِكِينَ} أَيِ الْكُفَّارَ الْمُؤْمِنَاتِ {حَتَّى يُؤْمِنُوا وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ

مُشْرِك وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ} لِمَالِهِ وَجَمَاله {أُولَٰئِكَ} أَيْ أَهْل الشِّرْك {يَدْعُونَ إِلَى النَّار} بِدُعَائِهِمْ إِلَي الْعَمَل الْمُوجِب لَهَا فَلَا تَلِيق مُنَاكَحَتهمْ {وَاللَّهُ يَدْعُو} عَلَي لِسَان رُسُله {إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ} أَيْ الْعَمَل الْمُوجِب لَهُمَا {بِإِذْنِهِ} بِإِرَادَتِهِ فَتَجِب إِجَابَته بِتَزْوِيجِ أَوْلِيَائِهِ {وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ} يتعظون

ترجمه: د يتيمانانو اودَهغوى په معامله كښې راتلونكى حرج باره كښې تاسونه پوښتنه كوي كه چرې هغوى سره په يوځائي خوراك كوى نو ګناهګاركيږى كه دَهغوى مالونه دَخپلو مالونونه جداكوى او ځان له دَهغوى خوراك تياره وى نودا هم ګرانه ده. تاسو هغوى ته اووايئې چې دَهغوى ښيګړه دَهغوى په مال كښې زياتوالې او ستاسو يوځائى كيدل دهغوئ د پريخودو نه بهتردى چې كه چرې تاسو دَهغوى خرچې خپلې خرچې سره يوځائى كړئى نوهغوى ستاسو رونړه دي يعنى دينى رونړه دى اودَ رور دا شان كيدل پكاردى چې خپل رور دې ځان سره شامل كړى لهذا دا ستاسودَپاره جائزدى. الله تعالى دَ دغه يتيمانو مال خپل مال سره يوځائى كولوسره بدخواهى اوخيرخواهى كونكى (ښه) پيژنى لهذا دغه دوارو ته به بدله وركوى. اوكه چرې الله تعالى غوښتل نو شركت به ئې حرام ګرځولوسره تاسو په سختئى كښې اچولئى. الله تعالى په خپل حكم كښې غالب اوخپل صنعت كښې باحكمت دې او اې مسلمانانو تاسو مشركانو ښځو يعنى كافرانو ښځوسره نكاح مه كوئى ترهغه وخته پورې چې ايمان راوړى اوبيشكه مومنه وينځه دَ آزادې مشركې ښځې نه بهترده. ځكه چې (دَخلقو) په دغه سرى باندې ګوتې اوچتول چاچې مؤمنې وينځې سره نكاح اوكړه او آزادې مشركې ښځې سره نكاح كښې رغبت كول دَدې آيت دَ نزول سبب دې سره دَدې چې (مشركه ښځه) تاسو ته دَهغې دَ مال اوحسن دَ وجې نه ښه معلوميږى او (نهى عن نكاح المشركات) مخصوص دې غيركتابيات سره دَ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اوتوا الكتاب دَ وجې نه اومشركانو (يعنى) كافرانوسره دَ مؤمنانوښځو نكاح مه كوئى ترهغه وخت چې دغه كافر ايمان راوړى اوبيشكه مؤمن غلام دَمشرك (آزاد) نه بهتردې سره دَدې چې هغه تاسو ته دَهغه دَ مال اوجمال دَ وجې نه ښه معلوميږى اودا مشركان دَ دوزخ دَ اور دعوت وركوى دَهغه اعمالو طرف ته دعوت وركوى چې دَدوزخ اور واجب كونكى دى. لهذا هغوى سره نكاح كول صحيح نه دى اوالله تعالى دَخپل رسول ﷺ په ژبه مباركه دَ جنت اومغفرت طرف ته په خپله اراده سره رابلى يعنى دَ داسې عمل طرف ته كوم چې دَ دغه دوارو دَپاره موجب دې لهذا دَهغه حكم قبلول واجب دى دَهغه اولياؤ (يعنى) مسلمانانوسره په نكاح كولو سره اوهغه خپل آياتونه دَخلقو دَپاره بيانوى دې دَپاره چې خلق نصيحت حاصل كړى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَمَابَلَقَوْلَهٗ دې كښې اشاره ده چې عبارت په حذف د مضاف سره دې ځكه چې سوال

دَ حال نه کیږی نه چې دَ ذات نه.

قوله: وَاَكْلُوْهُمْ، اَكْلُوْ كښې يولغت همزه په واوْ سره بدلول واَكْلُوْا هم دې يعنى په يوځائې خوراك څښاك كول.

قوله: فی اموالهم، دې كښې اشاره ده چې مالی اصلاح مراد ده نه چې غيرمالی، دې دَپاره چې جواب دَ سوال مطابق شی بل دَدې قرينه دَالله تعالى قول وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ هم دې.

قوله: مِن ترکِ ذٰلِك، دې كښې حذف د مفضل عليه طرف ته اشاره ده.

قوله: فَهُمْ اِخْوَانُكُمْ، په دې حذف كښې دې طرف ته اشاره ده چې فَاِخْوَانُكُمْ جزاء شرط ده او دَ جزاء جمله كيدل ضروری څكه چې ددې هُمْ مبتداء محذوف منل ضروری دی.

قوله: اى فَلَكُمْ ذٰلِكَ دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال: وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ شرط دې فَاِخْوَانُكُمْ دَ دې جزاء ده مگر دَ جزاء په شرط باندې ترتب صحيح نه دې څكه چې شرط اوجزاء كښې هيڅ ربط نشته دې.

جواب: اصل جزاء محذوف دې دَ كوم طرف ته چې مفسرعلام فَلَكُمْ ذلك وئيلوسره اشاره كړې ده چې سبب جزاء ئې دَ جزاء قائم مقام كړې ده.

[اياتونه: ۲۲۲-۲۲۵]

{وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ} أَيِ الْحَيْض أَوْ مَكَانه مَاذَا يَفْعَل بِالنِّسَاءِ فِيهِ {قُلْ هُوَ أَذًى} قَذَر أَوْ مَحَلّه {فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ} اُتْرُكُوا وَطْأَهُنَّ {فِي الْمَحِيضِ} أَيْ وَقْته أَوْ مَكَانه {وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ} بِالْجِمَاعِ {حَتَّى يَطْهُرْنَ} بِسُكُونِ الطَّاء وَتَشْدِيدهَا وَالْهَاء وَفِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الطَّاء أَيْ يَغْتَسِلْنَ بَعْد انْقِطَاعه {فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ} بِالْجِمَاعِ {مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ} بِتَجَنُّبِهِ فِي الْحَيْض وَهُوَ الْقُبُل وَلَا تَعْدُوهُ إِلَى غَيْره {إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ} يُثِيب وَيُكْرِم {التَّوَّابِينَ} مِنَ الذُّنُوب {وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ} مِنَ الْأَقْذَار {نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ} أَيْ مَحَلّ زَرْعكُمْ الْوَلَد {فَأْتُوا حَرْثَكُمْ} أَيْ مَحَلّه وَهُوَ الْقُبُل {أَنَّى} كَيْفَ {شِئْتُمْ} مِنْ قِيَام وَقُعُود وَاضْطِجَاع وَإِقْبَال وَإِدْبَار وَنَزَلَ رَدًّا لِقَوْلِ الْيَهُود مَنْ أَتَى امْرَأَته فِي قُبُلهَا أَيْ مِنْ جِهَة دُبُرهَا جَاءَ الْوَلَد أَحْوَل {وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ} الْعَمَل الصَّالِح كَالتَّسْمِيَةِ عِنْد الْجِمَاع {وَاتَّقُوا اللَّهَ} فِي أَمْره وَنَهْيه {وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مُلَاقُوهُ} بِالْبَعْثِ فَيُجَازِيكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ {وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ} الَّذِينَ اتَّقَوْهُ بِالْجَنَّةِ {وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ} أَيِ الْحَلِف بِهِ {عُرْضَةً} عِلَّة مَانِعَة {لِأَيْمَانِكُمْ} أَيْ نَصْبًا لَهَا بِأَنْ تُكْثِرُوا الْحَلِف بِهِ {أَنْ} لَا {تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا} فَتُكْرَه الْيَمِين عَلَى ذَلِكَ وَيُسَنّ فِيهِ الْحِنْث وَيُكَفِّر بِخِلَافِهَا عَلَى فِعْل الْبِرّ وَنَحْوه فَهِيَ طَاعَة {وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ} الْمَعْنَى لَا تَمْتَنِعُوا مِنْ فِعْل مَا ذُكِرَ مِنَ الْبِرّ وَنَحْوه إِذَا حَلَفْتُمْ عَلَيْهِ بَلْ ائْتُوهُ وَكَفِّرُوا لِأَنَّ سَبَب نُزُولهَا الِامْتِنَاع مِنْ ذَلِكَ {وَاللَّهُ سَمِيعٌ} لِأَقْوَالِكُمْ {عَلِيمٌ} بِأَحْوَالِكُمْ {لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ}

الْكَائِن {فِي أَيْمَانِكُمْ} وَهُوَ مَا يَسْبِقُ إِلَيْهِ اللِّسَانُ مِنْ غَيْرِ قَصْدِ الْحَلِفِ نَحْو وَاللّٰه وَبَلٰي وَاللّٰه فَلَا إِثْم عَلَيْهِ وَلَا كَفَّارَة {وَلَٰكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ} أَيْ قَصَدَتْهُ مِنَ الْأَيْمَان إِذَا حَنِثْتُمْ {وَاللّٰهُ غَفُورٌ} لِمَا كَانَ مِنَ اللَّغْو {حَلِيمٌ} بتاخير العقوبة عن مستحقها

ترجمه: خلق تاسو نه دَ حيض (دَ حكم) باره كښې پوښتنه كوي يعنې دَ حيض يا حائضه باره كښې چې په دې حالت كښې ښځوسره د(كورنې) تعلق څه حكم دې؟ تاسو ورته اووايئ چې حيض ګندګي ده ياد ګندګئي محل دې لهذا ښځې دَ حيض په حالت كښې يعنې كوروالې يا محل حيض پريږدئي او دَ جماع دَپاره هغوی ته مه نيزدې كيږئ تردې چې هغه پاكې اوصفائ (يَطهرن) دَ طاء سكون او تشديدسره اودَهاء تشديدسره دې او په دې كښې په اصل كښې دَتاء په طاء كښې ادغام دې يعنې دَحيض اودريدونه پس غسل اوكړي بياچې كله پاكې صفا شي نوهغوى له د ورتللو (كوروالې) اجازت دې په هغه مقام كښې چرته چې الله تعالى تاسو په حيض كښې دَ وطى كولونه دَ اجتناب كولو حكم دركړې دې او هغه قُبُل دې اودَ قُبُل نه غير قبل (دُبُر) طرف ته تجاوز مه كوئي او الله تعالى دَ ګناهونونه توبه كونكوسره محبت كوي يعنې هغوى ته ثواب وركوي اوقدرئي كوي اودګندګئي نه پاك اوصفا اوسيدونكي خوښه وي. ستاسو ښځې ستاسودَپاره پټي دي يعنې دَ بچودَحاصولودَپاره ستاسودپاره په شان دَ پټي دي نوتاسو په خپل پټي يعنې دَ كر په ځائى كښې څنګه چې غواړئي راځئى په ولاړه په ناسته او په ملاسته اودَمخې طرف نه اويا دَ شاد طرف نه اوهغه محل دَ كركيلي قُبُل دې. (دا آيت) دَ يهودودَدې قول دَ ردكولودَپاره نازل شوې كوم سړي چې خپلې ښځې سره دَهغې قبل كښې دَ شاد طرف نه وطى اوكړو نودَهغه به كاڼړې بچې پيداكيږي اودَخپل ځان دَ پاره نيك اعمال وړاندې اوليګئي (يعنې دَ خپل مستقبل فكر كوئي) مثلاً دَ جماع په وخت بسم الله لوستل وغيره اودَالله تعالى نه دَهغه په امر اونهى كښې ويريږئي او ښه پوهه شئي چې ستاسو به پس دَ مرګ نه دَ راڅوندى كيدلونه روستو هغه سره ملاويدل وي نوهغه به ستاسو دَاعمالو تاسوته جزاء دركوى او (اې نبى ﷺ) مؤمنانوته خوشخبري وركړه چې دَالله تعالى نه ويريږي دَ جنت زيرې واوره او تاسو دَ الله تعالى (نوم) دَ قسمونو خوړلودَپاره نشانه مه جوړه وئي چې دَهغه په كثرت سره قسمونه خوړئي چې دَ نيكئ تقوى او دَ خلقو په مينځ كښې دَ اصلاح كارونه به نه كوئي او په داسې خبرو باندې قسمونه خوړل مكروه دي اودا قسم قسمونه ماتول او كفاره اداكول سنت دي دَدې په خلاف دَ نيكئ كولو قسم خوړل طاعت دې. خلاصه دا چې دَ داسې قسم مذكوره كارونودكولونه منع كيږئي مه كله چې تاسو دَهغې (دَنه كولو) قسم خوړلې وي بلكه هغه كاراوكړئ اودَ (قسم) كفاره اداكړئ ځكه چې دَدې (آيت) دَ نزول سبب دَ نيك كار نه منع

کیدل وو او الله تعالی ستاسو خبرې اوریدونکی او ستاسو په احوال باندې پوهیدونکې دې. الله تعالی ستاسو لغو (بې مقصد) قسمونو باندې مواخذه نه کوي او هغه داسې قسمونه دی چې بغیرد ارادې نه ستاسو د ژبونه اوځی لکه لاوالله، بلی والله نو په دې کښې نه ګناه شته اونه کفاره، مګر کوم قسمونه چې تاسو د ربښتونی زړه نه خورئی په هغې به تاسو ضرور راګیره وی. یعنی کوم قسمونه چې تاسو په یومقصد خوړلی دی کله چې تاسو حانث شئی، الله تعالی ستاسو لغوقسمونه معاف کونکې دې او د سزا د مستحق سزا روستوکولود وجې نه بوج اوړونکې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: المَحِيْض، ظرف زمان (د حیض وخت) ظرف مکان (مقام حیض) مصدر (حیض راتلل یا په معنی د حیض، هغه فاسد وینه چې په مخصوص زمانه کښې او مخصوص حالت کښې د ځوانې صحتمندې غیرحامله ښځې د رحم نه اوځی) (لغات القرآن) المحیض هوالحیض، وهومصدرٌ يقال حضتِ المرأة حَيْضًا ومحيضًا فهي حَائِضٌ وحَائضةٌ. (فتح القدیر شوکانی)

قوله: الحيض اومكانه، داد حیض د دوو تفسیرونو طرف ته اشاره ده، الحیض ونیلوسره اشاره اوکړه چې محیض مصدر میمی دې ددې معنی ده سیلان الدم.

قوله: قذرٌ اومحله، داد اذًی دوه تفسیرونه دی اول تفسیر، دمحیض د اول تفسیر په اعتبارسره دې او دویم د ثانی په اعتبار سره دې او په دې کښې لف اونشر مرتب دې.

قوله: بالجماع، دې کښې اشاره ده چې حالت حیض کښې جماع ممنوع ده نه چې مطلقًا قربان اومیل ملاپ.

قوله: ويثيبُ ويكرمُ، داد يحبُّ تفسيربالّلازم دې ځکه چې د حُبّ معنی د زړه تعلق دې کوم چې د الله تعالی د شان سره مناسب نه دې.

قوله: وَاتَّقُوااللهَ ددې عطف فأتواحَرثكُمْ باندې دې اودا اشاره دعام بعدالخاص دقبیل نه ده.

قوله: بَشِّرْ، ددې عطف قُلْ هُوَاَذًی باندې دې.

قوله: الَّذِيْنَ اتقوهُ المؤمنين د الذين اتقوا په قیدسره مقید کولوسره ئې یواشکال لرې کړې دې.

اشكال: دادې چې سابق نه خطاب مؤمنانوته راروان دې نودلته بَشّرهمْ وئیل کافی وو یعنی ضمیرکافی وو په اسم ظاهر راوړلوکښې څه مصلحت دې؟

جواب: سابق کښې مخاطب مطلق مؤمنان وو اودلته مؤمنان متقیان مراد دی لهذا ثانی غیرسابق دې په دې وجه د اسم ظاهر د صراحت کولوضرورت پیښ شو.

قوله: عُرْضَةً، نښانه، مقصد چل هيله، لَاتَجْعَلُوا اللهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَانِكُمْ (الله تعالى دَ خپلو قسمونو دپاره بهانه مه جوړه وئي) په دې صورت کښې عرضة معنى بهانه ده دويم مطلب داکيدې شي چې دَمطلب ويستلودپاره په خبره خبره قسمونه مه خورئي، ځکه چې په دې طريقه باندې دَالله تعالى دَعزت نوم به ستاسو دَ قسمونو نښانه جوړشي دَدې تفسير په صورت کښې عُرْضَة ترجمه نښانه شي مطلب دا چې په آيت مبارك کښې دَدوارو مطلبونو ګنجائش شته. (لغات القرآن)

قوله: نُصُبًا، دا دَ نَصَبٌ جمع ده په معنى منصوب، نصب کړې شوې څيز، اى المنصوب للرماة دَ غشو ويشتونکودَ پاره دَ يوڅيز نښه لګولو ته وئيلې شي. جَعَلْتُهُ عُرْضَةً للبيع، ما دا دَخرڅولودَپاره وړاندې کړو.

قوله: لِاَنَّ سبب نزولها، داد اَن لاتَبَرُّوا وتَتَّقُوا د حاصل معنى بيان دې بعض وئيلى دى چې لامحذوف نه منل بهتردى.

قوله: الكائن، دې کښې اشاره ده چې ظرف يعنى فى اَيْمَانِكُمْ الكائن مقدر متعلق کيدو سره دَ اللغو صفت دې.

قوله: اِذَاحَنِثْتُمْ دَدې عبارت دَ اضافه مقصد يواعتراض لرې کول دى.

اعتراض: دادې چې قسم بالذات موجب المؤاخذه نه دې لهذا مطلقًا يمين باندې دَ مؤاخذه حکم لګولو څه مطلب دې؟

جواب: دَامام شافعى رحمه الله په نيز سره دَدې چې هم يمين موجب کفاره دې مګر دَ احنافو په نيز حانث کيدل موجب کفاره دى يعنى دَ احنافو په نيزيمين موجب کفاره نه دې بلکه حانث کيدل موجب کفاره دى.

[اياتونه: ٢٢٦ - ٢٢٨]

{لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِّسَائِهِمْ} أَيْ يَحْلِفُونَ أَنْ لَا يُجَامِعُوهُنَّ {تَرَبُّصُ} انتِظَار {أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَاءُوا} رَجَعُوا فِيهَا أَوْ بَعْدَهَا عَنِ الْيَمِينِ إِلَى الْوَطْءِ {فَإِنَّ اللهَ غَفُورٌ} لَهُمْ مَا أَتَوْهُ مِنْ ضَرَرِ الْمَرْأَةِ بِالْحَلِفِ {رَحِيمٌ} بِهِمْ {وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ} أَيْ عَلَيْهِ بِأَنْ لَا يَفِيئُوا فَلْيُوقِعُوهُ {فَإِنَّ اللهَ سَمِيعٌ} لِقَوْلِهِمْ {عَلِيمٌ} بِعَزْمِهِمْ الْمَعْنَى لَيْسَ لَهُمْ بَعْدَ تَرَبُّصِ مَا ذُكِرَ إِلَّا الْفَيْئَةُ أَوْ الطَّلَاقُ {وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ} أَيْ لِيَنْتَظِرْنَ {بِأَنْفُسِهِنَّ} عَنِ النِّكَاحِ {ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ} تَمْضِي مِنْ حِينِ الطَّلَاقِ جَمْعُ قَرْءٍ بِفَتْحِ الْقَافِ وَهُوَ الطُّهْرُ أَوْ الْحَيْضُ قَوْلَانِ وَهَذَا فِي الْمَدْخُولِ بِهِن اما غيرهن فلا عدة عليهم لِقَوْلِهِ {فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ} وَفِي غَيْرِ الْآيِسَةِ وَالصَّغِيرَةِ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَالْحَوَامِلِ فَعِدَّتُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ كَمَا فِي سُورَةِ الطَّلَاقِ وَالْإِمَاءِ فَعِدَّتُهُنَّ قَرْءَانِ بِالسُّنَّةِ {وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ} مِنَ الْوَلَدِ وَالْحَيْضِ {إِنْ

كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَبُعُولَتُهُنَّ} أزواجهنّ {أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ} بمراجعتهن ولو ابين {فِي ذٰلِكَ} أي في زمن التربّص {إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا} بينهما لإضرار المرأة وهو تحريض على قصده لا شرط لجواز الرّجعة وهذا في الطّلاق الرّجعيّ وأحقّ لا تفضيل فيه إذ لو حقّ لغيرهم من نكاحهنّ في العدّة {وَلَهُنَّ} على الأزواج {مِثْلُ الَّذِي} لهم {عَلَيْهِنَّ} من الحقوق {بِالْمَعْرُوفِ} شرعًا من حسن العشرة وترك الإضرار ونحو ذلك {وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ} فضيلة في الحقّ من وجوب طاعتهنّ لهم لما ساقوه من المهر والإنفاق {وَاللّٰهُ عَزِيزٌ} في ملكه {حَكِيمٌ} فيما دبّره لخلقه

ترجمه: او كوم خلق چې د خپلو ښيبانو سره د ازدواجي تعلق نه ساتلو نه قسم اوكړي نو دوئ دپاره څلور مياشتې د انتظار موده ده، پس كه په دې موده كښې يا ددې نه پس په وطی كولو سره د قسم نه رجوع اوكړي نو الله تعالی ددې ښځې د نقصان معاف كوونكې دې كوم چې دې ددې قسم په ذريعه رسول دې او په دې باندې رحم كوونكې دې او كه د طلاق پخه اراده ئې وي او په دې وجه رجوع نه كوي نو بيا دې ورته طلاق وركړي. الله تعالی ددوئ خبره آوريدونكې دې او ددوئ په اراده پوهه دې. مطلب دا چې د مذكوره (مودې) د انتظار نه پس ددوئ دپاره صرف د رجوع كولو يا د طلاق وركولو صورت دې. او مطلقه ښځې به خپل ځان د طلاق د وخت نه دريو حيضو پورې د نكاح كولو ځان بچ ساتي (قروء) د قرء جمع ده، د قاف فتحه سره، ددې معنی ده طهر يا حيض. دا دوه اقواله دي اودا حكم د مدخول بها ښځې دې ليكن كه غير مدخول بها وي نو د هغې دپاره هيڅ موده نشته دې. دالله تعالی د قول فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا په وجه سره (كه تاسو وطی نه وي كړې نو په هغوئ باندې ستاسو دپاره هيڅ عدت نشته دې) او دا حكم د آئسه (يعنی) د حيض نه نااميدې او صغيرې نه علاوه ځكه چې د هغوئ عدت درې مياشتې دې او حامله ښځې، نو د هغوئ عدت وضع حمل دې، لكه څنګه چې سورة طلاق كښې دی او پاتې شوې وينځې نو د هغوئ عدت دوه قروء (حيض يا طهر) دی د سنتو مطابق، او ددوئ دپاره حلال نه دی چې الله تعالی ددوئ په رحم كښې كوم بچې يا حيض پيدا كړې دې هغه پټ كړي، كه دوئ په الله تعالی باندې او په ورځ د آخرت باندې ايمان لري او ددوئ خاوندان د انتظار په دې موده كښې دوئ ته د پورا حق ادا كولو حقدار دي اګر چې ښځې انكار اوكړي، كه ددوئ په خپلو كښې د اصلاح اراده وي ښځې ته د نقصان نه رسولو، او دا كلام (إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا) د اصلاح د رضامندئ دپاره دې، د رجعت د جواز دپاره شرط نه دې اودا (حق د رجعت) د طلاق رجعي په صورت كښې دې او لفظ (احق) كښې د تفصيل دوه معنا ګانې نه دی، په دې وجه ددوئ د خاوندانو نه علاوه بل چا ته دوئ سره د نكاح كولو حق نشته دې، اود ښځو هم په سړو باندې هم هغه شان حقوق دی لكه څنګه چې د سړو حقوق په ښځو باندې دی د شرعی دستور

مطابق، حسن سلوک، حسن معاشرت سره او نقصان رسول دې ترک کړی، البته سړو ته په حقوقو کښې ښځو باندې فضیلت حاصل دې. اور ښځو باندې د اطاعت وجوب دې، ځکه چې سړو ددوئ د مهر او نان نفقې ذمه داری اخستې ده، او الله تعالی زبردست دې خپل ملك کښې او حکمت والا دې په هغه څیزونو کښې کوم چې هغه خپل مخلوق دپاره په طور د تدبیر اختیار کړی دی.

قوله: يؤلون: د اِيْلَاءٌ جمع مذکر غائب، څوك چې ښځو سره د صحبت نه کولو نه قسم اوکړی. الايلاء في اللغة اليمين والايلاء من المراة ان يقول الله والله لا اقربك اربعة اشهر فصاعداً.

قوله: ان لا يجامعهن: دا عبارت ددې سوال جواب دې چې حلف په فعل سره کيږی ذات سره نه. دلته نسائهم باندې حلف دې او دا په ذات باندې دې.

جواب: عبارت د حذف مضاف سره دې، اى يحلفون ان لا يجامعهن، حذف د مضاف متصد مالبغه دې، لکه څنګه چې په حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ کښې دی.

قوله: تَرَبُّص أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ: بترکيب اضافی مبتداء مؤخر، من نسائهم خبر مقدم.

سوال: د يؤلون صله علی استعماليږی ليکن دلته من استعمال شوې دې.

جواب: د ايلاء بُعد معنی لره متضمن کيدو په وجه سره، من صله ورکول درست دی، چونکه ايلاء کولو والا هم خپلې بی بی نه لرې اوسيږی لهذا ايلاء بمعنی بعد درست ده.

قوله: عليه: سوال: عليه مقدر منلو کښې څه فائده ده؟

جواب: دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چې الطلاق د حذف جز په وجه سره منصوب دې، تقدير د عبارت دادې چې ان عزموا على الطلاق.

قوله: بفتح القاف:

سوال: قرء فتحه د قاف سره ولې خاص کړې شوې ده حالانکه ضمه د قاف هم په دې کښې يو لغت دې

جواب: هر کله جمع قروء وی نو ددې واحد قرء بفتح القاف وی، چونکه جمع مذکور قروء ده ځکه دواحد د قاف په فتحه سره کيدل ضروری دی، که ضمه د قاف سره وی نو ددې جمع اقراء راځی لکه د قفل جمع اقفال راځی.

قوله: هو الطهر والحيض: اول د امام شافعی رحمة الله عليه دې، دويم د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دې او دريم د امام مالك رحمة الله عليه دې.

قوله: ان كن يؤمن بالله الخ: دا شرط دې او ددې جزاء فلا يجترئن على ذلك، محذوف دې.

قوله بعولتهن: ددې ښځو خاوندان. بعولة د بعل جمع ده لکه څنګه چې فحولة د فحل جمع ده، تا زائده او امثله سماعی دی.

قوله احق لاتفضیل فیه: ددې عبارت د اضافه کولو مقصد د یو اعتراض جواب دی اعتراض احق اسم تفضیل دې او اسم تفضیل د مفضل علیه تقاضا کوی حالانکه دلته مفضل علیه ممکن نه دې ځکه چې خاوند نه علاوه بل چاته د رجعت حق حاصل نه دې. د اعتراض ما حصل دادې چې احق اسم تفضیل نه معلومیږی چې خاوند د رجعت زیات حق لری او غیر خاوند کم حقدار دې. حالانکه د خاوند غیر دته د رجعت د حق سوال نشته دې

جواب: اسم تفضیل په معنی د اسم فاعل د ه. یعنی احق بمعنی حقیق ده. لهذا هیڅ اعتراض نشته دې، هم دا مطلب د مفسر علام قول اذلاحق لغیرهم فی نکاحهن فی العدة، نو ګویا چې دا د الشتاء ابرد من الصیف د قبیل نه دې.

قوله لما ساقوامن المهروالانفاق: د اثبوت د درجې د علت دې ځکه چې لذت مباشر او طلب ولد کښې دواړه برابر شریك دی او امور خانه داری په نظام کښې هم دواړه برابر دی، د خاوند په ذمه خارجی امور دی او د ښځې په ذمه داخلی، او مزید دا چې دخاوند په ذمه د نان نفقې اور مهر ذمه داری هم ده، ددې اضافی ذمه داری په وجه سړی ته په ښځه باندې ګویا چې یو فضیلت حاصل دې.

[ایاتونه:۲۲۹-۲۳۱]

{الطَّلَاقُ} أَيِ التَّطْلِيقُ الَّذِي يُرَاجِعُ بَعْدَه {مَرَّتَانِ} أَيِ اثْنَتَانِ {فَإِمْسَاكٌ} أَيْ فَعَلَيْكُمْ إِمْسَاكُهُنَّ بَعْدَه بِأَنْ تُرَاجِعُوهُنَّ {بِمَعْرُوفٍ} مِنْ غَيْرِ ضِرَارٍ {أَوْ تَسْرِيحٌ} أَيْ إِرْسَالُهُنَّ {بِإِحْسَانٍ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ} أَيُّهَا الْأَزْوَاجُ {أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ} مِنَ الْمُهُورِ {شَيْئًا} إِذَا طَلَّقْتُمُوهُنَّ {إِلَّا أَنْ يَخَافَا} اي الزوجان {أ} ن {لَا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ} أَيْ أَنْ لَا يَأْتِيَا بِمَا حَدَّهُ لَهُمَا مِنَ الْحُقُوقِ وَفِي قِرَاءَةٍ يُخَافَا بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ فَأَنْ لَا يُقِيمَا بَدَلُ اشْتِمَالٍ مِنَ الضَّمِيرِ فِيهِ وَقُرِئَ بالفوقانية في الفعلين {فَإِنْ خِفْتُمْ أ} ن {لا يقيما حدود الله فلا جناح عليهما} {فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ} نَفْسَهَا مِنَ الْمَالِ لِيُطَلِّقَهَا أَيْ لَا حَرَجَ عَلَى الزَّوْجِ فِي أَخْذِهِ وَلَا الزَّوْجَةِ فِي بَذْلِهِ {تِلْكَ} الْأَحْكَامُ الْمَذْكُورَةُ {حدود الله فلا تعتدوها ومن يتعد حدود الله فأولئك هم الظالمون} {فَإِنْ طَلَّقَهَا} الزَّوْجُ بَعْدَ الثِّنْتَيْنِ {فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ} بَعْدَ الطَّلْقَةِ الثَّالِثَةِ {حَتَّى تَنْكِحَ} تَتَزَوَّجَ {زَوْجًا غَيْرَهُ} وَيَطَأَهَا كَمَا فِي الْحَدِيثِ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ {فَإِنْ طَلَّقَهَا} أَيِ الزَّوْجُ الثَّانِي {فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا} أَيِ الزَّوْجَةِ وَالزَّوْجِ الْأَوَّلِ {أَنْ يَتَرَاجَعَا} إِلَى النِّكَاحِ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْعِدَّةِ {إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ وَتِلْكَ} الْمَذْكُورَاتُ

{حُدُودُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ} يتدبرون {وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ} قَارَبْنَ انْقِضَاء عِدَّتِهِنَّ {فَأَمْسِكُوهُنَّ} بِأَنْ تُرَاجِعُوهُنَّ {بِمَعْرُوفٍ} مِنْ غَيْر ضَرَر {أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ} اُتْرُكُوهُنَّ حَتّٰى تَنْقَضِي عِدَّتهنَّ {وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ} بِالرَّجْعَةِ {ضِرَارًا} مَفْعُول لِأَجْلِهِ {لِتَعْتَدُوا} عَلَيْهِنَّ بِالْإِلْجَاءِ إِلَى الْافْتِدَاء وَالتَّطْلِيق وَتَطْوِيل الْحَبْس {وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ} بِتَعْرِيضِهَا إِلَى عَذَاب اللّٰه {وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللّٰهِ هُزُوًا} مهزوءا بها بمخالفتها {واذكروا نعمت اللّٰه عليكم} بِالْإِسْلَامِ {وَمَا أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْكِتَابِ} الْقُرْآن {وَالْحِكْمَةِ} مَا فِيهِ مِنَ الْأَحْكَام {يَعِظُكُمْ بِهِ} بِأَنْ تَشْكُرُوهَا بِالْعَمَلِ بِهِ {وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ} وَلَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْء

ترجمه: داسې طلاق دَ کوم نه پس چې رجوع کولې شی دوه ځل دې یعنی دوه دی، بیا خو یا په معروف طریقه باندې ستاسو په ذمه حصارول دی پس دَهغې نه چې ورته رجوع اوکړئی یا په ښه طریقه سره هغه رخصت کول دی بغیردَ نقصان رسولو او اې خاوندانو! ستاسو دَپاره داخبره جائز نه ده کله چې تاسو هغوی ته طلاق ورکړئی نو چې کوم مهر تاسو هغوی ته ورکړې دې دَهغې نه څه واپس هم واخلئ البته دا صورت دَمستثنی دې چې ښځې او خاوند ته دَاللّٰه تعالی په حدودکښې دَ قائم نه پاتې کیدو اندیښنه وی چې اللّٰه تعالی دَهغوی دَپاره کوم حدود مقررکړی دی هغه به ادا نه کړې شی او یو قراءت کښې (یَخَافَا،یُقِیما) تاء سره هم لوستلې دې. که چرې تاسو ته دا ویره وی چې هغه دواړه به دَاللّٰه تعالی په حدود قائم پاتې نه شی نو دَهغه دواړو په مینځ کښې معامله فیصله کولو کښې دې ښځه دَخپل نفس مالی معاوضه ورکړی دې دَپاره چې خاوند هغې ته طلاق ورکړی نو په دې کښې هیڅ بدی نشته یعنی نه دَخاوند دَپاره په دغه معاوضه اخستلو کښې څه حرج شته او نه دَښځې دَپاره دَدې په ورکولو کښې، دا مذکوره احکام دَاللّٰه تعالی مقررکړې شوی حدود دی دې نه تجاوز مه کوئی او کوم خلق چې دَاللّٰه تعالی دَ حدود نه تجاوز اوکړی هم هغه خلق ظالمان دی. بیا که خاوند دَدوو طلاقونو نه پس طلاق ورکړی نو دَهغه دَپاره دَدریم طلاق نه پس هغه ښځه حلال نه ده إلّا چې هغه بل یو سړی سره نکاح اوکړی او هغه (دویم خاوند) هغې سره کوروالې اوکړی لکه چې په حدیث کښې وارد دی (رواه الشیخان) بیا که دویم خاوند هغې ته طلاق ورکړی نو په ښځه او اول خاوند باندې هیڅ حرج نشته چې دَعدت تیریدو نه پس دوباره نکاح اوکړی، که چرې دواړه داخیال اوکړی چې هغوی به دَاللّٰه تعالی حدود قائم اوساتی. دا مذکوره احکام دَاللّٰه تعالی مقررکړې شوی حدود دی، اللّٰه تعالی دا هغه خلقو دَپاره بیانوی چې پوهه لری او غور او فکر کوی. او چې کله تاسو خپلو ښځوته طلاق ورکړئی او هغوی خپلې مودې ته اورسی یعنی دَهغوی عدت ختمیدو ته نیزدې شی نو هغوی ته رجوع کولو سره په ښه طریقه بغیر دَ نقصان رسولو هغه حصارې کړئی یا په عزت سره هغه رخصت کړئی یعنی هغه (په خپل حال تباندې) پریږدئی تر هغه وخته پورې چې دَهغې موده

بوره شی اودَ رجعت په ذریعه دَ تنګولودَپاره ئی مه حصاره وئی (ضرارًا) مفعول له دی چې هغه په فدیه (دَ خلع معاهده) یا خلع کولوباندې مجبوروِل اودَحصارولومودِه اوږدولودَپاره (مه حصاره وئی) اوڅوک چې داسې کوی نو هغه په حقیقت کښې هم پخپله په ځان ظلم اوکړو، دَ الله تعالی عذاب ته ئی ځان وړاندې کولوسره دَ الله تعالی آیاتونه لوبې توقې مه جوړه وئی یعنی دَهغې مخالفت کولوسره هغې پورې توقې مه کوئی او په خپل ځان باندې دَالله تعالی نعمت اسلام یاد ساتئی اودا کتاب (یعنی) قرآن اوحکمت او په دې کښې چې کوم احکام دی یاد ساتئی کوم چې په تاسو نازل کړې شوی دی هغه تاسو ته دَدې نصیحت کوی چې په دې باندې عمل کولوسره دَهغه شکر اداکړئی اودَ الله تعالی نه ویرېږئی او ښه پوهه شئی چې الله تعالی دَهرې خبرې نه خبردې دَهغه نه هیڅ څیز پټ نه دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: التطلیق الّذِیْ، په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې الطلاق اسم مصدر، د تطلیق مصدر په معنی کښې دې، مطلب دادې چې الطلاق نه دَ خاوند فعل تطلیق مراددې ځکه چې فعل طلاق هم متصف بالوحدة والتعدد وی نه چې هغه طلاق کوم چې دَمرأة صفت وی دَدې تائید او تَسْرِیْحٌ نه هم کیږی ځکه چې تَسْرِیْح هم دَخاوند فعل دې.

قوله: فَعَلَیْکُمْ په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې اِمْسَاك، مبتداء ده اودَدې خبر، فَعَلیکُمْ محذوف دې.

سوال: اِمْسَاك، نکره دې لهذا دَدې مبتداء جوړېدل صحیح نه دی.

جواب: دَ اِمْسَاك صفت، بمعروف دې لهذا نکره چې کله موصوف بالصفت وی نودَهغه مبتداء جوړېدل صحیح وی.

قوله: ای اِلْثنَتَان. **سوال**: مَرَّتَان تفسیر اِلثنَتان سره کولوکښې څه فائده ده؟

جواب: په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې مَرَّتَان سره دَدې حقیقی معنی کومه چې تثنیه ده مراد ده. یعنی دوه طلاقونه نه چې مجازی معنی کوم چې تکرار دې. ګویا دا رد دې دَهغه خلقو چاچې وئیلی دی چې مَرَّتَان دلته دَ تکرار په معنی کښې دې، دَ جواب حاصل دادې چې تکرار معنی مجازی ده اوتثنیه حقیقی معنی ده او دَمجازی معنی نه حقیقی معنی مراد اخستل اولی وی. دوه مجازی معنی مراد اخستونکو مقصدداخودل دی چې یوځائی باندې دوه طلاقه ورکول صحیح نه دی بلکه په دوو ځلوکښې دوه طلاقونه کیدل پکاردی او کوم خلق چې مرتان دَ اثنتان (تثنیه) په معنی کښې اخلی دَهغوی په نیز په یو لفظ سره دوه طلاقونه ورکول صحیح دی.

قوله: بَعْدَ التطليقةِ الثالثةِ په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې بَعْدُ مبنی په ضم دې ځکه چې دَدې مضاف اليه محذوف دې او هغه بَعْدَ الطلقه الثالثةِ دې. لهذا دا اعتراض ختم شو چې دا دَحرف جر دَ وجې نه مجرور کيدل پکار دی.

قوله: تَتَزَوَّجُ، دَ تنكح تفسير تتزوج سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې تنكح، په معنی د عقد نکاح دی نه چې وطی وی نود سړی طرف ته نسبت به حقيقی وی مګر دَ ښځې طرف ته دَ وطی نسبت مجازی وی.

قوله: يَطَاهَا په دې کښې په هغه خلقو رددې چې دَ حلاله دَپاره صرف عقد نکاح کافی ګنړی لکه چې سعيد بن مسيب رحمه الله ځکه چې دا دَ حديث مشهور خلاف دی.

[اياتونه: ۲۳۲-۲۳۵]

{وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ} انقضت عِدَّتهن {فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ} خِطَاب لِلْأَوْلِيَاءِ أَيْ تَمْنَعُوهُنَّ مِنْ {أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ} الْمُطَلِّقِينَ لَهُنَّ لِأَنَّ سَبَب نُزُولهَا أَنَّ أُخْت مَعْقِل بْن يَسَار طَلَّقَهَا زَوْجهَا فَأَرَادَ أَنْ يُرَاجِعهَا فَمَنَعَهَا مَعْقِل بْن يَسَار كَمَا رَوَاهُ الْحَاكِم {إِذَا تَرَاضَوْا} أَيْ الْأَزْوَاج وَالنِّسَاء {بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ} شَرْعًا {ذَلِكَ} النَّهْي عَنْ الْعَضْل {يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} لِأَنَّهُ الْمُنْتَفِع بِهِ {ذَلِكُمْ} أَيْ تَرْك الْعَضْل {أَزْكَى} خَيْر {لَكُمْ وَأَطْهَرُ} لَكُمْ وَلَهُمْ لِمَا يُخْشَى عَلَى الزَّوْجَيْنِ مِنْ الرِّيبَة بِسَبَبِ الْعَلَاقَة بَيْنهمَا {وَاللَّهُ يَعْلَمُ} مَا فِيهِ الْمَصْلَحَة {وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ} ذَلِكَ فاتبعوا أوامره {وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ} أَيْ لِيُرْضِعْنَ {أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ} عَامَيْنِ {كَامِلَيْنِ} صِفَة مُؤَكِّدَة ذَلِكَ {لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ} وَلَا زِيَادَة عَلَيْهِ {وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ} أَيْ الْأَب {رِزْقُهُنَّ} إطْعَام الْوَالِدَات {وَكِسْوَتُهُنَّ} عَلَى الْإِرْضَاع إذَا كُنَّ مُطَلَّقَات {بِالْمَعْرُوفِ} بِقَدْرِ طَاقَته {لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا} طَاقَتهَا {لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا} أَيْ بِسَبَبِهِ بِأَنْ تكره على ارضاعه إذا امتنعت {وَلَا} يُضَارّ {مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ} أَيْ بِسَبَبِهِ بِأَنْ يُكَلَّف فَوْق طَاقَته وَإِضَافَة الْوَلَد إلَى كُلّ مِنْهُمَا فِي الْمَوْضِعَيْنِ لِلِاسْتِعْطَافِ {وَعَلَى الْوَارِثِ} أَيْ وَارِث الْأَب وَهُوَ الصَّبِيّ أَيْ عَلَى وَلِيّه فِي مَاله {مِثْلُ ذَلِكَ} الَّذِي عَلَى الْأَب لِلْوَالِدَةِ مِنْ الرِّزْق وَالْكِسْوَة {فَإِنْ أَرَادَا} اي الوالدان {فِصَالًا} فِطَامًا لَهُ قَبْل الْحَوْلَيْنِ صَادِرًا {عَنْ تَرَاضٍ} اتِّفَاق {مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ} بَيْنهمَا لِتَظْهَر مَصْلَحَة الصَّبِيّ فِيهِ {فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا} فِي ذَلِكَ {وَإِنْ أَرَدْتُمْ} خِطَاب لِلْآبَاءِ {أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ} مَرَاضِع غَيْر الْوَالِدَات {فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ} فِيهِ {إِذَا سَلَّمْتُمْ} إلَيْهِنَّ {مَا آتَيْتُمْ} أَيْ أَرَدْتُمْ إيتَاءَهُ لَهُنَّ مِنْ الْأُجْرَة {بِالْمَعْرُوفِ} بِالْجَمِيلِ كَطِيبِ النَّفْس {وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} لَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْء مِنْهُ {وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ} يَمُوتُونَ {مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ} يَتْرُكُونَ {أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ} أَيْ لِيَتَرَبَّصْنَ {بِأَنْفُسِهِنَّ} بَعْدهمْ عَنْ النِّكَاح {أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا} مِنْ اللَّيَالِي وَهَذَا فِي غَيْر الْحَوَامِل أَمَّا الْحَوَامِل فَعِدَّتهنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلهنَّ بِآيَةِ الطَّلَاق وَالْأَمَة عَلَى النِّصْف مِنْ ذَلِكَ بِالسُّنَّة {فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ}

انقضت مدة تربصهن {فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ} أيها الأولياء {فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ} من التزين والتعرض للخطاب {بِالْمَعْرُوفِ} شرعا {وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ} عالم بباطنه كظاهره {وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ} لوحتم {بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ} المتوفي عنهن أزواجهن في العدة كقول الإنسان مثلا إنك لجميلة ومن يجد مثلك ورب راغب فيك {أَوْ أَكْنَنْتُمْ} أضمرتم {فِي أَنْفُسِكُمْ} من قصد نكاحهن {عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ} بالخطبة ولا تصبرون عنهن فأباح لكم التعريض {وَلَكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا} أي نكاحا {إِلَّا} لكن {أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا} أي ما عرف شرعا من التعريض فلكم ذلك {وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ} أي على عقده {حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ} أي المكتوب من العدة {أَجَلَهُ} بأن ينتهي {وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنْفُسِكُمْ} من العزم وغيره {فَاحْذَرُوهُ} أن يعاقبكم إذا عزمتم {وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ} لمن يحذره {حَلِيمٌ} بتأخير العقوبة عن مستحقها

ترجمه: اوکله چې تاسو خپلو ښځوته طلاق ورکړئ اوهغوی خپله موده پوره کړی (یعنی) دهغوی دَ عدت موده پوره شی نوتاسو هغوی دَ هغه خاوندانودَ نکاح نه مه بندوئ چاچې دهغوی ته طلاق ورکړې دې خطاب اولیاء ته دې ځکه چې دَدې آیت دَ نزول سبب دادې چې د معقل بن یسار خور جمیله بنت یسار ته دَهغې خاوند (بداح بن عاصم بن عدی) طلاق ورکړې وو بیا هغه دَ معقل بن یسار خور ته دَ رجوع کولواراده اوکړه نومعقل هغه منع کړو. (کما رواه الحاکم)

کله چې خاوند اوښځه دَ شرعی قانون مطابق راضی وی دا یعنی دَ منع کولونه دَ ممانعت نصیحت هغه سړی ته کولې شی چې په تاسو کښې په الله تعالی باندې اوپه ورځ دَ آخرت باندې ایمان لری ځکه چې (په اصل کښې) دې نه هم هغه سړې مستفید کیدې شی دا منع کولونه منع کیدل ستاسو اودَهغوی دَپاره ډیر ښکلې او صفاستره دی ځکه چې په زوجین باندې دَهغوی (سابقه) تعلق دَ وجې نه دَ تهمت ویره ده، دَدې مصلحت هم الله تعالی ښه پیژنی اوتاسو په دې نه پوهیږئ لهذا دَهغه حکم اتباع کوئ چې کوم پلار غواړی چې دَ هغه اولاد دې دَپوره مودې دَ رضاعت پورې پئ څکی نه دَدې نه زیات، نومیندې دې خپلو بچوته پوره دوه کاله پئ ورکوی، کَامِلَيْنِ، د حَوْلَيْنِ صفت مؤکده دې. (دې صورت کښې) دَ ماشوم پلار په معروف طریقه باندې دَ گنجائش مطابق دَ بچی مورته دَ پئیوورکولو په عوض خوراک اوکپړې ورکول وی کله چې هغوی طلاق شوې وی مگرپه چاباندې دَ وسعت نه زیات بوج نه دی اچول پکار، نه دې مورته دَ بچی دَ وجې نه څه نقصان رسوی په داسې طریقه چې کله هغه پئ نه ورکول غواړی چې هغه په پئیو ورکولوباندې مجبوره کړی اونه دې پلار ته دَهغه دَ بچی دَ وجې نقصان ورکوی په داسې طریقه چې دَ وسعت نه زیات هغه مکلف جوړکړی اودَ ولد اضافت دَ والدینو طرف ته په دواړو ځایونوکښې دَ شفقت دَ طلب دَپاره دې او وارث

(یعنی) دَ پلار وارث باندې چې هغه دَ ده بچې دې یعنې دَ پلار په مالې وارث باندې هم دغه شان ذمه واري ده یعنې لکه څنګه چې په پلار باندې دَ مور دَپاره د خوراك اوکپړې ذمه واري وه (هم هغه شان ذمه واري دَ مړکیدونکي پلار په وارث ده) بیا که چرې دواړه (یعنې والدین دَ دوو کالونه وړاندې خپل مینځ کښې رضامندئی او مشوره سره چې په دې کښې دَ ماشوم مصلحت ښکاره وی بچی دَ پئیونه اړول غواړي نو په دې کښې په دې دواړو باندې هیڅ حرج نشته. او که چرې تاسو خطاب آباء ته دې خپل اولاد ته دَهغوی دَ مېندو نه علاوه دَ پئیوورکونکو ښځونه پئی ورکول غواړئی نو په دې کښې ستاسو دَدواړو دَپاره هیڅ مضائقه نشته اوچې تاسو هغوی ته دَ رواج مطابق کوم اجرت ورکول غواړئی په خوشحاله زړه سره ئی ورکوئی دَالله تعالی نه ویریږئی اودَدې خبرې یقین لرئی چې تاسو څه کوئی هغه دَالله تعالی په نظرکښې دی په دې کښې دَهغه نه هیڅ څیز پټ نه دې اوکوم خلق چې تاسو نه وفات شی یعنی انتقال شی اوشاته کونډه پریږدی نوهغه دې خپل ځان دَ ده نه پس دَ نکاح نه څلور میاشتې اولس شپې بند اوساتی اودا حکم دَ غیرحامله ښځودَپاره دې پاتې شوې حامله ښځې نودَهغوی عدت وضع حمل دې دَ آیت ظلاق په رڼاکښې اودَ وینځې عدت دَ سنت مطابق دَدې نیم دې بیاچې کله دَدوی عدت پوره شی یعنی کله چې دَهغوی دَ عدت موده ختمه شی نو اې اولیاء که هغه دَخپل ذات باره کښې څه دَ شرعی دستور مطابق کوی که هغه دړول سنګار وی یادَ رشتې باره کښې څه خبره وی نو په دې کښې په تاسو باندې هیڅ ګناه نشته الله تعالی ستاسو دَټولو دَ اعمالونه خبردې یعنی دَهغوی دَ ظاهر اوباطل نه واقف دې. کونډو ښځوسره دَهغوی دَعدت په زمانه کښې په اشاره (کنایه) سره دَ کوژدن خبرې کولو کښې ستاسودَپاره هیڅ ګناه نشته مثلاً دَ یوسړی داسې وینا کول ته دیره ښکلې ئی اوستاپه شان به چاته ملاوشی؟ (یعنی قسمت والا ته ملاویدې شی) اوستا غوښتونکی خو ډیردی (وغیره وغیره) یا تاسو دَهغوی سره دَنکاح اراده په خپل زړه کښې پټه اوساتئی دَالله تعالی په علم کښې دی چې تاسوبه دَهغې دَ کوژدن باره کښې تذکره ضرور کوئی اوتاسوبه دَدې باره کښې صبر اونه کړې شئی نوهغه ستاسو دَپاره اشارةً ظاهرول جائز کړی دی مګر (ګورئی) پټ عهداو پیمان مه کوئی که څه خبره کول وی نو دَ رواج مطابق ئی کوئی یعنی دَ شرعی قانون مطابق اشاره کولې شئی دا ستاسو دَپاره جائزدی اودَ نکاح کلکه اراده ترهغه وخته پورې مه کوئی ترکومې چې فرض کړې شوې عدت پوره نه شی، ښه پوهه شئی بیشکه الله تعالی ستاسو دَ زړونوحال یعنی کلکه او ناکلکه اراده ښه پیژنی لهذا دَهغه نه اوویریږئی که چرې تاسو کلکه اراده کوئی نوهغه به تاسو ته په دې باندې سزا درکوی اوپه دې خبره باندې هم ښه پوهه شئی چې بیشکه دَالله تعالی دَهغه ویریدونکې معاف کونکې بوج اوچتونکې دې دَ عذاب دَمستحق نه د عذاب په روستو کولوسره.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اِنْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ، د فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ تفسير په اِنْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ سره كولو كښې دې خبرې ته اشاره كول مقصوددى چې دلته دَ بلوغ حقيقى معنى مراد ده يعنى دَ ميعادختميدل، ځكه چې دَنكاح نه د منع كيدو سوال دَعدت ختميدونه هم پس پيدا كيږى په خلاف دَ سابقه آيت چې په هغې كښې دَ بلوغ مجازى معنى قُرُب مراد دې لكه چې مفسرعلام دَ بَلَغْنَ معنى قَارَبْنَ سره كړې ده ځكه چې امساك في النكاح هم هغه وخته پورې ممكن دې تركومې چې عدت ختم شوې نه وى دَعدت ختميدو نه پس امساك ممكن نه دې.

قوله: لَاتَعْضُلُوْهُنَّ،فعل نهى جمع مذكرحاضر، هُنَّ ضميرجمع مؤنث غائب، تاسو هغوى مه منع كوئى (ن) عَضْلاً په سختئى سره منع كول.

قوله: خِطَابٌ لِلْاَوْلِيَاءِ دَدې اضافه مقصددَهغه خلقو ترديددې چې وائى د لَاتَعْضُلُوْا، مخاطب طلاق وركونكى خاوندان ګرځولې شوى دى يعنى طلاق وركونكوخاوندانوله پكاردى چې خپلې طلاقى شوې ښځې دَ نكاح نه نه بندوى، دَدې وجه داده چې په دې صورت كښې اَزْوَاجَهُنَّ معنى مجازى يعنى-مايؤل (كيدونكى) په اعتبارسره ازواج مراد به اخستل وى او كه چرې دَ فَلَاتَعْضُلُوْهُنَّ مخاطب اولياء اوګرځولې شى نود اَزْوَاجَهُنَّ معنى حقيقى يعنى دَهغوى دَ سابقه خاوندانوسره نكاح كولو نه مه منع كوئى دلته دَ خاوندنه مراد به د ماكان په اعتبارسره وى اودا حقيقى معنى ده.

قوله: لِاَنَّ سَبَبَ نزولهَا دادَدې خبرې دليل دې چې فَلَاتَعْضُلُوْا مخاطب اولياء دى نه چې سابقه خاوندان ځكه چې دَ سبب نزول نه معلوميږى چې منع كونكى هم اولياء وو.

قوله: مافيه من المصلحة، دې كښې اشاره ده چې د يَعْلَمُ مفعول محذوف دې.

قوله: لِيُرْضِعْنَ،يُرْضِعْنَ سره اشاره اوكړه چې خبر په معنى دَامر دې اوداسې دَ مبالغه په توګه كړې شوې دى.

قوله: بعدهم، دَدې تقدير مقصد دَدې سوال جواب دې چې اَلَّذِيْنَ الخ مبتداء دې او يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ جمله كيدو سره دَدې خبردې، خبرچې كله جمله وى نودَعائدكيدل ضرورى وى دلته عائدنشته هم دَدې اشكال جواب ئې وركړې دې چې عائدمحذوف دې او هغه بَعْدَهُمْ دې اى بعدالازواج.

قوله: مِنَ الليالى.

سوال: من الليالى تخصيص دَ څه وجې نه شوې دې ځكه چې په عام توګه دَ ايام ذكركولې

شي خلورمياشتي اولس ورځې وئيلي شي نه چې خلورمياشتې او لس شپې.

جواب: د بعضې احکامو مثلاً حج، روژه، اخترونه اوعدت تعلق قمری تاريخونوسره دې اود قمری تاريخ شروع د شپې نه کيږی ورځ د شپې تابع وی لهذا د شپې په ضمن کښې ورځ پخپله شامل ده که چرې د دې عکس وې نوقمری تاريخ به ناقص وو هم ځکه مفسرعلام د من الليالی د قيداضافه اوکړه اود شمير په اعتبارسره په اسلامی کيلنډر کښې ورځ د شپې تابع منلې شوې ده، بغيرد عرفه د ورځ نه چې د حکم په اعتبارسره شپه د ورځې تابع منلې شوې ده يعنی د نهم ذی الحجه نه پس راتلونکې شپه د وقوف عرفه په اعتبار سره د ورځې په حکم کښې ده.

قوله: أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا د عام کيدود وجې نه هغه ښځې ته هم شامل دی د کومې خاوند چې وفات شوې وی په دې کښې حامله اوغيرحامله بله آزاده او وينځه ټولې داخل دی مګر د آيت طلاق د وجې نه حاملانې ښځې د دې نه خارج کړی دی. د طلاق آيت دادې: ﴿ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ او وينځې دحديث، عِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ د وجې نه خارج شوې.

قوله: عَالِمٌ بِبَاطِنِهِ د دې اضافه مقصد د يوشبه تکرار لرې کول دی.

شبه: دادد چې پورته آيت کښې فرمائيلی شوی دی ﴿ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ اودلته اوفرمائيلي شو ﴿ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ د دواړو هم يومفهوم دې چې په منزله د تکرار دې.

جواب: مفسرعلام په دواړو کښې فرق واضحه کولو د پاره بباطنه لفظ اضافه کړې ده.

قوله: لَوْحُتُمْ، دا تلويح نه ماخوذ دې د دې معنی د اشارې نه کار اخستل دی.

[ايا تونه: ۲۳۶-۲۴۲]

{لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ} وَفِي قِرَاءَة {تُمَاسُوهُنَّ} أَيْ تُجَامِعُوهُنَّ {أَوْ} لم {تفرضوا لهن فريضة} مهرا وَمَا مَصْدَرِيَّة ظَرْفِيَّة أَيْ لَا تَبِعَة عَلَيْكُمْ فِي الطَّلَاق زَمَن عَدَم الْمَسِيس وَالْفَرْض بإثم ولا مهر فطلقوهن {وَمَتِّعُوهُنَّ} أعطوهنَّ مَا يَتَمَتَّعْنَ بِهِ {عَلَى الْمُوسِعِ} الْغَنِيّ مِنْكُمْ {قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ} الضَّيِّق الرِّزْق {قَدَرُهُ} يُفِيد أَنَّهُ لَا نَظَرَ إلَى قَدْر الزَّوْجَة {مَتَاعًا} تَمْتِيعًا {بِالْمَعْرُوفِ} شَرْعًا صِفَة مَتَاعًا {حَقًّا} صفة ثانية او مصدرية مُؤَكِّدَة {عَلَى الْمُحْسِنِينَ} الْمُطِيعِينَ {وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ} يَجِب لَهُنَّ وَيَرْجِع لَكُمْ النِّصْف {إِلَّا} لَكِنْ {أَنْ يَعْفُونَ} أَيْ الزَّوْجَات فَيَتْرُكْنَهُ {أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ} وَهُوَ الزَّوْج فَيَتْرُك لَهَا الْكُلّ وَعَنْ ابْن عَبَّاس الْوَلِيّ إذَا كَانَتْ مَحْجُورَة فَلَا حَرَج فِي ذَلِكَ {وَأَنْ تَعْفُوا} مُبْتَدَأ خَبَره {أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ} أَيْ أَنْ يَتَفَضَّل بَعْضكُمْ عَلَى بَعْض {إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ {حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ} الْخَمْس بِأَدَائِهَا فِي أَوْقَاتهَا {وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى} هِيَ الْعَصْر أَوْ الصُّبْح أَوْ الظُّهْر أَوْ غَيْرهَا

أقوال وأفردها بالذكر لفضلها {وَقُومُوا لِلَّهِ} في الصلاة {قَانِتِينَ} قيل مطيعين لقوله صلى الله عليه وسلم كل قنوت في القرآن فهو طاعة رواه أحمد وغيره وقيل ساكتين لحديث زيد بن أرقم كنا نتكلم في الصلاة حتى نزلت فأمرنا بالسكوت ونهينا عن الكلام رواه الشيخان {فَإِنْ خِفْتُمْ} من عدو أو سيل أو سبع {فَرِجَالًا} جمع راجل أي مشاة صلوا {أَوْ رُكْبَانًا} جمع راكب أي كيف أمكن مستقبلي القبلة أو غيرها ويومي بالركوع والسجود {فَإِذَا أَمِنْتُمْ} من الخوف {فَاذْكُرُوا اللَّهَ} أي صلوا {كَمَا عَلَّمَكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ} قبل تعليمه من فرائضها وحقوقها والكاف بمعنى مثل وما مصدرية أو موصولة {وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا} فليوصوا {وَصِيَّةً} وفي قراءة بالرفع أي عليهم {لِأَزْوَاجِهِمْ} وليعطوهن {مَتَاعًا} ما يتمتعن به من النفقة والكسوة {إِلَى} تمام {الْحَوْلِ} حال أي غير مخرجات من مسكنهن {فَإِنْ خَرَجْنَ} بأنفسهن {فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ} يا أولياء الميت {فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ} شرعا كالتزين وترك الإحداد وقطع النفقة عنها {وَاللَّهُ عَزِيزٌ} في ملكه {حَكِيمٌ} في صنعه والوصية المذكورة منسوخة بآية الميراث وتربص الحول بآية أربعة أشهر وعشرا السابقة المتأخرة في النزول والسكنى ثابتة لها عند الشافعي رحمه الله {وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ} يعطينه {بِالْمَعْرُوفِ} بقدر الإمكان {حَقًّا} نصب بفعله المقدر {عَلَى الْمُتَّقِينَ} الله تعالى كرره ليعم الممسوسة أيضا إذ الآية السابقة في غيرها {كَذَلِكَ} كما يبين لكم ما ذكر {يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ} تتدبرون

ترجمه: اوترکومې چې تاسو ښځوسره اونه لګئی او په یوقراءت کښې تُمَاسُّوْهُنَّ دې، ای تُجَامِعُوْهُنَّ (یعنی وړاندې دَدې نه چې تاسو هغې سره جماع اوکړې) اودَهغې مهرنه وی مقررکړې نوکه تاسو هغوئ ته طلاق ورکړې نو په تاسوباندې هیڅ حرج نشته، مَامصدریه ظرفیه دې یعنی دَ لاس نه لګولواو مهرنه مقررکولو په صورت کښې طلاق ورکولوکښې په تاسو باندې هیڅ مواخذه نشته اونه مهرواجب دې، که چرې هغې ته طلاق ورکړې نوهغوئ ته څه فائده اورسوئی یعنی هغې ته څه ورکړئی چې دَهغې نه څه فائده حاصله کړی اوتاسو نه په خوشحاله مالداره خلقوباندې دَخپل قدرت مطابق په غریبانانو او ناچاروباندې دَهغوی دَ وسعت مطابق فائده رسول دی. بالمعروف، د مَتَاعًا صفت (اول) دې داحق دې په خوش اخلاق خلقوباندې یعنی په طاعت کونکوباندې، حَقًّا، د مَتَاعًا، صفت ثانیه دې یامصدرمؤکددې او که چرې تاسو ښځوسره دَ لګیدونه وړاندې طلاق ورکړو اوتاسو دَهغوی دَپاره مهرمقررکړې وی نودَ مقررمهر نصف دَهغوی دَپاره واجب دې اونیم به تاسو ته واپس کیږی. اِلاّ دا چې که چرې ښځې ئې معاف کړی او پریږدی یا هغه سړې دَچا په لاس کښې چې دَ نیکاح واک دې معاف کړی اوهغه سړې خاونددې چې دَ ښځې دَپاره پوره مهرپریږدی او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چې هغه سړې (دَ ښځې) ولی دې (کله چه ښځه په دې معامله کښې

معذوره وی نو په دې کښې هیڅ حرج نشته او که چرې تاسو ئې معاف کړئې نو دا دَ تقوی دَپاره ډیره نیزدې خبره ده. أَن تَعۡفُوا مبتداء دې او اَقۡرَبُ لِلتقوی دَ دې خبردې او په خپل مینځ کښې معاملاتو کښې فیاضی هیره نه کړئې یعنی یوبل سره دَ فیاضئ نه کار اخلئی، بیشکه تاسو چې څه کوئې هغه ټول دَ الله تعالی په نظر کښې دی نو هغه به تاسو ته دَ دې بدله درکوی، دَ پنځه وخته مونځونو هغه په خپلو وختونو کښې اداکولو سره حفاظت کوئې خاص کر دَ مینځنې مونځ چې هغه دَ مازیګر مونځ دې لکه څنګه چې په حدیث کښې دی (رواه الشیخان) یا دَ سحر یا دَ ماسپښین مونځونه مراد دی یا دَ دې نه علاوه (بل څه مونځ مراد دې) دا یوڅو اقوال دی او دَ مینځنی مونځ دَهغې دَ فضیلت دَ وجې نه په مستقل توګه ذکر کړې دې او دَ الله تعالی دَپاره په مانځه کښې په ادب سره اودریږئې، ونیلی شوی دی چې دَ اطاعت کونکو په شان (اودریږئې) دَ رسول الله ﷺ دَ ارشاد دَ وجی نه (لفظ) قنوت کوم چې په قرآن کښې ذکردې دې نه مراد اطاعت دې، احمد رحمه الله وغیره دا روایت کړې دې او ونیلی شوی دی چې خاموشئی سره اودریدل مراد دی، دَ زیدبن ارقم رضی الله عنه حدیث دَ وجې نه اوفرمائیلې دی چې مونږ به په مانځه کښې خبرې کولې چې دا آیت نازل شو (کوم کښې) مونږ ته دَخاموشئی اختیارولو حکم راکړې شو او دَ خبروکولو نه ئې منع کړو (رواه الشیخان) او که چرې تاسوته دَ دښمن، سیلاب یا دَ ځناور ویره وی نو که په زمکه پیدل ئې رِجَالٌ دَ راجلٌ جمع ده یا په سورلئ (څنګه چې ممکن وی) مونځ اوکړئې. رُکۡبَانٌ دَ راکِبٌ جمع ده (مطلب دا) څنګه چې ممکن وی که مستقبل قبله وی اوکه نه وی او دَ رکوع او سجدې دَپاره اشاره کوئی اوکله چې تاسو دَ ویرې نه په امن کښې شئی نو بیا هغه شان مونځ کوئی څنګه چې تاسو ته خودلی شوی دی. اګر چې دَ خودلونه وړاندې تاسو دَ دې حقوق او فرائض نه پیژندل او کاف په معنی دَ مثل دې او مَا، موصوله یا مصدریه دې او په تاسو کښې هغه خلق کوم چې وفات شی او ښځې پریږدی نو هغوی له پکار دی چې دَخپلو ښځو دَپاره وصیت اوکړی او په یوقراءت کښې وصیةٌ رفع سره دې. ای وَصِيَّةٌ عَلَيۡهِمۡ او هغوی ته څه کارځیزورکړئې په کوم سره چې هغوئ دَ پوره کال دَ هغه دَ مرګ دَ وخت نه په کوم کښې چې په هغې باندې (عدت دَپاره) انتظار کول واجب دی فائده اوچته کړی مثلاً نفقه اولباس په داسې حال کښې چې هغوی دَخپل قیام ګاه نه اونه ویستلې شی. (غَيۡرَ اِخۡرَاجٍ) حال دې که هغوئ پخپله اوځی نو اې دَ دې مړی اولیاؤ په تاسو هیڅ ګناه نشته چې هغوئ دَ (حول نه پس) دَ خپل ذات په معامله کښې دَ شریعت دَ دستور مطابق چې څه اوکړی مثلاً سنګار، خفګان پریخودل او خپله نان نفقه پخپله پریخودل، الله تعالی په خپل ملک کښې غالب دې او په خپل صنعت کښې باحکمت دې اودا مذکوره وصیت دَ میراث دَ آیت دَ وجې نه منسوخ دې. او دَ یوکال عدت په اَرۡبَعَةَ

أشْهُرٍ وَّعَشْرًا سره منسوخ دې کوم چې په نزول کښې مؤخر دې. (سره دَدې چې په تلاوت کښې مقدم دې) او دَ ښځې دَپاره سُکنیٰ (دَ اوسیدو ځائې) دَ امام شافعي رحمه الله په نیز واجب دې او طلاق شوې ته څه دکار څیز کوم چې خاوند دَ رواج مطابق په اندازه دَ ګنجائش ورکړی داحق دې دَ الله تعالی نه په ویریدونکوباندې (حَقًّا) دَفعل مقدر دَ وجې نه منصوب دې دائې مکرر راوړلې دې دې دَ پاره چې موطوئه ته هم شامل شی ځکه چې سابقه آیت غیرموطوئه باره کښې دې لکه ځنګه چې په سابق کښې بیان کړې شوهم دغه شان الله تعالی خپل ایاتونه په واضحه توګه باندې بیانوی دې دَپاره چې تاسو غوراوفکراوکړئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اَوْلَمْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ مفسرعلام لَمْ مقدر منلوسره اشاره اوکړه چې دَ لَمْ مدخول تَمَسُّوْهُنَّ باندې معطوف کیدودَ وجې نه مجزوم دې او اَوْ په معنی د واؤ دې یعنی ترکومې چې مسیس او تفریض مهر اونه موندلې شی نو په طلاق کښې هیڅ حرج نشته، ځکه چې داخبره فیصله شوې ده چې اَوْ کله په سیاق نفی کښې واقع وی نو دَعموم فائده ورکوی، بعض حضراتو وئیلی دی چې تَفْرِضُوْا دَ اَنْ مضمردَ وجې نه منصوب دې مګر داصحیح نه دی ځکه چې خلاف ظاهر ده او ځکه چې اَنْ مقدر منلې کیږی نو اَوْ په معنی دَ اِلَّا یا اِلی احتـمـال وی.

قوله: فَرِيْضَةً، فَرِيْضَةً په معنی مفروضه نه چې مصدر دې ځکه چې فَعِيْلَة په وزن باندې مصدر نادر دې فَرِيْضَةً د تَفْرِضُوْنَ مفعول کیدودَ وجې نه منصوب دې او مفروض نه مراد مهر دې. فَرِيْضَةً کښې تاء د وصفیت نه اسمیت طرف ته منتقل کیدو وجې نه راغې.

قوله: مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ، کښې سوال پیداکیږی چې دَ مَسْ نسبت دَ سړی طرف ته کړې دې حالانکه مس دَ دواړو طرفونو نه کیږی اوکله دَ ښځې دَ طرف نه هم اقدام کیږی.

جواب: سړې چونکه په دې معامله کښې ډیرقوی دې اواکثرهم دَهغه دَ طرف نه اقدام کیږی په دې وجه ئې دَ سړی طرف ته دَ فعل نسبت کړې دې ګنی حکم په دواړو صورتونو کښې هم یو دې.

قوله: ما مصدرية ظرفية، اقرب دادی چې ما شرطیه په معنی دَ اِنْ دې نه چې مصدریه ظرفیه کماقال مفسرعلام رحمه الله ځکه چې دَ ظرفیت دَپاره یوځائې وی چرته چې امتداد ممکن وی لکه ﴿ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ ﴾ ځکه چې په خلودکښې یو قسم امتدا شته په خلاف ﴿ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ ﴾ کښې چې په طلاق کښې امتدا نشته.

قوله: أي لَاتَبِعَةَ عَلَيْكُمْ، دَ لَاجُنَاحَ تفسير لَاتبعة سره كولوسره اشاره اوكړه چې دَ جُنَاحَ نه مراد مطلق مؤاخذه ده نه چې صرف مؤاخذه اخروي يا صرف مؤاخذه دنياوي. اول خو دا تخصيص بې دليل دې بل دا كه چرې دَ آخرت گناه مراد واخستې شي نو په دې كښې نفي دَمهر شامليدې نه شي هم دغه لفظ په نفي باندې په اتفاق سره دال دې. (ترويح الارواح)

قوله: والفرض، دې كښې دې خبرې ته اشاره ده چې أَوْتَفْرِضُوالَهُنَّ، كښې أوْ په معنى واؤ دې او طلاق وركونكي خاوند باندې دَ مهر نه واجب كيدو تعلق عدم مسيس اوعدم فرض دواړو سره دې نه چې يوسره ځكه چې كه مسيس اوموندلې شو نوپوره مهر به واجب شي اوكه چرې فرض مهر يعنى تعيين دَ مهر شوى وى نونصف مهر به واجب وى، دَ مهرعدم وجوب خو به هم په دې صورت كښې وى چې كله مسيس او تعيين دواړه معدوم وى.

قوله: فَطَلِّقُوهُنَّ

سوال: مفسرعلام فَطَلِّقُوهُنَّ دَ څه مقصددَپاره محذوف منلې دې؟

جواب: كه چرې فَطَلِّقُوهُنَّ محذوف اومنلې شي نودَ مَتِّعُوهُنَّ عطف به په تَفْرِضُوا باندې وى او دا عطف به عطف د انشاءعلى الخبر وى كوم چې مستحسن نه دې دَدې نه دَ بچ كيدو دَپاره مفسرعلام طلقوهُنَّ مقدرمنلې دې، دې دَپاره چې عطف انساء على الانشاء شي.

قوله: يُفِيْدُ أَنَّهُ لَانَظَرَ إِلَى الزَوْجَةِ، على الموسع اوعلى المقترچونكه دواړه دَ مذكر صيغې استعمال شوى دى په دې وجه دَدې نه دا خبره مستفادكيږى چې په متعه كښې به دَ خاوندَ حيثيت اعتبار كيږىنه چې دَ ښځې دَ حيثيت او دا دَ امام شافعى رحمه الله دَ دوو قولونه يودې. امام مالك رحمه الله په نيزهم دغه مفتى به دې. (صاوى)

قوله: صفةمَتَاعًا، يعنى بالمعروف محذوف متعلق كيدوسره دَمَتَاعًا صفت اول دې دَدې عبارت مقصد دَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال: مَتَاعًا، موصوف دې او حَقًّا دَدې صفت دې او په مينځ كښې بالمعروف فصل دې چې فصل بالاجنبى دې.

جواب: دا فصل بالاجنبى نه دې بلكه بالمعروف د مَتَاعًا صفت اول دې اوحَقًّا مصدر موكّد دې دَ جمله سابقه دَمضمون دَپاره دَدې عامل وجوبًا محذوف دې اى حَقَّ ذَالِكَ حَقًّا.

قوله: وَيَرْجِعُ لكم النصف.

سوال: مذكوره عبارت مقدر منلوڅه وجه ده؟

جواب: اِلَّا دَ استدراك دَپاره دي لكه چې مفسرعلام دَالاَّتفسيرلكِنَّ سره كولوكښې اشاره كړې ده حالانكه په ماقبل كښې دَ مستدرك منه جوړيدو صلاحيت نشته ځكه چې دَ نصف سقوط اودَهغه عفو دَهغه دَ استحقاق دَ جنس نه نه دي. ځكه چې تَرجَمُ لكم النِصْفَ محذوف منل، دي دَپاره دى چې استدراك صحيح شي.

قوله: يجبُ لَهُنَّ، دَدې عبارت دَاضافه مقصددَ يوسوال جواب دې.

سوال: فَنِصْفُ مَافَرَضْتُمْ، دَ شرط جزاء ده اوجمله ناقصه ده حالانكه دَ جزاء دَپاره جملې تامه كيدل ضروري دي.

جواب: مفسرعلام يَجِبُ لَهُنَّ مقدرمنلوسره جمله تامه كړه دې دَپاره چې دَدې جزاء جوړيدل صحيح شي.

قوله: يَعْفُوْنَ، عفونه مضارع جمع مؤنث غائب، معاف كړى هغه ښځې.

قوله: عن ابن عباسٌ رضي الله عنهما، الولي، اِذاكانت محجورةً، دَدې عبارت مقصد ﴿ اَلَّذِیْ بِیَدِهٖ عُقْدَةُ النِّکَاحِ ﴾ كښې اختلاف بيانول دى، اختلاف دادې چې ولى عفو څوك دې؟ خاوند يا دَښځې ولى؟ دَ امام ابوحنيفه رحمه الله او بعض شوافعو مذهب دې چې مَن بيده عقدة النكاح نه مراد خاوند دې اودَ ابن عباس رضي الله عنهما په نيزدَ ښځې ولى مراد دې كه چرې ښځه معذور يعنى نابالغ يا ليونئى وى نودَ امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب ته ترجيح وركولودَپاره مفسرعلام وَهُوَزوج فرمائيلې، قرينه دَدې اَقْرَبُ لِلتقوى دې. ځكه چې دَ ښځې دَ معذوره كيدو په صورت كښې دَ ښځې دَ ولى مهرمعاف كول تقوىٰ نه ده ځكه چې په دې كښې نقصان محض دې.

[اياتونه:۲۴۳-۲۴۸]

{اَلَمْ تَرَ} اسْتِفْهَام تَعْجِيب وَتَشْوِيق اِلَي اسْتِمَاع مَا بَعْده اَيْ يَنْتَهِ عِلْمك {اِلَی الَّذِیْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ} اَرْبَعَة اَوْ ثَمَانِيَة اَوْ عَشَرَة اَوْ ثَلَاثُونَ اَوْ اَرْبَعُونَ اَوْ سَبْعُونَ اَلْفًا {حَذَرَ الْمَوْتِ} مَفْعُول لَهُ وَهُمْ قَوْم مِنْ بَنِي اِسْرَائِيل وَقَعَ الطَّاعُون بِبِلَادِهِمْ فَفَرُّوا {فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا} فَمَاتُوا {ثُمَّ اَحْيَاهُمْ} بعث ثَمَانِيَة اَيَّام اَوْ اَكْثَر بِدُعَاءِ نَبِيّهمْ حِزْقِيل بِكَسْرِ الْمُهْمَلَة وَالْقَاف وَسُكُون الزَّاي فَعَاشُوا دَهْرًا عَلَيْهِمْ اَثَر الْمَوْت لَا يَلْبَسُونَ ثَوْبًا اِلَّا عَادَ كَالْكَفَنِ وَاسْتَمَرَّتْ فِي اَسْبَاطهمْ {اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَی النَّاسِ} وَمِنْهُ اِحْيَاء هٰؤُلَاءِ {وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ} وَهُمْ الْكُفَّار {لَا یَشْکُرُوْنَ} وَالْقَصْد مِنْ ذِكْر خَبَر هٰؤُلَاءِ تَشْجِيع الْمُؤْمِنِينَ عَلَي الْقِتَال وَلِذَا عَطَفَ عَلَيْهِ {وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ} اَيْ لِاِعْلَاءِ دِينه {وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ} لِاَقْوَالِكُمْ {عَلِیْمٌ} بِاَحْوَالِكُمْ فمجازيكم {مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ} بِاِنْفَاقِ مَاله فِي سَبِيل اللّٰه {قَرْضًا حَسَنًا} بِاَنْ يُنْفِقهُ لِلّٰه عَزَّ وَجَلَّ عَنْ طِيب قَلْب {فَیُضٰعِفَهٗ} وَفِي قِرَاءَة فَيُضَعِّفهُ بِالتَّشْدِيدِ {لَهٗ اَضْعَافًا کَثِیْرَةً} مِنْ عَشْر اِلَي اَكْثَر

من سبعمائة كما سيأتي {وَاللَّهُ يَقْبِضُ} يُمْسِك الرِّزْق عَمَّنْ يَشَاء ابْتِلَاء {وَيَبْسُطُ} يُوَسِّعهُ لِمَنْ يَشَاء
امتحانا {وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ} فِي الْآخِرَة بِالْبَعْثِ فَيُجَازِيكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ {أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ} الجماعة {مِنْ بَنِي
إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ} مَوْت {مُوسَى} أي إلى قصتهم وخبرهم {إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ} هو شمويل {ابْعَثْ} أقم
{لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ} مَعَهُ {فِي سَبِيلِ اللَّهِ} تَنْتَظِم بِهِ كَلِمَتنَا وَنَرْجِع إِلَيْهِ {قَالَ} النَّبِيّ لَهُمْ {هَلْ عَسَيْتُمْ}
بِالْفَتْحِ وَالْكَسْر {إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَ} ن {لَا تُقَاتِلُوا} خَبَر عَسَى وَالِاسْتِفْهَام لِتَقْرِيرِ التَّوَقُّع بِهَا
{قَالُوا وَمَا لَنَا أَ} ن {لَا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا} بِسَبْيِهِمْ وَقَتْلِهِمْ وَقَدْ فَعَلَ بِهِمْ
ذَلِكَ قَوْم جَالُوت أَيْ لَا مَانِع لَنَا مِنْهُ مَعَ وُجُود مُقْتَضِيه قال تعالى {فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا} عَنْهُ
وَجَبُنُوا {إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ} وَهُمْ الَّذِينَ عَبَرُوا النَّهَر مَعَ طَالُوت كَمَا سَيَأْتِي {وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ}
فَمُجَازِيهِمْ وَسَأَلَ النَّبِيّ إِرْسَال مَلِك فَأَجَابَهُ إِلَى إِرْسَال طَالُوت {وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ
طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوا أَنَّى} كَيْفَ {يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ} لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ سِبْط الْمَمْلَكَة
وَلَا النُّبُوَّة وَكَانَ دَبَّاغًا أَوْ رَاعِيًا {وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ} يَسْتَعِين بِهَا عَلَى إِقَامَة الْمُلْك {قَالَ} النَّبِيّ لَهُمْ
{إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ} اخْتَارَهُ {لِلْمُلْكِ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً} سَعَة {فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ} وَكَانَ أَعْلَم بَنِي
إِسْرَائِيل يَوْمَئِذٍ وَأَجْمَلهمْ وَأَتَمّهمْ خَلْقًا {وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ} إِيتَاءَهُ لَا اعْتِرَاض عَلَيْهِ {وَاللَّهُ وَاسِعٌ}
فَضْله {عَلِيمٌ} بِمَنْ هُوَ أَهْل لَهُ {وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ} لَمَّا طَلَبُوا مِنْهُ آيَة عَلَى مُلْكه {إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ
التَّابُوتُ} الصُّنْدُوق كَانَ فِيهِ صُوَر الْأَنْبِيَاء أَنْزَلَهُ عَلَى آدَم وَاسْتَمَرَّ إِلَيْهِمْ فَغَلَبَهُمْ الْعَمَالِقَة عَلَيْهِ وَأَخَذُوهُ
وَكَانُوا يَسْتَفْتِحُونَ بِهِ عَلَى عَدُوّهمْ وَيُقَدِّمُونَهُ فِي الْقِتَال ويسكنون إليه كما قال تعالى {فِيهِ سَكِينَةٌ} طُمَأْنِينَة
لِقُلُوبِكُمْ {مِنْ رَبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَى وَآلُ هَارُونَ} وَهِيَ نَعْلَا مُوسَى وَعَصَاهُ وَعِمَامَة هَارُون وَقَفِيز
مِنْ الْمَنّ الَّذِي كَانَ يَنْزِل عَلَيْهِمْ وَرُضَاض مِنْ الْأَلْوَاح {تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ} حَال مِنْ فَاعِل يَأْتِيكُمْ {إِنَّ فِي
ذَلِكَ لَآيَةً لَكُمْ} عَلَى مُلْكه {إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} فَحَمَلَتْهُ الْمَلَائِكَة بَيْن السَّمَاء وَالْأَرْض وَهُمْ يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ
حَتَّى وَضَعَتْهُ عِنْد طَالُوت فَأَقَرُّوا بِمُلْكِهِ وَتَسَارَعُوا إِلَى الْجِهَاد فَاخْتَارَ مِنْ شَبَابهمْ سَبْعِينَ أَلْفًا

ترجمه: آیا تاسو ته دهغوی باره کښې معلومه نه ده استفهام د حیرانه کولو او د مابعد د اوریدلو شوق ورکولو د پاره دي یعني تاسو ته د دې علم نشته چې د زرګونو په شمیر کښې د مرګ نه ویریدونکي د خپلو کورونو نه وتلي ولاړو دهغوی شمیر څلور زره یا اته زره یا دولس زره یا دیرش زره یا څلویښت زره یا اویا زره وو (حَذَرَ الْمَوْتِ) د خَرَجُوْا مفعول له دي داد بني اسرائیلو یو قوم وو د چا په ښاریو کښې چې طاعون پیدا شوې وو نو هغوی او تختیدل الله تعالی هغوی ته حکم ورکړو مړه شئ نو ټول مړه شو. بیا اته ورځې یا د دې نه زیاتو ورځو نه پس دهغوی نبي حزقیل علیه السلام په دعا سره (الله تعالی) هغوی راژوندي کړل، حاء مهمله او د قاف کسره سره او د زاء سکون سره نو هغه خلق د یوې زمانې پورې ژوندي وو لیکن

دَهغوی په (بدن باندې) دَمړوالی (زیړوالې) وغیره ښکاره وو، اوکوم لباس چې به ئې اغوستلو هغه به دکفن په شان کیدلو اودا صورت حال دَهغوی په نسل کښې دَ مودو پورې باقی وو. بیشکه الله تعالی په خلقو باندې دَ لوئی فضل والا دې اوهم په دې کښې هغه خلق ژوندی کول دی لیکن اکثر خلق ناشکره دی اوهغه کافران دی اودَ هغه خلقو قصه ذکرکولو مقصد دَمؤمنانو په جهادباندې همت زیاتول دی اوهم په دې وجه په دې باندې دَ وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ عطف کړې شوې دې او جهادکوئی دَالله تعالی په لارکښې یعنی دَهغه دَ دین دَسرلوړئی دَپاره اوښه یاد ساتئی چې الله تعالی ستاسو خبرې ښه اوریدونکې او ستاسو په احوال پوهیدونکې دې نوهغه به تاسو ته دَدې بدله درکوی. او داسې څوک شته چې الله تعالی ته قرض حسنه ورکړی؟ چې خپل مال دَهغه په لارکښې خرچ کړی په داسې طریقه چې مال دَالله تعالی په لار کښې په خوشحاله زړه سره خرچ کړی. نو الله تعالی داسې سړی ته ښه ډیرزیات ورکوونکې دې دَ لس چنده نه واخله تر اووه سوو چنده نه زیات لکه چې عنقریب راتلونکی دی. او په یوقراءت کښې تشدید سره دې او الله تعالی چې دَ چادَپاره غواړی دَ آزمیښت په توګه رزق بندولوسره تنګه وی اودَ چادَپاره چې غواړی دَامتحان په توګه په وسعت سره رزق ورکوی او په آخرت کښې دَ بعث په ذریعه تاسو به هم دَهغه طرف ته ورګرځولې شئی نوهغه به تاسو ته ستاسو دَاعمالو بدله درکوی. آیا تاسو دَ موسی علیه السلام دَ وفات نه پس دَبنی اسرائیلو جماعت نه وو لیدلې؟ یعنی تاسو ته دَهغوی دَ قصې اوخبر علم نه دې شوې چې هغوی خپل پیغمبر ته چې شمویل وو اوو ئیل چې څوک زمونږ بادشاه جوړکړه چې مونږ هغه سره دَ الله تعالی په لارکښې جهاد اوکړو دې دَپاره چې دَدې په ذریعه زمونږ خبره پخه شی اودَهغه طرف ته رجوع اوکړو. دَهغوی نبی هغوی ته اوو ئیل چرې داسې نه وی چې په تاسو جنګ فرض کړې شی او تاسو ئې اونه کړئی؟ عَسَیْتُمْ کښې دَ سین فتحه اوکسره سره (اَلَّا تُقَاتِلُوْا) دَعسیٰ خبردې اومتوقع استفهام دَ تقریر او تثبیت دَپاره دې وئې وئیل دا څنګه کیدې شی چې مونږ دَالله تعالی په لارکښې جنګ اونه کړو حالانکه مونږ د خپلو کورونه ویستلې شوی یو اوزمونږ دَ بچو نه جداکړې شوی یو دَهغوی دَ قتل اوقید کیدو دَ وجې نه، اودا معامله هغوی سره دَ جالوت قوم کړې وه مطلب دا چې مونږ دَهغه سره دَ جنګ کولونه هیڅ څیز منع کونکې نشته اودَ قتال مقتضی موجود دې بیا چې کله په هغوی باندې جهاد فرض کړې شو نو په هغوی کښې دَ یونه یو کم شمیر نه علاوه ټولو شاګړه اوتختیدل او بزدلی ئې اوخودله اوداهم هغه خلق وو څوک چې دَ طالوت په ملګرتیاکښې دَ نهرنه اوُختلې وو لکه چې نیزدې راځی الله تعالی ظالمان پیژنی نو هغوی ته به سزا ورکوی چنانچې نبی (شمویل) دَالله تعالی نه دَ یو بادشاه مقررکولودرخواست اوکړو نو الله تعالی درخواست قبول کړو، او طالوت ئې بادشاه مقررکړو نوهغوی ته دَهغوی نبی (شمویل) اووئیل الله تعالی

ستاسو بادشاه طالوت جوړ کړې دې نو وئې وئيل چې دې به په مونږ باندې څنګه بادشاه وي ددې نه خو مونږ زيات حقدار يو دَ بادشاهئى ځکه چې (يوخو) دې نه دَ شاهي خاندان نه دې اونه دَ نبوت دَ خاندان نه دې اوهغه دباغ (څرمن جوړونکې) يا ګډبه وو اوده ته خو مالي فراخي هم نه ده ورکړې شوې دَ کوم په ذريعه چې دَ سلطنت نظام قائم کړې شي، نو نبي هغوى ته اووئيل (واورئ) الله تعالى هم دې ستاسو بادشاه مقرر کړې دې او ده ته ئې علمي او بدني اوچتوالې هم ورکړې دې او په هغه زمانه کښې هغه په بنى اسرائيلو کښې لوئى عالم او په بدني توګه ډير ښائسته اومکمل وو. (خبره داده) چې الله تعالى څوک غواړي خپل ملک هغه ته ورکوي په دې باندې چاته دَ اعتراض حق نشته دَ الله تعالى فضل ډير وسيع دې اودَ هغې نه ښه خبر دې چې څوک دَ دې اهل دې؟

کله چې (بنى اسرائيلو) دَ شمويل نبي نه دَ هغه دَ بادشاهت نشاني اوغوښتله نو وئې فرمائيل دده بادشاهت نشاني داده چې تاسو له به هغه صندوق راشي په کوم کښې چې دَ انبياء تصويرونه دي کوم چې الله تعالى په حضرت آدم عليه السلام باندې نازل کړې وو اوهغه صندوق دَ هغه په نسل کښې باقي پاتې وو دَ دې نه پس دَ عمالقه قوم په دې باندې غالب راغلو اوهغه صندوق ئې په زور واخستو اوهغوى به هم دَ دغه صندوق په ذريعه په دښمن باندې فتح حاصلوله لکه چې الله تعالى فرمائيلي دي په دې کښې ستاسو دَ زړونو دَ پاره تسلي ده ستاسو دَ رب دَ طرف نه، اودَ آل موسى عليه السلام او آل هارون عليه السلام نه باقي پاتې ترکه ده يعني کوم چې هغوى پريخودې وو هغه دَ حضرت موسى عليه السلام پنړې مبارکې وې اودَ هغوى همسا وه اودَ هارون عليه السلام پټکې وو او يو قفيز مَنّ وو کوم چې په هغوى باندې (دَ آسمان نه نازليدلو. اودَ تورات څه ټکړې وې کوم چې به فرښتو اوچت کړې وې تحمله، يَأتِيَكُمُ فاعل نه حال دې بيشکه په دې کښې ستاسو دَ پاره دَ هغه دَ بادشاهت نشاني ده که ستاسو يقين وي. فرښتو دا دَ آسمان اوزمکې په مينځ کښې اوچت کړو اودې خلقو هغه کتلو تردې چې هغه ئې طالوت سره کيخودو نو ټولو دَ هغه دَ بادشاهت اقرار اوکړو او جهاد ته وړاندې شو چنانچې هغه دَ دوی دَ ځوانانو نه اويا زره خوښ کړل.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: أَيْ لَمْ يَنْتَهِ.

سوال: دَ رؤيت علميه صله إلى نه راځي رؤيت علميه متعدي په دوو مفعولو سره وي حالانکه أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا کښې دَ رؤيت نه رؤيت علميه مراد دې اودَ دې په صله کښې إلى واقع دې.

جواب: هم رؤيت علميه مراد دې مګر دَ انتهاء معنې ته متضمن دې لهذا الى صله راوړل

صحیح دی اوهم دَدې وجې نه دلته دا متعدی په دوو مفعولوسره نه دې مفسرعلام رَحِمَهُ اللّٰهُ وئیلوسره هم دې جواب طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: طاعون، طاعون یومهلك وبائی مرض دې په کوم کښې چې غوټې راوځی خاص کر په ترخونو کښې، په دې مرض کښې انسان په یوڅو ورځو کښې مرکیږی بلادهم، دَ بلاد نه مراد ښار یا کلې دې کوم چې دَ واسط په علاقه کښې وو اودَهغې نوم ذاوردان وو.

قوله: فَمَاتُوا دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې ثُمَّ اَحْیَاهُمْ عطف فَمَاتُوا مقدر باندې دې دکوم چې مقام متقاضی دې ځکه چې دَ اِحْیَاء دَپاره اول مرګ ضروری دې دَ ثُمَّ په ذریعه عطف کولوسره اشاره اوکړه چې دَمرګ نه کافی ورځې پس هغوی ژوندی کړل.

قوله: حزقیل، حزقیل عَلَیْهِ السَّلَام ته ذوالکفل هم وئیلې شی، دادَحضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام دریم خلیفه دې.

قوله: مِنْهُ، ای مِن الفضل.

قوله: اَلَّا تُقَاتِلُوْا، خبرُعَسٰی.

ترکیب: عَسَیْتُمْ حرف ترجی فعل ماضی، په دې کښې ضمیر کوم چې دَدې اسم دې اِنْ حرف شرط، کُتِبَ عَلَیْکُمُ الْقِتَالُ جمله کیدوسره شرط، فلاتبادرون الی القتال جواب شرط محذوف، شرط جزاء سره ملاوْ شو دَعَسٰی اسم اوخبر په مینځ کښې جمله معترضه، اَلَّا تُقَاتِلُوْا، دَعَسٰی خبر عَسَیْتُمْ خپل اسم اوخبرسره ملاوْشودَ قَالَ مقوله ده.

قوله: رُضَاض، بالضم دَتورات اجزاء، ټکړې.

[ایاتونه: ۲۴۹ - ۲۵۲]

{فَلَمَّا فَصَلَ} خَرَجَ {طَالُوتُ بِالْجُنُودِ} مِنْ بَيْتِ الْمَقْدِسِ وَكَانَ الْحَرُّ شَدِيدًا وَطَلَبُوا مِنْهُ الْمَاءَ {قَالَ إِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيكُمْ} مُخْتَبِرُكُمْ {بِنَهَرٍ} لِيَظْهَرَ الْمُطِيعُ مِنْكُمْ وَالْعَاصِي وَهُوَ بَيْنَ الْأُرْدُنِّ وَفِلَسْطِينَ {فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ} اي من ماءه {فَلَيْسَ مِنِّي} أَيْ مِنْ أَتْبَاعِي {وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ} يَذُقْهُ {فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً} بِالْفَتْحِ وَالضَّمِّ {بِيَدِهِ} فَاكْتَفَى بِهَا وَلَمْ يَزِدْ عَلَيْهَا فَإِنَّهُ مِنِّي {فَشَرِبُوا مِنْهُ} لَمَّا وَافَوْهُ بِكَثْرَةٍ {إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ} فَاقْتَصَرُوا عَلَى الْغُرْفَةِ رُوِيَ أَنَّهَا كَفَتْهُمْ لِشُرْبِهِمْ وَدَوَابِّهِمْ وَكَانُوا ثَلَاثَمِائَةٍ وَبِضْعَةَ عَشَرَ رَجُلًا {فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ} وَهُمُ الَّذِينَ اقْتَصَرُوا عَلَى الْغُرْفَةِ {قَالُوا} أَيِ الَّذِينَ شَرِبُوا {لَا طَاقَةَ} قُوَّةَ {لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ} أَيْ بِقِتَالِهِمْ وَجَبُنُوا وَلَمْ يُجَاوِزُوهُ {قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ} يُوقِنُونَ {أَنَّهُمْ مُلَاقُوا اللّٰهِ} بِالْبَعْثِ وَهُمُ الَّذِينَ جَاوَزُوهُ {كَمْ} خَبَرِيَّةٌ بِمَعْنَى كَثِيرٍ {مِنْ فِئَةٍ} جَمَاعَةٍ {قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللّٰهِ} بِإِرَادَتِهِ {وَاللّٰهُ مَعَ الصَّابِرِينَ} بِالْعَوْنِ وَالنَّصْرِ {وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ} أَيْ ظَهَرُوا لِقِتَالِهِمْ

وَتَصَافُوا {قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ} أَصْبِبْ {عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا} بِتَقْوِيَةِ قُلُوبِنَا عَلَى الْجِهَادِ {وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ} {فَهَزَمُوهُم} كَسَرُوهُمْ {بِإِذْنِ اللَّهِ} بِإِرَادَتِهِ {وَقَتَلَ دَاوُدُ} وَكَانَ فِي عَسْكَرِ طَالُوتَ {جَالُوتَ وَآتَاهُ} أَيْ دَاوُدَ {اللَّهُ الْمُلْكَ} فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ {وَالْحِكْمَةَ} النُّبُوَّةَ بَعْدَ مَوْتِ شَمْوِيلَ وَطَالُوتَ وَلَمْ يَجْتَمِعَا لِأَحَدٍ قَبْلَهُ {وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ} كَصَنْعَةِ الدُّرُوعِ وَمَنْطِقِ الطَّيْرِ {وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم} بَدَلُ بَعْضٍ مِنَ النَّاسِ {بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ} بِغَلَبَةِ الْمُشْرِكِينَ وَقَتْلِ الْمُسْلِمِينَ وَتَخْرِيبِ الْمَسَاجِدِ {وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ} فَدَفَعَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ {تِلْكَ} هَذِهِ الْآيَاتُ آيَاتُ اللَّهِ {نَتْلُوهَا} نَقُصُّهَا {عَلَيْكَ} يَا مُحَمَّدُ {بِالْحَقِّ} بِالصِّدْقِ {وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ} التَّأْكِيدُ بِإِنَّ وَغَيْرِهَا رَدٌّ لِقَوْلِ الْكُفَّارِ لَهُ لَسْتَ مُرْسَلًا

ترجمه: كله چې حضرت طالوت ﷺ دَ بيت المقدس نه لښكر سره اووتلو نوهغه وخت سخته ګرمي وه لښكريانو دَ حضرت طالوت ﷺ نه دَ اوبو مطالبه اوكړه نو حضرت طالوت ﷺ اوفرمائيل الله تعالى به ستاسو په يو نهر سره ازميښت كوى دې دَپاره چې په تاسو كښې حكم منونكى اونامنونكى جدا شي اودا نهر دَ اردن اوفلسطين په مينځ كښې واقع دې. چاچې دَدې نه اوبه اوڅكلې هغه زما په اتباع كونكو كښې نه دى اوڅوک چې دا اونه څكى هغه زمونږ دى، اِلاّ چې هغه په خپل لاس سره يو چونګ نيم واخلى غُرْفَة فتحه او ضمه سره دې يعنى چاچې په يو چونګ باندې صبر اوكړو اودَهغې نه زياتې ئى اونه څكلې نو هغه زما دَ متبعينو نه دې. كله چې نهر ته اورسيدل نو ښه ځان ئى خړوب كړو اوبه ئى اوڅكلې خو ډيركم خلق وو چې په يو چونګ باندې ئى اكتفا اوكړه او روايت كړې شوې دې چې دَهغوى اودَهغوى دَ څناورو (اسونو) دَ خړوبوالى دَپاره هم هغه يو چونګ كافى شوې، اودَهغوى شميرَ دَريوسوو لسو نه لږشان زيات وو. كله چې حضرت طالوت ﷺ اودَهغه ملګرى مؤمنان دَ درياب نه پورې وتل اودا هم هغه وو چې په يو چونګ باندې ئى اكتفا كړې وه كومو خلقو چې ښه په خړوب كيدو سره څكلې وې وئى وئيل نن خو په مونږ كښې دَ جالوت اودَهغه دَلښكرَدَ مقابله طاقت نشته يعنى هغوى سره دَ جنګ كولو، او بزدلى ئى اوخودله او نهر نه هم را وانه ړيدل، اوهغه خلق كومو خلقو چې دَ مرګ نه پس ئى دَ الله تعالى په ملاقات باندې يقين لرلو هغوى اووئيل دا هم هغه خلق وو چې نهر نه راوُختې وو چې ډير كم داسې شوى دى كَمْ خبريه دكثرت په معنى كښې دې چې يو وړوكې لښكر دَ الله تعالى په اراده سره په لوئى جماعت باندې غالب راغلى دى او الله تعالى دَ خپل نصرت او امداد په ذريعه دَ صابرينو ملګرې دې او كله چې دَهغوى جالوت اودَهغه لښكريانو سره مقابله اوشوه يعنى هغوى سره په جنګ كښې مخامخ شو او صفونه ئى جوړ كړل نو هغوى دعا اوغوښتله اې زمونږ پروردګاره مونږ ته صبر او استقامت رانصيب كړې او په جهاد باندې زمونږ زړونو ته تقويت راكړې او په

کافر قوم باندې مونږ ته غلبه راکړې نوهغه خلقو دَ الله تعالى په مرضئى سره جالوتيانوته ماتې ورکړه يعنى هغوى ئې ختم کړل او داؤد عليه السلام چې دَحضرت طالوت عليه السلام په لښکرکښې شريك وو جالوت ئې قتل کړو او الله تعالى حضرت داؤد عليه السلام ته دَ شمويل او طالوت دَ مرګ نه پس بادشاهت ورکړو او دَ نبوت حکمت (ئې ورکړو) اودَ داؤد عليه السلام نه وړاندې په چاکښې بادشاهت او نبوت نه دې جمع شوې اوڅه ئې چې غوښتلو علم ئې ورکړو مثلاً دَزغرو جوړولو هنر اودَ مرغو په خبرو پوهيدل، که الله تعالى بعض خلق دَ بعض په ذريعه نه دفع کول بعضهم من الناس نه بدل البعض دې نودَمشرکانو په غلبه سره به مسلمانان قتل کيدل او جماتونه ورانيدل او په زمکه کښې به فساد خوريدو ليکن الله تعالى په دنياوالوباندې دَ لوئى فضل والا دې چې بعض دَ بعضو په ذريعه دفع کوى دا دَ الله تعالى آياتونه دى کوم چې مونږ تاته اې محمد ﷺ صحيح صحيح اوړه وو په يقين سره ته دَ رسولانونه ئې دَاِنَّ وغيره په ذريعه تاکيد، دَ کافرانو دَ دې قول دَ رد کولو دَپاره دې چې حضور پاك ﷺ رسول نه دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله فَصَلَ، اى اِنْفَصَلَ، لازم دې دَ فَصَلَ مفعول چونکه اکثر محذوف وى په دې وجه په منزله دَلازم شو. هم دغه وجه ده چې دَدې په مفعول (بالجنود) باندې باء داخل ده اوکه چرې متعدى اومنلې شى نودَدې مفعول به محذوف منلې شى، اى فَصَلَ العَسْكَرعن البلدفصولا.

قوله طَالوت، دَ بنى اسرائيلو دَ اوچت اقبال او نيك بادشاه نوم دې. دَعلم اوعجمه دَ وجې نه غيرمنصرف دې.

قوله غرفة، دَ غين په ضمه سره په معنى د معروف، يوچونګ اوبه اودَ غين فتحه سره مصدر دپاره دَ مرّة دې.

قوله اى مِن مائه، داحذف دَ مضاف طرف ته اشاره ده څکه چې دَنفس نهر نه دَ څکلوامکان نشته دې.

قوله لَمَّاوافوه،من الموافات،اى رسيدن.

قوله بكثرة.

سوال بكثرةمقدر منلو څه ضرورت پيښ شو؟

جواب که چرې بکثرة محذوف اونه منلې شى نو اِلّاقليلاًمنهُ مستثنى به صحيح نه شى، څکه چې په څکونکو کښې قليل هم شامل دى.

پاره نمبر - ۳ [تِلْكَ الرُّسُلُ]

[ایاتونه: ۲۵۳]

{تِلْكَ} مُبْتَدَأ {الرُّسُلُ} نَعت أو عَطف بَيَان وَالْخَبَر {فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ} بِتَخْصِيصِه بِمَنْقَبَةٍ لَيْسَتْ لِغَيْرِهِ {مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللَّهُ} كَمُوسَي {وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ} أيْ مُحَمَّد صَلَّي اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {دَرَجَاتٍ} عَلَي غَيْرِه بِعُمُومِ الدَّعْوَة وَخَتْم النُّبُوَّة وَتَفْضِيل أُمَّته عَلَي سَائِر الْأُمَم وَالْمُعْجِزَات المتكاثرات وَالخصائص العديدة {وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ} قَوَّيْنَاهُ {بِرُوحِ الْقُدُسِ} جِبْرِيل يَسِير مَعَهُ حَيْثُ سَارَ {وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ} هَدَي النَّاس جَمِيعًا {مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ} بَعْد الرُّسُل أيْ أُمَمهمْ {مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ} لِاخْتِلَافِهِمْ وَتَضْلِيل بَعْضهمْ بَعْضًا {وَلَكِنِ اخْتَلَفُوا} لِمَشِيْئَتِهِ ذَلِكَ {فَمِنْهُمْ مَنْ آمَنَ} ثَبَتَ عَلَي إِيمَانه {وَمِنْهُمْ مَنْ كَفَرَ} كَالنَّصَارَي بَعْد الْمَسِيح {وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُوا} تَأْكِيد {وَلَكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ} مِنْ توفيق من شاء وخذلان من شاء

ترجمه: دا حضرات مرسلین (جماعت) داسې دي چې مونږ بعضو ته په بعضو باندې فوقیت ورکړې دې، تِلْكَ موصوف، الرُّسُلُ صفت، موصوف په صفت مبتداء فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ دَدې خبر، په دوی کښې بعض په داسې منقبت سره خاص کول کوم چې نورو ته حاصل نه وو، په دوی کښې بعض داسې دی چې الله (بلا واسطه) هغوی سره خبرې کړې دی لکه حضرت موسیٰ علیه السلام او دَ هغوی نه بعض یعنی محمد ﷺ ته په درجها په نورو باندې فوقیت ورکړې (دَ جن او انس دَپاره دَهغوی) دَ دعوت عام کیدو دَ وجې نه او په هغوی باندې (سلسله) دَ نبوت ختمیدو دَ وجې نه او دَحضورپاك امت ته په نورو امتونو باندې دَ فضیلت ورکولو دَ وجې نه او دَ معجزات کثیره دَ وجې نه او (دَنورو) ډیرو خصوصیاتو دَ وجې نه او مونږ حضرت عیسی علیه السلام بن مریم ته ښکاره معجزې ورکړې او مونږ هغه ته د روح القدس (یعنی دَ جبرائیل علیه السلام) په ذریعه تقویت ورکړو چې (جبرائیل علیه السلام) به هغوی سره روان وو چرته چې به هغه تللو که الله تعالی ته دَ ټولو خلق هدایت منظور وې نو هغه خلق کوم چې دَ رسولانو نه پس شوی یعنی دَهغوی امتونه دَهغوی دَاختلاف اوبعض دَ بعضو په ذریعه دگمراه کولو دَ وجې خپل مینځ کښې جنګ جګړې نه کولې، روستو دَهغې نه چې هغوی ته دلائل رسیدلې وو لیکن هغه خلقو دَ الله تعالی دَ ارادې په سبب خپل مینځ کښې مختلف شو نو په هغوی کښې بعض ایمان راوړو یعنی په خپل ایمان باندې قائم پاتې شو او بعض کافران شو لکه چې مسیح علیه السلام نه پس نصاریٰ. اوکه چرې الله تعالی ته منظور وې نو هغوی به خپل مینځ کښې اختلاف نه کولو دا (دا ماقبل) تاکیدې دې لیکن الله تعالی چې څه غواړی هم هغه کوی، چاته چې غواړی (دَ خیر) توفیق ورکوی اوڅوك چې غواړی نو رسوا کوی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ که دَ تِلْكَ مشارٌاليه جماعت انبياء مذكورين دي چې په اِنَّكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ کښې يا پوره سورت کښې ذکرشوي دي نو اَلرُّسُلُ باندې به الف لام دَ عهدوي، اوکه جميع انبياء مراد وي نو الف لام به دَ استغراق وي.

سوال: تِلْكَ اسم اشاره دَ بعيد استعمالولو کښې څه مصلحت دې؟

جواب: ياخو دَ بُعد زماني طرف ته اشاره کول مقصود دي يا بيا دَ الله تعالى په نيزدَ مرتبې دَ اوچتوالى طرف ته اشاره کول مقصود دي.

قوله: صفةٌ مفسرعلام اَلرُّسُلُ دَ تِلْكَ صفت گرځولې دې او موصوف صفت سره ملاويدو کښې مبتداء دې دَ الرسل نه عطف بيان او بدل هم کيدې شي ځکه چې په مشاراليه باندې کله الف لام داخليږي نو دَدې صفت اوعطف بيان اوبدل دريواړه واقع کيدل صحيح کيږي.

قوله: فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ، تِلْكَ دَ مبتداء خبردې لکه چې مفسرعلام فرمائيلى دى.

سوال: اَلرُّسُلُ خبر اول او فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ خبر ثاني گرځولو کښې څه قباحت دې؟

جواب: په خبرکښې اصل چونکه تنکيردې او اَلرُّسُلُ معرفه دې ځکه الرُّسُلُ ئې خبر اونه گرځولو.

سوال: دَ دَرَجَاتٍ منصوب کيدو څه وجه ده؟

جواب: ياخو دَ مصدرية دَ وجې نه منصوب دې ځکه چې درجات رفعةً په معنى کښې دى اى رَفَعَ رفعةً يا رَفَعَ متعدى بالى يا بعلى يا بفى وو حرف جر حذف کړې شو چې دهغه دَ وجې نه منصوب بنزع الخافض شو.

قوله: بِمَنْقَبَةٍ دَ ميم فتحه سره مايفتخربه (يعنى مفاخره محاسن)

قوله: هُدَى الناس جميعًا دَدې عبارت دَ اضافه مقصد داخودل دى چې لَوْشَاءَ فعل متعدى دې اومفعول دَدې محذوف دې.

سوال: ظاهر او متبادر دا دې چې د مشئة مفعول هغه کيږي چې دَ جزاء نه مفهوم اومستفاد کيږي (کمافى کتب المعانى) لکه دَ الله تعالى قول لَوْشَاءَ اللهُ لَهَدٰاكُمْ کښې دَدې تقدير لَوْشَاءَ اللهُ هِدَايَتَكُمْ لَهَدَاكُمْ دې مفعول دَ جزاء نه مستفاد کيدلو دَ وجې نه حذف کړې شوې دې اوهغه هدايتكم دې دَدې قاعدې په رڼا کښې تقديرى عبارت داکيدل پکاردى لَوْشَاءَ اللهُ

عدمَ القتال مَا اقْتَتَلُوا مګر مفسرعلام د جزاء نه غیرمفهوم مفعول محذوف منلې دې کوم
چې هُدَى النَّاسِ جميعا دې. معلومیږی چې مفسرعلام په مذکوره قاعده سره دې ځائی
کښې متفق نه دې، په دې کښې څه نکته ده؟

نکته جواب: جزاء کوم چې مَا اقْتَتَلَ دې نه چې کوم مفعول مستفاد کیږی هغه عدم القتال
دې او معدوم څیزسره مشیت او اراده نه متعلق کیږی بلکه د عدم دپاره اراده د وجود
عدم تعلق کافی وی هم ددې نکته په وړاندې مفسرعلام د جزاء نه مفهوم نه علاوه مفعول
محذوف منلې دې.

قوله. بَعْدَ الرُّسُلِ ددې اضافه مقصد هُمْ ضمیر مرجع وضاحت دې.

قوله: ای اممهم دا د الَّذِينَ تفسیر دې.

قوله: مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ، مِنْ بعدهم نه بدل دې.

قوله لِاخْتِلَافِهِمْ، ددې تعلق اِقْتَتَلَ سره دې.

قوله ثَبَتَ علی اِیْمَانِه، د آمَنَ تفسیر ثَبَتَ سره کولوکښې اشاره اوکړه چې ایمان
خو د اختلاف نه وړاندې موجود وو د اختلاف نه پس په دې قائم پاتې شو.

[ایاتونه: ۲۵۴ - ۲۵۷]

{يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ} زكاته {مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا بَيْعٌ} فداء {فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ} صداقة تنفع {وَلَا شَفَاعَةٌ} بغير إذنه وهو يوم القيامة وفي قراءة برفع الثلاثة {وَالْكَافِرُونَ} بالله أو بما فرض عليهم {هُمُ الظَّالِمُونَ} لوضعهم أمر الله في غير محله {اللّٰهُ لَا إِلٰهَ} أي لا معبود بحق في الوجود {إِلَّا هُوَ الْحَيُّ} الدائم بالبقاء {الْقَيُّومُ} المبالغ في القيام بتدبير خلقه {لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ} نعاس {وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ} ملكا وخلقا وعبيدا {مَنْ ذَا الَّذِي} أي لا أحد {يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ} له فيها {يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ} أي الخلق {وَمَا خَلْفَهُمْ} أي من أمر الدنيا والآخرة {وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ} أي لا يعلمون شيئا من معلوماته {إِلَّا بِمَا شَاءَ} أن يعلمهم به منها بإخبار الرسل {وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ} قيل أحاط علمه بهما وقيل الكرسي نفسه مشتمل عليهما لعظمته لحديث ما السماوات السبع في الكرسي إلا كدراهم سبعة ألقيت في ترس {ولا يؤوده} يثقله {حفظهما} أي السماوات والأرض {وَهُوَ الْعَلِيُّ} فوق خلقه بالقهر {الْعَظِيمُ} الكبير {لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ} على الدخول فيه {قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ} أي ظهر بالآيات البينات أن الإيمان رشد والكفر غي نزلت فيمن كان له من الأنصار أولاد أراد أن يكرههم على الإسلام {فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ} الشيطان أو الأصنام وهو يطلق على المفرد والجمع {وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ} تمسك {بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى} بالعقد المحكم {لَا انْفِصَامَ}

انقطاع {لَهَا وَاللّٰهُ سَمِيعٌ} لِمَا يُقَالُ {عَلِيمٌ} بِمَا يفعل {اللّٰهُ وَلِيُّ} ناصر {الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ} الكفر {إِلَى النُّورِ} الإيمان {وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ} ذِكْرُ الإِخْرَاجِ أَمَّا فِي مُقَابَلَةِ قَوْلِهِ يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ أَوْ فِي كُلِّ مَنْ آمَنَ بِالنَّبِيِّ قَبْلَ بَعْثَتِهِ مِنَ الْيَهُودِ ثُمَّ كَفَرَ بِهِ {أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ}

ترجمه: اې دَ ایمان والوا کوم څه چې مونږ تاسوته دریخښلی دی دَهغې نه خرچ کوئی (یعنی دَهغې زکوٰة اداکوئی، وړاندې دَهغې نه چې هغه ورځ راځی په کوم کښې چې به نه څه خرڅول کیږی اونه څه اخستل، اونه نفع ورکونکې دوستی اونه دَهغه دَا جازت نه بغیر شفاعت. اوهغه دَ قیامت ورځ ده، او په یوقراءت کښې دریواړه یعنی بَیْعٌ، خُلَّةٌ اوشَفَاعَةٌ رفع سره دې اودَالله تعالی منکریا دَهغه (احکام) نه منکرکوم چې په هغه باندې فرض کړې دی هم دغه خو ظالمان دی دَهغوی دَالله تعالی حکم غیرمحل کښې دَ کیخودودَ وجې نه الله تعالی هغه دَ همیشه ژوندئی هستی ده چې دَهغه نه علاوه بل هیڅوک حقیقی معبودنشته چې (ټول کائنات) نی تابوکړې دې، قیوم هغه ذات دې چې دَخپل مخلوق دَ قیام په تدبیرکښې مبالغه کونکې دې نه په هغه پرکالې راځی اونه هغه اوده کیږی، په زمکه او آسمان کښې چې څه دی دَ بادشاهت په اعتبارسره اودَ حکومت په اعتبارسره اودَ مملوك کیدو په اعتبارسره ټول هم دَهغه دی څوك دې چې دَهغه په حضورکښې دَ شفاعت دَپاره دَهغه دَ اجازت نه بغیر سفارش اووکړې شی؟ یعنی هیڅوك نشته څه چې دَمخلوق مخې ته دی هغه دا هم پیژنی او دَدنیا اوآخرت چې کومه خبره دَهغه نه غائبه ده (هغې نه هم خبردې) اوهغوئ دَدې معلومات نه دَ یوڅیزهم (علمی) احاطه نه شی کولې یعنی دَهغه په معلوماتوکښې دَهیڅا ادراك نه شی کیدلې سوادَ هغې څیزنه کوم چې هغه دَدې نه خپلو رسولانو ته خبروراوکړی خودل غواړی دَهغه حاکمانه اقتدار آسمانونه او زمکې احاطه کړې دی، وئیلې شوی دی چې دَهغه علم دادواړه احاطه کړی دی، وئیلې شوی دی چې دَهغه بادشاهت احاطه کړی دی اونور وئیلی شوی دی چې بعینه کرسی دَخپل عظمت دَ وجې نه په دواړو باندې مشتمل ده. دَدې حدیث په رنړاکښې دَ اووه واړو آسمانونو حیثیت دکرسئی په مقابله کښې صرف داسې دې لکه چې اووه درهم په یو ډهال کښې کیخودې شوی وی. او په هغه باندې دَ زمکې اوآسمان نگرانی کول لږ شان هم سخت نه دی اوهغه عالی شان او عظیم الشان دې یعنی په خپل مخلوق باندې دَ قوت په ذریعه غالب دې، په دین کښې دَ داخلیدلوپه معامله کښې هیڅ سختی نشته هدایت دَ گمراهئی نه بالکل جدا شوې دې، یعنی دَ واضحه آیاتونو په ذریعه دا خبره ښکاره شوې ده چې ایمان هدایت دې اوکفرگمراهی ده (مذکوره آیت) دَهغه انصاری باره کښې نازل شوې دې دکوم چې بچی ووهغه غوښتل چې بچی دَاسلام راوړلو

دَپاره مجبور کړی، او س چې څوک دَ طاغوت انکار کولو سره (طاغوت) شيطان يا اصنام يعنې بتان دی (دَ طاغوت) اطلاق مفرد او جمع باندې کيږی او چې په الله تعالی باندې ئې ايمان راوړو نو هغه دَعقد محکم په ذريعه ئې داسې مضبوط حلقه اونيوله چې هيڅ کله ماتيدونکې نه ده، کومه خبره چې کولې شی الله تعالی دَهغې اوريدونکې دې اوکوم کارچې کولې شی په هغې باندې پوهيږی، الله تعالی دَهغه خلقو امدادی دې چاچې ايمان راوړې هغه دَکفردَ تيارونه ويستلوسره دَ ايمان دَ رڼا طرف ته راولی اوکوموخلقو چې کفراوکړو دَهغوی حمايتی طاغوت دې هغه دَ رڼا نه ويستلوسره دَتيارو طرف ته اوړی. دَدې اخراج ذکر يا خو دَدې قول يخرجهم من الظلمات دَمقابلې په توګه راوړلې دې يادَ هرهغه يهودی باره کښې چې دَ رسول الله ﷺ دَ بعثت نه وړاندې په حضورپاک ايمان راوړلې وو بيائې دَ حضورپاک نه انکار اوکړو. هم دغه اورته تلونکې خلق دی چرته چې به دوی دَهميشه دَپاره پراته وی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: زکوته، دې کلمه سره ئې اشاره اوکړه چې دَ انفاق نه مراد واجب انفاق دې اوراتلونکې وعيد ددې قرينه ده څکه چې په غيرواجب باندې وعيدنه کيږی.

قوله: فِداء. فديه ئې بيع سره تعبيرکړې ده څکه چې فداء،اشتراءالنفس من الهلاکة ته وائی. فديه هغه قيمت کوم چې قيدی دَ خلاصيدو په عوض اداکوی، سبب وئيلوسره مسبب مراد اخستې شوې دې څکه چې نفس بيع د خلاصی عن العذاب فائده نه ورکوی بلکه فديه دَ خلاصی فائده ورکوی.

قوله: تنفعُ،لفظ تنفعُ اضافه کولوسره اوخودل چې مطلق دَ دوستئ نفی نه ده بلکه دَنافع دوستئ نفی ده.

قوله: إذنه دَدې اضافه مقصد دَيوسوال جواب دې.

سوال: دَ شفاعت نفی علی سبيل الاستغراق څنګه صحيح ده؟ دَ احاديثو نه خو دَ انبياء کرامو عليهم السلام شفاعت دَ قيامت په ورځ ثابت دې.

جواب: دلته سره دَدې چې دَ مطلق شفاعت نفی ده مګر يو بل آيت دا مطلق مقيد کړې دې، آيت دادې ﴿ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ﴾ وفی قراءة برفع الثلاثة په دريواړوکښې د لا نفی جنس دَاسم کيدودَ وجې اصل فتحه ده، لکه چې ابن کثير ؒ او ابوعمرو ؒ په قرات کښې دَاصل مطابق هم فتحه ده مګردَدې نه علاوه قرات کښې رفع ده، دَ رفع وجه داده چې دراصل دا عبارت دَ يوسوال جواب دې اوسوال دادې هَلْ فِيْهِ بَيْعٌ أَوْ خُلَّةٌ أَوْ شَفَاعَةٌ؟ جواب دادې لَا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ، په سوال اوجواب کښې مطابقت

پيدا كولو دپاره جواب ته هم رفع وركړې شوه، بعض حضراتو داجواب وركړې دې چې لا نفي جنس مكرر كيدودَ جې نه مهمل گرځولې شوې او بَيْعٌ مبتداء كيدو دَ وجې نه مرفوع ده مگر دلته به يو سوال وى چې بَيْعٌ، خُلَّةٌ او شَفَاعَةٌ نكره دى دَدې مبتداء جوړيدل صحيح نه دى.

جواب: نكره تحت النفى واقع كيدو دَ وجې نه دَدې مبتداء جوړيدل صحيح شو. (اعراب القرآن للدرويش)

قوله: لَاتَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَانَوْمٌ دادَ صفات سلبيه نه دى د سِنَةٌ تعلق ستر گوسره دې او دادَ انبياء كرامو خوب دې او دَ نوم تعلق دَ قلب سره وى دا فترة طبعيه دې چې په هرځناور باندې جبرًا شروع كيږى.

قوله: لامعبود بحق الخ دې كښې اشاره ده چې اِلٰهٌ نه مراد معبودحقيقى دې نه چې مطلق معبود ځكه چې معبود مطلق غيرحقيقى ډيردى گنى دَ مطلق معبود په نفى سره به كذب بارى لازم راشى حالانكه اِللّٰه تعالى دَدې نه وراء الوراء دې. تعالى الله عن ذالك علوًا كبيرًا مگر په دې صورت كښې به داسوال وى چې كله اِلٰهٌ نه مراد حقيقى معبود دې كوم چې واحد دې نوبيا دَدې نه اِلَّاهُوَ په ذريعه استثناء صحيح نه وى ځكه چې دا استثناء الشئ عن نفسه به وى.

جواب: دَ معبودبالحق مفهوم چونكه كلى دې لهذا په دې سره په تصوركښې مستثنٰى منه متعدد كيدو دَ وجې نه به استثناء صحيح وى.

قوله: فى الوجود په دې سره دَدې خبرې طرف ته اشاره ده چې دَ لا خبرمحذوف دې او هغه فى الوجود دې.

قوله: مُلكًا وخلقًا الخ په دې سره ئې اشاره اوكړه چې دَ لَهٗ لام دَ نفع دَپاره نه دې لكه چې په عام توگه كيږى ځكه چې الله تعالى دَ اشياء نه دَ نفع محتاج نه دې.

قوله: فيها اى فى الشفاعة.

قوله: من معلوماته دې كښې اشاره ده چې دَعلم نه مراد معلومات دى ځكه چې علم صفت بسط دې په كوم كښې چې تجزّى نه شى كيدې البته په معلومات كښې تجزّى كيدې شى

قوله: تُرِيْن، بالضم، ډهال.

قوله: تَمَسَّكَ، دَ اِسْتَمْسَكَ تفسير تَمَسَّكَ سره كولو كښې اشاره اوكړه چې استمسكَ كښې سين زائده دې.

قوله: ذكر الاخراج الخ دَ مفسرعلام مقصدَ دي اضافه نه دَ يوسوال مقدر جواب دي. سوال دادي چې كافران خو په رڼاكښې وونه نودَهغوی دَ رڼادَ طرف نه تيارو ته راويستو څه مطلب دي؟ مفسرعلام دَدې دوه جوابونه وركړي دی اول دا چې دَ مقابلې په توګه ئې دَ اخراج ذكركړې دې يعنی دَمؤمنانودپاره چونكه دَ اخراج لفظ استعمال كړې شوې دې نودَ كافرانودپاره ئې هم دَ اخراج لفظ استعمال كړې دې دې ته دَ بلاغت په اصطلاح كښې صفت مقابله وائي. دا اطعموا الى جبة وقميصًا دَ قبيل نه دې. دَ دويم جواب حاصل دادې چې دَ يهوداونصاری نه هغه خلق مراد دی چې دَ خپلو كتابونو دَ بشارت په رڼاكښې په رسول الله ﷺ باندې ايمان راوړې وو مګر دَحضورپاك دَ بعثت نه پس هغوی دَ ضددَ وجې نه دې نه واوَختل لكه چې دَ رڼا نه تيارو ته لاړل.

قوله: اَلْخُلَّةُ، په ضمه دَ خاء: المودة والصداقة (دوستی)

قوله: القَيُّوْمُ، قائم نه دَ مبالغه صيغه ده، مَنْ قامَ بالامر، منتظم، مدبر پخپله قائم پاتې كيدونكې بل قائمونكې، قيوم اصل كښې قَيْوُوْمٌ په وزن دَ فَيْعُوْلٌ وو، واؤ او ياء جمع شو رومبې ساكن واؤ په ياء سره بدل كړو او دَ ياء په ياء كښې ادغام اوكړو، قيوم شو.

قوله: السِّنَةُ دَ سين كسره سره، مايتقدم من الفتور والاسترخاء مع بقاء الشعور، دَ خوب نه وړاندې غفلت په كوم كښې چې شعور اواحساس باقی پاتې وي هم دې ته نعاس وئيلې شي دا نوم الانبياء يادېږي.

قوله: الكرسی، معروف دي په دې كښې ياء نسبتی نشته اصلی ده عرف دارجه كښې، مايجلس عليه ته وائي، دَدې اصل معنی دَ بعض څيز بعض سره تركيب وركول دی هم دَدې نه كراسة دې څكه چې په دې كښې هم بعض پاڼې بعضوسره ملاوولوسره ترتيب وركولې شي، وئيلی كيږي تكرّس فلان الحطب فلانكی لرګی جمع كړل.

قوله: يَؤُدُهُ، أدَ، يَؤُدُاوَدًا (ن) نه مضارع واحد مذكرغائب بوج اچول، درنول، سترې كول.

[اياتونه: ٢٥٨-٢٦٠]

{اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْ حَآجَّ} جادَلَ {إبراهيم في ربه} ل {اَنْ اٰتٰهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ} أي حَمَلَهُ بَطَره بنعمة الله على ذلك وهو النمروذ {إِذْ} بَدَل مِن حَاجّ {قَالَ إِبْرَاهِيمُ} لَمَّا قَالَ لَهُ مَن رَبّكَ الَّذِي تَدْعُونَا إلَيْهِ {رَبِّیَ الَّذِیْ يُحْيِیْ وَيُمِيْتُ} أيْ يَخْلُق الْحَيَاة وَالْمَوْت فِي الْأَجْسَاد {قَالَ} هُوَ {اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ} بِالْقَتْلِ وَالْعَفْو عَنْهُ وَدَعَا بِرَجُلَيْنِ فَقَتَلَ أحدهما وَتَرَكَ الْآخَر فَلَمَّا رَآهُ غَبِيًّا {قَالَ إِبْرَاهِيمُ} مُنْتَقِلًا إلَى حُجَّة أوْضَح مِنْهَا {فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِیْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا} أنت {مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِیْ كَفَرَ} تَحَيَّرَ وَدُهِشَ {وَاللّٰه

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ} بالكُفرِ إلي مَحَجَّة الإحتِجَاج {أَوْ} رَأيت {كَالَّذِي} الكاف زائدة {مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ} هِيَ بَيْت المَقدِس رَاكِبًا عَلَي حِمَار وَمَعَهُ سَلَّة تِين وَقَدَح عَصِير وَهُوَ عُزَير {وَهِيَ خَاوِيَةٌ} سَاقِطَة {عَلَى عُرُوشِهَا} سُقُوطهَا لَمَّا خَرَّبَهَا بُختُنَصَّرَ {قَالَ أَنَّى} كَيفَ {يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا} استِعظَامًا لِقُدرَتِهِ تَعَالي {فَأَمَاتَهُ اللَّهُ} وَالبَثَهُ {مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ} أحيَاهُ ليريه كيفية ذلك {قَالَ} تَعَالي لَهُ {كَمْ لَبِثْتَ} مَكَثت هُنَا {قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ} لِأَنَّهُ نَامَ أَوَّل النَّهَار فَقُبِضَ وَأُحيِي عِند الغُرُوب فَظَنَّ أَنَّهُ يَوم النَّوم {قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ} التِّين {وَشَرَابِكَ} العَصِير {لَمْ يَتَسَنَّهْ} لَم يَتَغَيَّر مَعَ طُول الزَّمَان وَالهَاء قِيلَ أَصل مِن سَانَهت وَقِيلَ لِلسَّكتِ مِن سَانَيت وَفِي قِرَاءَة بِحَذفِهَا {وَانظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ} كَيفَ هُوَ فَرَآهُ مَيتًا وَعِظَامه بيض تلوح فعلنا ذلك لتعلم {وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً} عَلَي البَعث {لِّلنَّاسِ وَانظُرْ إِلَى الْعِظَامِ} مِن حِمَارِك {كَيْفَ نُنشِزُهَا} نُحيِيهَا بِضَمِّ النون وقرئ بفتحها من انشر ونشر لُغَتَانِ وَفِي قِرَاءَة بِضَمِّهَا وَالزَّاي نُحَرِّكُهَا وَنَرفَعهَا {ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا} فَنَظَرَ إِلَيهِ وَقَد تَرَكَّبَت وَكُسِيَت لَحمًا وَنُفِخَ فِيهِ الرُّوح وَنَهَقَ {فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ} ذَلِكَ بِالمُشَاهَدَةِ {قَالَ أَعْلَمُ} عِلم مُشَاهَدَة {أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَفِي قِرَاءَة اعلَمْ أَمر مِنَ اللهِ لَهُ {وَ} اُذكُر {إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ قَالَ} تَعَالي لَهُ {أَوَلَمْ تُؤْمِن} بِقُدرَتِي عَلَي الإحيَاء سَأَلَهُ مَعَ عِلمه بِإِيمَانِهِ بِذَلِكَ لِيُجِيبَهُ بِمَا سَأَلَ فَيَعلَم السَّامِعُونَ غرضه {قَالَ بَلَىٰ} آمنت {وَلَٰكِن} سَأَلتُكَ {لِّيَطْمَئِنَّ} يَسكُن {قَلْبِي} بِالمُعَايَنَةِ المَضمُومَة إلَي الإستِدلَال {قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ} بِكَسرِ الصَّاد وَضَمِّهَا أَمِلْهُنَّ إلَيك وقطعهن واخلط لحمهن وريشهن {ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ} مِن جِبَال أَرضك {مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ} إلَيك {يَأْتِينَكَ سَعْيًا} سَرِيعًا {وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ} لَا يُعجِزهُ شَيء {حَكِيمٌ} في صنعه فَأَخَذَ طَاوُوسًا وَنَسرًا وَغُرَابًا وَدِيكًا وَفَعَلَ بِهِنَّ ماذكر وامسك رؤوسهن عِنده وَدَعَاهُنَّ فَتَطَايَرَت الأَجزَاء إلَي بَعضهَا حَتَّي تكاملت ثم اقبلت إلي رؤوسها

ترجمه: آيا تاسو دَهغه سړي په حال نظر نه دې کړې چې حضرت ابراهيم علیه السلام سره ئې دَهغه دَ رب باره کښې مباحثه کړې وه؟ په دې سبب سره چې الله تعالى هغه ته بادشاهي ورکړې وه، دَ الله تعالى په نعمتونو باندې کبر کولو او دې سرکشئ په (مباحثه) باندې تيار کړې وو او هغه نمرود وو، هغه وخت چې ابراهيم علیه السلام دَ هغه دَ دې قول جواب کښې چې ستا رب څوک دې؟ دکوم طرف ته چې دعوت کوې؟ وئيلي وو زما رب خو هم هغه دې چې ژوندی کول کوی او مړه کول کوی يعنی مرګ او ژوند په بدنونو کښې پيدا کوی، هغه اووئيل ژوند او مرګ خو په قتل او معافئی کښې زه (هم) ورکوم او هغه دوه سړی راؤغوښتل په هغوی کښې ئې يو قتل کړو او دويم ئې پريخودو. کله چې (حضرت ابراهيم علیه السلام) هغه بې وقوف اوګڼړلو نو دَدې نه هم زيات واضحه حجت طرف ته منتقل کيدو سره ابراهيم علیه السلام اوفرمائيل (ښه ده) الله تعالى نمرد دَ مشرق نه راخيژه وی ته ئې دَ مغرب نه راؤخيژه وه او وه ښايه. په دې باندې هغه کافر حيران پاتې

شو (یعنی) حیران او تردد کښې پاتې شو الله تعالی دکفر په ذریعه ظلم کونکو ته دَ استدلال لار نه ښائی، یا (بیا) آیا دهغه سړی (په حال) نظر دی اوکړو؟ کاف زائد دې. چې په یوکلی باندې چې هغه کلې بیت المقدس وو په خر سور تیریدلو اوهغه سره دَ انځرانو یوه ټوکرئ وه اودَ انګورو دَ شیرې یوه پیاله وه او هغه حضرت عزیر علیه السلام وو اوهغه کلې په خپلو چتونو باندې پرمخې پریوتلې وو. څکه چې دا بخت نصر بربادکړې وو. نوهغه اووئیل چې داکلی (والا) په دَهغوی دَمرګ نه پس الله تعالی څنګه راژوندی کوی؟ (حضرت عزیر علیه السلام) داخبره دَ الله تعالی قدرت عظیم ګنړلو سره (دَتعجب په توګه) اوکړه نو الله تعالی هغه ته مرګ ورکړو او سلو کالوپورې ئې پریخودو بیائی هغه راژوندې کړو دې دَپاره چې هغه ته دَ راژوندی کولو کیفیت اوښائی، الله تعالی دَهغه نه تپوس اوکړو نو (په داسې حالت کښې) څومره موده پروت وې نوهغه اووئیل چې یوه ورځ یا دَدې څه حصه پروت ووم څکه چې هغه دَ سحروخت کښې اوده شوې وو اودَهغه روح قبض کړې شو اودَ نمر دَ ډوبیدو په وخت ئې راژوندې کړو نوهغه دا ګنړل چې دا دَنمر ډوبیدل هم دَ اوده کیدو دَ ورځې دی. ارشاد اوشو (نه) بلکه ته سل کاله پورې وې اوس ته خپل انځرانو او دَ انګورو شربت ته ګوره چې هغه دَ اوږدې زمانې باوجود خراب شوې نه دې، ونیلی شوی دی چې (یَتَسَنَّه) کښې (ها) اصلی ده، سَانَهْتُهُ نه مشتق دې اوونیلی شوی دی چې دَ وقف دې دَ سَانَيْتُهُ نه ماخوذ دې او په یوقراءت کښې حذف ها سره دې، اوخپل خر ته دې هم اوګوره چې دَهغه څه حال دې هغه ئې مړ اولیدلو چې دَهغه هډوکی سپین پرقیدونکی دی مونږ دا په دې وجه سره اوکړل چې تاته دَ (مشاهده) په توګه معلومه شی اودې دَپاره چې مونږ تادَ خلقو دَپاره په بعثت فی القیامة باندې نشانی جوړه کړو او ته دَ خپل خر هډوکوته ګوره چې مونږ دا څنګه ژوندې کوو اوچته وو. (نُنْشِزُهَا) دَ نون په ضمه او نون په فتحه هم لوستلې شوې دې. دَ اَنْشَزَ او نَشَزَ نه دوه لغته دی او په یوقراءت کښې ضمه او نون او زاء سره دې یعنی دې ته حرکت ورکوو او اوچته وو. بیا په دې باندې غوښه ورخیژه وو نو (حضرت عزیر علیه السلام) دغه هډوکی اوکتل چې هغه په خپل مینځ کښې یوځائی شو او په هغې باندې غوښه وراوخیژولې شوه او په هغې کښې روح پوک وهلې شو او هغه آواز شروع کړو بیا چې کله هغه داهرڅه دَ مشاهده په توګه سره ښکاره شو نو (حضرت عزیر علیه السلام) اووئیل چې ماته (مشاهدې سره) یقینی علم حاصل شو، چې بیشکه الله تعالی په هرڅیز باندې قادر دې او په یوقراءت کښې اِعْلَمْ په صیغه دَامر دې (یعنی) دَ الله تعالی دَ طرف نه هغه ته کتلوسره دَعلم مشاهده حاصلولو حکم اوشو، اوهغه واقعه یاده کړه کوم وخت چې حضرت ابراهیم علیه السلام عرض اوکړو اې زما پروردګار ماته اوښایه چې ته مړی څنګه راژوندی کوې؟ هغه ته الله تعالی اوفرمائیل ولې ستا زما په قدرت دَ راژوندی کولو

يقين نشته؟ الله تعالى دحضرت ابراهيم عليه السلام نه سوال اوكړو سره ددې چې الله تعالى ته دحضرت ابراهيم عليه السلام د ايمان علم وو دې دپاره چې حضرت ابراهيم عليه السلام ددې سوال جواب وركړي او اوريدونكوته د حضرت ابراهيم عليه السلام د سوال مقصد معلوم شي، حضرت ابراهيم عليه السلام عرض اوكړو يقين خو مې شته مگر ماتانه سوال اوكړو چې په مشاهده سره استدلال سره زما زړه تسلي اوكړي، ارشاد اوشو څلور مرغئي واخله هغه ټكړې كړه بيا هغه خپل طرف ته اوخوزوه د صاد كسره اوضمه سره يعنى هغه خپل طرف ته مائل كړه اودهغې ټكړې كولوسره دهغوى غوښه او بنړې گډې وډې كړه بيا دخپلې علاقې په هرغرياندې دهغې نه لږ لږشان كيږده بيا هغې ته خپل طرف ته آواز وركړه ستاطرف ته به په تادئى سره راځي او پوهه شه چې الله تعالى غالب دې هغه هيڅ څيز عاجزكولې نه شي او په خپل صنعت كښې د حكمتونو والا دې. نو (حضرت ابراهيم عليه السلام) يو طاؤس يو ټپوس يوكارغه او يو چرگ واخستلو اوهغې سره ئې مذكوره معامله اوكړه اودهغې سرونه ئې خپل څان سره كيخودل، بيائې هغې ته آواز وركړو نو بعض اجزاء د بعضو طرف ته راوالوتل تردې چې مكمل مرغئى شوې او بيا هغه د خپلو سرونو طرف ته متوجه شو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: جَادَلَ، حاجّ تفسير جادَلَ سره كولوكښې اوخودل چې حاجّ په معنى د غَلَبَ فى الحجة نه دې لكه چې حديث كښې واردشوى دى فحجّ آدمُ موسىٰ آدم عليه السلام په موسىٰ عليه السلام غالب راغلو. څكه چې نمرود په حجت كښې په ابراهيم عليه السلام باندې غالب نه وو راغلې.

قوله: أَىْ حَمَلَهُ الخ، په دې كښې اشاره ده چې د نمرود د حجت كولو سبب اعطاء ملك وو، أَنْ آتٰهُ اللهُ الملك حذف لام سره مفعول لِاَجْلِه دې اى لِاَنْ آتاه الله الملك.

قوله: نُمْرُوْذُ بن كنعان، نُمْرُوذ، د نون او ذال معجمه ضمه سره (ترويح الارواح) دا ولدالزنا وو د ټولو نه اول تاج مكلل په خپل سر هم ده كيخودې وو او د مخ د زمكې مالك شو، بل ده د ربوبيت دعوىٰ اوكړه په دنياكښې څلور داسې بادشاهان تيرشوى دى كوم چې په مخ د زمكې مالكان شوى دى په هغوى كښې دوه مسلمانان سليمان عليه السلام او ذوالقرنين عليه السلام دى او دوه كافران دى نمروذ او بخت نصر.

قوله: بَطَرہ، بَطَر معنى كبركول اودحد نه زياتيدل، بې ځايه فخر كول.

قوله: إذ، بدل من حاجّ داد يو سوال جواب دې.

سوال: اذ ظرفيه فعل نه بدل واقع كيدل صحيح نه دى؟

جواب: حذف فعل مثل جَادَلَ يا خَاصَمَ نه بدل كل دې له اذظرفيه طرف نه د بدليت نسبت

دَ فعل قائمقام كيدودَ وجې نه دې.

قوله: اى يخلق الحيٰاةَ والموتَ په دې عبارت كښې دَنمروذ اعتراض فاسدكيدوطرف ته اشاره ده څکه چې يُحيي وَيُميت نه مطلب په اجسام كښې مرگ او ژوند پيداكول دى كوم چې دَ نمروذ نه ممكن نه وو.

قوله: تحَيَّرَوَدَهِشَ، اوبُهِتَ، هغه افعال نه دى كوم چې مبنى بلمفعول استعماليږى خو په معنى كښې مبنى للفاعل وى، دَ بُهِتَ تفسير تحَيَّرَ او دَهِشَ سره كولوكښې ئې دې طرف ته اشاره كړې ده.

قوله: المحجة دَميم فتحه سره، ارته لار، فراخه لار.

قوله: منتقلاًإلى حجةٍاوضح منها، دَدې اضافه مقصد دَيوسوال جواب دې.

سوال: دادې چې دَ يودليل نه بل دليل ته اوختل په دوو وجوهاتوسره كيږى اول دا چې په اول دليل كښې فساد اونقص وى حالانكه دَنبى نه داممكن نه دى. دويم دا چې كه په دليل كښې څه شك شبه وى اوهغه واضحه نه كړى نودا هم صحيح نه دى.

جواب: دا انتقال، مِنْ دَليلٍ إلى دليلٍ آخرنه نه دې بلكه دَ دليل خفى نه دليل جلى طرف ته انتقال دې.

قوله: أوْكَالَّذي،رأيتَ دَ اضافه مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال: دَ أوْكَالَّذي عطف كَالَّذِيْ حَاجَّ باندې صحيح نه دې څکه چې كوم عامل دَ معطوف عليه وى هم هغه دَ معطوف هم وى دَ معطوف عليه عامل إلى، دې دَدې مطلب دا شو چې د كالّذِى عامل دى هم الى وى حالانكه په كاف باندې دَالى دخول جائزنه دې كاف كه اسميه وى اوكه حرفيه وى.

جواب: داعطف مفردعلى المفردنه دې بلكه عطف جمله على الجمله دې اوكالذى نه وراندې أرَأيْتَ محذوف دې لكه چې مفسرعلام ښكاره كړې دې.

قوله: بُختِ نصّر، بخت معنى ابن او نصر دَ يوبت نوم دې دَبخت نصر معنى ده ابن الصنم، دَدې دَ تسميه وجه داده كوم وخت چې دې پيداشوې وو نودَده مور دې د نصر بت سره خواكې اچولې وودَ څه دَوجې نه چې دَده نوم بخت نصر يعنى ابن الصنم مشهورشو. (صاوى)

قوله: لَمْ يَتَسَنَّه، اى لم يتغيّر (تَفَعُّل) نه مضارع واحد مذكرغائب، ډيره موده تيريدونه پس خراب نه شو حمزه او كسائى د هاء هاء سكتة گرځولوسره په حالت وصل كښې حذف ضرورى گرځولې دې دَهغه په نيز اصل لفظ يَتَسَنَّ دې دَ كوم اصل چې يَتَسَنّى وو په

حالت جزم کښې الف ساقط شو يَتَسَنَّ شو ، دَدې قول مطابق دا به سَنَةٌ نه ماخوذ وی دَ کوم اصل چې سَنَوَةٌ دې. ابوعمرو وئيلی دی تَسَنّی دَ (تفعل) اصل تَسَنُّنٌ وو اودَ تَسَنُّنٌ معنی ده تغيّر هم دَدې مادې نه حَمَإٍ مَّسْنُونٍ دې. بعض نور حضراتو دَ هاء اصل کيدو قائل دی کوم چې وقف اووصل دواړو حالتونوکښې باقی پاتې کيږی په دې قول باندې هم سَنَةٌ نه ماخوذ کيږی مگر دَسَنَة اصل سَنْهَةٌ وو څکه چې دَدې تصغير سُنَيْهَة راځی.

سوال: لم يَتَسَنَّه مفرد راوړلې شوې دې حالانکه دَدې نه مراد طعام او شراب دی لهذا تثنيه راوړل پکاروو؟

جواب: طعام او شراب په منزله دَخوراك، په حکم کښې مفرد دې په دې وجه يَتَسَنَّهُ مفرد راوړلې شوې دې.

قوله: فَعَلْنَا ذَالِكَ لِتَعْلَمَ.

سوال: وَلِنَجْعَلَكَ کښې واؤ څنګه راغلې دې؟ که چرې عاطفه دې نو دَدې معطوف عليه کوم دې؟ حالانکه په ماقبل کښې څه معطوف عليه داسې نشته چې د دې په هغه دې باندې عطف صحيح وی.

جواب: بعض حضراتو واؤ ته استينافيه وئيلې دې اولام دَمحذوف متعلق دې، تقديری عبارت دادې فَعَلْنَا ذلك لِنَجْعَلَكَ اٰيَةً للنَاس، لِنَجْعَلَكَ اصل کښې لانْ نَجْعَلَكَ دې جار خپل مصدر تاويلی مجرور سره ملاويدلو سره دَ فعل محذوف متعلق دې.

دويم جواب: کومو حضراتو چې واؤ عاطفه منلې دې نوهغوی په فعل محذوف باندې عطف کړې دې لکه چې مفسر علام لِتَعْلَمَ معطوف عليه مقدر منلې دې اوهغه معطوف عليه يوبل فعل مقدرسره کوم چې ماسبق نه مفهوم دې سره متعلق دې اوهغه فَعَلْنَا دې، تقديری عبارت دادې فَعَلْنَا ذٰلِكَ لِتَعْلَمَ قدرتنا على إحياء الموتٰى.

قوله: نُنْشِزُهَا، دَ نون ضمه او راء مهمله سره إنشار (افعال) نه جمع متکلم، مونږ څنګه ژوندی کولوسره اوچته وو اودَ راء مهمله په صورت کښې دَنون فتحه سره (ن) سره هم لوستلې شوې دې. او په يوقراءت کښې دَنون ضمه او زاء معجمه سره دې ای نُحَرِّكُهَا ونرفعُها، يعنی څنګه حرکت ورکوو او اوچته وئ مجازی معنی مونږ څنګه راژوندی کوی. حضرت عزير عليه السلام ته دَ ژوند مشاهده کولونه وراندې استدلالی علم حاصل وو او دَمشاهده نه پس علم المشاهده حاصل شو لهذا دواړه خبرې صحيح دی.

قوله. فَيَعْلَمُ السَّامِعُونَ، حضرت ابراهيم عليه السلام نه دَ سوال کولو وجه دَ عدم يقين او عدم

ايمان نه وه بلكه مقصد دا وو چې سامعين ته معلومه شي چې دحضرت ابراهيم عليه السلام د سوال مقصد دَ زړه تسلي حاصلول وو نه چې نفس علم، دې دپاره چې علم الوحي سره علم المشاهده بلكه دَ نور اطمينان سبب جوړشي، لهذا داوهم ختم شو چې سره دَدې چې الله تعالى ته دحضرت ابراهيم عليه السلام دَ ايمان علم وو نو بيا اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ونيلو سره الله تعالى ولې سوال اوكړو؟

[اياتونه: ٢٦١-٢٦٦]

{مَثَل} صِفَة نَفَقَات {الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّه} أَيْ طَاعَته {كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ} فكذلك نفقاتهم تضاعف لسبعمائة ضِعف {وَاللَّهُ يُضَاعِفُ} أَكْثَر مِنْ ذَلِكَ {لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ} فَضْله {عَلِيمٌ} بِمَنْ يَسْتَحِقّ المضاعفة {الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يتبعون ما أنفقوا مَنًّا} عَلَي الْمُنْفَق عَلَيْهِ بِقَوْلِهِمْ مَثَلًا قَدْ احسنت إليه وجبرت حاله {وَلَا أَذًى} لَهُ بِذِكْرِ ذَلِكَ إلَي مَنْ لَا يُحِبّ وُقُوفه عَلَيْهِ وَنَحْوه {لَهُمْ أَجْرُهُمْ} ثَوَاب إنْفَاقهمْ {عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} فِي الْآخِرَة {قَوْلٌ مَعْرُوفٌ} كَلَام حَسَن وَرَدّ عَلَي السَّائِل جميل {ومغفرة} لَهُ فِي إلْحَاحه {خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى} بِالْمَنِّ وَتَعْيِير لَهُ بِالسُّؤَالِ {وَاللَّهُ غَنِيٌّ} عَنْ صَدَقَة الْعِبَاد {حَلِيمٌ} بِتَأْخِير الْعُقُوبَة عَنْ المان والموذي {يأيها الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ} أَيْ أجورها {بالمن والأذى} إبطالا {كَالَّذِي} أَيْ كَإِبْطَالِ نَفَقَة الَّذِي {يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ} مُرَائِيًا لَهُمْ {وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} هُوَ الْمُنَافِق {فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ} حَجَر أَمْلَس {عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ} مَطَر شَدِيد {فَتَرَكَهُ صَلْدًا} صُلْبًا أَمْلَس لَا شَيْء عَلَيْهِ {لَا يَقْدِرُونَ} اسْتِئْنَاف لِبَيَانِ مَثَل الْمُنَافِق الْمُنْفِق رِئَاء النَّاس وَجَمْع الضَّمِير بِاعْتِبَارِ مَعْنَي الَّذِي {عَلَى شَيْءٍ مِمَّا كَسَبُوا} عَمِلُوا أَيْ لَا يَجِدُونَ لَهُ ثَوَابًا فِي الْآخِرَة كَمَا لَا يُوجَد عَلَي الصَّفْوَان شَيْء مِنْ التُّرَاب الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ لِإِذْهَابِ الْمَطَر لَهُ {والله لا يهدى القوم الكافرين} {وَمَثَل} نفقات {الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ} طَلَب {مرضاة اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ} أَيْ تَحْقِيقًا لِلثَّوَابِ عليه بخلاف المنافقين الذين لا يرجون لِإِنْكَارِهِمْ لَهُ وَمِنْ ابْتِدَائِيَّة {كَمَثَلِ جَنَّةٍ} بُسْتَان {بِرَبْوَةٍ} بِضَمِّ الرَّاء وَفَتْحهَا مَكَان مُرْتَفِع مُسْتَوٍ {أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ} أعطت {أُكُلَهَا} بِضَمِّ الْكَاف وَسُكُونهَا ثَمَرهَا {ضِعْفَيْنِ} مِثْلَيْ مَا يُثْمِر غَيْرهَا {فَإِنْ لَمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ} مَطَر خَفِيف يُصِيبهَا وَيَكْفِيهَا لِارْتِفَاعِهَا الْمَعْنَي تُثْمِر وَتَزْكُو كَثُرَ الْمَطَر أَمْ قَلَّ فَكَذَلِكَ نَفَقَات مَنْ ذُكِرَ تَزْكُو عِنْد اللَّه كَثُرَتْ أَمْ قَلَّتْ {وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ {أَيَوَدُّ} أيحب {أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ} بُسْتَان {مِنْ نَخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ له فيها} ثمر {من كل الثمرات} وَقَدْ {أَصَابَهُ الْكِبَرُ} فَضَعُفَ مِنْ الْكِبَر عَنْ الْكَسْب {وَلَهُ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاءُ} أَوْلَاد صِغَار لَا يقدرون عليه {فأصابها إعصار} ريح شديدة فيها {فِيهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ} فَفَقَدَهَا أَحْوَج مَا كَانَ إلَيْهَا وَبَقِيَ هُوَ وَأَوْلَاده عَجَزَة مُتَحَيِّرِينَ لَا حِيلَة لَهُمْ وَهَذَا تَمْثِيل لِنَفَقَةِ الْمُرَائِي وَالْمَانّ فِي ذَهَابهَا وَعَدَم نَفْعهَا

أخرج ما يكون إليها في الآخرة والإستفهام بمعنى النفي وعن ابن عباس هو الرجل عمل بالطاعات ثم بعث له الشيطان فعمل بالمعاصي حتى أحرق أعماله {كذلك} كما بين ما ذكر {يبين الله لكم الآيات لعلكم تتفكرون} فتعتبرون

ترجمه کوم خلق چې خپل مال دَالله تعالی په لار کښې یعنی دَهغه په اطاعت کښې خرچ کوی دَهغوی دَمال مثال داسې دې لکه یوه دانه چې دَهغې نه اووه پلی راؤتو کیږی او په هرپلی کښې سل دانې وی دغه شان دَهغوی (دَالله په لار) کښې خرچ کړې شوې مال اووه سوه چنده زیاتیږی او الله تعالی چاته چې غواړی دَدې نه هم زیات ورکوی اودَ الله تعالی فضل دیر وسیع دې (او) هغه دَدې خبرې نه خبرهم دې چې دَزیاتوالی څوك مستحق دې؟ کوم خلق چې دَالله تعالی په لار کښې مال خرچ کوی بیادَ خرچ کولونه پس ئی چې په چاباندې خرچ کړې دې مثلاً دې وینا کولوسره احسان نه کوی چې ما ده سره احسان کړې دې او ما دَ ده (خراب) حالت ښه کړې دې اونه ده ته څه تکلیف رسوی دَ دغه احسان دَ هغه سړی په وړاندې تذکره کولوسره دَ کوم واقف کیدل چې دغه سړې نه خوښوی (علی هذا القیاس) دَهغوی اجر اوبدله دَهغوی رب سره ده یعنی دَهغوی دَ خرچ ثواب اونه به په هغوی باندې څه ویره وی اونه به هغوی غمګین کیږی. اویوه خوږه خبره (ښه خبره) او سائل ته ښه جواب ورکول اودَهغه اصرار په خاطر کښې نه راوستل دَهغه خیرات نه بهتر دې کوم پسې چې شاته احسان کولوسره او په سوال کولو باندې شرمنده کولوسره تکلیف رسولې کیږی او الله تعالی دَ بندیګانودَ صدقې نه بې نیازه دې او احسان کونکې او تکلیف رسونکې سزا مؤخر کولوسره بوج اوچتونکې دې اې ایمان والوتاسو خپل صدقات یعنی دَهغې ثواب احسان کولوسره اوتکلیف رسولوسره دَهغه سړی په شان مه ضائع کوئی. یعنی دَ هغه سړی دَ صدقې ضائع کولو په شان چې خپل مال دَ خلقو دَ خودلودَپاره خرچ کوی او په الله تعالی اودَ آخرت په ورځ ایمان نه لری حال دادې چې دغه منافق دې. دَدې مثال دَهغه مښین کاڼړی په شان دې په کوم چې خاوره پرته وی. او په هغې په زوره باران اوشی اوهغه بالکل صفا کړی او چې په هغې باندې هیڅ باقی پاتې نه شی. (داسې خلق) به هیڅ هم حاصل نه کړې شی دَ خپلې ګټې (صدقات) نه، داجمله مستانفه ده دَ ریاکارئی په توګه خرچ کونکی منافق مثال بیانولودَپاره. او (لایقدرون) جمع راوړلې شوې دې دَ الذی معنې رعایت کولوسره. یعنی په آخرت کښې به دَنیك عمل ثواب نه حاصلوی لکه څنګه چې په منین کاڼړی باندې دَ خاورې نه هیڅ باقی نه پاتې کیږی کوم چې په هغې باندې وو، دَ باران دغه خاوره بهیولودَ وجې. او الله تعالی کافرانوته دَ هدایت لار نه ښائی او دَهغه خلقو دپاره (دَالله په لار کښې) دَخرچ کولو مثال چې خپل مال صرف دَالله تعالی دَ رضادَپاره دَ زړه په پوره تسلئ (قرار) سره خرچ کوی یعنی په هغې باندې دَ ثواب حاصلولودَپاره، په

خلاف دَ منافقانو چې هغوی دَ ثواب توقع نه لري دَ هغوی دَ ثواب دَ منکر کيدو دَ وجې نه او مِنْ ابتدائيه دې دَهغه باغ دې چې په اوچت ځائی باندې وی (رُبْوَة) کښې دَ راء ضمه او فتحه سره هغه ځائی چې مرتفع اومستوی وی او په هغې باندې په زوره باران شوې وی دَ کوم په وجه سره چې هغه (باغ) دَ نورو باغونو دَ ميوې ورکولو په مقابله کښې دبل ميوه ورکړې وی. اُكُلَهَا. کښې کاف ضمه اوسکون سره. (مراد) دَهغې ميوه ده اوکه چرې په هغې باندې په زوره باران شوې هم نه وی نو معمولی ورله هم کافی دې. يعنی که په هغې باندې معمولی باران هم اوشی نودَهغې په اوچت ځائی کښې دَ کيدو دَ وجې هم هغه کافی کيږی. مطلب دا چې په هغې کښې ميوې راځی او لوئيږی که باران زيات وی اوکه کم. دغه شان دَمذکورينو صدقات دَالله تعالی په نيز زياتيږی او غټيږی که هغه صدقات ډير وی اوکه کم. او څه چې تاسو کوئی هغه دَ الله تعالی په نظرکښې دی لهذا هغه به تاسو ته دَ هغې بدله درکوی. آيا په تاسو کښې څوک دا خوښوی چې دَهغه يو باغ دَ کهجورو وی او يو دَ انګورو دَ کوم نه لاندې چې نهرونه بهيږی اودَهغه دَپاره په دغه باغ کښې نورې هم هرقسم ميوې وی او دَ هغه بوډا والې راغلې وی دَ کوم دَ وجې نه چې هغه په ګټه کولو کښې کمزورې وی. اودَ هغه کمزورې ماشومان بچی وی چې ګټه نه شی کولې. په دغه باغ باندې يوه غولئ راشی (يعنی) سخته سيلئ او په هغې کښې اور وی دَ کوم دَ وجې نه چې هغه (باغ) اوسوزی پس هغه نه په داسې وخت کښې هغه باغ لاړو چې په آخره کښې هغه دَدې ډيرزيات محتاج وو. اوهغه اودَهغه بچی عاجز او حيران پاتې شوې وی چې دَهغوی دَپاره (دَ وخت تيرولو) بل هيڅ صورت نه وی. دا دَ رياکار او احسان کونکی مثال دې دَدې په ضائع کيدو کښې اودَدې په نفع نه رسولو کښې په داسې وخت کښې چې (هغه رياکار) په آخرت کښې دَدې (ثواب) سخت محتاج وی. او استفهام دَ نفی په معنی کښې دې اودَ حضرت ابن عباس ﷺعنه نقل دی چې دادَ هغه سړی مثال دې چاچې نيك اعمال کړی وی. بيا په هغه باندې شيطان مسلط کړې شی نوهغه دګناه کارونه شروع کړل تردې چې هغه خپل اعمال غرق (ضائع) کړل. الله تعالی ستاسو دَپاره هم دغه شان څنګه چې بيان کړې شو ښکاره نشانې بيانوی دې دَپاره چې تاسو په هغې کښې غور اوفکر اوکړئی او عبرت حاصل کړئی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: مَثَلُ مضاف اَلَّذِيْنَ موصول. يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ الله جمله کيدو سره صله، اوصله موصول سره ملاؤ شوه دَمَثَلُ مضاف اليه، مضاف مضاف اليه سره ملاؤشو مبتداء (كَمَثَلِ حَبَّةٍ) حَبَّةٍ موصوف دې اَنْبَتَتْ الخ جمله کيدوسره صفت دې. موصوف صفت سره ملاؤشودَمحذوف متعلق کيدوسره دَ مبتداء خبر دې. مفسرعلام صفة اضافه کولوسره اوخودل چې مثل په معنی د مثال نه دې بلکه په معنی دَ صفت دې.

سوال: دَنفقات دَاضافه څه مقصد دې؟

جواب: اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ مشبه دې اوكاف حرف تشبيه دې اومثل حبة الخ مشبه به دې په مشبه او مشبه به كښې موافقت نه كيدودَ وجې نه تشبيه صحيح نه ده ځكه چې مشبه به (اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ) دَ قبيل د حيوانات نه دې او مشبه (حبة) د قبيل د جمادات نه دې لهذا تشبيه مناسب نه ده. دَدې دوه جوابونه كيدې شي يودا چې دَمشبه طرف كښې حذف اومنلې شى لكه چې مفسرعلام لفظ نفقات محذوف منلې دې، اوس تقديرى عبارت به داوى، مَثَل نفقة الذين ينفقون كمثل حَبَّةٍ اَنْبَتت الخ. دويم جواب دادې چې مشبه به طرف كښې حذف اومنلې شى په دې صورت كښې به تقدير عبارت داوى مثل الَّذِيْنَ ينفقون اَمْوَالَهُمْ الخ كمثل زارع حبَّةٍ.

قوله: اكثرمن ذلك په دې حذف سره ئې اشاره اوكړه چې يُضعِفُ مفعول محذوف دې.

سوال: مضاعفت خودَ ماقبل نه مفهوم كيږى دوباره ذكركولوسره تكرار معلوميږى دَدې څه فائده ده؟

جواب: اكثرمن ذلك اضافه كولوسره ئې دَدې سوال جواب وركړې دې يعنى دَماسبق نه چې كوم مفهوم كيږى دَهغې نه به هم زيات الله تعالى وركوى.

قوله: قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ، موصوف صفت سره ملاؤشو معطوف عليه او مغفرة معطوف، معطوف معطوف عليه سره ملاويدو سره مبتداء خَيْرٌمِنْ صدقة الخ خبر.

سوال: خَيْرٌنكره دې دَدې مبتداء جوړيدل څنګه صحيح دى؟

جواب: چونكه دَدې معطوف عليه معرفه دې دكوم دَ وجې نه چې دَمعطوف مبتداء جوړيدل صحيح شو.

سوال: معطوف عليه قَوْلٌ دې كوم چې نكره دې دَدې پخپله مبتداء جوړيدل صحيح نه دى؟

جواب: كلد چې نكره موصوفه بالصفت وى نودَدې مبتداء جوړيدل صحيح كيږى. قَوْلٌ موصوف معروف صفت دې لهذا دَدې مبتداء واقع كيدل صحيح شو.

قوله: اى اُجُوْرَهَا.

سوال: اُجور مضاف محذوف منلو څه فائده ده؟

جواب: نفس صدقة يعنى دَ صدقې مال باطل كيدلو څه مفهوم نشته ځكه چې احسان كولواو تكليف رسولو سره دَ صدقې مال ضائع او باطل كيږى نه بلكه دَدې اجر او ثواب ضائع كيږى. هم دا شك لرې كولودَپاره اُجُوْرَهَا اضافه كړې ده.

قوله: جمع الضمير باعتبار معنى الذى داهم دَ يو سوال مقدر جواب دي.

سوال: د يقدرون ضمير، اَلّذى ينفق طرف ته راجع دي كوم چې مفرد دي او يقدرون كښې ضمير دَ جمع دي.

جواب: اَلّذِى سره دَدې چې دَ لفظ په اعتبار سره مفردې مگر دَمعنى په اعتبار سره جمع دي، كما فى قول الشاعر:

وَان الّذِىْ حَانَتْ بفلجٍ دِمَاؤهم   هُمُ القوم كُلّ القوم

فلج، بصره كښې دَ يو مقام نوم دي هغه سرې دَ چا وينه چې په مقام فلج كښې ضائع شوه په حقيقت كښې هم هغه دَ پوره قوم قائمقام وو، مقام استشهاد، هُمُ ضمير دي چې دَ اَلّذى طرف ته راجع دي.

قوله: نفقات دلته هم دَ حذف مضاف دَ وجې مشبه اومشبه به كښې موافقت پيدا كول دى كما مرّ قريبًا.

قوله: اَعْطَتْ، دَ اَتَتْ تفسير اعطت سره كولو كښې اشاره كړې ده چې اُتت ايتاء نه دې نه چې اِتيان نه

[اياتونه: ۲٦۷-۲۷۳]

{يآيها الّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا} أي زكُّوا {مِنْ طَيِّبَاتِ} جياد {مَاكسبتم} من المال {ومِ} ن طيات {مَا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ} مِن الحُبوب وَالثِّمار {وَلَا تَيَمَّمُوا} تقصِدوا {الْخَبِيثَ} الرَّديء {مِنْهُ} أيْ من المذكور {تنفقون} ه فِي الزَّكاة حَال مِن ضَمِير تَيَمَّمُوا {وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ} أيْ الْخَبِيث لَوْ أعْطَيْتُمُوهُ فِي حُقُوقكُمْ {إلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ} بِالتَّسَاهُلِ وَغَضّ الْبَصَر فَكَيْفَ تُؤَدُّون مِنْهُ حَق الله {وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ} عَنْ نَفَقَاتكُمْ {حَمِيد} مَحْمُود عَلَي كل حال {الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ} يُخَوِّفكُمْ بِهِ إنْ تَصَدَّقْتُمْ فَتُمْسِكُوا {وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ} الْبُخل وَمَنْع الزَّكَاة {وَاللَّهُ يَعِدُكُمْ} عَلَي الْإِنْفَاق {مَغْفِرَةً مِنْهُ} لِذُنُوبِكُمْ {وَفَضْلًا} رزقا خلفا منه {والله وَاسِع} فَضْله {عَلِيم} بِالْمُنْفِقِ {يُؤْتِي الْحِكْمَة} أيْ الْعِلْم النَّافِع الْمُؤَدِّي إلَي الْعَمَل {مَنْ يَشَاء وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَة فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا} لِمَصِيرِهِ إلَي السَّعَادَة الْأَبَدِيَّة {وَمَا يَذَّكَّر} فِيهِ إدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الذَّال يتعظ {إلا أولوا الْأَلْبَاب} أَصْحَاب الْعُقُول {وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقَة} أَدَّيْتُمْ مِنْ زَكَاة أَوْ صَدَقَة {أَوْ نَذَرْتُمْ مِنْ نَذْر} فَوَفَّيْتُمْ بِهِ {فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ} فَيُجَازِيكُمْ عَلَيْهِ {وَمَا لِلظَّالِمِينَ} بِمَنْعِ الزَّكَاة وَالنَّذْر أَوْ بِوَضْعِ الْإِنْفَاق فِي غَيْر مَحَلّه مِنْ مَعَاصِي اللَّه {مِنْ أَنْصَار} مَانِعِينَ لَهُمْ مِنْ عَذَابه {إنْ تُبْدُوا} تُظْهِرُوا {الصَّدَقَات} أَيْ النَّوَافِل {فَنِعِمَّا هِيَ} أي نعم شيئا إبداؤه {وَإِنْ تُخْفُوهَا} تُسِرُّوهَا {وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاء فَهُوَ خَيْر لَكُمْ} مِنْ إبْدَائِهَا وَإِيتَائِهَا الْأَغْنِيَاء أَمَّا صَدَقَة الْفَرْض فَالْأَفْضَل إظْهَارهَا لِيُقْتَدَي بِهِ وَلِئَلَّا يُتَّهَم وَإِيتَاؤُهَا الْفُقَرَاء مُتَعَيَّن {وَيُكَفِّر} بِالْيَاءِ وَالنُّون مَجْزُومًا بِالْعَطْفِ عَلَي مَحَلّ فَهُوَ وَمَرْفُوعًا عَلَي الِاسْتِئْنَاف

عنكم من} بعض {سيآتكم والله بما تعملون خبير} عالم بباطنه كظاهره لا يخفى عليه شيء منه. ولما منع صلي الله عليه وسلم من التصدق علي المشركين ليسلموا نزل {ليس عليك هداهم} أي الناس إلي الدخول في الإسلام إنما عليك البلاغ {ولكن الله يهدي من يشاء} هدايته إلي الدخول فيه {وما تنفقوا من خير} مال {فلأنفسكم} لأن ثوابه لها {وما تنفقون إلا ابتغاء وجه الله} أي ثوابه لا غيره من أعراض الدنيا خبر بمعني النهي {وما تنفقوا من خير يوف إليكم} جزاؤه {وأنتم لا تظلمون} تنقصون منه شيئا والجملتان تأكيد للأولي {للفقراء} خبر مبتدا محذوف أي الصدقات {الذين أحصروا في سبيل الله} أي حبسوا أنفسهم علي الجهاد نزلت في أهل الصفة وهم أربعمائة من المهاجرين أرصدوا لتعلم القرآن والخروج مع السرايا {لا يستطيعون ضربا} سفرا {في الأرض} للتجارة والمعاش لشغلهم عنه بالجهاد {يحسبهم الجاهل} بحالهم {أغنياء من التعفف} أي لتعففهم عن السؤال وتركه {تعرفهم} يا مخاطب {بسيماهم} علامتهم من التواضع وأثر الجهد {لا يسألون الناس} شيئا فيلحفون {إلحافا} أي لا سؤال لهم أصلا فلا يقع منهم إلحاف وهو الإلحاح {وما تنفقوا من خير فإن الله به عليم} فمجاز عليه

ترجمه: اې ايمان والوكوم مال چې تاسو ګټلي دي دَهغې نه ښکلې څيزونه خرچ کوئی زکوة ورکوئی اودَدې نه هم ښکلې څيزونه کوم چې مونږستاسو دَپاره دَ زمکې نه پيدا کړی دی. (مثلاً) غله او ميوې اودَ مذکوره څيزونونه دَ خراب څيزاراده هم مه کوئی چې دَهغې نه په زکوة کښې خرچ کړئی. تنفقون، تهموا دَضمير نه حال دې، حالانکه تاسو پخپله هم دَدغه خراب څيز اخستونکی نه يئې که دغه څيزونه ستاسو په حقوقوکښې درکړې شی مګرکه نرمی او چشم پوشی کولوسره تاسو په خيال کښې رانه ولئ نوبياتاسو په خراب څيزسره دَ الله تعالی حق څنګه اداکوئی اوپوهه شئی چې الله تعالی ستاسو دَ خرچې نه بې نيازاو په هرحال کښې ديروصفاتومالک دې. شيطان تاسو دَ محتاجئی نه ويره وی (يعنی) که تاسو صدقه کوئی نو محتاج به شئی پس تاسو خرچ مه کوئی اوتاسو ته دَ بخل او زکوة نه ورکولو حکم کوی او الله تعالی په خرچ کونکوباندې دَخپل طرف نه ستاسو ګناه معاف کولو او دغه (خرچ کړې شوې) په عوض دَ رزق وعده کوی او الله تعالی دَ خپل فضل په معامله کښې دير ارت متې اوخرچ کونکی نه خبردې. هغه چاله چې غواړی حکمت يعنی داسې علم نافع چې عمل پورې رسونکې وی ورکوی اوچاته چې حکمت ملاؤشو هغه ته دَ لوئی خير يوڅيز ملاؤشو دَدغه ابدی سعادت دَرسيدو دَ وجې نه. اونصيحت خو هم عقل مندخلق قبلوی اوتاسو چې څه هم خرچ کوئی (يعنی) صدقه اوزکوة اداکوئی يا کوم يو نذر چې هم منئی هغه پوره کوئی. يقيناً الله تعالی هغه پيژنی او هغه به تاسو ته دَهغې بدله درکوی. او زکوة بندول او نذر پوره کول يا دَ الله تعالی په معصيت کښې بې محل خرچ کولوسره به دَظلم کونکوهيڅوک حامی نه وی. (يعنی) دَهغه دَعذاب نه هغوی څوك هم بچ کونکی نشته. که چرې تاسو نفلی

صدقات ښکاره کوئی نو ښیاهم ښه خبره ده یعنی دَدې ښکاره کول ښه خبره ده اوکه چرې تاسو دا په پټه اوساتئی او فقیرانوته ئی ورکړئی نودَهغې ښکاره کول او مالدارانوته دَ ورکولونه ستاسو په حق کښې بهتر ده. لیکن فرض صدقه چې دَهغې ښکاره کول غوره دی دې دَپاره چې خلق دَ هغې اقتداء اوکړی دې دَپاره چې دا سړې په محل تهمت کښې پاتې نه شی اودَده فقیرانوته ورکول متعین دی اوالله تعالی به ستاسو څه ګناهونه هم لرې کړی. بُکَفِّرُ دَ یاء او نون سره مجزوم اولوستلې شی نو فَهُوَ په محل باندې به عطف شی اوکه مرفوع اولوستلې شی نومستانفه کیدودَ وجې نه به مرفوع شی. اوتاسوچې څه هم کوئی الله تعالی دَهغې نه خبر دې، یعنی دَهغې دَباطن نه داسې خبرې دې لکه څنګه چې دَ ظاهرنه. دَهغه نه دَهغه هیڅ څیز پټ نه دې. اوکله چې رسول الله ﷺ په مشرکانو باندې صدقه کول منع کړل دې دَپاره چې هغوی اسلام قبول کړی نوبیادا آیت نازل شو ﴿ لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ ﴾ دَهغوی هدایت یعنی په اسلام کښې داخلول ستا په ذمه نه دې، ستا ذمه واری خو صرف رسول دی بلکه الله تعالی چې په اسلام کښې دَ چا داخلیدلو هدایت ورکول غواړی هدایت ورکوی اوتاسو چې دَمال نه څه هم خرچ کوئی هم خپل ځان دَپاره کوئی ځکه چې دَدې اجر هم ستاسو دَپاره دې او تاسو هم دَالله تعالی دَ رضاحاصلولو دَپاره خرچ کوئی یعنی دَهغه دَ ثواب دَپاره نه چې په دنیاکښې دَڅه غرض دَ پاره، خبر په معنی دَ نهی دې او دَمال نه چې تاسو څه هم خرچ کوئی تاسو ته به دَهغې پوره پوره بدله درکولې شی په تاسو به لږشان هم زیاتې نه شی کولې چې دَهغه په اجرکښې څه کمی اوکړې شی. دا دواړه جملې دَ رومبې جملې تاکیددې. دَصدقات (اصل) مستحق هغه فقیران دی (لِلْفُقَرَاءِ) مبتداء دَ محذوف خبر دې څوک چې دَالله تعالی په لارکښې راګیرشو یعنی چاچې خپل ځان په جهاد کښې راګیرکړې دې (او راتلونکې آیت) دَ اصحاب صفه ﷺ باره کښې نازل شو او هغه دَ مهاجرینونه څلور سوه وو چې دَ قرآن تعلیم اودَ لښکر سره وتلوکښې تیار اوسیدل هغوی په جهادکښې دَمشغول کیدو دَ وجې نه(طلب) معاش او تجارت دَپاره سفرنه شوکولې، دَهغوی دَ حال نه ناخبره خلقو به هغوی غنیان ګڼړل. دَسوال نه دَهغوی احتیاط کول اودَ ترک سوال کولودَ وجې نه به هغوی لرد مخاطب دَهغوی دَ تواضع اودَ مشقت دَ اثر دَ علامت نه پیژنی، هغوی خلقوپورې اینختلوسره دَ څه څیز سوال نه کوی یعنی هغوی بالکل سوال نه کوی، لهذا په اینختلوسره سوال کول هم دَهغوی دَ طرف نه نه کیږی اودَالحاف معنی اصرار ده اوتاسوچې دَمال نه څه هم خرچ کوئی الله تعالی هغه ښه پیژنی نوهغه به تاسو ته دَهغې بدله درکوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: الجیاد، دَطَيِّبٰت تفسیر الجیادسره کولوکښې اشاره اوکړه چې دَ طَيِّبٰت معنی حلال

نه ده کومه چې اکثر استعمالیږی بلکه دلته ښکلې معنی ده کوم چې د ردی په مقنی کښې استعمالیږی.

قوله: تغمضوا، مضارع جمع مذکر حاضر، سترګې پټول، دلته مجازی معنی، معافی کول چشم پوشی کول مراد دی.

قوله: البخل، دَ فحشاء تفسیر په بخل سره کولو کښې اشاره اوکړه چې دلته فحشاء په مشهوره معنی چې زنا ده مراد نه دې.

قوله: مجزومًا بالعطف علی محلِّ فَهُوَ ومرفوعًا علی الاستیناف. دَدې عبارت مقصد دَ يُكَفِّرُ اعراب خودل دی، که دا مجزوم به اولوستلې شی نو مجزوم دَ فَهُوَ محل باندې عطف کیدو دَ وجې نه وی ځکه چې فَهُوَ، جواب شرط کیدو دَ وجې نه مجزوم دې او که چرې مرفوع اولوستلې شی نو مرفوع جمله مستانفه کیدو دَ وجې نه به وی شرط سره به دَدې هیڅ تعلق نه وی.

قوله: ای الناس، دې کښې اشاره ده چې هُدٰهم ضمیر الناس طرف ته راجع دې سره دَدې چې هغه په ماقبل کښې صراحةً مذکورنه وی مګرد مضمون کلام نه مفهوم دې دَ فقراء طرف ته راجع نه دې لکه چې په ظاهره معلومیږی ځکه چې په دې صورت کښې معنی صحیح نه پاتې کیږی.

قوله: الی الدخول فی الاسلام، دَدې اضافه نه دَ یوسوال جواب ورکول مقصود دی.

سوال: دَ رسول الله ﷺ نه دَ هدایت دَ نفی څه مقصد دې سره دَدې چې دَ رسول الله ﷺ بعثت هم دَهدایت دَپاره دې.

جواب: دَ نفی هدایت نه مراد ایصال الی المطلوب نفی ده نه چې دَ اراءة الطریق.

قوله: خبر بمعنی النهی دا دَ یوسوال جواب دې.

سوال: وَمَا تُنفِقُونَ إِلاَّ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّهِ کښې خبرورکړې شوې دې چې تاسو هم دَ الله تعالی دَرضا دَپاره خرچ کوئی حالانکه ډیرخلق دَ ریاء او ځان خودلو دَپاره هم خرچ کوی. په دې کښې کذب باری لازم راځی.

جواب: دا دې چې خبر په معنی دَ نهی دې چې تاسو دَغیررضا دَپاره مه خرچ کوئی.

قوله: لتعففهم دې کښې اشاره ده چې مِنَ التعفف، کښې مِنْ تعلیلیه دې نه چې تبعیضیه. لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا، هغوی په اصرار سره سوال نه کوی، په دې کښې دَ فن بیان یوصنعت دې کوم ته چې نفی الشئ بإیجابه وائی په دې کښې په ظاهره دَ یوشئ نفی او بل

شئ اثبات وی مګر په حقیقت کښې دَدواړو نفی مقصود وی. په مذکوره آیت کښې په ظاهره د الحاف (اصرار) نفی ده، دَ نفس سوال نفی نه ده مګر مقصود کلام دَ مطلقًا نفی ده یعنی په ظاهره دَ قید نفی ده مګر په باطن کښې دَقید اومقید دواړو نفی ده.

[ايالتونه: ٢٧٤ - ٢٨١]

{الذين ينفقون أموالهم بالليل والنهار سرا وعلانية فلهم أجرهم عند ربهم ولا خوف عليهم ولا هم يحزنون} {الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا} أيْ يَأخُذُونَهُ وَهُوَ الزِّيَادَة فِي المُعَامَلَة بِالنُّقُودِ وَالمَطْعُومَات فِي القَدْر أوْ الأَجَل {لَا يَقُومُونَ} مِنْ قُبُورهمْ {إِلَّا} قِيَامًا {كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ} يَصْرَعهُ {الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ} الجُنُون مُتَعَلِّق بِيَقُومُونَ {ذَلِكَ} الَّذِي نَزَلَ بِهِمْ {بِأَنَّهُمْ} بِسَبَبِ أنَّهُمْ {قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا} فِي الجَوَاز وَهَذَا مِنْ عَكْس التَّشْبِيه مُبَالَغَة فَقَالَ تَعَالَى رَدًّا عَلَيْهِمْ {وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ} بَلَغَهُ {مَوْعِظَةٌ} وَعْظ {مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى} عَنْ أكْله {فَلَهُ مَا سَلَفَ} قَبْل النَّهْي أيْ لَا يُسْتَرَدّ مِنْهُ {وَأَمْرُهُ} فِي العَفْو عَنْهُ {إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ} إلَى أكْله مُشَبِّهًا لَهُ بِالبَيْعِ فِي الحِلّ {فأولئك أصحاب النار هم فيها خالدون} {يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا} يُنْقِصهُ وَيُذْهِب بَرَكَته {وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ} يَزِيدهَا وَيُنَمِّيهَا وَيُضَاعِف ثَوَابهَا {وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ} بِتَحْلِيلِ الرِّبَا {أَثِيمٍ} فَاجِر بِأكْله أي يعاقبه {إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات وأقاموا الصلاة وآتوا الزكاة لهم أجرهم عند ربهم ولا خوف عليهم ولا هم يحزنون} {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا} اُتْرُكُوا {مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} صَادِقِينَ فِي إيمَانكُمْ فَإِنَّ مِنْ شَأْن المُؤْمِن امْتِثَال أمْر اللَّه تَعَالَى نَزَلَتْ لَمَّا طَالَبَ بَعْض الصَّحَابَة بَعْد النَّهْي بِرِبًا كَانَ لَهُمْ مِنْ قَبْل {فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا} مَا أُمِرْتُمْ بِهِ {فَأْذَنُوا} اعْلَمُوا {بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ} لَكُمْ فِيهِ تهديد شديد لهم لما نَزَلَتْ قَالُوا لَا بُدّ لَنَا بِحَرْبِهِ {وَإِنْ تُبْتُمْ} رجعتم عنه {فَلَكُمْ رُءُوسُ} أُصُول {أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ} بِزِيَادَةٍ {وَلَا تُظْلَمُونَ} بنقص {وَإِنْ كَانَ} وَقَعَ غَرِيم {ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ} لَهُ أيْ عَلَيْكُمْ تَأْخِيره {إِلَى مَيْسَرَةٍ} بِفَتْحِ السِّين وَضَمّهَا أيْ وَقْت يُسْر {وَأَنْ تَصَدَّقُوا} بِالتَّشْدِيدِ عَلَى إدْغَام التَّاء فِي الأَصْل فِي الصَّاد وَبِالتَّخْفِيفِ عَلَى حَذْفهَا أيْ تَتَصَدَّقُوا عَلَى المُعْسِر بِالإِبْرَاءِ {خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ} أنَّهُ خَيْر فَافْعَلُوهُ وَفِي الحَدِيث مَنْ أنْظَرَ مُعْسِرًا أوْ وَضَعَ عَنْهُ أظَلَّهُ اللَّه فِي ظِلّه يَوْم لَا ظِلّ إلَّا ظِلّه رَوَاهُ مسلم {وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ} بِالبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ تُرَدُّونَ وَلِلْفَاعِلِ تَسِيرُونَ {فِيهِ إِلَى اللَّهِ} هُوَ يَوْم القِيَامَة {ثُمَّ تُوَفَّى} فِيهِ {كُلُّ نَفْسٍ} جَزَاء {مَا كَسَبَتْ} عَمِلَتْ مِنْ خَيْر وَشَرّ {وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ} بنقص حسنة أو زيادة سيئة

ترجمه: كوم خلق چې خپل مال دَ شپې ورځې پټ او ښكاره خرچ كوى نو دَ داسې خلقو دَپاره دَهغوى پروردګار سره اجر دې نه دَهغوى دَپاره څه ويره ده او نه به څه خفګان وى او كوم خلق چې سود خورى يعنى سود اخلى او هغوى په معاملاتو كښې دَ نقدو زياتوالى او دَ ماكولات په مقدار او موده كښې زياتې كوى هغه خلق به دَ قبرونو نه نه شى اودريدې مګر دَهغه سړى په شان كوم چې

شیطان راغوندکړی او خبطی ئی جوړکړی. (یعنی) څوك چې شیطان راسملوی دَهغه دَ لیونتوب کیدو دَوجې نه (مِنَ الْمَسِّ) دَ یقومون متعلق دې دَهغوی داحالت به په دې وجه وی چې هغوی وئیلی وو چې بیع خو په جواز کښې هم دَ سود په شان ده اوداد مبالغه دَ پاره اولټه تشبیه ده، دَدې جواب ورکولوسره الله تعالی اوفرمائیل الله تعالی بیع حلال او سودحرام کړې دې بیا چاله چې دَهغه دَ پروردګار نصیحت راورسیدو اوهغه دَ سود خوړلونه منع شو نودممانعت نه وړاندې چې څه شوی دی هغه دَهغه دی (یعنی) دَهغه نه به واپس نه شی اخستې اودَهغه دَمعاف کولومعامله هم الله تعالی سره ده اوکوم سړې چې دَ سود خوړلوطرف ته راؤګرځی سود په حلالوالی کښې دَ بیع په شان اوګڼړی هم دغه خلق دوزخیان دی. او په هغې کښې به داخلق همیشه دَپاره پراته وی، اوالله تعالی سود ختمه وی یعنی داکمه وی اودَدې برکت ختمه وی اوصدقات کښې اضافه کوی (یعنی) هغې ته وده ورکوی اودَ دې اجر دوه چنده کوی او الله تعالی سود حلال ګرځونکې اوکفرکونکې او سودخوری کونکې ګناهګار (فاجر) نه خوښه وی. بیشکه کوموخلقو چې ایمان راوړې اونیک عمل کوی اود مانځه پابندی کوی او زکوٰة ورکوی دَهغوی اجردَهغوی پروردګارسره دی نه به په هغوی باندې څه ویره وی اونه څه غم. اې دَایمان والو دَالله تعالی نه اوویریږئی او څه چې دَ سود نه باقی دی هغه پریږدئی که چرې تاسو مؤمنان یئې (یعنی) که تاسو په خپل ایمان کښې رښتونی یئې ځکه چې دَ مؤمن شان دَالله تعالی حکم په ځائی راوړل دی (وړاندې) آیت هغه وخت نازل شو کوم وخت چې بعض صحابه کرامو رضی اللہ عنہم دَ سوددَممانعت نه پس دَ سابقه سود مطالبه اوکړه، که چرې تاسو داسې اونه کړل نو خبرشئی دَ الله تعالی اودَهغه دَرسول ﷺ دَ طرف نه تاسو ته دَ جنګ اعلان دې. په دې کښې دَهغوی دَپاره سخته درٌه که ده او کله چې دا آیت نازل شو نو (صحابه کرامو) اووئیل په مونږ کښې هغوی سره دَ جنګ طاقت نشته، اوکه چرې تاسو توبه اوکړئی یعنی دې نه منع شئی نو (رأس المال) دَ اصل سرمایه تاسو ته حق دې مه تاسو زیاتې کولوسره ظلم کوئی اومه کمې کولوسره دې په تاسو ظلم اوکړې شی، اوکه چرې قرضدارې تنګ دست وی نو دَهغه دَ وسعت پورې دَهغه دَپاره مهلت دې (یعنی وصول کول مؤخرکول دی) (مَيْسَرَةٌ) دَ سین فتحه او ضمه سره، یعنی دَهغه دَخوشحالئ پورې اوکه چرې تاسوئی معاف کړئی (تَصَدَّقُوْا) تشدیدسره تاء په صاد کښې ادغام کول او تخفیف سره تاء حذف کول یعنی تنګ دست ته قرض معاف کړئی او بری ئې کړئی. نوستاسودَ پاره بهترده که چرې تاسو پوهیږئی چې بهترده نو داسې اوکړئی، په حدیث شریف کښې دی چاچې تنګ دست ته مهلت ورکړو یا ئی هغه ته خپل قرض معاف کړو نوالله تعالی به هغه په خپل سوری کښې ساتی په کومه ورځ چې به دَهغه دَ سوری نه علاوه بل سورې نه وی (رواه مسلم) اودَ هغه ورځې نه اوویریږئی په کومه ورځ چې تاسو دَالله تعالی طرف ته واپس

گرځولې شئ دَ مجهول صيغې سره، معنی واپس کولې به شئ اودَ معروف صيغې سره، يعنی تاسو به واپس کيږئ هغه دَ قيامت ورځ ده، يا په هغه ورځ به هرسړي ته دَهغه دَ عمل کوم چې هغه کړې وی ښه يا بد پوره پوره بدله ورکولې شی. اودَهغوی په نيکواعمالو کښې کمې کولو سره يا په ګناه کښې زياتوالې کولو سره په هغوی ظلم نه شی کولې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ای بِاَخْذُوْنَهٗ په دې اضافه کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې اکل (خوراك) نه مراد صرف هم خوراك نه دې بلکه مطلقًا اخستل دی که خوری اوکه لباس جوړه وی يا جمع کولو سره ئی ايږدی يا چرته په بل کارکښې استعمال کړی مګر خوړل چونکه دَ اهمو مصارفو نه دی په دې وجه ئی صرف دَ خوراك ذکرکړې دې.

قوله: المطعومات، دا قيد مفسرعلام دَ امام شافعي رحمه الله دَ مذهب مطابق لګولې دې ځکه چې دَ ربوا دَ پاره دَهغوی په نيزدَ قبيل مطعومات يا ثمنيات کيدل ضروری دی. دَامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په قدر اوجنس کښې اتحادکافی دې دَ قبيل مطعوم نه کيدل ضروری نه دی.

قوله. فی القدر اوالاجل دا المعامله نه بدل دې دَ قدر تعلق ربوا فضل سره دې اودا اتحادبه دَ جنس په صورت کښې وی اودَ الاجل تعلق اتحادسره دې، که چرې جنس مختلف وی او قدرکښې اتحادوی نو تفاضل جائزدې او قرض به ناجائزوی.

قوله: من قبورهم مفسرعلام مِن قبورهم قيدلګولوسره دَدې شبه جواب وزکړو چې په دنياکښې مونږ ګورو چې څومره سود خواره دی مګر دَهغوی په قيام اوقعودکښې دَ څه قسم خبط اوعدم توازن نه وی داخودَ واقعه نه خلاف معلوميږی حالانکه په کلام باری تعالی کښې کذب نه شی کيدې.

جواب: دَ قيام نه مراد په روزمحشر دَخپل قبرنه اودريدل دی نه چې په دنياکښې اودريدل دی، هم دَدې شبه دَ جواب دَپاره دَمِن قبورهم دَ قيد اضافه کړې ده.

قوله: قِيَامًا.

سوال: دَ لفظ قيامًا دَ اضافه څه فائده ده؟

جواب: دا دَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دادې چې اِلَّاكَمَا يَقُوْمُ کښې حرف استثناء حرف (کاف) باندې داخل دې حالانکه دَحرف استثناء په حرف باندې داخليدل صحيح نه دی. ما که موصوله وی اوکه مصدريه.

جواب: مستثنٰی محذوف ده او هغه قيامًا ده لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

قوله يَتَخَبَّطُهُ (تفعّل) نه مضارع واحد مذكر غائب ه ضمير مفعول دا پاكل جوړ وى دَ خبط اصل معنى په غير متوازن طريقه باندې تګ، كخبط العشواء بې طريقې تلونكې اوښه دا هغه وخت ونيلې شى كله چې څوك په غير متوازن طريقه سره روان شى.

قوله من الجنون دا اَلْمَسّ تفسير دې.

قوله من عكس التشبيه الخ عكس څكه دې چې كلام په ربوا كښې دې نه چې بيع كښې لهذا ربوا يعنى سود ته د بيع سره تشبيه وركول پكار وو نه چې بيع له د ربوا سره، داسې دَ مبالغه په توګه كړى دى څكه چې جواز ربوا دَهغوى په نيز اصل وو هم په دې باندې ئى بيع قياس كړه.

قوله وعظ، دَ موعظة تفسير وعظ سره كولو كښې اشاره اوكړه چې موعظة مصدر ميمى دې نه چې ظرف.

قوله: عنه، اى عن: كل الربوا.

قوله: الى اكله مشبهًا له بِالْبَيْعِ فِى الْحِلِّ په دې عبارت سره دَ يو سوال جواب مقصود دې.

سوال: دادې چې دَ آيت نه دا مفهوم كيږى چې كه چرې څوك سرې دَ ممانعت نه پس د اكل ربوا اعاده او ارتكاب اوكړى نو هغه به په دائمى توګه باندې دوزخ ته ځى كومه چې دَ معتزله نظريه ده.

جواب: خلاصه داده چې دائمى په دوزخ كښې داخله به په هغه صورت كښې وى چې ربوا دَ بيع په شان حلال ګنړى او استعمالوى.

قوله: يُعَاقِبُهُ، دادَ لَايُحِبُّ تفسير دې.

قوله بِحَرْبٍ، دَحرب تنكير تعظيم او شدت باندې دلالت كوى بل دَ الله تعالى اودَهغه دَ رسول ﷺ طرف ته نسبت سره د دې په شدت يعنى سختوالى كښې نوره اضافه شوې ده.

قوله لايَدَىَ لَنَا، اى لاطاقة لنا.

قوله وَقَعَ غَرِيمٌ سره دې خبرې ته اشاره ده چې كان تامه دې دَدې دَخبر ضرورت نشته، يعنى كانَ په معنى د وَقَعَ دې.

قوله اى عَلَيْكُمْ تاخيره، فَنَظِرَةٌ مبتداء ده دَدې خبر عَلَيْكُمْ تَاخِيْرَهُ محذوف دې، دَخبر دَحذف ضرورت په دې وجه پيښ شو چې فَنَظِرَة جمله كيدو سره جواب شرط واقع شى، تاخيره اضافه كولو سره اشاره اوكړه چې نَظِرَة، انظار نه دې چې په معنى دَ مهلت دې نه چې دَ نظر نه په معنى دَ رؤيت.

قوله. وقت يسره دې سره اشاره اوكړه چې مَيْسرة، ظرف دې مصدر ميمى نه دې.

[ایاتونه: ۲۸۲ - ۲۸۳]

{يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ} تعاملتم {بِدَيْنٍ} كسلم وقرض {اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى} معلوم {فَاكْتُبُوْهُ} استيثاقا ودفعا للنزاع {وَلْيَكْتُبْ} كتاب الدين {بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ} بالحق في كتابته لا يزيد في المال والأجل ولا ينقص {وَلَا يَاْبَ} يمتنع {كَاتِبٌ} من {اَنْ يَّكْتُبَ} اذا دعي إليها {كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ} أي فضله بالكتابة فلا يبخل بها والكاف متعلقة بياب {فَلْيَكْتُبْ} تأكيد {وَلْيُمْلِلِ} يمل الكاتب {الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ} الدين لأنه المشهود عليه فيقر ليعلم ما عليه {وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ} في إملائه {وَلَا يَبْخَسْ} ينقص {مِنْهُ} أي الحق {شَيْـًٔا فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا} مبذرا {اَوْ ضَعِيْفًا} عن الإملاء لصغر أو كبر {اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ} لخرس أو جهل باللغة أو نحو ذلك {فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ} متولي أمره من والد ووصي وقيم ومترجم {بِالْعَدْلِ وَاسْتَشْهِدُوْا} أشهدوا على الدين {شَهِيْدَيْنِ} شاهدين {مِنْ رِّجَالِكُمْ} أي بالغي المسلمين الأحرار {فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا} أي الشهيدان {رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ} يشهدون {مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ} لدينه وعدالته وتعدد النساء لأجل {اَنْ تَضِلَّ} تنسى {اِحْدٰىهُمَا} الشهادة لنقص عقلهن وضبطهن {فَتُذَكِّرَ} بالتخفيف والتشديد {اِحْدٰىهُمَا} الذاكرة {الْاُخْرٰى} الناسية وجملة الإذكار محل العلة أي لتذكر إن ضلت ودخلت على الضلال لأنه سببه وفي قراءة بكسر أن شرطية ورفع تذكر استئناف جوابه {وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا} زائدة {دُعُوْا} إلى تحمل الشهادة وأدائها {وَلَا تَسْـَٔمُوْٓا} تملوا من {اَنْ تَكْتُبُوْهُ} أي ما شهدتم عليه من الحق لكثرة وقوع ذلك {صَغِيْرًا} كان {اَوْ كَبِيْرًا} قليلا أو كثيرا {اِلٰٓى اَجَلِهٖ} وقت حلوله حال من الهاء في تكتبوه {ذٰلِكُمْ} أي الكتب {اَقْسَطُ} أعدل {عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ} أي أعون على إقامتها لأنه يذكرها {وَاَدْنٰٓى} أقرب إلى {أ} ن {لَّا تَرْتَابُوْٓا} تشكوا في قدر الحق والأجل {اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ} تقع {تِجَارَةً حَاضِرَةً} وفي قراءة بالنصب فتكون ناقصة واسمها ضمير التجارة {تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ} أي تقبضونها ولا أجل فيها {فليس عليكم جناح} في {أ} ن {لا تكتبوها} المراد بها المتجر فيه {وَاَشْهِدُوْٓا اِذَا تَبَايَعْتُمْ} عليه فإنه أدفع للاختلاف وهذا وما قبله أمر ندب {وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ} صاحب الحق ومن عليه بتحريف أو امتناع من الشهادة أو الكتابة ولا يضرهما صاحب الحق بتكليفهما ما لا يليق في الكتابة والشهادة {وَاِنْ تَفْعَلُوْا} ما نهيتم عنه {فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ} خروج عن الطاعة لا حق {بِكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ} في أمره ونهيه {وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ} مصالح أموركم حال مقدرة أو مستأنف {والله بكل شيء عليم} {وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ} أي مسافرين وتداينتم {ولم تجدوا كاتبا فرهن} وفي قراءة فرهان جمع رهن {مقبوضة} تستوثقون بها وبينت السنة جواز الرهن في الحضر ووجود الكاتب فالتقييد بما ذكر لأن التوثيق فيه أشد وأفاد قوله مقبوضة اشتراط القبض في الرهن والاكتفاء به من المرتهن ووكيله {فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا} أي الدائن المدين على حقه فلم يرتهن {فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ} أي المدين {اَمَانَتَهٗ} دينه {وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ} في أدائه {وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ} إذا دعيتم لإقامتها {وَمَنْ

﴿فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ﴾ خُصَّ بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُ مَحَلُّ الشَّهَادَةِ وَلِأَنَّهُ إِذَا أَثِمَ تَبِعَهُ غَيْرُه فَيُعَاقَبُ عَلَيْهِ مُعَاقَبَةَ الْآثِمِينَ ﴿وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ﴾ لَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْءٌ مِنْهُ

ترجمه: اې دَايمان والو کوم وخت چې تاسو دَ پور مثلاً بيع سلم او قرض معامله دَ يوې مودې معلومې پورې کوئی نوهغه دَ دستاويز په توګه دَ جګړې ختمولودَپاره ليکئ او ستاسو په مينځ کښې دَقرض (تحرير) ليکونکی ته پکار دی چې په حق (اوانصاف) سره اوليکی په مال اومودہ کښې دې نه زياتې کوی اونه کمې. اوليکونکی له دَ ليکلونه انکارنه دی کول پکار کوم وخت چې هغه ته دَ ليکلودَپاره اووئيلې شی، لکه څنګه چې الله تعالی هغه ته ليکل خودلی دی. يعنی دَ کتابت په ذريعه هغه ته فضيلت ورکړې شوې دې لهٰذا په ليکلو کښې بخيلی مه کوئی. اوکاف، دَ يَأبَ سره متعلق دې پکاردی چې هغه دې اوليکی. داتاکيددې او په چا باندې چې حق دې (يعنی) قرض داری له پکاردی چې په کاتب باندې اوليکی. څکه چې هغه مشهودعليه دې نواقراردې اوکړی دې دَپاره چې معلومه شی چې په هغه باندې څه واجب دی؟ اوکاتب له دَ ليکلو په وخت دَخپل رب الله تعالی نه ويريدل پکاردی اودَحق نه دې هيڅ هم نه کمه وی. فرض کړه که مديون کم عقل فضول خرچ وی يا دَ وړوکوالی يا دَ بوډاوالی دَ وجې نه (بدنی توګه) باندې ضعيف وی، يا ګونګا وی يا په ژبه نه پوهيږی يادَ څه بل څه وجې نه په ليکلوباندې قادرنه وی نودَهغه کارنده له پکار دی چې تيک تيک دې اوليکی (کارنده) که پلار وی که وصی وی يا منيجروی يامترجم وی او په قرض باندې دَ بالغ مسلمان آزاد سړو نه دوه سړی ګواه جوړول پکاردی. اوکه چرې دوه سړی ګواهان نه وی نويوسړې او دوه ښځې دې ګواه شی داسې ګواه کوم چې دَهغوی دَ دين او عدالت دَ وجې نه تاسو خوښه وئی اودَ ښځو په دوو کيدوکښې مصلحت دادې که چرې په هغوی کښې يوه شهادت هير کړی دَهغې دَعقل اوياداشت دَ ناقص کيدودَ وجې نه نو په هغوی کښې يوه يعنی ياد ساتونکې دويمې يعنی هيرونکې ته يادګيرنه ورکړی (فَتُذَكِّرَ) تخفيف اوتشديدسره دې، حقيقت کښې اذکار دَ لام علت دَ داخليدو محل دې. ای لِتُذَكِّرَ اِنْ ضَلَّتْ که چرې هيرکړی نو وريادئی کړئ، اولام دَعلت په ضلال باندې څکه داخل شوې دې چې هم هغه سبب دَ تذکيردې او په يوقراءت کښې، د اِنْ شرطيه کسره او تذکرپه رفع سره جمله مستانفه او جواب شرط دې اوکله چې دَګواه جوړولو يا ګواهی ورکولو دَپاره ګواهان راوغوښتلې شی، مَا زائده دې نوانکارنه دی کول پکار که معامله غټه وی اوکه وړه، دَ اداکولو ميعاد تعيين سره ليکلو کښې سستی نه دی کول پکار، يعنی په چاباندې چې تاسو دَ حق ګواهی ورکړې ده دَهغې دَ کثرت سره واقع کيدو دَ وجې نه ستومانه کيدل نه دی پکار. (الی اجله) دَ تکتبوا دَ ضميرنه حال دې. دا ليکل دَالله تعالی په نيز عدل سره زيات نيزدې دی او دَ

شهادت په قائم کولو باندې ډیر معاون دی ځکه چې دا دتحریری شهادت یادګیرنه ورکوی او ډیر نیزدې دی چې تاسو دحق په مقدار اوموده باره کښې په شک کښې پرینو ځئ. (او) کله لین دین لاس په لاس (نقد) وی دکوم چې تاسو لین دین کوئ (یعنی مبیع اوثمن باندې) لاس په لاس قبضه کوئ اودهغې څه موده نه وی (یعنی قرض نه وی) او (تجارةٌ حاضرةٌ) په یوقراءت کښې نصب سره دې په دې صورت کښې به تکون ناقصه وی اود دې اسم تجارة (طرف نه راګرځیدونکې) به ضمیر وی نو ستاسو دپاره په دې صورت کښې هیڅ مضائقه نشته چې اونه لیکئ اود تجارت نه مراد سامان تجارت دې. (بیاهم تاسو په دې باندې) ګواه کوئ، کوم وخت چې تاسو اخستل اوخرڅول کوئ ځکه چې دا خبره اختلاف ډیر ختمونکې دې، (اود شهادت دا حکم اوپه ماقبل کښې د کتابت حکم) استحبابی دې. اوکاتب اوګواه ته نقصان مه رسوئ یعنی صاحب حق او په چاچې حق دې هغه دې نقصان نه رسوی. (تحریر کښې تحریف کولوسره یا ګواه او کاتب دګواهئ اوکتابت نه منع کوی او نه دې د صاحب حق کاتب او ګواه ته تکلیف رسوی چې هغه دداسې خبرې دپاره مجبوره کړی چې د شهادت اوکتابت لائق نه وی اوکه چرې تاسو د ممنوعه حکم ارتکاب کوئ نودا ستاسو په حق کښې یوه ګناه ده چې تاسو پورې به اینخلی. یعنی د طاعت نه خروج دې، د دې امر او نهی په معامله کښې دالله تعالی نه ویریږئ او الله تعالی تاسو ته ستاسو د معاملاتو مصلحیتونه ښائی او (ویعلمکم، د اتقوا د ضمیرنه) حال مقدره دې. یاکلام مستانفه دې اوالله تعالی هریوڅیز ښه پیژندونکې دې او که چرې تاسو دسفرپه حالت یئ یعنی مسافرونی اود قرض ورکولویا اخستلو معامله پیښه شوه او څوک لیکونکې موجودنه وی نو ګانړه ساتونکی څیزونه په قبضه کښې ورکړئ دکوم په ذریعه چې تاسو معامله مضبوطه کړئ او په یوقراءت کښې رُهُنٌ دې او په حدیث کښې حالت حضر اوکاتب موجودکیدو په صورت کښې هم رهن یعنی ګانړه بیان کړې شوې دې. ځکه چې مذکوره دواړه قیدونه ځکه چې دی چې حالت سفرکښې دمضبوطولو ضرورت زیات سخت وی او مقبوضة لفظ نه داخبره مستفاد کیږی چې په ګانړه کښې قبضه شرط دې اودا چې پخپله مرتهن یا د هغه وکیل قبضه اوکړی نوکافی دی اوکه چرې خپل مینځ کښې یوبل باندې دائن او مدیون ته دخپل حق باره کښې اعتبار وی نو رهن دې نه ساتی. نو په چاباندې چې اعتبار کړې شوې دې (یعنی مدیون) نوهغه له پکاردی چې د هغه قرض اداکړی اودالله تعالی نه چې دهغه رب دې د قرض د اداکولو باره کښې ویریږی اوکله چې تاسو د ګواهئ د ادا کولو دپاره راوغوښتلې شی نو تاسو ګواهی مه پټه وئی اوڅوک چې دا پټه وی نودهغه زړه به ګناهګار وی او د قلب په مخصوص توګه باندې ذکر ځکه کړې دې چې هم دغه د شهادت محل دې او

ځکه هم چې کله زړه ګناهګارشی نوډهغې په اتباع کښې به ټول اعضاء ګناهګار وی نوډ ګناهګارانو په شان به هغې سره دَ سزا معامله کولې شی. اوځه چې تاسوکوئی الله تعالی دَهغې نه خبرداردې ستاسو دَ اعمالونه دَهغه نه هیڅ یوعمل پټ نه دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: تَدَايَنْتُمْ (تَدَايُنٌ) تَفَاعُلٌ ماضی جمع مذکرحاضر، تاسو دَ قرض لین دین اوکړو.

قوله: تعَامَلْتُمْ دَدې اضافه دَ تَدَايَنْتُمْ بیان معنی دَپاره دې ځکه چې دَ تَدَايُنٌ دوه معنې راځی خپل مینځ کښې دَ قرض معامله کول، او بدله ورکول (کما يقال کما تُدِيْنُ تُدَانُ) دلته رومبې معنی مراد ده. دویمه وجه داده چې دَيْنٌ دَ تَدَايَنْتُمْ دَپاره تاسیس وی نه چې تاکید، که چرې تَدَايَنْتُمْ دَ دَيْنٌ په معنی کښې واخستې شی نو وړاندې بِدَيْنٍ لفظ به دَ تَدَايَنْتُمْ تاکیدوی حالانکه دَتاکید نه تاسیس بهتردې ځکه چې تَدَايَنْتُمْ دَ تعَاملتم په معنی کښې اخستې شوې دې.

قوله: اِسْتِينَافٌ، یعنی فَتُذَكِّرَ جمله مستانفه ده په دې معنی چې اِنْ شرطیه په دې کښې عامل نه دې.

قوله: كَانَ، كَانَ محذوف منلوسره ئې اشاره اوکړه چې صغيرًا اوكبيرًا دَكَانَ محذوف خبردې.

قوله: تَقَعُ، دَكَان تفسیر ئې تَقَعُ سره کولوکښې ئې اشاره اوکړه چې كَانَ تامه دې تجارة حاضرة دَدې اسم دې او په یوقراءت کښې نصب سره دې. په دې صورت کښې به تکون ناقصه وی. تقدیری عبارت به داوی اِلَّا اَن تكونَ التِّجَارَةُ تِجَارَةً حَاضِرَةً.

قوله: حَالٌ مقدرة اَوْمُسْتَانِفٌ دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دَ يُعَلِّمُكُمُ اللهُ عطف په واتقوالله باندې صحیح نه دې ځکه چې دابه دَ جمله خبریه په جمله انشائیه باندې عطف وی کوم چې صحیح نه دې.

جواب: واؤ عاطفه نه دې بلکه حالیه یا استینافیه دې.

قوله: تَسْتَوْثِقُوْنَ بِهَا دا جمله محذوف منلومقصددا خودل دی چې فرهانٌ مقبوضةٌ موصوف صفت سره ملاؤشو مبتداء شوه او تَسْتَوْثِقُوْنَ جمله کیدوسره دَدې خبردې.

[اياتونه:۲۸۴ - ۲۸۶]

{لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنْ تُبْدُوا} تُظهِروا {مَا فِي أَنْفُسِكُمْ} مِن السُّوء والعَزم عَلَيْهِ {أَوْ تُخْفُوهُ} تُسِرُّوهُ {يُحَاسِبْكُمْ} يُخبِرْكُمْ {بِهِ اللّٰه} يَوْم الْقِيَامَة {فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ} الْمَغْفِرَة لَهُ {وَيُعَذِّبُ مَنْ

يَشَاء} تَعْذِيبه وَالْفِعْلَانِ بِالْجَزْمِ عَطْف عَلَي جَوَاب الشَّرْط وَالرَّفْع أَيْ فَهُوَ {وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ مُحَاسَبَتكُمْ وَجَزَاؤُكُمْ {آمَنَ} صَدَّقَ {الرَّسُولُ} مُحَمَّد صَلَّي اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ} مِنَ الْقُرْآن {وَالْمُؤْمِنُونَ} عُطِفَ عَلَيْهِ {كُلٌّ} تَنْوِينه عِوَض مِنَ الْمُضَاف إِلَيْهِ {آمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ} بِالْجَمْعِ وَالْإِفْرَاد {وَرُسُلِهِ} يَقُولُونَ {لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ} فَنُؤْمِن بِبَعْضٍ وَنَكْفُر بِبَعْضٍ كَمَا فَعَلَ الْيَهُود وَالنَّصَارَي {وَقَالُوا سَمِعْنَا} أَيْ مَا أمرنا به سماع قبول {وأطعنا} نسألك {غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ} الْمَرْجِع بِالْبَعْثِ وَلَمَّا نَزَلَتْ الْآيَة الَّتِي قَبْلهَا شَكَا الْمُؤْمِنُونَ مِنَ الْوَسْوَسَة وَشَقَّ عَلَيْهِمْ الْمُحَاسَبَة بِهَا فَنَزَلَ {لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا} أَيْ مَا تسعه قدرتها {لَهَا مَا كَسَبَتْ} مِنَ الْخَيْر أَيْ ثَوَابه {وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ} مِنَ الشَّرّ أَيْ وِزْره وَلَا يُؤَاخَذ أَحَد بِذَنْبِ أَحَد وَلَا بِمَا لَمْ يَكْسِبهُ مِمَّا وَسْوَسَتْ بِهِ نَفْسه قُولُوا {رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا} بِالْعِقَابِ {إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا} تَرَكْنَا الصَّوَاب لَا عَنْ عَمْد كَمَا آخَذْت بِهِ مَنْ قَبْلنَا وَقَدْ رَفَعَ اللّٰه ذَلِكَ عَنْ هَذِهِ الْأُمَّة كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيث فَسُؤَاله اعْتِرَاف بِنِعْمَةِ اللّٰه {رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا} أَمْرًا يَثْقُل عَلَيْنَا حَمْله {كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا} أَيْ بَنِي إِسْرَائِيل مِنْ قَتْل النَّفْس فِي التَّوْبَة وَإِخْرَاج رُبْع الْمَال فِي الزَّكَاة وَقَرْض مَوْضِع النَّجَاسَة {رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ} قُوَّة {لَنَا بِهِ} مِنَ التَّكَالِيف وَالْبَلَاء {وَاعْفُ عَنَّا} اُمْحُ ذُنُوبنَا {وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا} فِي الرَّحْمَة زِيَادَة عَلَي الْمَغْفِرَة {أَنْتَ مَوْلَانَا} سَيِّدنَا وَمُتَوَلِّي أُمُورنَا {فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ} بِإِقَامَةِ الْحُجَّة وَالْغَلَبَة فِي قِتَالهمْ فَإِنَّ مِنْ شَأْن الْمَوْلَي أَنْ يَنْصُر مَوَالِيه عَلَي الْأَعْدَاء وَفِي الْحَدِيث لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَة فَقَرَأَهَا صَلَّي اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيلَ لَهُ عَقِب كُلّ كَلِمَة قَدْ فَعَلْت

ترجمه: په آسمانونو او زمکه کښې چې څه دی ټول هم د الله تعالی دی خراب اعمال او د هغې اراده کوم چې ستاسو په زړونو کښې ده که هغه تاسو ښکاره کړئ او که پټه الله تعالی به د هغې تاسو ته په قیامت کښې سزا ورکوی، بیا چې د چا مغفرت غواړی مغفرت به اوکړی او چاته چې عذاب ورکول غواړی نو عذاب به ورکوی. دواړه فعلونه (یغفر او یعذبُ) جواب شرط (یُحَاسِبْکُمْ) باندې عطف کیدو د وجې نه مجزوم دې او هُوَ د تقدیر د وجې نه مرفوع هم، او الله تعالی په هر څیز باندې قدرت لرونکې دې او هم د دغه څیزونو نه ستاسو محاسبه کول او تاسو ته بدله ورکول دی. رسول یعنی محمد ﷺ د دې قرآن تصدیق اوکړو کوم چې په حضور پاک باندې د هغه د رب د طرف نه نازل کړې شوې دې او مؤمنانو (هم) د دې عطف الرسول باندې دې. دا ټول د (کُلٌ) د تنوین د مضاف الیه عوض دی (ای کلهُمْ) په الله باندې او د هغه په فرښتو باندې او د هغه په کتابونو باندې ایمان راوړو (کُتُبُ، کتاب) جمع او افراد سره دې او د هغه په رسولانو باندې هغوی وائی چې مونږ د هغه په رسولانو کښې هیڅ فرق نه کوو چې په بعضو باندې ایمان راوړو او د بعضو نه انکار اوکړو لکه څنګه چې یهودو او نصاری کړی دی. او هغوی اووئیل د څه چې تا مونږ ته حکم راکړې د قبلولو په غوږونو باندې مونږ واورېده او

مونږ اطاعت اوکړو اې زمونږ پروردګار مونږ تانه دَ خطا بخښلو سوال کوو اوهم ستاطرف ته واپسي ده، یعنی دَ بعث په ذریعه واپس کیدل دی اوکله چې په ماقبل کښې آیت نازل شو نو مؤمنانو دَ وسوسوباره کښې شکایت اوکړو او په هغوی باندې دَ وسوسوباره کښې حساب کول مشکل تیرشو نو ﴿ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۭ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۭ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَي الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۪ وَاغْفِرْ لَنَا ۪ وَارْحَمْنَا ۪ اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَي الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴾ نازل شو الله تعالی څوک دَهغه دَ طاقت نه دَ زیات مکلف نه جوړوی یعنی کوم چې دَهغه په طاقت کښې وی، کومه نیکی چې کوم یونفس اوکړله دَهغې ثواب هم دَهغه دَپاره دې اوچاچې کومه بدی اوکړله دَهغې ګناه هم په هغه باندې ده هیڅوك به دَ بل چا په جرم کښې نه رانیولې کیږی اونه په نه کړې شوې جرم یعنی دَ نفس په وسوسو کښې نیولې کیږی، اووایئ اې زمونږ پروردګار زمونږ دَعذاب په ذریعه راګیرول مه کوې که زمونږ نه هیره یا غلطی اوشی (یعنی) که بغیردَ ارادې نه مونږ صحیح لار پریږدو لکه څنګه چې په دې باندې زمونږ نه وړاندې خلقو راګیرول شوی دی او الله تعالی دَدې امت نه هیره معاف کړې ده لکه چې په حدیث کښې واردشوی دی بیا دَ (معافئی) درخواست په اصل کښې دَالله تعالی دَ نعمت اعتراف دې اې زمونږ پروردګار په مونږ باندې داسې بوج مه اچوه لکه چې تاپه هغه خلقواچولې کوم چې مونږ نه وړاندې وو یعنی بنی اسرائیل چې هغه دَ توبې په عوض کښې دَنفس قتل دې او په زکوة کښې دَ څلورمې حصې مال زکوة ویستل اودَنجاست مقام پرې کول، یعنی داسې حکم چې زمونږ دَپاره دَ برداشت نه بهر وی دَ تکالیف او دَ مصیبتونو دَ قبیل نه او زمونږ نه زمونږ ګناهونه معاف کړه، مونږ معاف کړه او په مونږ باندې رحم اوکړه په رحمت کښې دَ مغفرت په مقابله کښې زیاتوالې دې هم ته زمونږ آقا ئی یعنی زمونږ دکارونو متولی، پس مونږ ته په کافرانو باندې غلبه راکړې په قیام حجت کښې اودَهغوی سره په جنګ کښې په فتح سره، څکه چې دَ آقا شان داوی چې هغه دَ خپلو غلامانو دَ دښمنانو په مقابله کښې امدادکوی او په حدیث کښې دی چې کله دا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ دَدې تلاوت اوفرمائیلو نودَهرې کلمه نه پس (رسول ﷺ) ته اووئیلې شو، قَدْفَعَلْتُ یعنی ما منظور کړل.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: تُظْهِرُوْا، دَ تُبْدُوْا تفسیر تُظْهِرُوْا سره کولو کښې اشاره اوکړه چې تُبْدُوْا اِبْدَاءٌ نه دې نه چې بذءٌنه دَ کوم معنی چې دَ شروع کولو ده.

قوله: مِنْ سوءٍمِنْ بیانیه دې دَ مَا بیان دې.

قوله يُحَاسِبْكُمْ دَدې دوه تفسيرونه دي يو يُجْزِكُمْ او دويم يُخْبِرْكُمْ دې. مفسرعلام دَ سوء تفسير دَ والعزم عليه نه وړاندې د لفظ په اعتبارسره کړې دې او والعزم عليه کښې واؤ تفسيری دې مطلب داد ې چې دَ انسان په زړه کښې کوم مستقل خيالات راځی يعنی کوموته چې دَ عملی جامې اغوستلو کلکه اراده وی نو په هغې باندې به الله تعالی نيول کوی ځکه چې صرف دَ زړه په وسوسو باندې به راګيرول نه کيږی.

قوله: والعزم عليه دَ يو اعتراض جواب هم مقصوددې.

سوال: وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ نه معلوميږی چې په قلبی وسوسو باندې به هم مؤاخذه کيږی حالانکه په وسواس قلبی باندې دَ بنده اختيار نه وی بل دا تکليف مالايطاق هم دې. دَدې جواب ورکړې شو چې مافى انفسكم نه هغه وسوسې مراد دی کوموته چې دعملی جامه اغوستلومصمم اراده کړې شوی وی، دغه شان مفسر علام دَ يُحَاسِبْكُم تفسير يخبركم سره کولوسره هم دَدې سوال جواب ورکړو چې په حديث شريف کښې اوفرمائيل چې په قلبی وسواس باندې هيڅ مواخذه نشته ترکومې چې هغې ته عملی جامه وانچولې شی. دَدې جواب ورکړې شو چې دَ يحاسبكم معنی ده يخبركم يعنی الله تعالی به دَ قيامت په ورځ دَ قلبی وسواس نه هم بنده خبره وی او په کومو نسخو کښې چې يُجزكم دې نوبيا ددې نسخ د ﴿ لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ سره به وی.

سابقه آيت ﴿ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ ﴾ که چرې عام اوساتلې شی چې قلبی وسواس او معزومات ته هم شامل وی نو راتلونکې آيت﴿ لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ به دَدې ناسخ وی اوکه چرې سابقه آيت په عزم باندې محمول کړې شی نو بيابه نسخ نه وی بلکه لاحقه آيت به دَ سابقه آيت توضيح شی.

قوله: عطفًا على جواب الشرط، که چرې يَغْفِرْ او يُعَذِّبُ جزم سره اولوستلې شی نو جواب شرط يعنی د يُحَاسِبُ باندې به عطف وی او که دواړه مرفوع اولوستلې شی نود هُوَ دَ مبتداء محذوف خبر به شی او جمله به استينافيه شی.

قوله: تَنْوِيْنُهُ عوض عن المضاف اليه، دادَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال: کله چې دَ المؤمنون عطف په الرسول باندې دې نوجمله معطوفه کيدوسره به خبرمقدم وی او كُلٌّ به مبتداء مؤخروی حالانکه دَ كُلٌّ نکره کيدودَ وجې نه مبتداء واقع کيدل صحيح نه دی.

جواب: د كُلٌّ د اضافت الى الغيرد وجې نه معرفه دې ځکه چې دكُلٌّ تنوين د مضاف اليه په عوض کښې دې تقديری عبارت كُلُّهُمْ دې اودَ عوض حکم د معوض وی.

قوله. يقولون دَ يو سوال جواب دي.

سوال. لاَ نُفَرِّقُ، جمع متكلم صيغه ده دي كښې چې كوم ضمير جمع متكلم دي هغه الرسول او المؤمنين طرف ته راجع دي حالانكه هغه د اسم ظاهر كيدو دَ وجې نه په حكم دَ غائب كښې دي او دَ غائب طرف ته كلام واحد كښې دَ متكلم ضمير نه شي راګرځيدي، لهذا دَ نُفَرِّقُ نه وړاندې يقولون مقدر منل ضروري دى دې دَ پاره چې جمع او ضمير كښې مطابقت پيدا شي.

[۳] سورة آل عمران

مدنية وهى مائتا اية

سورت آل عمران مدنى دې او دَ هغې دوه سوه آياتونه او شل روكوع ګانې دى.

[اياتونه: ۱-۹]

{الٓمٓ} الله اعلم بمراده بذلك {اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} {نَزَّلَ عَلَيْكَ} يَا مُحَمَّد {الْكِتَابَ} الْقُرْآن مُلْتَبِسًا {بِالْحَقِّ} بِالصِّدْقِ فِي أَخْبَاره {مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ} قَبْله مِنْ الْكُتُب {وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ مِنْ قَبْلُ} أَيْ قَبْل تَنْزِيله {هُدًى} حَال بِمَعْنَى هَادِينَ مِنْ الضَّلَالَة {لِّلنَّاسِ} مِمَّنْ تَبِعَهُمَا وَعَبَّرَ فِيهِمَا بِأَنْزَلَ وَفِي الْقُرْآن بِنَزَّلَ الْمُقْتَضِي لِلتَّكْرِيرِ لِأَنَّهُمَا أُنْزِلَا دُفْعَة وَاحِدَة بِخِلَافِهِ {وَأَنْزَلَ الْفُرْقَانَ} بِمَعْنَى الْكُتُب الْفَارِقَة بَيْن الْحَقّ وَالْبَاطِل وَذَكَرَهُ بَعْد ذِكْر الثَّلَاثَة لِيَعُمّ مَا عَدَاهَا {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللّٰهِ} الْقُرْآن وَغَيْره {لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ} غَالِب عَلَى أَمْره فَلَا يَمْنَعهُ شَيْء مِنْ إِنْجَاز وَعْده وَوَعِيده {ذُو انْتِقَامٍ} عُقُوبَة شَدِيدَة مِمَّنْ عَصَاهُ لَا يَقْدِر عَلَى مِثْلهَا أَحَد {إِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْءٌ} كَائِن {فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ} لِعِلْمِهِ بِمَا يَقَع فِي الْعَالَم مِنْ كُلِّيّ وَجُزْئِيّ وَخَصَّهُمَا بِالذِّكْرِ لِأَنَّ الْحِسّ لَا يَتَجَاوَزهُمَا {هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ} مِنْ ذُكُورَة وَأُنُوثَة وَبَيَاض وَسَوَاد وَغَيْر ذَلِكَ {لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ} فِي مُلْكه {الْحَكِيمُ} فِي صُنْعه {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ} وَاضِحَات الدَّلَالَة {هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ} أَصْله الْمُعْتَمَد عَلَيْهِ فِي الْأَحْكَام {وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ} لَا تُفْهَم مَعَانِيهَا كَأَوَائِلِ السُّوَر وَجَعَلَهُ كُلّه مُحْكَمًا فِي قَوْله {أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ} بِمَعْنَى أَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ عَيْب وَمُتَشَابِهًا فِي قَوْله {كِتَابًا مُتَشَابِهًا} بِمَعْنَى أَنَّهُ يُشْبِه بَعْضه بَعْضًا فِي الْحُسْن وَالصِّدْق {فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ} مَيْل عَنْ الْحَقّ {فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ} طَلَب {الْفِتْنَةِ} لِجُهَّالِهِمْ بِوُقُوعِهِمْ فِي الشُّبُهَات وَاللَّبْس {وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ} تَفْسِيره {وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ} تَفْسِيره {إِلَّا اللّٰهُ} وَحْده {وَالرَّاسِخُونَ} الثَّابِتُونَ الْمُتَمَكِّنُونَ {فِي الْعِلْمِ} مُبْتَدَأ خَبَره {يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ} أَيْ بِالْمُتَشَابِهِ أَنَّهُ مِنْ عِنْد اللّٰه وَلَا نَعْلَم مَعْنَاهُ {كُلٌّ} مِنْ الْمُحْكَم وَالْمُتَشَابِه {مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ} بِإِدْغَامِ التَّاء فِي الْأَصْل فِي الذَّال أَيْ يَتَّعِظ {إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} أَصْحَاب الْعُقُول وَيَقُولُونَ أَيْضًا إِذَا رَأَوْا مَنْ يَتَّبِعهُ {رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا} تُمِلْهَا عَنْ الْحَقّ بِابْتِغَاءِ تَأْوِيله الَّذِي لَا

يليق بنا كما أزغت قلوب أولئك {بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا} أرشدتنا اليه {وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ} من عندك {رَحْمَةً} تثبيتا {إنك أنت الوهاب} يا {رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ} تجمعهم {لِيَوْمٍ} أي في يوم {لَّا رَيْبَ} لا شك {فِيهِ} هو يوم القيامة فتجازيهم بأعمالهم كما وعدت بذلك {إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ} موعده بالبعث فيه التفات عن الخطاب ويحتمل أن يكون من كلامه تعالي والغرض من الدعاء بذلك بيان أن همهم أمر الآخرة ولذلك سألوا الثبات علي الهداية لينالوا ثوابها روي الشيخان عن عائشة رضي الله عنها قالت تلا رسول الله صلي الله عليه وسلم هذه الآية {هُوَ الَّذِي أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ} إلي آخرها وقال فإذا رأيتم الذين يتبعون ما تشابه منه فأولئك الذين سمي الله فاحذروهم وروي الطبراني في الكبير عن أبي موسي الأشعري أنه سمع النبي صلي الله عليه وسلم يقول ما أخاف علي أمتي إلا ثلاث خلال وذكر منها أنه يفتح لهم الكتاب فيأخذه المؤمن يبتغي تأويله وليس يعلم تأويله إلا الله والراسخون في العلم يقولون آمنا به كل من عند ربنا وما يذكر إلا أولوا الألباب الحديث

ترجمه: شروع کوم په نامه دَ خدائی چې ډير بخښونکې اومهربان دې آلمٓ هم الله تعالى دَدې نه خپل مراد بهتر پيژني. **الله تعالى هغه دَ هميشه نه ژوندئې هستئ ده چې دَهغه نه بغيريل څوک دَعبادت لائق نشته چې دَ** (كائناتو نظام) **ئې قابو کړې دې هغه په تابانډې اې محمد ﷺ قرآن چې په خبرورکولو کښې په صداقت مشتمل دې درجه په درجه نازل کړو دَ خپل ځان نه دَ وړاندينو کتابونو تصديق کونکې دې اودَدې دَ نازلولونه وړاندې ئې تورات او انجيل نازل کړل حال دادې چې هغه لارخودونکی دی** (هُدًى) دَ التوراة والانجيل نه حال دې يعنی دا دواړه کتابونه دَ هغه خلقو دَ ګمراهئی نه دَ هدايت طرف ته لار خودونکی دی چا چې دَدې اتباع اوکړه او په هغه دواړو کښې ئې أَنزَلَ تعبيراختيارکړو او په قرآن کښې نَزَّلَ چې کوم دَ تکرار مقتضی دې دَدې وجه داده چې دَ حق او باطل په مينځ کښې فرق کونکې دې. دَ دريواړو دَ ذکرکولونه پس ئې دَ فرقان ذکراوکړو دې دَپاره چې مذکوره دريواړه (کتابونونه) علاوه ته هم شامل شی، **بيشکه کوموخلقو چې دَالله تعالى آياتونه** (يعنی) دَ قرآن وغيره نه کفر اوکړو **دَهغوی دَپاره سخت عذاب دې اوالله تعالى په خپل امرکښې غالب دې،** لهذا هيڅ يوشئ هغه دَ هغه دَ وعده اووعيددَ پوره کولونه نشی منع کولې اودَ خپل نافرمانونه سخته بدله اخستونکې دې چې دَهغه په شان عقوبت بانډې څوک قادرنه دی، **بيشکه الله تعالى داسې دې چې دَهغه نه هيڅ څيزپټ نه دې که په زمکه کښې وی اوکه په آسمان کښې وی** دَهغه په عالم کښې واقع کيدونکی کلی اوجزئی څيزنه خبردار کيدودَ وجې نه اودَ زمکې او آسمان دَتخصيص وجه داده چې هيڅ څيزدَدې دواړو نه تجاوزنه شی کولې. **هغه داسې دې چې په رحمونوکښې** ستاسو صورتونه جوړه وی څنګه چې غواړی هلك يا جينئی او سپين يا تور وغيره **دَهغه نه بغيريل څوک معبودنشته چې په خپل ملك کښې** ډير زبردست او خپل صنعت

کښې لوئی حکمت والا دې هغه هم دغه خدائې دې چاچې په تاباندې کتاب نازل کړو په دې کښې محکم آیاتونه دی (یعنی) واضح، چې واضح الدلالت دی اوهم دغه دَ کتاب اصل مداردې یعنی اصل کتاب دې چې په احکاموکښې معتمدعلیه دې او نور متشابه دی دکوم چې معانی اومفهوم نه وی لکه دَ سورتونو په شروع کښې اودَ الله تعالی قول اُحْكِمَتْ آيٰتُه کښې پوره قرآن محکم گرځولې شوې دې داپه دې معنی کښې دې چې په دې کښې هیڅ عیب نشته اودَ الله تعالی قول كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا کښې پوره قرآن متشابه گرځولې شوې دې. دا په دې معنی کښې چې بعض بعضو سره په حسن او صدق کښې مشابه دې نو هغه خلق دَ چا په زړونو کښې چې کوګوالې یعنی دَ حق نه انحراف دې هغه دَخپلو حامیانو دَپاره دَهغوی دَ شهادت او التباس کښې واقع کیدو دَ وجې نه دَ فتنې په لټون کښې هغه پسې گرځی کوم چې متشابه دې اودَې دَ غلط تفسیر په لټون کښې په داسې حال کښې چې دَالله تعالی وحده نه علاوه دَهغې حقیقی مراد هیڅوک نه پیژنی اود پوخ کاروالا او دَمضبوط علم والا وائی چې مونږ په متشابه باندې ایمان راوړې دې چې هغه دَالله تعالی دَ طرف نه دی اومونږ دَ دې دَ (حقیقی) مراد نه خبرنه یو. (والراسخون فی العلم) مبتداء دې او (یقولون آمنابه) دَدې خبردې. محکم او متشابه ټول زمونږ دَ رب دَ طرف نه دی اونصیحت هم عقل مند خلق حاصله وی (یَذَّكَّرُ) په اصل کښې دَ تاء په ذال کښې ادغام کولو سره جوړشوې دې یعنی نصیحت حاصله وی او کله چې څوك په متشابه پسې لګیدونکې وینی نو وائی اې زمونږ پروردګارته زمونږ زړونه دَ حق نه مه اړوه دَهغه حق داسې تاویل دَ لټون په ذریعه کوم چې زمونږ دَ پاره لائق نه دې لکه څنګه چې تادَهغه خلقو زړونه کاږه کړل یا پس دَهغې نه چې تامونږ ته حق لار اوخودله او مونږ له دَ خپل طرف نه په استقامت راکولو سره خصوصی رحمت اوکړه بیشکه هم ته دیر زیات ورکونکې ئی، اې زمونږ ربه یقیناً ته خلق یوه ورځ راجمع کونکې ئی یعنی په داسې ورځ دَ کومې په راتلو کښې چې هیڅ شک نشته هغه دَ قیامت ورځ ده ته به هغوی ته دَ خپلې وعدې مطابق دَهغوی دَعملونو بدله ورکوې یقیناً الله تعالی وعده خلافی نه کوی یعنی دَ بعث بعد الموت دَ وعدې خلاف ورزی به نه کوی په دې کښې دَ خطاب نه (غیبت) طرف ته التفات دې اوداهم احتمال دې چې ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴾ دَالله تعالی کلام وی، او ﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا﴾ سره دَ دعاکولو غرض دادې چې دَهغوی مقصد دَ آخرت امر دې اوهم په دې وجه ئی په هدایت باندې دَ استقامت سوال اوکړو دې دَپاره چې دَدې ثواب حاصل کړی. مسلم او بخاری دَ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت کړې دې چې حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها اوفرمائیل رسول الله ﷺ دا آیت ﴿ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ ﴾ تلاوت اوکړو اوحضورپاك اوفرمائیل (اې عائشه) کله چې ته اوګورې چې خلق دَ

قرآن متشابهات پسې لګیدلی دی (نوپوهه شه) هم دغه هغه خلق دی دَ چاچې الله تعالیٰ نښه خودلې ده نوته دَ دوی نه بچ کیږه.

طبرانی او کبیرکښې ابومالك اشعری رضی الله عنه نه روایت دې چې هغوی دَ رسول الله ﷺ داسې ویناکول اوریدلې دې ماته زما په امت باندې دَ دریوخبرو ویره ده او په هغه خبرو کښې یوه خبره دا ذکر کړه چې دَخلقو په وړاندې به کتاب (قرآن) کولاوولې شی نو مؤمن به دَدې دَ تاویل په تلاش کښې اخته شی حالانکه دَهغې تاویل دَالله تعالیٰ نه بغیر هیڅوك نه پیژنی او راسخین فی العلم وائی چې مونږ په دې باندې ایمان راوړې دې چې ټول په ټول (قرآن) زمونږ دَ رب دَ طرف نه دې او هم عقل مند خلق نصیحت حاصله وی. (الحدیث)

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: آل، ټبر خاندان، اولاد (عمران) وئیلې شوی دی چې دَ موسیٰ علیه السلام پلار مراد دې اووئیلې شوی دی چې عمران دَ حضرت مریم دَ پلارنوم دې. حضرت موسیٰ علیه السلام د پلار عمران اوحضرت مریم دَ پلار عمران په مینځ کښې یو زر او اته سوه کاله فاصله ده.

قوله: متلبسًا دې کښې اشاره ده چې باء دَ الصاق دَپاره ده اودا چې بالحق، متلبسًا سره متعلق شی نوحال دې.

قوله: قبل تنزیله دې کښې اشاره ده چې قبل دَقطع دَاضافت دَوجې نه مبنی علی الضم دې.

قوله: حال بمعنی هَادِیِیْنَ دَدې اضافه مقصد دَ یوسوال مقدرجواب دې.

سوال: هُدًی مصدر دې دَدې حمل کتابونو (یعنی تورات او انجیل) باندې جائزنه دی ځکه نو مصدر حمل په ذات باندې لازم راځی.

جواب: هُدًی مصدر دې دا دَهادیین معنی کښې کیدوسره حال دې اودَحال په ذات باندې حمل صحیح دې.

قوله: بمعنی الکتب دا دَدې سوال مقدر جواب دې چې فرقان دَ قرآن نوم دې لهذا تکرار لازم راغلو ځکه چې په سابق کښې هم دَ قرآن ذکر شوې دې اودَ فرقان نه هم قرآن مراد دې
جواب: دَ فرقان لغوی معنی مراد ده لهذا دا هرآسمانی کتابونوته شامل دې.

قوله: من اِنجازوَعیده، ای اِتمام وَعیده.

[ايا تونه:١٠-٢٠]

{إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ} تدفع {عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ} أي عذابه {شَيْئًا وَأُولَٰئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ} بفتح الواو ما توقد به دابهم {كَدَأْبِ} كعادة {آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ} من الأمم كعاد وثمود {كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ} أهلكهم {بِذُنُوبِهِمْ} والجملة مفسرة لما قبلها {وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ} ونزل لما أمر النبي صلى الله عليه وسلم اليهود بالإسلام بعد مرجعه من بدر فقالوا لا يغرنك أن قتلت نفرا من قريش أغمارا لا يعرفون القتال {قُل} يا محمد {لِّلَّذِينَ كَفَرُوا} من اليهود {سَتُغْلَبُونَ} بالتاء والياء في الدنيا بالقتل والأسر وضرب الجزية وقد وقع ذلك {وَتُحْشَرُونَ} بالوجهين في الآخرة {إِلَىٰ جَهَنَّمَ} فتدخلونها {وَبِئْسَ الْمِهَادُ} الفراش هي {قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ} عبرة وذكر الفعل للفصل {فِي فِئَتَيْنِ} فرقتين {الْتَقَتَا} يوم بدر للقتال {فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ} أي طاعته وهم النبي وأصحابه وكانوا ثلاثمائة وثلاثة عشر رجلا معهم فرسان وست أدرع وثمانية سيوف وأكثرهم رجالة {وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم} أي الكفار {مِّثْلَيْهِمْ} أي المسلمين أي أكثر منهم وكانوا نحو ألف {رَأْيَ الْعَيْنِ} أي رؤية ظاهرة معاينة وقد نصرهم الله مع قلتهم {وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ} يقوي {بِنَصْرِهِ مَن يَشَاءُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ} المذكور {لَعِبْرَةً لِّأُولِي الْأَبْصَارِ} لذوي البصائر أفلا تعتبرون بذلك فتؤمنون {زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ} ما تشتهيه النفس وتدعو إليه زينها الله ابتلاء أو الشيطان {مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ} الأموال الكثيرة {الْمُقَنطَرَةِ} المجمعة {مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ} الحسان {وَالْأَنْعَامِ} أي الإبل والبقر والغنم {وَالْحَرْثِ} الزرع {ذَٰلِكَ} المذكور {مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} يتمتع به فيها ثم يفنى {وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ} المرجع وهو الجنة فينبغي الرغبة فيه دون غيره {قل} يا محمد لقومك {أَؤُنَبِّئُكُم} أخبركم {بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ} المذكور من الشهوات استفهام تقرير {لِلَّذِينَ اتَّقَوْا} الشرك {عِندَ رَبِّهِمْ} خبر مبتدؤه {جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ} أي مقدرين الخلود {فِيهَا} إذا دخلوها {وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ} من الحيض وغيره مما يستقذر {وَرِضْوَانٌ} بكسر أوله وضمه لغتان أي رضا كثير {مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ} عالم {بِالْعِبَادِ} فيجازي كلا منهم بعمله {الَّذِينَ} نعت أو بدل من الذين قبله {يَقُولُونَ} يا {رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا} صدقنا بك وبرسولك {فاغفرلنا ذنوبنا وقنا عذاب النار} {الصَّابِرِينَ} على الطاعة وعن المعصية نعت {وَالصَّادِقِينَ} في الإيمان {وَالْقَانِتِينَ} المطيعين لله {وَالْمُنفِقِينَ} المتصدقين {والمستغفرين} الله بأن يقولوا اللهم اغفر لنا {بِالْأَسْحَارِ} أواخر الليل خصت بالذكر لأنها وقت الغفلة ولذة النوم {شَهِدَ اللَّهُ} بين الله لخلقه الدلائل والآيات {أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ} أي لا معبود في الوجود بحق {إِلَّا هُوَ} شهد بذلك {والملائكة} بالإقرار {وَأُولُو الْعِلْمِ} من الأنبياء والمؤمنين بالاعتقاد واللفظ {قَائِمًا} بتدبير مصنوعاته ونصبه على الحال والعامل فيها معنى الجملة أي تفرد {بِالْقِسْطِ} بالعدل {لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ} كرره تأكيدا {الْعَزِيزُ} في ملكه {الْحَكِيمُ} في صنعه {إِنَّ الدِّينَ} المرضي {عِندَ اللَّهِ} هو

{الْإِسْلَام} أَيْ الشَّرْع الْمَبْعُوث بِهِ الرُّسُل الْمَبْنِيّ عَلَى التَّوْحِيد وَفِي قِرَاءَة بِفَتْحِ أَنَّ بَدَل مِنْ أَنَّهُ إلَخْ بَدَل اشْتِمَال {وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَاب} الْيَهُود وَالنَّصَارَى فِي الدِّين بِأَنْ وَحَّدَ بَعْض وَكَفَرَ بَعْض {إلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ} بِالتَّوْحِيدِ {بَغْيًا} مِنْ الْكَافِرِينَ {بينهم ومن يكفر بآيات الله} {فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيع الْحِسَاب} أَيْ الْمُجَازَاة لَهُ {فَإِنْ حَاجُّوك} خَاصَمَك الْكُفَّار يَا مُحَمَّد فِي الدين {فقل} لهم {أسلمت وجهي لله} انقدت لَهُ أَنَا {وَمَنْ اتَّبَعَنِ} وَخَصَّ الْوَجْه بِالذِّكْرِ لِشَرَفِهِ فَغَيْره أَوْلَى {وَقُلْ لِلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَاب} الْيَهُود وَالنَّصَارَى {وَالْأُمِّيِّينَ} مُشْرِكِي الْعَرَب {أَأَسْلَمْتُمْ} أَيْ أَسْلِمُوا {فَإِنْ أَسْلَمُوا فَقَدْ اهْتَدَوْا} مِنْ الضَّلَال {وَإِنْ تَوَلَّوْا} عَنْ الْإِسْلَام {فَإِنَّمَا عَلَيْك الْبَلَاغ} أَيْ التَّبْلِيغ لِلرِّسَالَةِ {وَاَللَّه بَصِير بِالْعِبَادِ} فَيُجَازِيهِمْ بِأَعْمَالِهِمْ وَهَذَا قَبْل الْأَمْر بِالْقِتَالِ .

ترجمه: **يقينًا كوم خلقو چې كفر اوكړو دَهغوى مال او دَهغوى اولاد دَ الله تعالى په مقابله كښې هيڅ كله دَهغوى په څه كار نه راځى** (يعنى عذاب) **نه شى لرې كولې او هم هغه خلق به دَ اور خشاك وى** دَ واؤ فتحه سره، دَ كوم په ذريعه چې اور لګولې شى **لكه څنګه معامله چې آل فرعون او دَ هغوى نه وړاندې خلقو سره اوشوه** (يعنى) سابقه امتونو سره لكه چې عاد او ثمود (سره) **هغوى زمونږ دَ اياتونو تكذيب اوكړو نو الله تعالى دَهغوى دَ ګناهونو په سبب هغوى راګير كړل** يعنى هغوى ئې هلاك كړل او جمله كَذَّبُوا الخ دَ ما قبل جملې كَدَابِ آلِ فرعون الخ تفسير دې **او الله تعالى ډير سخت عذاب وركونكې دې** اوكوم وخت چې حضورپاك دَ غزوه بدر نه واپس شو او يهوديانو ته ئې دَ اسلام دعوت وركړو نو يهودو حضورپاك ته اووئيل چې ناتجربه كار او دَ جنګ په فن كښې ناواقف يوڅو قريش قتل كول دې تاسو په دهوكه كښې وانچوى. **اې محمد ﷺ تاسو كفر كونكو يهوديانو ته اووايئ چې تاسو به ډير زر مغلوب كړې شئ،** سيغلبون، ياء او تاء سره په دنيا كښې قتل، قيد او جزيه لګولو سره او هم داسې اوشو او په **آخرت كښې به دَ دوزخ طرف ته راجمع كړې شئى** (يُحشرون) **نو تاسو به دې كښې داخليږئ او هغه خراب ځائى دې. بيشكه ستاسو دَپاره** دَ بدر په ورځ دَ **دوارو فريقو** دَ **جنګ دَپاره په مقابله كيدو كښې عبرت دې** (كان) فعل په مينځ كښې دَ فصل دَ وجې نه مذكر راوړلې شوې دې. **يو جماعت دَ الله تعالى په لار كښې جنګيدلو** يعنى دَهغه په اطاعت كښې، او هغه نبى عليه السلام او دَ حضورپاك صحابه كرام رضي الله عنهم وو دَ كوم شمير چې درې سوه او ديارلس وو هغوى سره (صرف) دوه اسونه شپږ زغرې او اته تورې وې او په هغوى كښې اكثر خلق پياده وو **او دويم جماعت دَ كافرانو وو چې دغه (مسلمانان) ئې دَ خپل ځان نه په غړيدلو ستر ګو ډير زيات ليدل** يعنى دَ خپل ځان نه زيات دَهغوى شمير تقريبًا زر وو (يرون) ياء او تاء سره **دې او الله تعالى** دَ هغوى دَ كمى باوجود دَهغوى امداد اوفرمائيلو **او الله تعالى چې دَ چا دَپاره غواړى په خپل نصرت باندې امداد كوى، بيشكه په دغه مذكوره** (واقعه) **كښې دَ اهل**

بصيرت دَپاره يولوئي عبرت دې نوتاسو دَدې نه سبق نه اخلئ چې ايمان راوړئ او ښائسته کړې شوې دې دَخلقو دپاره مرغوباتو محبت يعنې زړه چې دَ کومې خواهش کوي اودهغې طرف ته راغواړي الله تعالى دغه مرغوبات په توګه دَ امتحان ښائسته جوړکړې شوي دي يا شيطان (ښائسته کړې دي) که هغه (مرغوبات) ښځې وي که ځامن اوکه دَ مالونو زياتوالي يا دَ سرو زرو اوسپينو زرو لګيدلي انبارونه او نشانونه لګيدلي ښکلي اسونه او ځاروي يعنې اوښان غواګانې او چيلئ او فصلونه دا ټول دَ دنياوي ژوندون سامان دې هم په دنياکښې دَدې نه نفع حاصلولې شي بياختم شي. اوحسن انجام خو الله تعالى سره دې اوهغه جنت دې چنانچې هم هغه دَ رغبت لائق دې نه چې دَدې نه علاوه بل څه. اې محمد ﷺ ته خپل قوم ته اووايه چې زه درته دَ دغه مذکوره (مرغوبات) نه هم ښکلې څيزونه اونه ښايم؟ دَدغه (خلقو) دَپاره څوك چې دَ شرك نه ويريږي، استفهام دَ تقريردَپاره دې دَهغوي پروردګارسره باغونه دي دَکومولاندې چې لوئي نهرونه بهيږي په دې کښې به هغوي هميشه وي يعنې دَهغوي دَپاره هميشه اوسيدل مقدرکړې شوي دي اوهغه دې جنت په دې کښې به داخل شي. (عندربهم) مبتداء دې او (جنت تجرى) دَدې خبردې اوحيض وغيره (مثلاً متيازې وغيره) نه کرکه کيږي صفا ستره بيبيانې به وي اودَ الله تعالى رضابه وي. (رِضْوانٌ) دَ راء کسره اوضمه سره. دا دوه لغته دي يعنې لويه رضامندي، الله تعالى په خپلو بنديګانوباندې نظر ساتلې دې په دوي کښې به هريوته دَ هغوي بدله ورکولې شي (دا هغه خلق دي) چې وائي (اَلَّذِيْنَ) دا د سابق اَلَّذِيْنَ صفت يابدل دې، اې زمونږپروردګار مونږايمان راوړې يعنې مونږ ستادَ رسول ﷺ تصديق کړې پس ته زمونږ ګناهونه اوبخښه اومونږ دَدوزخ دَ اور نه بچ کړه دا په طاعت او په مصيبت باندې صبرکونکي دي. (داهم) صفت دې او په ايمان کښې رښتوني دي اودَ الله تعالى دَپاره عاجزي کونکي دي او صدقه کونکي دي اودَ سحر په وخت يا شپې په روستئي حصه کښې اَللّٰهُمَّ اغفرلنا وئيلوسره دَ الله تعالى نه بخښنه غوښتونکي دي اودَ سحردَ وخت تخصيص په دې وجه دې چې دا دَغفلت او دَ خوب نه دَ خوند اخستلو وخت دې الله تعالى دَ خپل مخلوق دَپاره دلائلو او آياتونو په ذريعه (عقلي اونقلي دلائلوپه ذريعه) بيان اوکړو چې دَهغه نه سوا بل څوک معبود نشته يعنې هيڅ يومعبودبرحق نشته او ملائکه هم اقرار کولوسره هم دغه ګواهي ورکړې ده اواهل علم چې هغه انبياء او مؤمنين دي چاچې دَ عقيدې په ذريعه (دَزړه نه) ګواهي ورکړې ده او په ژبه سره تلفظ (اقرار) کولوسره. اوهغه په عدل سره انصاف قائمونکې دې يعنې دَخپل مخلوق تدبيرکونکې دې (او) قائما حال کيدو دَ وجې نه منصوب دې اوعامل دَدې جملې معنی ده. اى تَفَرَّدَ (يعنى لااله الا هو، د تَفَرَّدَ په معنى کښې دې) بغيردَهغه نه څوک معبود نشته تاکيداً

دا مکرر راوړلې شوې دې او هغه په خپل ملك کښې زبردست دې او په خپل صنعت کښې حکمت والا دې یقینًا خوښ کړې شوې دین خو دَالله تعالی په نیز هم اسلام دې یعنی هغه شریعت کوم سره چې رسول مبعوث شوې دَ کوم مدار چې په توحیدباندې دې او په یوقراءت کښې دَ اَنَّ فتحه سره اَنَّهٔ الخ سره بدل الاشتمال دې او اهل کتاب یهود اونصارٰی دَ توحید علم راتلونه پس چې کوم اختلاف اوکړو بعض دَ توحید قائل شو اوبعض منکر صرف دَ کافرانودَ طرف نه دَخپل مینځ دَ ضد دَ وجې نه اوکړو او څوك چې دَالله تعالی دَ آیاتونوانکارکوی الله تعالی بیشکه ډیر زر حساب اخستونکې دې، یعنی هغه ته جزاء ورکونکې دې. نو اې محمد ﷺ که چرې داکافران تاسو سره په دین کښې حجت کوی نو تاسو هغوی ته اووایئې چې زه اوچاچې زما اتباع کړې ده خو خپل مخ دَالله تعالی طرف ته کړې دې (یعنی) دَهغه حکم منونکې شوې یم اودَ مخ تخصیص دَهغې دَ غوره والی دَ وجې نه دې. نودَ هغه نه غیرخو به په طریقه اولی فرمانبرداروی اوتاسو اهل کتاب یهود او نصاریٰ او دَ جټو عربو مشرکانونه پوښته اوکړئی چې آیا تاسو اسلام راوړئی؟ یعنی اسلام راوړئی نوکه چرې اسلام ئې راوړو نوهغوی دګمراهئی نه دَ هدایت په لار راغلل اوکه چرې هغوی دَاسلام نه اعراض اوکړو نو ستا په ذمه صرف پیغام رسول دی او الله تعالی په خپلو بندیګانو باندې نظر ساتونکې دې لهٰذا هغه به هغوی ته دَهغوی دَعملونو بدله ورکوی اودا حکم دَ جهاد دَحکم نه دَ وړاندې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَقُوْدُ دَ واؤ فتحه سره خشاك اسم دې دُ واؤ په ضمه سره مصدر دې دَ مصدر حمل په ذات باندې چونکه صحیح نه دې په دې وجه مفتوح الواؤ اسم اوګرځولې شو دې دَپاره چې حمل صحیح شی.

قوله. دَأْبُهُمْ دالفظ محذوف منلو سره اشاره اوکړه چې کَدَأبِ آلِ فرعونَ دَ مبتداء محذوف خبر کیدو سره جمله مستانفه ده دَدې تعلق نه لَن تغنی سره دې اونه وَقودُالنار سره لکه چې وئیلی شوی دی. دأبٌ په معنی عادت، حال دأبٌ (ف) سره مصدر دې یوشان په څه کار کښې اخته کیدل، هم دَ دې وجې نه دَدې معنیٰ د عادت ده

قوله. الجملة مفسرة، مفسرعلام مذکوره عبارت مقدرمنلو سره اشاره اوکړه چې کَذَّبُوابآیاتِنَا جمله حالیه نه ده څکه چې دَ ماضی حال واقع کیدودَپاره قد ضروری وی بلکه دا جمله دَ سابقه جملې تفسیر دې هم دغه وجه ده چې دَدواړو جملو په مینځ کښې واؤ نه دې راوړلې شوې.

قوله: اغمار، دَغمرٌ جمع ده ناتجربه کار جاهل.

قوله ذُكِّرَ الفعل للفصل دا دَ یو سوال مقدر جواب دي.

سوال: آيَةٌ، دكان اسم دي او فعل مذكر راوړلې شوې دې حالانكه كَانَتْ راوړل پكار وو دې د پاره چې فعل او اسم كښې موافقت اوشي.

جواب فعل او دَ دې په اسم كښې كله چې فعل واقع شي نو موافقت ضروري نه وي، دلته لَكُمْ فصل واقع دې.

قوله اَلْفِئَةُ، جماعت په لفظونو كښې دَ دې واحد نه استعماليږي دَ دې جمع فئات ده.

قوله المذكور، دَ یو سوال جواب دې.

سوال: دَ ذٰلِكَ مشار اليه التقليل والتكثير دي په اسم اشاره او مرجع كښې مطابقت نشته.

جواب: التقليل والتكثير بمعنى المذكور دي لهذا مطابقت موجود دې.

قوله مَا تَشْتَهِيْهِ دي كښې اشاره ده چې شهوات، مصدر مبالغةً په معنى دَ مفعول دى.
كقوله احببت حبّ الخير كښې.

قوله: نعتٌ او بدلٌ مِنَ الَّذِيْنَ قَبْلَهُ دَدې اضافه مقصد دَدې اعتراض دفاع كول دى چې العباد كوم چې نيزدې دې نه بدل يا نعت وى نو دائى دفع كړو چې دا دَ اتقوا نه بدل يا نعت دې نه چې العباد نه.

قوله: يَارَبَّنَا يا، مقدر منلو سره اشاره اوكړه چې رَبَّنَا دَ يا، مقدر كيدو دَ وجې نه منصوب دې.

قوله: نعتٌ يعني............. الذين اتقوا نه نعت دي او دا اتقوا هم نعت دې.

قوله نَصْبُهُ على الحال، يعنى قائماً دَ هُوَ نه حال دې نه چې دَ اِلٰهٌ صفت كيدو دَ وجې نه، ځكه چې دَ صفت او موصوف په مينځ كښې فصل بالاجنبى واقع دې.

• **قوله**: والفاعل فيها معنى الجملة، اى تَفَرَّدَ، دا په اصل كښې دَ یو سوال مقدر جواب دې.

سوال: سوال دا دې چې قائماً كه چرې د معطوف او دَ معطوف عليه مجموعې نه حال وې نو په دې صورت كښې به حمل صحيح نه وى او كه صرف لفظ د الله نه حال وى نو دا هم جائز نه دى لكه چې جاء زيدٌ و عمرو راكبًا دغه وخت به دَ حال هيڅ عامل پاتې نه وى.

جواب: دا وركړې شو چې جمله لا اله الا هو په معنى كښې دَ تَفَرَّدَ دې، ځكه چې استثناء دَ نفى نه پس د تفرد فائده وركوى.

....

[اياتونه: ۲۱-۳۰]

{إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ} وَفِي قِرَاءَة يُقَاتِلُونَ {النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْلِ {مِنَ النَّاس} وَهُمْ الْيَهُود رُوِيَ أَنَّهُمْ قَتَلُوا ثَلَاثَة وَأَرْبَعِين نَبِيًّا فَنَهَاهُمْ مِائَة وَسَبْعُونَ مِنْ عِبَادهمْ فَقَتَلُوهُمْ مِنْ يَوْمهمْ {فَبَشِّرْهُمْ} أَعْلِمْهُمْ {بِعَذَابٍ أَلِيمٍ} مُؤْلِم وَذِكْر الْبِشَارَة تَهَكُّم بِهِمْ وَدَخَلَتْ الْفَاء فِي خَبَر إِنَّ لِشَبَهِ اسْمهَا الْمَوْصُول بِالشَّرْطِ {أُولَئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ} بَطَلَتْ {أَعْمَالُهُمْ} مَا عَمِلُوا مِنْ خَيْر كَصَدَقَةٍ وَصِلَة رَحِم {فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة} فَلَا اعْتِدَاد بِهَا لِعَدَمِ شَرْطهَا {وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ} مَانِعِينَ مِنْ الْعَذَاب {أَلَمْ تَرَ} تَنْظُر {إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا} حَظًّا {مِنَ الْكِتَاب} التَّوْرَاة {يُدْعَوْنَ} حَال {إِلَى كِتَابِ اللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ وَهُمْ مُعْرِضُونَ} عَنْ قَبُول حُكْمه نَزَلَتْ فِي الْيَهُود زَنَى مِنْهُمْ اثْنَانِ فَتَحَاكَمُوا إِلَى النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَكَمَ عَلَيْهِمَا بِالرَّجْمِ فَأَبَوْا فَجِيءَ بِالتَّوْرَاةِ فَوُجِدَ فِيهَا فَرُجِمَا فَغَضِبُوا {ذَلِكَ} التَّوَلِّي وَالْإِعْرَاض {بِأَنَّهُمْ قَالُوا} أَيْ بِسَبَبِ قَوْلهمْ {لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَات} أَرْبَعِينَ يَوْمًا مُدَّة عِبَادَة آبَائِهِمْ الْعِجْل ثُمَّ تَزُول عَنْهُمْ {وَغَرَّهُمْ فِي دِينِهِمْ} مُتَعَلِّق بِقَوْلِهِ {مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ} مِنْ قَوْلهمْ ذَلِكَ {فَكَيْفَ} حَالهمْ {إِذَا جَمَعْنَاهُمْ لِيَوْمٍ} أَيْ فِي يَوْم {لَا رَيْب} لَا شَكّ {فِيهِ} هُوَ يَوْم الْقِيَامَة {وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْس} مِنْ أَهْل الْكِتَاب وَغَيْرهمْ جَزَاء {مَا كَسَبَتْ} عَمِلَتْ مِنْ خَيْر وَشَرّ {وَهُمْ} أَيْ النَّاس {لَا يُظْلَمُونَ} بِنَقْصِ حَسَنَة أَوْ زِيَادَة سَيِّئَة وَنَزَلَتْ لَمَّا وَعَدَ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّته مُلْك فَارِس وَالرُّوم فَقَالَ الْمُنَافِقُونَ هَيْهَاتَ {قُلِ اللَّهُمَّ} يَا اللَّه {مَالِكَ الْمُلْك تُؤْتِي} تُعْطِي {الْمُلْك مَنْ تَشَاء} مِنْ خَلْقك {وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاء} بِإِتْيَانِهِ {وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاء} بِنَزْعِهِ مِنْهُ {بِيَدِكَ} بِقُدْرَتِك {الْخَيْر} أَيْ وَالشَّرّ {إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِير} {تُولِج} تُدْخِل {اللَّيْل فِي النَّهَار وَتُولِجُ النَّهَار} تُدْخِلهُ {فِي اللَّيْل} فَيَزِيد كُلّ مِنْهُمَا بِمَا نَقَصَ مِنْ الْآخَر {وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّت} كَالْإِنْسَانِ وَالطَّائِر مِنْ النُّطْفَة وَالْبَيْضَة {وَتُخْرِجُ الْمَيِّت} كَالنُّطْفَةِ وَالْبَيْضَة {مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَاء بِغَيْرِ حِسَاب} أَيْ رِزْقًا وَاسِعًا {لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء} يُوَالُونَهُمْ {مِنْ دُون} أَيْ غَيْر {الْمُؤْمِنِينَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ} أَيْ يُوَالِيهِمْ {فَلَيْسَ مِنَ} دِين {اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاة} مَصْدَر تَقَيْته أَيْ تَخَافُوا مَخَافَة فَلَكُمْ مُوَالَاتهمْ بِاللِّسَانِ دُون الْقَلْب وَهَذَا قَبْل عِزَّة الْإِسْلَام وَيَجْرِي فِيمَنْ هُوَ فِي بَلَد لَيْسَ قَوِيًّا فِيهَا {وَيُحَذِّرُكُمْ} يُخَوِّفكُمْ {اللَّهُ نَفْسه} أَنْ يَغْضَب عَلَيْكُمْ إِنْ وَالَيْتُمُوهُمْ {وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِير} الْمَرْجِع فَيُجَازِيكُمْ {قُلْ} لَهُمْ {إِنْ تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ} قُلُوبكُمْ مِنْ مُوَالَاتهمْ {أَوْ تُبْدُوهُ} تُظْهِرُوهُ {يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَ} هو {يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَات وَمَا فِي الْأَرْض وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِير} وَمِنْهُ تَعْذِيب من والاهم اُذْكُرْ {يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ} هُ {مِنْ خَيْرٍ مُحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ} هُ {مِنْ سُوء} مُبْتَدَأ خَبَره {تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا} غَايَة فِي نِهَايَة الْبُعْد فَلَا يَصِل إِلَيْهَا {وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسه} كرر التاكيد {والله رؤوف بالعباد}

ترجمه: کوم خلق چې د الله تعالی د آیاتونو انکار کوی او نبیان په ناحقه قتل کوی او په یو قراءت

کښې يُقَاتِلُونَ دې او هغه خلق څوک چې دَ انصاف حکم ورکوی هغه قتل کوی او هغه يهود دی
روايت کړې شوې دې چې هغوی درې څلويښت انبياء کرام قتل کړی دی هغوی يوسل
اويابنی اسرائيلو عابدانو منع کړل نوهغوی هم په هغه ورځ قتل کړل، هغوی ته دَ دردناک
عذاب زيرې ورکړه (په ځائی دَ خبر) دَ زيری ورکولوذکر هغوی سره دَ مذاق په توګه دې او دَ
إنَّ په خبرباندې فاء داخل شوې ده دَهغې دَ اسم موصول شرط سره مشابه کيدو دَ وجې
نه، هم دغه هغه خلق دی دَ چا اعمال چې په دنيا اوآخرت کښې (يعنی) صدقې او د صله رحمئی
په توګه هغوی چې کوم اعمال کړی دی هغه ټول بې کاره شو لهذا دَ شرط نه موجود کيدو دَ
وجې نه هغه په هيڅ شمير کښې نه دی اودَهغوی به څوک امدادی هم نه وی (يعنی) هغوی به
دَعذاب نه بچ کونکی نه وی. آيا تاسوهغه خلق اونه ليدل چاته چې دکتاب تورات يوه حصه
ورکړې شوې وه هغوی به راغوښتلې شو (يُدْعَوْنَ، د اَلَّذِيْنَ) نه حال دې دې دَپاره چې هغه کتاب
دَهغوی په مينځ کښې فيصله اوکړی بيا په هغوی کښې يو فريق بې رخی کولوسره دَهغه حکم
منلونه مخ اړه وی. (راتلونکې آيت) دَ يهودو باره کښې نازل شو او په هغوی کښې دوو
کسانو زنا اوکړه نوهغوی خپله مقدمه دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې راوړله نو
حضورپاك په هغوی باندې دَ رجم فيصله اوکړه نوهغوی دَ منلونه انکاراوکړو تورات
راوړلې شو نو په هغې کښې دَ رجم حکم موجود وو. نو هغه دواړه رجم کړې شو يهوديان
خفه شو اودا اعراض او مخ اړول دَدې وجې نه وو چې دَهغوی وينا وه مونږ پورې به اورصرف
يوڅو ورځې اولګی چې څلويښت ورځې دی اودا هغه موده وه چې په کومه کښې دَهغوی
پلارانو دَ سخی عبادت کړې وو بيا به دَهغوی نه ختم کړې شی (يعنی خلاصې به
بيامومی) اوهغوی ته دَهغوی دَدين باره کښې دَهغوی دَ ځان نه جوړکړې قول لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ په
دهوکه کښې اچولې وو. د فِىْ دِيْنِهِمْ تعلق مَاكَانُوايَفْتَرُوْنَ سره دې نودَهغوی به څه حال وی؟ کله
چې مونږ هغوی په هغه ورځ راجمع کړو دَ کومې په راتلوکښې چې لړ شان هم شک نشته هغه
دقيامت ورځ ده. اوهرسړی ته که هغه دَاهل کتاب نه وی اوکه غيراهل کتاب نه وی
دَهغوی دَ ښه اوبد عمل به پوره پوره بدله ورکولې شی او په خلقو به ظلم نه شی کولې په
نيکوکښې په کمې او ګناهونوکښې په زياتې کولوسره. اوکله چې رسول الله ﷺ خپل
امت ته دَ ملك شام او فارس دَ فتح پيشنګوئی واوروله نو منافقانو اووئيل دا خبره ډيره
لرې ده ته اووايه اې دَ ټولو جهانونو لکه اللهم په معنی يا الله ته دَخپل مخلوق نه چاله چې
غواړې ملک ورکوې او چانه چې غواړې اخلې اوچاته چې غواړې ملك ورکولوسره عزت
ورکوې او چانه چې غواړې په زور اخلې او ذلت ورکړې هم ستادَ قدرت په قبضه کښې چې خير
اوشر دې بغيردَ څه شک نه هم ته په هرشئ قادر ئی شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې داخل

کوي دَهريونه چې کوم مقدار کميږي او په بل کښې زياتيږي اوته ساوالا نه بې ساوالا مثلاً انسان او مرغئى دَ نطفې او هګئى نه او بې ساوالا مثلاً نطفه او هګئى دَ ساوالا نه راؤباسې اوته چې چاته غواړې بې حسابه رزق ورکوې يعنى وسعت سره رزق ورکوې. **مؤمنانو له پکار دي چې کافران دوستان نه جوړه وي چې مؤمنان پريږدي** او هغوى سره محبت کول شروع کړي **اوکوم سړې چې داسې کوي يعنى هغوى سره** (دَزړه) **نه دوستى کوى نو هغه دَالله تعالى** دَ دين باره کښې **په هيڅ شمير کښې نه دى مګر په داسې صورت کښې چې تاسو دَهغوى نه انديښنه** دَ (ضرر) **لرئى**، تُقة، دَ تقية مصدر دې يعنى که چرې تاسو دَهغوى نه دَ څه قسم نقصان ويره لرئى نو تاسو ته هغوى سره دَ ژبانى ويرې اجازت دې نه چې دَ زړه دَتعلق. او دا حکم دَ اسلام دَ غلبه دَ وړاندې وخت دې او مذکوره حکم څکه هم دې چې په يو داسې ښاريه کښې وى چې په هغې کښې اسلام قوى نه وى. **او الله تعالى تاسو دَخپل ذات نه ويره وى** داچې هغه به تاسو نه خفه شى که چرې تاسو هغوى سره (دَزړه) **تعلق ساتئى او دَ الله تعالى طرف ته راتلل دى** نو هغه به تاسو ته بدله درکوى. **ته هغوى ته اووايه چې** دَهغوى دوستى کومه چې ستاسو په زړه کښې ده **که هغه تاسو پټه وئى او که ښکاره کوئى الله تعالى هغه پيژنى اوکوم څه چې په آسمان او زمکه کښې دى** (ټول) **هغه پيژنى او الله په هر شئ باندې قادر دې** او هم دَ هغې نه کافرانو سره دوستى کونکوته سزا ورکول هم دى **په کومه ورځ چې به هر سړې خپل نيک اوبد اعمال موجود اووينى** (ماعملت من سوء) مبتداء او خبر دې **هغه به تمنا کوى چې افسوس دَهغه او دَدې** (قيامت) **دَ ورځ په مينځ کښې فاصله ډيره لرې وې چې** هغه ده ته نه شوى رسيدلې **او الله تعالى تاسو دَخپل ذات نه ويره وى** دَ تاکيد دَپاره ئى مکرر راوړلې دې **او الله تعالى په خپلو بنديګانو باندې ډير شفقت کونکې دې.**

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وَفِيْ قِرَاءَةٍ يُقَاتِلُوْن بهتر به وې چې مفسر علام دا اختلاف دَ روستو والا يَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ نه پس ذکر کړى وو څکه چې مذکوره اختلاف په دويم يَقْتُلُوْنَ کښې دې نه چې په اول کښې (جمل)

قوله: يُدْعَوْنَ، حَالٌ، يُدْعَوْنَ د الَّذِيْنَ نه حال دې نه چې صفت څکه چې دَجمله. معرفه صفت نه شى کيدې.

قوله: اى النَّاس، النَّاس اضافه مقصد دَ يو سوال جواب دې.

سوال: هُمْ ضمير دَ نَفْسٌ طرف ته راجع دې کوم چې مؤنث سماعى دې لهذا په مرجع او ضمير کښې مطابقت نشته.

جواب: هم ضمير النَّاس طرف ته راجع دې کوم چې دَ نَفْسٌ نه مفهوم دې.

قوله: یاالله، دَ اَللّٰهُمَّ تفسیر یاالله سره کولو کښې اشاره اوکړه چې اَللّٰهُمَّ کښې الف لام د یا حرف نداء په عوض کښې دې هم دغه وجه ده چې لفظ الله باندې دواړه په یووخت نه داخلیږي.

قوله: رزقًا واسعًا، داد یوسوال جواب دې چې هریورزق غیرمعلوم الحساب (بې شمیره) نه دې خاص توګه باندې ځکه چې دَالله تعالی په علم کښې هرڅیز معلوم اومحسوس دې نودَدې جواب ئې ورکړې دې چې بغیردَ حساب نه مراد وسیع اوکثیردې.

قوله: یُوَالُوْنَهُمْ په دې کښې اشاره ده چې اَوْلِیَاءد ولی په معنی کښې دَ محبت نه ماخوذ دې نه چې په معنی دَ استعانت نه.

قوله: تُقَةً (تُقَاةً) دا دَتَقِیَةٌ مصدر مفعول مطلق دې، معنی بچ کیدل حفاظت کول. تُقَةً اصل کښې وُقْيَة وو واؤ په تاء سره بدل کړو او یاء په الف سره اوتاء ته په حذف د واؤباندې دلالت کولودَپاره ضمه ورکړه. (اعراب القرآن متصرفًا)

قوله: اَنْ یَّغْضَبَ عَلَیْکُمْ په دې کښې دَ حذف مضاف طرف ته اشاره ده. یُحَذِّرُکُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ای غضبَ نفسه، دا په هغه خلقو باندې رددې چاچې تقة مفعول ګرځولې دې ځکه چې مفعول مجازدې اومجاز بلاضرورت جائزنه دې او دلته هیڅ ضرورت نشته.

قوله: مبتداءٌخبره تَوَدُّ، دې کښې اشاره ده چې دَ وَمَا عَمِلَتْ عطف تجدُ په معمول باندې نه دې بلکه مبتداء دې اودَ دې خبر یَوَدُّ دې ځکه چې په دې صورت کښې به تَوَدُّ دَ عملت ضمیر نه حال وی اودَ عدم معاونت دَ وجې نه حال واقع کیدل صحیح نه دی.

[ایاتونه: ۳۱ - ٤١]

وَنَزَلَ لَمَّا قَالُوا مَا نَعْبُدُ الْأَصْنَامَ إِلَّا حُبًّا لِلّٰهِ لِيُقَرِّبُونَا إِلَيْهِ {قُلْ} لَهُمْ يَا مُحَمَّدُ {إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ} بِمَعْنَى يُثِيبُكُمْ {وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُورٌ} لِمَنِ اتَّبَعَنِي مَا سَلَفَ مِنْهُ قَبْلَ ذٰلِكَ {رَحِيمٌ} بِهِ {قُلْ} لَهُمْ {أَطِيعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ} فِيمَا يَأْمُرُكُمْ بِهِ مِنَ التَّوْحِيدِ {فَإِنْ تَوَلَّوْا} أَعْرَضُوا عَنِ الطَّاعَةِ {فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ} فِيهِ إِقَامَةُ الظَّاهِرِ مَقَامَ الْمُضْمَرِ أَيْ لَا يُحِبُّهُمْ بِمَعْنَى أَنَّهُ يُعَاقِبُهُمْ {إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَى} اخْتَارَ {آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ} بِمَعْنَى أَنْفُسِهِمَا {عَلَى الْعَالَمِينَ} بجعل الْأَنْبِيَاءِ مِنْ نَسْلِهِمْ {ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا مِنْ} ولد {بَعْضٍ} منهم {وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ} اُذْكُرْ {إِذْ قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ} حَنَّةُ لَمَّا أَسَنَّتْ وَاشْتَاقَتْ لِلْوَلَدِ فَدَعَتِ اللّٰهَ وَأَحَسَّتْ بِالْحَمْلِ يَا {رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ} أَنْ أَجْعَلَ {لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا} عَتِيقًا خَالِصًا مِنْ شَوَاغِلِ الدُّنْيَا لِخِدْمَةِ بَيْتِكَ الْمُقَدَّسِ {فَتَقَبَّلْ مِنِّي إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ} لِلدُّعَاءِ {الْعَلِيمُ} بِالنِّيَّاتِ وَهَلَكَ عِمْرَانُ وَهِيَ حَامِلٌ {فَلَمَّا وَضَعَتْهَا} وَلَدَتْهَا جَارِيَةً وَكَانَتْ تَرْجُو أَنْ يَكُونَ

غلامًا إذ لم يكن يحرّر إلّا الغلمان {قَالَتْ} معتذرة يا {رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنثَىٰ وَاللَّهُ أَعْلَمُ} أي عالم {بِمَا وَضَعَتْ} جملة اعتراض من كلامه تعالى وفي قراءة بضمّ التاء {وَلَيْسَ الذَّكَرُ} الذي طلبت {كَالْأُنثَىٰ} التي وهبت لأنّه يقصد للخدمة وهي لا تصلح لضعفها وعورتها وما يعتريها من الحيض ونحوه {وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا} أولادها {مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ} المطرود في الحديث ما من مولود يولد إلّا مسّه الشيطان حين يولد فيستهلّ صارخا إلّا مريم وابنها رواه الشيخان {فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا} أي قبل مريم من أمّها {بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا} أنشأها بخلق حسن فكانت تنبت في اليوم كما ينبت المولود في العام وأتت بها أمّها الأحبار سدنة بيت المقدس فقالت دونكم هذه النذيرة فتنافسوا فيها لأنّها بنت إمامهم فقال زكريّا أنا أحقّ بها لأنّ خالتها عندي فقالوا لا حتّى نقترع فانطلقوا وهم تسعة وعشرون إلى نهر الأردن وألقوا أقلامهم على أنّ من ثبت قلمه في الماء وصعد أولى بها فثبت قلم زكريّا فأخذها وبنى لها غرفة في المسجد بسلّم لا يصعد إليها غيره وكان يأتيها بأكلها وشربها ودهنها فيجد عندها فاكهة الصيف في الشتاء وفاكهة الشتاء في الصيف كما قال تعالى {وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا} ضمّها إليه وفي قراءة بالتشديد ونصب زكريّا ممدودا ومقصورا والفاعل الله {كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ} الغرفة وهي أشرف المجالس {وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ} من أين {لَكِ هَٰذَا قَالَتْ} وهي صغيرة {هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ} يأتيني به من الجنّة {إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ} رزقا واسعا بلا تبعة {هُنَالِكَ} أي لمّا رأى زكريّا ذلك وعلم أنّ القادر على الإتيان بالشيء في غير حينه قادر على الإتيان بالولد على الكبر وكان أهل بيته انقرضوا {دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ} لمّا دخل المحراب للصلاة جوف الليل {قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ} من عندك {ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً} ولدا صالحا {إِنَّكَ سَمِيعُ} مجيب {الدُّعَاءِ} {فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ} أي جبريل {وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ} أي المسجد {أَنَّ} أي بأنّ وفي قراءة بالكسر بتقدير القول {اللَّهَ يُبَشِّرُكَ} مثقّلا ومخفّفا {بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ} كائنة {مِّنَ اللَّهِ} أي بعيسى أنّه روح الله وسمّي كلمة لأنّه خلق بكلمة كن {وَسَيِّدًا} متبوعا {وَحَصُورًا} ممنوعا من النساء {وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ} روي أنّه لم يعمل خطيئة ولم يهمّ بها {قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ} كيف {يَكُونُ لِي غُلَامٌ} ولد {وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ} أي بلغت نهاية السنّ مائة وعشرين سنة {وَامْرَأَتِي عَاقِرٌ} بلغت ثمانية وتسعين سنة {قَالَ} الأمر {كَذَٰلِكَ} من خلق الله غلاما منكما {اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ} لا يعجزه عنه شيء ولإظهار هذه القدرة العظيمة ألهمه السؤال ليجاب بها ولمّا تاقت نفسه إلى سرعة المبشّر به {قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّي آيَةً} أي علامة على حمل امرأتي {قَالَ آيَتُكَ} عليه {أَ} ن {لَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ} أي تمتنع من كلامهم بخلاف ذكر الله تعالى {ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ} أي بلياليها {إِلَّا رَمْزًا} إشارة {وَاذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ} صلّ {بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ} أواخر النهار وأوائله

ترجمه: كله چې مشركانو اوويل مونږ (دهغه بتانو) د الله تعالى په محبت كښې عبادت كوو دې د پاره چې دوى مونږ هغه ته نيزدې كړى دا آيت نازل شو، اې محمد ﷺ دوى ته

اووایه که تاسو الله تعالی سره محبت کوئی نوزماتابعداری اوکړئی نوالله تعالی به تاسو سره محبت اوکړی یعنی تاسو ته به دَدې ثواب درکوی. او ستاسوګناهونه به معاف کړي او الله تعالی دَهغه سړی چاچې زما تابعداری اوکړه هغه ټول ګناهونه معاف کونکې دې چې دَ هغه نه وړاندې شوی دی او په هغه باندې رحم کونکې دې، تاسو هغوی ته اووایئې چې دَالله تعالی اودَ هغه دَ رسول تابعداری اوکړئی په توحید وغیره کښې دکوم چې هغه حکم کوی په هغې باندې هم که چرې هغوئ مخ واړولو یعنی دَ طاعت نه ئې ډډه اوکړه. نو الله تعالی کافرانوسره محبت نه کوی په دې کښې اسم ظاهردَ اسم ضمیرپه ځائی راوړلې شوې دې، یعنی هغوی سره محبت نه کوی په دې معنی سره چې هغوی ته به سزا ورکوی بیشکه الله تعالی حضرت آدم علیه السلام او نوح علیه السلام او آل ابراهیم علیه السلام او آل عمران ته یعنی پخپله هغوی په ټول جهان باندې انبیاء کرام دَدوی دَ نسل کولوسره غوره کړی دی دا بعض دَ بعضو اولاد دې اوالله تعالی ښه اوریدونکی او ښه پیژندونکې دې. هغه وخت یادکړئی کوم وخت چې دَ عمران بی بی حنه بوډئی شوه او دَ بچی آرزومنده شوه اوحمل ئې محسوس کړو عرض ئې اوکړو اې زما پروردګار ما دَدې بچی کوم چې زما په خیټه کښې دې ستادَپاره نذر منلې دې چې دَهغې دَ دنیاوی مشاغل نه بالکلیه جدا کولوسره به دَ بیت المقدس دَ خدمت دَپاره آزاد ساتلې شي یعنی زه به هغه آزادوم، پس ته (دا) زما نه قبول کړه سره ته دَ دعااوریدونکې اودَ نیتونو پیژندونکې ئې. اودَعمران انتقال اوشو، کوم وخت چې دَهغه بی بی (حَنّه) حامله وه، بیا چې کله دَهغې جینئی اوشوه حالانکه دَهغې امید دَ هلك وو ځکه چې دَ (بیت المقدس دَ خدمت دَپاره) به هم هلکان آزادولې شو. نو عذر بیانولوسره هغې اووئیل اې زما پروردګار زما خو جینئی شوې ده حالانکه الله تعالی ته خو معلومه ده چې کوم څیز دې زنګولی دی. دَ الله تعالی په کلام کښې داجمله معترضه ده او په یوقراءت کښې وَضَعۡتُ ضمه سره دې کوم هلک چې ما غوښتې وو هغه دَجینئی په شان نه شی کیدې کومه چې ماته راکړې شوې ده ځکه چې دَدې نه یوخاص خدمت مقصود دې. دَ کوم چې دا جینئی دَخپل ضعف اودَ ښځې کیدودَ وجې نه اودَدې عذرونو مثلاً حیض نفاس وغیره راتلودَ وجې نه صلاحیت نه لری (خیر) مادَدې نوم مریم کیخودو او زه دا اودَ دې اولاد دَ شیطان مردود نه ستا په پناه کښې ورکوم، په حدیث کښې دی چې کوم بچې هم پیدا کیږی دَ پیدائش په وخت شیطان په هغه باندې نوکارې لګوی دَ کوم دَ وجې نه چې هغه په زوره زوره چغې وهی البته مریم اودَهغې ځوئی دَدې نه خلاص دی. (رواه الشیخان) بیا دَهغې پروردګار په ښه طریقه سره دَهغې دَ مور نه مریم قبوله کړه. اوهغې ته ئې ښه خصمانه ورکړه، یعنی په ښه تخلیق سره ئې هغه لویه کړه هغه به په یوه ورځ کښې دومره لوئیدله لکه چې ماشوم په کال کښې لوئیږی. نوهغه دَ هغې مور بیت المقدس کښې دَ (بیت المقدس) خدمت ګارانو احبارو له

راوستله اوهغه ته ئی اووئیل دا نذر منلي شوې واخلئ. ټولو په دې کښې رغبت اوکړ
ځکه چې دادَهغوی دَامام لوروه، زکریا علیه السلام اوفرمائیل زه دَدې زیات حقداریم ځکه چې
دَدې ترور زما په نکاح کښې ده نو خلقو اووئیل داسې نه شی کیدې بلکه مونږ به
خسنړې اوباسو نوهغوی دَ نهر اردن طرف ته لاړل هغوی یوکم دیرش کسان وو هغوی
خپل قلمان (دریاب) کښې واچول. په دې فیصله کولوسره چې دَ چا قلم په اوبوکښې
اودریدو او دَ اوبوپه سر راشی نوهغه سړې به دَ مریم زیات حقداروی. نودَ (حضرت)
زکریا علیه السلام قلم اودریدو لهذا حضرت زکریا علیه السلام بی بی مریم واخستله اودَهغې دَپاره ئی
په جمات کښې یوپاځړئی او بالاخانه جوړه کړه په هغې به دَ حضرت زکریا علیه السلام نه علاوه
بل څوك نه ورختل. اوحضرت زکریا علیه السلام به هغې له خوراك څښاك او تیل (وغیره) اوړل
نوبی بی مریم سره به دَ یخنی دَموسم میوې په ګرمئی کښې اودګرمئی دَ موسم په یخنئی
کښې موجود وې لکه چې الله تعالی فرمائیلی اودَهغې ساتونکې زکریا علیه السلام جوړکړې شو
یعنی هغه ئی هغه سره یوځائی کړه او په یوقراءت کښې تشدیدسره اودَ زکریا دَ نصب
سره دې. ممدود اومقصور دواړه دی او الله تعالی دَدې فاعل دې، کله چې به حضرت زکریا
علیه السلام دَهغې حجرې ته راتلو اوهغه دَ ټولونه افضل ځائی وو نوهغې سره به ئی دَ خوراک څښاک
څیزونه لیدل (یوه ورځ) ئی تپوس اوکړو اې مریم تاله دا څیزونه دَکوم ځائی نه راځی؟ هغې اووئیل
دادَ الله تعالی دَطرف نه راځی هغه وخت هغه وړه وه هغه دا ماله دَ جنت نه راوړی. الله تعالی
چاله چې غواړی بې حسابه رزق ورکوی یعنی بغیردَ مشقت نه کافی رزق (بس) هم هلته، یعنی
چې کله حضرت زکریا علیه السلام دا صورت حال اولیدلو نو پوهه شو چې کوم ذات بې موسم
څیز راوړلوباندې قادر دې نوهغه په بوډاوالی کښې په اولاد ورکولوباندې هم قادردې،
دَحضرت زکریا علیه السلام اهل خانه وفات شوې وو، زکریا علیه السلام کوم وخت چې هغه دَ شپې جمات
کښې دَمانځه دَپاره لاړو دعااوکړه، عرض ئی اوکړو اې زما ربه ماله ته یوپاک اولاد یعنی نیک
اولاد راکړه بیشکه ته دَ دعاقبلونکې ئی. نو هغه ته فرښتو یعنی جبرائیل علیه السلام آواز ورکړو حال دا
چې هغه په جمات کښې ولاړ مونځ کولو، چې الله تعالی تاته دَ یحیی زیرې درکوی. انَّ اصل
کښې بأنَّ دې او په یوقراءت کښې کسره سره دې دَ قول تقدیر سره (یُبَشِّرُ) مشدد
اوغیرمشدد دواړه قراءتونه دی. چې دَ کلمة الله کوم چې دَ الله تعالی دَ طرف نه وی یعنی دَ
عیسیٰ علیه السلام تصدیق کونکې به وی چې هغه روح الله دې اودَهغه نوم کلمه کیخودې شوه
ځکه چې هغه دَ کلمه کُنْ په ذریعه سره پیداکړې شوې اومقتداء به وی او ډیرزیات ضبط
نفس والا به وی. اودَښځونه به ډیر ځان ساتونکې وی او په نبوت باندې به سرفراز وی په
صالحینو کښې به شمیرلې شی، روایت کړې شوې دې چې هغه نه کله دَخطاء ارتکاب کړې
دې او نه ئی کله دَدې اراده کړې. (زکریا علیه السلام) اووئیل اې زما پروردګار زما به څوئی څنګه

کيږی؟ زه بوډا شوی يم يعنې دَ يوسل او شل کالو آخری عمر ته رسيدلې يم اوزما بی بی شنډه ده چې دوه کم سلوکالوته رسيدلې ده. جواب ملاؤ شو تاسو دواړو نه به دَ خوئی دَتخليق معامله داسې کيږی چې الله تعالی څه غواړی هم هغه کيږی هيڅ يوشئ هغه عاجز کولې نه شي. اود قدرت عظيمه ښکاره کولودپاره الله تعالی هغه ته سوال الهام کړو چې په قدرت عظيمه سره جواب ورکړی، اوکله چې دَحضرت زکريا عليه السلام دَ نفس مبشربه په تادئی سره غوښتونکې شو نوعرض ئی اوکړو اې زما ربه ته زمادَ پاره زما دَ بی بی دَحامله کيدوڅه نښه مقررکړه الله تعالی اوفرمائيل په دې باندې ستا نشانی داده چې ته به خلقو سره دَ دريو ورځوپورې سره دَهغې دَ شپو دَ اشارې نه علاوه خبرې نه شې کولې. يعنې خلقو سره به کلام کولوباندې قادر نه ئی په خلاف دَ الله تعالی دَ ذکر، او خپل رب په کثرت سره ياده وه سحر اومابنام يعنې آخردَ ورځې او اول دَ ورځې کښې تسبيح کوه.

دَ قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: بمعنی اَنَّهٗ يُثِيْبُكُمْ، دَ يُحْبِبْكُمُ اللهُ تفسير يُثِيْبُكُمْ سره کولوسره دَ يوسوال جواب ورکړې دې.

سوال: دَالله تعالی طرف ته دَ محبت نسبت کول صحيح نه دی ځکه چې محبت ميلان القلب الی الشئ ته وئيلې شی دادَ ذات خداوندی دَپاره محال دې.

جواب: دَ محبت کولو نه مراد اجر او ثواب ورکول دی.

قوله: اَعْرَضُوْا دې کښې اشاره ده چې تَوَلَّوْادَماضی صيغه ده نه چې دَمضارع لکه چې بعض حضراتو وئيلی دی، ځکه چې دَ مضارع په صورت کښې دَ يوتاء حذف لازم راځې. دعموم په قصدسره اوپه دې خبره دلالت کولودَپاره چې اعراض سبب دکفردې، د هُم ضمير په ځائی اسم ظاهر الکافرين راوړلې دې. يعنې د لايُحِبُّهُمْ په ځائی الکٰفِرِيْنَ وئيلې دې.

قوله: مِنَ التَّوْحِيد، داهم دَ يوسوال جواب دې.

سوال: دَاعمال فرعيه نه اعراض کول موجب کفرنه دې، حالانکه دلته فرمائيلی شوی دی اِنَّ اللهَ لَايُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ دَدې نه معلوميږی چې اعراض عن الاعمال الفرعيه مرکب موجب کفر دی.

جواب: دلته دَ اعراض نه مراد اعراض عن التوحيد دې کوم چې موجب کفردې.

قوله: بمعنی انفسهما، آل ابراهيم عليه السلام او آل عمران نه مراد پخپله ابراهيم عليه السلام اوعمران دې ځکه چې دَدوی په آل کښې کافران اومؤمنان ټول دی حالانکه کافر مراد نه دی، عمران دَ حضرت موسی عليه السلام دَ پلار نوم دې. دَ موسیٰ عليه السلام نسب نامه داسې ده موسیٰ بن عمران بن

يصهر بن قاهث بن لاوى بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام او دَ حضرت مريم دَ پلارنوم هم عمران دې دَهغه سلسله نسب داسې ده حضرت مريم بنت عمران بن ماثان بن يهوذ ابن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام. دَدواړو عمرانانو په مينځ کښې دَ يو زر اتو سوو کالو فاصله ده.

قوله اَنْ اَجْعَلَ، د نذرتُ تفسير اَنْ اَجْعَلَ سره کولو سره دَ يو سوال جواب مقصود دې

سوال نذر دَ فعل منلې شی نه چې دَ شئ او دَ ذات، مافی بطنی ذات دې نه چې فعل

رومبې جواب اَنْ اَجْعَلَ وئيلو سره ددغه سوال جواب ورکړې دې، اونذر منل فعل دې نه چې عين، په دې کښې دَدې سوال جواب هم دې چې نذرتُ متعدی په يو مفعول دې حالانکه دلته دوه مفعولو طرف ته متعدی دې يو مافی بطنی او دويم محررًا.

دويم جواب نذرتُ په معنی کښې دَ جَعَلَ دې او جَعَلَ متعدی په دوو مفعولو وی.

قوله ای جبرئيل دادَهغه سوال جواب دې چې دَ نادتُ فاعل ملائك دی حالانکه آواز ورکونکې ځان له حضرت جبرائيل عليه السلام دې.

جواب الف لام دَ جنس دې اودلته اقل جنس مراد دې يعنی يوکس اوهغه حضرت جبرائيل عليه السلام دې.

[اياتونه:٤٢-٥٤]

{و} اُذْكُرْ {إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ} أَيْ جِبْرِيل {يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاكِ} اخْتَارَكِ {وَطَهَّرَكِ} مِنْ مَسِيس الرِّجَال {وَاصْطَفَاكِ عَلَى نِسَاءِ الْعَالَمِينَ} أَيْ أَهْل زَمَانك {يَا مَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ} أَطِيعِيهِ {وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ} أَيْ صَلِّي مَعَ الْمُصَلِّينَ {ذَلِكَ} الْمَذْكُور مِنْ أَمْر زَكَرِيَّا وَمَرْيَم {مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ} أَخْبَار مَا غَابَ عَنْك {نُوحِيهِ إِلَيْكَ} يَا مُحَمَّد {وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ} فِي الْمَاء يَقْتَرِعُونَ لِيَظْهَر لَهُمْ {أَيُّهُمْ يَكْفُلُ} يُرَبِّي {مَرْيَمَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ} فِي كَفَالَتهَا فَتَعْرِف ذَلِكَ فَتُخْبِر بِهِ وَإِنَّمَا عَرَفْته مِنْ جِهَة الْوَحْي اُذْكُرْ {إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ} أَيْ جِبْرِيل {يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ} أَيْ وَلَد {اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ} خَاطَبَهَا بِنِسْبَتِهِ إِلَيْهَا تَنْبِيهًا عَلَى أَنَّهَا تَلِدهُ بِلَا أَب إِذْ عَادَة الرِّجَال نِسْبَتهمْ إِلَى آبَائِهِمْ {وَجِيهًا} ذَا جَاه {فِي الدُّنْيَا} بِالنُّبُوَّةِ {وَالْآخِرَةِ} بِالشَّفَاعَةِ وَالدَّرَجَات الْعُلَا {وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ} عِنْد اللَّه {وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ} أَيْ طِفْلًا قَبْل وَقْت الْكَلَام {وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ} {قَالَتْ رَبِّ أَنَّى} كَيْفَ {يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ} بِتَزَوُّجٍ وَلَا غَيْره {قَالَ} الْأَمْر {كَذَلِكِ} مِنْ خَلْق وَلَد مِنْك بِلَا أَب {اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ إِذَا قَضَى أَمْرًا} أَرَادَ خَلْقه {فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ} أَيْ فَهُوَ يَكُون {وَيُعَلِّمُهُ} بِالنُّونِ وَالْيَاء {الْكِتَابَ} الْخَطّ {وَالْحِكْمَةَ} {وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ} {و}

يجعله {رَسُولًا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيل} فِي الصِّبَا أَوْ بَعْد الْبُلُوغ فَنَفَخَ جِبْرِيل فِي جَيْب دِرْعهَا فَحَمَلَتْ وَكَانَ مِنْ أَمْرهَا مَا ذُكِرَ فِي سُورَة مَرْيَم فَلَمَّا بَعَثَهُ اللّٰه إِلَى بَنِي إِسْرَائِيل قَالَ لَهُمْ إِنِّي رَسُول اللّٰه إِلَيْكُمْ {أَنِّي} أَيْ بِأَنِّي {قَدْ جِئْتُكُمْ بِآيَةٍ} عَلَامَة عَلَى صِدْقِي {مِنْ رَبِّكُمْ} هِيَ {أَنِّي} وَفِي قِرَاءَة بِالْكَسْرِ اسْتِئْنَافًا {أَخْلُقُ} أُصَوِّر {لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ} مِثْل صُورَته فَالْكَاف اسْم مَفْعُول {فَأَنْفُخُ فِيهِ} الضَّمِير لِلْكَافِ {فَيَكُونُ طَيْرًا} وَفِي قِرَاءَة طَائِرًا {بِإِذْنِ اللّٰهِ} بِإِرَادَتِهِ فَخَلَقَ لَهُمْ الْخُفَّاش لِأَنَّهُ أَكْمَل الطَّيْر خَلْقًا فَكَانَ يَطِير وَهُمْ يَنْظُرُونَهُ فَإِذَا غَابَ عَنْ أَعْيُنهمْ سَقَطَ مَيِّتًا {وَأُبْرِئُ} أَشْفِي {الْأَكْمَهَ} الَّذِي وُلِدَ أَعْمَى {وَالْأَبْرَصَ} وَخُصَّا بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُمَا دَاءَا إِعْيَاء وَكَانَ بَعْثه فِي زَمَن الطِّبّ فَأَبْرَأَ فِي يَوْم خَمْسِينَ أَلْفًا بِالدُّعَاءِ بِشَرْطِ الْإِيمَان {وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّٰهِ} كَرَّرَهُ لِنَفْيِ تَوَهُّم الْأُلُوهِيَّة فِيهِ فَأَحْيَا عَازَر صَدِيقًا لَهُ وَابْن الْعَجُوز وَابْنَة الْعَاشِر فَعَاشُوا وَوُلِدَ لَهُمْ وَسَام بْن نُوح وَمَاتَ فِي الْحَال {وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ} تُخَبِّئُونَ {فِي بُيُوتِكُمْ} مِمَّا لَمْ أُعَايِنهُ فَكَانَ يُخْبِر الشَّخْص بِمَا أَكَلَ وَبِمَا يَأْكُل بَعْد {إِنَّ فِي ذَٰلِكَ} الْمَذْكُور {لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} {وَ} جِئْتُكُمْ {مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ} قَبْلِي {مِنَ التَّوْرَاةِ وَلِأُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ} فِيهَا فَأَحَلَّ لَهُمْ مِنَ السَّمَك وَالطَّيْر مَالَا صِيصَة لَهُ وَقِيلَ أَحَلَّ الْجَمِيع فَبَعْض بِمَعْنَى كُلّ {وَجِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ} كَرَّرَهُ تَأْكِيدًا وَلِيَبْنِيَ عَلَيْهِ {فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُونِ} فِيمَا آمُرُكُمْ بِهِ مِنْ تَوْحِيد اللّٰه وَطَاعَته {إِنَّ اللّٰهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا} الَّذِي آمُرُكُمْ بِهِ {صِرَاطٌ} طَرِيق {مُسْتَقِيمٌ} فَكَذَّبُوهُ وَلَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ {فَلَمَّا أَحَسَّ} عَلِمَ {عِيسَىٰ مِنْهُمُ الْكُفْرَ} وَأَرَادُوا قَتْله {قَالَ مَنْ أَنْصَارِي} أَعْوَانِي ذَاهِبًا {إِلَى اللّٰهِ} لِأَنْصُر دِينه {قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللّٰهِ} أَعْوَان دِينه وَهُمْ أَصْفِيَاء عِيسَى أَوَّل مَنْ آمَنَ بِهِ وَكَانُوا اثْنَيْ عَشَرَ رَجُلًا مِنَ الْحَوَر وَهُوَ الْبَيَاض الْخَالِص وَقِيلَ كَانُوا قَصَّارِينَ يُحَوِّرُونَ الثِّيَاب أَيْ يُبَيِّضُونَهَا {آمَنَّا} صَدَّقْنَا {بِاللّٰهِ وَاشْهَدْ} يَا عِيسَى {بِأَنَّا مُسْلِمُونَ} {رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ} مِنَ الْإِنْجِيل {وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ} عِيسَى {فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ} لَكَ بِالْوَحْدَانِيَّة وَلِرَسُولِك بِالصِّدْقِ قَالَ تَعَالَى {وَمَكَرُوا} أَيْ كُفَّار بَنِي إِسْرَائِيل بِعِيسَى إِذْ وَكَّلُوا بِهِ مَنْ يَقْتُلهُ غِيلَة {وَمَكَرَ اللّٰهُ} بِهِمْ بِأَنْ أَلْقَى شَبَه عِيسَى عَلَى مَنْ قَصَدَ قَتْله فَقَتَلُوهُ وَرَفَعَ عِيسَى إِلَى السَّمَاء {وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ} أَعْلَمهُمْ بِهِ

ترجمه: او هغه وخت یادکړئ کله چې فرښتو یعنی جبرائیل علیه السلام او ونیل ای مریم بیشکه الله تعالی ته غوره کړې او دَ سرو دَ لاس لګولونه نې ته پاکه کړئ او ته ئې دَ دنیا جهان دَ ښځو په مقابله کښې یعنی دَ خپلې زمانې دَ ښځو په مقابله کښې غوره کړئ. ای مریم ته دَ خپل رب اطاعت کوه او سجده کوه او رکوع کونکوسره رکوع کوه یعنی دَ مونځ کونکوسره مونځ کوه. دا مذکوره واقعات (یعنی) دَ زکریا علیه السلام او دَ بی بی مریم واقعه دَغیبودَ خبرونه دی یعنی دَهغه خبرونه چې دَ تاسو نه دَغیب پرده کښې دی. مونږ تاسو ته ای محمد صلی الله علیه وسلم وحی کوو او کوم وخت چې هغوی خپل قلمونه دَ خسنړی ویستو دَپاره په اوبو کښې غورزول دې دَپاره چې

هغوی ته داخبره ښکاره شی چې دَ مریم سرپرستی به څوک وی؟ اودَهغې په سرپرستئ کښې چې هغوی اختلاف کولو نوته هغوی سره موجودنه وې چې تادا واقعه پیژندله دَ کوم په وجه چې تاسو دوی ته خبر ورکوئې تاته خو علم دَ وحې په ذریعه شوې دې. او هغه وخت یادکړه کله چې فرښتو یعنی جبرائیل علیه السلام اووئیل اې مریم الله تعالی تاته زیرې درکوی دَخپل طرف نه یوې کلمې یعنی دَ هلك چې دَهغه نوم (اولقب) به مسیح عیسی ابن مریم وی، دَ بچی دَ مریم طرف ته نسبت کول مریم ته خطاب په دې خبره باندې تنبیه کولودپاره اوکړو چې هغه به دا بغیردَ پلار نه راوړی اودَ خلقو عادت دَهغوی دَ پلار طرف ته دَ نسبت کولو دې په دنیاکښې دَ نبوت دَ وجې نه او په آخرت کښې دَ شفاعت اواعلی درجات دَ وجې نه دَالله تعالی په نیز معزز اومقربینو نه به وی. اوهغه به خلقو سره په زانګوکښې یعنی وړوکوالی کښې دَخبرو کولو دَعمر نه وړاندې خبرې کوی او په پوخ عمرکښې هم، اودَ صالحینونه به وی. هغې اووئیل اې زما پروردګار زما څوئی به څنګه کیږی په داسې حال کښې چې نه زما یوسړی سره نکاح شوې ده اونه بغیردَ نکاح نه دَ چا لاس لګیدلې دې ارشاد اوشو بغیردَ پلار نه به تانه د هلك پیدا کیدلو معامله هم داسې وی. الله تعالی چې څه غواړی پیدا کوی اوکله چې دَ یوڅیز دَ پیدا کولواراده کوی نودَهغې دَ پاره کن وائی نوهغه کیږی اوهغه به ده ته تعلمه، یعلمه نون اویاء سره دې لیکل ښائی او تورات او انجیل به ورته ښائی اومونږ به هغه ته په وړوکوالی او بالغ کیدونه پس دَ بنی اسرائیلو پیغمبر جوړه وو. چنانچې جبرائیل علیه السلام دَ هغې دَ قمیص ګریوان کښې پوکې اووهلو نوهغه حامله شوه. اودَهغې قصه داسې اوشوه کومه چې په سورت مریم کښې ده. نو چې کله هغه بنی اسرائیلو ته مبعوث کړو نوهغه بنی اسرائیلو ته اوفرمائیل زه ستاسوطرف ته دَالله تعالی رسول یم (او وائی به) ماتاسو له په خپل صداقت باندې ستاسو دَ رب دَطرف نه نشانی راوړلې راغلې یم، هغه دا چې زه او په یوقراءت کښې په صورت انّی کسره سره دې دَاستیناف دَپاره. ستاسودَپاره دَ خاورې نه دَ مرغو په شان صورت جوړوم یعنی دَمرغنی په شان صورت اودَ کَهَیْئَة کاف اسم مفعول دې، بیا په هغې کښې دم کوم نوهغه دَالله تعالی په حکم سره مرغئی جوړیږی او په یوقراءت کښې طائرًا دې. نودَهغوی دَپاره ئې ښاپیرك پیداکړو څکه چې هغه په مرغو کښې دَتخلیق په اعتبار سره کامل ترین دې هغه به الوتلو اوهغوی به دا کتلو. اوکله چې به هغه دَ هغوی دَ نظر نه غائب شو نو هغه به مړشو پریوتلوبه، او زه دَالله په حکم سره دَ مورنه پیداشوی ړانده او برګ دَ دې دواړو مرضونو دَ تخصیص وجه دا ده چې دې دواړو طبیبان عاجز کړی وو اودَ هغوی بعثت دَ طب په زمانه کښې شوې وو. په یوه ورځ دَ ایمان په شرط سره دَ دعا په ذریعه پنځوس زره صحت مند کړل اودَ الله تعالی په حکم باندې مړی ژوندی کوم باذن الله ئې مکرر ذکرکړې دې په هغوی کښې دَ الوهیت دَ وهم دَ نفی کولودَپاره. هغه خپل دوست عاذر او دَ بودئی

خونی اوږ عشر وصولونکي لور راژوندی کړل. دا خلق (دَ يوې مودې پورې) ژوندی وو او صاحب اولاد شو، او سام بن نوح ئې راژوندې کړو (مګر) هغه هم هغه وخت مړشو، اوزه تاسوته ښایم کوم چې تاسو خورئی اوکوم څه چې تاسو پټولو سره ایږدئی په خپلوکورونوکښې. دغه څیزونه کوم چې ماکتلې هم نه دی، نو هغوی به سړو ته خودل چې هغه څه خوړلی دی؟ او راتلونکی وخت کښې به څه خوری؟ بیشکه په دغه مذکوره واقعاتوکښې ستاسو دَپاره نشانې دی که چرې تاسو ایمان لرئی او زه تاسو له دَخپل ځان نه وړاندې (کتاب) دَ تورات اوانجیل تصدیق کونکې راغلې یم. (او دَ دې دپاره راغلې یم) کوم څه چې په تاسو په تورات کښې حرام کړې شوی دی ټول حلال کړم (په دې صورت کښې) بعض به په معنی دَ کل وی او زه تاسو له ستاسو دَ رب دَ طرف نه نشانی راوړلې راغلې یم دائی دَ تاکید دَپاره مکرر راوړلې دې یا ځکه چې د (فاتقواالله واطیعون) بنا پرې اوشی. لهذا دَالله تعالی نه ویریږئی اوږ کوم چې زه تاسو ته حکم درکړم په هغې کښې زما اطاعت کوئی اوهغه دَالله تعالی توحید اوږهغه اطاعت دې، بیشکه الله تعالی زما هم رب دې او ستاسو هم رب دې، بس دَهغه عبادت کوئی هم دغه هغه نیغه لار ده دَ کومې چې زه تاسو ته حکم درکوم مګر هغوی دَ (عیسی علیه السلام) تکذیب اوکړو او په هغه باندې ئې ایمان رانوړو. کله چې حضرت عیسی علیه السلام دَهغوی دَ طرف نه انکارمحسوس کړو اوهغوی دَ ده دَقتل کولواراده اوکړه، نو هغه اوفرمائیل دَ الله تعالی دَپاره به زما څوک امدادی وی؟ حال دا چې زه دَ الله طرف ته تلونکې یم دې دَپاره چې زه دَهغه دَ دین امداد اوکړم نو حواریانو اووئیل مونږ یو دَ الله تعالی امدادیان یعنی دَهغه دَ دین امدادی. اودغه دَحضرت عیسی علیه السلام منتخب کړې شوی خلق وو او په هغه باندې دَ ټولو نه اول ایمان راوړونکونه وو، او هغه دولس سړی وو (حواریان) دَ حَوَرٌ نه مشتق دی دَ دې معنی خالص سپینوالې دې. وئیلې شوی دی هغه دهوبیان وو چې کپړې به سپینولې (صفا) کولې. مونږ دَالله تعالی تصدیق کړو او اې عیسی علیه السلام ته ګواه اوسیږه چې مونږ حکم منونکی یو اې زمونږ پروردګار مونږ ایمان راوړې په انجیل باندې کوم چې تا نازل کړې دې او مونږ دَ رسول اتباع اوکړه چې عیسی علیه السلام دې نو مونږ هم دَ خپل توحید دَ ګواهانوسره اوږ خپل رسول اتباع کونکوسره اولیکه، الله تعالی اوفرمائیل دَبنی اسرائیلو کافرانو عیسی علیه السلام سره تدبیراوکړو کوم وخت چې هغه هغه خلقو ته حواله کړو چې هغوی ناخاپی قتل کول غوښتل اوالله هم هغوی سره خفیه تدبیراوکړو په داسې طریقه چې په هغه سړی باندې چا چې عیسی علیه السلام قتل کول غوښتل په هغه ئې دعیسی علیه السلام رنګ اوتشبیه واچولې خلقو هم هغه قتل کړو او عیسی علیه السلام ئې آسمان ته اوچت کړو. او الله تعالی پټ تدبیرکونکوکښې دَ ټولونه بهتردې یعنی خفیه تدبیر دَهغوی نه زیات پیژندونکې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: وَإِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ، دا په سابقه قَالَتْ باندې عطف قصه علی القصه ده، قصه د بنت په قصه د اُم باندې عطف کړې شوې ده مناسبت ظاهر دې. او بعض حضراتو د اذکر فعل مقدر دَ وجې نه منصوب وئیلی دی دَمفسرعلام هم دغه رائې ده.

قوله: ای جبرئیل، دې کښې اشاره ده چې الملائکة اسم جنس دې مراد ادنیٰ فرد یعنی واحد دې یا الملائکة دَ جبرائیل علیه السلام دَ تعظیم په توګه سره جمع راوړلې شوې دې.

قوله: اِصْطفیٰ اِصْطفاءٌ نه ماضی واحد مذکر غائب، هغه خوښ کړو، هغه غوره کړو، هغه منتخب کړو.

قوله: ای وَلَدٍ دا د کلمةٍ تفسیر دې.

قوله: اَلْمَسِيْحُ عيسى عیسیٰ د المسیح نه بدل دې. دَهغوی لقب مسیح دې او مسیح په عبرانی ژبه کښې مبارک ته هم وائی، مسیح ته مسیح ځکه وئیلو چې هغه به سفر اوسیاحت ډیر کولو یا په دې وجه چې هغوی به کوم مریض مسح کولو هغه به ټیک کیدلو.

قوله: عیسیٰ دا ایسوع نه ماخوذ دې او وئیلی شوی دی چې دَالعیس نه ماخوذ دې هغه سپینوالی ته وائی په کوم کښې چې سرخی غالب وی. چونکه هغه غنم رنګې وو په دې وجه هغه ته عیسیٰ وئیلې شوی دې.

قوله: ابن مریم، داد مبتداء محذوف، هُوَ خبر دې.

قوله: وَجِيْهًا دا د کلمةٌ نه حال دې اګرچې کلمة نکره دې مګر موصوفه دې ای کلمةٍ کائنةٍ منه.

قوله: ای طِفْلاً الخ دې کښې اشاره دد چې دَالمهد نه مراد زانګو نه ده بلکه حالت طفولیت دې کد دکلام کولو په وخت په زانګو کښې وی او که دَ مور په غیږ یا په بستره باندې.

قوله: ومن الصالحین دَدې عطف په وَجِيْهًا باندې دې.

قوله: فهو يكونُ دې کښې اشاره ده چې يكون، هُوَ دَمبتداء محذوف خبر دې.

قوله: الخط د الكتبَ تفسیر په الخط سره کولو مقصد دَ یوسوال جواب دې.

سوال: د التوراة او انجيل عطف الكتاب باندې صحیح نه دې ځکه چې په کتاب کښې انجیل او تورات دواړه شامل دی لهذا داعطف الشئ علی نفسه دَ قبیل نه به شی.

جواب: الكتاب نه مراد الكتابة دې دَدې طرف ته په الخط سره اشاره فرمائیلې ده.

قوله: هِيَ آن، هِيَ محذوف منلوسره اشاره اوکړه چې اَنْ سره د خپل مابعد د مبتداء

محذوف خبر دي نه چې أني قد جئتكم نه بدل كيدو دَ وجې نه منصوب

قوله الكاف اسم مفعول، دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ يو سوال جواب دې

سوال فَأَنْفُخُ فِيهِ، دَ فِيهِ ضمير كَهَيْئَةِ الطير كښې دكاف طرف ته راجع دې او كاف حرف دې او حرف طرف ته ضمير راجع كيدې نه شي.

جواب كاف په معنى دَ مثل دې كوم چې اسم مفعول دې، مماثل هَيْئَةِ الطير، لهذا اوس څه اشكال پاتې نه شو.

[اياتونه:٥٥-٦٣]

{إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَىٰ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ} قابضك {وَرَافِعُكَ إِلَيَّ} مِنَ الدُّنْيَا مِنْ غَيْرِ مَوْتٍ {وَمُطَهِّرُكَ} مُبْعِدُكَ {مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ} صَدَّقُوا بِنُبُوَّتِكَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالنَّصَارَى {فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا} بِكَ وَهُمُ الْيَهُودُ يَعْلُونَهُمْ بِالْحُجَّةِ وَالسَّيْفِ {إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ} مِنْ أَمْرِ الدِّينِ {فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا} بِالْقَتْلِ وَالسَّبْيِ وَالْجِزْيَةِ {وَالْآخِرَةِ} بِالنَّارِ {وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ} مَانِعِينَ مِنْهُ {وَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ} بِالْيَاءِ وَالنُّونِ {أُجُورَهُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ} أَيْ يُعَاقِبُهُمْ روي أنه تَعَالَى أَرْسَلَ إِلَيْهِ سَحَابَةً فَرَفَعَتْهُ فَتَعَلَّقَتْ بِهِ أُمُّهُ وَبَكَتْ فَقَالَ لَهَا إِنَّ الْقِيَامَةَ تَجْمَعُنَا وَكَانَ ذَلِكَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ وَلَهُ ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ سَنَةً وَعَاشَتْ أُمُّهُ بَعْدَهُ سِتَّ سِنِينَ وَرَوَى الشَّيْخَانِ حَدِيثَ أَنَّهُ يَنْزِلُ قُرْبَ السَّاعَةِ وَيَحْكُمُ بِشَرِيعَةِ نَبِيِّنَا وَيَقْتُلُ الدَّجَّالَ وَالْخِنْزِيرَ وَيَكْسِرُ الصَّلِيبَ وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ وَفِي حَدِيثِ مُسْلِمٍ أَنَّهُ يَمْكُثُ سَبْعَ سِنِينَ وَفِي حَدِيثٍ عَنْ أَبِي دَاوُدَ الطَّيَالِسِيِّ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتَوَفَّى وَيُصَلَّى عَلَيْهِ فَيَحْتَمِلُ أَنَّ الْمُرَادَ مَجْمُوعُ لُبْثِهِ فِي الْأَرْضِ قَبْلَ الرَّفْعِ وَبَعْدَهُ {ذَٰلِكَ} الْمَذْكُورُ مِنْ أَمْرِ عِيسَى {نَتْلُوهُ} نَقُصُّهُ {عَلَيْكَ} يَا مُحَمَّدُ {مِنَ الْآيَاتِ} حَالٌ مِنَ الْهَاءِ فِي نَتْلُوهُ وَعَامِلُهُ مَا فِي ذَلِكَ مِنْ مَعْنَى الْإِشَارَةِ {وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ} الْمُحْكَمِ أَيِ الْقُرْآنِ {إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ} شَأْنَهُ الْغَرِيبَ {عِنْدَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ} كَشَأْنِهِ فِي خَلْقِهِ مِنْ غَيْرِ أَبٍ وَهُوَ مِنْ تَشْبِيهِ الْغَرِيبِ بِالْأَغْرَبِ لِيَكُونَ أَقْطَعَ لِلْخَصْمِ وَأَوْقَعَ فِي النَّفْسِ {خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ} بَشَرًا {فَيَكُونُ} أَيْ فَكَانَ وَكَذَلِكَ عِيسَى قَالَ لَهُ كُنْ مِنْ غَيْرِ أَبٍ فَكَانَ {الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ} خَبَرُ مُبْتَدَأٍ مَحْذُوفٍ أَيْ أَمْرُ عِيسَى {فَلَا تَكُنْ مِنَ الْمُمْتَرِينَ} الشَّاكِّينَ فِيهِ {فَمَنْ حَاجَّكَ} جَادَلَكَ مِنَ النَّصَارَى {فِيهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ} بِأَمْرِهِ {فَقُلْ} لَهُمْ {تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ} فَنَجْمَعُهُمْ {ثُمَّ نَبْتَهِلْ} نَتَضَرَّعْ فِي الدُّعَاءِ {فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ} بِأَنْ نَقُولَ اللَّهُمَّ الْعَنِ الْكَاذِبَ فِي شَأْنِ عِيسَى وَقَدْ دَعَا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفْدَ نَجْرَانَ لِذَلِكَ لَمَّا حَاجُّوهُ بِهِ فَقَالُوا حَتَّى نَنْظُرَ فِي أَمْرِنَا ثُمَّ نَأْتِيكَ فَقَالَ ذُو رَأْيِهِمْ لَقَدْ عَرَفْتُمْ نُبُوَّتَهُ وَأَنَّهُ مَا بَاهَلَ قَوْمٌ نَبِيًّا إِلَّا هَلَكُوا فَوَادَعُوا الرَّجُلَ وَانْصَرِفُوا فَأَتَوُا الرَّسُولَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ خَرَجَ وَمَعَهُ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ وَفَاطِمَةُ وَعَلِيٌّ وَقَالَ لَهُمْ إِذَا دَعَوْتُ فَأَمِّنُوا فَأَبَوْا أَنْ يُلَاعِنُوا

وَصَالَحُوهُ عَلَى الْجِزْيَةِ رَوَاهُ أَبُو نُعَيْم وَعَنْ ابن عَبَّاس قَالَ لَوْ خَرَجَ الَّذِينَ يُبَاهِلُونَ لَرَجَعُوا لَا يَجِدُونَ مَالًا وَلَا أَهْلًا وَرُوِيَ لَوْ خرجوا لاحترقوا {إِنَّ هَذَا} الْمَذْكُور {لَهُوَ الْقَصَصُ} الْخَبَر {الْحَقُّ} الَّذِي لَا شَكَّ فِيهِ {وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا اللَّهُ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ} فِي مُلْكِه {الْحَكِيمُ} فِي صُنْعِه {فَإِنْ تَوَلَّوْا} أَعْرَضُوا عَنْ الْإِيمَان {فَإِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ} فَيُجَازِيهِمْ وَفِيهِ وَضْع الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر

ترجمه: (هغه وخت هم قابل ذکر دی) کله چې الله تعالی حضرت عیسی علیه السلام ته اوفرمائیل اې عیسی زه تا وفات کونکې (یعنی) تا (خپله) قبضه کښې اخستونکې یم او د دنیانه بغیر د مرګ نه خپل طرف ته اوچتونکې یم او د هغه خلقو نه تا پاک جدا کونکې یم کوم چې منکر شو او هغه خلق چاچې ستا تابعداری اوکړه (یعنی) د مسلمانانو او نصاری نه چاچې ستا تصدیق اوکړو په هغه خلقو باندې څوک چې ستانه منکر شو ترقیامته پورې غلبه ورکونکې یم او هغه (منکرین یهود دی هغه په (یهودو باندې) به په دلیل او د توریې په ذریعه غالب وی. بیابه ستاسو ټولو واپسی زما طرف ته کیږی نوزه به ستاسو په مینځ کښې په دینی معامله کښې فیصله کوم، کوم خلقو چې کفر کړې نوزه به هغوی ته سخت عذاب ورکوم په دنیا کښې د قید او قتل جزیه په ذریعه او په آخرت کښې د اور په ذریعه او د هغوی به څوک د عذاب نه بچ کونکی نه وی او کوم خلقو چې ایمان راوړې او نیک عمل ئې اوکړو نوزه به هغوی ته پوره پوره بدله ورکوم د یاء او نون سره. او الله تعالی ظالمان دوستان نه ساتی یعنی هغوی ته به سزا ورکوی. روایت کړې شوې دې چې الله تعالی یوه وریځ راوړلیکله نوهغې حضرت عیسی علیه السلام اوچت کړو نو هغه د هغه مور اونیولو و په ژړا شوه نو حضرت عیسی علیه السلام هغې ته اوفرمائیل قیامت به مونږ راجمع کړی اودا واقعه په لیلة القدر کښې په بیت المقدس کښې پیښه شوې وه هغه وخت د حضرت عیسی علیه السلام عمر درې دیرش کاله وو او د هغوی مور بی بی د هغه نه پس شپږ کاله ژوندئې وه. او په یو حدیث شریف کښې چې شیخینو حضراتو روایت کړې دې چې هغه به قیامت سره نیزدې نازلیږی او زمونږ د محمد صلی الله علیه وسلم د شریعت مطابق به فیصله کوی او دجال او خنزیر به قتل کوی. او صلیب به ماتوی او جزیه به مقرر کوی. او د مسلم شریف په حدیث کښې دی چې عیسی علیه السلام (دنیاکښې) به اووه کاله قیام کوی. او د ابوداؤد طیالسی رحمه الله په حدیث کښې دی چې څلویښت کاله به قیام کوی. او هغه به وفات کولې شی او په هغه باندې به مونځ کولې شی اودا هم احتمال دې چې قبل الرفع او بعد الرفع په دنیاکښې د قیام مجموعی موده مراد ده. اې محمد صلی الله علیه وسلم د حضرت عیسی علیه السلام د غه مذکوره واقعه کومه چې مونږ تاته اوره وو د نشانونه ده (من الآیات) د (نتلوه) د ها نه حال دې او عامل په دې کښې د ذلك معنی (یعنی) أشیر دې. او محکم ذکر یعنی قرآن کریم دې بیشکه د حضرت عیسی علیه السلام شان عجیبه، بغیر د پلار نه د هغوی تخلیق کښې د الله

تعالی په نیز دَ حضرت آدم علیه السلام دَ عجیبه شان په شان دي اودا دَ عجیب د اعجب سره دَ تشبیه
دَ تبیل نه دي ځکه چې دَ مخالف دَپاره مسکت، او اوقع فی النفس وي، آدم علیه السلام یعنې دَ دغه
جوسه دَ خاورې نه پیدا کړه بیا هغه ته اوویلې شو بشر شه نو هغه (بشر) شو، دغه شان حضرت
عیسیٰ علیه السلام ته اوفرمائیل چې بغیر دَ پلار نه پیدا شه نو هغه شو. دا حق امر ستا دَ رب دَ طرف
نه دي (دا) دَ مبتداء محذوف خبر دي، ای أمر عیسیٰ علیه السلام. لهذا په دې کښې ته دَ شک کونکو نه مه
کیږه. بیا چې څوک په نصاری کښې تاسره په دې باب حجت اوکړي پس دَ هغې نه چې تاسو دَ
عیسیٰ علیه السلام په معامله کښې علم رسیدلې وي نو هغوی ته اووایه (بنه ده) راشئ چې مونږ خپل
ځامن راؤغواړو او ستاسو ځامن هم او خپلې ښځې هم او ستاسو ښځې هم او پخپله مونږ او تاسو هم
(راځئ) چې دا ټول راجمع کړو بیا په عاجزئ سره دعا اوکړو او په دروغژنو باندې دَ الله تعالی
لعنت اوکړو او نبی ﷺ سره چې کله هغوی په دې معامله کښې جګړه اوکړه نو رسول الله
ﷺ دَ نجران وفد ته دَ مباهله دعوت ورکړو، نو هغه خلقو اوویل چې مونږ به په خپله
معامله کښې غور اوکړو. بیا به مونږ تاسو له راشو، نو دَ هغوی صاحب الرائې هغوی ته
اوویل تاسو دَ هغه نبوت پیژندلې دې او واقعه داده چې یو قوم خپل نبی سره مباهله نه
ده کړې مګر دا چې هغوی هلاک شوی دي. لهذا تاسو دې سړي سره صلح اوکړئ او
واپس لاړشئ (دَ مشورې نه پس) هغه خلق حضور پاک له راغلل او حال دا دې چې هغوی
دَ (مباهله) دَپاره راوتلې وو. او رسول الله ﷺ سره حضرت حسن، حضرت حسین،
حضرت فاطمه او حضرت علی رضی الله عنهم وو. حضور پاک هغوی ته اوفرمائیل چې کله زه
دعا کوم تاسو آمین وایئې نو هغوی دَ مباهله نه انکار کولو سره صلح اوکړه. روایت کړې
دې چې ددې ابونعیم او روایت کړې دې ابوداؤد چې هغوی په دوه سوه حُلو (جوړو)
باندې صلح اوکړه. نیم دَ صفر په میاشت کښې او باقي دَ رجب په میاشت کښې. او دیرش
زغرې، دیرش اسونه او دیرش اوښان او دَ هر قسم وسلونه دیرش دیرش باندې (صلح
اوکړه) او امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت کړې دې
چې حضور پاک اوفرمائیل که چرې دوی دَ مباهله کولو دَپاره راوتلې نو په دا سې حال
کښې به واپس کیدل چې نه به ورسره مال (باقي) پاتې وو او نه به ئې اهل (ژوندي) پاتې
شوي وو. او طبراني مرفوعًا روایت کړې دې که چرې وتلې وې نو سوزیدلې به وې
بیشکه دا ذکر شوې ریښتونې خبر دې په کوم کښې چې شك نشته او دَ الله تعالی نه علاوه بل
څوک معبود نشته مِن زائده دې. بیشکه هم الله تعالی زبردست دې په خپل ملك کښې حکمت
والا دې په خپل صنعت کښې. نو که دوی (اوس هم) کبر اوکړي (یعنې) دَ ایمان نه اعراض
اوکړي نو بیشکه الله تعالی ښه پیژني مفسدان او هغوی ته به سزا ورکوي په دې کښې ضمیر
دَ اسم ظاهر په ځائې راوړې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله مُتَوَفِّيْكَ، مُتَوَفِّي، تَوَفِّي (تفعُّل) نه اسم فاعل واحد مذکر مضاف لکَ مضاف الیه، زه تا وفات کونکې یم زه تا په خپل گرفت کښې اخستلوسره اوچتوم. زه تا اوده کوم. دتَوَفِّي معنی پوره پوره اخستل دی، علماء سلف دَدې په تشریح کښې لفظ قبض استعمال کړې دې. یعنی په گرفت کښې اخستل، لیکن په قبضه اوگرفت کښې دَ اخستلو نه څه مراد دې؟ قبض روح مع البدن یا صرف قبض روح، یعنی وژل یا خوب مسلط کول مراد دی. یعنی زه به تا اوده کړم بیا دَ خوب په حالت کښې به دې دَ آسمان طرف ته اوچتوم. دَدې معنی مستدل دَالله تعالی قول ﴿ وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ ﴾ دې الله تعالی تاسو په شپه کښې اوده کوی. دَدې نه معلومه شوه چې دَ توفّی معنی دَ اوده کولوراځی. واقعه هم دغه شان شوې ده چې الله تعالی حضرت عیسیٰ عليه السلام اوده کولوسره اوچت کړو (معالم) ابوالبقاء په کلیات کښې وئیلی دی مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ، دا دواړه سره دَدې چې دَ اسم فاعل صیغې دی مگر په معنی کښې دَ استقبال دی او په کلام کښې تقدیم اوتاخیردې. په اصل کښې رَافِعُكَ وَمُتَوَفِّيْكَ دې، څکه چې حضرت عیسیٰ عليه السلام اول آسمان ته اوچت کړې شو بیا به دَهغه مرگ کیږی په تفسیر عباسی کښې هم دَدې تائید دې.

حضرت امام رازی رحمه الله نفیس او دقیق تفسیر کړې دې. إِنِّي متوفيك معنی إِنِّي متمم عمرك فحينئذ اتوفاك فلا أتركهم حتّٰى يقتلوك، بل انا رافعك الى سمائي ومقربك بملائكتي واصونك عن ان يتمكنوا من قتلك (کبیر) یعنی إِنِّي متوفيك، مطلب دادې چې زه به ستا عمر پوره کوم اودَ عمر پوره کولونه پس به تا وفات کوم، دَ کافرانو په لاس به تا قتل کولوته نه پرېږدم بلکه دَخپل آسمان طرف ته به تا اوچتوم او فرښتوسره ستا قیام گاه ده هلته به تا رسوم اودَ کافرانودَ قتل کولونه به تا محفوظ کوم.

قوله مُبعِدُك. دَ مُطَهِّرُكَ تفسیر مُبعِدُك سره کولوکښې اشاره اوکړه چې ملزوم وئیلوسره لازم مراد دې څکه چې دَ پاکوالی دَپاره دَ نجاست لرې کول لازمی دی. لهذا دا اعتراض هم لرې شو چې دَ تطهیردَپاره تلویث لازم دې اوهغه دلته مقصودنه دې، دَ جواب حاصل دادې چې مُطهرك بمعنی مُبعِدُك دې

قوله: ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ ذالك مبتداء، نتلوه عليك يامحمد ﷺ دَدې خبر دې مِنَ الآيات، دَ نتلوه ضمير نه حال دې اودَدې عامل د ذالك معنی یعنی أشِيْرُ ده.

قوله: فکان سره اشاره اوکړه چې یکون، دکان په معنی کښې دې.

قوله. فَوَادِعُوا ای صالحوا یعنی مباهله مه کوئی بلکه هغوی سره صلح اوکړئی.

قوله: تَاتُوه نو هغه خلق دَ حضور پاك په خدمت كښې حاضر شو او صلح ئې اوكړه

قوله: وضع الظاهر موضع المضمر، يعنى الله عليمٌ بِهِمْ په ځائې عليم بالمفسدين اوفرمائيل دي د پاره چې د صفت فساد صراحت اوشى.

قوله. نَبْتَهِل (اِبْتِهَال) مونږ به ژړا او زاروسره دعاكوو. زمخشرى رحمه الله ليكلى دى چې د بَهْلَة اصل دعاء لعنت دې بيا هغه مطلقًا دَدعا په معنى كښې استعماليدلو (لغات القرآن)

قوله. القصص، اسم په معنى مصدرى استعماليږى.

[اياتونه:٦٤ - ٧١]

{قل يأهل الْكِتَاب} الْيَهُود وَالنَّصَارَي {تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاء} مَصْدَر بِمَعْنَي مُسْتَوٍ أَمْرهَا {بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ} هِيَ {أَ} ن {لا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ} كَمَا اتَّخَذْتُمْ الْأَحْبَار وَالرُّهْبَان {فَإِنْ تَوَلَّوْا} أَعْرَضُوا عَنْ التَّوْحِيد {فَقُولُوا} أَنْتُمْ لَهُمْ {اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ} مُوَحِّدُونَ وَنَزَلَ لَمَّا قَالَ الْيَهُود إِبْرَاهِيم يَهُودِيّ وَنَحْنُ عَلَي دِينه وقالت النصاري كذلك {يأهل الْكِتَاب لِمَ تُحَاجُّونَ} تُخَاصِمُونَ {فِي إِبْرَاهِيمَ} بِزَعْمِكُمْ أَنَّهُ عَلَي دِينكُمْ {وَمَا أُنْزِلَتْ التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيل إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ} بِزَمَنٍ طَوِيل وَبَعْد نُزُولهَا حَدَثَتْ الْيَهُودِيَّة وَالنَّصْرَانِيَّة {أَفَلَا تَعْقِلُونَ} بُطْلَان قَوْلكُمْ {هَا} لِلتَّنْبِيهِ {أَنْتُمْ} مُبْتَدَأ يَا {هَؤُلَاءِ} وَالْخَبَر {حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ} مِنْ أَمْر مُوسَي وَعِيسَي وَزَعْمكُمْ أَنَّكُمْ عَلَي دِينهمَا {فَلِمَ تُحَاجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ} مِنْ شَأْن إِبْرَاهِيم {وَاللَّهُ يَعْلَمُ} شَأْنه {وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ} قَالَ تَعَالَي تَبْرِئَة لِإِبْرَاهِيم {مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفًا} مَائِلًا عَنْ الْأَدْيَان كُلّهَا إِلَي الدِّين الْقَيِّم {مُسْلِمًا} مُوَحِّدًا {وماكان من المشركين} {إِنَّ أَوْلَى النَّاس} أَحَقّهمْ {بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ} فِي زَمَانه {وَهَذَا النَّبِيّ} مُحَمَّد لِمُوَافَقَتِهِ لَهُ فِي أَكْثَر شَرْعه {وَالَّذِينَ آمَنُوا} مِنْ أُمَّته فَهُمْ الَّذِينَ يَنْبَغِي أَنْ يَقُولُوا نَحْنُ عَلَي دِينه لَا أَنْتُمْ {وَاللَّهُ وَلِيّ الْمُؤْمِنِينَ} نَاصِرهمْ وحافظهم وَنَزَلَ لَمَّا دَعَا الْيَهُود مُعَاذًا وَحُذَيْفَة وَعَمَّارًا إلَي دِينهمْ {وَدَّتْ طَائِفَة مِنْ أَهْل الْكِتَاب لَوْ يُضِلُّونَكُمْ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنْفُسهمْ} لِأَنَّ إِثْم إِضْلَالهمْ عَلَيْهِمْ وَالْمُؤْمِنُونَ لَا يُطِيعُونَهُمْ فِيهِ {ومايشعرون} بذلك {يأهل الْكِتَاب لِمَ تَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّه} الْقُرْآن الْمُشْتَمِل عَلَي نَعْت مُحَمَّد صَلَّي اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وأنتم تشهدون} تعلمون انه الحق {يأهل الْكِتَاب لِمَ تَلْبِسُونَ} تَخْلِطُونَ {الْحَقّ بِالْبَاطِلِ} بِالتَّحْرِيفِ وَالتَّزْوِير {وَتَكْتُمُونَ الْحَقّ} أَيْ نَعْت النَّبِيّ {وَأَنْتُمْ تعلمون} انه حق

ترجمه: تاسو ورته اووايئې چې اې اهل كتاب يهودو او نصرانيانو دَ يوداسې خبرې طرف ته راشئ كومه چې زمونږ اوستاسو په مينځ كښې مشتركه ده (سَوَاء) مصدر په معنى مُسْتَوٍ أمرها (اسم فاعل) اوهغه داده چې مونږ بغير دَالله تعالى دَ چابندگى اونه كړو. اونه څوك دَهغه شريك

اوګرځوو او نه زمونږ نه څوک بل دَ الله نه سوا رب قائم کړي لکه چې تاسو احبار او رهبان ساتلي دي بیاهم که هغوي مخ اړوي یعني دَتوحید نه اعراض اوکړي نوتاسو هغوي ته اووایئ ګواه اوسیږئ مونږ خو حکم منونکي مؤحد یو. «راتلونکي آیت» هغه وخت نازل شو کوم وخت چې یهودو اووئیل ابراهیم علیه السلام یهودي وو او هم مونږ دَهغه په دین باندې یو او هم داسې نصاریٰ اووئیل اې اهل کتابو تاسو دَ حضرت ابراهیم علیه السلام باره کښې ولې جګړې کوئ دَ خپل دغه ګمان دَ وجې نه چې هغه ستاسو په دین باندې وو. تورات او انجیل خو دَ هغه نه ډیره موده پس نازل شوي دي او دَ هغې دَ نازلیدلو نه پس یهودیت او نصرانیت پیدا شوې دې. نوتاسو دَعقل نه ولې کار نه اخلئ؟ یعني تاسو دَ خپل قول باطل کیدل ولې نه ګڼړئ؟ اوتاسو خو هم هغه خلق یئ هَا دَ تنبیه دَپاره ده أَنْتُمْ مبتداء دې «ياهؤلاء جمله ندائيه معترضه» حَاجَجْتُمْ خبر، چې په دې امر کښې جګړه کوئ دکوم چې تاسو ته څه علم خو وو «او» هغه دَ موسیٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام معامله ده اوتاسو دعویٰ کړې چې تاسو دَهغوي په دین یئ. «اوس» تاسو په یوداسې خبره کښې ولې جګړه کوئ دَ کوم چې تاسوته هیڅ علم نشته؟ «او» هغه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام معامله ده الله تعالی دَ هغه په حال باندې پوهیږي تاسو نه پوهیږئ. الله تعالی دَ حضرت ابراهیم علیه السلام براءت کولوسره اوفرمائیل ابراهیم علیه السلام نه یهودي وو او نه نصراني لیکن هغه خو په نیغه لار باندې یو مؤحد مسلمان وو. دَ ټولو باطل ادیانو نه اعراض کولوسره دَ حق دین طرف ته مائل کیدونکی او دَ مشرکانو نه هم نه وو. بیشکه په خلقو کښې دَ حضرت ابراهیم علیه السلام نه دَ ټولو نه نیزدې یعني په هغوي کښې زیات حقدار هغه خلق دي چا چې دَهغوي په زمانه کښې دَهغوي تابعداري کړې وه او دا نبي محمد ﷺ دې دَهغوي او دَوي په اکثر شرعي احکامو کښې دَ موافقت کیدو دَ وجې نه. او هغه خلق دي چې دَحضور پاک په امت کښې ایمان راوړلې دا هغه خلق دي چې وائي مونږ دَ ابراهیم علیه السلام په دین باندې یو او الله تعالی دَ ایمان راوړونکو حامي دې. «یعني» مددګار او محافظ دې. اوکله چې یهودو معاذ حذیفه او عمار رضي الله عنهم ته دَخپل دین طرف ته دعوت ورکړو نو «دا آیت» وَدَّتْ طائفة نازل شو. دَ اهل کتاب یو جماعت خو دا غواړي چې تاسو به ګمراه کوي حالانکه هغوي بغیر دَ خپل ځان نه څوک نه شي ګمراه کولې ځکه دَهغوي دَ ګمراه کولو ګناه هم په هغوي باندې ده. او مؤمنان به دَ هغوي په دې معامله کښې اطاعت نه کوي. مګر هغوي ته دَ دې شعور نشته. اې اهل کتاب تاسو دَالله تعالی دَ آیاتونو قرآن نه کوم چې دَ حضرت محمد ﷺ په صفاتو مشتمل دي ولې انکار کوئ؟ حالانکه تاسو ګواه ئې یعني تاسو پیژنئ چې هغه حق دې. اې اهل کتاب تاسو دَ حق تلبیس د تحریف او تکذیب په ذریعه باطل سره ولې کوئ؟ او حق پټه وئ حالانکه تاسو پیژنئ چې هم دغه حق دې.

....

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ، تَعَالَوْا امر جمع مذکر حاضر، تاسو راشئ، دا دَیِن په جمله سره مبنی دې او واؤ فاعل دې، تَعَالَوْا په اصل کښې تَعَالَيُوْا ووډ یاء متحرك او ماقبل مفتوح کیدو د وجې نه یاء په الف سره بدله کړه بیا دَ التقاء ساکنین دَ وجې نه الف حذف شو. (جمل)

سوال: دلته دَ تَعَالَوْا مفعول الى کلمةٍ مذکور دې او ماقبل کښې دَ تَعَالَوْا مفعول ذکر نه دې دې کښې څه حکمت دې؟

جواب: اول تَعَالَوْا سره صرف متوجه کول مقصود دی او دویم سره متحدې کلمه طرف ته رابلل مقصود دی

سوال: سواءٍ دَ مستو په معنی کښې دَ اخستلو څه فائده ده؟

جواب: سَوَاءٍ چونکه مصدر دې دَدې په کلمة باندې حمل صحیح نه دې څکه چې سواء په معنی د مُسْتَوٍ اسم فاعل واخستې شو دې دَپاره چې حمل صحیح شي.

سوال: دَامرها محذوف منلو څه وجه ده؟

جواب: چونکه مُسْتَوٍ مذکر دې دَ کوم حمل چې کلمة باندې صحیح نه دې څکه چې کلمة مؤنث دې نو دَ کلمه نه وړاندې ئې امر محذوف اومنلو چې حمل صحیح شي. (ترویح الارواح)

قوله: هِيَ أَنْ لَا الخ دَ کلمة تفسیر دې.

قوله: طویل، دَحضرت موسى عليه السلام او حضرت ابراهیم عليه السلام په مینځ کښې دَ زرو کالو موده او دَحضرت عیسی عليه السلام او حضرت ابراهیم عليه السلام په مینځ کښې دوه زره او اته سوه کاله موده ده، نو بیا حضرت ابراهیم عليه السلام یهودی او نصرانی څنګه کیدې شي، دا دواړه مذاهب خو دَ حضرت ابراهیم عليه السلام نه ډیر روستو پیدا شوی دی.

قوله: هٰؤُلَاءِ حَاجَجْتُمْ، هَا حرف تنبیه ده أَنْتُمْ مبتداء یا حرف نداء محذوف هٰؤُلَاءِ منادی نداء منادی ملاشو جمله معترضه، حَاجَجْتُمْ دَ مبتداء خبر. دا هم احتمال دې چې هٰؤُلَاءِ، دَ أَنْتُمْ خبر وی او حَاجَجْتُمْ دویمه جمله دَ ړومبې جملې بیان دَپاره وی، ای انتم هٰؤلاء الحمقى حاججتم فيما ليس لكم به علم.

قوله: مُوَحِّدًا.

سوال: دَ مُسْلِمًا تفسیر مُوَحِّدًا سره دکولو څه فائده ده؟

جواب مسلمًا نه ظاهری اصطلاحی معنی مرادنه ده ګنی کوم اعتراض چې په یهودیت اونصرانیت باندې شوې وو هم هغه اعتراض به په اسلام باندې هم اوشی ځکه چې اسلام اصطلاحی خود رسول اللهﷺ دَ زمانې نه په وجود کښې راغلې دې دَ حضورپاک بعثت خو دَحضرت موسیٰ علیه السلام اوحضرت عیسیٰ علیه السلام نه زرګونه کالونه پس شوې دې په دې وجه د مسلمًا تفسیر مُوَحِّدًا سره اوکړو دې دَپاره چې مذکوره اعتراض نه وی.

قوله تعلمون، دَتشهدون تفسیر تعلمون سره کولوکښې اشاره اوکړه چې شهادت الزام علی الغیرته وائی اودلته هیڅ الزام علی الغیرنشته دې.

[ایاتونه: ۷۲-۸۰]

{وقالت طائفة من أهل الكتاب} اليهود بعضهم {آمِنُوا بِالَّذِي أُنزِلَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا} أي القرآن {وجه النهار} أوله {واكفروا} دِينهمْ إذْ يَقُولُونَ مَا رَجَعَ هَؤُلَاءِ عَنْهُ بَعْد دُخُولهمْ فِيهِ وَهُمْ أُولُو عِلْم إلَّا لعلمهم بطلانه وقالوا أيضا {وَلَا تُؤْمِنُوا} تُصَدِّقُوا {إِلَّا لِمَن تَبِعَ} وَافَقَ {دِينَكُمْ} قَالَ تَعَالَى {قُلْ} لَهُمْ يَا مُحَمَّد {إِنَّ الْهُدَىٰ هُدَى اللَّهِ} الَّذِي هُوَ الْإِسْلَام وَمَا عَدَاهُ ضَلَال وَالْجُمْلَة اعْتِرَاض {أَن} أَيْ بِأَنْ {يُؤْتَىٰ أَحَدٌ مِّثْلَ مَا أُوتِيتُمْ} مِنْ الْكِتَاب وَالْحِكْمَة وَالْفَضَائِل وَأَنْ مَفْعُول تُؤْمِنُوا وَالْمُسْتَثْنَى مِنْهُ أَحَد قُدِّمَ عَلَيْهِ الْمُسْتَثْنَى الْمَعْنَى لَا تُقِرُّوا بِأَنْ أَحَدًا يُؤْتَى ذَلِكَ إلَّا لِمَنْ اتَّبَعَ دِينكُمْ {أَوْ} بِأَنْ {يُحَاجُّوكُمْ} أَيْ الْمُؤْمِنُونَ يَغْلِبُوكُمْ {عِندَ رَبِّكُمْ} يَوْم الْقِيَامَة لِأَنَّكُمْ أَصَحّ دِينًا وَفِي قِرَاءَة أَأَنْ بِهَمْزَةِ التَّوْبِيخ أَيْ إيتَاء أَحَد مِثْله تُقِرُّونَ بِهِ قال تعالي {قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ} فَمِنْ أَيْنَ لَكُمْ أَنَّهُ لَا يُؤْتَى أَحَد مِثْل مَا أُوتِيتُمْ {وَاللَّهُ وَاسِعٌ} كَثِير الفضل {عليم} بمن هو اهله {يختص برحمته من يشاء والله ذو الفضل العظيم} {وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ} أَيْ بِمَالٍ كَثِير {يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ} لِأَمَانَتِهِ كَعَبْدِ اللَّه بْن سَلَام أَوْدَعَهُ رَجُل أَلْفًا وَمِائَتَيْ أُوقِيَّة ذَهَبًا فَأَدَّاهَا إلَيْهِ {وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ} لِخِيَانَتِهِ {إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا} لَا تُفَارِقهُ فَمَتَى فَارَقْته أَنْكَرَهُ كَكَعْبِ بْن الْأَشْرَف اسْتَوْدَعَهُ قُرَشِيّ دِينَارًا فَجَحَدَهُ {ذَٰلِكَ} أَيْ تَرْك الْأَدَاء {بِأَنَّهُمْ قَالُوا} بِسَبَبِ قَوْلهمْ {لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيِّينَ} أَيْ الْعَرَب {سَبِيلٌ} أَيْ إثْم لِاسْتِحْلَالِهِمْ ظُلْم مَن خالف دينهم ونسبوه إليه تعالي قَالَ تَعَالَى {وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ} فِي نِسْبَة ذَلِكَ إلَيْهِ {وَهُمْ يَعْلَمُونَ} أَنَّهُمْ كَاذِبُونَ {بلى} عليهم فيه سَبِيل {مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ} الَّذِي عَاهَدَ عَلَيْهِ أَوْ بِعَهْدِ اللَّه إلَيْهِ مِنْ أَدَاء الْأَمَانَة وَغَيْره {وَاتَّقَىٰ} اللَّه بِتَرْكِ الْمَعَاصِي وَعَمَل الطَّاعَات {فَإِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ} فِيهِ وَضْع الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر أَيْ يُحِبّهُمْ بِمَعْنَى يُثِيبهُمْ وَنَزَلَ فِي الْيَهُود لَمَّا بَدَّلُوا نَعْت النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَهْد اللَّه إلَيْهِمْ فِي التَّوْرَاة وَفِيمَنْ حَلَفَ كَاذِبًا فِي دَعْوَى أَوْ فِي بَيْع سِلْعَة {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ} يَسْتَبْدِلُونَ {بِعَهْدِ اللَّهِ} إلَيْهِمْ فِي الْإِيمَان بِالنَّبِيِّ وَأَدَاء الْأَمَانَة {وَأَيْمَانِهِمْ} حَلِفهمْ بِهِ تَعَالَى كَاذِبِينَ {ثَمَنًا قَلِيلًا} مِنْ الدُّنْيَا {أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ} نَصِيب {لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ} غَضَبًا {وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ}

يرحمهم {يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ} يطهرهم {وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مؤلم {وَإِنَّ مِنْهُمْ} أي أهل الكتاب {لَفَرِيقًا} طائفة ككعب بن الأشرف {يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ} أي يعطفونها بقراءته عن المنزل إلى ما حرفوه من نعت النبي صلى الله عليه وسلم ونحوه {لِتَحْسَبُوهُ} أي المحرف {مِنَ الْكِتَابِ} الذي أنزله الله {وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ} أنهم كاذبون ونزل لما قال نصاري نجران إن عيسي أمرهم أن يتخذوه ربا ولما طلب بعض المسلمين السجود له صلي الله عليه وسلم {مَا كَانَ} ينبغي {لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ} أي الفهم للشريعة {وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِي مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ} يقول {كُونُوا رَبَّانِيِّينَ} علماء عاملين منسوبين إلي الرب بزيادة ألف ونون تفخيما {بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ} بالتخفيف والتشديد {الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ} أي بسبب ذلك فإن فائدته ان تعملوا {وَلَا يَأْمُرَكُمْ} بالرفع استئنافا أي الله والنصب مطلقا عطفا علي يقول أي البشر {أَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا} كما اتخذت الصابئة الملائكة واليهود عزيرا والنصاري عيسي {أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} لا ينبغي له هذا

ترجمه: دَاهل کتاب يوه ډله خپلو بعض خلقوته مشوره ورکوی چې کوم قرآن (په واسطه دَنبی) په مؤمنانو باندې نازل کړې شوې دې په دې باندې سحر ايمان راوړئ او ماښام انکار اوکړئ، څه عجيبه ده چې هغه (مؤمنان) په دې (ترکيب سره دَخپل دين نه) واوړی. ځکه چې هغوی به وائی اهل کتاب دَاهل علم کيدو باوجود په دين اسلام کښې داخليدو نه پس واپس کيدل (دَدغه دين) بطلان نه خبريدو دَ وجې نه کيدې شی اوهغوی داهم اووئيل اوتاسو صرف دهغه چا تصديق کوئ څوک چې ستاسو دَدين موافقت کوی. لِمَنْ کښې لام زائدې الله تعالی اوفرمائيل اې محمد ﷺ ته ورته اووايه چې هدايت خوهم دَالله تعالی هدايت دې (او) هغه اسلام دې دې نه علاوه څه چې هم دی ګمراهی ده. او (فعل. تؤمنوا او مفعول أن يؤتى په مينځ) کښې (إِنَّ الْهُدَى هُدَى اللهِ) جمله معترضه ده. اوداده‌غه ورکړه ده چې چاته هم هغه څه ورکړی شی چې کله ئې تاسو ته هم درکړی وو اوهغه کتاب حکمت او فضائل دی. او أَنْ يُؤْتَى الخ دَ تُؤْمِنُوا مفعول دې او مستثنی منه احدٌ دې په کوم چې مستثنی مقدم کړې شوې ده مطلب دا چې تاسو دَدې خبرې اقرار مه کوه چې چاته دا ورکولې شی مګر هغه ته چې ستاسو دَ دين اتباع اوکړی. يابه بيا مؤمنان ستاسو دَ رب په وړاندې دَقيامت په ورځ غالب راځی ځکه چې تاسو دَ ټولونه په صحيح دين باندې يئې او په يو قراءت کښې آأَنْ همزه توبيخی سره دې يعنی آياتاسو به ددې په شان چاسره دَ ملاويدلو اقرار کوئ؟ (يعنی اقرار مه کوئ) ته ورته اووايه چې فضل خودَالله تعالی په لاس کښې دې چاته چې غواړی ورکوی نوبياتاسو دادَچرته نه وايئ چې ستاسو په شان (فضل)

چاته نه شي ورکیدي. الله تعالی دَ ډیروسعت والا او لوئی علم والا دې. او هغه دا خبره پیژنی چې څوك دَدې اهل دی؟ هغه چاته چې غواړی خپل رحمت سره خاص کوی او الله تعالی دَلوئی فضل والا دې او په اهل کتاب کښې بعض داسې هم دی که ته هغوی له یو ډیرې یعنی ډیرمال امانت کیږدې نوهغه به دا واپس کړی دَ خپل امانتدارئی دَ وجې نه لکه چې عبد الله بن سلام. یوسړی هغه سره ۱۲۰۰ اوقیه سره زر (امانت) کیخودو نوهغه سره زر هغه مالك ته ورکړه او په هغوی کښې بعض داسې هم دی که چرته ته هغوی سره یودینار هم امانت کیږدې نو هغه به دَخپل خیانت دَ وجې نه تاته واپس نه کړی مګر دا چې تاسو دَهغوی په سرونوباندې هروخت سواره اوسیږئی اوهغوی نه پریږدئی اوکه چرته تاسوهغوی شاته پریږدئی نوهغوی به دَدې نه انکاراوکړی. لکه کعب بن اشرف چې هغه سره یوقریشی یودینار امانت کیخودو نوهغه دَدې نه انکاراوکړو اودا نه اداکول دَهغوی دَدې عقیدې دَ وجې نه دی چې په موږباندې دَناخوانده عرب باره کښې هیڅ نیول نشته. دَ خپل دین په مخالفینوباندې ظلم روا ساتلو (عقیدې) دَ وجې نه، اودَدې جواز نسبت دَالله تعالی طرف ته کوی. اودَدې خبرې دَالله تعالی طرف ته نسبت کولوسره په الله تعالی باندې بهتان تړی حالانکه هغوی پخپله پوهیږی چې دروغژن دی اوولې نه؟ په هغوی باندې (اُمیین) باره کښې مواخذه ده. چاچې خپل عهدپوره کړو کوم چې الله تعالی دَهغوی نه اخستې دی یادَالله تعالی عهد چې دَ امانت اداکول وغیره دی (پوره کړو) اودَ ګناه پریخودوسره دَ الله تعالی نه اوویریدو او اطاعت کونکې جوړشو نویقینًا الله تعالی متقیان دوستان ساتی. په دې کښې دَاسم ضمیرپه ځائی اسم ظاهر راوړلې شوې دې. یُحِبُّهُمْ معنی کښې یُثِیبُهُمْ دې او (راتلونکې آیت) دَ یهودوباره کښې نازل شوې دی کله چې هغوی په تورات کښې ذکر شوې دَ رسول الله ﷺ صفات یاهغوی ﷺ سره دَالله تعالی کړې عهدبدل کړو یادَ هغه سړی باره کښې چاچې په دعوی کښې دَدروغوقسم اوخوړلو یادَ سامان خرڅولوپه معامله کښې(دَ دروغو قسم اوخوړلو) بیشکه هغه خلق چې په نبی ﷺ باندې د ایمان راوړلې اودَ امانت باره کښې دَالله تعالی عهداوپه الله تعالی دَدروغوقسمونه دَ دنیا په لږه شان معاوضه کښې بدله وی نوداهم هغه خلق دی چې دَدوی په آخرت کښې هیڅ حصه نشته دې. اوالله تعالی به دَ قیامت په ورځ دَ خفګان دَ وجې نه هغوی سره کلام نه کوی اونه به دَ رحمت په نظر هغوی ته ګوری اونه به دَ هغوی (دګناهونونه) پاکوی. اودَهغوی دَپاره خو دردناك عذاب دې اوڅه خلق دَهغوی نه داسې هم دی لکه کعب بن اشرف چې کتاب (تورات) لوستلوسره خپلې ژبې د منزل نه تاووی یعنی دَ نبی صفات وغیره تحریف طرف ته تاووی دې دَپاره چې تاسو دَالله تعالی دَ طرف نه نازل کړې شوې کتاب دغه محرف جزء هم د (منزل) کتاب جز اوګڼرئی حالانکه هغه دکتاب جزنه دې او وائی چې دادَ الله تعالی دَ طرف نه دی اوهغوی په الله تعالی باندې بهتان لګوی اوهغوی پیژنی چې هغوی

دروغژن دی. (راتلونکي آیت) هغه وخت نازل شو کوم وخت چې دَ نجران نصاری او وئیل چې حضرت عیسیٰ ﷺ هغوی ته حکم ورکړې دې چې هغه خپل رب جوړکړئی (یاهغه وخت نازل شوې) کله چې بعض مسلمانانو دحضورپاك نه هغوی ته دَ سجدې کولو اجازت اوغوښتو، **یوبشر ته چاته چې الله تعالی کتاب اوحکمت** یعنی دَ شریعت فهم اونبوت ورکړې وی **هغه ته دا نه شی کیدلې چې خلقو ته اووائی چې تاسو دَالله تعالی په ځائی زما بندیګان جوړشئ** (هغه خو به هم دغه وائی) **الله والا جوړشئ** یعنی عالم باعمل جوړشئ (ربانیین) دَالف نون دَ زیاتی سره دَ رب طرف ته منسوب دې. **ځکه چې تاسو** (آسمانی) کتاب نورو ته ښایئې او پخپله ئې هم لولئ (تعلمون) دَ لام تخفیف او تشدید سره نودَدې فائده داکیدل پکاردی چې تاسو عمل اوکړئی. **اوهغه** یعنی الله تعالی **تاسو ته دَدې خبرې حکم نه درکوی** (لایأمرکم) په توګه دَ استیناف مرفوع دې (ای الله لایأمرکم) او بقول باندې دَعطف دَ وجې نه منصوب دې (ای ان یقول البشر) **اوهغه به تاسو ته دَدې خبرې حکم نه درکوی چې فرښتې اونبیان رب جوړکړئی** لکه چې فرقه صابیه ملائکه او یهود عزیر ﷺ ته او نصاری حضرت عیسیٰ ﷺ (رب جوکړو) **آیا هغه به تاسو ته دکفر حکم درکوی پس دَهغې نه چې تاسو اسلام راوړلې وی** دا به هیڅ کله دَهغه نه اونه شی

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْکِتٰبِ، داجمله مستانفه ده اومقصددَ یهودو یودویم قسم تلبیس بیانول دی.

قوله اَوَّلَهٗ. اول نهارته وَجْهٗ ځکه وئیلې شوې دې لکه څنګه چې مخ ښائسته اوښکلې وی اول نهارهم ښکلې او مزیدار وی. اودَوَجْهٗ تفسیرئی په دې وجه اول سره کړې دې څنګه چې په ملاقات کښې مخ دَ ټولونه اول مخې ته راځی دغه شان اول نهار هم دَ شپې دَ خمیدونه پس دَ ټولونه رومبې ښکاره کیږی.

قوله: والجملة اعتراض، د فعل لاتؤمنوا اودَدې د مفعول، اَنْ یُّؤْتٰی الخ په مینځ کښې اِنَّ الْهُدٰی هُدَی الله جمله معترضه ده

قوله. اِلَّالِمَنْ تَبِعَ، مستثنٰی مقدم ده اَنْ یُّؤْتٰی اَحَدٌ مستثنٰی منه مؤخر ده.

قوله. بِاَنْ یُحَآجُّوْکُمْ د اَنْ مقدر منلومقصد دې طرف ته اشاره کول دی چې دَدې عطف بِاَنْ یُّؤْتٰی باندې دې نه چې اَنْ په معنی دَ اَوْ په دې وجه چې دا مجازکیدودَ وجې نه خلاف ظاهردې.

قوله: وفی قراءة آان بهمزة التوبیخ، دا اَنْ یُّؤْتٰی اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِیْتُمْ کښې دَ دویم قراءت مطابق

به همزه استفهام توبیخی وی، یعنی آیا تاسو دَ خپل خان په شان حکمت او فضیلت نورو ته دَ ورکولو اقرار کوئ، نه دی کول پکار.

قوله: اِیْتَاءَ اَحَدٍ دې کښې اشاره ده چې اَنْ یُّؤْتٰی کښې اَنْ مصدریه دې.

قوله: قِنْطَارًا، واحد جمع قَنَاطِيْرُ، ډیر مال.

قوله: وَلَا تُؤْمِنُوْا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ، دا آیت دَ ترکیب په اعتبار په مشکل ترین آیاتونو کښې شمیرلې کیږی بعض حضراتو دې آیت نهه ترکیبونه کړی دی مگر په دې کښې چې صرف یو ترکیب کوم چې دَ ټولونه آسان دې لاندې درج کولې شی او علامه زمخشری رحمه الله هم په خپل کتاب کشاف کښې تحریر کړې دې:

ترکیب: واؤ عاطفه، لا ناهیه، تؤمنوا فعل مضارع مجزوم بلا، او واؤ فاعل، او اِلَّا، حرف استثناء او لِمَنْ کښې لام حرف جر، مَنْ اسم موصول دَلام دَ وجې نه مجرور جار او مجرور محذوف سره ملاؤ شو دَ استثناء دَ وجې نه په محل کښې دَ نصب، تقدیری عبارت داسې شو، وَلَا تُؤْمِنُوْا، وتظهروا بأن یؤتی اَحَدٌ بمثل ما اوتیتم لِاَحَدٍ مِّنَ النَّاسِ اِلَّا لِاَشْیَاعِکُمْ دون غیرکم.

تبع، فعل ماضی هُوَ دې کښې ضمیر فاعل، جمله فعلیه صله او دِيْنَكُمْ مفعول به مینځ کښې قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ جمله معترضه اَنْ یُّؤْتٰی اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ، اِنْ خپل ماتحت سره ملاؤ شو په تاویل مصدر شو مجرور بنزع الخافض، او جار مجرور سره ملاؤ شو دَ تؤمنوا متعلق او اَحَدٌ دَ یُؤْتٰی نائب فاعل، او مِثْل، مفعول به ثانی، اسم موصول دَ اضافت دَ وجې نه محلاً مجرور او جمله اُوْتِيْتُمْ صله مضارع.

قوله: الاُمِّيّٖنَ مراد کوم چې اهل کتاب نه وی.

قوله: يَلْوٗنَ مضارع جمع مذکر غائب، لَيٌّ مصدر (ن) هغه چورلوی، هغه تاووی.

قوله: اَلْبَشَرُ انسان که مذکر وی او که مؤنث واحد وی که جمع په لفظونو کښې واحد نشته دې.

[ایاتونه: ۸۱-۹۱]

{وَ} اذْكُرْ {اِذْ} حِينَ {اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ} عَهدهمْ {لَمَا} بِفَتْحِ اللَّامِ لِلِابْتِدَاءِ وَتَوْكِيدٍ بِمَعْنَى الْقَسَمِ الَّذِي فِي أَخْذِ الْمِيثَاقِ وَكَسْرِهَا مُتَعَلِّقَة بِأَخَذَ وَمَا مَوْصُولَة عَلَي الْوَجْهَيْنِ أَيْ لِلَّذِي {اٰتَيْتُكُمْ} إِيَّاهُ وَفِي قِرَاءَة آتَيْنَاكُمْ {مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ} مِنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَة وَهُوَ مُحَمَّد صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ} جَوَابُ الْقَسَمِ إِنْ أَدْرَكْتُمُوهُ وَأُمَمُهُمْ تَبَع لَهُمْ فِي ذَلِكَ {قَالَ} تَعَالَي لَهُمْ {ءَاَقْرَرْتُمْ} بِذَلِكَ {وَاَخَذْتُمْ} قَبِلْتُمْ {عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ} عَهْدِي {قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوْا} عَلَي أَنفُسِكُمْ وَأَتْبَاعِكُمْ ذَلِكَ {وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ} عَلَيْكُمْ وَعَلَيْهِمْ {فَمَنْ تَوَلّٰى} أَعْرَض

{بَعْدَ ذٰلِكَ} الْمِيثَاق {فأولئك هم الفاسقون} {أَفَغَيْرَ دِينِ اللّٰهِ يَبْغُونَ} بِالْيَاءِ وَالتَّاءِ أَيِ الْمُتَوَلُّونَ {وله أسلم} إنقاد {من في السماوات وَالْأَرْضِ طَوْعًا} بِلَا إبَاء {وَكَرْهًا} بِمُعَايَنَةِ مَا يلجئ إليه {وإليه يرجعون} بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ وَالْهَمْزَة فِي أَوَّل الْآيَة لِلْإِنْكَارِ {قُلْ} لَهُمْ يَا مُحَمَّد {آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ} أولاده {وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَالنَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ} بِالتَّصْدِيقِ وَالتَّكْذِيبِ {وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ} مُخْلِصُونَ فِي الْعِبَادَة وَنَزَلَ فِيمَنْ ارْتَدَّ وَلَحِقَ بالكفار {وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ} لِمَصِيرِهِ إِلَى النَّار الْمُؤَبَّدَة عَلَيْهِ {كَيْفَ} أَيْ لَا {يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا} أَيْ شَهَادَتهمْ {أَنَّ الرَّسُول حق و} قد {جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ} الْحُجَج الظَّاهِرَات عَلَى صِدْق النَّبِيّ {وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ} أَيِ الْكَافِرِينَ {أولئك جزاؤهم أن عليهم لعنة الله والملائكة والناس أجمعين} {خَالِدِينَ فِيهَا} أَيِ اللَّعْنَة أَوِ النَّار الْمَدْلُول بِهَا عَلَيْهَا {لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ} يُمْهَلُونَ {إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَأَصْلَحُوا} عَمَلهمْ {فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ} لَهُمْ {رَحِيمٌ} بِهِمْ وَنَزَلَ فِي الْيَهُود {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا} بِعِيسَى {بَعْدَ إِيمَانِهِمْ} بِمُوسَى {ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا} بِمُحَمَّدٍ {لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ} إِذَا غَرْغَرُوا أَوْ مَاتُوا كُفَّارًا {وأولئك هم الضالون} {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِمْ مِلْءُ الْأَرْضِ} مِقْدَار مَا يَمْلَؤُهَا {ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ} أَدْخَلَ الْفَاء فِي خَبَر إِنَّ لِشَبَهِ الَّذِينَ بِالشَّرْطِ وَإِيذَانًا بِتَسَبُّبِ عَدَم الْقَبُول عَنِ الْمَوْت عَلَى الْكُفْر {أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم {وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ} مَانِعِينَ مِنْهُ

ترجمه: اوهغه وخت يادکړئ کله چې دَ انبياء کرام عليهم السلام نه په عالم ارواح کښې الله تعالى وعده واخستله چې کله زه تاسوته دکتاب او حکمت (دَقسم) نه درکړم. لَمَا دَلام فتحه سره لام ابتداء دې اودَ دې معنى دَ قسم دَتاکيد دَپاره دې کوم چې دَ اَخْذُ الْمِيْثَاق نه مفهوم دې اودَ لام کسره سره دَ اَخَذَ متعلق دې اومَا په دواړو صورتونو کښې موصوله دې اى الذى او په يو قراءت کښې اٰتَيْنَاکُم دې يا تاسوله دَدې کتاب او حکمت تصديق کونکې راشى کوم چې تاسو سره دې اوهغه (رسول) محمد ﷺ دې. نو تاسو به ضرور په دغه رسول باندې ايمان راوړئ اودَهغه امداد به کوئى. (لَتُؤْمِنُنَّ الخ) جواب قسم دې (يعنى) که تاسو هغه او مومنى په دې حکم کښې دَانبياء کرامو امتونه دَهغ تابع دى (بيا) الله تعالى هغوى ته اوفرمائيل آيا تاسو دَدې اقرار کوئى؟ او په دې باندې زما عهد قبلوئى؟ هغوى اووئيل مونږ اقرار کوو ارشاد اوشو په خپل ځان او په خپلو متبعينو باندې دَدې خبرې ګواه اوسيږئ اوزه هم په تاسو او په هغوى باندې دَ ګواهانو نه يم نو اوس چې څوک دَدې عهد نه اعراض کوى نو هم هغه به په نافرمانو کښې شميرلې شى، پس آيا دا خلق دَالله تعالى دَ دين نه سوا (دَ بل چا دين) لټوى (يَبْغُونَ) ياء سره په معنى متولون، اى معرضون او تاء سره (اى تَبْغُونَ) اى تعرضون حال دادې چې دَ

آسمانونو اوزمکې هریو څیزدَهغه فرمانبرداردې په خوشحالۍ سره بغیردَ څه انکارنه او په ناخوښئ سره دَتورې او دَهغه څیزدَ مشاهدې دَوجې نه چې دَفرمانبردارئ دَپاره ئې مجبورکړی (مثلاً طاقت وغیره) اوټول به هم دَهغه طرف ته راګرځولې شی (ترجعون) یاء اوتاء سره (اَفَغَیۡرَ) کښې همزه استفهام انکاریه دې. اې محمد ﷺ تاسو ورته اووایئ مونږ ایمان راوړې په الله باندې او په هغې باندې کوم چې په مونږ نازل کړې شوې دې اوکوم چې په ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام باندې او په اسحاق علیه السلام باندې اوپه یعقوب علیه السلام باندې او په اولاد دَ یعقوب علیه السلام باندې نازل کړې شوی دی او په هغې باندې کوم چې په موسی علیه السلام او په عیسی علیه السلام او (نورو) انبیاءکرامو علیهم السلام ته دَهغوی دَ پروردګاردَطرف نه ورکړې شوی دی. مونږ په هغوی کښې دَتصدیق اوتکذیب په اعتبارسره هیڅ فرق نه کو اومونږ خو په عبادت کښې هم دَهغه دَپاره مخصوص یو او (راتلونکې آیت) دَهغه سړی باره کښې نازل شو چې مرتد شو اوکافرانوکښې شامل شو اوڅوک چې دَاسلام نه بغیربل څه دین لټوی نوهغه به دَهغه نه هیڅ کله نه شی قبلولې. اوهغه سړې به په آخرت کښې دَهمیشه عذاب طرف ته راګرځولودَوجې نه دَزیانکارانونه وی. اوالله به څنګه داسې خلقو ته هدایت ورکړی (یعنی) نه به ورکوی چاچې دَخپل ایمان نه پس کفراختیارکړو (اودَهغې نه پس چې هغه) ګواهي ورکړې وی چې رسول برحق دې (اوپس دَهغې نه) چې هغوی له ښکاره نښانې راغلې وې یعنی دَرسول الله ﷺ په صداقت باندې واضحه نښانې راغلې وې. اوالله تعالی به داسې ظالمانو خلقو اوکافرانوته هدایت نه ورکوی. دَ داسې خلقو سزاداده چې په هغوی به دَالله تعالی اودَ فرښتو اودَ ټولو انسانانولعنت وی او په دغه لعنت یا اور کښې به په کوم چې لعنت دلالت کوی دَ همیشه دَپاره پراته وی نه به دَهغوی نه عذاب سپکولې شی اونه به هغوی ته مهلت ورکولې شی البته هغه خلق څوک چې دې نه پس توبه اوکړی اودَخپلو اعمالو اصلاح اوکړی. بیشکه الله تعالی هغوی معاف کونکې اوپه هغوی باندې رحم کونکې دې اودَ یهودودباره کښې (راتلونکې آیت نازل شو) بیشکه کومو خلقوچې به حضرت موسی علیه السلام باندې ایمان راوړلونه پس په حضرت عیسی علیه السلام باندې انکاراوکړو بیا په کفر کښې وړاندې کیدل دَ محمد ﷺ انکارئې اوکړو. نودَهغوی توبه به هیڅ کله نه قبلیږی کله چې حالت نزع (زنکدن) ته اورسی یادکفر په حالت کښې مړه شی. هم دغه خلق خو ګمراه دی بیشکه چې کوموخلقوکفراختیارکړو اوهم دکفر په حالت کښې مړه شو دَهغوی نه به دَچانه هم هیڅ کله نه شی قبلولې ډکه زمکه دَ سرو زرو یعنی په دومره اندازه کښې چې زمکه ډکه کړی که هغه په معاوضه کښې ورکول غواړی، دَاِنَّ خبرباندې فاء داخل کړې شوه، د اَلَّذِیۡنَ دَ شرط مشابه کیدودَ وجې نه او په دې خبره باندې خبرولودَپاره چې دَعدم قبولیت سبب مرګ دَ کفرپه حالت دې (نه چې محض کفر) هم دغه هغه خلق دی دَچادَپاره چې دردناک عذاب دې اودَ چادَپاره چې هیڅوک امدادی به دَعذاب نه بچ کونکې نه وی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

وَاذکر اِذْحِين اَخَذَاللهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ:

قوله حِيْنَ لفظ حِيْنَ سره اشاره اوکړه چې اِذْ ظرفيه دي او اذکر فعل محذوف سره متعلق دي دَدي آيت متعدد ترکيبونه کړې شوی دی دا آيت هم په مشکل ترکيبي مقامات کښې شميرلې کيږی.

د صاحب جلالين اختيارکړې شوې ترکيب: واوْ استفهاميه، اِذْ ظرفيه متعلق فعل محذوف دَ اذکر، لَمَا، د لام فتحه سره دَپاره دَ ابتداء او معنی قسم کوم چې اخذميثاق نه مفهوم دہ، دَتاکيد دَپاره لام په کسره سره هم لوستلې شوې دې. د اَخَذَ متعلق دواړو صورتونو کښې مَا موصوله دی اٰتَيْنكُمْ اِيَّاه، او په يوقراءت کښې اٰتَيْنٰكُمْ، لَتُؤْمِنُنَّ جواب قسم اِيَّاه عائد محذوف کوم چې دَ موصول طرف ته راجع دې.

مَا موصله ده جائز دی چې متضمن په معنی شرط وی او لَتُؤْمِنُنَّ قائمقام جواب قسم او جواب شرط وی.

قوله بالتصديق والتکذيب. دَدې اضافه مقصد دَ يوسوال مقدرجواب دې.

سوال دَالله تعالی دَ قول لانفرق مطلب دې چې مونږ په انبياء کرامو کښې فرق نه کوو بلکه ټول مساوی گنړو حالانکه دَ اهل سنت والجماعة عقيده ده چې انبياء عليهم السلام په فضيلت او درجات کښې مختلف دی او هم دغه خبره ﴿تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ نه معلوميږی.

جواب تفريق نه کول دَ تصديق او تکذيب په اعتبارسره دی نه چې دَ فضيلت او درجات په اعتبارسره يعنی مونږ دَ يهودو په شان دَ بعضو تصديق او بعضو تکذيب نه کوو.

قوله: مخلصون.

سوال: د مسلمون تفسير مخلصون سره کولو کښې څه فائده ده؟

جواب مسلمون په معنی دَ مخلصون ښکه کړې شوې دې چې نفس ايمان خودَ اٰمَنَّا نه مفهوم دې.

قوله وَشَهِدُوْا دې کښې اشاره ده چې دَدې عطف په تقدير د بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ باندې دې او فعل معطوف په تاويل کښې دَاسم دې.

قوله: قد حذف قد کښې اشاره ده چې واوْ حاليه دې نه چې عاطفه.

پاره نمبر-٤ [لَنْ تَنَالُوا]

[ایاتونه: ٩٢-١٠١]

{لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ} أَيْ ثَوَابه وَهُوَ الْجَنَّة {حَتَّى تُنْفِقُوا} تَصَدَّقُوا {مِمَّا تُحِبُّونَ} مِنْ أَمْوَالكُمْ {وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيم} فَيُجَازِي عَلَيْهِ وَنَزَلَ لَمَّا قَالَ الْيَهُود إِنَّك تَزْعُم أَنَّك عَلَى مِلَّة إِبْرَاهِيم وَكَانَ لَا يَأْكُل لُحُوم الْإِبِل وَأَلْبَانهَا {كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا} حَلَالًا {لِبَنِي إِسْرَائِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَائِيلُ} يَعْقُوب {عَلَى نَفْسِهِ} وَهُوَ الْإِبِل لَمَّا حَصَلَ لَهُ عِرْق النَّسَا بِالْفَتْحِ وَالْقَصْر فَنَذَرَ إِنْ شُفِيَ لَا يَأْكُلهَا فَحُرِّمَ عَلَيْهِ {مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ} وَذَلِكَ بَعْد إِبْرَاهِيم وَلَمْ تَكُنْ عَلَى عَهْده حَرَامًا كَمَا زَعَمُوا {قُلْ} لَهُمْ {فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا} لِيَتَبَيَّن صِدْق قَوْلكُمْ {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِيهِ فَبُهِتُوا وَلَمْ يَأْتُوا بِهَا قال تعالى {فَمَنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ} أَيْ ظُهُور الْحُجَّة بِأَنَّ التَّحْرِيم إِنَّمَا كَانَ مِنْ جِهَة يَعْقُوب لَا عَلَى عَهْد إِبْرَاهِيم {فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} الْمُتَجَاوِزُونَ الْحَقّ إِلَى الباطل {قُلْ صَدَقَ اللَّهُ} فِي هَذَا كَجَمِيعِ مَا أَخْبَرَ بِهِ {فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ} الَّتِي أَنَا عَلَيْهَا {حَنِيفًا} مَائِلًا عَنْ كُلّ دِين إِلَى الْإِسْلَام {وما كان من المشركين} وَنَزَلَ لَمَّا قَالُوا قِبْلَتنَا قَبْل قِبْلَتكُمْ {إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ} مُتَعَبَّدًا {لِلنَّاسِ} فِي الْأَرْض {لَلَّذِي بِبَكَّةَ} بِالْبَاءِ لُغَة فِي مَكَّة سُمِّيَتْ بِذَلِكَ لِأَنَّهَا تَبُكّ أَعْنَاق الْجَبَابِرَة أَيْ تَدُقّهَا بَنَاهُ الْمَلَائِكَة قَبْل خَلْق آدَم وَوُضِعَ بَعْده الْأَقْصَى وَبَيْنهمَا أَرْبَعُونَ سَنَة كَمَا فِي حَدِيث الصَّحِيحَيْنِ وَفِي حَدِيث أَنَّهُ أَوَّل مَا ظَهَرَ عَلَى وَجْه الْمَاء عِنْد خَلْق السَّمَاوَات وَالْأَرْض زَبَدَة بَيْضَاء فَدُحِيَتْ الْأَرْض مِنْ تَحْته {مُبَارَكًا} حَال مِنَ الَّذِي أَيْ ذَا بَرَكَة {وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ} لِأَنَّهُ قِبْلَتهمْ {فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ} مِنْهَا {مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ} أَيْ الْحَجَر الَّذِي قَامَ عَلَيْهِ عِنْد بِنَاء الْبَيْت فَأَثَّرَ قَدَمَاهُ فِيهِ وَبَقِيَ إِلَى الْآن مَعَ تَطَاوُل الزَّمَان وَتَدَاوُل الْأَيْدِي عَلَيْهِ وَمِنْهَا تَضْعِيف الْحَسَنَات فِيهِ وَأَنَّ الطَّيْر لَا يَعْلُوهُ {وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا} لَا يُتَعَرَّض إِلَيْهِ بِقَتْلٍ أَوْ ظُلْم أَوْ غَيْر ذَلِكَ {وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ} وَاجِب بِكَسْرِ الْحَاء وَفَتْحهَا لُغَتَانِ فِي مَصْدَر حَجَّ قَصَدَ وَيُبْدَل مِنَ النَّاس {مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا} طَرِيقًا فَسَّرَهُ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالزَّادِ وَالرَّاحِلَة رَوَاهُ الْحَاكِم وَغَيْره {وَمَنْ كَفَرَ} بِاللَّهِ أَوْ بِمَا فَرَضَهُ مِنَ الْحَجّ {فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ} الْإِنْس وَالْجِنّ وَالْمَلَائِكَة وَعَنْ عِبَادَتهمْ {قل يا أهل الكتاب لم تكفرون بآيات الله} تصرفون {عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ} أَيْ دِينه {مَنْ آمَنَ} بِتَكْذِيبِكُمْ النَّبِيّ وَكَتْم نَعْتِه {تَبْغُونَهَا} أَيْ تَطْلُبُونَ السَّبِيل {عِوَجًا} مَصْدَر بِمَعْنَى مُعْوَجَّة أَيْ مَائِلَة عَنِ الْحَقّ {وَأَنْتُمْ شُهَدَاءُ} عَالِمُونَ بِأَنَّ الدِّين الْمَرْضِيّ الْقَيِّم هُوَ دِين الْإِسْلَام كَمَا فِي كِتَابكُمْ {وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ} مِنَ الْكُفْر وَالتَّكْذِيب وَإِنَّمَا يُؤَخِّركُمْ إِلَى وَقْتكُم لِيُجَازِيكُم وَنَزَلَ لَمَّا مَرَّ بَعْض الْيَهُود عَلَى الْأَوْس وَالْخَزْرَج وَغَاظَهُمْ تَأَلُّفهمْ فَذَكَّرُوهُمْ بِمَا كَانَ بَيْنهمْ فِي الْجَاهِلِيَّة مِنَ الْفِتَن فَتَشَاجَرُوا وَكَادُوا يَقْتَتِلُونَ {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ} {وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ} اسْتِفْهَام تَعْجِيب وَتَوْبِيخ {وَأَنْتُمْ تُتْلَى عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُ وَمَنْ يَعْتَصِمْ} يَتَمَسَّك {بِاللَّهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ}

ترجمه: ترکومې چې خپل محبوب مالونه خرچ نه کړئي (صدقه نه کړئي) هيڅ کله دَ نيکئ اجر چې جنت دې حاصل به نه کړې شئي اوتاسوچې کوم څيز هم خرچ کوئي الله تعالى دَهغې نه ښه خبردې، لهذا هغه به دَهغې بدله درکوی اونازل شوکوم وخت چې يهوديانودا خبره اوکړه چې تاسو دَدې خبرې دعوىٰ کوئى چې تاسو په ملت ابراهيمى باندې يئې حالانکه هغه خو دَ اوښ غوښه او پئې خوړل څکل نه. (اوتاسو خورئى څکنى) هريوخوراک دَ بنى اسرائيلو دَپاره حلال وو بغيردَهغې نه کوم چې اسرائيل (يعقوب عليه السلام) په خپل ځان باندې حرام کړې وه اوهغه اوښ وو، داسې ئى هغه وخت کړى ووکوم وخت چې هغوى ته دَعرق النساء مرض لګيدلې وو (نَسَاء) دَنون فتحه اوقصرالف سره (په وزن دَعصا) دې، (حضرت يعقوب عليه السلام نذرمنلې وو چې که زه صحت مند شوم نودابه زه نه خورم، چنانچې هغه دا په خپل ځان باندې ممنوع کړه. داسې ئى دَتورات نازليدونه وراندې کړې وو اودا (واقعه) دَ ابراهيم عليه السلام نه پس شوې اوداحرمت دَ حضرت ابراهيم عليه السلام په زمانه کښې نه وو لکه څنګه چې تاسوګنړئى. نوته هغوى ته اووايه تورات راوړئى اودا اولولئ دې دَپاره چې ستاسو دَ قول صداقت معلوم شى که چرې تاسو په دې باره کښې رښتونى ئى نوهغوى حيران پاتې شو او تورات ئى رانوړو. الله تعالى اوفرمائيل چې کوم سړې دَ دې يعنى حجت دَ ښکاره کيدونه پس هم په الله تعالى باندې بهتان تړى چې تحريم دَ حضرت يعقوب عليه السلام دَ طرف نه وو نه چې دَحضرت ابراهيم عليه السلام په زمانه کښې نوهم دغه خلق دى ظالمان (يعنى) دَ حق نه دَ باطل طرف ته تجاوزکونکى دى ته ورته اووايه چې دَ نورو خبروپه شان الله تعالى داخبره هم رښتيا اوفرمائيله نوتاسو دَ نيغې لارې والا حضرت ابراهيم عليه السلام دَ دين په کوم باندې چې زه يم تابعدارى اوکړئى يعنى دَهريودين نه (اعراض کولوسره) دَ دين اسلام طرف ته مخ کولوسره او(حضرت ابراهيم عليه السلام) دَ مشرکانونه نه وو. او راتلونکې آيت هغه وخت نازل شو کوم وخت چې يهودو وئيلى وو زمونږ قبله ستاسو دَ قبلې نه پخوانئى ده دَ ټولونه اولنې کورکوم چې دَ عبادت خانې په طور دَ خلقوله پاره مبارک جوړکړې هغه دې کوم چې په مکه کښې دې، په مکه کښې يولغت بکه هم دې باء سره بکه ته بکه څکه وائى چې دَ بکه معنى ماتول ورانول دى. چونکه دا لوئى لوئى ظالمانو دَ ستونه چاچې دَ دې دَ نړولواراده کړې وه ماتوى پريږدى. دَدې تعمير فرښتوکړې وو دَدې نه پس مسجد اقصىٰ جوړکړې شو او دَدې دواړو په مينځ کښې دَ خلوينښتوکالو فاصله ده لکه چې دَصحيحين په حديث کښې واردشوى دى او په يو حديث کښې دى چې دَ آسمانونو او زمکو دَ تخليق په وخت دَ اوبو په مخ باندې دَ سپين څګ په شکل کښې يوڅيز راښکاره شوې وو هغه کعبه وه دَدې نه پس زمکه دَدې دَ لاندې نه خوره کړې شوه (مُبٰرَكًا) دَ الَّذِى نه حال دې اى ذا برکة اوداد دنياوالودَپاره هدايت والا ده څکه چې دا دَهغوى قبله ده. په دې کښې ښکاره نشانې

دی هم دي نه مقام ابراهیم عليه السلام دي یعنی هغه کانړي چې دَ بیت الله دَ جوړولووخت په کوم (چې حضرت ابراهیم عليه السلام) اودریدلو دهغوی دَ خپو په دې کښې نښې جوړې شوې دی اودَ اوږدې زمانې راسې اودَخلقو دبار بار لاس لګولونه باوجود ترننه پورې باقي دې اوهم دَدغه نښونه په دې کښې دَ نیکودَاجر دبل ثواب کیدل دی. او یوه مرغنی دَدې دَپاسه نه شی تیریدلې. او څوک چې په دې کښې داخلیږی هغه په امن کښې کیږی دَ قتل یا ظلم وغیره دَپاره به دې سره تعرض نه شوکیدلې. او په خلقو باندې دَالله تعالی دَپاره دَ بیت الله حج واجب دی (دَحج) په مصدرکښې حاء فتحه او کسره دوه لغته دی. حَجّ په معنی قَصَدَ او (مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلاً) (النَّاس) نه بدل دې څوک چې دَهغه ځائی دَ رسیدو پورې طاقت لری (دَ استطاعت) تفسیر حضورپاك زاد او راحله (سورلی اودَ سفرخرچ) سره کړې دې. روایت کړې دې حاکم وغیره اوڅوک چې دَ الله تعالی نه کفر اوکړی اوکوم حج چې په هغه باندې فرض کړې شوې دې (دَهغې منکر وی) نوالله تعالی دَعالم والونه یعنی انس وجن او ملائکه اودَهغوی دَعبادت نه بې پرواه دې. ته ورته اووایه چې اې اهل کتاب تاسو دَالله تعالی آیاتونه قرآن نه ولې انکارکوئی؟ اوحال دادې چې الله تعالی ستاسو په اعمالو باندې شاهد دې تاسوته به دَهغې بدله درکوی. ته ورته اووایه اې اهل کتاب کوم سړی چې ایمان راوړې وی دَالله تعالی د دین نه دَ نبی عليه السلام په تکذیب اودَ هغه علامات پټولوسره ولې منع کوئی؟ په دې لار (دین) کښې کوګوالې راوباسئی (عِوَجًا) مصدردې اودَمُعَوَّجَةٌ په معنی کښې دې یعنی دَحق نه انحراف کولوسره حالانکه تاسو پیژنئی چې خوښ کړې شوې او صحیح دین هم اسلام دې لکه چې ستاسو په کتاب کښې موجود دی. اوالله تعالی .دکفراوتکذیب وغیره ستاسودَاعمالونه بې خبرنه دې اوهغه تاسو ته صرف دَ یووخت پورې مهلت درکړې دې بیابه تاسوته دَدې سزا درکوی. (راتلونکې آیت هغه وخت نازل شو) کوم وخت چې دَ بعض یهودیانو تیریدل په آوس او خزرج باندې اوشو نودَهغوی دَخپل مینځ الفت اومحبت هغوی غضبناك کړل نودغه یهودیانودَ هغوی دَ جاهلیت دَزمانې (دَخپل مینځ) دَ فتنې دَخبرو ذکر اوچیړلو دَ کوم په وجه چې هغوی خپل مینځ کښې جګړه اوکړه نیزدې وه چې خپل مینځ کښې وینې بهیولې وې. اې ایمان والو که چرې دَ اهل کتاب دَ یوفریق خبره اومنئی نوهغوی به تاسو ستاسودَ ایمان راوړلوباوجود کافران جوړولوسره پریږدی اوتاسو څنګه کفرکولې شئ استفهام دَتعجب اوتوبیخ دَپاره دې، حالانکه تاسوته دَالله تعالی آیاتونه لوستلې اوروِلې شی اوستاسو په مینځ کښې دَهغه رسول موجوددې او څوک چې الله تعالی مضبوط اونیسی نو یقینا هغه ته دَ نیغې لارې طرف ته هدایت اوکړې شو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله تَنَالُوْا تاسو به حاصل کړئی تاسوبه بیامومئی (س) مضارع جمع مذکرحاضر نَالَ یَنَالُ نَیْلاً رسیدل، حاصلول.

قوله ای ثوابهٔ مفسرعلام مضاف مقدرمنلوسره اشاره اوکړه چې عبارت په حذف مضاف سره دې. ځکه چې نفس بِرّ خو نیك عمل کولوته وائی دَ کوم وجود چې عمل نیك کولوسره کیږی البته دَ نیك عمل اجراوثواب دَ محبوب او خوښ کړې شوی ځیزپه خرچ کولوسره حاصلیدې شی.

قوله تَصَدَّقُوْا، دَ تُنْفِقُوْا تفسیر تَصَدَّقُوْا سره کولوکښې اشاره اوکړه چې مطلق انفاق که په خپل ځان باندې وی اوکه په خرابوکارونوباندې وی مرادنه دې بلکه فی سبیل الله صدقه کول مراددی.

قوله: مِمَّا تُحِبُّوْنَ مَا تبعیضیه دې دَدې دَپاره په یوقراءت کښې بَعْضَ مَا تُحِبُّوْنَ دی.

قوله: کُلُّ الطَّعَامِ الف لام دَ عهددې ای کُلُّ الاطعمة الَّتِی کَانَتْ تَدَّعِی الیهودُ حُرْمَتَهَا عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ.

قوله عِرْقِ النَّسَاءِ عرق النساء اکثردَ ګس کوناتې نه شروع کیدوسره دَ زنګون او بعض وخت ترګیټئی پورې راکوزیږی که دا بیماری دَ ډیرو ورځوپورې شی نو بیمارګوډیږی. (شرح موجز اقرائی)

قوله: اَنَا عَلَیْهَا اتباع ملت ابراهیم نه مرادَ ملت اسلام اتباع ده ځکه ملت ابراهیمی هم ملت اسلامی وو او رسول الله ﷺ هم په دغه ملت ابراهیمی باندې وو.

قوله: مُتَعَبَّدًا دې لفظ زیاتولوسره ئې اشاره اوکړه چې اول بیت نه مطلق اول بیت مرادنه دې بلکه دَ عبادت ګاه په توګه اول بیت مراددې.

قوله: لَلَّذِیْ بِبَکَّةَ کښې لام دَتاکیددې دې ته لام مزحلقة هم وائی. په اصل کښې دا لام په مبتداء باندې دَهغې دَتاکید دَ پاره داخلیږی مګر کله چې په مبتداء باندې اِنَّ داخلیږی نواِنَّ دَخپل صدارت دَخاطره دغه لام دَخبرطرف ته دیکه کوی په دې وجه دې لام ته لام مزحلقه وائی

مکه او بکه دَ بلدحرام نومونه دی. دادواړه لغت دی اوداهم وئیلی شوی دی چې بکه دَ مقام بیت الله نوم دې اومکه دَ بلد حرام نوم دې او بعض خلقو وئیلی دی چې دَمسجدحرام نوم بکه دې اومکه دَ پوره حرم نوم دې او بکه ته بکه دَدې وجې نه وئیلې شی چې دَدې معنی دَ خلقو ګڼره ده دَ طواف په وخت چونکه ګڼره وی په دې وجه دې ته

بکه وئیلی شی. او بعض حضراتو وئیلی دی چې دَ بَكَ معنی دَقّ اوډدي معنی ده تکول ماتول تاوول ځکه چې کوم ظالم جابر دې ته په کګه سترګه کتلی دی اودې ته ئی دَ نقصان رسولو کوشش کړې دې دَهغه سټ راتاؤکړې شوې دې. اودَمکه دَتسمیه دَ وجې باره کښې بعض حضراتو وئیلی دی چې دَ اوبو دَقلت دَ وجې نه ورته مکه وئیلی شی عرب وائی مكَّ الفصيل ضَرْعَ أُمِّه کله چې بچې دَ مور پئی ځکلوسره ختم کړی او په قاموس کښې دی چونکه مکه ګناهونه ختمه وی اودا تمك الذنوب نه مشتق دې ای تمحوها وتزيلها.

د مکې ډیرنومونه دی:

① مکه	② بکه	③ البيت العتيق	④ البيت الحرام
⑤ البلد الامين	⑥ المامون	⑦ ام الرحيم	⑧ ام القرى
⑨ صلاح	⑩ العرش	⑪ القادس	⑫ المقدسه
⑬ البناسة	⑭ نون اوباء سره	⑮ الحاطمه	⑯ الرأس
⑰ كوثاء	⑱ البلدة	⑲ البنية	⑳ الكعبة

(اعراب القران)

مجاهد رحمه الله وئیلی دی چې باء په میم سره بدله کړې شوې ده لکه سَبَدْ او سَمَدْ او لازب ولازم کښې.

قوله: تطلبون السبيل، دادَ هغه شبه جواب دې چې سبیل مذکر دې لهذا تَبْغُوْنَهَا په ځائی تَبْغُوْنَهٗ کیدل پکاردی.

جواب: سبیل چونکه مذکر او مؤنث دواړه شان استعمالیږی لهذا تَبْغُوْنَهَا صحیح دې.

قوله: مصدر په معنی دَ مُعْوَجًا دادَدې سوال جواب دې چې عِوَجًا، السبل نه حال دې حالانکه دَدې حمل په السبل باندې صحیح نه دې.

جواب: عِوَجًا، دَمُعْوَجَةً په معنی کښې دې عِوَج دَعین کسره سره غیرمجسم څیزونو کوګوالی دَپاره استعمالیږی مثلاً عقل اوپوهه او عَوَج دَ عین فتحه سره دَمجسم څیزونو مثلاً دیوال وغیره کوګوالی دَپاره استعمالیږی.

[ایاتونه:۱۰۲-۱۰۹]

{يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ} بِاَنْ يُطَاعَ فَلَا يُعْصَي وَيُشْكَر فَلَا يُكْفَر وَيُذْكَر فَلَا يُنْسَي فَقَالُوا يَا رَسُوْل اللّٰه وَمَنْ يَقْوَي عَلَي هٰذَا فَنُسِخَ بِقَوْلِهٖ تَعَالَي {فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ} {وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ} موحدون {وَاعْتَصِمُوا} تَمَسَّكُوا {بِحَبْلِ اللّٰهِ} اَيْ دِيْنِهٖ {جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا} بَعْدَ الْاِسْلَام {وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ} اِنْعَامَهٗ {عَلَيْكُمْ} يَا مَعْشَرَ الْاَوْس وَالْخَزْرَج {اِذْ كُنْتُمْ} قَبْلَ الْاِسْلَام {اَعْدَاءً فَاَلَّفَ}

بَيْنَ {بَيْنَ قُلُوبِكُمْ} بِالْإِسْلَامِ {فَأَصْبَحْتُمْ} فَصِرْتُمْ {بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا} فِي الدِّينِ وَالْوِلَايَةِ {وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا} طَرَف {حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ} لَيْسَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الْوُقُوعِ فِيهَا إِلَّا أَنْ تَمُوتُوا كُفَّارًا {فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا} بِالْإِيمَانِ {كَذَٰلِكَ} كما بين لكم ما ذكر {يبين الله لكم آياته لعلكم تهتدون} {وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ} الْإِسْلَامِ {وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَٰئِكَ} الدَّاعُونَ الْآمِرُونَ النَّاهُونَ {هُمُ الْمُفْلِحُونَ} الْفَائِزُونَ وَمِنْ لِلتَّبْعِيضِ لِأَنَّ مَا ذُكِرَ فَرْضُ كِفَايَةٍ لَا يَلْزَمُ كُلَّ الْأُمَّةِ وَلَا يَلِيقُ بِكُلِّ أَحَدٍ كَالْجَاهِلِ {وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا} عَنْ دِينِهِمْ {وَاخْتَلَفُوا} فِيهِ {مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ} وَهُمُ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى {وأولئك لهم عذاب عظيم} {يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ} أَيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ {فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ} وَهُمُ الْكَافِرُونَ فَيُلْقَوْنَ فِي النَّارِ وَيُقَالُ لَهُمْ تَوْبِيخًا {أَكَفَرْتُمْ بعد إيمانكم} يوم أخذ الميثاق {فذوقوا العذاب بما كنتم تكفرون} {وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ} وَهُمُ الْمُؤْمِنُونَ {فَفِي رحمة الله} اي جنته {هم فيها خالدون} {تِلْكَ} أَيْ هَٰذِهِ الْآيَاتُ {آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ} يَا مُحَمَّدُ {بِالْحَقِّ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِلْعَالَمِينَ} بِأَنْ يَأْخُذَهُمْ بِغَيْرِ جُرْمٍ {وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ} مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا {وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ} تَصِيرُ {الْأُمُورُ}

ترجمه: اې دَايمان والو دَالله تعالى نه اووېرېږئى لكه څنګه چې دَهغه نه دَ وېرېدو حق دې په داسې توګه چې دَهغه اطاعت اوکړې شى دَهغه نافرمانى دې نه کيږى دَهغه شكردې اداکړې شى ناشكرى دې نه کيږى اوهغه دې ياد اوساتلې شى نه دې هيرول کيږى نوصحابه كرامو عرض اوكړو يارسول الله ﷺ دومره قدرت دَ چادې. نودا حكم الله تعالى په خپل قول فاتقوا الله ما استطعتم سره منسوخ کړو. اوتاسو پوهه شئى بغيردَدې حال نه چې تاسو مسلمانان موحدان يئې اودَ الله تعالى رسئى يعنى دَهغه دين تول په يوځائى مضبوط اونيسئى اودَ اسلام نه پس خپل مينځ كښې بې اتفاقى مه كوئى او اې دَ اوس او خزرج خلقو په خپل ځان باندې دَ الله تعالى انعام يادكړئى. كله چې تاسو دَاسلام نه وړاندې دَ يو بل دښمنان وئى نوهغه ستاسو په زړونوكښې دَ اسلام دَ وجې نه محبت واچولو نوتاسو دَهغه دَانعام په وجه په دين كښې او په نصرت كښې رونړه رونړه جوړشوئى اوتاسو دَ دوزخ په غاړه وئى او ستاسو دوزخ ته پريوتلو كښې صرف دومره وخت وو چې تاسو دكفرپه حالت كښې مړه شوې وئى نوتاسو ئى دَ دوزخ نه دَ ايمان په وجه بچ کړئى. دغه شان څنګه چې ستاسودَپاره مذكوره احكام بيان كړل الله تعالى ستاسو دَپاره خپل آياتونه ښكاره ښكاره بيانوى دې دَپاره چې تاسو لار بيامومئى او ضرور دى په تاسوكښې يوداسې جماعت وى چې دَخير يعنى اسلام دعوت وركوى اودَنيک كار حكم كوى اودَبدئى نه منع كوى هم دغه دعوت كونكى حكم كونكى (دَبدئى) نه منع كونكى خلق كامياب دى. (مِنْكُمْ) كښې مِنْ تبعيضيه دې ځكه چې مذكوره حكم فرض كفايه دې دَامت په هرفرد باندې لازم نه دى اونه دَهر سړى لائق دى مثلاً جاهل. اوونيلې

شوی دی چې مِنْ زائده دي يعنی دې دپاره چې تاسو يوامت شئ اودهغه خلقو په شان مه کيږئ چاچې پس دهغې نه چې هغوی ته شواهد اورسيدل او په خپل دين کښې تفريق اوکړو اوهغه يهود اونصاریٰ دی هم دوی به په عظيم عذاب کښې وی. دَ قيامت په ورځ به څه مخونه سپين (پرقيدونکی) وی او څه مخونه به تور وی بياد چامخونه چې تور وی هغه به کافران وی نوهغوی به په دوزخ کښې اچولې شی. او دَ توبيخ په توګه به هغوی ته ونيلی شی آيا هم تاسو کفرکړی وو؟په يوم آلست کښې دايمان راوړونه پس دَخپل کفردَ وجې نه عذاب اوڅکئ. اودَ چا مخونه چې سپين (پرقيدونکی) وی نوهغوی به دَالله تعالی په رحمت جنت کښې وی او هم په دغې کښې به هميشه وی. دادَ الله تعالی آياتونه دی کوم چې اې محمد ﷺ مونږ تاته ټيک ټيک لوستلوسره اوره وو او الله تعالی په مخلوقات باندې ظلم نه غواړی چې بغيردَ جرم نه هغوی راګيرکړی. اودَملك اوخلق او مملوك کيدوپه اعتبارسره ټول کوم څه چې په آسمانونو کښې او زمکوکښې دی هم دَالله تعالی دَپاره دی. اوهم دَالله تعالی طرف ته به ټول امور واپس راګرځيږی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله بِاَنْ يُّطَاعَ فَلَايُعْصىٰ (الخ) داكماحقه دَتقویٰ بيان اودَهغې دَ صورت وضاحت دې.

قوله مُوَحِّدُوْنَ. **سوال**: دَ مُسْلِمُوْنَ تفسير مُوَحِّدُوْنَ سره کولوکښې څه مصلحت دې؟

جواب: دَمرګ په وخت چونکه بغيردَ توحيدنه کوم چې دَقلبی ارادې نوم دې بله هيڅ عملی نيکی نه شی کيدې مثلاً نه مونځ کيدې شی اونه روژه ساتلې کيد يشی اونه حج کيدلې شی علی هذاالقياس هم دَدې مصلحت او حکمت په وجه دَ مُسْلِمُوْنَ تفسير مُوَحِّدُوْنَ سره کړې دې عمل توحيد په آخری وخت کښې هم کيدې شی.

قوله اِعْتَصِمُوْا دَ اعتصام نه دې جمع مذکرحاضر، تاسو مضبوط اونيسئ.

قوله الاوس والخزرج دَ حارثه يا ثعلبه څامن دواړه سکه رونړه وودَ هغوی دَمور نوم قيلَه وو. دا په اصل کښې دَ يمن دَ يو ښار مآرب اوسيدونکی وو چې يوه ډيره ښنه او آباده علاقه وه کومه چې دَ يمن دارالسلطنت صنعاء نه درې منزله فاصله باندې واقع وه مشهور سدمآرب هم دالته واقع وو، دکوم په وجه چې به اهل مآرب په لويه خوشحالئ او خراخئ سره ژوندتيرولو الله تعالی دَهغوی د نافرمانوپه نتيجه کښې هم دَدې بند (ډيم) په ذريعه هغوی اودَ هغوی معيشت تباه کړو. دَ دغه بند په ماتيدوباندې هغوی په اطرافوکښې خوراه شو په دوی کښې څه مدينې ته راغلل آباد شو اوڅه دَ شام وغيره طرف ته لاړل دا واقعه دَ حضرت عيسیٰ عليه السلام نه پس دَ رسول الله ﷺ دَ بعثت نه وړاندې پيښه شوې وه.

قوله يوم اخذ الميثاق دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَ يو سوال مقدر جواب دې.
سوال يهوديان اونصاریٰ مخاطب كولو سره وئيلې شى كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ دَدې مطلب دادې چې هغوى اول ايمان راوړنى وو اودَدې نه پس كافرشو، حالانكه هغوى دَسره نه ايمان راوړې نه وو.
جواب دَجواب حاصل دادې چې دَايمان نه مراد دَ يوم ميثاق ايمان دې كوم چې أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ په جواب كښې بلى وئيلو سره راوړې وو لهذا اوس هيڅ اعتراض پاتې نه شو.

[اياتونه: ۱۱۰-۱۲۰]

{كُنتُمْ} يَا أُمَّةَ مُحَمَّد فِي عِلْمِ اللّٰه تَعَالَى {خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ} أُظْهِرَتْ {لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ} الإيمان {خَيْرًا لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ} كَعَبْدِ اللّٰه بن سَلَام رَضِيَ اللّٰه عَنْهُ وَأَصْحَابه {وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ} الْكَافِرُونَ {لَن يَضُرُّوكُمْ} أَيْ الْيَهُود يَا مَعْشَر الْمُسْلِمِينَ بِشَيْءٍ {إِلَّا أَذًى} بِاللِّسَانِ مِنْ سَبّ وَوَعِيد {وَإِن يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ} مُنْهَزِمِينَ {ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ} عَلَيْكُمْ بَلْ لَكُمْ النَّصْر عَلَيْهِمْ {ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا} حَيْثُمَا وُجِدُوا فَلَا عِزّ لَهُمْ وَلَا اعْتِصَام {إِلَّا} كَائِنِينَ {بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ} الْمُؤْمِنِينَ وَهُوَ عَهْدهمْ إِلَيْهِمْ بِالْأَمَانِ عَلَى أَدَاء الْجِزْيَة أَيْ لَا عِصْمَة لَهُمْ غَيْر ذَلِكَ {وَبَاءُوا} رَجَعُوا {بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ} أَيْ بِسَبَبِ أَنَّهُمْ {كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُونَ الْأَنبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ذلك} تاكيدا {بِمَا عَصَوا} أمر اللّٰه {وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ} يَتَجَاوَزُونَ الْحَلَال إِلَى الْحَرَام {لَيْسُوا} أَيْ أَهْل الْكِتَاب {سَوَاءً} مُسْتَوِينَ {مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ} مُسْتَقِيمَة ثَابِتَة عَلَى الْحَقّ كَعَبْدِ اللّٰه بْن سَلَام رَضِيَ اللّٰه عنه واصحابه {يتلون آيات اللّٰه آناء الليل} أي سَاعَاته {وَهُمْ يَسْجُدُونَ} يُصَلُّونَ حَال {يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُولَٰئِكَ} الْمَوْصُوفُونَ بِمَا ذَكَرَ اللّٰه {مِنَ الصَّالِحِينَ} وَمِنْهُمْ مَنْ لَيْسُوا كَذَلِكَ وَلَيْسُوا مِنَ الصَّالِحِينَ {وَمَا تَفْعَلُوا} بِالتَّاءِ أَيَّتُهَا الْأُمَّة وَالْيَاء أَيْ الأمة القائمة {من خير فلن تكفروه} بِالْوَجْهَيْنِ أَيْ تَعْدَمُوا ثَوَابه بَلْ تُجَازَوْنَ عَلَيْهِ {واللّٰه عليم بالمتقين} {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ} تَدْفَع {عَنْهُمْ أموالهم ولا أولادهم من اللّٰه} اي من عذابه {شيئا} وخصها بالذِّكْر لِأَنَّ الْإِنْسَان يَدْفَع عَنْ نَفْسه تَارَة بفداء المال وتارة بالإستعانة بالأولاد {وأولئك أصحاب النار هم فيها خالدون} {مَثَل} صِفَة {مَا يُنفِقُونَ} أَيْ الْكُفَّار {فِي هَٰذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} فِي عَدَاوَة النَّبِيّ مِنْ صَدَقَة وَنَحْوهَا {كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ} حَرّ أَوْ بَرْد شَدِيد {أَصَابَتْ حَرْثَ} زَرْع {قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ} بِالْكُفْرِ وَالْمَعْصِيَة {فَأَهْلَكَتْهُ} فَلَمْ يَنْتَفِعُوا بِهِ فَكَذَلِكَ نَفَقَاتهمْ ذَاهِبَة لَا يَنْتَفِعُونَ بِهَا {وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ} بِضَيَاعِ نَفَقَاتهمْ {وَلَٰكِنْ أَنفُسَهُمْ يظلمون} بالكفر الموجب لضياعها {يأيها الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً} أَصْفِيَاء تُطْلِعُونَهُمْ عَلَى سِرّكُمْ {مِّن دُونِكُمْ} أَيْ غَيْركُمْ مِنَ الْيَهُود وَالنَّصَارَى وَالْمُنَافِقِينَ {لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا} نُصِبَ

بِنَزْعِ الْخَافِضِ أَيْ لَا يُقَصِّرُونَ لَكُمْ فِي الْفَسَادِ {وَدُّوا} تَمَنَّوْا {مَا عَنِتُّمْ} أَيْ عَنَتَكُمْ وَهُوَ شِدَّةُ الضَّرَرِ {قَدْ بَدَتْ} ظَهَرَتْ {الْبَغْضَاءُ} الْعَدَاوَةُ لَكُمْ {مِنْ أَفْوَاهِهِمْ} بِالْوَقِيعَةِ فِيكُمْ وَإِطْلَاعِ الْمُشْرِكِينَ عَلَى سِرِّكُمْ {وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ} مِنَ الْعَدَاوَةِ {أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ} عَلَى عَدَاوَتِهِمْ {إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ} ذٰلِكَ فَلَا تُوَالُوهُمْ {هَا} لِلتَّنْبِيهِ {أَنْتُمْ} يَا {أُولَاءِ} الْمُؤْمِنِينَ {تُحِبُّونَهُمْ} لِقَرَابَتِهِمْ مِنْكُمْ وَصَدَاقَتِهِمْ {وَلَا يُحِبُّونَكُمْ} لِمُخَالَفَتِهِمْ لَكُمْ فِي الدين {وتؤمنوا بِالْكِتَابِ كُلِّهِ} أَيْ بِالْكُتُبِ كُلِّهَا وَلَا يُؤْمِنُونَ بِكِتَابِكُمْ {وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ} أَطْرَافَ الْأَصَابِعِ {مِنَ الْغَيْظِ} شِدَّةِ الْغَضَبِ لِمَا يَرَوْنَ مِنِ ائْتِلَافِكُمْ وَيُعَبَّرُ عَنْ شِدَّةِ الْغَضَبِ بِعَضِّ الْأَنَامِلِ مَجَازًا وَإِنْ لَمْ يَكُنْ ثَمَّ عَضٌّ {قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ} أَيْ ابْقَوْا عَلَيْهِ إِلَى الْمَوْتِ فَلَنْ تَرَوْا مَا يَسُرُّكُمْ {إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ} بما في قلوبكم وَمِنْهُ مَا يُضْمِرُهُ هٰؤُلَاءِ {إِنْ تَمْسَسْكُمْ} تُصِبْكُمْ {حَسَنَةٌ} نِعْمَةٌ كَنَصْرٍ وَغَنِيمَةٍ {تَسُؤْهُمْ} تُحْزِنْهُمْ {وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ} كَهَزِيمَةٍ وَجَدْبٍ {يَفْرَحُوا بِهَا} وَجُمْلَةُ الشَّرْطِ مُتَّصِلَةٌ بِالشَّرْطِ قَبْلُ وَمَا بَيْنَهُمَا اعْتِرَاضٌ وَالْمَعْنَى أَنَّهُمْ مُتَنَاهُونَ فِي عَدَاوَتِكُمْ فَلِمَ تُوَالُوهُمْ فَاجْتَنِبُوهُمْ {وَإِنْ تَصْبِرُوا} عَلَى أَذَاهُمْ {وَتَتَّقُوا} اللّٰهَ فِي مُوَالَاتِهِمْ وَغَيْرِهَا {لَا يَضُرُّكُمْ} بِكَسْرِ الضَّادِ وَسُكُونِ الرَّاءِ وَضَمِّهَا وَتَشْدِيدِهَا {كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُونَ} بِالْيَاءِ وَالتَّاءِ {مُحِيطٌ} عَالِمٌ فَيُجَازِيهِمْ بِهِ

ترجمه: اې دَمحمد ﷺ امته تاسو دَالله تعالی په علم کښې يو بهترين جماعت يئې چې دَخلقو دَپاره ويستلې شوې دې تاسو دَ نيکئ حکم ورکوئ او دَ بدئ نه منع کول کوئ او په الله تعالی باندې ايمان لرئ او که چرې اهل کتاب هم په الله تعالی باندې ايمان راوړلې نو ايمان راوړل به دَهغوی په حق کښې ښه وو هغوی کښې څه خو مؤمنان دی لکه عبد الله بن سلام رضي الله عنه او دَهغه ملګری مګر دَهغوی نه اکثر نافرمان (يعنی کافر) دی. اې مسلمانانو دا يهوديان په ژبه سره دَ کنځلو او درکې کولو معمولی شان تکليف نه سوا تاسو ته هيڅ نقصان نه شی دررسولې او که چرې هغوی تاسو سره مقابله کوی تاسو ته به شاکړې ماتې خوړونکې به تختئ بيا به دوی ته ستاسو خلاف امداد هم او نه رسيدلې شی بلکه تاسو ته به دهغوی خلاف به امداد هم رسی، په دوی باندې ذلت مسلط کړې شوې دې که هرځائې کښې اوليدلې شی. دوی ته به عزت او استحکام حاصل نه شی. سوا دَهغې نه چې که دَ الله تعالی دَ طرف نه څه عهد وی يا دَ خلقو مسلمانانو دَ طرف نه دوی سره څه عهد وی او هغه جزيه اداکولو په صورت کښې دَ امن معاهده ده. يعنی دَ مذکوره صورت نه علاوه به دوی ته تحفظ حاصل نه وی. او هغوی دَ الله تعالی غضب سره واپس کړې شو او په هغوی باندې خواری واچولې شوه. دا (ټول) دَدې وجې نه اوشو چې دوی به دَ الله تعالی دَ آياتونو منکران کيدل او انبياء کرام به ئې بغير دَ څه وجې نه قتل کول. او دا (ټول) دَدې وجې نه اوشو چې هغوی دَ الله تعالی دَ حکم نافرمانی اوکړه او دَ حلال نه به ئې دَ حرامو طرف ته تجاوز کولو ټول اهل کتاب يو شان نه دی. هم دَ دغه اهل کتاب نه يو جماعت داسې

هم دي چې په نيغه لار باندې قائم دى او په حق باندې كلك ولاړ دى لكه چې عبدالله بن سلام ﷺ او ده‌غه ملګرى. دا خلق د الله تعالى آياتونه په شپه كښې د مانځه په حالت كښې لولي دوى په الله تعالى باندې او د قيامت په ورځ باندې ايمان لرى او د نيكئ حكم وركوى او د بدئى نه منع كول كوى. او د خو خبرو طرف ته منډې وهي. دا (يعني) د مذكوره اوصفاتو حاملين هم د نيكانو خلق نه دى او په دوى كښې څه داسې هم دى چې د دغه صفتونو حامل نه دى اونه د نيكانو خلقونه دى. اوكوم څه چې تاسو ياهغوى قائمه امت نيكى كوى د هغې به هيڅ كله ناقدرى نه شى كيدلې په دواړو صورتونو كښې په داسې توګه چې هغوى د ثواب نه محروم كړې شى بلكه هغوى ته به د هغې صله وركولې شى او الله تعالى پرهيزګار ښه پيژنى. بيشكه كوم خلقو چې كفراختيار كړو هيڅ كله به د هغوى نه د الله تعالى د عذاب لږ شان هم د هغوى مال او د هغوى اولاد لرې نه كړې شى اود دې دواړو ذكرئى په خاص توګه ځكه اوكړو چې انسان بعض وخت د خپل ذات دفاع په مال وركولو سره كوى اوكله د اولاد نه امداد غوښتلو سره (كوى). هم دغه خلق دوزخيان دى چې هميشه به په دې كښې وى. اودا كافران په دې دنياوى ژوندون كښې د نبى كريم ﷺ په دښمنئى كښې د صدقې وغيره په توګه كوم چې خرچ وغيره كوى د دې مثال د هغه هوا په شان دې په كوم كښې چې سخته ګرمى يا سخته يخنى وى او د يو قوم په فصل اولګى چا چې د كفراوګناه په ذريعه په خپل ځان باندې ظلم كړې وى يا هغه هوا هغه فصل تباه اوبرباد كړى د كوم نه چې هغوى څه فائده وا نه خستې شى هم دغه شان د هغوى صدقات دى د هغوى به په دغه صدقات سره هيڅ فائده نه وى. د هغوى صدقات ضائع كولو سره الله تعالى په هغوى باندې ظلم اونه كړو بلكه هغوى د كفر په ذريعه كوم چې د نفقات د بربادئى سبب دې پخپله په خپل ځان باندې ظلم اوكړو. اې ايمان والو تاسو د خپل ځان نه علاوه د يهردو اومنافقين نه هيڅوک كلک دوست مه جوړه وئى چې هغه ستاسو د رازونو نه خبر شى هغه خلق تاسو سره په فساد كښې هيڅ كمې نه پريږدى خَبَالًا د حذف جار د وجې نه منصوب دې. يعنى تاسو سره به په فساد كښې هيڅ كمې كوتاهى نه كوى اوتاسوته د تكليف رسولو خواهش لرى. يعنى ستاسو د خفګان اوهغه سخت نقصان دې. اوستاسو دښمنى خو د هغوى په ژبه سره ستاسو غيبت كول اومشركانوته ستاسو د رازونو خبروركولو سره ښكاره شوې ده اوكوم عداوت چې هغوى په خپلو سينو كښې پټ كړې دې هغه خو نور هم زيات دې مونږ خو تاسوته د هغوى د دښمنئى نشانې ښكاره ښكاره بيان كړى دى كه چرې تاسو په دې خبره پوهيږئى نو تاسو به هغوى سره كلكه دوستى نه كوئى. اې مؤمنانو تاسو خو داسې ئى چې هَا د تنبيه د پاره ده. د هغوى تاسوسره د خپلولئ اود دوستئى د وجې نه هغوى سره محبت ساتئى اوهغوى په دين كښې تاسوسره د مخالفت د وجې نه تاسوسره محبت نه ساتى. او تاسو په ټولو كتابونو باندې ايمان لرئى او هغوى ستاسو په كتاب باندې ايمان نه لرى اودوى

چې کله تاسو سره ملاوېږي نو وائي چې مونږ ایمان راوړی دی او چې کله جدا کېږي نو په تاسو باندې دَ سختې غصې نه ګوتې (یعنی بندونو) باندې چکونه لګوي ځکه چې هغوی ستاسو دَخپل مینځ محبت ته ګوري او دَ غضب شدت ئې عَضِّ الانامل سره تعبیر کړی دی سره دَدې چې په دې موقع باندې (حقیقت) کښې ګوتې پرې کول نه وي. تاسو ورته اووایئې چې تاسو دَ غصې نه مړه شئ یعنی تاسو ترمرګه پورې په غصه کښې اخته اوسئ او تاسو به هیڅ کله خوشحالونکې ځیز اونه ګورئ. بیشکه الله تعالی دَ زړونو خبرې ښه پېژنی او هم دَدغه خبرونه هغه خبرې هم دی کومې چې دې خلقو پټې کړی دی که چرې تاسو باندې څه ښه حالت راځی مثلاً نصرت او غنیمت نو هغوی دا خبره خفه کوی. او که چرې په تاسو څه خراب حالت راځی مثلاً ماتې او قحط کالی نو په هغې سره دوی خوشحالېږی او جمله شرطیه (اِنْ تَمْسَسْكُمْ الخ) ماقبل شرط (وَاِذَا لَقُوْكُمْ الخ) سره متصل دې او دَدې دواړو په مینځ کښې جمله معترضه دہ (او هغه مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ الخ) دہ. مطلب دا چې هغوی ستاسو په دښمنئ کښې حدته رسیدلی دی. نو بیا تاسو هغوی سره (ژوره) دوستانه ولې کوئې؟ تاسو له خود هغوی نه محتاط اوسیدل پکاردی. او که تاسو دَهغوی په تکلیفونو رسولو باندې صبر او تقوی اختیار کړئې. و هغوی سره دَ دوستئ وغیره باره کښې دَالله تعالی نه ویرېږئې نو دَهغوی دهوکې به ستاسو هیڅ خراب نه کړی (لَا يَضُرُّكُمْ) دَ ضاد کسره او راء سکون او ضمه او راء تشدید سره (هم قراءت دې). بیشکه الله تعالی ستاسو دَ اعمالو پوره عملی احاط کړې دہ (یعلمون) یاء او تاء سره دې لهذا هغه به ستو ته (او) هغوی ته بدله درکوی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ، امّة لفظ چونکه عام دې لهذا صحابه او غیر صحابه ټولو ته شامل دې.

قوله في علم الله تعالى.

سوال في علم الله اضافه څه فائده ده؟

جواب کنتم دَماضی صیغه په داسې حدوث باندې دلالت کوی کوم چې مسبوق بالعدم او منقطع بطریان العدم وی دَدې دَپاره في علم الله دَ لفظ اضافه اوکړه دې دَپاره چې مذکوره شك لرې شی ځکه چې دَالله تعالی علم ته نه عدم سابق صحیح دې اونه عدم لاحق.

قوله كائنين، دا لفظ مقدر منلو سره اشاره اوکړه چې بِحَبْلٍ مِنَ الله حال دې.

قوله لَا عِصْمَةَ لَهُمْ غيرذلك، په دې کښې مستثنی منه محذوف طرف ته اشاره ده.

قوله باءو، بَوْءٌ، نه ماضی جمع مذکر غائب، هغه واپس شو.

قوله يُصَلُّوْنَ، حال د يسجدون تفسیر يصلون سره کولو کښې اشاره اوکړه چې يسجدون

به معنی د یصلون دي. ځکه چې په سجده کښې تلاوت نه کیږي او هُمْ مقدر منلو سره د حال کیدو د طرف ته اشاره اوکړه. لهذا دا اعتراض ختم شو چې اوجز اومختصر دا وو چې وَیسجدون نې وئیلې.

قوله بطانة، استر، بدن سره لګیدلې کپړه. دا ډیرنیزدې دوست نه کنایه ده. جاء في الحدیث: الانصار شعار والناس دثار. الشعار ثوبٌ علی الجسد والدثار فوقه.

قوله الوقیعة جمع وقائع معنی فتنه او غیبت.

قوله ذلك دې کښې اشاره ده چې د تفعلون مفعول محذوف دې.

قوله فلا تُوالُوهُمْ دې کښې اشاره ده چې د شرط جزا محذوف ده.

قوله وجملة الشرط متصلة بالشرط قبلُ. مطلب دادې چې د شرط اوجمله شرطیه په مینځ کښې فصل بالاجنبی نشته دې په دې وجه په مینځ کښې جمله معترضه ده او د جملې معترضې په مینځ کښې راتلل عامه خبره ده.

[ایاتونه: ١٢١-١٢٩]

{وَ} اذْكُرْ يَا مُحَمَّد {إِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ} من المدينة {تبوء} تُنْزِل {الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ} مَرَاكِز يَقِفُونَ فِيهَا {لِلْقِتَالِ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ} لِأَقْوَالِكُمْ {عَلِيمٌ} بِأَحْوَالِكُمْ وَهُوَ يَوْم أُحُد خَرَجَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَلْفٍ أَوْ إِلَّا خَمْسِينَ رَجُلًا وَالْمُشْرِكُونَ ثَلَاثَة آلَاف وَنَزَلَ بِالشِّعْبِ يَوْم السَّبْت سَابِع شَوَّال سَنَة ثَلَاث مِنْ الْهِجْرَة وَجَعَلَ ظَهْره وَعَسْكَره إِلَى أُحُد وَسَوَّى صُفُوفهمْ وَأَجْلَسَ جَيْشًا مِنْ الرُّمَاة وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْد اللّٰه بْن جُبَيْر بِسَفْحِ الْجَبَل وَقَالَ انْضَحُوا عَنَّا بِالنَّبْلِ لَا يأتونا مِنْ وَرَائِنَا وَلَا تَبْرَحُوا غُلِبْنَا أَوْ نُصِرْنَا {إِذْ} بَدَل مِنْ إِذْ قَبْله {هَمَّتْ} بَنُو سَلِمَة وَبَنُو حَارِثَة جَنَاحَا الْعَسْكَر {طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا} تَجْبُنَا عَنْ الْقِتَال وَتَرْجِعَا لَمَّا رَجَعَ عَبْد اللّٰه بْن أُبَيّ الْمُنَافِق وَأَصْحَابه وَقَالَ عَلَامَ نَقْتُل أَنْفُسنَا وَأَوْلَادنَا وَقَالَ لِأَبِي جَابِر السُّلَمِيّ الْقَائِل لَهُ أَنْشُدكُمْ اللّٰه فِي نَبِيّكُمْ وَأَنْفُسكُمْ لَوْ نَعْلَم قِتَالًا لَاتَّبَعْنَاكُمْ فَثَبَّتَهُمَا اللّٰه وَلَمْ يَنْصَرِفَا {وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا} نَاصِرهمَا {وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ} لِيَثِقُوا بِهِ دُون غَيْره وَنَزَلَ لَمَّا هُزِمُوا تَذْكِيرًا لَهُمْ بِنِعْمَةِ اللّٰه {وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ} مَوْضِع بَيْن مَكَّة وَالْمَدِينَة {وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ} بِقِلَّةِ الْعَدَد وَالسِّلَاح {فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} نِعَمه {إِذْ} ظَرْف لِنَصَرَكُمْ {تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ} تُوعِدهُمْ تَطْمِينًا {أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ} يُعِينكُمْ {رَبُّكُمْ بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {بَلَى} يَكْفِيكُمْ ذَلِكَ وَفِي الْأَنْفَال بِأَلْفٍ لِأَنَّهُ أَمَدَّهُمْ أَوَّلًا بِهَا ثُمَّ صَارَتْ ثَلَاثَة ثُمَّ صَارَتْ خَمْسَة كَمَا قَالَ تَعَالَى {إِنْ تَصْبِرُوا} عَلَى لِقَاء الْعَدُوّ {وَتَتَّقُوا} اللّٰه فِي الْمُخَالَفَة {وَيَأْتُوكُمْ} أَيْ الْمُشْرِكُونَ {مِنْ فَوْرِهِمْ} وَقْتهمْ {هَذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ} بِكَسْرِ الْوَاو وَفَتْحهَا أَيْ مُعَلَّمِينَ وَقَدْ صَبَرُوا وَأَنْجَزَ اللّٰه وَعْده بِأَنْ قَاتَلَتْ مَعَهُمْ الْمَلَائِكَة عَلَى خَيْل بُلْق عَلَيْهِمْ عَمَائِم صُفْر أَوْ بِيض أَرْسَلُوهَا بَيْن أَكْتَافهمْ {وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ} أَيْ

الإمْدَاد {إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ} بِالنَّصْرِ {وَلِتَطْمَئِنَّ} تَسْكُن {قُلُوبُكُم بِهِ} فَلَا تجزع من كسرة العَدُوّ وقلّتكم {وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ} يُؤْتِيه مَنْ يَشَاء وَلَيْسَ بكثرة الجند {لِيَقْطَعَ} مُتَعَلِّق بنصركم اي لِيُهْلِك {طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا} بِالْقَتْلِ وَالْأَسْر {أَوْ يَكْبِتَهُمْ} يُذِلَّهُمْ بِالْهَزِيمَةِ {فَيَنقَلِبُوا} يَرْجِعُوا {خَائِبِينَ} لَمْ يَنَالُوا مَا راموه وَنَزَلَتْ لَمَّا كُسِرَتْ رُبَاعِيَّته صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشُجَّ وَجْهه يَوْم أُحُد وَقَالَ كَيْفَ يَفْلَح قَوْم خَضَبُوا وَجه نَبِيِّهِمْ بِالدَّمِ {لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ} بَلْ الْأَمْر لِلّٰهِ فَاصْبِرْ {أَوْ} بِمَعْنَى إِلَى أَنْ {يَتُوبَ عَلَيْهِمْ} بِالْإِسْلَامِ {أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ} بِالْكُفْرِ {وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ} مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا {يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ} الْمَغْفِرَة لَهُ {وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ} تَعْذِيبه {وَاللَّهُ غَفُورٌ} لأوليائه {رَّحِيمٌ} بأهل طاعته

ترجمه: او اې محمد ﷺ هغه وخت یادکړه کوم وخت چې ته دَ مدینې نه دَ خپل اهل طرف نه وتلې وې د مسلمانانو دَ جنګ په مناسب مراکزنو باندې اودرولوسره او الله تعالی دَهغوی اقوال ډېر اورېدونکې او دَهغوی احوال ډیرپیژندونکې دې او داد اُحد ورځ وه. رسول الله ﷺ زر یا پنځوس کم زر کسانوسره وتلې وو او دَمشرکانو تعداد درې زره وو. په کال ۳هجری دَ شوال دَمیاشتې اووم تاریخ دَ هفتې په ورځ په کنده کښې نزول اوفرمائیلو او دَ احد غر طرف ته ئې خپله او دَلښکر شاکړه او حضورپاك دَ لښکرصفونه صحیح کړل او دَ غشوویشتونکویوه دسته په کوم باندې چې حضرت عبدالله بن جبیر ؓ سالارمقررکړې وو دَ غر په غاړه باندې مقررکړل او ورئې فرمائیل چې دَ غشوویشتلو په ذریعه (دښمن ګډوډکولوسره) تاسوزمونږ دفاع کوئې دې دَپاره چې دښمن زمونږ دَشاه دَ طرف نه په مونږ رانشي او خپل ځائې هیڅ کله پرینږدئې که مونږ مغلوب شو او که غالب. کله چې تاسونه دوه ډلې دا اذ سابقه اذ نه بدل دې بنوسلمه او بنوحارثه چې دَ لښکردوه متې وې داخیال اوکړو چې همت بیلي یعنی په جنګ کښې بزدلي اوښائي او واپس لاړشي. خو عبدالله بن ابی منافق او دَهغه ملګری داسې ویناکولوسره واپس شو چې مونږ ولې خپل ځانونه او خپل اولاد قتل کړو؟ او (عبدالله بن ابی) ابوحاتم سلمی ته وئیلي وو چې تاسوته ستاسو دَ ځانونو اوستاسو دَ نبی باره کښې دَحفاظت قسم درکوم وئې که چرې مونږ (دا) جنګ ګنړلو نوضروربه مو ستاسو ملګرتیاکوله. (یعنی دا جنګ نه دې هلاکت دې) نو الله تعالی دواړو جماعتونوته ثابت قدمي ورکړه او دا خلق واپس نه شو، حال دا دې چې الله تعالی دَدواړو امدادی وو او مسلمانانوله خو هم په الله تعالی باندې یقین لرل پکاردی نه چې په بل چاباندې (راتلونکې آیت) دَالله تعالی دَ نعمتونو یادګیرنې ورکولو دَپاره هغه وخت نازل شو کوم وخت چې مسلمانانو شکست اوخوړلو. او یقیناً بدر کښې چې دَمکې او مدینې په مینځ کښې یومقام دې الله تعالی ستاسو امداداوکړو حالانکه تاسو په تعداد کښې او دَ

آلاتو په اعتبارسره کم وئ. دَالله تعالی نه ویریږئ دې دَپاره چې تاسو دَهغه دَنعمتونو شکرګذار جوړشئ. هغه وخت یاد کړئ کله چې تاسو دَمؤمنانو دَ زړونو دَ مطمئن کولو دَپاره مؤمنانوسره وعده کړې وه، آیاستاسو دَپاره کافی نه دې چې ستاسو پروردګار درې زره نازل کړې شوې فرښتوسره ستاسوامداداوکړی (منزلين) کښې تخفیف اوتشدیددواړه قراءتونه دی. بیشکه دامقداربه ستاسو دَپاره کافی وی. او په سورت انفال کښې دَ زرو ذکردې، ځکه چې په شروع کښې دَهغوی امداد په یوزر سره کړې وو بیادرې زره شوې بیا پنځه زره لګه چې الله تعالی اوفرمائیل که تاسو دښمن سره دَمقابله په وخت صبراوکړئ اودَ الله تعالی دَمخالفت نه ویریږئ اومشرکان چې کوم وخت په تاسو باندې ناڅاپی حمله اوکړی نوالله تعالی پنځه زره نشان لګولي (منتخب) فرښتوسره به ستاسو امدادکوی. دَواؤکسره اوفتحه سره. یعنی دَ جنګ آداب زده کولوسره (رومبی صورت کښې) یا ترتیب یافته (دویم صورت کښې) اوهغه خلقو صبراوکړو، اوالله تعالی خپله وعده پوره کړه. په داسې توګه چې فرښتو اَبلَقْ اسونوباندې سوریدوسره مشرکانو سره جنګ اوکړو چې زیړ یاسپین پټکی ئې وهلي وو اودَهغې شملې دَدواړو اوږو په مینځ کښې زوړندوې. اودا امداد الله تعالی ځکه اوکړو دې دَپاره چې تاسو خوشحال شئ اودې دَپاره چې ستاسو زړونه په دې سره مطمئن شی اوتاسو دَدښمن دَ کثرت او د خپل ځان دَقلت دَ وجې نه اونه ویریږئ. اونصرت خودَ زبردست او حکمت والا الله دَطرف نه دې چاله چې غواړی ورکوی. اوهغه دَ لښکر په کثرت باندې موقوف نه دې. (اودا نصرت دَدې دَپاره وو) دې دَپاره چې کفر کونکونه یوه ډله دَقتل اوقید په ذریعه هلاک کړی. (ليقطع) نصرکم متعلق دې یادَ شکست په ذریعه هغوی ذلیل کړی اوهغوی ناکامه شي واپس شي اوهغوی خپل مطلوب حاصل نه کړې شی. اوکوم وخت چې په احدکښې دَرسول الله ﷺ رباعی مبارك شهیدان شو اودحضورپاك مخ مبارك زخمي شو نوحضورپاك اوفرمائیل چې هغه قوم به څنګه فتح یاموبی چاچې دَخپل نبی مخ په وینو ککړکړو. ستاسو په دې معامله کښې هیڅ دخل نشته بلکه معامله دَالله تعالی په لاس کښې ده، بس تاسوصبراوکړئ. که هغوی ته دَاسلام توفیق ورکړی دَهغوی توبه قبوله کړی یا هغوی ته عذاب ورکړی. اَوْ په معنی د الی ان دې. ځکه چې هغه دکفردَ وجې نه ظالمان دی. اوڅه چې په آسمانونو او زمکه کښې دی دَ الله ملک دې. دَ ملکیت په اعتبار سره او دَ مملوکیت په اعتبارسره. هغه چې دَچامغفرت غواړی دَهغه مغفرت کوی اوچاته چې عذاب ورکول غواړی هغه ته عذاب ورکوی. او الله خپل دوستانو لره ډیرمعاف کونکې او په اطاعت کونکوباندې رحم کونکې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: غَدَوْتَ، غَدْوٌ نه ماضی واحد مذکر حاضر معروف. الغدو د سحر وخت کښې وتل.

قوله: تُبَوِّءُ، تَبْوِئَة نه مضارع واحد مذکر حاضر ته ځائی ورکوې، راکوزه وې ځی، دَدې تعدیه مفعول ثانی طرف ته بنفسه هم کیږی او باللام هم.

قوله: اِذْهَمَّتْ طَّائِفَتَانِ، دا اِذْ د سابق اِذْغَدَوْتَ سره بدل دې نه چې سمیع علیم لکه چې بعض حضراتو وئیلی دی ځکه چې سمیع وعلیم کیدل د یو زمان سره مقید نه دی.

قوله: بدر د مکې او مدینې په مینځ د یو کوهی نوم دې. دا کوهې د بدر نومې یو سړی وو هم دَهغه په نوم باندې دا ځائی په نوم شو.

قوله: مُسَوِّمِیْنَ واؤ کسره سره، یعنی فرښتو د خپلو اسونو په لکو او تندو باندې او د خپل لباس په ذریعه علامت لګولې وو او که چرې واؤ فتحه سره وی نو مطلب به وی چې هغه اسونو باندې نشانونه لګیدلې وو.

قوله ای مُعْلِمِیْنَ دا د مُسَوِّمِیْنَ تفسیر دې.

قوله بُلْقٌ، د اَبْلَقُ جمع ده برګ.

قوله: اَرْسَلُوْهَا بَیْنَ اکتافهم یعنی دَخپلو پټکو شملې په ملا باندې زوړند هګړې وې.

قوله: او بمعنی اِلٰی اَنْ، کلمه د اَوْدَ اِلٰی اَنْ، په معنی کښې دَاخستلو د وجې نه دې چې یَتُوْبَ فعل دې او ماقبل کښې اَلْاَمْر او شئٌ دواړه اسم دی، لهذا د فعل عطف په اسم باندې صحیح نه دې او معنی د نه صحیح کیدو د وجې نه لَیْسَ باندې هم عطف صحیح نه دې. او اَوْ بمعنی اِلٰی بکثرت مستعمل دې.

[ایاتونه: ۱۳۰-۱٤۳]

{يأيها الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً} بِأَلِفٍ وَدُونِهَا بِأَنْ تَزِيدُوا فِي الْمَالِ عِنْدَ حُلُولِ الْأَجَلِ وَتُؤَخِّرُوا الطَّلَبَ {وَاتَّقُوا اللَّهَ} بِتَرْكِهِ {لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} تَفُوزُونَ {وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ} أَنْ تُعَذَّبُوا بِهَا {وَأَطِيعُوا اللهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ} {وَسَارِعُوا} بِوَاوٍ وَدُونِهَا {إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ} أَيْ كَعَرْضِهِمَا لَوْ وُصِلَتْ إِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى وَالْعَرْضُ السَّعَةُ {أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ} اللهَ بِعَمَلِ الطَّاعَاتِ وَتَرْكِ الْمَعَاصِي {الَّذِينَ يُنْفِقُونَ} فِي طَاعَةِ اللهِ {فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ} الْيُسْرِ وَالْعُسْرِ {وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ} الْكَافِّينَ عَنْ إِمْضَائِهِ مَعَ الْقُدْرَةِ {وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ} مِمَّنْ ظَلَمَهُمْ أَيِ التَّارِكِينَ عُقُوبَتَهُمْ {وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} بِهَذِهِ الْأَفْعَالِ أَيْ يُثِيبُهُمْ {وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً} ذَنْبًا قَبِيحًا كَالزِّنَا {أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ} بِمَا دُونَهُ كَالْقُبْلَةِ {ذَكَرُوا اللَّهَ} أَيْ وَعِيدَهُ {فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ} أَيْ لَا

{يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا} يُدَاوِمُوا {عَلَىٰ مَا فَعَلُوا} بَلْ أَقْلَعُوا عَنْهُ {وَهُمْ يَعْلَمُونَ} أَنَّ الَّذِي أَتَوْهُ مَعْصِيَة {أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا} حَال مُقَدَّرَة أَيْ مُقَدَّرِينَ الْخُلُود فِيهَا إِذَا دَخَلُوهَا {وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ} بِالطَّاعَةِ هٰذَا الْأَجْر وَنَزَلَ فِي هَزِيمَة أُحُد {قَدْ خَلَتْ} مَضَتْ {مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ} طَرَائِق فِي الْكُفَّار بِإِمْهَالِهِمْ ثُمَّ أَخْذَهُمْ {فَسِيرُوا} أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ {فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ} الرُّسُل أَيْ آخِر أَمْرهمْ مِنَ الْهَلَاك فَلَا تَحْزَنُوا لِغَلَبَتِهِمْ فَأَنَا أُمْهِلُهُمْ لِوَقْتِهِمْ {هَٰذَا} الْقُرْآن {بَيَانٌ لِّلنَّاسِ} كُلّهمْ {وَهُدًى} مِنَ الضَّلَالَة {وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ} مِنْهُمْ {وَلَا تَهِنُوا} تَضْعُفُوا عَنْ قِتَال الْكُفَّار {وَلَا تَحْزَنُوا} عَلَى مَا أَصَابَكُمْ بِأُحُدٍ {وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ} بِالْغَلَبَةِ عَلَيْهِمْ {إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ} حَقًّا وَجَوَابه دَلَّ عَلَيْهِ مَجْمُوع مَا قَبْله {إِن يَمْسَسْكُمْ} يُصِبْكُمْ بِأُحُدٍ {قَرْحٌ} بِفَتْحِ الْقَاف وَضَمِّهَا جَهْد مِنْ جُرْح وَنَحْوه {فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ} الْكُفَّار {قَرْحٌ مِّثْلُهُ} بِبَدْرٍ {وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا} نُصَرِّفهَا {بَيْنَ النَّاسِ} يَوْمًا لِفِرْقَةٍ وَيَوْمًا لِأُخْرَى لِيَتَّعِظُوا {وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ} عِلْم ظُهُور {الَّذِينَ آمَنُوا} أَخْلَصُوا فِي إِيمَانهمْ مِنْ غَيْرهمْ {وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ} يُكْرِمهُمْ بِالشَّهَادَةِ {وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ} الْكَافِرِينَ أَيْ يُعَاقِبهُمْ وَمَا يُنْعِم بِهِ عليهم استدراج {وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا} يُطَهِّرهُمْ مِنَ الذُّنُوب بما يصيبهم {وَيَمْحَقَ} يهلك {الْكَافِرِينَ} {أَمْ} بَلْ أ {حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا} لم {يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ} عِلْم ظُهُور {وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ} فِي الشَّدَائِد {وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ} فِيهِ حَذْف إِحْدَى التَّاءَيْنِ فِي الْأَصْل {الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ} حَيْثُ قُلْتُمْ لَيْتَ لَنَا يَوْمًا كَيَوْمِ بَدْر لِنَنَالَ مَا نَالَ شُهَدَاؤُهُ {فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ} أَيْ سَبَبه الْحَرْب {وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ} أَيْ بُصَرَاء تَتَأَمَّلُونَ الْحَال كَيْفَ هِيَ فَلِمَ انْهَزَمْتُمْ

ترجمه: اې ايمان والودا زياتي سودخوړل پرېږدئ (مُضَعَّفَةً) الف او بغيرالف په دواړو طريقودې. په داسې توګه چې دمودې پوره کېدو سره مالي مطالبه زياته کړئ. او په مطالبه کښې مهلت ورکړئ (اکل ربا) پرېږدئ الله تعالى نه اووېرېږئ چې تاسو کامياب شئ. اودهغه اور نه اووېرېږئ کوم چې (اصالةً) دکافرانودپاره تيارکړې شوې دې چې تاسو ته په هغې کښې عذاب درکړې شي اودالله تعالى اودهغه د رسول اطاعت کوئ دې دپاره چې په تاسو رحم اوکړې شي اودخپل رب مغفرت او جنت طرف ته منډه کړئ دکوم وسعت چې زمکه اوآسمان دې. (سَارِعُوا) کښې وراندې د سين نه واؤ او بغيرواؤ دواړه (قراءتونه) دي. يعنى د (جنت وسعت) د دې دواړو د وسعت په شان دې که چرې يو بل سره يوځائى کړې شي او دعرض معنى د وسعت ده، عمل اطاعت اوترک معاصى کولوسره کوم چې دالله تعالى طرف نه د ويرېدونکودپاره تيارکړې شوې دې دا هغه خلق دى فراغت اوتنګدستئ (دواړو حالتو) کښې دالله تعالى په اطاعت کښې خرچ کوى (يعنى مالدارئ او غريبئ دواړو کښې خرچ کوى) او غصه څکونکى دى يعنى د قدرت نه باوجود غصه برداشت کونکى دى او

کو مر خلقو چې په هغوی باندې ظلم کړې دې هغوی ته معافي کونکي دي یعني دَ هغوی سزا ترك کونکي دي الله تعالی دَ دغه اعمالو په ذریعه نیکانو سره محبت کونکې دې یعني هغوی ته ثواب ورکونکې دې او داهغه خلق دي چې کله یو ناخوښه حرکت یعني ناخوښه ګناه او کړي مثلاً زنا یا دَ زنانه کم دَ ښکلولو په ذریعه په خپل ځان باندې ظلم او کړي نو الله تعالی یعني دَهغه وعید یادوي او دَخپلو ګناهونو نه معافي غواړي او دَ الله تعالی نه سوا څوک ګناهونه معاف کولې شي؟ او دا خلق په خپلو کړو باندې کلکېږي نه بلکه دَهغې نه منع کیږي حال دا دې چې هغوی دَدې (قباحت) پیژني چې دَهغوی نه کوم کار شوې دې هغه ګناه ده دَ داسې خلقو بدله دَهغوی دَ پروردګار دَ طرف نه مغفرت دې او داسې باغونه دي دَکوم لاندې چې نهرونه بهیږي په هغې کښې به دوی همیشه همیشه دَپاره وي کله چې په دې کښې داخل شي (خلدین) حال مقدره دې یعني دَهغوی دَپاره په دې باغونو کښې او سیدل مقدر کړې شوي دي. دَ اطاعت کونکو دَپاره دا بهترین اجر دې او دَ احد دَ شکست باره کښې (راتلونکې آیت) نازل شو، تاسو نه وړاندې هم کافرانو ته مهلت ورکول او بیا دَ راګیرولو واقعات شوي دي نو اې مؤمنانو په زمکه کښې ګرځئ راګرځئ او دَ رسولانو تکذیب کونکو په انجام باندې غور او فکر کوئ یعني دَهغوی انجام هم هلاکت دې. لهذا تاسو دَهغوی په (وختي) غلبه باندې خاطرمه درنه وئې زه هغوی ته (دَهغوی دَهلاکت) دَ وخت پورې مهلت ورکوم. دا قرآن دَ ټولو خلقو دَپاره بیان دې. او په دوی کښې دَ پرهیزګارانو دَپاره دَ ګمراهئي نه هدایت او نصیحت دې او مه همت یلئ یعني دَکافرانو په مقابله کښې په جنګ کښې کمزورئي کښې مه پریوځئ. او په احد کښې چې څه ستاسو مخې ته راغلل په هغې سره خفه کیږئ مه او که چرې تاسو په صحیح معنی کښې مؤمنان پاتې شوئ نو په دوی به فتح حاصولو سره هم تاسو غالب کیږئ او په جواب شرط باندې دَ ماقبل مجموعه یعني (فسیروا او لاتهنوا الخ) دلالت کوي یعني که تاسو په احد کښې زخمي شوئ (قرح) کښې دَ قاف فتحه سره او دَدې ضمه سره. دَ زخم وغیره تکلیف. نو په بدر کښې کافرانو ته هم دغه شان زخم لګیدلې دې او مونږ دغه ورځې په خلقو کښې اړو را اړو (یعني) بدلو رابدلو. یوه ورځ دَ یو فریق په حق کښې او بله ورځ دَ بل فریق په حق کښې دې دَپاره چې خلق عبرت حاصل کړي. (دَ احد شکست) په دې وجه باندې وو چې مخلص مؤمنان دَ نورو (غیر مخلص) نه جدا کولو سره ښکاره کړي او په تاسو کښې بعض ته شهادت درکړو او دَ شهادت په ذریعه هغوی ته اعزاز یعني اجر ورکړو. الله تعالی ظالمانو یعني کافرانو سره محبت نه کوي یعني هغوی ته به سزا ورکوي. او په هغوی باندې چې کوم څه انعام کیږي هغه مهلت دې او دې دَپاره چې الله تعالی دَ ایمان والو دَ دغه تکلیف په ذریعه کرم چې هغوی ته رسیدلې دَ ګناهونو نه پاک صفا کړي او کافران هلاک کړي کیدې شي تاسو په دې خیال کښې یئ چې په جنت کښې به داخل شئ حالانکه تر دغه وخت تاسو نه دَعلم ظهور په

نو که هغه خلق نه دی ښکاره کړی چې په تاسو کښې جهادکونکی څوک دی؟ او په تکلیفونو کښې صبرکونکی څوک دی؟ دَ جنګ نه وړاندې دَ مرګ خواهش کولو په اصل کښې یوه تاء حذف کړې شوې ده، کوم وخت چې تاسو ونیلی وو چې افسوس زمونږ دَپاره هم یوه ورځ لکه دَ بدر وې دې دَپاره چې مونږ هم هغه حاصل کړی وی کوم چې دَ بدر شهداؤ حاصل کړل پس تاسو مرګ یعنی دَهغې سبب چې هغه جنګ دې په غرېدلو سترګوسره کتلو یعنی دَ ماتې خوړلو په اسباب کښې موغور اوفکر کولو چې دا شکست دَ کومو اسبابو په وجه سره اوشو یعنی تاسو ولې شکست اوخوړلو؟

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: كَعَرْضِهِمَا دې کښې اشاره ده چې حرف تشبیه اومضاف محذوف دې.

سوال: دَمضاف محذوف منلوڅه ضرورت پیښ شو؟

جواب: دې دَپاره چې دَ جنت دَ وسعت تشبیه زمکې اوآسمان سره صحیح شی، ځکه چې دَ جنت پلنوالې مقوله د کم متصل یعنی په مقدارسره دې اودَزمکې اوآسمان مقوله په جوهرسره دې حالانکه دَ تشبیه دَ جوازدَپاره دَمقوله متحد کیدل ضروری دی اوکله چې عرض محذوف اومنلې شو نودواړه یعنی مشبه او مشبه به مقوله د کم متصل نه شو، لهذا تشبیه صحیح شوه.

قوله: بِمَادونه، دَدې حذف ضرورت ځکه پیښ شو چې عطف صحیح شی ځکه چې دَعطف دَپاره مغایرت ضروری دې.

قوله: ای وعِیْده، دَدې اضافه مقصد دَدې شبه جواب دې چې دَالله تعالی د ذکرنه صرف استغفار مراد اخستل ضروری نه دی.

جواب: دَ ذکر نه مراد دَهغه دَ وعید ذکردې.

قوله. حال مقدرة دادَدې شبه جواب دې چې دَ حال دَپاره مقارنت یعنی دَحال او ذوالحال زمانه متحدکیدل ضروری دی حالانکه خلودنفس به دَ جزاء دَ ثبوت نه پس کیږی.

جواب: دَدوی دَپاره خلود مقدرکړې شوې دې.

قوله: وَجوابه دَلّ علیه مجموع ماقبلهٗ دادَ یوسوال مقدر جواب دې.

قوله: اِنْ كُنْتُمْ مؤمنین شرط دې دَدې جزاء که چرې دَماقبل جمله فَسِيْرُوْا فِی الارض الخ دې نو دا صحیح نه دې ځکه چې دَ ماقبل جمله فَسِيْرُوْا فی الارض نه مفهوم دې.

قوله: لِيَتَّعِظُوْا دا لفظ محذوف منلوسره مفسرعلام اشاره اوکړه چې دَ لِيَعْلَمَ عطف په محذوف باندې دې.

قوله: يكرمهم بالشهادة دې كښې اشاره ده چې شهداء دَ شهيد جمع ده نه چې دَ شاهد.

قوله: بل، يعنى ام، په معنى دَ بل دى. دې كښې اشاره ده چې دا اَم منقطعه دې نه چې متصله چې د عديل دَ (مقابل) ضرورت وى.

قوله: اى بُصَرَاءُ.

سوال: فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ نه پس انتم تنظرون وئيلو څه مطلب دې؟

جواب: دَ رومبى رويت نه مراد رويت بصرى دې. دَ رَاَيْتُمُوْهُ ضمير مفعولى دَمرګ طرف ته راجع دې مګر مرګ چونکه په نظر راتلونکې څيز نه دې په دې وجه ئې سبب مضاف محذوف اومنلو يعنى سبب دَ مرګ يعنى حرب ئې اوليدلو اوانتم تنظرون نه صاحب بصيرت اوعلم ودانش كيدل مراد دى لهذا معلومه شوه چې دواړه معنې جدا جدا دى.

[اياتونه: ۱٤٤ - ۱٤٨]

وَنَزَلَ فِي هَزِيمَتِهِمْ لَمَّا أُشِيعَ أَنَّ النَّبِيَّ قُتِلَ وَقَالَ لَهُمُ الْمُنَافِقُونَ إِنْ كَانَ قُتِلَ فَارْجِعُوا إِلَى دِينِكُم {وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَاتَ أَوْ قُتِلَ} كَغَيْرِهِ {انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ} رَجَعْتُمْ إِلَى الْكُفْرِ وَالْجُمْلَةُ الْأَخِيرَةُ مَحَلُّ الِاسْتِفْهَامِ الْإِنْكَارِيِّ أَيْ مَا كَانَ مَعْبُودًا فَتَرْجِعُوا {وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا} وَإِنَّمَا يَضُرُّ نَفْسَهُ {وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ} نِعَمَه بالثبات {وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ} بِقَضَائِهِ {كِتَابًا} مَصْدَرٌ أَيْ كَتَبَ اللَّهُ ذَلِكَ {مُؤَجَّلًا} مُؤَقَّتًا لَا يَتَقَدَّمُ وَلَا يَتَأَخَّرُ فَلِمَ انْهَزَمْتُمْ وَالْهَزِيمَةُ لَا تَدْفَعُ الْمَوْتَ وَالثَّبَاتُ لَا يَقْطَعُ الْحَيَاةَ {وَمَنْ يُرِدْ} بِعَمَلِهِ {ثَوَابَ الدُّنْيَا} أَيْ جَزَاءَهُ مِنْهَا {نُؤْتِهِ مِنْهَا} مَا قُسِمَ لَهُ وَلَا حَظَّ لَهُ فِي الْآخِرَةِ {وَمَنْ يُرِدْ ثَوَابَ الْآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا} أَيْ مِنْ ثَوَابِهَا {وَسنجزي الشاكرين} {وكأين} كم {من نبي قاتل} وَفِي قِرَاءَةٍ قُاتِلَ وَالْفَاعِلُ ضَمِيرُهُ {مَعَهُ} خَبَرُ مُبْتَدَؤُهُ {رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ} جُمُوعٌ كَثِيرَةٌ {فَمَا وَهَنُوا} جَبُنُوا {لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ} مِنَ الْجِرَاحِ وَقَتْلِ أَنْبِيَائِهِمْ وَأَصْحَابِهِمْ {وَمَا ضَعُفُوا} عَنِ الْجِهَادِ {وَمَا اسْتَكَانُوا} خَضَعُوا لِعَدُوِّهِمْ كَمَا فَعَلْتُمْ حِينَ قِيلَ قُتِلَ النَّبِيُّ {وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ} عَلَى الْبَلَاءِ أَيْ يُثِيبُهُمْ {وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ} عِنْدَ قَتْلِ نَبِيِّهِمْ مَعَ ثَبَاتِهِمْ وَصَبْرِهِمْ {إِلَّا أَنْ قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا} تَجَاوُزَنَا الْحَدَّ {فِي أَمْرِنَا} إِيذَانًا بِأَنَّ مَا أَصَابَهُمْ لِسُوءِ فِعْلِهِمْ وَهَضْمًا لِأَنْفُسِهِمْ {وثبت أقدامنا} بالقوة على الجهاد {وانصرنا على القوم الكافرين} {فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا} النَّصْرَ وَالْغَنِيمَةَ {وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ} أَيِ الْجَنَّةِ وَحُسْنُهُ التَّفَضُّلُ فَوْقَ الِاسْتِحْقَاقِ {والله يحب المحسنين}

ترجمه: راتلونكې آيت دَ صحابه كرامو باره كښې هغه وخت نازل شوكوم وخت چې داخبره مشهوره شوه چې محمد ﷺ شهيد كړې شو اوصحابه (مخلصين) ته منافقينواووئيل چې اوس محمد ﷺ قتل كړې شو نودَخپل (سابق) دين طرف ته واپس

راز کرځئ نو ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُولٌ الخ﴾ نازل شو. اومحمد ﷺ خو بس یو رسول دې، اودَهغوی نه وړاندې نور رسولان هم تیرشوی دی نوکه هغه وفات شي یا قتل کړې شي نوآیا تاسو به الټه خپې واپس ګرځئ؟ یعنی دکفرطرف ته به واپس کیږئ؟ اوآخری جمله دَ استفهام انکاری په محل کښې ده، یعنی هغه معبودنه وو ﴿چې دَهغه دَ مرګ دَ وجې نه﴾ تاسو واپس اوګرځئ اوڅوک چې الټه خپې ﴿دکفرطرف ته﴾ اوګرځیدونوهغه به دَالله تعالی هیڅ نقصان هم اونه کړی بلکه پخپله به خپل نقصان کوی. اوالله تعالی به ډیر زر دَهغه دَ نعمتونو شکرکونکوته دَ ثواب په صورت کښې ښه بدله ورکوی. اوممکن نه ده چې ساوالا په خپل مقرروخت باندې دَالله تعالی دَ قضاءنه بغیر مړشی ﴿کِتٰبًا﴾ مصدردې یعنی الله تعالی دَ مرګ وخت مقررلیکلې دې. مرګ نه وړاندې کیږی اونه روستوکیږی نوبیا تاسو ولې همت بیلو؟ دَ همت بیلل مرګ نه شی روستوکولې او ثابت قدم اوسیدل ژوندنه شی ختمولې. اوکوم سړې چې په خپل عمل سره دَ دنیافائده غواړی یعنی دَ دنیا صله غواړی نومونږبه دَهغې نه کوم چې دَهغه په قسمت کښې وی هغه ته ورکړو اوڅوک چې دَآخرت نفع غواړی نومونږ به هغه ته دَهغې ثواب ورکړو او مونږ به ډیرزر شکر کونکوته بدله ورکوو اوڅومره انبیاء کرام قتل کړې شوی دی او په یو قراءت کښې قٰتَلَ دې اوفاعل دَدې ضمیردې. چې هغوی سره ډیر دَ الله والا وو. مَعَهٗ خبردې او رِبِّیُّوْنَ کَثِیْرٌ دَدې مبتداء دې، لوئی جماعت.

دویمه ترجمه: اودَ ډیرو انبیاء کرامو هم رکاب کیدوسره ډیرو الله والا جهاد کړې دې. کوم چې هغوی ته زخمونه او دَ هغوی انبیاءکرامو او اصحابوته دَالله په لارکښې پیښ شوی دی په هغې سره خو نه هغوی همت بیلو اونه هغوی په جهاد کښې کمزورې پاتې شو اونه هغوی دَخپل دښمن نه اوویریدل لکه چې تاسو اوکړل چې کله مشهوره شوه چې رسول الله ﷺ شهیدکړې شو. اوالله تعالی په مصیبتونوباندې صبرکونکی دوستان ساتی یعنی هغوی ته اجر ورکوی. دَهغوی دَ نبی دَ قتل په وخت دَ هغوی دَ ثابت قدمئ او صبرنه باوجود دَهغوی خوبس هم دومره دعاوه چې دعابه ئې کوله اې زمونږپروردګار زمونږ ګناهونه اوزمونږ په معامله کښې زمونږ زیاتی یعنی زمونږ دَحدنه تجاوز کول معاف کړې، دَدې دَ ښکاره کولودَپاره کوم څه چې هغوی ته مخې ته شو هغه دَهغوی دَبدعملودَ وجې نه وؤ اودَخپل کمزورئ ښکاره کولودَپاره وو. او په جهاد کښې طاقت راکولوسره مونږثابت قدم اوساتې او مونږله په کافرانو باندې غلبه راکړې نوالله تعالی هغوی ته دَ دنیاعوض هم ورکړو یعنی نصرت اوغنیمت او دَآخرت ئې هم ښکلې بدله ورکړه. اوهغه جنت دې اودَ ثواب حسن، دَ استحقاق نه زیات ورکول دی اوالله تعالی نیکانوخلقوسره محبت ساتی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله الجملة الاخيرة محل الاستفهام الانكاری. مطلب دادې چې أَفَإِنْ مَّاتَ باندې کوم همزه استفهام داخل دې هغه په اصل کښې ا نقَلَبْتُمْ عَلٰى أَعْقَابِكُمْ باندې داخل دې او هم دغه محل دَ استفهام دې. تقدیری عبارت دادې أَانْقَلَبْتُمْ عَلٰى أَعْقَابِكُمْ إِنْ مَّاتَ أَوْ قُتِلَ الخ، ای لاينبغى منكم الانقلاب والارتداد لان محمدًا ﷺ مبلغ لَا مَعْبُوْدٌ لهذا اوس دا اعتراض نه واقع کیږی چې دَمرګ او قتل سره دَ سوال څه معنی؟

قوله: بقضائه، دَ إِذْن تفسیر قضاءٔ سره کولو کښې ئې دَيو سوال جواب ورکړې دې.

سوال: مَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوْتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ نه معلومیږی چې دَ انسان مرګ دَهغه په اختیار کښې دې په دې وجه چې دَ مرګ نسبت نفس طرف ته کړې شوې دې.

جواب: إِذْن په معنی دَ قضاء دې.

قوله: مصدرٌ یعنی كِتَابًا مفعول له نه دې ځکه چې دَمفعول له په صورت کښې معنی صحیح نه ده. كِتَابًا مفعول مطلق دَپاره دَتاکید کیدو دَوجې نه منصوب دې تقدیری عبارت دادې. كَتَبَ الموتَ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ط مُّؤَجَّلًا دَ كِتَابًا صفت دې او ابن عطیه رحمه الله ورته منصوب على التميز وئیلی دی.

قوله: جزاء دا دَ یو شبه جواب دې.

شبه: دَدې شبه جواب دې چې دَ ثواب اطلاق دَ دنیا په اجر باندې نه کیږی دَ ثواب اطلاق خو په اجر آخرت باندې کیږی.

جواب: حاصل دادې چې ثواب په معنی دَجزاء دې دَ کوم اطلاق چې په اجر آخرت او صله دَدنیا دواړو باندې کیږی خاص وئیلو سره عام مراد دې.

قوله: فیها اضافه کولو سره اشاره اوکړه چې دَ ثواب اضافت دَ دنیا طرف ته اضافت مظروف الی الظرف دې. لهذا دا اعتراض ختم شوې دې چې دنیا نه دَ ثواب فاعل دې او نه مفعول لهذا دَ ثواب دَ اضافت دَ دنیا طرف ته څه معنی؟

نوټ: بعض نسخو کښې جزاءمنها په ځائې جزاءفیها دې کوم چې زیات صحیح دې. مذکوره تشریح دَ جزاءفیها دَ نسخې مطابق کړې شوې ده.

قوله: كَأَيِّنْ دا په اصل کښې أَيِّ وو، په دې باندې کاف تشبیه داخل کړو او دا نون، نون تنوین دې خلاف قیاس دا ئې باقی ساتلې دې كَأَيِّنْ په معنی د كم خبریه دَ پاره دَ تکثیر ده.

قوله مَعَهُ خبر مقدم دې او ربّيون مبتداء مؤخر ده مبتداء خبر مقدم سره ملاؤشوه جمله اسميه كيدو سره حال دې.

قوله وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّآ أَنْ قَالُوْا، الخ قَوْلَهُمْ، دَ كَانَ خبر مقدم او أن قَالُوْا په تاويل د مصدر كيدو سره دَ كَانَ اسم مؤخر دې. ابن كثير رحمه الله او عاصم رحمه الله قَوْلُ، هُمْ دَ كَانَ اسم كيدو دَ وجې نه مرفوع لوستلې دې په دې صورت كښې أَنْ قَالوا به دَ كَانَ خبر وى

[اياتونه: ١٤٩-١٥٥]

{يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا} فِيمَا يامرونكم به {يردكم} إلي الكفر {على أعقابكم فتنقلبوا خاسرين} {بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ} نَاصِرُكُمْ {وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ} فاطيعوه دونهم {سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ} بِسُكُونِ الْعِينِ وَضَمِّهَا الْخَوْف وَقَدْ عَزَمُوا بَعْد ارْتِحَالهمْ مِنْ أُحُد عَلَي الْعَوْد وَاسْتِئْصَال الْمُسْلِمِين فَرَعَبُوا وَلَمْ يَرْجِعُوا {بِمَآ اَشْرَكُوْا} بِسَبَبِ إشْرَاكهمْ {بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا} حُجَّة عَلَي عِبَادَته وَهُوَ الْأَصْنَام {وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ وَبِئْسَ مَثْوَى} مَأْوَى {الظّٰلِمِيْنَ} الْكَافِرِينَ هِيَ {وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ} إيَّاكُمْ بِالنَّصْرِ {اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ} تَقْتُلُونَهُمْ {بِاِذْنِهٖ} بِإِرَادَتِهِ {حَتّٰى اِذَا فَشِلْتُمْ} جبنتم عن القتال {وَتَنَازَعْتُمْ} اخْتَلَفْتُمْ {فِي الْاَمْرِ} أَيْ أَمْر النَّبِيّ صَلَّي اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُقَامِ فِي سَفْح الْجَبَل لِلرَّمْيِ فَقَالَ بَعْضكُمْ نَذْهَب فَقَدْ نُصِرَ أَصْحَابنَا وَبَعْضكُمْ لَا نُخَالِف أَمْر النَّبِيّ صَلَّي اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَعَصَيْتُمْ} أمره فَتَرَكْتُمْ الْمَرْكَز لِطَلَبِ الْغَنِيمَة {مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ} اللّٰه {ماتحبون} من النصر وَجَوَاب إذَا دَلَّ عَلَيْهِ مَا قَبْله أي منعكم نصره {مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا} فَتَرَكَ الْمَرْكَز لِلْغَنِيمَةِ {وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ} فَثَبَتَ بِهِ حَتَّي قُتِلَ كَعَبْدِ اللّٰه بْن جُبَيْر وَأَصْحَابه {ثُمَّ صَرَفَكُمْ} عَطْف عَلَي جَوَاب إذَا الْمُقَدَّر رَدَّكُمْ لِلْهَزِيمَةِ {عَنْهُمْ} أَيْ الْكُفَّار {لِيَبْتَلِيَكُمْ} لِيَمْتَحِنكُمْ فَيَظْهَر الْمُخْلِص مِنْ غَيْره {وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ} مَا ارْتَكَبْتُمُوهُ {وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ} بِالْعَفْوِ اذكروا {إذ تصعدون} تَبْعُدُونَ فِي الْأَرْض هَارِبِينَ {وَلَا تَلْوٗنَ} تعرجون {عَلٰٓى اَحَدٍ وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ} أَيْ مِنْ وَرَائِكُمْ يَقُول إلَيَّ عِبَاد اللّٰه {فَاَثَابَكُمْ} فجازاكُمْ {غَمًّا} بِالْهَزِيمَةِ {بِغَمٍّ} بِسَبَبِ غَمّكُمْ لِلرَّسُولِ بِالْمُخَالَفَةِ وَقِيلَ الْبَاء بِمَعْنَي عَلَي أَيْ مُضَاعَفًا علي غم فوت الغنيمة {لكيلا} متعلق بعفا أَوْ بِأَثَابَكُمْ فَلَا زَائِدَة {تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ} مِنْ الْغَنِيمَة {وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ} مِنْ القتل والهزيمة {والله خبير بما تعملون} {ثم أنزل عليكم مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً} أَمْنًا {نُّعَاسًا} بَدَل {يَّغْشٰى} بِالْيَاءِ وَالتَّاء {طَآىِٕفَةً مِّنْكُمْ} وَهُمْ الْمُؤْمِنُونَ فَكَانُوا يَمِيدُونَ تَحْت الحجف وَتَسْقُط السُّيُوف مِنْهُمْ {وَطَآىِٕفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ} أَيْ حَمَلَتْهُمْ عَلَي الْهَمّ فَلَا رَغْبَة لَهُمْ إلَّا نَجَاتهَا دُون النَّبِيّ وَأَصْحَابه فَلَمْ يَنَامُوا وَهُمْ الْمُنَافِقُونَ {يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ} ظَنًّا {غَيْرَ} الظَّنّ {الْحَقِّ ظَنَّ} أَيْ كَظَنِّ {الْجَاهِلِيَّةِ} حَيْثُ اعْتَقَدُوا أَنَّ النَّبِيّ قُتِلَ أَوْ لَا يُنْصَر {يَقُوْلُوْنَ هَلْ} مَا {لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ} أَيْ النَّصْر الَّذِي وُعِدْنَاهُ {مِنْ شَيْءٍ قُلْ} لَهُمْ {اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ} بِالنَّصْبِ تَوْكِيدًا وَالرَّفْع مُبْتَدَأ وَخَبَره {لِلّٰهِ} أَيْ الْقَضَاء لَهُ يَفْعَل مَا يَشَاء

{يُخْفُونَ فِي أَنْفُسِهِمْ مَا لَا يُبْدُونَ} يُظْهِرُونَ {لَكَ يَقُولُونَ} بَيَان لِمَا قَبْله {لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَا قُتِلْنَا هَاهُنَا} أَيْ لَوْ كَانَ الِاخْتِيَار إلَيْنَا لَمْ نَخْرُج فَلَمْ نُقْتَل لَكِنْ أُخْرِجنَا كَرْهًا {قُلْ} لَهُمْ {لَوْ كُنْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ} وَفِيكُمْ مَنْ كَتَبَ اللّٰه عَلَيْهِ الْقَتْل {لَبَرَزَ} خَرَجَ {الَّذِينَ كُتِبَ} قُضِيَ {عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ} مِنْكُمْ {إِلَى مَضَاجِعِهِمْ} مَصَارِعهمْ فَيُقْتَلُوا وَلَمْ يُنْجِهِمْ قُعُودهمْ لِأَنَّ قَضَاءَهُ تَعَالَى كَائِن لَا مَحَالَة {وَ} فَعَلَ مَا فَعَلَ بِأُحُدٍ {لِيَبْتَلِيَ} يَخْتَبِر {اللّٰهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ} قُلُوبكُمْ مِنَ الْإِخْلَاص وَالنِّفَاق {وَلِيُمَحِّصَ} يُمَيِّز {مَا فِي قُلُوبِكُمْ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ} بِمَا فِي الْقُلُوب لَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْء وَإِنَّمَا يَبْتَلِي لِيُظْهِر لِلنَّاسِ {إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ} عَنِ الْقِتَال {يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ} جَمْع الْمُسْلِمِينَ وَجَمْع الْكُفَّار بِأُحُدٍ وَهُمْ الْمُسْلِمُونَ إلَّا اثْنَيْ عَشَرَ رَجُلًا {إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ} أَزَلَّهُمْ {الشَّيْطَانُ} بِوَسْوَسَتِهِ {بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا} مِنَ الذُّنُوب وَهُوَ مُخَالَفَة أَمْر النَّبِيّ {وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ} لِلْمُؤْمِنِينَ {حَلِيمٌ} لا يعجل علي العصاة

ترجمه: اې دَ ایمان والو که چرې تاسو دَ کافرانو خبرې منئ نو هغوی به تاسو ستاسو دَ پوندو په مخ دَ کفر طرف ته راوګرځوی (یعنی مرتد به موجوړ کړی) او تاسو به دَ نقصانیانو نه شئ بلکه هم الله تعالی ستاسو امدادی دې او هم هغه ستاسو بهترین مددګار دې لهذا هم دَ هغه اطاعت کوئ دَ نورو مه کوئ. مونږ به دیر زر دَ کافرانو په زړونو کښې (رعب) واچوو او (رعب) دَ عین په سکون او ضمه سره دې یعنی ویره. دَ احد نه راګرځیدونه پس هغوی (احد) ته دَواپس راتلو او د مسلمانانو دَ بیخه ختمولو اراده کړې وه مګر مرعوب شو دَ څه دَ وجې نه چې واپس رانغلل دَ الله تعالی سره دَ هغه څیزونو دَ شریکولو دَ وجې نه دَ کوم باره کښې چې دَ هغوی په عبادت (الله) څه دلیل نه دې نازل کړې او هغه بتان دی او دَ هغوی ځائې دوزخ دې. او دَ ظالمانو کافرانو دا دیر خراب ځائې دې او یقینًا الله تعالی تاسو سره خپله وعده ریښتیا کولو سره او خودله کوم وخت چې تاسو هغوی هم دَ هغه په حکم سره قتل کول تردې چې کله تاسو په جهاد کښې همت پیلل او خودل او په معامله کښې مو اختلاف او کړو یعنی دَ غرېه څوکه دَ نبی کریم ﷺ دَ حکم مطابق دَ غشو ویشتونکو دَ پاره هلته دَ پاتې کیدو باره کښې مو اختلاف او کړو چنانچې بعض خلقو وئیل مونږ خو ځکه چې زمونږ ملګری کامیاب شو او بعضو او وئیل مونږ دنبی دَ حکم خلاف ورزی نه شو کولې. تاسو نافرمانی او کړه دَ مال غنیمت په طلب کښې مرکز پریخودو. پس دَ هغې نه چې الله تعالی تاسو ته ستاسو محبوب څیز (یعنی) نصرت دراوخودو او جواب إذا (محذوف دې) په کوم چې دَ دې ماقبل دلالت کوی (او هغه جواب) مَنَعَكُمْ نَصْرَهٗ دې په تاسو کښې بعضو دنیا غوښتله نو هغوی دَ مال غنیمت دَ پاره مرکز پریخودو. او دَ بعض اراده آخرت وو هغوی په هغه مقام باندې کلك ولاړوو تردې چې شهیدان شو لکه عبدالله بن جبیر ﷺ او دَ هغه ملګری بیائی تاسو دَ کافرانو نه په ماتی سره او ګرځولې دَ إذا جواب مقدر (مَنَعَكُمْ نَصْرَهٗ) باندې عطف دې دې دَ پاره چې ستاسو امتحان واخلی

د کوم په نتیجه کښې چې مخلص د غیر مخلص نه جدا شي. اوبیشکه الله تعالی ستاسو جرم معاف کړو او الله تعالی په مؤمنانو باندې د معافئی اوبخښنې په ذریعه فضل کونکې دې. هغه وخت یاد کړئی کوم وخت چې تاسو په میدان کښې تختیدئی منډې مووهلې اوچا ته مو په شاهم نه کتل او (د الله) رسول تاسو ته د شانه آوازونه درکول فرمائیلې اې د الله بندیګانو زما طرف ته راشئی. اې د الله بندیګانوزما طرف ته راشئی. نوپه تاسو د غم د پاسه غم شو یوغم د هزیمت د وجې نه (اودویم) غم ستاسو د رسول ﷺ خلاف ورزی کولو د وجې نه او وئیلی شوی دی چې باء په معنی د علی ده یعنی د غنیمت په فوت کیدوباندې نور غم دې د پاره چې تاسو خفه نه شئی په هغې باندې کوم چې ستاسو د لاس نه اووتلو او هغه مال غنیمت دې او نه په هغې باندې چې په تاسو قتل او هزیمت راغلو. (په دې صورت کښې) د لِکَیْلاً تعلق عَفَا عنکم سره دې یا د دې تعلق اَثَابَکُمْ سره دې نو په دې صورت کښې به لا زائده وی. او الله تعالی ستاسو د کارونو نه خبردار دې. بیا دَدې نه پس هغه په تاسو باندې د خوشحالئ خوب راوستلو نعاسًا آمَنَةً سره بدل دې چې په تاسونه کښې په یوجماعت باندې راخورشو یغشیٰ یاء او تاء سره دې او هغه مؤمنان وو چې هغوی (دَخپلو) ډالونولاندې (د خوب) جوتې وهلې او توره (دهغوی د لاسونونه) پریوتلې. اویوجماعت هغه وو چې دَخپلوځانونو په فکر کښې وو یعنی هغوی په غم کښې اخته وو دهغوی صرف دَخپل ځان بچ کولوفکروو نه ورسره دَنبی ﷺ خیال وو او نه دَنبی دَ صحابه. نوهغوی له خوب رانغلو اودغه منافقان ووچې هغوی الله تعالی سره ناحق دَ جهالت نه ډک بدګمانئی کولې په دې توګه چې هغوی یقین کړې وو چې نبی قتل کړې شو یا دَهغوی امدادمه کوئی (او) وئیلې دَ کوم امداد چې مونږ سره وعده کولې شوه په هغې کښې هیڅ هم نشته (دویمه ترجمه) که زمونږ څه اختیاروې مِنْ زائده دې ته ورته اووایه چې اختیار خو ټول په ټول دَالله تعالی دې کله دَنصب سره دَتاکید دَپاره دې او رفع سره مبتداء دې دَ کوم خبرچې لله دې، یعنی حکم صرف دَالله تعالی دې هغه چې څه غواړی کوی. داخلق دَ خپل زړه راز تاسوته نه ښائی وائی چې دادَ ماقبل بیان دې که چرې زمونږ څه اختیارهم وې نومونږ به دلته نه قتل کیدو. یعنی که چرې زمونږ اختیار وې (یعنی که زمونږ خبره چلیدې) نومونږ به دَ (مدینې) نه نه وتلې نوقتل کیدلې به هم نه لیکن مونږ خو په زور دلته راوستلې شو. ته هغوی ته اووایه که چرې تاسو په خپلو کورونوکښې هم وئی نو په تاسو کښې چې دَچا په قسمت کښې قتل کیدل لیکلې شوې وو نوهغوی به دَ قتل ځائی ته راوتل او قتل کیدل به (یعنی) تاسو نه چې الله تعالی دَچادَ قتل منصوبه اوکړه دَهغوی (په کورونو) کښې ناستې هغوی بچ نه کړې شو ځکه چې تقدیر الهی خو لامحاله نافذ کیږی. او په احد کښې چې هغه څه کول غوښتل هغه ئی اوکړل. (اودا ټول دَ دې وجې نه اوشو) چې الله

تعالی ستاسو په سینو کښې چې کوم اخلاص او نفاق دې دَهغې امتحان اوکړی او دې دَپاره چې څه ستاسو په زړونو کښې دی هغه صفا کړی (جدا کړی) او الله تعالی دَ سینو رازونه ښه پیژنی یعنی په زړونو کښې چې څه دی هغه دَ الله نه پټ نه دی. او ازمینښت خو صرف دَدې دَپاره دې چې خلقو ته ښکاره کړی، یقینًا په تاسو کښې چې کوم خلق دَ دواړو جماعتونو دَمقابله په وخت په احد کښې دَ جنګ نه تختیدلې وو (دَ دواړو جماعتونونه مراد) دَمسلمانانو او کافرانو جماعتونه دی او دَ دولسو کسانونه علاوه باقی ټول تختیدلې وو. هغه خلق دَهغوی دَبعض کړو دَ وجې نه شیطان دَ وسوسې په ذریعه اوخویول او (هغه کړه) دَ رسول الله ﷺ دَحکم خلاف ورزی وه لیکن الله تعالی هغوی یقینًا معاف کړل او بیشکه الله تعالی مؤمنان معاف کونکې او حلیم دې (یعنی) دَ نافرمانو په راګیرولو کښې تادی نه کونکې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله بسبب اشراکهم، دې کښې اشاره ده چې بما کښې باسببیه او ما مصدریه ده لهذا دې ته دَعائد ضرورت نشته.

قوله هِیَ مخصوص بالذم دې.

قوله تَحُسُّوْنَهُمْ ای تَقْتُلُوْنَهُمْ دا حَسَّ یَحُسُّ (ن) نه مشتق دې هغه وخت وئیلې شی کوم وخت چې حس باطل کړی او حس په قتل سره باطل کیږی ملزوم وئیلو سره لازم مراد دې قال جریر:

تَحُسُّهُمُ السیوفُ کما تَسامی		عریقُ النارِ فی الاجمِ الحصیدِ

قوله جواب اذا، دل علیه ماقبلهٗ، یعنی دَ اذا جواب په ماقبل کښې ذکرنه دې چې دَ جزاء شرط باندې مقدم کیدل لازم راشی بلکه مقدر دې په کوم چې ماقبل دلالت کوی او هغه دال لَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ دې او مدلول کوم چې مقدر دې مَنَعَكُمْ نَصْرَهٗ دې لکه چې صاحب دَ جلالین ښکاره کړې دې.

قوله عطف علی جواب اذا المقدر، دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دا خودل دی چې دَ صَرَفَكُمْ عطف دَ اِذَا په جواب مقدر باندې دې ځکه چې دَدې ماقبل مضارع ده او صَرَفَكُمْ ماضی ده لهذا په ماقبل باندې عطف نه شی کیدې.

قوله مِنْ وَّرَآئِكُمْ دې کښې اشاره ده چې فی په معنی دَ مِنْ ده.

قوله متعلق بعَفَا او بأثابکم فلا زائدة که دَ لکیلا تعلق عفا نه اومنلې شی نو لا ناهیه به غیرزائده شی یعنی تاسو ته ئې دَ هزیمت په ذریعه غم درکړو دې دَپاره چې تاسو دَ مال غنیمت په فوت کیدو سره خفه نه شئ.

قوله وَمَا اَصَابَكُمْ لا زائد دي (جمل)

قوله اَمَنَةً مفعول كيدو د وجې منصوب دې او نُعَاسًا دې سره بدل دې.

قوله الجَحَف، بفتحتين، د جُحْفَةُ جمع ده په معنى ډال.

قوله ظَنًّا غَيْرَ الظَّنِّ الحَقِّ په دې كنبې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې غيرالحق دَمحذوف صفت دې كوم چې دَ يَظُنُّ مفعول مطلق دې. الظَّنُّ مقدر منلو مقصد دې خبرې طرف ته اشاره كول دى چې غير مفعول به نه دې ځكه چې كه دَدې نه مفعول به مراد وې نو دَ الظن په ځائى به الامر يا الشئ مقدر منلې شو.

قوله اى كظن دې كنبې اشاره ده چې ظن منصوب بنزع الخافض دې.

قوله اَزَلَّهُمْ دې كنبې اشاره اوكړه چې استفعال په معنى دَ افعال دې.

[ايا تونه: ١٥٦ - ١٧١]

{يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا} أَيْ الْمُنَافِقِيْنَ {وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ} أَيْ فِي شَأْنِهِمْ {اِذَا ضَرَبُوْا} سَافَرُوْا {فِي الْاَرْضِ} فَمَاتُوْا {اَوْ كَانُوْا غُزًّى} جَمْع غَازٍ فَقُتِلُوْا {لَوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا} أَيْ لَا تَقُوْلُوْا كَقَوْلِهِمْ {لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ} الْقَوْل فِي عَاقِبَة أَمْرِهِمْ {حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ} فَلَا يَمْنَع عَنْ الْمَوْت قُعُود {وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاء {بَصِيْرٌ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ {وَلَئِنْ} لَام قَسَم {قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ} أَيْ الْجِهَاد {اَوْ مُتُّمْ} بِضَمِّ الْمِيم وَكَسْرهَا مِنْ مَاتَ يَمُوت أَيْ أَتَاكُمْ الْمَوْت فِيهِ {لَمَغْفِرَةٌ} كَائِنَة {مِّنَ اللّٰهِ} لِذُنُوبِكُمْ {وَرَحْمَةٌ} مِنْهُ لَكُمْ عَلَى ذٰلِكَ وَاللَّام وَمَدْخُولهَا جَوَاب الْقَسَم وَهُوَ فِي مَوْضِع الْفِعْل مُبْتَدَأ خَبَره {خَيْرٌ مِّمَّا تَجْمَعُوْنَ} مِنْ الدُّنْيَا بِالتَّاءِ وَالْيَاء {وَلَئِنْ} لَام قَسَم {مُّتُّمْ} بِالْوَجْهَيْنِ {اَوْ قُتِلْتُمْ} فِي الْجِهَاد وَغَيْره {لَاِلَى اللّٰهِ} لَا إِلَى غَيْره {تُحْشَرُوْنَ} فِي الْآخِرَة فَيُجَازِيكُمْ {فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ} يَا مُحَمَّد {لَهُمْ} أَيْ سَهُلَتْ أَخْلَاقك إِذْ خَالَفُوك {وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا} سَيِّء الْخُلُق {غَلِيْظَ الْقَلْبِ} جَافِيًا فَأَغْلَظْت لَهُمْ {لَانْفَضُّوْا} تَفَرَّقُوا {مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ} تَجَاوَزْ {عَنْهُمْ} مَا أَتَوْهُ {وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ} ذُنُوبهمْ حَتَّى أَغْفِر لَهُمْ {وَشَاوِرْهُمْ} اِسْتَخْرِجْ آرَاءَهُمْ {فِي الْاَمْرِ} أَيْ شَأْنك مِنْ الْحَرْب وَغَيْره تَطْيِيبًا لِقُلُوبِهِمْ وَلِيُسْتَنّ بِك وَكَانَ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِير الْمُشَاوَرَة لَهُمْ فَإِذَا عَزَمْتَ عَلَى إِمْضَاء مَا تُرِيد بَعْد الْمُشَاوَرَة {فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ} ثِقْ بِهِ لَا بِالْمُشَاوَرَةِ {اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ} عَلَيْهِ {اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ} يُعِنْكُمْ عَلَى عَدُوّكُمْ كَيَوْمِ بَدْر {فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ} يَتْرُك نَصْركُمْ كَيَوْمِ أُحُد {فَمَنْ ذَا الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ بَعْدِهٖ} أَيْ بَعْد خِذْلَانه أَيْ لَا نَاصِر لَكُمْ {وَعَلَى اللّٰهِ} لَا غَيْره {فَلْيَتَوَكَّلِ} لِيَثِق {الْمُؤْمِنُوْنَ} وَنَزَلَتْ لَمَّا فُقِدَتْ قَطِيفَة حَمْرَاء يَوْم أُحُد فَقَالَ بَعْض النَّاس لَعَلَّ النَّبِيّ أَخَذَهَا {وَمَا كَانَ} مَا يَنْبَغِي {لِنَبِيٍّ اَنْ يَّغُلَّ} يَخُون فِي الْغَنِيمَة فَلَا تَظُنُّوا بِهِ ذٰلِكَ وَفِي قِرَاءَة بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ أَنْ يُنْسَب إِلَى

الغُلول {وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ} حامِلًا لَهُ عَلَي عُنُقه {ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ} الغَالّ وَغَيْره جَزاءِ {مَا كَسَبَتْ} عَمِلَتْ {وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ} شيئا {أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ} فَأطَاعَ وَلَمْ يَغُلّ {كَمَنْ بَاءَ} رَجَعَ {بِسَخَطٍ مِنَ اللَّهِ} لِمَعْصِيَتِهِ وَغُلُوله {وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ} الْمَرْجع هِيَ {هُمْ دَرَجَاتٌ} أي أَصْحَاب دَرَجَات {عِنْدَ اللَّهِ} اي مختلفوا الْمَنَازِل فَلِمَنْ اتَّبَعَ رِضْوَانه الثَّوَاب وَلِمَنْ بَاءَ بِسَخَطِهِ الْعِقَاب {وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ} فَيُجَازِيهِمْ به {لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ} أي عَرَبِيًّا مِثْلهمْ لِيَفْهَمُوا عَنْهُ وَيَشْرُفُوا بِهِ لَا مَلَكًا وَلَا عجميا {يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ} الْقُرْآن {وَيُزَكِّيهِمْ} يُطَهِّرهُمْ مِنَ الذُّنُوب {وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ} الْقُرْآن {وَالْحِكْمَةَ} السُّنَّة {وَإِنْ} مُخَفَّفَة أَيْ إِنَّهُمْ {كَانُوا مِنْ قَبْلُ} أي قَبْل بَعْثه {لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ} بَيِّن {أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُمْ مُصِيبَةٌ} بِأُحُدٍ بِقَتْلِ سَبْعِينَ مِنْكُمْ {قَدْ أَصَبْتُمْ مِثْلَيْهَا} بِبَدْرٍ بِقَتْلِ سَبْعِينَ وَأَسْر سَبْعِينَ مِنْهُمْ {قُلْتُمْ} مُتَعَجِّبِينَ {أَنَّى} مِنْ أَيْنَ لَنَا {هَذَا} الْخِذْلَان وَنَحْنُ مُسْلِمُونَ وَرَسُول اللَّه فِينَا وَالْجُمْلَة الْأَخِيرَة مَحَلّ الِاسْتِفْهَام الْإِنْكَارِيّ {قُلْ} لَهُمْ {هُوَ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِكُمْ} لِأَنَّكُمْ تَرَكْتُمْ الْمَرْكَز فَخُذِلْتُمْ {إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ النَّصْر وَمَنْعه وَقَدْ جَازَاكُمْ بِخِلَافِكُمْ {وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ} بِأُحُدٍ {فَبِإِذْنِ اللَّهِ} بِإِرَادَتِهِ {وَلِيَعْلَمَ} عِلْم ظُهُور {الْمُؤْمِنِينَ} حَقًّا {وليعلم الذين نافقوا و} الذين {قِيلَ لَهُمْ} لَمَّا انْصَرَفُوا عَنِ الْقِتَال وَهُمْ عَبْد اللَّه بْن أُبَيّ وَأَصْحَابه {تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ} أَعْدَاءَهُ {أَوِ ادْفَعُوا} عَنَّا الْقَوْم بِتَكْثِيرِ سَوَادكُمْ إِنْ لَمْ تُقَاتِلُوا {قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ} نُحْسِن {قِتَالًا لَاتَّبَعْنَاكُمْ} قَالَ تَعَالَى تَكْذِيبًا لَهُمْ {هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ} بِمَا أَظْهَرُوا مِنْ خِذْلَانهمْ لِلْمُؤْمِنِينَ وَكَانُوا قَبْل أَقْرَب إلَي الْإِيمَان مِنْ حَيْثُ الظَّاهِر {يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ} وَلَوْ عَلِمُوا قِتَالًا لَمْ يَتَّبِعُوكُمْ {وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ} مِنَ النِّفَاق {الَّذِينَ} بَدَل مِنَ الَّذِينَ قَبْله أَوْ نَعْت {قَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ} فِي الدِّين {و} قَدْ {قَعَدُوا} عَنِ الْجِهَاد {لَوْ أَطَاعُونَا} أَيْ شُهَدَاء أُحُد او إخواننا في القعود {ما قتلوا قُلْ} لَهُمْ {فَادْرَءُوا} ادْفَعُوا {عَنْ أَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِي أَنَّ الْقُعُود يُنْجِي مِنْهُ وَنَزَلَ فِي الشُّهَدَاء {وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {فِي سَبِيلِ اللَّهِ} أَيْ لِأَجْلِ دِينه {أَمْوَاتًا بَلْ} هُمْ {أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ} أرْوَاحهمْ فِي حَوَاصِل طُيُور خُضْر تَسْرَح فِي الْجَنَّة حَيْثُ شَاءَتْ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيث {يُرْزَقُونَ} يَأْكُلُونَ مِنْ ثمار الجنة {فَرِحِينَ} حَال مِنْ ضَمِير يُرْزَقُونَ {بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَ} هُمْ {يَسْتَبْشِرُونَ} يفرحون {بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ} مِنْ إخوانهم المؤمنين ويبدل من الذين {أَ} ن اي بان {لاخوف عليهم} اي الَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ {وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} فِي الْآخِرَة الْمَعْنَى يَفْرَحُونَ بِأَمْنِهِمْ وَفَرَحهمْ {يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ} ثَوَاب {مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ} زِيَادَة عَلَيْهِ {وَأَنَّ} بِالْفَتْحِ عَطْفًا عَلَى نِعْمَة وَبِالْكَسْرِ اسْتِئْنَافًا {اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ} بَلْ يَاجرهم

ترجمه اې دَ ايمان والوتاسو دكافرانو اومنافقانو په شان خبري مه كوئ چې دَخپلو رونړوباره كښې كله چې هغوى په سفرباندې وى او وفات كيږى او ياچرته جهاد ته ځى اوقتل كيږى. غزٰى،

دغاړ جمع ده وائی چې که هغوی مونږ سره وې نونه به مړه کیدل اونه به مړه کولې شو یعنی دهغوی په شان خبرې مه کوئی (داخبره ځکه دهغوی په ژبه راغلې وه) دې دپاره چې الله تعالی هغه (یعنی) هغه خبره آخر دَ هغوی په زړونوکښې دَ ارمان سبب جوړ کړی. هم الله تعالی ئی روانه وی او مړکوی. لهذا په کوررونوکښې ناسته هغوی دَمرګ نه نشی بچ کولې. اوځه چې تاسو کوئی الله تعالی هغه ښه ګوری نودهغې به تاسو ته بدله درکوی. تاء اویاء سره که چرې تاسو دَالله تعالی په لارکښې یعنی جهاد کښې مړه کړې شئ یا مړه شئ دَ میم په ضمه اوکسره سره (اول) مات یموتُ نه او (دویم) مات یمات (س) نه دې یعنی تاسو ته په هغې کښې مرګ راشی نوستاسودَ ګناهونودپاره دَالله تعالی مغفرت اوپه هغې باندې دَهغه رحمت ډیر بهتردې. دَ دغه دنیانه کومه چې تاسوجمع کوئی تاء اویاء سره لام اودَدې مدخول جواب قسم دې اوهغه په مقام فعل کښې مبتداء دې اودَدې خبر (خَيْرٌ مِّمَّا تَجْمَعُونَ) دې اوکه چرې تاسو مړه شئ یا په جهاد وغیره کښې مړه کړې شئ(لَئِنْ) کښې لام په دواړو صورتونوکښې قسمیه دې نوتاسو به ضرور هم دَالله تعالی طرف ته نه چې دَ بل چاطرف ته په آخرت کښې جمع کولې شئ نوهغه به تاسو ته بدله درکوی. پس اې محمد ﷺ دَ الله تعالی دَ رحمت په سبب تاسو په دوی باندې دَ نرم زړه والا ئی. مَا زائده ده اوکه ته بدزبان اوتیزاو سخت مزاج والا وې او په دوی دې سختی کوله نوهغه به ټول تاسونه جداکیدل لهذا تاسو هغوی سره دَ (احدپه ورځ) کښې چې څه (کوتاهی) شوې هغه معاف کړه. اودَهغوی دَ ګناهونودَپاره مغفرت غواړه. دې دَپاره چې زه دَهغوی مغفرت اوکړم اودَ جنګ وغیره په معاملاتوکښې دَهغوی رائې معلومولودَپاره دَهغوی سره دَهغوی دَ زړه خوشحالولودَپاره مشوره کوه اودَدې دَپاره چې ستاسو سنت قائم شی او رسول الله ﷺ به خپلو صحابه کرامو ﷺ سره ډیره مشوره کوله اوکله چې ته دَ مشورې نه پس دَ یوکاردَ کولو کلکه اراده اوکړې نو بیا په الله تعالی باندې یقین ساته، نه چې په مشاورت باندې. بیشکه الله تعالی په الله باندې یقین کونکو سره محبت کوی. اوکه الله تعالی دَ دښمن په مقابله کښې ستاسو امداداوکړی لکه چې په یوم بدرکښې نو په تاسو څوک غالب نه شی راتلې اوکه هغه تاسو پریږدی یعی ستاسو امداد اونه کړی لکه چې په یوم احدکښې اوشو نو بیا څوک دی چې دَ هغه نه علاوه ستاسو امداداوکړی یعنی دَهغه دَ پریخودونه پس یعنی ستاسو څوك امدادی نشته. ایمان والوله هم په الله تعالی باندې توکل کول پکاردی اوکوم وخت چې په یوم بدرکښې یوسور ځادر اورك شو نو بعضو اوونیل چې کیدې شی نبی ﷺ اخستې وی اودَ نبی شان نه دې چې په مال غنیمت کښې خیانت اوکړی لهذا تاسو دَهغوی باره کښې داسې ګمان مه کوئی او په یوقراءت کښې دَمجهول صیغې سره دې یعنی چې دَ خیانت طرف ته نسبت

اوکړی اوڅوک چې خیانت کوی هغه به خیانت کړې شوې څیز دَ قیامت په ورځ په خپل سټ باندې اوچت کړې راوړی او هرخائن اوغیرخائن نفس ته به دَ هغه دَ اعمالو پوره پوره بدله ملاوېږی او په هغوی به یوذره برابر هم ظلم نه کیږی آیا چې کوم سړې دَالله تعالی دَ رضا تابع وی چې هغه اطاعت کړې دی اوخیانت ئی نه دې کړې نوهغه به دَ ده په شان شی چې دَمعصیت اوخیانت دَ وجې نه دَالله تعالی غضب سره واپس کیږی؟ نه، اودَهغه ځائی دوزخ دې چې هغه خراب ځائې دې اودَالله تعالی په نیز په دواړه قسم خلقوکښې ډیر فرق دې. یعنی دَهغوی به مختلف درجې وی نوچې څوک دَالله تعالی په خوشحالولوپسې لګیدلې وی دَهغه دَپاره به ثواب وی اوڅوک چې دَهغه غصې سره راګرځی هغه به دَعذاب مستحق وی. او الله تعالی دَهغوی عملونوته ګوری لهذا دَهغوی دَاعمالوبه هغوی ته بدله ورکولې شی په حقیقت کښې الله تعالی په مؤمنانو باندې (لوئی) احسان اوکړو چې هم دَهغوی نه ئی یورسول هغوی ته راولیګلو یعنی دَهغوی په شان عربی. دې دَپاره چې دَهغوی خبره باندې پوهه شی او په دې سره عزت حاصل کړی نه چې فرښته او غیر عربی. څوک چې دَهغه آیاتونه قرآن لوستلوسره اوره وی اوهغوی دَ ګناهونونه پاکوی اوهغوی ته دکتاب قرآن اوحکمت سنت تعلیم ورکوی او یقینًا په دې سره (یعنی) دَهغه دَ بعثت نه وړاندې هغوی په ښکاره ګمراهئی کښې وو اوکوم وخت چې په احدکښې تاسو ته داسې تکلیف ملاؤشو چې ستاسو اویا کسان قتل کړې شو دَکوم نه چې دوه چنده تکلیف (فریق مقابل نه) په بدرکښې اویاکسان قتل کولوسره اویا قید کولوسره رسیدلې وو نوتاسو په تعجب سره اووئیل دادَکوم ځائی نه راغلل؟ حالانکه دَالله تعالی رسول په مونږ کښې موجود دې ته ورته اووایه چې دا پخپله ستاسو دَ طرف نه دی ځکه چې تاسو مرکز پریخودو دَ کوم په وجه چې تاسو ماتې اوخوړله. آخری جمله دَاستفهام انکاری په محل کښې ده. بیشکه الله تعالی په هرڅیز باندې قادر دې اوکوم مصیبت چې په تاسو په هغه ورځ پریوتلو په کومه ورځ چې په احدکښې دوه جماعتونه په مقابله کښې شو نوهغه دَالله تعالی په رضا سره اوشو. او دَدې دَپاره چې الله تعالی مؤمنان دَ علم ظهور په توګه اوپیژنی اودې دَپاره چې منافقان اوپیژنی چاته چې وئیلی شو کله چې هغوی دَ جنګ نه راوګرځیدل اوهغه عبدالله بن ابی اودَهغه ملګری وو. راشئی دَ الله تعالی په لارکښې دَهغه دښمنانوسره اوجنګیږئی یاکه تاسو نه شئی جنګیدلې نوکافران زمونږ نه خپل تعداد زیاتولوسره اخوا کړه نوهغوی اووئیل که چرې مونږ څه (په طریقه) جنګ لیدلو نوخامخابه مونږ ستاسو ملګرتیاکوله الله تعالی دَهغوی تکذیب کولوسره اوفرمائیل دا خلق په هغه ورځ دَ ایمان په ځائی کفر ته ډیر نیزدې شو په دې سبب چې هغوی دَمؤمنانودَپاره خپله بزدلی ښکاره کړه اودَدې نه وړاندې هغوی په ظاهره ایمان ته نیزدې وو. داخلق په خپلو ژبوباندې هغه خبرې کوی چې دَدوی په زړونوکښې نه وی اوکه چرته دوی ته دَ جنګ علم وې نودوی به

ن سوسره نه راتلل اوکوم نفاق چې دې خلقو پټ کړې دې الله تعالی دَهغې نه ښه خبردې داهغه خلق دی چې خپلو دینی رونړوته ئې اووئیل حال داچې هغوی پخپله هم دَ جهاد نه ناست وو اوکه شهداء احد یا زمونږ رونړو زمونږ خبره منلې نونه به قتل کیدل. ته ورته اووایه که چرې تاسو په دې خبره کښې رښتونی ئې چې دَ جنګ نه کیناستل دَ مرګ نه بچ کولې شی نو خپل ځان دَمرګ نه بچ کړئې او «راتلونکې آیت» دَ احددَ شهداؤ باره کښې نازل شو کوم خلق چې دَالله تعالی په لارکښې دَ دین دَ پاره اووژلې شو تاسو هغه هیڅ کله مړه مه ګنړئې (قتلوا) تخفیف اوتشدید سره دې. بلکه هغه ژوندی دی، دَهغوی روحونه دَ شنو مرغو په جوسوکښې چرته چې غواړی جنت کښې سیل کوی لکه چې په حدیث شریف کښې دی هغوی له دَهغوی رب سره رزق ورکولې شی دَ جنت میوې خوری، حال دادې چې هغوی په دې (نعمتونو) سره خوشحال دی کوم چې الله تعالی دَ خپل فضل نه هغوی ته ورکړی دی (فَرِحِيْنَ) يُرْزَقُوْنَ دَ ضمیرنه حال دې اودَهغوی بابت کښې چې دَهغوی مؤمنان رونړه روستوپاتې چې دی تراوسه پورې هغوی سره نه دی ملاؤ شوی خوشحالی کوی په دې باندې چې هغوی (یعنی) چې ترډغه وخت هغوی سره نه دی ملاؤشوی نه به څه ویره وی په هغوئ اونه به په آخرت کښې څه غم وی اودَ اَلَّذِيْنَ سره اَنْ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ بدل دې. هغوی دَدوی په امن اودَدوی په خوشحالئ سره خوشحال دی. هغه خلق دَالله تعالی په انعام ثواب اوفضل سره خوشحال دی. اوپه دې باندې چې الله تعالی دَمؤمنانو اجر نه ضائع کوی (اَنْ) فتحه سره دې نعمة باندې عطف کولوسره اوکسره سره استیناف دې بلکه هغوی ته به اجر ورکوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: في شانهم. دې کښې اشاره ده چې لام په معنی دَ فی دې.

قوله: فی عَاقِبَةِ اَمرِهِم دې کښې اشاره ده چې لِيَجْعَلَ کښې لام، دَعاقبت دې.

قوله: كَائِنَة، كائنة مقدر منلوسره دَ یوسوال جواب ورکول مقصوددی.

سوال: لَمَغفِرَة خپل معطوف ورَحمَةٌ سره ملاؤشو مبتداء دې حالانکه دَدې دَنکره کیدودَ وجې نه مبتداء جوړیدل صحیح نه دی.

جواب: نکره چې کله موصوف بالصفت وی نودَهغې مبتداء جوړیدل صحیح وی دلته من الله جارمجرور سره ملاؤشو دَ كائنة متعلق کیدوسره دَمغفرة صفت دې، لهذا مَغفِرَةٌ مبتداء جوړیدل صحیح دی. او خَيرٌ دَدې خبردې او لَمَغفِرَةٌ خپل خبرسره ملاویدوسره جواب قسم دې اوجواب شرط محذوف دې.

قوله: وَهُوَفی موضع الفعل هُوَ مرجع لَمَغفِرَةٌ دې. تقدیری عبارت دادې وَاللهِ لئِن قُتِلتُم فی سبيل

الله لغفرت لكم ورحمتكم، جواب شرط محذوف دي اودَ مؤخرجواب محذوف وی هم دَدې فاعدې په رنړاکښې لَمَغفِرَة الخ جواب قسم دې اوجواب شرط محذوف دې په کوم چې جواب قسم دلالت کوی.

ملحوظة: د مفسرعلام وَهُوَ في مَوضِع الفِعل، وينا محل دَتامل دې په دې وجه دَدې نه داخبره مفهوم کيږی چې دَ جواب قسم دَپاره فعل کيدل ضروری دی حالانکه اسم اوفعل دواړه جواب قسم واقع کيږی فتامل.

قوله: من الدنيا دا اشاره ده چې بِمَا يَعلَمُونَ جمله کيدوسره صله ده او مِنهُ عائدمحذوف دې.

قوله: بوجهين يعني مُتم، بالضمة والكسرة.

قوله: زائدة للتاكيد، دَ مَا زائده گرځولودوه وجې دی اول دا چې مَا دلته نه موصوله کيدې شی اونه شرطيه اونه نافيه اونه موصوفه اونه مصدريه ځکه چې دلته دَ دې نه هيڅ معنی نه صحيح کيږی. دويمه وجه داده چې که چرې مَا زائده اوگرځولې شی نو حرف په حرف داخليدل به لازم راځی کوم چې صحيح نه دی.

قوله: اصحابُ الدرجات، اصحاب مقدرمنلې شوې دې ددې دپاره حمل صحيح شی.

قوله: بَيِّن، دَمبين تفسيربين سره کولوکښې اشاره اوکړه چې متعدی په معنی د لازم دې.

قوله: الجملة الاخيرة، ای قلتم انی لنا هذا.

قوله: وَقَدقعدوا، قعدوا د قالوا دَضميرنه حال دې. اوماضی بغيردَ قدنه حال کيدې نه شی په دې وجه مفسرعلام قَدمقدرمنلوسره اشاره اوکړه چې قَعَدُوا په تقدير قد، دحال دې.

[اياتونه: ١٧٢ - ١٨٠]

{الَّذِينَ} مُبْتَدَأ {اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ} دُعَاءَهُ بِالْخُرُوجِ للقتال لما اراد ابو سفيان واصحابه العودة تَوَاعَدُوا مَعَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُوق بَدْر الْعَام الْمُقْبِل مِنْ يَوْم أُحُد {مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ} بِأُحُدٍ وَخَبَر الْمُبْتَدَأ {لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ} بِطَاعَتِهِ {وَاتَّقَوْا} مُخَالَفَته {أَجْرٌ عَظِيمٌ} هُوَ الْجَنَّة {الَّذِينَ} بَدَل مِنَ الَّذِينَ قَبْله أَوْ نَعْت {قَالَ لَهُمُ النَّاسُ} أَيْ نُعَيْم بْن مَسْعُود الْأَشْجَعِيّ {إِنَّ النَّاسَ} أَبَا سُفْيَان وَأَصْحَابه {قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ} الْجُمُوع لِيستاصلوكم {فَاخْشَوْهُمْ} وَلَا تَأْتُوهُمْ {فَزَادَهُمْ} ذَلِكَ الْقَوْل {إِيمَانًا} تَصْدِيقًا بِاللَّهِ وَيَقِينًا {وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ} كَافِينَا أَمْرهمْ {وَنِعْمَ الْوَكِيلُ} الْمُفَوَّض إِلَيْهِ الْأَمْر هُوَ وَخَرَجُوا مَعَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَافَوْا سُوق بَدْر وَأَلْقَى اللّٰه الرُّعْب فِي قَلْب أَبِي سُفْيَان وَأَصْحَابه فَلَمْ يَأْتُوا وَكَانَ مَعَهُمْ تِجَارَات فَبَاعُوا وربحوا قال الله تعالى {فَانْقَلَبُوا} رَجَعُوا مِنْ بَدْر {بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ} بِسَلَامَةٍ وَرِبْح {لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ} مِنْ قَتْل أَوْ جُرْح {وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ} بِطَاعَتِهِ وَطَاعَة رَسُوله

في الخروج {وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ} عَلَى أَهْلِ طَاعَته {إِنَّمَا ذَلِكُمْ} أَيِ الْقَائِلِ لَكُمْ إِنَّ النَّاس إلخ {الشيطان يخوف} كم {أولياءه} الكفار {فلا تخافوهم وخافون} فِي تَرْكِ أَمْرِي {إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} حقا {وَلَا يَحْزُنك} بِضَمِّ الْيَاء وَكَسْر الزَّاي وَبِفَتْحِهَا وضم الزاي من احزانه {الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ} يقعون فِيهِ سَرِيعًا بِنُصْرَتِهِ وَهُمْ أَهْل مَكَّة أَوْ الْمُنَافِقُونَ أَيْ لَا تَهْتَمّ لِكُفْرِهِمْ {إِنَّهُمْ لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا} بِفِعْلِهِمْ وَإِنَّمَا يَضُرُّونَ أَنْفُسهمْ {يُرِيدُ اللَّهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا} نَصِيبًا {فِي الْآخِرَةِ} أَيِ الْجَنَّة فَلِذَلِكَ خَذَلَهُمْ اللَّه {وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ} فِي النَّار {إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ} أَيْ أَخَذُوهُ بَدَله {لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ} بِكُفْرِهِمْ {شَيْئًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم {وَلَا يَحْسَبَنَّ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء {الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي} أَيْ إِمْلَاءَنَا {لَهُمْ} بِتَطْوِيلِ الْأَعْمَار وَتَأْخِيرهمْ {خَيْرٌ لِأَنْفُسِهِمْ} وَأَنَّ وَمَعْمُولَاهَا سَدَّتْ مَسَدّ الْمَفْعُولَيْنِ فِي قِرَاءَة التَّحْتَانِيَّة وَمَسَدّ الثَّانِي فِي الْأُخْرَى {إِنَّمَا نُمْلِي} نُمْهِل {لَهُمْ لِيَزْدَادُوا إِثْمًا} بِكَثْرَةِ الْمَعَاصِي {وَلَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ} ذُو إِهَانَة فِي الآخرة {مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ} لِيَتْرُك {الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ} أَيُّهَا النَّاس {عَلَيْهِ} مِنْ اخْتِلَاط الْمُخْلِص بِغَيْرِهِ {حَتَّى يَمِيزَ} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد يَفْصِل {الْخَبِيثَ} الْمُنَافِق {مِنَ الطَّيِّبِ} الْمُؤْمِن بِالتَّكَالِيفِ الشَّاقَّة الْمُبَيِّنَة لِذَلِكَ فَفَعَلَ ذَلِكَ يَوْم أُحُد {وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ} فَتَعْرِفُوا الْمُنَافِق مِنْ غَيْره قَبْل التَّمْيِيز {وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي} يَخْتَار {مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ} فَيُطْلِعهُ عَلَى غَيْبه كَمَا أَطْلَعَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حَال الْمُنَافِقِينَ {فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وإن تؤمنوا وتتقوا} النفاق {فلكم أجر عظيم} {وَلَا يَحْسَبَنَّ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء {الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ} أَيْ بِزَكَاتِهِ {هُوَ} أَيْ بُخْلهمْ {خَيْرًا لَهُمْ} مَفْعُول ثَانٍ وَالضَّمِير لِلْفَصْلِ وَالْأَوَّل بُخْلهمْ مُقَدَّرًا قَبْل الْمَوْصُول عَلَى الْفَوْقَانِيَّة وَقَبْل الضَّمِير عَلَى التَّحْتَانِيَّة {بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ} أَيْ بِزَكَاتِهِ مِنَ الْمَال {يَوْمَ الْقِيَامَةِ} بِأَنْ يُجْعَل حَيَّة فِي عُنُقه تَنْهَشهُ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيث {وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} يَرِثهُمَا بَعْد فَنَاء أَهْلهمَا {وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاء {خَبِيرٌ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ

ترجمه: کومو خلقو چې د الله تعالی او د هغه د رسول (په دوباره) د جنګ د پاره د وتلو په حکم باندې لبیک او وئیل سره د دې چې هغوی په احد کښې زخم خوړلي وو. (او دا هغه وخت اوشو) کوم وخت چې ابوسفیان او د هغه ملګرو د واپس راتلو اراده اوکړه. او نبی ﷺ سره د یوم احد نه پس په راتلونکی کال د بدر په بازار کښې په یو موقع (د مقابلې کولو) چیلنج ورکړو. الذین الخ مبتداء دې او احسنوا منهم د دې خبر دې. په هغوی کښې چې چا د هغوی د اطاعت په ذریعه نیکی اختیار کړه او د هغه د مخالفت نه ئې ډډه اوکړه د هغوی د پاره اجر عظیم دې او هغه جنت دې. اودا داسې خلق دی الذین سابقه الذین نه بدل یا صفت دې. کله چې هغوی ته خلقو یعنی نعیم بن مسعود اشجعی او وئیل چې خلقو (یعنی) ابوسفیان او د هغه ملګرو ستاسو د مقابله د پاره یو لوئې جماعت جمع کړې دې د پاره چې تاسو د بیخه ختم

کړی لهذا تاسو دَهغوی نه اوویرېږئی اودَ هغوی دَ مقابله دَپاره مه راوځئی. نودې خبرې دَ هغوی په الله تعالی باندې یقین اوتصدیق کښې نور اضافه اوکړه. اوهغه خلقو اوویل چې الله تعالی دَهغوی دَپاره په دغه معامله کښې دَهغوی کافی دې. او هغه بهترین کارساز دې. معامله هم هغه ته حواله ده او هغه نبی ﷺ سره اووتلو او دَ بدرپه بازارکښې داخل شو نو الله تعالی دَ ابوسفیان او دَهغه دَ ملګرو په زړه کښې رعب واچولو دَ کوم دَ وجې نه چې هغوی دَ راتلو همت اونه کړو او مسلمانانوسره دَتجارت سامان (هم) وو کوم ئی چې خرڅ کړو اوښه ګټه ئی اوکړه. (نتیجه داشوه) چې داخلق دَمقام بدر نه دَالله تعالی انعام او فضل سره صحیح سلامت سره دَکتې واپس شو اوهغوی ته قتل یازخم یا دَ څه قسم تکلیف پېښ نه شو. اودغه خلقو په وتلو کښې دَ اطاعت په ذریعه دَ الله تعالی دَ رضا تابعداری اوکړه اوالله تعالی په خپلو اطاعت کونکو باندې دَ ډیر فضل والا دې یقینًا دا (ان الناس قد جمعوا لکم) ویونکې هم شیطان دې چې خپلو دوستانو (یعنی) دَ کافرانو نه ئی ویره وی. تاسو دَدې کافرانو نه مه ورېږئی اوزما په حکم ترک کولو کښې هم زمانه ویرېږئی که چرې تاسو په صحیح معنی کښې مؤمنان یئې اوهغه خلق چې په کفرکښې تیزی کوی یعنی په کفرکښې امدادکولوسره په هغې کښې تیزی سره واقع کیږی اوهغه اهل مکه دی یا منافقان دی تادې نه خفه کوی (لایحزنك) دَ یاء په ضمه او د زاء په کسره سره اودَ یاء فتحه او زاء ضمه سره، حزنه نه احزنه کښې یولغت دې. یقینًا داخلق چې خپلوحرکتونو نه نه منع کیږی دَالله تعالی هیڅ هم نه شی کولې هغوی خو هم خپل نقصان کوی دَالله تعالی هم دغه رضا ده چې دَ هغوی دَپاره آخرت یعنی جنت کښې هیڅ حصه نشته. اودَهغوی دَپاره په دوزخ کښې لوئی عذاب دې یقینًا کومو خلقو چې دَ ایمان په بدله کښې کفر اخستې دې یعنی دَ ایمان په ځائی کفراختیارکړې دې هغوی دَخپل کفرپه وجه دَ الله تعالی هیڅ هم نه شی کولې. اودَهغوی دَپاره دردناک عذاب دې اوکافران خلق زمونږ دَدې اوږد عمر او تاخیر (دَمواخذه) ورکړې شوې مهلت دې په خپل حق کښې بهترنه ګنړی (تحسبن) یاء اوتاء سره دواړه قراءتونه دی. او انّ سرد دَ خپل معمول یحسبن بالیاء په صورت کښې دَ دوو مفعولو قائم مقام ګرځولې دې. او تحسبن بالتاء په صورت کښې دَ مفعول ثانی قائم مقام ګرځولې شوې دې. مونږ دې (کافرانو) ته صرف دَ دې دَپاره مهلت ورکوو چې دَ ډیرې ګناه په ذریعه دَهغوی ګناه نوره هم زیاته شی او په آخرت کښې دَهغوی دَ پاره دَ شرم نه ډک عذاب دې. اې خلقو دَمخلص اوغیرمخلص دَ اختلاط په کوم حالت چې تاسو یئې الله تعالی به ایمان والا په دغه حالت کښې پرینږدی تر هغه وخت پورې چې خبیث یعنی منافق دَ طیب (یعنی) مؤمن نه دَهغه نه ښکاره کیدونکې دَ سختوتکلیفونو په ذریعه جدا نه کړی دَ احد په ورځ ئی هم داسې اوکړل اونه

الله تعالی تاسو په غیبوباندې خبرونکې دې چې تاسو منافق نه غیرمنافق اوپېژندې شئ البته الله تعالی دَ خپلو رسولانونه څوک چې غواړی منتخب کوی نو هغه په غیبوباندې خبره وی لکه چې نبی کریم ﷺ ئی دَ منافقانو په حال باندې خبرکړې وو نوتاسو په الله اودَهغه په رسول باندې ایمان راوړئی که چرې تاسو ایمان راوړو او دَ نفاق نه مو ځان اوساتلو نوستاسودَپاره اجرعظیم دې اوچاته چې الله تعالی په خپل فضل اوکرم سره څه ورکړی دی نو په هغې کښې دې بخل بنه نه ګڼری (یحسبن) تاء او یاء سره دواړه قراءتونه دی (خیرًا) مفعول ثانی دې او هُوَ د ضمیر متصل دَپاره دې او مفعول اول بخلهم دَ فوقانیه په صورت کښې موصول نه وړاندې مقدردې اودَ ضمیرنه وړاندې دَ تحتانیه په صورت کښې. بلکه هغه دَ هغوی دَپاره ډیرخراب دې ډیر زر به دَ قیامت په ورځ دَدې (بخل کونکو په ستونو) کښې دغه مال دَ زکوٰة په کوم کښې چې هغوی بخل کړې دې دَ طوق په شکل کښې اچولې شی په داسې توګه چې دَ د غه مال نه به مارجوړکړې شی اودَهغوی په ستونوکښې به واچولې شی اوهغه به دوی ته ټکونه ورکوی. لکه چې په حدیث کښې راغلی دی دَآسمانونو اوزمکې میراث هم دَالله تعالی دَپاره دې دَ اهل ارض وسماء دَ فناکیدونه پس الله تعالی به دَ دوی وارث وی. اوڅه چې تاسو کوئی الله تعالی دَهغې نه بنه خبر دې. یاء او تاء سره نوتاسو ته به دَدې بدله درکوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: الذین مبتداء، یعنی الذین خپلې صله سره ملاؤشو مبتداء دې. او للذین احسنوا منهم الخ خبرمقدم دې، اجر عظیم مبتداء مؤخردې. مبتداء مؤخر خپل خبرمقدم ملاویدو سره جمله کیدوسره خبردې دَ الذین نه اول.

قوله: بدل من الذین، اونعت، مفسرعلام الذین ثانی دَ الذین اول نه بدل یا صفت ګرځولې دې مګر په دې کښې اشکال دې ځکه چې وړاندې الذین نه خاص هغه خلق مراددی څوک چې په غزوه احدکښې شریک شوی وو او دویم الذین نه عام مسلمانان مراد دی حالانکه دَ بدل اونعت دَپاره دواړو کښې اتحاد ضروری دې لهذا بهترداده چې الذین ثانی دَ امدح فعل محذوف سره منصوب اوګرځولې شی. (اعراب القرآن)

قوله: هودا مخصوص بالمدح دې.

قوله: ګمردې کښې اشاره ده چې کم، دَ یخوف مفعول ثانی دې اومفعول اول محذوف دې.

قوله: فتح الیاء وضم الزاءیعنی د باب د نصرنه.

قوله: یقعون فیه دادَیوسوال مقدرجواب دې.

سوال: يسارعون متعدی بالی وی اودلته متعدی بفی دي.

جواب: يسارعون، يقعون معنی ته متضمن دي.

قوله: مؤلم دَاليم تفسير مؤلم سره کولو کښې اشاره اوکړه چې لازم په معنی د متعدی دې لهذا دا شبه ختمه شوه چې عذاب صاحب الم پخپله (دردمند کيږی نه)

قوله: اي املاءنا دي کښې اشاره ده چې مامصدريه دې نه چې موصوله لکه دَ اِنّ ما سره متصل ليکلودَ وجې نه هم کيږی، مناسب داوه چې إِنَّ مَا،إِنَّمَا سره ليکلې کيدو مګر په مصحف عثمانی کښې دغه شان مکتوب دې په دې وجه دَدې مخالفت اونه کړې شو. دَدې دَپاره مَا موصوله کيدو په صورت کښې يوخوبه دَعائدضرورت وی کوم چې موجود نه دې بل داچې معنی هم صحيح نه ده.

قوله: قبل الموصول تقديری عبارت به داوی ولاتحسبن بخل الذين.

قوله: قبل الضمير تقديری عبارت به داشي وَلَا يَحْسَبَنَّ الْبُخَلَاءُ بُخْلَهُمْ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ، اود مقدر په ضميرياندې دَ مقدم کولو وجه داده چې ضمير فصل دَ مبتداء اوهم دَ خبرپه مينځ کښې واقع شوې دي.

[اياتونه:۱۸۱-۱۸۹]

{لَقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ} وَهُمْ الْيَهُود قَالُوهُ لَمَّا نَزَلَ {مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا} وَقَالُوا كَانَ غَنِيًّا مَا اسْتَقْرَضْنَاهُ {سَنَكْتُبُ} نَأْمُر بِكَتْبِ {مَا قَالُوا} فِي صَحَائِف أَعْمَالهمْ لِيُجَازَوْا عَلَيْهِ وَفِي قِرَاءَة بِالْيَاءِ مَبْنِيًّا لِلْمَفْعُولِ {وَ} نَكْتُب {قَتْلَهُمْ} بِالنَّصْبِ وَالرَّفْع {الْأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ} بِالنُّونِ وَالْيَاء أَيْ اللَّه لَهُمْ فِي الْآخِرَة عَلَى لِسَان الْمَلَائِكَة {ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ} النَّار وَيُقَال لَهُمْ إِذَا أُلْقُوا فِيهَا {ذَلِكَ} الْعَذَاب {بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ} عَبَّرَ بِهَا عَنْ الْإِنْسَان لِأَنَّ أَكْثَر الْأَفْعَال تُزَاوَل بِهَا {وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ} أَيْ بِذِي ظُلْم {لِلْعَبِيدِ} فَيُعَذِّبهُمْ بِغَيْرِ ذَنْب {الَّذِينَ} نَعْت لِلَّذِينَ قَبْله {قَالُوا} لِمُحَمَّدٍ {إِنَّ اللَّهَ} قَدْ {عَهِدَ إِلَيْنَا} فِي التَّوْرَاة {أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ} نُصَدِّقهُ {حَتَّى يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ} فَلَا نُؤْمِن لَك حَتَّى تَأْتِينَا بِهِ وَهُوَ مَا يُتَقَرَّب بِهِ إِلَى اللَّه مِنْ نَعَم وَغَيْرهَا فَإِنْ قُبِلَ جَاءَتْ نَار بَيْضَاء مِنْ السَّمَاء فَأَحْرَقَتْهُ وَإِلَّا بَقِيَ مَكَانه وَعَهِدَ إِلَى بَنِي إِسْرَائِيل ذَلِكَ إِلَّا فِي الْمَسِيح ومحمد قال تعالى {قُلْ} تَوْبِيخًا {قَدْ جَاءَكُمْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِي بِالْبَيِّنَاتِ} بِالْمُعْجِزَاتِ {وَبِالَّذِي قُلْتُمْ} كَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى فَقَتَلْتُمُوهُمْ وَالْخِطَاب لِمَنْ فِي زَمَن نَبِيّنَا مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ كَانَ الْفِعْل لِأَجْدَادِهِمْ لِرِضَاهُمْ بِهِ {فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِي أَنَّكُمْ تُؤْمِنُونَ عِنْد الْإِتْيَان بِهِ {فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ جَاءُوا بِالْبَيِّنَاتِ} المعجزات {وَالزُّبُرِ} كصحف إبراهيم {وَالْكِتَابِ} وَفِي قِرَاءَة بِإِثْبَاتِ الْبَاء فِيهِمَا {الْمُنِيرِ} الْوَاضِح هُوَ التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيل فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرُوا {كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ}

جزاء أعمالكم {يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ} بُعِدَ {عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ} نَالَ غَايَة مَطلُوبه {وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا} أَيِ الْعَيْش فيها {إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ} الباطل يتمتع بها قَلِيلًا ثُمَّ يَفْنى {لَتُبْلَوُنَّ} حُذِفَ مِنْهُ نُون الرَّفْع لِتَوَالِي النُّونَاتِ وَالْوَاو ضَمِير الْجَمْع لِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ لَتُخْتَبَرُنَّ {فِي أَمْوَالِكُمْ} بِالْفَرَائِضِ فِيهَا وَالْجَوَائِح {وَأَنفُسِكُمْ} بِالْعِبَادَاتِ وَالْبَلَاء {وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ} الْيَهُود وَالنَّصَارَى {وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا} مِنَ الْعَرَب {أَذًى كَثِيرًا} مِنَ السَّبّ وَالطَّعْن وَالتَّشْبِيب بِنِسَائِكُمْ {وَإِن تَصْبِرُوا} عَلَى ذَلِكَ {وَتَتَّقُوا} بِالْفَرَائِضِ {فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ} أَيْ مِنْ مَعْزُومَاتهَا الَّتِي يُعْزَم عَلَيْهَا لِوُجُوبِهَا {وَ} اُذْكُرْ {إِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ} أَيِ الْعَهْد عَلَيْهِمْ فِي التَّوْرَاة {لَيُبَيِّنُنَّهُ} أَيِ الْكِتَاب {لِلنَّاسِ وَلَا يَكْتُمُونَهُ} أَيِ الْكِتَاب بِالْيَاءِ وَالتَّاء بِالْفِعْلَيْنِ {فَنَبَذُوهُ} طَرَحُوا الْمِيثَاق {وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ} فَلَمْ يَعْمَلُوا بِهِ {وَاشْتَرَوْا بِهِ} أَخَذُوا بَدَله {ثَمَنًا قَلِيلًا} مِنَ الدُّنْيَا مِنْ سَفَلَتهمْ بِرِيَاسَتِهِمْ فِي الْعِلْم فَكَتَمُوهُ خَوْف فَوْته عليهم {فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ} شراؤهم هذا {ولا تَحْسَبَنَّ} بِالتَّاءِ وَالْيَاء {الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوا} فَعَلُوا فِي إِضْلَال النَّاس {وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا} مِنَ التَّمَسُّك بِالْحَقّ وَهُمْ عَلَى ضَلَال {فَلَا تَحْسَبَنَّهُم} فِي الْوَجْهَيْنِ تَأْكِيد {بِمَفَازَةٍ} بِمَكَانٍ يَنْجُونَ فِيهِ {مِّنَ الْعَذَابِ} مِنَ الْآخِرَة بَلْ هُمْ فِي مَكَان يُعَذَّبُونَ فِيهِ وَهُوَ جَهَنَّم {وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم فِيهَا ومفعولا يحسب الأولى دل عليهما مفعولا مَفْعُولَا الثَّانِيَة عَلَى قِرَاءَة التَّحْتَانِيَّة وَعَلَى الْفَوْقَانِيَّة حُذِفَ الثَّانِي فَقَطْ {وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} خَزَائِن الْمَطَر وَالرِّزْق وَالنَّبَات وَغَيْرهَا {وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ تَعْذِيب الْكَافِرِينَ وَإِنْجَاء الْمُؤْمِنِينَ

ترجمه: يقينًا الله تعالى دَهغه خلقو قول واوريدو چاچې اووئيل الله تعالى محتاج دې اومونږ مالداريو اودا چې (ويونكى) يهوددى داخبره هغوى هغه وخت اوكړه كله چې ﴿ مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ آيت نازل شو اودا (هم) كه چرې الله تعالى مالداروئ نو زمونږ نه به ئې قرض نه غوښتلو، مونږ دَ هغوى قول دَهغوى په عمل ناموكښې ليكو دې دپاره چې دَ دې هغوى ته بدله وركړې شي. او په يوقراءت كښې يكتُب ياء سره دَمعروف صيغه ده. اومونږ دَهغوى انبياء په ناحقه قتل كول هم ليكو (قتلهم) نصب اورفع سره، او مونږ به وايوچې دَ سوزونكى اور مزه اوڅكئى. (يَقُوْلُ) نون اوياء سره يعنى په آخرت كښې به الله تعالى دَ ملائكو په خوله وائى، اوكله چې هغوى په دوزخ كښې اچولې شى نودوى ته به وئيلى شي چې دا عذاب ستاسو دَهغه كړو دَ وجې نه دې كوم چې تاسوكړى دى. دَ انسان تعبيرئې لاسونوسره كړې دې ځكه اكثراعمال هم په لاسونوباندې كيږى. اوالله تعالى په بنديگانوباندې ظلم كونكې نه دې چې هغوى ته بې خطاء سزا وركړى. دا (قائلين) هغه خلق دى اَلَّذِيْنَ دَ ماقبل والا اَلَّذِيْنَ صفت دې چاچې محمد ﷺ ته اووئيل چې الله تعالى مونږ ته په تورات كښې حكم راكړې وى چې مونږ په يونبى باندې ترهغه وخته پورې ايمان رانوړو (يعنى)

دَهغه تصدیق اونه کړو ترکومې چې هغه داسې قرباني رانوړی چې هغه اور اوخوری لهذا په تاباندې به هم ترهغه وخته پورې ایمان نه راوړو ترکوم وخت پورې چې ته مونږ له دغه شان قرباني رانوړې ارهغه قرباني هغه ده دَ کومې په ذریعه چې الله تعالی ته نیزدیکت حاصل کړې شی دَ څناور وغیره دَقبیل نه. که قرباني به قبوله شوه نودَ آسمان نه به یوسپین اور راغلو او هغه به ئې اوسوزوله گنې په خپل ځائې به پرته وه. بني اسرائیلوته دَ مسیح علیه السلام او محمد ﷺ نه علاوه دَپاره دا حکم ورکړې شوې وو. دَ قربانئي دَ قبلیدوعلامت دَ آسماني اور دَ قربانئي څاروې سوزیدل دَ مسیح علیه السلام اودَ محمد ﷺ نه دَ علاوه دَپاره وو. دغه شان دَ آسماني اور سوزول دَ نبي دَ صداقت دلیل دَمسیح علیه السلام اودَ محمد ﷺ نه دَ علاوه نبي دَپاره وو. **تاسو دوی ته اووایئې زما نه وړاندې تاسوته چې کوم رسول دَنورو معجزوسره دا معجزه هم راوړې وې کوم چې تاسو یادوئې نوولې تاسو هغوئ قتلول؟** مثلاً زکریا علیه السلام اویحیی علیه السلام چې تاسو هغوی قتل کړل. اوخطاب هغه (یهودو) ته دې کوم چې زمونږ دَ نبي ﷺ په زمانه کښې وو سره دَدې چې دا فعل (قتل) دَهغوی دَ پلارانو نیکونو وو دَ هغه خلقو په دې فعل باندې راضي کیدلو دَ وجې نه. **که چرې تاسو په دې خبره کښې رښتوني ئې** نو دَدې معجزې لیدلونه پس ایمان راوړئې. **نوبیاهم که داخلق تاسو دروغژن کوی نوتاسو نه وړاندې هغه رسولان دروغ گڼرلې شوی دی چې معجزات او صحیفې** لکه صحف ابراهیم علیه السلام. **او واضح کتابونه** او په یوقراءت کښې دواړوکښې (یعني زُبر او کتاب) کښې دَباء اثبات سره دې. (ای بالزبروبالکتاب) **راوړلوسره راغله** هغه تورات او انجیل دې. لهذا څنګه چې هغوی صبراوکړو ته هم صبراوکړه. **هرژوندې ځیزبه دَمرګ مزه څکونکې دې اوتاسوته به ستاسو دَاعمالو بدله هم دَ قیامت په ورځ درکولې شي. نوچې کوم سړې دَ اور نه لرې کړې شو او په جنت کښې داخل کړې شو نوهم هغه کامیاب شو** یعني هغه خپل مکمل مطلوب حاصل کړو. **دَدنیا ژوند**یعني دَدې عیش **خو صرف باطل سودا ده** چې یوڅو ورځې دَهغې نه استفاده کولې شی بیابه فناشي. **یقیناً تاسو ته به په دې کښې** نون د رفع مسلسل دَ نونودَ وجې نه حذف کړې شوې دې او واؤ ضمیر هم د اجتماع ساکنین دَ وجې نه حذف کړې شوې دې. **ستاسو په مالونوکښې** دَ هغوی دَ فرائض او آفات په ذریعه **او ستاسو په ځانونوکښې** دَعبادات اومصائب په ذریعه **ازمیښت کولې شي. او یقیناً تاسو دَهغه خلقو نه کوموته چې تاسونه وړاندې کتاب ملاؤشوې دې** (یعني) یهود نصاریٰ اودَ **عربومشرکینونه ډیرې زړه آزارونکې خبرې** مثلاً کنځلې او پیغورونه اوستاسو دَ ښځو باره کښې **عشقیه شعرونه به اورئې، که تاسو په دې باندې صبر اوکړئې او تقوی اختیارکړئې نویښکه دادَ ډیرهمت کارونه دی** یعني دَهغه مقاصدونه دی دَ کومو چې دَهغې دَواجب کیدودَ وجې نه اراده کولې شي.

اوهغه وخت یادکړئې کوم وخت چې الله تعالی دَاهل کتاب نه په تورات کښې **عهد واخستلو**

چې تاسو به دا کتاب ټولو خلقوته ضرور بیانوئی او دا به پټوئی نه په دوارو فعلونو کښې دَ تاء او یاء سره. نوهغوی دغه عهد شاته اوغورزولو په داسې توګه چې په دې باندې ئې عمل اونه کړو. اودَدې په بدله کښې دَ خپل شکته خلقو نه دَخپل علمی مشرئی دَ وجې نه دَ دنیا سپک قیمت واخستو، دَ دغه کم قیمت دَ فوت کیدو دَ ویرې نه ئی هغه عهد پټ کړو نوځکه خراب څیزدې کوم چې هغوی اخلی یعنی دَهغوی دا اخستل ځومره خراب دی، نودَداسې خلقو باره کښې چې دَخپلو کړو یعنی دَ خلقو په ګمراه کولو باندې خوشحالیږی هیڅ کله دې خیال نه کوی (چې هغوی به دَعذاب نه محفوظ پاتې شی) اوهغوی غواړی چې دَهغوی تعریفونه دې په داسې کارناموباندې هم اوکړی کوم چې هغوی نه دی پوره کړی اوهغه دَ حق نیول دی حالانکه هغوی په ګمراهئی کښې دی نودَداسې خلقو باره کښې تاسو هیڅ کله داخیال مه کوئی چې هغوی به په آخرت کښې دَ عذاب نه محفوظ پاتې شی یعنی په داسې ځائی کښې به وی چې هغوی به خلاصې بیامومی، بلکه هغوی خو به په داسې ځائی کښې وی په کوم کښې چې به عذاب ورکولې شی. اوهغه دوزخ دې اودَهغوی دَپاره په دې کښې دردناک (دردمند) عذاب به وی. او اول دَ يَحْسَبُ دواړه مفعولونه په کوم چې دَ يَحْسَبُ ثانی دواړه مفعولونه دَ یاء تحتانیه دَ قراءت په صورت کښې دلالت کوی اود فوقانیه (قراءت) په صورت کښې صرف ثانی مفعول حذف کړې شوې دې. او آسمانونه اوزمکه یعنی باران اورزق او شینکی وغیره خزانو باندې هم دَالله تعالی بادشاهی ده اوهم الله تعالی په هرشئ قادر دې او هم دَدې نه دکافرانو تعذیب او مؤمنانوته نجات ورکول دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْا داکلام مستانف دې دادَ یهودو فضول وینا اودَ افواه ګانو نمونه بیانولودَپاره راوړلې شوې دې. لَقَدْ کښې لام توطیه دې دَ قسم په محذوف کیدلوباندې دلالت کولودَپاره دې ای والله لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ الخ قَدْ حرف تحقیق دې او لام په جواب قسم باندې داخل دې.

قوله: نکتب، دې کښې اشاره ده چې د قَتْلَهُمْ عطف په مَا باندې دې نه چې په قالوا.

قوله: بالنصب والرفع، و قَتْلَهُمْ کښې دواړه قراءتونه دی. ځکه چې دَ قَتْلَهُمْ معطوف علیه ماقالوا دې. اومعطوف علیه دَ محل په اعتبارسره منصوب اومرفوع دواړه دې. که چرې نکتب نون سره اولوستلې شی نو مَاقَالُوْا به محلاً منصوب شی ځکه چې نکتب به مفعول شی او که يُكْتَبُ یاء سره اولوستلې شی نومعطوف علیه به مرفوع وی ځکه چې يکتب به دَ مجهول صیغه وی او مَاقالوا نائب فاعل.

قوله: اي بذي ظلم دي كښې اشاره ده چې ظلاّمد مبالغه صيغه دَاسم فاعل په معنى كښې دي په قرآن كريم كښې دَ مبالغه صيغه اكثر دَاسم فاعل په معنى كښې مستعمل ده.

قوله: جوائح، دا دَجائحة جمع ده آفت دَ ميوو بيمارى.

قوله: التشبيب، غزل وئيل، دَعشق او محبت خبرې، تشبيب په اصل كښې دَ ځوانئى دَ خبرو ذكر ته وائي. روستو دَ غزل په شروع كښې عشقيه خبرې ذكركولو ته او وئيلې شوه.

قوله: مَعْزُوْمَاتِهَا، دي كښې اشاره ده چې عزم مصدر په معنى د اسم مفعول دې. امور جمع ده، دَعزم اضافت امور جمع د جانت د وجې نه ده.

قوله: لَتُبَيِّنُنَّهُ، تبيّن نه جمع مذكر حاضر بانون ثقيله، تاسو به ضرور بيانوئى په دي كښې لام قسميه دي.

قوله: شراءهم هذا، شراءهم، دَبئس فاعل دي او هذا مخصوص بالمدح دي.

[ايالتونه: ۱۹۰-۲۰۰]

{إن في خلق السماوات والأرض} وما فيهما مِنَ الْعَجَائِب {وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ} بِالْمَجِيء وَالذَّهَاب وَالزِّيَادَة وَالنُّقْصَان {لَآيَاتٍ} دَلَالَات عَلَى قُدْرَته تَعَالَى {لِأُولِي الْأَلْبَابِ} لِذَوِي الْعُقُول {الَّذِينَ} نَعْت لِمَا قَبْله أَوْ بَدَل {يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ} مُضْطَجِعِينَ أَيْ فِي كل حال وعن بن عبَّاس يُصَلُّونَ كَذَلِكَ حَسَب الطَّاقَة {وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} لِيَسْتَدِلُّوا بِهِ عَلَى قُدْرَة صَانِعهمَا يَقُولُونَ {رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا} الْخَلْق الَّذِي نَرَاهُ {بَاطِلًا} حَال عَبَثًا بَلْ دَلِيلًا عَلَى كَمَالِ قُدْرَتك {سُبْحَانَكَ} تَنْزِيهًا لَك عَنْ العبث {فقنا عذاب النار} {رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ} لِلْخُلُودِ فِيهَا {فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ} أَهَنْته {وَمَا لِلظَّالِمِينَ} الْكَافِرِينَ فِيهِ وَضْعَ الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر إشْعَارًا بِتَخْصِيصِ الْخِزْي بِهِمْ {مِنْ أَنْصَارٍ} يَمْنَعُونَهُمْ مِنْ عَذَاب اللَّه تعالى {رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي} يَدْعُو النَّاس {لِلْإِيمَانِ} أَيْ إلَيْهِ وَهُوَ مُحَمَّد أَوْ الْقُرْآن {أَنْ} أَيْ بِأَنْ {آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا} بِهِ {رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ} حُطَّ {عَنَّا سَيِّئَاتِنَا} فَلَا تُظْهِرهَا بِالْعِقَابِ عَلَيْهَا {وَتَوَفَّنَا} اقْبِضْ أَرْوَاحنَا {مَعَ} فِي جُمْلَة {الْأَبْرَارِ} الْأَنْبِيَاء الصَّالِحِينَ {ربنا آتنا} أَعْطِنَا {مَا وَعَدْتَنَا} بِهِ {عَلَى} أَلْسِنَة {رُسُلِكَ} مِنْ الرَّحْمَة وَالْفَضْل وَسُؤَالهمْ ذَلِكَ وَإِنْ كَانَ وَعْده تَعَالَى لَا يُخْلِف سُؤَال أَنْ يَجْعَلهُمْ مِنْ مُسْتَحِقِّيهِ لِأَنَّهُمْ لَمْ يَتَيَقَّنُوا اسْتِحْقَاقهمْ لَهُ وَتَكْرِير رَبَّنَا مُبَالَغَة فِي التَّضَرُّع {وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ} الْوَعْد بِالْبَعْثِ وَالْجَزَاء {فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ} دُعَاءَهُمْ {أَنِّي} أَيْ بِأَنِّي {لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى بَعْضُكُمْ} كَائِن {مِنْ بَعْضٍ} أَيْ الذُّكُور مِنْ الْإِنَاث وَبِالْعَكْسِ وَالْجُمْلَة مُؤَكِّدَة لِمَا قَبْلهَا أَيْ هُمْ سَوَاء فِي الْمُجَازَاة بِالْأَعْمَالِ وَتَرْك تَضْيِيعهَا نَزَلَتْ لَمَّا قَالَتْ أُمّ سَلَمَة يَا رَسُول اللَّه إنِّي لَا أَسْمَع ذِكْر النِّسَاء فِي الْهِجْرَة بِشَيْءٍ {فَالَّذِينَ هَاجَرُوا} مِنْ مَكَّة إلَى الْمَدِينَة {وَأُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي} دِينِي {وَقَاتَلُوا} الْكُفَّار

{وَقُتِلُوا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ وَفِي قِرَاءَة بِتَقْدِيمِهِ {لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ} أَسْتُرُهَا بِالْمَغْفِرَةِ {وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا} مَصْدَر مِنْ مَعْنَى لَأُكَفِّرَنَّ مُؤَكِّد لَهُ {مِنْ عِنْدِ اللَّهِ} فِيهِ اِلْتِفَات عَنْ التَّكَلُّم {وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ} الْجَزَاء وَنَزَلَ لَمَّا قَالَ الْمُسْلِمُونَ أَعْدَاء اللَّه فِيمَا نَرَى مِنْ الْخَيْر وَنَحْنُ فِي الْجَهْد {لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا} تَصَرُّفهمْ {فِي الْبِلَادِ} بالتجارة والكسب هُوَ {مَتَاعٌ قَلِيلٌ} يَتَمَتَّعُونَ بِهِ يَسِيرًا فِي الدُّنْيَا وَيَفْنَى {ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ} الفراش هي {لَكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ} أَيْ مُقَدَّرِينَ الْخُلُودَ {فِيهَا نُزُلًا} وَهُوَ مَا يُعَدّ لِلضَّيْفِ وَنَصْبه عَلَى الْحَال مِنْ جَنَّات وَالْعَامِل فِيهَا مَعْنَى الظَّرْف {مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا عِنْدَ اللَّهِ} مِنْ الثَّوَاب {خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ} مِنْ مَتَاع الدُّنْيَا {وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَمَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ} كَعَبْدِ اللَّه بْن سَلَام وَأَصْحَابه وَالنَّجَاشِيّ {وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ} أَيْ الْقُرْآن {وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ} أَيْ التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيل {خَاشِعِينَ} حَال مِنْ ضَمِير يُؤْمِن مُرَاعًى فِيهِ مَعْنَى مِنْ أَيْ مُتَوَاضِعِينَ {لِلَّهِ لَا يَشْتَرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ} الَّتِي عِنْدهمْ فِي التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيل مِنْ بَعْث النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {ثَمَنًا قَلِيلًا} مِنْ الدُّنْيَا بِأَنْ يَكْتُمُوهَا خَوْفًا عَلَى الرِّيَاسَة كَفِعْلِ غَيْرهمْ مِنْ الْيَهُود {أُولَئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ} ثَوَاب أَعْمَالهمْ {عِنْدَ رَبِّهِمْ} يُؤْتَوْنَهُ مَرَّتَيْنِ كَمَا فِي الْقَصَص {إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ} يُحَاسِب الْخَلْق فِي قَدْر نِصْف نَهَار مِنْ أَيَّام الدنيا {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا} عَلَى الطَّاعَات وَالْمَصَائِب وَعَنْ الْمَعَاصِي {وَصَابِرُوا} الْكُفَّار فَلَا يَكُونُوا أَشَدّ صَبْرًا مِنْكُمْ {وَرَابِطُوا} أَقِيمُوا عَلَى الْجِهَاد {وَاتَّقُوا اللَّهَ} فِي جَمِيع أَحْوَالكُمْ {لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} تَفُوزُونَ بِالْجَنَّةِ وتنجون من النار

ترجمه: آسمانونه زمكې او په دې كښې چې كوم عجائبات دی دَدې په تخليق كښې او په تګ راتګ او زياتی كمی شپې ورځې په بدلولو كښې يقينًا دَعقلمندو دَپاره دَ الله تعالی دَ قدرت نشانې دی. كوم خلق (الذين) دَ خپل ماقبل صفت يا بدل دې چې الله تعالی په ولاړه ولاړه په ناسته ناسته او په ملاسته ملاسته يعنی هرحال كښې يادوی. ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چې دَ طاقت مطابق په دغه ذكرشوو حالتونو كښې مونځ كوی اودَ آسمانونو اوزمكو په تخليق كښې غوراوفكركوی دې دَپاره چې دَدې په ذريعه دَ زمكې اوآسمان جوړونكی قدرت باندې استدلال اوكړی. وائی اې زمونږ پروردګار دامخلوق كوم چې مونږ وينو تابې فائدې نه دې پيداكړې بلكه ستادَ كمال قدرت دليل دې جوړكړې دې، دَټولولايعنی كارونونه ته پاک ئې نومونږ دَ دوزخ دَعذاب نه محفوظ اوساته. اې زمونږ پروردګار څوک چې تا دَهميشه دَپاره په دوزخ كښې اوغورزول نوتا هغوی رسوا كړل اودكافرانودَپاره هيڅوک امدادی نشته چې هغوی دَ الله تعالی دَعذاب نه بچ كړې شی، په دې كښې دَ كافرانو سره دَ رسوائې تخصيص طرف ته اشاره كولودَپاره دَاسم ضميرپه ځائې اسم ظاهر راوړلې شوې دې. اې زمونږ پروردګار مونږ يو آوازكونكې واورېدو چې په اوچت آوازئې خلق دَ ايمان طرف ته رابلل، اوهغه محمد ﷺ يا قرآن دې چې اې خلقو په خپل رب باندې ايمان راوړئ

تومونږ په هغه باندې ایمان راوړو اې زمونږ ربه اوس ته زمونږ ګناه معاف کړه او زمونږ دَ خطاګانو پرده اوساته لهذا په هغې باندې په سزا راکولوسره هغه مه ښکاره کوه او زمونږ وفات (یعنی حشر) انبیاء کرام او صالحینوسره اوکړه او اې زمونږ ربه په خپل رحمت او خپل فضل سره (دَ مذکوره څیزونو مونږ مستحق کړه) اودَ خپل رسول ﷺ په ژبه چې تامونږ سره دَ څۍ وعده کړې هغه راعطاکړه. دَهغوی دَ مذکوره څیزونو سوال کول سره دَدې چې دَالله تعالی په وعده کښې تخلف نه کیږی په داسې توګه دې چې مونږ دَخپلې وعدې په مستحقینو کښې شامل کړه ځکه چې دَهغوی دَ دغه وعدو دَ مستحق کیدو یقین نه وو. اودَ رَبَّنَا تکرار په عاجزئی کښې دَمبالغه کولودپاره دې اومونږ دَ قیامت په ورځ رسوا کوه مه بیشکه ته دَ بعث او جزاء دَ وعدې خلاف نه کوې. نودَهغوی دعا دَهغوی پروردګار قبوله کړه ځکه چې زه دَ چا عمل کونکی عمل که هغه سړې وی اوکه ښځه نه ضائع کوم ځکه چې تاسو خپل مینځ کښې دَ یوبل جزیئې یعنی مذکر دَ مؤنث نه دې اودَدې عکس دا جمله (معترضه) ماقبل دَپاره مؤکده ده. یعنی هغه دَاعمالو په جزاء او عدم اضاعت کښې برابر دی. (راتلونکې آیت هغه وخت نازل شو کوم وخت چې حضرت ام سلمة ﷞ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ ما نه دی اوریدلی چې الله تعالی دَ هجرت په معامله کښې دَښځوهم څه ذکر کړې وی. ځکه چې کومو خلقو دَ مکې نه دَ مدینې طرف ته هجرت اوکړو او څوک چې دَهغوی دکورونو نه اوویستلې شو اوزما دَدین په لارکښې ورته تکلیفونه ورکړې شو اوکومو چې کافرانوسره جهاد اوکړو او شهید کړې شو (قتلوا) تخفیف اوتشدید سره. او په یو قراءت کښې دَ قُتِلُوْا تقدیم سره دې. زه به خامخا دَهغوی ګناهونه لرې کوم یعنی هغوی به په مغفرت کښې راپټ کړم. اوضرور به هغوی په داسې جنت کښې داخلوم دکوم لاندې چې نهرونه روان دی. دادَ الله تعالی دَ طرف نه دَ ثواب په توګه دی. (ثوابًا) دَ لَاُکَفِّرَنَّ معنی نه مصدر دَ تاکید دَپاره دې. په دې کښې دَتکلم نه دَ غیبت طرف ته التفات دې. او بهترین ثواب هم الله تعالی سره دې (او راتلونکې آیت هغه وخت نازل شو) کله چې مسلمانانو اووئیل مونږ خودَالله تعالی دښمنان په بهتر حالت (خوشحالئی) کښې وینو او مونږ په سختو کښې یو. دَ کافرانو په ښاریو کښې دَتجارت او کارکسب په سلسله کښې تګ راتګ دې تاسو په دهوکه کښې وانچوی دا خود یو څو ورځو خوشحالی ده په کوم سره چې به په دنیا کښې یو څو ورځې تیرې کړی اوختم به شی. بیاخودَدوی ځائی دوزخ دې او هغه ډیر خراب ځائی دې یعنی خرابه بستره ده. البته کوم خلق چې دَ خپل پروردګارنه ویریږی دَهغوی دَپاره داسې باغونه دی دَ کوم لاندې چې نهرونه جاری دی په کوم کښې چې به هغوی دَ همیشه دَپاره وی. دادَالله تعالی دَ طرف نه دَ میلمستیا په توګه دی اودا همیشه اوسیدل دَ هغوی دَپاره مقدر کړې شوی دی او نُزُل هغه څیز ته وائی کوم چې دَ میلمه دَپاره تیارولې شی اودَدې نصب جنة نه دَحال کیدو په وجه دې او په دې کښې

عامل معنی د ظرف ده (ای لَّهمْ لهم) او الله تعالى سره چې کوم ثواب دې هغه دَ صالحينو دَپاره دَنياد متاع نه بهتردې او په اهل کتاب کښې يقيناً څه داسې خلق هم دی چې په الله تعالى باندې ايمان لرى لکه عبدالله بن سلام ﷺ او دَهغه ملګرى يانجاشى او په هغې باندې هم کوم چې ستا طرف ته نازل کړې شوى دى يعنى قرآن اوکوم چې دَهغوى طرف ته نازل شوى دى يعنى تورات او انجيل (دَالله نه) ويريدونکى دى. او دَ الله تعالى آياتونه کوم چې تورات او انجيل کښې هغوى سره دى او هغه دَ محمد ﷺ صفات دى په لږ قيمت کښې سودا نه کوى چې دَ بادشاهئى دَختميدو په ويره کښې هغه پټ کړى لکه چې دَهغوى نه علاوه نورو يهوديانو کول. هم دغه هغه خلق دى دَ چا دَ اعمالو بدله چې دَهغوى رب سره ده هغوى ته به ډبل اجرورکولې شي لکه چې په سورت قصص کښى دى يقيناً الله تعالى ډيرزر حساب اخستونکې دې دَمخلوق حساب دَ دنياوى ورځو دَ حساب په اعتبارسره به په نيمه ورځ کښې اخلى. اې ايمان والو په اطاعت او په مصائب باندې او دګناه نه په منع کيدو باندې صبرکوئ او دکافرانو په مقابله کښې کلک اوسيږئ چې هغوى تاسو نه زيات ثابت قدم نه وى. او دَ جهاد دَپاره تياراوسيږئ او دَ الله تعالى نه ويريږئ دې دَپاره چې تاسو دَ جنت په ګټلو کښې کامياب شئ او دَ دوزخ دَ اورنه خلاص شئ.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

اِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (الاية) کلام مستانف دې دَالله سبحان وتعالى وجود او دَهغه علم او دَ هغه قدرت بيانولو دَ پار راوړلې شوې دې.

قوله: يقولون سابق کښې دَالله تعالى کلام وو دَدې ځائى نه د اولوالالباب کلام شروع کيږى ځکه دلته ئى يقولون مقدرمنلې دې.

قوله: الخلق الذى نرّاه دا دَ يو سوال مقدرجواب دې.

سوال: دَ هذا مشاراليه السموات والارض دې کوم چې مؤنث دې او هذا دې کښې اشاره دَمذکرده اسم اشاره او مشار اليه کښې مطابقت نشته.

جواب: دَ هذا مشاراليه خلق دى چې په معنى مخلوق دى لهذا هيڅ اعتراض نشته.

قوله: باطلاً دا دَ هذا حال دې نه چې دَ خلقت مفعول ثانى دې ځکه چې خلق متعدى په يو مفعول وى.

قوله: للخلود فيها دا دَ يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: دَ الله تعالى د قول ﴿ يَوْمَ لَا يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ﴾ مقتضى ده چې ټول مؤمنان دې غيرمخزى وى حالانکه دَعصاة مؤمنانونه به بعض په دوزخ کښې داخليږى

اودا آیت دلالت کوی چې څوك هم په دوزخ کښې داخل شوهغه رسواشو سره دَدې چې هغه مؤمن ولې نه وی.

جواب: دخول نه دائمی دخول مراددې کوم چې به صرف دکافرانودَپاره وی. په دې سره دَ معتزله جواب هم راغلو چې دَهغوی په نیز دکبیره گناه مرتکب مؤمن نه دی.

قوله: وضع الظاهرموضع المضمرالخ داد یوسوال مقددَ جواب طرف ته اشاره ده.

سوال: دَ اصحاب الخزی ذکر سابق کښې دَ مَن تدخل النار په ضمن کښې راغلې دې لهذا دَ دې دَپاره ضمیرراوړل کافی وو یعنی دَ ماللظلمین په ځائې مالهم کافی وو؟

جواب: دادې چې دَ خزیان تخصیص بیانولودَپاره په صراحت سره لفظ ظالمین ذکرکړې شوې دې.

قوله: الیه دَ سوال مقدر جواب دې.

سوال: نداء او دعاء متعدی باللام نه وی حالانکه دلته متعدی باللام دې؟

جواب: لام په معنی دَ إلی دې. هم دَدې جواب طرف ته مفسرعلام إلیه وئیلوسره اشاره کړې ده.

قوله: ثواباً مصدرٌ بمعنی لأکفرنّ موکدله په دې عبارت سره داخودل دی چې ثواباً دَ جنت نه حال نه دې ځکه چې دلته دَ حال په ذوالحال باندې حمل صحیح نه دې.

قوله: لاکفرن سره دَ یوسوال جواب ورکول مقصوددی.

سوال: دَ ثواباً، لَأُكَفِّرَنَّ مفعول مطلق نه شی کیدې دَدواړو الفاظ جدا دی حالانکه دَ دواړو دَ یوې ماده نه کیدل ضروری دی؟

جواب: ثواباً او لَأُكَفِّرَنَّ سره دَدې چې دَدواړو الفاظ متحدنه دی مگر دَمعنې په اعتبارسره دواړه متحددی ځکه چې لَأُكَفِّرَنَّ په معنی دَ لَأُثِيبَنَّهُمْ کښې دې. لهذا اوس به عبارت داسې شی لَأُثِيبَنَّهُمْ ثواباً اودامفعول مطلق دَ تاکیددَپاره دې.

[٤] سورة النسآء

مدنية وخمس اوست او سبع او سبعون اية

سورت نساء مدنی دې ١٧٥ يا ١٧٦ يا ١٧٧ آياتونه دی.

[اياتونه: ١ - ١٠]

{يأيها النّاس} أيْ أهْل مَكّة {اتّقوا ربّكم} أيْ عِقَابه بِأنْ تُطِيعُوهُ {الّذي خلقكم من نفس واحدة} آدم {وخلق منها زوجها} حَوّاء بِالْمَدّ مِنْ ضِلَع مِنْ اضلاعه الْيُسْرَى {وبثّ} فَرّق وَنَشَرَ {منهما} مِنْ آدم وَحَوّاء {رجالًا كثيرًا ونساء} كَثِيرَة {واتّقوا الله الّذي تساءلون} فِيهِ إدْغَام التّاء فِي الْأَصْل فِي السّين وَفِي قِرَاءَة بِالتّخْفِيفِ بِحَذْفِهَا أيْ تَتَسَاءَلُونَ {به} فِيمَا بينكم حين يَقُول بَعْضكُمْ لِبَعْضٍ أسألك بِاَللّهِ وَأنْشُدك بِاَللّهِ {و} اتّقُوا {الأرحام} أنْ تَقْطَعُوهَا وَفِي قِرَاءَة بِالْجَرّ عَطْفًا عَلَى الضّمِير فِي بِهِ وَكَانُوا يَتَنَاشَدُونَ بِالرّحِمِ {إنّ الله كان عليكم رقيبًا} حَافِظًا لِأعْمَالِكُمْ فَيُجَازِيكُمْ بِهَا أيْ لَمْ يَزَلْ متصفا بذلك وَنَزَلَ فِي يَتِيم طَلَبَ مِنْ وَلِيّه مَاله فَمَنَعَهُ {وآتوا اليتامى} الصّغَار الّذِينَ لَا أب لَهُمْ {أموالهم} إذَا بَلَغُوا {ولا تتبدّلوا الخبيث} الْحَرَام {بالطّيّب} الْحَلَال أيْ تَأْخُذُوهُ بَدَله كَمَا تَفْعَلُونَ مِنْ أخْذ الْجَيّد مِنْ مَال الْيَتِيم وَجَعْل الرّدِيء مِنْ مَالكُمْ مَكَانه {ولا تأكلوا أموالهم} مَضْمُومَة {إلى أموالكم إنّه} أيْ أكْلهَا {كان حوبًا} ذَنْبًا {كبيرًا} عَظِيمًا وَلَمّا نَزَلَتْ تَحَرّجُوا مِنْ وِلَايَة الْيَتَامَى وَكَانَ فِيهِمْ مَنْ تَحْته الْعَشْر أوْ الثّمَان مِنْ الْأزْوَاج فَلَا يعدل بينهن فنزل {وإن خفتم} ا ن {لا تقسطوا} تَعْدِلُوا {في اليتامى} فَتَحَرّجْتُمْ مِنْ أمْرهمْ فَخَافُوا أيْضًا أنْ لَا تَعْدِلُوا بَيْن النّسَاء إذَا نَكَحْتُمُوهُنّ {فانكحوا} تَزَوّجُوا {ما} بِمَعْنَى مَنْ {طاب لكم من النّساء مثنى وثلاث ورباع} أي اثنتين اثنتين وثلاثا ثلاثا وأربعا أربعا ولا تزيدوا على ذلك {فإن خفتم} ا ن {لا تعدلوا} فِيهِنّ بِالنّفَقَةِ وَالْقَسْم {فواحدة} انكحوها {أو} اقْتَصِرُوا عَلَى {ما ملكت أيمانكم} مِنْ الْإمَاء إذْ لَيْسَ لَهُنّ مِنْ الْحُقُوق مَا لِلزّوْجَاتِ {ذلك} أيْ نِكَاح الْأرْبَع فَقَطْ أوْ الْوَاحِدَة أوْ التّسَرّي {أدنى} أقْرَب إلَى {ألّا تعولوا} تجوروا {وآتوا} أعطوا {النّساء صدقاتهنّ} جَمْع صَدُقَة مُهُورهنّ {نحلة} مَصْدَر عَطِيّة عَنْ طِيب نَفْس {فإن طبن لكم عن شيء منه نفسًا} تَمْيِيز مُحَوّل عَنْ الْفَاعِل أيْ طَابَتْ أنْفُسهنّ لَكُمْ عَنْ شَيْء مِنْ الصّدَاق فَوَهَبْنَهُ لَكُمْ {فكلوه هنيئًا} طَيّبًا {مريئًا} مَحْمُود الْعَاقِبَة لَا ضَرَر فِيهِ عَلَيْكُمْ فِي الْآخِرَة نَزَلَتْ رَدًّا عَلَى مَنْ كَرِهَ ذَلِكَ {ولا تؤتوا} أيّهَا الْأوْلِيَاء {السّفهاء} الْمُبَذّرِينَ مِنْ الرّجَال وَالنّسَاء وَالصّبْيَان {أموالكم} أيْ أمْوَالكُمْ الّتِي فِي أيْدِيكُمْ {الّتي جعل الله لكم قيامًا} مَصْدَر قَامَ أيْ تَقُوم بِمَعَاشِكُمْ وَصَلَاح أوْلَادكُمْ فَيُضَيّعُوهَا فِي غَيْر وَجْههَا وَفِي قِرَاءَة قِيَمًا جَمْع قِيمَة مَا تَقُوم بِهِ الْأمْتِعَة {وارزقوهم فيها} أيْ أطْعِمُوهُمْ مِنْهَا {واكسوهم وقولوا لهم قولًا معروفًا} عِدُوهُمْ عِدَة جَمِيلَة بِإِعْطَائِهِمْ أمْوَالهمْ إذا رشدوا {وابتلوا} اخْتَبِرُوا {اليتامى} قَبْل الْبُلُوغ فِي دِينهمْ وَتَصَرّفهمْ فِي أحْوَالهمْ {حتّى إذا بلغوا النّكاح} أيْ صَارُوا أهْلًا لَهُ بِالِاحْتِلَامِ أوْ السّنّ وَهُوَ اسْتِكْمَال خَمْس عَشْرَة سَنَة عِنْد الشّافِعِيّ {فإن

آنَسْتُمْ} أبصرتم {مِنْهُمْ رُشْدًا} صَلَاحًا فِي دِينهم وَمَالهمْ {فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَلَا تَأْكُلُوهَا} أيها الأولياء {إِسْرَافًا} بِغَيْرِ حَقّ حَال {وَبِدَارًا} أَيْ مُبَادِرِينَ إِلَى إِنْفَاقهَا مَخَافَة {أَنْ يَكْبَرُوا} رشداء فيلزمكم تسليمها إليهم {ومن كان} من الأولياء {غنيا فَلْيَسْتَعْفِفْ} أَيْ يَعِفّ عَنْ مَال الْيَتِيم وَيَمْتَنِع مِنْ أَكْله {وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ} مِنْهُ {بِالْمَعْرُوفِ} بِقَدْرِ أجرة عَمَله {فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ} أَيْ إِلَى الْيَتَامَى {أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ} أَنَّهُمْ تَسَلَّمُوهَا وَبَرِئْتُمْ لِئَلَّا يَقَع اخْتِلَاف فَتَرْجِعُوا إِلَى الْبَيِّنَة وَهَذَا أَمْر إِرْشَاد {وَكَفَى بِاللَّهِ} الْبَاء زَائِدَة {حَسِيبًا} حَافِظًا لِأَعْمَالِ خَلْقه وَمُحَاسِبهمْ وَنَزَلَ رَدًّا لِمَا كَانَ عَلَيْهِ فِي الْجَاهِلِيَّة مِنْ عَدَم تَوْرِيث النِّسَاء وَالصِّغَار {لِلرِّجَالِ} الْأَوْلَاد وَالْأَقْرِبَاء {نَصِيب} حَظّ {مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ} الْمُتَوَفَّوْنَ {وَلِلنِّسَاءِ نَصِيب مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ} أَيْ الْمَال {أَوْ كَثُرَ} جَعَلَهُ اللَّه {نَصِيبًا مَفْرُوضًا} مَقْطُوعًا بِتَسْلِيمِهِ إِلَيْهِمْ {وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ} للميراث {أُولُو الْقُرْبَى} ذَوُو الْقَرَابَة مِمَّنْ لَا يَرِث {وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِين فَارْزُقُوهُمْ مِنْهُ} شَيْئًا قَبْل الْقِسْمَة {وَقُولُوا} أَيّهَا الْأَوْلِيَاء {لَهُمْ} إِذَا كَانَ الْوَرَثَة صِغَارًا {قَوْلًا مَعْرُوفًا} جَمِيلًا بِأَنْ تَعْتَذِرُوا إِلَيْهِمْ أَنَّكُمْ لَا تَمْلِكُونَهُ وَأَنَّهُ لِلصِّغَارِ وَهَذَا قِيلَ إِنَّهُ مَنْسُوخ وَقِيلَ لَا وَلَكِنْ تَهَاوَنَ النَّاس فِي تركه وعليه فهو ندب وعن بن عباس واجب {وَلْيَخْشَ} أَيْ لِيَخَفْ عَلَى الْيَتَامَى {الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا} أَيْ قَارَبُوا أَنْ يَتْرُكُوا {مِنْ خَلْفهمْ} اي من بَعْد مَوْتهمْ {ذُرِّيَّة ضِعَافًا} أَوْلَادًا صِغَارًا {خَافُوا عَلَيْهِمْ} الضَّيَاع {فَلْيَتَّقُوا اللَّه} فِي أَمْر الْيَتَامَى وليأتوا إليهم مَا يُحِبُّونَ أَنْ يُفْعَل بِذُرِّيَّتِهِمْ مِنْ بَعْدهمْ {وَلْيَقُولُوا} لِمَنْ حَضَرَتْهُ الْوَفَاة {قَوْلًا سَدِيدًا} صَوَابًا بِأَنْ يَأْمُرُوهُ أَنْ يَتَصَدَّق بِدُونِ ثُلُثه وَيَدَع الْبَاقِي لِوَرَثَتِهِ وَلَا يَتْرُكهُمْ عَالَة {إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَال الْيَتَامَى ظُلْمًا} بِغَيْرِ حَقّ {إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونهمْ} أَيْ مِلْأَهَا {نَارًا} لِأَنَّهُ يَئُول إِلَيْهَا {وَسَيَصْلَوْنَ} بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُول يَدْخُلُونَ {سَعِيرًا} نَارًا شَدِيدَة يَحْتَرِقُونَ فِيهَا

ترجمه: شروع کوم په نامه الله چې ډير بخښونکې او ډيرمهربان دې. اې خلقو يعنى اې مکې والو تاسو ډَپل رب د ... نه اوويرېږئ په داسې طريقه چې دهغه اطاعت اوکړئ. چاچې تاسو د يو ځان ادم نه پيدا کړئ او هم دَهغه نه ئې دَ هغه جوړه حواء بى بى دَهغه دَ کسې پوښتو نه د ... پوښتئى نه پيدا کړه (حواء) مد سره ده اودَ دغه دوارو يعنى آدم عليه السلام او بى بى حوا نه ډير سړى اوښځې خوراه کړل اودَ هغه الله تعالى نه اوويرېږئ دَ چاپه واسطه چې تاسو دَ يو بل نه غوښتنې کوئ. په دې طريقه چې يو بل ته وايئ زه تا نه دَ الله تعالى په واسطه سره سوال کوم ياتاته دَالله تعالى قسم درکوم. په دې کښې تاء په اصل کښې په سين کښې مدغم ده او په يو قراءت کښې په حذف دَ تاء تخفيف سره دې. اى تَسَاءَلُوْنَ اودَ ذوى الارحام په معامله کښې دَ الله تعالى نه ويرېږئ يعنى دَ تعلق پريخودونه اوويرېږئ او په يو قراءت کښې (دَ اَرْحَامِ) په کسره سره دې دَ به په ضميرباندې عطف کولو سره او هغوى

ـه په خپل مينځ کښې دَ صله رحمئ هم واسطه ورکوله. بيشکه الله تعالى په تاسو باندې
ساتندونکې دې يعنى ستاسو د اعمالو محفوظ ساتونکې دې نو هغه به تاسوته دَ دغه
اعمالو بدله درکوي يعنى هغه په دغه دَ ساتندونکى صفت سره دَ هميشه نه متصف دې
او (راتلونکې) آيت دَ يويتيم باره کښې نازل شوهغه دَخپل ولى نه خپل مال اوغوښتلو
نوهغه منع کړو اويتيمان يعنى هغه واړه ماشومان دَ چاپلارچې موجودنه وى کله چې
هغوئ بالغ شى نودَهغه مال ورکړه اوحرام په حلال سره مه بدله وه. يعنى حرام دَحلال په عوض
مه اخله لکه چې تاسو دَ يتيمانودَمال نه ښکلې مال واخلئ اودَخپل مال نه خراب قسم
مال دَهغې په ځائى کيږدئى اودَهغوى مالونه خپلو مالونوکښې يوځائى کولوسره (يعنى دَدې
په دهوکه کښې) مه خورئى بيشکه داخوراك عظيم گناه ده اوکله چې مذکوره ايت نازل شو
نوخلقو دَيتيمانو په پالنه کښې حرج محسوس کړو او په هغوى کښې بعض خلق داسې
هم وو دَ چا په زوجيت کښې چې لس لس يا اته اته يتيمانې کوندې وې اوهغوى به دَدوى
په مينځ کښې دَعدل نه کارنه اخستلو نوراتلونکې آيت نازل شو. که تاسوته دَيتيمانو باره
کښې دَ عدل نه کارنه اخستو خطره وى اوتاسودَهغوى په معامله کښې (گناه) نه بچ کيدل
غواړئى اودَ دغه يتيمانو جينکوسره دَ نکاح کولوپه صورت کښې هم دَ انصاف نه
کولوويره وى نو (دَيتيمانو جينکونه علاوه) سره نکاح اوکړئى کومې چې ستاسو خوښې وى.
مَا په معنى مَنْ دې دوه دوه درې درې څلور څلوراودې نه مه وړاندې کيږئى خو تاسو ته
دَهغوى په مينځ کښې (هم) دَمساوات نه کولو ويره وى نوهم يوه کافى ده يا په خپلو وينځوباندې
اکتفاء اوکړئى ځکه چې دَ وينځوهغه حقوق نه وى کوم چې دَ بيبيانووى. دا څلورو سره
نکاح يا يوې سره نکاح يا په وينځه باندې اکتفاء دَزياتى نه کيدو په توقع کښې دير نيزدې
دى اوتاسو دَ ښځو مهر دَ زړه په خوشحالئ سره ورکوئى. صَدُقَات، دَ صَدُقَةٌ جمع ده. صَدُقَاتِهِنَّ
اى مهورهُنَّ نِحلةً مصدر دې معنى په خوشحاله زړه سره دَ عطيه ورکول دى خو که دَ زړه په
خوشحالئ سره دَهغې نه دوئ ستاسو دَپاره څه پريږدى نَفْسًا تميزدې چې دَفاعل نه منقول دې
اى طَابَتْ أَنْفُسُهُنَّ لكم من شئ مِنَ الصَّداقِ فَوَهَبْنَهُ لكم نوتاسوهغه په شوق اوخوشحالئ سره
خورئى اودَدې په خوړلوسره ستاسو دَ پاره په آخرت کښې هيڅ نقصان نشته. دا آيت په
هغه سړى باندې رد کولوباره کښې نازل شو چې په دې کښې ئى کرکه کوله. اواې اولياء
تاسو کم عقلو نه څوك چې فضول خرچ وى سړى وى که ښځه ياماشومانوته هغه مال مه
ورکوئى کوم چې ستاسو په قبضه دى (او) اوکوم ئى چې ستاسودَ ژوند تيرولودَپاره دَ ژوند
ذريعه جوړه کړې ده، قِيَامًا دَ قَام مصدردې يعنى دکوم په ذريعه چې تاسو خپل معاش
اودَخپل اولاد اصلاح قائم ساتئى نوهغوى به دغه مال بغيردَ څه وجې نه خرج کړى او په

یو قراءت کښې قِيَمًا د قیمة جمع ده د کوم په وجه چې د ژوند تیرول قائم پاتې کیږي او د هغه مال نه په هغوی باندې خوړل او اغوستل کوئی او هغوی ته د نیکئ خبره کوئی یعنی تاسو هغوی ته د مال ورکولو باره کښې ښه وعدې کوئی چې کله ته هوښیار شې (نو ستاسو مال به تاسو ته درکولې شی) او (د هغوی) بالغ کیدونه وړاندې د هغوی د دین او لین دین معاملات کښې د هغوی خیال ساتئی تردې چې د نکاح عمر ته اورسی (بالغ شی) یعنی د نکاح اهل شی د احتلام په ذریعه یا د عمر په ذریعه او هغه (موده) د پنځلسو کالو پوره کیدل دی. د امام شافعی رحمه الله په نیز که چرې تاسو په هغوی کښې پوهه یعنی د هغوی د دین او مال په معامله کښې صلاح اوګورې نو د هغوی مال هغوی ته حواله کړئی او اې اولیاؤ د هغوی د لوئیدلو د ویرې د هغوی مالونه زر زر فضول خرچو کښې ناحق مه تباه کوئی (یعنی د هغوی د غټیدو او پوهیدو د ویرې په تادئی سره د هغوی مال مه خورئی په دې خیال چې د غټیدو نه پس به د هغوی مال هغوی ته حواله کول دی) او په اولیاؤ کښې چې څوک مالداروی هغه له پکاردی چې د هغوی یعنی د یتیمانو د مال نه ځان بچ کړی او د هغې د خوړلو نه دې ځان اوساتی البته څوک چې نادار وی نو هغه دې د یتیم د مال نه د دستور مطابق د خپل عمل د اجرت په اندازه باندې خوراک کولې شی او کله چې د هغوی مال هغه یتیمانو ته حواله کوئی نو په هغې باندې ګواه جوړه وئی چې هغوی مال وصول کړی او تاسو خلاص شئی دې د پاره چې اختلاف واقع نه شی. (او د اختلاف واقع کیدو په صورت کښې) تاسو د ګواه طرف ته رجوع اوکړې شئی او دا امر اصلاحی دې (یعنی د ګواه جوړولو حکم استحبابی دې) او الله تعالی حساب اخستونکې کافی دې یعنی د خپل مخلوق د اعمالو محافظ او د هغې محاسب دې. (راتلونکې آیت) د دې دستور رد کولو د پاره نازل شو کوم چې د جاهلیت په خلقو کښې رائج وو او هغه ښځو او ماشومانو ته د میراث نه ورکولو دستوروو. وفات کیدونکو مور پلار په مال کښې د سړو یعنی اولاد او د خپلوانو حصه هم ده او د والدین او خپلوانو په ترکه کښې د ښځو حصه هم ده که مال ډیر وی که لږ، الله تعالی په هغې کښې حصه مقرر کړې ده او کله چې د میراث د تقسیم په وخت داسې خپلوان راشی چې د هغوی په میراث کښې حصه نه وی او یتیم او مسکین (راشی) نو د تقسیم نه وړاندې څه لږ ډیر هغوی ته هم ورکړئی او اې اولیاؤ دې حاضرینو نکو سره په خواخلاقو خبره کوئی کله چې په ورثه کښې نابالغ هم وی په داسې طریقه چې هغوی ته معذرت اوکړه چې تاسو د دې مالکان کیدې نه شئی ځکه چې داد نابالغ ماشومانو مال دې او وئیلی شوی دی (چې غیر ورثاته د ورکولو حکم) منسوخ دې او نور وئیلی شوی دی چې نه دې منسوخ. بلکه خلق (په دې حکم باندې) په ترک عمل کښې آسانی ګڼړی او د دغه عدم نسخ د قول مطابق امر د استحباب د پاره دې. او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چې دا حکم د وجوب د پاره دې او د

یتیمانو باره کښې هغه خلق ویرول پکاردی که چرې هغوی خپل شاته دَ خپل مرګ نه پس واړه کمزوری ماشومان پریخودل یعنی مرګ ته نیزدې کیدو دَ وجې نه پریخودو ته نیزدې کیدل دَ کومو دَ ضائع کیدو چې ویره وی نو پکاردی چې دَیتیمانو معامله کښې دَالله تعالی نه اوویریږی اوهغوی سره هم هغه سلوك اوکړی کوم چې هغوی پخپله خوښویچې دَهغوی دَ مرګ نه پس دَهغوی اولاد سره څه اوکړې شی او مرکیدونکې یعنی (بیمار) سره مناسب خبره کوئی (مثلاً) دا چې هغه ته اووئیلې شی دَ دریمې حصې دَ مال نه کم صدقه کړه اوباقی دَ وارثانو دَپاره پریږده او محتاج جوړولو سره ئی مه پریږده. **بیشکه کوم خلق چې په ناروا طریقه باندې دَ یتیمانومال خوری نوهغوی په خپلو خیټوکښې اور خوری،** یعنی خیټه کښې اور ډکوی. څکه چې دا (خوړلې شوې) به په اورکښې بدل شی **اوهغه خلق به ډیر زر سورکړې شوی** یعنی سخت اور ته ورځی په کوم کښې چې به هغوی سوزیږی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: یٰاَیُّهَا النَّاسُ ای اهل مکة.

سوال: مشهوره قاعده ده چې په مکی آیاتونوکښې خطاب په یاایهاالناس سره او مدنی آیاتونوکښې یاایهاالذین آمنوا سره کیږی حالانکه سورت نساء مدنی دې خو په دې کښې خطاب یاایهاالذین سره شوې دې دَدې څه وجه ده؟

جواب: مذکوره قاعده اکثری ده کلی نه ده، دَدې نه علاوه مخاطب دلته هم اهل مکه دی.

قوله: ای عِقَابَهُ دَدې اضافه مقصدداخودل دی چې دَ ذات نه احتراز محال دې مطلب دادې چې دَدې اطاعت کولو سره دَ هغه دَ عذاب نه بچ شئی.

قوله: حوّآء ای انّما سمیت حواء لانها خُلِقَتْ من الحیّ.

قوله: تساءلون، دَتسائل نه مضارع ده جمع مذکرحاضر، تاسوخپل مینځ کښې سوال کوئی اصل کښې تتساءلون وو تاء ثانیه حذف کړې شوه.

قوله: والارحام دادَ رحم جمع ده په معنی د قرابت رشته داری.

قوله: اَن یُّقَطَّعُوْا دې کښې اشاره ده چې مضاف محذوف دې لهذا دااعتراض ختم شو چې دَ ارحام نه دَ احتراز څه معنی نشته.

قوله: کانوایتناشدون ای یتساءلون.

قوله: الأُلٰی، دا اسم موصول دې کوم چې مذکرمؤنث یعنی الذی او الّتی کښې مشترك دې. څکه چې یتیم کیدل مذکر یا مؤنث سره خاص نه دی دَدې دَپاره ئی داسې اسم

موصول راوړلې دې چې په مذکر او مؤنث دواړو کښې مشترك دي.

فائده: په انسانانو کښې یتیم هغه ماشوم ته وائي دَ کوم چې پلارنه وي او په ځناوروکښې چې دَ چا مورنه وي اليتيم في الاناسي من قبل الآباء وفي البهائم من قبل الامهات.

قوله: يتمى، دَيتيم جمع الجمع ده. دَيتيم جمع يتمى په وزن د أسرى او يتمى جمع دَ يتامى ده.

قوله: مَضْمُوْنَةً، د أكل صله چونکه الى نه راځي دَدې دَپاره مضمونة مقدرمنلو سره اشاره اوکړه چې الى مَضْمُوْنَةً سره متعلق دې نه چې دَ تأكلوا دي.

قوله: اى اكلها، دا دَيو سوال مقدرجواب دې.

سوال: دَ انّهٔ ضمير دَ اموال طرف ته راجع دې کوم چې جمع دې دَ ضمير مفرد راوړل صحيح نه دی.

جواب: دَتأكلوا نه چې کوم اكل مفهوم دې دَهغې طرف ته راجع دې.

قوله: تحرّجوا من ولاية اليتمى، يعنى دَ يتيمانو دَ ولايت نه بچ کيدل او د منع کيدلو کوشش ئې کولو.

قوله: فخافُوا.

سوال: فخافوا جزاء محذوف منلو څه ضرورت پيښ شو؟ ځکه چې فانكحوا جزاء موجود ده.

جواب: دَ جواب حاصل دا دې چې خافوا دَماضى صيغه نه ده لکه چې په بادى الرائي کښې وهم کيږی بلکه دا دَ امر جمع مذکر حاضر صيغه ده مطلب دا دې چې که تاسو ته دَ يتيمانو دَمال باره کښې دَناانصافئى ويره وى او دَ دغه يتيمانو جينکو سره دَ نکاح کولو په صورت کښې هم دَ بې انصافئى ويره وی، مطلب دا دې چې دَ ناانصافئى په خطره کښې دواړه صورتونه شريك دی دَ مفهوم په دې اشتراك باندې دَمفسرعلام لفظ ايضًا دلالت کوی

قوله. اِنكحوها.

سوال: جزاء دَپاره جمله کيدل شرط دی حالانکه دلته جزاء، فَوَاحِدَةً مفرد دې.

جواب: مفسرعلام انكحوا محذوف منلو سره دَدې سوال دَ جواب طرف ته اشاره کړې ده. اى إنكحوا وَاحِدَةً دَدې تقديرنه پس جزاء جمله شوې ده لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته دې.

قوله: إقْتَصَرُوْا على داعبارت هم دَ يو سوال مقدرجواب دې.

سوال: دا دې چې د أوْمَا مَلَكَتْ عطف په انكحوا واحدةً باندې دې کوم چې عطف مفرد على

الجمله دَ قبیل نه دي حالانکه دا جائز نه دی.

جواب: دادې چې مفسرعلام اقتصروا علی محذوف منلو سره هم دَدې سوال جواب ورکړې دې اقتصروا محذوف منلو نه پس عطف جمله علی الجمله شو لهذا څه اعتراض پاتې نه شو.

سوال: په معطوف کښې فعل محذوف دَ کوم مصلحت لاندې بدل کړې شو؟ اوحا دادې چې په معطوف علیه کښې انکحوا فعل محذوف دې او محذوف کښې اقتصروا.

جواب: که چرې په معطوف کښې فعل نه بدلولو نوتقدیری عبارت به داکیدو إنکحوا ماملکت أیمانکم اودا صحیح نه دې. څکه چې وینځې سره دَمالك نکاح صحیح نه ده. (ترویح الارواح)

قوله: عطیةً عَنْ طیب نفسٍ دادَ هغه شبه جواب دې چې نحلةً مصدر (یعنی مفعول مطلق) څنګه کیدې شی؟ کله چې دَ مفعول مطلق دَپاره دَمصدر دَ فعل هم معنی کیدل شرط دی اودلته داسې نه دی. دَ جواب حاصل دادې چې نِحْلَةً په معنی د عطیة دې لهذا د خپل فعل کوم چې آتواالنسـاء دې هم معنی دې څکه چې آتوا، دَ اعطوا په معنی کښې دې.

قوله: هَنِیْئًا صفت مشبه (ف ن ض) هَنَاءً ښکلې مزه، پاکیزه، دَ فعیل په وزن واحد جمع تولودَپاره راځی په دې وجه دلته دَ ضمیرواحدنه حال دې.

قوله: مَرِیْئًا صفت مشبه، مزیدار، مَرَاءً مصدر مزیدار کیدل (ك ف س).

قوله: بِغَیْرِحق په دې اضافه سره دا شك لرې کړې شو چې اسراف نه بغیربه دَ یتیمانو مال خوړل جائز وی نو بغیرحق اضافه کولو سره اوخودلې شو چې په ناحقه طریقه ئی مه خورئی که اسراف وی که نه وی.

قوله: فَلْیَسْتَعْفِفْ (استفعال) واحدمذکرغائب، دې بچ شی، احتراز دې اوکړی.

قوله: لِئَلّا یَقَعَ اِخْتِلَافٌ ترجعوا الی البیّنَةِ، ای اِنْ وقع اختلاف فترجعوا الی البیّنة.

قوله: هذا اَمْرُ اِرْشاد، ای اَمْرُ استحباب، یعنی دَ امام اعظم رحمه الله په نیزګواه جوړول مستحب امر دې څکه چې دَ امام صاحب په نیز دَ اختلاف په صورت کښې دَ ولی قول معتبر دې.

قوله: جَعَلَهُ الله دَدې اضافه مقصد دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چې نَصِیْبًا، دَجَعَلَ فعل محذوف مفعول ثانی کیدو دَ وجې نه منصوب دې نه چې مفعول مطلق کیدو دَوجې نه.

....

[ایاتونه: ١١-١٤]

{يُوصِيكُمُ} يَأمُرُكُمْ {اللَّهُ فِي} شَأن {أَوْلَادِكُمْ} بِمَا يَذْكُر {لِلذَّكَرِ} مِنْهُمْ {مِثْلُ حَظِّ} نَصِيب {الْأُنْثَيَيْنِ} إذَا اجْتَمَعَتَا مَعَهُ فَلَهُ نِصْف الْمَال وَلَهُمَا النِّصْف فَإِنْ كَانَ مَعَهُ وَاحِدَة فَلَهَا الثُّلُث وَلَهُ الثُّلُثَانِ وَإِنْ انْفَرَدَ حَازَ الْمَال {فَإِنْ كُنَّ} أَيْ الْأَوْلَاد {نِسَاء} فَقَطْ {فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ} الْمَيِّت وَكَذَا الِاثْنَتَانِ لِأَنَّهُ لِلْأُخْتَيْنِ بِقَوْلِهِ {فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ} فَهُمَا أَوْلَى وَلِأَنَّ الْبِنْت تَسْتَحِقّ الثُّلُث مَعَ الذَّكَر فَمَعَ الْأُنْثَى أَوْلَى {وَفَوْق} قِيلَ صِلَة وَقِيلَ لِدَفْعِ تَوَهُّم زِيَادَة النَّصِيب بِزِيَادَةِ الْعَدَد لِمَا فُهِمَ اسْتِحْقَاق الْبِنْتَيْنِ الثُّلُثَيْنِ مِنْ جَعْل الثُّلُث لِلْوَاحِدَةِ مَعَ الذَّكَر {وَإِنْ كَانَتْ} الْمَوْلُودَة {وَاحِدَة} وَفِي قِرَاءَة بِالرَّفْعِ فَكَانَ تَامَّة {فَلَهَا النِّصْف وَلِأَبَوَيْهِ} أَيْ الْمَيِّت وَيُبْدَل مِنْهُمَا {لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُس مِمَّا تَرَكَ إنْ كَانَ لَهُ وَلَد} ذَكَر أَوْ أُنْثَى وَنُكْتَة الْبَدَل إفَادَة أَنَّهُمَا لَا يَشْتَرِكَانِ فِيهِ وَأُلْحِق بِالْوَلَدِ وَلَد الِابْن وَبِالْأَبِ الْجَدّ {فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَد وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ} فَقَطْ أَوْ مَعَ زَوْج {فَلِأُمِّهِ} بِضَمِّ الْهَمْزَة وَكَسْرهَا فِرَارًا مِنْ الِانْتِقَال مِنْ ضَمَّة إلَى كَسْرَة لِثِقَلِهِ فِي الْمَوْضِعَيْنِ {الثُّلُث} أَيْ ثُلُث الْمَال أَوْ مَا يَبْقَى بَعْد الزَّوْج وَالْبَاقِي لِلْأَبِ {فَإِنْ كَانَ لَهُ إخْوَة} أَيْ اثْنَانِ فَصَاعِدًا ذُكُورًا أَوْ إنَاثًا {فَلِأُمِّهِ السُّدُس} وَالْبَاقِي لِلْأَبِ وَلَا شَيْء لِلْإِخْوَةِ وَإِرْث مَنْ ذُكِرَ مَا ذُكِرَ {مِنْ بَعْد} تَنْفِيذ {وَصِيَّة يُوصِي} بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُول {بِهَا أَوْ} قَضَاء {دَيْن} عَلَيْهِ وَتَقْدِيم الْوَصِيَّة عَلَى الدَّيْن وَإِنْ كَانَتْ مُؤَخَّرَة عَنْهُ فِي الْوَفَاء لِلِاهْتِمَامِ بِهَا {آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ} مُبْتَدَأ خَبَره {لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَب لَكُمْ نَفْعًا} فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة فَظَانّ أَنَّ ابْنه أَنْفَع لَهُ فَيُعْطِيه الْمِيرَاث فَيَكُون الْأَب أَنْفَع وَبِالْعَكْسِ وَإِنَّمَا الْعَالِم بِذَلِكَ هُوَ اللَّه فَفَرَضَ لَكُمْ الْمِيرَاث {فَرِيضَة مِنْ اللَّه إنَّ اللَّه كَانَ عَلِيمًا} بِخَلْقِهِ {حَكِيمًا} فِيمَا دَبَّرَهُ لَهُمْ أَيْ لَمْ يَزَلْ مُتَّصِفًا بِذَلِكَ {وَلَكُمْ نِصْف مَا تَرَكَ أَزْوَاجكُمْ إنْ لَمْ يَكُنْ لَهُنَّ وَلَد} مِنْكُمْ أَوْ مِنْ غَيْركُمْ {فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَد فَلَكُمْ الرُّبُع مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ بَعْد وَصِيَّة يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْن} وَأُلْحِق بِالْوَلَدِ فِي ذَلِكَ وَلَد الِابْن بِالْإِجْمَاعِ {ولهن} اي الزوجات تعددن او لا {الرُّبُع مِمَّا تَرَكْتُمْ إنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَد فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَد} مِنْهُنَّ أَوْ من غيرهن {فلهن الثمن مما تَرَكْتُمْ مِنْ بَعْد وَصِيَّة تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْن} وَوَلَد الِابْن فِي ذَلِكَ كَالْوَلَدِ إجْمَاعًا {وَإِنْ كَانَ رَجُل يُورَث} صِفَة وَالْخَبَر {كَلَالَة} أَيْ لَا وَالِد لَهُ وَلَا وَلَد {أَوْ امْرَأَة} تُورَث كَلَالَة {وَلَهُ} أَيْ لِلْمَوْرُوثِ كَلَالَة {أَخ أَوْ أُخْت} أَيْ مِنْ أُمّ وَقَرَأَ بِهِ ابْن مَسْعُود وَغَيْره {فَلِكُلِّ وَاحِد مِنْهُمَا السُّدُس} مِمَّا تَرَكَ {فَإِنْ كَانُوا} أَيْ الْإِخْوَة وَالْأَخَوَات مِنْ الْأُمّ {أَكْثَر مِنْ ذَلِكَ} أَيْ مِنْ وَاحِد {فَهُمْ شُرَكَاء فِي الثُّلُث} يَسْتَوِي فِيهِ ذَكَرهمْ وَأُنْثَاهُمْ {مِنْ بَعْد وَصِيَّة يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْن غَيْر مُضَارّ} حَال مِنْ ضَمِير يُوصَى أَيْ غَيْر مُدْخِل الضَّرَر عَلَى الْوَرَثَة بِأَنْ يُوصِي بِأَكْثَر مِنْ الثُّلُث {وَصِيَّة} مَصْدَر مُؤَكِّد لِيُوصِيكُمْ {مِنْ اللَّه وَاَللَّه عَلِيم} بِمَا دَبَّرَهُ لِخَلْقِهِ مِنْ الْفَرَائِض {حَلِيم} بِتَأْخِيرِ الْعُقُوبَة عَمَّنْ خَالَفَهُ وَخَصَّتْ السُّنَّة تَوْرِيث مَنْ ذُكِرَ بِمَنْ لَيْسَ فِيهِ مَانِع مِنْ قَتْل أَوْ اخْتِلَاف دِين أَوْ رِقّ {تِلْكَ} الْأَحْكَام الْمَذْكُورَة مِنْ أَمْر الْيَتَامَى وَمَا بَعْده {حُدُود اللَّه} شَرَائِعه الَّتِي حَدَّهَا لِعِبَادِهِ لِيَعْمَلُوا بِهَا وَلَا يَتَعَدَّوْهَا {وَمَنْ يُطِعْ اللَّه

وَرَسُولَه} فِيمَا حَكَمَ بِهِ {يُدْخِلْهُ} بِالْيَاءِ وَالنُّون التفاتا {جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ الفوز العظيم} {وَمَنْ يَعْصِ اللَّه وَرَسُولَه وَيَتَعَدَّ حُدُودَه يُدْخِلْهُ} بِالْوَجْهَيْنِ {نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ} فِيهَا {عَذَابٌ مُهِينٌ} ذُو إِهَانَة رُوعِيَ فِي الضَّمَائِر فِي الْآيَتَيْنِ لَفْظ مَنْ وَفِي خَالِدِينَ مَعْنَاهَا

ترجمه: الله تعالی تاسوته ستاسو دَ اولادباره کښې دا (راتلونکی) ذکرشوې حکم درکوی په اولادکښې دَ یوهلك دَ پاره دَ دووجینکودَحصې برابردی چې دوه جینکۍ یوهلك سره وی، دَ هلك دَپاره دَمال (متروکه) نصف دې اودَ دوو جینکودَپاره نصف (او) که چرې یوهلك سره یوه جینئی وی نودَ جینئی دَپاره یوثلث اودَهلك دَ پاره دوه ثلث اوکه هلك ځان له وی نو ټول مال به اوړی. اوکه چرې اولاد ئی صرف هم جینکۍ وی دَوو نه زیاتې نودَهغوی دَپاره دَ مړی دَ متروکه مال دوه ثلث دی اودغه شان چې کله جینکۍ صرف هم دوه وی نودو تهائی دَ دوو خوئیندودَپاره دی. دَ الله تعالی د قول فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ دَوجې نه، لهذا دوه جینکۍ دغه شان به په طریقه اولی مستحق وی.اوداځکه چې جینئی هلك سره دَ یوتهائی مستحق وی نومؤنث سره به په طریقه اولی مستحق وی. او لفظ فوق ونیلې شوې دې چې صله یعنی (زائده) دې او ونیلی شوی دی چې دَ جینکوتعداد زیاتیدو په صورت کښې دَ حصې دَزیاتوالی وهم لرې کولو دَپاره دې چې دَ دوو جینکودَ دوو ثلث مستحق کیدل دَهلك سره یوه جینئی کیدو په صورت کښې په یوثلث سره اوخودلې شو اوکه چرې په اولاد کښې صرف یوه جینئی وی نوهغه جینئی دَپاره (دَترکې) نصف دې او په یو قرات کښې (واحدةٌ) دَ رفع نه دې نو په دې صورت کښې به کان تامه وی او دَ مړی دَ والدین نه دَهریودَپاره دَ متروکه مال نه شپږمه حصه ده که چرې دَمړی اولادوی که هلك وی اوکه جینئی، او (لِكُلِّ وَاحِدٍ) أَبَوَيْهِ سره بدل دې او په بدل کښې نکته داده چې دَدې خبرې فائده اوشوه چې دواړه به په یوسدس کښې شریك نه وی. (بلکه هریو ته به سدس) ملاویږی او ولد سره ولدالابن او اب سره جد هم شامل کړې شوې دې او که چرې (دَمړی) اولاد نه وی او وارثان ئی صرف والدین وی یا دَ مړکیدونکی زوج هم وی (ښځه یا خاوند) نو(دَمړی) دَ موردَپاره دَ ټولو مال یوتهائی یادَ زوج ته دَ ورکولونه پس دَباقی پاتې مال یوتهائی ده او باقی دَ موردَپاره دې. (فَلِأُمِّهِ) همزه ضمه سره اوکسره سره هم دې دَ ضمه نه دکسرې طرف ته دَ انتقال نه دَ بچ کیدو دَپاره دَدې دَ ثقیل کیدودَ وجې نه په دواړو ځایونوکښې، اوکه دَمړی دوه یا دَ دوو نه زیات رونړه یا خوئیندې وی نودَ مړی دَ موردَپاره یوسدس دې اوباقی دَ پلاردَپاره دی اودَ رونړو خوئیندودَپاره هیڅ نشته. اومذکورین دَپاره مذکوره حصې دَ مړی وصیت پوره کولو یا قرض اداکولونه پس دی. (يُوصِي) معروف او مجهول دواړو طریقو باندې دې اودَ وصیت په دین یعنی قرض باندې وړاندیوالې دَدې دَ اهتمام دَ وجې نه دې

سره ددې چې په اداکولو کښې مؤخردې. که ستاسو پلار یه وی اوکه ستاسو ځامن تاسوته نه دی معلومه چې په دنیا او آخرت کښې تاسو ته فائده رسولو کښې تاسو ته څوک ډیر نیزدې دی؟ ﴿اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ﴾ مبتداء دی او لَاتَدْرُوْنَ ددې خبردې دا ګمان کول چې دهغه ځوئی دهغه دپاره ډیرمفیدوي نوهغه ته میراث ورکوی حالانکه دهغه پلاردهغه دپاره ډیر مفیددې اوددې عکس هم کیدې شی دهغه پیژندونکې په حقیقت کښې خو هم الله تعالی دې د کومې وجې نه چې هغه ستاسو دپاره میراث (حصې) مقرر کړې، داحصې دالله تعالی دطرف نه مقررکړې شوی دی الله تعالی دخپل مخلوق باره کښې خبردې او په دې کښې یاحکمت دې کوم چې هغه د دوی دپاره مقررکړی دی یعنی هغه دې صفت سره دهمیشه نه متصف دې اوستاسو ښځې چې څه پریږدی مرې شی دهغې نه ستاسودپاره نصف دې که چرې دهغوی تاسونه یا د بل خاوندنه څه اولادنه وی که دهغې اولاد وی نو په متروکه مال کښې ستاسودپاره څلورمه ده اودهغه د وصیت پوره کولو او د قرض داداکولونه پس، او په دې حکم کښې د ځوئی سره نمسې بالاجماع یوځائی کړې شوې دې او د ښځودپاره متعدد وی که نه وی ستاسو د متروکه مال نه څلورمه حصه ده که چرې ستاسو اولاد نه وی اوکه چرې ستاسو اولاد وی که دهغې نه وی اوکه د نورو بیبیانونه وی نودهغوی دپاره ستاسو په متروکه مال کښې اتمه حصه ده دهغوی د وصیت پوره کولو او د قرض داداکولونه پس، او نمسې په دې حکم کښې بالاجماع د ځوئی په شان دې اوکه مورث سړې وی اوکه ښځه کَلٰلَة وی یعنی نه دهغې ځوئی وی اونه پلار (یورث) د رجلٌ صفت دې اوكَلٰلَةً د كَانَ خبردې اوکه چرې ښځه، مورث ګـلله وی اومورث د کـلله د مور شریك رور یا خور وی اودا قراءت د ابن مسعود رضي الله عنه وغیره دې نودمتروکه مال نه په هغوی کښې د هریودپاره شپږمه حصه ده اوکه د مور شریك رونړه خوئیندې د یونه زیات وی نودا ټول به په یوتهائی کښې شریک وی او په دې کښې به مذکر اومؤنث برابر وی د وصیت پوره کولو اوقرض داداکولونه پس، کله چې د نورو نقصان نه وی (غَيْرَ مُضَآرٍّ) د یوصی د ضمیرنه حال دې یعنی ورثاته ضرر رسونکې نه وی، په دې طریقه چې د ثلث نه زیات وصیت اوکړی داحکم دالله تعالی مقررکړې شوې دې، وصیة د یوصیکم د تاکید دپاره دې او الله تعالی ددې حکمت ښه پیژنی کوم فرائض چې هغه دخپل مخلوق دپاره مقررکړی دی او په دې احکامو کښې مخالفت کونکی دپاره سزا مؤخرکولو کښې بردبار دې. او په سنت رسول ﷺ کښې مذکوره توریث د هغه وارث دپاره خاص کړی دی په کوم کښې چې (وراثت نه) څه مانع نه وی مثلاً قتل یا اختلاف دین یا رقیت، د یتیمانومعامله اوددې نه پس دغه مذکوره احکام دالله تعالی حدوددی کوم چې الله تعالی د خپلو بندیګانودپاره مقررکړی دی دپاره چې په دې عمل اوکړی اوددې نه تجاوز اونه کړی اوڅوک چې

دَالله تعالی او دَ هغه دَ رسول ﷺ مقرر کړې شوی احکامو کښې اطاعت کوی هغه به الله تعالی په داسې جنتونو کښې داخلوی په کوم کښې چې به نهرونه جاری وی په کوم کښې چې به هغوی دهمیش همیش دَپاره اوسیږی (نُدْخله، یُدْخله) دَ یاء او نون سره دَ التفات په توګه دي او دا ډیره لویه کامیابی ده او څوک چې دَالله تعالی او دَهغه دَ رسول ﷺ نافرمانی کوی او دَهغه دَ مقرر کړې شوو حدودو نه تجاوز او کړی نو هغه به دوزخ کښې داخلوی (یُدْخله، نُدْخله) په دواړو طریقو سره دي په کوم کښې چې به هغوی دَهمیشه دَپاره اوسیږی دَداسې خلقو دَپاره رسواکونکې عذاب دې یعنی د بې عزتئی اودَ دواړو آیاتونو په ضمیر کښې دَ لفظ مَنْ رعایت کړې شوې دې او په خلدین کښې دَمعنې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله یُوْصِیْ (ایصاءٌ) مضارع واحد مذکر غائب معروف، هغه وصیت کوی هغه حکم ورکوی، دَوصیت اصل معنی ده دَوفات کیدو په وخت کښې وصیت او نصیحت وغیره کول.

قوله یَأْمُرُکُمْ، دَ وصیت حقیقی معنې چونکه دَالله تعالی دَ ذات دَپاره محال دی نو ځکه مفسر علام د یوصی تفسیر په یامُرُ سره کړې دې.

قوله شَأن، دا دَیو سوال جواب دې.

سوال: اَوْلاد، دَ یامُرُ ظرف دې حالانکه دَاولاد ظرف جوړیدل صحیح نه دی ځکه چې په اولاد کښې دَ ظرف جوړیدو صلاحیت نشته دې.

جواب: د شان تقدیر هم دَ صحت دَ ظرفیت بیانولو دَپاره دې.

قوله: مِنْهُمْ **سوال**: مفسر علام مِنْهُمْ دَ څه فائدې دَپاره محذوف منلې دې؟

جواب: لِلذَّکَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ دا دَ وصیت تشریح ده لهذا دَ ضمیر عائد کیدل ضروری دی چې دَ اولاد طرف ته راجع وی مګر عائد دَ هغه په ظهور باندې اعتماد کولو سره حذف کړې شوې دې لکه چې اَلسَّمن مَنَوَانِ بِدِرْهَمٍ کښې مِنْهُ د مفهوم کیدو دَ وجې نه حذف کړې شوې دې.

قوله: فَاِنْ کُنَّ ای الْاَوْلَادُ.

سوال: دکُنَّ دَ تفسیر مفسر علام اَوْلَادُ سره کړې دې کوم چې مذکر دې نو بیا دا کُنَّ دَ مؤنث ضمیر ولې راوړلې شوې دې؟

جواب: دکُنَّ خبر نِسَاءً چونکه مؤنث دې لهذا دَخبر رعایت کولو دَ وجې نه ضمیر مؤنث راوړلې شوې دې.

قوله: فَإِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ إنْ حرف شرط كُنَّ فعل ناقص، شرط، په دې كښې ضمير هُنَّ هغه دَدې اسم نِسَآءً موصوف او فَوْقَ اثْنَتَيْنِ صفت، موصوف صفت سره ملاؤشو دَكُنَّ خبر اوكُنَّ خپل اسم اوخبرسره ملاؤشو شرط. فَلَهُنَّ جواب شرط.

قوله: وفوق صلة وقيل لدفع توهم زيادة النصيب بزيادة العدد دَدې عبارت دَ اضافه مقصد دَحضرت ابن عباس ﷺ دَ تفردجواب وركول دى. په دې عبارت كښې دوو جوابونوطرف ته اشاره كړې شوې ده، دَ ابن عباس ﷺ تفردادادې چې هغه دَدې خبرې قائل دې چې دوه ثلث به جينكوته هغه وخت ملاويږى كله چې جينكئ دَ دوو نه زياتې وى حالانكه دَ جمهورو مسلك دادې كه جينكئ دوه هم وى خوبيابه هم هغوى ته دوه ثلث ملاويږى دَدې تفرددوه جوابونه وركړې شوى دى دَ اول جواب حاصل دادې چې لفظ فوق زائد محض دَصله دَپاره دې لكه ﴿ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ ﴾ كښې لفظ فوق زائد محص صله ده او وقيل الدفع توهم الخ، دادويم جواب دې. دَدې مقصد وهم دفع كول دى چې دَ لفظ فوق نه دا مفهوم كيږى چې دَ جينكودَ شمير زياتيدوسره به دَهغوى حصه هم زياتيږى څكه چې كله يوه جينئ يوهلك سره وى نويوتهائى حصه ده اوچې دوه وى نو دوتهائى دَدې نه معلومه شوه چې دَ جينكوشمير څومره زياتيږى دَهغوى په حصوكښې به هم زياتوالې كيږى. حالانكه داسې نه ده اودا شك پيداشوې دې دَ لفظ فوق نه لهذا دې ويناكولوسره چې لفظ فوق زائد دَپاره دَ صله دې دا شك ختمه وى.

قوله: وَيُبْدَلُ مِنْهُمَا دا دَيوشبه جواب دې. شبه داده چې كه چرې الله تعالى وَلِأَبَوَيْهِ السُّدُسُ، السدس مبتداءمؤخرًا او لابويه خبرمقدم فرمائيلو نومختصربه هم وې اوپه دال باندې مقصود هم دَ مبتداء اوخبر په مينځ كښې لِكُلِّ واحدٍمنهما فصل دكوم مصلحت دَپاره دې؟

جواب: دَجواب حاصل دادې چې دَ عدم فصل په صورت كښې به دا شبه وه چې په يوسدس كښې به مور او پلار دواړه شريك ګنړلې شو حالانكه هريودَ سدس مستحق دې. دَدې دَپاره لِكُلِّ واحدٍ مِنْهُمَا نى أَبَوَيْهِ سره بدل اوګرځولو اوبدل مبدل منه سره ملاؤشو خبرمقدم او السدس مبتداء مؤخر دغه شان دَ شركت شبه ختمه شوه.

قوله. فقط اومعزوجٍ، دَ زوج اطلاق زوج او زوجه دواړوباندې كيږى.

سوال: دَمفسرعلام دَ فقط اومعزوجٍ دَاضافه نه څه مقصددې؟

جواب: دَدې مقصد دَ ابوين دَ ميراث باره كښې دَ جمهورو اوحضرت ابن عباس ﷺ

مسلك په مينځ كښې فرق واضحه كول دى. دَ جمهورو په نيزكه چرې مړې بې اولاده وى اوذهغه وارث صرف والدين وى نو والده ته به ثلث كل ملاويږى او دَ باقى دوثلث به پلارته ملاويږى اوكه دَمړى دَ والدين سره سره زوج يا زوجه هم وى نو په دې صورت كښې به زوج يا زوجه ته دَاقل مخرج نه دَ وركولونه پس دَ باقى پاتې ثلث ملاويږى اوباقى دوه ثلث به والدين ته ملاويږى. مګر دَحضرت ابن عباس ﷺ دَ مسلك مطابق په دواړو صورتونوكښې به مور ته ثلث كل ملاويږى. مفسرعلام فقط أومَعَ زَوْجٍ وئيلو سره دَ جمهورودَ مسلك طرف ته اشاره كړې ده.

قوله: بضم الهمزة ويكسرها فرارًا من الانتقال من ضمة الى كسرة لثقليه، بضم الهمزة الخ نه فلامه كښې دوو قراءتونوطرف ته اشاره كړې ده. اودَ فلامه همزه دَ كسره دَعلت طرف ته هم اشاره كړې ده مشهور قراءت دَهمزه دَضمه سره دې. يعنى فلامه او دويم قراءت كښې دَهمزه كسره سره فلامه دې مفسرعلام دَدې قراءت وجه بيان كړې ده چې فلامه په صورت كښې ضمه نه دَ كسره طرف ته انتقال لازم راځى كوم چې ثقيل دې په دې وجه همزه ته هم كسره وركړې شوه.

قوله: وَارِثُ مَنْ ذُكِرَ مَا ذُكِرَ يعنى دَمذكورين وراثت به دَ بيان كړې شوى اصولومطابق وى.

قوله: مِّن بعدوصيةٍ ماقبل كښې بيان كړ شوى تقسيم دَ ميراث دَاصول نه دى مطلب دادې چې سابق كښې دَ تركه دَ تقسيم اصول مطابق تقسيم دَ وصيت دَ نفاذ او قرض دَاداكولونه پس به وى، كه چرې مړى وصيت كړې وى اوقرضدار وى نو په وصيت اوقرض كښې به قرض وړاندې كولې شى.

قوله: فَفَرَضَ لكم الميراث داعبارت مقدرمنلوسره اشاره اوكړه چې فريضةً دَفعل محذوف مصدر (مفعول مطلق) دې. نه چې دَ يوصيكم الله مصدر.

قوله: يورَث صفة، يعنى يورث دَ رجلٌ صفت دې لهذا دَ رجلٌ مبتداء جوړيدل صحيح دى اوكلالة دَ مبتداء خبردې.

قوله: المَوْرُوْث په وزن دَ مفعول ثلاثى مجردسره اى الميت.

قوله: وَرُوْعِيَ فى اضمار فى الايتين لفظ مَنْ وفى خلدين مَعْنَاهَا دواړه ځايونه دَيُدْخِلهُ ضمير مفرد مذكر دَ مَنْ دَ لفظ رعايت سره راوړلې شوې دې اوخلدين جمع مذكر دَ مَنْ رعايت سره راوړلې شوې دې.

[ایاتونه: ۱۵-۲۲]

{واللاتي يأتين الفاحشة} الزنى {مِن نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ} أي مِن رِجَالِكُمْ الْمُسْلِمِيْنَ {فَإِن شَهِدُوا} عَلَيْهِنَّ بِهَا {فَأَمْسِكُوهُنَّ} احْبِسُوهُنَّ {فِي الْبُيُوتِ} وَامْنَعُوهُنَّ مِنْ مُخَالَطَة النَّاس {حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ} أي مَلائكته {أَوْ} إلى أنْ {يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا} طَرِيقًا إلى الْخُرُوج مِنْهَا أمِرُوا بِذَلِكَ أوَّل الْإِسْلَام ثُمَّ جَعَلَ لَهُنَّ سَبِيلًا بِجَلْدِ الْبِكْر مِائَة وَتَغْرِيبهَا عَامًا وَرَجْم الْمُحْصَنَة وَفِي الْحَدِيث لَمَّا بَيَّنَ الْحَدّ قَالَ خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللّه لَهُنَّ سَبِيلًا رَوَاهُ مُسْلِم {والذان} بتخفيف النون وتشديدها {يأتيانها} اي الفاحشة الزنى أوْ اللِّوَاط {مِنكُمْ} أيْ الرِّجَال {فَآذُوهُمَا} بِالسَّبِّ وَالضَّرْب بِالنِّعَالِ {فَإِن تَابَا} مِنْهَا {وَأَصْلَحَا} الْعَمَل {فأعرضوا عَنْهُمَا} وَلَا تُؤْذُوهُمَا {إِنَّ اللَّهَ كَانَ تَوَّابًا} عَلَى مَنْ تَابَ {رَّحِيمًا} بِهِ وَهَذَا مَنْسُوخ بِالحد إن أريد بها الزنى وَكَذَا إنْ أُرِيدَ بِهَا اللِّوَاط عِنْد الشَّافِعِيّ لَكِنَّ الْمَفْعُول بِهِ لَا يُرْجَم عِنْده وَإِنْ كَانَ مُحْصَنًا بَلْ يُجْلَد وَيُغَرَّب وَإِرَادَة اللِّوَاط أظْهَر بِدَلِيلِ تَثْنِيَة الضَّمِير وَالْأَوَّل قَالَ أرَادَ الزَّانِي وَالزَّانِيَة وَيَرُدّهُ تَبْيِينهمَا بِمَنْ الْمُتَّصِلَة بِضَمِيرِ الرِّجَال وَاشْتِرَاكهمَا فِي الْأَذَى وَالتَّوْبَة وَالْإِعْرَاض وَهُوَ مَخْصُوص بالرجال لما تقدم في النساء من الحبس {إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ} أيْ الَّتِي كَتَبَ عَلَى نَفْسه قَبُولهَا بِفَضْلِهِ {لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ} الْمَعْصِيَة {بِجَهَالَةٍ} حَال أيْ جَاهِلِينَ إذَا عَصَوْا رَبّهمْ {ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن} زَمَن {قَرِيبٍ} قَبْل أنْ يُغَرْغِرُوا {فَأُولَٰئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ} يَقْبَل تَوْبَتهمْ {وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا} بِخَلْقِهِ {حَكِيمًا} فِي صُنْعه بِهِمْ {وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ} الذُّنُوب {حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ} وَأَخَذَ فِي النَّزْع {قَالَ} عِنْد مُشَاهَدَة مَا هُوَ فِيهِ {إِنِّي تُبْتُ الْآنَ} فَلَا يَنْفَعهُ ذَلِكَ وَلَا يُقْبَل مِنْهُ {وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ} إذَا تَابُوا فِي الْآخِرَة عِنْد مُعَايَنَة الْعَذَاب لَا تُقْبَل مِنْهُمْ {أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا} أعْدَدْنَا {لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا} مؤلما {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا النِّسَاءَ} أيْ ذَاتهنَّ {كَرْهًا} بِالْفَتْحِ وَالضَّمّ لُغَتَانِ أيْ مُكْرِهِيهِنَّ عَلَى ذَلِكَ كَانُوا فِي الْجَاهِلِيَّة يَرِثُونَ نِسَاء أقْرِبَائِهِمْ فَإِنْ شَاءُوا تَزَوَّجُوهُنَّ بِلَا صَدَاق أوْ زَوَّجُوهُنَّ وَأَخَذُوا صَدَاقهنَّ أوْ عَضَلُوهُنَّ حَتَّى يَفْتَدِينَ بِمَا وَرِثْنَهُ أوْ يَمُتْنَ فَيَرِثُوهُنَّ فَنُهُوا عَنْ ذَلِكَ {وَلَا} أنْ {تَعْضُلُوهُنَّ} أيْ تَمْنَعُوا أزْوَاجكُمْ عَنْ نِكَاح غَيْركُمْ بِإِمْسَاكِهِنَّ وَلَا رَغْبَة لَكُمْ فِيهِنَّ ضِرَارًا {لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ} مِنْ الْمَهْر {إِلَّا أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ} بِفَتْحِ الْيَاء وَكَسْرهَا أيْ بُيِّنَتْ أوْ هِيَ بَيِّنَة أيْ زِنًا أوْ نُشُوز فَلَكُمْ أنْ تُضَارُوهُنَّ حَتَّى يَفْتَدِينَ مِنْكُمْ وَيَخْتَلِعْنَ {وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ} أيْ بِالْإِجْمَالِ فِي الْقَوْل وَالنَّفَقَة وَالْمَبِيت {فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ} فَاصْبِرُوا {فَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا} وَلَعَلَّهُ يَجْعَل فِيهِنَّ ذَلِكَ بِأَنْ يَرْزُقكُمْ مِنْهُنَّ وَلَدًا صَالِحًا {وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ} أيْ أخْذهَا بَدَلهَا بِأَنْ طَلَّقْتُمُوهَا {و} قَدْ {آتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ} أيْ الزَّوْجَات {قِنطَارًا} مَالًا كَثِيرًا صَدَاقًا {فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا} ظُلْمًا {وَإِثْمًا مُّبِينًا} بَيِّنًا وَنَصْبهمَا عَلَى الْحَال وَالِاسْتِفْهَام لِلتَّوْبِيخِ وَلِلْإِنْكَارِ فِي قَوْله {وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ} أيْ بِأَيِّ وَجْه {وَقَدْ أَفْضَىٰ} وَصَلَ {بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ} بِالْجِمَاعِ الْمُقَرِّر لِلْمَهْرِ

{وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا} عَهْدًا {غَلِيظًا} شَدِيدًا وَهُوَ مَا أَمَرَ اللّٰه بِهِ مِنْ إِمْسَاكِهِنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحِهِنَّ بِإِحْسَانٍ {وَلَا تَنكِحُوا مَا} بِمَعْنَى مَنْ {نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاءِ إِلَّا} لٰكِنْ {مَا قَدْ سَلَفَ} مِنْ فِعْلِكُمْ ذٰلِكَ فَإِنَّهُ مَعْفُوٌّ عَنْهُ {إِنَّهُ} أَيْ نِكَاحهنَّ {كَانَ فَاحِشَةً} قَبِيحًا {وَمَقْتًا} سَبَبًا لِلْمَقْتِ مِنَ اللّٰه وَهُوَ أَشَدُّ الْبُغْضِ {وَسَاءَ} بِئْسَ {سَبِيلًا} طَرِيقًا ذٰلِكَ

ترجمه اوستاسو دَ ښځونه چې څوک دَ بې حيايئ، زنا مرتکب شوی وی په هغوی باندې خپلو (مسلمانانو) نه څلور سړی ګواه کړئ، نوکه په هغوی باندې دَ بې حيايئ ګواهي ورکړی نو هغوی په کورونوکښې نظربند کړئ اوهغه دَخلقو دَ ملاويدو نه منع کړئ، تردې چې مرګ (ملائکه) دَهغې خاتمه اوکړی یا الله تعالی دَهغوی دَپاره بل (څه) لار راوباسی یعنی دَهغې نه دَ وتلو څه صورت راوباسی داحکم دَ اسلام په شروع کښې ورکړې شوې وو بیا دَهغوی باکره یعنی پیغله ته سل کورې اویوکال دَ وطن نه دَ ویستو په صورت کښې او محصنه دَ رجم په صورت کښې لار اوویستله، او په حدیث شریف کښې دی کله چې الله تعالی حد بیان کړو نوحضورپاك اوفرمائیل مانه واخلئ مانه حاصل کړئ الله تعالی دَهغوی دَپاره لار راوویستله. (رواه مسلم) اوتاسوکښې دَ بعضو سړونه چې کوم دوه (یعنی جوړه) دَ فحش کار مرتکب شي یعنی دَ زنا یا لواطت، نوهغوی ته بدې ردې ونیلوسره چیترې وهلوسره تکلیف ورکړئ (وَالّذانِ) دَنون تخفیف اوتشدیدسره دې، بیاکه دواړه دَفحش کارنه توبه اوباسی اودَعمل اصلاح اوکړی نوهغوی نظرانداز کړئ او هغوی ته تکلیف مه رسوئی، یشکه الله تعالی دَتوبه کونکی لوئی توبه قبلونکې (او) په هغه رحم کونکې دې. اودا حکم دَامام شافعی رحمه الله په نیز دَ حدپه ذریعه منسوخ دې که چرې دې نه زنا.مراد وی اوهم دغه شان که لواطت مراد وی البته مفعول به دَهغه په نیز رجم کولې نه شي، سره دَدې چې محصن ولې نه وی بلکه کورې به وهلې شي دَ وطن نه به ویستلې شي، اولواطت مراد اخستل زیات ښکاره دی. (الذانِ یاتیانها) ضمیر دَتثنیه دَ دلیل دَ وجې نه اودَ اول قول قائل هغه دې چاچې (تثنیه) نه دَ زانی اوزانیه اراده کړې ده. اودَدې تردید دَدې مِنْ بیانیه نه کیږی کوم چې دَمِنكُمْ ضمیر مذکر سره بیان دَپاره متصل دې. (دغه شان) دَهغوی تکلیف او توبه او په معاف کولو کښې مشترك کیدل اودا مذکوره دریواړه ځیزونه سړو سره مخصوص دی، ځکه چې دَښځو حکم نظربند کول وړاندې تیرشوې دې. اوتوبه دَکوم قبلول چې دَالله تعالی په ذمه دی یعنی دَتوبې قبولیت الله تعالی په خپل فضل سره په خپله ذمه اخستې ده، هغه خو بس هم دَ دغه خلقو توبه ده چې ګناه په ناپوهئ سره اوکړی (بِجَهَالَةٍ) حال دې یعنی دَ خپل رب نافرمانی کولو وخت کښې ناپوهی اوکړی او بیا زر دَزنکدن حال راتلونه وړاندې توبه اوکړی هم دَ د غه شان خلقو الله تعالی توبه قبلوی او الله تعالی دَ

خپل مخلوق نه خبردار او هغوی سره په معامله کولو کښې باحکمت دې او دَ هغوی توبه نه ده چې یوشان گناهونه کوی تردې چې په هغوی کښې دَ چامرگ راشی او دَ زنکدن حالت شروع شی او په زنکدن کښې دَ پیښیدونکو څیزونو مشاهده اوکړی نو وائی چې زه اوس توبه کوم نو دَ هغه دا توبه کول به نه دَ هغه دَپاره فائده ورکړی نه به مقبول شی او نه به قبوله شی څوک چې هم دَ کفر په حالت کښې مړه شی او په آخرت کښې دَ عذاب دَ کتلو وخت کښې توبه اوکړی هم دغه خلق دی دَ چا دَپاره چې مونږ دردناک عذاب تیار کړې دې. اې ایمان والو ستاسو دَپاره دا جائزنه دی چې تاسو دَ ښځو دَ ذات جبراً مالکان شئی کَرْهًا فتحه او ضمه سره دوه لغته دی یعنی هغه مجبوره کولو سره دا طریقه (زمانه) دَ جاهلیت کښې وه چې خلقو به دَ خپلوانو دَ ښځې مالك کیدل، که غوښتل به ئې نو پخپله به ئې ورسره بغیر دَ مهر نه نکاح کوله یا دَ هغې نکاح به ئې چرته غیر سره کوله او دَ هغې مهر به ئې پخپله اخستلو، یا به ئې هغوی منع کولې تردې چې هغه دَ خپل مال فدیه ورکړی یا مړه شی نو دَ هغې دَ مال وارثان کیدل به. نو هغوی دَ دې حرکت نه منع کړې شو، او نه ستاسو دَپاره دا جائز دی چې تاسو دَ هغوی بل سره په نکاح کولو سره دَ نقصان رسولو په غرض هغه منع کړی حالانکه ستاسو هغوی سره هیڅ رغبت نشته. دې دَپاره چې تاسو دَ هغې نه دَ خپل ورکړې شوی مهر څه حصه وصول کړې بغیر دَ هغې صورت چې هغه دَ ښکاره بدکارئی مرتکب وی، دَ یاء فتحه او کسره سره یعنی چې کومه بالکل ښکاره ده یا هغه ښکاره کونکې ده یعنی زنا یا نافرمانی، نو تاسو ته حق شته چې هغوی ته تکلیف اورسوې تردې چې هغوی تاسو ته څه معاوضه درکړی او خلع حاصله کړی. او ښځو سره په ښه سلوک سره وخت تیره وئی یعنی په خبرو اترو کښې، خرچې کښې او شپه تیرولو کښې دَ ښکلې معاشرت مظاهره کوئی که چرې تاسو دا ناخوښه کوئی نو صبر اوکړئی څه عجیبه ده چې تاسو یو څیز ناخوښه کړئی او الله تعالی په هغې کښې لویه ښیګړه کیږدی او کیدې شی چې الله تعالی په هغې کښې خیرواچوی په داسې توګه چې تاسو ته دَ هغې نه نیك اولاد درکړی او که چرې تاسو دَ یوې ښځې په ځائې بله ښځه کول غوارئی یعنې یوې ته طلاق ورکولو سره بل کوئی غوارئی او تاسو دغه ښځو کښې چاته یو ډیرې یعنی زیات مال دَ مهر په توګه ورکړې وی نو تاسو دَ هغې نه هیڅ هم واپس مه اخلئی، آیا تاسو دَ ظلم او ښکاره ګناه نه باوجود به دا اخلئ (مُبِيْنًا) په معنی بَیِّنًا او دَ دې نصب دَ حال دَ وجې نه دې او استفهام دَ توبیخ دَپاره دې او تاسو به دا څنګه اخلئی؟ یعنی څنګه به ئې اخلئ استفهام انکاری دې حالانکه تاسو دَ جماع په ذریعه خپلو کښې یو ځائې شوی یئې کوم چې مهر ثابتونکې دې، او دغه ښځو تاسو نه کلك عهد وپیمان اخستې دې او دغه عهد هغه دې دَ کوم چې تاسو ته الله تعالی حکم درکړې دې هغه دا چې تاسو دوی دَ دستور مطابق خپل ځان سره اوساتئی یا په ښه اخلاقو سره هغه پریږدئی او هغه ښځو سره نکاح مه کوئی چا سره چې ستاسو پلارانو نکاح

کړې ده. مَا په معنی دَ مَنْ دې مگر چې څه اوشو نو هغه شوی دی یعنی وړاندې تاسو نه شوی دی هغه معاف دی دا یعنی هغوی سره نکاح کول دَ بې حیایئی او خفګان سبب دې یعنی دَ الله تعالی دَ خفګان سبب دې او دا ډیر سخت بغض دې اودا لویه خرابه لار ده.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: مِنْ رِجَالِ المسلمین: **سوال**: فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ مفسر علام دَ منکم تفسیر مِنْ رِجَالِ المسلمین سره کړې دې دَ کومې نه چې معلومیږی چې ښځې مخاطب نه دی حالانکه په قرآن کښې ښځې دَ سړو تابع ګرځولو سره اکثر خطاب کړې شوې دې مگر دلته دم سړی مخاطب دی دَ دې څه وجه ده؟

جواب: أَرْبَعَةً، دلته دَ دې خبرې قرینه ده چې مخاطب هم سړی دی نه چې ښځې ځکه چې دَ نحو مشهوره قاعده ده چې که عدد مؤنث وی نو دَ هغې معدود مذکروی دلته اربعة مؤنث دې لهذا په دې سره معدود مذکرمتعین دې اوهغه رجال دی نه چې نساء، هم دَ دې قرینې دَ وجې نه علامه سیوطی رحمه الله دَ منکم تفسیر مِنْ رِجَالِ المسلمین سره کړې دې.

قوله: ای الملائکة دې کښې دَ دې خبرې طرف ته اشاره ده چې کلام حذف مضاف سره دې، ای يَتَوَفَّاهُنَّ ملئکة الموت.

سوال: حذف مضاف ضرورت ولې پیښ شو؟

جواب: التوفی هوالموت، او س په عبارت داسې شی حَتَّىٰ يُمِيتَهُنَّ الموت اودا صحیح نه دې ځکه چې په دې کښې اسناد الشئ الی نفسه لازم راځی بل په دې کښې دَ مرګ فاعل جوړیدل لازم راځی حالانکه په مرګ کښې دَ فاعل جوړیدو صلاحیت نشته دې، په دې وجه مفسرعلام الملئکة. محذوف منلو سره اوخودل چې يَتَوَفَّاهُنَّ فاعل مرګ نه دې بلکه ملئکة دې، بل په دې صورت کښې اسناد الشئ الی نفسه اعتراض هم ختم شو.

قوله: الی أن، دې سره اشاره اوکړه چې دَ يَجْعَلَ عطف يَتَوَفَّاهُنَّ باندې دې هم دَ دې وجې نه يَجْعَلَ منصوب دې.

قوله: يَأْتِيَانِهَا. په دې کښې د ضمیر مرجع ذکر شوې ده چه فاحشه او زنا او لواطت دې.

قوله: مِنَ الرِّجَالِ دواړو څایونو کښې دَ مذکر صیغې استعمال کړی دی.

قوله: اواللواطة، د لفظ لواطة ضافه دَ امام شافعی رحمه الله دَ مسلك مطابق ده ځکه چې دَ هغوی په نیزدَ لواطت سزا هم هغه ده کومه چې دَ زناده، دَ احنافو په نیزداسې نه ده بلکه دَ امیر په رائې باندې موقوف ده هغه چې کومه سزا مناسب ګڼړی ورکولې شی.

[ایاتونه:۲۳]

{حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ} اَنْ تَنْكِحُوهُنَّ وَشَمِلَتْ الْجَدَّات مِنْ قِبَل الْأَب أَوْ الْأُمّ {وَبَنَاتُكُمْ} وَشَمِلَتْ بَنَات الْأَوْلَاد وَإِنْ سَفَلْنَ {وَأَخَوَاتُكُمْ} مِنْ جِهَة الْأَب أَوْ الْأُمّ {وَعَمَّاتُكُمْ} أَيْ أَخَوَات آبَائِكُمْ وَأَجْدَادكُمْ {وَخَالَاتُكُمْ} أَيْ أَخَوَات أُمَّهَاتكُمْ وَجَدَّاتكُمْ {وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ} وَيَدْخُل فِيهِنَّ أَوْلَادهمْ {وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ} قَبْل اسْتِكْمَال الْحَوْلَيْنِ خَمْس رَضَعَات كما بينه الحديث {وأمهاتكم اللاتي أرضعنكم} وَيُلْحَق بِذَلِكَ بِالسُّنَّةِ الْبَنَات مِنْهَا وَهُنَّ مَنْ ارضعتهم موطوأته وَالْعَمَّات وَالْخَالَات وَبَنَات الْأَخ وَبَنَات الْأُخْت مِنْهَا لِحَدِيثِ يَحْرُم مِنْ الرَّضَاع مَا يَحْرُم مِنْ النَّسَب رَوَاهُ الْبُخَارِيّ وَمُسْلِم {وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ} جَمْع رَبِيبَة وَهِيَ بِنْت الزَّوْجَة مِنْ غَيْره {اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ} تُرَبُّونَهُنَّ صِفَة مُوَافِقَة لِلْغَالِبِ فَلَا مَفْهُوم لَهَا {مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ} أَيْ جَامَعْتُمُوهُنَّ {فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ} فِي نِكَاح بَنَاتهنَّ إذَا فَارَقْتُمُوهُنَّ {وَحَلَائِلُ} أَزْوَاج {أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ} بِخِلَافِ مَنْ تَبَنَّيْتُمُوهُمْ فَلَكُمْ نِكَاح حَلَائِلهمْ {وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ} مِنْ نَسَب أَوْ رَضَاع بِالنِّكَاحِ وَيُلْحَق بِهِمَا بِالسُّنَّةِ الْجَمْع بَيْنهَا وَبَيْن عَمَّتهَا أَوْ خَالَتهَا وَيَجُوز نِكَاح كُلّ وَاحِدَة عَلَى الْانْفِرَاد وَمِلْكهمَا مَعًا وَيَطَأ وَاحِدَة {إِلَّا} لَكِنْ {مَا قَدْ سَلَفَ} فِي الْجَاهِلِيَّة مِنْ نِكَاحكُمْ بَعْض مَا ذُكِرَ فَلَا جُنَاح عَلَيْكُمْ فِيهِ {إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا} لِمَا سَلَفَ مِنْكُمْ قَبْل النَّهْي {رَحِيمًا} بِكُمْ فِي ذَلِكَ

ترجمه: او په تاسو باندې ستاسو مېندو سره نکاح کول حرام کړې شوی دی او په دې حکم کښې نیاګانې هم شاملې دی اوستاسو لونړه اوپه دې کښې نمسئی هم داخل دی اګر چې تربښکته پورې وی، او علاتی اواخیافی خوئیندې (اوحقیقی خوئیندې) ستاسو دپاره حرام کړې شوی دی او ستاسو تروریانې یعنی ستاسو دپلارانو نیکونو خوئیندې او خالاګانې یعنی ستاسو د مېندو او نیاګانو خوئیندې او وریرې او خورزې او په دې کښې دهغوی لونړه هم شاملې دی اوستاسو هغه مېندې کومو چې تاسو ته دوه کاله مکمل کېدونه وړاندې پنځه ګوټه پئی درکړی وی لکه حدیث کښې دا بیان کړې شوی دی او ستاسو رضاعی خوئیندې اوهغوی سره د حدیث په رڼاکښې رضاعی لونړه هم شاملې کړی دی اوهغه داسې لونړه دی کوموته چې دهغوی مطوعه پیئی ورکړی وی او (رضاعی) تروریانې او خالاګانې او (رضاعی) وریرې او (رضاعی) خورزې (په دې قاعده سره) کوم چې په نسب باندې حرامیږی هغه په رضاعت سره هم حرام کیږی. (رواه البخاری ومسلم) اوستاسو خیني او ستاسو ربیبیانې ربَائبُ د رَبِيبَة جمع ده اوهغه د هغه د ښځې لورده د دویم خاوندنه، کومې چې ستاسو په پالنه کښې وی یعنی دکومو چې ته پالنه کوې (أی حجورکم)

صفت دَ غالب په اعتبارسره دې لهذا دَدې مفهوم مخالف معتبرنه دې (يعنى دَدې قيد هيڅ اعتبار نشته) (او) دَهغه ښځونه وى چاسره چې ستاسو كوروالې شوى وى يعنى هغوى سره جماع كړې وى لهذا كه تاسو هغوى سره جماع نه وى كړې نودَهغوى دَلونړوسره ستاسو په نكاح كولو كښې ستاسو دَپاره هيڅ گناه نشته خوچې تاسو دغه ښځې جدا كړې وى او ستاسو دَ سكه ځامنو ښځې په خلاف دَهغه ځامنو دَ ښځو كومې چې تاسو متبنٰى جوړې كړې دى ستاسو دَپاره دَهغوى ښځوسره نكاح كول جائزدى. اودا چې تاسو دوه نسبى يا رضاعى خوئيندې په نكاح كښې جمع كړئى (حرام دى) او دَ حديث په رڼاكښې ښځې اودَهغوى تروريانې اودَهغوى خالاګانې په يوځائى جمع كول حرام ګرځولې دى. او هرې يوې سره ځان ځان له نكاح كول صحيح دى. اودَهغوى مالك جوړيدل هم صحيح دى مګر جماع به په هغوى كښې يوې سره كوى. البته كوم څه چې شوى دى نوهغه شوى دى دَ جاهليت په زمانه كښې دَ مذكور نه دَ بعضو بعض سره نكاح كولوسره، لهذا ستاسودَپاره دې كښې هيڅ ګناه نشته بيشكه الله تعالى دامعاف كونكې دې كوم چې دَ ممانعت نه وړاندې تاسو نه شوى دى په دغه معامله كښې په تاسو باندې رحم كونكې دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله. اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ دَدې اضافه مقصددَيوسوال جواب دې.

سوال: حُرِّمَتْ عَلَيكُم اُمَّهَاتُكُم كښې دَ حرمت نسبت امهات ذات طرف ته كړې شوې دې حالانكه دَ ذوات د حرمت هيڅ معنى نشته دې څكه چې حرمت اوحلت دَافعال صفت دې.

جواب. دَ جواب حاصل دادې چې د امهات د حرمت نه دَهغې سره دَ نكاح حرمت مراد دې چونكه نكاح متبادر الى الفهم ده څكه حذف كړې شوې ده. دَدې دَپاره چې كوم وصف اهم مقصود كيږى هغه متبادرالى الفهم كيږى لكه چې حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ كښې دى ښكاره خبره ده چې دې نه مراد خوراك دې نه چې نفس ميتة او مثلاً حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الخمرُ مراد دَ شرابو څكلوحرمت دې نه چې دَ ذات حرمت.

قوله. مَوْطوئته اى موطوءة الرجل.

قوله: حلائل، بيبيانې، دَ حَلِيْلَة جمع ده اودا د حَلّ نه مشتق دې دَ كوم معنى چې غوټه كولاوول، كوزيدل اودَ حلال كيدو ده. چونكه خاوند اوښځه دَ يوبل پرتوغانې كولاووى او يوبل ته وركوزيږى اودَ يوبل دَپاره حلال دى څكه ورته حليل اوحليلة وائى.

پاره نمبر- ٥ [وَالْمُحْصَنَاتُ]

[اياتونه: ٢٤ - ٢٥]

(وَ) حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ (الْمُحْصَنَاتُ) أَيْ ذَوَاتُ الْأَزْوَاجِ (مِنَ النِّسَاءِ) أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ قَبْلَ مُفَارَقَةِ أَزْوَاجِهِنَّ حَرَائِرَ مُسْلِمَاتٍ كُنَّ أَوْ لَا (إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ) مِنَ الْإِمَاءِ بِالسَّبْيِ فَلَكُمْ وَطْؤُهُنَّ وَإِنْ كَانَ لَهُنَّ أَزْوَاجٌ فِي دَارِ الْحَرْبِ بَعْدَ الِاسْتِبْرَاءِ (كِتَابَ اللَّهِ) نُصِبَ عَلَى الْمَصْدَرِ أَيْ كَتَبَ ذَلِكَ (عَلَيْكُمْ وَأُحِلَّ) بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ (لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ) أَيْ سِوَى مَا حُرِّمَ عَلَيْكُمْ مِنَ النِّسَاءِ (أَنْ تَبْتَغُوا) تَطْلُبُوا النِّسَاءَ (بِأَمْوَالِكُمْ) بِصَدَاقٍ أَوْ ثَمَنٍ (مُحْصِنِينَ) مُتَزَوِّجِينَ (غَيْرَ مُسَافِحِينَ) زَانِينَ (فَمَا) فَمَنْ (اسْتَمْتَعْتُمْ) تَمَتَّعْتُمْ (بِهِ مِنْهُنَّ) مِمَّنْ تَزَوَّجْتُمْ بِالْوَطْءِ (فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ) مُهُورَهُنَّ الَّتِي فَرَضْتُمْ لَهُنَّ (فَرِيضَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ) أَنْتُمْ وَهُنَّ (بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ) مِنْ حَطِّهَا أَوْ بَعْضِهَا أَوْ زِيَادَةٍ عَلَيْهَا (إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا) بِخَلْقِهِ (حَكِيمًا) فِيمَا دَبَّرَهُ لَهُمْ (وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا) غِنًى لِ (أَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنَاتِ) الْحَرَائِرَ (الْمُؤْمِنَاتِ) هُوَ جَرْيٌ عَلَى الْغَالِبِ فَلَا مَفْهُومَ لَهُ (فَمِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ) يَنْكِحُ (مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ) فَاكْتَفُوا بِظَاهِرِهِ وَكِلُوا السَّرَائِرَ إِلَيْهِ فَإِنَّهُ الْعَالِمُ بِتَفْضِيلِهَا وَرُبَّ أَمَةٍ تَفْضُلُ حُرَّةً فِيهِ وَهَذَا تَأْنِيسٌ بِنِكَاحِ الْإِمَاءِ (بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ) أَيْ أَنْتُمْ وَهُنَّ سَوَاءٌ فِي الدِّينِ فَلَا تَسْتَنْكِفُوا مِنْ نِكَاحِهِنَّ (فَانْكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ) مَوَالِيهِنَّ (وَآتُوهُنَّ) أَعْطُوهُنَّ (أُجُورَهُنَّ) مُهُورَهُنَّ (بِالْمَعْرُوفِ) مِنْ غَيْرِ مَطْلٍ وَنَقْصٍ (مُحْصَنَاتٍ) عَفَائِفَ حَالٌ (غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ) زَانِيَاتٍ جَهْرًا (وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ) أَخِلَّاءَ يَزْنُونَ بِهِنَّ سِرًّا (فَإِذَا أُحْصِنَّ) زُوِّجْنَ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ تَزَوَّجْنَ (فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ) زِنًا (فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ) الْحَرَائِرِ الْأَبْكَارِ إِذَا زَنَيْنَ (مِنَ الْعَذَابِ) الْحَدِّ فَيُجْلَدْنَ خمسين ويغربن نصف سنة ويقاس عليهم الْعَبِيدُ وَلَمْ يَجْعَلِ الْإِحْصَانَ شَرْطًا لِوُجُوبِ الْحَدِّ لِإِفَادَةِ أَنَّهُ لَا رَجْمَ عَلَيْهِنَّ أَصْلًا (ذَلِكَ) أَيْ نِكَاحُ الْمَمْلُوكَاتِ عِنْدَ عَدَمِ الطَّوْلِ (لِمَنْ خَشِيَ) خاف (الْعَنَتَ) الزنى وأصله المشقة سمي به الزنى لِأَنَّهُ سَبَبُهَا بِالْحَدِّ فِي الدُّنْيَا وَالْعُقُوبَةِ فِي الْآخِرَةِ (مِنْكُمْ) بِخِلَافِ مَنْ لَا يَخَافُهُ مِنَ الْأَحْرَارِ فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا وَكَذَا مَنِ اسْتَطَاعَ طَوْلَ حُرَّةٍ وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيُّ وَخَرَجَ بِقَوْلِهِ (مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ) الْكَافِرَاتُ فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا وَلَوْ عَدِمَ وَخَافَ (وَأَنْ تَصْبِرُوا) عَنْ نِكَاحِ الْمَمْلُوكَاتِ (خَيْرٌ لَكُمْ) لِئَلَّا يَصِيرَ الْوَلَدُ رَقِيقًا (وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ) بِالتَّوْسِعَةِ فِي ذَلِكَ

ترجمه:- اوحرام کړې شوې دي ستاسو دپاره دخاوندانو والا ښځې چې هغوی سره د خاوندانو دمفارقت نه بغیرنکاح اوکړئي که آزاده مسلمانه ښځه وي اوکه نوري. **مګردا** چې د هغه وینځې کومې چې ګرفتارشي اوستاسو په قیدکښې راشي نوستاسو دپاره جائزدي چې هغوی سره وطي اوکړئي استبراء (رحم) نه پس اګرچې په دارالحرب کښې دهغوی خاوندان موجودوي، **الله تعالى** (دا احکام) **په تاسو فرض کړي دي**. نصب د مصدریت دَ وجې نه دي أي كَتَبَ ذلك او ستاسو دپاره دَمذکوره حرام کړې شوو ښځونه

علاوه حلال کړې شوی دی دا چې تاسو ښځو لره دخپلو مالونو په ذریعه په مهر یا قیمت ورکولو سره طلب کړئی (په دې طریقه) چې اراده مو د نکاح وی نه چې (محض) شهوت پوره کونکې لهذا د چانه چه تاسو فائده اوچته کړه نوهغوی ته دهغوی مقررکړې شوې مهر ورکړئی کوم چې تاسو هغوی له مقررکړې دې او په تاسو باندې د هغه مقدارپه باره کښې هیڅ ګناه نشته په کوم چې تاسو اوهغوی دمهر مقررکولونه پس راضی شئی. یعنی ټول ساقط کولوسره یا څه کمې زیاتې کولوسره بیشکه الله تعالی دخپل مخلوق په باره کښې ډیرزیات پیژندونکې اودهغه نظم باره کښې کوم ئی چې دمخلوق دپاره قائم کړې دې د لوئی حکمت والا دې. اوکوم سړې چې په تاسوکښې د آزادې مومنې ښځې سره دنکاح کولو قدرت نه لری د ایمان صفت د غالب په بناء دې . لهذا ددې مفهوم مخالف مرادنه دې. نوهغه دې مسلمانانو وینځوسره دکومو چې مالکان یئ (نکاح دې اوکړی) الله تعالی ستاسو ایمان ښه پیژنی. لهذا دهغوی په ظاهری ایمان باندې اکتفاء اوکړئی او رازونه الله تعالی ته حواله کړئی ځکه چې هغه د رازونو تفصیلات پیژنی او ډیرې وینځې په ایمان کښې په آزادو (ښځو) باندې فضیلت لری اودا د وینځو د نکاح سره مانوس کول دی اوتاسو په خپل مینځ کښې هم یو ئې یعنی هغوی اوتاسو په دین کښې برابریئ. لهذا هغوی سره په نکاح کولوکښې شرم مه محسوسوئی. نودهغوی دمالکانو په رضا د هغوی سره نکاح اوکړئی اود دستورمطابق بغیرد د ټال مټول نه اوبغیرد کمی نه هغوی ته مهرورکړئی. حال دا چې هغوئ پاکدامنې وی نه چې ښکاره په زناکونکې ښځې او نه په پټه یارانې کونکې ښځې دکوم په وجه چې په پټه توګه باندې زناکونکې وی. نوچې کله دا وینځې په نکاح کښې راشی او په یوقرامت کښې دمعروف په صیغې سره دې یعنی کله چې هغوی نکاح اوکړی بیا که هغوئ د بې حیائئی دزنامرتکب شی نو بیا دهغوی سزا دآزادې واده کړې شوې په نیمه ده کله چې هغوئ زنااوکړی نو پنځوس کوړې دې اووهلې شی او دنیم کال دپاره دې جلاوطن کړې شی. او هم په دې به غلامان قیاس کولې شی او احصان د وجوب حددپاره د شرط په توګه نه دې بلکه ددې خبرې فائده ورکولودپاره دې چې په هغوی باندې قطعًا رجم نشته (په آزاده باندې) قدرت نه کیدو په صورت کښې د وینځوسره دنکاح کولو دا حکم دهغه خلقو دپاره دې د چا چه په ستاسوکښې په ګناه زنا داخته کیدو اندیښنه وی اود عَنَتٌ اصل معنی مشقت ده اود زنانوم ئی مشقت ځکه کیخودې دې چې زناپه دنیاکښې حد او په آخرت کښې دسزا سبب دې په خلاف دهغه آزادو خلقو چې دهغوی (په زناکښې داخته کیدو) ویره نه وی نودهغوی دپاره وینځوسره نکاح کول حلال نه دی اوهم دغه حکم دهغه سړی هم دې چې د آزادې ښځې سره دنکاح قدرت لری اوهم دغه مذهب د امام شافعی رحمه الله دې. اودالله تعالی قول مومنات د قیدنه کافرات خارج شوې نو د هغه دپاره هم د وینځوسره نکاح کول حلال نه

دی اګر چې قدرت مفقود وی او د زنا ویره وی. اوکه چرې تاسو وینځوسره نکاح کول ضبط کړئ نودا ستاسو دپاره ډیره بهتره ده دې دپاره چې بچې غلام نه وی اوالله تعالی ډیر بخښونکې او په دې معامله کښې د وسعت په ذریعه ډیررحم کونکې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمُحْصَنٰتُ د جمهورو په نیز دصاد په فتحې سره اسم مفعول دې. هغه ښځې چې خپل شرمګاهونه ئې د نکاح په ذریعه محفوظ کړې وی(یعنی واده کړې ښځې) ددې آیت نه علاوه هرځائې کښې کسائی د صادپه کسری سره صیغه اسم فاعل لوستلې ده.

قوله: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ، د حُرِّمَتْ د اضافې مقصددې خبرې ته اشاره کول دی چې د المحصنت عطف په اُمَّهٰتُكُمْ باندې دې او مُحْصَنات (یعنی دخاوندانووالا ښځې)هم په سلسله د محرماتو کښې داخلې دی. اَلْمُحْصَنٰت اسم مفعول د جمع مؤنث صیغه ده واحدئې مُحْصَنَةٌ دې. په قرآن مجید کښې إحصان په څلورو معنوکښې استعمال شوې دې.

① واده کړې ښځې ② آزادې ښځې ③ پاکې لمنې ښځې ④ مسلمانانې ښځې. دلته پرمبې معنی یعنی واده کړې ښځې مراددی. مفسرعلام ذَوَاتُ الْاَزْوَاجِ وئیلو سره هم دې معنې طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ، ددې اضافې مقصد د یوسوال مقدرجواب دې.

سوال:- حرمت په افعالو کښې وی نه چې په ذواتو کښې. حالانکه حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمُحْصَنٰتُ نه د ذات حرمت مفهوم کیږی؟

جواب:- مفسرعلام اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اضافه کولوسره د دې سوال جواب ورکړې دې یعنی محصنت سره نکاح کول حرام دی نه چې دهغوی ذات.

قوله: قَبْلَ اَنْ مُّفَارَقَةِ ددې اضافې مقصددې خبرې ته اشاره کول دی چې پس د مفارقت نه نکاح کولو کښې هیڅ قباحت نشته که ښځه آزاده وی اوکه وینځه وی.

قوله: بِالسَّبْيِ په دې کښې اشاره ده چې بغیرمفارقت وطی کول هغه وینځې سره جائزده چې ګرفتار شوې وی اوراغلې وی اوکه په قیمت اخستې شوې وی اوهغه واده کړې ده نوهغې سره بغیر دمفارقت د زوج نه وطی کول جائزنه دی.

قوله: نَصْبٌ علی الْمَصْدَرِيَّةِ،په دې کښې اشاره ده چې کتاب الله د مصدریت د وجې نه منصوب دې د کتاب عامل کَتَبَ،دحُرِّمَتْ نه مستفاددې ځکه چې تحریم او کتاب او فرض هم په یوه معنی کښې دی. مفسر علام کَتَبَ ذٰلِكَ وئیلو سره هم د دغه عامل محذوف طرف

نه اشاره کړې ده.

قوله: وَأُحِلَّ لَكُمْ دَدې عطف دَ كتاب الله په عامل مقدرباندې دې كه چرې فعل مقدر په كَتَبَ باندې عطف وى نو أَحَلَّ به معروف وى اوكه چرې حُرِّمَتْ باندې وى نو أُحِلَّ به مجهول وى.

قوله: هُوَجَرْيٌ عَلَى الغَالِبِ دَدې اضافې مقصد دَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال:-دَ المؤمنات دَ قيدنه معلوميږى چې كتابياتو سره نكاح صحيح نه ده.

جواب:-دَالمؤمنات قيددَ غالب په اعتبارسره دې اودَ نكاح باره كښې چې كوم حكم دَ آزادو مرمناتو دې هم هغه حكم دآزاد كتابياتو هم دې لهذا دَ دې مفهوم مخالف مراد اخستل صحيح نه دى.

قوله: مُحْصَنَات،داد فانكحوهن دَ ضميرنه حال دې نه چې صفت، ځكه ضميرنه موصوف واقع كيږى اونه صفت، مشهوره قاعده ده الضميرلايُوْصَفُ ولايوصفُ به.

قوله: غَيْرَمُسَافِحِيْنَ داحال مؤكده دې مُسَافِحِيْنَ،مُسَافِحٌ جمع ده په معنى دَ زناكار.

قوله: أَخْدَان دا دَخِدْنٌ جمع ده په معنى د پټ دوست.

[اياتونه:٢٦-٣٢]

{يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ} شَرَائِع دِينكُمْ وَمَصَالِح أَمْركُمْ {وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ} طَرَائِق {الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ} مِنْ الْأَنْبِيَاء فِي التَّحْلِيل وَالتَّحْرِيم فَتَتْبَعُوهُمْ {وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ} يَرْجِع بِكُمْ عَنْ مَعْصِيَته الَّتِي كُنْتُمْ عَلَيْهَا إلَى طَاعَته {وَاللَّهُ عَلِيمٌ} بِكُمْ {حَكِيمٌ} فِيمَا دَبَّرَهُ لَكُمْ {وَاللَّهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْكُمْ} كَرَّرَهُ لِيَبْنِيَ عَلَيْهِ {وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ} الْيَهُود وَالنَّصَارَى أَوْ الْمَجُوس أَوْ الزُّنَاة {أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا} تَعْدِلُوا عَنْ الْحَقّ بِارْتِكَابِ مَا حُرِّمَ عَلَيْكُمْ فَتَكُونُوا مِثْلهمْ {يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ} يُسَهِّل عَلَيْكُمْ أَحْكَام الشَّرْع {وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا} لَا يَصْبِر عن النساء والشهوات {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ} بِالْحَرَامِ فِي الشَّرْع كَالرِّبَا وَالْغَصْب {إلَّا} لَكِنْ {أَنْ تَكُونَ} تَقَع {تِجَارَةً} وَفِي قِرَاءَة بِالنَّصْبِ أَنْ تَكُون الْأَمْوَال أَمْوَال تِجَارَة صَادِرَة {عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ} وَطِيب نَفْس فَلَكُمْ أَنْ تَأْكُلُوهَا {وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ} بِارْتِكَابِ مَا يُؤَدِّي إلَى هَلَاكهَا أَيًّا كَانَ فِي الدُّنْيَا أَوْ الْآخِرَة بِقَرِينَةِ {إنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا} فِي مَنْعه لَكُمْ مِنْ ذَلِكَ {وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ} أَيْ مَا نُهِيَ عَنْهُ {عُدْوَانًا} تَجَاوُزًا لِلْحَلَالِ حَال {وَظُلْمًا} تَأْكِيد {فَسَوْفَ نُصْلِيهِ} نُدْخِلهُ {نَارًا} يَحْتَرِق فِيهَا {وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا} هَيِّنًا {إنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ} وَهِيَ مَا وَرَدَ عَلَيْهَا وَعِيد كَالْقَتْلِ وَالزِّنَا وَالسَّرِقَة وعن بن عباس هِيَ إلَى السَّبْعِمِائَةِ أَقْرَب {نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ} الصَّغَائِر بِالطَّاعَاتِ {وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا} بِضَمِّ الْمِيم وَفَتْحهَا أَيْ إدْخَالًا أَوْ مَوْضِعًا {كَرِيمًا} هُوَ الجنة {وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ

بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ مِنْ جِهَةِ الدُّنْيَا أَوْ الدِّيْنِ لِئَلَّا يُؤَدِّي إِلَى التَّحَاسُدِ وَالتَّبَاغُضِ ﴿لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ﴾ ثَوَابٌ ﴿مِّمَّا اكْتَسَبُوا﴾ بِسَبَبِ مَا عَمِلُوا مِنَ الْجِهَادِ وَغَيْرِهِ ﴿وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ﴾ مِنْ طَاعَةِ أَزْوَاجِهِنَّ وَحِفْظِ فُرُوجِهِنَّ نَزَلَتْ لَمَّا قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ لَيْتَنَا كُنَّا رِجَالًا فَجَاهَدْنَا وَكَانَ لنا مثل اجر الرجال ﴿واسألوا﴾ بِهَمْزَةٍ وَدُونِهَا ﴿اللَّهَ مِن فَضْلِهِ﴾ مَا احْتَجْتُمْ إِلَيْهِ يُعْطِكُمْ ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ وَمِنْهُ مَحَلُّ الْفَضْلِ وَسُؤَالُكُمْ ﴿وَلِكُلٍّ﴾ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ ﴿جَعَلْنَا مَوَالِيَ﴾ عَصَبَةً يُعْطَوْنَ ﴿مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ﴾ لَهُمْ مِنْ مَالٍ ﴿وَالَّذِينَ عَاقَدَتْ﴾ بِأَلِفٍ وَدُونِهَا ﴿أَيْمَانُكُمْ﴾ جَمْعُ يَمِينٍ بِمَعْنَى الْقَسَمِ أَوْ الْيَدِ أَيِ الْحُلَفَاءُ الَّذِينَ عَاهَدْتُمُوهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ عَلَى النُّصْرَةِ وَالْإِرْثِ ﴿فَآتُوهُمْ﴾ الْآنَ ﴿نَصِيبَهُمْ﴾ حُظُوظَهُمْ مِنَ الْمِيرَاثِ وَهُوَ السُّدُسُ ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا﴾ مُطَّلِعًا وَمِنْهُ حالكم وهذا منسوخ.

ترجمه:- الله تعالى غواړي چې ستاسو دپاره ستاسو د دين احكام او ستاسو د معاملې مصلحتونه ښه ښكاره بيان كړي اوتاسو ته ستاسو نه د وړاندې خلقو د انبياء كرامو د حلال اوحرام حالات (طريقې)اوښائي دې دپاره چې تاسو د هغوی اتباع اوكړئ(او الله تعالى غواړي) چې تاسو په كومو ګناهونوتاسو باندې وئى دهغې نه د خپل طاعت طرف ته اوګرځوي. الله تعالى ستاسو د حالاتو پيژندونكې او كوم نظم چې هغه ستاسو د پاره قائم كړې دې په هغې كښې باحكمت دې او الله تعالى ته منظوره ده چې ستاسو په حال توجه اوفرمائي دا (جمله) مكرر راوړلې شوې ده دې دپاره چې مابعد په دې باندې مبنى كړې شى او كوم خلق چې خواهشاتوراګيركړى دى يعنى يهوديان نصارىٰ او مجوسيان او زناكار هغوئ غواړي چې (په تاسو) د حرامو څيزونو ارتكاب اوكړى د حق نه په پوره توګه واړوى او الله تعالى ته منظورده چې تاسو سره آسانى اوكړى او ستاسو د پاره د شريعت احكام آسان كړى. او انسان خو كمزورې پيدا كړې شوې دې چې د ښځو نه او شهوتونونه صبرنه شى كولې. اې ايمان والو! تاسو په خپل مينځ كښې د يو بل مال شرعًا په حرامه طريقه مثلاً د سود او غصب په طريقه مه خورئى او كه ستاسو په خپل مينځ كښې څه تجارت په خپل مينځ كښې رضامندئى باندې اوشى (نوخوړلې شئ) او په يو قراءت كښې (تجارة) په نصب سره دې يعنى د تجارت مالونه يعنى په خپل مينځ كښې په رضامندئى اوخوشحالئ سره په وجود كښې راشى نوتاسو ته دهغې دخوراك اجازت دې. د هلاكيدونكى څيز ارتكاب كولوسره خپل ځان په هلاكت كښې مه اچوئى كه هغه هلاكت په دنيا كښې وى اوكه په آخرت كښې وى. د ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ د قرينې د وجې نه بيشكه الله تعالى ستاسو په حق كښې ډير مهربان دې تاسو د دغه هلاكت نه د منع كولو د وجې اوڅوك چې د ممنوع ارتكاب كوى حلال ترك كولوسره (تجاوزاً) حال دې او د ظلم په توګه دا تاكيد دې نو مونږ به ډير زر هغه په اوركښې واچووچه په هغې كښې به سوزيږى اودا د الله تعالى د پاره آسان دى اوكه چرې تاسو د هغه لويو ګناهونو د

کارونونه دَ کوم نه چې تاسو منع کړې شوی یئ ځان بچ کړئ او لوئی ګناهونه هغه دی په کوموچې وعید راغلې دې مثلاً قتل زنا غلا او دَابن عباس رضی الله عنه روایت دې چې دا اووه سرو ته نیزدې دی. مونږ به ستاسو واړه ګناهونه دَطاعت په بدله کښې معاف کړو او تاسو به یو معزز مقام ته چې هغه جنت دې داخل کړو. (مُدْخَلاً) دَمیم په ضمې او فتحې سره داخلول نه اودَ داخلیدو ځائی. اوتاسو دَ داسې څیزتمنا مه کوئی په کومه کښې چې الله تعالی بعضو له په بعضو باندې په دنیا او دین کښې ډیر فضیلت ورکړې دې دې دپاره چې په خپل مینځ کښې حسد اوبغض پیدا نه شی. دَ سړو دَپاره دَهغوی دَ اعمالو وغیره ثواب دې کوم چې هغوی دَ جهادوغیره په شکل کښې کړی دی اودَ ښځودَپاره دَهغوی دَ اعمالو ثواب دې کوم چې هغوی دَ خپلو خاوندانو په تابعدارئی کښې اودَ خپل ناموس دَ حفاظت په صورت کښې کړی دی. (دا آیت) هغه وخت نازل شو کله چې حضرت ام سلمه رضی الله عنها تمنا اوکړه چې افسوس چې مونږ سړی وې نومونږ به جهادکولو اومونږ ته به هم دَ سړو په شان اجرملاویدلو اودَ الله تعالی نه دَهغه فضل طلب کوئ. په همزې سره او بغیردَ همزې. دکوم چې تاسو محتاج یئ هغه به تاسو ته درکوی بیشکه الله تعالی دَ هرڅیزنه خبردې هم په دې کښې محل د فضل اوستاسو سوال هم دې او دهر دپاره د نارینو اود زنانو نه دهغه مال نه دی کوم چې مورپلاراو خپلوان دَهغوی دپاره پریږدی مونږدَ هغې دَپاره وارثان مقررکړی دی کومرته چې به هغه مال ورکولې شی اوکومو خلقو سره چې ستاسو عهد او پیمان شوې دې نوهغوی ته اوس دَ میراث حصه ورکړئی اوهغه شپږمه حصه ده. اَیْمَان دَ یمین جمع ده یعنی قسم یا عهد یعنی ستاسو هغه حلفاء چاسره چې تاسو په زمانه دَجاهلیت کښې په نصرت او ارث باندې معاهده کړې ده. بیشکه الله تعالی په هرڅیزباندې خبرداردې او هم په هغوی کښې ستاسوحال هم دې اودا دَالله تعالی په قول﴿ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ ﴾ باندې منسوخ دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: يُرِيْدُ اللهُ لِيُبَيِّنَ، لِيُبَيِّنَ، د يُرِيْدُ مفعول به دې اولام زائده دَ تاکیدَپاره دې.

قوله: شَرَائِعَ دِيْنِكُمْ، شرائع، مقدرمنلو کښې اشاره ده چې دَ ليبين مفعول محذوف دې.

قوله: يَرْجِعُ بِكُمْ عَنِ الْمَعْصِيَةِ دَ يريد تفسیرپه يرجع سره دکولومقصد دَ یوسوال جواب دې.

سوال:- دَتوبې د قبلولومقصدوی د معصیت معاف کول اومعصیت اوګناه دَ شریعت راتلونه پس کیږی او شریعت دغه وخت لاراغلې نه دې ځکه چې سابق کښې الله تعالی فرمائی چې هغه ستاسو دَپاره شریعت بیانول غواړی نوچې شریعت واردشوې نه وی نودَ شریعت خلاف ورزی هم نه ده شوې اوچې کله خلاف ورزی نه ده شوې نو معصیت هم نه

دي شوي او چې معصيت نه دي شوې نو دَ توبې قبلولو څه معنى نشته؟

جواب:- مفسرعلام دَ بحوب تفسيرپه بَرجِم سره کړي دي او دَ مذکوره سوال دَ جواب طرف ته ئې اشاره کړې ده. دَ جواب حاصل دادې چې دَ بحوب مطلب دې برجم منع کرئى او تاسو دَ جاهليت دَ طورطريقونه واړوى.

قوله: تَكُونَ تفسير تَقَعَ سره کولوکښې اشاره اوکړه چې کان تامه ده او تجارةً په نصب سره هم دې په دې صورت کښې به کان ناقصه شى او دَدې اسم به محذوف شى او تجارةً به دَدې خبر شى اوتقديردَعبارت به داسې وى إِلاَّ أَنْ تَكُوْنَ التجارةُ تجارةً إلاَّ أن تكون مستثنى منقطع ده ځکه چې مستثنى منه کوم چې مالونه دى دَ مستثنى يعنى تجارة دَ جنس نه نه دى.

قوله: أَمْوَالَ التِّجَارَةِ دَ لفظ اموال اضافه به دَ کان ناقصه منلوپه صورت کښې وى اودَدې اضافې مقصد به دَ کان په اسم باندې دَدې د خبر حمل صحيح ګرځول وى ګنى مطلب به داوى چې تاسو خپل مالونه مه خورئى مګردا چې هغه تحارت وى حالانکه تجارت دَ خوراك څيزنه وى.

قوله: صَادِرَةً دَدې اضافې مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال:- دَ تجارةً صله عن نه استعماليږى بلکه باء استعماليږى؟

جواب:- عَنْ، دَ تجارة صله نه ده بلکه دَ صادرة مقدر صله ده لهذا هيڅ اشکال نشته

قوله: بِقَرِيْنَةِ دَدې اضافې مقصدپه هغه خلقو باندې رد دې چې هلاکت صرف قتل ګنړى حالانکه صحيح خبره داده چې هلاکت عام دې که دنياوى وى اوکه اخروى اوکه هغه دَ نفس دَ قتل په صورت کښې وى يا دَ معصيت دَ ارتکاب په صورت کښې وى که حسى وى اوکه معنوى وى اودَدې عموم قرينه ﴿ إِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴾ ده ځکه چې دَ الله تعالى رحمت دَ دنيا او آخرت دواړو دَپاره عام دې نه چې دَ بعض قسم هلاکتونو سره خاص دې.

قوله: هِيَ إلى سَبْعِمِأَةٍ أَقْرَبُ يعنى دَ کبائرو شميراووه سوو ته نيزدې دې. (مګردَ اوياؤ قول اقرب إلى الصحة دې)

[اياتونه: ٣٤-٤٢]

﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ﴾ مُسَلَّطُوْنَ ﴿عَلَى النِّسَاءِ﴾ يُؤَدِّبُوْنَهُنَّ وَيَأْخُذُوْنَ عَلَى أَيْدِيْهِنَّ ﴿بِمَا فَضَّلَ اللهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ﴾ أَيْ بِتَفْضِيْلِهِ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ بِالْعِلْمِ وَالْعَقْلِ وَالْوِلَايَةِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ ﴿وَبِمَا أَنْفَقُوْا﴾ عَلَيْهِنَّ ﴿مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ﴾ مِنْهُنَّ ﴿قَانِتَاتٌ﴾ مُطِيْعَاتٌ لِأَزْوَاجِهِنَّ ﴿حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ﴾ أَيْ لِفُرُوْجِهِنَّ وَغَيْرِهَا فِي غَيْبَةِ

أزواجهن ﴿بِمَا حَفِظَ﴾ لَهُنَّ ﴿اللّٰهُ﴾ حَيْثُ أَوْصَى عَلَيْهِنَّ الأَزْوَاجَ ﴿وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ﴾ عِصْيَانَهُنَّ لَكُمْ
بِأَنْ ظَهَرَتْ أَمَارَتُه ﴿فَعِظُوهُنَّ﴾ فَخَوِّفُوهُنَّ اللّٰهَ ﴿وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ﴾ اعْتَزِلُوا إِلَى فِرَاشٍ آخَرَ إِنْ أَظْهَرْنَ
النُّشُوزَ ﴿وَاضْرِبُوهُنَّ﴾ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ إِنْ لَمْ يَرْجِعْنَ بِالْهِجْرَانِ ﴿فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ﴾ فِيمَا يُرَادُ مِنْهُنَّ ﴿فَلَا تَبْغُوا﴾
تَطْلُبُوا ﴿عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا﴾ طَرِيقًا إِلَى ضَرْبِهِنَّ ظُلْمًا ﴿إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا﴾ فَاحْذَرُوهُ أَنْ يُعَاقِبَكُمْ إِنْ
ظَلَمْتُمُوهُنَّ ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ﴾ عَلِمْتُمْ ﴿شِقَاقَ﴾ خِلَافَ ﴿بَيْنِهِمَا﴾ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ وَالْإِضَافَةُ لِلْاِتِّسَاعِ أَيْ شِقَاقًا بَيْنَهُمَا
﴿فَابْعَثُوا﴾ إِلَيْهِمَا بِرِضَاهُمَا ﴿حَكَمًا﴾ رَجُلًا عَدْلًا ﴿مِنْ أَهْلِهِ﴾ أَقَارِبِه ﴿وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا﴾ وَيُوَكِّلُ الزَّوْجُ حَكَمَه فِي
طَلَاقٍ وَقَبُولِ عِوَضٍ عَلَيْهِ وَتُوَكِّلُ هِيَ حَكَمَهَا فِي الْاِخْتِلَاعِ فَيَجْتَهِدَانِ وَيَأْمُرَانِ الظَّالِمَ بِالرُّجُوعِ أَوْ يُفَرِّقَانِ إِنْ
رَأَيَاهُ قَالَ تَعَالَى ﴿إِنْ يُرِيدَا﴾ أَيِ الْحَكَمَانِ ﴿إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا﴾ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ أَيْ يُقْدِرُهُمَا عَلَى مَا هُوَ
الطَّاعَةُ مِنْ إِصْلَاحٍ أَوْ فِرَاقٍ ﴿إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيمًا﴾ بِكُلِّ شَيْءٍ ﴿خَبِيرًا﴾ بِالْبَوَاطِنِ كَالظَّوَاهِرِ ﴿وَاعْبُدُوا اللّٰهَ﴾
وَحِّدُوهُ ﴿وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَ﴾ احسنوا ﴿بِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ بَرًّا وَلِينَ جَانِبٍ ﴿وَبِذِي الْقُرْبَى﴾ الْقَرَابَةِ
﴿وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى﴾ الْقَرِيبِ مِنْكَ فِي الْجِوَارِ أَوِ النَّسَبِ ﴿وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾ الْبَعِيدِ عَنْكَ فِي
الْجِوَارِ أَوِ النَّسَبِ ﴿وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ﴾ الرفيق في سفر او صناعة وقيل الزوجة ﴿وَابْنِ السَّبِيلِ﴾ الْمُنْقَطِعِ فِي
سَفَرِه ﴿وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ مِنَ الْأَرِقَّاءِ ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا﴾ مُتَكَبِّرًا ﴿فَخُورًا﴾ عَلَى النَّاسِ بِمَا
أُوتِيَ ﴿الَّذِينَ﴾ مُبْتَدَأٌ ﴿يَبْخَلُونَ﴾ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ ﴿وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ﴾ بِه ﴿وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ
فَضْلِهِ﴾ مِنَ الْعِلْمِ وَالْمَالِ وَهُمُ الْيَهُودُ وخبر المبتدأ لهم وعيد شديد ﴿وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ﴾ بِذٰلِكَ وَبِغَيْرِه
﴿عَذَابًا مُهِينًا﴾ ﴿وَالَّذِينَ﴾ عُطِفَ عَلَى الَّذِينَ قَبْلَه ﴿يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ﴾ مُرَائِينَ لَهُمْ ﴿وَلَا يُؤْمِنُونَ
بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ كَالْمُنَافِقِينَ وَأَهْلِ مَكَّةَ ﴿وَمَنْ يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا﴾ صَاحِبًا يَعْمَلُ بِأَمْرِه كَهٰؤُلَاءِ
﴿فَسَاءَ﴾ بِئْسَ ﴿قَرِينًا﴾ هُوَ ﴿وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ﴾ أَيْ أَيُّ ضَرَرٍ عَلَيْهِمْ
فِي ذٰلِكَ وَالْاِسْتِفْهَامُ لِلْإِنْكَارِ وَلَوْ مَصْدَرِيَّةٌ أَيْ لَا ضَرَرَ فِيهِ وَإِنَّمَا الضَّرَرُ فِيمَا هُمْ عَلَيْهِ ﴿وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيمًا﴾
فَيُجَازِيهِمْ بما عملوا ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ﴾ أَحَدًا ﴿مِثْقَالَ﴾ وَزْنَ ﴿ذَرَّةٍ﴾ أَصْغَرَ نَمْلَةٍ بِأَنْ يُنْقِصَهَا مِنْ حَسَنَاتِه او
يزيدها في سيئاته ﴿وَإِنْ تَكُ﴾ الذَّرَّةُ ﴿حَسَنَةً﴾ مِنْ مُؤْمِنٍ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالرَّفْعِ فَكَانَ تَامَّةٌ ﴿يُضَاعِفْهَا﴾ مِنْ عَشْرٍ
إِلَى أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِمِائَةٍ وَفِي قِرَاءَةٍ يُضَعِّفُهَا بِالتَّشْدِيدِ ﴿وَيُؤْتِ مِنْ لَدُنْهُ﴾ مِنْ عِنْدِه مَعَ الْمُضَاعَفَةِ ﴿أَجْرًا عَظِيمًا﴾
لَا يَقْدِرُه أَحَدٌ ﴿فَكَيْفَ﴾ حَالُ الْكُفَّارِ ﴿إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ﴾ يَشْهَدُ عَلَيْهَا بِعَمَلِهَا وَهُوَ نَبِيُّهَا ﴿وَجِئْنَا
بِكَ﴾ يا محمد ﴿عَلَى هٰؤُلَاءِ شَهِيدًا﴾ ﴿يَوْمَئِذٍ﴾ يَوْمَ الْمَجِيءِ ﴿يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ﴾ أَيْ أَنْ
﴿تُسَوَّى﴾ بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ وَالْفَاعِلِ مَعَ حَذْفِ إِحْدَى التَّاءَيْنِ فِي الْأَصْلِ وَمَعَ إِدْغَامِهَا فِي السِّينِ أَيْ تَتَسَوَّى
﴿بِهِمُ الْأَرْضُ﴾ بِأَنْ يَكُونُوا تُرَابًا مِثْلَهَا لِعِظَمِ هَوْلِه كَمَا فِي آيَةٍ أُخْرَى ﴿وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴾ ﴿وَلَا
يَكْتُمُونَ اللّٰهَ حَدِيثًا﴾ عَمَّا عَمِلُوهُ وَفِي وَقْتٍ آخَرَ يَكْتُمُونَهُ وَيَقُولُونَ ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾

ترجمه:- سري دَ ښځو حاكمان دي دَهغوى تاديب كوي او هغوى دَ ﴿ناخوښه خبرونه﴾ منع

کړی په دې سبب چې الله تعالى هغوی کښې یوله په بل باندې فضیلت ورکړې دې یعنی الله تعالى سړو ته په ښځوباندې په علم کښې عقل کښې او ولایت وغیره کښې فضیلت ورکړې دې او په دې سبب چې سړی په ښځوباندې خپل مالونه خرچ کوی نونیکې او حکم منونکې ښځې دخپلو خاوندانو تابعدارې دَ خاوند په غیرموجودګئی کښې په حفاظت دَالله تعالى دَ خپل ناموس وغیره خیال ساتونکې دی داسې چې خاوندانوته ئې دَهغوی دَ حفاظت تاکید فرمائیلې دې. اودَ کومو ښځو دَ نافرمانۍ چې تاسو ته ویره وی داسې چې ددې علامات ښکاره وی نوهغوی ته نصیحت اوکړئی یعنی هغوی دَالله تعالى نه اوویروئ اوهغوی په بستروکښې ځان له پریږدئی یعنی که هغه دَنافرمانئ مظاهره اوکړی نو دَهغوی نه بستره جدا کړئی اوکه هغوی په بسره جدا کولوسره هم منع نه شی نوهغوی له دَ وهلو سزا ورکړئی چې (سخت) تکلیف والا نه وی اوکه هغه په دې سره ستاسوپه مقصود کښې تابعداری اوکړی نوتاسو بیا په ظلم سره دَ وهلو بهانې مه لټوئی بیشکه الله تعالى ډیر اوچت او لوئی دې. لهذا تاسو دَهغه دَ سزا نه اوویریږئی که په ښځو ظلم اوکړو اوکه چرې تاسو ته دَښځې او د خاوند په مینځ کښې کشمکش (دَ جوړېخ نه راتلو) اندیښنه وی (شِقَاقَ بَیۡنِهِمَا) کښې اضافت دَ اتساع په توګه دې. (اصل کښې) شِقَاقًا بَیۡنَهُمَا دې. نو یو منصف دَ سړی والو نه اویو منصف دَښځې والو نه هغوی له دهغوئ په رضامندئی اولیږئی اوخاوند دې خپل منصف ته په طلاق او (په طلاق) باندې دَ قبول عوض اختیار ورکړی اوښځه دې خپل منصف ته دَخلع اختیار ورکړی بیادې دواړه دَ (حکم، اصلاح) کوشش اوکړی او ظالم ته دې دَ ظلم نه د منع کیدو حکم ورکړی یاکه مناسب ګنړی نودَهغوی په مینځ کښې دې جدائی راولې. الله تعالى فرمائی چې که دواړه حَکَمۡ صلح کول غواړی نوالله تعالى به دَ ښځې اوخاوند په مینځ کښې موافقت پیدا کړی. په دې توګه چې صلح یا جدائې نه چې کوم طاعت دې دهغې بهې هغوی ته قدرت ورکړی. بیشکه الله تعالى دَهرڅیز نه خبردې یعنی دَپټو ځیزونو نه د ښکاره څیزونو په شان خبردې. دَ یوالله تعالى بندګی کوئې اوهغه سره څوک مه شریکوئی او مورپلارسره ښه سلوک کوئی (یعنی) هغوی سره په نیکئ او نرمئ سره مخ کیږئی او د خپلوانو سره اویتیمانانو مسکینانو اونزدې ګاوندیانوسره یعنی څوك چې تاسو ته په ګاونډ یا نسب کښې نیزدې وی او دَلرې ګاونډیانوسره یعنی څوك چې تاسو سره په ګاونډ یا نسب کښې لرې وی او دَمجلس مګری سره یعنی چې څوك دَ سفرملګرې وی اویا روزګار ملګرې وی او وئیلې شوی دی چې مراد بی بی ده اومسافروسره چې سفرجاری ساتلونه عاجزشوې وی، اود هغه چا سره څوک چې ستاسوپه ملکیت کښې دی (غلامان او وینځې) یقیناً الله تعالى تکبرکونکی او مال وغیره چه هغوی ته ئی ورکړې دې دَهغې په وجه په نورو باندې فخر کونکی نه خوښوی اوکوم خلق چې په واجباتو کښې بخل کوی او نورو خلقوته هم دَ

بخیل توب کولووائی. اَلَّذِیۡنَ مبتداء دې. او الله تعالی چې هغوی ته په خپل فضل او علم سره مال وغیره ورکړي دې هغه پټوی او هغه یهودیان دی او دَ مبتداء خبر لَهُمۡ وَعِیۡدٌ شَدِیۡدٌ دې او دکافرانو دَ پاره مونږ ذدې وجې نه او دَدې نه علاوه د نورو عملونو دَ وجې دَ ذلت والا عذاب تیار کړي دې او کوم خلق چې خپل مال دَخلقو دَ خودنې دَپاره خرچ کوی او په الله تعالی او په ورځ دَ قیامت باندې ایمان نه لری لکه منافقان او اهل مکه او دَ چاملګرې چې شیطان وی نو هغه دَ هغه دَ حکم مطابق عمل کوی لکه څنګه چې دا خلق دی. نو هغه ډیر خراب دوست دې. او دَ هغوی به څه نقصان وې که په الله تعالی او په ورځ دَ قیامت باندې یئ ایمان راوړې وې او الله تعالی چې هغوی ته کومه ورکړه کړې ده دَهغې نه ئی خرچ کولې یعنی په دې کښې هیڅ نقصان نه وو. بلکه نقصان خو په هغه څه کښې دې څه چې هغوی کوی. الله تعالی هغوی ښه پیژنی لهذا دَهغوی دَ عملونو بدله به هغوی ته ورکړی. بیشکه الله تعالی په چاباندې دَ یوې ذرې برابر (یعنی) دَ وړوکی میږی برابر هم ظلم نه کوی داسې چې دَهغوی نیکئ کمې کړی یا دَهغوی په ګناهونو کښې زیاتوالې اوکړی او که چرې دَمؤمن نیکی دَ یوې ذرې برابر وی نو هغې لره دَ لس چنده په څائی اوه سوه چنده نه هم زیاتوی. او په یو قراءت کښې حسنة رفع سره دې نو په دغه صورت کښې به تَكُ تامه شی او په یو قراءت کښې یُضَعِّفۡهَا تشدید سره دې او په خاص دَخپل رحمت نه مضاعفة نه علاوه ډیر لوئې اجرور کوی چې په هغې باندې چاته قدرت حاصل نه دې. نو دَ دې کافرانو به څه حال وی؟ کله چې مونږ دَهرامت نه یوګواه جوړ کړو راولو چې هغه به په هغوی باندې دَهغوی د عمل ګواهی ورکوی او هغه به دَ دې امت نبی وی. او اې محمد مونږ به تا لره په دغه خلقو باندې ګواه جوړولو سره راولو. (دَیومئذ نه یوم المجیء مراد ده) په کومه ورځ چې به کافران او دَ رسول منکران تمناکوی چې افسوس هغوی زمکې سره هوار کړې شوی وې (تسوّی) دَ مجهول او معروف صیغې سره دې. په اصل کښې دیوې تاء حذف سره او بل د تاء په سین کښې ادغام سره ای تَتَسَوّٰی بِهِمۡ چې هغوی دَ زمکې په شان شوې وې دَهغه ورځ دَ تباهو دَ وجې نه لکه چې په بل آیت کښې دی﴿ وَیَقُوۡلُ الۡکٰفِرُ یٰلَیۡتَنِیۡ کُنۡتُ تُرٰبًا﴾ او دَ الله تعالی نه به هیڅ خبره پټه نه کړې شی یعنی دَخپلو عملونو نه به هیڅ عمل پټ نه کړې شی او په بل وخت کښې به ئی پټ کړې شی چې وائی به ﴿ وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا کُنَّا مُشۡرِکِیۡنَ۝﴾.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: قَوّٰمُوۡنَ: دا دَ قَوَّامٌ جمع ده دَ مبالغې صیغه ده یعنی مشر، مصلح، خیال ساتونکې.

قوله: لِفُرُوۡجِهِنَّ په دې کښې یئ د حافظاتٌ مفعول محذوف طرف ته اشاره کړې ده.

مفسر علام دَ للغیب تفسیر په فِیۡ غَیۡبَتِهٖ سره کولو کښې اشاره کړې ده چې لام په معنی دَ فی دې.

قوله: بِاَنۡ ظَهَرَتۡ اَمَارَاتُهٗ دا دَ یو سوال مقدر جواب دې.

سوال:- دَ ظاهرآیت نه معلومیږی چې که دَښځونه دَنافرمانئی اندیښنه وی نودَهغوی باره کښې دَ نصیحت إعتزال او د ضرب وغیره احکام دی حالانکه دَ احکامو ترتب صرف په اندیښنه او ویره باندې نه وی بلکه په وقوع باندې وی. دَدې سوال جواب مفسرعلام بِاَنْ ظَهَرَتْ اَمَارَاتُهُ سره ورکړې دې چې کله د ښځې نه دَ نافرمانئی ظهور وی نوهغه وخت به دا احکام جاری کیږی.

قوله: ضربًا غَیْرَمُبَرِّحٍ، ای الضرب الذی لایکسرعظمًا ولایشین عضوًا، ای ضربًا غیرشدید.

قوله: والاضَافَةُ لِلاتِّسَاعِ دادَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال - دَ مصدراضافت دَ فاعل یا مفعول طرف ته وی اودلته دَ شقاق اضافت دَ بَیْنِ طرف ته کیږی کوم چې ظرف دې؟.

جواب - په ظرف کښې اتساع صحیح ده ځکه چې مشهوره قاعده ده یجوزفی الظرف مالایجوز فی غیرہ. درنګ ظرف دَ مفعول قائمقام دې لکه یاسارق اللیل کښې.

قوله وَاَحْسِنُوا **سوال:**- مفسرعلام اَحْسِنُوادَ کومې فائدې دَپاره محذوف منلې دې؟

جواب - په دې سرد دَ یوسوال مقدرجواب ورکول مقصوددی.

سوال - دادې چې وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا جمله خبریه ده دَدې عطف په وَاعْبُدُوا اللهَ باندې دې کومه چې جمله إنشائیه ده او عطف خبر علی الإنشاء صحیح نه دې.

جواب:- مفسرعلام اَحْسِنُوا فعل امر مقدرمنلوسره اشاره اوکړه چې معطوف هم جمله انشائیه ده لهذا اوس هیڅ اعتراض پاتې نه شو.

قوله: الجُنُب بِضَمَّتَیْنِ په معنی دَ لرې ګاوندی دَدې اطلاق په مذکرمؤنث او تثنیه اوجمع ټولو باندې کیږی.

قوله والصَاحِبِ بِالْجَنْبِ په فتحې دَ جیم او په سکون دَ نون سره په معنی دَ رفیق، دَ نیک کار ملګرې مثلاً د تعلیم، صنعت وحرفت اود سفروغیره ملګرې.

قوله: الذین الخ مبتداء ده دَدې خبرمحذوف دې کوم چې مفسرعلام لَهُمْ وَعِیْدٌ شَدِیْدٌ سره ظاهرکړې دې او بعض حضراتو الذین دَ هُمْ مبتداء محذوف خبر ګرځولې دې.

[ایاتوله:۴۲-۵۰]

{یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ} اَيْ لَا تُصَلُّوا {وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى} مِنَ الشَّرَابِ لِاَنَّ سَبَبَ نُزُوْلِهَا صَلَاةُ جَمَاعَةٍ فِيْ حَالِ سُكْرٍ {حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ} بِاَنْ تَصْحُوْا {وَلَا جُنُبًا} بِاِيْلَاجٍ اَوْ اِنْزَالٍ وَنَصْبُهٗ عَلَى الْحَالِ وَهُوَ يُطْلَقُ عَلَى الْمُفْرَدِ وَغَيْرِهٖ {اِلَّا عَابِرِيْ} مُجْتَازِيْ {سَبِيْلٍ} طَرِيْقٍ اَيْ مُسَافِرِيْنَ {حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا} فَلَكُمْ اَنْ

تصلوا واستثناء المُسَافِر لِأَنَّ لَهُ حُكْمًا آخر سَيَأْتِي وَقِيلَ الْمُرَاد النَّهْي عَنْ قُرْبَان مَوَاضِع الصَّلَاة أَيْ الْمَسَاجِد إِلَّا عُبُورهَا مِنْ غَيْر مُكْث ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى﴾ مَرَضًا يَضُرّهُ الْمَاء ﴿أَوْ عَلَى سَفَر﴾ أَيْ مُسَافِرِينَ وَأَنْتُمْ جُنُب أَوْ مُحْدِثُونَ ﴿أَوْ جَاءَ أَحَد مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِط﴾ هُوَ الْمَكَان الْمُعَدّ لِقَضَاءِ الْحَاجَة أَيْ أَحْدَثَ ﴿أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاء﴾ وَفِي قِرَاءَة بِلَا أَلِف وَكِلَاهُمَا بِمَعْنَى اللَّمْس هُوَ الْجَسّ باليد قاله بن عُمَر وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ وَأُلْحِق بِهِ الْجَسّ بِبَاقِي البشرة وعن بن عَبَّاس هُوَ الْجِمَاع ﴿فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً﴾ تَتَطَهَّرُونَ بِهِ لِلصَّلَاةِ بَعْد الطَّلَب وَالتَّفْتِيش وَهُوَ رَاجِع إِلَى مَا عَدَا الْمَرْضَى ﴿فَتَيَمَّمُوا﴾ اقْصِدُوا بَعْد دُخُول الْوَقْت ﴿صَعِيدًا طَيِّبًا﴾ تُرَابًا طَاهِرًا فَاضْرِبُوا بِهِ ضَرْبَتَيْنِ ﴿فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ﴾ مَعَ الْمِرْفَقَيْنِ منه ومسح يتعدى بنفسه وبالحرف ﴿إن الله كان عفوا غفورا﴾ ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا﴾ حَظًّا ﴿مِنَ الْكِتَاب﴾ وَهُمْ الْيَهُود ﴿يَشْتَرُونَ الضَّلَالَة﴾ بِالْهُدَى ﴿وَيُرِيدُونَ أَنْ تَضِلُّوا السَّبِيل﴾ تُخْطِئُوا الطَّرِيق الْحَقّ لتكونوا مثلهم ﴿وَاللَّه أَعْلَم بِأَعْدَائِكُمْ﴾ مِنْكُمْ فَيُخْبِركُمْ بِهِمْ لِتَجْتَنِبُوهُمْ ﴿وَكَفَى بِاَللَّهِ وَلِيًّا﴾ حَافِظًا لَكُمْ مِنْهُمْ ﴿وَكَفَى بِاَللَّهِ نَصِيرًا﴾ مَانِعًا لَكُمْ مِنْ كَيْدهمْ ﴿مِنَ الَّذِينَ هَادُوا﴾ قَوْم ﴿يُحَرِّفُونَ﴾ يُغَيِّرُونَ ﴿الْكَلِم﴾ الَّذِي أَنْزَلَ اللَّه فِي التَّوْرَاة مِنْ نَعْت مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿عَنْ مَوَاضِعه﴾ الَّتِي وُضِعَ عَلَيْهَا ﴿وَيَقُولُونَ﴾ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَرَهُمْ بِشَيْءٍ ﴿سَمِعْنَا﴾ قَوْلك ﴿وَعَصَيْنَا﴾ أَمْرك ﴿وَاسْمَعْ غَيْر مُسْمَع﴾ حَال بِمَعْنَى الدُّعَاء أَيْ لَا سَمِعْت ﴿وَ﴾ يَقُولُونَ لَهُ ﴿رَاعِنَا﴾ وَقَدْ نُهِيَ عَنْ خِطَابه بِهَا وَهِيَ كَلِمَة سَبّ بِلُغَتِهِمْ ﴿لَيًّا﴾ تَحْرِيفًا ﴿بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا﴾ قَدْحًا ﴿فِي الدِّين﴾ الْإِسْلَام ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ بَدَل وَعَصَيْنَا ﴿وَاسْمَعْ﴾ فَقَطْ ﴿وَانْظُرْنَا﴾ انْظُرْ إِلَيْنَا بَدَل رَاعِنَا ﴿لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ﴾ مِمَّا قَالُوهُ ﴿وَأَقْوَم﴾ أَعْدَل مِنْهُ ﴿وَلَكِنْ لَعَنَهُمُ اللَّه﴾ أَبْعَدهمْ عَنْ رَحْمَته ﴿بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا﴾ مِنْهُمْ كَعَبْدِ اللَّه بْن سَلَام وَأَصْحَابه ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَاب آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا﴾ مِنَ الْقُرْآن ﴿مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ﴾ مِنَ التَّوْرَاة ﴿مِنْ قَبْل أَنْ نَطْمِس وُجُوهًا﴾ نَمْحُو مَا فِيهَا مِنَ الْعَيْن وَالْأَنْف وَالْحَاجِب ﴿فَنَرُدّهَا عَلَى أَدْبَارهَا﴾ فَنَجْعَلهَا كَالْأَقْفَاءِ لَوْحًا وَاحِدًا ﴿أَوْ نَلْعَنهُمْ﴾ نَمْسَخهُمْ قِرَدَة ﴿كَمَا لَعَنَّا﴾ مَسَخْنَا ﴿أَصْحَاب السَّبْت﴾ مِنْهُمْ ﴿وَكَانَ أَمْر اللَّه﴾ قَضَاؤُهُ ﴿مَفْعُولًا﴾ وَلَمَّا نَزَلَتْ أَسْلَمَ عَبْد اللَّه بْن سَلَام فَقِيلَ كَانَ وَعِيدًا بِشَرْطٍ فَلَمَّا أَسْلَمَ بَعْضهمْ رُفِعَ وَقِيلَ يَكُون طَمْس وَمَسْخ قَبْل قِيَام السَّاعَة ﴿إِنَّ اللَّه لَا يَغْفِر أَنْ يُشْرَك﴾ أَيْ الْإِشْرَاك ﴿بِهِ وَيَغْفِر مَا دُون﴾ سِوَى ﴿ذَلِكَ﴾ مِنَ الذُّنُوب ﴿لِمَنْ يَشَاء﴾ الْمَغْفِرَة لَهُ بِأَنْ يُدْخِلهُ الْجَنَّة بِلَا عَذَاب وَمَنْ شَاءَ عَذَّبَهُ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ بِذُنُوبِهِ ثُمَّ يُدْخِلهُ الْجَنَّة ﴿وَمَنْ يُشْرِك بِاَللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا﴾ ذَنْبًا ﴿عَظِيمًا﴾ كبيرا ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنْفُسهمْ﴾ وَهُمْ الْيَهُود حَيْثُ قَالُوا نَحْنُ أَبْنَاء اللَّه وَأَحِبَّاؤُهُ أَيْ لَيْسَ الْأَمْر بِتَزْكِيَتِهِمْ أَنْفُسهمْ ﴿بَلِ اللَّه يُزَكِّي﴾ يُطَهِّر ﴿مَنْ يَشَاء﴾ بِالْإِيمَانِ ﴿وَلَا يُظْلَمُونَ﴾ يُنْقَصُونَ مِنْ أَعْمَالهمْ ﴿فَتِيلًا﴾ قَدْر قِشْرَة النَّوَاة ﴿انْظُرْ﴾ مُتَعَجِّبًا ﴿كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّه الْكَذِب﴾ بِذَلِكَ ﴿وَكَفَى بِهِ إِثْمًا مُبِينًا﴾ بَيِّنًا

ترجمه:- اې ایمان والو! دَ نشي په حالت کښې مونځ ته مه نیزدې کیږئ یعنې مونځ مه کوئ. ځکه چې ددې آیت دَنزول سبب دَنشي په حالت کښې په جمع سره مونځ کول وو. تردې چې

تاسو پوهه شئ چې تاسو څه وایئ؟ یعنی چې په هوش کښې راشئ. او نه دَ جنابت په حالت کښې ترکومې چې تاسو غسل اونه کړئ (مونځ کوئ) حالت د جنابت که دَ ادخال په وجه وی او که دَانزال په وجه. دَ جنبًا اطلاق په مفرد اوغیرمفرددواړو باندې کیږی بغیردَهغې نه چې تاسو دَ سفرپه حالت کښې یئ نوستاسو دَپاره (بغیردَ غسل) نه مونځ کول جائزدی. مسافرئی مستثنی کړې دې ځکه چې دَمسافرحکم نیزدې راروان دې. (اوهغه تیمم دې) اوونیلې شوی دی چې دَ مونځ دَ ځایونونه ممانعت یعنی جماعت کښې د داخلیدونه ممانعت دې مګربغیردَ حصاریدو نه په جمات کښې دَ تیریدواجازت دې اوکه چرې تاسو داسې بیمارئې چې اوبه درله نقصانی وی یا تاسو مسافرئې اوتاسو جنابت کښې ئې یامحدث (بې اودسه)یاتاسو کښې څوک دَ استنجاء نه راغلې وی(غائط) هغه ځائی چې دَ اودس ماتی دَپاره تیارکړې شوې وی یعنی هغه بې اودسه شوې وی یا تاسو ښځوسره مباشرت کړې وی او په یوقراءت کښې بغیردَ الف نه دې اودَدې دواړو هم یوه معنی ده دَ لمس نه ماخوذ دې دَدې معنی ده لاس لګول. دَ ابن عمر ﷠ هم دغه قول دې. دَامام شافعی ﷫ هم دغه مسلك دې. امام شافعی ﷫ باقی بدن ته لاس لګول هم دې (مس الید)سره یوځائی کړی دی اودَ ابن عباس ﷠ نه (لمس)معنی جماع نقل ده بیا تاسو ته اوبه ملاؤ نه شی دَ کوشش او طلب نه پس دَ مونځ دَپاره دَ طهارت اوبه ملاؤنه شی دَدې تعلق د مریض نه علاوه سره دې نوتاسو تیمم اوکړئ یعنی دَ وخت د داخلیدو نه پس پاکې خاورې اراده اوکړئ نو په دغه خاوره دوه ضربونه اووهئ اودا په خپل مخ باندې او لاسونوباندې سره دَ څنګلو راکاږئ (لفظ) مسح متعدی بنفسه اومتعدی بالحرف دواړه شان دې. بیشکه الله تعالی ډیر لوئی معاف کونکې او ډیر لوئی بخښونکې دې. آیا تاسو هغه خلق نه دی لیدلی چاته چې دَکتاب څه حصه ورکړې شوې ده؟ اوهغه یهود دی هغوی دَ هدایت په ځائی ګمراهی اخلی اوغواړی چې تاسو هم ګمراه شئ (یعنی) دَ حق دَ لارې نه اخوا شئ دې دَپاره چې تاسو هم دَهغوی په شان شئ. الله تعالی ستاسو دښمنان پیژنی اوتاسو دَهغوی نه خبروی دې دَپاره چې تاسو دَهغوی نه بچ شئ. اوالله تعالی ستاسو دَ پاره حفاظت کونکې کافی دې. اوالله تعالی تاسودَهغوی دَمکرنه بچ کونکې کافی دې. بعض یهودیان هغه کلمات دَ کوم په ذریعه چې په تورات کښې دَمحمد ﷺ صفتونه نازل فرمائیلی دی هغه دَ خپل اصل مفهوم نه اړوی یعنی دَهغه مفهوم نه دَ پاره چې کوم دپاره وضع کړې شوی دی. اوکله چې حضوپاك ﷺ هغوی ته څه فرمائی نو وائی چې مونږ ستاسوخبره واؤریده او ستاسودحکم نافرمانی مو اوکړه او (زمونږه) واؤره تاته دې واتته ورولې اوهغوی نبی علیه السلام ته رَاعِنَا (زمونږ رعایت اوکړه) وائی لیکن هغوی (راعنا) وئیلوکښې خپله ژبه تاووهی او په دین اسلام کښې پیغورونه کوی اودَهغوی په ژبه کښې دا دکنځلو کلمه ده. حالانکه په دغه کلمې سره د

خطاب کولو نه دوی منع کړې شوی دی او که چرې دې خلقو دَعَصَيۡنَا په ځائې سَمِعۡنَا وَاَطَعۡنَا او صرف وَاسۡمَعۡ وئیلې او وَانۡظُرۡنَا یعنی د رَاعِنَا په ځائې يئ اُنۡظُرۡاِلَيۡنَا (یعنی زمونږ رعایت اوکړه) ځه چې دوی وائی چې دَدې نه به بهتروی او دَهغې نه صحیح دی. لیکن الله تعالی هغوی دَ دوی دکفر په وجه دَ خپل رحمت نه لرې کړی دی. لهذا په دوی کښې به ایمان نه راوړی مګر ډیرلږ خلق لکه عبدالله بن سلام او دَهغه ملګری؟ اې هغه خلقو چاته چې کتاب ورکړې شوې دې په هغه کتاب قرآن باندې ایمان راوړئی کوم چې مونږ نازل کړې دې کوم چې دَهغې تصدیق کوی کوم چې تاسو سره دې یعنی تورات ددې نه وړاندې چې مونږ مخونه وران کړو یعنی په دې کښې څیزونه (مثلاً) سترګې پوزه اوریځې ورانې کړو او مخونه شاته راتاؤکړو او هغه د څټونو ګدایانو په شان یوه تختنې کړو یا مونږ په هغوی باندې لعنت اولیږلو یعنی دَ بیزوګانو په شکلو کښې مسخ کړو لکه څنګه چې مونږ لعنت کړې وو یعنی مسخ کړل ددوئ نه یوم السبت والا او دَالله تعالی حکم خو به پوره کیږی او کله چې (مذکوره آیت) نازل شو نو عبدالله بن سلام ایمان راوړو نو اووئیلې شو چې دا وعید مشروط وو خو چې کله دَهغوی نه بعض خلقو ایمان راوړو نو هغه وعید واپس واخستې شو او وئیلې شوی دی چې ورانول او مسخ کول به دَ قیامت نه وړاندې وی. یقینًا الله تعالی خپل ځان سره شرک کول نه بخښی دَدې نه علاوه نور ګناهونه معاف کوی دَ چادَپاره چې ګناه معاف کول اوغواړی. داسې چې هغوی به بغیر دَعذاب نه جنت کښې داخل کړی او کوم کس چې د الله تعالی سره (څوک) شریک ګرځوی یقینًا هغه دَ لوئې ګناه ارتکاب اوکړو. آیا تاسو هغه خلق اونه لیدل چې خپله ستائینه پخپله کوی؟ او هغه یهودیان دی هغوی وئیلې وو چې هغوی دَالله تعالی اولاد او دَهغه محبوب دی (یعنی) خبره داسې نه ده چې دَهغوی پاك وئیلو سره به هغوی پاك شی بلکه الله تعالی چې څوک غواړی دَایمان په ذریعه هغه لره پاکیزه کوی او په چا باندې هم دَهغوی په اعمالو کښې دکمې کولو سره دکهجورې دَهډوکی دَ جهلئ برابر هم ظلم اونه کړې شی. ګوره دوی څنګه په الله تعالی باندې بهتان تړی؟ او دا دَ صریح ګناه کیدو په اعتبار سره کافی ده.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: أي لاَ تُصَلُّوۡا د لاتقربوا الصلوة تفسیر په لا تصلوا سره کولو کښې په هغه خلقو باندې رداوکړې شو چې دَ لاتقربوا الصلوة نه دَ قرب إلى المسجد نه مراد اخلی.

قوله: بِأَن تَصۡحُوۡا، دا اَلصَّحۡوُ نه ماخوذ دې دَدې معنی ده دَ نشې دَ وجې نه دَ بې هوشئی نه په هوش کښې راتلل.

قوله: نَصۡبُهٗ عَلَى الۡحَالِ، دې سره اشاره ده چې وَلَاجُنُبًا عطف په اَنۡتُمۡ سُكَارٰی باندې دې او معطوف علیه چونکه دَحال کیدو دَ وجې نه منصوب دې لهذا وَلَاجُنُبًا هم دَ حال کیدو

د وجې نه منصوب وی. دَ جُنُبًا عطف وَانتم سكارى باندې دې.

قوله وَهُوَيُطْلَقُ عَلَى الْمُفْرَدِوَغَيْرِه دَدې عبارت دَ اضافې مقصد دَ يو سوال جواب ورکول دی.

سوال:- جُنُبًا، دَ لَاتَقْرَبُوْا د ضمير فاعل نه حال دې کوم چې جمع دې او جُنُبًا مفرددې لهذا حال واقع کيدل صحيح نه دی؟.

جواب:- جُنُبًا اسم، دمصدر اَلْاِجْتِنَاب قائمقام دې په کوم کښې چې مفردتثنيه جمع اومذکرمؤنث ټول برابر دی لهذا حال واقع کيدل صحيح دی اود وَلَاجُنُبًا عطف په وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى باندې دې يعنی تاسو دَ نشې په حالت کښې او دَ جنابت په حالت کښې مانځه ته مه نيزدې کيږئ.

قوله اِلَّاعَابِرِيْ سَبِيْلٍ، دا دَ مخاطبينود عام حالاتونه استثناء ده، أی لاتصلواجُنُبًا فی عامة الأحوال اِلَّافی حالة السفراِذالم تجدواماءً.

قوله قِيْلَ الْمُرَادُالنَّهْيُ عَنْ قِرْبَانِ مَوَاضِعِ الصَّلٰوةِ، دا دَ آيت دويم تفسيردې. امام شافعی رحمه الله هم دا اختيې دې.

قوله بَعْدَدُخُوْلِ الْوَقْتِ،دا تفسير دَامام شافعی رحمه الله دَ مذهب مطابق دې.

قوله تُرَابًا طَاهِرًا صعيدًا طيبًا دا تفسير دَ امام شافعی رحمه الله دَ مذهب مطابق دې. دَامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دَ تراب نه علاوه په شګه کاڼري وغيره هم تيمم صحيح دې.

قوله وَبِالْحَرْفِ دا په هغه خلقو باندې رد دې کوم چې وائی چې بوجوهکم کښې باء زائده ده ځکه چې مسح متعدی بنفسه هم ده او متعدی بحرف الباء هم.

قوله حَالٌ بِمَعْنَى الدُّعَاءِ دَدې اضافې مقصد داخودل دی چې غيرمُسْمَعٍ اِسْمَع دضمير انت نه حال دې نه چې صفت ځکه چې ضمير نه صفت واقع کيږی اونه موصوف. اوغيرمسمع دَ بددعاء په معنی کښې دې أی لاسَمِعْتَ بِصَمَمٍ او بموت.

قوله كَلِمَةُسَبٍّ يعنی دَ يهودو په لغت کښې کله د رَاعِنَا دَ کنځلو دَپاره استعماليده يا خو په دې وجه چې رعونت په معنی دَ حماقت نه مشتق دې په دې صورت کښې به الف دَ نداء وی معنی اې بې وقوف يا راعِنَا دَ عين کسره رانبکلوسره ای رَاعِيْنَا زمونږ ګډبه.

قوله بِتَزْكِيَتِهِمْ اَنْفُسَهُمْ دا د لَيْسَ خبردې.

قوله بَيِّنًا، د مُبِيْنًا تفسيرپه بَيِّنًا سره کولوکښې ين اشاره اوکړه چې مبينًا سره دَدې چې متعدی دې مګر په معنی کښې لازم دې.

[ایاتونه: ٥١-٥٩]

وَنَزَلَ فِي كَعْب بْن الْأَشْرَف وَنَحْوه مِنْ علماء اليهود قَدِمُوا مَكَّة وَشَاهَدُوا قَتْلَى بَدْر وَحَرَّضُوا الْمُشْرِكِينَ عَلَى الْأَخْذ بِثَأْرِهِمْ وَمُحَارَبَة النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ﴾ صَنَمَانِ لِقُرَيْشٍ ﴿وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا﴾ أَبِي سُفْيَان وَأَصْحَابه حِين قَالُوا لَهُمْ أَنَحْنُ أَهْدَى سَبِيلًا وَنَحْنُ وُلَاة الْبَيْت نَسْقِي الْحَاجّ وَنَقْرِي الضَّيْف وَنَفُكّ الْعَانِي وَنَفْعَل أَمْ مُحَمَّد وَقَدْ خَالَفَ دِين آبَائِهِ وَقَطَعَ الرَّحِم وَفَارَقَ الْحَرَم ﴿هَؤُلَاءِ﴾ أَيْ أَنْتُمْ ﴿أَهْدَى مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا﴾ أَقْوَم طريقا ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ وَمَنْ يَلْعَنِ﴾ هـ ﴿اللَّهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ نَصِيرًا﴾ مَانِعًا مِنْ عذابه ﴿أَمْ﴾ بل أ ﴿لَهُمْ نَصِيبٌ مِنَ الْمُلْكِ﴾ أَيْ لَيْسَ لَهُمْ شَيْء مِنْهُ وَلَوْ كَانَ ﴿فَإِذًا لَا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا﴾ أَيْ شَيْئًا تَافِهًا قَدْر النُّقْرَة فِي ظَهْر النَّوَاة لِفَرْطِ بُخْلهمْ ﴿أَمْ﴾ بَلْ ﴿يَحْسُدُونَ النَّاسَ﴾ أَيْ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ﴾ مِنْ النُّبُوَّة وَكَثْرَة النِّسَاء أَيْ يَتَمَنَّوْنَ زَوَاله عَنْهُ وَيَقُولُونَ لَوْ كَانَ نَبِيًّا لَاشْتَغَلَ عَنْ النِّسَاء ﴿فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ﴾ جَدّه كَمُوسَى وَدَاوُد وَسُلَيْمَان ﴿الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾ وَالنُّبُوَّة ﴿وَآتَيْنَاهُمْ مُلْكًا عَظِيمًا﴾ فَكَانَ لِدَاوُد تِسْع وَتِسْعُونَ امْرَأَة وَلِسُلَيْمَان أَلْف مَا بَيْن حُرَّة وَسُرِّيَّة ﴿فَمِنْهُمْ مَنْ آمَنَ بِهِ﴾ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَمِنْهُمْ مَنْ صَدَّ﴾ أَعْرَضَ ﴿عَنْهُ﴾ فَلَمْ يُؤْمِن ﴿وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا﴾ عَذَابًا لِمَنْ لَا يؤمن ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ﴾ نُدْخِلهُمْ ﴿نَارًا﴾ يَحْتَرِقُونَ فِيهَا ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ﴾ احترقت ﴿جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا﴾ بِأَنْ تُعَاد إِلَى حَالهَا الْأَوَّل غَيْر مُحْتَرِقَة ﴿لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ﴾ لِيُقَاسُوا شِدَّته ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا﴾ لَا يُعْجِزهُ شَيْء ﴿حَكِيمًا﴾ فِي خلقه ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا لَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ﴾ مِنَ الْحَيْض وَكُلّ قَذَر ﴿وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا﴾ دَائِمًا لَا تَنْسَخهُ شَمْس وَهُوَ ظِلّ الْجَنَّة ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ﴾ أَيْ مَا اُؤْتُمِنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحُقُوق ﴿إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ نَزَلَتْ لَمَّا أَخَذَ عَلِيّ رَضِيَ اللّٰه عَنْهُ مِفْتَاح الْكَعْبَة مِنْ عُثْمَان بْن طَلْحَة الحجبي سَادِنهَا قَسْرًا لَمَّا قَدِمَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّة عام الْفَتْح وَمَنَعَهُ وَقَالَ لَوْ عَلِمْت أَنَّهُ رَسُول اللّٰه لَمْ أَمْنَعهُ فَأَمَرَ رَسُول اللّٰه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَدِّهِ إِلَيْهِ وَقَالَ هَاكَ خَالِدَة تَالِدَة فَعَجِبَ مِنْ ذَلِكَ فَقَرَأَ لَهُ عَلِيّ الْآيَة فَأَسْلَمَ وَأَعْطَاهُ عِنْد مَوْته لِأَخِيهِ شَيْبَة فَبَقِيَ فِي ولده الآية وَإِنْ وَرَدَتْ عَلَى سَبَب خَاصّ فَعُمُومهَا مُعْتَبَر بِقَرِينَةِ الْجَمْع ﴿وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ﴾ يَأْمُرُكُمْ ﴿أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا﴾ فِيهِ إدغام نِعْمَ فِي مَا النَّكِرَة الْمَوْصُوفَة أَيْ نِعْمَ شَيْئًا ﴿يَعِظُكُمْ بِهِ﴾ تَأْدِيَة الْأَمَانَة وَالْحُكْم بِالْعَدْلِ ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا﴾ لِمَا يُقَال ﴿بَصِيرًا﴾ بما يفعل ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي﴾ واصحاب ﴿الْأَمْرِ﴾ أَيْ الْوُلَاة ﴿مِنْكُمْ﴾ إِذَا أَمَرُوكُمْ بِطَاعَةِ اللّٰه وَرَسُوله ﴿فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ﴾ اخْتَلَفْتُمْ ﴿فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ﴾ أَيْ إِلَى كِتَابه ﴿وَالرَّسُولِ﴾ مُدَّة حَيَاته وَبَعْده إِلَى سُنَّته أَيْ اكْشِفُوا عَلَيْهِ مِنْهُمَا ﴿إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ﴾ أَيْ الرَّدّ إِلَيْهِمَا ﴿خَيْرٌ﴾ لَكُمْ مِنَ التَّنَازُع وَالْقَوْل بِالرَّأْي ﴿وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾ مَآلًا.

ترجمه:- اودَعلماء (یهودو) نه کعب بن اشرف غوندې خلقو باره کښې (راتلونکې آیت) نازل شو. کله چې دا خلق مکې ته راغلل اودَ مقتولینِ بدر مشاهده ئې اوکړه اومشرکانولره یې دَ خپلو مقتولینو دَ وینې بدله اخستلو او نبی کریم ﷺ سره په جنګ کولو باندې تیارکړل، آیا تاسو هغه خلق اولیدل چاته چې دَکتاب څه حصه ورکړې شوې ده (دَدې باوجود) په بت اوشیطان باندې ایمان لری (جبت او طاغوت) دَ قریشو دوؤ بتانونامې دی او دکافرانو یعنی د ابوسفیان اودَ هغه دَ ملګروپه باره کښې وائی کله چې دَهغوی نه تپوس اوکړې شو چې مونږ په نیغه لاریو که محمد ﷺ؟ حال دادې چې مونږ دَ بیت الله متولیان یو حاجیانو باندې اوبه څکوؤ اودَمیلمنو ملمستیاکوو او قیدیان راخلاصوو اودَدې نه علاوه هم (ډیر څه) کوو. حالانکه هغوی دَخپل پلارنیکه دَ دین مخالفت اوکړو قطع رحمی ئې اوکړه او حرم ته ئې خیرباد اوونیل چې دا یعنی تاسو دَایمان والونه زیات په نیغه لاریئی. دا هم هغه خلق دی په چاچې الله تعالی لعنت کړې دې په چا چې الله تعالی لعنت اوکړی نو ته به دَهغه هیڅوک امدادی اونه مومې یعنی دَهغه دَ عذاب نه منع کونکی، آیا په حکومت کښې دَهغوی څه حصه شته؟ یعنی دَهغوی په حکومت کښې هیڅ حصه نشته اوکه چرې داسې وی نودا خلق به (نورو خلقوته) دَخپل بخل دَ وجې نه به یو سپک څیز یعنی دَ کهجوری دَهډوکی دَپاسه جهلئ برابرهم ورنه کړی. بلکه (حقیقت دادې) چې دا خلق په خلقو یعنی په محمد ﷺ باندې حسدکوی په دې وجه چې الله تعالی هغه ته دَخپل فضل نه نبوت او ډیرې ښځې ورکړې دی یعنی دَحضورپاک دَ نعمت دَ زوال آرزو کوی اووائی چې که چرته دا نبی وو نودَ ښځوسره به ئې شغل نه ساتلو نو مونږ خودَ حضورپاک ﷺ نیکه حضرت ابراهیم علیه السلام آل ته چې په هغوی کښې موسی علیه السلام حضرت داؤد علیه السلام او سلیمان علیه السلام دې کتاب اوحکمت (نبوت) ورکړو اومونږ هغویٔ ته یوعظیم سلطنت ورکړو. دَحضرت داؤد علیه السلام یو کم سل بیبیانې اودَ حضرت سلیمان آزادې او وینځې ټولې جمع کیدو سره یوزر وې نو په هغوی کښې چا په محمد ﷺ باندې ایمان راوړو اوچا دَهغوی نه اعراض اوکړو او ایمان ئې قبول نه کړو. اوکوموخلقو چې ایمان رانوړو دَهغوی دَ عذاب دَ پاره جهنم کافی دې. کوموخلقوچې زمونږ دَآیاتونونه انکاراوکړو ډیر زر به مونږ هغوی په اور کښې واچوو په کوم کښې چې به سوزیږی اوکله چې دَهغوی څرمنې اوسوزی نومونږ به دَهغې په ځائی نورې څرمنې ورواغوندو. په دې توګه چې بغیردَ سوزیدونه به سابقه حالت ته واپس کړې شی. دې دَپاره چې عذاب اوڅکی. (یعنی) دې دَپاره چې هغوی دَدې سختی محسوس کړی یقیناً الله تعالی غالب، دَمخلوق باره کښې حکمت والا دې. هغه لره هیڅ یو څیز عاجزکولې نه شی اوکوموخلقو چې ایمان راوړو اونیک عملونه ئې اوکړل مونږ به ډیر زر هغوی داسې جنتونو ته ورداخل کړو په کومو کښې چې به نهرونه جاری وی په کوموکښې چې به

هغوی همیشه همیشه دپاره اوسیږی. دهغوی دپاره به هلته د حیض اوهرقسم گندگئی نه صفا ستره بیبیانې وی او مونږ به هغوی په گڼو سورو کښې داخل کړو. یعنی د همیشه والا سوری کښې کوم به چې نمر نه شی ختمولې اوهغه به د جنت سورې وی. الله تعالی تاسو ته حکم درکوی چې تاسو د امانت والو حقوقو هغه اماتونه په کوموچې تاسو امین جوړ کړې شوی ئې هغوی ته اورسوئی. (مذکوره آیت) هغه وخت نازل شو کله چې حضرت علی ﷺ د بیت الله چابی د عثمان بن طلحه حجبی د بیت الله دخادم نه په زور واخستله کوم وخت چې نبی کریم ﷺ د فتح مکه په کال مکې ته تشریف راوړلې وو. (او عثمان بن طلحه) حضورپاك ته د چابئ ورکولو نه انکاراوکړو او وئې وئیل چې که زما دا یقین وې چې ته دالله تعالی رسول ئې نو مابه نه وه منع کړې. نو حضورپاك حضرت علی ﷺ ته دچابئ واپس کولو حکم اوکړو. (او دمعذرت دپاره ئې اوفرمائیل) واخله (چابیانې) دا خدمت به د قیامته پورې دهمیش همیش دپاره هم تاسوسره وی.
عثمان بن طلحه ته په دې معاملې سره ډیرتعجب اوشو نوحضرت علی ﷺ هغه ته مذکوره آیت تلاوت کړو. نوعثمان ایمان راوړو او عثمان بن طلحه هغه چابی دمرگ په وخت خپل رور شیبه ته ورکړه اودهغوی په اولاد کښې (ترننه پورې) باقی ده. د آیت نزول سره ددې چې په خاص واقعه کښې شوې دې خود جمع صیغود قرینې د وجې معتبردې عموم دې اوکله چې د خلقو فیصله کوئی نوتاسو ته (الله) حکم درکوی چې په عدل او انصاف سره فیصله کوئی یقینًا دا یوبهترڅیزدې. په دې کښې دنِعْمَ د میم په مَا نکره موصوفه کښې ادغام دې ای نعم شیئًا یعظکم د کوم چې تاسو ته الله تعالی نصیحت کوی. (یعنی) د امانت ورکول اوپه انصاف سره فیصله کول بیشکه الله تعالی دخبرو اوریدونکې اوداعمالولیدونکې دې. اې ایمان والو! فرمانبرداری کوئی دالله تعالی اودهغه د رسول اودخپل اولوالامر حاکمانو کله چې تاسو ته دالله تعالی اود هغه د رسول ﷺ د اطاعت حکم اوکړی. که په یوه معامله کښې ستاسو اختلاف ښکاره شی نوهغه دالله تعالی یعنی دهغه دکتاب طرف ته او د رسول الله ﷺ طرف ته راوا پس کړئی دهغه په ژوند کښې اودهغه د وفات نه پس دهغه د سنت طرف ته راوا پس کړئی. یعنی دهغې حکم د قرآن اوسنت نه معلوم کړئی که چرې ستاسو په الله تعالی او په ورځ د قیامت باندې ایمان وې او دا په قرآن اوسنت باندې پیش کول ستاسو دپاره بهتردی د جگړو او د رائې قائمولونه اوپه اعتبارد انجام ډیر ښه دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بِثَارِهِمْ، الثَّار والثورة، د وینې بدله (ف) ثَارًا همزه اوبغیر دهمزه دواړه طریقوسره د وینې بدله اخستل.

قوله: لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا، لِلَّذِيْنَ، دَ يقولون صله ده (كما فى لغات القرآن للدرويش) او دَ بعض حضراتو وينا ده چې للذين كښې لام په معنى دَ اجل دې نه چې دَ يقولون صله، دَ يقولون قائل كعب بن اشرف او دَهغه ملګرى دى. لهذا اوس به دا اعتراض نه وارديږى چې دَ لام مدخول چې دَ قول نه پس واقع وى دَ قول مخاطب وى اودلته داسې نه ده. مطلب دا دې چې كعب بن اشرف دَ ابوسفيان اودَ هغه دَ ملګرو باره كښې اووئيل هؤلاء أهدى من الذين آمنوا سبيلاً. (ترويح الارواح)

قوله: العَانِيْ قيدى، بنديوان.

قوله: نَفْعَلُ، په بعض نسخو كښې د نفعلُ په ځائې لعقلُ دې عقل ديت ته وائى يعنى مونږ ديت وركوو.

قوله: هؤلاء، هؤلاء اسم اشاره غائب راوړلو وجه داده چې دا خلق دَ يقولون مخاطب نه دى.

قوله: لَيْسَ لَهُمْ تفسير په ليس لهم شئ سره كولو كښې يئ اشاره اوكړه چې همزه په معنى د استفهام انكارى دې.

قوله: لَوْكَانَ په دې كښې اشاره ده چې فَإِذًا لايؤتون الناس نقيراً جمله جزائيه ده او فاء جزائيه ده او دَدې شرط محذوف دې كوم چې مفسرعلام لوكان وئيلوسره ظاهر كړو يا فَإِذًا كښې فاء عاطفه نه ده ګنى عطف د خبريه الانشاء به لازم شى ځكه چې استفهام انشاء دې.

قوله: شَيْئًا كَافِيًا اى شيئا حقيراً.

قوله: قَدْرَ النُّقْرَةِ فِي ظَهْرِ النَّوَاةِ، دا دَ نَاقِيًا تفسير دې نُقرة په ضمې سره دَ كهجورې دَهډوكى په شاؤدى كښې نرى تار ته وائى.

قوله: يَتَمَنَّوْنَ زَوَالَهُ عَنْهُ په دې سره دَ غبطې نه اعتراز مقصود دى.

قوله: عَذَابًا، د كفى جهنم ته د نسبت نه تميزدې.

قوله: إِلَى حَالِهَا الأَوَّلِ په دې كښې اشاره ده چې دَمغائرت نه مراد مغائرت فى الصفت دې نه چې مغائرت فى الذات دې دَپاره چې دَغيرمجرم تعذيب لازم رانه شى.

قوله: سَادِنُهَا اى خادمها.

قوله: جَدُّهُ اى جد النبى ﷺ.

قوله: مَنَعَهُ اى مَنَعَ العثمان الحجب النبى صلى الله عليه وسلم يعنى هغوى دَ بيت الله كنجيانې

ورکولو په دې وينا سره انکار اوکړو چه که چرې ماته نبي ګنړلې نو کنجی ورکولو نه به مې منع نه کوله.

قوله: هَاكَ اي خذها.

قوله: تَالِدًا دا د خالدًا اتباع نه دي.

قوله: نِعْمَ شَيْئًا په دې کښې اشاره ده چې نِعِمَّا کښې په نعمَ کښې ضمير فاعل مستتر تميز دي.

قوله: تَأْدِيَةُ الْأَمَانَةِ، په دې کښې اشاره ده چې د نِعْمَ مخصوص بالمدح محذوف دې کوم چې مفسر علام خپل قول تأدية الأمانة سره ظاهر کړې دې.

اياتونه: ٦٠-٧٠]

وَنَزَلَ لَمَّا اخْتَصَمَ يَهُودِيّ وَمُنَافِق فَدَعَا الْمُنَافِق إلَى كَعْب بْن الْأَشْرَف لِيَحْكُم بَيْنهمَا وَدَعَا الْيَهُودِيّ إلَى النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فاتياه فقضى لِلْيَهُودِيِّ فَلَمْ يَرْضَ الْمُنَافِق وَأَتَيَا عُمَر فذكر اليهودي ذلك فقال للمنافق كذلك قَالَ نَعَمْ فَقَتَلَهُ ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ﴾ الْكَثِير الطُّغْيَان وَهُوَ كَعْب بْن الْأَشْرَف ﴿وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ﴾ وَلَا يُوَالُوهُ ﴿وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ عَنْ الحق ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنْزَلَ اللَّهُ﴾ فِي الْقُرْآن مِنْ الْحُكْم ﴿وَإِلَى الرَّسُولِ﴾ لِيَحْكُم بَيْنكُمْ ﴿رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ﴾ يُعْرِضُونَ ﴿عَنْكَ﴾ إلَى غيرك ﴿صُدُودًا﴾ ﴿فَكَيْفَ﴾ يَصْنَعُونَ ﴿إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ﴾ عُقُوبَة ﴿بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ﴾ مِنْ الْكُفْر وَالْمَعَاصِي أَيْ أَيَقْدِرُونَ عَلَى الْإِعْرَاض وَالْفِرَار مِنْهَا لَا ﴿ثُمَّ جَاءُوكَ﴾ مَعْطُوف عَلَى يَصُدُّونَ ﴿يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ﴾ مَا ﴿أَرَدْنَا﴾ بِالْمُحَاكَمَةِ إلَى غَيْرك ﴿إِلَّا إِحْسَانًا﴾ صُلْحًا ﴿وَتَوْفِيقًا﴾ تَأْلِيفًا بَيْن الْخَصْمَيْنِ بِالتَّقْرِيبِ فِي الْحُكْم دُون الْحَمْل عَلَى مُرّ الْحَقّ ﴿أُولَئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ﴾ مِنْ النِّفَاق وَكَذِبهمْ فِي عُذْرهمْ ﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ بِالصَّفْحِ ﴿وَعِظْهُمْ﴾ خَوِّفْهُمْ اللّٰه ﴿وَقُلْ لَهُمْ فِي﴾ شَأْن ﴿أَنْفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا﴾ مُؤَثِّرًا فِيهِمْ أَيْ ازْجُرْهُمْ لِيَرْجِعُوا عَنْ كُفْرهمْ ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ﴾ فِيمَا يَأْمُر بِهِ وَيَحْكُم ﴿بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ بِأَمْرِهِ لَا لِيُعْصَى وَيُخَالَف ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ﴾ بِتَحَاكُمِهِمْ إلَى الطَّاغُوت ﴿جَاءُوكَ﴾ تَائِبِينَ ﴿فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ﴾ فِيهِ الْتِفَات عَنْ الْخِطَاب تَفْخِيمًا لِشَأْنِهِ ﴿لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا﴾ عَلَيْهِمْ ﴿رَحِيمًا﴾ بهم ﴿فَلَا وَرَبِّكَ﴾ لَا زَائِدَة ﴿لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ﴾ اخْتَلَطَ ﴿بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا﴾ ضِيقًا أَوْ شَكًّا ﴿مِمَّا قَضَيْتَ﴾ بِهِ ﴿وَيُسَلِّمُوا﴾ يَنْقَادُوا لِحُكْمِك ﴿تَسْلِيمًا﴾ مِنْ غَيْر مُعَارَضَة ﴿وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ﴾ مُفَسِّرَة ﴿اقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِنْ دِيَارِكُمْ﴾ كَمَا كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إسْرَائِيل ﴿مَا فَعَلُوهُ﴾ أَيْ الْمَكْتُوب عَلَيْهِمْ ﴿إِلَّا قَلِيلٌ﴾ بِالرَّفْعِ عَلَى الْبَدَل وَالنَّصْب عَلَى الِاسْتِثْنَاء ﴿مِنْهُمْ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ﴾ مِنْ طَاعَة الرَّسُول صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا﴾ تحقيقا لإيمانهم ﴿وَإِذًا﴾ أَيْ لَوْ تَثَبَّتُوا ﴿لَآتَيْنَاهُمْ مِنْ لَدُنَّا﴾ مِنْ عِنْدنَا ﴿أَجْرًا

عَظِيمًا﴾ هُوَ الْجَنَّة ﴿وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا﴾ قَالَ بَعْض الصَّحَابَة لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ نَرَاك فِي الْجَنَّة وَأَنْت فِي الدَّرَجَات الْعُلَى وَنَحْنُ أَسْفَل مِنك فنزل ﴿وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُولَ﴾ فِيمَا أَمَرَ بِهِ ﴿فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّٰه عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ﴾ أَفَاضِل أَصْحَاب الْأَنْبِيَاء لِمُبَالَغَتِهِمْ فِي الصِّدْق وَالتَّصْدِيق ﴿وَالشُّهَدَاءِ﴾ الْقَتْلَى فِي سَبِيل اللّٰه ﴿وَالصَّالِحِينَ﴾ غَيْر مَنْ ذُكِرَ ﴿وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا﴾ رُفَقَاء فِي الْجَنَّة بِأَنْ يَسْتَمْتِع فِيهَا بِرُؤْيَتِهِمْ وَزِيَارَتهمْ وَالْحُضُور مَعَهُمْ وَإِنْ كَانَ مَقَرّهمْ فِي الدَّرَجَات الْعَالِيَة بِالنِّسْبَةِ إِلَى غَيْرهمْ ﴿ذَلِكَ﴾ أَيْ كَوْنهمْ مَعَ مَنْ ذُكِرَ مُبْتَدَأ خَبَره ﴿الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ﴾ تَفَضَّلَ بِهِ عَلَيْهِمْ لَا أَنَّهُمْ نَالُوهُ بِطَاعَتِهِمْ ﴿وَكَفَى بِاللّٰهِ عَلِيمًا﴾ بِثَوَابِ الْآخِرَة أَيْ فَثِقُوا بِمَا أَخْبَرَكُمْ بِهِ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْل خَبِير

ترجمه:- (راتلونکې آيت) هغه وخت نازل شو کوم وخت چې د يويهودی او منافق په مينځ کښې د يومقتول په معامله کښې جګړه پيدا شوه. منافق کعب بن اشرف له د تللودپاره اووئيل دې دپاره چې هغه د دوی په مينځ کښې فيصله اوکړی او يهودی رسول الله ﷺ له د تللو اووئيل. چنانچه کله چې داخلق دحضورپاك ﷺ په خدمت کښې حاضرشو نو حضورپاك د يهودی په حق کښې فيصله اوکړه مګرمنافق په دې راضی نه شو او دواړه حضرت عمر ؓ له راغلل. يهودی د رسول الله ﷺ د فيصلې ذکر د حضرت عمر ؓ په وړاندې اوکړو (حضرت عمر ؓ) منافق ته اووئيل آيا دا خبره هم داسې ده؟ منافق اقرار اوکړو نوحضرت عمر ؓ هغه منافق قتل کړو. آيا تاسو د هغه خلقو په معامله کښې غور اوکړو دچاچې دعوی ده چې هغوئ په هغه څه باندې ايمان راوړلې دې کوم چې په تاباندې نازل کړې شوې دی اوکوم چې ستاسونه وړاندې نازل کړې شوی دی خپلې فيصلې غيرالله ته اوړل غواړی (طاغوت) کثيرالطغيان ته وئيلې شی اوهغه کعب بن اشرف دې حالانکه دوی ته حکم ورکړې شوې دې چې د طاغوت په وړاندې دې خپل سر نه ټيټوی اود هغه اقتداردې نه تسليموی شيطان خو هم دا غواړی چې هغوی د حق نه واړوی او لرې ئې بوځی. اوکله چې دوی ته وئيلې شی چې د هغه حکم طرف ته راشئ کوم چې په قرآن پاك کښې الله تعالی نازل کړې دې اورسول ﷺ ته راشئ چې ستاسو فيصله اوکړی نوتاسو به دا منافقان ګورئ چې تاسو نه ډير بې رخی کولوسره د نورو طرف ته مخ کونکی دی. نوهغه وخت به څه کوی چې کله د هغوی د کړو په وجه اوهغه کفر اومعاصی دی په دوی باندې مصيبت (عقوبت) راشي يعنی آيا دا خلق به د دې نه په اعراض او تيخته باندې قادر شی؟ نه، بيا به دا (منافق) د الله تعالی قسم خوړلوسره تاسو له راځی د دې عطف په يَصُدُّونَ باندې دې غيرله مقدمه اوړلو کښې زمونږ مقصد په حکم کښې اعتدال پيداکولوسره د فريقينو په مينځ کښې صلح او ميل ملاپ کول وو نه چې په تريخ حق باندې آماده کول، دا هغه خلق دی د چا د زړونو راز چې په الله تعالی باندې ښه ښکاره دې اوهغه نفاق اود هغوی په عذرکښې کذب بيانول دی. لهذا ته د دوی مخ واړوه اودوئ ته نصيحت کوه (يعنی) دوی د الله تعالی نه ويروه او د هغوی په معامله کښې هغوی سره

مؤثرخبره کوه یعنی زیات منع کونکې دې دپاره چې هغوی دَ خپل کفرنه منع شی اومونږ
چې کوم یو رسول هم لیږلې دې هغه مو دَدې دپاره لیګلې دې چې دکوم څیز هغه حکم اوکړی په
هغې کښې دَالله تعالی په حکم سره دَهغه اطاعت اوکړې شی اودَهغه نافرمانی اومخالفت اونه
کړې شی اوکاش چې کوم وخت دې خلقو طاغوت ته خپله مقدمه اوړلوسره په خپل ځان باندې
زیاتې اوکړو توبه کولوتاله راغلی وی اودَالله تعالی نه ئې معافی غوښتلې وی او رسول هم
دَدوی دپاره استغفارکړې وی په دې کښې دَ خطاب نه (غیبت) طرف ته (التفات دې) دنبی
علیه السلام دَ عظمت شان دَ اظهار دَ پاره نودوی به ضرور الله تعالی دَدوی توبه قبلونکې او
مهربان موندلې وی نو قسم دې ستا دَ پروردګار لا زائده ده دوئ دَهغه وخته پورې مؤمنان کیدې نه
شی ترکومې چې په خپل مینځ کښې اختلافی معامله کښې تاسو حکم اونه منی. بیا چې کومه
نیصله تاسو اوکړئی په هغې کښې په خپل زړه کښې هیڅ تنګی یا شك اونه مومئ اوستا حکم بغیر
د څه معارضې پوره پوره اومنی اوکه مونږ په دوی باندې دا فرض کړې وی چې خپل ځانونه قتل
کړئی یادَ خپلو کورونونه اوځئ لکه چې مونږ په بنی اسرائیلو باندې فرض کړې
وو (أن) مفسره دې نودغه فرض به ډیرو کمو خلقو اداکولو. قلیل په رفع سره دې دَ بدلیت دَ
وجې نه اونصب سره دې دَ استثناء دَ وجې نه اوکه چرې دې خلقو هغه کارکولې دَ کوم چې
دوی ته حکم ورکړې شوې دې اوهغه طاعت رسول دې نودا به دَهغوی په حق کښې ډیره بهتره وه
اودَهغوی ایمان لره یې ډیر زیات مضبوط ساتونکې هم اوهغه وخت به مونږ دَخپل طرف نه دوی ته
ضرور اجرعظیم ورکولو اوهغه جنت دې اومونږ به هغوی ته نیغه لار خودله. بعض صحابه
کرامو رضي الله عنهم حضورپاك ته عرض اوکړویا رسول الله ﷺ مونږ به په جنت کښې ستاسو
دیدارڅنګه کوو؟ څکه چې تاسو به په اوچتو درجوکښې یئ او مونږ به ټه ښکته درجو
کښې یو نودا آیت نازل شو چې څوک هم دَ الله تعالی اودَ هغه دَ رسول په ماموربه کښې
فرمانبرداری کوی هغوی به هغه د خلقو سره وی په چاچې الله تعالی انعام فرمائیلې دې. لکه چې
انبیاء او صدیقین دَ انبیاء کرامو په ملګروکښې هغه خلق دی کوم چې ډیر غوره دی
اوشهداء دَالله تعالی په لارکښې قتل کړې شوی او دَ مذکورینو نه علاوه نورصالحین دا
بهترین رفیق دی یعنی په جنت کښې رفقاء دی. په داسې توګه چې دَهغوی د دیدار نه اودَ
هغوی د زیارت نه اود هغوی سره د حاضرئی نه به مستفید کیږی. سره ددې چې دَهغوی
مقامات به دَ نوروپه نسبت په اوچتودرجوکښې وی. دا فضل یعنی د مذکورینو سره کیدل
دَ الله تعالی دَطرف نه دی. (ذلك) مبتداء ده او (الفضل) دَدې خبر دې دَ کوم چې الله تعالی په
هغوی باندې فضل کړې دې نه دا چې هغوی د خپل طاعت په ذریعه حاصل کړې دې.
اوهم دَالله تعالی علم کافی دې دآخرت ثواب دَ پیژندلوپه اعتبارسره لهذا دَ کوم چې هغه
تاسو ته خبردرکړی په هغې اعتماد کوئی تاسو ته دَهغه په شان هیڅ څوک خبرنه شی درکولې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: يَصُدُّوْنَ صَدَّ (ن) نه مضارع جمع مذکر غائب، هغوئ اعراض کوی اومنع کوی دَ يَصُدُّوْنَ تفسیر په يُعْرِضُوْنَ سره دَ بیان معنې دَپاره دې که رَأَيْتَ نه رؤیت بصری مراد وی نو يصدون به جمله حالیه وی او که رویت قلبی مراد وی نو يَصُدُّوْنَ به مفعول ثانی وی او المنافقين مفعول اول او صدودًا مفعول مطلق.

قوله: معطوف علی يصدونَ، یعنی په شروع کښې ستانه اعراض کوی او بیا روستو دَاعراض معافی غواړی اودَ دروغو قسمونه خوری او وائی چې زمونږ مقصد خو دَ طرفین دَحال اصلاح کول وو نه چې ستاسو مخالفت.

قوله: جاءُوكَ ددې عطف په يصدون باندې دې او په مینځ کښې جمله معترضه ده يحلفون جمله حالیه ده.

قوله: بِالتَّقْرِيْبِ فِى الْحُكْمِ یعنی خصمینولره دَهغوی مراد ته نیزدې کولوسره صلح کول دی نه چې دَ حق مطابق فیصله کولوسره د الحق مُرّ په قبلولو باندې مجبورکول.

قوله: اِلْتِفَاتٌ عَنِ الْخِطَابِ دا یعنی په جَاءُوكَ کښې حضورپاك ﷺ ته خطاب دې او استغفرَلَهُمُ الرسولُ کښې رسول دَاسم ظاهر د وجې غائب دې.

قوله: تَفْخِيْمًا لِشَانِهِ یعنی د خطاب نه اعراض کولوسره یې د نبی علیه السلام خاص وصف (رسالت) طرف ته التفات اوفرمائیلو.

قوله: به بِمَا قَضَيْتَ کښې ما موصوله ده ځکه چې صله کله جمله وی نو دَعائد ضرورت وی.

قوله: اَفَاضِلِ اَصْحَابِ الْاَنْبِيَاءِ دا دَ صدیق دَ کُنږ تعریفونو نه ته اشاره ده.

قوله: غَيْرَمَنْ ذُكِرَ په دې کښې دَ تکرار نه اجتناب طرف ته اشاره ده.

قوله: لَاَنَّهُمْ نَالُوْهُ بِطَاعَتِهِمْ په دې کښې په معتزلو باندې رد دې.

[ایاتوله: ۷۱-۷٦]

(يأيها الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ) مِنْ عَدُوِّكُمْ أَيْ احْتَرِزُوا مِنْهُ وَتَيَقَّظُوا لَهُ (فَانْفِرُوا) انْهَضُوا إِلَى قِتَالِه (ثُبَاتٍ) مُتَفَرِّقِينَ سَرِيَّة بَعْد أُخْرَى (أَوِانْفِرُوا جَمِيعًا) مُجْتَمِعِينَ (وَإِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَيُبَطِّئَنَّ) لَيَتَأَخَّرَنَّ عَنِ الْقِتَال كَعَبْدِ اللّه بْن أُبَيّ الْمُنَافِق وَأَصْحَابه وَجَعَله مِنْهُمْ مِنْ حَيْثُ الظَّاهِر وَاللَّام فِي الْفِعْل لِلْقَسَم (فَإِنْ أَصَابَتْكُمْ مُصِيبَةٌ) كَقَتْلٍ وَهَزِيمَة (قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُنْ مَعَهُمْ شَهِيدًا) حَاضِرًا فَأُصَاب (وَلَئِنْ) لَام قَسَم (أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِنَ اللّهِ) كَفَتْحٍ وَغَنِيمَة (لَيَقُولَنَّ) نَادِمًا (كَأَنْ) مُخَفَّفَة وَاسْمهَا مَحْذُوف أَيْ كَأَنَّهُ (لَمْ يَكُنْ) بِالْيَاءِ وَالتَّاء (بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ مَوَدَّةٌ) مَعْرِفَة وَصَدَاقَة وَهَذَا رَاجِع إِلَى قَوْله قَدْ أَنْعَمَ اللّه عَلَيَّ اعْتَرَضَ بِهِ بَيْن

التَّنْزِيْل وَمَقُوله وَهُوَ ﴿يَا﴾ لِلتَّنْبِيهِ ﴿لَيْتَنِي كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ آخذ حظا وافرا من الغنيمة قال تعالى ﴿فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ﴾ لِإِعْلَاءِ دِينِه ﴿الَّذِينَ يَشْرُونَ﴾ يَبِيعُونَ ﴿الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ وَمَنْ يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ﴾ يُسْتَشْهَد ﴿أَوْ يَغْلِبْ﴾ يَظْفَر بِعَدُوِّهِ ﴿فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ ثَوَابًا جزيلا ﴿وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ﴾ اسْتِفْهَام تَوْبِيخ أَيْ لَا مَانِع لكم من القتال ﴿فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَ﴾ فِي تَخْلِيص ﴿الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ﴾ الَّذِينَ حبسهم الكفار عن الهجرة وآذوهم قال بن عَبَّاس رَضِيَ اللّٰه عَنْهُمَا كُنْت أَنَا وَأُمِّي مِنْهُمْ ﴿الَّذِينَ يَقُولُونَ﴾ دَاعِينَ يَا ﴿رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ﴾ مَكَّة ﴿الظَّالِمِ أَهْلُهَا﴾ بِالْكُفْرِ ﴿وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ﴾ مِنْ عِنْدك ﴿وَلِيًّا﴾ يَتَوَلَّى أُمُورنَا ﴿وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا﴾ يَمْنَعنَا مِنْهُمْ وَقَدْ اسْتَجَابَ اللّٰه دُعَاءَهُمْ فَيَسَّرَ لِبَعْضِهِمْ الْخُرُوج وَبَقِيَ بَعْضهمْ إلَى أَنْ فُتِحَتْ مَكَّة وَوَلَّى صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَتَّاب بن أسيد فَأَنْصَفَ مَظْلُومهمْ مِنْ ظَالِمهمْ ﴿الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ﴾ الشَّيْطَان ﴿فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ﴾ أَنْصَار دِينه تَغْلِبُوهُمْ لِقُوَّتِكُمْ بِاللّٰهِ ﴿إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ﴾ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿كَانَ ضَعِيفًا﴾ وَاهِيًا لَا يُقَاوِم كَيْد اللّٰه بِالْكَافِرِينَ

ترجمه:- اې ایمان والوا دَخپلو دښمنانونه محتاط اوسئ یعنی دَهغوی نه احتیاطی تدابیر اختیاره کړئ او دَهغوی په باره کښې ویخ اوسئ بیا دښمن سره دَ جنګیدودپاره دَ ټولګوپه شکل کښې یوبل پسې اوځئ یا په اجتماعی توګه اویقینًا په تاسو کښې بعض هغه دی چې په وتلوکښې مخکښې روستوکېږی یعنی دَ جنګ نه د پاتې کیدو کوشش کوی لکه عبدالله بن ابی اودَهغه ملګری اوهغه ته مؤمن د ظاهرپه اعتبارسره ونیلی شوی دی او لام فعل باندې قسمیه دې او بیا که چرې تاسو ته څه مصیبت ﴿نقصان﴾ دراورسی مثلاً قتل یا ماتې نووائی چې په ما دَالله تعالی لوئی فضل اوشو چې زه هغوی سره ﴿جنګ﴾ کښې حاضر نه شوم ګنی زه به هم په دغه مصیبت کښې انختې ووم اوکه چرې تاسو ته دَ الله تعالی فضل دراورسی لکه فتح او مال غنیمت نودَ شرم نه وائی لکه چې ستاسو او دده په مینځ کښې هدو دَ پیژندګلو او دوستئ څه تعلق نشته ﴿کَأَنْ﴾ مخففه دې اودَدې اسم محذوف دې أی کَأَنَّهُ ﴿لکن﴾ په یاء او تاء سره دې اودَدې جملې تعلق قد أنعم الله عَلَیَّ سره دې اوداجمله د قول ﴿یعنی لَیَقُوْلَنَّ﴾اود مقولې ﴿یعنی یٰلَیْتَنِیْ﴾ په مینځ کښې جمله معترضه ده افسوس زه هم دوی سره وې نولویه کامیابی به مې حاصله کړې وه یعنی دَمال غنیمت نه به مې ډیره حصه حاصله کړې وه. الله تعالی فرمائی چې کومو خلقو دنیاوی ژوندون دَ آخرت په عوض خرڅ کړې دې نوهغوی له دَ الله تعالی دَ دین دَ سرلوړئی دَپاره دَالله تعالی په لارکښې جهادکول پکاردی او کوم سړې چې دَالله تعالی په لارکښې جهاد کولوسره شهیدشی یا په خپل دښمن باندې غالب راشی نوموږ به هغوی ته اجرعظیم ورکړواوتاسو څه عذر دې استفهام توبیخی دې یعنی دَ جهادنه تادپاره هیڅ یوڅیزمانع کونکې نشته. چې تاسو دَالله تعالی په

لارکېږي اودَ کمزوروسرو، ښځواو ماشومانو په راخلاصولوکښې کوم چې کافرانودَ هجرت کولونه رامنع کړې دی اوهغوی ته تکليفونه رسوی. ابن عباس ﷺ اوفرمائيل چې زه اوزما مور هم دَدوی نه وو جهادنه کوی په دعا کښې وائی اې زمونږ پروردګار ته مونږدې کلی نه يعنی مکې نه دَ کوم اوسيدونکو چې کفرکولوسره ظلم کړې دې اوياسه اودَخپل طرف نه زمونږ يووالی مقررکړه چې زمونږ دَمعاملاتو توليت اوکړی اوزمونږ دَپاره دَخپل طرف نه امدادی مقررکړه چې مونږ دَدوی نه بچ کړی او الله تعالی دَهغوی دعاقبوله کړه چې دَهغوی دَپاره ئی دَمکې نه وتل آسان کړل اوځه خلق دَ فتح مکه پورې په مکه کښې پاتې شو او محمد ﷺ دَهغوی متولی عتاب بن اسيد جوړکړو چاچې مظلومانوته دَ ظالمانو نه انصاف ورکړو کوموخلقو چې ايمان راوړې دې هغوی دَ الله تعالی په لارکښې جهاد کوی اوکوم چې کافران دی هغوی دَ شيطان په لار جنګ کوی لهذا تاسو دَ شيطان د دوستانو سره جنګ اوکړئ يعنی دَ شيطان دَ دين امدادیانوسره جهاد اوکړئ دَ الله تعالی دَطرف نه درکړې شوی طاقت په وجه به هم تاسو غالب راځئ يقين اوساتئ مؤمنانوسره دَ شيطان مکر ډير بېکاره (کمزورې) دې کافرانوسره دَ الله تعالی دَ تدبيرمقابله نه شی کولې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: حِذْرٌد حاء په کسرې اوذال په سکون اودَدوارو په فتحې سره، احتياط، بيدارو مغزی. دَخطرناك ځيزنه ډډه کول. يقال أخذ حذرهُ إذا تيقظ واحترز من المخوف په دې کښې استعارد بالکنايه ده، حذر له ئی په سلاح سره په زره زره کښې تشبيه ورکړې ده مشبه مذکوراو مشبه به محذوف دې. (فارسی ترجمه) اے مسلمانان بگيريد سلاح خود پس بيروں رويد يعنی بجنگ دشمنان گروه در گروه در جهات مختلف، يا بير کنيد برائے جهاد جمع شده باېکديگر.

قوله: ثُبات جمع ثُبَةٌ دَ لسونه دَ زياتو کسانو جماعت.

قوله: يُبَطِّئَنَّ مضارع واحد مذکرغائب بانون تاکيدثقيله (تفعيل) تبطئ ناوختغ کول، سستی کول شاته پاتې کيدل ماده بطوءً.

قوله: واللام لِلْقَسَمِ ددې نه مراد د لَيُبَطِّئَنَّ لام دې اولَمَنْ کښې لام ابتدائيه دې تقديری عبارت دادې وَإِنَّ منکم لَمَنْ أقسم بالله لَيُبَطِّئَنَّ.

قوله: فَأَصَابَ، أى أصابهی ما أصابهم.

سوال:- لَيَقُولَنَّ جزاء د شرط ده اوقاعده ده چې جزاءکله مضارع واقع وی نو په دې باندې فاء لازم وی حالانکه دلته فاء نشته؟

جواب:- لَئِنْ أَصَابَكُمْ کښې قسم اوشرط دواړه جمع دی اوقسم مقدم محذوف دې او

قاعده ده چې کله قسم اوشرط دواړه جمع شی نو راتلونکې جمله د اول جزاء وی لهذا لَيَقُولَنَّ جواب قسم دې نه چې جواب شرط.

قوله: نَادِمًا، اى نادمًا لفوات الغنيمة لا لِطلب الثواب.

قوله: وهذا رَاجِعٌ إِلَى قَوْلِهِ قَدْ أَنْعَمَ الله عَلَيَّ الخ يَعْنِي كَأَنْ لَمْ يَكُنْ الخ ددې تعلق په اعتبارد معنى سابق جملې قدانعم الله عَلَيَّ سره ده. تقديرى عبارت دادې قال قد أنعم الله عَلَيَّ الخ كأن لم يكن الخ بيا دا جمله په توګه د جمله معترضه مؤخر کړې شوه.

قوله: لَيَقُولَنَّ قول دې او ياليتنى كنت معهم الخ مقوله ده او كأن لم يكن بينكم وبينه مودة جمله معترضه ده.

قوله: فَأَفُوزَ جواب تمنى د وجې نه منصوب دې.

[اياتونه: ۷۷-۸۷]

(أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ) عَنْ قِتَال الْكُفَّار لَمَّا طَلَبُوهُ بِمَكَّة لِأَذَى الْكُفَّار لَهُمْ وَهُمْ جَمَاعَة مِنَ الصَّحَابَة (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ) فُرِضَ (عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَخْشَوْنَ) يَخَافُونَ (النَّاس) الكفار أي عذابهم بالقتل (كَخَشْيَةِ) هم عَذَاب (اللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً) مِنْ خَشْيَتهمْ لَهُ وَنَصْب أَشَدّ عَلَى الْحَال وَجَوَاب لِمَا دَلَّ عَلَيْهِ إِذَا وَمَا بَعْدهَا أَيْ فَاجَأَتْهُمْ الْخَشْيَة (وَقَالُوا) جَزَعًا مِنَ الْمَوْت (رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلَا) هَلَّا (أَخَّرْتَنَا إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ قُلْ) لَهُمْ (مَتَاعُ الدُّنْيَا) مَا يُتَمَتَّع بِهِ فِيهَا أَوْ الِاسْتِمْتَاع بِهَا (قَلِيلٌ) آيِل إِلَى الْفَنَاء (وَالْآخِرَةُ) أَيْ الْجَنَّة (خَيْرٌ لِمَنِ اتَّقَى) عِقَاب اللَّه بِتَرْكِ مَعْصِيَته (وَلَا تُظْلَمُونَ) بِالتَّاءِ وَالْيَاء تُنْقَصُونَ مِنْ أَعْمَالكُمْ (فَتِيلًا) قدر قشرة النواة فجاهدوا (أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ) حُصُون (مُشَيَّدَةٍ) مُرْتَفِعَة فَلَا تَخْشَوْا الْقِتَال خَوْف الْمَوْت (وَإِنْ تُصِبْهُمْ) أَيْ الْيَهُود (حَسَنَةٌ) خِصْب وَسِعَة (يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ) جَدْب وَبَلَاء كَمَا حَصَلَ لَهُمْ عِنْد قُدُوم النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَة (يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِكَ) يَا مُحَمَّد أَيْ بِشُؤْمِك (قُلْ) لَهُمْ (كُلٌّ) مِنَ الْحَسَنَة وَالسَّيِّئَة (مِنْ عِنْدِ اللَّهِ) مِنْ قبله (فَمَالِ هَؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ) أَيْ لَا يُقَارِبُونَ أَنْ يَفْهَمُوا (حَدِيثًا) يُلْقَى إِلَيْهِمْ وَمَا اسْتِفْهَام تَعْجِيب مِنْ فَرْط جَهْلهمْ وَنَفْي مُقَارَبَة الْفِعْل أَشَدّ من نفيه (مَا أَصَابَكَ) أَيُّهَا الْإِنْسَان (مِنْ حَسَنَةٍ) خَيْر (فَمِنَ اللَّهِ) أَتَتْك فَضْلًا مِنْهُ (وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ) بَلِيَّة (فَمِنْ نَفْسِكَ) أَتَتْك حَيْثُ ارْتَكَبْت مَا يَسْتَوْجِبهَا مِنَ الذُّنُوب (وَأَرْسَلْنَاكَ) يَا مُحَمَّد (لِلنَّاسِ رَسُولًا) حَال مُؤَكِّدَة (وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا) عَلَى رِسَالَتك (مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى) أَعْرَض عَنْ طَاعَتك فَلَا يُهِمَّنْك (فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا) حَافِظًا لِأَعْمَالِهِمْ بَلْ نَذِيرًا وَإِلَيْنَا أَمْرهمْ فَنُجَازِيهِمْ وَهَذَا قَبْل الْأَمْر بِالْقِتَالِ (وَيَقُولُونَ) أَيْ الْمُنَافِقُونَ إِذَا جَاءُوك أَمْرنَا (طَاعَةٌ) لَك (فَإِذَا بَرَزُوا) خَرَجُوا (مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ

مِنْهُمْ بإدغام التاء في الطاء وتركه أي أضمرت {غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ} لك في حضورك من الطاعة أي عصيانك {وَاللَّهُ يَكْتُبُ} يأمر بكتب {مَا يُبَيِّتُونَ} في صحائفهم ليجازوا عليه {فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ} بالصفح {وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ} ثق به فإنه كافيك {وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلًا} مفوضا إليه {أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ} يتأملون {الْقُرْآنَ} وما فيه من المعاني البديعة {وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا} تناقضا في معانيه وتباينا في نظمه {وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ} عن سرايا النبي صلى الله عليه وسلم بما حصل لهم {مِنَ الْأَمْنِ} بالنصر {أَوِ الْخَوْفِ} بالهزيمة {أَذَاعُوا بِهِ} أفشوه نزل في جماعة من المنافقين أو في ضعفاء المؤمنين كانوا يفعلون ذلك فتضعف قلوب المؤمنين ويتأذى النبي {وَلَوْ رَدُّوهُ} أي الخبر {إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ} أي ذوي الرأي من أكابر الصحابة أي لو سكتوا عنه حتى يخبروا به {لَعَلِمَهُ} هل هو مما ينبغي أن يذاع أو لا {الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ} يتبعونه ويطلبون علمه وهم المذيعون {مِنْهُمْ} من الرسول وأولي الأمر {وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ} بالإسلام {وَرَحْمَتُهُ} لكم بالقرآن {لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ} فيما يأمركم به من الفواحش {إِلَّا قَلِيلًا} {فَقَاتِلْ} يا محمد {فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ} فلا تهتم بتخلفهم عنك المعنى قاتل ولو وحدك فإنك موعود بالنصر {وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ} حثهم على القتال ورغبهم فيه {عَسَى اللَّهُ أَنْ يَكُفَّ بَأْسَ} حرب {الَّذِينَ كَفَرُوا وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا} منهم {وَأَشَدُّ تَنْكِيلًا} تعذيبا منهم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم والذي نفسي بيده لأخرجن ولو وحدي فخرج بسبعين راكبا إلى بدر الصغرى فكف الله بأس الكفار بإلقاء الرعب في قلوبهم ومنع أبي سفيان عن الخروج كما تقدم في آل عمران {مَنْ يَشْفَعْ} بين الناس {شَفَاعَةً حَسَنَةً} موافقة للشرع {يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ} من الأجر {مِنْهَا} بسببها {وَمَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً} مخالفة له {يَكُنْ لَهُ كِفْلٌ} نصيب من الوزر {مِنْهَا} بسببها {وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُقِيتًا} مقتدرا فيجازي كل أحد بما عمل {وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ} كأن قيل لكم سلام عليكم {فَحَيُّوا} المحيي {بِأَحْسَنَ مِنْهَا} بأن تقولوا له عليك السلام ورحمة الله وبركاته {أَوْ رُدُّوهَا} بأن تقولوا له كما قال أي الواجب أحدهما والأول أفضل {إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا} محاسبا فيجازي عليه ومنه رد السلام وخصت السنة الكافر والمبتدع والفاسق والمسلم على قاضي الحاجة ومن في الحمام والآكل فلا يجب الرد عليهم بل يكره في غير الأخير ويقال للكافر وعليك {اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ} والله {لَيَجْمَعَنَّكُمْ} من قبوركم {إِلَى} في {يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ} لا شك {فِيهِ وَمَنْ} أي لا أحد {أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا} قولا

ترجمه:- آيا تاسو هغه خلق اونه ليدل چاته چې حكم وركړې شو چې كافرانو سره د جنګ نه لاس اونيسئ. چې كله هغوى د په مكه مكرمه كښې د كافرانو د تكليفونو رسولو د وجې د جهاد مطالبه اوكړه اوهغه د صحابه كرامو يو جماعت وو. او مونځ كوئى او زكوة اداكوئى بيا چې په هغوى باندې جهاد فرض كړې شو نو هم هغه وخت د دوى نه يو جماعت د كافرانو نه اوويريدو يعنى د قتل په ذريعه د هغوى د عذاب نه لكه چې څنګه هغوى د الله

تعالی دَ عذاب نه ویریږی، بلکه دَهغه دَ ویرې نه هم زیات. او دَ اَشَدَّ نصب حال کیدو دَ وجې نه دې. او دَ لَمَّا په جواب باندې اِذَا او دَ دې مابعد دلالت کوی. یعنی هغوی ناخاپی اوویریدل او وئی وئیل چې اې زمونږ پروردگار تا په مونږ جهادولې فرض کړو؟ ولې دې مونږ لږ شان نور روستو نه کړو؟ ته ورته اووایه چې دَ دنیا سود مندی (یعنی) دَعیش سامان د کوم نه چې تاسو خوندونه اخلئ یا گټه اخلئ خودیرکم دې. (یعنی) دَدې انجام فناده. او دَ گناهونو پریخودلو سره دَالله تعالی دَعذاب نه ویریدونکو دَ پاره آخرت یعنی جنت بهتردې او ستاسو عملونه (نیکو) کښې کمې گولوسره دَ یوتار یعنی دَ کهجورې دَ هډوکی دَ جلئ برابر به ظلم نه شی کولې تاسو چه چرته هم یئی اگر چې تاسو په مضبوطو اوچتو قلعه گانو کښې یئی نو مرگ به تاسو راگیرکړی لهذا دَ مرگ دَ ویرې دَ جهادنه مه ویریږئ. اوکه یهودیانوته څه نیکړه (مثلاً) تازه والې او خوشحالی ملاویږی نو وائی چې دا دَ الله تعالی دَ طرف نه دی اوکه چرې هغوی ته څه بدی (مثلاً) قحط اومصیبت رسیږی لکه دَ حضورپاك مدینې ته دَ راتلو په وخت (قحط) راغې وو نو وائی چې دا ستا دَ وجې اې محمد (ﷺ) یعنی دا ستا دَ سپیره والی دَ وجې نه دی ته دوی ته اووایه دا ټول که نیکی وی اوکه بدی دَالله تعالی دَ طرف نه دی په دغه خلقو څه چل اوشو چې کومه خبره هم هغوی ته اووئیلې شی په هغې پوهیدو ته نزدې هم نه دی نه او مَا استفهام تعجبی دَپاره ده دَهغوی دَزیات جهالت دَ وجې نه دَ قرب فعل نفی د (نفس) فعل دَ نفی نه نور هم سخته وی. اې انسانه څه خیرهم چې تاته رسیږی نوهغه دَالله تعالی دَ طرف نه دې یعنی دَهغه دَ فضل نه دې اوکوم مصیبت چې تاته رسیږی هغه ستا دَ نفس دَ طرف نه دې. داسې چې ته دَ گناهونو ارتکاب کوې کوم چې دَ مصائبو دَ موجباتو نه دی او اې محمد ﷺ مونږ ته رسول جوړ کړې لیږلې رسولاحال مؤکده دې او ستا په رسالت باندې دَ الله تعالی گواهی کافی ده. څوک چې دَ رسول اطاعت اوکړی هغه دَالله تعالی اطاعت اوکړو او چا چې دَحضورپاک دَ اطاعت نه مخ واړولو نو ته خفه کیږه مه ځکه چې مونږ ته په هغوی باندې ساتونکې جوړولو سره نه ئی لیږلې یئ. یعنی دَهغوی دَاعمالو نگران بلکه دَهغوی ویرونکې جوړکړې لیگلې. او دَهغوی معامله هم زمونږ طرف ته راواپس کیدونکې ده. لهذا مونږ به هغوی ته بدله ورکړو او دا حکم دَجهاد دَ حکم نه وړاندې دې. منافقان چې کله تاسو له راشی نو وائی چې ستاسو فرمانبرداری ده خو چې کله هغوئ ستا خوا نه (بَیَّتَ طَآئِفَةٌ) کښې د تاء په طاء کښې ادغام کولو سره او بغیر دَ ادغام نه نو په هغوی کښې یوه ډله دَ شپې دَ هغې خلاف مشوره کوی څه چې ده ستاسو په وړاندې دَاطاعت خبره کوی یعنی ستاسو دَ نافرمانئ مشوره کوی او الله تعالی دَهغوی په عمل نامو کښې لیکی څه چې دوی دَ شپې مشوره کوی.

نوټ:- دَ بَیَّتَ تفسیر اَضْمَرَتَ سره تسامح ده ځکه چې دَعصیان اونافرمانئ تعلق د نبی علیه السلام د خوا نه وتلو سره متعلق نه وو بلکه په مجلس کښې دَ موجودگئ په صورت

کښې هم عصيان اونافرماني دَهغوی په زړونو کښې وه. لهذا بَيَّتَ تفسير دَ شپې مشوره کول انسب دی. پس تاسو هغوی ته معافی اوکړئی اومخ ترې واړوئی او په الله تعالی باندې يقين کوئی ځکه چې هغه ستاد پاره کافی دې. الله تعالی دکارسازئی دَپاره کافی دې. آيا داخلق په قرآن کښې اودَ هغې په معانيو کښې غورنه کوی چې په دې کښې موجود دی. که چرې دا قرآن پاك دَ الله تعالی نه بغيردَ بل چادَ طرف نه وې نو په دې کښې به دوئ ډيراختلاف موندلې وې يعنی دَدې په معنی کښې به ئی تناقص اوپه نظم کښې به ئې تباين موندلې وې. کله چې هغوی له يوه خبره دَ حضورپاك دَ لښکر اورسی کوم چې هغوی له راشی که دَ نصرت وی اوکه دَهزيمت وی نو هغه خوروی (دا آيت) دَ منافقانودَ يوې ډلې يا دَ کمزوری ايمان والا مؤمنانو باره کښې نازل شوې دې چې داسې به ئی کول. اوکه چرې دې خلقو رسول الله ﷺ ته يا ذمه وار صحابه کرامو ته رسولې يعنی که دې خلقو خاموشی اختيارولې ترهغه وخته پورې چې دوی ته دَهغې معاملې خبرورکړې کيدې شو نوداخلق چې دَدغه خبر تحقيق پسې لګيدلې دی او په دغه خبر باندې پوهه حاصلول غواړی اوداهم هغه خورونکې خلق دی نو په دې خبره باندې به پوهيدل چې دا خبردَ خورولو دې اوکه نه دې. اوکه چرته دَ اسلام په ذريعه په تاسو باندې دَالله تعالی فضل اودَ قرآن په ذريعه په تاسو دَهغه رحمت نه وې نو دَ شميردَ يوڅوکسانونه علاوه به تاسو دَ بې حيايئی په خبروکښې دکوموچې شيطان تاسو ته حکم کوی دَ شيطان تابعدار به جوړ شوی وئی. اې محمد ﷺ ته دَالله تعالی په لارکښې جهادکوه تاته صرف ستا دَ ذات په نسبت حکم درکولې شی. لهذا ستانه دَهغوی شاته پاتې کيدلو باندې ته خفه کيږه مه مطلب دا چې ته جهادکوه سره دَدې چې ته خان له ئی ځکه چې دَ نصرت وعده تاسره ده او دَ ايمان والو ته رغبت ورکوه يعنی مؤمنان په جهاد کولوباندې تيار وه اوهغوی ته رغبت ورکوه ممکن ده چې الله تعالی دکافرانو جنګ بندکړی اوالله تعالی دَهغوی نه په اعتباردَ جنګ او په اعتباردَ عذاب ډيرزيات سخت دې. نوحضورپاك ﷺ اوفرمائيل قسم دې په هغه ذات دَچا په قدرت کښې چې زما ځان دې زه به خامخا (دَ جهاد دَپاره) اوځم سره ددې چې زه يوازې ولې نه يم. چنانچه رسول الله ﷺ (صرف) اوياؤ (۷۰) سورو سره بدرصغرئ طرف ته لاړو نوالله تعالی دکافرانو حمله دَهغوی په زړونو کښې رعب اچولوسره بنده کړه او ابوسفيان ئی (دَ جنګ دَپاره) وتلونه منع کړو لکه چې په سورت آل عمران کښې تيرشو. کوم کس چې په خلقو کښې دَ شريعت مطابق دَ ښيګړې سفارش اوکړی نوهغه ته به هم دَ دغې دَ وجې دَ اجر حصه ملاويږی اوکوم کس چې دَ شريعت خلاف دَبدئی سفارش اوکړی نوهغه ته به دَ دغه سفارش دَ وجې دَ ګناه حصه ملاويږی او الله تعالی په هرڅيزباندې قدرت لرونکې دې. لهذا هريوته به دهغه د اعمالو بدله ورکړی. اوکله چې تاسو ته سلام اوکړې شی مثلاً تاسو ته اووئيلې شی سلام عليکم نوتاسو سلام

کونکی ته د هغه د سلام نه ښه جواب ورکوئی په دې طریقه چې تاسو هغه ته او وایئ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته یا هم هغه الفاظ ورواپس کړئی داسې چې څنګه هغه ونیلی دی تاسو هم ورته هم هغه شان او وایئی یعنی په دې کښې یو واجب دې مګر رومبې غوره دې. بیشکه الله تعالی دَهر څیز حساب اخستونکې دې لهذا دَ هر (عمل) جزاء به ورکوی او هم دَدې نه دَ سلام جواب ورکول هم دی. او شریعت مستثنی کړې دې، کافر، بدعتی، متیازې کونکی باندې سلام کونکې او هغه سری باندې کوم چې په حمام کښې وی او په خوراك کونکی باندې چې دَدوی دَ سلام جواب ورکول واجب نه دی. بلکه دَ اخیرې نه علاوه مکروه دی او دَ کافر په جواب کښې به ونیلې شی عَلَیْكَ (یعنی په تا باندې هم) الله تعالی هغه ذات دې چې دَهغه نه بغیر بل څوك معبود نشته. هغه به یقینًا تاسو ستاسو دَ قبرونونه دَ قیامت په ورځ راجمع کوی په دې کښې هیڅ شك نشته او دَ الله تعالی نه ربښتیا خبره کونکې بل څوك دې؟ هیڅوك نشته.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: مِنْ خَشْيَتِهِمُ الغ په دې کښې اشاره ده چې دَدې عطف په کخشیة الله باندې دې.

قوله: ونَصْبٌ علی الحال یعنی کخشیة الله نه د حال کیدو دَ وجې نه منصوب دې تقدیری عبارت دا دې یخشون الناس مِثْلَ خَشْيَةِ الله.

قوله: أَوْأَشَدَّ خَشْيَةً هم د حال کیدو دَ وجې نه منصوب دې څکه چې دَدې عطف په کخشیة الله باندې دې په دې کښې دَهغه خلقو دَ قول تردید دې کوم چې وائی خشیة الله د مصدر دَ وجې نه منصوب دې.

قوله: جَوَابُ لَمَّا دَلَّ علیه إذًا، مناسب دا وه چې مفسر علام وجواب لمّا إذا وَمَا بعدها فرمائیلې.

قوله: إِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ کښې إذا مفاجاتیه قائم مقام دَفاء دې فَلَمَّا كُتِبَ د لَمَّا جواب دې.

قوله. جَزَعًا مِنَ الْمَوْتِ دې خبرې ته اشاره ده چې لِمَ كتبت علینا القتال، په توګه دَ اعتراض نه وو بلکه دَمرګ نه دَ طبعی ویرې د وجې نه وو څکه چې قائلین خیار صحابه وو.

قوله: مَا يُتَمَتَّع به په دې کښې اشاره ده چې متاع مصدر په معنی دمفعول دهې.

قوله: أَوالاِسْتِمْتَاعُ بِهَا په دې کښې اشاره ده چې مَتَاعٌ نه مصدری معنی مراد کیدې شی.

قوله: بِهَا أی بعین المتاع.

قوله: بَيَّتَ طَائِفَةٌ دَ بَيَّتَ فاعل طائفة دې طائفة چونکه مؤنث غیرحقیقی دې دَ کوم دَپاره چې فعل مذکریا مؤنث دواړه راوړل جائز دی. مفسر علام د بَيَّتَ تفسیر په أضمرت سره

کړې دي او مطلب ئې دا بيان کړې دې چې منافقان به کله د حضورپاك مجلس نه بهر راتلل نو د حضورپاك د قول خلاف به ئې په زړه کښې پټ ساتلې وو حالانکه دا مفهوم مناسب نه دې ځکه چې د حضورپاك د قول برخلاف خو دهغوی په زړونو کښې هغه وخت هم مضمرو کوم وخت چې به هغوی د حضورپاك په مجلس کښې وو. ځکه چې منافقانو به هم په مجلس کښې سمعنا واطعنا وئيل. مفسرعلام که چرې د بيّت تفسر تدبيرالأمرليلاً سره کړې وې نو زيات مناسب به وو ځکه چې منافقانوبه د شپې دحضورپاك خلاف پټ تدبيرونه کول.

قوله: المذيعون افواه کاني خورونکي.

[اياتونه:۸۸-۹۱]

وَلَمَّا رَجَعَ نَاس مِنْ أُحُد اخْتَلَفَ النَّاس فِيهِمْ فَقَالَ فَرِيق اُقْتُلْهُمْ وَقَالَ فَرِيق لَا فَنَزَلَ {فَمَالَكُمْ} مَا شَأْنكُمْ صِرْتُمْ {فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ} فِرْقَتَيْنِ {وَاللَّهُ أَرْكَسَهُمْ} رَدَّهُمْ {بِمَا كَسَبُوا} مِنْ الْكُفْر وَالْمَعَاصِي {أَتُرِيدُونَ أَنْ تَهْدُوا مَنْ أَضَلَّ} ه {اللَّه} أَيْ تَعُدُّوهُمْ مِنْ جُمْلَة الْمُهْتَدِينَ وَالِاسْتِفْهَام فِي الْمَوْضِعَيْنِ لِلْإِنْكَارِ {وَمَنْ يُضْلِل} ه {اللَّه فَلَنْ تَجِد لَهُ سَبِيلًا} طَرِيقًا إلَى الْهُدَى{وَدُّوا} تَمَنَّوْا {لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ} أَنْتُمْ وَهُمْ {سَوَاء} فِي الْكُفْر {فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاء} تُوَالُونَهُمْ وَإِنْ أَظْهَرُوا الْإِيمَان {حَتَّى يُهَاجِرُوا فِي سَبِيل اللَّه} هِجْرَة صَحِيحَة تُحَقِّق إيمَانهمْ {فَإِنْ تَوَلَّوْا} وَأَقَامُوا عَلَى مَا هُمْ عَلَيْهِ {فَخُذُوهُمْ} بِالْأَسْرِ {وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا} تُوَالُونَهُ {وَلَا نَصِيرًا} تَنْتَصِرُونَ به على عدوكم{إلا الذين يصلون} يلجاون {إلَى قَوْم بَيْنكُمْ وَبَيْنهمْ مِيثَاق} عَهْد بِالْأَمَانِ لَهُمْ وَلِمَنْ وَصَلَ إلَيْهِمْ كَمَا عَاهَدَ النَّبِيّ صلى الله عليه وسلم هِلَال بْن عُوَيْمِر الْأَسْلَمِيّ {أَوْ} الَّذِينَ {جَاءُوكُمْ} وَقَدْ {حَصِرَتْ} ضَاقَتْ {صُدُورهمْ} عَنْ {أَنْ يُقَاتِلُوكُمْ} مَعَ قَوْمهمْ {أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمهمْ} مَعَكُمْ أَيْ مُمْسِكِينَ عَنْ قِتَالكُمْ وَقِتَالهمْ فَلَا تَتَعَرَّضُوا إلَيْهِمْ بِأَخْذٍ وَلَا قَتْل وَهَذَا وَمَا بَعْده مَنْسُوخ بِآيَةِ السَّيْف {وَلَوْ شَاءَ اللَّه} تَسْلِيطهمْ عَلَيْكُمْ {لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ} بِأَنْ يُقَوِّي قُلُوبهمْ {فَلَقَاتَلُوكُمْ} وَلَكِنَّهُ لَمْ يَشَأْهُ فَأَلْقَى فِي قُلُوبهمْ الرُّعْب {فَإِنْ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إلَيْكُمْ السَّلَم} الصُّلْح أَيْ انْقَادُوا {فَمَا جَعَلَ اللَّه لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا} طريقا بالأخذ والقتل{ستجدون آخرين يريدون أن يأمنوكم} بإظهار الإيمان عندكم {ويأمنوا قومهم} بالكفر إذا رجعوا إليهم وهم أسد وغطفان {كل ما ردوا إلى الفتنة} دعوا إلى الشرك {أركسوا فيها} وقعوا أشد وقوع {فإن لم يعتزلوكم} بترك قتالكم {و} لم {يلقوا إليكم السلم و} لم {يكفوا أيديهم} عنكم {فخذوهم} بالأسر {واقتلوهم حيث ثقفتموهم} وجدتموهم {وأولئكم جعلنا لكم عليهم سلطانا مبينا} برهانا بينا ظاهرا على قتلهم وسبيهم لغدرهم

ترجمه:- اوکله چې خلق د أحدنه واپس شو نوخلقو دهغوی باره کښې اختلاف اوکړو يو فريق وئيل دوی قتل کړئې دويم فريق وئيل چې مه ئې قتلوئې. نودا آيت نازل شو {فَمَا

ستاسو څه حال دې چې تاسو دَ منافقينو باره کښې دوه ډلې شوئي. الله تعالى هغوى دَخپل كفر اوگناه په وجه واپس اوگرځول آيا تاسو غواړئي چې كوم خلق الله تعالى گمراه كړل تاسو ئې په نيغه لار راولئ يعنى تاسو هغوى من جمله هدايت يافته خلقو كښې شميرئي. استفهام په دوارو خايونو كښې انكارى دې اوڅوك چې الله تعالى گمراه كړى دَهغوى دپاره خو به ته دَ هدايت لار هيڅ كله نه پيامومې. دا خلق خو دَ زړه نه غواړي چې تاسو هم كفر اوكړئي لكه څنګه چې داخلق كفر كوى دې دَپاره چې هغوى او تاسو په كفر كښې برابر شئ. پس تاسو په هغوى كښې څوك دوست مه جوړه وئي چې هغوى سره دوستى كوئي. سره دَ دې چې هغوى دَ ايمان اظهار اوكړى تردې چې دَ الله تعالى په لار كښې په صحيح توګه هجرت اوكړى چې دَهغوى ايمان محقق كړى او كه هغوى مخ واړوى او په موجوده نفاق باندې قايم پاتې شى نو هغوى قيد كړئ اوچرته چې هغوى مومئي قتل يې كړئي او په هغوى كښې هيڅوك دوست مه جوړوئي چې هغوى سره دوستى كوئي اومه ئې امداديان جوړوئي چې دَهغوى نه دَ دښمن په مقابله كښې چې امداد واخلئ. سوا دَهغه خلقو نه چې هغه خلقو سره ملاؤ شي چې د هغوى او ستاسو په مينځ كښې معاهده دَامن ده اودَهغوى چې ورسره ملاؤ شى لكه څنګه حضورپاك هلال بن عويمر اسلمى سره معاهده كړې وه. يا هغه خلق تاسو له داسې راشى چې دَهغوى سينې د دې خبرې نه تنګيږى چې هغوى خپل قوم سره شي او تاسو سره اوجنګيږى يا تاسو سره شي او خپل قوم سره اوجنګيږى. يعنى هغوى ستاسو سره اودَهغوى سره دَ جنګ كولو نه منع شوى دى لهذا تاسو هغوى نه قيد او قتل كولو سره تعرض مه كوئي دا حكم اودَ دې مابعد په آيت سيف سره منسوخ شوې دې او كه چرې الله تعالى ته په تاسو باندې دَهغوى غلبه منظوروه نو هغه به دَهغوى زړونه قوى كولو سره هغوئ په تاسو غالب كړې وې نو هغوى به تاسو سره ضرور جنګ كولو ليكن هغه ته دا منظورنه شوه دَ څه دَ وجې نه چې الله تعالى دَهغوى په زړونو كښې رعب واچولو نو كه هغوى تاسو پريږدى او تاسو سره جنګ نه كوى او تاسو سره په سلامتيا سره تعلق اوساتى يعنى ستاسو دَ حكم منونكى شى نو الله تعالى دَهغوى دَپاره خلاف ستاسو دپاره دَ قيد او قتل هيڅ لار نه ده كيخودې او ډير زر به تاسو څه نور خلق اووينئي چې غواړى به چې ستاسو په وړاندې دَايمان اظهار كولو سره تاسو نه هم په امن اوسيږى او كله چې خپل قوم له لاړشى نو دكفر اظهار كولو سره د خپل قوم هم په امن باندې وى. اوهغه اَسَدْ وغطفان دى اوهغوى چې كله هم دَ شرك دَفتنې طرف ته رابللې شى نو هغوى دَ دې طرف ته راتاويږى يعنى په هغې كښې په شدت سره واقع كيږى. نوكه دَ جنګ ترك كولو سره تاسو نه پريږدى او نه تاسو سره په سلامتيا سره اوسيږى اونه تاسو نه خپل لاسونه رابندكړى نو تاسو هغوى قيد كړئي او چرته چې ئې مومئي قتل يې كړئي هم دغه خلق خودى دچا خلاف چې مونږ تاسو ته كولاؤ اجازت دركړې دې يعنى دَهغوى په قتل او قيد باندې دَهغوى دغدارى دَ وجې ښكاره او واضحه دليل دركړې دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: مَاشَأْنُكُمْ د دخول حرف على الحرف نه دَ بچ كيدو دَپاره مفسرعلام شأن مضاف محذوف منلې دې.

قوله: صِرْتُمْ، دَدې په حذف كښې اشاره ده چې فى المنافقين د صِرتم محذوف متعلق دې. او فِئَتَيْنِ د صِرتم د خبر كيدو دَ وجې نه منصوب دې او جمله د مالكم مبتداء خبر دې.

قوله: تَمَنَّوا، د وَدُّوا تفسير په تَمَنَّوا سره كولو كښې اوخودلې شو چې د وَدُّ نه پس لَوْ واقع وى نو دَتمنا په معنى كښې وى.

قوله: يَلْجَأُوْنَ مفسرعلام دَ يَصِلُوْنَ تفسير په يَلْجَأُوْنَ سره د تصحيح صله دَپاره كړې ده.

قوله: أوالَّذِيْنَ په دې كښې اشاره ده چې د جاءوكم عطف يه يصلون باندې دې نه چې دقوم په صفت باندې.

قوله: وقدحَصِرَتْ قدمحذوف منلو سره په هغه خلقو باندې رد كول مقصود دې چې حصرت دَ قومًا محذوف صفت منى. ځكه چې په دې كښې بغيردَ ضرورت نه حذف لازميږى بلكه حصرت د جاءو كم دَ ضميرنه حال دې اوماضى چې كله حال واقع شى نو قَدْ ضرورى وى كه لفظًا وى اوكه معنًا هم په دې وجه مفسرعلام قد مقدر منلې دې.

قوله: عن، حصرت چونكه متعدى بنفسه نه وى پدې وجه عَنْ محذوف منل ضرورى دى.

[اياتونه: ۹۲-۹۶]

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا﴾ أيْ مَا يَنْبَغِي أَنْ يَصْدُر مِنْهُ قَتْل لَهُ ﴿إِلَّا خَطَأً﴾ مُخطِئًا فِي قَتْله مِنْ غَيْر قَصْد ﴿وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً﴾ بِأَنْ قَصَدَ رَمْي غَيْره كَصَيْدٍ أَوْ شَجَرَة فَأَصَابَهُ أَوْ ضَرَبَهُ بِمَا لَا يَقْتُل غَالِبًا ﴿فَتَحْرِير﴾ عِتْق ﴿رَقَبَة﴾ نَسَمَة ﴿مُؤْمِنَة﴾ عَلَيْهِ ﴿وَدِيَة مُسَلَّمَة﴾ مُؤَدَّاة ﴿إِلَى أَهْله﴾ أَيْ وَرَثَة الْمَقْتُول ﴿إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا﴾ يَتَصَدَّقُوا عَلَيْهِ بِهَا بِأَنْ يَعْفُوا عَنْهَا وَبَيَّنَتْ السُّنَّة أَنَّهَا مِائَة مِنَ الْإِبِل عِشْرُونَ بِنْت مَخَاض وَكَذَا بَنَات لَبُون وَبَنُو لَبُون وَحِقَاق وَجِذَاع وَأَنَّهَا عَلَى عَاقِلَة الْقَاتِل وَهُمْ عَصَبَته فِي الْأَصْل وَالْفَرْع مُوَزَّعَة عَلَيْهِمْ عَلَى ثَلَاث سِنِينَ عَلَى الْغَنِيّ مِنْهُمْ نِصْف دِينَار وَالْمُتَوَسِّط رُبُع كُلّ سَنَة فَإِنْ لَمْ يَفُوا فَمِنْ بَيْت الْمَال فَإِنْ تَعَذَّرَ فَعَلَى الْجَانِي ﴿فَإِنْ كَانَ﴾ الْمَقْتُول ﴿مِنْ قَوْم عَدُوّ﴾ حَرْب ﴿لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِن فَتَحْرِير رَقَبَة مُؤْمِنَة﴾ عَلَى قَاتِله كَفَّارَة وَلَا دِيَة تُسَلَّم إِلَى أَهْله لِحِرَابَتِهِمْ ﴿وَإِنْ كَانَ﴾ الْمَقْتُول ﴿مِنْ قَوْم بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاق﴾ عَهْد كَأَهْلِ الذِّمَّة ﴿فَدِيَة﴾ لَهُ ﴿مُسَلَّمَة إِلَى أَهْله﴾ وَهِيَ ثُلُث دِيَة الْمُؤْمِن إِنْ كَانَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا وَثُلُثَا عُشْرهَا إِنْ كَانَ مَجُوسِيًّا ﴿وَتَحْرِير رَقَبَة مُؤْمِنَة﴾ عَلَى قَاتِله ﴿فَمَنْ لَمْ يَجِد﴾ الرَّقَبَة بِأَنْ فَقَدَهَا وَمَا يُحَصِّلهَا بِهِ ﴿فَصِيَام شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ﴾ عَلَيْهِ كَفَّارَة وَلَمْ يَذْكُر اللّٰه تَعَالَى الِانْتِقَال إِلَى الطَّعَام كَالظِّهَار وَبِهِ أَخَذَ الشَّافِعِيّ فِي أَصَحّ قَوْلَيْهِ

(توبة من الله) مصدر منصوب بفعله المقدر (وكان الله عليما) بخلقه (حكيما) فيما دبره لهم (ومن يقتل مومنا متعمدا) بأن يقصد قتله بما يقتل غالبا بإيمانه (فجزاؤه جهنم خالدا فيها وغضب الله عليه ولعنه) أبعده من رحمته (وأعد له عذابا عظيما) في النار وهذا مؤول بمن يستحله أو بأن هذا جزاؤه إن جوزي ولا بدع في خلف الوعيد لقوله (ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء) وعن ابن عباس أنها على ظاهرها وأنها ناسخة لغيرها من آيات المغفرة وبينت آية البقرة أن قاتل العمد يقتل به وأن عليه الدية إن عفي عنه وسبق قدرها وبينت السنة أن بين العمد والخطأ قتلا يسمى شبه العمد وهو أن يقتله بما لا يقتل غالبا فلا قصاص فيه بل دية كالعمد في الصفة والخطأ في التأجيل والحمل وهو والعمد أولى بالكفارة من الخطأ ونزل لما مر نفر من الصحابة برجل من بني سليم وهو يسوق غنما فسلم عليهم فقالوا ما سلم علينا إلا تقية فقتلوه واستاقوا غنمه (يا أيها الذين آمنوا إذا ضربتم) سافرتم للجهاد (في سبيل الله فتبينوا) وفي قراءة فتثبتوا في الموضعين (ولا تقولوا لمن ألقى إليكم السلام) بألف أو دونها أي التحية أو الانقياد بكلمة الشهادة التي هي أمارة على الإسلام (لست مؤمنا) وإنما قلت هذا تقية لنفسك ومالك فتقتلوه (تبتغون) تطلبون لذلك (عرض الحياة الدنيا) متاعها من الغنيمة (فعند الله مغانم كثيرة) تغنيكم عن قتل مثله لماله (كذلك كنتم من قبل) تعصم دماؤكم وأموالكم بمجرد قولكم الشهادة (فمن الله عليكم) بالاشتهار بالإيمان والاستقامة (فتبينوا) أن تقتلوا مؤمنا وافعلوا بالداخل في الإسلام كما فعل بكم (إن الله كان بما تعملون خبيرا) فيجازيكم به (لا يستوي القاعدون من المؤمنين) عن الجهاد (غير أولي الضرر) بالرفع صفة والنصب استثناء من زمانة أو عمى ونحوه (والمجاهدون في سبيل الله بأموالهم وأنفسهم فضل الله المجاهدين بأموالهم وأنفسهم على القاعدين) لضرر (درجة) فضيلة لاستوائهما في النية وزيادة المجاهدين بالمباشرة (وكلا) من الفريقين (وعد الله الحسنى) الجنة (وفضل الله المجاهدين على القاعدين) لغير ضرر (أجرا عظيما) ويبدل منه (درجات منه) منازل بعضها فوق بعض من الكرامة (ومغفرة ورحمة) منصوبان بفعلهما المقدر (وكان الله غفورا) لأوليائه (رحيما) بأهل طاعته

ترجمه:- دَ یومؤمن دَپاره دا روا نه دی چې هغه دې بل مؤمن قتل کړی یعنی دَمؤمن دَپاره دامناسب نه دی چې دَهغه نه دیومؤمن قتل اوشی سوا دَ غلطۍ نه یعنی چې بغیرارادې په غلطۍ سره قتل شی. (نو هغه بله خبره ده) اوڅوک چې مؤمن په غلطئ سره قتل کړی په داسې توګه چې نښه ئې غیرمؤمن مثلاً ښکار یا ونې ته لګولې وه مګر مؤمن اولګیدو یا په یرداسې ځیزئې قتل کړو چې په عام توګه په هغې قتل نه کیږی نو په هغه باندې یومؤمن غلام آزادول لازم دی او خون بهابه هم دَهغه خپلوانوته اداکولې شی یعنی دَ مقتول وارثانوته. سوا ددې نه که دَهغه (خپلوان) دیت معاف کړی اوسنت بیان کړې دې چې دیت سل (١٠٠) اوښان دی شل (٢٠) بنت مخاض، او دومره بنت لبون او بنولبون او حقې او جذعې اودا دیت دَ قاتل په اهل خاندان باندې دې. اوهغوی دَاصل اوفرع عصبه دی کوم چې به په

عصبات باندې تقسیمیږی. (دَدې موده) به درې کاله وی. په دوی کښې په مالدارانو باندې نصف دینار سالانه او په متوسط باندې څلورمه حصه دَ دینار سالانه اوکه چرې داخلق ئی ادانه کړې شی نو دَبیت المال نه به اداکیږی اوکه چرې دا هم ګرانه وی نو په جانی (قاتل) باندې به واجب وی اوکه چرې مقتول ستاسو دَ دښمن قوم (دارالحرب) نه وی حال داچې هغه مؤمن وی نو دَهغه په قاتل باندې یوغلام آزادول واجب دی دَ کفارې په توګه نه چې دَ دیت په توګه چې دَهغه کوروالو ته حواله کړې شی. هغوی سره دَمحاربه کیدو دَ وجې نه اوکه چرې مقتول داسې قوم سره تعلق لرې چې ستاسو اودَهغوی په مینځ کښې معاهده وی لکه اهل ذمه نودَهغه په قاتل باندې دَ یومؤمن غلام آزادول دی نو که یوکس غلام او نه مومی په دې وجه چې غلام نه وی یا دومره مال نه وی په کوم سره چې غلام واخستې شی نودَ دې کفاره دوه میاشتې مسلسل روژې ساتل دی او الله تعالی دَ طعام طرف ته رجوع نه ده ذکرکړې څنګه چې یئ په ظهارکښې فرمائیلی دی او امام شافعی رحمه الله په خپلو دواړو قولونو کښې صحیح ترین قول کښې هم دا اخستې دې اودَالله تعالی دَ طرف نه دَ توبې قبولیت دې، توبة مصدر دې فعل مقدر (تاب) دَ وجې نه منصوب دې او الله تعالی دَ خپل مخلوق باره کښې خبردار دې (او) هغه چې کوم نظام قائم کړې دې په هغې کښې هغه باحکمت دې اوکوم کس چې یومؤمن قصداً قتل کړی په داسې طریقه چې دَ هغه په یوداسې څیز سره دَ قتل اراده اوکړی په کوم سره چې قتل کیږی دَهغه دَ ایمان نه دَ واقف کیدو باوجود نودَ داسې کس سزا دوزخ دې په کوم کښې چې به هغه همیشه پروت وی او په هغه دَ الله تعالی غضب او دَهغه لعنت دې دَهغه دَ رحمت نه لریوالې دې. اودَهغه دَپاره (الله تعالی) په دوزخ کښې یولوئی عذاب تیار ساتلې دې. او دا (آیت) مؤول دې هغه کس سره چې دَمؤمن قتل حلال ګڼړی یا په دې طریقه چې دا دَ هغه سزا ده که چرې سزا ورکړې شی او دَوعید په تخلف کښې څه ندرت نشته دې دَالله تعالی قول ﴿ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ﴾ دَ وجې نه اود ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چې دا آیت دَدې په ظاهرباندې محمول دې اودَ مغفرت دَ نورو آیاتونودَپاره ناسخ دې او دَ سورت بقره په آیت کښې بیان شوی دی چې عمداً قتل کونکې به دَقتل دَ وجې نه قتل کولې شی. او یقیناً په ده باندې دیت واجب دې سره دَدې که دې معاف کړې شی او دَدیت مقدار وړاندې تیر شو او سنت بیان کړې دې چې دقتل عمداود قتل خطاپه مینځ کښې یوقتل بل دې دَ کوم نوم چې شبه عمد دې او هغه دادې چې په داسې څیز سره ئی قتل کړی په کوم سره چې په عام توګه قتل نه کیږی نو په هغې کښې قصاص نشته بلکه په هغې کښې دیت دې. په صفت کښې دَ قتل عمد په شان اوپه تاجیل (تاخیر) او په خاندان والو باندې اچولو کښې دَ قتل خطأ په شان، قتل شبه عمد او قتل عمد دکفارې (وجوب) دَپاره دَ قتل خطاء نه اولی دې. او نازل شوی دی (راتلونکې آیت) هغه وخت کله چې دَ

صحابه کرامو دَ یوجماعت دَ بنی سلیم یوسړی سره تیریدل اوشو اوهغه چیلئ بوتللې هغه سړی دوی ته سلام اوکړو نو دې خلقو اووئیل چې دې سړی سلام صرف دَخپل ځان بچ کولودَپاره اوکړو. نوهغه خلقو دې قتل کړو او دَهغه چیلئ یئ راوستلې (نو آیت یَاَیُّهَاالَّذِیْنَ آمَنُوا نازل شو) اې ایمان والوکله چې تاسو دَالله تعالی په لارکښې دَ جهاددَپاره سفرکوئی نوتحقیق کوئی او په یوقراءت کښې دوارو ځایونوکښې په ثاء مثلثه سره دې. (فتثبتوا) انتظارکوئی اوځوک چې تاسو ته سلام علیک اوکړی (سلام) په الف سره دې او بغیردَ الف نه دې اوکلمهٔ شهادت په ذریعه کوم چې دَهغه دَ اسلام علامت دې د انقیاد (فرمانبردارئی) اظهاراوکړی نوتاسو دامه وایئی چې ته مسلمان نه ئی تاخوداکلمه دَ خپل ځان اومال بچ کولودَپاره اووئیله. دنیاوی سامان مال غنیمت طلب کولودَپاره هغه قتل کړئی. الله تعالی سره ډیرزیات غنیمتونه دی نوهغه غنیمتونه به تاسو دَهغه دَمال دَپاره دَهغه دَقتل نه مستغنی کړی. دَدې نه وړاندې تاسو هم داسې وئی ستاسو ځانونه او ستاسو مالونه صرف ستاسو دَ کلمه شهادت دَ وجې نه محفوظ ساتلې کیدل. بیا الله تعالی په تاسو باندې دَ ایمان د شهرت او استقامت په ذریعه احسان اوکړو نوتاسو تحقیق کوئی (داسې نه وی چه) تاسو ځوك مؤمن قتل کړئی او په اسلام کښې داخلیدونکی سره هم داسې معامله کوئی څنګه چې تاسو سره اوکړې شوه. بیشکه الله تعالی ستاسود اعمالو نه خبردې دکوم چې به هغه تاسو ته بدله درکړی بغیردَ عذر دَ جهادنه پاتې کیدونکی مؤمنان (غیرُ) په رفع سره صفت کیدو دَ وجې نه اوپه نصب سره دَ استثناء د وجې نه، دَ ګډوالی یا ړندوالي وغیره په وجه، اودَالله تعالی په لار کښې په ځانونو اومالونوسره جهاد کونکی برابر کیدې نه شی او الله تعالی په خپلو مالونو اوځانونوسره جهاد کونکوته دَ عذر دَ وجې نه جهاد نه کونکوباندې فضیلت ورکړې دې. دواړه په نیت کښې د مساوی کیدلو اودَ مجاهد په عملی توګه جهاد کولودَ وجې نه، او (هسې خو) الله تعالی دواړو ډلو نه هریوسره دَ ښیګړې وعده کړې ده اومجاهدینو له یئ بغیردَ عذره پاتې کیدونکو باندې لوئی اجر فضیلت ورکړې دې او درجاتِ منه د (اجراً) نه بدل دې دَخپل طرف نه دَ مرتبو چې په عزت کښې یودَ یوبل نه زیات دې او په مغفرت اورحمت کښې دواړه دَخپل مقدرفعلونودَ وجې منصوب دې الله تعالی خپل دوستانو لره معاف کونکې اودَهغه اطاعت کونکوباندې رحم کونکې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: مُخْطِئًا فِي قَتْلِه: په دې کښې اشاره ده چې خَطَأً، حال کیدو دَوجې نه منصوب دې او مصدر په معنی د اسم فاعل دې اوداهم کیدې شی چې مفعول مطلق کیدو دَوجې منصوب وی او مصدر دَمحذوف صفت وی. ای اِلَّاقَتْلاً خطأً.

قوله: عَلَيْهِ: په دې کښې اشاره ده چې تحرير، مبتداء ده او ددې خبرمحذوف دې أى فعليه تحرير يا د مبتداء محذوف خبردې أى فالواجب عليه تحرير رقبة او د فعل محذوف فاعل هم کيدې شى أى فيجب عليه تحرير رقبة او دا هم کيدې شى چې عليه دَ شرط جزاء وى او چونکه دَجزاء دَپاره جمله کيدل شرط دى لهذا عليه به محذوف منل وى.

قوله: وَدِيَةٌ، دَدې عطف په تحرير باندې دې وَدِيَة په اصل کښې مصدر دې په مال ماخوذ باندې دَدې اطلاق کړې شوې دې هم دَدې وجې نه دَدې صفت مُسَلَّمَةٌ راوړلې شوې دې او دا د اصل کښې وَدِيٌ وو واؤحذف کړې شو دَدې په عوض کښې په آخره کښې تاء تانيث اضافه کړې شوه نو دية شو.

قوله: نِصْفُ دِيْنَارٍ، دا دَامام شافعى رحمه الله په نيزدى.

قوله: ثُلُثَا عُشْرِهَا، دا دَ امام شافعى رحمه الله مذهب دې.

قوله: مَصْدَرٌ مَنْصُوْبٌ بِفِعْلِهِ الْمُقَدَّرِ أى تَابَ عَلَيْكُمْ تَوْبَةً.

قوله: عَالِمًا بِإِيْمَانِهِ .يعنى مذکوره عذاب به هغه وخت مستحق شى کله چې ئى دې مؤمن گنړلو سره قتل کړې وى او که حربى ئى گنړلې وى او قتل کړې ئې وى نومستحق به نه وى.

قوله. بِمَنِ اسْتَحَلَّه، دَدې اضافې مقصد په معتزله باندې ردکول دى ځکه چې په جهنم کښې خو به دَهميشه داخليدل دَ کافردَپاره وى په دې وجه دکتاب وسنت او اجماع دلائل قطعيه په دې کښې صريح دى چې عصاة المسلمين به دَائمى توګه باندې دوزخ کښې نه داخليږى. په خلاف دَ معتزله چې دَهغوى په نيزدکبيره گناه مرتکب که چرې بغيردتوبې نه مرشى نوهغه هم دائمى جهنمى دې.

قوله. لايُدْرَء أى الاَنْدَرَةُ،دَ ابن عباس رضى الله عنهما په نيزآيت په ظاهرباندې محمول دې غالبًا دَدې نه مقصد شدت ښکاره کول دى ځکه چې هم دَ ابن عباس رضى الله عنهما نه دَدې خلاف هم نقل دى.

قوله: فِى قراءة بالمثلثة: اى بالثاء،اى فتثبتوا، (يعنى انتظار کوئ).

قوله: بِالرَّفْعِ صِفَةً، يعنى غيرُمرفوع دې دَ قاعدون صفت کيدو دَ وجې نه.

سوال: القَاعِدُوْنَ الف لام دَ وجې نه معرفه دې او غيرنکره دې لهذا صفت واقع کيدل صحيح نه دى.

رومبې جواب: غير چې کله دَ دوؤ متضاد څيزونو په مينځ کښې واقع وى نو معرفه کيږى.

دويم جواب:- القاعدون کښې الف لام دَ جنس دې دَ کوم دَ وجې نه چې مشابه دنکرې سره دې.

دریم جواب:- دَ القاعدون نه یومتعین قوم مرادنه دي لهذا هغه هم نکره دې معرفه به هله وې چې متعین قوم مراد وې. ښکاره خبره ده چې غیر د القاعدون نه بدل دې او بدل مبدل منه کښې تعریف اوتنکیر کښې مطابقت ضروری نه دې. او په غیرباندې نصب هم جائز دې د القاعدون نه دَ استثناء دَ وجې نه دې.

قوله مِنَ الزَّمَانَةِ دا دَللضرربیان دې.

قوله: مَنْصُوْبَانِ بِفِعْلِهِمَا الْمُقَدَّرِ یعنی مغفرةً ورحمةً دواړه دَخپل خپل فعل مقدر دَ وجې نه منصوب دی نه چې په اَجراً باندې د معطوف کیدو دَ وجې نه، تقدیری عبارت دادې غفرالله لهم مغفرةً ورحمهم الله رحمةً.

[ایاتونه: ۹۷-۱۰۰]

وَنَزَلَ فِي جَمَاعَة أَسْلَمُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا فَقُتِلُوا يوم بدر مع الكفار ﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ﴾ بِالْمُقَامِ مع الكفار وترك الهجرة ﴿قَالُوا﴾ لَهُمْ مُوَبِّخِينَ ﴿فِيمَ كُنْتُمْ﴾ أَيْ فِي اي شَيْء كُنْتُمْ فِي أَمْر دِينكُمْ ﴿قَالُوا﴾ مُعْتَذِرِينَ ﴿كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ﴾ عَاجِزِينَ عَنْ إِقَامَة الدِّين ﴿فِي الْأَرْضِ﴾ أَرْض مَكَّة ﴿قَالُوا﴾ لَهُمْ تَوْبِيخًا ﴿أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا﴾ مِنْ أَرْض الْكُفْر إِلَى بَلَد آخر كَمَا فَعَلَ غيركم قال الله تعالى ﴿فَأُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾ هِيَ ﴿إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ﴾ الَّذِينَ ﴿لا يستطيعون حيلة﴾ لَا قُوَّة لَهُمْ عَلَى الْهِجْرَة وَلَا نَفَقَة ﴿وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا﴾ طَرِيقًا إِلَى أَرْض الْهِجْرَة ﴿فأولئك عسى الله أن يعفو عنهم وكان الله عفوا غفورا﴾ ﴿وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا﴾ مُهَاجِرًا ﴿كَثِيرًا وَسَعَةً﴾ فِي الرِّزْق ﴿وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ﴾ فِي الطَّرِيق كَمَا وَقَعَ لجندع بْن ضَمْرَة اللَّيْثِيّ ﴿فَقَدْ وَقَعَ﴾ ثبت ﴿أجره على الله وكان الله غفورا رحيما﴾

ترجمه:-(آئنده آیت) دَ یوې ډلې په باره کښې نازل شو چاچې اسلام قبول کړو خو هجرت ئې اونه کړو او دکافرانوسره په بدر کښې قتل کړې شو. بیشکه دَهغه خلقو روحونه کوم چې د کافرانوسره د اوسیدلو اود هجرت ترک کولو د وجې ئې په خپل ځان ظلم اوکړو. فرښتې (چې کله) روح قبض کوی نودَهغوئ نه توبیخاً تپوس کوی تاسو دَخپل دین په معامله کښې په کوم حال وئې؟ نوهغوئ عذربیانولوسره وائی چې مونږ دَ دین دَ قایمولو په معامله کښې دَ مکې په زمکه کښې کمزوری وو نو(فرښتې) به هغوی ته توبیخاً وائی ولې دَالله تعالی زمکه وسیع نه وه؟ چې تاسو په هغې کښې هجرت کړې وې یعنی دَ کافرانودَ مکې نه چرته بل خوامو هجرت کړې وې لکه چې نورو کړې دې. الله تعالی به فرمائی هم دغه خلق دی دَ چا ځائی چې دوزخ دې او هغه ډیرخراب ځائی دې سوا دَهغه خلقو نه چې په سړو کښې، ښځو کښې، او ماشوماتو کښې کمزورې وی چې نه څه تدبیر کولې شی او نه ورته دَ هجرت کولو څه صورت مومی

نوداخلق داسې دی چې الله تعالی به دوی معاف کړی اوالله تعالی خودې ډیرمعاف کونکې اوډیربخښونکې اوڅوک چې دَالله تعالی په لار کښې هجرت اوکړی نو هغه به په زمکه کښې دَهجرت ځایونه دی او په رزق کښې وسعت بیامومی اوڅوک چې دَالله تعالی اودَهغه دَ رسول ﷺ دَ خاطره هجرت کولوسره اوځی بیا په لارکښې هغه ته مرګ راشی لکه چې جندع بن ضمره لیثی ته پیښه شوې وه نودَهغه دَپاره په الله تعالی باندې اجر ثابت شو اوالله تعالی خودې ډیر بخښونکې او ډیرمهربان.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: قَالُوا لَهُمْ مُوَبِّخِيْنَ: **سوال**: دَ مُوَبِّخِيْنَ داضافې څه فائده ده؟

جواب: دَ مُوَبِّخِيْنَ دَ اضافه مقصد په سوال اوجواب کښې مطابقت پیدا کول دی څکه چې مُوَبِّخِيْنَ مخذوف اونه منلې شی نو.

سوال: فِيْمَ كُنْتُمْ؟ او **جواب**: كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ کښې مطابقت نه راځی څکه چې سوال دې چې تاسو په څه څیزکښې وئې اوجواب دې مونږ کمزوری او عاجزوو. دا جواب دَ سوال مطابق نه دې او مُوَبِّخِيْنَ محذوف اومنلې شی نودا سوال نه شو بلکه دَهجرت دَپاره نه به وتلوباندې توبیخ وی مطلب دا شو چې تاسو دَهجرت دَپاره ولې اونه وتلئ؟ جواب ورکړې شو چې زمونږ دَ کمزورئ دَ وجې په هجرت باندې قدرت نه وو په دې وجه مونږ هجرت اونه کړو.

قوله: فِىْ اَيِّ شَيْءٍ په دې کښې اشاره ده چې فِيْمَ کښې مَا استفهامیه ده نه چې موصوله

قوله: مُرَاغَمًا، دَ باب مفاعله ظرف مکان دې معنی دَ منع کیدو ځائی، مقام هجرت، د مُرَاغَمًا، تفسیرپه مهاجراً سره کولو مقصد تعیین دَمعنی دې.

قوله: جُنْدُعُ بْنِ ضَمْرَةَ، بعض مفسرینو جندب بن ضمره لیکلې دې.

[ایاتوله:۱۰۱-۱۰٤]

﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ﴾ سَافَرْتُمْ ﴿فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ﴾ فِي ﴿أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ﴾ بِأَنْ تَرُدُّوهَا مِنْ أَرْبَعٍ إِلَى اثْنَتَيْنِ ﴿إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ﴾ أَيْ يَنَالَكُمْ بِمَكْرُوهٍ ﴿الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ بَيَانٌ لِلْوَاقِعِ إِذْ ذَاكَ فَلَا مَفْهُومَ لَهُ وَبَيَّنَتِ السُّنَّةُ أَنَّ الْمُرَادَ بِالسَّفَرِ الطَّوِيلِ وَهُوَ أَرْبَعُ بُرُدٍ وَهِيَ مَرْحَلَتَانِ وَيُؤْخَذُ مِنْ قَوْلِهِ ﴿فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ﴾ أَنَّهُ رُخْصَةٌ لَا وَاجِبٌ وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيُّ ﴿إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُبِينًا﴾ بيني العداوة ﴿وَإِذَا كُنْتَ﴾ يَا مُحَمَّدُ حَاضِرًا ﴿فِيهِمْ﴾ وَأَنْتُمْ تَخَافُونَ الْعَدُوَّ ﴿فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ﴾ وَهَذَا جَرْيٌ عَلَى عَادَةِ الْقُرْآنِ فِي الْخِطَابِ ﴿فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَكَ﴾ وَتَتَأَخَّرُ طَائِفَةٌ ﴿وَلْيَأْخُذُوا﴾ أَيِ الطَّائِفَةُ الَّتِي قَامَتْ مَعَكَ ﴿أَسْلِحَتَهُمْ﴾ مَعَهُمْ ﴿فَإِذَا سَجَدُوا﴾ أَيْ صَلَّوْا ﴿فَلْيَكُونُوا﴾ أَيِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى ﴿مِنْ وَرَائِكُمْ﴾ يَحْرُسُونَ إِلَى أَنْ تَقْضُوا الصَّلَاةَ

وَتَذْهَب هَذِهِ الطَّائِفَة تَحْرُس ﴿وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ﴾ مَعَهُمْ إلَى أَنْ تَقْضُوا الصَّلَاة وَقَدْ فَعَلَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَلِكَ بِبَطْنِ نَخْل رَوَاهُ الشَّيْخَانِ ﴿وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ﴾ إذَا قُمْتُمْ إلَى الصَّلَاة ﴿عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً﴾ بِأَنْ يَحْمِلُوا عَلَيْكُمْ فَيَأْخُذُوكُمْ وَهَذَا عِلَّة الْأَمْر بِأَخْذِ السِّلَاح ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ﴾ فَلَا تَحْمِلُوهَا وَهَذَا يُفِيد إيجَاب حَمْلهَا عِنْد عَدَم الْعُذْر وَهُوَ أَحَد قَوْلَيْ لِلشَّافِعِيّ وَالثَّانِي أَنَّهُ سُنَّة وَرَجَحَ ﴿وَخُذُوا حِذْرَكُمْ﴾ مِنْ الْعَدُوّ أَيْ احْتَرِزُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴿إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا﴾ ذَا إهَانَة ﴿فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ﴾ فَرَغْتُمْ مِنْهَا ﴿فَاذْكُرُوا اللَّهَ﴾ بِالتَّهْلِيلِ وَالتَّسْبِيح ﴿قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ﴾ مُضْطَجِعِينَ أَيْ فِي كُلّ حَال ﴿فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ﴾ أَمِنْتُمْ ﴿فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ أَدُّوهَا بِحُقُوقِهَا ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا﴾ مَكْتُوبًا أَيْ مَفْرُوضًا ﴿مَّوْقُوتًا﴾ أَيْ مُقَدَّرًا وَقْتهَا فَلَا تُؤَخَّر عَنْهُ وَنَزَلَ لَمَّا بَعَثَ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَائِفَة فِي طَلَب أَبِي سُفْيَان وَأَصْحَابه لَمَّا رَجَعُوا مِنْ أُحُد فَشَكَوْا الْجِرَاحَات ﴿وَلَا تَهِنُوا﴾ تَضْعُفُوا ﴿فِي ابْتِغَاءِ﴾ طَلَب ﴿الْقَوْمِ﴾ الْكُفَّار لِتُقَاتِلُوهُمْ ﴿إِن تَكُونُوا تَأْلَمُونَ﴾ تَجِدُونَ أَلَم الْجِرَاح ﴿فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ﴾ أَيْ مِثْلكُمْ وَلَا يَجْبُنُونَ عَلَى قِتَالكُمْ ﴿وَتَرْجُونَ﴾ أَنْتُمْ ﴿مِنَ اللَّهِ﴾ مِنْ النَّصْر وَالثَّوَاب عَلَيْهِ ﴿مَا لَا يَرْجُونَ﴾ هُمْ فَأَنْتُمْ تَزِيدُونَ عَلَيْهِمْ بِذَلِكَ فَيَنْبَغِي أَنْ تَكُونُوا أَرْغَب مِنْهُمْ فِيهِ ﴿وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا﴾ بِكُلِّ شَيْء ﴿حَكِيمًا﴾ فِي صُنْعه

ترجمه:- او کله چې تاسو سفر کوئ نو په مونځ کښې قصر کولو کښې په تاسو هیڅ ګناه نشته. په دې توګه چې تاسو د څلورو رکعتو په ځائې دوه اوکړئ. که چرې تاسو ته اندېښنه وي چې تاسو ته به تکلیف پېښېږي او کافران به تاسو تنګ کړي دا دنزول د وخت د واقعې بیان دې لهذا د دې مفهوم مخالف مرادنه دې. او سنت دا بیان کړې دې چې د سفرنه سفر طویل یعني اوږد سفر مراد دې او هغه څلور بریده دی چې د دوو مرحلو برابر دې او د الله تعالی قول ﴿فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ﴾ نه دا معلومیږي چې قصر رخصت دې نه چې واجب او د امام شافعي رحمه الله هم دغه مذهب دې. یقینًا کافران ستاسو ښکاره دښمنان دي (یعني) د هغوی دښمني ښکاره شوې ده او اې محمد ﷺ کله چې تاسو په هغوی کښې موجودئ او تا ته د دښمن ویره وي او (صحابه کرامو ته) په جمع سره مونځ ورکوې او نبي علیه السلام ته خطاب دې (نه چې عامو خلقو ته) د قرآني اسلوب د خطاب مطابق دې لهذا د دې مفهوم مخالف مرادنه دې نو پکار دي چې د (صحابه) یوه ډله تاسو سره (په مانځه کښې) او دریږي او (بله نوره ډله د دښمن د مقابلې د پاره) روستو پاتې شي (یعنې په جمع کښې دې شریك نه وي) او کومه ډله چې تاسو سره په (مانځه کښې) ولاړه وي هغوی سره دې هم وسله وي او کله چې دا ډله په مانځه کښې مشغوله وي نو بلې ډلې له پکار دي چې هغوی دې ستاسو نه شا ته د دښمن په مقابله کښې وي او حفاظت دې کوي تر دې چې دا ډله خپل مونځ پوره کړي او (اوس) دې دا ډله لاړه شي

او حفاظت دې کوی دويمه ډله کومې چې تردغه وخته پورې مونځ نه دې کړې هغوی دې تاسو سره مونځ اوکړی او دَ خپل بچاؤ او حفاظت سامان دې ځان سره واخلی تردې چې دا ډله هم مونځ پوره کړی او نبی کریم ﷺ په بطن نخله کښې هم داسې کړی وو. (رواه الشیخان) کافران غواړی چې کله تاسو مانځه ته اودرېږئ چې تاسو په څه شان سره دَ خپلې وسلې اوسامان نه غافل شئ نوهغوی په تاسو باندې ناڅاپی حمله اوکړی په داسې توګه چې په تاسو حمله اوکړی چې اچانك مو راګیر کړی اودا دَ وسلې ځان سره د ساتلو دَ حکم علت دې. اِلأ دا چې تاسو ته دَ باران دَ وجې نه زحمت پېښېږی یا تاسو بیماران یئ نو په دې کښې هیڅ حرج نشته چې تاسو وسله کوزه کېږدئ یعنی مسلح نه ئې. دَدې نه معلومه شوه چې دَعذر نه کیدو په صورت کښې وسله ځان سره ساتل واجب دی. اودَ امام شافعی دَ دواړو قولونو نه دا یوقول دې او دويم قول دادې چې وسله تړلې ساتل سنت دی اودې ته ترجیح ورکړې شوې ده. او دَ دښمن نه دَخپل حفاظت سامان ځان سره ساتئ (یعنی) ترکومې چې کیدې شی دَ دښمن نه محتاط اوسیږئ بیشکه الله تعالی دَ کافرانودَپاره یو رسوا کونکې عذاب تیار ساتلې دې. اوکله چې تاسو دَ مانځه نه فارغ شئ نودَ تهلیل اوتکبیر په ذریعه دَالله تعالی ذکر کوئ په ولاړه په ناسته او په ملاسته (یعنی) په هرحال کښې. بیا چې کله تاسو په امن کښې شئ نومونځ قایم کړئ دَهغې د حقوقو یعنی (ارکانو او شرائطو) سره ئې اداکوئ. یقینًا مونځ په مؤمنانو باندې په خپل مقرر وخت باندې فرض دې یعنی دَهغې په مقرر وخت کښې لهذا تاسو دَا دَهغې نه روستو کوئی مه. اوکله چې حضورپاك یو جماعت دَ غزوه احد نه فارغیدونه پس دَابوسفیان اودَهغه د ملګرو په تعاقب کښې روان کړو نوهغه خلقو دَ زخمونو (نه دردمندکیدو) شکایت اوکړو نودا آیت نازل شو اود کافرقوم په تعاقب کښې هغوی سره په جنګ کولو کښې همت مه بائیلئ که چرې تاسو ته تکلیف رسیدلې وی یعنی دَ زخمونو تکلیف وی نوهغوی ته هم ستاسو په شان تکلیف رسیدلې دې لکه څنګه چه تاسو ته رسیدلې دې. او هغوی تاسو سره د جنګ کولو نه همت نه دې بائیللې او تاسو دَالله تعالی نه د امداد او په (جهاد) باندې دَ ثواب امید لرئ کوم چې هغوی نه لری. لهذا تاسو په دې طریقه په هغوی فوقیت لرئ نو تاسو له خو په جنګ کښې دَهغوی نه زیات راغب کیدل پکاردی او هم الله تعالی خودې چې دَ هرڅیز پېژندونکې او په صنعت کښې دَحکمت والا دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: بَيَانٌ لِلْوَاقِعِ، دَدې اضافې مقصد دَ خوارجو رد دې. دَ خوارجو په نیز دَ قصر مونځ دَپاره دَ ویرې شرط دې او استدلال دَالله تعالی د قول ﴿ اِنْ خِفْتُمْ ﴾ نه کوی؟.

جواب: دَ جواب حاصل دادې ﴿ اِنْ خِفْتُمْ ﴾ دَ زمانهٔ نزول دَ واقعې مطابق دې څکه چې دَ نزول په زمانه کښې چې په عامه توګه مسلمانانو ته په سفرکښې دَ دښمن خطره پېښیدله

لهذا دذې مفهوم مخالف به مرادنه وی چې ګنی که چرې ویره نه وی نو قصر به نه وی.

قوله: بَيْنَ الْعَدَاوَةِ په دې کنبې اشاره ده چې مُبِيْنًا متعدی په معنی د لازم دې.

قوله: الْمُبَاحِ د المباح قید سره سفردَ معصیت خارج کول مقصود دی.

قوله فَلَا مَفْهُوْمَ لَهُ. دذې اضافې مقصد په امام ابویوسف رحمه الله باندې ردکول دی ځکه چې امام ابویوسف رحمه الله هم دَدې آیت نه استدلال کوی چې دَحضورپاک دَ وصال نه پس صلوة خوف جائزنه دې دَ نورو ائمه حضراتو په نیز جائزدې. پاتې شو رسول الله ﷺ ته خطاب نودا دَ قرآنی عادت مطابق دې.

نوټ:- مګر دَ فقه په کتابونوکښې دا اختلاف ذکرنه دې. (کماقال القاضی وصاحب المدارك)

قوله: بِأَنْ يَّحْمِلُوْا عَلَيْكُمْ فَيَأْخُذُوْكُمْ، دا دَ وَلْيَأْخُذُوْا حِذْرَهُمْ علت دې یعنی وسله ځکه ځان سره ساتئی چې چرته داسې نه وی چې هغوی ناڅاپی په تاسو حمله اوکړی.

قوله: أَنْتُمْ دَتاکید دَپاره دې دَپاره چې کافرانو طرف ته ذهن لاړنه شی.

ایاتونه: ۱۰۵-۱۱۲]

وَسَرَقَ طُعْمَة بْن أُبَيْرِق دِرْعًا وَخَبَّأَهَا عِنْد يَهُودِيّ فَوُجِدَتْ عِنْده فَرَمَاهُ طُعْمَة بِهَا وَحَلَفَ أَنَّهُ مَا سَرَقَهَا فَسَأَلَ قَوْمه النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَادِل عَنْهُ وَيُبَرِّئهُ فَنَزَلَ {إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَاب} الْقُرْآن {بِالْحَقِّ} مُتَعَلِّق بِأَنْزَل {لِتَحْكُم بَيْن النَّاس بِمَا أَرَاك} أعلمك {اللَّه} فِيهِ {وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ} كَطُعْمَة {خَصِيمًا} مُخَاصِمًا عنه {واستغفر الله} مما هممت به {إن الله كان غفورا رحيما} {وَلَا تُجَادِل عَنْ الَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنْفُسهمْ} يَخُونُونَهَا بِالْمَعَاصِي لِأَنَّ وَبَال خِيَانَتهمْ عَلَيْهِمْ {إِنَّ اللَّه لَا يُحِبّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا} كَثِير الْخِيَانَة {أَثِيمًا} أَيْ يُعَاقِبهُ {يَسْتَخْفُونَ} أَيْ طُعْمَة وَقَوْمه حَيَاء {مِنْ النَّاس وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنْ اللَّه وَهُوَ مَعَهُمْ} بِعِلْمِهِ {إِذْ يُبَيِّتُونَ} يُضْمِرُونَ {مَا لَا يَرْضَى مِنْ الْقَوْل} مِنْ عَزْمهمْ عَلَى الْحَلِف عَلَى نَفْي السَّرِقَة وَرَمْي الْيَهُودِيّ بِهَا {وَكَانَ اللَّه بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا} عِلْمًا {هَا أَنْتُمْ} يَا {هَؤُلَاءِ} خِطَاب لِقَوْمِ طُعْمَة {جادلتم} خاصمتم {عنهم} أَيْ فِي طُعْمَة وَذَوِيهِ وَقُرِئَ عَنْهُ {فِي الْحَيَاة الدُّنْيَا فَمَنْ يُجَادِل اللَّه عَنْهُمْ يَوْم الْقِيَامَة} إذَا عَذَّبَهُمْ {أَمْ مَنْ يَكُون عَلَيْهِمْ وَكِيلًا} يَتَوَلَّى أَمْرهمْ وَيَذُبّ عَنْهُمْ أَيْ لَا أَحَد يَفْعَل ذلك {وَمَنْ يَعْمَل سُوءًا} ذَنْبًا يَسُوء بِهِ غَيْره كَرَمْيِ طُعْمَة الْيَهُودِيّ {أَوْ يَظْلِم نَفْسه} يَعْمَل ذَنْبًا قَاصِرًا عَلَيْهِ {ثُمَّ يَسْتَغْفِر اللَّه} مِنْهُ أَيْ يَتُبْ {يَجِد اللَّه غَفُورًا} لَهُ {رَحِيمًا} بِهِ {وَمَنْ يَكْسِب إثْمًا} ذَنْبًا {فَإِنَّمَا يَكْسِبهُ عَلَى نَفْسه} لِأَنَّ وَبَاله عَلَيْهَا وَلَا يَضُرّ غَيْره {وَكَانَ اللَّه عَلِيمًا حَكِيمًا} فِي صُنْعه {وَمَنْ يَكْسِب خَطِيئَة} ذَنْبًا صَغِيرًا {أَوْ إثْمًا} ذَنْبًا كَبِيرًا {ثُمَّ يَرْمِ بِهِ بَرِيئًا} مِنْهُ {فَقَدْ احْتَمَلَ} تَحَمَّلَ {بُهْتَانًا} بِرَمْيِهِ {وَإِثْمًا مُبِينًا} بينا بكسبه

ترجمه:- طعمه بن اُبیرق یوه زغره پټه کړې وه او یویهودی سره ئی پټه ایخې وه. هغه

زغره دَ يهودى نه برآمدشوه. طعمه دَ زغرې الزام په يهودى باندې اولګولو اوقسم ئې اوخوړلوچې ما زغره نه ده پټه کړې، دَ طعمه خاندان والو حضور پاك ته درخواست اوکړو چې طعمه بچ کړى اوهغه برى اوګرخوى وه نو (آننده) آيت نازل شويقيناً مونږ په تاباندې كتاب قرآن په حق سره نازل كړې دې. بالحق، دانزلنا متعلق دى دې دَپاره چې په دغه معامله كښې الله تعالى تاته څه خودلى دى دَهغې مطابق دَ خلقو فيصله اوکړه او دَ خيانت كونكو مثلاً طعمه دفاع مه كوه او تاچې كومه اراده كړې ده دَهغې نه استغفار اوكړه. بيشكه الله تعالى ډير لوئى بخښونكې او ډير لوئى رحم كونكې دې. اودَهغه خلقو وكالت مه كوه چې په خپل حق كښې خيانت كوى (يعنى) دَ معاصى په ذريعه خپلو نفسونوسره خيانت كوى. ځكه چې دَ هغوئ دَ خيانت وبال پخپله هم په هغوى باندې راپريوځى. الله تعالى هيڅ يو داسې كس نه خوښوى چې خيانت كونكې اوګناهګاروى. يعنى هغه ته به سزاوركوى. طعمه اودَهغه دَ قوم خلق دَ شرم دَ وجې نه دَ خلقو نه پټيږى مګر دَ الله تعالى نه پټيدې نه شي ځكه چې هغه هغوى سره دې دَهغوى راز پيژنى كله چې هغوى دَ شپې د ناخوښه خبرې يعنى دَ غلا نه انكار او دَ زغرې دَغلا الزام په يهودى باندې دَ اچولو مشوره كوى. اوڅه چې كوى الله تعالى دَهغې علمى احاطه كړې ده تاسو هغه خلق يئى دا دَ طعمه قوم ته خطاب دې چې په دنياكښې خوتاسودَهغه دَ طرف نه دفاع اوكړه اودَ عنهم په ځائى عنه هم لوستلې شوې دې ليكن دَالله تعالى په مخكښې به دَ قيامت په ورځ دَ ده دفاع څوك اوكړى؟ كله چې هغوئ له عذاب وركړى اوڅوك به دَ هغه وكيل جوړشى؟ يعنى دَهغه دَ معاملې كفالت به اوكړى. اودَهغه دفاع به اوكړى. يعنى هيڅوك به دا كارنه كوى څوك چې څه بدى اوكړى چې هغې سره نورو خلقوته تكليف اورسى لكه دَ طعمه په يهودى باندې الزام لګول يا په خپل ځان ظلم اوكړى چې هم هغه پورې محدود وى بيادهغې نه ته استغفار اوكړى يعنى توبه اوكړى نوهغه به الله تعالى دَخپل ځان دَپاره بخښونكې او په خپل ځان باندې رحم كونكې اومومى. او څوك چې څه ګناه كوى نو دَخپل ځان دَپاره ئې كوى ځكه چې دَهغې وبال به هم په هغه باندې وى او نورو ته نقصان نه وركوى اوالله تعالى ښه پيژندونكې او په خپل صنعت كښې باحكمت دې. اوڅوك چې څه وړه يا لويه ګناه اوكړه اوبيائى هغه ګناه دَ يوبې ګناه په سر وراوتپله نوهغه دَ ډيرلوئى بهتان متحمل شو او په خپل عمل سره ئى ښكاره ګناه اوكړه.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: طُعمَة، بتثليث الطاء، والكسر أشهر

قوله: ابن أُبَيْرِق، همزه مضمومه او باء موحده اوپه راء مكسور سره دا غيرمنصرف دې.

قوله: وَخَبَأهَا، أى الدرْعَ درع كوم چې دَ اوسپنې وى مؤنث دې او دَ درع په معنى د ځمار (خادر لوپټه وغيره) مذكردې.

قوله: عَلَّمَكَ، په دې کښې اشاره ده چې رؤيت په معنی دَعلم دې او علم په معنی دَ معرفت دې کنی متعدی به درې مفعولو ته کيدل ضروری دی کوم چې موجود نه دی.

قوله: فيهِ، ضميرد ما طرف ته راجع دې.

قوله: مِمَّا هَمَمْتَ اى بقطع يد اليهودى.

قوله: بِالْمَعَاصِي، د خيانت نه مراد معصيت دې دې دَپاره چې په دې کښې دَطعمه طرف دارشامل شی ځکه چې جرم د خيانت خوصرف د طعمه نه صادرشوې وو.

قوله: حَيَاءً په دې کښې اشاره ده چې استخفاء په معنی د حَيَاء ده دې دَپاره چې مشاکلت پيداشی ځکه چې لايستخفون من الله کښې استخفاء په معنی دَحياء ده ځکه چې استخفاء، دَالله تعالی نه محال ده لهذا دَدې د نفی نه هيڅ فائده نشته.

قوله: قُرِءَعنه، يعنی دَعنهم په ځائی عنه هم په يو قراءت کښې لوستلې شوې دې أى عن طُعْمَة.

قوله: تَحَمَّلَ، دَاحتمل تفسير يې په تَحَمَّلَ سره کړې دې ځکه چې تَفَعُّل اخذ فی الإثم کښې زيات مشهوردې.

قوله: بيِّنًا، په دې کښې اشاره ده چې متعدی په معنی د لازم دې.

[اياتونه: ١١٣-١١٥]

﴿وَلَوْلَافَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿وَرَحْمَتُه﴾ بِالعِصْمَةِ ﴿لَهَمَّتْ﴾ اَضْمَرَتْ ﴿طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ﴾ مِنْ قَوْم طُعْمَة ﴿أَنْ يُضِلُّوكَ﴾ عَنِ الْقَضَاء بِالْحَقِّ بِتَلْبِيسِهِمْ عَلَيْكَ ﴿وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن﴾ زائدة ﴿شيء﴾ لأن وبال ذلك إضْلَالهِمْ عَلَيْهِمْ ﴿وَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ﴾ الْقُرآن ﴿وَالْحِكْمَةَ﴾ مَا فِيهِ مِنَ الْأَحْكَام وَالْغَيْب ﴿وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ﴾ بذلك وغيره ﴿عظيما﴾ ﴿لَاخَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّنْ نَّجْوَاهُمْ﴾ أيْ النَّاس أيْ مَا يَتَنَاجَوْنَ فِيهِ وَيَتَحَدَّثُونَ ﴿إِلَّا﴾ نَجْوَىْ ﴿مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ﴾ عَمَل بِرّ ﴿أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ﴾ المذكور ﴿ابْتِغَاء﴾ طلب ﴿مَرْضَاتِ اللّٰهِ﴾ لَا غَيْره مِنْ أُمُور الدُّنْيَا ﴿فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ﴾ بالنون والياء اي الله ﴿أجرا عظيما﴾ ﴿وَمَنْ يُشَاقِقِ﴾ يُخَالِف ﴿الرَّسُول﴾ فِيمَا جَاءَ بِهِ مِنَ الْحَقّ ﴿مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ﴾ ظَهَرَ لَهُ الْحَقّ بِالْمُعْجِزَاتِ ﴿وَيَتَّبِعْ﴾ طَرِيقًا ﴿غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ أيْ طَرِيقهمْ الَّذِي هُمْ عَلَيْهِ مِنَ الدِّين بِأَنْ يَكْفُر ﴿نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ﴾ نَجْعَلهُ وَالِيًا لِمَا تَوَلَّاهُ مِنَ الضَّلَال بان نخلي بينه وبينه في الدنيا ﴿ونصله﴾ نُدْخِلهُ فِي الْآخِرَة ﴿جَهَنَّمَ﴾ فَيَحْتَرِق فِيهَا ﴿وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾ مَرْجِعًا هِيَ

ترجمه: - اې محمد ﷺ که په باندې دَالله تعالی فضل او دَحفاظت مهربانی نه وه نو دَ (طعمة ابن ابيرق) دَ قوم يوې دلې تالره دَحق فيصله کولو نه په اشتباه کښې اچولو سره دَ دهوکه کولو اراده کړې وه. مګر په اصل کښې داخلق خپل ځان ګمراه کوی او دا خلق ستا هيڅ نقصان نه

شی کولی. مِن زائده دي دګمراه کولوبال پخپله هم په دوی باندي دي اوالله تعالی په تاباندي کتاب قرآن اوحکمت په کوم کښي چي احکام دی نازل کړي دي اوتاته ئی هغه احکام او مغیبات اوخودل کوم چي تا نه پیژندل. اودَ الله تعالی په تاباندي دا اودَدي نه علاوه یودیرلوي فضل دي. دَدي خلقو په خفیه مشوروکښي اکثرڅه خیرنشته یعنی په کوم کښي چي دوی غوړایستني او خبري اتري کوی(په دي کښي هیڅ خیرنشته) اودَهغه چا په مشوره کښي چي دَ صدقي یا د څه کارخیر خفیه مشوره اوکړی یا دَ خلقو په مینځ کښي دَ اصلاح مشوره اوکړی (نیکی ده) اوڅوک چي دغه مذکوره کارونه دَالله تعالی دَخوشحالولودپاره اوکړی نه چي دَ بل څه دنیاوی غرض دَپاره نو مونږبه هغه ته ضرور اجرعظیم ورکړو. (نؤتیه) کښي یا، او نون دواړه دی یعنی الله او کوم کس چي په هغه حق کښي کوم چي رسول راوړي دي دَمعجزاتو په ذریعه دَ هدایت لاره ښکاره کیدو نه پس(هم) دَ رسول مخالفت اوکړی اوکوم چي دَ(عام) ایمان والا لار پریږدی دَ نورو لار اختیارکړی یعنی هغه دین لار پریږ دی په کوم چي دوی دي په داسي توګه چي دَدي نه انکاراوکړی نومونږبه هغه هم په هغه کولوسره پریږدو کوم چي هغه کوی یعنی مونږ به هغه هم دَهغه ګمراه والی جوړکړو دَ کوم چي هغه والی جوړشوي دي په داسي طریقه چي مونږ به هغه اودَهغه اختیارکړي شوي په دنیاکښي دګمراهئی په مینځ کښي آزاد پریږدو اوهغه به په آخرت کښي په دوزخ کښي داخل کړ دي دَپاره چي په هغي کښي اوسوزی اوهغه دیر خراب ځائی دي.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله. لَهَمَّتْ،دا دَ لولافضل الله جواب دي.

سوال لولا دَ وجود اول دَ وجي نه په امتناع ثانی باندي دلالت کوی مطلب داشوچي دَالله تعالی دَ فضل دَ وجي نه هغه خلقو ستاسو دَ بي لاري کولو اراده اونه کړه حالانکه هغوی اراده کړي وه؟.

جواب: دلته دَ ارادي نه مراد هغه اراده ده چي مع الفلال وی. اوس مطلب داشو چي دَالله تعالی دَ فضل دَ وجي نه اضلال مقصود منتفی شو.

قوله: مِنْ زَائِدَةٌ،څکه چي يَضُرُّ متعدی بنفسه بدومفعول دي. تقدیری عبارت دادي وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ.

قوله: مَا يَتَنَاجَوْنَ فيه،په دي کښي اشاره ده چي نجوی مصدر په معنی د اسم مفعول دي.

قوله. إِلَّا نَجْوَى، نجوی مضاف محذوف منلوسره يئ اشاره اوکړه چي حذف دَ مضاف نه بغیرد مَا يَتَنَاجَوْنَ نه مِنْ أَمَرَ استثناء صحیح نه ده.

[ایاتونه: ۱۱۵ - ۱۲۶]

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ عَنِ الحق ﴿إِنْ﴾ ما ﴿يَدْعُونَ﴾ يَعْبُدُ الْمُشْرِكُونَ ﴿مِنْ دُونِهِ﴾ أَيِ اللهِ أَيْ غَيْرِهِ ﴿إِلَّا إِنَاثًا﴾ أَصْنَامًا مؤنثة كاللات وَالْعُزّى وَمَنَاة ﴿وَإِنْ﴾ مَا ﴿يَدْعُونَ﴾ يَعْبُدُونَ بِعِبَادَتِهَا ﴿إِلَّا شَيْطَانًا مَرِيدًا﴾ خَارِجًا عَنِ الطَّاعَةِ لِطَاعَتِهِمْ لَهُ فِيهَا وَهُوَ إِبْلِيسُ ﴿لَعَنَهُ اللَّهُ﴾ أَبْعَدَهُ عَنْ رَحْمَتِهِ ﴿وَقَالَ﴾ أَيِ الشَّيْطَانُ ﴿لَأَتَّخِذَنَّ﴾ لأجعلن لي ﴿مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا﴾ حَظًّا ﴿مَفْرُوضًا﴾ مقطوعًا أَدْعُوهُمْ إِلَى طَاعَتِي ﴿وَلَأُضِلَّنَّهُمْ﴾ عَنِ الْحَقِّ بِالْوَسْوَسَةِ ﴿وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ﴾ أُلْقِي فِي قُلُوبِهِمْ طُولَ الْحَيَاةِ وَأَنْ لَا بَعْثَ وَلَا حِسَابَ ﴿وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ﴾ يُقَطِّعُنَّ ﴿آذَانَ الْأَنْعَامِ﴾ وَقَدْ فَعَلَ ذَلِكَ بِالْبَحَائِرِ ﴿وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ﴾ دِينَهُ بِالْكُفْرِ وَإِحْلَالِ مَا حَرَّمَ اللهُ وَتَحْرِيمِ مَا أَحَلَّ ﴿وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا﴾ يَتَوَلَّاهُ يُطِيعُهُ ﴿مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ أَيْ غَيْرِهِ ﴿فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُبِينًا﴾ بَيِّنًا لِمَصِيرِهِ إِلَى النَّارِ المؤبدة عليه ﴿يَعِدُهُمْ﴾ طُولَ الْعُمُرِ ﴿وَيُمَنِّيهِمْ﴾ نَيْلَ الْآمَالِ فِي الدُّنْيَا وَأَنْ لَا بَعْثَ وَلَا جَزَاءَ ﴿وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ﴾ بِذَلِكَ ﴿إِلَّا غُرُورًا﴾ بَاطِلًا ﴿أُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنْهَا مَحِيصًا﴾ معدلا ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا﴾ أَيْ وَعَدَهُمُ اللهُ ذَلِكَ وَحَقَّهُ حَقًّا ﴿وَمَنْ﴾ أَيْ لَا أَحَدَ ﴿أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ قِيلًا﴾ أَيْ قَوْلًا وَنَزَلَ لَمَّا افْتَخَرَ الْمُسْلِمُونَ وَأَهْلُ الْكِتَابِ ﴿لَيْسَ﴾ الأمر منوطا ﴿بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَا أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتَابِ﴾ بَلْ بِالْعَمَلِ الصالح ﴿مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ﴾ إِمَّا فِي الْآخِرَةِ أَوْ فِي الدُّنْيَا بِالْبَلَاءِ وَالْمِحَنِ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ ﴿وَلَا يَجِدْ لَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ أَيْ غَيْرِهِ ﴿وَلِيًّا﴾ يَحْفَظُهُ ﴿وَلَا نَصِيرًا﴾ يمنعه منه ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ﴾ شَيْئًا ﴿مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ﴾ بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ وَالْفَاعِلِ ﴿الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا﴾ قَدْرَ نقرة النواة ﴿وَمَنْ﴾ أَيْ لَا أَحَدَ ﴿أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ﴾ أَيِ انْقَادَ وَأَخْلَصَ عَمَلَهُ ﴿لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ﴾ مُوَحِّدٌ ﴿وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ﴾ الْمُوَافِقَةَ لِمِلَّةِ الْإِسْلَامِ ﴿حَنِيفًا﴾ حَالٌ أَيْ مَائِلًا عَنِ الْأَدْيَانِ كُلِّهَا إِلَى الدِّينِ الْقَيِّمِ ﴿وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا﴾ صَفِيًّا خَالِصَ الْمَحَبَّةِ لَهُ ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا ﴿وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطًا﴾ عِلْمًا وَقُدْرَةً أَيْ لَمْ يَزَلْ مُتَّصِفًا بذلك

ترجمه:- الله تعالی به هیڅ کله معاف نه کړی دا خبره چې هغه سره شریک جوړ کړې شی (او) دَ شرک نه علاوه ګناه دَ چادَ پاره چې او غواړی معاف یې به کړی او څوک چې الله تعالی سره شرک پیدا کوی هغه دَ حق نه ډیر لرې پریوځی. مشرک الله تعالی پریږدی او دَ ښځو یعنی (بتانو) بندګی (عبادت) کوی لکه چې څنګه لات، عزیٰ او مناة دَدوی عبادت نه دې مګر دَ سرکش شیطان عبادت دې کوم چې دَ طاعت دَحدنه خارجیدونکې دې. دَ بتانو په عبادت کنبې د دمشرکانو د شیطان خبره منلو دَ وجې نه او هغه ابلیس دې الله تعالی په هغه لعنت فرمائیلې دې یعنی هغه ئی دَ خپل رحمت نه لرې کړې دې. او هغه شیطان وئیلی دی چې زه به ستا په بندیګانو کنبې خپله حصه اخلم (یعنی) زه به هغوی له دَ خپل اطاعت دعوت ورکوم او زه به دَ

په هغوی به په هغوی دَ اوږدژوند (باطل) وسوسو په ذریعه به هغوی دَ حق نه ضرور گمراه کوم اوزه به ـ
خواهش ضرور اچوم او دا چې بعث اوحساب نشته. او دا چې زه به هغوی ته حکم ورکوم چې دَ
څناورو په غوږونو کښې چاوْدې اوکړې چنانچه داسې په بحائرکښې اوکړې شو (بحیره هغه
اوښه چې څلورخل نې نران راوړلونه پس په پنځم ځل ماده بچې راوړې وی) اوزه به هغوی
ته وایم چې دَالله تعالی مخلوق (یعنی) دَ هغه دین دکفرپه ذریعه اوحرام کړې شوی حلالولو
اوحلال لره حرامولوسره بدل کړی. اوکوم کس چې الله تعالی پریږدی او شیطان دوست جوړوی
یعنی هغه سره دوستی کوی اودَ هغه اطاعت کوی هغه به یقینًا په ښکاره نقصان کښې
پریوځی. دَهغه دَ همیشه والا عذاب ته دَ ورتللودَ وجې هغه به دَدوی سره تول ژوند (زبانی)
وعدې کوی اوهغوی ته به په دنیاکښې دَ تمنا پوره کیدو امید ورکوی او دا چې بعث
اوحساب هیڅ نشته. هغوی سره دَ شیطان وعدې سراسر د دهوکې دی داهغه خلق دی چې دَدوی
ځائی دوزخ دې دَ چرته نه چې به هغوی ته خلاصې نه ملاویږی اوڅوک چې ایمان راوړی اونیک
عملونه کوی نوموږ به هغوی په داسې جنت کښې داخل کړو په کوم کښې چې به نهرونه جاری وی
اوهغوی به په کښې دَهمیشه همیشه دپاره وی دَالله تعالی وعده حق ده یعنی الله تعالی هغوی
سره وعده کړې ده چې سراسرحق ده اودَ الله تعالی نه رښتیاخبره دَ چاکیدې شی؟ دَ چاهم نه
اوکله چې مسلمانانواواهل کتاب فخراوکړو نو (آئنده) آیت نازل شو اودَ (ایمان اوطاعت
مدار (اې مسلمانانو) نه ستاسو په آرزوگانو دې او نه دَاهل کتاب په آرزوگانو بلکه په نیک
عمل باندې دې څوک چې بدعمل کوی هغه ته به سزا ورکولې شی یا خو په آخرت کښې اویاپه
دنیاکښې په ازمیښت اومحنت سره لکه چې په حدیث کښې راغلی دی هغه به دَ الله تعالی
نه علاوه بل هیڅوک خپل دوست اونه وینی چې دَهغه حفاظت اوکړې شی اونه څوک امدادی
چې دَهغه دفاع اوکړې شی او څوک چې څه هم نیک عمل کوی که هغه سړی وی اوکه ښځې او
مؤمن هم وی نوداسې تول خلق به جنت ته ځی. (یدخلون) مجهول اومعرف دواړه دی او په
هغوی به دَیو ذرې برابر (یعنی) په اندازه دَ هډوکی دَ چاوْدی هومره ظلم نه کیږی او په دین
کښې دَهغه چا نه بهترڅوک دی؟ هیڅوك نه. څوک چې خپل مخ د الله تعالی طرف کړی یعنی
دَهغه حکم منونکې شی اوخپل عمل (دَ الله) دَپاره خالص کړی اوهغه محسن موحدهم وی
اودَ ابراهیم علیه السلام دَ نیغې لارې والا مذهب کوم چې دَ اسلامی ملت مطابق دې تابعداری
اوکړی، حال دا چې هغه دَ تولو دینونونه بې رخی اوکړی اودَ صحیح دین طرف ته رخ کړی او الله
تعالی خو ابراهیم علیه السلام خپل دوست جوړکړو ایعنی هغه سره خالص محبت کونکې اوهم دَالله
تعالی ملک دې څه چې په زمکواو آسمانونوکښې دی دَ ملکیت په اعتبارسره او دَ تخلیق په
اعتبارسره اودَ مملوکیت په اعتبارسره او الله تعالی دَهرڅیز علم او قدرت په اعتبارسره
احاطه کړی ده یعنی هغه دغه صفت سره دَهمیشه دَپاره متصف دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: مَرِيْداً، (ن، ك) صفت مشبه، سرکش، دَهرخیرنه خالی، ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ ﴾ دا کلام مستانف دې دَ شرك دنه معاف کولو دَ تاکید دَپاره راوړلې شوې دې.

قوله: لَعَنَهُ اللّٰهُ، دا دَ شیطان دویم صفت دې اول مېنځا دې.

قوله: اَمُنِّيَنَّهُمْ، زه به هغوی ته اومیدونه ورکوم دَهغوی په زړونوکښې به اوږده اوږده خواهشات راپیدا کوم. تمنیّة نه مضارع واحد متکلم بانون تاکید ثقیله.

قوله: يُبَتِّكُنَّ، مضارع جمع مذکر غائب بانون تاکید ثقیله. تَبتيكُ (تفعیل) ماده بَتْكٌ دغوږ به ډیر پرې کوی.

قوله: بَحَائِر، دَ بَحِيرة جمع ده هغه اوښه چې مسلسل څلورنران راوړی او په پنځم ځل ماده راوړی دَداسې اوښې غوږ به ئې څیرې کړو اودَ بتانو په نوم به ئې آزاده کړه اودَهغې نه خدمت اخستل به ئې گناه گنړله دَ بحر په ماده کښې چونکه د وسعت اودکثرت معنی ملحوظ ده په دې وجه چې دکومې اوښې په ښه شان سره غوږ څیرلې شوې وی هغې ته بحیره وائی دا فعیل په معنی د مفعول دې.

قوله: دِيْنَهُ، د خلق تفسر په دین سره کولو کښې دَ یوسوال جواب ته اشاره ده.

سوال: دَ مشرکانو خویو دین هم حق نه وو بیا دَهغې دَ بدلولو څه مطلب دې؟

جواب: دَ دین نه مراد دین فطرت دې چې په هرکس کښې دننه موجود دې الله تعالی فرمائیلی دی ﴿ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ اَيْ لِدِيْنِ اللّٰهِ ﴾

قوله: يَعِدُهُمْ، او يُمَنِّيْهِمْ دَدې دواړو مفعول محذوف دې کوم چې مفسرعلام ظاهرکړې دې.

قوله: عَنْهَا مَحِيْصًا، عنها دَمحذوف متعلق دې اودَ مَحِيْصًا نه حال دې ای کائنا عَنْهَا، عَنْهَا دَ يَجِدُوْنَ متعلق څکه نه شی کیدې چې دَ يجدون صله عن نه راځی اونه دَمحيصا متعلق کیدې شی څکه چې محيصا خو یا اسم مکان دې چې عمل نه کوی یامصدردې اودَ مصدرمعمول په مصدرباندې مقدم کیدې نه شی.

[ایاتونه: ۱۲۷ - ۱۳٤]

﴿وَيَسْتَفْتُوْنَكَ﴾ يَطْلُبُونَ مِنْكَ الْفَتْوَى ﴿فِي﴾ شَأْنِ ﴿النِّسَاءِ﴾ وَمِيرَاثِهِنَّ ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ﴾ الْقُرْآنِ مِنْ آيَةِ الْمِيرَاثِ وَيُفْتِيكُمْ أَيْضًا ﴿فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ﴾ فُرِضَ ﴿لَهُنَّ﴾ مِنَ الْمِيرَاثِ ﴿وَتَرْغَبُوْنَ﴾ أَيُّهَا الْأَوْلِيَاءُ عَنْ ﴿أَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ﴾ لِدَمَامَتِهِنَّ وَتَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَتَزَوَّجْنَ طَمَعًا فِي مِيرَاثِهِنَّ أَيْ يُفْتِيكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا ذٰلِكَ ﴿وَ﴾ فِي ﴿الْمُسْتَضْعَفِيْنَ﴾ الصِّغَارِ ﴿مِنَ الْوِلْدَانِ﴾ أَنْ

تعطوهم حقوقهم (و) يامركم (أن تقوموا لليتامى بالقسط) بالعدل في الميراث والمهر (وما تفعلوا من خير فإن الله كان به عليما) فيجازيكم به (وإن امرأة) مرفوع بفعل يفسره (خافت) توقعت (من بعلها) زوجها (نشوزا) ترفعا عليها بتركه مضاجعتها والتقصير في نفقتها وطموح عينه إلى أجمل منها (أو إعراضا) عنها بوجهه (فلا جناح عليهما أن يصالحا) فيه إدغام التاء في الأصل في الصاد وفي قراءة يصلحا من أصلح (بينهما صلحا) في القسم والنفقة بأن تترك له شيئا طلبا لبقاء الصحبة فإن رضيت بذلك وإلا فعلى الزوج أن يوفيها حقها أو يفارقها (والصلح خير) من الفرقة والنشوز والإعراض قال تعالى في بيان ما جبل عليه الإنسان (وأحضرت الأنفس الشح) شدة البخل أي جبلت عليه فكأنها حاضرته لا تغيب عنه المعنى أن المرأة لا تكاد تسمح بنصيبها من زوجها والرجل لا يكاد يسمح عليها بنفسه إذا أحب غيرها (وإن تحسنوا) عشرة النساء (وتتقوا) الجور عليهن (فإن الله كان بما تعملون خبيرا) فيجازيكم به (ولن تستطيعوا أن تعدلوا) تسووا (بين النساء) في المحبة (ولو حرصتم) على ذلك (فلا تميلوا كل الميل) إلى التي تحبونها في القسم والنفقة (فتذروها) أي تتركوا الممال عنها (كالمعلقة) التي لا هي أيم ولا هي ذات بعل (وإن تصلحوا) بالعدل بالقسم (وتتقوا) الجور (فإن الله كان غفورا) لما في قلبكم من الميل (رحيما) بكم في ذلك (وإن يتفرقا) أي الزوجان بالطلاق (يغن الله كلا) عن صاحبه (من سعته) أي فضله بأن يرزقها زوجا غيره ويرزقه غيرها (وكان الله واسعا) لخلقه في الفضل (حكيما) فيما دبر لهم (ولله ما في السماوات والأرض ولقد وصينا الذين أوتوا الكتاب) بمعنى الكتب (من قبلكم) أي اليهود والنصارى (وإياكم) يا أهل القرآن (أن) أي بأن (اتقوا الله) خافوا عقابه بأن تطيعوه (و) قلنا لهم ولكم (إن تكفروا) بما وصيتم به (فإن لله ما في السماوات وما في الأرض) خلقا وملكا وعبيدا فلا يضره كفركم (وكان الله غنيا) عن خلقه وعبادتهم (حميدا) محمودا في صنعه بهم (ولله ما في السماوات وما في الأرض) كرره تأكيدا لتقرير موجب التقوى (وكفى بالله وكيلا) شهيدا بأن ما فيهما له (إن يشأ يذهبكم) يا (أيها الناس ويأت بآخرين) بدلكم (وكان الله على ذلك قديرا) (من كان يريد) بعمله (ثواب الدنيا فعند الله ثواب الدنيا والآخرة) لمن أراده لا عند غيره فلم يطلب أحدكم الأخس وهلا طلب الأعلى بإخلاصه له حيث كان مطلبه لا يوجد إلا عنده (وكان الله سميعا بصيرا)

ترجمه:- او (خلق) تاسونه دښځو اودهغوی د میراث په باره کښې دفتوی تپوس کوی ته هغوی ته اووایه چې الله تعالی تاسو ته دهغوی په باره کښې فتوی درکوی اوهغه هم دغه ده کومه چې تاسو ته په قرآن کښې د میراث په آیت کښې لوستلو سره اورولې شی. اوهغه تاسو ته دهغه یتیمانوپه ښځوباره کښې هم فتوی درکوی کوموته چې تاسو دهغوی د میراث مقرره حصه نه ورکوئی او اې اولیاؤ تاسو دهغوی بدرنګوالی د وجې نه. هغوی سره د نکاح کولونه ډډه کوئی او تاسودهغوی د میراث د لالچ د وجې نه هغه د نکاح کولونه هم منع کوئی هغه

تاسو ته فتویٰ درکوی چې داسې مه کوئی. (اوتاسوته) دَ کمزوری ماشومانو په باره کښې فتویٰ درکوی) چې تاسو دَهغوی حقوق اداکړئی اوتاسوته (دَدې هم) حکم درکوی چې تاسو یتیمانوسره دَمیراث او مهر په معامله کښې دَانصاف نه کار واخلئ اوتاسو چې څه هم نیک کاراوکړئی بیشکه الله تعالیٰ دَهغې نه ښه خبر دې. په هغې به تاسو ته بدله درکړی. که ښځې ته دَ خاوندَ طرف نه دَ زیاتی اندیښنه وی په هغې باندې دَ اوچتوالی دَ وجې نه چې هغه دَ بسترې نه جدا اکړی یاهغې سره دَ بغض دَ وجې نه دَهغې په نفقه کښې کمې اوکړی یا دَهغه د نظر دَهغې نه زیاتی ښائسته ښځې طرف ته اوچتیدو یا دَهغې نه دَ بې رخئ کولو اندیښنه وی نوکه دواړه په خپل مینځ کښې په خپل نمبر او نفقه کښې صلح اوکړی په دې طریقه چې خاوند ته دَ صحبت باقی ساتلودَپاره څه رعایت ورکړی که ښځه ئی په دې باندې راضی شی نوتیك ده ګنی په خاوند باندې دَهغې حق اداکول واجب دی یادې هغه پریږدی نو په هغوی څه ګناه نشته. په دې کښې په اصل کښې دَ تاء په صاد کښې ادغام دې او په یوقراءت کښې یُصْلِحَا دې أَصْلَحَ نه او صلح دَ جدائې او نافرمانئی او بې رخئی نه بهتره. او الله تعالیٰ دَانسانی پیدائش فطرت بیانولوسره اوفرمائیل اوطمع په هرنفس کښې شامل کړې شوې ده یعنی دَ بخل ډیروالې، او نفوس هم په دې باندې پیداکړې شوی دی لکه چې هغه بخل هروخت موجود وی یووخت هم دَده نه جدا کیږی نه. معنی دا ده چې ښځه دَخپل خاوند نه دَخپلې حصې نه دَ لاس اخستلودَپاره تیاره نه ده اوسړې چې بلې سره محبت کوی نوهغه دَ خپل ذات باره کښې ښځې ته دَ رعایت ورکولودَپاره تیارنه وی اوکه تاسو ښځو سره دَ ښه ژوند تیرولومعامله اوکړئی اوپه هغوی باندې دَ ظلم کولونه ځان اوساتئی نوڅه چې تاسو کوئی الله تعالیٰ په هغې باندې ښه خبرداردې دَ کومې چې به هغه تاسو ته بدله درکړی. اوتاسو نه خو به داچرې هم اونه شی چې تاسو دَ ښځو په محبت کښې مساوات اوکړئې شئی سره دَدې چې تاسو دَدې هر څومره خواهش کوئی په دې وجه په نمبراو نفقه کښې بالکل یو طرف ته مه مائل کیږئی چې کومې سره تاسو محبت کوئی (دَهغې په مقابله کښې) دَ کومې سره چې ستاسو رغبت نشته هغه زوړنده پریږدئی په داسې توګه چې هغه نه په کونډو کښې وی اونه دَ خاوند والو کښې وی. او که چرې په نمبرکښې په انصاف سره اصلاح اوکړئی اودَ ظلم نه بچ شئی نو الله تعالیٰ ستاسو دَ زړه رغبت معاف کونکې دې او په دې معامله کښې په تاسو باندې رحم کونکې دې. اوکه ښځه اوخاوندَ طلاق په وجه دَ یوبل نه جدا شی نوالله تعالیٰ به په خپل وسعت سره هریودَ بل نه بې پرواه کړی(یعنی) په خپل فضل سره. په دې توګه چې ښځې له به بل خاوند ورکړی او خاوند له بله ښځه، او الله تعالیٰ په خپل مخلوق باندې په فضل کښې وسعت والا او دَهغوی دَپاره په تدبیرکښې حکمت والا دې. دَ زمکې او آسمان هریوڅیز هم دَالله تعالیٰ ملک دې اومونږهغه

خلقو ته چاته چې تاسو نه وړاندې کتاب ورکړې شوې کتاب په معنی دکتب دې یعنی یهود اونصاریٰ اوتاسوته هم اې اهل قرآن حکم درکوی دا چې دَ الله تعالی نه اووېرېږئ یعنی دَهغه دَعذاب نه اوویرېږئ په دې توګه چې دَهغه اطاعت درکړی اومونږ هغوی ته او تاسو ته اووئیل چې که تاسو دَحکم نافرمانی اوکړئ نوڅه چې په آسمانونو اوزمکوکښې دی دَتخلیق په اعتبارسره اودَ ملك په اعتبارسره اودَ مملوك کیدو په اعتبارسره لهذا ستاسو کفر دهغه هیڅ نقصان نه شئ کولې هم دَهغه ملک دې او الله تعالی دَخپل مخلوق او دَهغوی دَعبادت نه ډیر بې نیازه او بې پرواه دې یعنی هغوی سره په خپل صنعت کښې محمود دې اودَ الله تعالی په اختیارکښې دی په زمکه او آسمانونوکښې چې څه هم دی دائی مکررذکرکړې دې دَ موجبات تقویٰ دَتاکیددَپاره، او الله تعالی دکارسازکیدو په اعتبارسره کافی دې. یعنی په دې خبره باندې دَګواهئ دَپاره چې کوم څه په زمکواو آسمانونوکښې دی هم دهغه په ملك کښې دی. اې خلقو که هغه ته منظوروی نو تاسو به هلاک کړی او ستاسو په ځائی به نور راولی اوالله تعالی ته په دې باندې پوره قدرت حاصل دې اوکوم کس چې په خپل عمل سره دَ دنیا دَاجر خواهش مندوی نو د الله تعالی سره دَ دنیا اودآخرت دواړو اجرونه دی دهغه دَپاره څوك چې ددې غوښتونکې وی نه چې دَهغه دَغیر سره نو په دې کښې کمزورې ولې طلب کوی؟ اودَخپل اخلاص په ذریعه اعلی ولې نه غواړی هر کله چې د هغه مطلوب صرف هم دهغه سره حاصلیدې شی اوالله تعالی ښه اوریدونکې او ښه لیدونکې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله فِي شَأْنِ دَمضاف محذوف منلوسره ئی اشاره اوکړه چې سوال د احوال نه کیږی نه چې د ذوات نه.

قوله مِيرَاثِهِنَّ،دا دَ شان بیان دې.

قوله وَمَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ،دَدې عطف په الله باندې دې یعنی دَ ښځودَ میراث په باره کښې الله تعالی او د قرآن آیت د(میراث) کوم چې تاسو ته لوستلې اوروليې شی فتویٰ درکوی.

قوله: أيضًا،په دې سره هم اشاره ده چې وَمَا يُتْلَى،عطف په لفظ د الله باندې دې.

قوله دَمَامَةً بدرنګوالې.

قوله أَنْ لَا تَفْعَلُوا ذٰلِكَ،دا أَنْ تفسیریه دې په دې کښې اشاره ده چې مابعئ به محذوف دې لهذا دَ فائده تام نه کیدو اعتراض ختم شو.

قوله وَفِي الْمُسْتَضْعَفِيْنَ فی مقدرمنلوسره یئ اشاره اوکړه چې دَدې عطف په يتامى النساء باندې دې.

قوله: تُعْطُوْهُمْ حُقُوْقَهُمْ، دا دَ مفتی به بیان دي.

قوله: وَيَأْمُرُكُمْ په دې کښې اشاره ده چې اَنْ تَقُوْمُوْا دَ فعل مقدرٔ وجې نه منصوب دې.

قوله: مَرْفُوْعٌ بِفِعْلٍ يُفَسِّرُهُ خَافَتْ. دَدې عبارت مقصد داخودل دی چې اِمْرَاَةٌ خَافَتْ دَ فعل مقدرٔ وجې نه مرفوع دې دَ کوم تفسیرچې روستونې خافت کوی. تقدیری عبارت دادې وَاِنْ خَافَتْ اِمْرَاَةٌ خَافَتْ.

قوله: اَجْمَلَ مِنْهَا اى جميلةٌ منها.

قوله: فِيهِ اِدْغَامُ التَّاءِ، دا هغه وخت دی کله چې دَ يصلحا اصل يصتلحا او منلې شی.

قوله: شِدَّةَ الْبُخْلِ دا دَ الشح دَمعنی بیان دې.

قوله: الْاَنْفُسُ دا دَ اُحْضِرَتْ مفعول اول قائمقام نائب فاعل دې او الشُّحَّ مفعول ثانی دې.

[اياتونه: ۱۳۵ - ۱٤۱]

{يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ} قَائِمِينَ {بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْل {شُهَدَاءَ} بِالْحَقّ {لِلَّهِ وَلَوْ} كَانَتْ الشَّهَادَةُ {عَلَى أَنْفُسِكُمْ} فَاشْهَدُوا عَلَيْهَا بِأَنْ تُقِرُّوا بِالْحَقّ وَلَا تَكْتُمُوهُ {أَوْ} عَلَى {الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ إِنْ يَكُنْ} الْمَشْهُود عَلَيْهِ {غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَاللَّهُ أَوْلَى بِهِمَا} مِنْكُم وَأَعْلَم بِمَصَالِحِهِمَا {فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوَى} فِي شَهَادَتكُمْ بِأَنْ تُحَابُوا الْغَنِيّ لِرِضَاهُ أَوْ الْفَقِير رحمة له ل {أَنْ} لا {تعدلوا} عَنْ الْحَقّ {وَإِنْ تَلْوُوا} تُحَرِّفُوا الشَّهَادَة وَفِي قِرَاءَة بِحَذْفِ الْوَاو الْأُولَى تَخْفِيفًا {أَوْ تُعْرِضُوا} عَنْ أَدَائِهَا {فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خبيرا} فيجازيكم به {يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا} دَاوِمُوا عَلَى الْإِيمَان {بِاَللَّهِ وَرَسُوله وَالْكِتَاب الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُوله} مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الْقُرْآن {وَالْكِتَاب الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْل} عَلَى الرُّسُل بِمَعْنَى الْكُتُب وَفِي قِرَاءَة بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ فِي الْفِعْلَيْنِ {وَمَنْ يَكْفُر بِاَللَّهِ وَمَلَائِكَته وَكُتُبه وَرُسُله وَالْيَوْم الْآخِر فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا} عَنْ الْحَقّ {إنَّ الَّذِينَ آمَنُوا} بِمُوسَى وَهُمْ الْيَهُود {ثُمَّ كَفَرُوا} بِعِبَادَتِهِمْ الْعِجْل {ثُمَّ آمَنُوا} بَعْده {ثُمَّ كَفَرُوا} بِعِيسَى {ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا} بِمُحَمَّدٍ {لَمْ يَكُنْ اللَّه لِيَغْفِر لَهُمْ} مَا أَقَامُوا عَلَيْهِ {وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا} طَرِيقًا إلَى الْحَقّ {بَشِّرْ} أَخْبِرْ يَا مُحَمَّد {الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا} مُؤْلِمًا هُوَ عَذَاب النَّار {الَّذِينَ} بَدَل أَوْ نَعْت لِلْمُنَافِقِينَ {يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِنْ دُون الْمُؤْمِنِينَ} لِمَا يَتَوَهَّمُونَ فِيهِمْ مِنْ الْقُوَّة {أَيَبْتَغُونَ} يَطْلُبُونَ {عِنْدهمْ الْعِزَّة} اسْتِفْهَام إنْكَار أَيْ لَا يَجِدُونَ عِنْدهمْ {فَإِنَّ الْعِزَّة لِلَّهِ جَمِيعًا} فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة وَلَا يَنَالهَا إلا أولياؤه {وَقَدْ نزلنا} بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُول {عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَاب} الْقُرْآن فِي سُورَة الْأَنْعَام {أَنْ} مُخَفَّفَة وَاسْمهَا مَحْذُوف أَيْ أَنَّهُ {إذَا سَمِعْتُمْ آيَات اللَّه} الْقُرْآن {يُكْفَر بِهَا وَيُسْتَهْزَأ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ} أَيْ الْكَافِرِينَ وَالْمُسْتَهْزِئِينَ {حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيث غَيْره إنَّكُمْ إذًا} إنْ قَعَدْتُمْ مَعَهُمْ {مِثْلهمْ} فِي الْإِثْم {إنَّ اللَّه جَامِع الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّم جَمِيعًا} كَمَا اجْتَمَعُوا فِي الدُّنْيَا عَلَى الْكُفْر وَالِاسْتِهْزَاء {الَّذِينَ} بَدَل مِنْ الَّذِينَ قَبْله

{يَتَرَبَّصُونَ} يَنْتَظِرُونَ {بِكُمْ} الدَّوَائِرَ {فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ} ظَفَرٌ وَغَنِيمَةٌ {مِنَ اللَّهِ قَالُوا} لَكُمْ {أَلَمْ نَكُنْ مَعَكُمْ} فِي الدِّينِ وَالْجِهَادِ فَأَعْطُونَا مِنَ الْغَنِيمَةِ {وَإِنْ كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ} مِنَ الظَّفَرِ عَلَيْكُمْ {قَالُوا} لَهُمْ {أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ} نَسْتَوْلِ {عَلَيْكُمْ} وَنَقْدِرْ عَلَى أَخْذِكُمْ وَقَتْلِكُمْ فَأَبْقَيْنَا عَلَيْكُمْ {وَ} أَلَمْ {نَمْنَعْكُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ} أَنْ يَظْفَرُوا بِتَخْذِيلِهِمْ وَمُرَاسَلَتِهِمْ بِأَخْبَارِهِمْ فَلَنَا عَلَيْكُمُ الْمِنَّةُ قال تعالى {فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ} وَبَيْنَهُمْ {يَوْمَ الْقِيَامَةِ} بِأَنْ يُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ وَيُدْخِلَهُمُ النَّارَ {وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا} طَرِيقًا بِالِاسْتِئْصَالِ

ترجمه:- اې ایمان والو! په انصاف باندې ښه کلک اوسیدونکی او دَالله تعالی دَپاره دَ حق ګواهي ورکونکی جوړشئ که هغه شهادت ستاسو دَ خپل ځان خلاف ولې نه وی. نودخپل ځان خلاف ګواهي ورکړئی په دې توګه چې دَحق اقرار اوکړئی اوهغه مه پټوئی. یا ستاسو دَمورپلار اوخپلوانوخلاف ولې نه وی مشهودعلیه مالدار وی که غریب الله تعالی دې دواړو ته ستاسو په نسبت نیزدې دې اودَغه دواړو دَمصلحتونونه واقف دې. په خپله ګواهئی کښې دَ نفس دَخواهش تابعداری مه کوئی. په دې توګه چې دَمالدار د زړه ساتنې دَپاره دهغه رعایت اوکړئی یا په فقیرباندې دَ رحم دَ وجې د هغه نه رعایت اوکړئی په داسې توګه چې دَحق نه واوړئی. اودا چې په ګواهئی کښې تحریف اوکړئی او په یوقراءت کښې تخفیفاً دَاول واؤ په حذف سره دې یا دا چې دَ شهادت دَاداکولونه ډډه اوکړئی. څه چې تاسو کوئی الله تعالی دهغې نه خبر دې تاسوته به دَهغې بدله درکړی. اې دَایمان والو! په الله باندې اودَهغه په رسول باندې اودَهغه په کتاب باندې چې هغه په خپل رسول محمد ﷺ باندې نازل کړې دې اوهغه قرآن دې او په هغه کتابونو چې وړاندې یې په رسولانو باندې نازل کړې دی په ایمان باندې قائم اوسیږی او کتاب معنی کتب دې او په یوقراءت کښې دواړه دَ فعل معروف په صیغې سره دی او څوک چې د الله تعالی نه اودَ هغه دَ فرښتونه اودَهغه دکتابونونه او دَهغه دَ رسولانونه اودَ قیامت دَ ورځې نه انکارکوی هغه په ګمراهئی کښې دَحق نه ډیر لرې لاړو. بیشکه کومو خلقو چې په موسی علیه السلام باندې ایمان راوړو هغه یهود دی بیا دَ سخی په عبادت کولوسره کافران شو بیائی دَهغې نه پس ایمان راوړو. بیا دَعیسی علیه السلام منکر شو بیائی دَمحمد ﷺ نه په انکارکولوسره په کفرکښې ترقی اوکړه. الله تعالی به هیڅ کله دَهغوی مغفرت اونه کړی ترکومې چې هغوی په کفرباندې قائم وی او نه به هغوی ته دَحق طرف ته نیغه لار اوښائی. اې محمد ﷺ منافقانوته اووایه چې دَهغوی دَپاره دردناک عذاب دې اوهغه دَ اور عذاب دې. هغه خلق چې مؤمنانو لره پریږدی اوکافران دوستان جوړوی په دې وجه په هغوی کښې طاقت ته خیال کوی (الذین) دَمنافقانونه بدل یا صفت واقع دې. آیا هغوی سره عزت لټوی؟ استفهام انکاری دې یعنی هغوی سره به عزت بیانه مومی. ځکه چې په دنیاکښې او په آخرت کښې ټول عزتونه هم د الله تعالی سره دی هغه هم دَالله تعالی دوستان حاصلولې شی. او الله

تعالی تاسوته په خپل کتاب قرآن کښې (نَزَّلَ) معروف اومجهول دواړه دي په سورت انعام کښې داحکم نازل کړي دي (اَنْ) مخففه دي دَدي اسم محذوف دې أي أَنَّهُ،چې کله تاسو (په يو مجلس کښې) خلقولره د الله تعالی دآيتونو نه کفرکول اوهغې پورې ټوقې کولوسره واورئی نوتاسو هغوی سره مه کينئ يعنی ټوقې مسخرې کونکوکافرانو سره ترهغه وخته پورې چې هغوی په بله څه خبره کښې مشغول شي ګنی تاسو که هغوی سره کيناستئ نوتاسو به هم په ګناه کښې دَهغوی په شان شئ. الله تعالی به منافقان او کافران ټول په دوزخ کښې راجمع کړی لکه څنګه چې هغوی په کفراو مسخرو باندې راجمع شوی وو (دا) هغه (خلق) دی چې ستاسو دَپاره دَ مصيبتونو په انتظاردی نوکه تاسو ته دَ الله تعالی دَ طرف نه فتح او (مال) غنيمت حاصليږی نو وائی چې په دين اوجهاد کښې ولې مونږ تاسو سره نه وو؟ لهذا مونږ ته هم په مال غنيمت کښې حصه راکړئی. اوکه کافرانوته په تاسو باندې فتح نصيب کيږی نوهغوی ته وائی آيا مونږ په تاسو باندې غالب نه وواغلی؟ اوآيا مونږ ستاسو په راګيرولواو قتل کولوباندې قادرشوی نه وو؟ خو مونږ په تاسو رحم اوکړو او ولې داخبره نه ده چې مونږ مسلمانانو لره بې همته کولو او دهغوئ خبرونه تاسو ته درسولو سره په تاسوباندې مسلمانان غالب راتلونه بچ کړل. لهذا زمونږ په تاسو باندې احسان دې الله تعالی فرمائی چې هم الله تعالی به ستاسواودَهغوی په مينځ کښې دَقيامت به ورځ فيصله اوکړی. په دې طريقه چې تاسو به جنت کښې او هغوی به په دوزخ کښې داخل کړی. اوالله تعالی به هيڅ کله کافرانوته په مومنانو باندې غلبه ورنه کړی يعنی د هغوی د استيصال او او بالکل ختمولو غلبه به ورنه کړی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهَا دا دَ لَوْ جواب دې د ماقبل د دلالت د وجې نه حذف کړې شوې دې.

قوله: بِاَنْ تُقِرُّوْا، په دې کښې اشاره ده چې دَخپل نفس خلاف ګواهی ورکولو مطلب دې اقرار کول.

قوله: اَلْمَشْهُوْدُ عَلَيْهِ،دَدي اضافې مقصددَ يوسوال جواب دې.

سوال: دادې چې يکن کښې کوم ضميردې هغه والدين او أقربين ته راجع دې کوم چې جمع ده او په يکن کښې ضميرواحد ددې لهذا په ضمير اومرجع کښې اتحاد نشته کوم چې ضروری دې؟

جواب: دادې چې دَيکن ضمير مرجع مشهود عليه دې کوم چې دَ جنس کيدودَ وجې نه په معنی کښې دَجمع دې.

قوله: منكم، په دې کښې اشاره ده چې منفصل عليه محذوف دې.

قوله: لأنْ تَعْدِلُوْا، تتبعوا الهوى تَتَّبِعُوْا متعدى په يو مفعول دې او هغه هوىٰ دې اوس دا دويم مفعول طرف ته بغيرد حرف متعدى كيدې نه شى ځكه يئ لام مقدرمنلې دې دې دپاره چې دويم مفعول طرف ته متعدى شى.

قوله: بعده، اى بعد عود موسىٰ.

قوله: الّذِيْنَ، على محذوف دَوجې نه منصوب كيدې هم شى.

[اياتونه: ۱۴۲ - ۱۴۷]

{إنَّ الْمُنَافِقِيْنَ يُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ} بِإِظْهَارِ خِلَافِ مَا أَبْطَنُوْهُ مِنَ الْكُفْرِ لِيَدْفَعُوْا عَنْهُمْ أَحْكَامَهُ الدُّنْيَوِيَّةَ {وَهُوَ خَادِعُهُمْ} مُجَازِيْهِمْ عَلَى خِدَاعِهِمْ فَيُفْتَضَحُوْنَ فِي الدُّنْيَا بِإِطْلَاعِ اللّٰهِ نَبِيَّهُ عَلَى مَا أَبْطَنُوْهُ وَيُعَاقَبُوْنَ فِي الْآخِرَةِ {وَإِذَا قَامُوْا إِلَى الصَّلَاةِ} مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ {قَامُوْا كُسَالٰى} مُتَثَاقِلِيْنَ {يُرَاءُوْنَ النَّاسَ} بِصَلَاتِهِمْ {وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ} يُصَلُّوْنَ {إِلَّا قَلِيْلًا} رِيَاءً {مُذَبْذَبِيْنَ} مُتَرَدِّدِيْنَ {بَيْنَ ذٰلِكَ} الْكُفْرِ وَالْإِيْمَانِ {لَا} مَنْسُوْبِيْنَ {إِلٰى هٰؤُلَاءِ} أَيِ الْكُفَّارِ {وَلَا إِلٰى هٰؤُلَاءِ} أَيِ الْمُؤْمِنِيْنَ {وَمَنْ يُضْلِلِ} هُ {اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ سَبِيْلًا} طَرِيْقًا إِلَى الْهُدٰى {يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِيْنَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ أَتُرِيْدُوْنَ أَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ} بِمُوَالَاتِهِمْ {سُلْطَانًا مُبِيْنًا} بُرْهَانًا بَيِّنًا عَلَى نِفَاقِكُمْ {إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ} الْمَكَانِ {الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ} وَهُوَ قَعْرُهَا {وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا} مَانِعًا مِنَ الْعَذَابِ {إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا} مِنَ النِّفَاقِ {وَأَصْلَحُوْا} عَمَلَهُمْ {وَاعْتَصَمُوْا} وَثِقُوْا {بِاللّٰهِ وَأَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ} مِنَ الرِّيَاءِ {فَأُولٰئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ} فِيْمَا يُؤْتَوْنَهُ {وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ أَجْرًا عَظِيْمًا} فِي الْآخِرَةِ وَهُوَ الْجَنَّةُ {مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ} نِعَمَهُ {وَآمَنْتُمْ} بِهِ وَالْاِسْتِفْهَامُ بِمَعْنَى النَّفْيِ أَيْ لَا يُعَذِّبُكُمْ {وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا} لِأَعْمَالِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالْإِثَابَةِ {عَلِيْمًا} بِخَلْقِهِ

ترجمه:- بیشکه منافقان دَخپل پټ كفر خلاف ښکاره کولو په ذریعه دې دَپاره چې دَ خپل ځان نه دنیاوی احکام دفع کړې شی. الله تعالی سره چلونه کوی او هغه دوی ته دَ دوی دَ چالباز یئ بدله ورکونکې دې. چنانچه هغوی به په دنیا کښې دَالله تعالی خپل نبی لره دَهغوی په پټ کفرباندې خبرولودَ وجې نه رسوا شی او په آخرت کښې به ورته سزا ورکولې شی. اوکله چې دا خلق مؤمنانوسره دَ مونځ دَپاره اودریږی نو په ډیره سستئی سره اودریږی (خپل مونځ) خلقو ته ښائی اودَ الله تعالی ذکر خوهسې صرف دنو دپاره کوی. دکفراو ایمان په مینځ کښې زوړند دی نه (پوره) دَ کافرانوطرف ته منسوب دی او نه مؤمنانوطرف ته. الله تعالی چې څوک گمراه کړی نوته به دَ هغوی دَپاره دَ هدایت هیڅ لار پیانه مومې. اې ایمان والو مؤمنان پریخودوسره کافران دوستان مه جوړوئې آیا تاسو غواړئې چې دَهغوی په دوستئی سره په خپل ځان باندې په نفاق باندې دالله تعالی صریح حجت قایم کړئې. یقیناً منافقان به دَ دوزخ په

ښکته طبقه کښې وی اوهغه دَ دوزخ دَ ټولو نه ښکته او لاندې طبقه ده او ته به دَهغوی
څوك امدادی اونه مومئ يعنی دَ عذاب نه بچ کونکې مګر هغه خلق چې دَ نفاق نه توبه اوکړی
اودَ خپل عمل اصلاح اوکړی اودَ الله تعالی رسئ مضبوطه اونيسئ اوخپل دين دَالله تعالی دَپاره
دَ رياکارئی نه خالص کړی نوداخلق به په جنتونوکښې د مؤمنانوسره وی اوالله تعالی به
مؤمنانو ته ډير زر اجرعظيم ورکړی اوهغه جنت دې. الله تعالی به تاسو ته په سزا درکولو څه
اوکړی؟ که چرې تاسو دَهغه دَنعمتونو شکرګذاری کوئې او په هغه باندې ايمان اولرئی
اواستفهام په معنی دَنفی دې يعنی تاسو ته به سزا نه درکوی. او الله تعالی مؤمنانوته
اجرورکولوسره دَ هغوی دَاعمالو ډيرقدردان دې اودَ خپل مخلوق نه خبردې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: يُخَادِعُهُمْ دا دَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دادې چې دَ الله تعالی طرف ته دَ خداع نسبت صحيح نه دې. ځکه چې خداع صفت
قبيح دې الله تعالی دَدې نه وراءالوراء(پاك) دې.

جواب:- دادې چې دَالله تعالی دَپاره دَ خداع استعمال دَ مشاكلت په توګه دې. داد جزاء
السيئة دَ سيئة قبيل نه دې. يعنی جزاء خداع په خداع سره تعبيرکړې شوې دې.

قوله: كُسَالَى، دَ كَسلانٌ جمع ده سست، كاهل.

قوله: يُرَاءُونَ جمع مذکر غائب (مفاعلة) هغوئ ځان خودنه کوی.

قوله: مَنْسُوبِيْنَ دَدې اضافې مقصددَدې اعتراض جواب دې چې لاالی هؤلاء کښې دَحرف لا
په حرف إِلَى باندې داخيلدل لازميږی حالانکه دَحرف په حرف باندې داخليدل صحيح نه دی.

جواب: لا، په إِلَى باندې داخل نه دې بلکه په منسوبين باندې داخل دې.

قوله: الْمَكَان: **سوال**: الدرك تفسير مفسرعلام دَطبقة په ځائې مکان سره ولې کړې دې؟

جواب: الأسفل چونکه مذکر دې لهذا الدّرك په معنی د طبقة صفت نه شی واقع کيدې.

قوله: وَالاِسْتِفْهَامُ بِمَعْنَى النَّفْي يعنی دَالله تعالی قول مَا يَفْعَلُ اللهُ بِعَذَابِكُمْ؟ کښې استفهام
په معنی دَ نفی دې لهذا دا اعتراض ختم شو چې استفهام دَالله تعالی دَپاره محال دې.

قوله: بِالإِثَابَةِ دا د دې شبه جواب دې چې شکر دمنعم اظهارد نعمت ته وائی اودا دَ ذات
بارتعالی دَ پاره محال دې.

جواب: دلته دَ شکرنه دَعمل اجر او ثواب ورکولوسره قدردانی مقصود دې.

پاره نمبر-٦ [لَا يُحِبُّ اللّٰهُ]

[اياتونه: ١٤٨-١٥٢]

{لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ} مِنْ أحد أي يُعَاقِبُهُ عَلَيْهِ {إِلَّا مَنْ ظُلِمَ} فَلَا يُؤَاخِذهُ بِالْجَهْرِ بِهِ بِأن يُخبِر عَنْ ظُلْم ظَالِمه وَيَدْعُو عَلَيْهِ {وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيعًا} لِمَا يُقَال {عَلِيمًا} بِمَا يَفْعَل {إِنْ تُبْدُوا} تُظهِرُوا {خَيْرًا} مِنْ أَعْمَال الْبِرّ {أَوْ تُخْفُوهُ} تَعْمَلُوهُ سِرًّا {أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ} ظلم {فَإِن الله كَانَ عفوا قديرا} {إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهِ} بِأنْ يُؤْمِنُوا بِهِ دُونهمْ {وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ} مِنَ الرُّسُل {وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ} مِنْهُمْ {وَيُرِيدُونَ أَنْ يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذٰلِكَ} الْكُفْر وَالْإِيمَان {سَبِيلًا} طَرِيقًا يَذْهَبُونَ إِلَيْهِ {أُولٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا} مَصْدَر مُؤَكِّد لِمَضْمُونِ الْجُمْلَة قَبْله {وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا} ذَا إِهَانَة وَهُوَ عَذَاب النَّار {وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ} كُلّهمْ {وَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ أُولٰئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ} بِالْيَاءِ وَالنون {أجورهم} ثواب أعمالهم {وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا} لِأَوْلِيَائِهِ {رَحِيمًا} بِأَهْلِ طَاعَته

ترجمه - الله تعالى دَ چا دا خبره نه خوښوي چې څوک دَ چا بد اووائي يعنى په بده وينا كولو به سزا وركوي. البته مظلوم ته (دَ ظلم بيانولو) اجازت دې. دا چې دَخپل ظالم ظلم ښكاره كړى اودَهغه دَپاره خيرې اوكړى. (نو الله تعالى به په دغه ظلم ښكاره كولو باندې مواخذه نه كوى) اوڅه چې وئيلې شى الله تعالى هغه اوريدونكې دې او څه چې كولې شى په هغې باندې پوهيدونكې دې. اوكه چرې تاسو په نيكو اعمالو كښې يوعمل ښكاره اوكړئى يا ئې پټ اوكړئى يا ظلم معاف كړئى (نو ډيره ښه ده ځكه چې دَالله تعالى هم دغه صفت دې) چې هغه (په انتقام باندې) قدرت لرلو باوجود لوئى معافى كونكې دې كوم خلق چې دالله تعالى اودَهغه دَ رسول ﷺ نافرمانى كوى او غواړى چې دَالله تعالى اودَهغه د رسول ﷺ په مينځ كښې تفريق اوكړى په دې توګه چې په الله تعالى باندې ايمان راوړى او په رسولانو باندې ايمان رانوړى اوهغه وائى (هم) چې مونږ په بعض رسولانو باندې ايمان راوړې دې او په هغوى كښې دَ بعضو منكريو اودا خلق غواړى چې دكفر اود ايمان په مينځ كښې داسې يوه لار راؤباسى په كومه چې هغوى روان شى. يقيناً دا خلق پاخه كافران دى. (حَقًّا) دَ سابقه جملې دَ مضمون تاكيد دې او مونږ دَ كافرانو دَپاره دَ سپكاوى سزا تجويز كړې ده. او هغه دَ دوزخ سزاده او كوم خلق چې په الله تعالى باندې ايمان لرى اودَ هغه په ټولو رسولانو باندې هم (ايمان لرى) او په هغوى كښې په چا كښې هم تفريق نه كوى دغه خلقوته به الله تعالى دَهغوى دَ نيكو اعمالو بدله ضرور وركړى. (يؤتيهم) په نون او ياء سره دې. او الله تعالى خپلو دوستانو لره ډيره لوئى معافى كونكې او په خپل اطاعت كونكو باندې ډير رحم كونكې دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اَلْجَهْرِ، رفع الصوت بالقول وغيره، جهر بالقول نه مطلقاً اظهار مراد دي كه جهر وي اوكه نه وي.

قوله: مِنْ أحدٍ، دا مستثنٰى منه مقدر دي لهذا دااعتراض ختم شو چې دَ اِلاَّ مَنْ ظُلِمَ استثناء د ماقبل نه صحيح نه ده او دَالجهر مصدر فاعل محذوف دې اودَ مصدر دَ فاعل حذف جائزدي. او اِلاَّ مَنْ ظُلِمَ هم دَدې فاعل محذوف نه مستثنٰى دې يا كه مضاف محذوف اومنلې شي نوتقديرى عبارت به داشي اِلاَّ جَهْرَ مَنْ ظُلِمَ په مذكوره دواړو صورتونوكښې به مستثنٰى متصل وي.

قوله: أي يُعَاقِبُ عليه، په دې كښې اشاره ده چې دَعدم محبت نه غضب اوعقاب مراد دې.

قوله: فَإِنَّ اللهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا، دا جمله جواب شرط دې. او اِنْ تُبْدُوْا او اَوْتُخْفُوْهُ او أوتعفوا عن سُوءٍ دا دريواړه جملې دَ عطف په ذريعه شرط دى.

دَ جواب شرط نه معلوميږى چې مقصود دريمه جمله يعنى د اَوْتَعْفُوْا جواب شرط دې او كه چرې ابداء خير او اخفاء خير مقصود بالشرط وى نو په جواب شرط كښې فقط په فَإِنَّ اللهَ كَانَ عفواً قديراً باندې اكتفاء كول صحيح نه وى. دَدې نه معلومه شوه چې ابداء خير اواخفاء خير محض دَ تمهيد په توګه راوړلې شوې دى دَدې خودلودَپاره چې علانيه او خفيه طريقې سره كارخير كول هم نيكى ده مګر دَ قدرت على الانتقام باوجود معاف كول لويه نيكى ده ځكه چې هم دغه صفت دَالله تعالى هم دې.

[اياتونه: ۱۵۳-۱٦۲]

{يَسْأَلُكَ} يَا مُحَمَّد {أَهْلُ الْكِتَابِ} الْيَهُود {أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَابًا مِّنَ السَّمَاءِ} جُمْلَةً كَمَا أُنْزِلَ عَلَى مُوسَى تَعَنُّتًا فَإِنْ اسْتَكْبَرْت ذَلِكَ {فَقَدْ سَأَلُوا} أَيْ آبَاؤُهُمْ {مُوسَى أَكْبَرَ} أَعْظَم {مِنْ ذَلِكَ فَقَالُوا أَرِنَا اللهَ جَهْرَةً} عِيَانًا {فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ} الْمَوْت عِقَابًا لَهُمْ {بِظُلْمِهِمْ} حَيْثُ تَعَنَّتُوا فِي السُّؤَال {ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ} إِلَهًا {مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ} الْمُعْجِزَات عَلَى وَحْدَانِيَّة الله {فَعَفَوْنَا عَنْ ذَلِكَ} وَلَمْ نَسْتَأْصِلهُمْ {وَآتَيْنَا مُوسَى سُلْطَانًا مُبِينًا} تَسَلُّطًا بَيِّنًا ظَاهِرًا عَلَيْهِمْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ بِقَتْلِ أَنْفُسهمْ تَوْبَة فَأَطَاعُوهُ {وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّورَ} الْجَبَل {بِمِيثَاقِهِمْ} بِسَبَبِ أَخْذ الْمِيثَاق عَلَيْهِمْ لِيَخَافُوا فَيَقْبَلُوهُ {وَقُلْنَا لَهُمْ} وَهُوَ مُظِلّ عَلَيْهِمْ {ادْخُلُوا الْبَابَ} بَاب الْقَرْيَة {سُجَّدًا} سُجُود انْحِنَاء {وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا} وَفِي قِرَاءَة بِفَتْحِ الْعَيْن وَتَشْدِيد الدَّال وَفِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الدَّال أَيْ لَا تَعْتَدُوا {فِي السَّبْتِ} بِاصْطِيَادِ الْحِيتَان فِيهِ {وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا} عَلَى ذَلِكَ فَنَقَضُوهُ {فَبِمَا نَقْضِهِمْ} مَا زَائِدَة وَالْبَاء لِلسَّبَبِيَّةِ مُتَعَلِّقَة بِمَحْذُوفٍ أَيْ لَعَنَّاهُمْ بِسَبَبِ نَقْضِهِمْ {مِيثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِآيَاتِ اللهِ وَقَتْلِهِمُ الْأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ} لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {قُلُوبُنَا

غُلُف} لَا تَعِي كَلَامك {بَلْ طَبَعَ} خَتَمَ {اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ} فَلَا تَعِي وَعْظًا {فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا} مِنْهُمْ كَعَبْدِ اللّٰه بْن سَلَام واصحابه {وَبِكُفْرِهِمْ} ثَانِيًا بِعِيسَى وَكَرَّرَ الْبَاء لِلْفَصْلِ بَيْنه وَبَيْن مَا عُطِفَ عَلَيْهِ {وَقَوْلِهِمْ عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيمًا} حيث رموها بالزنى {وقولهم} مفتخرين {إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللّٰهِ} فِي زَعْمهمْ أَيْ بِمَجْمُوعِ ذَلِكَ عَذَّبْنَاهُمْ قَالَ تَعَالَى تَكْذِيبًا لَهُمْ فِي قَتْله {وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ} الْمَقْتُول وَالْمَصْلُوب وَهُوَ صَاحِبهمْ بِعِيسَى أَيْ أَلْقَى اللّٰه عَلَيْهِ شَبَهه فَظَنُّوهُ إِيَّاهُ {وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ} أَيْ فِي عِيسَى {لَفِي شَكٍّ مِنْهُ} مِنْ قَتْله حَيْثُ قَالَ بَعْضهمْ لَمَّا رَأَوْا الْمَقْتُول الْوَجْه وَجْه عِيسَى وَالْجَسَد لَيْسَ بِجَسَدِهِ فَلَيْسَ بِهِ وَقَالَ آخَرُونَ بَلْ هُوَ هُوَ {مَا لَهُمْ بِهِ} بِقَتْلِهِ {مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ} اسْتِثْنَاء مُنْقَطِع أَيْ لَكِنْ يَتَّبِعُونَ فِيهِ الظَّنّ الَّذِي تَخَيَّلُوهُ {وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا} حَال مُؤَكِّدَة لِنَفْيِ الْقَتْل {بَلْ رَفَعَهُ اللّٰهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيزًا} فِي مُلْكه {حَكِيمًا} فِي صُنْعه {وَإِنْ} مَا {مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ} أَحَد {إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ} بِعِيسَى {قَبْلَ مَوْتِهِ} أَيْ الْكِتَابِيّ حِين يُعَايِن مَلَائِكَة الْمَوْت فَلَا يَنْفَعهُ إِيمَانه أَوْ قَبْل مَوْت عِيسَى لَمَّا يَنْزِل قُرْب السَّاعَة كَمَا وَرَدَ فِي حَدِيث {وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ} عِيسَى {عَلَيْهِمْ شَهِيدًا} بِمَا فَعَلُوهُ لَمَّا بُعِثَ إِلَيْهِم {فَبِظُلْمٍ} أَيْ فَبِسَبَبِ ظُلْم {مِنَ الَّذِينَ هَادُوا} هُمْ الْيَهُود {حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ} هِيَ الَّتِي فِي قَوْله تَعَالَى {حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ} الْآيَة {وَبِصَدِّهِمْ} النَّاس {عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ} دينه صدا {كَثِيرًا} {وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ} فِي التَّوْرَاة {وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ} بِالرِّشَا فِي الْحُكْم {وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا} مُؤْلِمًا {لَٰكِنِ الرَّاسِخُونَ} الثَّابِتُونَ {فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ} كَعَبْدِ اللّٰه بْن سَلَام {وَالْمُؤْمِنُونَ} الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَار {يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ} مِنَ الْكُتُب {وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ} نُصِبَ عَلَى الْمَدْح وَقُرِئَ بِالرَّفْعِ {وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أُولَٰئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ} بِالنُّونِ وَالْيَاء {أَجْرًا عَظِيمًا} هو الجنة

ترجمه:- اې محمد ﷺ دا اهل کتاب یعنی یهودیان عناداً تاسو نه مطالبه کوی چې ته په هغوی دَ آسمان نه ځه لیکلې شوې کتاب په یو ځل نازل کړه لکه چې په موسیٰ علیه السلام باندې نازل کړې شوې وو. ته دا مطالبه ډیره لویه ګڼړې نو دې خلقو یعنی دَ دې پلارانو اونیکونو دَموسیٰ علیه السلام نه دَدې نه هم لویه مطالبه کړې ده هغوی دَموسیٰ علیه السلام نه مطالبه کړې وه چې په مونږ باندې دَالله تعالیٰ په ښکاره دیداراوکړه. نو دَ هغوی دَدې سرکشئ دَ وجې نه هغوی له سزا ورکولو دَپاره ناڅاپی په هغوی باندې دَ مرګ بجلی دَآسمان نه راپریوتله. ځکه چې هغوی په مطالبه کښې سرکشی اختیارکړې وه. بیا هغوی سخې معبود جوړ کړو حالانکه هغوی ته دَ الله تعالیٰ دَ وحدانیت ښکاره نښې راغلې وې. په دې باندې هم مونږ هغوی معاف کړل چې هغوی مونږ دَ ختم نه کړل نیست و نابوبود مو نه کړل او مونږ موسیٰ علیه السلام ته په هغوی باندې غلبه ورکړه په داسې ترګه چې موسیٰ علیه السلام هغوی ته حکم ورکړو چې دَ توبې دَپاره خپل ځانونه قتل کړئ. نوهغوی دَ موسیٰ علیه السلام تابعداری اوکړه اودَهغوی نه وعده اخستلو دَپاره مونږ دَهغوی دَپاسه غر رازورندکړو دې دَپاره چې هغوی اوویریږی او عهد قبول کړی. اومونږ

هغوی ته اوویل حال دا چې غر د هغوی دَ پاسه زوړند وو دَ هفتې په ورځ کښې تعدی مه کوئ او په یو قراءت کښې دَعین په فتحې او لام په تشدید سره دې. (یعنی تعدّی) او په اصل کښې دَتاء په دال کښې ادغام دې یعنی دَهفتې په ورځ دَ کبانو په ښکار کښې تعدی نه کول او په دې باندې مونږ دَ هغوی نه پوخ عهد واخستلو خو هغوی وعده خلافی اوکړه نو دَهغوی دَ عهد ماتولو دَ وجې، مازائده ده او باء سببیه ده دَ محذوف متعلق دې یعنی دَ هغوی عهدلره د ماتولو دَ وجې نه اودَهغوی دَ الله تعالی دَ آیاتونو نه دَ انکار دَ وجې نه اودَ خپلو انبیاء کرامو په ناحقه دَقتل کولو دَ وجې نه اودَهغوی خپل نبی ته داسې وینا کولو دَ وجې چې زمونږ زړونه په غلاف کښې دی دَ کوم دَ وجې نه چې ستا کلام محفوظ نشو ساتلې بلکه حقیقت دا دې چې دَهغوی دَ کفر دَ وجې نه دَهغوی په زړونو باندې مهر لګولې دې چې دهغې د وجې هغوی نصیحت محفوظ نه شی ساتلې اوهم دَ دې وجې نه په هغوی کښې ډیر کم خلق ایمان راوړی مثلاً عبد الله بن سلام اودَ هغه ملګری او بیا دَهغوی دَحضرت عیسیٰ علیه السلام نه دَ انکار دَ وجې او (بکفرهم) کښې باء دَهغې او دَ هغې دَ معطوف علیه په مینځ کښې فصل باالاجنبی دَ وجې نه مکرر راوړلې شوې دې. اودَ هغوی په بی بی مریم باندې عظیم بهتان لګولو دَ وجې نه چې په هغې باندې ئې دَ زنا تهمت اولګولو اودَهغوی فخریه داسې وینا کولو دَ وجې نه چې مونږ دَ الله رسول مسیح عیسیٰ بن مریم په خپل ګمان کښې قتل کړو یعنی مذکوره ټولو (صفات قبیحه) دَ وجې نه مونږ هغوی ته سزا ورکړه او الله تعالی دَهغوی دَ عیسیٰ علیه السلام دَ قتل دعویٰ دروغ ښکاره کولو سره اوفرمائیل اوهغوی خو نه هغه قتل کړې دې او نه ئې په سولئ کړې دې بلکه دَهغوی په نظر کښې دَهغوی مقتول او مصلوب ملګرې دَ عیسیٰ علیه السلام په شکل جوړ کړې شو یعنی الله تعالی په مقتول باندې دَ عیسیٰ علیه السلام شبیه ورواچوله نو هغوی خپل ملګرې حضرت عیسیٰ علیه السلام اوګڼړلو. یقین اوکړئ دَ عیسیٰ علیه السلام باره کښې اختلاف کونکی دَعیسیٰ علیه السلام دَ قتل په باره کښې په شک کښې اخته دی ځکه چې کله هغوی مقتول اوکتلو نو چا اووئیل چې مخ خو هم دَحضرت عیسیٰ علیه السلام په شان دی خو تنه ئې دَ عیسیٰ علیه السلام په شان نه دې نو مقتول عیسیٰ علیه السلام سره مشتبه شو او چا اووئیل چې دا خو بالکل هم عیسیٰ علیه السلام دې. هغوی ته دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ قتل هیڅ علم نشته او صرف دَ تخمینې خبرو پیروی کونکی دی. دا استثناء منقطع ده یعنی دا خلق دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ قتل په باره کښې دَخپل هغه ګمان پیروی کوې دکوم چې هغوی تصور کړې دې حالانکه هغوی یقینًا عیسیٰ علیه السلام نه دې قتل کړې (لفظ یقینًا) نفی قتل دَپاره حال مؤکده دې بلکه (حقیقت) دادې چې الله تعالی هغه خپل طرف ته اوچت کړې دې او الله تعالی په خپل ملک کښې ډیر زبردست او په خپل صنعت کښې حکمت والا دې او دَ اهل کتابو نه به څوک هم نه بچ کیږی چې هغوی به په عیسیٰ علیه السلام دَخپل مرګ نه وړاندې ایمان رانوړی چې کله

هغه دَ مرګ ملائکه ويني (دَ موته ضمير کتابي طرف ته راجع دي) مګر هغه وخت ايمان راوړل به دَهغوی دَپاره فائده مند نه وی (باقبل موته) مطلب دادي چې دَ عيسیٰ دَمرګ نه وړاندې کله چې په هغوئ د قيامت سره نيزدې نازل شی لکه څنګه چې په حديث کښې وارد دی او دَ قيامت په ورځ به حضرت عيسیٰ عليه السلام دَهغوی خلاف ګواهی ورکوی په دې باندې چې کله هغه دَدوی طرف ته مبعوث کړې شوې وو نوهغوی ده سره څه معامله اوکړه اودَ يهودو دَ ظلم دَ وجې دَ پاك او ستره څيزونه کوم چې په هغوی باندې حلال کړې شوی وو مونږ په هغوئ باندې حرام کړل او دا هغه څيزونه دی کوم چې (الله تعالی) په خپل قول (حرمنا کل ظفر) کښې بيان فرمائيلی دی. اوډيروخلقو لره دَالله تعالی د لارې يعنی ددين حق، نه د منع کولودَ وجې اودَهغوی دَ سود اخستو دَ وجې نه حالانکه په تورات کښې هغوی دَدې نه منع کړې شوې وو اودَ خلقو مالونه دَهغوی په باطل طريقه سره (مثلاً) په فيصله کښې دَ رشوت په ذريعه خوړلودَ وجې نه او په هغوی کښې چې کوم کافران دی مونږ دَهغوی دَ پاره تکليف ورکونکې عذاب تيار ساتلې دې ليکن په هغوی کښې پوخ علم لرونکی مثلاً عبدالله بن سلام او ايمان والا کوم چې مهاجر او انصار دی په هغه څهٔ باندې کوم چې په تا باندې نازل کړې شوی دی او په هغه کتابونوباندې هم کوم چې تانه وړاندې نازل کړې شوی دی او مونځ قائمونکی دی او مقيمين منصوب علی المدح دې او مقيمون په رفع سره هم لوستلې شوې دې اوکوم چې زکوة ادا کونکی دی او په الله تعالی باندې اوپه ورځې دَ قيامت باندې ايمان لرونکی دی. هم دغه دی هغه خلق چاته چې به مونږ اجر عظيم ورکړو ياء او نون سره او هغه (اجرعظيم) جنت دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: عِيَانًا، يا خودَ مصدر محذوف صفت دې، أي أرنا إراءةً عيانًا به دې صورت کښې به لفظًا مصدر وی يا به مصدر بغير لفظه وی، أي رؤيةً عيانًا.

قوله: فَإِنِ استکبرت الخ. په دې کښې اشاره ده چې فَقَدْ سَأَلُوا دشرط محذوف جزاء ده.

قوله: أي آباؤهُمْ. دَدې لفظ په اضافه کولوکښې يې اشاره اوکړه چې دَ حضورپاك ﷺ په زمانه کښې موجود يهودو طرف ته دَ سوال په نسبت مجازًا دې ځکه چې موجودين دَ خپلو پلارانو په سوال نه راضی وو.

قوله: المُعْجِزَاتُ، د البينات تفسير په المعجزات سره کولوکښې يې اشاره اوکړه چې البينات نه مراد تورات نه دې لکه چې بعضو ونيلی دی ځکه چې سخی لره د معبود جوړولو وخت کښې تورات نه وو ورکړې شوې دَدې نه پس ورکړې شوې دې.

قوله: بَابَ الْقَرْيَةِ، په دې کښې اشاره ده چې په الباب کښې الف لام په عوض کښې دَ مضاف اليه دې اودَ قريه نه مراد ايله ده.

قوله: سُجُوْدَ انْحِنَاءٍ په دې کښې اشاره ده چې سُجَّدًا نه معروف سجده يعنى وضع الجبهة على الارض مراد نه ده بلکه ټيټيدل او عاجزى اوتواضع کول مراد دى.

قوله: لَاتَعْدُوْا، عَدَا يَعْدُوْا نه نهى مضارع جمع مذکر حاضر تاسو تجاوز مه کوئى تَعدوا په اصل کښې تَعْدُوُوْا وو دَ واؤ اول په ضمې سره چې لام کلمه ده ضمه په واؤ باندې ثقيل کيدودَ وجې نه ساقط شوه اوس دَ دوو واوونو په مينځ کښې التقاء دَ ساکنينو راغله واؤ حذف شو تَعْدُوْا شو او په يوقراءت کښې تَعَدُّوْادې چې په اصل کښې تَعْتَدُوْا وو تاء په دال سره بدله کړې شوه او دَدال په دال کښې ادغام اوشو تَعَدُّوْا شو.

قوله: عَلٰى ذٰلِكَ نَقَضُوْهُ دَدې اضافې مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال: دَ فَبِمَا نَقْضِهِمْ متفرع عليه موجود نه دې لهذا تفريع صحيح نه ده؟

جواب: په کلام کښې اختصاردې تقديرى عبارت داسې دې وَأخذنامنهم ميثاقًا غليظًا على ذلك فنقضوه فَبِمَا نقضهم الخ.

قوله: غُلْفٌ دا دَ غلاف جمع ده.

قوله: ثَانِيًا بعيسٰى يعنى اولا دحضرت موسىٰ عليه السلام اود تورات نه دکفردَ وجې نه او ثانيًا دحضرت عيسى عليه السلام نه دَ کفر دَ وجې دَهغوى په زړونوباندې مهراولګيدو دواړه دَ طبع على القلوب دَ اسباب نه دى ځنګه چې مطلق کفر دَ طبع د اسبابو نه دى. دا عطف سبب على السبب دَ قبيل نه دې معطوف او معطوف عليه کښې چونکه سبب طبع مختلف دې لهذا عطف الشئ على نفسه لازميږى.

قوله: فِى زَعْمِهِمْ د دې تعلق إِنَّا قَتَلْنَا سره دې اودا دَ الله تعالى مقوله ده يعنى يهوديانو په خپل خيال کښې قتل کړو ګنى په حقيقت کښې يې قتل کړې نه دې اودَ فى زعمهم تعلق که د رسول الله سره وى نودا به دَ يهودو مقوله شى مطلب به داشى چې مونږ عيسىٰ ابن مريم عليه السلام قتل کړو چې نصارىٰ په خيال کښې دَالله تعالى رسول دې. ځکه چې يهود دَ عيسى عليه السلام دَ رسالت قائل نه وو.

قوله: اَىْ بِمَجْمُوْعِ ذٰلِكَ يعنى دَ ټولو مذکوراتوعطف په فَبِمَا نقضهم باندې دې.

قوله: الْمَقْتُوْلِ وَالْمَصْلُوْبُ دا دَ شُبِّهَ نائب فاعل دې.

قوله: إِسْتِثْنَاءٌ مُنْقَطِعٌ ځکه چې ظن دَ علم دَ جنس نه نه دې.

قوله: أي الكتابي په دې کښې اشاره ده چې دَ به ضمير دَحضرت عيسى عليه السلام طرف ته او مَوْته ضمير د اَحَدْ طرف راجع دې دکوم نه مراد چې کتابی دې.

قوله اَوْقَبْلَ مَوْتِ عَيْسٰى دا دَ دويم ترکيب طرف ته اشاره ده په دې صورت کښې به دواړه ضميرونه دَحضرت عيسى عليه السلام طرف ته راجع وی.

قوله وَهِيَ الَّتِيْ فِيْ قَوْلِهٖ دا دَ سورت انعام طرف ته اشاره ده.

قوله: صَدًّا: په دې کښې اشاره ده چه دا د كثيرًا محذوف صفت دې.

قوله: نَصْبٌ عَلَى الْمَدْحِ يعنى المقيمين امدح فعل مقدر دَ وجې نه منصوب دې. اى أَمْدَحُ المقيمينَ الصلوة په دې صورت کښې به جمله معترضه شی او واؤبه اعتراضيه شی.

قوله: وَقُرِءَ بِالرَّفْعِ او المقيمون رفع سره هم لوستلې شوې دې په دې صورت کښې به په الراسخون باندې عطف وی.

[ایاتونه:١٦٣ - ١٧١]

{إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَ} كَمَا {أَوْحَيْنَا إِلَى إبراهيم وإسماعيل وإسحاق} ابنيه {ويعقوب} بن إسحاق {والأسباط} أولاده {وعيسى وأيوب ويونس وهارون وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا} أبَاهُ {دَاوُدَ زَبُورًا} بِالْفَتْحِ اسْم لِلْكِتَابِ الْمُؤْتَى وَالضَّمّ مَصْدَر بِمَعْنَى مَزْبُورًا أَيْ مكتوبا {وَ} أَرْسَلْنَا {رُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ} رُوِيَ أَنَّهُ تَعَالَى بَعَثَ ثَمَانِيَة آلَاف نَبِيّ أَرْبَعَة آلَاف مِنْ إسْرَائِيل وَأَرْبَعَة آلَاف مِنْ سَائِر النَّاس قَالَهُ الشَّيْخ فِي سُورَة غَافِر {وَكَلَّمَ اللَّهُ موسى} بلا واسطة {تكليما} {رُسُلًا} بَدَل مِنْ رُسُلًا قَبْله {مُبَشِّرِينَ} بِالثَّوَابِ مَنْ آمَنَ {وَمُنْذِرِينَ} بِالْعِقَابِ مَنْ كَفَرَ أَرْسَلْنَاهُمْ {لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّة} تُقَال {بَعْد} إرْسَال {الرُّسُل} إلَيْهِمْ فَيَقُولُوا رَبّنَا لَوْلَا أَرْسَلْت إلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِع آيَاتك وَنَكُون مِنْ الْمُؤْمِنِينَ فَبَعَثْنَاهُمْ لِقَطْعِ عُذْرهمْ {وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا} فِي مُلْكه {حَكِيمًا} فِي صُنْعه وَنَزَلَ لَمَّا سُئِلَ الْيَهُود عَنْ نُبُوَّته صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْكَرُوهُ {لَكِنِ اللَّهُ يَشْهَدُ} يُبَيِّن نُبُوَّتك {بِمَا أَنْزَلَ إلَيْك} مِنْ الْقُرْآن الْمُعْجِز {أَنْزَلَهُ} مُلْتَبِسًا {بِعِلْمِهِ} أَيْ عَالِمًا بِهِ او وفيه عِلْمه {وَالْمَلَائِكَة يَشْهَدُونَ} لَك أَيْضًا {وَكَفَى بِاَللَّهِ شَهِيدًا} عَلَى ذَلِكَ {إنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا} بِاَللَّهِ {وَصَدُّوا} النَّاس {عَنْ سَبِيل اللَّه} دِين الْإِسْلَام بِكَتْمِهِمْ نَعْت مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ الْيَهُود {قَدْ ضَلُّوا ضَلَالًا بَعِيدًا} عَنْ الْحَقّ {إنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا} بِاَللَّهِ {وَظَلَمُوا} نَبِيّه بِكِتْمَانِ نَعْته {لَمْ يَكُنْ اللَّه لِيَغْفِر لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا} مِنْ الطُّرُق {إلَّا طَرِيق جَهَنَّم} أَيْ الطَّرِيق الْمُؤَدِّي إلَيْهَا {خَالِدِينَ} مُقَدَّرِينَ الْخُلُود {فِيهَا} إذَا دَخَلُوهَا {أَبَدًا وكان ذلك على الله يسيرا} هينا {يأيها النَّاس} أَيْ أَهْل مَكَّة {قَدْ جَاءَكُمْ الرَّسُول} مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {بِالْحَقِّ مِنْ رَبّكُمْ فَآمِنُوا} بِهِ وَاقْصِدُوا {خَيْرًا لَكُمْ} مِمَّا أَنْتُمْ فِيهِ {وَإِنْ تَكْفُرُوا} بِهِ {فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَات وَالْأَرْض} مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا فَلَا يَضُرّهُ

تُغْرِكُمْ (وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا) بِخَلْقِهِ (حَكِيمًا) فِي صُنْعِهِ بِهِمْ (يٰأَهْلَ الْكِتَابِ) الْإِنْجِيلِ (لَا تَغْلُوا) تَتَجَاوَزُوا الْحَدَّ فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا) الْقَوْلَ (الْحَقَّ) مِنْ تَنْزِيهِهِ عَنِ الشَّرِيكِ وَالْوَلَدِ (إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا) أَوْصَلَهَا اللّٰهُ (إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ) أَيْ ذُو رُوحٍ (مِنْهُ) أُضِيفَ إِلَيْهِ تَعَالَى تَشْرِيفًا لَهُ وَلَيْسَ كَمَا زَعَمْتُمْ ابْنَ اللّٰهِ أَوْ إِلٰهًا مَعَهُ أَوْ ثَالِثَ ثَلَاثَةٍ لِأَنَّ ذَا الرُّوحِ مُرَكَّبٌ وَالْإِلٰهُ مُنَزَّهٌ عَنِ التَّرْكِيبِ وَعَنْ نِسْبَةِ الْمُرَكَّبِ إِلَيْهِ (فَآمِنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ وَلَا تَقُولُوا) الْآلِهَةُ (ثَلَاثَةٌ) اللّٰهُ وَعِيسَى وَأُمُّهُ (انْتَهُوا) عَنْ ذٰلِكَ وَأْتُوا (خَيْرًا لَكُمْ) مِنْهُ وَهُوَ التَّوْحِيدُ (إِنَّمَا اللّٰهُ إِلٰهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ) تَنْزِيهًا لَهُ عَنْ (أَنْ يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ) خَلْقًا وَمُلْكًا وَعَبِيدًا وَالْمَلَكِيَّةُ تُنَافِي النُّبُوَّةَ (وَكَفَى بِاللّٰهِ وَكِيلًا) شَهِيدًا عَلَى ذٰلِكَ

ترجمه:- اې محمد ﷺ مونږ ستا طرف ته هم داسې وحي ليږلې ده څنګه چې مو حضرت نوح علیه السلام او دهغوی نه پس پيغمبرانو طرف ته ليږلې وه او څنګه چې مونږ دحضرت ابراهيم علیه السلام طرف ته وحي ليږلې وه او دهغه دواړو ځامنو اسماعيل علیه السلام او اسحاق علیه السلام طرف ته (هم) وحي اوليګله اويعقوب علیه السلام بن اسحاق علیه السلام او اولاد يعقوب علیه السلام او عيسىٰ علیه السلام او ايوب علیه السلام او يونس علیه السلام اوسليمان علیه السلام طرف ته مو وحي ليږلې وه او د سليمان علیه السلام پلار حضرت داؤد علیه السلام ته زبور ورکړو (زَبور په فتحې سره) د ورکړې شوى کتاب نوم دې. او (زبور) په ضمې سره مصدردې د مکتوب په معنى کښې يعنى مزبور په معنى مکتوب دې اومونږ دهغه رسولانوطرف ته هم وحي ليږلې وه د چا ذکر چې مونږ تاته کړې دې او دهغوى طرف ته هم د کومو ذکرچې مونږ تاته نه دې کړې. روايت کړې شوې دې چې الله تعالى اته زره انبياء کرام مبعوث کړې څلورزره انبياء په بنى اسرائيلو کښې او (باقى) څلور زره د نورو قومونو نه، شيخ جلال الدين محلى په سورت غافر کښې هم دغه شمير بيان کړې دې او الله تعالى موسى علیه السلام سره په يو خاص طريقه بلاواسطه کلام اوفرمائيلو او ټول رسولان، رُسُلاً، د ماقبل د رُسُلاً نه بدل دې. ايمان راوړونکوته زيرې اوروونکې کفرکونکو د عذاب نه ويرونکې جوړ کړې ليږلې وو. رسولان مونږ مبعوث کړل دې دپاره چې خلقو ته د رسول ليږلو نه پس د الله تعالى په وړاندې د عذر بيانولو ګنجائش پاتې نه شي چې هغوى دا ووائى چې اې زمونږ پروردګارا تامونږ له رسول ولې را اونه ليږلو؟ دې دپاره چې مونږ هم ستا د آياتونو اتباع کړې وې اومونږ د مؤمنانو نه شوې وې نومونږ د هغوى عذر ختمولو دپاره دهغوى طرف ته رسولان اوليږل اوالله تعالى په خپل ملك کښې غالب اوپه خپل صنعت کښې باحکمت دې اوکله چې ستاد دنبى د نبوت باره کښې ديهوديانونه سوال اوکړې شو او يهودود نبى د نبوت نه انکاراوکړو نو (آئنده) آيت نازل شو (که داخلق ګواهى نه ورکوى نونه دې ورکوى) الله تعالى خود دې معجز قرآن پاك په ذريعه ستا د نبوت ګواهى ورکوى کوم چې يئ په تا نازل کړې دې او نازل کړې ئې هم د خپل علمى کمال په ذريعه دې يعنى څه ئې چې نازل کړى

دَهغې پيژندونكې دې يا په هغې كښې دَهغه علم (يعنې معلومات) شته اوفرښتې هم ستا دَ نبوت گواهي وركوي او په دې نبوت باندې دَالله تعالى گواهي وركول كافي دى. كوم خلق چې دَالله تعالى نه منكر شو او نورخلق دَالله تعالى د لارې (يعنې)د دين اسلام نه دَ محمد ﷺ صفات پټولوسره منع كوي اوهغه يهوديان دى. نوداسې خلق يقيناً دَحق نه په گمراهئ كښې ډير لرې وتلې دى. بيشكه كوم خلق چې دَالله تعالى نه منكر شو اودَ هغه په نبي باندې ئې دَهغه صفات پټولوسره ظلم اوكړو الله تعالى به هغوى كله هم معاف نه كړى اونه به هغوى ته دَ دوزخ دَلارې نه بغيرېل څه لار اوښائى يعنې هغه لار كومه چې دوزخ ته رسوونكې ده په داسې طريقه چې په هغې كښې دَ دوى داخليدل دِ هميشه دَپاره مقدرشوى دى كله چې په هغې كښې داخل شى اودَ الله تعالى دَپاره دا آسانه ده اې دَ مكې خلقو دا رسول محمد ﷺ تاسو ته ستاسو دَرب دَ طرف نه په حق سره راغلې دې په ده باندې ايمان راوړئى اودَ خپل ځان دَپاره دَ خير اراده اوكړئى دَهغې نه په كوم كښې چې تاسو (فى الحال) يئ كه چرې تاسو په هغه كفراوكړونو په آسمانونو اوزمكه كښې چې څه دى هغه دَملك او تخليق كيدو په اعتبارسره هم دَهغه دى لهذا ستاسو كفر به دَ هغه هيڅ نقصان اونه كړې شى اوالله تعالى عليم هم دې اودَهغوئ دَ تدبير بارد كښې حكيم هم دې. اې اهل كتاب (يعنې) دَ انجيل منونكو دَخپل دين په باره كښې دَحد نه تجاوز مه كوئى اودَالله تعالى طرف ته دَحق خبرې نه علاوه بل څه مه منسوب كوئى چې دَ شريك او بال بچ نه هغه پاك دې. مسيح عيسى عليه السلام ابن مريم دَدې نه علاوه هيڅ نه وو چې دَالله تعالى يورسول اودَهغه فرمان وو كوم چې الله تعالى دَ بى بى مريم طرف ته ليږلې وو اودَهغه دَ طرف نه يوروح يعنې ذى روح وو اودَ روح نسبت دَالله تعالى طرف ته تشريفاً دې. اوداسې نه ده كوم چې تاسو گنړئى چې هغه ابن الله يا دَهغه سره اله دې يا په دريو كښې دريم دې ځكه چې ذى روح مركب وى او اله دَتركيب نه اود طرف ته دَمركب نسبت كولونه پاك دې نوتاسو په الله باندې اودَهغه په رسول باندې ايمان راوړئى داسې مه وايئى چې خدايان درې دى (يعنې) الله عيسى عليه السلام اودَ هغه مور دَدې تثليث نه منع شئى اودَ خپل ځان دَپاره دَدې نه بهتر لاره اختياركړئى او هغه توحيد دې معبود خو بس هم يو خدائى دې اوهغه نه اوچت دې چې دَهغه دې ځوك ځوئى وى دَآسمانونو اوزمكو ټول څيزونه هم دَهغه دى دَ مخلوق كيدو په اعتبارسره اودَ ملك په اعتبارسره او ملكيت دَ بنوة منافي دې اوهم هغه دَدې دَ نگرانئ په اعتبارسره كافي دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوحٍ، كاف د مصدر محذوف صفت دې. تقديرى عبارت دادې اِيحَاءً مثلَ اِيحَائِنَا او په ما كښې دوه احتماله دى كه چرې مصدريه وى نودَعائد ضرورت به نه وى اوكه دَ الذى په معنى كښې وى نوعائد به محذوف وى اوتقديرى عبارت به داسې

شي كالذي أوحينا إلى نوح.

قوله: كما أوحينا إلى إبراهيم، مفسر علام كما، محذوف منلو سره اشاره كړي ده چي أوحينا إلى إبراهيم عطف او وحينا إلى نوح باندي نه چي په نوح باندي ګني تكرار به لازم شي.

قوله: زبور بالفتح إسم الكتاب په فتحې سره فعول په معنى مفعول دې لكه چي ركوب په معنى مركوب او دا زبرة په معنى كتبة نه ماخوذ دې. زبور په داؤد عليه السلام باندي د نازل كړي شوي كتاب نوم دې په دې كښې يوسل پنځوس سورتونه وو او په ضمې سره مصدر دې په معنى د مزبور.

قوله: وأرسلنا دې كښې اشاره ده چي د رسلاً ناصب او رسلنا فعل محذوف دې.

قوله: بلا واسطة دا ددې سوال مقدر جواب دې چي د الله تعالى كلام كول خو د هر نبي سره ثابت دى نو بيا د موسى عليه السلام څه تحصيص دې؟ جواب دادې چي نورو انبياء كرامو سره كلام بالواسطه شوې دې او موسى عليه السلام سره بلاواسطه.

قوله: مقدرين الخلود د دې اضافي مقصد د دې اعتراض جواب دې چي د هدايت زمانه او د خلود زمانه يوه نه ده حالانكه د حال او ذوالحال د زماني يوكيدل ضروري دى؟. د جواب حاصل دادې چي د دوزخ طرف ته لارخودنه به په داسې حالت كښې وى چي د دغوى دپاره خلود في النار مقدر شوې دې.

قوله: به مفسر علام به مقدر منلو سره اشاره كړي ده چي د آمنوا متعلق به، محذوف دې نه چي خيراً څكه چي پوره قرآن كښې د آمنوا متعلق هم باء استعمال شوې ده.

قوله: فآمنوا خيراً لكم، د خيراً د ناصب باره كښې د نحو د علماؤ اختلاف دې د سيبويه او خليل وينا ده چي فعل ناصب اقصدوا اتوا دې او د فراء رحمه الله وينا ده چي خيراً د مصدر محذوف صفت كيدو د وجې نه منصوب دې. اى آمنوا يكن الإيمان خيراً لكم په مذكوره دريوارو صورتونو كښې ثالث د ټولونه زيات راجح دې بيا اول او بيا د ثاني درجه ده.

قوله: مما أنتم په دې كښې اشاره ده چي من تفضيليه مع مفضل عليه محذوف دې لهذا اوس به دا اعتراض نه وى چي د اسم تفضيل استعمال د دريو طريقونه په يوې طريقې سره ضروري دې او دلته يوه هم نشته.

قوله: فلا يضره كفركم، په دې كښې اشاره ده چي إن تكفروا د شرط جزاء محذوف ده او كوم چي ذكر دى هغه دال على الجزاء ده نه چي جزاء څكه چي كه فإن لله ما في السموات والارض جزاء او منلې شي نو د عدم ترتب الجزاء على الشرط اعتراض به لازم راشي.

قوله: الإنجيل دا دَ يو سوال جواب دې.

سوال: دَ اهل کتاب تفسير يئ صرف په اهل انجيل سره ولې کړې دې سره حالانکه چې په اهل کتاب کښې يهوديان هم شامل دی؟

جواب: وړاندې دَ غلوفي الدين چې کوم تفصيل بيان شوې دې هغه د شريك حيات اود ولد نه تنزيه ده دَ کوم مصداق چې صرف نصاریٰ دی يهودنه. (تراويح الارواح)

قوله: القَوْلَ، دَ القول دَ تقدير په اضافې کولوکښې اشاره ده چې الحق دَموصوف محذوف صفت کيدو دَ وجې نه منصوب دې.

قوله: أوْصَلها: **سوال**: د اَلقَاهَا تفسير په اوصَلَها سره دَ کوم مقصد دَپاره کړې شوې دې؟

جواب: چونکه دَالقیٰ صله الی نه راځی دَدې دَپاره اشاره اوکړې شوه چې القیٰ دَاَوْصَلَ معنې لره متضمن دې کوم دَ وجې نه چې الی صله کښې راوړل صحيح دی.

قوله: أي ذُوْ رُوْحٍ: **سوال**: دَ روح تفسير په ذو روح په حذف دمضاف سره کولوکښې څه مصلحت دې؟

جواب: دې دَپاره چې دَ روح په رسول الله باندې حمل صحيح شي.

قوله: عن ذلك وتوا، دې کښې اشاره ده چې د انتهوا مفعول محذوف دې او خيرًا د فعل مقدر توا دَ وجې نه منصوب دې. لهذا دا اعتراض ختم شو چې دَ خير نه منع کول دَالله تعالی دَ شان سره مناسب نه دی.

[اياتونه: ۱۷۲ - ۱۷٦]

﴿لَنْ يَسْتَنْكِفَ﴾ يَتَكَبَّر وَيَأنَف ﴿الْمَسِيح﴾ الَّذِي زَعَمْتُمْ أَنَّهُ إِلَه عَنْ ﴿أَنْ يَكُونَ عَبْدًا لِلَّهِ وَلَا الْمَلَائِكَة الْمُقَرَّبُونَ﴾ عِنْد اللَّه لَا يَسْتَنْكِفُونَ أَنْ يَكُونُوا عَبِيدًا وَهَذَا مِنْ أَحْسَن الِاسْتِطْرَاد ذُكِرَ لِلرَّدِّ عَلَى مَنْ زَعَمَ أَنَّهَا آلِهَة أَوْ بَنَات اللَّه كَمَا رَدَّ بِمَا قَبْله عَلَى النَّصَارَى الزَّاعِمِينَ ذَلِكَ الْمَقْصُود خِطَابهمْ ﴿وَمَنْ يَسْتَنْكِف عَنْ عِبَادَته وَيَسْتَكْبِر فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا﴾ فِي الآخرة ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَات فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورهمْ﴾ ثَوَاب أَعْمَالهمْ ﴿وَيَزِيدهُمْ مِنْ فَضْله﴾ مَا لَا عَيْن رَأَتْ وَلَا أُذُن سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْب بَشَر ﴿وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنْكَفُوا وَاسْتَكْبَرُوا﴾ عَنْ عِبَادَته ﴿فَيُعَذِّبهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا﴾ مُؤْلِمًا هُوَ عَذَاب النَّار ﴿وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُون اللَّه﴾ أَيْ غَيْره ﴿وَلِيًّا﴾ يَدْفَعهُ عَنْهُمْ ﴿وَلَا نَصِيرًا﴾ يمنعهم منه ﴿يَا أَيُّهَا النَّاس قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَان﴾ حُجَّة ﴿مِنْ رَبّكُمْ﴾ عَلَيْكُمْ وَهُوَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُبِينًا﴾ بَيِّنًا وَهُوَ الْقُرْآن ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَاعْتَصَمُوا بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَة مِنْهُ وَفَضْل وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا﴾ طَرِيقًا ﴿مُسْتَقِيمًا﴾ هُوَ دِين الإسلام ﴿يَسْتَفْتُونَك﴾ فِي الْكَلَالَة ﴿قُلِ اللَّه يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَة إِنِ امْرُؤٌ﴾ مَرْفُوع بِفِعْلٍ يُفَسِّرهُ ﴿هَلَكَ﴾ مَاتَ ﴿لَيْسَ لَهُ

وَلَد﴾ أَيْ وَلَا وَالِد وَهُوَ الْكَلَالَة ﴿وَلَهُ أُخْت﴾ مِنْ أَبَوَيْنِ أَوْ أَب ﴿فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ﴾ أَيْ الْأَخ كَذَلِكَ ﴿يَرِثُهَا﴾ جَمِيع مَا تَرَكَتْ ﴿إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا وَلَد﴾ فَإِنْ كَانَ لَهَا وَلَد ذَكَر فَلَا شَيْء لَهُ أَوْ أُنْثَى فَلَهُ مَا فَضَلَ مِنْ نَصِيبهَا وَلَوْ كَانَتْ الْأُخْت أَوْ الْأَخ مِنْ أُمّ فَفَرْضه السُّدُس كَمَا تَقَدَّمَ أَوَّل السُّورَة ﴿فَإِنْ كَانَتَا﴾ أَيْ الْأُخْتَانِ ﴿اثْنَتَيْنِ﴾ أَيْ فَصَاعِدًا لِأَنَّهَا نَزَلَتْ فِي جَابِر وَقَدْ مَاتَ عَنْ أَخَوَات ﴿فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ﴾ الْأَخ ﴿وَإِنْ كَانُوا﴾ أَيْ الْوَرَثَة ﴿إِخْوَةً رِجَالًا وَنِسَاءً فَلِلذَّكَرِ﴾ مِنْهُمْ ﴿مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ﴾ شَرَائِع دِينكُمْ لِ ﴿أَنْ﴾ لَا ﴿تَضِلُّوا وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ وَمِنْهُ الْمِيرَاث رَوَى الشَّيْخَانِ عَنْ الْبَرَاء أَنَّهَا آخِر آيَة نَزَلَتْ أَيْ مِنْ الْفَرَائِض

ترجمه:- دَحضرت مسیح علیہ السلام نه د چاباره کښې چې تاسو دَالوهیت عقیده لرئی دَالله تعالی بنده کیدو نه شرم او انکار بالکل ممکن نه دې او نه دَالله تعالی مقرب فرښتو نه دَ بنده کیدو نه شرم او انکار کیدې شي. اودا بهترین (طریقه) دَ استطراد ده (یعنی طریقه تردیده) دا په هغه خلقو باندې رد کولو دَپاره ذکر کړې شوچې دَ فرښتو د اولوهیت یا دَ الله تعالی د لونړه کیدو عقیده لری لکه چې ماقبل (جملې سره) مذکوره عقیده لرونکو (نصاریٰ) باندې رد اوکړې شو (دلته) مقصود دخطاب هم نصاریٰ دی. او څوک هم چې دَ هغه دَ عبادت نه تنګ اوشرم (مخ اړول او انکار) کوی نو الله تعالی به هغه ټول په آخرت کښې راګیر کړی او خپل ځان ته به ئی خامخا حاضر کړی نو چې کومو خلقو ایمان راوړلې او نیک اعمال یې کړې وی نو هغوی ته به دَ هغوی دَعمل پوره پوره ثواب ورکړی او هغوی ته به په خپل فضل سره (دَ هغوی د استحقاق نه) زیات اجر ورکړی. (داسې اجر) چې نه به چرته سترګو لیدلې وی او نه به چرته غوږونو اوریدلې وی او نه به چرته دَ یو انسان په زړه کښې دَهغې خیال راغلې وی او کومو خلقو چې دَهغه دَ بندګئی نه مخ واړولو او هغه ئی شرم اوګڼړلو نو هغوی ته به الله تعالی دَ دردنه ډک عذاب ورکړی. او هغه دَ دوزخ سزا ده او دغه خلق به دَ الله تعالی نه سوا بل هیڅوک حمایتی او نه مومی چې دَهغوی دفاع اوکړې شي او نه څوک مددګار چې (دَالله) په مقابله کښې دَهغوی امداد اوکړې شي. خلقو تاسو له ستاسو دَ رب دَ طرف نه حجت راغلې دې. او هغه نبی (محمد ﷺ) دې او مونږ ستاسو طرف ته یو واضحه رڼا نازله کړې ده او هغه قرآن دې. نو چې کومو خلقو په الله تعالی باندې ایمان راوړوؤ او دائی کلک اونیولو نو هغه به دوی په خپل خصوصی رحمت او فضل کښې داخل کړی او هغه به دَدوی دَ نیغې لارې طرف ته رهنمائی اوکړی او هغه دین اسلام دې. (خلق) دَ کلاله په باره کښې تا نه دَ فتوی تپوس کوی ته هغوی ته اووایه چې الله تعالی پخپله تاسو ته د کلاله په باره کښې فتوی درکوی. که یو سړې بې بچو مړشی نه دَهغه پلاروی او نه یې بچی داسې کس کلاله دې. اِمْرُؤٌ دَهغه فعل محذوف دَ وجې نه مرفوع دې دکوم تفسیر چې (فعل) هَلَكَ کوی او دَهغه یوه خور وی حقیقی یا علاتی، نو هغې ته به دَترکې نصف ملاویږی او که چرې خور لاولد مړه شی او ورور ئی حقیقی وی یا علاتی نو دَ خورد ټول

متروکه مال وارث به وی. که چری خور ئی لاولد وی اوکه دَ خورئی خوئی وی نو رور ته به هیڅ هم نه ملاویږی اوکه جینئی وی نو روربه ئی دَ جینئي دَ حصي نه دپاتي شوي مستحق وی اوکه چری رور اوخور اخیافی (مور شریك) وی نو دَهغوی حصه شپږمه ده لکه چي دَ سورت په شروع کښي تیرشوی دی اوکه دَ (مړی)دوه یا دَدوو نه زیاتي خوئیندي وی نوهغوی ته به دَ رور دَ میراث نه دوه ثلث ملاویږی په دي دلیل سره چي دا آیت دَ جابر ﷺ په باره کښي نازل شو چي یوځو خویندي پریخودو سره مړشوي وو. اوکه وارثان ډیر خویندي رونړه وی نو رور ته به دَخور دوچند حصه ملاویږی الله تعالی ستاسو دَپاره دَ دین احکام بیانوی. دي دَپاره چي تاسو ګمراه نشئ اوالله تعالی دَ هریوځیز علم لری اوهم دَدي نه میراث دي. شیخین حضراتو دَ حضرت براء بن عازب ﷺ نه روایت کړي دي چي دَ فرائضو په باره کښي نازلیدونکي دا آخری آیت دي.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَيَسْتَنْكِفْ، مضارع واحدْ مذکر غائب مصدر استکاف هغه شرم ګنړی او هغه کبر او انکار کوی دَدي ماده نکف دي. (س، ن نَكْفًا، ونكفًا بي ځایه کبر کول.

قوله: اَلْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ دَدي عطف په المسیح باندي دي او دا هم کیدي شی چي الملائکة المقربون په ترکیب توصیفی سره مبتداء وی اولایستنکفون دَدي خبرمحذوف وی.

قوله: هٰذَا مِنْ اَحْسَنِ الاِسْتِطْرَادِ یعنی په ولاالملائکة المقربون کښي استطراد احسن دي.

دَ استطراد مطلق تعریف: ذکر الشئ فی غیر محله لمناسبة یوځیز په غیرمحل کښي دَ څه مناسبت دَ وجي نه ذکر کول استطراد دي.

دَ استطراد دویم تعریف: دَ کلام مقصوپه داسي توګه ذکرکول چي غیرمقصود ته مستلزم شی.

استطراد أحسن: دَ یوي معني نه بلي معني ته داسي انتقال کول چي اوله معنی دَ دویمي معني دَپاره ذریعه جوړه نه کړی شی.

استطراد حسن: دَ دویمي معني دَپاره کوم چي مقصود وی اول معنی ذریعه جوړه کړي شی، مفسرعلام هذا من احسن الاستطراد وئیلو سره اشاره اوکړه چي په مذکوره آیت کښي استطراد احسن دي.

قوله: إليه أی إلى الله أو القرآن.

قوله: الزاعِمِيْنَ ذٰلِكَ، دا دَ النصارى صفت دي اودَ ذلك اشاره دَ نصاریٰ عقیدي دَالوهیت او ابنیت اوتثلیث نه هریوطرف ته ده.

قوله: صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا، دا دَ یهدیهم مفعول ثانی کیدو دَ وجي نه منصوب دي.

[٥] سورة المائدة

مدنية مائة وعشرون اية او اثنتان اوثلث

[ایاتونه: ۱-۲]

{يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ} الْعُهُود الْمُؤَكَّدَة الَّتِي بَيْنكُمْ وَبَيْن اللّٰه وَالنَّاس {أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ} الْإِبِل وَالْبَقَر وَالْغَنَم أَكْلًا بَعْد الذَّبْح {إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ} تَحْرِيمه فِي {حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ} الْآيَة فَالِاسْتِثْنَاء مُنْقَطِع وَيَجُوز أَنْ يَكُون مُتَّصِلًا وَالتَّحْرِيم لِمَا عَرَضَ مِنَ الْمَوْت وَنَحْوه {غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ} أَيْ مُحْرِمُونَ وَنَصْب غَيْر عَلَى الْحَال مِنْ ضَمِير لَكُمْ {إِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ} مِنَ التحليل وغيره لا اعتراض عليه {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللّٰهِ} جَمْع شَعِيرَة أَيْ مَعَالِم دِينه بِالصَّيْدِ فِي الْإِحْرَام {وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ} بِالْقِتَالِ فِيهِ {وَلَا الْهَدْيَ} مَا أُهْدِيَ إِلَى الْحَرَم مِنَ النَّعَم بِالتَّعَرُّضِ لَهُ {وَلَا الْقَلَائِدَ} جَمْع قِلَادَة وَهِيَ مَا كَانَ يُقَلَّد بِهِ مِنْ شَجَر الْحَرَم لِيَأْمَن أَيْ فَلَا تَتَعَرَّضُوا لَهَا وَلَا لِأَصْحَابِهَا {وَلَا} تُحِلُّوا {آمِّينَ} قَاصِدِينَ {الْبَيْتَ الْحَرَامَ} بِأَنْ تُقَاتِلُوهُمْ {يَبْتَغُونَ فَضْلًا} رِزْقًا {مِنْ رَبِّهِمْ} بِالتِّجَارَةِ {وَرِضْوَانًا} مِنْهُ بِقَصْدِهِ بِزَعْمِهِمْ الْفَاسِد وَهَذَا مَنْسُوخ بِآيَةِ بَرَاءَة {وَإِذَا حَلَلْتُمْ} مِنَ الْإِحْرَام {فَاصْطَادُوا} أَمْر إِبَاحَة {وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ} يَكْسِبَنَّكُمْ {شَنَآنُ} بِفَتْحِ النُّون وَسُكُونهَا بُغْض {قَوْمٍ} لِأَجْلِ {أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا} عَلَيْهِمْ بِالْقَتْلِ وَغَيْره {وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ} بِفِعْلِ مَا أُمِرْتُمْ بِهِ {وَالتَّقْوَىٰ} بِتَرْكِ مَا نُهِيتُمْ عَنْهُ {وَلَا تَعَاوَنُوا} فِيهِ حَذْف إِحْدَى التَّاءَيْنِ فِي الْأَصْل {عَلَى الْإِثْمِ} الْمَعَاصِي {وَالْعُدْوَانِ} التَّعَدِّي فِي حُدُود اللّٰه {وَاتَّقُوا اللّٰهَ} خَافُوا عِقَابه بِأَنْ تُطِيعُوهُ {إِنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ} لِمَنْ خَالَفَهُ

ترجمه: شروع کوم په نامه دَخدائی چې ډیر مهربان او ډیر رحم والا دې. اې ایمان والو! وعدې پوره کړئ یعنی هغه محکم قول او قرار پوره کړئ کوم چې تاسو الله تعالی سره او د انسانانو سره کړې دی. ستاسو دَ پاره څاروی اوځناور مثلاً اوښ غوا او چیلۍ (وغیره) ذبح کولو نه پس خوړل حلال کړې شوی دی مګر هغه ځناور نه دی حلال کړې شوی دَ کوم حرمت چې به تاسوته په راتلونکی آیت حرمت علیکم المیتة کښې خودلې شی.دا استثناء منقطع ده.اودا هم جائز دی چې متصل وی او تحریم دَمرګ وغیره عارض کیدو دَ وجې نه دې لیکن دَ احرام په حالت کښې ښکار حلال مه ګنړئ یعنی چې کله تاسو محرم یعنی په احرام کښې ئی او غیرَ دکم طرف ته راګرځیدونکی، ضمیرنه حال کیدو دَ وجې منصوب دې، الله تعالی دَ حلت او حرمت، چې کوم احکام غواړی حکم یې ورکوی. په دې باندې دَاعتراض ګنجائش نشته اې خلقو چې ایمان مو راوړې دې په حرم کښې ښکارکولوسره دَ شعائرالله بې حرمتی مه کوئ شعائر دَ شعیرَةُ جمع ده یعنی دَالله تعالی دَ دین نښې، او نه دَحرمت والومیاشتو، په دې کښې جنګ کولوسره (بې حرمتی مه کوئ) اونه دَ قربانئ د څاروو پسې لاسونه

ورورېدولوسره دَهغې بې حرمتي کوئی هدی هغه څاروی او څناور کوم چې «دَ قربانئی دَپاره» حرم ته بوتلې شی.
اومه په هغه ځناورو پسې لاسونه وروړدوئی دَ کوم په مروکېنې چې «دَ الله تعالی دَ نذر دَ علامت په توګه دَحرم دَ ونو پټ» زوړندوی او جنګ کولوسره نه دَهغه خلقو بې حرمتي کوئی چې دَ بیت الحرام په اراده سره روان وی چې دَخپل رب فضل اود تجارت په ذریعه دَخپل رب دَ رزق په خپل خیال کښې دَ بیت الله په ارادې سره دَهغه دَ رضامندئی طلبګار وی. دا حکم په آیت براءة سره منسوخ دې اوکله چې تاسو دَاحرام نه فارغ شئی نو دَ ښکار اجازت دې «فاصطادوا» کښې امر دَ اباحت دَپاره دې اودَ هغه خلقو دښمنی چاچې تاسو دَمسجد حرام نه منع کړی وئی تاسو په دې خبره باندې آماده نه کړی (اونه پاروی) چې تاسو په هغوی باندې دَ قتل وغیره په ذریعه زیاتې اوکړئی. «شَنَآن» دَنون په فتحې اوسکون سره په معنی دَ بغض دې او په نیکئ باندې د هغه کارکولوسره دَ کوم چې تاسوته حکم درکړې شوې دې اوتقوی باندې هغه کار په پرېخودلو سره د کوم نه چې تاسو منع کړې شوی ئې یوبل سره امداد کوئی او په ګناه باندې اودَ الله تعالی په حدودو کښې زیاتې «په خبروکښې» دَ یوبل سره امدادمه کوئی «تعاونوا» په اصل کښې دَ دوو تاء ګانو نه یوه تاء محذوف ده اودَ الله تعالی دَعذاب نه ویرېږئی په دې توګه چې دهغه اطاعت کوئی او الله تعالی خپل مخالفت کونکی ته سخته سزا ورکونکې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اَلمَائِدَة دسترخوان جمع موائد.

قوله: بِالْعُقُوْدِ، واحد عقد پوخ عهد عقد مصدردې او په توګه دَاسم استعمال شوې دې.

قوله: بَهِیْمَةُ جمع بَهَائِم، څاروی دَ عربو په عرف کښې دَ بهائم اطلاق درندګانو او مرغونه علاوه په هرځناور کیږی. بهیمة دَ ابهام نه ماخوذ دې چونکه دَ څاروو په آواز کښې ابهام وی په دې وجه دې ته بهائم وئیلې شی.

قوله: اَنعام واحد نَعَمٌ ده چیلئ غوا میخه اوښ په انعام کښې دَ اوښ شاملیدل ضروری دی بغیردَ اوښ دَ شاملولو دې ته انعام نه شی وئیلې. دَعربو په نیز چونکه اوښ یودیر لوئی نعمت دې په دې وجه دې ته نعم اووئیلې شو.

قوله: اَکْلاً دَدې اضافه مقصد دَ یوسوال جواب دې.

سوال: حلت اوحرمت خو دَافعالو دَ اوصافو نه دی دلته دَ ذات یعنی د بهیمة الانعام وصف ګرځولې شوې دې چې صحیح نه دې.

جواب: اکلاً محذوف منلو سره هم دَدغه سوال جواب ورکول مقصود دی.

قوله: تَحْرِيْمُهُ دا دَدې سوال جواب دې چې بهيمهٔ متلو څيزونو نه دی؟

جواب: بهيمة منلو نه دې بلکه تحريم بهيمة متلو دې.

قوله: فَالِاسْتِثْنَاءُ مُنْقَطِعٌ ځکه چې مستثنی منه چې بهيمة الانعام دې او مستثنی چې ما يتلی عليکم دې دَ يو جنس نه نه دی مستثنی منه دَ ذرات دَ قبيل نه دې او مستثنی دَ قبيل د الفاظ.

قوله: يَجُوْزُ اَنْ يَّكُوْنَ مُتَّصِلاً تقدير دَ مضاف په صورت کښې په اِلا ما يتلی عليکم، داحلت لکم بهيمة الانعام نه مستثنی متصل وی تقديری عبارت به داسې شی أی اِلّا محرم ما يتلی عليکم او محرم نه مراد ميتة دې.

قوله: لِمَا عَرَضَ مِنَ الْمَوْتِ: په دې کښې اشاره ده چې أنعام مذکوره حرمت ذاتی نه دې بلکه دَ مرګ دَ وجې نه طاری دې.

قوله: وأنتم حُرُم دا جمله غير محلي الصيد دَ ضمير مستتر نه حال دې کوم چې دَلکم ضمير طرف ته راجع دې. يعنی غير محلي الصيد ذوالحال دې او وانتم حُرُم حال دې.

قوله: وهٰذا مَنْسُوْخٌ بِاٰيَةِ بَرَاءَةٍ وهي قوله تعالى اقتلوا المشركين حيث وجدتموهم.

[ایاتونه: ۳-۵]

{حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ} أَيْ أَكْلهَا {وَالدَّمُ} أَيْ الْمَسْفُوح كَمَا فِي الْأَنْعَام {وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهِ} بِأَنْ ذُبِحَ عَلَى اسْم غَيْره {وَالْمُنْخَنِقَةُ} الْمَيْتَة خَنْقًا {وَالْمَوْقُوذَةُ} الْمَقْتُولَة ضَرْبًا {وَالْمُتَرَدِّيَةُ} السَّاقِطَة مِنْ عُلْو إِلَى أَسْفَل فَمَاتَتْ {وَالنَّطِيحَةُ} الْمَقْتُولَة بِنَطْحِ أُخْرَى لَهَا {وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ} مِنْهُ {إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ} أَيْ أَدْرَكْتُمْ فِيهِ الرُّوح مِنْ هٰذِهِ الْأَشْيَاء فَذَبَحْتُمُوهُ {وَمَا ذُبِحَ عَلَى} اسْم {النُّصُبِ} جَمْع نِصَاب وَهِيَ الْأَصْنَام {وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا} تَطْلُبُوا الْقَسْم وَالْحُكْم {بِالْأَزْلَامِ} جَمْع زَلَم بِفَتْحِ الزَّاي وَضَمّهَا مَعَ فَتْح اللَّام قِدْح بِكَسْرِ الْقَاف صَغِير لَا رِيش لَهُ وَلَا نَصْل وَكَانَتْ سَبْعَة عِنْد سَادِن الْكَعْبَة عَلَيْهَا أَعْلَام وَكَانُوا يُحَكِّمُونَهَا فَإِنْ أَمَرَتْهُمْ ائْتَمَرُوا وَإِنْ نَهَتْهُمْ انْتَهَوْا {ذٰلِكُمْ فِسْقٌ} خُرُوج عَنْ الطَّاعَة وَنَزَلَ يَوْم عَرَفَة عَام حَجَّة الْوَدَاع {الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ دِينِكُمْ} أَنْ تَرْتَدُّوا عَنْهُ بَعْد طَمَعهمْ فِي ذٰلِكَ لِمَا رَأَوْا مِنْ قُوَّته {فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ} أَحْكَامه وَفَرَائِضه فَلَمْ يَنْزِل بَعْدهَا حَلَال وَلَا حَرَام {وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي} بِإِكْمَالِهِ وَقِيلَ بِدُخُولِ مَكَّة آمِنِينَ {وَرَضِيتُ} أَيْ اخْتَرْت {لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ} مَجَاعَة إِلَى أَيّ شَيْء مِمَّا حُرِّمَ عَلَيْهِ فَأَكَلَهُ {غَيْرَ مُتَجَانِفٍ} مَائِل {لِإِثْمٍ} مَعْصِيَة {فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ} لَهُ مَا أَكَلَ {رَحِيمٌ} بِهِ فِي إِبَاحَته بِخِلَافِ الْمَائِل لِإِثْمٍ أَيْ الْمُتَلَبِّس بِهِ كَقَاطِعِ الطَّرِيق وَالْبَاغِي مَثَلًا فَلَا يَحِلّ لَهُ الْأَكْل {يَسْأَلُونَكَ} يَا مُحَمَّد {مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ} مِنْ الطَّعَام {قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ

الطَّيِّبَاتُ} الْمُسْتَلَذَّاتُ {وَ} صَيْدُ {مَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ} الْكَوَاسِبِ مِنَ الْكِلَابِ وَالسِّبَاعِ وَالطَّيْرِ {مُكَلِّبِينَ} حَالٌ مِنْ كَلَّبْتُ الْكَلْبَ بِالتَّشْدِيدِ أَيْ أَرْسَلْتُهُ عَلَى الصَّيْدِ {تُعَلِّمُونَهُنَّ} حَالٌ مِنْ ضَمِيرِ مُكَلِّبِينَ أَيْ تُؤَدِّبُونَهُنَّ {مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ} مِنْ آدَابِ الصَّيْدِ {فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ} وَإِنْ قَتَلْنَهُ بِأَنْ لَمْ يَأْكُلْنَ مِنْهُ بِخِلَافِ غَيْرِ الْمُعَلَّمَةِ فَلَا يَحِلُّ صَيْدُهَا وَعَلَامَتُهَا أَنْ تَسْتَرْسِلَ إِذَا أُرْسِلَتْ وَتَنْزَجِرَ إِذَا زُجِرَتْ وَتُمْسِكَ الصَّيْدَ وَلَا تَأْكُلَ مِنْهُ وَأَقَلُّ مَا يُعْرَفُ بِهِ ثَلَاثُ مَرَّاتٍ فَإِنْ أَكَلَتْ مِنْهُ فَلَيْسَ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَى صَاحِبِهَا فَلَا يَحِلُّ أَكْلُهُ كَمَا فِي حَدِيثِ الصَّحِيحَيْنِ وَفِيهِ أَنَّ صَيْدَ السَّهْمِ إِذَا أُرْسِلَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ كَصَيْدِ الْمُعَلَّمِ مِنَ الْجَوَارِحِ {وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ} عند ارساله {واتقوا الله إن الله سريع الحساب} {الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ} الْمُسْتَلَذَّاتُ {وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ} أَيْ ذَبَائِحُ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى {حِلٌّ} حَلَالٌ {لَكُمْ وَطَعَامُكُمْ} إِيَّاهُمْ {حِلٌّ لَهُمْ وَالْمُحْصَنَاتُ من المؤمنات وَالْمُحْصَنَاتُ} الْحَرَائِرُ {مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ} حِلٌّ لَكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ {إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ} مُهُورَهُنَّ {مُحْصِنِينَ} مُتَزَوِّجِينَ {غَيْرَ مُسَافِحِينَ} مُعْلِنِينَ بالزنى بهن {ولا متخذي أخدان} منهن تسرون بالزنى بِهِنَّ {وَمَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ} أَيْ يَرْتَدَّ {فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ} الصَّالِحُ قَبْلَ ذَلِكَ فَلَا يُعْتَدُّ بِهِ وَلَا يُثَابُ عَلَيْهِ {وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ من الخاسرين} إذا مات عليه .

ترجمه:- ستاسو دپاره مرداره او بهيدونكي وينه (حرام كړې شوي دي) لكه چې په سورت انعام كښې ذكر دی. او دَ خنزير غوښه او هغه ځناور په كوم چې (دَ ذبح په وخت كښې) دَغير الله نوم اخستې شوې وی په دې صورت چې دَ غير الله په نوم باندې ذبح كړې شوې وی خوړل حرام كړې شوی دی او ساه بنديدو سره مړشوي ځناور او زخمي شوي مړشوي ځناور او دَ پورته نه راپريوتلي مړشوي ځناور او هغه ځناور چې دَبل ځناور په ښكرو وهلو سره مړشوې وی او هغه ځناور دَ كوم نه چې درنده ګانو خوړلې وی (خوړل حرام كړې شوی دی) مګر چې تاسو دا ذبح كړې وی يعنی په ذكرشوو ځناورو كښې چې تاسو ته كوم ژوندې ملاؤ شوې وی او تاسو ذبح كړې وی (نو هغه حرام نه دې) او هغه ځناور چې دَبتانو په نوم ذبح كړې شوی وی. نُصُبْ دَ نصابْ جمع ده او هغه بتان دی (حرام كړې شوی دی) او دغشو فال په ذريعه قسمت معلومولو سره نتيجه معلومول (حرام كړې شوی دی) اَزْلَامْ دَ زَلَمْ جمع ده دَ زاء په فتحې او ضمې سره او مع دَ لام په فتحې سره وړوكې غشې په كوم كښې چې نه وزر لګيدلې وی او نه او نه يې سوكه وی قِدْح دَ قاف په كسرې سره دې او هغه اووه غشی وو چې دَ بيت الله خادم سره به وو په هغې به نښې لګيدلې وې دَهغې نه به ئې جواب غوښتلو (فال به ئې پرې ويستلو) كه چرې هغې به اجازت وركولو نو هغه كار به ئې كولو او كه جواب به په ممانعت كښې وتلو نو نه به ئې كولو دا فسق دې يعنی دَ اطاعت نه خروج دې (آئنده آيت) دَحجة الوداع په موقع باندې نازل شو اوس كافران ستاسو دَ دين (اسلام) نه دَ مرتد كيدو باره كښې دَ خواهش لرلو باوجود نااميده شوی دی څكه چې هغوی دَدې دين طاقت ليدلې دې. لهذا تاسو دَدوی نه مه

ورېږي او هم زما نه ويرېږئ. نن ما ستاسو دين (يعنى، دَدې احكام او فرائض مكمل كړل چنانچه دَدې نه پس بيا دَ حلال اوحرام څه حكم نازل نه شو او په تاسو باندې ما خپل دين مكمل كړو او خپل انعام مې پوره كړو. اووئيلې شوى دى چې په مكه كښې په مامون طريقه باندې داخلولو سره (انعام مكمل كړو) اوما ستاسو دَ پاره اسلام دَ دين په توګه خوښ كړو كوم سړې چې دَ سختې ولګې نه بې تابه وى دَهغه دَ پاره دَ حرام كړې شوى څيزونو نه معمولى شان خوراك كول خو مباح دى په دې شرط چې دَ ګناه طرف ته ئې خيال نه وى نو الله تعالى دغه خوراك معاف كونكې دې او دغه كس دپاره (داخوراك) مباح كولوسره رحم كونكې دې په خلاف دَهغه سړى چې دګناه طرف ته ئې خيال وى يعنى (دَ ګناه) مرتكب وى لكه د شوكه كونكې باغى مثلاً نوددغه كس دَپاره (مذكوره څيزونو) نه خوراك كول حلال نه دى. اې محمد ﷺ تانه خلق سوال كوى چې دَهغوى دَپاره كوم خوراک حلال دې؟ ته ورته اووايه چې ستاسو دَپاره پاک صفا اوخوږندناك څيزونه حلال كړې شوى دى اودَ هغه ښكارى ځناورو كړې شوې ښكار كوم چې تاسو اموخته كړې وى كه هغه سپې وى كه شلونكې ځناور وى يا مرغئى وى په دې شرط چې تاسو هغه ښكار پسې پرېږدئى (مُكَلِّبِيْنَ) عَلَّمْتُمْ دَ ضميرنه حال دې اود كَلَّبْتُ الْكَلْبَ بالتشديد نه ماخوذ دې أى أَرْسَلْتُ على الصيد حال دا چې تاسو دَ الله تعالى خودلى شوى آداب ښكار هغه ته خودلې وى. (تعلمونهن) مكلبين دَ ضميرنه حال دې أى تُؤَدِّبُوْنَهُنَّ نو تاسو هغه ښكار خوړلې شئى كوم چې هغه ستاسو دَ پاره كړې وى سره دَدې چې هغه وژلې وى په دې شرط چې دَهغې نه ئې څه خوړلې نه وى په خلاف دَ بغير اموخته كړې شوى ځناور چې دهغه كړې شوې ښكار حلال نه دې او دَ اموخته كړې شوى پيژندګلو داده چې كله هغه ښكار پسې په منډه كړې نو چې منډه كړى او كله چې يئې منع كړې نو چې اودرېږى او دَ ښكار په نيولو سره دَهغې نه څه خورى نه. اود كم نه كم علامت چې دهغې په په ذريعه دَ ځناور معلَم كيدل معلوم شى درې ځل (ښكار پسې) پريخودل دى كه ښكارى ځناور دَ دې نه څه خوراك اوكړو نو پوهه شئى چې ده دَخپل مالك دَپاره نه دې نيولې لهذا په داسې صورت كښې دَ دغه ښكار خوړل حلال نه دى لكه چې دَ صحيحين په حديث كښې دى او هم په دې كښې دى چې په غشى سره كړې شوې ښكار چې دَغشى پريخودو وخت كښې بسم الله وئيلې وى نودا دَ غشى ښكار دَ ښكارى ځناور په شان دې(حلال) دې او صيدمعلم پريخودو وخت كښې دَالله تعالى نوم اخلئ اودَ الله تعالى نه ويرېږئ يقيناً الله تعالى ډير زر حساب اخستونكې دې. نن تول پاک څيزونه ستاسو دَپاره حلال كړې شوى دى اودَ اهل كتاب خوراک ستاسو دَپاره يعنى دَ يهود او نصارىٰ ذبيحه حلال كړې شوه اوستاسو ذبيحه دَهغوى دَپاره حلال كړې شوه او پاكدامنې مؤمنانې ښځې اود اهل كتاب(دَ يهود

اونصاری، آزادې ښځې ستاسو دَپاره حلال کړې شوی دی یعنی ستاسو دَ پاره د هغوی سره نکاح کول جائز دی کله چې تاسو دَهغوی مهر اداکړئ حال دا چې تاسو هغوی سره نکاح کونکی ئې نه چې هغوی سره په ښکاره (د زنا په ذریعه) شهوت پوره کوونکی اونه پټه باندې هغوی سره یارانې کونکې چې هغوی سره زنا پټونکی یئ او کوم کس چې دَ ایمان منکر شو یعنی مرتد شو نودَهغه وړاندینی نیک اعمال ضایع شو لهذا هغه به په هیڅ شمیرکښې نه وی او نه به په هغې اجرورکولې شی اوهغه به په آخرت کښې دَتاوانیانو نه وی کله چې هغه په ارتداد باندې مړشوې وی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: الْمَيْتَةُ اسم صفت دې مرداره هغه ځناور چې بغیردَ شرعی ذبح یا څه حادثې یا په خپل مرګ مړشی.

قوله: اَكْلُهَا، مضاف محذوف منلوسره اشاره اوکړه چې دَ حلت اوحرمت تعلق د افعال سره وی نه ذات سره.

قوله: اَلْمُنْخَنِقَةُ، اسم فاعل واحد مؤنث (انخناق،انفعال) خَنِقًا(ن) مرئی خفه کیدل.

قوله: اُهِلَّ: اَلْاِهْلَالُ رفع الصوت،لغیرالله به کښې لام په معنی دَباء اوباء په معنی عند، المعنی، مارفع الصوت عند ذکاته باسم غیرالله.

قوله: الْمَوْقُوْذَةُ وَقْذ، (ض) اسم مفعول واحد مؤنث زخمی کیدلو سره مړشوې.

قوله: الْمُتَرَدِّيَةُ اسم فاعل واحد مؤنث تَرَدِّی (تفعّل) دَ اوچت ځائی نه راپریوتوسره مړشوې ځناور.

قوله النَّطِيْحَةُ صیغه صفت په وزند فَعِیْلَةٌ په معنی د منطوحة نطح (ف، ن) هغه چیلئ چې دَ بلې دَ ښکرد زخم نه مړه شوې وی، بعض اهل لغت دَ چیلئ تخصیص نه دې کړې.

سوال: نطیحة په وزن دَ فعیلة دې فعلیة په وزن کښې مذکراومؤنث دواړه برابردی لهذا دلته دَ تاء ضرورت نشته؟

جواب: نطیحة کښې تاء انتقال من الوصفیة الی الاسمیة دَپاره دې نه چې دَ تانیث دَپاره لکه ذبیحة کښې چې ده.

قوله: منه،منه دَ اضافې مقصد دَدې سوال جواب دې چې فَاَكَلَ السَّبُعُ مطلب دې کوم چې لیوه خوړلې وی اوداخبره ښکاره ده چې لیوه کوم ځناور اوخوړلو هغه معدوم شو ومعدوم سره دَحلت یا حرمت هیڅ حکم نه متعلق کیږی، مِنْهُ وئیلو سره دَدې دا جواب ورکړې شو چې دَ کوم ښکارنه څه حصه لیوه خوړلې وی دکوم دَ وجې نه چې ځناور

مړشوې وی دهغې خوړل حلال نه دی.

قوله: اَلَّامَا ذَکَّیْتُمْ دا اَلْمُنْخَنِقَةُ اودَې د مابعدنه استثناء ده.

قوله: عَلَى اسْمِ النُّصُبِ: **سوال**: د لفظ اسم دَاضافې څه فائده ده؟

جواب: دې دَپاره چې دَ ذبح صله عَلَى صحیح شی لهذا على په معنی د لام اخستلو ضرورت به نه وی. (کما قال البعض)

قوله: ذلکم، اى الاستقسام بالازلام خاصةً فسق.

قوله: رَضِیْتُ، دا دَ بیان حال دَپاره جمله مستانفه ده دَدې عطف په اَکْمَلْتُ باندې نه دې ځکه چې دَدې نه به دا لازم شی چې دَ اسلام نه دَ دین کیدو په اعتبارسره نن راضی شوم دَدې نه وړاندې راضی نه ووم حالانکه اسلام دَالله تعالی خوښ کړې شوې دین دې اودَ هریونبی دین اسلام دې. رضیتُ متعدی بیك مفعول دې اوهغه الاسلام دې او دِیْنًا تمیز دې.

قوله: اِخْتَرْتُ، بعض حضراتو وئیلی دی چې رضیتُ په معنی د اخترتُ دې چې متعدی بدومفعول دې او اول مفعول الاسلامَ او دویم دِیْنًا دې. لهذا په دې صورت کښې به دینًا لره دحال یا تمیز گرځولو ضرورت پاتې نه شی.

قوله: غیرَ مُتَجَانِفٍ، دَتفاعل نه اسم فاعل واحد مذکر دې دَ بدئی طرف ته مائل کیدونکې، دَ حق نه مخ اړونکې، غَیْرَمنصوب على الحال دې.

قوله: مَخْمَصَةٍ: اسم، داسې اولگه په کومه کښې چې خیټه اولگی.

قوله: فَمَنِ اضْطُرَّ فِی مخمصةٍ، دا آیت درې ځایه راغلې دې دلته، سورت بقره کښې او په سورت نحل کښې.

جواب شرط طرف ته یئ اشاره کړې ده اوبعض حضراتو فَلاَ اِثْمَ عَلَیْهِ محذوف منلې دې فَمَنِ اضطر الخ دا آیت د سابقه تتمه ده اودَ ذلك فسق نه تردې ځائی پورې جمله معترضه ده چې دَ دوو کلامونو په مینځ کښې واقع شوې ده.

قوله: کَقَاطِعِ الطَّرِیْقِ، اى اِذَا کانا مسافرَیْن.

[ایاتوله: ٦-١١]

{یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ} اَیْ اَرَدْتُمُ الْقِیَام {اِلَى الصَّلٰوةِ} وَأَنْتُمْ مُحْدِثُوْنَ {فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَکُمْ وَاَیْدِیَکُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ} اَیْ مَعَهَا کَمَا بَیَّنَتْهُ السُّنَّة {وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِکُمْ} اَلْبَاء لِلْإِلْصَاقِ اَیْ اَلْصِقُوا الْمَسْحَ بِهَا مِنْ غَیْرِ إِسَالَة مَاء وَهُوَ اسْم جِنْس فَیَکْفِي أَقَلّ مَا یَصْدُق عَلَیْهِ وَهُوَ مَسْح بَعْض شَعْره وَعَلَیْهِ الشَّافِعِيّ {وَاَرْجُلَکُمْ} بِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى اَیْدِیکُمْ وَبِالْجَرّ عَلَى الْجِوَار {اِلَى الْکَعْبَیْنِ} اَیْ مَعَهُمَا کَمَا بَیَّنَتْهُ السُّنَّة

وَهُمَا الْعَظْمَانِ النَّاتِئَانِ فِي كُلِّ رِجْلٍ عِنْدَ مَفْصِلِ السَّاقِ وَالْقَدَمِ وَالْفَصْلُ بَيْنَ الْأَيْدِي وَالْأَرْجُلِ الْمَغْسُولَةِ بِالرَّأْسِ الْمَمْسُوحِ يُفِيدُ وُجُوبَ التَّرْتِيبِ فِي طَهَارَةِ هَذِهِ الْأَعْضَاءِ وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيُّ وَيُؤْخَذُ مِنَ السُّنَّةِ وُجُوبُ النِّيَّةِ فِيهِ كَغَيْرِهِ مِنَ الْعِبَادَاتِ {وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا} فَاغْتَسِلُوا {وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى} مَرَضًا يَضُرُّهُ الْمَاءُ {أَوْ عَلَى سَفَرٍ} أَيْ مُسَافِرِينَ {أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ} أَيْ أَحْدَثَ {أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ} سَبَقَ مِثْلُهُ فِي آيَةِ النِّسَاءِ {فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً} بَعْدَ طَلَبِهِ {فَتَيَمَّمُوا} اقْصِدُوا {صَعِيدًا طَيِّبًا} تُرَابًا طَاهِرًا {فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ} مَعَ الْمِرْفَقَيْنِ {مِنْهُ} بِضَرْبَتَيْنِ وَالْبَاءُ لِلْإِلْصَاقِ وَبَيَّنَتِ السُّنَّةُ أَنَّ الْمُرَادَ اسْتِيعَابُ الْعُضْوَيْنِ بِالْمَسْحِ {مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ} ضِيقٍ بِمَا فَرَضَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْوُضُوءِ وَالْغُسْلِ وَالتَّيَمُّمِ {وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ} مِنَ الْأَحْدَاثِ وَالذُّنُوبِ {وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ} بِالْإِسْلَامِ بِبَيَانِ شَرَائِعِ الدِّينِ {لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} نِعَمَهُ {وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ} بِالْإِسْلَامِ {وَمِيثَاقَهُ} عَهْدَهُ {الَّذِي وَاثَقَكُمْ بِهِ} عَاهَدَكُمْ عَلَيْهِ {إِذْ قُلْتُمْ} لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَايَعْتُمُوهُ {سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا} فِي كُلِّ مَا تَأْمُرُ بِهِ وَتَنْهَى مِمَّا نُحِبُّ وَنَكْرَهُ {وَاتَّقُوا اللَّهَ} فِي مِيثَاقِهِ أَنْ تَنْقُضُوهُ {إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ} بِمَا فِي الْقُلُوبِ فَبِغَيْرِهِ أَوْلَى {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ} قَائِمِينَ {لِلَّهِ} بِحُقُوقِهِ {شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْلِ {وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ} يَحْمِلَنَّكُمْ {شَنَآنُ} بُغْضُ {قَوْمٍ} أَيِ الْكُفَّارِ {عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا} فَتَنَالُوا مِنْهُمْ لِعَدَاوَتِهِمْ {اعْدِلُوا} فِي الْعَدُوِّ وَالْوَلِيِّ {هُوَ} أَيِ الْعَدْلُ {أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ {وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ} وَعْدًا حَسَنًا {لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ} هُوَ الْجَنَّةُ {والذين كفروا وكذبوا بآياتنا أولئك أصحاب الجحيم} {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ} هُمْ قُرَيْشٌ {أَنْ يَبْسُطُوا} يَمُدُّوا {إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ} لِيَفْتِكُوا بِكُمْ {فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ} وَعَصَمَكُمْ مِمَّا أَرَادُوا بِكُمْ {واتقوا الله وعلى الله فليتوكل المؤمنون}

ترجمه:- اې هغه خلقو چې ايمان موراوړي دې کله چې تاسو دَ مانځه دَپاره پاسئ يعنى دَ پاسيدو اراده اوکړئ حال دا چې تاسو بې اودسه ئى نوخپل مخونه او لاسونه تر څنګلو پورې اوينځئ يعنى سره دَ څنګلو لکه چې سنت بيان کړى دى. او په سرونو باندې لاس راکاږئ باء دَ الصاق دَپاره ده يعنى مسح دَ سرونو نه د اوبو بهيولو بغير متعلق کړئ. مسح اسم جنس دې لهذا په څه چې مسح صادق راشي دَهغې کم نه کم کافى دې او هغه دَ سر دَ بعض ويښتو مسح ده او هم دغه دَ امام شافعى رحمه الله مذهب دې او دَ ګيټو پورې خپې اوينځئ څنګه چې سنت بيان کړې دې. په (اَرْجُلَكُمْ) نصب سره دې أَيْدِيَكُمْ باندې دعطف دوجې او جر دَ ګاونډ دَ رعايت دَ وجې نه دې او (كعبين) دوه راپړسيدلى (راختلى) هډوکى دى، په هره خپه کښې دَ خپې او قدم دَ جوړيه مقام باندې او لاس او خپو دَ اعضاء مغسوله په مينځ دَ دې ممسوح فصل دَدغه اندامونو په طهارت کښې دَ وجوب ترتيب فائده ورکوى

او هم دغه دَ امام شافعي مذهب دي. اوپه اودس کښې په نيت د وجوب دَ نورو عبادتونو په شان د سنت (إِنَّمَا الاَعْمَالُ بِالنِّيات) نه ماخوذ دې اوکه چرې تاسو جنبي ئې نو په ښه شان سره طهارت حاصل کړئې يعنې غسل اوکړئې اوکه چرې تاسو بيماران ئې داسې بيمارې په کوم کښې چې اوبه نقصاني وي يا دَ سفرپه حالت کښې ئې يا په تاسو کښې څوک دَ قضاء حاجت نه راغلې وي يعنې حدث يئ کړې وي يا تاسو ښځو سره صحبت کړې وي اودَ لټون پس هم اوبه ملاؤ نه شي نو دَپاکې خاورې اراده اوکړئې(يعنې دَ خاورې نه کاروا خلئې) نوخپل مخونه او لاسونه ترڅنګلوپورې مسح کړئې په خاوره باندې دوه ضربونه اولګوئې اوباء دَالصاق دَپاره ده. اوسنت دا خبره واضحه کړې ده چې دَدواړو اندامونو دَمسح نه مراد استيعاب بالمسح دې الله تعالى په تاسو باندې اودس، غسل او تيمم فرض کولوسره ستاسو دَپاره څه قسم تنګي پيداکول نه غواړي ليکن هغه غواړي چې تاسودَ پليتئې او ګناهونونه پاک کړي اودَ دين قوانين بيانولوسره په تاسو باندې خپل نعمت پوره کول غواړي دې دَپاره چې تاسو دَهغه دَنعمتونو شکرپه اداکړئې اوتاسو په خپل ځان باندې نعمت دَاسلام يادکړئې اودَ خپلې هغه وعدې خيال اوساتئې چې هغه تاسو نه هغه وخت اخستې وه چې کله تاسودَنبي بيعت سره د کولوپه وخت کښې وئيلي وو چې مونږ واؤريدل او قبول موکړل په هره هغه خبره کښې دکومې چې نبي عليه السلام حکم اوکړي اومنع اوکړي که مونږ ئې خوښ کړو اوکه ناخوښه ئې کړو. اوالله تعالى سره دکړې عهدباره کښې دَنقض عهدکولونه دَالله تعالى نه اوويرېږئې بيشکه الله تعالى دَ زړونو په رازونو باندې خبر دې. نودَدې نه علاوه خو په طريقه اولى واقف دې. اې خلقو چې ايمان موراوړې دې دَالله تعالى دَ پاره دَهغه دحقوقو سره په راستئې باندې قائم پاتې کيدونکي اوپه انصاف سره ګواهي ورکونکي جوړشئې. دَ يوجماعت دَښمنئ دې تاسو په دې باندې آماده نه کړي چې تاسوهغوی سره انصاف اونه کړئې چې تاسو د هغوی سره دَدښمنئې د وجې نه دَهغوی نه خپل مقصد حاصل کړئې دوست اودښمن هريوسره انصاف کوئې اوانصاف دَ الله تعالى نه ډيرمناسب دې دَالله تعالى نه اوويرېږئې اوڅه چې تاسو کوئې الله تعالى دَهغې نه په پوره توګه خبردې نو هغه به تاسو ته دَ هغې بدله درکړي دَهغه خلقو دَپاره چې ايمان ئې راوړې دې نيک عملونه يئ کړي وي د الله تعالى ښه وعده ده چې دَهغوی دَپاره مغفرت دې او عظيم اجر دې اوهغه جنت دې. اوکوم خلق چې کفر اوکړي او زمونږ آياتونه دروغ ګڼړي نوهغوئ دوزخيان دي. اې خلقو چې ايمان موراوړې دې دَالله تعالى هغه احسان يادکړئې کوم چې هغه په تاسو باندې کړې دې. کله چې يوقوم يعنې قريشو اراده کړې وه چې تاسوته لاس داوږد کړي دې دَپاره چې تاسو ته نقصان اورسوي (قتل موکړي) مګر الله تعالى دَ هغوی لاسونه په تاسو باندې دَ اوچتيدو بندکړل اوتاسو ئې دهغه څه نه محفوظ اوساتلئ دکوم څه چې هغوی تاسو سره دکولو اراده کړې وه. دَالله تعالى نه اوويرېږئې اودَايمان والوله هم په الله تعالى باندې بهروسه کول پکاردي.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: أی أَرَدتُّمُ القیامَ دا دې اضافې مقصد دَ یو سوال جواب دې.

سوال: إِذَا قُمۡتُمۡ الی الصلوة فاغسلوا وجوهکم نه معلومیږی چې طهارت شروع فی الصلوة نه پس واجب دې حالانکه دَمونځ شروع کولو نه وړاندې طهارت ضروری دی؟

جواب: دادې چې إِذَا قُمۡتُمۡ مطلب دا دې إذا أردتم القیام یعنی کله چې تاسو دَ مونځ کولو اراده اوکړئی نو طهارت حاصل کړئی.

سوال: قمتم وئیلو سره د أردتم اراده په کوم مناسبت سره ده په دې کښې کومه علاقه ده؟

جواب: مسبب وئیلو سره سبب مراد اخستې شوې دې. اراده چونکه دَقیام سبب دې او قیام مسبب دې لهذا دلته قیام وئیلو سره اراده مراد اخستې شوې دې.

قوله: وَأَنۡتُمۡ مُحۡدِثُوۡنَ دا اضافه هم دَ یو سوال مقدر جواب دې.

سوال: دَمذکوره آیت نه معلومیږی چې کله هم دَ قیام الی الصلوة اراده وی نو طهارت حاصلول ضروری دی که دَ اول نه طهارت حاصل وی او که نه؟

جواب: اودس هغه وخت ضروری دې کله چې طهارت نه وی هم په دې دَ علماؤ اتفاق دې خو دَهرمانځه دَپاره تازه اودس کول بهتر دی.

قوله: الۡمَرَافِقِ دا مرفق جمع ده دَمیم په کسرې اود فاء په زبرسره دې. په دې کښې یو لغت دَ میم فتحه او فاء کسره هم ده هغه جوړته وائی چې دَ مټ اود اوږې په مینځ کښې وی کوم ته چې په اردو کښې کُهنی وائی او پښتو کښې ورته څنګل وائی.

قوله: اَلۡبَاءُلِلۡاِلۡصَاقِ بعض حضراتو وئیلی وی چې باء زائده ده او بعضو وئیلی دی چې تبعیض دَپاره ده. ابن هشام او زمخشری رحمه الله وئیلی دی چې الصاق دَپاره ده یعنی مسح که هغه دَ پوره سر وی اوکه دَ بعض سر متعلق کړئ. امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله احتیاطًا استیعاب واجب وئیلی دی او امام شافعی رحمه الله اقل مقدار واجب وئیلی دی ځکه چې دا یقینی مقداردې او امام ابوحنیفه رحمه الله څلورمه حصه دَ سر مسح واجب ګرځولې ده او دلیل دَرسول الله ﷺ هغه حدیث دې په کوم کښې چې وارد شوی دی أَنَّهُ مسح علی الناصیة، الناصیة مقدم الرأس وهو بقدر ربع الرأس.

قوله: بِالنَّصۡبِ، أَرۡجُلَکُمۡ کښې دوه قراءتونه دی دَ لام په فتحې سره دا دَنافع رحمه الله اود ابن عامر رحمه الله او کسائی رحمه الله او حفص رحمه الله دَ عاصم رحمه الله نه.

قوله: بِالۡجَرِّ دا دَ باقی قراء سبعه دې هم دَدې اختلاف قراءت دَ وجې نه دَ خپو وینځل یا

مسح کولوباره کښې دَمسلمانانو په مينځ کښې اختلاف پيداشوې دې. دَاهل سنت په نيز صرف غسل واجب دې اودَ اهل تشيع په نيز مسح ضروري ده او داؤد بن علي اود فرقه زيديه نه ناصر للحق دَدوارو په مينځ کښې دَ جمع قائل دې.

قوله: والجرّللجوار، دا دَ يوسوال جواب دې.

سوال: ډير قراء أرجلكم کښې لام په کسرې سره لولي دَ جر دَ قراءت په صورت کښې رؤسکم باندې عطف کيدو د وجې به دَ مسح حکم وي حالانکه دا مذهب دَ خوراجو اود اهل تشيع دې کوم چې دَ سنت رسول او سنت صحابه خلاف عمل دې؟

جواب: حاصل د جواب دادې چې اَرْجُلِكم د لام کسره د رعايت دَ جوار دَ وجې نه ده نه چې دَعطف على المجرور دَ وجې نه اودَدې مثالونه په قرآن اوغيرقرآن کښې ډير دي.

[اياتونه:۱۲-۱۹]

{وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ} بِمَا يُذْكَر بَعْد {وَبَعَثْنَا} فِيهِ الْتِفَات عَنْ الْغَيْبَة أَقَمْنَا {مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا} مِنْ كُلّ سِبْط نَقِيب يَكُون كَفِيلًا عَلَى قَوْمه بِالْوَفَاءِ بِالْعَهْدِ تَوْثِقَةً عَلَيْهِمْ {وَقَالَ} لَهُمْ {اللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْ} بِالْعَوْنِ وَالنُّصْرَة {لَئِنْ} لَام قَسَم {أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ} نَصَرْتُمُوهُمْ {وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا} بِالْإِنْفَاقِ فِي سَبِيله {لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ} الْمِيثَاق {مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ} أَخْطَأَ طَرِيق الْحَقّ وَالسَّوَاء فِي الْأَصْل الْوَسَط فَنَقَضُوا الْمِيثَاق قال تعالى {فَبِمَا نَقْضِهِمْ} مَا زَائِدَة {مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ} أَبْعَدْنَاهُمْ عَنْ رَحْمَتنَا {وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً} لَا تَلِين لِقَبُولِ الْإِيمَان {يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ} الَّذِي فِي التَّوْرَاة مِنْ نَعْت مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْره {عَنْ مَوَاضِعِهِ} الَّتِي وَضَعَهُ اللَّه عَلَيْهَا أَيْ يُبَدِّلُونَهُ {وَنَسُوا} تَرَكُوا {حَظًّا} نَصِيبًا {مِمَّا ذُكِّرُوا} أُمِرُوا {بِهِ} فِي التَّوْرَاة مِنْ اتِّبَاع مُحَمَّد {وَلَا تَزَالُ} خِطَاب لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {تَطَّلِعُ} تَظْهَر {عَلَى خَائِنَةٍ} أَيْ خِيَانَة {مِنْهُمْ} بِنَقْضِ الْعَهْد وَغَيْره {إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ} مِمَّنْ أَسْلَمَ {فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} وَهَذَا مَنْسُوخ بِآيَةِ السَّيْف {وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَى} مُتَعَلِّق بِقَوْلِهِ {أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ} كَمَا أَخَذْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيل الْيَهُود {فَنَسُوا حَظًّا مِمَّا ذُكِّرُوا بِهِ} فِي الْإِنْجِيل مِنْ الْإِيمَان وَغَيْره وَنَقَضُوا الْمِيثَاق {فَأَغْرَيْنَا} أَوْقَعْنَا {بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ} بِتَفَرُّقِهِمْ وَاخْتِلَاف أَهْوَائِهِمْ فَكُلّ فِرْقَة تُكَفِّر الْأُخْرَى {وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ} فِي الْآخِرَة {بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ} فيجازيهم عليه {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ} الْيَهُود وَالنَّصَارَى {قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا} مُحَمَّد {يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِمَّا كُنْتُمْ تُخْفُونَ} تَكْتُمُونَ {مِنَ الْكِتَابِ} التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيل كَآيَةِ الرَّجْم وَصِفَته {وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ} مِنْ ذَلِكَ فَلَا يُبَيِّنهُ إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَصْلَحَة إِلَّا افْتِضَاحكُمْ {قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ} هُوَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَكِتَابٌ} قُرْآن {مُبِينٌ} بَيِّن ظَاهِر {يَهْدِي بِهِ} أَيْ بِالْكِتَابِ {اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ} بِأَنْ آمَنَ

{سُبُلَ السَّلَامِ} طُرُق السَّلَامَة {وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ} الْكُفْر {إِلَى النُّورِ} الْإِيمَان {بِإِذْنِهِ} بِإِرَادَتِهِ {وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} دِين الْإِسْلَام {لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ} حَيْثُ جَعَلُوهُ إِلَهًا وَهُمْ الْيَعْقُوبِيَّة فِرْقَة مِنَ النَّصَارَى {قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ} أَيْ يَدْفَع {مِنَ} عَذَاب {اللَّهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا} أَيْ لَا أَحَد يَمْلِك ذَلِكَ وَلَوْ كَانَ الْمَسِيح إِلَهًا لَقَدَرَ عَلَيْهِ {وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ} شَاءَهُ {قَدِيرٌ} {وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى} أَيْ كُلّ مِنْهُمَا {نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ} أَيْ كَأَبْنَائِهِ فِي الْقُرْب وَالْمَنْزِلَة وَهُوَ كَأَبِينَا فِي الرَّحْمَة وَالشَّفَقَة {وَأَحِبَّاؤُهُ قُلْ} لَهُمْ يَا مُحَمَّد {فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوبِكُمْ} إِنْ صَدَقْتُمْ فِي ذَلِكَ وَلَا يُعَذِّب الْأَب وَلَده وَلَا الْحَبِيب حَبِيبه وَقَدْ عَذَّبَكُمْ فَأَنْتُمْ كَاذِبُونَ {بَلْ أَنْتُمْ بَشَرٌ مِمَّنْ} مِنْ جُمْلَة مَنْ {خَلَقَ} مِنَ الْبَشَر لَكُمْ مَا لَهُمْ وَعَلَيْكُمْ مَا عَلَيْهِمْ {يَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ} الْمَغْفِرَة لَهُ {وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ} تَعْذِيبه لَا اعْتِرَاض عَلَيْهِ {وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ} الْمَرْجِع {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا} مُحَمَّد {يُبَيِّنُ لَكُمْ} شَرَائِع الدِّين {عَلَى فَتْرَةٍ} انْقِطَاع {مِنَ الرُّسُلِ} إِذْ لَمْ يَكُنْ بَيْنه وَبَيْن عِيسَى رَسُول وَمُدَّة ذَلِكَ خَمْسمِائَةٍ وَتِسْع وَسِتُّونَ سَنَة ل {أَنْ} لَا {تَقُولُوا} إِذَا عُذِّبْتُمْ {مَا جَاءَنَا مِنْ} زَائِدَة {بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ فَقَدْ جَاءَكُمْ بَشِيرٌ وَنَذِيرٌ} فَلَا عُذْر لَكُمْ إِذًا {وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ تَعْذِيبكُمْ إِنْ لَمْ تَتَّبِعُوهُ

ترجمه:- او الله تعالى دَ بنى اسرائيلو نه دَ آئنده ذكر شوې خبرو خبرو باره كښې دا پخه وعده اخستې وه او مونږ په هغوى كښې دولس نقيبان يعنى مشران مقرر كړى وو. په دې كښې دَ غيبت نه (دَ تكلم طرف ته) التفات دې (بَعَثْنَا په دمعنى اقمنا دې نه چې په معنى دَ ارسلنا دې) دَ هرې قبيلې نه يو نقيب (نګران) چې هغه په خپل قوم باندې دَ وعدې دپوره كولو تاكيد اوكړى او هغوى ته مو وئيلى وو چې زه به دَ اعانت او نصرت په اعتبار سره تاسو سره يم قسم دې كه تاسو مونځ قائم كړو او زكوة مو اداكړو او زما په رسولانو باندې مو ايمان راوړو او دَ هغوى امداد مو اوكړو او دَ الله تعالى په لاركښې موخرچ كولو سره الله تعالى ته قرض حسنه وركړو نو يقين ساتئى چې زه به ستاسو ګناهونه ستاسو نه لرې كړم. او تاسو به په داسې باغونو كښې ورداخل كړم دَ كوم نه لاندې چې به نهرونه بهيږى دَ دې عهد نه پس چاچې كفر اوكړو نو هغه دَ نيغې لارې نه ګمراه شو يعنى دَ حق لارې نه خطا شو او دَ سواء معنى په اصل كښې وسط يعنى مينځ ده نو بنى اسرائيلو وعده ماته كړه نو دَ هغوى دَ وعدې ماتولو دَ وجې نه مونږ هغوى دَ خپل رحمت نه لرې كړل او مونږ دَ هغوى زړونه سخت كړل چې د هغې د وجې نه دَ حق قبلولو دَ پاره نرميږى نه (اوس دَ هغوى حال دادې) چې دَ محمد ﷺ هغه صفات وغيره كوم چې تورات كښې موجود دى دَ هغې دَ هغه اصل مفهوم نه كوم چې الله تعالى متعين كړې دې ردوبدل كولو سره دَ څه نه څه جوړوى يعنى هغه بدلوى او دَ كوم څيز يعنى اتباع د محمد ﷺ هغوى ته په تورات كښې حكم وركړې شوې وو دَ هغې اكثر حصه هغوى شاته غورزولې وه او هره ورځ دوى تاته

حضور پاک ﷺ ته خطاب دي دَهغوي دَ وعدې ماتولو وغيره دَ څه نه څه خيانت پته لگي. په دري کښې ډير کم خلق دی چې اسلام ئی راوړې دې (دَدغه عيب نه) بچ شوی دی (کله چې دهغوی داحالت دې) نوته هغوی معاف کړه اودَ (هغوی دَحرکتونونه) سترگې پټې کړې الله تعالی هغه خلق خوښوی چې دَ احسان طريقه خوښوی دا (حکم)په آيت سيف سره منسوخ دې اودَهغه خلقو نه هم مونږ پخه وعده واخسته چاچې اووئيل مونږ نصاری يوځنگه چې مونږ دَ بنی اسرائيل دَ يهودو نه عهد اخستې وو مگر هغوی ته هم چې کوم (سبق) په انجيل کښې دَ ايمان وغيره ورياد کړې شوی وو دَهغې يوه لويه حصه ئی هيره کړه او وعده خلافی ئی اوکړه نو مونږ په هغوی کښې دَ تفريق په ذريعه اودَهغوی په نظرياتو کښې دَ اختلاف په ذريعه دَ قيامته پورې بغض او دښمنی واچوله دَ کوم په نتيجه کښې چې هرفريق دَ بل تکفيرکوی دير زر به الله تعالی هغوی ته په آخرت کښې اوښائی کوم حرکتونه چې هغوی په (دنيا کښې) کول؟ نو هغوی ته به دَهغې سزا ورکړی. اې اهل کتاب يهود او نصاریٰ تاسو له زمونږ رسول راغلې دې چې دَ الله تعالی دَ کتابونو تورات انجيل ډيرې داسې خبرې لکه آيت رجم اودَ رسول الله ﷺ صفات په کومو چې به تاسو پرده اچوله ستاسو په وړاندې ښکاره بيانوی او په هغې کښې ډيرې خبرې پريږدی هم چې هغه نه ښکاره کوی کوم کښې چې ستاسو دَ فضيحت نه علاوه څه مصلحت نه وی يقينًا تاسو له دَ الله تعالی دَ طرف نه رڼا راغله اوهغه (محمد ﷺ) نبی ﷺ دې. او يوداسې حق نما کتاب قرآن چې دَدې په ذريعه الله تعالی هغه کس چې دَالله دَرضا طالب دې چې په دې ايمان راوړې دَ سلامتيا طريقې ورته ښائی اوپه خپلو ارادوسره هغه دکفردَتيارونه دَ ايمان رڼا طرف ته راوباسی او نيغه لار (يعنی) دين اسلام طرف ته ئی رهنمائی کوی. يقينًا هغه خلقو کفر اوکړو چاچې اووئيل يقيناهم مسيح ابن مريم خدائې دې په دې توگه چې هغوی مسيح معبوداوگرځولو اوهغه فرقه يعقوبيه ده چې دَ نصاریٰ يوه فرقه ده. دَهغوی نه تپوس اوکړئی چې که چرې الله تعالی مسيح ابن مريم اودَهغه مور هلاکول غواړی نودَچا څه مجال چې دَ الله تعالی دَ عذاب نه څه هم دفاع اوکړې شی يعنی دَدې چا کښې مجال نشته اوکه چرې مسيح خدائې وې نو په دې باندې به قادر وو يهود اونصاری په دوی کښې هريو وائی چې مونږ دَ الله تعالی ځامن يو يعنی په قرب اومنزلت کښې اوهغه زمونږ دَپاره په شفقت او رحمت کښې دَ پلارپه شان دې اودَ هغه نيازبين يو. اې محمد ﷺ ددوی نه تپوس اوکړه نو بيا هغه تاسو ته سزا ولې درکوی؟ که چرې تاسو په دغه دعویٰ کښې رښتونی يئی او پلار خوئی ته سزا نه ورکوی اونه محبوب خپل محبوب ته اوهغه خو به يقينًا تاسو ته سزا درکوی لهذا تاسو په (خپله دعویٰ کښې) دروغژن يئې بلکه حقيقت دادې چې تاسو هم دغه شان انسانان يئې لکه چې نور انسانان ئی پيدا کړی دی ستاسو دَپاره هم هغه اجراو ثواب دې کوم چې دَهغوی دَپاره دې اوستاسو دَپاره هم هغه سزا ده کوم چې

دهغوی دپاره ده. هغه چې څوک معاف کول غواړي معاف کوئی او چاته چې عذاب ورکول غواړي ورکوئی په هغه باندې هیڅ اعتراض نشته په آسمانونو او زمکه کښې او دَدې په مینځ کښې چې څه دی دَالله تعالی ملک دې او هم دَهغه طرف ته واپس کیدل دی. اې اهل کتاب زمونږ رسول محمد ﷺ تاسو ته راغلې دې او دَ دین دَاحکامو واضحه تعلیم درکوی. حالانکه د رسولانو دَ راتګ سلسله دَ یوې مودې پورې بنده وه څکه چې دَحضرت عیسی علیه السلام او دَهغوی په مینځ کښې بل رسول نه وو راغلې او دَ توقف موده ۵۶۹ کاله وه کله چې تاسو ته سزا درکړې شي نو چې تاسو به دا اونه وئیلې شئ چې مونږ له نه څوک زیرې راکونکې راغلې وو او نه ویرونکې. مِنْ زائده دې اوس ستاسو دپاره دَ هیڅ عذر ګنجائش نشته او الله په هرشئ قادر دې هم په دې کښې تاسو ته سزا درکول هم شامل دی که چرې تاسو دَ ده اتباع اونکړئ.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: نَقِیْب، جمع نُقَبَاء سردار، دَقوم دَ طرف نه دَ عهد پوره کولو ذمه وار، دَ قوم دَحالات نګرانی کونکې، دا فعیل په معنی فاعل دې.

قوله: لَئِنْ اَقَمْتُمْ لام په حذف دقسم باندې دلالت کولو دپاره دې او اِنْ شرطیه دې تقدیری عبارت دا دې وَاللّٰهُ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصلوٰة لَاُکَفِّرَنَّ جواب قسم دې چې قائمقام دې دَ جواب شرط.

قوله: عَزَّرْتُمُوْا، تعزیر نه ماضی جمع مذکر حاضر دې. واؤ دَاِشباع دې تاسو امداد اوکړو.

قوله: یُحَرِّفُوْنَ الْکَلِمَ، دا جمله مستانفه ده مقصد دَ یهودیانو دَ زړه قساوت بیانول دی.

قوله: خیانة مؤنث دې، دَجواب حاصل دا دې چه خائنة د فاعل په وزن باندې مصدر دې لکه عافیة او عاقبة، ددې تائید د اعمش د قرأت نه کیږی، چه هغوی خائنة په ځائی خیانة لوستلې دې دا رنګ منهم او فاعف عنهم هم په دې دلالت کوی.

قوله: بِاٰیَةِ السَّیْفِ ای اقتلوا المشرکین حیث وَجدتموهم، یعنی د آیة السیف نه مراد اقتلوا المشرکین الخ. آیت دې.

قوله: اَغْرَیْنَا ای اَلصقنا وَاَلْزَمْنَا، اِغراء نه ماضی جمع متکلم دې مونږ واچول، مونږ اولګول.

قوله: بَیْنَهُمْ، ای فِرَق النصاری، ① نسطوریه ددوئ عقیده ده چې عیسی علیه السلام دَالله تعالی ځوئ دې. ② یعقوبیه ددوئ عقیده ده چې هم مسیح ابن مریم خدائې دې ③ ملکانیه ددوئ عقیده ده چې خدائې په دریو کښې یو دې.

قوله: کَاٰیَةِ الرَّجْمِ وَصِفَتِه دا دَ یهودو دَ کتمان مثال دې او دَ نصاریٰ دَ پټولو مثال مبشرا برسول یاتی من بعدی اسمه احمد دې.

قوله: إِن صَدَقْتُمْ فِي ذٰلِكَ، فَلِمَ يعذبكم بذنوبكم، د شرط محذوف جزاء ده لهذا دَ عطف انشاء على الاخبار اعتراض به نه وارديږي. (ترويح الارواح)

قوله: لان لا تقولوا، لام محذوف منلوسره يئ اشاره اوکړه چې جمله لاجله ده.

[اياتونه: ٢٠ - ٢٦]

{وَ} اذْكُرْ {إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ} أَيْ مِنْكُمْ {أَنْبِيَاءَ وَجَعَلَكُمْ مُلُوكًا} أَصْحَاب خَدَم وَحَشَم {وَآتَاكُمْ مَا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ} مِنَ الْمَنّ وَالسَّلْوَى وَفَلْق الْبَحْر وغير ذلك {يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ} الْمُطَهَّرَة {الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ} أَمَرَكُمْ بِدُخُولِهَا وَهِيَ الشَّام {وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِكُمْ} تَنْهَزِمُوا خَوْف الْعَدُوّ {فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ} فِي سَعْيكُمْ {قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ} مِنْ بَقَايَا عَاد طِوَالًا ذِي قُوَّة {وَإِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ} لَهَا {قَالَ} لَهُمْ {رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ} مُخَالَفَة أَمْر اللّٰه وَهُمَا يُوشَع وَكَالِب مِنَ النُّقَبَاء الَّذِينَ بَعَثَهُمْ مُوسَى فِي كَشْف أَحْوَال الْجَبَابِرَة {أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمَا} بِالْعِصْمَةِ فَكَتَمَا مَا اطَّلَعَا عَلَيْهِ مِنْ حَالهمْ إِلَّا عَنْ مُوسَى بِخِلَافِ بَقِيَّة النُّقَبَاء فَأَفْشَوْهُ فَجَبُنُوا {ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ} بَاب الْقَرْيَة وَلَا تَخْشَوْهُمْ فَإِنَّهُمْ أَجْسَاد بِلَا قُلُوب {فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ} قَالَا ذَلِكَ تيقنا بنصر الله وإنجاز وعده {وعلى الله فتوكلوا إن كنتم مؤمنين} {قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْت وَرَبّك فَقَاتِلَا} هم {إنا ها هنا قَاعِدُونَ} عَنْ الْقِتَال {قَالَ} مُوسَى حِينَئِذٍ {رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إلا نفسي و} إلا {أخي} وَلَا أَمْلِك غَيْرهمَا فَأَجْبِرهُمْ عَلَى الطَّاعَة {فَافْرُقْ} فافصل {بيننا وبين القوم الفاسقين} {قَالَ} تَعَالَى لَهُ {فَإِنَّهَا} أَيْ الْأَرْض الْمُقَدَّسَة {مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ} أَنْ يَدْخُلُوهَا {أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ} يَتَحَيَّرُونَ {فِي الْأَرْضِ} وَهِيَ تِسْعَة فَرَاسِخ قَالَهُ ابن عَبَّاس {فَلَا تَأْسَ} تَحْزَن {عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ} رُوِيَ أَنَّهُمْ كَانُوا يَسِيرُونَ اللَّيْل جَادِّينَ فَإِذَا أصبحوا إذا هم في الموضع الذي ابتدأوا مِنْهُ وَيَسِيرُونَ النَّهَار كَذَلِكَ حَتَّى انْقَرَضُوا كُلّهمْ إِلَّا مَنْ لَمْ يَبْلُغ الْعِشْرِينَ قِيلَ وَكَانُوا سِتّمِائَةِ أَلْف وَمَاتَ هَارُونُ وَمُوسَى فِي التِّيه وَكَانَ رَحْمَة لَهُمَا وَعَذَابًا لِأُولَئِكَ وَسَأَلَ مُوسَى رَبّه عِنْد مَوْته أَنْ يُدْنِيه مِنْ الْأَرْض الْمُقَدَّسَة رَمْيَة بِحَجَرٍ فَأَدْنَاهُ كَمَا فِي الْحَدِيث وَنُبِّئَ يُوشَع بَعْد الْأَرْبَعِينَ وَأُمِرَ بِقِتَالِ الْجَبَّارِينَ فَسَارَ بِمَنْ بَقِيَ مَعَهُ وَقَاتَلَهُمْ وَكَانَ يَوْم الْجُمُعَة وَوَقَفَتْ لَهُ الشَّمْس سَاعَة حَتَّى فَرَغَ مِنْ قِتَالهمْ وَرَوَى أَحْمَد فِي مُسْنَده حَدِيث إِنَّ الشَّمْس لَمْ تُحْبَس عَلَى بَشَر إِلَّا لِيُوشَع لَيَالِي سَارَ إِلَى بَيْت الْمَقْدِس

ترجمه: او یاد کړئ کوم وخت چې موسی علیه السلام خپل قوم ته وئیلی وو اې زما دَ قوم خلقو تاسو دَ الله تعالی دهغه نعمتونو خیال اوکړئ کوم چې هغه تاسو ته درکړی دی. هغه تاسو کښې نبي پیدا کړل اوتاسو کښې یئ دَ شان اوشوکت والا بادشاهان جوړ کړل اوتاسو ته ئې هغه څه درکړل کوم چې یئ په دنیا کښې چا ته هم نه وو ورکړی. یعنی مَنْ وَسلویٰ او سمندر ئې اوشلولو لارې یئ جوړې کړې وغیره. اې زما دَ قوم خلقو په دغه مقدسه زمکه کښې داخل شئ کوم چې الله تعالی

ستاسو په (نوم) ليكلې ده يعنى په دې كښې دَداخليدو حكم يئ كړې دې اوهغه (زمكه) ملك شام دې اواولته څپې په شاكيږئ مه ګنى دَ دښمن دَ ويرې نه به ماتې اوخورئى او په خپل كوشش كښې به نامراده پاتې شئ. هغوى جواب وركړو اې موسى ﷺ هلته خودَ قوم عاددَنسل اوږدقدوالا طاقتور اوزبردست خلق اوسيږى مونږ په هلته هيڅ كله لاړنه شو ترهغه وخته پورې چې هغه خلق دَدغه ځائى نه اونه ځى اوكه هغوى دَ دغه ځائى نه اووتل نومونږداخليدو ته تيار يو. هغوى ته هغه دوو سړو اووئيل كوم چې دَ الله تعالى د حكم د خلاف ورزئ كولو نه ويريدل اوهغه يوشع او كالب وو چې په هغه دولسو سردارانوكښې وو كوم چې موسىٰ عليه السلام دَ جبابره دَ تفتيش دَپاره ليږلې وو په كومو دواړو باندې چې الله تعالى د (افشاء) نه دَ حفاظت په ذريعه انعام اوفرمائيلو نودغه دواړو حضراتو خپل معلومات دَحضرت موسىٰ عليه السلام نه علاوه نورو نه پټ اوساتل په خلاف دَ نورو سردارانو چې هغوى راز ښكاره كړو دكوم په نتيجه كښې چې (بنى اسرائيل) بې همته شو تاسو په هغوى دَ ښار په دروازه باندې خو اوړسئ اودَهغوى نه ويريږئى مه هغوئ خو بې زړه جوسې دى (يعنى كمزورې خلق دى) اوكله چې تاسو په دروازه كښې داخل شئ نويقيناً هم تاسو به غالب كيږئ. هغوى داخبره دَ الله تعالى په امداد او دَهغه وعدې لره د پوره كولو باندې يقين كولوسره اوكړه اوپه الله تعالى باندې يقين ساتئ كه چرې تاسو مؤمنان يئ ليكن هغوى (بيا هم دغه اووئيل) چې اې موسى عليه السلام مونږ به هلته هيڅ كله لاړنه شو تركومې چې هغوى هلته موجود وى. بس ته او ستارب دې لاړشى هغوى سره اوجنګيږئ مونږ دلته دَ جنګ نه په حفاظت كښې ناست يو. هغه وخت حضرت موسى عليه السلام عرض اوكړو اې زما پروردګار زه دَخپل ذات او خپل رورنه علاوه دَ بل چامالك نه يم او زه دَدې دواړونه دَعلاوه ملاك نه يم چې دوى په اطاعت باندې مجبوركړې شم ته مونږ دَدې نافرمانه خلقو نه جدا كړه نوالله تعالى حضرت موسى عليه السلام ته اوفرمائيل دَدې خلقو دَپاره په دغه پاكه زمكه كښې دَ څلويښتوكالو پورې داخليدل منع دى دوى به په زمكه كښې حيران سرګردان ګرځى اودَ (دې وسعت) نهه فرسخ دې. دا دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول دې. دَدې نافرمانو په حالت باندې هيڅ كله ترس مه كوه. روايت دې چې بنواسرائيل به په ډير كوشش سره دَ شپې تلل خوچې كله به سحرشو نوهم په هغه ځائى به وو دكوم ځائى نه چې به نى دَ سفرشروع كړې وه. اوهم دغه حال دَهغوى دَ ورځې په تګ كښې وو تردې چې دهغوى پوره نسل ختم شو سوا دَ هغه ځوانانونه دَ چا عمر چې لاشل كالو نه وورسيدلې وئيلې شوى دى چې دهغوى تعداد شپږ لاكهه وو اودَ حضرت هارون عليه السلام اوحضرت موسى عليه السلام انتقال هم په مقام تيه كښې شوې وو اودادَ مقام تيه قيام دَهغه دواړو دَ پاره رحمت اودَهغوئ تولو دَپاره عذاب وو. حضرت موسىٰ عليه السلام دَ وفات په وخت دَخپل رب نه دعااوكړه چې دوى ارض مقدس نه دَ يوكاڼې دَ ويشتلو په مقدار

باندې نيزدې کړې چنانچې هغوی ورنيزدې کړې شو. لکه چې په حديث کښې راغلی دی او حضرت يوشع علیه السلام ځلويښت کاله پس نبی جوړ کړې شواو دَ جبابره سره دَ جنګ حکم ئی ورکړو. (حضرت يوشع علیه السلام) باقی خلق خپل ځان سره کړل لاړو او هغوی سره جنګ او کړو او په هغه ورځ دَ جمعې ورځ وه نمر دَهغوی دَ پاره دَ يو ساعت دَپاره ولاړ وو تردې چې دَ جنګ نه فارغ شو. او احمد رحمه الله په خپل مسند کښې روايت کړې دې چې نمبر سوا دَحضرت يوشع علیه السلام نه دَ چادَپاره نه دې ولاړ په هغه شپو کښې کوم کښې چې يوشع علیه السلام دَ بيت المقدس طرف ته سفراو کړو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اي منکم دا دَ يو سوال جواب دې.

سوال: د فيکم په تفسير منکم سره ولې او کړو؟

جواب: ځکه چې کُمْ کښې حقيقةً دَ ظرف جوړيدو صلاحيت نشته.

قوله: من المَنّ والسلوی، په دې کښې اشاره ده چې بنی اسرائيلوته په اهل عالم باندې مطلقًا فضيلت حاصل نه وو بلکه دَ مَنْ وسلوی د وجې نه جزوی فضيلت حاصل وو.

قوله: اَنْعَمَ اللهُ عليهما، په دې کښې احتمال دې چې جمله دعائيه وی په دې صورت کښې به جمله معترضه شی او دا هم احتمال دې چې جمله خبريه وی نو په دې صورت کښې به د رجلان صفت ثانيه وی.

قوله: اَلْبَاب تفسيريئ په بابَ القرية سره کولو کښې اشاره او کړه چې الباب کښې الف لام مضاف اليه په عوض کښې دې.

قوله: وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوْا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ واؤ استنافيه دې او کلام مستانف دې فاء دَ امر محذوف په جواب باندې داخل ده. تقديری عبارت دا دې تَنَبَّهُوْا فتوکلوا علی الله، د توکلوا متعلق مقدم دې. ان کنتم شرط دې جواب شرط محذوف دې په کوم باندې چې ماقبل يعنی توکلوا دلالت کوی. قال ب إِنّى لا أملك إلانفسى وَأَخِى، دا جمله استينافيه دَپاره دَ اظهار دَحسرت او تاسف ده. قال، قول دې او مابعد دَې مقوله ده. لاأَمْلِكُ دَ إِنَّ خبر دې الا حرف استثناء دَ پاره دَحصر دې نفسی مفعول به دې.

قوله: وَأَخِىْ، په دې کښې دَ رفع نصب او جر درې واړو احتمال دې. که چرې دَاملك په ضمير مستتر باندې عطف وی نو رفع به وی او که چرې دَ اِنَّ په اسم باندې عطف وی نو نصب به شی او که چرې په ياء مجرور باندې عطف وی نو مجرور به شی.

قوله: يَتِيهُوْنَ، تِيهٌ (ض) مضارع جمع مذكر غائب، سرگردان به گرځي.

قوله: لاتَأْسَ ته غم مه كوه (س) مصدر أسى تأس مضارع واحد مذكر حاضر اصل تأسى وو لاء نهي دَ وجې نه ياء ساقط شوه.

[ایاتونه: ۲۷-۳٤]

{وَاتْلُ} يَا مُحَمَّد {عَلَيْهِمْ} عَلَى قَوْمك {نَبَأَ} خبر {ابنى آدم} لهابيل وَقَابِيل {بِالْحَقِّ} مُتَعَلِّق بِاتْلُ {إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا} إلى الله وهو كبش هابيل وَزَرْع لِقَابِيل {فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا} وَهُوَ هَابِيل بِأَنْ نَزَلَتْ نَار مِنَ السَّمَاء فَأَكَلَتْ قُرْبَانه {وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ} وَهُوَ قَابِيل فَغَضِبَ وَأَضْمَرَ الْحَسَد فِي نَفْسه إِلَى أَنْ حَجَّ آدم {قَالَ} لَهُ {لَأَقْتُلَنَّك} قَالَ لِمَ قَالَ لتقبل قربانك دوني {قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ} {لَئِنْ} لَام قَسَم {بَسَطْت} مَدَدْت {إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ} فِي قَتْلك {إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَ} تَرْجِع {بِإِثْمِي} بِإِثْمِ قَتْلِي {وَإِثْمِكَ} الَّذِي ارْتَكَبْته مِنْ قَبْل {فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ} وَلَا أُرِيد أَنْ أَبُوء بِإِثْمِك إِذَا قَتَلْتُك فَأَكُون مِنْهُمْ قَالَ تَعَالَى {وَذَلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ} {فَطَوَّعَتْ} زَيَّنَتْ {لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ} فَصَارَ {مِنَ الْخَاسِرِينَ} بِقَتْلِهِ وَلَمْ يَدْرِ مَا يَصْنَع بِهِ لِأَنَّهُ أَوَّل مَيِّت عَلَى وَجْه الْأَرْض مِنْ بَنِي آدَم فَحَمَلَهُ عَلَى ظَهْره {فَبَعَثَ اللهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ} يَنْبُش التُّرَاب بِمِنْقَارِهِ وبرجله وَيُثِيرهُ عَلَى غُرَاب مَيِّت حَتَّى وَارَاهُ {لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي} يَسْتُر {سَوْأَةَ} جِيفَة {أَخِيهِ قَالَ يَا وَيْلَتَى أَعَجَزْتُ} عَنْ {أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْأَةَ أَخِي فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ} عَلَى حَمْله وَحَفَرَ لَهُ وَوَارَاهُ {مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ} الَّذِي فَعَلَهُ قَابِيل {كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ} أَيْ الشَّأْن {مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ} قَتَلَهَا {أَوْ} بِغَيْرِ {فَسَادٍ} أَتَاهُ {فِي الْأَرْضِ} مِنْ كُفْر أَوْ زِنًا أَوْ قَطْع طَرِيق أَوْ نَحْوه {فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا} بِأَنْ امْتَنَعَ عَنْ قَتْلهَا {فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا} قَالَ ابن عَبَّاس مِنْ حَيْثُ انْتِهَاك حُرْمَتهَا وَصَوْنهَا {وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ} أَيْ بَنِي إِسْرَائِيل {رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ} الْمُعْجِزَات {ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ} مُجَاوِزُونَ الْحَدّ بِالْكُفْرِ وَالْقَتْل وَغَيْر ذَلِكَ وَنَزَلَ فِي الْعُرَنِيِّينَ لَمَّا قَدِمُوا الْمَدِينَة وَهُمْ مَرْضَى فَأَذِنَ لَهُمْ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَخْرُجُوا إِلَى الْإِبِل وَيَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالهَا وَأَلْبَانهَا فَلَمَّا صَحُّوا قَتَلُوا رَاعِي النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَاقُوا الْإِبِل {إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ} بِمُحَارَبَةِ الْمُسْلِمِينَ {وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا} بِقَطْعِ الطَّرِيق {أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ} أَيْ أَيْدِيهمْ الْيُمْنَى وَأَرْجُلهمْ الْيُسْرَى {أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ} أَوْ لِتَرْتِيبِ الْأَحْوَال فَالْقَتْل لِمَنْ قَتَلَ فَقَطْ وَالصَّلْب لِمَنْ قَتَلَ وَأَخَذَ الْمَال وَالْقَطْع لِمَنْ أَخَذَ الْمَال وَلَمْ يَقْتُل وَالنَّفْي لمن أخاف فقط قاله ابن عَبَّاس وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ وَأَصَحّ قَوْلَيْهِ أَنَّ الصَّلْب ثَلَاثًا بَعْد الْقَتْل وَقِيلَ قَبْله قَلِيلًا وَيُلْحَق بِالنَّفْيِ مَا أَشْبَهَهُ فِي التَّنْكِيل مِنَ الْحَبْس وَغَيْره {ذَلِكَ} الْجَزَاء الْمَذْكُور {لَهُمْ خِزْيٌ} ذُلّ {فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ} هُوَ عَذَاب النَّار {إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا} مِنَ الْمُحَارِبِينَ وَالْقُطَّاع {مِنْ

قَبْلَ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ} لَهُمْ مَا أَتَوْهُ {رَحِيمٌ} بِهِمْ عَبَّرَ بِذَلِكَ دُون فَلَا تَحُدُّوهُمْ لِيُفِيدَ أَنَّهُ لَا يَسْقُط عَنْهُ بِتَوْبَتِهِ إِلَّا حُدُود اللَّه دُون حُقُوق الْآدَمِيِّينَ كَذَا ظَهَرَ لِي وَلَمْ أَرَ مَنْ تَعَرَّضَ لَهُ وَاَللَّه أَعْلَم فَإِذَا قَتَلَ وَأَخَذَ الْمَال يُقْتَل وَيُقْطَع وَلَا يُصْلَب وَهُوَ أَصَحّ قَوْلَيْ الشَّافِعِيّ وَلَا تُفِيد تَوْبَته بَعْد الْقُدْرَة عَلَيْهِ شَيْئًا وَهُوَ أَصَحّ قَوْلَيْهِ أَيْضًا

ترجمه: او اې محمد ﷺ خپل قوم ته دَحضرت آدم علیه السلام دَ دواړو ځامنو هابیل اوقابیل قصه بغیردَ څه کمی زیاتی واوروه بالحق د اُتل سره متعلق دې کله چې دې دواړو دَ الله تعالی په نوم باندې قربانی اوکړه او هغه (قربانی) دَهابیل ګړوو اودَ قابیل غله نو الله تعالی دَهغوی نه دَ یو یعنی هابیل قربانی قبوله کړه په دې طریقه چې دَ آسمان نه یو اور راغلو اودَ هابیل قربانی اوخوړله (وئی سوزوله) اود دویم قبوله نه کړې شوه اوهغه قابیل وو نوهغه غصه شو او حسد ئی په خپل زړه کښې پټ کړو(اودَ موقع په لټون کښې شو) کله چې حضرت آدم علیه السلام دَ حج دَ پاره تشریف یوړو نوهغه وئیل زه به تا ضرور قتلوم (هابیل) تپوس اوکړو ولې؟ (جواب یئ ورکړو) ستاقربانی قبوله شوه زما نه. هابیل اووئیل چې الله تعالی خو هم دَ الله والو قربانی قبلوی که ته زما دَ قتل کولودَپاره لاس اوچتوې نو زه به ستا دَ قتل کولودَپاره لاس نه اوچتوم. په لئن کښې لام قسمیه دې، زه ستادَ قتل په معامله کښې دَ الله تعالی نه ویرېږم اوزه خو دا غوارم چې ته زما دَقتل ګناه او خپله ګناه دکومې چې ته اول مرتکب شوې مثلاً (حسد او نافرمانی والدین وغیره ګناه) په خپل سرواخلې اودَ دوزخیانونه شې.او زه نه غواړم چه تا قتل کړم او ستا د قتل کولو ګناه په خپل سر واخلم چه ددې په وجه زه د دوزخیانو نه شم، الله تعالی اوفرمائیل دَ ظالمانودَ ظلم هم دغه سزا ده. چنانچه دَ هغه نفس دې دَ خپل رور په قتلولو باندې تیارکړو اوآخرئی هغه مړکړو نو هغه دَ ده دَ قتل په وجه دَ زیان کارانو نه شو اودَهغه په پوهه کښې نه راتله چې په دې مړی څه اوکړی؟ ځکه چې په مخ دَ زمکې دَ بنیادم دا ړومبې مړې وو. چنانچه هغه ئی په خپله شا باندې اوچت کړې وو. آخر الله تعالی یو کارغه راوُلیګلو چې په خپله مښوکه او پنجو ئی زمکه کنستله اوخپل ملګری د بل کارغه مړی باندې یئ(خاوره) اچوله. تردې چې هغه ئی پټ کړو دې دَپاره چې هغه (قابیل) ته اوښائی چې دَخپل رور مړی څنګه پټ کړی. دې کتلوسره هغه اووئیل افسوس زمانه دَ دې کارغه غوندې هم اونه شوه چې دَ خپل رور مړې پټ کړې وې نوهغه دَخپل رور مړی په شاباندې ګرځولوسره شرمنده شو(دویمه ترجمه) نوهغه دَخپل رور په قتل کولو تیاریدو باندې خپیمانه شو او دَهغه دَپاره ئی کنده اوکنستله او هغه ئی په کښې پټ کړو. اوهم دَدې حرکت دَ وجې نه کوم چې قابیل اوکړو په بنی اسرائیلو باندې مونږ دا فرمان اولیکلو چې کوم سړی څوک بغیردَدې نه چې هغه دَ چا قاتل وی یا دکفر په ذریعه یا دَ زناکارئی یا دَ غلاوغیره په ذریعه فساد خوروونکې وی قتل کړی. نو لکه چې هغه ټو انسانان قتل کړل او چاچې څوک بچ کړو په دې طریقه چې دَهغه دَ قتل نه منع

شو نو هغه لکه چې دَ ټولو انسانانو ځان بچ کړو. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل چې دا حکم دَ نفس د بې حرمتی اودَ هغه دَ حفاظت په اعتبارسره دې اودَهغوی يعنی بنی اسرائيلو ته زمونږ رسولان معجزاتو راوړلو سره راغلی وو خو بيا دَدې نه پس هم په دوی کښې اکثر خلق په زمکه کښې ظلم اوزياتې کونکی دی يعنی دَ کفر اوقتل وغيره په ذريعه دَ حد نه تجاوز کونکې دی. آئنده آيت دَ قبيله عرينه والو په باره کښې نازل شو. کله چې هغوی مدينې ته راغلل اوبيماران وو نوحضورپاك هغوی ته دَ دې خبرې اجازت ورکړو چې هغوی دې اوښانو له ورشی اودَهغوی متيازې او پئی دې اوڅکی کله چې هغوی صحت ياب شو نو خاريان ئی قتل کړو اواوښان ئی بوتلل. هغه خلقو سزا چې دمسلمانانوسره محاربه کولوسره داالله تعالی اودَهغه رسول سره محاربه اوکړی او د شوکو کولو په ذريعه په ملك کښې د فساد خوررولو کوشش اوکړی هم دغه ده چې دوی قتل کړې شی او په سولئ کړې شی اودَهغوی خپه لاس دَ مخالف طرفونو نه پرې کړې شی يعنی دَدوی ښې لاس اوګسه خپه (پرې کړې شی) يا هغوی جلاوطن کړې شی اَوْ دَ ترتيب احوال دَپاره دې. قتل هغه دَپاره دې چاچې صرف قتل کړې وی او په سولئ کول هغه چا دپاره دی چاچې قتل کړې وی اومال ئی اخستې وی اوقطع هغه چادَپاره چې مال ئی اخستې وی اوقتل ئی نه وی کړې او دَ وطن نه ويستل د هغه دَپاره دی چې صرف ويرول ئی کړی وی. دا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل اوهم دغه دَامام شافعی رحمه الله مذهب دې اودَ امام شافعی رحمه الله په دواړو قولو کښې اصح قول دادې چې دَقتل نه پس درې ورځې په سولئ باندې زوړندول پکار دی او وئيلې شوی دی چې دَ قتل نه پس لږ ساعت په سولئ باندې زوړندول پکاردی او دَ وطن نه ويستلوسره به هغه څه هم شاملولې شی چې په سزاکښې دَ جلاوطن کولوپه شان وی هغه سزا حبس وغيره ده. دا مذکوره سزا دَهغوی دَپاره په دنياکښې رسوائی او په آخرت کښې عظيم عذاب دې اوهغه دَ اور عذاب دې. مګر دَ محاربينو او لارې شوکونکونه هغه خلق چا چې ستاسو هغوئ لره د ګرفتارولو نه وړاندې توبه اوکړه نو پوهه شئ چې الله تعالی معاف کونکې دې هغه ګناه دکومې چې هغوی ارتکاب کړې دې او په هغوی باندې رحم کونکې دې.

اِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ الرَّحِيْم سره تعبيراوفرمائيلو نه چې فلاتحدوهم سره دې دَپاره چې کلام دَدې خبرې فائده ورکړی چې په توبې سره صرف حدود الله معاف کيږی نه چې حقوق العباد.

زما په پوهه کښې هم داسې راغلې دی اوزه نه پوهيږم چې بل چا دې (نکتې) نه تعرض کړې وی او الله تعالی بهتر پيژندونکې دې. چنانچه کله چې قتل اوکړی اومال واخلی نو قتل کولې به شی او (لاس) به ترې هم کټ کولې شی او په سولې کولې به نه شی اودا دَ امام شافعی رحمه الله په دواړو قولوکښې دَ ټولو نه صحيح قول دې او دَ ګرفتارئی نه به پس داکوانو ته په توکولوسره به هيڅ فائده نه کيږی اودا دَامام شافعی رحمه الله په دواړو قولونو

کښې زيات صحيح قول دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اُتْلُ، ته اولوله، تلاوت اوکړه تِلاوَة نه واحد مذکرحاضرصيغه ده.

قوله: تَبُوْءَ بَوْءٌ(ن) مضارع واحد مذکرغائب، ته حاصل کړه، ته راغونډکړه، ته اوګټه.

قوله: طَوَّعت تَطْوِيْعٌ (تفعيل) نه ماضي واحدمؤنث غائب، هغه رغبت راپيدا کړو، هغه راضي کړو، هغه آماده کړو، هغه آسان کړو، (وَسَّعَتْ وَيَسَّرَتْ مِنْ طاعَ المرعى له إذا اتَّسَعَ) (اعراب القرآن للدرويش)

قوله: سَوْءة، لاش، عيب، ستر.

قوله: على حمله، أي حمل الجسد على ظهره، يعنى خپل رور هابيل يې په خپله شا اوچت کړو، کرځيدواو دښخيدلو طريقه نه معلوميدو دَ وجې نه خپيمانه شو. دَعلى حمله يو مطلب داهم بيان کړې شوې دې چې د حمله دَ ضمير مرجع قتل اوګرځوزولې دشى او ترجمه دا شوه چې قابيل لره خپل نفس دَ هابيل په قتل کولوباندې تيارولوباندې خپيمانه شو.

قوله: من حيث اِنتِهَاكِ حُرْمَتِهَا، دَدې تعلق د کأنما قتل الناس جميعا سره دې يعنى چاچې يو نفس قتل کړو اودَهغه بې حرمتي يې اوکړه نولکه چې هغه دَ ټولو نفوسو بې حرمتي اوکړه.

قوله: وصونها، دَدې تعلق فكأنما احيا الناس جميعا، سره دې يعنى چاچې دَ يوکس ځان بچ کړو لکه چې هغه دَ ټولو انسانانو ځانونه بچ کړل. مِنْ حيث اِنتهاكِ حُرْمَتِهَا وصَوْنِهَا دا جمله دَ لف اونشر مرتب په توګه ده.

قوله: عُرَنِيِّيْنَ، دا دَ عُرَنِيٌّ جمع ده دا دَعربو دَ يوې قبيلې عرينة طرف ته منسوب ده عُرنيين کښې ياء نسبتي ده لکه جه جُهَنِيٌّ قبيله جهينه طرف ته چې منسوب دې. (جمل) عبدالرزاق رحمه الله دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه او ابن جرير رحمه الله دَ حضرت انس رضي الله عنه دَ روايت په حواله سره ليکلي دي چې دَ بحرين اوسيدونکي قبيله عرينه څه خلق مراد دي. (احسن التفاسير)

قوله: أَوْلِتَرْتِيْبِ الأَحْوَالِ، يعنى أوْ قرآن کښې چې چرته هم راغلي دی هغه دَ تخييردَپاره دې سوا دَدې ځائي نه دلته دَ ترتيب دَپاره دې.

[اياتونه: ٣٥-٤٢]

{يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّه} خَافُوا عِقَابَه بِأَنْ تُطِيْعُوْهُ {وَابْتَغُوا} اُطْلُبُوا {إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ} مَا يُقَرِّبُكُمْ إِلَيْهِ مِنْ طَاعَته {وَجَاهِدُوا فِي سَبِيله} لإعلاءِ دِينه {لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} تَفُوزُونَ {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ} ثَبَتَ {أَنَّ

لَهُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} {يُرِيدُونَ} يَتَمَنَّوْنَ {أَنْ يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنْهَا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ} دائم {والسارق والسارقة} ال فيهما موصولة للمبتدا ولشبهه بالشرط ودخلت الْفَاء فِي خَبَره وَهُوَ {فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا} أَيْ يَمِين كُلّ مِنْهُمَا مِنَ الْكُوع وَبَيَّنَتْ السُّنَّة أَنَّ الَّذِي يُقْطَع فِيهِ رُبُع دِينَار فَصَاعِدًا وَأَنَّهُ إِذَا عَادَ قُطِعَتْ رِجْله الْيُسْرَى مِنْ مَفْصِل الْقَدَم ثُمَّ الْيَد الْيُسْرَى ثُمَّ الرِّجْل الْيُمْنَى وَبَعْد ذَلِكَ يُعَزَّر {جَزَاءً} نُصِبَ عَلَى الْمَصْدَر {بِمَا كَسَبَا نَكَالًا} عُقُوبَة لَهُمَا {مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ} غَالِب عَلَى أَمْره {حَكِيمٌ} فِي خلقه {فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهِ} رَجَعَ عَنِ السَّرِقَة {وَأَصْلَحَ} عَمَله {فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ} فِي التَّعْبِير بِهَذَا مَا تَقَدَّمَ فَلَا يَسْقُط بِتَوْبَتِهِ حَقّ الْآدَمِيّ مِنَ الْقَطْع وَرَدّ الْمَال نَعَمْ بَيَّنَتْ السُّنَّة أَنَّهُ إِنْ عَفَا عَنْهُ قَبْل الرَّفْع إِلَى الإمام يسقط الْقَطْع وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ {أَلَمْ تَعْلَمْ} الِاسْتِفْهَام فِيهِ لِلتَّقْرِيرِ {أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ} تَعْذِيبه {وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ} الْمَغْفِرَة لَهُ {وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} ومنه التعذيب والمغفرة {يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ} صُنْع {الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ} يَقَعُونَ فِيهِ بِسُرْعَةٍ أَيْ يُظْهِرُونَهُ إِذَا وَجَدُوا فُرْصَة {مِنَ} لِلْبَيَانِ {الَّذِينَ قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ} بِأَلْسِنَتِهِمْ مُتَعَلِّق بِقَالُوا {وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوبُهُمْ} وَهُمْ الْمُنَافِقُونَ {وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا} قَوْم {سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ} الَّذِي افْتَرَتْهُ أَحْبَارهمْ سَمَاع قَبُول {سَمَّاعُونَ} مِنْك {لِقَوْمٍ} لِأَجْلِ قَوْم {آخَرِينَ} مِنَ الْيَهُود {لَمْ يَأْتُوكَ} وَهُمْ أَهْل خَيْبَر زَنَى فِيهِمْ مُحْصَنَانِ فَكَرِهُوا رَجْمهمَا فَبَعَثُوا قُرَيْظَة لِيَسْأَلُوا النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حُكْمهمَا {يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ} الَّذِي فِي التَّوْرَاة كَآيَةِ الرَّجْم {مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهِ} الَّتِي وَضَعَهُ اللَّه عَلَيْهَا أَيْ يُبَدِّلُونَهُ {يَقُولُونَ} لِمَنْ أَرْسَلُوهُمْ {إِنْ أُوتِيتُمْ هَذَا} الْحُكْم الْمُحَرَّف أَيْ الْجَلْد الَّذِي أَفْتَاكُمْ بِهِ مُحَمَّد {فَخُذُوهُ} فَاقْبَلُوهُ {وَإِنْ لَمْ تُؤْتَوْهُ} بَلْ أَفْتَاكُمْ بِخِلَافِهِ {فَاحْذَرُوا} أَنْ تَقْبَلُوهُ {وَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ} إِضْلَاله {فَلَنْ تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا} فِي دَفْعهَا {أُولَئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ} مِنَ الْكُفْر وَلَوْ أَرَادَهُ لَكَانَ {لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ} ذل بالفضيحة والجزية {ولهم في الآخرة عذاب عظيم} هم {سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ} بِضَمِّ الْحَاء وَسُكُونهَا أَيْ الْحَرَام كَالرِّشَا {فَإِنْ جَاءُوكَ} لِتَحْكُم بَيْنهمْ {فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ} هَذَا التَّخْيِير مَنْسُوخ بِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ} الْآيَة فيجب الحكم بينهم إذا تَرَافَعُوا إِلَيْنَا مَعَ مُسْلِم وَجَبَ إِجْمَاعًا {وَإِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ يَضُرُّوكَ شَيْئًا وَإِنْ حَكَمْتَ} بَيْنهمْ {فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْلِ {إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ} الْعَادِلِينَ فِي الْحُكْم أَيْ يُثِيبهمْ {وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ} بالرجم اسْتِفْهَام تَعْجِيب أَيْ لَمْ يَقْصِدُوا بِذَلِكَ مَعْرِفَة الْحَقّ بَلْ مَا هُوَ أَهْوَن عَلَيْهِمْ {ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ} يُعْرِضُونَ عَنْ حُكْمك بِالرَّجْمِ الْمُوَافِق لِكِتَابِهِمْ {من بعد ذلك} التحكيم {وما أولئك بالمؤمنين}

ترجمه: اې ايمان والو! الله تعالى نه يعنى دهغه دعذاب نه اوويرېږئ په داسې توګه چې دهغه اطاعت اوکړئ اود هغه د اطاعت په ذريعه دهغه قرب اولټوئ چې تاسو دهغه

مقرب جوړ کړی او دَهغه په لارکښې دَ هغه دَ دین دَ سرلوړئی پاره کوشش اوکړئی دې دَپاره چې تاسو کامیاب شئی. ښه ځان پوهه کړئی د هغه خلقو دپاره چاچې دَ کفر لاراختیارکړه که دَهغوی په قبضه کښې دَ زمکې ټول دولت وی او دومره نور هم وی. دغه ټول دَ قیامت په ورځ دَ عذاب په عوض کښې ورکول غواړی نوبیابه هم دَهغوی نه قبول نه کړې شی اوهغوی ته به دردناک سزا ملاویږی هغوی به غواړی چې دَ اور نه اوځی خووتلې به نه شی اودَهغوی دَپاره به دَ همیشه عذاب وی اوغل که سړې وی اوکه ښځه الف لام (السارق او السارقة) په دواړوکښې موصوله مبتداء مشابه بالشرط دې اودَدې وجې نه دَدې په خبرباندې فاء داخل ده اوهغه فاقطعوا ایدیهما دې. دَ دواړو لاسونه کټ کړئی یعنی دَهریود ښې لاس مړوندکښې کټ کړئی او سنت بیان کړې دې چې هغه مقدار دَ کوم په عوض چې (لاس) کټ کیږی څلورمه حصه دَدینار یادَدې نه زیات دې اوکه هغه بیا غلا اوکړی نودَهغه ګسه خپه به د ګیټې پورې کټ کولې شی بیا ګس لاس او بیا ښې خپه اودَدې نه به پس بیا تعزیری سزا ورکولې شی. دا دَهغوی دَکړو بدله ده اودَ الله تعالی دَطرف نه دهغوی دپاره دَ سزاپه توګه ده او الله تعالی په خپل حکم کښې غالب او دَخپل مخلوق په باره کښې حکمت والا دې. جزاءً دَ مصدریت دَ وجې نه منصوب دې بیاچاچې دَ ګناه نه پس توبه اوکړه یعنی دَ غلا نه منع شو اودَ خپل عمل اصلاح نی اوکړه نوالله تعالی به دَهغه توبه قبوله کړی الله تعالی معاف کونکې او رحم کونکې دې. (د فلاتحدوهم) په ځائی اِنَّ اللهَ غَفُوْرُ الرَّحِیم سره دَتعبیرکولوهم دغه مطلب دې کوم چې سابق کښې بیان شو. لهذا دَ (سارق) په توبه کولوسره به نه خوبه د حق العباد به قطع ید ساقط شی او نه د (مسروقه) مال دَ واپسئی حق، البته دَ سنت نه داخبره معلومه شوې ده چې که چرې مسروق منه دَقاضی په عدالت کښې دَ مقدمه پیش کیدو نه وړاندې معافی اوکړه نوقطع یدبه ساقط شی او هم دغه دَامام شافعی رحمه الله مذهب دې آیا تاسو نه پوهیږئی؟ استفهام دَ تقریر دَپاره دې چې الله تعالی دَ زمکې او آسمان دَ سلطنت مالک دې چاته چې عذاب ورکول غواړی عذاب به ورکوی او څوک چې معاف کول غواړی معاف به ئې کړی او هغه په هرڅیز باندې قدرت لری او په هغې کښې تعذیب او مغفرت هم داخل دې. اې رسول ستاد پاره دې دَدغه خلقو طرزعمل دَ خفګان باعث نه وی چې کوم خلق دکفر په باره کښې ډیر وړاندې کوی یعنی په ډیره تیزئی سره په دې کښې اخته کیږی اوکله هم چې موقع ملاویږی د کفر اظهارکوی که هغه دَ هغه خلقو نه وی مِن بیانیه چاچې په خپلو ژبوسره وئیلی چې مونږ ایمان راوړې دې. (بافواههم) قالوا سره متعلق دې حالانکه هغوی دزړه نه ایمان نه دې راوړې اومنافقان دی یا دَهغه خلقو نه وی چاچې یهودی مذهب اختیارکړې دې اوهغه داسې خلق دی چې دَ قبولیت په غور سره دَ دروغوخبرې اوریدو عادت دی کوم چې دَهغوی احباردَځان نه جوړې کړی دی. او دَیهودونه دَهغه خلقو دَپاره ستاسوجاسوسی کوی کوم چې تاسو خواله نه راځی

اوهغه اهل خیبردی. په هغوی کښې دوو واده کړي کسانو زناکړې وه خو هغه خلقو دَهغوی رجم کول ناخوښه کړل او هغه خلقو بنی قریظه دنبی علیه السلام په خدمت کښې دَهغوی باره کښې دَحکم معلومولودَپاره راولیګل او په تورات کښې ذکر شوی حکم کښې بدلون کوی مثلاً دَ رجم په آیت کښې، دَ دې صحیح مفهوم متعین کیدو نه پس، هغه مفهوم کوم چې الله تعالی متعین کړې دې یعنی په هغې کښې بدلون کوی اوکوم خلق چې ئی راليګل هغوی ته وائی که دغه محرف حکم یعنی دَ کوړو وهلو محمد ﷺ فتوی درکړی نوقبول یئ کړئی اوکه چرې دَ (محرف مطابق) فتوی درنه کړی بلکه دَهغې خلاف فتوی درکړی نودَهغې دَ قبلولونه ځان اوساتئی او الله تعالی چې څوک دَ ګمراهئی په فتنه کښې راګیرولواراده اوکړی نو تاسو هغه دَ الله تعالی دَ ګرفت نه بچ کولو یعنی دَهغوی دَ دفاع دَپاره هیڅ نه شئ کولې. دا هغه خلق دی دَچازړونو لره چې دَ کفرنه دَ الله تعالی دَپاکولواراده نشته اوکه چرې الله (دَ پاکولو) اراده کوله نو ضرور به پاکیدل دَهغوی دَ پاره په دنیاکښې دَ رسوائی دَ جزیې سره لوئی ذلت دې اودَهغوی دَپاره په آخرت کښې لوئی عذاب دې اودا خلق غوږ کیخودو سره دروغ اوریدونکی اودَ حرام مال خوړونکی دی. مثلاً دَ رشوت په ذریعه که چرې دا خلق تاسو ته دَ فیصلې کولودَپاره تاسو له راشی (که چرې غواړئ) نودَهغوی په مینځ کښې فیصله اوکړه یا انکاراوکړه. دا اختیاردَ الله تعالی قول وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم په ذریعه منسوخ شو لهذا که هغوی مونږ له فیصله راوړی نودَهغوی فیصله کول واجب دی. دَ امام شافعی رحمه الله په اقوالوکښې دا صحیح دې. اوکه چرې یومسلمان سره مونږ له مقدمه راوړی نو په اتفاق سره فیصله کول واجب دی اوکه چرته ته انکار اوکړې نو هغوی ستا هیڅ نه شی کولې اوکه چرې ته دَهغوی په مینځ کښې فیصله اوکړې نو په انصاف سره صحیح صحیح فیصله کوه بیشکه الله تعالی په فیصله کښې انصاف کونکی خوښوی یعنی هغوی ته اجر ورکوی اودا خلق تا څنګه حَکم جوړوی حالانکه هغوی سره تورات شته په هغې کښې دَ الله تعالی دَ رجم حکم موجود دې. استفهام دَ تعجب دَپاره دې یعنی دَدې نه دَهغوی مقصد دَ حق پیژندګلونه ده بلکه دَ هغوی دَپاره آسانی لټول دی بیا دا خلق ستاسو دَ رجم دَ فیصلې نه پس کومه چې دَهغوی دَ کتاب مطابق ده ده کوی او په حقیقت کښې دا خلق ایمان نه لری.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ثَبَتَ. **سوال**: لَوْ‌أَنَّ لَهُ کښې ثَبَتَ مقدرمنلو څه فائده ده؟

جواب: لَوْ حرف شرط چونکه په فعل داخلیږی که چرې ثَبَتَ فعل مقدراونه منلې شی نو دَ لَوْ په حرف باندې داخلیدل لازمیږی.

قوله: اَلْ الف لام موصوله دی په معنی کښې د اَلَّذِیْ سَرَقَ وَالَّتِیْ سَرَقَتْ دی اسم موصول

مبتداء په معنی شرط لره لره دې په دې وجه دَدې په خبر فاقطعوا باندې معنی دجزاء لره کیدو دَ وجې نه په فاء داخل دې.

قوله: نَصْبٌ عَلَى الْمَصْدَرِيَّةِ یعنی جزاءً مفعول مطلق کیدو دَ وجې نه منصوب دې ای یُجْزَوْنَ جزاءً.

قوله: فِي التَّعْبِيْرِ بهذا یعنی د فَمَنْ تاب من بعد ظلمه په جواب کښې ئې فَلاَ تحدُّوا نه دې فرمائیلې بلکه فَاِنَ الله یتوب علیه ئې فرمائیلې دې په دې کښې اشاره ده چې الله تعالی به دَ توبې دَ وجې نه حقوق العباد نه معاف کوی یعنی دَ آخرت سزا خو معاف کولې شی کوم چې حقوق الله دې مګر دَ دنیاسزا چې دَ لاس پرې کول دی اودَ مسروقه مال واپسی ده هغه به نه معاف کوی او ان الله غفور رحیم په دَتعبیرهم دغه مقصد دې.

قوله: لایَحْزُنْكَ صُنْعَ په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې دَ حزن او ملال تعلق د ذات سره نه وې بلکه دفعل سره وی هم دَدې مقصد دپاره مفسرعلام صنع اضافه کړې ده.

قوله: سَمّٰعُوْنَ دا دَ مبتداء محذوف خبر دې ای هم سمّٰعون.

قوله: من بعد مَوَاضِعِهِ، ای من بعد تحقیق مواضِعِهِ الَّتی وضع الله یعنی دَ کلمې مفهوم دَ الله تعالی دَطرف نه متعین کیدو باوجود کلمه بهٔ یئ دَهغې دَ حقیقی مفهوم نه اخوا کوله.

قوله: اَلسُّحْتُ، حرام دا سَحَتَهُ نه ماخوذ دې هغه وخت وئیلې شی کله چې یوڅیز دَ بیخ نه راؤویستلې شی حرام مال چونکه مسحوت البرکه وی په دې وجه دې ته سحت وئیلې شی. اکَّالون للسحت هغوئ ډیر حرام خواره دی.

[ایاتونه: ٤٤-٥٠]

{إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى} مِنَ الضَّلَالَة {وَنُور} بَيَان لِلْأَحْكَامِ {يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ} مِنْ بَنِي إسْرَائِيل {الَّذِينَ أَسْلَمُوا} انْقَادُوا لِلَّهِ {لِلَّذِينَ هَادُوا والربانيون} العلماء منهم {وَالْأَحْبَار} الْفُقَهَاء {بِمَا} أَيْ بِسَبَبِ الَّذِي {اُسْتُحْفِظُوا} اُسْتُوْدِعُوهُ أَيْ اسْتَحْفَظَهُمْ اللَّه إيَّاهُ {مِنْ كِتَاب اللَّه} أَنْ يُبَدِّلُوهُ {وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاء} أَنَّهُ حَقّ {فَلَا تَخْشَوْا النَّاس} أَيّهَا الْيَهُود فِي إظْهَار مَا عِنْدكُمْ مِنْ نَعْت مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالرَّجْم وَغَيْرهَا {واخشون} فِي كِتْمَانه {وَلَا تَشْتَرُوا} تَسْتَبْدِلُوا {بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا} مِنْ الدُّنْيَا تَأْخُذُونَهُ عَلَى كِتْمَانهَا {وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّه فَأُولَئِكَ هُمْ الْكَافِرُونَ} به {وَكَتَبْنَا} فَرَضْنَا {عَلَيْهِمْ فِيهَا} أَيْ التَّوْرَاة {أَنَّ النَّفْس} تقتل {بِالنَّفْسِ} إذَا قَتَلَتْهَا {وَالْعَيْن} تفقأ {بِالْعَيْنِ وَالْأَنْف} يجدع {بِالْأَنْفِ وَالْأُذُن} تقطع {بِالْأُذُنِ وَالسِّنّ} تقلع {بِالسِّنِّ} وَفِي قِرَاءَة بِالرَّفْعِ فِي الْأَرْبَعَة {وَالْجُرُوح} بِالْوَجْهَيْنِ {قِصَاص} أَيْ يُقْتَصّ فِيهَا إذَا أَمْكَنَ كَالْيَدِ وَالرِّجْل وَنَحْو ذَلِكَ وَمَا لَا يُمْكِن فِيهِ الْحُكُومَة وَهَذَا

الْحُكْم وَإِنْ كَتَبَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ مُقَرَّر فِي شَرْعنَا {فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ} أَيْ بِالْقِصَاصِ بِأَنْ مَكَّنَ مِنْ نَفْسه {فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ} لِمَا أَتَاهُ {وَمَنْ لَمْ يَحْكُم بِمَا أنزل الله} في القصاص وغيره {فأولئك هم الظالمون} {وَقَفَّيْنَا} أَتْبعنَا {عَلَى آثَارهمْ} أَيْ النَّبِيِّينَ {بِعِيسَى بن مَرْيَم مُصَدِّقًا لِمَا بَيْن يَدَيْهِ} قَبْله {مِنْ التَّوْرَاة وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيل فِيهِ هُدًى} مِنْ الضَّلَالَة {وَنُور} بَيَان لِلْأَحْكَامِ {وَمُصَدِّقًا} حَال {لِمَا بَيْن يَدَيْهِ مِنْ التَّوْرَاة} لِمَا فِيهَا مِنْ الْأَحْكَام {وهدى وموعظة للمتقين} {و} قُلْنَا {لِيَحْكُم أَهْل الْإِنْجِيل بِمَا أَنْزَلَ اللَّه فِيهِ} مِنْ الْأَحْكَام وَفِي قِرَاءَة بِنَصْبِ يَحْكُم وَكَسْر لَامه عَطْفًا عَلَى مَعْمُول آتَيْنَاهُ {وَمَنْ لَمْ يَحْكُم بِمَا أَنْزَلَ اللَّه فَأُولَئِكَ هم الفاسقون} {وَأَنْزَلْنَا إلَيْك} يَا مُحَمَّد {الْكِتَاب} الْقُرْآن {بِالْحَقِّ} مُتَعَلِّق بِأَنْزَلْنَا {مُصَدِّقًا لِمَا بَيْن يَدَيْهِ} قَبْله {مِنْ الْكِتَاب وَمُهَيْمِنًا} شَاهِدًا {عَلَيْهِ} وَالْكِتَاب بِمَعْنَى الْكُتُب {فَاحْكُمْ بَيْنهمْ} بَيْن أَهْل الْكِتَاب إذَا تَرَافَعُوا إلَيْك {بِمَا أَنْزَلَ اللَّه} إلَيْك {وَلَا تَتَّبِع أَهْوَاءَهُمْ} عَادِلًا {عَمَّا جَاءَك مِنْ الْحَقّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ} أَيّهَا الْأُمَم {شِرْعَة} شَرِيعَة {وَمِنْهَاجًا} طَرِيقًا وَاضِحًا فِي الدِّين يَمْشُونَ عَلَيْهِ {وَلَوْ شَاءَ اللَّه لَجَعَلَكُمْ أُمَّة وَاحِدَة} عَلَى شَرِيعَة وَاحِدَة {وَلَكِنْ} فَرَّقَكُمْ فِرَقًا {لِيَبْلُوَكُمْ} لِيَخْتَبِرَكُمْ {فِيمَا آتَاكُمْ} مِنْ الشَّرَائِع الْمُخْتَلِفَة لِيَنْظُر الْمُطِيع مِنْكُمْ وَالْعَاصِي {فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَات} سَارِعُوا إلَيْهَا {إلَى اللَّه مَرْجِعكُمْ جَمِيعًا} بِالْبَعْثِ {فَيُنَبِّئكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ} مِنْ أَمْر الدِّين وَيَجْزِي كُلًّا مِنْكُمْ بعمله {وأن احكم بينهم بما انزل الله ولا تتبع أهواءهم واحذرهم} ل {أَنْ} لَا {يَفْتِنُوك} يُضِلُّوك {عَنْ بَعْض مَا أَنْزَلَ اللَّه إلَيْك فَإِنْ تَوَلَّوْا} عَنْ الْحُكْم الْمُنَزَّل وَأَرَادُوا غَيْره {فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيد اللَّه أَنْ يُصِيبهُمْ} بِالْعُقُوبَةِ فِي الدُّنْيَا {بِبَعْضِ ذُنُوبهمْ} الَّتِي أَتَوْهَا وَمِنْهَا التَّوَلِّي وَيُجَازِيهِمْ عَلَى جميعها في الأخرى {وإن كثيرا من الناس لفاسقون} {أَفَحُكْم الْجَاهِلِيَّة يَبْغُونَ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء يَطْلُبُونَ مِنْ الْمُدَاهَنَة وَالْمَيْل إذَا تَوَلَّوْا اسْتِفْهَام إنْكَارِيّ {وَمَنْ} أَيْ لَا أحد {أَحْسَن مِنْ اللَّه حُكْمًا لِقَوْمٍ} عِنْد قَوْم {يُوقِنُونَ} بِهِ خُصُّوا بِالذِّكْرِ لأنهم الذين يتدبرون.

ترجمه: مونږ تورات نازل کړو په کوم کښې چې دَ ګمراهئی نه هدايت اورنړا وه (يعنی) دَ احکامو بيان وو. دَبنی اسرائيلو ټولو انبياء کرامو چې مسلمانان او دَالله تعالی دَحکم تابعدار وو. دَ يهوديانو دَپاره به ئی هم دَدې په ذريعه فيصلې کولې او دَهغوی علماء کرامو او فقهاء کرامو به هم (دَدې په ذريعه فيصلې کولې) په دې سبب چې الله تعالی هغوی دَدې محافظ جوړ کړی وو يعنی هغوی ئی په دې باندې امين جوړ کړې وو په دې توګه چې دَ هغوی نه دَ کتاب الله دَ حفاظت مطالبه کړې وه په دې کښې دبدلون کولو نه. او هغوی دَدې په حق کيدو باندې ګواه وو. نو اې يهودو تاسو دَ محمد ﷺ دَ هغه صفاتو او دَ رجم وغيره دَ اظهار باره کښې کوم چې تاسو سره دی دَ خلقو نه مه ويريږئی (بلکه) دَهغې دَ پټولو باره کښې زما نه ويريږئی او زما آياتونه دَ دنيا په لږه شان معاوضې په بدله کښې کوم چې تاسو دَدې دَ پټولو په عوض اخلئ مه خرڅوئی او کوم خلق چې دَ الله تعالی په نازل کړې شوی قانون باندې فيصله نه

کوی هم هغوئ کافردی اومونږ په هغوی باندې په تورات کښې مقررکړی دی نفس به دنفس په بدله کښې قتلولې شی. کله چې (قاتل) هغه لره قتل کړی اودَ سترګې په بدله کښې به سترګه ویستلې شی اودَ پوزې په بدله کښې به پوزه پرې کولې شی اوغوږ به دَ غوږ په بدله کښې پرې کولې شی اوغاښ به دَ غاښ په بدله کښې ویستلې شی او په یوقراءت کښې څلورو وارو څایونوکښې په رفع سره دی او په زخمونوکښې برابری ده (جروح) کښې هم دواړه وجې (رفع او نصب) دی یعنی په دې کښې به برابری کیږی که ممکن وی لکه چې لاس خپې او ذکر وغیره کښې او په کوم کښې چې برابری ممکن نه وی په هغې کښې به دَ عادل دَ فیصلې اعتباروی. دا (مذکوره) حکم سره دَدې چې په هغوی باندې فرض کړې شوې دې مګر دا زمونږ په شریعت کښې هم ثابت دې بیا چې څوک دَ قصاص صدقه اوکړی په دې توګه چې هغه په خپل ذات باندې قدرت ورکړی نودَهغه دا عمل دَهغه دَ فعل (قتل) کفاره ده او کوم خلق چې دَ قصاص وغیره په معامله کښې دَ الله تعالی دَنازل کړې شوی قانون مطابق فیصله اونه کړی هم هغه ظالمان دی اومونږ دَ دغه نبیانو نه پس عیسی بن مریم ته دَهغه نه وړاندې کتاب دَ تورات تصدیق کونکې جوړولوسره اولیږلو اوهغوی ته مو انجیل ورکړو په کوم کښې چې دَ ګمراهئی نه لارخودنه وه اودَ احکامو بیان وو حال دادې چې هغې دَ ځان نه دَ سابق کتاب تورات یعنی دَ هغې دَ احکامو تصدیق کونکې دې اود پرهیزګارو خلقو دپاره سراسر هدایت او نصیحت وو، او مونږ حکم ورکړو چې اهل انجیل دې دَ هغه احکامو مطابق فیصله کوی کوم چې مونږ نازل کړی دی اوپه یوقراءت کښې په عطف سره او کوم خلق چې دَالله تعالی دَ نازل کړی قانون مطابق فیصله نه کوی هم هغه فاسقان دی. اواې محمد ﷺ مونږ په تا کتاب قرآن په حقه سره نازل کړې دې (بالحق) انزلنا متعلق دی. اودَهغه کتاب تصدیق کونکې دې کوم چې دده نه وړاندې دې او په دې باندې ګواه دې په معنی کتاب دې لهذا تاسو دَاهل کتابو په مینځ کښې کله چې هغوی تاسو له فیصله راوړی نو تاسو دَ نازل شوی خدائی قانون په ذریعه فیصله اوکړی او کوم حق چې تاسو له راغلې دې دَ دې نه مخ اړولو سره دَهغوی دَ خواهشاتو پیروی مه کوئی او په تاسو کښې هریودَپاره اې خلقو مونږ دَ یوشریعت او دین واضحه طریقه متعین کړې ده چې تاسو پرې عمل اوکړئی او که الله تعالی غوښتلې نوهغه تاسو یو امت هم جوړولې شوئې. دَ یوشریعت منونکی لیکن هغه ستاسو مختلف فرقې جوړې کړې دې دَپاره چې هغه تاسو په دغه مختلف شریعتونو کښې ازمیښت کړی کوم چې تاسو ته درکړې شوی دی اودې دَپاره چې هغه په تاسو کښې حکم منونکی او حکم نه منونکی اوګوری لهذا په نیکوکښې دَ وړاندې کیدو کوشش کوئی یعنی دَهغې طرف ته تندی کوئی. تاسو ټولو له دَ بعث نه پس هم دَ الله تعالی طرف ته واپس ګرځیدل دی. بیا به تاسو ته هغه دهغه څه اصل حقیقت اوښائی په څه کښې چې تاسو اختلاف کولو یعنی په دینی امورو کښې، او په تاسو کښې به هریو ته دَهغه دعمل بدله

ورکړی او تاسو خلق ددوئ په مینځ کښې د نازل کړې شوی خدائی قانون په ذریعه فیصله کوئی اودهغوی دَ خواهشاتو پیروی مه کوئی او په احتیاط سره اوسیږئی چې چرته دا خلق دَهغې نه کوم چې په تاسو الله تعالی نازل کړې دَ بعض خبرونه منحرف نه کړی. نوکه دا خلق دَ نازل کړې شوی حکم نه انحراف اوکړی اودَ هغې نه دَعلاوه اراده اوکړی نو پوهه شئی چې الله تعالی دَهغوی دَ بعض ګناهونو دَ وجې نه دکوم چې هغوی مرتکب شوی دی هغوی هم په دنیا کښې په مصیبت کښې اخته کولو اراده کړې ده په دې کښې انحراف هم دې اودَدې ټولو سزا خو به په آخرت کښې ورکوی اودا حقیقت دې چې په دوی کښې اکثر خلق فاسقان دی. که چرې دوی دَ خدای قانون نه انحراف کوی نوآیا ولې دوی بیا دَجاهلیت فیصله غواړی (یبغون) په یاء او تاء سره دې اواستفهام انکاری دې. حالانکه کوم خلق چې په الله تعالی باندې ایمان لری دَهغوی په نیز دَالله تعالی نه بهترینه فیصله کونکې هیڅوک نشته. او اهل ایمان ئې په خاص توګه ځکه ذکرکړل چې هم هغوی په دې (فیصله کښې) غور اوفکر کونکی دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اَلَّذِيْنَ هَادُوْا دَدې تعلق دیحکم سره دې یعنی یهودیانو متعلق به ئې فیصلې کولې.

قوله: اَلَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا، دَ النبیین صفت دې.

قوله: الرَّبَّانِيُّوْنَ، دا د خلاف قیاس دَ رب طرف ته نسبت دې دَ راء په کسرې سره هم وئیلې شی.

قوله: اَلْاَحْبَار، دا په کسره او فتح سره دَ حبر جمع ده په معنی د فقهاء فراء وئیلی دی چې کسره فصیح ده دا دَتحبیرنه ماخوذ دې په معنی د تحسین.

قوله: اسْتُحْفِظُوْا، دَ اِسْتِحْفَاظ نه ماضی مجهول جمع مذکرغائب هغوئ حفاظت کونکی مقررکړې شو یعنی احبارته حکم ورکړې شوې وو چې هغوی دې دَ تورات دَ تحریف نه حفاظت اوکړی.

قوله :وفِي قِرَاءَةٍ بِالرَّفْعِ فِي الْاَرْبَعَةِ څلورو وارو ځایونو کښې مبتداء او دَخبرکیدو دَ وجې په یو قراءت کښې مرفوع هم وئیلې شوی دی.

قوله: يُقْتَصُّ،دَ قصاص تفسیرپه يُقْتَصُّ سره دکولومقصد حمل صحیح کول دی.

قوله: نحو ذلك، کالشفتين والأذنين والقدمين او په کوم زخم کښې چې برابری او مساوات ممکن نه وی مثلاً زخم لګول، یا دَ بدن دَ یوې حصې نه غوښه کوزول، یاهډوکې ماتول په دې کښې چونکه مساوات ممکن نه دې په دې وجه به دَ حاکم عادل فیصله معیاروی.

قوله. اى بالقصاص بان مكن من نفسه دا تشریح دَ امام شافعی رحمه الله دَ مذهب مطابق

دی کنی امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دَ تَصَدَّقَ معنی معاف کول دی یعنی که چرې دَ مقتول وارثانو دَ قاتل قصاص معاف کړو نودا دَهغوی په حق کښې صدقه ده.

قوله: قلنا: **سوال**: دلته دَ قلنا محذوف منلو څه فائده ده؟

جواب: دې دَ پاره چې په قَفَّيْنَا باندې عطف صحیح شي.

قوله: ينصب ليحكم، دَ لام نه پس دأن مقدره دَ وجې دې يَحْكُمَ منصوب دې.

قوله: عطفًا على مَعْمُوْلِ آتينا، اوهغه معمول مقدر هدًى وموعظةً دې. آتَيْنَاهُ مفعول له کیدو دَ وجې نه منصوب دې تقدیری عبارت به داسې شی وآتَيْنَاهُ الإنجيلَ للهدى والموعظة وحكمهم به.

[ایاتونه: ٥١ - ٥٦]

{يأيها الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُود وَالنَّصَارَي أَوْلِيَاء} تُوَالُونَهُمْ وَتُوَادُونَهُمْ {بَعْضهمْ أَوْلِيَاء بَعْض} لِاتِّحَادِهِمْ فِي الْكُفْر {وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ} مِنْ جُمْلَتهمْ {إِنَّ اللَّه لَا يَهْدِي الْقَوْم الظَّالِمِينَ} بموالاتهم الكفار {فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبهمْ مَرَض} ضَعْف اعْتِقَاد كَعَبْدِ اللَّه بْن أُبَيّ الْمُنَافِق {يُسَارِعُونَ فِيهِمْ} فِي مُوَالَاتهمْ {يَقُولُونَ} مُعْتَذِرِينَ عَنْهَا {نَخْشَى أَنْ تُصِيبنَا دَائِرَة} يَدُور بِهَا الدَّهْر عَلَيْنَا مِنْ جَدْب أَوْ غَلَبَة وَلَا يَتِمّ أَمْر مُحَمَّد فلا يميرونا قال تعالى {فَعَسَى اللَّه أَنْ يَأْتِي بِالْفَتْحِ} بِالنَّصْرِ لِنَبِيِّهِ بِإِظْهَار دِينه {أَوْ أَمْر مِنْ عِنْده} يَهْتِك سِتْر الْمُنَافِقِينَ وَافْتِضَاحهمْ {فَيُصْبِحُوا عَلَى مَا أَسَرُّوا فِي أَنْفُسهمْ} من الشك وموالاة الكفار {نَادِمِينَ} {وَيَقُول} بِالرَّفْعِ اسْتِئْنَافًا بِوَاوٍ وَدُونهَا وَبِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى يَأْتِي {الَّذِينَ آمَنُوا} لِبَعْضِهِمْ إذَا هَتَكَ سِتْرهمْ تَعَجُّبًا {أَهَؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاَللَّهِ جَهْد أَيْمَانهمْ} غَايَة اجْتِهَادهمْ فِيهَا {إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ} فِي الدين قال تعالى {حَبِطَتْ} بَطَلَتْ {أَعْمَالهمْ} الصَّالِحَة {فَأَصْبَحُوا} صَارُوا {خَاسِرِينَ} الدنيا بالفضيحة والآخرة بالعقاب {يأيها الذين آمنوا من يرتدد} بِالْفَكِّ وَالْإِدْغَام يَرْجِع {مِنْكُمْ عَنْ دِينه} إلَى الْكُفْر إخْبَار بِمَا عَلِمَ اللَّه وُقُوعه وَقَدْ ارْتَدَّ جَمَاعَة بَعْد مَوْت النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّه} بَدَلهمْ {بِقَوْمٍ يُحِبّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ} قَالَ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمْ قَوْم هَذَا وَأَشَارَ إلَى أَبِي مُوسَى الأشعري رواه الحاكم في صحيحه {أَذِلَّة} عاطفين {عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّة} اشداء {عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيل اللَّه وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَة لَائِم} فِيهِ كَمَا يَخَاف الْمُنَافِقُونَ لَوْم الْكُفَّار {ذَلِكَ فَضْل اللَّه يُؤْتِيه مَنْ يَشَاء وَاَللَّه وَاسِع} كَثِير الْفَضْل {عَلِيم} بِمَنْ هُوَ أَهْله ونزل لما قال بن سلام يا رسول الله إن قومنا هاجرونا {إنَّمَا وَلِيّكُمْ اللَّه وَرَسُوله وَاَلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاة وَيُؤْتُونَ الزَّكَاة وَهُمْ رَاكِعُونَ} خَاشِعُونَ أَوْ يُصَلُّونَ صَلَاة التَّطَوُّع {وَمَنْ يَتَوَلَّ اللَّه وَرَسُوله وَاَلَّذِينَ آمَنُوا} فَيُعِينهُمْ وَيَنْصُرهُمْ {فَإِنَّ حِزْب اللَّه هُمْ الْغَالِبُونَ} لِنَصْرِهِ إيَّاهُمْ أَوْقَعَهُ مَوْقِع فَإِنَّهُمْ بَيَانًا لِأَنَّهُمْ مِنْ حزبه اي اتباعه

ترجمه اې هغه خلقو چې ایمان موراوړې دې یهودیان اونصاری دوستان مه جوړوئې چې هغوی سره دَزړه نه دوستی او محبت اوکړئی. دوی خو په خپل مینځ کښې په کفرکښې دَ یوځائی کیدودَ وجې نه دَ یوبل دوستان دی. اوکه چرته تاسو کښې څوک دَ دوی نه خپل دوست جوړوی نوهغه به هم دَدوی نه شمیرلې شی. یقینًا الله تعالی کافرانو سره دوستی کولوسره ظلم کونکوته دَنیغې لارخودنه نه کوی تاسو وینئی گورئی دَچا په زړونوکښې چې (نفاق) بیماری ده یعنی دَ عقیده کمزوری ده لکه چې عبدالله بن ابی منافق دَهغوی په دوستئی کښې وړاندیوالې کوی اوعذر بیانولوسره وائی چې مونږته اندیښنه ده چې مونږ چرته په څه چکرکښې راګیرنه شو یعنی دَزمانې ګردش په مونږ قحط کالی یا مغلوبیت وانچوی او (بل خوا) دَ محمد ﷺ مشن کامیابئ ته اونه رسی نودا خلق به مونږ ته غله هم نه راکوی خوړلې نه ده چې الله تعالی دَخپل نبی دَ نصرت په ذریعه دین غالب کړی هغه ته فتح ورکړی یا بل څه صورت دَخپل طرف نه دَ منافقانو پرده ښکاره کړی اوهغوی رسوا کولوسره ظاهر کړی. نودا (منافقان به) دَدې نفاق اودَ کفارو سره په دوستئی باندې کوم چې ئی په خپلو زړونوکښې پټه کړې ده خپیمانه به وی. هغه وخت به اهل ایمان په حیرانتیاسره وائی (یقول: په رفع سره دَ استیناف په توګه واؤ سره اوبغیر د واؤ او نصب سره په یاتی باندې دَعطف دَ وجې نه چې کله به د هغوی پرده ښکاره کړې شی. آیا هم دغه هغه خلق دی چې ډیر په زوره به ئی په الله تعالی باندې قسمونه خوړل چې بیشکه مونږ په دین کښې هم تاسو سره یو. دَدوې ټول نیک اعمال ضائع شو او په دنیا کښې دَ رسوائی دَ وجې او په آخرت کښې دَ عذاب دَ وجې به په زیان کارانوکښې وی. اې خلقو چې ایمان مو راوړلې دې په تاسو کښې چې څوک دَخپل دینَ نه کفرطرف ته اوګرځی(نواوګرځی) (یَرْتَدَّ) ادغام اوترك ادغام (دواړه جائزدی) په معنی د یَرْجِعُ دا دَهغه واقعې خبر ورکول دی دکومې دَ وقوع نه چې الله تعالی خبردې. چنانچه د حضورپاك دَ وفات نه پس یوجماعت مرتد شو ډیرزر به الله تعالی دَهغوی په بدله کښې داسې خلق راپیدا کړی چې دَالله تعالی به خوښ وی اوالله تعالی به هغوی ته محبوب وی. رسول الله ﷺ دَحضرت ابوموسیٰ اشعری ﷺ طرف ته اشاره کولوسره اوفرمائیل هغه به دَده قوم وی دا حاکم په خپل صحیح کښې روایت کړې دې کوم به چې دَ مؤمنانو باره کښې نرم (مهربان) او دَکافرانو په معامله کښې به سخت وی اودَالله تعالی په لارکښې به جهادکوی او په دې معامله کښې به دَ یوملامت کونکی دَ ملامتیانه نه ویریږی لکه څنګه چې منافقان دَ کافرانو په معامله کښې ویریږی. دا مذکوره اوصاف دَالله تعالی فضل دې الله تعالی چې چاته غواړی ورکوی اوالله تعالی دَ لوئی فضل والا دې اودَ فضل اهل څوك دی؟ هغې لره هغه ښه پیژندونکې دې. (آئنده آیت هغه وخت نازل شو) کله چې عبدالله بن سلام عرض اوکړو یارسول الله ﷺ مونږ خو زمونږ قوم پریخودو (حضورپاك اوفرمائیل) ستاسورفیق خو په

حقیقت کښې صرف الله تعالی او دَهغه رسول او اهل ایمان دی څوک چې مونځ قائموی او زکوة ورکوی او هغوی عاجزی اختیاروی. یا نفلی مونځ کوی. او چاچې الله تعالی دَهغه رسول او ایمان والا خپل رفیق جوړکړل نوهغه به دَ ده نصرت او اعانت کوی. (هغوئ دې پوهه شی) چې هم دَالله تعالی جماعت به دَهغه دَامداد دَ وجې غالب وی دَ اِنَّهُمْ په ځائې حِزْبُ الله دائی دَ بیانولو دَپاره اوفرمائیل چې داخلق دَهغه جماعت او دَهغه دَ متبعینو نه دی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: تُوَالُوْنَهُمْ وَتُوَادُّوْنَهُمْ.

قوله: تُوَالُوْنَهُمْ په اصل کښې تُوَالِيُوْنَهُمْ وو ضمه په یاء باندې دشوارکیدو دَ وجې نه لام ته ورکړې شوه . واؤ او یاء دوه حروف ساکن جمع شو یاء حذف کړې شوه دَ لام کسره ساقط کیدونه پس تُوَالُوْنَهُمْ شو. تُوادّون په اصل کښې تُوادِدون وو دَ دال په دال کښې ادغام اوکړې شو توادّون شو (دواړه صیغې مفاعله) نه مضارع جمع مذکر حاضر دی. اَوْلیاء، دَ وَلِیٌ جمع ده دَوَلِیٌ مختلف معنې راځی محبت کونکې، دوست، مددګار، نیزدې، ګاونډی، حلیف، تابع وغیره په دې وجه دَمعنی دَتعیین ضرورت راغلې، مفسرعلام توادّوهم وئیلوسره دَمعنی تعیین اوکړو.

قوله: مِن جُمْلَتِهِمْ، د یهود اونصاریٰ نه په اجتناب کښې دَ شدت بیانولو دَپاره دا جمله راوړې ده. مطلب دادې حکمه کحکمهم.

قوله: اِنَّ اللهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ دا اِنَّهُمْ مِنْهُمْ علت دې.

قوله: يُسَارِعُوْنَ. دا دَ قلوبهم د ضمیر هم نه حال دې.

قوله: دَائِرَة، ګردش، مصیبت، دا دَ دورٌ نه مشتق دې. دَ کوم معنی چې دَ ګرځیدو راګرځیدو ده. دَائِرَة، دَهغه صفاتو نه دې دَ کوم موصوف چې ذکر نه وی، دائرة موصوف يَدُوْرُبِهَا دَدې صفت دې.

قوله: المیرَة، غله خوراك ای الیهود والنصاری لا يعطوننا المِيْرَةَ یعنی یهود اونصاریٰ به مونږ ته غله راکول بندی کړی.

[ایاتونه: ٥٧ - ٦٦]

{يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَكُمْ هُزُوًا} مَهْزُوءًا بِهِ {وَلَعِبًا مِنَ} لِلْبَيَانِ {الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ} الْمُشْرِكِينَ بِالْجَرِّ وَالنَّصْبِ {أَوْلِيَاءَ وَاتَّقُوا اللّٰهَ} بِتَرْكِ مُوَالَاتِهِمْ {إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} صَادِقِينَ فِي إِيمَانِكُمْ {وَ} الَّذِينَ {إِذَا نَادَيْتُمْ} دَعَوْتُمْ {إِلَى الصَّلَاةِ} بِالْأَذَانِ {اتَّخَذُوهَا} أَيْ

الصَّلَاة {هُزُوًا وَلَعِبًا} بِأَنْ يَسْتَهْزِئُوا بِهَا وَيَتَضَاحَكُوا {ذٰلِكَ} الِاتِّخَاذ {بِأَنَّهُمْ} أَيْ بِسَبَبِ أَنَّهُمْ {قَوْمٌ لَا يَعْقِلُونَ} وَنَزَلَ لَمَّا قَالَ الْيَهُود لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْ تُؤْمِن مِنَ الرُّسُل فَقَالَ {بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا} الْآيَة فَلَمَّا ذَكَرَ عِيسَى قَالُوا لَا نَعْلَم دِينًا شَرًّا مِنْ دِينكُمْ {قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ هَلْ تَنْقِمُونَ} تُنْكِرُونَ {مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ} إِلَى الْأَنْبِيَاء {وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَاسِقُونَ} عُطِفَ عَلَى أَنْ آمَنَّا الْمَعْنَى مَا تُنْكِرُونَ إِلَّا إِيمَانَنَا وَمُخَالَفَتَكُمْ فِي عَدَم قَبُوله الْمُعَبَّر عَنْهُ بِالْفِسْقِ اللَّازِم عَنْهُ وَلَيْسَ هٰذَا مِمَّا يُنْكَر {قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ} أُخْبِرُكُمْ {بِشَرٍّ مِنْ} أَهْل {ذٰلِكَ} الَّذِي تَنْقِمُونَهُ {مَثُوبَةً} ثَوَابًا بِمَعْنَى جَزَاء {عِنْدَ اللّٰهِ} هُوَ {مَنْ لَعَنَهُ اللّٰهُ} أَبْعَدَهُ عَنْ رَحْمَته {وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ} بِالْمَسْخِ {وَ} مَنْ {عَبَدَ الطَّاغُوتَ} الشَّيْطَان بِطَاعَتِهِ وَرُوعِيَ فِي مِنْهُمْ مَعْنَى مِنْ وَفِيمَا قَبْله لَفْظهَا وَهُمُ الْيَهُود وَفِي قِرَاءَة بِضَمِّ بَاء عَبَدَ وَإِضَافَته إِلَى مَا بَعْد اسْم جَمْع لِعَبْد وَنَصْبه بِالْعَطْفِ عَلَى الْقِرَدَة {أُولٰئِكَ شَرٌّ مَكَانًا} تَمْيِيز لِأَنَّ مَأْوَاهُمُ النَّار {وَأَضَلُّ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ} طَرِيق الْحَقّ وَأَصْل السَّوَاء الْوَسَط وَذِكْر شَرّ وَأَضَلّ فِي مُقَابَلَة قَوْلِهِمْ لَا نَعْلَم دِينًا شَرًّا مِنْ دِينكُمْ {وَإِذَا جَاءُوكُمْ} أَيْ مُنَافِقُو الْيَهُود {قَالُوا آمَنَّا وَقَدْ دَخَلُوا} إِلَيْكُمْ مُتَلَبِّسِينَ {بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا} من عندكم متلبسين {بِهِ} وَلَمْ يُؤْمِنُوا {وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا يَكْتُمُونَ} من النفاق {وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِنْهُمْ} أَيْ الْيَهُود {يُسَارِعُونَ} يَقَعُونَ سَرِيعًا {فِي الْإِثْمِ} الْكَذِب {وَالْعُدْوَانِ} الظُّلْم {وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ} الْحَرَام كَالرُّشَا {لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} عملهم هذا {لَوْلَا} هَلَّا {يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ} مِنْهُمْ {عَنْ قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ} الْكَذِب {وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُونَ} ترك نهيهم {وَقَالَتِ الْيَهُودُ} لَمَّا ضُيِّقَ عَلَيْهِمْ بِتَكْذِيبِهِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْد أَنْ كَانُوا أَكْثَر النَّاس مَالًا {يَدُ اللّٰهِ مَغْلُولَةٌ} مَقْبُوضَة عَنْ إِدْرَار الرِّزْق عَلَيْنَا كَنَوْا بِهِ عَنِ الْبُخْل تعالى الله عن ذلك قال تعالى {غُلَّتْ} أُمْسِكَتْ {أَيْدِيهِمْ} عَنْ فِعْل الْخَيْرَات دُعَاء عَلَيْهِمْ {وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ} مُبَالَغَة فِي الْوَصْف بِالْجُودِ وَثَنَّى الْيَد لِإِفَادَةِ الْكَثْرَة إِذْ غَايَة مَا يَبْذُلهُ السَّخِيّ مِنْ مَاله أَنْ يُعْطِي بِيَدَيْهِ {يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ} مِنْ تَوْسِيع وَتَضْيِيق لَا اعْتِرَاض عَلَيْهِ {وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ} مِنَ الْقُرْآن {طُغْيَانًا وَكُفْرًا} لِكُفْرِهِمْ بِهِ {وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ} فَكُلّ فِرْقَة مِنْهُمْ تُخَالِف الْأُخْرَى {كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ} أَيْ لِحَرْبِ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {أَطْفَأَهَا اللّٰهُ} أَيْ كُلَّمَا أَرَادُوهُ رَدَّهُمْ {وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا} أَيْ مُفْسِدِينَ بِالْمَعَاصِي {وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ} بِمَعْنَى أَنَّهُ يُعَاقِبهُمْ {وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ آمَنُوا} بِمُحَمَّدٍ صَلَّى الله عليه وسلم {واتقوا} الكفر {لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَاهُمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ} {وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ} بِالْعَمَلِ بِمَا فِيهِمَا وَمِنْهُ الْإِيمَان بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ} مِنَ الْكُتُب {مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ} بِأَنْ يُوَسَّع عَلَيْهِمُ الرِّزْق وَيَفِيض مِنْ كُلّ جِهَة {مِنْهُمْ أُمَّةٌ} جَمَاعَة {مُقْتَصِدَةٌ} تَعْمَل بِهِ وَهُمْ مَنْ آمَنَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَعَبْدِ اللّٰه بْن سَلَام وَأَصْحَابه {وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ سَاءَ} بِئْسَ {مَا} شَيْئًا {يَعْمَلُونَ}

ترجمه: اې خلقو چې ایمان موراوړې دې تاسو نه وراندې اهل کتاب لره چاچې ستاسو دین ټوقې کولې او دتفریح سامان جوړکړې دې او من بیانیه دې اوکافران مشرکان (خپل) دوستان مه جوړوئې په معنی هزوًابه دې یعنی مصدر په معنی د مفعول دې په نصب سره دې د هغوی نه ترك موالات کولو سره دالله تعالی نه اوویرېږئې که چرې تاسو مؤمنان یئې (یعنی) په خپل ایمان کښې رښتونی ئی اوهغه خلقولره هم چې کله تاسو دَ مونځ دَپاره آذان کوئې نوهغوی دغه مونځ پورې ټوقې کوی اولوبې جوړوی په داسې طریقه چې دې پورې مسخرې کوی اودَ دې سپکاوې کوی اودَ هغوی دا استهزاء وغیره کول دَدې وجې نه دی چې هغوئ ناپوهه خلق دی. کله چې یهودو نبی کریم ﷺ ته اووئیل چې په رسولانو کښې ته په چاباندې ایمان لرې؟ نو حضورپاك اوفرمائیل په الله تعالی باندې او په هغه څه باندې څه چې زمونږ طرف ته نازل کړې شوی دی (الآیة) کله چې دَ حضرت عیسیٰ ﷺ ذکر اوفرمائیلونوونی وئیل مونږ ستا دَ دین نه بل یودین هم بد نه ګڼړو، نو (راتلونکې) آیت نازل شو. دوی ته اووایه اې اهل کتاب تاسو مونږ صرف په دې وجه ناخوښه کوئې چې مونږ په الله تعالی باندې او په هغه څه کوم چې زمونږ طرف ته نازل کړې شوی دی ایمان لرو او په هغې باندې کوم چې په سابقه انبیاء کرامو باندې نازل کړې شوی دی ایمان لرو او بیشکه په تاسو کښې اکثر فاسقان دی. دَ دې عطف په انْ آمَنَّا باندې دې معنی داده چې تاسو صرف زمونږ ایمان ناخوښه کوئې او تاسو سره زمونږ مخالفت دَ ایمان نه قبلولودَ وجې نه دې کوم چې فسق سره تعبیرکړې شوې دې کوم چې دَ ایمان عدم قبول لره لازم دې او دا دَ ناخوښه خبرونه نه دې. هغوی ته اووایه آیا زه درته هغه خلق اوښایم چې دَ سزا په اعتبار دَالله تعالی په نیز دَهغوی نه ډیرخراب دی کوم چې تاسو ګڼړئې. مثوبةً په معنی جزاءً دې اوداهغه کس دې په چا چې الله تعالی لعنت کړې دې یعنی څوك ئی چې دَخپل رحمت نه لرې کړې دې. او په هغه باندې غضبناك شوې دې اوپه هغوی کښې یې بعض مسخ کولو سره بیزوګان جوړکړل او بعض ئی خنزیران جوړکړل اوهغه کس دې چې دَ شیطان بندګی یې اوکړه دَ هغه اطاعت ئی اوکړو، اوپه مِنْهُمْ کښې دَ مَنْ دَ معنې رعایت کړې دې اودَدې په ماقبل کښې دَ مَنْ دَ لفظ رعایت دې اوهغه یهودیان دی. اوپه یو قراءت کښې دَعَبُدَ دَ باء په ضمې اودَ دې د ما بعد طرف ته اضافت سره دې. عَبُدَ اسم جمع دې اودَ (طاغوت) نصب، په القردة باندې دَ عطف دَ وجې نه دې داهغه خلق دی چې دَچا درجې نورې هم زیاتې خرابې دی مکانًا تمیزدې ځکه چې دَدوی ځائی اور دې اودَ نیغې لار نه ډیر ګمراه شوی دی (یعنی) دَ حق لارې نه، اودَ سواءُ اصل وسط دې او شرًا او اضَلُّ ذکر دَهغوی دَ قول لانعلم دینا شرًا من دینکم په مقابله کښې دې اوکله چې دا منافقان یهودیان تاسو له راشی نو وائی چې مونږ ایمان راوړې دې حالانکه دکفر سره راغلی وو او هغوی ستاسود

خوانه سره دَ کفرواپس ځي او ایمانَ ئي نه دي راوړي اوالله تعالی ته ښه معلوم دي هغه نفاق
کوم چې دوی پټ کړي دي او تاسو دَدوی نه یعنی یهودیانو نه ډیر وینئ ګورئی چې دَ کذب ګناه او
ظلم طرف ته ورمنډه وهی یعنی په ګناه کښې په تادئي سره ورداخلیږی اوحرام خوری لکه
رشوت اویقینًا څه چې کوی ډیر خراب حرکت دي او ولې دَهغوی عالمان او د مشائخ ګناه یعنی د
دروغ خبرې کولو نه او حرام مال خوړلو نه منع نه کړي؟ دوی نه منع کول یقینًا ډیرخراب حرکت
دي اوکله چې په یهودیانوباندې دَ نبی کریم ﷺ دَ تکذیب دَ وجې نه تنګدستی واچولې
شوه حالانکه هغوی په خلقو کښې ډیرمالدار وو نوهغوی اووئیل چې دَ الله تعالی لاسونه بند
شوي دی (يدالله مغلولة) سره دَ بخل طرف ته کنایه ده (حالانکه) الله تعالی دَ بخل نه بری دې
الله تعالی اوفرمائیل دَهغوی لاسونه دَ نیکو کارونو نه تړلی کړې شوی دی (دا) دَهغوی دَپاره
بددعا ده اودَ هغوی دَ بکواس په وجه په هغوی باندې لعنت اوکړې شو بلکه (حقیقت دادي) چې
دَهغه دواړه لاسونه کولاؤ دی دا دَ سخاوت په صفت کښې مبالغه ده دَ کثرت فائده
ورکولو دَپاره يَدٌ تثنیه راوړلې شوې دې څکه سخی چې دخپل مال نه دَ کوم څیز سخاوت
کوی دهغې آخری درجه داده چې په دواړه لاسه ئی ورکړی اوچې څنګه غواړی خرچ کوی
يئ که په ارت مټ وی اوکه په تنګ. په هغه باندې دَ چادَ ګوتې اوچتولو حق نشته. کوم
څیز چې ستادَ رب دَ طرف نه په تا نازل کړې شوې دې (یعنی) قرآن یقینًا هغې په دوی کښې د
اکثروکفراو سرکشئ کښې اضافه اوکړه دَهغوی دَدې (قرآن) نه دَ منکرکیدود وجې نه اودَ
(دې په بدله) کښې مونږ دَهغوی په مینځ کښې ترقیامته پورې دښمنی اوبغض واچولو اوکله هم
چې دا خلق د رسول الله ﷺ سره دَ جنګ اور تیزوی نو الله تعالی هغه یخوی یعنی کله هم چې
هغوی دَ حملې کولو اراده کوی نو الله تعالی هغوی واپس شاته کوی. داخلق په زمکه کښې
دَ فساد خورولو کوشش کوی یعنی دَ معصیت په ذریعه فساد کونکی دی او الله تعالی فساد
خورونکی نه خوښوی. مطلب دا چې هغه به دوی ته سزا ورکړی اوکه دَ دې (سرکشئ په
ځائی) اهل کتاب په محمد ﷺ باندې ایمان راوړي وې اودَ کفرنه بچ شوی وې نو مونږ به دَهغوی
ګناهونه معاف کړی وې اوهغوی به مودَ نعمتونو نه ډک جنت کښې داخل کړي وې. که چرې دغه
خلقو په تورات اوانجیل کښې ذکر شوی (احکام) باندې عمل کړې وې اوهغه ئی قائم کړي وې
او هم دَ دغې نه په نبی باندې ایمان راوړل هم دی او هغه (نور) کتابونه ئی قائم کړي وې چې
په هغوی باندې دَهغوی دَرب دَ طرف نه نازل کړې شوی دی نودَهغوی دَ پاره به دَ آسمان نه هم رزق
راوریدلو اولاندې دَ (زمکې) نه هم رزق راوتلو په داسې توګه چې په هغوی به دَ رزق وسعت
کولې شو او د څلور واړه طرفونو نه به هم رزق وې. په هغوی کښې څه خلق اعتدال خوښونکی
هم دي چې په دې باندې عمل کوی اودا هغه خلق دی چې په نبی ﷺ باندې ایمان راوړي
دي لکه عبدالله بن سلام اودَهغه ملګری، لیکن دَهغوی اکثرخلق سخت بدعمله دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: لاتتخذوا الخ کلام مستانف دې، لاتتخذوا فعل مضارع مجزوم بلا، په دې کښې ضمیر فاعل الذی اسم موصول اتخذوا فعل بافاعل دینکم مفعول به اول، هُزُواً معطوف علیه لَعِباً معطوف، معطوف بامعطوف علیه مفعول به ثانی، جمله صله شوه، موصول صله مفعول اول دَ لاتتخذوا، أَوْلِيَاءَ مفعول ثانی، لاتتخذوا ضمیرفاعل او مفعول جواب نداء، او نداء دخپل منادی او جواب نداء سره جمله ندائیه شوه قُلْ دَ فعل محذوف مقوله.

قوله: مَهْزُوًّا به، یعنی هُزُواً مصدر، دَمفعول په معنی کښې دې.

قوله: بالجرّ، جرپه الذین باندې دَ عطف دَ وجې نه دې.

قوله: النصبُ، اودَ کفّار نصب، په اَلَّذِيْنَ اِتخذوا باندې دَ عطف دَوجې نه دې.

قوله: فقال بالله ومَا أُنْزِلَ الینا (الایة) مطلب دادې چې دَ یهودو په جواب کښې رسول الله ﷺ دَ سورت بقره مذکوره آیت تلاوت کړو په کوم کښې چې دَحضرت عیسی علیه السلام دَ نبوت هم ذکردې.

قوله: تَنْقِمُوْنَ تاسو انکارکوئی، تاسو دښمنی کوئی تاسو عیبونه لټوئی، دا دَ نَقْمٌ نه ماخوذ دې اومضارع جمع مذکر حاضردې.

قوله: المعنی ما تُنْكِرُوْنَ إلا ب إيمَانِنَا، دَدې اضافې مقصد داخودل دی چې په هل تنقمون کښې استفهام انکاری دې.

قوله: ثواباً په دې کښې اشاره ده چې مَثُوْبَةً مصدر میمی دې نه چې ظرف.

قوله: وَذُكِرَ شَرٌّوَاَضَلُّ فی مُقَابَلَةِ الخ، دَدې عبارت دَ اضافې مقصد دَ یوسوال مقدرجواب دې.

سوال: شرٌ واَضَلُّ دَ اسم تفضیل صیغې دی دکوم دَ پاره چې دَ مفضل علیه ضرورت وی په دغه آیت کښې یهود مفضل او مسلمانان مفضل علیه دی او مفضل اومفضل علیه په نفس وصف کښې شریك وی لهذا یهود اومسلمانان به په نفس شرارت او ضلالت کښې شریك وی خو یهود به د مسلمانانو نه په وصف شرارت اوضلالت کښې وړاندې شوی وی حالانکه دا خلاف واقعه دی؟

جواب: دلته دَ شرارت اوضلالت استعمال دمقابلې اومشاکلت په توګه سره شوې دې څکه چې یهودو وئیلی وو لانعلم دینًا شرًا من دینکم لکه چې جزاء السیئة سیئة کښې جزاء ظلم ته مشاکلة سیئة وئیلې شوې دې.

دويم جواب: بعض وخت اسم تفضيل دَ نفس زياتي دَبيانولودَپاره هم راځي دغه وخت دي نه دَ مفضل عليه ضرورت نه وي يعني اسم تفضيل دَ اسم فاعل په معنی کښې راځي او په قرآن کريم کښې دَدې استعمال په کثرت سره دې.

قوله: مُقْتَصِدَة،دا د اقتصاد (افتعال) نه ماخوذ دې اسم فاعل واحد مؤنث، په نيغه لار قائم پاتې کيدل.

[اياتونه:٦٧-٧٧]

{يأيها الرَّسُولُ بَلِّغْ} جَمِيع {مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ} وَلَا تَكْتُم شَيْئًا مِنْهُ خَوْفًا أَنْ تُنَال بِمَكْرُوهٍ {وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ} أَيْ لَمْ تُبَلِّغ جَمِيع مَا أُنزِلَ إِلَيْك {فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَه} بِالْإِفْرَادِ وَالْجَمْع لِأَنَّ كِتْمَان بَعْضهَا كَكِتْمَانِ كُلّهَا {وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ} أَنْ يَقْتُلُوك وَكَانَ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْرَس حَتَّى نَزَلَتْ فَقَالَ انْصَرِفُوا فَقَدْ عَصَمَنِي اللَّه رَوَاهُ الْحَاكِم {إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ} {قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ} مِنَ الدِّين مُعْتَدّ بِهِ {حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ} بِأَنْ تَعْمَلُوا بِمَا فِيهِ وَمِنْهُ الْإِيمَان بِي {وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ} مِنَ الْقُرْآن {طُغْيَانًا وَكُفْرًا} لِكُفْرِهِمْ بِهِ {فَلَا تَأْسَ} تَحْزَن {عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ} إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِك أَيْ لَا تَهْتَمّ بِهِمْ {إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا} هُمْ الْيَهُود مُبْتَدَأ {وَالصَّابِئُونَ} فِرْقَة مِنْهُمْ {وَالنَّصَارَىٰ} وَيُبْدَل مِن الْمُبْتَدَأ {مَنْ آمَنَ} مِنْهُمْ {بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} فِي الْآخِرَة خَبَر الْمُبْتَدَأ وَدَالّ عَلَى خَبَر إِنَّ {لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ} عَلَى الْإِيمَان بِاللَّهِ وَرُسُله {وَأَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ رُسُلًا كُلَّمَا جَاءَهُمْ رَسُولٌ} مِنْهُمْ {بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنفُسُهُمْ} مِنَ الْحَقّ كَذَّبُوهُ {فَرِيقًا} مِنْهُمْ {كَذَّبُوا وَفَرِيقًا} مِنْهُمْ {يَقْتُلُونَ} كَزَكَرِيَّا وَالتَّعْبِير بِهِ دُون قَتَلُوا حِكَايَة لِلْحَالِ الْمَاضِيَة لِلْفَاصِلَة {وحسبوا} ظنوا {أ} ن {لَّا تَكُونَ} بِالرَّفْعِ فَأَنْ مُخَفَّفَة وَالنَّصْب فَهِيَ نَاصِبَة أَيْ تَقَع {فِتْنَةٌ} عَذَاب بِهِمْ عَلَى تَكْذِيب الرُّسُل وَقَتْلهمْ {فَعَمُوا} عَنِ الْحَقّ فَلَمْ يُبْصِرُوهُ {وَصَمُّوا} عَنِ اسْتِمَاعه {ثُمَّ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ} لَمَّا تَابُوا {ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا} ثَانِيًا {كَثِيرٌ مِّنْهُمْ} بَدَل مِنَ الضَّمِير {وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ} فَيُجَازِيهِمْ بِهِ {لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ} سَبَقَ مِثْله {وَقَالَ} لَهُمْ {الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ} فَإِنِّي عبد ولست بإله {إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ} فِي الْعِبَادَة غَيْره {فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ} مَنَعَهُ أَنْ يَدْخُلهَا {وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ} زَائِدَة {أَنصَارٍ} يَمْنَعُونَهُمْ مِنْ عَذَاب اللَّه {لَّقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ} آلِهَة {ثَلَاثَةٍ} أَيْ أَحَدهَا وَالْآخَرَانِ عِيسَى وَأُمّه وَهُمْ فِرْقَة مِنَ النَّصَارَى {وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَإِن لَّمْ يَنتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ} مِنَ التَّثْلِيث وَيُوَحِّدُوا {لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا} أَيْ ثَبَتُوا عَلَى الْكُفْر {مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم وَهُوَ النَّار {أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ} مِمَّا قَالُوا اسْتِفْهَام تَوْبِيخ {وَاللَّهُ غَفُورٌ} لِمَنْ تَابَ {رَّحِيمٌ} بِهِ {مَّا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ} مَضَتْ {مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ} فَهُوَ يَمْضِي مِثْلهمْ وَلَيْسَ بِإِلَهٍ كَمَا زَعَمُوا وَإِلَّا لَمَا مَضَى {وَأُمُّهُ

صِدِّيقَة} مُبَالَغَة فِي الصِّدْق {كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَام} كَغَيْرِهِمَا مِنَ النَّاس وَمَنْ كَانَ كَذَلِكَ لَا يَكُون إِلَهًا
لِتَرْكِيبِهِ وَضَعْفه وَمَا يَنْشَأ مِنْهُ مِنَ الْبَوْل وَالْغَائِط {انْظُرْ} مُتَعَجِّبًا {كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْآيَات} عَلَى وَحْدَانِيَّتنَا
{ثُمَّ انْظُرْ أَنَّى} كَيْفَ {يُؤْفَكُونَ} يُصْرَفُونَ عَنِ الْحَقّ مَعَ قِيَام الْبُرْهَان {قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللّٰه} أَيْ
غَيْره {مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيعُ} لِأَقْوَالِكُمْ {الْعَلِيمُ} بِأَحْوَالِكُمْ وَالِاسْتِفْهَام لِلْإِنْكَار
{قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ} الْيَهُود وَالنَّصَارَى {لَا تَغْلُوا} تُجَاوِزُوا الْحَدّ {فِي دِينِكُمْ} غُلُوًّا {غَيْرَ الْحَقِّ} بِأَنْ
تَضَعُوا عِيسَى أَوْ تَرْفَعُوهُ فَوْق حَقّه {وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِنْ قَبْلُ} بِغُلُوِّهِمْ وَهُمْ أَسْلَافهمْ {وَأَضَلُّوا
كَثِيرًا} مِنَ النَّاس {وَضَلُّوا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ} عَنْ طَرِيق الْحَقّ وَالسَّوَاء فِي الْأَصْل الْوَسَط

ترجمه: اې رسول! کوم څه چې ستا دَ رب دَ طرف نه په تاباندې نازل کړې شوی دی هغه ټول
(خلقوته) اورسوه اودَدې ویرې نه چې دَدې وجې نه به تاته پریشانی پیدا کیږي. دَدې نه
هیڅ مه یېږه اوکه چرې تا دا کاراونه کړو یعنی څه چې ستا طرف ته نازل کړې شوی دی هغه
ټول دې (خلقوته) اونه رسول نوتادَهغه دَ رسالت حق ادانه کړو. (رسالة) افراد اوجمع سره دې.
ځکه چې دَ بعض یېږول دَ ټولودَ یېږولو په شان دی الله تعالی به تادَ خلقو دَ شرنه بچ کړی چې
تاقتل کړی اودَ نبی ﷺ حفاظت به کیدلو تردې چې آیت والله یعصمك من الناس نازل شو
نوهغوی اوفرمائیل زمادَخوا نه لاړشئ ځکه چې الله تعالی زما حفاظت کړې دې، رواه
حاکم، یقین ساته چې الله تعالی به کافرانو ته (ستا په مقابله کښې دکامیابئ) لارنه وربښائی.
تاسو اووایئ چې اې اهل کتاب تاسو معتدبه دین باندې قائم نه شئ ترکومې چې تاسو تورات
اوانجیل اودَدې (احکام) باندې قائم نه یئ چې کوم ستاسو رب ستاسوطرف ته نازل کړی دی په
دې توګه چې څه په هغې کښې دی په هغې عمل اوکړئ او په دغه (احکام کښې) زما
تصدیق کول هم شامل دی. کوم قرآن چې ستادَ رب دَ طرف نه ستا طرف ته نازل کړې شوې دې
هغه په کښې دَ ډیرو سرکشی او کفرکښې زیاتوئ دَهغوی دَ انکاردَ وجې نه. که منکرقوم په رب
باندې ایمان رانوړی نوته افسوس مه کوه یعنی په دوئ باندې خفه کیږه مه او په دې کښې
هیڅ شک نشته چې که مؤمن وی یا یهودیت اختیارونکې وی اوهغه یهودیان دی. مبتداء دې
ار صابی اونصاری (یا وی)(صابی) دَ یهودو یوه فرقه ده او مَنْ آمَنَ دمبتداء نه بدل دې په
دوی کښې چې څوک هم په الله تعالی باندې اوپه یوم آخرت باندې په حقیقت کښې ایمان راوړی
اونیک عمل اوکړی نو په آخرت کښې به نه په هغوی باندې ویره وی اونه غم (فلاخوف علیهم ولاهم
یحزنون) دَ مبتداء خبردې په کوم چې دَ إِنَّ په خبرباندې دال دې مونږ دَ بنی اسرائیلو نه په
الله تعالی باندې اودَهغه په رسول باندې دَ ایمان راوړو پوخ عهد اخستې وو او مونږ دَهغوی
طرف ته ډیر رسولان لیږلې وو (مګر) چې کله هم دَهغوی یورسول دَ هغوی دَ نفس دَ خواهشاتو
خلاف حق سره راغلې نودَهغه تکذیب ئې کړې، په هغوی کښې دَ بعضو تکذیب یې اوکړو

او په هغوی کښې ئی بعض قتل کړل لکه چې حضرت زکریا علیه السلام او حضرت یحیٰی علیه السلام او دَ
قَتَلُوا په ځائی یقتلون سره تعبیرحکایت حال دَ ماضیه په توګه دي اودَ فواصل رعایت هم
مقصود دې اوهغوی په خپل ګمان کښې دا اوګڼل چې څه فتنه به نه ښکاره کیږی یعنی
دَهغویٔ دَ رسولانو دَتکذیب اوقتل دَ وجې نه به په هغوی څه عذاب نه واقع کیږی. (الا
تَکونُ) په رفع سره دې. په دې صورت کښې به أنْ مخففه عن المثقله وی اوپه نصب سره هم
دې په دې صورت کښې به أن ناصبه وی أن تکونَ په معنی أن تقع دې. دَ حق نه ړانده
شوچې دې ته ګوری نه اوهم دَدې دَ اوریدونه کاڼه شو بیاچې کله هغوی توبة اوکړه نوالله
تعالی دَ هغوی توبه قبوله کړه بیادوباره دَهغوی نه اکثرخلق ړانده کاڼه شو او (کثیرٌمنهم) دعَمُوا
ضمیرنه بدل دې. دا خلق چې څه کوی الله تعالی هغه هرڅه وینی نودوی ته به دَدې سزا ورکړی.
یقینًا هغه خلقو کفراوکړو چا چې اووئیل چې الله هغه هم عیسی بن مریم دې هم دَدې قسم آیت
تیرشوې دې اوهغوی ته مسیح علیه السلام وئیلی وو اې بنی اسرائیلو دَالله تعالی بندګی کوئی چې زما
هم رب دې اوستاسو هم رب دې ځکه چې زه بنده یم معبودنه یم. اوچاچې په عبادت کښې
غیردَ الله تعالی سره شریک کړو نوالله تعالی دَهغوی دَپاره جنت حرام کړو یعنی په جنت کښې به
داخلیدوباندې پابندی اولګوله اودَهغوی ځائی دوزخ دې اودَداسې ظالمانو هیڅوک امدادی
نشته چې هغوی دَ الله تعالی دَعذاب نه بچ کړې شی. مِن زائده دې یقینًا هغه خلقو کفر
اوکړو چاچې اووئیل الله تعالی دَ دریو معبودانونه یودې یعنی یو الله او نور دوه عیسی علیه السلام
اودَهغه مور. دا دَ نصاریٰ یوه فرقه ده حالانکه دَ یوخدائی نه علاوه بل خدائی نشته که چرې
داخلق دَ تثلیث دَ بکواس نه منع نه شو اودَ توحید قائل نه شو نو چاچې په دوی کښې کفرکړې
وی یعنی په کفرباندې قائم ولاړ پاتې وی نو هغوی ته به دردناک سزا ورکولې شی اوهغه سزا
دَ اور ده نوبیابه داخلق دَ الله تعالی دَ وئیلو شوو خبرو باره کښې دَ الله تعالی نه توبه نه کوی
اودَهغه نه به معافی نه غواړی الله تعالی دَدې نه چاچې توبه اوکړه معافی کونکې او په هغوی
رحم کونکې دې. مسیح ابن مریم علیه السلام دَدې نه علاوه هیڅ نه دې چې هغه یورسول دې دَهغه نه
وړاندې دیر رسولان تیرشوی دی دې به هم دَهغوی په شان تیرشی هغه معبودنه دې لکه
ځنګه چې هغه منله ده ګنی هغه به نه تیریدو دَهغه مور یوه نیکوکاره ښځه وه په صداقت
کښې مبالغه کونکې اوهغوی دواړو به خوراک کولو ځنګه چې نور ساه والا خوراک کوی
اوڅوک چې داسې وی نوهغه معبودکیدې نه شی دَ خپل مرکب کیدو دَ وجې اودَ خپل
ضعف دَ وجې اودهغوی نه بول وبراز خارج کیدو دَ وجې نه. ګورئی امردَ تعجب دَپاره دې
مونږ دَهغوی دَپاره په خپل وحدانیت باندې ځنګه نښې بیانوی. بیا اوګوره دَ دلیل قائم کیدو
نه پس هم هغوی دَحق نه ځنګه اولټه واپس روان دی؟ ته هغوی ته اووایه چې تاسو الله تعالی

پريږدئي اودَ بل چا بندگي کوئي چې نه ستاسو دَ نقصان مالکان دي اونه دَ نفع حالانکه هم الله تعالى دَټولوخبرې اوريدونکې اودَ ټولو په احوالو باندې پوهيدونکې دې. استفهام دَانکار دَپاره دې. ورته اووايه اې اهل کتاب يهود اونصارى دې ناحق په خپل دين کښې غلو نه کوى يعنى په خپل دين کښې دې دَحد نه تجاوز نه کوى په داسې توگه چې دَعيسى عليه السلام سپکاوې اوکړى دَهغه دَ مرتبې نه هغه زيات کړى اودَهغه خلقو دَ خيالاتو تابعدارى دې نه کوى چې تاسو نه وړاندې دَ خپلې غلودَ وجې نه گمراه شوى دى اوهغه دَ دوى اسلاف دى اوهغوى ډير خلق گمراه کړى دى اودَ نيغې لارې نه گمراه شوى وو يعنى دَ حق لارې نه، دَ سواء معنى په حقيقت کښې دَ وسط ده.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: لِاَنَّ كِتْمَانَ بَعْضِهَا كَكِتْمَانِ كُلِّهَا، دا رسالات جمع راوړلو علت دې.

قوله: اَنْ يَّقْتُلُوْا جمله مقدرمنلو مقصد دَ يوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دَ الله تعالى دَقول والله يعصمك من الناس مطلب دې چې الله تعالى به حضورپاك ﷺ دَ ټولو انسانانودَ طرف نه دَهرقسم تکليف نه محفوظ ساتى، حالانکه حضورپاك ته دَ انسانانو دَ طرف نه تکليف اونقصان رسيدلې وو مثلاً په غزوه احدکښې دَ رسول الله ﷺ مخ مبارك زخمى کيدل، دَ رسول الله ﷺ غاښونه مبارك ماتيدل وغيره وغيره؟

جواب: دَ حفاظت نه مراد دَقتل نه حفاظت دې نه چې دَمطلق تکليف نه حفاظت لهذا اوس څه اعتراض پاتې نه شو.

قوله: مِنَ الدِّيْنِ مُعْتَدٍّبه دا دَ سوال مقدرجواب دې.

سوال: دَ يهوداونصارىٰ دَ مشرکانوباره کښې داسې وينا کول چې تاسو به هيڅ شى باندې نه يئې صحيح نه ده ځکه چې هغوى په کوم دين اومذهب باندې وو هغه هم يوشئ وو دَ دې جواب ورکړې شو؟

جواب: دَ شئ نه مراد دَالله تعالى په نيزدين معتد به دې نه چې دَهغوى اختيارکړې شوې دين اومذهب.

قوله: الصّٰبِئُوْنَ، دَ صَابِئٌ جمع ده اسم فاعل دَ دين نه خارجيدونکې کله چې به يوسړى اسلام راوړلو نوعربو به وئيل قَدْصَبَأَ هغه دَ دين نه اووتلو. دا فرقه په دې نوم سره ځکه ياديدله چې هغوى دَ يهوديت او نصرانيت نه وتلى وو اودستورو عبادت به يې کولو دهغوى مرکز حران دې ابو اسحاق صابى هم دې فرقې سره تعلق لرلو.

قوله: اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په دې جمله کښې نهه ترکيبونه کيدې شى په دې کښې آسان درې

ترکیبونه دلته لیکلې شی: ① انّ حرف مشبه بالفعل ناصب، الذین اسم موصول آمنوا صله، مصول اوصله دَ اِنَّ اسم فلاخوف علیه ولاهم یحزنون، جمله دَ اِنَّ خبرمحذوف. ﴿وَالَّذِیْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ وَالنَّصٰرٰی مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ﴾

② واو، استینافیه اَلَّذِیْنَ اسم موصول هَادُوْا صله، موصول صله معطوف علیه، والصابئون معطوف علیه معطوف والنصاري معطوف دریواړه معطوفات مبدل منه شو مَنْ آمَنَ بالله والیوم الآخر جمله معطوف علیه، وعمل صالحًا معطوف، معطوف معطوف علیه بدل، بدل اومبدل منه مبتداء، فلاخوف علیهم ولاهم یحزنون جمله دَ مبتداء خبردې.

③ اِنَّ حرف مشبه بالفعل الذین اسم موصول آمنوا، صله، موصول معطوف علیه واؤ عاطفه الذین اسم موصول هادوا صله موصول صله معطوف علیه واؤ عاطفه الصابئون معطوف علیه معطوف واؤ حرف عطف النصاري معطوف دریواړو معطوفاتو مبدل منه مَنْ آمَنَ بالله بدل، بدل مبدل منه دَ اِنَّ اسم فلاخوف علیه ولاهم یحزنون، دَ انَّ خبر.

قوله: كَذَّبُوْهُ دا دَ كلما جزاء محذوف دې.

قوله: وَالتَّعْبِیْرُ به یعنی موقع دَ ماضی وه مګر یقتلون مضارع استعمال شوې دې یوخود حکایت حال ماضیه په توګه یعنی دَدې خودلودپاره چې لکه دَقتل معامله هغه وخت کیدله اودویم مقصد دَ فواصل رعایت دې.

قوله: تَقَعَ: په دې کښې اشاره ده چې تکون تامه دې لهذا دې ته دَخبر ضرورت نشته او فتنةٌ دَ تکون فاعل دې.

قوله: بَدَلٌ مِنَ الضَّمِیْرِ یعنی کثیرٌمنهم، د عَمُوا وصَمُّوا، ضمیرنه بدل البعض دې. اوداهم کیدې شی چې کثیرٌمنهم، داُولٰئِكَ مبتداء محذوف خبروی.

قوله: فِرْقَةٌ مِنَ النَّصَارٰي په دې کښې اشاره ده چې عیسیٰ علیه السلام ته ثالث ثلثة ویونکی دَ نصاری یوه فرقه ده دَدې نه علاوه نورې فرقې هم دی چې حضرت عیسیٰ علیه السلام اله منی لهذا په دواړو خبروکښې هیڅ تعارض نشته.

[ایاتوله: ۷۸-۸۲]

{لُعِنَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْ بَنِیْ اِسْرَاۤءِیْلَ عَلٰی لِسَانِ دَاوٗدَ} بِاَنْ دَعَا عَلَیْهِمْ فَمُسِخُوْا قِرَدَةً وهم اصحاب ایلة {وَعِیْسَی ابْنِ مَرْیَمَ} بِاَنْ دَعَا عَلَیْهِمْ فَمُسِخُوْا خَنَازِیْرَ وَهُمْ اصحاب المائدة {ذٰلِكَ} اللعن {بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا یَعْتَدُوْنَ} {كَانُوْا لَا یَتَنَاهَوْنَ} اَیْ لَا یَنْهٰی بَعْضُهُمْ بَعْضًا {عَنْ} مُعَاوَدَةِ {مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا یَفْعَلُوْنَ} فِعْلُهُمْ هٰذَا {تَرٰی} یَا مُحَمَّد {كَثِیْرًا مِّنْهُمْ یَتَوَلَّوْنَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا} مِنْ اَهْلِ مَكَّةَ بُغْضًا لَكَ {لَبِئْسَ

مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ} مِنَ الْعَمَلِ لِمَعَادِهِمْ الموجب لهم {أن سخط الله عليهم وفي العذاب هم خالدون} {وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ} مُحَمَّد {وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ} أيْ الْكُفَّار {أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ} خَارِجُونَ عَنِ الْإِيمَانِ {لَتَجِدَنَّ} يَا مُحَمَّد {أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا} مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ لِتَضَاعُفِ كُفْرِهِمْ وَجَهْلِهِمْ وَانهِمَاكِهِمْ فِي اتِّبَاعِ الْهَوَى {وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ ذَٰلِكَ} أيْ قُرْبُ مَوَدَّتِهِمْ لِلْمُؤْمِنِينَ {بِأَنَّ} بِسَبَبِ أَنَّ {مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ} عُلَمَاء {وَرُهْبَانًا} عُبَّادًا {وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ} عَنِ اتِّبَاعِ الْحَقِّ كَمَا يَسْتَكْبِرُ الْيَهُودُ وَأَهْلُ مَكَّةَ

ترجمه: دَ بنی اسرائيلو په کافرانو باندې دَ حضرت داؤد عليه السلام په ژبه باندې لعنت اوکړې شو يعنی دَهغوی دَپاره بد دعا اوکړې شوه چې دهغې د وجې هغوی دَ بيزوګانو په شکل کښې مسخ کړې شو او هغوی دَ ايله اوسيدونکی وو. او دَ حضرت عيسی بن مريم عليه السلام په ژبه باندې لعنت اوکړې شو په داسې طريقه چې حضرت عيسیٰ عليه السلام دَهغوی دَپاره بد دعا اوکړه دَ کوم په نتيجه کښې چې هغوی دَ خنزيرانو په شکل کښې مسخ کړې شو او هغه اصحاب مائده وو. دا لعنت په دې وجه اوکړې شو چې هغوی نافرمانی کولو سره دَ حد نه تجاوز کړې وو. هغوی په خپل مينځ کښې يو بل دَ خرابو کارونو د کولو نه منع کول پريخودې وو دَهغوی دا طرز عمل خراب وو کوم چې هغوی اختيار کړې وو. اې محمد ﷺ ته به دَ دوی نه هم ډير خلق وينې چې ستاسو په دښمنئ کښې به دَ مکې کافرانو سره دوستی کوی. قسم دې (زما دَعزت او جلال) دَهغوی نفسونو چې کوم اعمال دَ خپل آخرت دَپاره ليږلی دی هغه ډير خراب اعمال دی کوم چې په هغوی باندې دَ الله تعالی دَ خفګان سبب دې او هغوی به هميشه په عذاب کښې وی. او که چرې نی الواقع دا خلق په الله تعالی باندې او (دَهغه) په نبی محمد ﷺ او په هغه څيز باندې کوم چې په ده نازل کړې شوې دې ايمان لرلو نو کافران به ئې هيڅ کله دوستان نه جوړول خو په هغوی کښې اکثر دَ ايمان نه خارج شوی دی. اې محمد ﷺ تاسو دَ اهل ايمان په دښمنئ کښې دَ ټولو نه سخت به يهوديان او دَمکې مشرکان مومئ دَهغوی دکفر د دوچنده کيدلو او دَهغوی دجهل او دَ هغوی په خواهشاتو کښې دَ ورګډيدو دَ وجې او دَايمان والو دَپاره په دوستئ کښې دَ ټولو نه نيزدې هغه خلق او مومی چا چې اوويل مونږ نصاری يو او دا يعنی په دوستئ کښې مؤمنانو سره دَهغوی نيزدې کيدل دَدې وجې نه دی چې په هغوی کښې علماء او عبادت ګذار (تارك الدنيا) موجود دی او دَ حق دَبندګئ نه غرور نه کوی څنګه چې يهود او اهل مکه غرور کوی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: أَيْلَة (بحر طبريه په غاړه باندې دَيو کلی نوم دې.

قوله: مُعَاوَدَة دا ددې سوال مقدر جواب دې چې دَمنکر د کولو نه پس دَهغې نه دَ نهی نه څه

فائده نشته او نه څه امر معقول دې، ځکه چې دَ کوم څيز وقوع اوشوه دَهغې اصلي عدم ممکن نه دې. مُعَاوَدَةً، مضاف محذوف منلو سره مفسرعلام اشاره اوکړه چې دَ منکر د دوباره ارتکاب نه ممانعت مقصود دې.

قوله: لَبِئْسَ دا دَ ما بيان دې.

قوله: هٰذا، دا مخصوص بالذم دې.

قوله: مِنْهُمْ أَيْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ.

قوله: الموجب دا دَ يو سوال جواب دې.

سوال: الموجب، مقدر منلو څه ضرورت دې؟

جواب: ځکه چې أن سخط الله، مخصوص بالذم دې او مخصوص بالذم دَفاعل بيان وى او سخط الله عليهم دَماقدمت بيان واقع کيدل صحيح نه دى ترکومې چې الموجب مضاف محذوف اونه منلې شي ځکه چې ماقدمت دَ اهل کتاب فعل دې او سخط د الله فعل دې لهذا حمل به صحيح نه شي.

قوله: مُحَمَّد ﷺ دا دې سوال جواب دې چې اهل کتاب خو په نبي باندې ايمان لرلو؟ دَدې جواب ورکړې شو چې دَ نبي نه مراد محمد ﷺ دې او په النبي کښې الف لام دَعهد دې.

قوله: قِسِّيسِيْنَ په رومي ژبه کښې عالم ته وئيلې شي.

نَزَلَتْ فِي وَفْدِ النَّجَاشِيِّ الْقَادِمِينَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَبَشَةِ قَرَأَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُوْرَةَ يٰس فَبَكَوْا وَأَسْلَمُوْا

پاره نمبر-۷ [وَإِذَا سَمِعُوْا]

[ايات نوله: ۸۳-۸۶]

وَقَالُوْا مَا أَشْبَهَ هٰذَا بِمَا كَانَ يَنْزِلُ عَلَى عِيسٰى قال تعالى {وَإِذَا سَمِعُوْا مَا أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ} مِنَ الْقُرْآنِ {تَرٰى أَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا آمَنَّا} صَدَّقْنَا بِنَبِيِّكَ وَكِتَابِكَ {فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِيْنَ} الْمُقِرِّيْنَ بِتَصْدِيْقِهِمْ {وَ} قَالُوْا فِي جَوَابِ مَنْ عَيَّرَهُمْ بِالْإِسْلَامِ مِنَ الْيَهُوْدِ {مَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ} الْقُرْآنِ أَيْ لَا مانع لنا من الإيمان مع وجوب مُقْتَضِيهِ {وَنَطْمَعُ} عُطِفَ عَلَى نُؤْمِنُ {أَنْ يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِيْنَ} المؤمنين الجنة قال تعالى {فَأَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا وَذٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِيْنَ} بالإيمان {وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِآيَاتِنَا أُولٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيْمِ}

ترجمه: (راتلونکې آيت) دَ حبشې نه راتلونکى دَ نجاشى دوفد متعلق نازل شوې دې. حضور پاک دَهغوى په وړاندې سورت ياسين اولوستلو نوهغوى په ژړا شو او اسلام ئې راوړو او هغوى اووئيل چې (په تاسو باندې دنازليدونکې کلام) دهغه (کلام) سره څومره

مشابهت دي كوم چې په حضرت عيسىٰ عليه السلام نازل شوي وو. الله تعالى اوفرمائيل اوچې كله هغوى داكلام قرآن اوري كوم چې په رسول الله ﷺ باندې نازل شوي دې تاسو گورئ چې دَ حق پېژندو دَ اثره وجې دَهغوى دَ سترگو نه اوښكې بهيږى هغوى وائى اې زمونږ ربه! مونږ ايمان راوړو (يعني) ستا دَ نبى او دَكتاب تصديق موږ اوكړو نو ته مونږ هم دَ تصديق كونكو سره اوليكه. (يعني) هغه خلقو سره كوم چې (دَمذكوره) دواړو څيزونو دَ تصديق اقرار كونكي دى اودَهغه خلقو په جواب كښې ئې اووئيل چاچې دوى ته په اسلام باندې پېغور وركړې وو اوهغوى دَ يهوديانو نه وو او مونږ سره كوم يوعذر دې چې مونږ په الله باندې او په حق قرآن باندې كوم چې مونږ له راغلي دې ايمان رانوړو؟ يعني دَ ايمان راوړو په لاركښې زمونږ دَ پاره څه مانع نشته حالانكه دَ ايمان مقتضى موجود دې اومونږ ولې اميداونه لرو. دَدې عطف په نؤمنُ باندې دې. دا چې زمونږ رب مونږ ته د نيكانو خلقو په جنت كښې ملگرتيانصيب كړى. الله تعالى اوفرمائيل الله تعالى هغوى ته دَ هغوى دَدې وينا دَ وجې نه داسې جنتونه وركړل په كوم كښې چې نهرونه بهيږى په هغې كښې به دوى هميشه وى اودَ ايمان والو دا صله ده اوچاچې كفر اوكړو او زمونږ آياتونه ئې دروغ گڼړل هم دغه خلق دوزخ والا دى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَإِذَا سَمِعُوا (الآية) واؤكه چرې استينافيه اومنلې شى نودا كلام به مستانف شى اومفسرعلام قال تعالىٰ وئيلو سره دې تركيب ته اشاره كړې ده اوكه چرې عاطفه اومنلې شى لكه چې دَابوسعود هم دغه رائې ده نودَدې عطف به په لايستكبرون باندې وى. اى ذلك بسبب أنهم لايستكبرون.

قوله: يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا، داجمله مستانفه ده كوم چې دَ يوسوال مقدر جواب دې يعني قرآن اوريدو سره كله چې دَهغوى دغه مذكوره حالت كيږى نوهغوى څه وائى؟ دَدې جواب دې يقولون ربنا آمنا الخ.

قوله: مُقْتَضِيَه يعني كله چې دَ ايمان موجب موجود دې اوهغه په صالحينوكښې دَ داخليدو دَهغوى رغبت اوخواهش دې.

قوله: عَطْفٌ عَلىٰ نُؤْمِنُ يعني د نطمع عطف په نؤمن باندې دې نه چې د مبتداء محذوف خبر، أي نحن نطمع څكه چې حذف خلاف ظاهر دې.

اياتونه: ٨٧-٩٢

وَنَزَلَ لَمَّا هَمَّ قَوْم مِنَ الصَّحَابَة أَنْ يُلَازِمُوا الصَّوْم وَالْقِيَام وَلَا يَقْرَبُوا النِّسَاء وَالطِّيب وَلَا يَأْكُلُوا اللَّحْم وَلَا يَنَامُوا عَلَى الْفِرَاش {يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا} تَتَجَاوَزُوا أَمْر اللّٰه {إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} {وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلَالًا طَيِّبًا} مَفْعُول وَالْجَار وَالْمَجْرُور قَبْله حَال مُتَعَلِّق بِهِ

{واتقوا الله الذی أنتم به مؤمنون} {لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ} الكَائِن {فِي أَيْمَانِكُمْ} هُوَ مَا يَسْبِقُ إِلَيْهِ اللِّسَان مِنْ غَيْر قَصْد الْحَلِف كَقَوْلِ الإِنْسَان لَا وَاللّٰه وَبَلَى وَاللّٰه {وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمْ} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد وَفِي قِرَاءَة عَاقَدْتُمْ {الْأَيْمَان} عَلَيْهِ بِأَنْ حَلَفْتُمْ عَنْ قَصْد {فَكَفَّارَته} أَيْ الْيَمِين إِذَا حَنِثْتُمْ فِيهِ {إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ} لِكُلِّ مِسْكِين مُدّ {من أوسط ما تطعمون} منه {أهليكم} أَيْ أَقْصَدهُ وَأَغْلَبه لَا أَعْلَاهُ وَلَا أَدْنَاهُ {أَوْ كِسْوَتُهُمْ} بِمَا يُسَمَّى كِسْوَة كَقَمِيصٍ وَعِمَامَة وَإِزَار وَلَا يَكْفِي دَفْع مَا ذُكِرَ إِلَى مِسْكِين وَاحِد وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ {أَوْ تَحْرِيرُ} عِتْق {رَقَبَةٍ} أَيْ مُؤْمِنَة كَمَا فِي كَفَّارَة الْقَتْل وَالظِّهَار حَمْلًا لِلْمُطْلَقِ عَلَى الْمُقَيَّد {فَمَنْ لَمْ يَجِدْ} وَاحِدًا مِمَّا ذُكِرَ {فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ} كَفَّارَته وَظَاهِره أَنَّهُ لَا يُشْتَرَط التَّتَابُع وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ {ذَلِكَ} الْمَذْكُور {كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ} وَحَنِثْتُمْ {وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ} أَنْ تَنْكُثُوهَا مَا لَمْ تَكُنْ عَلَى فِعْل بِرّ أَوْ إِصْلَاح بَيْن النَّاس كَمَا فِي سُورَة الْبَقَرَة {كَذَلِكَ} أَيْ مِثْل مَا بَيَّنَ لَكُمْ مَا ذُكِرَ {يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} هُ عَلَى ذلك {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ} الْمُسْكِر الَّذِي يُخَامِر الْعَقْل {وَالْمَيْسِرُ} الْقِمَار {وَالْأَنْصَابُ} الْأَصْنَام {وَالْأَزْلَامُ} قِدَاح الِاسْتِقْسَام {رِجْسٌ} خَبِيث مُسْتَقْذَر {مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ} الَّذِي يُزَيِّنهُ {فَاجْتَنِبُوهُ} أَيْ الرِّجْس الْمُعَبَّر عَنْ هذه الأشياء ان تفعلوه {لعلكم تفلحون} {إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ} إِذْ أَتَيْتُمُوهُمَا لِمَا يَحْصُل فِيهِمَا مِنْ الشَّرّ وَالْفِتَن {وَيَصُدَّكُمْ} بِالِاشْتِغَالِ بِهِمَا {عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ} خَصَّهَا بِالذِّكْرِ تَعْظِيمًا لَهَا {فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ} عَنْ إِتْيَانهمَا أَيْ انْتَهُوا {وَأَطِيعُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا} الْمَعَاصِي {فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ} عَنْ الطَّاعَة {فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ} الْإِبْلَاغ الْبَيِّن وَجَزَاؤُكُمْ عَلَيْنَا {لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا} أَكَلُوا مِنْ الْخَمْر وَالْمَيْسِر قَبْل التَّحْرِيم {إِذَا مَا اتَّقَوْا} الْمُحَرَّمَات {وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَآمَنُوا} ثَبَتُوا عَلَى التَّقْوَى وَالْإِيمَان {ثُمَّ اتَّقَوْا وَأَحْسَنُوا} الْعَمَل {وَاللّٰهُ يُحِبُّ المحسنين} بمعنى انه يثيبهم.

ترجمه: (وراندې آيت) هغه وخت نازل شو كوم وخت چې دَ صحابه كرامو رضي الله عنهم يو جماعت دا اراده اوكړه چې هغوی به هميشه روژې ساتي او هميشه به په مونځ كښې مشغول وی او ښځو سره به صحبت نه كوی اونه به دَ خوشبو استعمال كوی اونه به غوښه خوری اونه به په بستره باندې اوده كيږی. اې ايمان والوكوم پاک څيزونه چې الله تعالی ستاسو دَپاره حلال كړي دی هغه حراموئی مه اودَ الله تعالی دَ حكم نه تجاوز مه كوئی الله تعالی د حد نه تجاوز كونكی نه خوښوی اوالله تعالی چې كوم حلال مرغوب څيزونه تاسو ته دركړی دی دَهغې نه خورئی (حلالاً، دكلوا) مفعول دې اودَدې ماقبل(مما رزقكم الله) متعلق مقدم حال دې اودَهغه الله تعالی نه ويرېږئی په كوم چې تاسو ايمان لرئی الله تعالی ستاسو لغو (مهمل) قسمونو باندې نيول نه كوی. لغو هغه قسم ته وائی چې بغيردَ ارادې نه دَ ژبې په سبقت سره اووئيلې شی مثلاً خلق

رانی لا والله، بلی والله، خوچې کوم قسمونه تاسو بنه په قصد سره خورئی یعنی په قصد سره قسم خورئی. (عقدتم) کښې تخفیف اوتشدید دواړه قراءتونه دی او په یوقراءت کښې عاقدتم دې نودَ داسې قسم کفاره کله چې تاسو په دې کښې حانث شئی لسو مسکینانو باندې خوراک کول دی هریومسکین ته یومُد هغه درمیانه خوراک ورکول دی کوم چې تاسو په خپل بال بچ باندې خورئی د یعنی درمیانه درجې، دغالب حالاتو په اعتبارسره، نه ډیر اعلی اونه ډیرکمزورې یاهغوی ته کپړې ورکړئی هغه کپړې کوم ته چې (په عرف کښې) لباس اووئیلې شی مثلاً قمیص پټکې او ازار او مذکوره څیزونه یومسکین ته ورکول کافی نه دی اودا دَامام شافعی رحمه الله مذهب دې یا یومؤمن غلام آزادول دی لکه چې دَ قتل په کفاره اودَ ظهارپه کفاره کښې مطلق په مقیدباندې محمول کولوسره، کوم کس چې (مذکوره دریواړو) نه په یوهم قدرت نه لری نوهغه کفاره درې ورځې روژې دی اودَدې نه په ظاهره معلومیږی چې تسلسل شرط نه دې اوهم دغه دَ امام شافعی رحمه الله مذهب دې. دا ستاسو دَ قسمونو کفاره ده. کله چې تاسو قسمونه اوخورئی او مات ئې کړئی اودَخپلو قسمونودَماتولونه حفاظت کوئی اوچې قسم دَ څه خیرکارد یا دَخلقو په مینځ کښې اصلاح کولو باندې نه وی لکه چې سورت بقره کښې دی. دغه شان لکه چې مذکوره (احکام یې)ستاسو دَپاره بیان کړل الله تعالی ستاسو دَپاره خپل احکام بیانوی دې دَپاره چې تاسو دَهغه شکراداکړئی. اې ایمان والو دا شراب چې عقل مستور کړی او جواری اوبت او د قسمت معلومولوغشی خبیث ګنده شیطانی اعمال دی کوم چې هغه ښائسته کوی او وړاندې کوی یې تاسو دې نه پرهیز اوکړئی یعنی دَ دغه ګندګئی نه پرهیز اوکړئی کوم چې په دې نومونوسره یادولې شی. امید دې چې تاسو ته به خلاصې ملاؤشی. شیطان خوداغواړی چې دَ شرابو او جوارئی په ذریعه ستاسو په مینځ کښې بغض اوعداوت واچوی کله چې تاسو دَ دې ارتکاب اوکړئی ځکه چې په دې سره شراوفساد راپیداکیږی اوتاسوپه دی کښې مشغول کړی دَ الله تعالی دَیاد او مونځ نه مو منع کړی. دَدې دواړو دَ عظمت دَ وجې نه په خاص توګه یې دَدې ذکر اوکړو نوآیا تاسوبه دَ دغه څیزونونه منع شئ؟ یعنی منع شئ دَالله تعالی اودَ هغه دَ رسول ﷺ خبره اومنئ اودَ ګناه نه منع شئ اوکه چرې تاسودَ هغه دَ اطاعت نه حکم عدولی کوئی نو پوهه شئی چې زمونږ په رسول باندې صفا صفا (حکم) رسول دی اوبس اوتاسو ته بدله درکول زمونږ ذمه واری ده. کوموخلقو چې ایمان راوړې دې اونیک عملونه یې کړی دی هغوی دَحرمت نه وړاندې دشرابو او (مال) دَجوارئی نه چې څه خوړلی څکلی دی په هغې باندې به نیول نه وی په دې شرط (چې بیا) به دَ حرام کړې شوو څیزونونه بچ کیږی او ایمان ئی اولرلو اونیک عمل ئی اوکړو بیا په تقوی او ایمان باندې ثابت قدم پاتې شو(دَ ممنوعاتو) نه ځان اوساتی او نیک عمل اوکړی اوالله تعالی نیک عمل کونکی خوښوی په دې معنی چې هغوی ته به دَ دې اجر ورکړی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: مُفْعُوْلٌ وَالْجَارُّ وَالْمَجْرُوْرُ قَبْلَهُ حَالٌ مُتَعَلِّقٌ بِهٖ حَلٰلاً طَيِّبًا موصوف صفت د کُلُوا مفعول به دې او مما رزقنا کم د حلالا سره متعلق شو حال مقدم دې. تقدیري عبارت دا دې کلوا شیئا حَلٰلاً طَيِّبًا حال کونه مما رزقکم الله، ځکه چې مما رزقکم په اصل کښې د نکرې صفت کېدو د وجې نه مقدم شو او حال واقع دې. مفسرعلام په مذکوره عبارت سره هم دې ترکیب ته اشاره کړې ده.

قوله: الْكَائِنِ په دې کښې اشاره ده چې فِيْ أَيْمَانِكُمْ اَللَّغْو صفت دې نه چې حال.

قوله: مَا يَسْبِقُ إِلَيْهِ اللِّسَانُ مِنْ غَيْرِ قَصْدٍ دا د امام شافعي رحمه الله مذهب دې.

قوله: بِمَا عَقَدْتُمْ أَيْ وَثَّقْتُمْ بِالنِّيَّةِ وَالْقَصْدِ د عَقَّدْتُمْ تعقيد (تفعيل) نه ماضي جمع مذکر حاضر تاسو غوټه اولګوله تاسو پوخ عهد اوکړو.

قوله: عَلَيْهِ په دې کښې اشاره ده چې په مَا عَقَّدْتُمْ کښې مَا موصوله ده او عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ جمله صله ده او چې کله صله جمله وي نو په دې کښې د ضمير عائد کېدل ضروري وي او دغه عليه دې.

قوله: إِذَا حنثتم په دې کښې اشاره ده چې د نفس يمين د وجوب کفارې سبب نه دې بلکه قسم ماتول د کفارې سبب دې.

قوله: مُؤْمِنَةٌ هذا عند الشافعي.

قوله: مُد د يومد مقدار ۶۸ تولې ۳ ماشې يا ۷۹۶ ګرام ۶۸ ملي ګرام وي.

قوله: كَفَّارَتُهُ په دې کښې اشاره ده چې فَصِيَامُ مبتداء ده او کفارة د دې خبر محذوف دې.

قوله: خَبِيْثٌ مُسْتَقْذَرٌ د الرجس معنی د اکثرو په نيز د نجس ده او بعض حضراتو وئيلي دي چې رجس معنی اسم جمع ده هم دغه وجه ده چې د مفرد کېدو باوجود د متعدد خبر واقع دې. مفسرعلام مستقذر اضافه کولو سره اشاره کړې ده چې د رجس نه مراد نجس طبعي نه دې بلکه نجس عقلي دې. زجاج وئيلي چې رجس په فتحې د راء او کسرې د راء سره هر قبيح عمل ته وائي.

قوله: الرجس دا د يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: اِجْتَنِبُوْهُ کښې ضمير متعدد يعنی په ماقبل کښې ذکرشوې څلورو خيزونو طرف ته راجع دې حالانکه ضمير واحد دې.

جواب: دَ ضمير واحد مرجع الرجس دي چې دَاسم جمع کيدوۀ وجې نه په حکم د متعدد کښې دي. مفسر علام أَنْ تَفْعَلُوْهُ، إِذَا اتيتموهما، بالاشتغال دَدې دريوارو کلمو اضافه کولو سره دَدې اعتراض جواب ورکړې دې چې دَ منع اود حکم تعلق افعال سره وی نه چې د ذوات او اعيان سره.

قوله: لَبَنُوْا مفسر علام ثبتوا اضافه دَ تکرار دَ دفع دَپاره کړې ده.

[اياتونه: ۹۴-۱۰۰]

{يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ} لَيَخْتَبِرَنَّكُمْ {اللّٰهُ بِشَيْءٍ} يُرْسِلهُ لَكُمْ {مِنَ الصَّيْدِ تَنَالُهُ} أَيْ الصِّغَار مِنْهُ {أَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ} الْكِبَار مِنْهُ وَكَانَ ذٰلِكَ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَهُمْ مُحْرِمُوْنَ فَكَانَتْ الْوَحْش وَالطَّيْر تَغْشَاهُمْ فِي رِحالهم {وليعلم اللّٰه} عِلْم ظُهُور {مَنْ يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ} حَال أَيْ غَائِبًا لَمْ يَرَهُ فَيَجْتَنِب الصَّيْد {فَمَنِ اعتدى بعد ذٰلك} النهي عنه فاصطاده {فله عذاب أليم} {يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ} مُحْرِمُوْنَ بِحَجّ أَوْ عُمْرَة {وَمَنْ قَتَلَهُ مِنْكُمْ متعمدا فجزاء} بالتنوين ورفع ما بعدها أي فَعَلَيْهِ جَزَاء هُوَ {مِثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ} أَيْ شَبَهه فِي الْخِلْقَة وَفِي قِرَاءَة بِإِضَافَةِ جَزَاء {يَحْكُمُ بِهِ} أَيْ بِالْمِثْلِ رَجُلَانِ {ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ} لَهُمَا فِطْنَة يُمَيِّزَانِ بها أشبه الأشياء به وقد حكم بن عَبَّاس وَعُمَر وَعَلِيّ رَضِيَ اللّٰه عَنْهُمْ في النعامة ببدنه وبن عَبَّاس وَأَبُو عُبَيْدَة فِي بَقَر الْوَحْش وَحِمَاره ببقرة وبن عمر وبن عوف في الظبي بشاة وحكم بها ابن عَبَّاس وَعُمَر وَغَيْرهمَا فِي الْحَمَام لِأَنَّهُ يُشْبِههَا فِي الْعَبّ {هَدْيًا} حَال مِنْ جَزَاء {بَالِغَ الْكَعْبَةِ} أَيْ يَبْلُغ بِهِ الْحَرَم فَيُذْبَح فِيهِ وَيَتَصَدَّق بِهِ عَلَى مَسَاكِينه وَلَا يَجُوز أَنْ يُذْبَح حَيْثُ كَانَ وَنَصْبه نَعْتًا لِمَا قَبْله وَإِنْ أُضِيف لِأَنَّ إِضَافَته لَفْظِيَّة لَا تُفِيد تَعْرِيفًا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِلصَّيْدِ مِثْل مِنَ النعم كالعصفور والجراد فعليه قيمة {أَوْ} عَلَيْهِ {كَفَّارَةٌ} غَيْر الْجَزَاء وَإِنْ وَجَدَهُ هِيَ {طَعَامُ مَسَاكِيْنَ} مِنْ غَالِب قُوت الْبَلَد مَا يُسَاوِي قِيمَة الْجَزَاء لِكُلِّ مِسْكِين مُدّ وفي قراءة بإضافته كَفَّارَة لِمَا بَعْده وَهِيَ لِلْبَيَانِ {أَوْ} عَلَيْهِ {عَدْلُ} مِثْل {ذٰلِكَ} الطَّعَام {صِيَامًا} يَصُومهُ عَنْ كُلّ مُدّ يَوْم وَإِنْ وَجَدَهُ وَجَبَ ذٰلِكَ عَلَيْهِ {لِيَذُوْقَ وَبَالَ} ثِقَل جَزَاء {أَمْرِهِ} الَّذِي فَعَلَهُ {عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ} مِنْ قَتْل الصَّيْد قَبْل تَحْرِيمه {وَمَنْ عَادَ} إلَيْهِ {فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ} غَالِب عَلَى أَمْره {ذُو انْتِقَامٍ} مِمَّنْ عَصَاهُ وَأُلْحِقَ بِقَتْلِهِ مُتَعَمِّدًا فِيمَا ذُكِرَ الْخَطَأ {أُحِلَّ لَكُمْ} أَيُّهَا النَّاس حَلَالًا كُنْتُمْ أَوْ مُحْرِمِينَ {صَيْدُ الْبَحْرِ} أَنْ تَأْكُلُوهُ وَهُوَ مَا لَا يَعِيش إلَّا فِيهِ كَالسَّمَكِ بِخِلَافِ مَا يَعِيش فِيهِ وَفِي الْبَرّ كَالسَّرَطَانِ {وَطَعَامُهُ} مَا يَقْذِفهُ مَيِّتًا {مَتَاعًا} تَمْتِيعًا {لَكُمْ} تَأْكُلُونَهُ {وَلِلسَّيَّارَةِ} الْمُسَافِرِينَ مِنْكُمْ يَتَزَوَّدُونَهُ {وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ} وَهُوَ مَا يَعِيش فِيهِ مِنَ الْوَحْش الْمَأْكُول أَنْ تَصِيدُوهُ {مَا دُمْتُمْ حُرُمًا} فَلَوْ صَادَهُ حلال فللمحرم أكله كما بينته السنة {واتقوا اللّٰه الذي إليه تحشرون} {جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ} الْمُحَرَّم {قِيَامًا لِلنَّاسِ} يَقُوم بِهِ أَمْر دِينهمْ بِالْحَجِّ إلَيْهِ وَدُنْيَاهُمْ بِأَمْنِ دَاخِله وَعَدَم التَّعَرُّض لَهُ وَجَبْي ثَمَرَات كُلّ شَيْء إلَيْهِ وَفِي قِرَاءَة قِيَمًا بِلَا أَلِف مَصْدَر قَامَ غَيْر مُعَلّ {وَالشَّهْرَ

الْحَرَامَ} بِمَعْنَى الْأَشْهُرِ الْحُرُمِ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمِ وَرَجَب قِيَامًا لَهُمْ بِأَمْنِهِمْ مِنَ الْقِتَالِ فِيهَا {وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ} قِيَامًا لَهُمْ بِأَمْنِ صَاحِبِهِمَا مِنَ التَّعَرُّضِ لَهُ {ذَٰلِكَ} الْجَعْل الْمَذْكُور {لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ} فَإِنَّ جَعْله ذَلِكَ لِجَلْبِ الْمَصَالِح لَكُمْ وَدَفْع الْمَضَارّ عَنْكُمْ قَبْل وُقُوعهَا دَلِيل عَلَى عِلْمه بِمَا هُوَ فِي الْوُجُود وَمَا هُوَ كَائِن {اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ} لِأَعْدَائِهِ {وَأَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ} لِأَوْلِيَائِهِ {رَحِيمٌ} بِهِمْ {مَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ} لَكُمْ {وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ} تُظْهِرُونَ مِنَ الْعَمَل {وَمَا تَكْتُمُونَ} تُخْفُونَ مِنْهُ فَيُجَازِيكُمْ بِهِ {قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ} الْحَرَام {وَالطَّيِّبُ} الْحَلَال {وَلَوْ أَعْجَبَكَ} أَيْ سَرَّك {كَثْرَةُ الْخَبِيثِ فَاتَّقُوا اللَّهَ} فِي تَرْكه {يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تفلحون} تفوزون

ترجمه: اې ايمان والو الله تعالى به ستاسو په يو څيز باندې خامخا ازميښت کوي کوم چې به هغه ستاسو دَ پاره رالېږي او هغه وړوکې ښکار دې کوم ته به ستاسو رسيدل کيږي او په هغې کښې لوئي (ښکار) به ستاسو دَ نيزو په نښه په وي او داسې دَحديبيه په مقام باندې اوشوه، حال دا چې هغوي په حالت دَاحرام کښې وو. ځنګلي ځناور او مرغئي به دَهغوي خيمو ته ډيرې زياتې راتلې دې دَپاره چې الله تعالى دَعلم ظهور په اعتبار سره دا اوګوري چې څوک دَ ده نه په غائبانه توګه باندې ويريږي. (بالغيب) د يخافه دَضميرنه حال دې چې هغه دَ الله تعالى نه بغير دَ کتلو غائبانه ويريږي. دَ کوم په وجه چې هغه دَ ښکارنه ځان ساتي. بيا چا چې دَدې (يعني) ښکار دَ ممانعت نه پس دَ حد نه تجاوز اوکړو او ښکار ئې اوکړو نو دَهغه دَپاره دردناک عذاب دې. اې ايمان والو دَ حج يا عمرې دَپاره په حالت د احرام کښې ښکار مه کوئ او که تاسو کښې چا ښه په قصد سره ښکار اوکړو نو په هغه باندې دَ ښکار کړې شوې ځناور په شان جزاء ده. جَزَآءٌ په تنوين سره او دَدې نه پس (يعني قتل) په رفع سره دې يعني په هغه باندې جزاء ده (او) هغه جزاء دَ قتل شوې ځناور په شان ده يعني چې په خلقت کښې دهغې په شان وي. او په يو قراءت کښې دَ جَزَآءُ دَ مثلُ طرف ته په اضافت سره دې. دَدغه مثل فيصله دې تاسو نه دوه عادلان سړي اوکړي څوک چې پوهه (تجربه) لري چې دهغې په ذريعه دَ مشابه بالصيد کيدو تميز اوکړې شي. او ابن عباس او علي رضي الله عنهما په شترمرغ کښې د بدنه حکم ورکړې دې او ابن عباس او ابو عبيد رضي الله عنهما ځنګلي غوا او حمار وحشي کښې دَ غوا حکم ورکړې دې او ابن عمر او ابن عوف رضي الله عنهما دَ هوسئ په بدله کښې دَ چيلئ حکم ورکړې دې. او ابن عمر رضي الله عنهما وغيره دَ کونترې په بدله کښې دَ چيلئ حکم ورکړې دې ځکه چې کونتره او به راښکلو سره په نه څکلو کښې دَ چيلئ په شان ده. حال دا چې هغه جزاء هدې ده. هَدْيًا دَ جزاء نه حال دې چې هغه دې حرم ته اورسولې شي دې دَپاره چې په حرم کښې ذبح کړې شي او دَ حرم په مسکينانو باندې صدقه کړې شي او چرته چې غوارې هلته ذبح کول جائز نه دي او (بالغ

الكعبة) نصب خپل ماقبل (هدیًا) صفت کیدو دَ وجې نه دې سره دَدې چې (بالغ الكعبة) کښې اضافت دې. ځکه چې دا اضافت لفظیه دې کوم چې دَ تعریف فائده نه ورکوی اوکه دَ ښکار په ځناورو (ځاروو) کښې مثل نه وی مثلاً چرچڼړه، ملخ نو (په ښکارکونکی باندې) به دَ هغې قیمت واجب وی یا په هغه باندې کفاره ده نه چې جزاء، سره دَدې چې دَ هغې جزاء موجود وی اوهغه کفاره دَ مسکینانو خوراک دې. دَ ښارغالب خوراك کوم چې دَ جزاء(دَ قیمت) برابروی هرمسکین ته یومد او په یوقراءت کښې کَفَّارَةُ دَدې دَ مابعد طرف ته په اضافت سره اودا اضافت به بیانیه وی. یادَدې دَپاسه دَ دغه طعام برابر روژې دی دَهرمد په عوض کښې یوه روژه سره دَدې چې غله موجود وی دا په ده واجب دی دې دَپاره چې دغه سړې دَخپل فعل جزاء (مزه) اوڅکی. دَ ښکاردَ قتل دَحرمت نه وړاندې چې دَ ښکارکوم قتل صادرشوې دې الله تعالی هغه معاف کړو اوچاچې الله تعالی سره عداوت اوساتلو الله تعالی به دَهغه نه انتقام واخلی. الله تعالی په خپل امرکښې غالب اوخپله نافرمانی کونکونه دَ انتقام اخستونکې دې. دَ ښکار وژلو په مذکوره حکم کښې د خطأ وژلو حکم شامل کړې شوې دې. اې خلقو ستاسو دَ پاره دَ سمندر ښکار یعنی دَ هغې خوراک حلال کړې شوې دې که تاسو محرم ئې اوکه غیرمحرم او سمندری ځناورهغه دې چې هم په دریاب کښې اوسیږی مثلاً کب په خلاف دَ هغې چې په اوچې اودریاب دواړوځایونوکښې اوسیږی مثلاً کیکړا (د اوبو یوچینجې چې د لړم په شانوی) اودَ دریاب خوراک یعنی مرداره حلال کړې شوې ده او (دَ دریاب خوراك) هغه دې کوم چې دریاب مړکړی او غاړې ته ئې اوغورزوی ستاسو دَفائدې دَپاره چې تاسو هغه اوخورئې او په تاسوکښې دَمسافرودَپاره چې هغوی دادَ لارې توښه جوړه کړی اوستاسو دَ پاره دَ اوچې دَ ځناورو ښکارکول حرام کړې شوی دی اودَ (اوچې ښکار)غیرمانوس مأکول(حلال) ځناوردی ترکومې چې تاسود احرام په حالت کښې ئې نوکه دَهغې ښکار غیرمحرم اوکړو نودَ محرم دَپاره دَ هغې خوړل جائز دی. لکه چې سنت (حدیث) بیان کړې دې اودَهغه الله تعالی نه ویرېږئې دَچاپه مخکښې چې به تاسو ټول راجمع کولې شئ. او الله تعالی کعبه (یعنی) بیت محترم دَخلقو دَحالاتو صحیح کولوذریعه جوړه کړې ده. چې دَدې په وجه خپله دینی معامله دَ حج په ذریعه صحیح کوی اوخپل دنیاوی معاملات په حرم کښې داخلیدونکی دَامن سره داخلیدو په وجه اوده ته دچادځه قسم تعرض نه کولودَ وجې صحیح کوی اودَ هرڅیز پیداوار هم ددې (کعبې) طرف ته راښکلې شی او په یوقراءت کښې قِيَمًا بغیردَ الف دَ قام مصدردې دَدې عین کلمه معتل ده او اَلشَّهْرَ الْحَرَامَ د الأَشْهُرُ الْحُرُمُ په معنی کښې دې. (اوهغه) ذوالقعده، ذوالحجه او محرم او رجب دی. په دوئ میاشتوکښې دَدې د قتال نه مامون اوسیدو دَوجې(دې میاشتوته أشهر الحرم وئیلی شی) او

دَ قربانئی (ځناور) اوهغه ځناور هم دَ کوم په غاړه کښې چې پټئ وی ددوئ د حالاتو صحیح کولو ذریعه ئی جوړه کړې ده. دَ مذکوره دواړو د مالکانو دَ تعرض نه د مامون پاتې کیدو دَ وجې دا فعل مذکوردَدې دَپاره دې چې تاسو دَدې خبرې یقین اوکړئ چې په آسمان اوزمکه کښې څه هم دی الله تعالی دغه ټولو باندې پوهیږی. بلاشبه دغه جعل مذکور ستاسو دَ مصلحت دَ حصول یا تاسو نه دَضرر لرې کولو دَپاره دَدې دَ واقع کیدو نه وړاندې کول دادلیل دې. دَ موجوده څیزونو او آئنده څیزونونه دالله تعالی په واقف کیدو باندې ښه ځان پوهه کړئ چې الله تعالی خپل دښمن ته سخت عذاب ورکونکې دې اوالله تعالی خپل دوستانو لره معاف کونکې دې او په هغوی باندې رحم کونکې دې اودَ رسول ذمه واری تاسو ته پیغام ورکول دی او بس او هغه ذات هغه عمل ښه پیژنی کوم چې تاسو په ظاهره باندې کوئ او کوم چې تاسو په پټه باندې کوئ نو هغه به تاسو ته په دې باندې بدله درکړی. تاسو اوواییٔ چې حلال اوحرام برابر کیدې نه شی سره دَدې چې دَحرامو کثرت تا په تعجب کښې واچوی. نو اې دَعقل خاوندانو دَدې دَ پریخودو په باره کښې دَالله تعالی نه ویریږئ دې دَپاره چې تاسو خلاصې بیامومئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: حالٌ، بالغیب د مَنْ موصول نه حال دې نه چې د یخافه دَ ضمیرنه ګنی دَالله تعالی غائب کیدل به لازم شی. غائبًا سره یئ هم دې ته اشاره کړې ده او بالغیب د غائبًا په معنی کښې دې لَمْ یَرَهٗ د بالغیب تفسیر دې.

قوله: فَعَلَیْهِ جَزَاءٌ **سوال**: فَعَلَیْهِ دَ اضافې څه فائده ده؟

جواب: دَدې اضافې مقصد دَدې سوال جواب ورکول دی چې جزاء همیشه جمله وی حالانکه دلته جمله نه ده؟ دَ جواب حاصل دادې چې جزاء په اصل کښې علیه جزاء ده کوم چې جمله ده.

قوله: یَحْکُمُ بِهٖ ذَوَاعَدْلٍ: **سوال**: ذَوَاعَدْلٍ د یَحْکُمُ فاعل واقع کیږی حالانکه دَ صفت فاعل واقع کیدل صحیح نه دی؟

جواب: دَ یحکم فاعل محذوف دې یعنی رجلان، مفسرعلام رجلان محذوف منلوسره هم دې جواب طرف ته اشاره کړې ده یعنی رجلان ذواعدل، موصوف صفت دَ یحکم فاعل دې.

قوله: وان وجده، اَیْ اَلْجَزَاءَ. په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې اَوْعَلَیْهِ کَفَّارَةٌ کښې اَوْ د تخییر دَپاره دې نه چې دَ ترتیب دَپاره.

قوله: وهی لِلْبَیَانِ، یعنی دکفارة دَ طعام طرف ته دَ اضافت په صورت کښې به اضافت

بيانيه وى لكه چې خاتم فضةٍ كښې اضافت بيانيه دې.

قوله: أَنْ تَأْكُلُوْهُ، د صيد البحر تفسيرپه تأكلوه سره كولو كښې يې اشاره اوكړه چې دَ صيدنه مراد د ښكار ځناور دې چې نه فعل اصطياد، په دې وجه سره لفظ أكل مقدر منل ضروري دى ځكه چې نفس حيوان دَخپل ذات په اعتبارسره دحلت اوحرمت سره نه متصف كيږي بلكه فعل د حلت اوحرمت سره متصف كيږي. هم دَدې وجې نه مفسرعلام لفظ د تاكلوا مقدر منلې دې.

قوله: أَنْ تَصِيْدُوْهُ په دې كښې هم دې خبرې ته اشاره ده چې دَ نفس ښكارد حلت اوحرمت هيڅ مطلب نشته بلكه فعل صيد حرام دې.

قوله: يَقُوْمُ به مفسرعلام د قيامًا تفسيرپه يقوم به سره كولو كښې دَ دې اعتراض جواب وركړو چې د قيامًا حمل په كعبة البيت باندې صحيح نه دې.

قوله: عَيْنُه مُعْتَلٌ قِيَامًا په اصل كښې قوامًا وو. واؤ دَ كسرې نه پس واقع كيدو دَوجې نه په ياء سره بدل شو.

قوله: الاَشْهُرَ الْحُرُمَ، د والشهر الحرام تفسيرپه الاشهر الحرم سره كولوكښې اشاره ده چې الشهر الحرام كښې الف لام دَ جنس دې.

[اياتونه: ۱۰۱-۱۰۷]

وَنَزَلَ لَمَّا أَكْثَرُوا سُؤَاله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم {يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ} تُظْهَر {لَكُمْ تَسُؤْكُمْ} لِمَا فِيهَا مِنَ الْمَشَقَّة {وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ} فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {تُبْدَ لَكُمْ} الْمَعْنَى إِذَا سَأَلْتُمْ عَنْ أَشْيَاء فِي زَمَنِه يَنْزِل الْقُرْآن بِإِبْدَائِهَا وَمَتَى أَبْدَاهَا سَاءَتْكُمْ فَلَا تَسْأَلُوا عَنْهَا قَدْ {عَفَا اللهُ عَنْهَا} عن مسائلكم فلا تعودوا {واللهُ غفورٌ حليمٌ} {قَدْ سَأَلَهَا} أَيِ الْأَشْيَاء {قَوْمٌ مِنْ قَبْلِكُمْ} أَنْبِيَاءَهُمْ فَأُجِيبُوا بِبَيَانِ أَحْكَامِهَا {ثُمَّ أَصْبَحُوا} صَارُوا {بِهَا كَافِرِينَ} بِتَرْكِهِمُ الْعَمَل بِهَا {مَا جَعَلَ} شَرَعَ {اللهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ} كَمَا كَانَ أَهْل الْجَاهِلِيَّة يَفْعَلُونَهُ رَوَى الْبُخَارِيّ عَنْ سَعِيد بن المسيب قال البحيرة التي يمنع دَرّهَا لِلطَّوَاغِيتِ فَلَا يَحْلُبهَا أَحَد مِنَ النَّاس وَالسَّائِبَة الَّتِي كَانُوا يُسَيِّبُونَهَا لِآلِهَتِهِمْ فَلَا يُحْمَل عَلَيْهَا شَيْء وَالْوَصِيلَة النَّاقَة الْبِكْر تُبَكِّر فِي أَوَّل نِتَاج الْإِبِل بِأُنْثَى ثُمَّ تُثَنِّي بَعْد بِأُنْثَى وَكَانُوا يُسَيِّبُونَهَا لِطَوَاغِيتِهِمْ إِنْ وَصَلَتْ إِحْدَاهُمَا بِأُخْرَى لَيْسَ بَيْنَهُمَا ذَكَر وَالْحَام فَحْل الْإِبِل يَضْرِب الضِّرَاب الْمَعْدُودَة فَإِذَا قَضَى ضِرَابه وَدَعُوهُ لِلطَّوَاغِيتِ وَأَعْفَوْهُ مِنْ أَنْ يُحْمَل عَلَيْهِ شَيْء وَسَمَّوْهُ الْحَامِي {وَلٰكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ} فِي ذٰلِكَ وَفِي نِسْبَته إِلَيْهِ وَأَكْثَرهمْ لَا يَعْقِلُونَ أَنَّ ذٰلِكَ افْتِرَاء لِأَنَّهُمْ قَلَّدُوا فِيهِ آبَاءَهُمْ {وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنْزَلَ اللهُ وَإِلَى الرَّسُولِ} أَيْ إِلَى حُكْمه مِنْ تَحْلِيل مَا حَرَّمْتُمْ {قَالُوا حَسْبُنَا} كَافِينَا {مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا} من الدين والشريعة قال تعالى {أَ} حسبهم

ذلك {ولوكان آباؤهم لا يعلمون شيئا ولا يهتدون} إلى الحق والاستفهام للإنكار {يأيها الذين آمنوا عليكم أنفسكم} أي احفظوها وقوموا بصلاحها {لا يضركم من ضل إذا اهتديتم} قيل المراد لا يضركم من ضل من أهل الكتاب وقيل المراد غيرهم لحديث أبي ثعلبة الخشني سألت عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال ائتمروا بالمعروف وتناهوا عن المنكر حتى إذا رأيت شحا مطاعا وهوى متبعا ودنيا مؤثرة وإعجاب كل ذي رأي برأيه فعليك نفسك رواه الحاكم وغيره {إلى الله مرجعكم جميعا فينبئكم بما كنتم تعملون} فيجازيكم به {يأيها الذين آمنوا شهادة بينكم إذا حضر أحدكم الموت} أي أسبابه {حين الوصية اثنان ذوا عدل منكم} خبر بمعنى الأمر أي ليشهد وإضافة شهادة لبين على الاتساع وحين بدل من إذا أو ظرف لحضر {أو آخران من غيركم} أي غير ملتكم {إن أنتم ضربتم} سافرتم {في الأرض فأصابتكم مصيبة الموت تحبسونهما} توقفونهما صفة آخران {من بعد الصلاة} أي صلاة العصر {فيقسمان} يحلفان {بالله إن ارتبتم} شككتم فيها ويقولان {لا نشتري به} بالله {ثمنا} عوضا نأخذه بدله من الدنيا بأن نحلف به أو نشهد كذبا لأجله {ولو كان} المقسم له أو المشهود له {ذا قربى} قرابة منا {ولا نكتم شهادة الله} التي أمرنا بها {إنا إذا} إن كتمناها {لمن الآثمين} {فإن عثر} أطلع بعد حلفهما {على أنهما استحقا إثما} أي فعلا ما يوجبه من خيانة أو كذب في الشهادة بأن وجد عندهما مثلا ما اتهما به وادعيا أنهما ابتاعاه من الميت أو وصى لهما به {فآخران يقومان مقامهما} في توجه اليمين عليهما {من الذين استحق عليهم} الوصية وهم الورثة ويبدل من آخران {الأوليان} بالميت أي الأقربان إليه وفي قراءة الأولين جمع أول صفة أو بدل من الذين {فيقسمان بالله} على خيانة الشاهدين ويقولان {لشهادتنا} يميننا {أحق} أصدق {من شهادتهما} يمينهما {وما اعتدينا} تجاوزنا الحق في اليمين {إنا إذا لمن الظالمين}

ترجمه: چې خلقو كوم وخت د حضورپاك نه په كثرت سره سوالونه كول شروع كړه نودا آيت نازل شو. اې د ايمان والو د داسې (فضول) خبرو سوال مه كوئى چې كه په تاسو باندې ښكاره كړې شى نو ستاسو ناخوښوى څكه چې په هغې كښې سختى وى اوكه چرې تاسو د نزول قرآن په وخت يعنى د رسول الله ﷺ د ژوند په زمانه كښې د دغه خبرو تپوس كوئى نو تاسو ته به جواب دركولې شى مطلب دا چې كله تاسو د حضورپاك د ژوند په زمانه كښې د دغه څيزونو باره كښې سوال كوئى نو قرآن به (د هغې جواب) ښكاره كولو باره كښې نازليږى اوكله چې قرآن د دغه څيزونو جواب ښكاره كړى نو ستاسو به خوښ نه وى. نو د داسې څيزونو باره كښې پوښتنه مه كوئى. الله تعالى ستاسو (په ماضى كښې) سوال كول معاف كړل بيا داسې حركت مه كوئى الله تعالى ډيرمعاف كونكې او ډير صبركونكې دې. داسې خبرې تاسو نه وړاندې قومونو د خپل انبياء كرامو نه تپوس كړې وې د هغوى احكام بيانولو سره د هغې جواب وركړې شو. بيا په هغه احكامو ترك عمل كولو سره د دغه احكامو منكر شو. الله

تعالی نه بحیره مشروع کړې ده او نه سائبه او نه وصیله او نه حام لکه چې څنګه به اهل جاهلیت کول. امام بخاری رحمه الله د سعید بن مسیب نه روایت کړې دې چې بحیره هغه ځناورته وائی د کومو پئی لوشل چې به د بتانو په نوم باندې پریخودلې کیدل. هیڅ یو کس به د هغې نه پئی نه لوشل. او سائبه هغه ځناور ته وائی کوم چې به هغوی د خپلو معبودانو په نوم باندې آزاد پریخودل نو هغه به د بوج اوړلو په کارنه شو راوستلې. او وصیله به ئی هغه خوانې اوښې ته وئیل چې په رومبی ځل به ئی ښځه بچې راوړو او بیابه ئی په دویم ځل هم ښځه بچې راوړو چې د هغې په مینځ کښې به نربچې نه وو او حام هغه اوښ چې لس ځل جفتی اوکړی کله چې به هغه د تعداد پوره کړو نو هغه به د بتانو په نوم باندې آزاد پریخودلې شو او په هغې باندې به ئی بوج اوړل پریخودل. په هغه باندې به ئی هیڅ څیز نه بار کولو او دهغه نوم به ئی حام کیخودلو. لیکن (دا) کافر په دې معامله دې طرف ته نسبت کولو کښې الله تعالی باندې د دروغو تهمتونه لګوی او په هغوی کښې اکثرخلق نه پوهیږی چې دا تهمت دې ځکه چې هغوی په دې معامله کښې د خپلو پلارانو تقلید کوی اوکله چې هغوی ته وئیلې شی چې هغه طرف ته راشئ کوم چې الله تعالی نازل کړی دی او د رسول طرف ته راشئ یعنی د هغه د حکم طرف ته کوم څه چې تاسو حرام کړی دی هغه حلالول دی نو وائی چې په کوم دین او شریعت باندې مونږ خپل پلاران او نیکونه موندلی دی هغه زمونږ د پاره کافی دې. الله تعالی اوفرمائیل آیا دابه د هغوی د پاره کافی شی سره د دې چې د هغوی پلارانو هیڅ نه پیژنی؟ او د حق لارې طرف ته هدایت بیاموندونکی نه وی. استفهام د انکار د پاره دې. اې ایمان والو تاسو خپل فکرکوئی یعنی خپل حفاظت کوئی او د دې د اصلاح د پاره تکړه شئ د چاګمراهی تاسو هیڅ نقصان نشی رسولې که چرې تاسو پخپله په نیغه لاریئ وئیلې شوی دی چې مراد اهل کتاب دی او وئیلی شوی دی چې مراد غیراهل کتاب دی. د ابوثعلبه خشنی رضی الله عنه د حدیث د وجې نه (ابوثعلبه رضی الله عنه فرمائی) چې ما د مذکوره آیت باره کښې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوکړه نو حضورپاک ﷺ اوفرمائیل د ښې خبرې حکم کوه او د خرابې خبرې نه منع کوه او کله چې ته اوګورې چې د بخل تابعداری کولې شی او د خواهشاتو اتباع کولې شی او دنیا ته (په دین) باندې ترجیح ورکولې شی او هرسړې په خپله رائې کښې مست دې نو ته خپل فکرکوه (دا حاکم رحمه الله وغیره نقل کړې دې) ستاسو ټولو الله تعالی ته واپس کیدل دی نو هغه به تاسو ته هرهغه څه اوښائی څه چې تاسو کول چې هغه به د دغې جزاء درکړی. اې ایمان والو کله چې په تاسو کښې چاته مرګ راشی یعنی د دې اسباب ښکاره شی او د وصیت کولو وخت وی نو د هغې د پاره د شهادت (نصاب) دادې چې ستاسو په دله کښې دې دوه کسان عادلان سړی ګواهان جوړشی خبر په معنی د امردې یعنی هغوی له ګواهی ورکول پکاردی او د شهادة اضافت د بین طرف ته د وسعت په

وجه دې او حین دَ إِذَا نه بدل دې یا دَ حَضَرَ ظرف دې اوکه دَ سفرپه دوران کښې تاسو له دَ مرګ مصیبت راشي نو ستاسو د غیر یعني دَ غیرمسلمونه دې دوه ګواهان واغستلې شي که چرې تاسو (اې وارثانو) دَ دغه دواړو په باره کښې په شک کښې پریوځې نودا دواړه دَ مازیګر دَ مونځ نه پس ایسار کړئ (تحبسونهما) دآخران دَ ان صفت دې نوهغوی دې په الله تعالی باندې قسم اوخوری اودې وائی چې مونږ دَالله تعالی دَ قسم غوض نه غواړو چې دَدې په بدله کښې دنیاوی عوض واخلو چې مونږ دَدنیادَپاره قسم اوخورو یادَدې دَ پاره چې دَ دروغو ګواهی ورکړو. اګرچې دَ چادَ فائدې دَپاره چې قسم خوړلې شی یا دَچا دَ فائدې دَپاره چې ګواهی ورکولې شی زمونږ خپلوان دې ولې نه وی اونه به مونږ دَالله تعالی ګواهی پټه کړو دَ کوم دَاداکولو چې مونږ ته حکم راکړې شوې دې که مونږ پټه کړه نو مونږ به په ګناهګارانو کښې شمیرشو. نوکه دوئ قسم خوړلونه پس (په څه طریقه) دا پته اولګی چې هغه دواړه دګناه مستحق شوی دی یعني هغوی دَ یوداسې فعل ارتکاب کړې وی چې خیانت یا کذب فی الشهادتین واجب کړی په داسې توګه چې مثلاً هغه څیزدَ کوم باره کښې چې په هغوی باندې تهمت لګولې شوې دې هغه دَهغوی سره راوڅی او هغوی دا دعویٰ کړی وی چې هغوی دَمړی نه دغه څیز اخستې دې یا مړی دَهغوی دَپاره دَدې وصیت کړې دې نو نور دوه ګواهان چې دَهغوی په ځائی وی قسم دَهغوی طرف ته متوجه کولو کښې دَهغه خلقو دَ طرف نه چې څوک دَ وصیت مستحق ګرځولې شوی دی أولیٰن، دآخران نه بدل دې اوهغه وارثان دی چې دَ مړی اولیاء یعني دَ مړی خپلوان دی او په یوقراءت کښې اَوَّلِیْنَ دَ اول جمع ده دَالذین صفت یا بدل دې نوهغوی دې دَ ګواهانو په خیانت باندې دَالله تعالی قسم اوخوری او اودې وائی چې زمونږ شهادت دَهغوی دَ شهادت نه صحیح دې او مونږ په قسم کښې دَ حق نه تجاوزنه دې کړې، بیشکه مونږ به هغه وخت په ظالمانو کښې شمیرلې کیږو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: أَشْيَاءَ دَ أَشْيَاءُ اصل شَيْئَاءُ وو په وزن دَ فَعْلَاءُ کحمراء، دَ عربو په نیزدَ دوو همزاوُ په مینځ کښې الف ثقیل النطق دې ددې دَ وجې نه رومبې همزه چې لام کلمه ده قلب مکانی کولوسره یئ دَ شین نه مقدم کړه اوس دَدې وزن أشياء په وزن دَ لفعاء شو. اوس داد الف تانیث ممدوده دَ وجې نه غیرمنصرف شو. (اعراب القرآن)

قوله: ان تَسْئَلُوْا عنها حِيْنَ يُنَزَّلُ القرآنُ اَنْ تُبْدَلَكُمْ: ان حرف شرط، تسئلوا فعل شرط، عنها دَ تسئلوا متعلق ها ضمیر ماسبق کښې مذکور اشیاء طرف ته راجع دې. حین ینزل القرآن، دَ تسئلوا ظرف دې او تُبْدَلکم جواب شرط دې.

قوله: اَلْمَعْنٰى إِذَا سَئَلْتُمْ الخ دَمفسرعلام مقصد دَدې عبارت په اضافې سره دا خودل دی چې دلته دوه شرطيه جملې اونهی دی په اصل کښې نهی چې مقدم ده دَ دواړو جملونه روستو پکارده او په دواړو شرطيه جملوکښې رومبې جمله مؤخر او دويمه مقدم کيدل پکاردی، نهی سره دَدې دَ نتيجې دَاهتمام زجر دَ وجې نه مقدم کړې شوه اودا تقديم اوتاخير دَ معنی په اعتبار سره دې ځکه چې واؤ دَ ترتيب تقاضانه کوی.

قوله: إِذَا سَئَلْتُمْ عَنْ أَشْيَاءَ، داد جمله ثانيه معنی ده اومتیٰ أبداها سالتكم دا دَ جملهٔ اولی معنی ده.

قوله: فَلَاتَسْئَلُوا عَنْهَا دا معنٰی نهی ده.

قوله: إذاسئلتم عَنْ أَشْيَاءَ شرط دې، يُنَزَّلُ القرآنَ عن ابدائها دَدې جزا ده.

قوله: عن مَسْئَلَتِكُمْ په دې کښې اشاره ده چه دَ عنها ضمير مسئلة طرف ته واپس کيږی کوم چې دَ يسئلون نه مفهوم دې.

قوله: شَرَعَ،دَ جَعَلَ تفسير په شرع سره يې اشاره اوکړه چې جَعَلَ دشَرَعَ معنې ده متضمن کيدو دَ وجې متعدی په يومفعول دې او هغه بحيرة دې من زائده دې.

قوله: بَحِيْرَةٌ، دَباء فتحه اود حاء کسره په وزن دَ فعيلة په معنی دمفعولة دَدې په آخره کښې تاء په غيرقياسی توګه لاحق شوې ده داځکه چې دا دَ وصفيت نه اسميت طرف ته منتقل کړې ده دَ کوم دَ وجې نه چې په منزله دَجامدشو. دَ بحيره په تعريف کښې دَعلماؤ ډير اختلاف دې. دَ دغه ټولونه يوقول دادې کوم چې قوی دې. کومه اوښه چې پنځه ځل بچې راوړی او پنځه واړه نران وی نودَهغې غوږ به يې اوځيرلو او دَ بتانو په نوم به ئې آزاده پريخودله او په هغې باندې بوج اوړل او سورلی کول به يې حرام ګنړل، اوهيڅ يوکس به هغه دَ وابنو او اوبونه نه منع کوله. (اعراب القرآن للدرويش)

قوله: سَائِبَة، دا سابَ يسيبُ نه اسم فاعل دې آزادول، دَدې به دا صورت وو چې دَ جاهليت په زمانه کښې به داسې نذر منلې شومثلاً که زه دَ سفرنه صحيح سلامت واپس راغلم يا زه دَ بيمارئی نه روغ شوم نوزما اوښه آزاده ده په دې طريقه پريخودې شوې اوښې ته به ئې سائبه وئيل. (اعراب القرآن ايضاً)

قوله: الباکر په فتح دَ باء اوکاف ځوانه اوښه تبكر في اول نتاج الإبل بالأنثی أي تلد في اول مرة بالانثی هغه ځوانه اوښه کومې چې رومبې بچې ښځه راوړې وی.

قوله: وَصِيْلَة، هغه ځوانه اوښه چې په رومبی ځل ئې ماده بچې پيداشوې وی او په دويم ځل

هم ښځه راوړي چې مسلسل ښځه بچی راوړي په دې وجه دغه اوښې ته وصيله وائی داسې اوښه به عربو د بتانو په نوم آزاده پریخودله او د هغې نه به ئی د هيڅ قسم خدمت نه اخستلو.

قوله: حام، حمی يحمی حَمْيًا وحِمَايَةً په معنیٰ ايساريدو، اسم فاعل إِذَا مُيِّمَ بعض حضراتو وئيلی دی چې حام هغه اوښ د کوم نه چې لس بچی پيدا شوې وی نولکه چې د هغه شا د بوج اوړلو او سورلئ نه محفوظ شوه أي لا يركب ولا يحمل ولا يمنع من ماء ولا مرعى.

قوله: وإضَافَةُ شَهَادَةِ بَيْنِ على الاتِّسَاع يعنی ظرف د فاعل قائمقام اتساعا کړې شوې دې لهذا دا اعتراض ختم شو چې مصدر فاعل يا مفعول طرف ته مضاف کيږي.

ایاتونه:۱۰۸]

الْمَعْنَى لِيُشْهِد الْمُحْتَضِر عَلَى وَصِيَّته اثْنَيْنِ أَوْ يُوصِي إِلَيْهِمَا مِنْ أَهْل دِينه أَوْ غَيْرهمْ إِنْ فَقَدَهُمْ لِسَفَرٍ وَنَحْوه فَإِنْ ارْتَابَ الْوَرَثَة فِيهِمَا فَادَّعَوْا أَنَّهُمَا خَانَا بِأَخْذِ شَيْء أَوْ دَفْعه إِلَى شَخْص زَعَمَا أَنَّ الْمَيِّت أَوْصَى لَهُ بِهِ فَلْيَحْلِفَا إِلَى آخِره فَإِنْ اطَّلَعَ عَلَى أَمَارَة تَكْذِيبهمَا فَادَّعَيَا دَافِعًا لَهُ حَلَفَ أَقْرَب الْوَرَثَة عَلَى كَذِبهمَا وَصِدْق مَا ادَّعَوْهُ وَالْحُكْم ثَابِت فِي الْوَصِيَّيْنِ مَنْسُوخ فِي الشَّاهِدَيْنِ وَكَذَا شَهَادَة غَيْر أَهْل الْمِلَّة مَنْسُوخَة وَاعْتِبَار صَلَاة الْعَصْر لِلتَّغْلِيظِ وَتَخْصِيص الْحَلِف فِي الْآيَة بِاثْنَيْنِ مِنْ أَقْرَب الْوَرَثَة لِخُصُوصِ الْوَاقِعَة الَّتِي نَزَلَتْ لَهَا وَهِيَ مَا رَوَاهُ الْبُخَارِيّ أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِي سَهْم خَرَجَ مَعَ تَمِيم الدَّارِيّ وَعَدِيّ بْن بَدَّاء أَيْ وَهُمَا نَصْرَانِيَّانِ فَمَاتَ السَّهْمِيّ بِأَرْضٍ لَيْسَ فِيهَا مُسْلِم فَلَمَّا قَدِمَا بِتَرِكَتِهِ فَقَدُوا جَامًا مِنْ فِضَّة مُخَوَّصًا بِالذَّهَبِ فَرُفِعَا إِلَى النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ فَأَحْلَفَهُمَا ثُمَّ وُجِدَ الْجَام بِمَكَّة فَقَالُوا ابْتَعْنَاهُ مِنْ تَمِيم وَعَدِيّ فَنَزَلَتْ الْآيَة الثَّانِيَة فَقَامَ رَجُلَانِ مِنْ أَوْلِيَاء السَّهْمِيّ فَحَلَفَا وَفِي رِوَايَة التِّرْمِذِيّ فَقَامَ عَمْرو بْن الْعَاصِ وَرَجُل آخَر مِنْهُمْ فَحَلَفَا وَكَانَ أَقْرَب إِلَيْهِ وَفِي رِوَايَة فَمَرِضَ فَأَوْصَى إِلَيْهِمَا وَأَمَرَهُمَا أَنْ يُبَلِّغَا مَا تَرَكَ أَهْله فَلَمَّا مَاتَ أَخَذَا الْجَام وَدَفَعَا إِلَى أَهْله مَا بَقِيَ {ذَٰلِكَ} الْحُكْم الْمَذْكُور مِنْ رَدّ الْيَمِين عَلَى الْوَرَثَة {أَدْنَىٰ} أَقْرَب إِلَى {أَن يَأْتُوا} أَيْ الشُّهُود أَوْ الْأَوْصِيَاء {بِالشَّهَادَةِ عَلَىٰ وَجْهِهَا} الَّذِي تَحَمَّلُوهَا عَلَيْهِ مِنْ غَيْر تَحْرِيف وَلَا خِيَانَة {أَوْ} أَقْرَب إِلَى أَنْ {يَخَافُوا أَن تُرَدَّ أَيْمَانٌ بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ} عَلَى الْوَرَثَة الْمُدَّعِينَ فَيَحْلِفُونَ عَلَى خِيَانَتهمْ وَكَذِبهمْ فَيَفْتَضِحُونَ وَيَغْرَمُونَ فَلَا يَكْذِبُوا {وَاتَّقُوا اللَّهَ} بِتَرْكِ الْخِيَانَة وَالْكَذِب {وَاسْمَعُوا} مَا تُؤْمَرُونَ بِهِ سَمَاع قَبُول {وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ} الْخَارِجِينَ عَنْ طَاعَته إِلَى سَبِيل الْخَيْر

ترجمه: (د مذکوره دواړو آياتونو) مطلب دادې چې مرګ ته نيزدې سړې دې په خپل وصيت باندې دوه سړی ګواه جوړ کړی د خپل ملت يا د غير ملت دوه سړی دې وصی جوړ کړی که د سفر وغيره د وجې نه د خپل ملت ګواه نه وی او که وارثان د وصيانو په باره کښې څه شك شبه اوکړی اودعوىٰ اوکړی چې دې دواړو د ترکې نه) څه څيز اخستې دې يائی داسې سړی له څه ورکړی دی د چا باره کښې چې دوی دعوىٰ کوی چې مړی د ده د پاره وصيت کړې وو نو د دغه دواړو نه دې قسم واخستلی شي که د علاماتونه د دغه دواړو

وصيانو دَ دروغوځه پته اولګي په داسې توګه چې هغه دواړه موصىٰ له ته د ورکولودعوى اوکړى نودَ وارثانو نيزدې سړې دې دَهغوى په کذب اودَ ورثاؤ دَدعوىٰ په صداقت باندې قسم اوخورى او حکم دَ وصيانو په سرو باره کښې باقى دې اودَ شاهدينو باره کښې منسوخ دې. دغه شان دَ غيراهل ملت دَ شهادت باره کښې آيت منسوخ دې. اودَ مازيګردَ مانځه دَ وخت تعين دَ تغليظ دَپاره دې او (دَ مړى) د نيزدې ورثاؤ تخصيص دَ هغه مخصوص واقعې دَ وجې نه دې دَ کوم باره کښې چې آيت نازل شو اودغه (واقعه) هغه ده کومه چې بخارى روايت کړې ده. چې دَ بنى سهم يوسړې د تميم دارى او عدى بن بداء سره (دَتجارت دَپاره) اووتلو اودا دواړه نصرانى وو. دَ سهمى انتقال په داسې زمکه کښې اوشو چې هلته څوك مسلمان نه وو نو (مذکوره) آيت نازل شو. کله چې دې دواړو حضراتو (دَملك شام نه) دَ مرحوم ترکه راوړه او راغلل نودَ چاندئى يوه پيالئ په کومه چې دَ سرو زرو نقش اونګاروو، دوئ واخستله. دا دواړه (تميم دارى اوعدى)دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش کړې شو نوهغه وخت مذکوره آيت نازل شو. دې دواړو نه قسم واخستې شو روستوهغه پيالئ په مکه کښې اوليدلې شوه. نوهغه سړى (چاسره چې پيالئ وه) اووئيل چې ما دا دَ تميم دارى او عدى نه اخستې ده. نو مذکوره آيت نازل شو. دَ سهمى دَ اولياؤ نه دوه کسان اودريدل اوقسم ئى اوخوړلو (چې دا پيالئ زمونږ دَ مورث ده) اودَ ترمذى په يوروايت کښې دى چې عمرو بن عاص اوهم دَدوى نه يوبل سړې اودريدو او دواړو قسم اوخوړلو اودا دواړه دَ مړى نيزدې خپلوان وو (دَ ترمذى) يو (روايت) کښې دى چې کله سهمى بيمارشو نو دواړه يئ وصى جوړکړل اوهغوى ته ئى اووئيل چې متروکه مال دَهغه وارثانوته اورسوئى کله چې دَ هغه انتقال اوشو(دَ مړى متروکه مال نه) يوه پيالئ واخستله اوباقى مال ئى دَ مړى وارثانوته اورسولو. دامذکوره حکم يعنى دَ قسم حق وارثانوته واپس کول دَدې خبرې نيزدې ذريعه ده چې شاهد يا اوصياء به دا شهادت دَ کوم چې دوى متحمل شوى هغوئ به صفاصفا بغيردَ څه تحريف اوخيانت نه اداکړى يادې خبرې ته ډيره نيزدې ده هغه دې دَدې خبرې خوف اوکړئ چې چرته (دَهغوى) دَقسمونو کوم چې د مدعى دَ واريانو خلاف دى ترديد اونه کړې شى په داسې توګه ورثاء (دَ اوصياء) په دروغ وئيلو او خيانت باندې قسم اوخورى دَ کوم په وجه چې به هغوى رسوا شى او تاوان به ورکول وى نوهغوى به دروغ نه وائى اوخيانت اوکذب پرېخودو سره دَ الله تعالى نه اوويرېږى اود څه حکم چې ورکړې شى هغه دَ قبلولوپه غوږ سره واوُرى الله تعالى دَ فاسقانو خلقو يعنى دَهغه دَ طاعت نه دَ خارجيدونکو د خير طرف ته لارخودنه نه کوى.

....

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: المعنی یعنی دَ مذکوره دواړو آخری آیاتونو معنی.

قوله: لِيُشْهِدِ المحتضَرالخ په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ مصدر په معنی دَ امر دې یعنی مرګ ته نیزدې سړی له پکاردی چې په خپل وصیت باندې دوه سړی ګواهان جوړ کړی.

قوله: أويُوصِي إِلَيْهِمَا، په دې اضافې سره اشاره بیئ اوکړه چې دَ آیت دوه تفسیرونه دی دَ خازن عبارت دادې، واختلفوا في هذين الاثنين فقيل هما الشاهدان اللذان يشهدان على وصية الوصي وقيل هما وصيان لأنّ الآية نزلت فيهما ولأ نه تعالى قال فيقسمان بالله والشاهد لايلزمه اليمين، مطلب دا چې دَ شهادة اثنين نه څه مراد دې؟ بعض حضراتو وئیلی دی چې دَ اثنان نه هغه دوه شاهدان مراد دی کوم چې موصی دَ مرګ په وخت په وصیت باندې ګواه جوړ کړی وی، اوبعض حضراتو وئیلی دی چې پخپله وصیان مراد دی ځکه چې مذکوره واقعه هم اوصیاء سره متعلق ده. دویمه خبره دا چې په ګواهانو باندې قسم لازم نه شو بل صورت کښې به شهادت په معنی دَحضوربه وی مثلاً ته اووائی شهدت وَصِيَّةَ فلانٍ په معنی د حضرتها.

[ایاتونه:۱۰۹-۱۱۵]

اذكر {يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ} هُوَ يَوْم الْقِيَامَة {فَيَقُولُ} لَهُمْ تَوْبِيخًا لِقَوْمِهِمْ {مَاذَا} أَيْ الَّذِي {أُجِبْتُمْ} بِهِ حِين دَعَوْتُمْ إلَى التَّوْحِيد {قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا} بِذَلِكَ {إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ} مَا غَابَ عَنْ الْعِبَاد وَذَهَبَ عَنْهُمْ عِلْمه لِشِدَّةِ هَوْل يَوْم الْقِيَامَة وَفَزَعهمْ ثُمَّ يَشْهَدُونَ عَلَى أُمَمهمْ لَمَّا يَسْكُنُونَ اذكر {إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَى وَالِدَتِكَ} بِشُكْرِهَا {إِذْ أَيَّدْتُكَ} قَوَّيْتُك {بِرُوحِ الْقُدُسِ} جِبْرِيل {تُكَلِّمُ النَّاسَ} حَال مِنْ الْكَاف فِي أَيَّدْتُك {فِي الْمَهْدِ} أَيْ طِفْلًا {وَكَهْلًا} يُفِيد نُزُوله قَبْل السَّاعَة لِأَنَّهُ رُفِعَ قَبْل الْكُهُولَة كَمَا سَبَقَ فِي آل عِمْرَان {وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ} كَصُورَةِ {الطَّيْرِ} وَالْكَاف اسْم بِمَعْنَى مِثْل مَفْعُول {بِإِذْنِي فَتَنْفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي} بِإِرَادَتِي {وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَى} مِنْ قُبُورهمْ أَحْيَاء {بِإِذْنِي وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنْكَ} حِين هَمُّوا بِقَتْلِك {إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ} الْمُعْجِزَات {فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ} مَا {هَذَا} الَّذِي جِئْت بِهِ {إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ} وَفِي قِرَاءَة سَاحِر أَيْ عِيسَى {وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ} أَمَرْتهمْ عَلَى لِسَانه {أَنْ} أَيْ بِأَنْ {آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي} عِيسَى {قَالُوا آمَنَّا} بِهِمَا {وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ} اذكر {إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ} أَيْ يَفْعَل {رَبُّكَ} وَفِي قِرَاءَة بِالْفَوْقَانِيَّةِ وَنَصْب مَا بَعْده أَيْ تَقْدِر أَنْ تَسْأَلهُ {أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ قَالَ} لَهُمْ عِيسَى {اتَّقُوا اللَّهَ} فِي اقْتِرَاح الْآيَات {إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} {قَالُوا نُرِيدُ} سُؤَالهَا مِنْ أَجْل {أَنْ نَأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ} تَسْكُن {قُلُوبُنَا} بِزِيَادَةِ الْيَقِين {وَنَعْلَمَ}

نزداد عِلْمًا {أَنْ} مُخَفَّفَة أيْ أنَّك {قَدْ صدقتنا} في ادعاء النبوة {ونكون عليها من الشاهدين} {قَالَ عيسى بن مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنْزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا} أيْ يَوْم نُزُولهَا {عِيدًا} نُعَظِّمهُ وَنُشَرِّفهُ {لِأَوَّلِنَا} بَدَل مِنْ لَنَا بِإِعَادَةِ الْجَارّ {وَآخِرِنَا} مِمَّنْ يَأْتِي بَعْدنَا {وَآيَةً مِنْكَ} على قدرتك ونبوتي {وارزقنا} إيانا {وأنت خير الرازقين} {قَالَ اللَّهُ} مُسْتَجِيبًا لَهُ {إِنِّي مُنَزِّلُهَا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {عَلَيْكُمْ فَمَنْ يَكْفُرْ بَعْدُ} أيْ بَعْد نُزُولهَا {مِنْكُمْ فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ} فَنَزَلَتْ الْمَلَائِكَة بِهَا مِنْ السَّمَاء عَلَيْهَا سَبْعَة أَرْغِفَة وَسَبْعَة أَحْوَات فَأَكَلُوا منها حتى شبعوا قاله بن عَبَّاس وَفِي حَدِيث أُنْزِلَتْ الْمَائِدَة مِنْ السَّمَاء خُبْزًا وَلَحْمًا فَأُمِرُوا أَنْ لَا يَخُونُوا وَلَا يَدَّخِرُوا لِغَدٍ فَخَانُوا وَادَّخَرُوا فَمُسِخُوا قِرَدَة وَخَنَازِير

ترجمه: یاد کړه هغه ورځ په کومه ورځ چې به الله تعالی ټول رسولان را جمع کړی هغه به دَ قیامت ورځ وی. دَهغوی دَ امتونو رټنه کولو دَپاره به دَهغوی نه پوښتنه اوکړی کله چې تاسو دوی ته دَتوحید دعوت ورکړې وو نوتاسوته دَدوی دَ طرف نه څه جواب ملاوۀشوې وو؟ انبیاء به جواب ورکړی چې مونږ ته دَدې هیڅ خبرنشته هم ته پټې خبرې ښه پیژنې (یعنی) هغه ځیزونه کوم چې دَ بندیګانونه پټ دی دَ قیامت دَ ورځې دَ خطرې او ویرې دَ وجې نه (دَ امتونو دَ جواب) ذهول به اوشی اوکله چې هغوی په آرام شی نودَ خپلو خپلو امتونو خلاف به ګواهی ورکړی. هغه وخت یاد کړه کوم وخت چې به الله تعالی عیسی ابن مریم ته اوفرمائی. اې عیسی ابن مریم ته شکریه سره هغه نعمتونه یادکړه چې ما په تا باندې او ستا په مور باندې کړې وو. کوم وخت چې ما دَ روح القدس حضرت جبرائیل په ذریعه ستا امداد کړې وو تا په زانګو یعنی ماشوموالی کښې دخلقو سره خبرې کولې (تکلم الناس) أيدتكَ دَ کاف ضمیر نه حال دې اوپه لوئی عمر کښې هم، ددې نه دَ حضرت عیسی علیه السلام دَ قیامت نه وړاندې نازلیدل مستفاد کیږی ځکه چې هغه دکهولت دَ عمر نه وړاندې اوچت کړې شوې وو لکه چې په سورت آل عمران کښې تیرشوی دی اوکله چې ما تاته دَکتاب اوحکمت خبرې او تورات او انجیل خودلی وو اوکوم وخت چې به تادَ خاورې نه زما په اجازت باندې د مرغنی شکل جوړولو (کهيئة) کښې کاف اسم دې او مفعول دې په معنی دَ مثل بیا به تا په هغې کښې پوکې وهلو او هغه به زما په ارادې سره مرغئی کیدله یعنی الوتله به او تا به دَ مور نه پیداشوې ړوند او برګی مرض والا زما په اجازت سره ښه کولو اوکوم وخت چې به تا مړی دَقبرونو نه زما په اجازت ژوندی راویستل او ما بنی اسرائیل تا نه منع کړل کله چې هغوی ستا دَ قتل اراده کړې وه. کله چې ته هغوی ته معجزې سره راغلې وې نو په هغوی کښې چې کوم کافر وو هغوی اووئیل دا تا چې څه راوړی دی دا خو ښکاره جادو دې. او په یو قراءت کښې ساحر دې یعنی عیسی علیه السلام او چې کله ما حواریانوته اشاره اوکړه یعنی دَ عیسی علیه السلام په خله نی هغوی ته حکم ورکړو چې په ما او زما په رسول باندې ایمان راوړئی نو هغوی اووئیل چې مونږ په دواړو ایمان راوړې دې. او ته

گواه اوسیږه چې مونږ مسلمانان یو. هغه وخت دَ یادولو قابل دې چې کوم وخت حواریانو اووئیل اې عیسی ابن مریم آیا ستا رب داسې کولې شی چې په مونږ باندې دَآسمان نه یوه خوانچې رانازل کړی او په یو قراءت کښې تَسْتَطِيعُ په تاء سره دې او مابعد یعنی (رَبَّكَ) په نصب سره دې. یعنی آیا ته دَهغه نه (دَ خوانچې) سوال کولې شې. عیسی عليه السلام هغوی ته اووئیل تاسو دَخپلې خوښې معجزې غوښتلو باره کښې دَ الله تعالی نه اووېرېږئ که چرې تاسو (په حقیقت کښې) مؤمنان یئ هغوی اووئیل زمونږ مقصد دَ خوانچې دَ غوښتلونه دادې چې مونږ دَهغې نه اوخورو اودَ یقین په اضافې سره زمونږ زړه مطمئن شی اوزمونږ دا یقین نور هم زیات شی چې تا دَ نبوت په دعوی کښې مونږ ته رښتیا وئیلی دی أن مخففه (عن الثقيلة) دې. اې أَنَّكَ او مونږ په نبوت باندې د گواهی ورکونکو نه شو. حضرت عیسی ابن مریم عليه السلام دعا اوکړه اې الله اې زمونږ پروردگار ته زمونږ دَپاره دَ آسمان نه خوانچې نازل کړه دې دَپاره چې دَ خوانچې دَ نازلیدلو ورځ زمونږ دَپاره دَ خوشحالئ ورځ شی دې دَپاره چې مونږ دَ دغه ورځې تعظیم او توقیر اوکړو او زمونږ دَ وراندینو دَپاره لِأَوَّلِنَا اعادهٔ جارسره د لَنَا نه بدل دې او زمونږ نه روستو راتلونکو دَپاره (یعنی) څوک چې زمونږ نه پس راځی او ستادَپاره ستا په قدرت باندې او زماپه نبوت باندې یوه نخښه شی. اودغه خوانچې زمونږ دَپاره رزق جوړکړه اوته دَ ورکونکونه بهتر ورکونکې یئی. الله تعالی دَحضرت عیسی عليه السلام دعا قبولو سره اوفرمائیل چې زه دَ دغه خوان په تاسو باندې نازلونکې یم تخفیف اوتشدید سره نو دَدې نه پس یعنی دَ دې دَنازلولو نه پس څوک چې په تاسو کښې ناشکری اوکړی نوزه به هغه ته سخته سزا ورکوم چې هغه سزا به دَ دنیا جهان والو کښې هیچاته هم نه ورکوم. دَ آسمان نه فرښتو خوان راوړو په کوم کښې چې اووه روټئی او اووه کبان وو ټولو دَې نه خوراك اوکړو تردې چې ټول ماړه شو. ابن عباس رضي الله عنه فرمائی دَ آسمان نه یوه خوانچې نازل کړې شوه چې په هغې کښې روټئی او غوښه وه هغوی ته حکم ورکړې شو چې خیانت مه کوئی اومه دَ صبا دَپاره ذخیره کوئی خو هغوی خیانت هم اوکړو او ذخیره ئې هم اوکړه نوهغه خوانچې اوچته کړې شوه اوهغوی دَ بیزوګانو او خنزیرانو په شکل کښې مسخ کړې شو.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله. تَوْبِيخًا لِقَوْمِهِمْ. دا عبارت دَ یوسوال جواب دې چې الله تعالی خو علام الغیوب دې هغه ته دَ یوڅیز باره کښې دَ سوال کولو ضرورت نشته؟ جواب دادې چې سوال به دَ رټنې (توبیخ) دَپاره به وی لکه چې دَ الله تعالی قول إِذَا الْمَوْءُدَةُ سُئِلَتْ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ کښې سوال توبیخی دې.

قوله: أَيِ الَّذِي دادَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: ذَا اسم اشاره دَ محسوس دَپاره ده دلته ددې مشاراليه جواب دې کوم چې غیرمحسوس دې؟

جواب: دادې چې ذَا په معنی د الذی اسم موصول دې فلا اعتراض.

قوله. ذَهَبَ عَنْهُمْ عِلْمُهُ الخ دادَ یوسوال جواب دې.

سوال. انبیاء کرامو ته چې په دنیاکښې دَدعوت توحید په جواب کښې دَهغوی امتونو څه جواب ورکړې وو دا خوهغوی ته معلومیدل پکاروو بیا دَ انبیاء کرامو په محشرکښې دَالله په مخامخ دا ویناکول چې مونږ ته پته نشته چې زمونږ امتونو مونږ ته څه جواب راکړې وو؟ ددې نه کذب لازمیږی چې دَ انبیاء کرامو دَ شان خلاف دی اوهغه هم دَالله تعالی په مخکښې؟

جواب: دَعلم نفی دَ کذب دَ وجې نه ده بلکه دَ قیامت دَ خطرې او ویرې دَ وجې نه به وی څکه چې دَ قیامت په ورځ به په هریونفس باندې دَ الله تعالی د جلال دومره هیبت راخور وی چې دَ انبیاء کرامو دَ ذهن نه به هم ذهول اوشی الله تعالی فرمائی تذهل کل مرضعة عما أرضعت مګرداجواب ضعیف دې څکه چې الله تعالی دَ انبیاء کرامو باره کښې فرمائیلی دی لایحزنهم الفزع الأکبر. امام فخرالدین رازی رحمه الله دَ مذکوره اعتراض دا جواب ورکړې دې، د انبیاؤ د جواب نه چپ پاتې کیدل او انکار به د ادب او تعظیم په وجه وی، لکه چه صحابه کرامو به د نبی کریم ﷺ د سوال په جواب کښې اکثر الله اعلم فرمائیلو حالانکه هغوی ته به دَ بعض سوالونو جوابونه معلوم وو.

قوله: طِفْلاً فِی المهد تفسیرپه طفلاً سره کولوکښې یئ اشاره اوکړه چې دَمهد نه مراد دَ ماشوموالی حالت دې نه چې نفس مهد څکه چې دَمهد مقابله کهلاً سره ذکر کړې وه مقصد دَ نقصان عقل او کمال عقل تقابل دې.

قوله: أَکْمَهَ دَ مور نه روند راپیداشوې، کَمَهٌ نه صیغه دصفت مشبه.

قوله: أبرص، برص یعنی برګې مرض دا یوقسم مشهور مرض دې.

قوله: أَمَرْتُهُمْ علی لسانه دادَ هغه سوال جواب دې چې حواریان خو نبیان نه وو بیا دَدوی طرف ته دَ وحی کولو څه مطلب دې؟ دَ جواب حاصل دادې چې نیغ په نیغه وحی مراد نه ده بلکه دَحضرت عیسیٰ علیه السلام په واسطه هغوی ته حکم کول مراد دی. فلااشکال.

قوله: تَسْتَطِیْعُ رَبَّكَ ای سوال رَبِّكَ حذف مضاف سره څکه چې دَ ذات رب نه دَ سوال کرلوهیڅ مطلب نشته.

قوله. مِنْ أَجْلِ په دې کښې اشاره ده چې أن ناکل، مفعول لأجله دې.

[ایاتونه: ۱۱۶-۱۲۰]

{و} اذْكُرْ {إِذْ قَالَ} أَيْ يَقُول {اللّٰه} لِعِيسَى فِي الْقِيَامَة تَوْبِيخًا لِقَوْمِهِ {يَا عِيسَى بن مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَهَيْنِ مِن دُونِ اللّٰه قَالَ} عِيسَى وَقَدْ أُرْعِدَ {سُبْحَانَك} تَنْزِيهًا لَك عَمَّا لَا يَلِيق بِك مِنْ شَرِيك وَغَيْره {مَا يَكُون} مَا يَنْبَغِي {لِي أَنْ أَقُول مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ} خَبَر لَيْسَ وَلِي لِلتَّبْيِينِ {إِن كُنْتُ قُلْته فَقَدْ عَلِمْته تَعْلَم مَا} أُخْفِيه {فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَم مَا فِي نَفْسك} أَيْ مَا تُخْفِيه مِنْ مَعْلُومَاتك {إِنَّك أَنْتَ عَلَّام الْغُيُوب} {مَا قُلْت لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتنِي بِهِ} وَهُوَ {أَنْ اُعْبُدُوا اللّٰه رَبِّي وَرَبّكُمْ وَكُنْت عَلَيْهِمْ شَهِيدًا} رَقِيبًا أَمْنَعهُمْ مِمَّا يَقُولُونَ {مَا دُمْت فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتنِي} قَبَضْتنِي بِالرَّفْعِ إِلَى السَّمَاء {كُنْت أَنْتَ الرَّقِيب عَلَيْهِمْ} الْحَفِيظ لِأَعْمَالِهِمْ {وَأَنْتَ عَلَى كُلّ شَيْء} مِنْ قَوْلِي لَهُمْ وَقَوْلهمْ بَعْدِي وَغَيْر ذَلِكَ {شَهِيد} مُطَّلِع عَالِم بِهِ {إِنْ تُعَذِّبهُمْ} أَيْ مَنْ أَقَامَ عَلَى الْكُفْر مِنْهُمْ {فَإِنَّهُمْ عِبَادك} وَأَنْتَ مَالِكهمْ تَتَصَرَّف فِيهِمْ كَيْفَ شِئْت لَا اعْتِرَاض عَلَيْك {وَإِنْ تَغْفِر لَهُمْ} أَيْ لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ {فَإِنَّك أَنْتَ الْعَزِيز} عَلَى أَمْره {الْحَكِيم} فِي صُنْعه {قَالَ اللّٰه هَذَا} أَيْ يَوْم الْقِيَامَة {يَوْم يَنْفَع الصَّادِقِينَ} فِي الدُّنْيَا كَعِيسَى {صِدْقهمْ} لِأَنَّهُ يَوْم الْجَزَاء {لَهُمْ جَنَّات تَجْرِي مِنْ تَحْتهَا الْأَنْهَار خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَضِيَ اللّٰه عَنْهُمْ} بِطَاعَتِهِ {وَرَضُوا عَنْهُ} بِثَوَابِهِ {ذَلِكَ الْفَوْز الْعَظِيم} وَلَا يَنْفَع الكاذبين في الدنيا صدقهم فيه كالكفار لما يُؤْمِنُونَ عِنْد رُؤْيَة الْعَذَاب {لِلّٰهِ مُلْك السَّمَاوَات وَالْأَرْض} خَزَائِن الْمَطَر وَالنَّبَات وَالرِّزْق وَغَيْرهَا {وَمَا فِيهِنَّ} أَتَى بِمَا تَغْلِيبًا لِغَيْرِ الْعَاقِل {وَهُوَ عَلَى كُلّ شَيْء قَدِير} وَمِنْهُ إِثَابَة الصَّادِق وَتَعْذِيب الْكَاذِب وَخَصَّ الْعَقْل ذاته فليس عليها بقادر

ترجمه: اوهغه وخت هم قابل ذکردې چې الله تعالی به دقیامت په ورځ حضرت عیسیٰ علیه السلام ته د هغه د قوم د رټنې دپاره فرمائي چې اې عیسیٰ ابن مریم علیه السلام آیا تا دې خلقوته وئیلي وو چې ما اوزما مور دالله تعالی نه علاوه معبودا وګرځوئ حضرت عیسی علیه السلام به په رچید وسره عرض اوکړي ته خو د هرهغه څیز (یعنی) شریك وغیره نه پاک ئې کوم چې ستاد شان سره نه ښائی اوزما دپاره هیڅ کله داسې خبره کول لائق نه دی د کومې د کولوچې زما څه حق نشته (حق) د لیس خبردې. او (لی) د تبیین دپاره (زائد) دې. که چرې ما (دا خبره) کړې وی نو تاته به دَدې علم وی ځکه چې ته خوزما دزړه په خبره هم پوهیږې اوزه ستا د زړه په خبره نه پوهیږم یعنی ستا د پټ معلوماتو ماته علم نشته. د ټولو مغیباتو هم ته پیژندونکې ئې. ما خو دوی ته صرف هم هغه خبره کړې ده دکومې چې تاماته حکم کړې وو اوهغه دا چې تاسو دالله تعالی بندګی اختیارکړئ چې زما او ستاسو (ټولو) رب دې زه ددوئ نګران ووم ترکومې چې زه په دوی کښې موجود ووم هغوی مې د داسې خبرې دکولو نه منع کړی وو اوکله چې تا زه د رفع آسمانو په ذریعه واپس راؤغوښتم نوهم ته د هغوی د اعمالوخیال ساتونکې وې اوته خودهرڅیزنه خبردارئې (که) هغه زما خبره وی کومه چې مې هغوی سره کړې وی یادهغوی خبره کومه چې هغوی زما نه پس کړې وی وغیره. په هغوی کښې چې څوك په کفرباندې قایم

پاتې شو که ته هغوی له سزاورکړې نوستا بندیګان دی او ته دهغوی مالك ئې په هغوی کښې چې څنګه غواړې د تصرف اختیار لرې په تا باندې هیڅ اعتراض نشته او که چرې ته هغوی معاف کړې نو ته په دې باندې غالب ئې او په خپل صنعت کښې حکمت والا ئې. الله تعالی به اوفرمائي چې دا دقیامت ورځ هغه ورځ ده چې په دې ورځ به په دنیا کښې رښتیا اختیارونکوته به دهغوی رښتیا نفع اورسوی لکه چې عیسی علیه السلام څکه چې دا د بدلې ورکولوورځ ده هغوی ته به داسې باغونه ملاویږی د کوم لاندې چې به نهرونه جاری وی په کوم کښې چې به هغوی دهمیشه همیشه دپاره اوسیږی. الله تعالی دهغوی نه دهغوی د اطاعت د وجې نه خوشحاله او هغوی دهغه نه په اجر ورکولو باندې راضی هم دغه لویه کامیابی ده او په دنیا کښې دروغژنوته به په قیامت کښې دهغوی رښتیا هیڅ فائده ورنه کړی لکه کافران چې کله عذاب اووینی نو ایمان به راوړی. د زمکې او د آسمانونو او په دې کښې چې څه دی د ټولو بادشاهی هم دالله تعالی ده (یعنی) باران بوټی او رزق وغیره خزانې ټولې هم دهغه ملك دې (په ځائی دمَنْ) د مَا استعمال غیر ذوی العقول ته غلبه ورکولو د وجې نه دې او هغه په هر څیز باندې قادر دې او هم دهغوی نه رښتونی ته اجر ورکول او دروغژن ته سزا ورکول هم دی او عقل الله تعالی لره (تحت القدرة) کیدونه خارج کړو چنانچې هغه په خپل ذات باندې قدرت نه لری.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: أي يَقُوْلُ، د قَالَ ماضی تفسیر په يَقُوْلُ دمضارع کولو سره ددې سوال جواب ورکړې شو چې د سیاق اوسباق نه معلومیږی چې مذکوره مکالمه به د قیامت په ورځ وی او قَالَ نه معلومیږی چې په دنیا کښې شوې ده. دقَالَ تفسیر په يقول سره کولو کښې دا خودل دی چې ماضی په معنی د مضارع دې.

قوله: تَوْبِيْخًا لِقَوْمِه، ددې اضافې مقصد هم د یوسوال مقدرجواب دی.

سوال: سوال دادې چه الله تعالی علام الغیوب دې دهغه نه هیڅ څیز پټ نه دې او په دې کښې دحضرت عیسی علیه السلام خپل امت ته وئیل یا نه وئیل هم دی.

جواب: د جواب خلاصه داده چې دا سوال د استفهام دپاره نه دې بلکه د توبیخ دپاره دې لهذا اوس څه اعتراض پاتې نه شو.

قوله: لِقَوْمِه اضافه کولو کښې اشاره یئ اوکړه چې تقصیر اوکوتاهی خو د قوم وه نه چې دحضرت عیسی علیه السلام.

قوله: أُرْعِدَ عیسی علیه السلام د ویرې د وجې اورچیدلو.

قوله: ولي، لِلتَّبِيِيْن په دې کښې په هغه خلقو باندې رددې کوم چې لی لره د حق سره متعلق ګرځوئ او د رد وجه داده چې په جارباندې د مجرورد صلې تقدیم ممتنع دې.

قوله: بِالرَّفْعِ إِلَى السَّمَاءِ په دې عبارت کښې اشاره ده چې دلته توفی معنی دَ مرګ نه ده ځکه چې دَ توفی معنی أخذ الشئ وافيا، يوڅيز پوره پوره اخستل دی، مرګ هم دَدې يوقسم دې نه چې عين مرګ لهذا اوس دا اعتراض ختم شو چې په ظاهره معلوميږی چې تو فَيْتَنِي نه مراد مرګ وی حالانکه دَ حضرت عيسىٰ علیه السلام انتقال نه دې شوې.

قوله: وخصّ العقلُ ذاته تعالى، دَدې عبارت دَ اضافې مقصد دَ يوسوال جواب دې.

سوال: دادې چې على كل شئ قدير کښې پخپله الله تعالى هم په شئ کښې داخل دې ځکه چې که الله تعالى په شئ کښې داخل اونه منلې شی نو دَ الله تعالى لاشئ کيدل لازميږی راځی کوم چې ظاهره البطلان دې لهذا الله تعالى دَ اشياء يو فرد منل ضروری دی أوكل شئ هالك نه معلوميږی چې هرشئ هلاکيدونکې دې. ؟

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې الله تعالى شئ خو دې مګر دَ نورو څيزونو په شان نه دې لهذا عقل دَ الله تعالى ذات دَ څيزونو نه خاص کړو يعنى الله تعالى په هرشئ باندې قادردې مګر په خپل ذات باندې قادر نه دې ځکه چې دَ قدرت تعلق دَممکناتو سره وی نه چې واجباتو او محالاتوسره. لهذا دَ شئ نه مراد كل موجود ممكن ايجاده دې. (جمل)

[۶] سورة الانعام

مكيه الا وماقدر الله، الايات الثلث والا قل تعالوا الايات الثلث وهى مائة وخمس اوست وستون اية.

سورت انعام مکی دې مګر دَوماقدروا الله نه درې آياتونه او قل تعالوا نه درې آياتونه اودَدې تعدار ۱۶۵ يا ۱۶۶ ايات دی.

[۶] اياتونه: ۱-۱۰

{الْحَمْدُ} وَهُوَ الْوَصْفُ بِالْجَمِيلِ ثَابِت {لِلَّهِ} وَهَلْ الْمُرَاد الْإِعْلَام بِذَلِكَ لِلْإِيمَانِ بِهِ أَوْ الثَّنَاء بِهِ أَوْ هُمَا احْتِمَالَات أَفْيَدهَا الثَّالِث قَالَهُ الشَّيْخ فِي سُورَة الْكَهْف {الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْض} خَصَّهُمَا بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُمَا أَعْظَم الْمَخْلُوقَات لِلنَّاظِرِينَ {وَجَعَلَ} خَلَقَ {الظُّلُمَات وَالنُّور} أَيْ كُلّ ظُلْمَة وَنُور وَجَمَعَهَا دُونه لِكَثْرَةِ أَسْبَابهَا وَهَذَا مِنْ دَلَائِل وَحْدَانِيّته {ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا} مَعَ قِيَام هَذَا الدَّلِيل {بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ} يُسَوُّونَ غَيْره فِي العبادة {هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ طِين} بِخَلْقِ أَبِيكُمْ آدَم مِنْهُ {ثُمَّ قَضَى أَجَلًا} لَكُمْ تَمُوتُونَ عِنْد انْتِهَائِهِ {وَأَجَل مُسَمًّى} مَضْرُوب {عِنْده} لِبَعْثِكُمْ {ثُمَّ أَنْتُمْ} أَيّهَا الْكُفَّار {تَمْتَرُونَ} تَشُكُّونَ فِي الْبَعْث بَعْد عِلْمكُمْ أَنَّهُ ابْتَدَأَ خَلْقكُمْ وَمَنْ قَدَرَ عَلَى الِابْتِدَاء فَهُوَ عَلَى الْإِعَادَة أَقْدَر {وهو الله} مستحق للعبادة {فى السماوات وفى الأرض يَعْلَم سِرّكُمْ وَجَهْركُمْ} مَا تُسِرُّونَ وَمَا تَجْهَرُونَ بِهِ بَيْنكُمْ {وَيَعْلَم مَا تَكْسِبُونَ} تَعْمَلُونَ مِنْ خَيْر وَشَرّ {وَمَا تَأْتِيهِمْ} أَيْ أَهْل مَكَّة {مِنْ} صِلَة {آيَة من آيات ربهم} من القرآن {إِلَّا كَانُوا

عنها معرضين} {فَقَدْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ} بالقرآن {لَمَّا جَاءَهُمْ فَسَوْفَ يأتيهم أنباء} عواقب {ما كانوا به يستهزئون} {أَلَمْ يَرَوْا} في أسفارهم إلى الشام وغيرها {كَمْ} خبرية بمعنى كثيرا {أَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ قَرْنٍ} أمة من الأمم الماضية {مَكَّنَّاهُمْ} أعطيناهم مكانا {فِي الْأَرْضِ} بالقوة والسعة {مَا لَمْ نُمَكِّنْ} نعط {لَكُمْ} فيه التفات عن الغيبة {وَأَرْسَلْنَا السَّمَاءَ} المطر {عَلَيْهِمْ مِدْرَارًا} متتابعا {وَجَعَلْنَا الْأَنْهَارَ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمْ} تحت مساكنهم {فأهلكناهم بذنوبهم} بتكذيبهم الأنبياء {وأنشأنا من بعدهم قرنا آخرين} {وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا} مكتوبا {فِي قِرْطَاسٍ} رق كما اقترحوه {فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ} أبلغ من عاينوه لأنه أنفى للشك {لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ} ما {هَذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ} تعنتا وعنادا {وَقَالُوا لَوْلَا} هلا {أُنْزِلَ عَلَيْهِ} على محمد صلى الله عليه وسلم {مَلَكٌ} يصدقه {وَلَوْ أَنْزَلْنَا مَلَكًا} كما اقترحوا فلم يؤمنوا {لَقُضِيَ الْأَمْرُ} بهلاكهم {ثُمَّ لَا يُنْظَرُونَ} يمهلون لتوبة أو معذرة كعادة الله فيمن قبلهم من إهلاكهم عند وجود مقترحهم إذا لم يؤمنوا {وَلَوْ جَعَلْنَاهُ} أي المنزل إليهم {مَلَكًا لَجَعَلْنَاهُ} أي الملك {رَجُلًا} أي على صورته ليتمكنوا من رؤيته إذ لا قوة للبشر على رؤية الملك {و} لو أنزلناه وجعلناه رجلا {لَلَبَسْنَا} شبهنا {عَلَيْهِمْ مَا يَلْبِسُونَ} على أنفسهم بأن يقولوا ما هذا إلا بشر مثلكم {وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ} فيه تسلية للنبي صلى الله عليه وسلم {فَحَاقَ} نزل {بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ} وهو العذاب فكذا يحيق بمن استهزأ بك

ترجمه: هرتعريف دالله تعالى دپاره ثابت دي (او) ياخودَدي جملې خبريه نه مراد دَحمد په ثبوت باندې دَايمان خبر وركول دى يامراد انشاء حمد (تعريف كول) دى. يادواړه مراد دى (دا درې) احتمالات دى دريم صورت ډير مفيد دې. دا شيخ جلال الدين محلى رحمه الله په سورت كهف كښې بيان كړې دې. چاچې آسمانونه اوزمكې پيداكړې دى دا دواړه ئې په خاص توګه ځكه بيان كړى دى چې دا دواړه دَ كتونكو په نظركښې دَټولومخلوقاتونه لوئى دى او چاچې تيارې او رڼاګانې پيداكړې يعنى هرظلمت او نور، ظلمات ئې جمع راوړې دې نه چې نور، دَ ظلمات اسباب كثيركيدودَوجې نه اودادَ الله تعالى دَ وحدانيت دَ دلائلونه دې بياهم كافران دَدې دليل دَقائميدوباوجود غيرالله دَخپل رب برابر ګرځوى يعنى غيرالله په عبادت كښې دَالله تعالى برابرګرځوى. هغه داسې ذات دې چې هغه تاسو دَ خاورې نه پيدا كړئى ستاسو نيكه آدم عليه السلام ئې دَ خاورې نه پيداكړو بياهغه ستاسو دَ پاره موده مقرركړې دَ كومې په پوره كيدو چې به تاسومړه كيږئى اودويم وخت خاص دَالله تعالى په نيزمعين دې كوم چې ستاسو دَ بعث يعنى واپس راژوندى كيدو دې. بياهم اې كافرانوتاسو شك كوئى. (يعنى) په بعث بعدالموت كښې شك كوئى سره دَدې چې تاسو په دې خبره پوهيږئى چې هغه تاسو دَ شروع نه پيداكړئى او څوك چې په شروع كښې په

پیدا کولو باندې قادر دې هغه دوباره پیدا کولو باندې په طریق اولی قادر دې. هم هغه الله دَ عبادت لائق دې په آسمانونو او زمکه کښې ستاسو په پټو او ښکاره خبرو باندې پوهیږي یعنی کومې چې تاسو په خپل مینځ کښې پټې ساتل غواړئ او ښکاره کوئی یې او څه چې تاسو کوئی هغه پیژنی. (یعنی) کوم خیر او شر چې تاسو کوئی هغې نه خبردار دې. او اهل مکه له چې دَ قرآن کوم یو آیت هم راغلې دې دَهغې نه دده کوی. په مِنْ آيَةٍ کښې مِن زائده دې هغوی حق یعنی قرآن دروغ او کنړلو کله چې هغوی ته راغلې. دیر زر به هغوی ته دَخپل انجام خبر ملاؤ شی په کوم پورې چې به دوی مسخرې کولې آیا دا خلق شام وغیره ته دخپل دَ سفر په وخت کښې نه ګوری چې مونږ دَهغوی نه وړاندې تیرشوو امتونو نه څومره امتونه هلاک کړی دی. کم خبریه په معنی دَ کثیر دې. چا ته چې مونږ په دنیا کښې داسې قوت او وسعت ورکړې وو کوم چې مونږ تاسو ته نه دې درکړې. په دې کښې دَغیبت نه (خطاب) طرف ته التفات دې او مونږ په هغوی باندې ښه مسلسل بارانونه اوورول او مونږ دَهغوی لاندې نهرونه اوبهیول. بیا مونږ هغوی دَ انبیاء دَتکذیب په جرم کښې هلاک کړل او مونږ دَهغوی نه پس نور قومونه پیدا کړل. او که مونږ دَهغوی دَتجویز مطابق په کاغذ باندې لیکلې شوې څه نازل کړې وې بیا به دې خلقو خپل لاسونه هغې له اوړلې هم وې (لَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِم) دَعاینوه نه اَبلغ دې ځکه چې لاس لګولو سره کتل دَ شك دیر نفی کونکې دی. بیا هم دا کافران خلق دَتعصب او عناد دَ وجې وائی چې دا هیڅ هم نه دی صرف ښکاره جادو دې او دَ دغه خلقو وینا ده چې په محمد ﷺ باندې یوه فرښته ولې نازل نه کړې شوه چې دَهغه تصدیق ئی کولې او که چرې مونږ دَهغوی دَ غوښتنې مطابق څه فرښته نازل کړې وې (بیا به هم) دوی ایمان نه راوړلو نو دوی به هلاك کړې شوې وې. او دَدوی قصه به ختمه کړې شوې وه. بیا به دوی ته دَتوبې یا معذرت مهلت نه شو ورکولې لکه څنګه چې وړاندې امتونو دَ فرمائشی معجزو ښکاره کیدو نه پس هغوی ایمان رانوړو نو دَهغوی هلاکول دَ الله تعالی دستور دې. که مونږ دَهغوی طرف ته فرښته نازلولې نو ښکاره خبره ده چې هغه فرښته به په انسانی شکل کښې وه دې دَپاره چې دوی هغه اولیدلې شی ځکه چې په دوی کښې دَ فرښتې دکتلو طاقت نشته. او که چرې مونږ دَهغوی طرف ته فرښته نازل کړې وې او په انسانی شکل کښې مو ساتلې نو مونږ به په دوی باندې اشتباه اچوله لکه څنګه چې اوس دوی ته اشتباه کیږی چې وائی دا خو هم ستاسو په شان انسان دې. په حقیقت کښې تا نه وړاندې چې کوم انبیاء تیرشوی دی هغوی پورې هم توقې کړې شوې دی. په دې کښې نبی ﷺ ته تسلی ده نو هغوی هم هغه عذاب راګیر کړل په کوم پورې چې هغوی توقې کړی وې او هغه عذاب وو، دغه شان خوك تا پورې توقې کوی نو هغوی به هم عذاب راګیر کړی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: هَلِ الْمُرَادُ الْإِعْلَامُ بِذٰلِكَ، دَدې سواليه جمله نه دَ شارح علام مقصد دا خودل دی چې الحمد (ثابت) لله، جمله خبريه په ذريعه چې د ثبوت دَحمد خبرورکړې شوې دې، ددې نه درې څيزونه مرادکيدې شی. ① ياخودَدې خبرې خبر ورکول دی چې دَالله تعالی اوصاف کماليه ازلی اوابدی دی او زمونږ په دې باندې ايمان دې. په استمرار باندې به دلالت دَ جمله اسميه دَ وجې نه وی په دې صورت کښې به جمله لفظًا اومعنیً خبريه وی.② يا مقصد إنشاء حمد دې هم دا مفسرعلام أوالثناء به سره تعبيرکړې دې. په دې صورت کښې به جمله لفظًا خبريه او معنیً انشائيه وی. ③ چې دواړه مقصود وی دَدې طرف ته يئ خپل قول أوْهُمَا سره اشاره فرمائيلې ده. په دې صورت کښې به په دواړو معانيو کښې استعمال حقيقةً وی او په ړومبی صورت کښې به په خبرکښې حقيقت او انشاء حمد کښې به مجازوی. او په دويم صورت کښې په انشاء حمدکښې حقيقت اوپه خبر کښې به مجازوی. مطلب دا چې په ړومبو دواړو صورتونوکښې په يوکښې دَجملې استعمال بالاصل او دويم کښې بالتبع وی او په دريم صورت دواړو کښې دَ جملې استعمال بالاصل وی هم په دې وجه دريم صورت دَ ړومبو دواړونه ډيرفائده منددې څکه چې په دواړو کښې استعمال مقصود بالذات دې. (دَنور تفصيل دَپاره سورت کهف اوګورئی)

قوله: خَلَقَ، دَجَعَلَ تفسير په خَلَقَ سره کولوکښې يئ اشاره کړې ده چې جَعَلَ په معنی دَ خَلَقَ وأنشأ دې نه چې په معنی د صَيَّرَ هم دغه وجه ده دَيومفعول طرف ته متعدی دې.

قوله: لِكَثْرَةِ أَسْبَابِهَا دَ ظلمت اسباب چونکه ډيردی په دې وجه ظلمات جمع راوړلې شوې ده اودَ نور قسم خو هم يودې نوڅکه دا واحد راوړلې شوې دې.

قوله: عَوَاقِبُ: **سوال**: دَ عواقبُ مضاف محذوف منلوڅه فائده ده؟

جواب: څکه چې نفس انباء خو به هم په دنياکښې معلوم شی خودَدې انجام او نتيجه به په آخرت معلومه شی هم دَدې فائدې دَپاره لفظ عواقب محذوف منلې شوې دې.

قوله: لِأَنَّهُ أَنْفَى لِلشَّكِ يعنی دَ کتلوپه څائی دَلمس استعمال په نفی د شك کښې زيات مؤثردې څکه چې په کتلوکښې خود جادو يا د نظر بندئ دهوکه هم کيدې شی مګر په لمس لاس لګولو سره معلومولو کښې ددهوکې او مغالطې انديښنه نه وی.

قوله: لَلَبَسْنَا، دا دَ شرط محذوف جواب دې تقديری عبارت دادې أی لَوْجَعَلْنَاهُ رَجُلًا لَلَبَسْنَا.

[اياتونه: ١١-٢٠]

{قُلْ} لَهُمْ {سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ} الرُّسُل مِنْ هَلَاكهمْ بالعذاب ليعتبروا {قُلْ لِمَنْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قُلْ لِلَّهِ} إنْ لَمْ يَقُولُوهُ لَا جَوَاب غَيْره {كَتَبَ عَلَى نَفْسِهِ} قَضَى عَلَى نَفْسه {الرَّحْمَةَ} فَضْلًا مِنْهُ وَفِيهِ تَلَطُّف فِي دُعَائِهِمْ إلَى الْإِيمَان {لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ} لِيُجَازِيَكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ {لَا رَيْبَ} شَكّ {فِيهِ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ} بِتَعْرِيضِهَا لِلْعَذَابِ مُبْتَدَأ خَبَره {فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ} {وَلَهُ} تَعَالَى {مَا سَكَنَ} حَلَّ {فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ} أَيْ كُلّ شَيْء فَهُوَ رَبّه وَخَالِقه وَمَالِكه {وَهُوَ السَّمِيعُ} لِمَا يُقَال {الْعَلِيمُ} بِمَا يفعل {قُلْ} لَهُمْ {أَغَيْرَ اللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا} أَعْبُدهُ {فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} مُبْدِعهمَا {وَهُوَ يُطْعِمُ} يَرْزُق {وَلَا يُطْعَمُ} يُرْزَق {قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ} لِلَّهِ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّة {و} قِيلَ لِي {لَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ} به {قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي} بِعِبَادَةِ غَيْره {عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ} هُوَ يَوْم الْقِيَامَة {مَنْ يُصْرَفْ} بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ أَيْ الْعَذَاب وَلِلْفَاعِلِ أَيْ اللَّه وَالْعَائِد مَحْذُوف {عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُ} تَعَالَى أَيْ أَرَادَ لَهُ الْخَيْر {وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ} النَّجَاة الظَّاهِرَة {وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ} بَلَاء كَمَرَضٍ وَفَقْر {فَلَا كَاشِفَ} رَافِع {لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ} كَصِحَّةٍ وَغِنًى {فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ مَسّك بِهِ وَلَا يَقْدِر عَلَى رَدّه عَنْك غَيْره {وَهُوَ الْقَاهِرُ} الْقَادِر الَّذِي لَا يُعْجِزهُ شَيْء مُسْتَعْلِيًا {فَوْقَ عِبَادِهِ وَهُوَ الْحَكِيمُ} فِي خَلْقه {الْخَبِيرُ} ببواطنهم كظواهرهم ونزل لَمَّا قَالُوا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ائْتِنَا بِمَنْ يَشْهَد لَك بِالنُّبُوَّةِ فَإِنَّ أَهْل الْكِتَاب أَنْكَرُوك {قُلْ} لَهُمْ {أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً} تَمْيِيز مُحَوَّل عَنْ الْمُبْتَدَأ {قُلِ اللَّهُ} إنْ لَمْ يَقُولُوهُ لَا جَوَاب غَيْره هُوَ {شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ} عَلَى صِدْقِي {وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ} أُخَوِّفكُمْ يَا أَهْل مَكَّة {بِهِ وَمَنْ بَلَغَ} عُطِفَ عَلَى ضَمِير أُنْذِركُمْ اي بلغه القرآن من الإنس والجن {أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَى} اسْتِفْهَام إنْكَارِيّ {قُلْ} لَهُمْ {لَا أَشْهَدُ} بِذَلِكَ {قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ} مَعَهُ مِنْ الْأَصْنَام {الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ} أَيْ مُحَمَّدًا بِنَعْتِهِ فِي كِتَابهمْ {كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمُ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ} مِنْهُمْ {فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ} بِهِ

ترجمه: ته هغوی ته اووایه په زمکه کښې اوګرځئ راواوګرځئ بیا اوګورئ چې د رسولانو تکذیب کونکو څه انجام شو دې دپاره چې تاسو عبرت حاصل کړئ. ته دَهغوی نه پوښتنه اوکړه چې په آسمانونو او زمکه کښې چې څه دی هغه دَ چا دی؟ که هغوی د دې جواب درنه کړی نو ورته اووایه چې دَ الله تعالی دی. ځکه چې دَ دې نه علاوه دَ دې (صحیح) جواب نشته. از راه کرم هغه په خپل ځان باندې رحمت لازم کړې دې په دې کښې هغوی ته په دعوت ورکولو کښې نرمی ده تاسو به الله تعالی دَ قیامت په ورځ راجمع کوی دې دپاره چې تاسو ستاسو دَ اعمالو بدله درکړی په دې کښې هیڅ شک نشته چې کومو خلقو خپل ځان عذاب ته وړاندې کولو سره هم خپل نقصان کړې دې دا ایمان راوړونکی نه دی. (الذين الخ) مبتداء ده

(فهم لايؤمنون) دَ مبتداء خبردې اوهم دَالله تعالى دې هرهغه څيز کوم چې په شپه او ورځ کښې اوسيږي دې يعنې دَهرشي هم هغه رب دې اوهم هغه ئې خالق دې اوهم هغه ئې مالك دې او څه وينا چې کولې شي دَهغې اوريدونکې دې او په هغې باندې پوهيدونکې دې. آيا زه دَ الله تعالى نه سوا دَ بل چابندګي اوکړم هغه الله تعالى چې دَ آسمانونو اود زمکې پيداکونکې دې او هغه په خلقو خوراک کوي اوپه هغه باندې څوک خوراک نه کوي (هيڅ کله) نه. ته ورته اووايه چې ماته حکم راکړې شوې دې چې زه په دې امت کښې دَ ټولو نه ړومبې اسلام راوړونکې شم او ماته وئيلې شوې دي چې ته هيڅ کله دَ شرک کونکونه مه کيږه. ته ورته اووايه چې څه دَ لوئې ورځې دَعذاب نه ويريږم اوهغه دَ قيامت ورځ ده که چرې زه دَغيرالله بندګي کولوسره دَ خپل رب نافرمانې اوکړم او کوم کس چې دَ دغه ورځې دَعذاب نه بچ کړې شو (يُصرف) کښې مجهول او معروف دواړه قراءتونه دي (دَمعروف په صورت کښې) به فاعل الله تعالى وي اوعائدبه محذوف وي يقيناً الله تعالى په هغه باندې ډير لوئې رحم اوکړو يعنې دَهغه دَپاره ئې دَ خيراراده کړې ده هم دغه لويه کاميابي ده ښکاره کاميابي ده. اوکه چرې الله تعالى تاته په څه ازميښت مثلاً بيمارئې او دَ فقر په ذريعه تکليف دررسول اوغواړې نوهغه دَ الله تعالى نه بغيربل څوک نه شي لرې کولې اوکه چرې تاته څه خير مثلاً صحت دراورسوي نوهغه په هرڅيزباندې قادردې او دَدې نه هغه څه هم دي کوم چې تاته دراورسيدل اوستانه دَ الله تعالى نه بغير دَدې لرې کونکې هيڅوك نشته اوهغه په خپل بنديګانوباندې داسې قادر دې چې هيڅ څيزدَ غالب کيدو دَ وجې نه هغه عاجزکولې نه شي اوهغه دَ خپل مخلوق باره کښې باحکمت اودَهغوی دَ پټو رازونونه دَ هغوی دَ ښکاره په شان خبرلرونکې دې اوکله چې (اهل مکه) حضورپاك ته اووئيل هغه سړې پيش کړه چې ستادَ نبوت ګواهي ورکړي ځکه چې اهل کتاب ستاسو (دَ نبوت) نه انکارکړې دې نودا آيت نازل شو. ته دَهغوی نه پوښتنه اوکړه چې دَ چا ګواهي دَټولونه لويه ده؟ (شهادةً) دَ مبتداء نه نقل کيدوسره تميزدې که چرې هغوی دا جواب درنه کړي نوته ورته اووايه چې زما په صداقت باندې زما او ستاسو په مينځ کښې هم الله تعالى ګواه دې ځکه چې دَدې نه علاوه بل هيڅ جواب نشته. اودا قرآن ماته دَوحي په توګه راليږلې شوې دې دې دَپاره چې اې اهل مکه زه تاسو اوهغه کس دَدې په ذريعه اويروم چاته چې قرآن رسيدلې دې. (دَمَنْ بَلَغَ) عطف دَ انذرکم په ضميرباندې دې يعنې چاته چې قرآن رسيدلې دې که هغه دَ انسانانو نه وي اوکه دَ پيريانونه وي آيا تاسو به بالکل هم دغه ګواهي ورکړئې چې الله تعالى سره نور معبودان هم شته. استفهام انکاري دې ته هغوی ته اووايه چې زه دا ګواهي نه ورکوم ته ورته اووايه چې هغه خو بس هم يومعبود دې اوبيشکه زه دَ دغه بتانونه برې يم کوم چې تاسوته هغه سره شريکوئې. کوموخلقوته چې مونږ کتاب ورکړې دې هغه محمد ﷺ په خپل کتاب کښې دَهغه دَ صفاتودَ موجود کيدو دَوجې نه

داسې پیژني لکه څنګه چې خپل ځامن پیژني په هغوی کښې چې کوم خلقو خپل ځانونه په نقصان کښې واچول په دې باندې ایمان راوړونکی نه دی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: اَلَّذِیْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ اَلَّذِیْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ مبتدا ، فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ خبر.

سوال: په خبر باندې فاء په څه وجه داخل ده؟

جواب: ځکه چې په موصول کښې شائبهٔ دشرط ده دَ څه دَ وجې نه چې په خبر کښې شائبه د جزاء ده هم په دې وجه فاء داخل ده.

قوله: حَلَّ، دَسَکَنَ تنسیر په حَلَّ په معنی د استقرّ سره کولو کښې یې اشاره کړې ده چې سکون سره دَدې چې دَ حرکت ضد ته وائی لیکن دلته مطلقاً استقرار مرادې. دَادَ عربو قول تقیکم الحر د قبیل نه دې أی تقیکم الحر والبرد.

قوله: العَآئِدُ مَحْذُوْفٌ دا به یَصْرِف معروف لوستلو په صورت کښې وی. ظاهر داده چې العذابَ محذوف وی ځکه چې نحوی قاعده ده چه غیرموصول طرف ته دَ عائد حذف جائزنه دې.

قوله: النَّجَاةُ الظَّاهِرَةُ ځکه چې داکامیابی به بالکل ښکاره اودَهمیشه دَپاره به وی په خلاف دَ دنیاوی کامیابئ.

قوله: مُسْتَعْلِیًا، په دې کښې اشاره ده چې فوقَ عبادِه د القاهِرُ د ضمیرنه حال دې او استعلاءٌ نه مراد علو فی القدرة والشان دې.

قوله: قل الله، أی قل الله أکبر، لفظ اکبر محذوف دې ځکه چې مقوله مفرد نه وی.

قوله: هو شهيدٌ په دې کښې اشاره ده چې شَهِيْدٌ هو مبتداء محذوف خبردې.

سوال: الله مبتداء او شهيد خبرمنلو کښې څه قباحت دې؟ حالانکه په دې صورت کښې به دَ هُوَ مبتداء محذوف منلو ضرورت هم نه وی؟

جواب: الله مبتداء او شهيدٌ خبر ګرځول ځکه صَحیح نه دی چې الله شَهِيْدٌ دَ اَیُّ شئٍ أکبر شهادة جواب واقع کیدل به صحیح نه وی ځکه چې تقدیری عبارت به داوی أی شئ أکبر شهادة الله شهيد بيني وبينكم په دې کښې جواب دَ سوال مطابق نه دې.

قوله: عَطْفٌ عَلٰی ضمائر اُنْذِرَكُمْ یعنی دَمَنْ بَلَغَ عطف دَ أنذركم په ضمیر مفعول كُمْ باندې دې نه چې أنذرُ ضمیر مستتر فاعل باندې.

قوله: ای بَلَغَهُ القرآنُ په دې کښې دَ بَلَغَ د ضمیر دَفاعل دَتعین طرف ته اشاره ده.

[اياتونه: ٢١ - ٣٠]

{وَمَنْ} أي لا أحد {أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا} بنسبة الشريك له {أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ} القرآن {إِنَّهُ} أي الشأن {لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ} بذلك {وَ} اذكر {يَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا} توبيخا {أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ} أنهم شركاء الله {ثُمَّ لَمْ تَكُنْ} بالتاء والياء {فِتْنَتُهُمْ} بالنصب والرفع أي معذرتهم {إِلَّا أَنْ قَالُوا} أي قولهم {وَاللَّهِ رَبِّنَا} بالجر نعت والنصب نداء {مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ} قال تعالى {انْظُرْ} يا محمد {كَيْفَ كَذَبُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ} بنفي الشرك عنهم {وَضَلَّ} غاب {عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ} على الله من شركاء {وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ} إذا قرأت {وَجَعَلْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً} أغطية ل {أَنْ} لا {يَفْقَهُوهُ} يفهموا القرآن {وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا} صمما فلا يسمعونه سماع قبول {وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا حَتَّى إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ} ما {هَذَا} القرآن {إِلَّا أَسَاطِيرُ} أكاذيب {الْأَوَّلِينَ} كالأضاحيك والأعاجيب جمع أسطورة بالضم {وَهُمْ يَنْهَوْنَ} الناس {عَنْهُ} عن اتباع النبي صلى الله عليه وسلم {وَيَنْأَوْنَ} يتباعدون {عَنْهُ} فلا يؤمنون به وقيل نزلت في أبي طالب كان ينهى عن أذاه ولا يؤمن به {وَإِنْ} ما {يُهْلِكُونَ} بالنأي عنه {إِلَّا أَنْفُسَهُمْ} لأن ضرره عليهم {وَمَا يَشْعُرُونَ} بذلك {وَلَوْ تَرَى} يا محمد {إِذْ وُقِفُوا} عرضوا {عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا} للتنبيه {لَيْتَنَا نُرَدُّ} إلى الدنيا {وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ} برفع الفعلين استئنافا ونصبهما في جواب التمني ورفع الأول ونصب الثاني وجواب لو رأيت امرا عظيما قال تعالى {بَلْ} للإضراب عن إرادة الإيمان المفهوم من التمني {بَدَا} ظهر {لَهُمْ مَا كَانُوا يُخْفُونَ مِنْ قَبْلُ} يكتمون بقولهم {وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ} بشهادة جوارحهم فتمنوا ذلك {وَلَوْ رُدُّوا} إلى الدنيا فرضا {لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ} من الشرك {وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ} في وعدهم بالإيمان {وَقَالُوا} أي منكرو البعث {إِنْ} ما {هِيَ} اي الحياة {إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ} {وَلَوْ تَرَى إِذْ وُقِفُوا} عرضوا {عَلَى رَبِّهِمْ} لرأيت أمرا عظيما {قَالَ} لهم على لسان الملائكة توبيخا {أَلَيْسَ هَذَا} البعث والحساب {بِالْحَقِّ قَالُوا بَلَى وَرَبِّنَا} إنه لحق {قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ} به في الدنيا

ترجمه: او د هغه چا نه لوئ بې انصافه به څوک وی؟ چې په الله تعالى باندې دَهغه طرف ته دَشريك نسبت كولو سره دَ دروغو بهتان اولګوی؟ هيڅوك نشته يادَهغه آياتونه (يعنى) قرآن دروغ اوګڼړی. يقينى خبره ده چې داقسم ظلم كونكې هيڅ كله فلاح نه شى بياموندلې. هغه ورځ ياده كړئ په كومه ورځ چې به مونږ ټول راجمع كړو. بيا به دَ دغه مشركانو نه دَ رټنې په توګه تپوس اوكړو چې ستاسو هغه شريكان چرته دى دَ چاباره كښې چې تاسو يقين لرلو چې هغوى دَ الله تعالى سره شريك دى. بيا به هغوى سره دَدې نه سوا بل هيڅ عذر (جواب) باقى نه وى چې داسې به وائى اې زمونږ ربه مونږ مشركان نه وو (تكن) په تاء او ياء سره دې. (او) (فِتْنَتُهُمْ)

په نصب او رفع سره دي اود (فتنةٌ) معنى معذرةٌ ده. (رَبِّنَا) په جرسره دَالله تعالى صفت کيدودَ وجې اوپه نصب سره دَ نداء دَ وجې، الله تعالى فرمائي اې محمد ﷺ اوګوره هغوی دَ خپلو شريکانو انکاراوکړو او په خپلو ځانونوباندې يې څنګه دروغ اووئيل. او په کومو شريکانو سره چې دې خلقو په الله تعالى باندې بهتان تړلو هغه ټول به دَهغوی نه غيب شي. اودَ دې مشرکانونه څه داسې هم دی چې ستاسو (خبرې) طرف ته کله چې تاسو تلاوت کوئ غوږ ايږدی او مونږ دَهغوی په غوږونوباندې پردې اچولې دی دې دَپاره چې هغوی په دې قرآن باندې پوهه نه شي اودَهغوی په غوږونو کښې دروندوالې يعنى ثقل دې دَ کوم دَ وجې نه چې نې هغوی دَ قبلولو په غوږ نه اوري که هغوی څه نخښه اووينی په هغې ايمان راوړونکی نه دی تردې چې داخلق کله تاله راځی نوتاسره جګړې کوی اوداخلق کوم چې کافران دی وائی چې دا قرآن دَ پخوانوخلقو دَ دروغو قصونه علاوه هيڅ نه دی. (أَسَاطِيْر) په وزن دَ أَضَاحِيك او أَعَاجِيب (أساطير) أُسْطُورَة جمع ده (همزه) په ضمې سره اودوی خلق ستاسو نه يعنى ستاسو دَ اتباع نه منع کوی اوپخپله هم دَهغې نه لرې اوسيږی دَ څه دهغې په وجه داخلق په تاباندې ايمان نه راوړی. او وئيلی شوی دی چې دا آيت دَ ابوطالب په باره کښې نازل شو چې (خلق) به يې د حضورپاك دَ تکليف رسولونه منع کول او پخپله ئې ايمان نه راوړلو او دَ حضورپاك نه لرې لرې اوسيدو سره پخپله ځان په هلاکت کښې اچوی. څکه چې دَدې نقصان به هغوی ته رسيږی خودوی په دې نه پوهيږی. اې محمد ﷺ افسوس چې تادَدوی هغه حالت ليدلو کوم وخت چې به دوی دوزخ ته وړاندې کولې شی نوهغه وخت به وائی چې افسوس مونږ دنيا ته واپس کړې شو اومونږ:دَ خپل رب آياتونه دروغ اونه ګنړو او په ايمان والوکښې شامل شو. دَ دواړو فعلونو په رفع سره جمله مستانفه کيدو دَ وجې او جواب تمنى کيدودَ وجې دواړه په نصب سره دی اودَ اول رفع او دَ ثانی نصب هم جائزدې. اودَ لَوْ جواب لَرَأَيْتَ أَمْرًا عَظِيمًا (محذوف) دې الله تعالى اوفرمائيل بلکه کوم څيز (شرك) چې ئې دَدې نه وړاندې پټولو هغه څيز (نن) دَهغوی مخې ته راغلې دې يعنى دَخپل قول والله ربنا ماکنا مشرکين په ذريعه ئې پټولو. هغه به دَهغوی دَ اندامونو په ذريعه ښکاره شی نو هغه وخت به ددې تمنا کوی. او فرض کړه که هغوی دنيا ته واپس هم کړې شی نو هغوی به هم هغه شرك کوی دکوم نه چې منع کړې شوی دی اويقينًا داخلق په خپلو وعدو او ايمان کښې بالکل دروغژن دی اومنکرين بعث دا وائی چې صرف هم دغه دَ دنياژوندزمونږ بيا ژوندې اومونږ راژوندی کيدونکې نه يو اوکه چرې تاسو هغه وخت اوګورئ کوم وخت چې هغوی دَخپل رب په مخې ته پيش کولې شی نو تاسو به يو امر عظيم اوګورئ(الله تعالى) به دَ فرښتو په ذريعه دَ رټنې په نوګه هغوی ته وائی آيا دا بعث اوحساب حق نه دې؟ نو هغه خلق به وائی بيشکه قسم دې اې

زمونږ ربه یقیناً حق دي. الله تعالی به فرمائي نو تاسو هغه عذاب مزه او څکئ د کوم چې تاسو په دنیا کښې انکار کولو.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: أنهم شُرَكَاءُ الله، په دې کښې اشاره ده چې دَ تَزْعُمُوْنَ دواړه مفعول دَماقبل دَ دلالت دَ وجې نه محذوف دی.

قوله: بِالنَّصْبِ وَالرَّفْعِ فتنتهم باندې نصب دَ كان دخبر مقدم کیدو دَ وجې نه دې. او اِلاَّ أن قالوا اسم مؤخر کیدو دَ وجې نه ګنی محلاً مرفوع دې او رفع دَدې نه دَ برعکس کیدو دَ وجې نه دہ.

قوله: أي مَعْذِرَتُهُمْ دا دفتنة تفسير دې.

قوله: أي قَوْلُهُمْ په دې کښې اشاره ده چې په (أن قالوا) کښې أن مصدريه دې دې دَپاره چه استثناء صحيح شي.

قوله: بِالْجَرِّ نَعْتٌ وَالنَّصْبِ نداءٌ يعنى رَبَّنَا کښې دوه قراءتونه دی که چرې ربنا دَلفظ الله صفت وی نو په دې به جروی او که چرې یاد حرف نداء محذوف منادیٰ وی نو نصب به وی أی ربَّنَا.

قوله: الأسطورة، أي ماسَطَرَهُ الأوّلون مِنَ الأكاذيب.

قوله: يَنْأون مضارع جمع مذكر غائب (ف) نأيًا لرې کيدل.

قوله: يا للتنبيه أي مثل، ألا أو اما.

قوله: استينافًا، يعنى لانكذب الخ دَسوال مقدر جواب دې أی مَا ذاتفعلون لورددتم؟ أی لا نكذبُ ونكونُ من المؤمنين او دَ واؤ نه پس د أن تقدیر سره جواب تمنی واقع کیدو دَ وجې نه منصوب دې او يو قراءت په رفع سره نكذبُ او په نصب د نكونَ سره دې. دَاول رفع د تمنی او دَدې دَ جواب په مینځ کښې خبر واقع کیدو دَ وجې نه دې او ثانی یعنی د نكونَ نصب د جواب تمنی واقع کیدو دَوجې نه، دَ لوترې جواب محذوف دې لکه چې مفسر علام لَرَأيتَ أمرًا عظيمًا وئيلو سره ښکاره کړې دې.

قوله: بل للاضراب، أی لابطال مايُفْهَمُ من التمنی یعنی دَ تمنا دایمان نه اضراب دې ځکه چې دَهغوی دا تمنا به دَ عزم او تصدیق دَ وجې نه نه وی بلکه دَ اندامونو دَ شهادت په سبب د زجر او رسوائي دَ وجې نه وی.

قوله: وقالوا، دَدې عطف په لَعَادُوْا باندې دې ای لورُدُّوْا لَعادوا لِما نُهُوا عنه وقالوا.

[ايا تونه: ٣١-٤١]

{قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ} بِالْبَعْثِ {حَتَّى} غَايَة لِلتَّكْذِيبِ {إِذَا جَاءَتْهُمُ السَّاعَةُ} الْقِيَامَة {بَغْتَةً} فَجْأَة {قَالُوا يَا حَسْرَتَنَا} هِيَ شِدَّة التَّأَلُّم وَنِدَاؤُهَا مَجَاز أَيْ هٰذَا أَوَانك فَاحْضُرِي {عَلَى مَا فَرَّطْنَا} قَصَّرْنَا {فِيهَا} أَيْ الدُّنْيَا {وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَى ظُهُورِهِمْ} بِأَنْ تَأْتِيهِمْ عِنْد الْبَعْث فِي أَقْبَح شَيْء صُورَة وَأَنْتَنه رِيحًا فَتَرْكَبهُمْ {أَلَا سَاءَ} بِئْسَ {مَا يَزِرُونَ} يَحْمِلُونَهُ حَمْلهمْ ذٰلِكَ {وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا} أَيْ الِاشْتِغَال بِهَا {إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ} وَأَمَّا الطَّاعَة وَمَا يُعِين عَلَيْهَا فَمِنْ أُمُور الْآخِرَة {وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ} وَفِي قِرَاءَة وَلَدَار الْآخِرَة أَيْ الْجَنَّة {خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ} الشِّرْك {أَفَلَا يَعْقِلُونَ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء ذٰلِكَ فَيُؤْمِنُونَ {قَدْ} لِلتَّحْقِيقِ {نَعْلَمُ إِنَّهُ} أَيْ الشَّأْن {لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ} لَك مِنَ التَّكْذِيب {فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ} فِي السِّرّ لِعِلْمِهِمْ أَنَّك صَادِق وَفِي قِرَاءَة بِالتَّخْفِيفِ أَيْ لَا يَنْسُبُونَك إِلَى الْكَذِب {وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ} وَضَعَهُ مَوْضِع الْمُضْمَر {بِآيَاتِ اللَّهِ} الْقُرْآن {يَجْحَدُونَ} يُكَذِّبُونَ {وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ} فِيهِ تَسْلِيَة لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {فَصَبَرُوا عَلَى مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّى أَتَاهُمْ نَصْرُنَا} بِإِهْلَاكِ قَوْمهمْ فَاصْبِرْ حَتَّى يَأْتِيك النَّصْر بِإِهْلَاكِ قَوْمك {وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ} مَوَاعِيده {وَلَقَدْ جَاءَكَ مِنْ نَبَإِ الْمُرْسَلِينَ} مَا يَسْكُن بِهِ قَلْبك {وَإِنْ كَانَ كَبُرَ} عَظُمَ {عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ} عَنِ الْإِسْلَام لِحِرْصِك عَلَيْهِمْ {فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا} سَرَبًا {فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا} مِصْعَدًا {فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُمْ بِآيَةٍ} مِمَّا اقْتَرَحُوا فَافْعَلْ الْمَعْنَى أَنَّك لَا تَسْتَطِيع ذٰلِكَ فَاصْبِرْ حَتَّى يَحْكُم اللّٰه {وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ} هِدَايَتهمْ {لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَى} وَلَكِنْ لَمْ يَشَأْ ذٰلِكَ فَلَمْ يُؤْمِنُوا {فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ} بِذٰلِكَ {إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ} دُعَاءَك إِلَى الْإِيمَان {الَّذِينَ يَسْمَعُونَ} سَمَاع تَفَهُّم وَاعْتِبَار {وَالْمَوْتَى} أَيْ الْكُفَّار شَبَّهَهُمْ بِهِمْ فِي عَدَم السَّمَاع {يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ} فِي الْآخِرَة {ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ} يُرَدُّونَ فَيُجَازِيهِمْ بِأَعْمَالِهِمْ {وَقَالُوا} أَيْ كُفَّار مَكَّة {لَوْلَا} هَلَّا {نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ} كَالنَّاقَةِ وَالْعَصَا وَالْمَائِدَة {قُلْ} لَهُمْ {إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنَزِّلَ} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيف {آيَةً} مِمَّا اقْتَرَحُوا {وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ} أَنَّ نُزُولهَا بَلَاء عَلَيْهِمْ لِوُجُوبِ هَلَاكهمْ إِنْ جَحَدُوهَا {وَمَا مِنْ} زَائِدَة {دَابَّةٍ} تَمْشِي {فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ} فِي الْهَوَاء {بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ} فِي تَدْبِير خَلْقهَا وَرِزْقهَا وَأَحْوَالهَا {مَا فَرَّطْنَا} تَرَكْنَا {فِي الْكِتَابِ} اللَّوْح الْمَحْفُوظ {مِنْ} زَائِدَة {شَيْءٍ} فَلَمْ نَكْتُبهُ {ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ} فَيَقْضِي بَيْنهمْ وَيَقْتَصّ لِلْجَمَّاءِ مِنَ الْقَرْنَاء ثُمَّ يَقُول لَهُمْ كُونُوا تُرَابًا {وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا} الْقُرْآن {صُمٌّ} عَنْ سَمَاعهَا سَمَاع قَبُول {وَبُكْمٌ} عَنِ النُّطْق بِالْحَقِّ {فِي الظُّلُمَاتِ} الْكُفْر {مَنْ يَشَإِ اللَّهُ} إِضْلَاله {يُضْلِلْهُ وَمَنْ يَشَأْ} هِدَايَته {يَجْعَلْهُ عَلَى صِرَاطٍ} طَرِيق {مُسْتَقِيمٍ} دِين الْإِسْلَام {قُلْ} يَا مُحَمَّد لِأَهْلِ مَكَّة {أَرَأَيْتَكُمْ} أَخْبِرُونِي {إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ} فِي الدُّنْيَا {أَوْ أَتَتْكُمُ السَّاعَةُ} الْقِيَامَة الْمُشْتَمِلَة عَلَيْهِ بَغْتَة {أَغَيْرَ اللَّهِ تَدْعُونَ} لَا {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِي أَنَّ الْأَصْنَام تَنْفَعكُمْ فَادْعُوهَا {بَلْ إِيَّاهُ} لَا غَيْره {تَدْعُونَ} فِي الشَّدَائِد {فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ} أَنْ يَكْشِفهُ عَنْكُمْ مِنَ الضُّرّ وَنَحْوه

{إِنْ شَاءَ} كَشفه {وَتَنْسَوْنَ} تتركون {مَاتُشْرِكُونَ} مَعَهُ مِنَ الْأَصنَام فَلَا تدعوله

ترجمه يقينًا هغه خلق په نقصان کښې پريوتل چاچې دَ بعث (نه دَانکارپه ذريعه) **دَالله تعالى دَ ملاقات تکذيب اوکړو.** (حتى) دَتکذيب غايت دې. **تردې چې کله قيامت ناڅاپې په هغوى راشى نوداخلق به وائى چې افسوس ارمان په دنيا کښې زمونږ په کوتاهئ باندې** دَ شدت الم اظهاردې اوحسرت اوارمان ته نداء کول مجازدې. (يعنى) اې حسرت دا ستادَحاضرئى وخت دې لهذا ته حاضر شه اودَهغوى حال به دا وى **چې دَخپلو ګناهونو بوج به ئې په خپلو شاګانو باندې اوچت کړې وى** داسې دَبعث په وخت به دَهغوى اعمال ډيرخراب صورت اوډيرخراب بوئى سره راشى اوپه هغوى دَپاسه به سورشى. **ښه واوَرئى خراب به وى هغه څيز کوم چې به هغوى رابارکړې وى.** يعنى دَهغوى دا اعمال اوچتول (به خراب وى) **دنياوى ژونديعنى په هغې کښې** مشغوليدل **دَ لهولعب نه سوا بل هيڅ نه دى** طاعات او په دې باندې امدادکونکى څيزونه نودا د امور آخرت نه دى اودَ آخرت کوردَ شرك نه دَ بچ کيدونکودَپاره بهتردى. او په يو قراءت کښې وَلَدَارُالآخرةِ (په اضافت سره دې) **يعنى جنت آيا داخلق نه پوهيږى؟ چې** ايمان راوړى (يعقلون) په ياء او تاء سره دې **مونږ ښه پوهيږو چې ستا دَتکذيب خبرې تاخفه کوى نو دا خلق** (په حقيقت) کښې **ستاتکذيب نه کوى بلکه دَ الله تعالى دَ آياتونواودَ قرآن تکذيب کوى.** دَ زړه نه داخبره پيژندلودَ وجې نه چې **ته رښتونې ئې** او په يوقراءت کښې (يکذبوك) په تخفيف سره دې يعنى دکذب نسبت ستاسو طرف ته نه کوى بلکه په حقيقت کښې دَالله تعالى طرف ته کوى. دَاسم ضميرپه ځائى اسم ظاهرراوړلې شوې دې. **تاسو نه وړاندې دَ ډيرو رسولانوتکذيب کړې شوې دې.** په دې کښې دَنبى ﷺ دَپاره تسلى ده **نوهغوى په دې باندې صبراوکړو اوهغوى ته تکليفونه اورسولې شو تردې چې زمونږ امدد هغوى ته اورسيدو،** دَهغوى قوم هلاك کړې شو لهذا تاسو هم صبراوکړئى ترهغه وخته پورې چې ستاسوقوم هلاك کړې شى او ستاسو امداد اوکړې شى **اودَالله تعالى خبريعنې وعدې لره هيڅوک بدلونکې نشته. اوتاسو له دَبعض رسولانو خبرونه راغلى دى** په کوم سره چې به ستاسو دَ زړه تسکين اوشى اوکه چرې دَهغوى دَ اسلام نه اعراض ستاسو په هغوى باندې د حريص کيدودَ وجې نه په تاسو باندې **سخت تيريږى نوکه چرې تاسو نه کيدې شى نو په زمکه کښې سورنګ جوړکړئى يا آسمانونوته پاوَړئى اولګوئى** اوکه دَهغوى فرمائشى معجزه راوړلې شئ نو راوَړئى يئ، مطلب دادې چې تاسونه به اونه شى لهذا دَالله تعالى دَحکم راتلوپورې صبراوکړه **اوکه الله تعالى ته دَهغوى هدايت مقصود وې نوهغه ټول به ئې** (لار) دَ **هدايت باندې جمع کړې وى** ليکن هغه اونه غوښتل دَ کوم په وجه چې دې خلقو ايمان رانوړو. **نوته په دې** معامله کښې **دَ نادانونه مه کيږه.** ستاپه دعوت باندې هم هغه خلق لبيك

کافر لره به کافران ئی دَعدم اورېدو او پوهېدلو په ارادې سره اوري. اومړو یعنی کافر لره به کافران ئی دَعدم وائی چې دَعبرت او پوهیدلو په ارادې سره اوري. اومړو یعنی کافر لره به کافران ئی دَعدم
سماع دَ وجې نه د مړو سره تشبیه کړل. الله تعالی په آخرت کښې راژوندی کوی بیا به ټول دَ الله تعالی طرف ته راواپس کړې شی اودَهغوی دَاعمالو بدله به ورکولې شی. اودَمکې کافرانو اووئیل چې په هغوی باندې دَهغوی دَ رب دَ طرف نه څه نخښه مثلاً اوښه همسا او خوانچې ولې نازل نه کړې شوه؟ تاسو هغوی ته اووایئی چې الله تعالی ته بیشکه دَدې قدرت حاصل دې چې مطلوبه معجزه نازل کړی (ينزل) په تشدید اوتخفیف سره دې لیکن اکثرخلق دَدې حقیقت نه خبرنه دی. یقیناً دَدې نزول به دَهغوی دَپاره ازمیښت وی اودغه معجزولره د نه منلو په صورت کښې به دَهغوی دَهلاکت واجب کیدو دَ وجې نه په زمکه باندې تګ کونکو ځناورو څه قسم مِن زائده دې او نه په هوا کښې په وزرو باندې الوتونکو مرغو څه قسم داسې چې دَ هغوی په تخلیق اودَهغوی دَ رزق اودَهغوی دَاحوالو منصوبه بندئی کښې ستاسو په شان نه وی مونږ هیڅ یو څیز نه دې پرېخودې چې په لوح محفوظ کښې مو نه وی لیکلې. مِن زائده دې بیا به ټول دَ خپل پروردګار طرف ته راجمع کولې شی. اوهغه به دَدوی په مینځ کښې فیصله کوی اودَ بې ښکرو ځناورو بدله دَ ښکرو والا ځناورونه اغستلې شی بیا به هغوی ته الله تعالی اوفرمائی خاورې شئ. او کوم خلق چې زمونږه آیاتونو دَ قرآن تکذیب کوی هغوی دَدې دَ قبولیت په غوږونو دَاوریدونه کاڼه دی اودَ حق خبرې کولونه ګونګیان دی دکفرپه تیاروکښې دی الله تعالی چې څوک ګمراه کول غواړی هغه لره ګمراه کوی اوچاته چې هدایت ورکول غواړی هغه په نیغه لار یعنی په دین اسلام باندې روانوی. اې محمد ﷺ ته د اهل مکه نه تپوس اوکړه چې ماته اوښایئی چې که چرې تاسوته په دنیاکښې عذاب راشی یاناڅاپه قیامت راشی کوم چې په عذاب باندې مشتمل وی نوآیا تاسو به دَ الله تعالی نه بغیرِل چاته آواز اوکړئی؟ نه، که چرې تاسو په دې خبره کښې رښتونی یئې چې بت به تاسو ته نفع درکړی نوهغوی ته چغه اووهئی بلکه خاص هم هغه نه دَهغه غیرپه تکلیفونو کښې رابلئ که چرې هغه دا مصیبت اخواکول اوغواړی نودَ کوم دَ اخواکولودَپاره چې دَهغه نه دعاکوئی اخوا کولې شی اوکوم بتان چې تاسوهغه سره شریکوئ نوهغه تاسو هیرکړئ (او) هغوی به نه رابلئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: حتی غَايَةٌ للتكذيب، مطلب دادې چې حتی دَتکذیب غایت دې نه چې دَ خَبَرْ څکه چې دوئ دَ خسران هیڅ غایت نشته په خلاف دَتکذیب چې په دنیاکښې خو دَتکذیب سلسله جاری پاتې کیدې شی مګر دَقیامت دَ قائمیدونه پس به دَتکذیب سلسله موقوف شی.

قوله: بَغْتَةً دا د باغتةً په معنی کښې حال دې.

قوله: يَدَاءُهَا مجَازٌ څکه چې آواز خو هغه څه ته ورکولې شی په څه کښې چې دَمتوجه کیدو

صلاحيت وي. په حسرت کښې دَمتوجه کيدو صلاحيت نه وي لهذا حسرت دَعقلاء په درجې رابنکه کيدو سره آواز ورکړې دي.

قوله: أي الدنيا دا دَفيها دَ ضميردَ مرجع اظهاردې حالانکه په ماقبل قريب کښې چرته دَ دنياذکرنشته چونکه په ذهنی توګه دنيامعلوم اومتعين ده په دې وجه ضميردَدې طرف ته راګرځولې شوې دې لهذا دَ اضمارقبل الذکر اعتراض نه راځی.

قوله: حَمْلُهُمْ ذلك دامخصوص بالذم دې.

قوله: وَلَدارُ الآخرة، په دې کښې اضافت د موصوف الى الصفت دې کوم چې اضافت الشئ الى نفسه دَقبيل نه دې لهذا مضاف اليه محذوف منلوسره تقديری عبارت به داسې شی وَلَدارُ السَّاعةِ الآخرةِ.

قوله: ذلك داد يعقلون مفعول دې.

سوال: فى البرّ دَ اضافې څه فائده ده؟

جواب: دَدې مقصد تعارض جواب کول دی. (تعارض) په لايكذبونك او يجحدون کښې تعارض دې څکه چې دَ لايكذبون مطلبّ دې تکذيب نه کول اود يجحدون مطلب دې تکذيب کول؟ (جواب) يعنی تکذيب نه کوی په زړه سره اوتکذيب کوی په ژبې سره.

قوله: وَضعَهُ مَوْضِعَ الْمُضْمَرِ مطلب دادې چې لكنهم په ځائی لكن الظلمين استعمال شوې دې. حالانکه ضميرکافی وو مګر چونکه مقصد دَ کافرانو صفت ظلم بيانول وو کوم چې هم ضميرسره نه شو کيدلې. دَدې دَپاره دَدې ضمير په ځائی اسم ظاهر راوړلې دې.

قوله: يكذبون، يَجْحَدُوْنَ تفسير يكذبون سره کولوکښې اشاره ده چې يجحدون تعديه بالباء، يكذبون معنې ته متضمن کيدودَ وجې نه دې.

قوله: فَافْعَلْ دا دَاستطعت جواب دې اودا جمله شرطيه کيدو سره وَاِنْ كَانَ كَبُرَ جواب دې.

قوله: فى الظلمت دادَ مبتداء خبر ثالث دې.

قوله: فَادْعُوْهُ دا دَ إن كنتم صادقين جواب محذوف دې.

[ايالتونه: ٤٢-٥٠]

{وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِّنْ} زَائِدَة {قَبْلِكَ} رُسُلًا فَكَذَّبُوهُمْ {فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ} شِدَّة الْفَقْر {وَالضَّرَّاءِ} الْمَرَض {لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ} يَتَذَلَّلُونَ فَيُؤْمِنُونَ {فَلَوْلَا} فَهَلَّا {إِذْ جَاءَهُمْ بَأْسُنَا} عَذَابُنَا {تَضَرَّعُوا} أَيْ لَمْ يَفْعَلُوا ذَلِكَ مَعَ قِيَام الْمُقْتَضِي لَهُ {وَلَكِنْ قَسَتْ قُلُوبُهُمْ} فَلَمْ تَلِنْ لِلْإِيمَانِ {وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} مِنَ الْمَعَاصِي فَأَصَرُّوا عَلَيْهَا {فَلَمَّا نَسُوا} تَرَكُوا {مَا ذُكِّرُوا} وُعِظُوا وَخُوِّفُوا {بِهِ} مِنَ الْبَأْسَاءِ

وَالضَّرَّاءِ فَلَمْ يَتَّعِظُوا {فَتَحْنَا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ {عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ} مِنَ النِّعَمِ اسْتِدْرَاجًا لَهُمْ {حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا} فَرَحَ بَطَرٍ {أَخَذْنَاهُمْ} بِالْعَذَابِ {بَغْتَةً} فَجْأَةً {فَإِذَا هُمْ مُبْلِسُونَ} آيِسُونَ مِنْ كُلِّ خَيْرٍ {فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا} أَيْ آخِرُهُمْ بِأَنْ اسْتُؤْصِلُوا {وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} عَلَى نَصْرِ الرُّسُلِ وَإِهْلَاكِ الْكَافِرِينَ {قُلْ} لِأَهْلِ مَكَّةَ {أَرَأَيْتُمْ} أَخْبِرُونِي {إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ} أَصَمَّكُمْ {وَأَبْصَارَكُمْ} أَعْمَاكُمْ {وَخَتَمَ} طَبَعَ {عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ} فَلَا تَعْرِفُونَ شَيْئًا {مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِهِ} بِمَا أَخَذَهُ مِنْكُمْ بِزَعْمِكُمْ {انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ} نُبَيِّنُ {الْآيَاتِ} الدَّلَالَاتِ عَلَى وَحْدَانِيَّتِنَا {ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ} يُعْرِضُونَ عَنْهَا فَلَا يُؤْمِنُونَ {قُلْ} لَهُمْ {أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً} لَيْلًا أَوْ نَهَارًا {هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الظَّالِمُونَ} الْكَافِرُونَ أَيْ مَا يُهْلَكُ إِلَّا هُمْ {وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ} مَنْ آمَنَ بِالْجَنَّةِ {وَمُنْذِرِينَ} مَنْ كَفَرَ بِالنَّارِ {فَمَنْ آمَنَ} بِهِمْ {وَأَصْلَحَ} عَمَلَهُ {فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} فِي الْآخِرَةِ {وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ} يَخْرُجُونَ عَنِ الطَّاعَةِ {قُلْ} لَهُمْ {لَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ} الَّتِي مِنْهَا يَرْزُقُ {وَلَا} إِنِّي {أَعْلَمُ الْغَيْبَ} مَا غَابَ عَنِّي وَلَمْ يُوحَ إِلَيَّ {وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ} مِنَ الْمَلَائِكَةِ {إِنْ} مَا {أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ} الْكَافِرُ {وَالْبَصِيرُ} الْمُؤْمِنُ لَا {أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ} فِي ذَٰلِكَ فَتُؤْمِنُونَ

ترجمه: اومونږ تانه وړاندې (ډيرو) قومونوته رسول ليګلي وو مِنْ زائده دې نوهغوى دَ دوى تکذيب اوکړو نومونږ هغوى په بيمارئى اوتنګدستئى کښې راګيرکړل دې دَ پاره چې هغوى سست شى (يعنى) عاجزى اوکړى او ايمان راوړى. نوچې کله هغوى ته زمونږ عذاب اورسيدو نوهغوى عاجزى ولې اختيارنه کړه؟ يعنى هغوى عاجزى اختيار نه کړه حالانکه دَهغې مقتضى موجود وه ليکن دَهغوى زړونه (نور سخت شو دَځه دَ وجې نه چې دَ ايمان راوړو دَپاره نرم نه شو او شيطان دَهغوى خراب اعمال دَهغوى په نظرکښې ښائسته کولوسره پيش کول اوهغوى هم په دغه اعمالو باندې کلك ولاړ وو. بياچې کله هغوى دا نصيحت هيرکړو کوم چې هغوى ته شوې وو اودَ کوم په ذريعه چې دَ مصيبتونو او غمونو سره يرولې شوى وو نوهغوى نصيحت حاصل نه کړو. نو مونږ دَهغوى دَ پاره دَ سستيدو په توګه په هغوى باندې دَهرقسم خوشحالئ دروازې کولاؤکړې تردې چې کله هغوى په بخششونوکښې کبرپه طريقه مست او راګيرشو نو مونږ هغوى ناڅاپې په عذاب کښې راؤنيول (نو اوس صورت حال دا شو) چې هغوى دَهرخير نه نااميده شو. چنانچې هغه ظالم قوم جرړه پرې کړې شوله (يعنى) دَهغوى دَ آخرى کس هم جرړه پرې کړې شوه په داسې توګه چې هغوى ئى تول دَ بيخه راويستل وئى غورزول اودَ رسولانو په نصرت اودکافرانو په هلاکت تعريف هم دَ رب العالمين دَپاره دې (اې محمد ﷺ) اهل مکه ته اووايه چې تاسو ماته اوښايئې که چرې الله تعالى ستاسو نه دَ اوريدو طاقت واخلى (يعنى) تاسو کانړه کړى او ستاسو بينائى ختمه کړى په

داسې طريقه چې تاسو رانده کړی او ستاسو په زړونو باندې مهراولګوی چې تاسو په هيڅ نه پوهيږئ دَالله تعالى نه بغيرستاسو په خيال کښې بل څوک معبودشته چې ستاسو دغه ختم کړې شوې قوتونه په ځائې کړی؟ ګورئ مونږ په خپل وحدانيت باندې څنګه بار بار دليلونه پيش کوو بياهم (هغوی) دې نه ددِه کوی دَ کوم په وجه چې هغوی ايمان نه راوړی. ته دَهغوی نه تپوس اوکړه چې تاسوکله سوچ کړې دې که چرې په تاسو باندې دَالله تعالى عذاب ناڅاپی يا په ښکاره دَ ورځې يا دَ شپې راشی نودَ ظالمانو اوکافرانونه علاوه به څوک هلاکيږی؟ يعنی دکافرانونه بغيربه بل هيڅوك نه هلاکيږی. مونږ رسول صرف دَدې دَپاره ليکو چې دَ ايمان راوړونکوته دَ جنت زيرې واوروی اوکافران دَ دوزخ نه اوويروی نو چې چا په هغوی ايمان راوړو اودَ خپل عمل اصلاح ئې اوکړه دَهغوی دَپاره په آخرت کښې دَ هيڅ قسم غم او خفګان موقع نشته اوڅوک چې زمونږ آياتونه دروغ اوګڼړی نوهغوی ته دَخپل ګناه دَعمل دَ وجې نه سزا ملاويږی يعنی دَهغوی دَ طاعت دَحدنه دَ وتلودَ وجې نه، (اې محمد ﷺ) ته دوی ته اووايه چې زه تاسو ته نه وايم چې ماسره دَ الله تعالى خزانې دی دکومونه چې هغه رزق رکوی او نه زه دَغيب علم لرم يعنی کوم چې مانه غائب دی اوحال داچې زما طرف ته (دَهغې باره کښې) وحی نه وی راليګلې شوې اونه زه داوايم چې دَ فرښتونه زه يوه فرښته يم زه خو صرف دَهغې وحی پيروی کوم کومه چې زما طرف ته وحی کولې شی. بيا دَهغوی نه تپوس اوکړه چې رانده (يعنی) کافر او بينا (يعنی) مؤمن دواړه برابرکيدې شی؟ نه، آيا تاسو په دې کښې غورنه کوئې؟ چې ايمان راوړئې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: مِن زائدةٌ، مِن قَبْلِكَ کښې مِن زائده دې ځکه جه ظرف دَحرف جر متقاضی نه دې.

قوله: رُسُلاً، دا دَ اَرْسَلْنَا مفعول محذوف دې.

قوله: فَكَذَّبُوهُمْ: **سوال**: فَكَذَّبُوهُمْ محذوف منلو کښې څه ضرورت پيښ شوې؟

جواب: دې دَپاره چې دَ فاخذناهم تفريع صحيح شی. تقديری عبارت به داشی، وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا الى امم من قبلك رُسُلاً فَكَذَّبُوهُمْ فاخذناهم ګنی صرف ارسال په رسل باندې دَمواخذه هډو سوال نه پيدا کيږی.

قوله: اخذهٔ منكم: **سوال**: اخذهٔ کښې ضمير واحد دَ څه دَپاره راوړلې شوې دې حالانکه دَدې مرجع جمع ده؟

جواب: ماخوذ دَ مذکور دَتاويل دَ وجې نه ضمير واحد راوړلې شوې دې.

قوله: بزعمكم: تعلق مَن الهٌ سره دې يعني هغه اله کوم چې تاسو اله ګڼړئې.

....

[ایاتونه:۵۱-۵۵]

{وَأَنْذِرْ} خَوِّفْ {بِهِ} أَيْ الْقُرْآنِ {الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْ يُحْشَرُوا إِلَى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ مِنْ دُونِهِ} أَيْ غَيْرِهِ {وَلِيٌّ} يَنْصُرُهُمْ {وَلَا شَفِيعٌ} يَشْفَعُ لَهُمْ وَجُمْلَةُ النَّفْيِ حَالٌ مِنْ ضَمِيرِ يُحْشَرُوا وَهِيَ مَحَلُّ الْخَوْفِ وَالْمُرَادُ بِهِمْ الْمُؤْمِنُونَ الْعَاصُونَ {لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ} اللهَ بِإِقْلَاعِهِمْ عَمَّا هُمْ فِيهِ وَعَمَلِ الطَّاعَاتِ {وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ} بِعِبَادَتِهِمْ {وَجْهَهُ} تَعَالَى لَا شَيْئًا مِنْ أَعْرَاضِ الدُّنْيَا وَهُمُ الْفُقَرَاءُ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ طَعَنُوا فِيهِمْ وَطَلَبُوا أَنْ يَطْرُدَهُمْ لِيُجَالِسُوهُ وَأَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ طَمَعًا فِي إِسْلَامِهِمْ {مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِنْ} زَائِدَةٌ {شَيْءٍ} إِنْ كَانَ بَاطِنُهُمْ غَيْرَ مَرْضِيٍّ {وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ} جَوَابُ النَّفْيِ {فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ} إِنْ فَعَلْتَ ذٰلِكَ {وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا} ابْتَلَيْنَا {بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ} أَيْ الشَّرِيفَ بِالْوَضِيعِ وَالْغَنِيَّ بِالْفَقِيرِ بِأَنْ قَدَّمْنَاهُ بِالسَّبْقِ إِلَى الْإِيمَانِ {لِيَقُولُوا} أَيْ الشُّرَفَاءُ وَالْأَغْنِيَاءُ مُنْكِرِينَ {أَهٰؤُلَاءِ} الْفُقَرَاءُ {مَنَّ اللهُ عَلَيْهِمْ مِنْ بَيْنِنَا} بِالْهِدَايَةِ أَيْ لَوْ كَانَ مَا هُمْ عَلَيْهِ هُدًى مَا سَبَقُونَا إِلَيْهِ قَالَ تَعَالَى {أَلَيْسَ اللهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ} لَهُ فَيَهْدِيَهُمْ بَلَى {وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ} لَهُمْ {سَلَامٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ} قَضَى {رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ أَنَّهُ} أَيْ الشَّأْنَ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالْفَتْحِ بَدَلٌ مِنَ الرَّحْمَةِ {مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ} مِنْهُ حَيْثُ ارْتَكَبَهُ {ثُمَّ تَابَ} رَجَعَ {مِنْ بَعْدِهِ} بَعْدَ عَمَلِهِ عَنْهُ {وَأَصْلَحَ} عَمَلَهُ {فَإِنَّهُ} أَيْ اللهَ {غَفُورٌ} لَهُ {رَحِيمٌ} بِهِ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالْفَتْحِ أَيْ فَالْمَغْفِرَةُ لَهُ {وَكَذٰلِكَ} كَمَا بَيَّنَّا مَا ذُكِرَ {نُفَصِّلُ} نُبَيِّنُ {الْآيَاتِ} الْقُرْآنَ لِيَظْهَرَ الْحَقُّ فَيُعْمَلَ بِهِ {وَلِتَسْتَبِينَ} تَظْهَرَ {سَبِيلُ} طَرِيقُ {الْمُجْرِمِينَ} فَتُجْتَنَبَ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالتَّحْتَانِيَّةِ وَفِي أُخْرَى بِالْفَوْقَانِيَّةِ وَنَصْبِ سَبِيلَ خِطَابٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: اوتاسو دَ قرآن په ذريعه داسې خلق اوويروئې چې دَدې خبرې انديښنه لرى چې هغوى به دَخپل رب مخې ته په داسې حالت کښې څى چې دَهغوى به دَهغه نه علاوه بل هيڅوک ولى نه وى چې دَهغوى امداد اوکړى شى اونه شفيع چې دَ هغوى سفارش اوکړې شى اوجمله منفيه دَ يُحْشَرُوا دَ ضميرنه حال دې اوهم دغه دَ ويرې محل دې او دې نه مراد عصاة المؤمنين دي. طمع ده چې هغوى خپل معمولات پريږدى اودَ طاعت اعمال اختيارولو سره دَالله تعالى نه دَ ويرې لار إختيارکړى. اوهغه خلق دَ (مجلس نه) مه اوباسه چې سحر ماښام دَ خپل رب عبادت کوى دَهغوى مقصدخپل عبادت نه صرف دَ الله تعالى ذات دې نه چې دَ دنيا نور څه غرض او هغه فقيران (نادار) وو اومشرکانو به دَهغوى باره کښې پيغورونه کول اودَدې خبرې غوښتنه به ئې کوله چې نبى عليه السلام دَ (مجلس) نه اوباسى دې دَپاره چې هغوى نبى عليه السلام په مجلس کښې کينى. اوحضورپاک دَهغوى دَ اسلام راوړلو په خواهش دَدې ارادهم کړې وه. که دَ دغه فقيرانو باطن ناخوښه وى نودَوى ذره برابر حساب ستا په ذمه نشته مِنْ زائده دې او نه يوه ذره حساب ستا دَهغوى په ذمه دې چې ته هغوى دَ

(مجلس نه) اوباسې. دا جواب نفی دې که چرې تاداسې اوکړل نو ستا شمیر به په ظالمانو کښې اوشي. اوهم دغه شان مونږ بعضې دَ بعضو په ذریعه په امتحان کښې اچولی دی یعنی شریف دَ کمینه په ذریعه او مالدار دَ فقیرپه ذریعه په داسې توګه چې مونږ هغوی دَ ایمان طرف ته په سبقت کولو کښې مقدم کړی دی دې دَپاره چې شریفان او غنیان منکران اووائی چې آیا هم دا فقیران دی په چاباندې چې په مونږ کښې الله تعالی دَ هدایت انعام کړې دې یعنی په کومه (طریقه) چې دوی دی که چرې هغه هدایت وې نو دَهغې طرف ته به زمونږ نه دوی سبقت نه کولو. الله تعالی اوفرمائیل آیاداخبره نه ده چې الله تعالی خپل شکرکونکی ښه پیژنی چې هغوی ته هدایت ورکړی او ولې نه، اوکله چې هغه خلقو(چا چې) زمونږ په آیاتونوباندې ایمان راوړې دې تاسوله راشي نوهغوی ته اووایه په تاسو دې سلامتی وی ستاسورب په خپله ذمه رحمت لازم کړې دې. دا دَهغه رحم اوکرم دې که په تاسو کښې څوک دَ ناپوهی دَ وجې دَڅه ګناه ارتکاب اوکړی(او) بیا دَدغه ارتکاب نه پس هغه دَ دغه ګناه نه توبه اوکړه اودَخپل عمل اصلاح ئی اوکړه نوالله تعالی هغه معاف کوی او په یوقراءت کښې دَهمزه دَ فتحې سره دې (یعنی) دَهغه دَپاره مغفرت دې اوڅنګه چې مونږ دا مذکوره مضمون بیان کړې دې هم دغه شان مونږ دَ قرآن پاك آیاتونه ښکاره ښکاره بیانوو. دې دَپاره چې حق ښکاره شی او په دې عمل اوکړې شی اودې دپارهٔ چې دَ مجرمانو لار بالکل واضحه شی اودَهغې نه ډډه اوکړې شی. او په یوقراءت کښې (یَسْتَبِیْنَ) په یاء تحتانیه سره دې اوپه دویم قراءت کښې په تاء فوقانیه سره او سبیل په نصب سره دې. (په دې صورت کښې) به خطاب دَ نبی ﷺ دَپاره وی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَالْجُمْلَةُ النَّفِيُ حَالٌ مِنْ ضَمِيْرِ يُحْشَرُوْا په دې کښې اشاره ده چې جمله منفیه اَلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ صفت نه دې ځکه چې الذین معرفه ده اوجمله منفیه نکره اودَ نکره د معرفې صفت نه واقع کیږی نه اونه دَ یحشروا د ضمیر صفت دې ځکه چې مشهوره قاعده ده الضمیر لایوصف ولایوصف به بلکه دَ یحشروادَضمیرنه حال دې.

قوله: وَهِيَ مَحَلُّ الْخَوْفِ دَدې اضافې مقصد دَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دَحشرنه ویرولونه څه مقصد دې؟ سره دَدې چې حشرخو لامحاله واقع کیدونکې دې دَدې نه ویرول ممکن نه دی چې اندازمفید شی.

جواب: محل انداز یعنی مخوف به په داسې حالت کښې حشردې چې دَهغوی به څوك والی اوامدادی نه وی. دَ الذین یخافونه نه مراد ګناهګار مؤمنان دی چې څوك دَحشر یقین اوعقیده نه لری دَهغه ویرول بې فائدې دی اوکوم چې دَ اول نه متقی دې هغه ویرول

تحصيل حاصل دي لهذا متعين شوچې دَ چاد ويرولوحكم وركولې شى هغه عصاة المؤمنين دى.

قوله: جواب النفي، يعنى فَتَطْرُدَهُمْ د مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم جواب دې داد تطردَ دَ نصب دَ وجې بيان دې.

قوله: إِن كَانَ بَاطِنُهُمْ غَيْرَ مَرْضِيَ، يعنى بقول المشركين.

قوله: إِنْ فَعَلْتَ ذٰلِكَ، په دې كښې اشاره ده چې فتكون دَشرط محذوف جزا مقدم ده لهذا جواب نفى د تكرار ويره ختمه شوه.

قوله: بِالسبق أى بسبب السبق.

قوله: ليقولوا كښې لام دَ عاقبت دې لهذا دا اعتراض ختم شو چې دَ ابتلاء علت قول مذكور گرځول صحيح نه دى.

قوله: قضى، دكتبَ تفسير په قضىٰ سره كولو كښې يې اشاره اوكړه چې مراد وعده مؤكده ده نه چې فرض اولازم.

قوله: وفي قِرَاءَةٍ بِالْفَتْحِ دَ فتحې په صورت كښې د رحمة نه بدل دې اودَ كسرې په صورت كښې به جمله مستانفه وى چې دَ سوال مقدر جواب وى يعنى دَرحمت په باره كښې سوال اوشو ماهى؟ او مَن عمل الخ پوره جمله دَ سوال مقدر جواب دې.

قوله: فالمغفرَةُ له په دې كښې اشاره ده چې أَنَّهُ كښې أَنْ سره دَ خپل اسم مبتداء دې او لَهُ دَدې خبردې.

قوله: لِيَظْهَرَ الْحَقُّ، دې كښې اشاره ده چې دَ لتستبين په عطف علت مقدره باندې دې لهذا په سابق باندې دَ عطف دعدم صحت شبه ختمه شوه. دَ آيات تفصيل په صيغه دَ مضارع كولو مقصد استمرار دې لهذا تخصيص بالمستقبل اعتراض ختم شو.

قوله: وفي قراءة بالتحتانية يعنى په يو قراءت كښې ليستبين په ياء تحتانيه سره دې او السبيل دَدې فاعل دې او سبيل چونكه مذكر اومؤنث په دواړه طريقو استعماليږى لهذا دَعدم مطابقت اعتراض به هم نه وى اودَ السبيل دَ نصب په صورت كښې به دَ تستبين مفعول وى. دَ صيغه خطاب په صورت كښې به مخاطب حضورپاك ﷺ وى.

[اياتونه: ۵٦ ـ ٦٠]

{قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ} تَعْبُدُونَ {مِنْ دُونِ اللَّهِ قُلْ لَا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ} فِي عِبَادَتِهَا {قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا} إِنْ اتبعتها {وما أنا من المهتدين} {قُلْ إِنِّي عَلَى بَيِّنَةٍ} بَيَان {مِنْ رَبِّي و} قد {كَذَّبْتُمْ بِهِ} بِرَبِّي حَيْثُ أَشْرَكْتُمْ {مَا عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ} مِنَ الْعَذَاب {إِنْ} مَا {الْحُكْمُ} فِي ذلك وغيره {إلا

لله يقضى} القضاء {الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ} الْحَاكِمِينَ وَفِي قِرَاءَة يَقُصّ أَيْ يَقُول {قُل} لَهُمْ {لَوْ أَنَّ عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِيَ الْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ} بِأَنْ أُعَجِّلَهُ لَكُمْ وَأَسْتَرِيح وَلَكِنَّهُ عِنْد الله {وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ} مَتَى يُعَاقِبهُمْ {وَعِنْدَهُ} تَعَالَى {مَفَاتِحُ الْغَيْبِ} خَزَائِنه أَوْ الطُّرُق الْمُوَصِّلَة إِلَى عِلْمه {لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ} وَهِيَ الْخَمْسَة الَّتِي فِي قَوْله {إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ} الْآيَة كَمَا رَوَاهُ الْبُخَارِيّ {وَيَعْلَمُ مَا} يَحْدُث {فِي الْبَرِّ} الْقِفَار {وَالْبَحْرِ} الْقُرَى الَّتِي عَلَى الْأَنْهَار {وَمَا تَسْقُطُ مِنْ} زَائِدَة {وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ} عُطِفَ عَلَى وَرَقَة {إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ} هُوَ اللَّوْح الْمَحْفُوظ وَالِاسْتِثْنَاء بَدَل اشْتِمَال مِنَ الِاسْتِثْنَاء قبله {وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ بِاللَّيْلِ} يَقْبِض أَرْوَاحكُمْ عِنْد النَّوْم {وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ} كَسَبْتُمْ {بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ} أَيْ النَّهَار بِرَدِّ أَرْوَاحكُمْ {لِيُقْضَى أَجَلٌ مُسَمًّى} هُوَ اجل الْحَيَاة {ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ} بِالْبَعْثِ {ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} فيجازيكم به

ترجمه: (اې محمد ﷺ هغوی ته) اووایه دَالله تعالی نه سوا تاسوچې د چا بندګی کوئی دَهغوی دَ بندګئی نه زه منع کړې شوې يم (اوهغوی ته داهم) اووایه چې دَهغوی بندګی کولوکښې به زه ستاسو دَخواهشاتو تابعداری نه کوم که مادَ خواهشاتو تابعداری اوکړه نوزه به ګمراه شم اوزه به په هدایت یافته خلقوکښې پاتې نه شم. اووایهٔ چې زه دَخپل رب دَ طرف نه په روښانه دلیل باندې یم اوتاسو زما رب پرېخودې دې څکه چې تاسو شرك اوکړو. دَ کوم عذاب چې تاسو تادی کوئی هغه زماپه اختیارکښې نه دې په دې معامله کښې اوپه نورو معاملاتوکښې صرف هم دَیوالله حکم چلیږی هم هغه په حقه سره فیصله کوی اوهم هغه بهترفیصله کونکې دې. او په یوقراءت کښې دَ (یقض) په ځائې باندې یقصُ دې په معنی دَ یقول. اووایه که چرې هغه څیز دکوم چې تاسو تادی کوئی زما په اختیارکښې وې نوزما او ستاسو په مینځ کښې به فیصله شوې وه. په داسې توګه چې ما به په هغې کښې ستاسودَپاره تادی کړې وې او آرام به مې حاصل کړې وې لیکن هغه دَالله تعالی په اختیارکښې دې او هم الله تعالی ډیر پوهیږی چې ظالمانوته کله سزا ورکول دی هم هغه سره دَ غیبودَ خزانو کنجیانې دی یا دَغیب علم ته د رسیدلو طریقې هم د هغه سره دی هغې لره دَ هغه نه علاوه بل څوک نه پیژنی اوهغه پنځه دی دکومو ذکرچې دَالله تعالی قول(إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ) (الآية) کښې دی کما رواه البخاری. او په بحروبرکښې چې څه ښکاره کیږی هغه ټی پیژنی(یعنی) په کولاؤ میدانونو او هغه کلوکښې چې دَنهرونو په غاړه واقع دی. دَ ونې نه پریوتونکې یوه پاڼړه داسې نشته دکومې علم چې هغه ته نه وی اونه یوه دانه کومه چې دَزمکې په تیاروکښې وی اونه اوچې اونه لمده چې په کتاب مبین (یعنی) لوح محفوظ کښې نه وی ددې عطف په وَرَقَةٍ باندې دې او (دویمه)استثناء دَخپل ماقبل استثناء نه بدل الاشتمال دې هم هغه ذات دې چې دَ شپې په خوب کښې ستاسو روحونه قبض کوی او دَ ورځې چې څه تاسو کوئې دَهغې نه هغه ښه خبردې.

ستاسو روحونه راواپس کړي (په دويمه) ورځ تاسو راژوندي کوي دې دپاره چې تاسو دَ ژوند موده پوره کړئ اوهغه دَ مدت حيات دې. آخر دَ بعث په ذريعه هم دغه طرف ته ستاسو واپسي ده بيابه هغه تاسو ته اوښائي چې تاسو څه کول اودَ هغې به تاسو ته بدله درکړي.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: قدكَذَّبْتُمْ **سوال**: قدمحذوف منلوڅه ضرورت پيښ شو؟

جواب: ماضی چونکه بغير دَ قد نه حال واقع کيدې نه شي په دې وجه دلته قدمقدر او منلې شو.

قوله: القَضَاءَ الحَقَّ.

سوال. القضاءَ محذوف منلوڅه ضرورت پيښ شو؟

جواب: په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې الحَقَّ دَ مصدر محذوف صفت کيدو دَ وجې نه منصوب دې لهذا اوس داسوال ختم شو چې الحَقَّ دَ لفظ صفت کيدو دَ وجې نه مجرور دې.

قوله: وفي قراءة يَقُصُّ، أي يقص الحق بمعنى يقول الحق.

قوله: اَلْمَفَاتِحُ دا مفتح بكسرالميم جمع ده کنجی، چابی اووئيلی شوی دی چې د مَفتح بفتح الميم جمع دد په معنی دَ خزانې.

قوله: القَفْر خالي زمکه کولاؤ ميدان، القفار والقفور، دَ قفر جمع ده.

قوله. الطُّرُقُ المُوصِلة إلى عِلْمِه، دا استعاره بالكنايه په توګه دې.

قوله: بَدَلُ الاشْتِمَالِ مِنَ الإسْتِثْنَاءِ قبلهُ. يعنی إلا في كتاب مبين داد استثناء اول يعنی د إلا يعلمها نه بدل الاشتمال دې. دا په صاحب کشاف باندې رددې څکه چې صاحب کشاف استثناء ثاني دَ اول تاکيد ګرځولې دې.

[ايا تو له: ٦١-٧٠]

{وَهُوَ القَاهِرُ} مُسْتَعْلِيًا {فَوْقَ عِبَادِهِ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً} مَلائِكَةً تُحْصِي أعْمَالَكُمْ {حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ} وَفِي قِرَاءَةٍ تَوَفَّاهُ {رُسُلُنَا} المَلائِكَةُ المُوَكَّلُونَ بِقَبْضِ الأرْوَاحِ {وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ} يُقَصِّرُونَ فِيمَا يُؤْمَرُونَ بِهِ {ثُمَّ رُدُّوا} أي الخَلْق {إِلَى اللَّهِ مَوْلَاهُمُ} مَالِكِهِمْ {الْحَقِّ} الثَّابِتِ العَدْلِ لِيُجَازِيَهُمْ {أَلَا لَهُ الْحُكْمُ} القَضَاءُ النَّافِذُ فِيهِمْ {وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ} يُحَاسِبُ الخَلْقَ كُلَّهُمْ فِي قَدْرِ نِصْفِ نَهَارٍ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا لِحَدِيثٍ بِذَلِكَ {قُلْ} يَا مُحَمَّدُ لِأَهْلِ مَكَّةَ {مَنْ يُنَجِّيكُمْ مِنْ ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ} أَهْوَالِهِمَا فِي أَسْفَارِكُمْ حِينَ {تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا} عَلانِيَةً {وَخُفْيَةً} سِرًّا تَقُولُونَ {لَئِنْ} لامُ قَسَمٍ {أَنْجَيْتَنَا} وَفِي قِرَاءَةٍ أَنْجَانَا أي اللهُ {مِنْ هَٰذِهِ} الظُّلُمَاتِ وَالشَّدَائِدِ {لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ} المُؤْمِنِينَ {قُلْ} لَهُمْ

{اللّٰه يُنَجِّيكُمْ} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {مِنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْب} غَمّ سِوَاهَا {ثُمَّ أَنْتُمْ تشركون} به {قُلْ هُوَ الْقَادِر عَلَى أَنْ يَبْعَث عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقكُمْ} مِنْ السَّمَاء كَالْحِجَارَةِ وَالصَّيْحَة {أَوْ مِنْ تَحْت أَرْجُلكُمْ} كَالْخَسْفِ {أَوْ يَلْبِسكُمْ} يَخْلِطكُمْ {شِيَعًا} فِرَقًا مُخْتَلِفَة الْأَهْوَاء {وَيُذِيق بَعْضكُمْ بَأْس بَعْض} بِالْقِتَالِ قَالَ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذَا أَهْوَن وَأَيْسَر وَلَمَّا نزل ما قبله أَعُوذ بِوَجْهِك رَوَاهُ الْبُخَارِيّ وَرَوَى مُسْلِم حَدِيث سَأَلْت رَبِّي أَلَّا يَجْعَل بَأْس أُمَّتِي بَيْنهمْ فَمَنَعَنِيهَا وَفِي حَدِيث لَمَّا نَزَلَتْ قَالَ أَمَا إنَّهَا كَائِنَة وَلَمْ يَأْتِ تَأْوِيلهَا بَعْد {انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّف} نُبَيِّن لَهُمْ {الْآيَات} الدَّلَالَات عَلَى قُدْرَتنَا {لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ} يَعْلَمُونَ أَنَّ مَا هُمْ عليه باطل {وَكَذَّبَ بِهِ} بِالْقُرْآنِ {قَوْمك وَهُوَ الْحَقّ} الصِّدْق {قُلْ} لَهُمْ {لَسْت عَلَيْكُمْ بِوَكِيلٍ} فَأُجَازِيكُمْ إنَّمَا أَنَا مُنْذِر وَأَمْرُكُمْ إلَى اللّٰه وَهَذَا قَبْل الأمر بالقتال {لِكُلِّ نَبَإٍ} خَبَر {مُسْتَقَرّ} وَقْت يَقَع فِيهِ وَيَسْتَقِرّ وَمِنْهُ عَذَابكُمْ {وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ} تَهْدِيد لَهُمْ {وَإِذَا رَأَيْت الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتنَا} الْقُرْآن بِالِاسْتِهْزَاءِ {فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ} وَلَا تُجَالِسهُمْ {حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيث غَيْره وَإِمَّا} فِيهِ إدْغَام نُون إنْ الشَّرْطِيَّة فِي مَا الْمَزِيدَة {يُنْسِيَنَّك} بِسُكُونِ النُّون وَالتَّخْفِيف وَفَتْحهَا وَالتَّشْدِيد {الشَّيْطَان} فَقَعَدْت مَعَهُمْ {فَلَا تَقْعُد بَعْد الذِّكْرَى} أَيْ تَذَكُّرَه {مَعَ الْقَوْم الظَّالِمِينَ} فِيهِ وَضْع الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر وقال المسلمون إن قمنا كلما خَاضُوا لَمْ نَسْتَطِعْ أَنْ نَجْلِس فِي الْمَسْجِد وَأَنْ نَطُوف فَنَزَلَ {وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ} اللّٰه {مِنْ حِسَابهمْ} أَيْ الْخَائِضِينَ {مِنْ} زَائِدَة {شَيْء} إذَا جَالَسُوهُمْ {وَلَكِنْ} عَلَيْهِمْ {ذِكْرَى} تَذْكِرَة لَهُمْ وَمَوْعِظَة {لَعَلَّهُمْ يتقون} الخوض {وَذَرْ} اُتْرُكْ {الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينهمْ} الَّذِي كُلِّفُوهُ {لَعِبًا وَلَهْوًا} بِاسْتِهْزَائِهِمْ بِهِ {وَغَرَّتْهُمْ الْحَيَاة الدُّنْيَا} فَلَا تَتَعَرَّض لَهُمْ وَهَذَا قَبْل الْأَمْر بِالْقِتَالِ {وذكر} عظ {به} بالقرآن الناس ل {أَنْ} لَا {تُبْسَل نَفْس} تُسْلَم إلَى الْهَلَاك {بِمَا كَسَبَتْ} عملت {ليس لها مِنْ دُون اللّٰه} أَيْ غَيْره {وَلِيّ} نَاصِر {وَلَا شَفِيع} يَمْنَع عَنْهَا الْعَذَاب {وَإِنْ تَعْدِل كُلّ عَدْل} تَفْدِ كُلّ فِدَاء {لَا يُؤْخَذ مِنْهَا} مَا تَفْدِي بِهِ {أُولَئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا لَهُمْ شَرَاب مِنْ حَمِيم} مَاء بَالِغ نِهَايَة الْحَرَارَة {وَعَذَاب أَلِيم} مُؤْلِم {بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ} بكفرهم

ترجمه: هغه په خپلو بندیگانو باندې په پوره توګه سره غالب دې او په تاسو باندې نګراني فرښتې راليږي كومې چې ستاسو دَ اعمالو حساب ساتي تردې چې كله په تاسو كښې دَ چا دَ مرګ وخت رانيزدې شي نوزمونږ ليږلې شوې فرښتې كومې چې په روح قبض كولو باندې مقرردى دَهغه روح قبض كوي. په يوقراءت كښې توفاه دې دكوم كارچې هغوى ته حكم وركولې شي هغوى په هغې كښې ذره برابركوتاهي نه كوي. بيابه مخلوق دَخپل مالك برحق طرف ته واپس شي چې باقي پاتې كيدونكې عادل دې دې دَپاره چې هغوى له بدله وركړي. ښه واوُره په دوئ كښې دَهغه فيصله نافذ ده اوهغه په حساب اخستلوكښې ډير تيز دې اودَ پوره مخلوق به دَحديث په رڼا كښې دَدنياوى ورځو په اعتبارسره په نيمه ورځ كښې حساب اخلي. اې

محمد ﷺ دَ اهل مکه نه تپوس اوکړه چې دَ صحرااو سمندردَتیاروډ خطرونه ستاسو دَ سفرپه وخت تاسو څوک بچ کوی؟ (او څوك دې هغه) چې تاسو ئې په عاجزئې سره په زوره زوره او په پټه پټه رابلئ وایئې قسم دې لام قسمیه دې که چرې تامونږ دَدې تیارو اوتکلیف نه بچ کړو نومونږ به شکرګذار مؤمنان جوړشو او په یوقراءت کښې أَنجانَا دې یعنی که الله تعالی مونږ بچ کړو. ته دوی ته اووایه چې الله تعالی به تاسو دَهرمصیبت نه اودَدې نه علاوه دَهرغم نه خلاصې درکړی بیاتاسو نور هغه سره شریکان ګرځوئې. (يُنجِيكُمْ) په تخفیف اوتشدیدسره دې. ته ورته اووایه هغه په دې خبره باندې قادردې چې په تاسو باندې دَپاسه (یعنی) دَ آسمان نه عذاب راولیږی مثلاً کانړی اوچغه یاستاسو دَخپولاندې مثلاً په زمکه کښې مو ورخښ کړی یاتاسو دَ مختلفو خیالاتوډلې ډلې کړی او دَ جنګ په ذریعه یوې ډلې ته دَ بلې ډلې دَ طاقت مزه دراوڅکئ کله چې دا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا أَهْوَنُ او آسان دی اوکوم وخت چې دَدې ماقبل نازل شو نوحضورپاك اوفرمائیل زه ستاپه ذات سره پناه غوارم(رواه البخاری) او مسلم یوحدیث روایت کړې دې چې زه درخواست کوم چې اې زما ربه ته زما دَ امت په خپل مینځ کښې اختلاف مه اچوه نوالله تعالی زه منع کړم او په یوحدیث شریف کښې دی چې کوم وخت داآیت نازل شو نوحضورپاك اوفرمائیل دا (منازعت) به بهرحال کیږی او تردې وخته پورې د دې تاویل نه دې راغلې. تاسو ګورئې چې مونږ کوم کوم قسم په خپل قدرت دلالت کونکې نخښې بیانوو دې دَپاره چې هغوی په دې خبرد باندې پوهه شی چه په څه چې هغوی قائم دی هغه باطل دی. دَدې قرآن ستا قوم تکذیب اوکړو حالانکه دا ربښتونې دې. ته هغوی ته اووایه چې زه په تاسو باندې مسلط کړې شوې نه یم چې زه تاسوته دَدې بدله درکړم زه خو صرف ویرونکې یم اوستاسو معامله خود الله تعالی سره ده. اوداحکم دَجهاددَحکم نه دَ وړاندې دې. دَهرخبروخت مقرردې چې په هغې کښې واقع او ښکاره شی اوهم دَدې نه ستاسو عذاب هم دې او تاسو به ډیرزر دَانجام نه خبرشئ دادَهغوی دَپاره دهمکی ده (اواې محمد ﷺ) کوم وخت چې ته اوګورې چې خلق زمونږ په آیاتونوپه قرآن کښې نکته چینی کوی نودَهغوی نه ډده اوکړه اوهغوی سره مه کینه تردې چې هغوئ په نورو خبروکښې اخته شی اوکه شیطان تانه هیرکړی (إمّا) کښې د إنْ شرطیه په مَا زائده کښې ادغام دې. (يُنسِيَنَّكَ) دَ نون په سکون اوتخفیف سره اودَ نون په تشدیداوفتحې سره (هم) دې چې ته هغوی سره کینې نو په یاد راتلوسره داسې ظالمانوخلقوسره مه کینه. په دې کښې اسم ظاهردَ اسم ضمیرپه ځائی کیخودلې شوې دې مسلمانانواووئیل چې کله هغوی نکته چینی کوی اومونږدَهغوی نه پاسو نومونږ نه په جمات کښې کیناستې شو اونه طواف کولې شو نو (داآیت نازل شو) اوڅوک چې دَالله

تعالى نه ويريږي نود نکته چينئ کونکود حساب به دهغوى نه هيڅ مواخذه نه کيږي کله چې هغوى دوى سره ناست وى (مِنْ شَيْءٍ) کښې مِن زائده دې مګردهغوى په ذمه دَ هغوى دپاره تذکيراونصيحت دې کيدې شي چې هغوى دَ نکته چينئى نه منع شي. اوداسې خلقونه تاسو په ډډه شئى چاچې خپل دين دکوم چې هغوى مکلف کړى دې دى مسخرې کولوسره لوبې تړقې جوړې کړى دى اوهغوى دنياوى ژوند په دهوکه کښې اچولى دى. لهذا ته هغوى ته هيڅ تعارض مه کوه. دا حکم دَ جهاد دَحکم نه وړاندې دې اودَدې قرآن په ذريعه خلقو ته نصيحت کوه هسې نه چې نفس د خپلو دَ کړو دَ وجې نه هلاکت ته حواله کړې شى چې دَهغه دپاره به دَالله تعالى نه سوا نه څوک امدادى وى اونه سفارشى چې هغه دَعذاب نه بچ کړې شى اوکه چرې دغه کس پوره دنياهم په فديه کښې ورکړى نوبيابه هم هغه قبوله نه کړې شى هم دا هغه خلق دى چې دَ خپلو کړو په سبب راګيرشوى دى. دَهغوى دَ څکلودپاره به ډيرې زياتې ګرمې اوبه وى اودَهغوى دکفر په سبب به دردناک عذاب زغمي.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَهُوَالْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ، داکلام مستانف دې په خپل مخلوق باندې دَ قهراوغلبې بيانولودپاره راوړلې شوې دې. هُوَ مبتداء ده القاهِرُ دَدې خبردې فوقَ ظرف د مستعليًا محذوف سره متعلق دې کوم چې حال دې.

قوله حَتّى إذا جاءالخ دا دَحفظ اعمال غايت دې يعنى په ژوندون کښې حفاظت کوى ترمرګه پورې.

قوله: الْمَلَٰئِكَةُ أي ملك الموت وَأعوانَهُ.

قوله. حين لفظ حين مقدرمنلوکښې يئ اشاره اوکړه چې تدعونَهُ، دنُنَجِّيكم دضمير مفعول نه حال دې.

قوله. الظلمت والشدائد، ددې اضافې مقصدد هذه اسم اشاره مؤنث د مشار اليه تعيين دې.

قوله: هذا مبتداء دد او أهْوَنَ وأيْسَرُ، معطوف عليه يا معطوف دَمبتداء خبردې.

قوله: عَلَيْهِمْ ذکرى، دَمبتداء کيدودَ وجې نه محلاً مرفوع دې دَدې خبرمحذوف دې.

قوله: يکفرهم دې سره اشاره اوکړه چې بماکانوايکفرون کښې ما مصدريه ده نه چې موصوله لهذا دَ عدم عائد اعتراض به نه وارديږى.

[اياتو نه: ۷۱-۸۲]

{قل أندعوا} أنعبد {مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعنَا} بِعِبَادَتِهِ {وَلَا يَضُرُّنَا} بِتَرْكِهَا وَهُوَ الأَصْنَام {وَنُرَدُّ عَلَى أَعْقَابِنَا} نَرْجِع مُشْرِكِينَ {بَعْدَ إِذْ هَدَانَا اللَّه} إلَى الإِسْلَام {كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ} أَضَلَّتْهُ {الشَّيَاطِين فِي الْأَرْض حَيْرَان} مُتَحَيِّرًا لَا يَدْرِي أَيْنَ يَذْهَب حَال مِنْ الْهَاء {لَهُ أَصْحَاب} رُفْقَة {يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى} أَيْ لِيَهْدُوهُ الطَّرِيق يَقُولُونَ لَهُ {ائْتِنَا} فَلَا يُجِيبهُمْ فَيَهْلَك وَالِاسْتِفْهَام لِلْإِنْكَارِ وَجُمْلَة التَّشْبِيه حَال مِنْ ضَمِير نُرَدّ {قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّه} الَّذِي هُوَ الْإِسْلَام {هُوَ الْهُدَى} وَمَا عَدَاهُ ضَلَال {وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ} أَيْ بِأَن نسلم {لرب العالمين} {وَأَنْ} أَيْ بِأَنْ {أَقِيمُوا الصَّلَاة وَاتَّقُوهُ} تَعَالَى {وَهُوَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ} تُجْمَعُونَ يَوْم الْقِيَامَة لِلْحِسَابِ {وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَات وَالْأَرْض بِالْحَقِّ} أَيْ مُحِقًّا {وَ} اُذْكُرْ {يَوْم يَقُول} لِلشَّيْءِ {كُنْ فَيَكُون} هُوَ يَوْم الْقِيَامَة يَقُول لِلْخَلْقِ قُومُوا فَيَقُومُوا {قَوْله الْحَقّ} الصِّدْق الْوَاقِع لَا مَحَالَة {وَلَهُ الْمُلْك يَوْم يُنْفَخ فِي الصُّور} الْقَرْن النَّفْخَة الثَّانِيَة مِنْ إسْرَافِيل لَا مُلْك فِيهِ لِغَيْرِهِ {لِمَنْ الْمُلْك الْيَوْم لِلَّهِ} {عَالِم الْغَيْب وَالشَّهَادَة} مَا غَابَ وَمَا شُوهِدَ {وَهُوَ الْحَكِيم} فِي خَلْقه {الْخَبِير} بِبَاطِنِ الْأَشْيَاء كَظَاهِرِهَا {وَ} اُذْكُرْ {إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيم لِأَبِيهِ آزَر} هُوَ لَقَبه وَاسْمه تَارَخ {أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَة} تَعْبُدهَا اسْتِفْهَام تَوْبِيخ {إِنِّي أَرَاك وَقَوْمك} بِاتِّخَاذِهَا {فِي ضَلَال} عَنْ الْحَقّ {مُبِين} بَيِّن {وَكَذَلِكَ} كَمَا أَرَيْنَاهُ إضْلَال أَبِيهِ وَقَوْمه {نُرِي إِبْرَاهِيم مَلَكُوت} مُلْك {السَّمَاوَات وَالْأَرْض} لِيَسْتَدِلّ بِهِ عَلَى وحدانيتا {وليكون مِنْ الْمُوقِنِينَ} بِهَا وَجُمْلَة وَكَذَلِكَ وَمَا بَعْدهَا اعْتِرَاض وَعُطِفَ عَلَى قَالَ {فَلَمَّا جَنَّ} أَظْلَمَ {عَلَيْهِ اللَّيْل رَأَى كَوْكَبًا} قِيلَ هُوَ الزُّهْرَة {قَالَ} لِقَوْمِهِ وَكَانُوا نَجَّامِينَ {هَذَا رَبِّي} فِي زَعْمكُمْ {فَلَمَّا أَفَلَ} غَابَ {قَالَ لَا أُحِبّ الْآفِلِينَ} أَنْ أَتَّخِذهُمْ أَرْبَابًا لِأَنَّ الرَّبّ لَا يَجُوز عَلَيْهِ التَّغَيُّر وَالِانْتِقَال لِأَنَّهُمَا مِنْ شَأْن الْحَوَادِث فَلَمْ يَنْجَع فِيهِمْ ذلك {فَلَمَّا رَأَى الْقَمَر بَازِغًا} طَالِعًا {قَالَ} لَهُمْ {هَذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَمْ يَهْدِنِي رَبِّي} يُثَبِّتنِي عَلَى الْهُدَى {لَأَكُونَن مِنْ الْقَوْم الضَّالِّينَ} تَعْرِيض لِقَوْمِهِ بِأَنَّهُمْ عَلَى ضَلَال فَلَمْ يَنْجَع فِيهِمْ ذَلِكَ {فَلَمَّا رَأَى الشَّمْس بَازِغَة قَالَ هَذَا} ذَكَّرَهُ لِتَذْكِيرِ خَبَره {رَبِّي هَذَا أَكْبَر} مِنْ الْكَوْكَب وَالْقَمَر {فَلَمَّا أَفَلَتْ} وَقَوِيَتْ عَلَيْهِمْ الْحُجَّة وَلَمْ يَرْجِعُوا {قَالَ يَا قَوْم إِنِّي بَرِيء مِمَّا تُشْرِكُونَ} بِاَللَّهِ مِنْ الْأَصْنَام وَالْأَجْرَام الْمُحْدَثَة الْمُحْتَاجَة إلَى مُحْدِث فَقَالُوا لَهُ مَا تَعْبُد قَالَ {إِنِّي وَجَّهْت وَجْهِي} قَصَدْت بِعِبَادَتِي {لِلَّذِي فَطَرَ} خَلَقَ {السَّمَاوَات وَالْأَرْض} أَيْ اللَّه {حَنِيفًا} مَائِلًا إلَى الدِّين الْقَيِّم {وَمَا أَنَا مِنْ المشركين} به {وَحَاجَّهُ قَوْمه} جَادَلُوهُ فِي دِينه وَهَدَّدُوهُ بِالْأَصْنَامِ أن تصيبه بسوء إن تركها {قَالَ أَتُحَاجُّونِي} بِتَشْدِيدِ النُّون وَتَخْفِيفهَا بِحَذْفِ إحْدَى النُّونَيْنِ وَهِيَ نُون الرَّفْع عِنْد النُّحَاة وَنُون الْوِقَايَة عِنْد الْقُرَّاء أتجادلونني {فِي} وحدانية {اللَّه وَقَدْ هَدَان} تعالى إليها {وَلَا أَخَاف مَا تُشْرِكُونَ} {بِهِ} مِنْ الْأَصْنَام أَنْ تُصِيبنِي بِسُوءٍ لِعَدَمِ قُدْرَتهَا عَلَى شَيْء {إِلَّا} لَكِنْ {أَنْ يَشَاء رَبِّي شَيْئًا} مِنْ الْمَكْرُوه يُصِيبنِي فَيَكُون {وَسِعَ رَبِّي كُلّ شَيْء عِلْمًا} أَيْ وَسِعَ عِلْمه كُلّ شَيْء {أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ} هَذَا فَتُؤْمِنُونَ {وَكَيْفَ أَخَاف مَا أَشْرَكْتُمْ} بِاَللَّهِ وَهِيَ لَا تَضُرّ وَلَا

نفع {وَلَا تَخَافُونَ} أَنتُمْ مِنَ اللهِ {أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُمْ بِاللَّهِ} فِي الْعِبَادَةِ {مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ} بِعِبَادَتِهِ {عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا} حُجَّةً وَبُرْهَانًا وَهُوَ الْقَادِرُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ {فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ} أَنَحْنُ أَمْ أَنتُمْ {إِنْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ} مَنِ الْأَحَقُّ بِهِ أَيْ وَهُوَ نحن فاتبعوه قال تعالى {الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا} يَخْلِطُوا {إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ} أَيْ شِرْكٍ كَمَا فُسِّرَ بِذَلِكَ فِي حَدِيثِ الصحيحين {أولئك لهم الأمن} من العذاب {وهم مهتدون}

ترجمه: ته ورته اووايه چې آيا مونږ دَالله تعالى نه علاوه دَداسې څيزونو بندګي اوکړو چې نه دَهغې په بندګنې کولوسره مونږ ته نفع رسولې شي او نه په ترک بندګنې سره مونږ ته څه نقصان رسولې شي اوهغه بتان دی اوحال دادې چې الله تعالى مونږ ته دَ اسلام نيغه لارخودلې ده نوآيا مونږ مشرکان شو او اولټه خپې واپس اوګرځو دَهغه سړی په شان کوم چې شيطان په صحرا کښې ورک (ګډود) کړې وی اوهغه حيران ګرځی اونه پوهيږی چې کوم طرف ته لاړ شي. حيران استهوانهُ دَ ضميرنه حال دې اودَهغه ملګری هغه نيغې لارې طرف ته رابلې هغه ته وائی چې مونږ له راشه اوهغه هغوئ ته جواب ورنه کړی دَ کوم په نتيجه کښې هغه چې هلاک شی. استفهام دَانکاردَ پاره دې اوجمله تشبيه دنُرَدُّ دَ ضميرنه حال دې. اووايه چې په حقيقت کښې نيغې لارې ته هدايت کول صرف دَالله تعالى دی اوهغه اسلام دې. دې نه علاوه څه چې دی هغه ګمراهی ده اودَهغه دَ طرف نه مونږ ته داحکم ملاؤشوې دې چې مونږ دَ رب العالمين په وړاندې سرتسليم ښکته کړو اومونځ قائم کړئ اودَ الله تعالى نه اوويريږئ اوهغه هغه ذات دې چې تاسو به دَ قيامت په ورځ هم دَهغه طرف ته راجمع کولې شئ. اوهم هغه ذات دې چې آسمانونه اوزمکه يې په حق سره (په يو مقصد) پيدا کړی دی اوهغه ورځ ياده کړئ په کومه ورځ چې هغه شئ ته اووائی شه نوهغه به شی اوهغه دَ قيامت ورځ ده په کومه ورځ چې به مخلوق ته وائی پاڅيږئ نو پاڅيږی به. دَهغه فرمان حق دې يعنی رښتيادې او لامحاله واقع کيدونکې دې او په کومه ورځ چې په شپيلئ کښې دويم پوکې دَ اسرافيل عليه السلام په ذريعه پوک وهلې شی بادشاهی به هم دَالله تعالى وی په هغه ورځ به دَ چا حکومت نه وی ځکه چې دَالله تعالى فرمان دې) لمن الملك اليوم لله، دَ پټو اوښکاره څيزونو پيژندونکې دې هغه دَ خپل مخلوق باره کښې حکيم دې اودَ څيزونو دَ باطن نه دَهغې دَ ښکاره په شان خبردې اوهغه وخت يادکړه کوم وخت چې حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلار آزرته کوم چې دَهغه لقب وو اودَ هغه نوم تارخ وو اووئيل آيا ته بتان معبود ګرځوې دَ کوم چې ته بندګی کوې. دا استفهام توبيخی دې بيشکه څه تا او ستا قوم دَدې بتانودَ عبادت دَ وجې نه دَ حق نه لرې په صريح ګمراهئ کښې ګورم اولکه څنګه چې مونږه حضرت ابراهيم عليه السلام ته دَ هغه دَ پلار اودَهغه دَ قوم ګمراهی اوخودله دغه شان مونږ حضرت ابراهيم عليه السلام ته دَ آسمانونو او زمکې دَ سلطنت نظام اوخودلو دې دَپاره چې هغه دَدې په ذريعه زمونږ په وحدانيت باندې استدلال اوکړی

او دې دپاره چې دَ دې په ذريعه (کامل) يقين کونکونه شي. او كذلك او دَدې مابعد جمله معترضه ده او قَالَ إبراهيمُ باندې عطف دې چې کله په هغه باندې دَ شپې تياره خوره شوه نو هغه يوستوري اوليدلو وئيلي شوى دى چې هغه زهره وو خپل قوم ته چې دستورو عبادت به ئې کولو اووئيل ستاسو په خيال کښې دازما رب دې خوچې کله هغه ډوب شونو وئې وئيل زه ډوبيدونکى سره محبت نه کوم چې هغه خپل رب جوړ کړم ځکه چې په رب باندې تغير او انتقال نه راځى ځکه چې داخو دَ محدثاتو صفت دې ليکن دادليل په هغوى موثر ثابت نه شو. بيائى چې کله سپوږمئى پرقيدونکې اوليدله نو هغوى ته ئې اووئيل دا زما رب دې بياچې کله هغه ډوبه شوه نووئې وئيل که چرې زما رب زما لارخودنه نه کوله (يعنى) هدايت باندې زه ثابت قدم نه ساتلم نوزه به په ګمراه خلقوکښې شامل شوې ووم (دا) په قوم باندې تعريض دې چې هغوى په ګمراهئ باندې دى. دې خبرې هم په هغوى څه اثر اونه کړو بياچې کله ئې نمر روښانه اوليدلو نووئې وئيل هذا دَدې خبر مذکر کيدودَ وجې نه مذکر راوړلې دې دا زما رب دې دادَ ټولو ستورو او سپوږمئى نه لوئى دې بياچې کله هغه هم ډوب شو او په هغوى باندې حجت پوره شو خوهغوى رجوع او نه کړه نوحضرت ابراهيم عليه السلام اووئيل اې زما دَ قوم خلقو زه دَدې بتانو اودَ فناکيدونکو اجسامونه چې دَ فناکونکى محتاج دى برى يم کوم چې تاسو الله تعالى سره شريک ګرځوئى. هغوى اووئيل ته دَ چابندګى کول غواړې وئى وئيل چې ماخو خپل مخ يوشان کيدوسره يعنى دين قيم طرف ته مائل کيدوسره هغه ذات طرف ته کړې دې چاچې آسمان اوزمکې پيداکړى دى يعنى دَالله تعالى طرف ته اوزه هيڅ کله هغه سره دَ شرک کونکونه نه يم نودَهغه قوم هغه سره حجت کول شروع کړل يعنى هغه سره يئ دَهغه دَ دين په باره کښې جګړې کړې اوهغه ئې دَ بتانونه ويرولو که چرې دا ئې پريخودل نوهغه ته به نقصان اورسوى. نو (حضرت ابراهيم عليه السلام) اوفرمائيل آياتاسو ماسره دَ الله تعالى دَ وحدانيت باره کښې جګړې کوئې. (أتحاجولى) دَنون په تشديد او تخفيف سره دې دَ دواړو نه يوحذف کولوسره اودا دَ نحويانو په اصطلاح کښې نون رفع دې اودَ قاريانو په اصطلاح کښې نو وقايه دې اوالله تعالى دَ هدايت طرف ته زما لارخودنه کړې ده اوزه ستاسو هغه سره شريک ګرځولې بتانونه نه ويريږم چې هغوئ به ماته تکليف راورسوى ځکه چې دوى ته په هيڅ څيزباندې قدرت حاصل نه دې اوکه زما رب اوغواړى چې ماته څه تکليف راورسوى نوهغه کيدې شي زما دَ رب علم په هرڅيزباندې خوردې آيا تاسو دَدې نه نصيحت نه حاصلوئى چې ايمان راوړئى؟ اوزه دَهغه څيزونونه څنګه اوويريږم کوم چې تاسو دَالله تعالى شريکان ګرځولى دى اوهغوئ نه نقصان رسولى شى اونه نفع حالانکه تاسو دَ الله تعالى نه نه ويريږئى چې تاسو په عبادت کښې هغوئ دَا لله تعالى شريکان ګرځولى دى دَ کومو

دَ عبادت باره کښې چې الله تعالی په تاسو باندې څه دلیل یا حجت نه دې قائم کړې هغه په هرڅیزباندې قادردې. نو اوښایئې په دواړو فریقوکښې دَ امن کوم یوزیات مستحق دې مونږ یا تاسو؟ که چرې تاسو پوهیږئ چې دَدې زیات څوک مستحق دې اوهغه هم مونږ یو لهذا تاسو دَدې اتباع اوکړئ. الله تعالی اوفرمائیل چې دَ عذاب نه دَامن حقدار خو هم هغه دی چې ایمان ئې راوړې دې او هغوی خپل ایمان دشرک سره ګډه کړې نه دې لکه چې دَصحیحین په حدیث کښې دَظلم تفسیرپه شرك سره کړې شوې دې اوهم هغوئ هدایت بیاموندونکی دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: قُلْ اَنَدْعُوْا، همزهٔ استفهام انکاری دَ توبیخ دَپاره ده اودَ نَدْعُوْا په آخرکښې الف مشابه دَ جمع دَ وجې نه دې دا رسم الخط دمصحف عثمانی مطابق دې.

قوله: نُرَدُّ، مضارع مجهول متکلم دَدې عطف په نَدْعُوْا باندې دې دَانکارلاندې داخل دې. نحنُ دَدې نائب فاعل مستتردې نرجع دَ نُرَدُّ تفسیردې مشرکین دَ نُرَدُّ دضمیرنه حال دې.

قوله: استَہْوَتْهُ،دا د اِسْتِہْوَاءٌ نه ماضی واحدمؤنث غائب، هٗ ضمیرمفعولی دې هغه ګمراه کړو.

قوله: حَیْرَان، په معنی د متحیر صیغه صفت مشبه دَدې مؤنث حیری دې.

قوله: كَالَّذِی استهوَتْهُ، دا جمله دنُرد د ضمیرنائب فاعل نه حال دې تقدیری عبارت دادې نُرَدُّ مشبهین الذی استهوته الشیاطین او حیرانَ داستهوتهٗ ضمیرمفعولی نه حال دې.

قوله: ذُكِّرَلِتَذْكِيْرِخَبَرِه، دادَ یواعتراض جواب دې.

اعتراض: دَ هذا مرجع الشمس دې چې مؤنث سماعی دې لهذا اسم اشاره هم هذه پکاردی ردَپاره چې اسم اشاره اومشار الیه کښې مطابقت راشی.

جواب: کله چې په اسم اشاره اومشار الیه کښې مطابقت نه وی نودَخبررعایت کولې شی.

[ایاتونه: ۸۳-۹۰]

{وَتِلْكَ} مُبْتَدَأ وَيُبْدَل مِنْهُ {حُجَّتُنَا} الَّتِي احْتَجَّ بِهَا إبْرَاهِيم عَلَى وَحْدَانِيَّة اللَّه مِنْ أُفُول الْكَوْكَب وَمَا بَعْده وَالْخَبَر {آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ} أَرْشَدْنَاهُ لَهَا حُجَّة {عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ} بِالْإِضَافَةِ وَالتَّنْوِين فِي الْعِلْم وَالْحِكْمَة {إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ} فِي صُنْعه {عَلِيمٌ} بِخَلْقِهِ {وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ} ابْنه {كُلًّا} مِنْهُمَا {هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ} أَيْ قَبْل إبْرَاهِيم {وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ} أَيْ نُوح {دَاوُدَ وَسُلَيْمَانَ} ابْنه {وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ} بْن يَعْقُوب {وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ} كَمَا جَزَيْنَاهُمْ {نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ} {وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى} ابْنه {وَعِيسَى} بْن مَرْيَم يُفِيد أَنَّ الذُّرِّيَّة تَتَنَاوَل أَوْلَاد الْبِنْت {وَإِلْيَاسَ} بْن أَخِي هَارُون أَخِي مُوسَى {كُلٌّ} مِنْهُمْ {مِنَ الصَّالِحِينَ} {وَإِسْمَاعِيلَ} بْن إبْرَاهِيم {وَالْيَسَعَ} اللَّام زَائِدَة {وَيُونُسَ وَلُوطًا}

بن هَارَانَ أَخِي إِبْرَاهِيمَ {وَكُلًّا} مِنْهُمْ {فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ} بالنبوة {وَمِنْ آبَائِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ} عُطِفَ عَلَى كُلًّا أَوْ نُوحًا وَمِنْ لِلتَّبْعِيضِ لِأَنَّ بَعْضَهُمْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَد وَبَعْضهمْ كَانَ فِي وَلَده كَافِر {وَاجْتَبَيْنَاهُمْ} اخترناهم {وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} {ذَلِكَ} الدِّين الَّذِي هُدُوا إِلَيْهِ {هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَلَوْ أَشْرَكُوا} فرضا {لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} {أُولَئِكَ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ} بِمَعْنَى الْكُتُب {وَالْحُكْمَ} الْحِكْمَة {وَالنُّبُوَّةَ فَإِنْ يَكْفُرْ بِهَا} أَيْ بِهَذِهِ الثَّلَاثَة {هَؤُلَاءِ} أَيْ أَهْل مَكَّة {فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا} أَرْصَدْنَا لَهَا {قَوْمًا لَيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ} هُمْ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَار {أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى} هُمْ {اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ} طَرِيقهمْ مِنَ التَّوْحِيد وَالصَّبْر {اقْتَدِهْ} بِهَاءِ السَّكْت وَقْفًا وَوَصْلًا وَفِي قِرَاءَة بِحَذْفِهَا وَصْلًا {قُلْ} لِأَهْلِ مَكَّة {لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ} أَيْ الْقُرْآن {أَجْرًا} تُعْطُونِيهِ {إِنْ هُوَ} مَا الْقُرْآن {إِلَّا ذِكْرَى} عِظَة {لِلْعَالَمِينَ} الْإِنْس وَالْجِنّ

ترجمه: دا زمونږ حجت دې چې مونږ ابراهیم علیه السلام ته ورکړو (یعنی) مونږ دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دَ حجت طرف ته رهنمائی اوکړه په کوم سره چې حضرت ابراهیم علیه السلام دَ الله تعالی په وحدانیت دَ ستورو ډوبیدو او دَ مابعدنه استدلال اوکړو او په خپل قوم ئې حجت قائم کړو. تلك مبدل منه او حجتنا بدل دې، بدل مبدل منه مبتداء شوه او آتینا ابراهیم دَ مبتداء خبر دې او مونږ چې دَ چا پاره غواړو په علم او حکمت کښې درجات اوچتوو. (ترفع درجات) په اضافت (یعنی بغیر تنوین) او تنوین سره دې. بیشکه ستا رب په خپل صنعت کښې باحکمت (او) دَ خپل مخلوق دَ حالاتو نه خبر دې. او مونږ ابراهیم علیه السلام ته اسحاق علیه السلام او یعقوب بن اسحاق علیه السلام ورکړو او مونږ په هغوی کښې هر یو ته هدایت ورکړو او دَ ابراهیم علیه السلام نه وړاندې مونږ نوح علیه السلام ته هدایت ورکړو او دَ نوح علیه السلام دَ ذریت نه داؤد علیه السلام او سلیمان علیه السلام بن داؤد او ایوب علیه السلام او یوسف علیه السلام بن یعقوب علیه السلام ته او موسی علیه السلام ته او هارون علیه السلام ته هدایت ورکړو او لکه څنګه چې مونږ دوی ته بدله ورکړه هم دغه شان مونږ نیکانو خلقو ته بدله ورکوو. او زکریا علیه السلام ته او دَ هغه خوئی یحیی ته او عیسی ابن مریم علیه السلام ته (هدایت ورکړو) دې نه دا خبره مستفاد کیږی چې دَ لور اولاد هم په ذریت کښې شامل دې او دَ موسیٰ د رور د هارون علیه السلام وراره الیاس علیه السلام (ته مو هدایت ورکړو) او دا ټول دَ نیکانو خلقو نه وو او اسماعیل علیه السلام ابن ابراهیم ته او یسع علیه السلام (الیسع) کښې لام زائده دې او یونس ته او دَ ابراهیم رور هاران خوئی لوط علیه السلام ته مونږ دَ دوی نه هر یو ته په دنیا والو باندې دَ نبوت په ذریعه فضیلت ورکړو. بل دَ دوی پلاران او نیکونه او دَ هغوی اولاد او دَ هغوی دَ رونړو نه (ډیرو ته انعام ورکړو) عطف یا خو په کلاً باندې دې یا په نوحًا باندې او مِنْ دَ تبعیض دَپاره دې ځکه چې په دوی کښې دَ بعضو اولادنه وو او په دوی کښې دَ بعضو اولاد کافران وو. او مونږ هغوی منتخب کړل او نیغه لار موورته او خودله دا دین دکوم طرف ته چې دَ هغوی رهنمائی اوکړې شوه دَ الله تعالی هدایت

دي دَدې په ذريعه په خپلو بنديګانو کښې چا له چې غواړي لارخودنه کوي اوکه فرض کړه که هغوی شرک کړې وې نو دَهغوی ټول کړه به غرق کړې شوې وو. داخلق داسې وو چې مونږ هغوی ته کتاب په معنی دکتب اوحکمت اونبوت ورکړو اوکه چرې دا مکې والادَدريواړو انکار کوی (نوکوی دې) مونږ دَ دې (نعمتونو) دَپاره داسې خلق مقرر کړي دی څوک چې دَدې نه منکرنه دی اوهغه مهاجرین او انصار دی (اې محمد ﷺ) هم دغه هغه خلق ووچاته چې الله تعالی هدايت ورکړې وو نوته هم دَدوی دَ توحيد او صبر په طريقه لارشه وقفًا وصلاً دَها. په سکوت سره او په يوقراءت کښې حالت وصل کښې د باء په حذف سره، ته اهل مکه ته اووايه چې زه په قرآن باندې تاسونه هيڅ اجرت نه غواړم کوم چې تاسو ماته راکوئی دا قرآن خو يونصيحت دې دَدنياوالودَپاره که انسانان دی اوکه پيريان.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَيُبْدَلُ منهُ، په دې کښې اشاره ده چې تلك اسم اشاره ده حجتنا مشاراليه دواړه يوځائی مبتداء دی او آتيناها دَدې خبر، (دويم ترکيب) تلك مبتداء حجتنا خبر اول او آتيناه جمله خبر ثانی.

قوله: التي احتَجّ دادَ تلك دَ مشار اليه بيان دې.

قوله: أرْشَدْنَاهُمَا: **سوال**: دَآتيناتفسير په أرْشَدْنَاسره دکولوڅه فائده ده؟

جواب: چونکه حجت دَ ورکړې ځيزنه دې په دې وجه يې دآتينا تفسير په أرْشَدْنَا سره کړې دې.

قوله: حُجَّةً عَلٰى قَوْمِه: **سوال**: لفظ حُجَّةً محذوف دَڅه وجې نه اومنلې شو؟

جواب: دې خبرې ته دَاشارې کولودَپاره چې على قومه، د حجة محذوف متعلق دې نه چې دَ آتينا، ځکه چې دَ إيتاءصله على نه راځی.

قوله: أي نوح، دَدې اضافې مقصد د ذريته دَ ضمير مرجع متعين کول دی او هغه نوح دې نه چې ابراهيم ځکه چې يونس او لوط د ابراهيم عليه السلام دَ ذريت نه نه دی حالانکه دَدې دواړو عطف په مذکورين باندې دې.

قوله: ابن أخي هارون أخي موسىٰ: **سوال**: الياس ابن أخي موسىٰ مختصر تعبيريې پريخودو او مذکوره اوږد تاويل تعبير يې ولې اختيار کړو؟

جواب: په دې تعبير کښې دې طرف ته اشاره ده چې حضرت هارون عليه السلام دَحضرت موسىٰ عليه السلام حقيقی رور نه دې بلکه دَمور شريك رور ئی دې مګر دا قول ضعيف دې.

قوله: اليسع اللامزائدة، اليسع باندې الف لام زائده دې ځکه چې علم باندې الف لام نه داخليږی.

قوله: لِأَنَّ بَعْضَهُمْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَبَعْضُهُمْ كَانَ فِي وَلَدِهِ كَافِرٌ لأنّ نه ومن آبائهم كښې د مِنْ تبعيضيه كيدو وجه بيان كړې شوې ده څكه چې كه من تبعيضيه اونه منلې شي نو په آيت كښې د ذكرشوو ټولو خلقو اولاد به په هدايت يافته لازميږي، حالانكه د بعضو خو په هغوى كښې اولاد نشته مثلاً دحضرت يحيىٰ عليه السلام او په هغوى كښې بعضو د بعضې اولاد كافران كيدل متعين دى لكه دحضرت نوح عليه السلام څوئي كنعان.

قوله: اقْتَدِهْ: **سوال**: ددې نه معلوميږي چې نبى عليه السلام د سابقين انبياء كرامو تابع وو نبى عليه السلام ته د دوى د اقتداء حكم وركولې شى.

جواب: من التوحيد والصبر اضافه هم ددې سوال جواب دې اقتداء اومتابعت صبر على الايذاء وتوحيد كښې مراد دې نه چې مرفوع دين كښې.

قوله: هَاءِ السَّكْتِ، هغه هاء ته وائى چې د كلمې د وقف په وخت زائده كولې شى اوآخرى حرف متحرك وى. وئيلې شوى دى چې اقتده كښې هاء د مصدرد ضميرده أى اقتدا الاقتداء. (حاشيه جلالين)

قوله: وقفا ووصلاً، يعنى وصل د وقف تابع كولو سره.

قوله: وبحذفها د ادَ اصل مطابق دې.

[اياتونه: ۹۱-۹۴]

{وَمَا قَدَرُوا} أَيِ الْيَهُود {اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ} أَيْ مَا عَظَّمُوهُ حَقَّ عَظَمَته أَوْ مَا عَرَفُوهُ حَقَّ مَعْرِفَته {إِذْ قَالُوا} لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ خَاصَمُوهُ فِي الْقُرْآن {مَا أَنْزَلَ اللهُ عَلَى بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ قُلْ} لَهُمْ {مَنْ أَنْزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي جَاءَ بِهِ مُوسَى نُورًا وَهُدًى لِلنَّاسِ يَجْعَلُونَهُ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء فِي الْمَوَاضِع الثَّلَاثَة {قَرَاطِيسَ} أَيْ يَكْتُبُونَهُ فِي دَفَاتِر مُقَطَّعَة {يُبْدُونَهَا} أَيْ مَا يُحِبُّونَ إِبْدَاءَهُ مِنْهَا {وَيُخْفُونَ كَثِيرًا} مِمَّا فِيهَا كَنَعْتِ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَعُلِّمْتُمْ} أَيُّهَا الْيَهُود فِي الْقُرْآن {مَا لَمْ تَعْلَمُوا أَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ} مِنَ التَّوْرَاة بِبَيَانِ مَا الْتَبَسَ عَلَيْكُمْ وَاخْتَلَفْتُمْ فِيهِ {قُلِ اللهُ} أَنْزَلَهُ إِنْ لَمْ يَقُولُوهُ لَا جَوَاب غَيْره {ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ} بَاطِلهمْ {يَلْعَبُونَ} {وَهَذَا} الْقُرْآن {كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ} قَبْله مِنَ الْكُتُب {وَلِتُنْذِرَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاء عُطِفَ عَلَى مَعْنَى مَا قَبْله أَيْ أَنْزَلْنَاهُ لِلْبَرَكَةِ وَالتَّصْدِيق وَلِتُنْذِرَ بِهِ {أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا} أَيْ أَهْل مَكَّة وَسَائِر النَّاس {وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ} خَوْفًا مِنْ عِقَابهَا {وَمَنْ} أَيْ لَا أَحَد {أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا} بِادِّعَاءِ النُّبُوَّة وَلَمْ يُنَبَّأ {أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ} نَزَلَتْ فِي مُسَيْلِمَة {وَمَنْ قَالَ سَأُنْزِلُ مِثْلَ مَا أَنْزَلَ اللهُ} وَهُمُ الْمُسْتَهْزِئُونَ قَالُوا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْل هَذَا {وَلَوْ تَرَى} يَا مُحَمَّد {إِذِ الظَّالِمُونَ} الْمَذْكُورُونَ {فِي غَمَرَاتِ} سَكَرَات {الْمَوْتِ

وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُوا أَيْدِيهِمْ} إِلَيْهِمْ بِالضَّرْبِ وَالتَّعْذِيبِ يَقُولُونَ لَهُمْ تَعْنِيفًا {أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمْ} إِلَيْنَا لِنَقْبِضَهَا {الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ} الْهَوَانِ {بِمَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ} بِدَعْوَى النُّبُوَّةِ وَالْإِيحَاءِ كَذِبًا {وَكُنْتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ} تَتَكَبَّرُونَ عَنِ الْإِيمَانِ بِهَا وَجَوَابُ لَوْ رَأَيْتَ أَمْرًا فَظِيعًا {و} يُقَالُ لَهُمْ إِذَا بُعِثُوا {لَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَى} مُنْفَرِدِينَ عَنِ الْأَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ {كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ} أَيْ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا {وَتَرَكْتُمْ مَا خَوَّلْنَاكُمْ} أَعْطَيْنَاكُمْ مِنَ الْأَمْوَالِ {وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ} فِي الدُّنْيَا بِغَيْرِ اخْتِيَارِكُمْ {و} يُقَالُ لَهُمْ تَوْبِيخًا {مَا نَرَى مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمْ} الْأَصْنَامَ {الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ} أَيْ فِي اسْتِحْقَاقِ عِبَادَتِكُمْ {شُرَكَاءُ} لِلَّهِ {لَقَدْ تَقَطَّعَ بَيْنُكُمْ} وَصْلُكُمْ أَيْ تَشَتَّتَ جَمْعُكُمْ وَفِي قِرَاءَةٍ بِالنَّصْبِ ظَرْفٌ أَيْ وَصْلُكُمْ بَيْنَكُمْ {وَضَلَّ} ذَهَبَ {عَنْكُمْ مَا كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ} فِي الدُّنْيَا مِنْ شَفَاعَتِهَا

ترجمه: یهودوله چې څنګه دَالله تعالی قدرکول پکاروو یعنی چې څنګه تعظیم کول پکاروو هغه شان ئې اونه کړو یا چې څنګه دَ معرفت حق وو هغه شان حق ئې ادانه کړو. کله یئ چې د نبی ﷺ سره په قرآن کښې مخاصمت کولو سره اووئیل چې الله تعالی په یوانسان باندې هم څه څیزنه دې نازل کړې. ته دَهغوی نه تپوس اوکړه چې هغه کتاب چانازل کړو کوم چې موسی ﷺ راوړې ووهغه کیفیت داوو چې هغه دَخلقو دَپاره هدایت وو کوم چې تاسو په متفرق پاڼړو کښې کیخودوسره پرېښودې دې یعنی هغه مو په متفرق اوراق یعنی پاڼړو کښې لیکلې کیخودې دې. (تجعلونَهٗ) په دریوارو مقاماتو کښې په یاء اوتاء سره دې کوم چې تاسو ظاهروئ یعنی په هغې کښې چې کومې خبرې تاسو ظاهرول خوښوئی هغه ښکاره کوئی او دَدې ډیرزیاتې خبرې تاسو پټوئی مثلاً دَ محمد ﷺ صفات (علامات) او اې یهودیانو تاسو ته په قرآن کښې ډیرڅه خودلې شوی دی هغه څیزونه ئې بیان کړل کوم چې ستاسودَپاره مشتبه شو او په کومو کښې چې تاسو اختلاف کړې دې دَکوم چې په تورات کښې نه تاسو ته علم وو اونه ستاسوپلارانو اونیکونو ته که چرې هغوی جواب ورنه کړی (اقرار اونه کړی) نو ته ورته پخپله اووایه داالله تعالی نازل کړې دې بیا هغوی په خپلو خرافاتو کښې لوبوکولودَپاره پرېږده دا (هم داسې) کتاب دې کوم چې مونږ نازل کړې دې ډیر دَ لوئی برکت والا دې اودَ خپل ځان نه دَ مخکینو کتابونو تصدیق کونکې دې (اودَدې دَپاره نازل کړې شوې دې) چې دَمکې والوته اودَ دې دَ اطرافو والو لره یعنی اهل مکه اوټول خلق اوویروې (ینذر) په تاء او یاء سره دې دَخپل ماقبل په معنی باندې عطف دې یعنی مونږ دا دَبرکت دَپاره اوتصدیق دَپاره اوددې په ذریعه دَ ویرولودَپاره نازل کړې دې کوم خلق چې په آخرت باندې ایمان لری په هغه دې (قرآن) باندې هم ایمان لری اوهغوی دَآخرت دَعذاب دَ ویرې نه دَخپلو مونځونو پابندی کوی اودَ هغه چا نه به لوئی ظالم څوک وی هیڅوک به نه وی چې په الله تعالی باندې یئ دَ دروغو بهتان اولګولو دَ نبوت دعوی ئې اوکړه حالانکه هغه نبی نه دې یا اووائی چې په ما باندې وحی نازل

کړې شوې ده حالانکه په هغه باندې هيڅ څيزنه دې نازل کړې شوې (دا آيت) د مسيلمه کذاب په باره کښې نازل شو اوهغه سړې چې داسې اوواثې چې څنګه دَالله تعالى کلام نازل شوې دې زه هم داسې کلام راوړلې شم او (داسې ويناکونکى) تږقې مسخرې کونکى دى (اوبعض) وينا کونکو اووئيل که چرې مونږ اوغواړو نو مونږ هم داسې کلام راوړلې شو. افسوس اې محمد ﷺ چې تا دغه مذکوره ظالمان په داسې حالت کښې ليدلې وې چې کوم وخت هغوى دَ مرګ په سختو کښې وى او فرښتې ئې وهى تکوى اودَ عذاب دَپاره دَهغوى طرف ته لاس وړاندې کولوسره په سختئى وائى خپل روحونه زمونږ طرف ته راوباسئ دې دَپاره چې مونږ په هغې قبضه اوکړو نن به تاسو دَ دغه خبرو بدل کښې دکوم چې تاسو دَنبوت او دوحى نازليدو ناحقه دعوىٰ کولوسره په الله تعالى باندې دَ دروغو تهمت لګولې وو دَ ذلت نه ډک عذاب به درکولې شى اودَهغه دَ آياتونو په مقابله کښې به موتکبر کولو. (يعنى) په هغې باندې دَ ايمان راوړلونه به مو کبرکولو اودَ لَوْ جواب لَرَاَيْتَ اَمرًا فظيعًا (محذوف) دې نوتا به يو ويرونکې نظاره ليدلې وې اوکله چې دوى دوباره راژوندى کړې شى نو دوى ته به وئيلى شى چې تاسو راغلئ يوازې مونږ له بغيردَ مال او اهل وعيال نه لکه څنګه چې په شروع کښې مونږ تاسو پيداکړى وئى بربنډې خپې، ناسنته او کوم څه چې مونږ تاسو ته مال (اومتاع په دنياکښې) درکړې وؤ هغه ټول مو په دنياکښې مجبوراً شاته پريخودل اوراغلئ اوهغوى ته به توبيخاً وئيلى شى مونږ تاسو سره ستاسو سفارشى بتان نه وينو دَ چاباره کښې چې ستاسو عقيده وه چې هغوى ستاسو دَعبادت په استحقاق کښې دَالله تعالى سره شريک دى. واقعى ستاسو په مينځ کښې خو قطع تعلق ثابت شو يعنى ستاسو هغه ګنړه ګډه وده شوه او په يو قراءت کښې په نصب سره ظرف دې يعنى ستاسو دَخپل مينځ تعلقات اوستاسو هغه دعوى ختمه شوه کومه چې تاسو په دنياکښې دَهغوى دَ سفارش په باره کښې کوله.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: اى اليَهُوْدُ، دَمَاقَدَرُوْا فاعل يهودښکاره کولوسره دَمشرکانو احتمال دفع کړو څکه چې تجعلونهٗ قَرَاطِيْسَ دَمشرکانودَحال سره مناسب نه دې چونکه مشرکان هډو اهل کتاب نه وو چې قراطيس ئې متفرق کولو.

قوله: فى المَوَاضِعِ الثَّلٰثَةِ، أى تجعلونه،تبدونها،تخفونها.

قوله: قَرَاطِيْسَ ، دَ قرطاس جمع ده جدا جدا پاڼړې.

قوله: أى يَكْتُبُوْنَهٗ فى دَفَاتِرَ.

سوال: دَ قراطيس حمل په الكتاب باندې صحيح نه دې څکه چې د تجعلونه قراطيس څه مطلب نشته؟

جواب: مفسرعلام مذکوره عبارت محذوف منلوسره هم دَدې اعتراض جواب کړې دې یعنی هغوی به تورات په متفرقو دفاترو کښې لیکلو.

قوله: أَنْزَلَهُ په دې کښې اشاره ده چې الله مبتداء دې او أنزله خبرمحذوف دې. قرینه مَنْ أنزل ده أنزل محذوف منلوسره دَ یوسوال جواب هم مقصوددې.

سوال: الله، د قل فعل امر مقوله ده اودَ مقولې دَ پاره جمله کیدل ضروری دی حالانکه لفظ الله مفرد دې؟

جواب: لفظ الله نه پس أنزل محذوف دې الله أنزل جمله دَ قل مقوله ده.

قوله: عَطْفٌ عَلٰی مَعْنٰی مَاقَبْلَهُ دادَ ماقبل په معنی باندې عطف دې نه چې دَ محذوف علت، تقدیری عبارت دادې وأنزلناه لتنذر الخ ځکه چې حذف دَ ضرورت په وخت کیږی اودلته ضرورت نشته.

قوله: وَلَوْتَرٰی یَامُحَمَّدُ، دَ تری مفعول د الظلمون دَ دلالت دَ وجې نه محذوف دې. أی تری الظالمین یا محمد.

قوله: حُفَاةً، عراةً، غُرلاً، دَ حُفَاة واحد حافٍ وحافی برښه پښې، دَعُراة واحد عارٍ، برښه بدن، دَغُرلاً واحد اَغْرَل ناسنته.

قوله: بَيْنَكُمْ، که چرې بینکم مرفوع اولوستلې شی نودَ تقطع فاعل به شی اوکه چرې منصوب اولوستلې شی نو دَ ظرف په بناباندې به وی اوفاعل به په تقطع کښې ضمیرشی چې دَاتصال طرف ته راجع دې په کوم چې ماقبل یعنی شرکاء دلالت کوی. مفسرعلام هم دې طرف ته په خپل قول ای وَصْلُكُمْ بَيْنَكُمْ سره اشاره کړې ده.

[ایاتوله: ۹۵-۱۰۰]

{إِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ} شاق {الْحَبِّ} عَنْ النَّبَات {وَالنَّوٰى} عَنْ النَّخل {يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ} كالإنسان والطائر من النطفة والبيضة {من الحى ذٰلِكُمُ} الْفَالِق الْمُخْرِج {اللّٰهُ فَأَنّٰى تُؤْفَكُونَ} فَكَيْفَ تُصْرَفُونَ عَنْ الإيمَان مَعَ قِيَام الْبُرْهَان {فَالِقُ الْإِصْبَاحِ} مَصْدَر بِمَعْنَى الصُّبْح أيْ شَاقّ عَمُود الصُّبْح وَهُوَ أوَّل مَا يَبْدُو مِنْ نور النهار عن ظلمة الليل {وجاعل اللَّيْلِ سَكَنًا} تَسْكُن فِيهِ الْخَلْق مِنْ التَّعَب {وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ} بِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى مَحَلّ اللَّيْل {حُسْبَانًا} حِسَابًا لِلْأَوْقَاتِ أَوْ الْبَاء مَحْذُوفَة وَهُوَ حَال مِنْ مُقَدَّر أيْ يَجْرِيَانِ بِحُسْبَانٍ كَمَا فِي آيَة الرَّحْمَن {ذٰلِكَ} الْمَذْكُور {تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ} فِي مُلْكه {الْعَلِيمِ} بِخَلْقِهِ {وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ} فِي الْأَسْفَار {قَدْ فَصَّلْنَا} بَيَّنَّا {الْآيَاتِ} الدَّلَالَات عَلَى قُدْرَتنَا {لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ} يتدبرون {وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ} خَلَقَكُمْ {مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ} هِيَ آدم

{فَمُسْتَقَرٌّ} مِنكُمْ فِي الرَّحِم {وَمُسْتَوْدَعٌ} مِنكُمْ فِي الصُّلْب وَفِي قِرَاءَة بِفَتْحِ الْقَاف أَيْ مَكَان قَرَار لَكُمْ {قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ} مَا يُقَال لَهُمْ {وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا} فِيهِ الْتِفَات عَنْ الْغَيْبَة {بِهِ} بِالْمَاءِ {نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ} يَنْبُت {فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ} أَيْ النَّبَات شَيْئًا {خَضِرًا} بِمَعْنَى أَخْضَر {نُخْرِجُ مِنْهُ} مِنَ الْخَضِر {حَبًّا مُتَرَاكِبًا} يَرْكَب بَعْضه بَعْضًا كَسَنَابِل الْحِنْطَة وَنَحْوهَا {وَمِنَ النَّخْلِ} خَبَر وَيُبْدَل مِنْهُ {مِنْ طَلْعِهَا} أَوَّل مَا يَخْرُج مِنْهَا وَالْمُبْتَدَأ {قِنْوَانٌ} عَرَاجِين {دَانِيَةٌ} قَرِيب بَعْضهَا مِنْ بَعْض {وَ} اخرجنا به {جَنَّاتٍ} بَسَاتِين {مِنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا} وَرَقهمَا حَال {وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ} ثَمَرهَا {انْظُرُوا} يَا مُخَاطَبُونَ نَظَرَ اعْتِبَار {إِلَى ثَمَرِهِ} بِفَتْحِ الثَّاء وَالْمِيم وَبِضَمِّهِمَا وَهُوَ جَمْع ثَمَرَة كَشَجَرَة وَشَجَر وَخَشَبَة وَخَشَب {إِذَا أَثْمَرَ} أَوَّل مَا يَبْدُو كَيْفَ هو {وَ} إلى {يَنْعِهِ} نُضْجه إِذَا أَدْرَكَ كَيْفَ يَعُود {إِنَّ فِي ذَٰلِكُمْ لَآيَاتٍ} دَلَالَات عَلَى قُدْرَته تَعَالَى عَلَى الْبَعْث وَغَيْره {لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ} خُصُّوا بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُمْ الْمُنْتَفِعُونَ بِهَا فِي الْإِيمَان بِخِلَافِ الْكَافِرِينَ {وَجَعَلُوا لِلَّهِ} مَفْعُول ثَانٍ {شُرَكَاءَ} مَفْعُول أَوَّل وَيُبْدَل مِنْهُ {الْجِنَّ} حَيْثُ أَطَاعُوهُمْ فِي عِبَادَة الْأَوْثَان {وَ} قد {خَلَقَهُمْ} فكيف يكونون شُرَكَاء {وَخَرَقُوا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد أَيْ اخْتَلَقُوا {لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ} حَيْثُ قَالُوا عُزَيْر بن اللّٰه وَالْمَلَائِكَة بَنَات اللّٰه {سُبْحَانَهُ} تَنْزِيهًا لَهُ {وَتَعَالَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ} بان له ولدا

ترجمه: بيشكه تخم شلولوسره بوټی راويستونكې او هډوكې څيرلوسره دَ كهجورې ونه راويستونكې هم الله تعالی دې هغه دَ ساه والا دَ بې ساه والانه لكه انسان اومرغئی دنطفې او هګئی نه او بې ساه مثلاً نطفه او هګئی دَ ساه والا نه راويستونكې دې. دا شلونكې او راويستونكې الله تعالی دې نوتاسو چرته اولټه روان يئې اوتاسودِدليل دَ موجوديدونه باوجودځنګه دَ ايمان نه راوړئی. هغه دَ (شپې پرده څيرلوسره) دَسحرراويستونكې دې. (الاصباح) مصدر په معنی صبح دې يعنی هغه دَ سحرستن (صبح كاذب) شلونكې دې او دَ سحر ستن دَتيارې شپې نه راوتونكې ورځ هغه رڼرا ته وائی چې په شروع كښې رابنكاره كيږی اوشپه ئی دَآرام څيز جوړكړو چې په دې كښې مخلوق دَ ستومانتيانه آرام حاصلوی اودَ ضبط اوقات دَ پاره يې دَنمر سپوږمئی حساب مقرركړو. په نصب سره دَاَللّيل په محل عطف دې يا باء محذوف ده (اي بحسبان) په دې صورت كښې به دَمقدرنه حال وی ای يجريان بحسبان لكه چې په سورت رحمن كښې دی دا مذكوره (حساب) په خپل ملك كښې دغالب دَ خپل مخلوق په باره كښې دَ باخبرمقرركړې شوې دې اوهغه داسې دې چې ستاسودَپاره ئی ستوری پيداكړل دې دَپاره چې تاسو دَدې په ذريعه دَ بحروبرپه تيارو كښې دسفرپه دوران كښې رهنمائی حاصله كړئی. بيشكه موږ په خپل قدرت باندې دلالت كونكی دلائل ښكاره ښكاره بيان كړل دَ داسې خلقو دَپاره چې غور اوفكركوی اوهغه داسې ذات دې چاچې تاسو دَ يوسړی نه پيداكړئی (او) هغه حضرت آدم عليه السلام دې. پس دَمور رحم

ستاسو دَپاره دَ حصاريدو ځائی دې او (دَپلار شا) ستاسو دَپاره دَامانت ځائی دې او په يو قراءت کښې دَ قاف په فتحې سره دې يعنی ستاسو دَپاره دَ قرارځائی، بيشکه مونږ دلائل دَ پوهه خلقو دَپاره ښکاره ښکاره بيان کړل. هغه داسې ذات دې چې دَ آسمان (اوريځو) نه ئې اوبه رااورولې په دې کښې دَ غائب نه (دَتکلم طرف ته) التفات دې اودَدغه اوبوپه ذريعه راټوکيدونکی هرقسم شينکې راوټوکول بيا مونږ دَ دغه شينکو نه يو شين څيز (فصل) راوټوکولو، خضرًا په معنی د أخضردې مونږ دَ دغه فصل نه قط په قط اينختې دانې پيداکړې چې خپل مينځ کښې په يوبل باندې ورختلې وی لکه دَغنمو وغيره وګی اوپلی اودَ کهجور غونچې (من النخل) خبر (مقدم) دې او مِن طلعِها ددې نه بدل دې (طلع) هغه څيز ته وائی چې په شروع کښې د کهجورې ونې نه دَ خپلو غلافونو نه راوځی او قنوان دانهٔ مبتداء مؤخرده قنوان په معنی دَعراجين په معنی دَ ښاخ عَرَاجِين دَ عرجون جمع ده دکوم معنی چې ښاخ ده کوم چې په ټيټوښاخونوکښې وی يوبل سره نيزدې وی اومونږ په اوبوسره دَ انګورو، زيتونو اود انارو باغونه راپيدکړل چې دَدې دواړو پاڼې دَيوبل په شان وی. (مشتبهًا) حال دې اودَهغې ميوې يوشان نه دی. اې مخاطبينو! دَدې ميوې دَعبرت په سترګواوګورئی په (ثمر) کښې ثاء اودَميم په فتحې اودَ دواو په ضمې سره دې دا دَ ثَمَرَةٌ جمع ده لکه د شَجَرَةٌ جمع شَجَرٌ ده اودَ خَشَبَةٌ جمع خَشَبٌ ده. کله چې هغه په رومبی ځل ميوه راوړی نوهغه څنګه وی؟ اودَهغې دَ پخيدو (حالت) ته اوګورئی کله چې هغه دَ فائدې اخستې شی نوڅنګه وی؟ بيشکه په دې کښې دَايمان والودَپاره دَ بعث بعدالموت وغيره دلائل دی. دَ مؤمنانوذکر په خاص توګه ځکه کړې شوې دې چې دَ کافرانو خلاف مؤمنان دَدې دلائلونه دَايمان په باره کښې استفاده کوی اوخلقو پيريان دَ الله تعالی شريک ګرځولی دی الله دَ جَعَلُوا مفعول ثانی دې او شرکاء مفعول اول دې اوالجنّ دَ شرکاءنه بدل دې ځکه چې هغوی دَبتانو په عبادت کولوکښې دَهغوی اطاعت کړې دې حالانکه پخپله دغه خلق هم الله تعالی پيدکړی دی نو پيريان دَهغه څنګه شريکيدې شی؟ اودې خلقو دَالله تعالی دَپاره بغيردَپوهې نه ځامن اولونړه مقرر کړی دی (خرقوا) په تخفيف اوتشديدسره دې ځکه چې هغوی اووئيل عزير عليه السلام دَالله تعالی ځوئی دې او فرښتې دَالله تعالی لونړه دی. الله تعالی دَدې نه پاک دې اود هغه صفتونونه اوچت دې کوم چې دوی بيانوی چې دَ هغه اولاد دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: يُخرِجُ الحىَّ مِنَ الميّت دا جمله کلام مستانف قائمقام دَماقبل د علت ده اوداهم احتمال دې چې دَ اِنّ خبرثانی وی، اودَحیّ نه هرهغه څيزمراددې په کوم کښې چې نمو وی که هغه ساه والا وی اوکه بې ساه، اودَميّت نه هرهغه څيز مراد دې په کوم کښې چې نمو نه وی.

قوله: مُخْرِج، دَدې عطف په فالِق باندې دې هم په دې وجه يئ د مخرج په ځائې مخرج دَاسم فاعل صيغه راوړلې ده دې دَپاره چې عطف صحيح شي او يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ، دفالق الحب والنوى بيان دې. هم په دې وجه واؤ ترك كولو سره يئ مُخرج وئيلې دې.

سوال: ومخرج الميت من الحيّ بيان ولې نه شي واقع كيدې؟

جواب: ځكه چې فالق الحب والنوى، إخْرَاجُ الحَيِّ من الميت دَ جنس نه دې نه چې دَدې عكس حالانكه دَبيان اومبين مفهوم كښې مطابقت ضروري دې.

قوله: فكيف تصرفون الخ، د أنّى تؤفكون تفسير په كيف تصرفون سره كولويئ كښې اشاره اوكړه چې دا استفهام انكاري دې.

قوله: مصدرٌ يعنى الإصباح، دَ افعال مصدر دې دَ كوم معنى چې دخول فى الصبح ده مگر دلته دامعنى مرادنه ده بلكه مراد نفس صبح دې. مصدر وئيلوسره دَمصدر اثر يعنى صبح مراد دې اودَ كوفيينو په نيز دَ جاعل په ځائې جَعَلَ دې ځكه چې دَهغوى په نيز دَفعل عطف په اسم باندې جائزدې.

قوله: عَلىٰ مَحَلِّ اللَّيْلِ، دَلِيل محل دَجاعل مفعول كيدو دَ وجې نه منصوب دې.

قوله: هوحَالٌ مِنَ الْمُقَدَّرِ يعنى حُسبَان د يجريان مقدر نه حال دې. كه چرې مفسرعلام دَ مقدرنه حال كيدو په ځائې مقدر سره متعلق دې فرمائيلې وې نو ډيره به بهتروه.

قوله: قِنْوَانٌ، دا قنوجمع ده په معنى د غونچې.

[اياتونه: ۱۰۱-۱۱۰]

هو {بديع السماوات والأرض} مُبْدِعهمَا مِنْ غَيْر مِثَال سَبَقَ {أَنَّى} كَيْفَ {يَكُونُ لَهُ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُنْ لَهُ صَاحِبَةٌ} زَوْجَة {وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ} مِنْ شَأْنه أَنْ يُخْلَق {وهوبكل شيءعليم} {ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ} وَحِّدُوهُ {وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ} حفيظ {لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ} أَيْ لَا تَرَاهُ وَهَذَا مَخْصُوص لِرُؤْيَةِ الْمُؤْمِنِينَ لَهُ فِي الْآخِرَة لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} وَحَدِيث الشَّيْخَيْنِ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ الْقَمَر لَيْلَة الْبَدْر وَقِيلَ الْمُرَاد لَا تُحِيط بِهِ {وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ} أَيْ يَرَاهَا وَلَا تَرَاهُ وَلَا يَجُوز فِي غَيْره أَنْ يُدْرِك الْبَصَر وَهُوَ لَا يُدْرِكهُ أَوْ يُحِيط بِهِ عِلْمًا {وَهُوَ اللَّطِيفُ} بِأَوْلِيَائِهِ {الْخَبِيرُ} بِهِمْ قُلْ يَا مُحَمَّد لَهُمْ {قَدْ جَاءَكُمْ بَصَائِرُ} حجج {من ربكم فمن أبصر} ها فَآمَنَ {فَلِنَفْسِهِ} أَبْصَرَ لِأَنَّ ثَوَاب إبْصَاره لَهُ {وَمَنْ عَمِيَ} عَنْهَا فَضَلَّ {فَعَلَيْهَا} وَبَال إضْلَاله {وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ} رَقِيب لِأَعْمَالِكُمْ إنَّمَا انا نذير {وَكَذَٰلِكَ} كَمَا بَيَّنَّا مَا ذُكِرَ {نُصَرِّفُ} نُبَيِّن {الْآيَاتِ} لِيَعْتَبِرُوا {وَلِيَقُولُوا} أَيْ الْكُفَّار فِي عَاقِبَة الأمر {دارست} ذَاكَرْت أَهْل الْكِتَاب وَفِي قِرَاءَة دَرَسْت أَيْ كتب الماضين وجئت بهذا منها {ولنبينه

لقوم يعلمون} {اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ} أي القرآن {لا إله إلا هو وأعرض عن المشركين} {وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكُوا وَمَا جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا} رَقِيبًا فَتُجَازِيهِمْ بِأعْمَالِهِمْ {وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ} فَتُجْبِرهُمْ عَلَى الإِيمَان وَهَذَا قَبْل الأَمْر بِالْقِتَالِ {وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ} هُمْ {مِن دُونِ اللَّهِ} أي الأَصْنَام {فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا} اعْتِدَاء وَظُلْمًا {بِغَيْرِ عِلْمٍ} أي جَهْلًا مِنْهُمْ بِاللَّهِ {كَذَٰلِكَ} كَمَا زَيَّنَّا لِهَؤُلَاءِ مَا هُمْ عَلَيْهِ {زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ} مِنَ الْخَيْر وَالشَّرّ فَأتَوْهُ {ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ} فِي الآخِرَة {فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} فَيُجَازِيهِمْ بِهِ {وَأَقْسَمُوا} أي كُفَّار مَكَّة {بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ} أي غَايَة اجْتِهَادهمْ فِيهَا {لَئِن جَاءَتْهُمْ آيَةٌ} مِمَّا اقْتَرَحُوا {لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ} لَهُمْ {إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ} يُنَزِّلهَا كَمَا يَشَاء وَإِنَّمَا أَنَا نَذِير {وَمَا يُشْعِرُكُمْ} يُدْرِيكُمْ بِإِيمَانِهِمْ إِذَا جَاءَتْ أي أَنْتُمْ لَا تَدْرُونَ ذَلِكَ {أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ} لِمَا سَبَقَ فِي عِلْمِي وَفِي قِرَاءَة بِالتَّاءِ خِطَابًا لِلْكُفَّارِ وَفِي أُخْرَى بِفَتْحِ أَنَّ بِمَعْنَى لَعَلَّ أَوْ مَعْمُولَة لِمَا قَبْلهَا {وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ} نُحَوِّل قُلُوبهمْ عَنِ الْحَقّ فَلَا يَفْهَمُونَهُ {وَأَبْصَارَهُمْ} عَنْهُ فَلَا يُبْصِرُونَهُ فَلَا يُؤْمِنُونَ {كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ} أي بِمَا أُنْزِلَ مِنَ الآيَات {أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ} نَتْرُكهُمْ {فِي طُغْيَانِهِمْ} ضَلَالهمْ {يَعْمَهُونَ} يَتَرَدَّدُونَ مُتَحَيِّرِينَ

ترجمه: هغه دَ آسمانونو او زمکو دَ سابقه نمونو نه بغیر پیدا کونکې دې دَ هغه اولاد څنګه کیدې شی دَ هغه خو ښځه شته نه او هغه هر هغه څیز پیدا کړې دې دَ کوم چې شان مخلوق کیدل دی او هغه دَ هر څیز نه ښه واقف دې. دا دې الله تعالی ستاسو رب دَ هغه نه سوا بل څوک دَ عبادت لائق نشته هغه دَ هر څیز پیدا کونکې دې لهذا هم یوازې دَ هغه بندګی کوئی هغه دَ هر څیز محافظ دې سترګې دَ هغه ادراک نه شی کولې یعنی هغه نه شی لیدلې او دَ عدم رؤیت نه په آخرت کښې دَ مؤمنینو رویت مستثنی دې. لهذا دَ الله تعالی قول ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ او دَ شیخینو حضراتو دَ حدیث دَ وجې نه چې تاسو به ډیر زر خپل رب داسې اووینئ څنګه چې په څوارلسمه شپه سپوږمۍ وینئ. او ونیلی شوی دی چې احاطه نه شی کولې او هغه دَ ټولو سترګو ادراک کوی یعنی ګوری یئ او هغه سترګې الله تعالی نه شی لیدلې. دَ هغه نه علاوه دَ بل چا داسې شان نشته چې هغه سترګې اووینی او دغه سترګې هغه اونه وینی یا دَ (لاتدرکه) مطلب دَ هغې علمی احاطه نه کول دی هغه په خپلو دوستانو باندې مهربان دې او دَ هغوی نه خبردار دې. بیشکه تاسو ته ستاسو دَ رب دَ طرف نه (دَ حق لیدلو) دلائل راغلی دی نو چاچې دا اولیدل او ایمان ئې راوړو نو هغه هم دَ خپلې فائدې دَ پاره اولیدل څکه چې دَ دې کتلو ثواب به هم دده نه ملاویږی او څوک چې دَ هغې نه ړوند پاتې شو نو هغه ګمراه شو نو دَ هغه دَ ګمراهئ وبال او نقصان به هم په هغه باندې وی او زه ستاسو نګران نه یم (یعنی) ستاسو دَ اعمالو نګران نه یم زه خو صرف خبرداری کونکې یم. لکه څنګه چې مونږ مذکوره احکام بیان کړل هم دغه شان مونږ په مختلفو ارخونو دلائل بیانوو دې دَ پاره چې داخلق عبرت

حاصل کړی اوچې آخرکارکافران اووائی چې تاسو اهل کتاب سره مذاکره کړې ده او په یوقراءت کښې دَرَسْتَ (بغیردَ الف دې) یعنی تاسو دَ تیروشوو خلقو کتابونه لوستلی دی اودا تاسو هم دَهغې نه بیان کړی دی اودې دَپاره چې مونږ داد هوښیارو خلقودَپاره ښه ښکاره کړو تاسو دَدې قرآن اتباع کوئی چې تاسو له ستاسو دَ رب دَ طرف نه وحی کړې شوې دې چې دَهغه نه علاوه بل هیڅوک دَ عبادت لائق نشته اوتاسو دَ مشرکانونه ځان ددې ته کړئی اوکه الله تعالی ته منظور وه نودوی به شرک نه کولو اومونږته په دوی باندې نګران نه ئی جوړکړې. پس دوی ته به دَ دوی دَاعمالوبدله هم مونږ ورکوو اوته په دوی باندې اختیارمندنه ئی چې ته دوی په ایمان راوړوباندې مجبور کړې اودا حکم دَ جهاددَ حکم نازلیدونه وړاندې دې اوتاسو دَدوی معبودانوته بد مه وایئې دَ چاچې دوئ دَ الله تعالی نه علاوه بندګی کوی یعنی دَ بتانو. ځکه چې هغوی به دَ جهالت او عناد اوظلم دَ وجې نه دَالله تعالی په شان کښې ګستاخی اوکړی. لکه څنګه چې دَهغوی اعمال دَهغوی دَ پاره ښائسته کړې شوی دی دغه شان دَهرامت دَپاره مونږ دَهغوی اعمال ښائسته کړی دی که هغه عمل دَخیر وی اوکه دَ شر نوهغوی هم هغه کوی. بیا هغوی له خپل رب طرف ته په آخرت کښې واپس تلل دی نوهغه څه چې هغوی کول هغه به یئ هغوی ته اوښائی . یعنی هغه به هغوی ته دَ هغوی دَ اعمالو سزاورکړی اودَمکې کافرانو ډیرکلک قسمونه اوخوړل یعنی هغوی په خپلو قسمونو ډیر زور پیداکولوسره اوونیل که چرې مونږ له زمونږ دَ تجویزکړې نخښونه څه نخښې راشی نومونږ به په هغوئ باندې مخامخ ایمان راوړو. تاسو هغوی ته اووایئې چې نخښې دَالله تعالی په قبضه کښې دی هغه چې څنګه غواړی ظاهرد وی زه خو صرف خبر ورکونکې یم (اې مسلمانانو) کله چې هغه فرمائشی نشانې راشی نوتاسوته دَهغې دَ ایمان باره کښې څه خبردې؟ یعنی تاسو ته دَهغې علم نشته (چې هغوی به ایمان راوړی) یعنی کله چې هغه (فرمائشی) نخښې راشی نوزما دَ ازلی علم په اعتبارسره به هغوی ایمان نه راوړی او په یوقراءت کښې په تاء سره (لاتؤمنون) دې کافرانوته خطاب کولوسره او دویم قراءت کښې دانٔ په فتحې سره دَ لَعَلَّ په معنی کښې دې یادَخپل ماقبل معمول دې (یعنی) دَیشعرکم مفعول دې اومونږ دَهغوی زړونه دَحق نه ګرځوو دَڅه په وجه چې هغوی نه پوهیږی اودَهغوی سترګې دَحق نه اړوو دَ څه په وجه چې هغوی حق نه ګوری نوایمان هم نه راوړی لکه څنګه چې هغوی په نازل کړې شوو آیاتونوباندې په رومبی ځل ایمان نه وو راوړې اومونږ به هغوی دَهغوی په ګمراهئ کښې حیران پریږدو یعنی په تردد او حیرانئ کښې به متحیرپاتی شی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بَدِيْعُ السموات والأرض، بديع السموات دَمبتداء محذوف خبردې أى هُوبديع السموات، یا بديع السموات مبتداء ده اودَدې خبر أنّٰى يكونُ له وَلَدٌ دې. بديع په معنی د مُبْدِع هم استعمالیږی

لکه چې سمیع په معنی دَ مُسمِعٌ په کثرت سره استعمالیږي او بعض حضراتو وئیلی دي چې بدیع السموات کښې د صفت مشبه اضافت دَ فاعل طرف ته دې دَدې اصل بدیعٌ سمواته وَأرْضهُ دې.

قوله: من شأنه أن يخلق، دَدې اضافې مقصد دَ یو سوال مقدر جواب دې.

سوال: دَ الله تعالی قول وخلق کل شئ کښې دَالله تعالی ذات اوصفات هم شامل دي که نه؟ که چرې نه وي نو دَ الله تعالی ذات او صفات لاشئ کیدل به لازم شی کوم چې محال دی او که چرې داخل دې نو دَالله تعالی ذات اوصفات مخلوق کیدل لازمیږي.

جواب: دَجواب حاصل دادې چې خلق کل شئ کښې شئ عام خص منه البعض دې أي هو خالق کل شئ ما عدا ذاته وصفاته.

قوله: وهذا مَخْصُوْصٌ برؤية المُؤْمِنِيْنَ له في الآخِرَةِ دَدې اضافې مقصد دَ معتزله دَ امتناع رؤیت باری عقیده ردکول دی دَ معتزلو عقیده ده چې په آخرت کښې به هم دَالله تعالی رویت نه کیږي دَ اهل سنت والجماعة عقیده ده چې آخرت کښې به مؤمنینوته دَباری تعالی رویت کیږي.

قوله: وقيل المراد تحيط به، او که چرې دَ لاتدرکه الأبصار نه عدم احاطه مراد وي نو په دې صورت کښې به مخصوص نه وي بلکه عموم به په خپل اطلاق باندې باقي پاتې وي ځکه چې دَالله تعالی دَحقیقت ادراك نه په دنیا کښې چاته کیدې شی او نه په آخرت کښې.

قوله: أويُحِيْطُ بها علمًا دا دَ ادراك دَ دویمې معنی بیان دې.

قوله: قل يا محمد: **سوال**: دلته قل يا محمد مقدر منلو څه وجه ده؟

جواب: وجه داده چې په دې اضافې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې مذکوره کلام دَرسول الله ﷺ دَ ژبې مبارکې نه صادر شو ګنی دا اعتراض به کیدو چې وَمَا أَنَا عليكم بحفيظ څه معنی ده؟ ځکه چې دَحفظ نفی دَالله تعالی نه جائزنه ده.

قوله: لِيَعْتَبِرُوْا: **سوال**: مفسر علام لِيَعْتَبِرُوْا ولې مقدر منلې دې؟

جواب: دې دَپاره چې دَ وَلِيَقُوْلُوا عطف صحيح شی.

قوله: نُبَيِّنَهُ بيين (تفعیل) نه مضارع جمع متکلم مونږ بیانوکړو مونږ ښکاره کوو لِنُبَيِّنَهُ کښې لام دَتعلیل دې ځکه چې دَ تصریف نه مقصود هم تبیین دې دَدې ضمیر دَ آیات طرف ته راجع دې اوآیات دَ قرآن دَ معنی په تاویل کښې دې لهذا دَ ضمیر عدم مطابقت اعتراض ختم شو.

قوله: فَأْتُوْهُ: **سوال**: مفسر علام فَأْتُوْهُ ولې مقدر منلې؟

جواب: دي دَپاره چې ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ الخ عطف صحيح شي ځکه چې معطوف وعده او وعيد دې اودا په عمل د خير او شر باندې مرتب کيږي نه چې په مطلق تزيين باندې.

قوله. أي أَنْتُمْ لَا تَدْرُوْنَ ذلك دا مؤمنانوته خطاب دې په دې کښې مؤمنان دَ مشرکانو دَ فرمائشي معجزاتو دَ خواهش نه منع کړې شوي دي. مؤمنانو به داخواهش وو چې کاش الله تعالى دَ مشرکانو فرمائشي معجزات دَ رسول الله ﷺ په لاس مبارك باندې ښکاره کړي نو ډير به ښه وي، دې دَپاره چې دَ مکې مشرکان ايمان راوړي. دَداسې تمنا باره کښې وئيلې شي چې اې مسلمانانو تاسو چې دَ مشرکانو دَ فرمائشي معجزاتو باره کښې تمناکوئي تاسو ته څه معلومه ده چې دا خلق به فرمائشي معجزه ليدلو سره ايمان راوړي زمونږ دَ ازلي علم په اعتبارسره دا خلق فرمائشي معجزه کتلو سره هم ايمان راوړونکي نه دي. دَ ظاهر مفهوم تقاضاخو داوه چې داسې ئې وئيلې وې مَا يُدْرِيكُمْ لَنَهَا اَذَا جَاءَتْ يؤمنون بغير دَ لا نه هم په دې وجه بعض مفسرينو لا ته زائده وئيلې دی مطلب دادې چې تاسو ته څه معلومه ده چې مشرکان به فرمائشي معجزه ليدلوسره ايمان راوړي.

مفسرعلام دَدې دوه توجيهات کړی دی يوداچې په مايشعركم کښې مَا استفهام انکاری دې أي لاتدرون بأنها إذا جاءت الايات لايؤمنون، فلذلك تتمنون ونحن نعلم ذلك فلاتتمنى بها يعنى تاسو ته پته نشته چې که فرمائشي معجزات هم راشی بيابه هم يقينًا داخلق ايمان نه راوړی لکه چې زما په ازلي علم کښې دی.

دويمه توجيه يې په فتح د أَنَّ سره په معنى دَلَعَلَّ سره بيان کړې ده دَدې خلاصه داده چې د يشعركم منعول ثانی محذوف دې أى مايشعركم بإيمانهم او أَنَّ په معنى د لَعَلَّ، أى لَعَلَّهم إذا جاءتهم آيةُ لايؤمنون او لعلَّ په دغه وخت د اشفاق يعنی د توقع دَپاره وی اوتوقع په خدائی کلام کښې دَ يقينی وقوع دَپاره راځي يعنی که دَهغوی فرمائشي معجزې هم راشی نوبيابه هم يقينًا هغوی ايمان نه راوړی. دَ مذکوره دواړو توجيهاتوسره به کلام دَ ظاهرمطابق شی اوکومو مفسرينو حضراتو چې لايؤمنون کښې لا زائده ګرځولې ده دَهغوی مقصدهم کلام دَظاهرمطابق جوړول دی. انَّ بالکسر په صورت کښې به جمله مستانفه شی چې هميشه دَ سوال مقدرجواب وی. لکه چې سوال اوشو مايُشعركم مايكون منهم، دَدې جواب ورکړشی إنها إذاجاءت لايؤمنون.

قوله: وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ دَدې عطف په لايؤمنون باندې دې اى وَمَا يشعركم إنَّا حينئذٍ نقلب أفئدتهم عن الحق فلايفهمونه وأبصارهم فلايبصرونه فلايؤمنون بها.

تسهيل المشكل: وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا اذاجاءت لايؤمنون. إِنَّهَا ابو عمران بن كثير رحمه الله

اومجاهد رحمه الله انها بكسرالهمزه لوستلي دي. دَ ابن مسعود رضي الله عنه په قرات سره هم دَدي تائيدكيږي مجاهد رحمه الله اوابن زيد رحمه الله وئيلي چې دى چې دَدې مخاطب مشركين دى اوفراء رحمه الله وغيره وئيلي دى چې دَدې مخاطب مؤمنين دى ځکه چې کله مشرکانو دَ فرمائشي معجزو مطالبه کولوسره حضورپاك ﷺ ته اووئيل که فلانکي قسم معجزه اوښايې نوموږ به ايمان راوړو نوهغه وخت دَ مسلمانانو خواهش وو چې افسوس حضورپاك مشرکانوته دَهغوی مطلوبه معجزه اوښائي. دَدې خواهش په رڼا کښې صحابه کرامو رضي الله عنهم حضورپاك ته عرض اوکړو لونزلت الآية لعلهم يؤمنون نودَدې په جواب کښې الله تعالى اوفرمائيل وَمَا يُشعركم انها إذا جاءت لايؤمنون. او اهل مدينه او اعمش حمزه کسائي او عاصم وغيرهم رحمهم الله اَنَّهَا په فتح سره لوستلي دي اوخليل رحمه الله وئيلي دى چې اَنَّهَا په معنى د ډير اوعرب وائي ائتِ السوق اَنَّكَ تشترى لنا شيئًا اى لعلك فراء رحمه الله اوکسائي رحمه الله وئيلي دى چې لايؤمنون کښې لا زائده ده او دَ آيت معنى ده ومايشعركم انها اى الايات،اذاجاءت يؤمنون اودا هم داسې دى لکه مَامَنعكَ ان لاتسجد کښې لا زائده ده مګر زجاج وغيره دې ته ضعيف وئيلي دى او نحاس وئيلي دى چې کلام کښې حذف دې اوتقديري عبارت دادې انها إذا جَاءت لا يؤمنون او يؤمنون بيا دا زائدمقدر دَ علم سامع دَ وجې نه حذف کړې شو.

پاره نمبر-٨ [وَلَوْأَنَّنَا]

[اياتونه:١١١-١٢١]

{وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَى} كَمَا اقْتَرَحُوا {وَحَشَرْنَا} جَمَعْنَا {عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا} بِضَمَّتَيْنِ جَمْع قَبِيل أَيْ فَوْجًا فَوْجًا وَبِكَسْرِ الْقَاف وَفَتْح الْبَاء أَيْ مُعَايَنَة فَشَهِدُوا بِصِدْقِك {مَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا} لِمَا سَبَقَ فِي عِلْم الله {إِلَّا} لَكِنْ {أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ} إِيمَانهمْ فَيُؤْمِنُوا {وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ} ذَلِكَ {وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا} كَمَا جَعَلْنَا هَؤُلَاءِ أَعْدَاءَك وَيُبْدَل مِنْهُ {شَيَاطِينَ} مَرَدَة {الْإِنْسِ وَالْجِنِّ يُوحِي} يُوَسْوِس {بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ} مُمَوَّهه مِنْ الْبَاطِل {غُرُورًا} أَيْ لِيَغُرُّوهُمْ {وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ} أَيْ الْإِيحَاء الْمَذْكُور {فَذَرْهُمْ} دَعْ الْكُفَّار {وَمَا يَفْتَرُونَ} مِنْ الْكُفْر وَغَيْره مِمَّا زُيِّنَ لَهُمْ وَهَذَا قَبْل الأمر بالقتال {وَلِتَصْغَى} عُطِفَ عَلَى غُرُورًا أَيْ تَمِيل {إِلَيْهِ} أَيْ الزُّخْرُف {أَفْئِدَةُ} قُلُوب {الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا} يَكْتَسِبُوا {مَا هُمْ مُقْتَرِفُونَ} مِنْ الذُّنُوب فَيُعَاقَبُوا عَلَيْهِ وَنَزَلَ لَمَّا طَلَبُوا مِنْ النَّبِيّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَجْعَل بَيْنه وَبَيْنهمْ حَكَمًا قُلْ {أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي} أَطْلُب {حَكَمًا} قَاضِيًا بَيْنِي وَبَيْنكُمْ {وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ} الْقُرْآن {مُفَصَّلًا} مُبَيَّنًا فِيهِ الْحَقّ مِنْ الْبَاطِل {وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ} التَّوْرَاة كَعَبْدِ الله بْن سَلَام وَأَصْحَابه {يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ} بِالتَّخْفِيفِ

وَالتَّشْدِيد {مِنْ رَبِّك بِالْحَقِّ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ} الشَّاكِّينَ فِيهِ وَالْمُرَاد بِذَلِكَ التَّقْرِير لِلْكُفَّارِ أَنَّهُ حق {وتمت كلمات رَبّك} بِالْأَحْكَامِ وَالْمَوَاعِيد {صِدْقًا وَعَدْلًا} تَمْيِيز {لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ} بِنَقْصٍ أَوْ خلف {وَهُوَ السَّمِيعُ} لِمَا يُقَال {الْعَلِيمُ} بِمَا يُفْعَل {وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ} أَيْ الْكُفَّار {يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ} دِينه {إِنْ} مَا {يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ} فِي مُجَادَلَتهمْ لَك فِي امر الميتة إِذْ قَالُوا مَا قَتَلَ اللَّهُ أَحَقّ أَنْ تَأْكُلُوهُ مِمَّا قَتَلْتُمْ {وَإِنْ} مَا {هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ} يَكْذِبُونَ فِي ذَلِكَ {إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ} أَيْ عَالِم {مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ} فَيُجَازِي كلا منهم {فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ} أَيْ ذبح على اسمه {إِن كنتم بآياته مؤمنين} {وما لكم أ} ن {لَا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ} مِنَ الذَّبَائِح {وَقَدْ فَصَّلَ} بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ وَلِلْفَاعِلِ فِي الْفِعْلَيْنِ {لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ} فِي آيَة {حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ} {إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ} مِنْهُ فَهُوَ أَيْضًا حَلَال لَكُمْ الْمَعْنَى لَا مَانِع لَكُمْ مِنْ أَكْل مَا ذُكِرَ وَقَدْ بَيَّنَ لَكُمْ الْمُحَرَّم أَكْله وَهَذَا لَيْسَ مِنْهُ {وَإِنَّ كَثِيرًا لَيُضِلُّونَ} بِفَتْحِ الْيَاء وَضَمّهَا {بِأَهْوَائِهِمْ} بِمَا تَهْوَاهُ أَنْفُسهمْ مِنْ تَحْلِيل الْمَيْتَة وَغَيْرهَا {بِغَيْرِ عِلْمٍ} يَعْتَمِدُونَهُ فِي ذَلِكَ {إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ} الْمُتَجَاوِزِينَ {وَذَرُوا} اتْرُكُوا {ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ} عَلَانِيَته وَسِرّه والإثم قيل الزنى وَقِيلَ كُلّ مَعْصِيَة {إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ} فِي الْآخِرَة {بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ} يَكْتَسِبُونَ {وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ} بِأَنْ مَاتَ أَوْ ذُبِحَ عَلَى اسْم غَيْره وَإِلَّا فَمَا ذَبَحَهُ الْمُسْلِم وَلَمْ يُسَمِّ فِيهِ عَمْدًا أَوْ نِسْيَانًا فَهُوَ حَلَال قَالَهُ ابن عَبَّاس وَعَلَيْهِ الشَّافِعِيّ {وَإِنَّهُ} أَيْ الْأَكْل مِنْهُ {لَفِسْقٌ} خُرُوج عَمَّا يَحِلّ {وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ} يُوَسْوِسُونَ {إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ} الْكُفَّار {لِيُجَادِلُوكُمْ} فِي تَحْلِيل الميتة {وإن أطعتموهم} فيه {إنكم لمشركون}

ترجمه: اوکه چرې مونږ په هغوی باندې فرښتې نازل کړې وې اودهغوی دَ تجویزمطابق مړو هغوی سره خبرې کړې وې اومونږ دَهغوی دَسترګو په وړاندې (دَټولې دنيا) هرقسم څيزونه راجمع کړې وې قُبُلاً دَ قاف اوباء په ضمې سره د قبيل جمع ده په معنى د ډلې او په يوقراءت کښې دَقاف په کسرې اود باء فتحې سره دې په معنى مخامخ (دَسترګو په وړاندې) اوهغوی ستاد صداقت ګواهی ورکړې کيږی نو بيا هم دَالله تعالى دَازلی علم مطابق دوی ايمان راوړونکی نه دی اِلّاچې دَالله تعالى دَ رضا تقاضا هم دغه وی نوايمان راوړلې شی. ليکن په دوی کښې زيات تر خلق په دې معامله کښې دَ جهالت خبرې کوی څنګه چې مونږ داخلق ستاسو دښمنان جوړکړی دی دغه شان مونږ انسانی سرکش شيطانان او پيريان شيطانان دَهرنبی دښمنان جوړکړی دی او شيطين الانس الخ د(عدُوّ) نه بدل دې چې په خپل مينځ کښې د يوبل سره دَ وسوسې په ذريعه خوږې او ښائسته خبرې کوی. په باطل سره ملمع کړې شوې خبرې دې دَپاره چې هغوی په فريب کښې اخته کړې. که چرې ستا دَرب رضا نه وه نودوئ به د وسوسې (مذکوره يئ) جرات نه شوکولې نوته کافران اودَ هغوی دَ ځان نه جوړې شوې خبرې

(یعنی) کفروغیره کوم چې دَهغوی دَپاره ښائسته کړې شوې دي (دَهغوئ په حالت باندې) پریږدی اودا حکم دَ جهادنه دَ وړاندې دې اودې دَپاره چې دَهغه خلقو زړه چې په آخرت باندې ایمان نه لری دغه خوږو اوپه ظاهره خبرو طرف ته مائل شی دَ (لتصغیٰ) عطف په غروراً باندې دې دَپاره چې هغوی دَ کومو ګناهونو مرتکب کول غواړی مرتکب شی دَ کوم په وجه چې به هغوی ته سزا ورکولې شی. اوکله چې مشرکانو دَحضورپاك اودَخپل ځان په مینځ کښې حکم طلب کړو نودا آیت نازل شو نوآیا زه دَ الله تعالی نه علاوه بل څوك دَ ځان اوستاسو په مینځ کښې دَ فیصلې کولودَپاره طلب کړم حالانکه هغه داسې ذات دې چاچې تاسو له یوتفصیلی کتاب (قرآن) نازل کړو په کوم کښې چې حق دَباطل نه جداکړې شوې دې. اوهغه خلق چاته چې مونږ کتاب تورات ورکړې دې لکه عبدالله بن سلام اودَهغه ملګری په دې خبره پوهیږی چې قرآن ستا دَ رب دَ طرف نه په حق سره نازل کړې شوې دې. په (منزل) کښې تخفیف اوتشدید دواړه جائز دی لهذا ته دَ قرآن باره کښې دَ شک کونکونه مه کیږه او مرادپه مذکوره بیان سره په کافرانودَ قرآن دَحق کیدو اقرار کول دی اوستادَ رب کلام احکام مواعید د صداقت اوعدالت په اعتبارسره کامل دې. (صدقًا وعدلًا) تمیزدې دَهغه په کلام کښې نقص یا خلاف واقعه ثابتولوسره هیڅوک تبدیلی کونکې نشته څه چې وئیلی شی هغه دَهغې اوریدونکې دې او څه کولې شی دَهغې پیژندونکې دې او په دنیاکښې زیات تر خلق کافران داسې دی که چرې ته دَهغوی د وینا تابعداری نوهغوی به تا دَ الله تعالی دَ لارې یعنی دین نه بې لارې کړی داخلق دَمردارې باره کښې تاسو سره مباحثه کښې صرف دخپلو خیالاتوتابعداری کوی او هغوی اووئیل کوم چې الله تعالی قتل کړو هغه د خوراك زیات لائق دې په نسبت دَهغې کوم چې تا پخپله قتل کړې وی داخلق صرف قیاسی خبرې کوی. (یعنی) هغوی په دې باره کښې دروغ وائی یقینی ستا رب هغه کس ډیر ښه پیژنی کوم چې دَهغه دَ لارې نه بې لارې شوې دې اوهغه هم ښه پیژنی کوم چې په نیغه لارتلونکی دی. چنانچه په دوی کښې به هریوته هغه بدله ورکړی نو چې په کوم څناور دَهغه نوم اخستې شوې دې یعنی دَهغه په نوم باندې ذبح کړې شوې دې تاسو ته دَهغې نه دَخوراک کولو اجازت دې که چرې تاسو دَهغه په احکامو ایمان لرئی. آخر څه وجه ده چې تاسو دَداسې حلال کړې شوی څناور نه خوراک اونه کړئی په کوم چې دَ الله تعالی نوم اخستې شوې دې حالانکه آلله (آیة) حُرِّمَت علیکم المیتة کښې دَهغه ټولو څناورو تفصیل بیان کړې دې چې په تاسو باندې حرام کړې شوی دی (فُصِّل وحرمت) کښې مجهول او معروف دواړه قراءتونه دی په دواړو فعلونوکښې، مګر هغه هم کله چې تاسودَهغې دَپاره سخت مجبوره شئ نوستاسو دَپاره حلال دی مطلب داچې دَمذکوره څیزونو نه خوړل تاسو دَپاره هیڅ منع نه دی ستاسودَپاره هغه څیزونه بیان کړې شوی دی دَ کوم خوارك چې ستاسو دَپاره حرام کړې شوې دې اودادَهغې نه نه دی. اودا یقینی خبره ده چې دَډیرو زیاتوخلقو حال

دادې چې دَعلم نه بغیربه کوم چې دوئ په دې باره کښې اعتماد اوکړی صرف دَخپلو خواهشاتویعنی دَخپل نفس دَخواهش مطابق دَ مردارې وغیره دَ حلال کیدو باره کښې خلق گمراه کوی (لیضلون) دیاء په فتحه اوضمې سره دی. بیشکه ستارب دَحق نه تجاوز کونکونه ښه خبردې. (یعنی) دَحلال نه دَحرام طرف ته تجاوز کونکی (ښه) پیژنی (اې مسلمانانو) تاسو دَ ظاهری گناه نه هم بچ شئی اودَ باطنی گناه نه هم (یعنی) علانیه گناه نه هم اودَ پټې گناه نه هم. او وئیلې شوی دی چې دَ اثم نه مراد زنا ده او وئیلی شی دی چې (اثم) هره یوه گناه ده په دې کښې څه شک نشته چې کوم خلق دَ گناه ارتکاب کوی هغوی ته به په آخرت کښې دَهغوی دَکړو سزا ورکړې کیدې شی اودَهغه څناورنه مه خورئی په کوم چې (دَ ذبح کړې په وخت) دَالله تعالی نوم نه وی اخستې شوې په داسې توگه چې (پخپله) مړشوې وی یا دَغیرالله په نوم باندې ذبح شوې وی گنی کوم چې مسلمان ذبح کړې وی او په هغې باندې ئې قصداً یا په هیره سره دَالله تعالی نوم نه وی اخستې نوهغه حلال دې داد حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول دې اوهم دغه دَامام شافعی رحمه الله هم مذهب دې. بیشکه دا (یعنی) دې نه خوراك کول فسق دې (یعنی) دَحلال نه (حرام طرف ته) تجاوز کول دی او یقینًا شیطانان دَ خپلو دوستانو کافرانو په زړونوکښې وسوسې اچوی دې دَپاره چې هغوی تاسو سره دَمردار په حلال کیدو کښې (تاسوسره) مجادله اوکړی اوکه تاسو په دې معامله کښې دَهغوی اطاعت اوکړئی نوتاسو به مشرکان شئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: جَمۡعُ قبیلِ، قُبُلً دَقبیلً جمع ده لکه چې رُغُفٌ چې دَ رغیف جمع ده په معنی دَ جماعت ډله او دَ بعضو په نیز دَقِبَلٌ جمع ده په معنی دَ سترگو په وړاندې، قُبُلًاْ دَکُلً نه حال دې.

قوله: شیٰطِیۡنِ دَعَدُوًّا نه بدل دې.

قوله مَرَدَةَ دَدې اضافې مقصد داخودل دی چې دَ شیاطین حقیقی معنی مرادنه ده ځکه چې انسان حقیقی شیطان نه وی بلکه دَ سرکشئی دَ وجې نه انسان ته شیطان وئیلې شی.

قوله: یُوَسۡوِسُ،دَ یوحی تفسیر په یُوَسۡوِسُ سره کولومقصددَ یوسوال جواب دې.

سوال: دَ وحی نسبت شیطان طرف ته کول جائزنه بلکه محال دی؟.

جواب: دَ وحی نه مرادوسوسه ده لهذا هیڅ اعتراض نشته.

قوله: جَعَلۡنَا هٰؤلاءِ اَعۡدَائِكَ،دَدې عبارت دَ اضافې مقصددې خبرې ته اشاره کول دی جَعَلَ په معنی صَیَّرَ دې چې دوه مفعوله نه غواړی اول مفعول عدوًّا دې کوم چې مؤخردې

او لكل نبي مفعول ثاني دي كوم چې مقدم دې او شيطين الانس والجن د عدوًا نه بدل دې او بعض حضراتو عدوًا ته مفعول ثاني وئيلي دې اوشيطين مفعول اول دې او لكل به د محذوف سره متعلق شي او د عدوًا نه حال دې.

قوله: مَرَدة، دادَ مَارِدٌ جمع ده په معنى د سركش.

قوله: لِيَغُرُّوهم په دې كښې اشاره ده چې غرورًا مفعول له دې.

قوله: عَطْفٌ على غرورًا: لتصغى عطف دې په غرورًا باندې لتصغى چونكه د غرورًا علت دې لهذا معطوف اومعطوف عليه كښې د عدم مناسبت اعتراض هم نه شى كيدې.

قوله: المُرَادُبِذالكَ التَّقْرِيْرُ انَّهُ حَقٌّ دَدې اضافې مقصد د يوې شبهې جواب لرې كول دى.

شبه يا شك: فلاتَكُوْنَنَّ من المُمْتَرِيْنَ كښې حضورپاك ﷺ لره قرآن دَ الله تعالى دَ طرف نه كيدوكښې دَ شك كولونه منع كړې شوې دې حالانكه دَهغوى دَ شك كولو هډوسوال نه ور ځكه چې قرآن پاك خو به هم پخپله په حضورپاك نازليدلو بيا دَ شك څه مطلب دې؟

جواب: دَجواب حاصل دادې چې دَامتراء تعلق د حقانيت قرآن په باره كښې دَ كفارو اهل كتاب دَعلم سره دې يعنى په كافرانوباندې قرآن حق او دَالله تعالى دَ طرف نه دكيدو اقرار كول دى دَدې دويم جواب دادې چې په كلام كښې تعريض دې خطاب اګر چې هم حضورپاك ته دې مګرمراد ترې كافران اهل كتاب دى.

قوله: تَمَّتْ، أي بلغت الغاية أخبارهم ومواعيده.

قوله: صدقًا وعدلاً: د صدقًا تعلق د مواعيد سره دې اودَعدلاً تعلق د احكامو سره دې دا لف اونشر دَغيرمرتب په توګه دې.

قوله: أي عالِم، مفسرعلام ظاهرته نصب نه وركوى إلاّ فى مسئلة الكحل كما تقرر فى النحو، حالانكه دلته اعلم مَنْ يضل ته نصب وركوى ځكه چې مَنْ يضل په محل دَنصب كښې دې.

جواب: من يضل دَ اعلم دَ وجې نه منصوب نه دې بلكه أعلم په معنى دَعالم دې. دَأعلم تفسيرپه عالم سره كولوكښې دَيو اعتراض جواب وركړې دې.

اعتراض: اسم تفضيل اسم

[اياتوله: ۱۲۲ - ۱۲۹]

وَنَزَلَ فِي أَبِي جَهْل وَغَيْره {أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا} بِالْكُفْرِ {فَأَحْيَيْنَاهُ} بِالْهُدَى {وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاس} يَتَبَصَّر بِهِ الْحَقّ مِنْ غَيْره وَهُوَ الْإِيمَان {كَمَنْ مَثَلُه} مَثَل زَائِدَة أَيْ كَمَنْ هُوَ {فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا} وَهُوَ الْكَافِر لَا {كَذَٰلِكَ} كَمَا زُيِّنَ لِلْمُؤْمِنِينَ الْإِيمَان {زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} مِن

الكُفر وَالمَعَاصِي {وكذلك} كما جعلنا فساق مكة اكابرهم {جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا} بِالصَّدِّ عَنِ الإِيمَانِ {وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنْفُسِهِمْ} لِأَنَّ وَبَالَهُ عَلَيْهِمْ {وَمَا يَشْعُرُونَ} بِذَلِكَ {وَإِذَا جَاءَتْهُمْ} أَيْ أَهْلَ مَكَّةَ {آيَةٌ} عَلَى صِدْقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {قَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ} بِهِ {حَتَّى نُؤْتَى مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ} مِنَ الرِّسَالَةِ وَالوَحْيِ إِلَيْنَا لأنا اكثر مالا واكبر سنا قال تعالى {اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَاتِهِ} بِالجَمْعِ وَالإِفْرَادِ وَحَيْثُ مَفْعُولٌ بِهِ لِفِعْلٍ دَلَّ عَلَيْهِ أَعْلَمُ أَيْ يَعْلَمُ المَوْضِعَ الصَّالِحَ لِوَضْعِهَا فِيهِ فَيَضَعُهَا وَهَؤُلَاءِ لَيْسُوا أَهْلًا لَهَا {سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا} بِقَوْلِهِمْ ذَلِكَ {صَغَارٌ} ذُلٌّ {عِنْدَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ} أَيْ بسبب مكرهم {فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ} بِأَنْ يَقْذِفَ فِي قَلْبِهِ نُورًا فَيَنْفَسِحُ لَهُ وَيَقْبَلُهُ كَمَا وَرَدَ فِي حَدِيثٍ {وَمَنْ يُرِدْ} اللَّهُ {أَنْ يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ عَنْ قَبُولِهِ {حَرَجًا} شَدِيدَ الضِّيقِ بِكَسْرِ الرَّاءِ صِفَةٌ وَفَتْحِهَا مَصْدَرٌ وُصِفَ بِهِ مُبَالَغَةً {كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ} وَفِي قِرَاءَةٍ يَصَّاعَدُ وَفِيهِمَا إِدْغَامُ التَّاءِ فِي الأَصْلِ فِي الصَّادِ وَفِي أُخْرَى بِسُكُونِهَا {فِي السَّمَاءِ} إِذَا كُلِّفَ الإِيمَانَ لِشِدَّتِهِ عَلَيْهِ {كَذَلِكَ} الجَعْلِ {يَجْعَلُ اللَّهُ الرِّجْسَ} العذاب اوالشيطان اي يسلطه {على الذين لا يؤمنون} {وَهَذَا} الَّذِي أَنْتَ عَلَيْهِ يَا مُحَمَّدُ {صِرَاطُ} طَرِيقُ {رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا} لَا عِوَجَ فِيهِ وَنَصْبُهُ عَلَى الحَالِ المُؤَكِّدَةِ لِلْجُمْلَةِ وَالعَامِلُ فِيهَا مَعْنَى الإِشَارَةِ {قَدْ فَصَّلْنَا} بَيَّنَّا {الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ} فيه ادغام التاء في الأصل الذال أَيْ يَتَّعِظُونَ وَخُصُّوا بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُمُ المُنْتَفِعُونَ {لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ} أَيِ السَّلَامِ وَهِيَ الجَنَّةُ {عند ربهم وهو وليهم بما كانوا يعملون} {وَ} اذكر {يَوْمَ نَحْشُرُهُمْ} بِالنُّونِ وَاليَاءِ أَيِ اللَّهُ الخَلْقَ {جَمِيعًا} وَيُقَالُ لَهُمْ {يَا مَعْشَرَ الجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِنَ الإِنْسِ} بِإِغْوَائِكُمْ {وَقَالَ أَوْلِيَاؤُهُمْ} الَّذِينَ أَطَاعُوهُمْ {مِنَ الإِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ} انْتَفَعَ الإِنْسُ بِتَزْيِينِ الجِنِّ لَهُمُ الشَّهَوَاتِ وَالجِنُّ بِطَاعَةِ الإِنْسِ لَهُمْ {وَبَلَغْنَا أَجَلَنَا الَّذِي أَجَّلْتَ لَنَا} وَهُوَ يَوْمُ القِيَامَةِ وَهَذَا تَحَسُّرٌ مِنْهُمْ {قَالَ} تَعَالَى لَهُمْ عَلَى لِسَانِ المَلَائِكَةِ {النَّارُ مَثْوَاكُمْ} مَأْوَاكُمْ {خَالِدِينَ فِيهَا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ} مِنَ الأَوْقَاتِ الَّتِي يَخْرُجُونَ فِيهَا لِشُرْبِ الحَمِيمِ فَإِنَّهُ خَارِجَهَا كَمَا قَالَ تَعَالَى {ثُمَّ إِنَّ مرجعهم لإلى الجحيم} وعن ابن عَبَّاسٍ أَنَّهُ فِيمَنْ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّهُمْ يُؤْمِنُونَ فَمَا بِمَعْنَى مَنْ {إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ} فِي صُنْعِهِ {عَلِيمٌ} بِخَلْقِهِ {وَكَذَلِكَ} كَمَا مَتَّعْنَا عُصَاةَ الإِنْسِ وَالجِنِّ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ {نُوَلِّي} مِنَ الوِلَايَةِ {بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا} أَيْ عَلَى بَعْضٍ {بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ} مِنَ المَعَاصِي

ترجمه: او (وراندېنې آيت) د ابوجهل وغيره په باره کښې نازل شو، آيا هغه سړې چې د کفرد وجې نه مړوي اوبيامونږ هغه د هدايت په ذريعه راژوندې کړې وي او هغه ته موداسې نور ورکړې وي چې د هغې په رڼاسره د خلقو په مينځ کښې ګرځي (يعني) د هغه نور په ذريعه حق او باطل ويني او هغه (نور) د ايمان دې د هغه چا په شان لفظ (مثل) زائد دې کيدې شي چې څوک په تياروکښې ورک شوې وي؟ او د تيارونه هډو راوځي نه او هغه کافردې نه شي کيدې لکه څنګه چې د مؤمنانو د پاره ايمان ښائسته جوړکړې شوې دې دغه شان د کافرانو د پاره

دَهغوی اعمال یعنی کفر او ګناه ښائسته جوړ کړې شوی دی. او څنګه چې مونږ دَ مکې مشران فاسق (دَ حدنه تجاوز کونکی) جوړکړل دغه شان په هرکلی کښې دَهغې مجرمان دَایمان نه منع کولوسره فاسقان (دَحدنه تجاوزکونکی) جوړکړل دې دَپاره چې هغه خلق هلته د فریب اوکړی اودغه خلق هم دخپل ځان سره مکر کوی ځکه چې دَهغې وبال به هم په هغوی راپریوتونکې دې اوهغوی ته دَدې هډو احساس نشته. اوکله چې مکې والوته دَ نبی ﷺ دَ صداقت څه نخښې راشی نووائی چې مونږ به په دې باندې هیڅ کله هم ایمان رانوړو ترهغه وختهپورې چې مونږ ته هم هغه شان رسالت رانه کړې شی څنګه چې دَ الله تعالی رسولانوته ورکړې کیدې شی اوترهغه وخته پورې چې مونږ ته خبرداري رانه کړې شی ځکه چې مونږ دَهغوی نه په مال او عمر کښې زیات یو. الله تعالی فرمائی داخبره خو الله تعالی ښه پیژنی چې خپله پیغمبری چاله ورکړی (رسالات) جمع اوافراد سره دې او حیث هغه فعل مفعول به دې په کوم چې اَعْلَمُ دلالت کوی یعنی هغه مناسب موقع ښه پیژنی چې چرته خپل پیغام اولیږی نوهم هغه ځائی ته خپل پیغام ورلیږی اوداخلق دَدې اهل نه دی. دیرزرپه دغه خلقوته چې مذکوره خبره کولوسره ئی دَجرم ارتکاب کړې دې دَالله تعالی په نیزدَهغوی دَمکراودهوکې په سبب ذلت اوسخت عذاب اورسی. کوم سړې چې الله تعالی په هدایت باندې روان کړی نودَهغه سینه دَاسلام دَپاره کولاووی په داسې توګه چې دَ هغه په زړه کښې نوراچوی چې دهغې وجه دَهغه زړه کولاؤشی اودا (اسلام) قبلوی. لکه چې په حدیث کښې راغلی دی اوڅوک چې الله تعالی یې لارې کول غواړی دَهغه سینه دَ اسلام دَ قبلولونه ډیره تنګه کړی (ضَيِّقًا) په تخفیف اوتشدیدسره دې (حَرَجًا)د په راء کسرې سره صفت دې اودَدې په فتحې سره مصدردې دَ مبالغې په توګه صفت راوړلې شوې دې. (دهٔ ته د اسلام په تصور سره) کله چې هغه دَ ایمان مکلف جوړ کړې شی نواسلام په هغه باندې دَ دروندوالی دَ وجې هغه ته داسې معلومیږی چې دَ(هغه روح) دَآسمان طرف ته خیژی. او په یوقراءت کښې دَ(يَصَّعَّدُ) په ځائی يَصَّاعَدُ دې او په دواړو صورتوکښې دَتاء په صاد کښې ادغام دې او یوبل قراءت کښې دَ صادپه سکون سره دې دَ فعل مذکور په شان الله تعالی ایمان نه راوړونکوباندې عذاب یا شیطان مسلط کوی او اې محمد ﷺ په کوم باندې چې ته ئی هم دغه ستادَ رب نیغه لارده په هغې کښې هیڅ قسم کوږوالې نشته. په دې باندې نصب دَ جمله حال مؤکده کیدو دَ وجې نه دې او په دې کښې عامل اسم اشاره دې دَخپلې معنی په اعتبارسره اومونږ نصیحت حاصلونکودَپاره آیاتونه ښکاره ښکاره بیان کړی دی په دې کښې اصل کښې دَتاءپه ذال کښې ادغام دې يذكرون په معنی په يتعظون دې اود تخصیص وجه دا ده چې هم دغه خلق دَ آیات نه نفع حاصلوی اوهم دَدوی دَپاره ددوی رب سره دَ سلامتیاکور یعنی جنت دې اوهم هغه د دویٔ ولی دې دَهغوی دَ اعمالودَ وجې نه هغه ورځ یاده کړئی په کومه ورځ چې به مونږټول راجمع

کوو، نون او یاء سره، یعنی الله تعالی به خپل ټول مخلوق جمع کړي اوهغوی ته به وئیلی شي اې دَ پیریانو جماعت تاسو دَ اغواء په ذریعه دیرزیات انسانان خپل منونکی جوړکړل دَ انسانانونه به دپیریانو هغه دوستان چاچې دَهغوی اطاعت اوکړو اووائی اې زمونږ پروردګار زمونږ نه هریودَ بل نه ښه فائده اوچته کړه (یعنی) انسانانودَ پیریانونه فائده اوچته کړه دپیریانو دانسانانودَپاره شهوتونه ښکلې جوړولودَ وجې نه او پیریانو (فائده اوچته کړه) دَ انسانانودَ هغوی تا بعدارئ کولو دَ وجې نه اومونږخپل هغه مقرر میعاد ته اورسیدو کوم چې تازمونږ دَ پاره مقررکړې دې اوهغه دَ قیامت ورځ ده اوداد هغوی دَطرف نه د حسرت اظهار دې الله تعالی به هغوی ته دَ فرښتو په ذریعه اوفرمائی چې دوزخ ستاسو دَ اوسیدوځائی دې تاسو به همیشه په هغې کښې پراته ئی مګر دومره موده چې الله تعالی اوغواړي چې هغوی په دغه موده کښې دَ ګرمو اوبو څکلودَپاره اوځی ځکه چې ګرمې اوبه به دَ دوزخ نه بهر وی لکه چې الله تعالی اوفرمائیل بیابه دَهغوی دَ دوزخ طرف ته واپسی کیږی. دَ حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چې دا استثناء دَهغه خلقو په باره کښې ده دَ چا په باره کښې چې الله تعالی ته معلوم دی چې هغوی به ایمان راوړی نو (په دې صورت کښې) مَا، دَ مَن په معنی کښې وی یقینًا ستارب په خپل صنعت کښې حکیم اودَ خپل مخلوق په باره کښې علیم دې اودغه شان (یعنی) څنګه چې نافرمانه انسانانو او پیریانولره دَیوبل نه فائده حاصلونکی جوړکړل هم دغه شان به مونږ بعض ظالمان دَ بعضودَپاره امدادیان جوړکړو دَهغوی دَبدو اعمالودَ وجې نه کوم چې به هغوی کول.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: مِثْلُ زَائِدَةٌ، دې دَپاره چې دَ تکرار شبه باقی پاتې نه شی دَ زائدکیدودویمه وجه داده چې مثل صفت دې که چرې مثل زائداونه منلې شی نودَ صفت په ظلمات کښې کیدل لازمیږسی حالانکه ظلمات ذات دې نه چې صفت.

قوله: ضَيِّقًا بِالتخفيف، مصدردې په دې صورت کښې به حمل مبالغةً زیدعدل دَ قبیل نه دَ مجاز په توګه وی اوکه چرې په تشدید سره وی نوصفت مشبه به شی.

قوله: حَرِجًا: دَ راء په کسرې سره دَ صفت مشبه صیغه دَ اختلاف لفظ دَ وجې نه په تکرارکښې یوقسم خوبی پیدا شوې ده اوباقی حضراتو دَ راء په فتحې سره لوستلې دې په دې صورت کښې به دَ حرجة جمع وی په معنی شدة الضيق اوکه چرې مصدروی نوحمل به مبالغةً وی.

قوله: يَصَّعَّدُ: باب تفعل نه اود يصاعد باب تفاعل نه.

قوله: من الولاية بفتح الواو په معنى د النصرة اود واؤ كسرې سره دې نو په معنى سلطان او دويمه معنى دمقام په مناسبت سره ډيره اعتبار ده هم په دې معنى باندې د مصنف عليه الرحمة قول على البعض دلالت كوي.

[ايات نمبر ۱۳۰ - ۱۴۰]

{يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ} أَيْ مِنْ مَجْمُوعِكُمْ أَيْ بَعْضِكُمْ الصَّادِق بِالْإِنْسِ أَوْ رُسُل الْجِنّ نُذُرهمْ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ كَلَام الرُّسُل فَيُبَلِّغُونَ قَوْمهمْ {يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا قَالُوا شَهِدْنَا عَلَىٰ أنفسنا} ان قد بلغنا قال تعالى {وغرتهم الحياة الدنيا} فلم يؤمنوا {وشهدوا على أنفسهم أنهم كانوا كافرين} {ذَٰلِكَ} أَيْ إرْسَال الرُّسُل {أَن} اللَّام مُقَدَّرَة وَهِيَ مُخَفَّفَة أَيْ لِأَنَّهُ {لَّمْ يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ} مِنْهَا {وَأَهْلُهَا غَافِلُونَ} لَمْ يُرْسَل إلَيْهِمْ رَسُول يُبَيِّن لَهُمْ {ولكل} من العالمين {دَرَجَات} جَزَاء {مِّمَّا عَمِلُوا} مِنْ خَيْر وَشَرّ {وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء {وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ} عَنْ خَلْقه وَعِبَادَتهمْ {ذُو الرَّحْمَةِ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ} يَا أَهْل مَكَّة بِالْإِهْلَاكِ {وَيَسْتَخْلِفْ مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاءُ} مِنْ الْخَلْق {كَمَا أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ} أَذْهَبَهُمْ ولكنه ابقاكم رحمة لكم {إِنَّمَا تُوعَدُونَ} مِنْ السَّاعَة وَالْعَذَاب {لَآتٍ} لَا مَحَالَة {وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ} فَائِتِينَ عَذَابنَا {قُلْ} لَهُمْ {يَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ} حَالَتكُمْ {إِنِّي عَامِلٌ} عَلَى حَالَتِي {فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن} مَوْصُولَة مَفْعُول الْعِلْم {تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ} أَيْ الْعَاقِبَة الْمَحْمُودَة فِي الدَّار الْآخِرَة أَنَحْنُ أَمْ أَنْتُمْ {إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ} يَسْعَد {الظالمون} الكافرون {وَجَعَلُوا} أَيْ كُفَّار مَكَّة {لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ} خَلَقَ {مِنَ الْحَرْثِ} الزَّرْع {وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا} يَصْرِفُونَهُ إلَى الضِّيفَان وَالْمَسَاكِين وَلِشُرَكَائِهِمْ نَصِيبًا يَصْرِفُونَهُ إلَى سَدَنَتهَا {فَقَالُوا هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ} بِالْفَتْحِ وَالضَّمّ {وَهَٰذَا لِشُرَكَائِنَا} فَكَانُوا إذَا سَقَطَ فِي نَصِيب اللَّه شَيْء مِنْ نَصِيبهَا الْتَقَطُوهُ أَوْ فِي نَصِيبهَا شَيْء مِنْ نَصِيبه تَرَكُوهُ وَقَالُوا إنَّ اللَّه غَنِيّ عَنْ هَذَا كَمَا قَالَ تَعَالَى {فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ} أَيْ لِجِهَتِهِ {وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَائِهِمْ سَاءَ} بِئْسَ {مَا يَحْكُمُونَ} حُكْمهمْ هذا {وَكَذَٰلِكَ} كَمَا زُيِّنَ لَهُمْ مَا ذُكِرَ {زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ} بِالْوَأْدِ {شُرَكَاؤُهُمْ} مِنْ الْجِنّ بِالرَّفْعِ فَاعِل زَيَّنَ وَفِي قِرَاءَة بِبِنَائِهِ لِلْمَفْعُولِ وَرَفْع قَتْل وَنَصْب الْأَوْلَاد بِهِ وَجَرّ شُرَكَائِهِمْ بِإِضَافَتِهِ وَفِيهِ الْفَصْل بَيْن الْمُضَاف والمضاف إليه بالمفعول ولا يضر وإضافته الْقَتْل إلَى الشُّرَكَاء لِأَمْرِهِمْ بِهِ {لِيُرْدُوهُمْ} يُهْلِكُوهُمْ {وليلبسوا} يخلطوا {عليهم دينهم ولو شاء الله ما فعلوه فذرهم وما يفترون} {وَقَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ} حَرَام {لَّا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَن نَّشَاءُ} مِنْ خَدَمَة الْأَوْثَان وَغَيْرهمْ {بِزَعْمِهِمْ} أَيْ لَا حُجَّة لَهُمْ فِيهِ {وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا} فَلَا تُرْكَب كَالسَّوَائِبِ وَالْحَوَامِي {وَأَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا} عِنْد ذَبْحهَا بَلْ يَذْكُرُونَ اسْم أَصْنَامهمْ وَنَسَبُوا ذَلِكَ إلَى اللَّه {افْتِرَاءً عَلَيْهِ سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُوا يفترون} عليه {وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ} الْمُحَرَّمَة وَهِيَ السَّوَائِب وَالْبَحَائِر {خَالِصَةٌ} حَلَال {لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا} أَيْ النِّسَاء {وَإِن يَكُن

مَيْتَة} بِالرَّفْعِ وَالنَّصْبِ مَعَ تَأْنِيثِ الْفِعْلِ وَتَذْكِيرِهِ {فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاء سَيَجْزِيهِمْ} اللّٰه {وَصْفَهُمْ} ذٰلِكَ بِالتَّحْلِيلِ وَالتَّحْرِيمِ أَيْ جَزَاءَهُ {إِنَّهُ حَكِيمٌ} فِي صُنْعِهِ {عَلِيمٌ} بِخَلْقِهِ {قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ {أَوْلَادَهُمْ} بِالْوَأْدِ {سَفَهًا} جَهْلًا {بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰه} مما ذكر {افتراء على الله قد ضلوا وما كانوا مهتدين}

ترجمه: اې دَ پيريانواوانسانانوډلې آيا تاسول ته هم ستاسونه رسولان نه وو راغلي؟ يعنى ستاسودَ مجموعې نه کوم چې په انسانانوباندې صادق دې يادَ پيريانود رسولانو نه وو هغه خبرورکونکى پيريان مراد دى چې (دَ انسانى) رسولانو کلام به يې اوريدلو او خپل قوم ته به يې رسول. چې تاسو ته به يې زما آياتونه لوستل او تاسوبه يې ددې ورځې دَ راتلونه خبرولې هغوى به وائى (او) مونږ پخپله دَخپل ځان خلاف ګواهي ورکوو چې هغوى مونږ ته پيغام رسولې وو. الله تعالى به فرمائى چې دوى دَ دنياژوند په دهوکه کښې اچولى وو دَ څه په وجه چې هغوى ايمان رانوړو اوهغوى به دَ ځان خلاف ګواهى ورکوى چې هغوى کافران وو. دا دَ رسولانو راليږل دَدې وجې نه دى چې ستارب هيڅ يو کلى په داسې حال کښې هلاکول نه غواړى چې هغوى ناخبروى اوچې هغوى له چرته رسول نه وى ليږلې شوې هغه دَهغوى خبرونکې وى اوهر نيك اوبد عمل کونکى ته به (دَهغه دَعمل) بدله ملاويږى اوستا رب دَهغوى دَ عمل نه ناخبره نه دې (يعملون) ياء او تاء سره دې اوستارب دَخپل مخلوق نه اودَهغوى دَعبادت نه مستغنى دې دَ رحمت والا دې اې اهل مکه که چرې هغه اوغواړى نوتاسو به هلاك کړى او نيست اونابود به موکړى اوتاسو نه پس چې کوم مخلوق غواړى ستاسو خليفه به يې جوړکړى لکه چې تاسو ئې دَ نورو قومونودَنسل نه پيداکړئى کوم چې هغه هلاك کړل خو صرف په خپل فضل سره ئې تاسو باقى اوساتلې. يقيناً تاسوسره چې دَکوم قيامت او عذاب وعده کولې شى هغه خامخا راتلونکې دې او تاسو (مونږ) لره عاجزکونکې نه يئې يعنى تاسو زمونږ دَعذاب نه بچ وتلې نه شئ (اې محمد ﷺ) ته هغوى ته اووايه اې زما قومه تاسو په خپله طريقه سره عمل کوئى زه په خپله طريقه عمل کوم تاسو ته به ډيره زر معلومه شى چې دَ چا دَ آخرت په کورکښې انجام بهتردې؟ مَن موصوله دَتعلمون مفعول دې يعنى په آخرت کښې ښوك دَ انجام په اعتبارسره بهتردې؟ مونږ يا تاسو، دا يقينى خبره ده چې ظالمان کافران به کامياب نه شى اودَمکې کافرانودَالله تعالى د پيداکړې شوې فصل اوڅارو ونه يوه حصه دَهغه(الله تعالى)دپاره مقررکړې ده کومه چې هغوى دَميلمانوا و مسکينانودَپاره خرچ کوى اويوه حصه يې دَخپلو معبودانودَپاره مقررکړې ده کومه چې هغوى دَ کعبه دَ خادمانودَپاره خرچ کوى او په خپل ګمان سره وائى چې داداَلله تعالى دَپاره ده (زعم) دَزاء په فتحې او ضمې سره دې اودا زمونږ دَمعبودانودَپاره ده. که دَ الله تعالى په حصې کښې به څه

دَ بتانو د حصې نه کښې پريوتل نوا وچتول به ئې او که دَ بتانو په حصې کښې به يئ څه دَ الله تعالى په حصه کښې پريوتل نو پريخودل به ئې او وئيل به ئې الله تعالى دَدې نه بې پرواه دې لکه چې الله تعالى فرمائي بيا چې کومه دَهغوى دَبتانو حصه وى نو هغه الله تعالى ته نه رسى او کومه چې دَ الله تعالى حصه ده هغه دَدوى بتانو ته رسى کومه فيصله چې دا خلق کوى څومره ناخوښه ده او څنګه چې مذکوره څيزونه دَهغوى دَپاره ښائسته جوړکړې شوى دى دغه شان دَ ډيرو مشرکانو دَپاره دَ ژوندى خښولو په ذريعه دَهغوى دَ اولاد قتل کول دَهغوى پيريانو معبودانو ښکلې جوړکړى دى. «شرکاء» په رفع سره دَ «زَيَّنَ» فاعل کيدو دَ وجې نه او په يو قراءت کښې «زُيِّنَ» دمجهول صيغې سره او دَ قتل په رفع او «زين دَ وجى نه» دَ الاولاد په نصب سره او دَ شرکاء دَ جرسره، دَدې دَ اضافت دَ وجې نه او په دې کښې مضاف او مضاف اليه يه مينځ دَمفعول فصل دې او په دې کښې هيڅ قباحت نشته او دَ قتل اضافت دَ شرکاء طرف ته دَهغوى دَ حکم کولو دَ وجې نه دې دې دَپاره چې هغوى دا برباد کړى او دې دَپاره چې دوئ لره دَدوى دين په دوى باندې مشتبه جوړکړى او که چرې الله تعالى ته منظور وه نو هغوى به داسې نه کول. لهذا هغوى او دَهغوى دَ ځان نه جوړې کړې شوې خبرې پريږده او هغوى دا وائى چې دا څه څناور او فصل فصل يئ دى دَ کوم استعمال چې منع دې د دغه بتانو دَ خادمانو نه شوې صرف هغه کسان خوراك کولې شى چاته چې مونږ اجازت ورکړو «دا پابندى» دَهغوى دَخپل ګمان په اعتبار سره ده يعنى هغوى سره په دې باندې هيڅ دليل نشته او څه څناوردى چې په هغوى باندې سورلى منع ګرځولې شوې ده چې په دې باندې سورلى نه شى کيدې لکه سوائب او حوامى او څه څناوردى چې دَ ذبح په وخت په هغې باندې دَ الله تعالى نوم نه اخلى بلکه په هغې باندې دَخپلو بتانو نومونه اخلى او دَهغې نسبت دوئ دَالله تعالى طرف ته کوى صرف په الله تعالى باندې دَ افتراء کولو په توګه الله تعالى به ډير زر هغوى ته دَ دغه درغو جوړونکو سزا ورکړى. او هغوى وائى چې کوم څه دَ دغه حرام کړې شوو څناورو په خيټه کښې دى هغه سوائب او بحائر دى هغه زمونږ دَ سړو دَپاره په خاص توګه حلال دى او زمونږ دَ ښځو دَپاره حرام دى او که چرې هغه مړه مرداره وى «ميتة» په رفع او نصب سره دَ فعل «يکن» په تذکير او تانيث سره نو په دې کښې ټول برابر شريك دى. ډير زر به الله تعالى دَ دوى دَ دې تحليل او تحريم دَ ځان نه جوړو شوو خبرو سزا ورکړى. يقينًا هغه په خپل صنعت کښې حکيم «او» دَخپل مخلوق باره کښې خبردار دې. يقينًا هغه خلق په خساره کښې پريوتل چاچې خپل اولاد ژوندې خښ کړو او دَ جهالت او بې وقوفتيا دَ وجې نه ئې قتل کړو «قتلوا» دَ تاء په تشديد او تخفيف سره دې او دَ الله تعالى ورکړې شوې مذکوره رزق په الله تعالى باندې دروغ جوړولو سره حرام او ګرځولو يقينًا هغوى ګمراه شو او نيغه لاره موندونکى نه دى.

....

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: يقال لهُمْ دَدې اضافې مقصدداخودل دی چې دَ يامعشرالجن عامل محذوف دې اوهغه يقال دې نه چې ماقبل کښې مذکور نحشرهم،المعشر په معنی دَ جماعت اودَدې جمع مَعَاشِر ده دَ جن نه مراد شيطانان دی.

قوله: اسْتَكْثَرْتُمْ سين، تاء دَ کثرت د تاکيددَپاره دی.

قوله: بإغْوَائِكُمْ په دې کښې حذف دَ مضاف طرف ته اشاره ده، أي بإغواءت لانس.

قوله: من مَجْمُوْعِكُمْ الصَّادِقِ بالانْسِ دَدې عبارت د اضافې مقصد دَيوسوال جواب دې.

سوال: رسول انسان وی نه چې پيرې حالانکه د رسُلٌ منکم نه معلوميږی چې رسول دَ جناتو نه هم وی ځکه چې خطاب انس اوجن دواړو ته دې.

جواب: په خطاب کښې چې کله ثقلين راجمع شی لکه چې دلته جمع دی نو منکم وئيل صحيح وی سره دَدې چې مراد هم يووی لکه يخرج منهما اللؤلؤوالمرجان کښې تريخ درياب مراددې ځکه چې درياب تريخ نه مرغلرې راوځی نه چې دَ خوږ درياب نه خوبياهم منهما وئيل صحيح دی. منکم اي من مجموعکم الصادق بالانس مطلبّ دادې چې منکم نه مراد مجموعه مخاطبين دی او په مجموعه کښې انس هم داخل دې. لهذا منکم به هغه وخت هم صادق وی کله چې صرف هم يوفريق مراد وی هغه دلته انس دې. رسُلٌ سره بل جواب طرف ته اشاره ده. دَ رسُلٌ نه رسول اصطلاحی مرادنه دې بلکه لغوی معنی قاصد مراددې اوداهغه جنات وو کومو چې دَ رسول الله ﷺ هغه قرآن اوريدلې وو لکه چې هغوی دَحضورپاك قاصدان اونذيررو.

قوله: ذلك، دادَ مبتداء محذوف خبردې تقديری عبارت دادې الأمرذلك د مبتداء محذوف دَ يوسوال جواب دې. سوال دادې چې په ان لم يکن سره علت بيانيږی اَنْ اصل کښې لِأنْ دې اوعلت دَ حکم وی اوذلك حکم نه دې. دَ جواب حاصل دادې چې ذلك دَ مبتداء محذوف خبردې أي الأمرذلك او په دې کښې حکم دې لهذا علت بيانول صحيح شو. لام مقدر منلوسره دَ عدم ربط اعتراض هم ختم شو.

قوله: قوم آخرين، نه مراد اهل سفينهٔ نوح عليه السلام دی.

قوله: وَلاَ يَعْمَرُ، دَدې کلمې دَ اضافې مقصد صاحب کشاف او په هغه حضراتو باندې ردکول دی چې مصدر مضاف إلى فاعل په مينځ فصل دَمفعول بلاضرورت شعری ته ناجائزوائی.

تفصیل: وکذٰلك زَيَّنَ لكثيرٍ من المشركين قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شركاؤهم، په دې آيت كښې متعدد قراءتونه دی. مکتوبه قراءت دَ جمهورو قراءت دې. زَيَّنَ معروف او شركاؤهم دَدې فاعل دې قَتْلَ دَ زَيَّنَ مفعول دې په دې قراءت باندې هیڅ اعتراض نشته دې. يو بل قراءت دَ ابن عامر دې دا قراءت هم دَ قراءت سبعه نه دې. دَ ابن عامر قراءت داسې دې وکذٰلك زُيِّنَ لكثيرٍ من المشركين قتلُ اولادهم شركائِهِمْ زُيِّنَ فعل مجهول، قَتْلُ، دَ زُيِّنَ فعل مجهول نائب فاعل کیدو دَ وجې نه مرفوع او أولادَهم مفعول کیدو دَ وجې منصوب اوشركائِهِمْ دَ قَتْلُ مضاف اليه کیدو دَ وجې نه مجرور دې. په دې صورت كښې د قتلُ مضاف او شرکاء مضاف اليه په مينځ اولادَهم دَ مفعول فصل لازم راځی کوم چې بلاضرورت شعری په کلام منثور كښې جائزنه دې اوهغه هم په قرآن كښې چې دَ خپل لفظ او معنی په اعتبارسره په فصاحت او بلاغت كښې حد د اعجاز ته رسیدلې دې. دَهغې دَنه صحیح کیدو وجه دَ نحویان په نیزداده چې مضاف اومضاف اليه په مينځ فصل بلاضرورت شعری جائزنه دې ځکه چې مضاف اليه دَمضاف دَپاره په منزله دَ جز وی ځکه چې مضاف اليه دَمضاف دَتنوين په ځائی واقع کیږی لهذا څنګه چې دَ اسم د اجزاؤ په مينځ كښې فصل جائزنه دې دغه شان مضاف اومضاف اليه په مينځ كښې فصل صحیح نه دې اوداد بصریاتو قول دې البته دَ کوفیانو په نیز که چرې مضاف مصدر اومضاف اليه دَدې فاعل وی اوفصل دَمفعول وی لکه چې دَ ابن عامر په مذکوره قراءت كښې دې نو دا جائزدې. لابضره وئیلوسره مفسرعلام دَدې جواب طرف ته اشاره کړې ده (اعراب القرآن) ابن مالك رحمه الله هم دَ کافیه په شرح كښې دې فصل ته بلاضرورت شعری جائزوئیلی دی، قال،اضافةُ المصدر الى الفاعل مفعولا بينهما بمفعول المصدر جائزة.

قوله: وإضَافَةُ القَتْلِ إلى شُرَكَائِهِمْ لأَمْرِهِمْ به، اضافة القتل مبتداء دې او لأمرهم به دَدې خبردې. مطلب دادې چې دَقتل اضافت دَ شرکاؤ طرف ته مجازی دې اصل قاتلانو خو مشرکان دی مګرچونکه دَقتل حکم ورکونکی شرکاء دی په دې وجه دَ قتل اضافت دَ شرکاء طرف ته دَهغوی امر کیدو دَ وجې نه کړې شوې دې هم دې ته اسنادمجازی وائی. لکه بنى الأميرُ المدينة كښې دَبناء اضافت دَامیر طرف ته مجازی دې دهغه دَ بناء حکم ورکولو دَ وجې نه.

قوله: بالرَّفْعِ والنَّصْبِ كه چرې كان تامه وی نو ميتة به مرفوع وی اوكه چرې ناقصه وی نو نصب به وی.

[ايالتونه: ۱٤۱ - ۱٤٤]

{وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ} خلقَ {جَنَّات} بَسَاتِين {مَعْرُوشَات} مَبْسُوطَات عَلَى الْأَرْض كَالْبِطِّيخ {وَغَيْرَ مَعْرُوشَات} بِأَنْ ارتفعت على ساق كالنخل {و} انشا {النخل والزرع مختلفا أكله} ثَمَره وَحَبّه فِي الْهَيْئَة وَالطَّعْم {وَالزَّيْتُون وَالرُّمَّان مُتَشَابِهًا} وَرَقهمَا حَال {وَغَيْرَ مُتَشَابِه} طَعْمهمَا {كُلُوا مِنْ ثَمَره إِذَا أَثْمَرَ} قَبْل النُّضْج {وَآتُوا حَقّه} زَكَاته {يَوْم حَصَاده} بِالْفَتْحِ وَالْكَسْر مِنْ الْعُشْر أَوْ نِصْفه {وَلَا تُسْرِفُوا} بِإِعْطَاءِ كُلّه فَلَا يَبْقَى لِعِيَالِكُمْ شَيْء {إِنَّهُ لَا يُحِبّ الْمُسْرِفِينَ} الْمُتَجَاوِزِينَ مَا حُدّ لَهُمْ {وَ} أَنْشَأَ {مِنْ الْأَنْعَام حَمُولَة} صَالِحَة لِلْحَمْلِ عَلَيْهَا كَالْإِبِلِ الْكِبَار {وَفَرْشًا} لَا تَصْلُح لَهُ كَالْإِبِلِ الصِّغَار وَالْغَنَم سُمِّيَتْ فَرْشًا لِأَنَّهَا كَالْفَرْشِ لِلْأَرْضِ لِدُنُوِّهَا مِنْهَا {كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمْ اللَّه وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَات الشَّيْطَان} طَرَائِقه مِنْ التَّحْرِيم وَالتَّحْلِيل {إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوّ مُبِين} بَيِّن الْعَدَاوَة {ثَمَانِيَة أَزْوَاج} أَصْنَاف بَدَل مِنْ حَمُولَة وَفَرْشًا {مِنْ الضَّأْن} زَوْجَيْنِ {اثْنَيْنِ} ذَكَر وَأُنْثَى {وَمِنْ الْمَعْز} بِالْفَتْحِ وَالسُّكُون {اثْنَيْنِ قُلْ} يَا مُحَمَّد لمن حرم ذكور الأنعام تارة واناثها أُخْرَى وَنَسَبَ ذَلِكَ إِلَى اللَّه {آلذَّكَرَيْنِ} مِنْ الضَّأْن وَالْمَعْز {حَرَّمَ} اللَّه عَلَيْكُمْ {أَمْ الْأُنْثَيَيْنِ} مِنْهُمَا {أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَام الْأُنْثَيَيْنِ} ذَكَرًا كَانَ أَوْ أُنْثَى {نَبِّئُونِي بِعِلْمٍ} عَنْ كَيْفِيَّة تَحْرِيم ذَلِكَ {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِيهِ الْمَعْنَى مِنْ أَيْنَ جَاءَ التَّحْرِيم فَإِنْ كَانَ مِنْ قِبَل الذُّكُورَة فَجَمِيع الذُّكُور حَرَام أَوْ الْأُنُوثَة فَجَمِيع الْإِنَاث أَوْ اشْتِمَال الرَّحِم فَالزَّوْجَانِ فَمِنْ أَيْنَ التَّخْصِيص وَالِاسْتِفْهَام لِلْإِنْكَارِ {وَمِنْ الْإِبِل اثْنَيْنِ وَمِنْ الْبَقَر اثْنَيْنِ قُلْ آلذكرين حرم أم الأنثيين أما اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَام الْأُنْثَيَيْنِ أَمْ} بَلْ {كُنْتُمْ شُهَدَاء} حُضُورًا {إِذْ وَصَّاكُمْ اللَّه بِهَذَا} التَّحْرِيم فَاعْتَمَدْتُمْ ذَلِكَ لَا بَلْ أَنْتُمْ كَاذِبُونَ فِيهِ {فَمَنْ} أَيْ لَا احد {أَظْلَم مِمَّنْ افْتَرَى عَلَى اللَّه كَذِبًا} بذلك {ليضل الناس بغير علم إن الله لا يهدي القوم الظالمين}

ترجمه: او هم هغه ذات دي چاچې باغونه پيدا كړل زيلئ والا په زمكه باندې خوريدونكى هم مثلاً خربوزې وغيره او دَ تنې والا هم كوم چې په تنه باندې قائم وى مثلاً دكهجورې ونې وغيره اوكهجورې اوفصل ئى پيدا كړو چې دَهغې ميوې او دانې په شكل اوصورت او په خوند كښې مختلف وى. او زيتون اوانار (يې پيدا كړل) دكوموپانړې چې يوبل سره ملاوېږى اودهغې خوند جدا جداوى. ميوې دَ لګيدونه پس دَ پخيدونه وړاندې خورئى (اوروستوهم) اودَهغې دَ پرې كولوپه وخت دَهغې حق زكوة اداكوئى (حَصاد) په فتحې اوكسرې سره دې (مراد) عشر يا نصف عشر دې او (انفاق كښې) اسراف مه كوئى چې ټول پيداوار وركړنى اوستاسودَ بال بچ دَپاره هيڅ هم باقى پاتې نه شى. الله تعالى په متعين كړې شوى څيز كښې تجاوزكونكى نه خوښوى. څه څناورئى داسې پيدا كړل چې دَ بوج اوړلولائق دى مثلاً غټ اوښان او څه واره دَ بوج اوړلوقابل دى لكه دَاوښانو بچى چيلئى. دې ته دَ فرش ونيلو وجه داده چې دا زمكې دَپاره زمكې ته نيزدې كيدودَ وجې دَ فرش په شان وى چې الله

تعالى تاسو ته دركړى دى دهغې نه خورئى (څكئى) او په حلال حرامولو كښې د شيطان د طريقو تابعدارى مه كوئى يقينًا هغه ستاسو ښكاره دښمن دې (پيدائى كړل) اته قسمونه (ثمانية أزواج) د حمولة وفرشًا نه بدل دې د ګډو نراوښځې جوړه، د چيلو جوړه (المعز) دعين په فتحې اوسكون سره، اې محمد ﷺ ته د دغه خلقو نه تپوس اوكړه چاچې كله د څناورو نران حرام كړل اوكله دهغې ښځې اوددې (حرمت) نسبت ئې د الله تعالى طرف ته اوكړوآيا ياد ګډو اوچيلو مذكوره دواړه قسمه نران الله ستاسو دپاره حرام كړى دى يا دهغې ښځې؟ يا هغه چې د دواړو ښځو په خيټه كښې دى كه نر وى اوكه ښځه تاسو ماته دهغې دتحريم كيفيت په څه دليل سره اوښايئى كه چرته تاسو په دې كښې رښتونى ئى. مطلب دا چې تحريم د كوم ځائى نه راغلو؟ كه د نركيدو دوجې نه دى نو ټول نران حرام كيدل پكاردى ياكه د ښځې كيدو د وجې نه وى نو ټولې ښځې حرام كيدل پكاردى (ياكه تحريم د بچى) په رحم كښې د كيدو د وجې نه راغلې وى نو (نراوښځه) دواړه قسمونه د حرام كيدل پكاردى، مګر داتخصيص د كوم ځائى نه راغلو؟ او استفهام انكارى دې او په اوښانو كښې دوه قسمونه او په غواګانو كښې دوه قسمونه ته دوى نه تپوس اوكړه چې الله تعالى دا دواړه نران حرام كړى دى كه دواړه ښځې؟ يا هغه (بچې) كوم چې ښځې څناور په خيټه كښې ګرځوى آيا تاسو حاضر وئى چې الله تعالى تاسو ته د دغه تحريم حكم دركړو چې تاسو په دې باندې يقين اوكړو داسې نه ده بلكه تاسو په دې معامله كښې دروغ وايئې نو د هغه چا نه به لوئى ظالم څوك وى؟ هيڅوك نشته چاچې په دې معامله كښې په الله تعالى باندې بهتان اولګولو دې دپاره چې خلق بې دليله ګمراه كړى. الله تعالى ظالمانو خلقو ته هدايت نه وركوى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: مَعْرُوْشَات، اسم مفعول جمع مؤنث، واحد معروشة په شپولونوباندې ورختلې زيلئى، حضرت ابن عباس ﷠ فرمائيلى دى چې مطلق زيلوته وئيلې شى كه شپولونوباندې ورخيژولې شوى وى اوكه نه، په دې كښې انګور تربوز خربوز كدو وغيره هرقسم زيلئ راځى.

قوله: أُكُلُهُ. ضمير مضاف اليه د زرع طرف ته راجع دې نه چې د نخل طرف ته ځكه چې نخل مؤنث سماعى دې اود أُكُلُهُ ضمير مذكردې د كوم د وجې نه چې به مطابقت نه وى باقى په زرع باندې قياس كولې شى.

قوله: قَبْلَ النَّضْج دا د يو سوال جواب دې.

سوال: إِذَا أَثْمَرَ ددې په ظاهر څه فائده نه معلوميږى ځكه چې د خوراك تعلق د ميوې راتلو نه پس وى د ميوو راتلونه وړاندې خوړل هډو ممكن نه دى؟

جواب: قبل النضج اضافه هم دَدې سوال جواب دې مطلب دادې چې په عام توګه باندې دا وهم راځي چې دَ میوې خوړلو تعلق دَ پخیدونه پس کیږي حالانکه بعض میوې دَ پخیدونه وړاندې هم خوړلې شي.

قوله: وَأَنشَأَ مِنَ الْأَنْعَامِ، لفظ أنشأ مقدرمنلوسره یې اشاره اوکړه چې دَ من الانعام عطف په جنت باندې دې ځکه چې په نیزدې باندې عطف کولوسره به معنی فاسد شي.

قوله: بَدَلٌ مِنْ حَمُولَةً، دا په هغه خلقو باندې رددې څوك چې ثمانية أزواج دفعل مقدرمفعول ګرځولوسره تقدیر عبارت کلواثمانیةاوزاج منی ځکه چې تقدیر بغیردَ ضرورت نه جائزنه دې.

قوله: من الضأن دادَ ثمانيةأزواج نه بدل دې ضأن دَ ضائن جمع ده.

قوله: زوجين اثنين: **سوال**: زوجين دَ زوجٌ تثنیه ده او زوج جوړې ته وائي چې په دوو باندې مشتمل وی لهذا دَ زوجين مطلب به داشی چې څلور، نو په دې صورت کښې به دَ زوجين صفت اثنين راوړل صحیح نه وی؟

جواب: دَ زوج دوه معنې دی ① زوج هغې ته وائی چې دهغې سره دَدې دَجنس دویم وی دَهغې دَپاره دَدوو کیدل ضروری نه دی لکه خاوند ته زوج وائي. ② دویمه معنی جوړه هغه وخت به دَ زوجين معنی وی څلور دَدې معنې په اعتبارسره به دَ زوجين صفت اثنين راوړل صحیح نه وی دلته اوله معنی مراد ده.

قوله: ءالذكرين دَ حرم مفعول به مقدم دې او ام حرف عطف دې الانثيين به ذكرين باندې معطوف دې جمله دَ قل مقوله کیدو دَوجې نه په محل کښې دَنصب ده. (لغات القرآن للدرویش)

[ایاتوله: ۱۴۵ - ۱۵۰]

{قل لا أجد فيما أوحي إلي} شيئا {محرما على طاعم يطعمه إلا أن يكون} بالياء والتاء {ميتة} بالنصب وفي قراءة بالرفع مع التحتانية {أو دما مسفوحا} سائلا بخلاف غيره كالكبد والطحال {أو لحم خنزير فإنه رجس} حرام {أو} إلا أن يكون {فسقا أهل لغير الله به} أي ذبح على اسم غيره {فمن اضطر} إلى شيء مما ذكر فأكله {غير باغ ولا عاد فإن ربك غفور} له ما أكل {رحيم} به ويلحق بما ذكر بالسنة كل ذي ناب من السباع ومخلب من الطير {وعلى الذين هادوا} أي اليهود {حرمنا كل ذي ظفر} وهو ما لم تفرق أصابعه كالإبل والنعام {ومن البقر والغنم حرمنا عليهم شحومهما} الثروب وشحم الكلى {إلا ما حملت ظهورهما} أي ما علق بها منه {أو} حملته {الحوايا} الأمعاء جمع حاوياء أو حاوية {أو ما اختلط

بعَظْمٍ} مِنهُ وَهُوَ شَحم الأَلْيَة فإنَّهُ أحِلَّ لَهُمْ {ذَلِكَ} التَّحرِيم {جَزَيْنَاهُمْ} بِهِ {بِبَغْيِهِمْ} بِسَبَبِ ظُلمهِمْ بِمَا سَبَقَ فِي سُورَة النِّسَاء {وَإِنَّا لَصَادِقُونَ} فِي أَخبَارِنَا وَمَوَاعِيدِنَا {فَإِنْ كَذَّبُوكَ} فِيمَا جِئت بِهِ {فَقُلْ} لَهُمْ {رَبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ} حَيْثُ لَمْ يُعَاجِلكُمْ بِالعُقُوبَةِ وَفِيهِ تَلَطُّف بِدُعَائِهِمْ إلَى الإِيمَان {وَلَا يرد بأسه} عذابه إذا جاء {عن القوم المجرمين} {سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا} نَحنُ {وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ} فَإشرَاكنَا وَتَحرِيمنَا بِمَشِيئَتِهِ فَهُوَ رَاضٍ بِهِ قال تعالى {كَذَلِكَ} كَمَا كَذَّبَ هَؤُلَاءِ {كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ} رُسُلهمْ {حَتَّى ذَاقُوا بَأْسَنَا} عَذَابنَا {قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ عِلْمٍ} بِأنَّ اللَّه رَاضٍ بِذَلِكَ {فَتُخْرِجُوهُ لَنَا} أيْ لَا عِلم عِندكُمْ {إِنْ} مَا {تَتَّبِعُونَ} فِي ذَلِكَ {إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ} مَا {أَنْتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ} تَكْذِبُونَ فِيهِ {قل} إن لم يكن حُجّة {فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ} التَّامَّة {فَلَوْ شَاءَ} هدايتكم {لهداكم أجمعين} {قُلْ هَلُمَّ} أحضِرُوا {شُهَدَاءَكُمُ الَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ اللَّهَ حَرَّمَ هَذَا} الَّذِي حَرَّمتُمُوهُ {فَإِنْ شَهِدُوا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ} يُشرِكُون

ترجمه: (اې محمد ﷺ) دوی ته اووایه چې کومه وحی ماله راورلې شوې ده په دې کښې خو زه داسې څه څیز نه وینم چې په یوخوړونکی باندې حرام وی اِلّاداچې هغه مردار وی (یکون) په یاء اوتاء سره (مَیْتَةً) په نصب سره دې او په یوقراءت کښې په یاء تحتانیه سره دې یابهیدلې وینه یعنی دم سائل په خلاف غیرسائل مثلاً تریخې او........ یادَ خنزیر غوښه ځکه چې هغه خوناپاکه اوحرام ده یافسق وی چې دَ غیرالله په نوم باندې ذبح کړې شوې وی یعنی دَ غیرالله نوم اخستو سره ذبح کړې شوې وی. کوم سړې چې په مذکوره څیزونو کښې یوڅیزته مجبور وی او هغه دَدغې نه اوخوړل بغیردَدې نه چې هغه دَ نافرمانئ کولو اراده لری اوبغیردَدې نه چې دَ حدضرورت نه تجاوزاوکړی نویقینًا ددغه خوړلې شوی په باره کښې ستارب دَ معافئ نه کاراخستونکې اورحم کونکې دې اومذکوره څیزونوسره دَحدیث دَ وجې نه داړو والاشلونکی ځناوراو دَ پنجو والا مرغان شامل کړې شوی دی او په یهودوباندې مونږ دَ نوکونووالا ټول ځناور حرام کړل اوهغه داسې ځناوردی چې دَهغوی ګوتې جدا نه وی لکه اوښ اوشترمرغ او دَغوا چیلئ لری اودَ پوښتورګیې یعنی ګردې وازګه مونږ په هغوی باندې حرام کړل مګر هغه وازګه کومه چې دَهغې شاپورې لګیدلې وی یا په کولموکښې لګیدلې وی حوایا په معنی د دَ کولمود حاویاحاویه جمع ده یاهغه وازګه چې هډوکی پورې لګیدلې وی او هغه دَ پټونووازګه ده هغه دَ هغوی دَ پاره حلال وه. دَتحریم دا سزامونږ هغوی ته دَسرکشئ دَ وجې نه ورکړه دکوم ذکرچې په سورت نساء کښې تیرشوې دې اومونږ په خپلو خبرونواو وعدوکښې رښتونی یو اوڅه چې تاراوړی دی که چرې دوی په هغې کښې ستا تکذیب اوکړی

نو دوی ته اووایه ستاسو رب ډیر وسیع رحمت والا دې ځکه چې دَدې په سزا کښې هغه په تاسو باندې تادی نه ده کړې او (ریکم) وئیلو کښې هغوی ته دَایمان دعوت ورکولو کښې نرمی ده اودَهغه عذاب چې کله راشی نودَمجرمانو نه به نه واپس کیږی. دامشرکان به داسې وائی که چرې الله تعالی غوښتل نونه به مونږ شرک کولو اونه به زمونږ پلارانو اونه به مونږ څه ځیزحرام ګرځولو (معلومه شوه) زمونږ شرک کول او زمونږ حرام ګرځول دَالله تعالی په مشیئت سره دی اوهغه په دې راضی دې. الله تعالی اوفرمانیل چې څنګه دی خلقوتکذیب اوکړو دغه شان ددوئ نه وړاندې خلقو هم دَ خپلو رسولانوتکذیب کړې وو تردې چې هغوی زمونږ دَ عذاب مزه څکله تاسو دَهغوی نه تپوس اوکړئ آیا هغوی سره په دې خبره چې الله تعالی په دې راضی دې څه دلیل شته. (که چرې شته) نوهغه زمونږ په وړاندې پیش کړئ یعنی تاسو سره هیڅ دلیل نشته. تاسو په دې معامله کښې صرف دَ خیالی خبرو اتباع کوئ او په دې معامله کښې صرف اټکلی خبرې کوئ یعنی په دې کښې دَدروغونه کار اخلئ. ته ورته اووایه چې که تاسو سره دلیل نه وی نود الله تعالی سره حجت تامه موجود دې. که چرې هغه ته ستاسو هدایت منظور وې نوهغه به تاسو ټولوته هدایت درکړې وې. ته ورته اووایه چې خپل ګواهان پیش کړئ چې په دې خبره باندې ګواهی ورکړی چې کوم ځیزتاسوحرام کړې دې الله تعالی هغه حرام کړې دې بیاکه هغوی تصدیق اوکړی نوته دَهغوی تصدیق مه کوه اودَداسې خلقودَ باطل خیالاتو اتباع مه کوه ځوک چې زمونږ دَآیاتونو تکذیب کوی اوهغه چې په آخرت باندې ایمان نه لری او ځوک چې (نور) دَخپل رب برابر ګرځوی (یعنی) شرك کوی.

دَ قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: مَآأُوحِيَ إِلَيَّ: شيئا، ما موصوله أوحىَ دَدې صله عائدمحذوف دې تقدیری عبارت دادې اَلَّذِيْ أَوْحَاهُ اللهُ إِلَيَّ.

قوله. شيئا، په دې کښې اشاره ده چې محرمًا دموصوف محذوف صفت دې ای شیئا محرمًا.

قوله: مَيْتَةً بِالنصب، کان که چرې ناقصه اومنلې شی نودَدې اسم ضمیریه مستتروی اودَدغه ضمیر مرجع به شئ محرم وی. او مَيْتَةً به د کان دخبر کیدو دَوجې منصوب وی. او یکونُ به دخپل اسم مرجع کوم چې محرم دې دَ رعایت دَوجې نه دَمذکرصیغه وی. دا دواړه صورتونه به دَ میتَةً دَ نصب په صورت کښې وی. دمیتةٌ دَ رفع په صورت کښې به تکون کښې صرف هم یو قراءت وی یعنی تاء فوقانیه او تکون به په دې صورت کښې تامه وی اومیتَةٌ به دَدې فاعل وی کله چې دغه ذکرشوې خبره په پوهه کښې راشی نودَمفسرعلام قول وفی قراءة بالرفع مع التحتانية به سبقت قلم شی. صحيح الفوقانيه دې. فقط.

قوله: إِلَّآ أَنْ تَكُونَ، كه چرې دعموم احوال نه مستثنٰى اومنلې شى نومستثنٰى به متصل وى اوكه چرې دا اووئيلې شى چې مستثنٰى منه محرمًا دې كوم چې ذات دې اومستثنٰى ميتةً صف دې لهذا مستثنٰى دَ مستثنٰى منه دَ جنس نه نه كيدو دَ وجې به مستثنٰى منقطع وى. والأول أقرب. (صاوى)

قوله: حرام، بهتربه وه چې مفسرعلام دَ رجسٌ تفسير دَحرام په ځائى په نجس سره كړې وى ځكه چې حرمت خو إِلَّآ أَنْ يكون ميتة الخ استثناء نه مفهوم دې.

قوله: اوفسقا، دَدې عطف په ميتةً باندې دې دَدې مضاف محذوف دې أى ذافسق يابه د مبالغې په توګه باندې حمل وى په دې صورت كښې به د زيدعدل دَ قبيل نه وى. لحم خنزير باندې هم دَ قرب دَ وجې نه عطف صحيح دې او فإنّهُ رجس جمله معترضه ده.

قوله: أُهِلَّ لِغَيرِاللهِ دادَ فسقًا صفت دې.

قوله: ويُلحَقُ بِمَا ذُكِرَ بالسُّنَّةِ په دې اضافې كښې دَ يوسوال مقدرجواب طرف ته اشاره ده.

سوال: د آيت نه دَمذكوره څلوروڅيزونودَ حرمت حصر مفهوم معلوميږى حالانكه دَدې نه علاوه نورهم ډيرڅيزونه حرام دى؟

جواب: حصر حقيقى مرادنه دې بلكه دَحديث په رنړاكښې نور هم ډيرڅيزونه حرام دى.

قوله: الثروب، جمع ثرب، دَوازګې هغه نرئى جلئ ته وائى چې په معده اوكولموغيره پورې انختې وى.

قوله: كُلى، دادَ كُلْيَة جمع ده ګردې ته وائى.

قوله: شَحمُ الالْيَةِ د دځناورو دملا او دلكې درميانى حصه، وازګه چې دَ لكئ دهډوكى پورې لګيدلې وى.

قوله: نحنُ دا په اشركنا كښې دَضمير مستتر تاكيددې دې دَپاره چې مرفوع متصل باندې عطف صحيح شى ځكه چې ضمير مرفوع متصل باندې عطف دَپاره فصل ياتاكيدضرورى وى.

قوله: إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ حُجَّةٌ، په دې كښې اشاره ده چې فللهِ الحجة البالغة شرط محذوف جزاء ده كوم چې مفسرعلام ظاهركړې دې. لهذا دعطف الخبرعلى الإنشاءاعتراض هم ختم شو.

قوله: أَحضِرُوا **سوال**: دَهَلُمَّ تفسير احضروا په صيغه دَ جمع كولوڅه مصلحت دې؟

جواب: هَلُمَّ د اسماء افعال نه دې اودلته دَ حجازدَ لغت مطابق استعمال شوې دې ځكه

چې دحجازيينو په نيزدا غير منصرف دې په خلاف دَ بنوتميم، لهذا دا اعتراض ختم شو چې دلته مناسب هلتوا په صيغه دَجمع وو ځکه چې دَدې مخاطب ډير خلق دی.

[ایاتونه: ۱۵۱ - ۱۵٤]

{قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ} اَقْرَأ {مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَ} نْ مُفَسِّرَة {لَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَ} اَحْسِنُوا {بِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ} بِالْوَأْدِ {مِنْ} اَجْل {إِمْلَاقٍ} فَقر تَخافُونَهُ {نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ} الْكَبَائِر كَالزِّنَا {مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ} اَيْ عَلَانِيَتَهَا وَسِرَّهَا {وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ} كَالْقَوَدِ وَحَدِّ الرِّدَّةِ وَرَجْمِ الْمُحْصَنِ {ذَٰلِكُمْ} الْمَذْكُور {وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ} تتدبرون {وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي} اَيْ الخصلة الَّتِي {هِيَ أَحْسَنُ} وَهِيَ مَا فِيهِ صَلَاحه {حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ} بِاَنْ يَحْتَلِمَ {وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْلِ وَتَرْك الْبَخْس {لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا} طَاقَتَهَا فِي ذٰلِكَ فَإِنْ أَخْطَأَ فِي الْكَيْلِ وَالْوَزْنِ وَاللّٰه يَعْلَم صِحَّة نِيَّته فَلَا مُؤَاخَذَة عَلَيْهِ كَمَا وَرَدَ فِي حَدِيث {وَإِذَا قُلْتُمْ} فِي حُكْم أَوْ غَيْره {فَاعْدِلُوا} بِالصِّدْقِ {وَلَوْ كَانَ} الْمَقُول لَهُ أَوْ عَلَيْهِ {ذَا قُرْبَىٰ} قَرَابَة {وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ذلكم وصاكم به لعلكم تذكرون} بالتشديد والسكون تعظون {وَأَنَّ} بِالْفَتْحِ عَلَى تَقْدِيرِ اللَّام وَالْكَسْر اسْتِئْنَافًا {هَٰذَا} الَّذِي وَصَّيْتُكُمْ بِهِ {صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا} حَال {فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ} الطُّرُق الْمُخَالِفَة لَهُ {فَتَفَرَّقَ} فِيهِ حَذْف إِحْدَى التَّاءَيْنِ تَمِيل {بِكُمْ عن سبيله} دينه {ذلكم وصاكم به لعلكم تتقون} {ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ} التَّوْرَاة وَثُمَّ لِتَرْتِيبِ الْأَخْبَار {تَمَامًا} لِلنِّعْمَةِ {عَلَى الَّذِي أَحْسَنَ} بِالْقِيَامِ بِهِ {وَتَفْصِيلًا} بَيَانًا {لِكُلِّ شَيْءٍ} يُحْتَاج إِلَيْهِ فِي الدِّين {وَهُدًى وَرَحْمَةً لَعَلَّهُمْ} اَيْ بَنِي إسرائيل {بلقاء ربهم} بالبعث {يؤمنون}

ترجمه: (اې محمد ﷺ) هغوی ته اووايه راشئ چې زه تاسو ته واورووم چې ستاسو رب په تاسو باندې کومې پابندئی لګولې دی. (أَنْ) مفسره ده ① داچې هغه سره څوک شريک مه ګرځوئی ② والدينو سره ښه سلوک کوئی ③ اوخپل اولاد دَ فقر (اولګې) دَ ويرې نه ژوندی ښخولو سره مه قتلوئی مونږ تاسوته رزق درکوو اوهغوی ته هم (ورکوو) ④ بې شرمئ(يعنی) دَ لويو ګناهونومثلاً زناخواته مه ورنيزدې کيږئی که په ښکاره وی اوکه په پټه يعنی که علی الاعلان وی اوکه په پټه ⑤ اويونفس کوم چې الله تعالی محترم ګرځولې وی مه قتلوئی مګرپه حق سره مثلاً دَ قصاص اومرتددَ سزا په توګه او واده کړی دَ رجم په توګه دا مذکوره (هغه خبرې دی) دکوموچې تاسوته تاکيدکړې شوې دې دَپاره چې تاسو دَعقل نه کاروااخلئ اودَ غور او فکرنه کارواخلئ ⑥ اودَيتيم مال ته هم مه ورنيزدې کيږئ مګرپه داسې طريقه چې مستحسن يعنی ښه ده اوذغه طريقه هغه ده په کوم کښې چې دَ (يتيم دَمال) اصلاح وی تردې چې هغه لوئی شی په داسې توګه چې بالغ شی ⑦ او په ناپ تول کښې پوره تول سره دَ انصاف نه کار

اخلئ ږنډئی وهل پرېږدئی مونږ په دې معامله کښې په چا باندې دَهغه دَ طاقت نه زيات بوج نه اچوو او که چرې په ناپ تول کښې غلطی اوشی نو الله تعالی صحيح نيت ښه پيژنی لهذا په هغې باندې نيول نشته لکه چې په حديث کښې راغلی دی. ⑧ او کله چې تاسو په څه فيصله وغيره کښې خبره کوئی نو انصاف کوئی سره دَدې چې هغه کس په موافقت او يا مخالفت کښې داخبره ده که خپلوان ولې نه وی ⑨ او الله تعالی سره چې کوم عهد او کړئی هغه پوره کوئی. دَدې خبرو الله تعالی تاسو ته تاکيدی حکم درکړې دې دې دَپاره چې تاسو نصيحت قبول کړئی. (تذکرون) دَ ذال په تشديد او سکون سره (دې دَپاره چې تاسو ياد اوساتئی) اودا خبرې دکومې چې ماتاسو ته تاکيدی حکم درکړې دې زما نيغه لار ده مستقيماً حال دې (أنّ) په فتحې سره دې دَ لام د تقدير په صورت کښې او په کسرې دې، د استيناف په صورت کښې، لهذا هم په دغه لار ځئی اودَ دې په خلاف لارو مه ځئی چې هغه تاسو دَالله تعالی دَ لارې نه گمراه کړی (فتفرق) کښې دَ يوتاء حذف سره دې (يعنی دَ حق لارې نه مې) واړوی داده هغه لاره مستقيم دَ کومې چې الله تعالی تاسو ته تاکيد کړې دې دې دَپاره چې تاسو دکږې لارې نه بچ شئ او بيا مونږ موسی عليه السلام ته کتاب تورات ورکړې وو ثم دَترتيب أخبار دَپاره ده په هغه سړی باندې دَنعمت دَتکميل دَپاره وی چاچې په دې باندې په بهتر طريقه باندې عمل اوکړو اودَ احکامو تفصيل وی دکوم چې په دين کښې ضرورت وی اوهدايت اورحمت وی دې دَپاره چې بنی اسرائيل دَ بعث په ذريعه دَخپل رب په ملاقات باندې ايمان راوړی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: مُفَسِّرة، إلاّ کښې أنْ فعل تلاوت دَپاره مفسره دې دَ پشتو د لفظ (يعنی) مترادف دې نه چې ناصبه، ځکه چې ناصبه کيدو په صورت کښې عطف طلب على الخبر لازم راتلودَ وجې نه عطف صحيح نه وی مذکوره أنْ کښې ډيروجوهات دی په دې کښې دوه وجهې مختاردی. ① أن مفسرة وی ځکه چې ماقبل کښې أتلُ دَ قول په معنی کښې دې ځکه چې أن مفسره دَپاره قول يا دَ قول هم معنی کيدل ضروری دې. لا، ناهيه ده او تشرکوا فعل مضارع مجزوم دې. ② أن مصدريه وی په دې صورت کښې به أن او څه چې دَدې مدخول دی د ماحَرّمَ نه به بدل وی.

قوله: إملاق، د دې معنی مفلسی، غريبی او لگه تنگدستی ده.

قوله: بالخصلة په دې سره د التی د تانيث د وجې ته اشاره ده.

قوله: ثم لِتَرْتِيبِ الأخْبَارِ دا دَ يوسوال جواب دې.

سوال: ثم آتينا د دې عطف په وَصّٰکم باندې دې کوم چې د إعطاء کتاب لموسیٰ په مؤخر

کیدو باندې دلالت کوی حالانکه ایتاء کتاب په وصیت باندې مقدم دې.

جواب: دلته ثُمَّ ترتیب اخباری دپاره ده نه چې دَ ترتیب وجودی دپاره.

قوله: لِلنِّعْمَةِ په دې کښې اشاره ده چې تَمَامًا مفعول کیدو دَوجې نه منصوب دې. تَمَامًا نه یې لام ځکه حذف کړو چې تَمَامًا په معنی إتمامًا دې.

قوله: بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ دا دَ یؤمنون متعلق دې دَ فواصل رعایت دپاره مقدم کړې شوې دې.

[ایاتونه: ۱۵۵-۱۶۵]

{وَهٰذَا} القُرْآن {كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ} يَا أَهْلَ مَكَّةَ بِالعَمَلِ بِمَا فِيهِ {وَاتَّقُوا} الكُفْر {لعلكم ترحمون} أَنْزَلْنَاهُ لِـ {أَنْ} لَا {تَقُولُوا إِنَّمَا أُنْزِلَ الْكِتَابُ عَلَىٰ طَائِفَتَيْنِ} اليَهُود وَالنَّصَارَى {مِنْ قَبْلِنَا وَإِنْ} مُخَفَّفَة وَاسْمهَا مَحْذُوف أَيْ إِنَّا {كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ} قِرَاءَتهمْ {لَغَافِلِينَ} لِعَدَمِ مَعْرِفَتنَا لَهَا إِذْ لَيْسَتْ بِلُغَتِنَا {أَوْ تَقُولُوا لَوْ أَنَّا أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتَابُ لَكُنَّا أَهْدَىٰ مِنْهُمْ} لِجَوْدَةِ أَذْهَاننَا {فَقَدْ جَاءَكُمْ بَيِّنَةٌ} بَيَان {مِنْ رَبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ} لِمَنْ اتَّبَعَهُ {فَمَنْ} أَيْ لَا أَحَد {أَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَصَدَفَ} أَعْرَضَ {عَنْهَا سَنَجْزِي الَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ آيَاتِنَا سُوءَ الْعَذَابِ} أَيْ اشده {بِمَا كَانُوا يَصْدِفُونَ} {هَلْ يَنْظُرُونَ} مَا يَنْتَظِر المُكَذِّبُونَ {إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ} بِالتَّاءِ وَالْيَاء {الْمَلَائِكَةُ} لِقَبْضِ أَرْوَاحهمْ {أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ} أَيْ أَمْره بِمَعْنَى عَذَابه {أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ} أَيْ عَلَامَاته الدَّالَّة عَلَى السَّاعَة {يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ} وَهِيَ طُلُوع الشَّمْس مِنْ مَغْرِبهَا كَمَا فِي حَدِيث الصَّحِيحَيْنِ {لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ} الْجُمْلَة صِفَة النَّفْس {أَوْ} نَفْسًا لَمْ تَكُنْ {كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا} طاعة اي لا ينفعها تَوْبَتهَا كَمَا فِي الْحَدِيث {قُلِ انْتَظِرُوا} أَحَد هَذِهِ الْأَشْيَاء {إِنَّا مُنْتَظِرُونَ} ذَلِكَ {إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ} بِاخْتِلَافِهِمْ فِيهِ فَأَخَذُوا بَعْضه وَتَرَكُوا بَعْضه {وَكَانُوا شِيَعًا} فِرَقًا فِي ذَلِكَ وَفِي قِرَاءَة فَارَقُوا أَيْ تَرَكُوا دِينهمْ الَّذِي أُمِرُوا بِهِ وَهُمْ الْيَهُود وَالنَّصَارَى {لَسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ} أَيْ فَلَا تَتَعَرَّض لَهُمْ {إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ} يَتَوَلَّاهُ {ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ} فِي الْآخِرَة {بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ} فَيُجَازِيهِمْ بِهِ وَهَذَا مَنْسُوخ بِآيَةِ السَّيْف {مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ} أَيْ لَا إِلَه إِلَّا اللَّه {فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا} أَيْ جَزَاء عَشْر حَسَنَات {وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰ إِلَّا مِثْلَهَا} أَيْ جَزَاءَهُ {وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ} يُنْقَصُونَ مِنْ جَزَائِهِمْ شَيْئًا {قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} ويبدل من محله {دينا قيما} مستقيما {ملة إبراهيم حنيفا وما كان من المشركين} {قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي} عِبَادَتِي مِنْ حَجّ وَغَيْره {ومحياي} حياتي {ومماتي} موتي {لله رب العالمين} {لَا شَرِيكَ لَهُ} فِي ذَلِكَ {وَبِذَٰلِكَ} أَيْ التَّوْحِيد {أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ} مِنْ هَذِهِ الامة {قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا} إِلَهًا أَيْ لَا أَطْلُب غَيْره {وَهُوَ رَبُّ} مَالِك {كُلِّ شَيْءٍ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ} ذَنْبًا {إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ} تَحْمِل نَفْس {وَازِرَةٌ} آثِمَة {وزر} نفس {أخرى ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فيه تختلفون} {وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ} جَمْع

خَلِيفَة أَيْ يَخْلُف بَعْضكُمْ بَعْضًا فِيهَا {وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ} بِالْمَالِ وَالْجَاه وَغَيْر ذَلِكَ {لِيَبْلُوَكُمْ} ليختبركم {فِيمَا آتَاكُمْ} أَعْطَاكُمْ لِيَظْهَر الْمُطِيع مِنْكُمْ وَالْعَاصِي {إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ} لِمَنْ عَصَاهُ {وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ} للمؤمنين {رَحِيمٌ} بهم

ترجمه: اوداقرآن پاك ډېر لوئي خيراوبركت والا كتاب دې كوم چې مونږ نازل كړې دې. اې دمكې والو! څه چې په دې كښې دی په هغې باندې عمل كولوسره دَدې اتباع اوكړئ دې دپاره چې په تاسو رحم اوكړې شي دامونږ نازل كړو دې دپاره چې تاسو داسې اونه وئيلې شئ چې كتاب خوزمونږنه وړاندې دوو ډلو يهود اونصارىٰ باندې نازل كړې شوی وو او مونږ دهغې د لوستلو اوبل ته دَ خودلونه ناخبره وو زمونږ په ژبه كښې دَ دغه كتابونودَنه كيدودَ وجې مونږته دهغې معرفت حاصل نه وو. (إِنْ) مخففة دې دَدې اسم محذوف دې أي إِنَّا ياداسې اونه وائئ چې كه چرې په مونږ باندې چرته يوكتاب نازل كړې شوې وې نومونږ به دَخپل ذهنونودتيزوالى دَ وجې نه ډېر په نيغه لاروې. نواوس تاسوله ستاسودَ رب دَطرف نه دهغه كس دَپاره څوك چې دَدې اتباع اوكړې يو(واضحه) بيان اورحمت او هدايت راغلو اوس به دَهغه كس نه زيات ظالم څوك وی چاچې دَالله تعالى آياتونه دروغ اوګڼړل؟ اودَهغې نه ئې اعراض اوكړو، هيڅوك نشته، مونږبه ډېر زر هغه خلقوته چې زمونږ دَ آياتونونه اعراض كوی ډېر خراب يعنى ډېر سخت عذاب وركړو دَهغوی دَاعراض كولودَ وجې نه دغه دروغ ګڼړونكوته صرف دَدې خبرې انتظاردې چې هغوی له دَهغوی روحونه قبض كولودَ پاره فرښتې راشي. (تَأْتِيَهُمْ)په ياء او تاء سره ياهغوی له ستارب راشي يعنى دَهغه حكم په شكل دَعذاب راشي ياستادَ رب څه لويه نخښه راشي، په كومه ورځ چې ستادَ رب دَطرف نه څه نخښه راشي اوهغه دَ مغرب دَطرف نه دَنمر راختل دی لكه چې دَصحيحين په حديث كښې دی دَ يوكس دَپاره به د بل داسې كس ايمان په كار رانه شي چې (اول) ئې په (دنيا كښې) ايمان راوړې نه وی (جملة لم تكن) دَ نفساً صفت دې ياهغه په خپل ايمان كښې څه نيك عمل نه وی كړې يعنى دَهغه توبه به دَهغه په كار نه راځي لكه چې په حديث كښې راغلى دی هغوی ته اووايه ددې څيزونونه دَ يو انتظاركوئ مونږ هم دَهغې په انتظاريو بيشكه كوموخلقو چې خپل دين په دې كښې اختلاف كولوسره جدا جدا كړو په داسې طريقه چې بعض ئې واخستلو اوبعض ئې ترك كړلو او په دې كښې ډلې ډلې شو. او په يوقراءت كښې فارقوا دې يعنى خپل هغه دين ئې ترك كړودكوم چې هغوی ته حكم وركړې شوې وو اوهغه يهود اونصارىٰ دی ستاسو هغوی سره هيڅ تعلق نشته لهذا تاسو هغوی ته تعرض مه كوئي (بس) دَهغوی معامله الله تعالى ته حواله ده اوهغه به ئې ګوری بيابه هغوی ته په آخرت كښې دَهغوی ټول كړه وړاوښائي چې هغوی ته به دَهغوی دَعملونو سزا وركړي اوداحكم آيت سيف (يعنى) په حكم دجهادسره

منسوخ دي. كوم كس چې نيك كار اوكړو يعنې دَ لاإله إلاالله اقرارئې اوكړو نوهغه ته به لس چنده يعني دَ لسو نيكو برابر اجر ملاويږي اوكوم كس چې بدكار اوكړي هغه ته به دَ هغې برابر سزا ملاويږي او په دوئ به ظلم نه شي كولې يعنې ددوئ په اجر كښې به هيڅ هم نه شي كمولې. ته ورته اووايه چې ماته زما رب يوه نيغه لار خودلې ده بالكل ټيک دين او دِينًا قِيَمًا دَ (صراط) دمحل نه بدل دې كومه چې دَحضرت ابراهيم عليه السلام لاره چې دَ الله تعالى طرف ته په يومخيز وو اوهغه دَ شرك كونكونه نه وو. اووايه زما مونځ اوزما ټول مراسم دعبادت حج وغيره اوزما ژوند اومرګ ټول دَالله تعالى رب العالمين دَپاره دې په دې كښې دهغه هيڅوک شريک نشته اوهم ددې توحيد ماته حكم راكړې شوې دې اوزه په دې امت كښې دَټولو نه ړومبې منونكې يم. ته ورته اووايه چې آيا دَالله تعالى نه سوا بل څوک معبود جوړولودَپاره لټون اوكړم يعنې دَهغه غيرېه نه لټوم حالانكه هغه دَهرشي مالک دې هركس چې څه هم بدي كوي دَهغې ذمه وار هغه پخپله دې اوهيڅ يو ګناهګار دَ بل نفس بوج نه شي اوچتولې بيا تاسو ټولوله دَخپل رب طرف ته واپس ګرځيدل دي بيا به هغه تاسو ته دَهغه څيز حقيقت دراوښائي په كوم كښې چې تاسو اختلاف كولو اوهغه هم هغه دې چې تاسوئې په زمكه كښې دَ يوبل خليفه جوړكړئي. خلائف دَ خليفه جمع ده اويوته ئې په بل باندې دَ مال او شان وغيره په درجاتو كښې فوقيت وركړو دې دَپاره چې تاسو په دركړې شوې څيزونو كښې ازميښت كړي چې فرمان بردار دَ نافرمان نه جدا كړي. يقينًا ستارب خپله نافرمانى كونكوته ډير زر سزا وركونكې دې اويقينًا هغه دَ مؤمنانو مغفرت كونكې او په هغوي رحم كونكې دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: لِاَنْ لَاتَقُوْلُوْا، لام اولا دمقدر منلومقصد دَيوسوال مقدر جواب دې او سوال دادې چې اَنْ تَقُوْلُوْا، دَ انزلناه مفعول له واقع كيدل معنًا صحيح نه دى بلكه عدم قول مفعول له دې؟ هم دَدې سوال دَ جواب دَپاره مفسرعلام لام جاره محذوف منلوسره دَانزلناه علت بيانولو طرف ته اشاره اوكړه اودَدې خبرې طرف ته ئې هم اشاره اوكړه چې ان مصدريه دې هم دغه وجه ده چې دَ تقولوا نه نون حذف شو. كسائي او فراء رحمهما الله وئيلي دي چې دَ أن تقولوا اصل لأن لاتقولوا دې. حرف جار اوحرف نفي ئې حذف كړولكه دَ الله تعالى قول يُبَيِّنُ الله لكم أن تضلوا دَدې اصل لئلاتضلوا وو دغه شان دَالله تعالى د قول رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بكم اصل لئلاتميدبكم وو. شارح رحمه الله هم دا توجيه اختياركړې ده اوبصرييانو دَ حذف مضاف توجيه اختياركړې ده تقديري عبارت دادې أنزلناه كراهةَ أنْ تقولوا بصريين وائي چې دَلاحذف جائزنه دې ځكه چې جِئتُ أنْ اكرمَكَ وئيل صحيح نه دى په معنى أن لاأكرمك.

قوله: أوتقولوا دَدي عطف په سابق ان تقولوا باندي دي لهذا دلته به هم لام او لا مقدر وی.

قوله: اَلْجُمْلَةُ صِفَةُ نفسًا په دي کښي اشاره ده چي جمله لم تكن آمنت من قبل، دَنفسًا صفت دي نه چي دَايمان لکه چي د قرب نه په ظاهره شبه کيږی ځکه چي دَ ايمان دَپاره به ايمان لازم راشی کوم چي محال دي. (تراويح الارواح)

قوله: أونفسًا لَمْ تَكُنْ، په دي کښي اشاره ده چي دَ أوكَسَبَتْ عطف په آمَنَتْ باندي دي نه چي اِيْمَانُهَا باندي دی.

قوله: أي لاتَنْفَعُهَا تَوْبَتُهَا دَدي اضافي مقصد دَ يو سوال مقدر جواب دي.

سوال: دا آيت دَ معتزلوْ دَ مذهب په حقانيت باندي دلالت کوی ځکه چي دَهغوی په نيز ايمان مجرد عن الأعمال الصالحة به نافع نه وی.

جواب: دَجواب حاصل دادي چي آيت لف تقديری دَقبيل نه دي أی لا ينفع نفسًا إيمانها ولا كَسْبُهَا في الإيمان لم تكن آمنت مِنْ قبل أوكسبت فيه خيرًا.

قوله: جَزاءُ عَشْرِ حَسَنَاتٍ په دي عبارت کښي مفسر علام فَلَهُ عَشْرُ أمثالها کښي په عشر کښي دَترك تاء دَ وجې طرف ته اشاره کړي ده ځکه چي په ظاهره عشرة أمثالها کيدل پکار دی ځکه چي مثل مذکر دي. دَجواب حاصل دادي چي أمثال معنًا مؤنث دي.

قوله: وَيُبْدَلُ مِنْ مَحَلِّهِ دَهدانی مفعول اول دَهدانی ياء ده او مفعول ثانی إلى صراط مستقيم دي او دينًا قيمًا دَصراط دمحل نه د بدل کيدو دَ وجي نه منصوب دي نه چي مفعول ثانی لکه چي بعض حضراتو ته دا مغالطه لاحق شوي ده.

قوله: أعطاكم په دي کښي اشاره ده چي آتاكم د ايتاء نه دي نه چي دَ إتيان نه.

[اول جلد ختم شو]